توضیحات

پښتو شرح د

مشکوة شریف

تالیف

حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی دامت برکاتہم

استاذ حدیث جامعۃ علوم اسلامیۃ بنوری ٹاؤن کراچی

پښتو ترجمه

مولانا محمد فیض الهادي "حقاني"

سابق مدرس مدرسه تعلیم القرآن والحدیث

چارسده روډ پشاور

مکتبة الاصلاح

محله جنگی پشاور

0314-9797200

0345-1977797

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

مکتبۃ الاصلاح
محلہ جنگی پشاور
0314-9797200
0345-1977797

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیحات

پیرامون

مشکوٰۃ شریف

توضیحات شرح پښتو
مشکوة شریف

(جلد دوم)

الشیخ حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتهم

علامه استاذ حدیث جامعة علوم اسلامیة بنوری تاؤن کراچی

پښتو ترجمه:

مولوي فیض الهادی حقاني

د توضیحات پښتو شرح مشکوة خصوصیات :

- په اول جلد کې د اصول حدیث یوه مفیده مقدمه
- په متن باندې اعراب
- په ټیبل کې تحت السطور بامفهومه ترجمه
- هر حدیث ته مناسب عنوان ورکول
- د مشکوة المصابیح د آحادیثو تخریج د صحاح سته وغیره کتابونو نه کول
- د مشکوة المصابیح د مشکلو لغاتو حل کول
- په شرحه کې هر یو ځای ته مناسب عنوان ورکول
- د ائمه اربعو د مذاهبو بیان
- د مذاهبو دلائل بیانول
- د احنافو د مذهب د ترجیح وجوهات بیانول
- په شرح کې د مرقاة او د اشعة اللمعات د عباراتو حوالې ورکول
- د کتاب د هرې صفحې په سر د کتاب او باب خودنه
- د هر کتاب په اول کې د ضروري مباحثو بیان
- بین القوسین په اضافي قیوداتو سره مزید وضاحت کول
- د مشکلو ابحاثو د سوال او جواب په ذریعه حل کول
- د جدید او قدیم بعضې مسائلو استنباط
- په آحادیثو کې د تعارض په صورت کې بهترین مطابقت راوستل
- په اتم جلد کې د مشکوة المصابیح د حدیثو د راویانو مفصل حالات

مکتبة الاصلاح

محله جنگی پشاور

0314-9797200

0345-1977797

Maktaba Tul Ishaat.com

د چهاپ ټول حقوق د ناشر سره محفوظ دی۔

درخواست

د الله تعالیٰ په فضل وکرم سره د کمپوزنګ نظرثانی او تصحیح نه علاوه
د چهاپ کولو او جلد سازئی په ټولو مرحلو کښی د ډیر احتیاط نه کار
اخستلی شوی دی خو بیا هم انسان کمزوری دی۔
که ددی احتیاط باوجود هم څه غلطی په نظر درشی نو اطلاع راکړئی
ان شاء الله په راتلونکی چهاپ کښی به ئی تصحیح اوکړو۔

د کتاب نوم: توضیحات مشکوٰۃ شریف

مؤلف: الشیخ حضرت مولانا فضل محمد یوسف زئی صاحب دامت برکاتہم
علامہ استاذ حدیث جامعۃ علوم اسلامیۃ بنوری ٹاؤن کراچی

ترجمہ: مولوی فیض الهادی حقانی

کمپوزنګ: مولوی فیض الهادی حقانی

ناشر: مکتبۃ الاصلاح
محله جنگی پشاور
0314-9797200
0345-1977797

د ملاویدو پتی:

پاکستان	افغانستان
شبقدر	جلال آباد
اکوړه خټک	کابل
صوابی	خوست
شیوه اډه	ګردیز
مردان	غزنی
مینګوره	قندهار
تیمرګره	کوندوز
باجور	کنړ
تل هنګو	مزار شریف
دوآبه	لغمان
ډیره اسماعیل خان	
بلوچستان	
چمن	

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
عرض حال	۲۱	كِتَابُ الصَّلَاة	۲۳
د مخکې باب سره د کتاب الصلاة ربط	۲۳	د ارکان خمسه عجیبه ترتیب	۲۴
د صلوة لغوي او اصطلاحي تحقیق	۲۶	د مونځ فرضیت	۲۷
نیک عملونو سره واړه ګناهونه معاف کیږي	۲۷	آیا د صغائرو د معاف کیدو د پاره د کبائرو نه ځان بچ کول ضروري دی؟	۲۸
د پنځه مونځونو مثال د پاک نهر دی	۲۹	په مونځ سره ګناه معاف کیږي	۳۰
د ټولو نه ښه عمل کوم یو دی؟	۳۳	د مونځ پریښودل د کفر علامه ده	۳۵
په بندګانو باندې مونځ کول د الله تعالی حق دی	۳۶	په څلورو اعمالو باندې د جنت زیری	۳۸
ماشوم دې په کوم عمر کې د مونځ پابند وګرځول شي؟	۳۹	په مونځ سره د منافق مال او جان محفوظ کیږي	۴۰
په مونځ کولو سره ټول ګناهونه ریژیږي	۴۲	د خاص قسم دوه رکعتونو سره ټول ګناهونه معاف کیږي	۴۳
مونځ نه کولو والا به فرعون او هامان سره وي	۴۴	صحابه کرامو رضی الله عنهم به مونځ پریښودونکي کافر ګڼلو	۴۶
بَابُ الْمَوَاقِيْت	۴۸	د مواقیت لغوي او اصطلاحي تحقیق	۴۸
د پنځو مونځونو د وخت بیان	۴۹	د ماسپښین وخت	۵۰
د ماسپښین او مازیګر په مینځ کې د مشترکه وخت مسئله	۵۲	د مازیګر وخت	۵۳
د مونځ د وختونو بیان	۵۷	د امتونو د مونځونو وختونه	۶۱
حضرت عمر فاروق رضی الله عنه خپلو والیانو (ګورنرانو) ته د مونځ حکم ورکوي	۶۳	د یو مشکل حدیث مطلب	۶۵
بَابُ تَعْجِيْلُ الصَّلَاة	۶۷	د مونځ د مستحب وختونو تعین	۶۷
د سحر مستحب وخت	۶۸	د ماسپښین مستحب وخت	۷۱
د مازیګر مستحب وخت	۷۲	د ماخوستن مستحب وخت	۷۴

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
په شریعت کې د جماعت ډیر والی مطلوب دی	۷۵	په زمکه باندې د لمر څه اثرات کیږي	۷۶
ټول کال کې دوزخ دوه ساه ګانې اخلي	۷۸	زر زر څلور ټونګي وهل او مونځ کول د منافق کار دی	۷۹
چا چې مونځ پریښود د هغه کور وران او تباه شو	۸۰	ډیر بد حکمران هغه دی چې په مونځونو کې سُستي کوي	۸۴
د نمر د اخته اوپریوتو په وخت کې مونځ کور ځنګه دی؟	۸۶	په سحر ر مازیګر کې د فرق وجه	۸۷
قضاء عمري	۸۹	په دریو څیزونو (کارونو) کې نه ځیرمه کول	۹۱
په اول وخت کې مونځ کول افضل دی	۹۲	د ټولو نه افضل عمل مونځ دی	۹۳
په اول وخت کې مونځ کول افضل عمل دی	۹۳	په مابنام کې د ستورو انتظار کول نه دي په کار	۹۴
په ماخوستن کې د تاخیر واقعه	۹۷	پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به مونځ کې سپکوالې کول	۹۸
د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې به د مازیګر مونځ ناوخته کیدو	۱۰۰	د موسم د وجې نه د مونځ وخت مخکې وروستو کیدی شي	۱۰۱
بَابُ فَضَائِلِ الصَّلَاة	۱۰۵	د مازیګر او سحر د مونځ فضیلت	۱۰۵
د کراما کاتبین د ډیوټی (وظیفې) طریقه	۱۰۷	د سحر مونځ کوونکي د الله تعالی په حفاظت کې وي	۱۰۸
د اول صف فضیلت	۱۰۹	کوم یو مونځ په منافق باندې بوج (ګران) وي	۱۱۰
د شرعي اصطلاحاتو خیال ساتئ	۱۱۱	صلوة الوسطی مصداق کوم مونځ دی؟	۱۱۲
د سحر مونځ کوونکي د ایمان علمبردار دی	۱۱۶	**بَابُ الْأَذَان**	۱۱۸
د آذان شروع څنګه وشوه؟	۱۱۸	د آذان لغوي او اصطلاحي تعریف	۱۲۰
د آذان کلمات او د ویلو طریقه	۱۲۰	مونځ د پاره اقامت او د هغې کلمات	۱۲۳
د ناقوس تحقیق	۱۲۵	د آذان شرعي حیثیت	۱۲۶
د آذان د کلماتو حکمت او مقصد	۱۲۶	د آذان نه پس د مونځ د پاره اعلان څنګه دی	۱۳۰

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
په آذان کولو کې ځینې غلطیانې خطرناکې دي	۱۳۱	د آذان او جمعې په مینځ کې څومره وقفه کول په کار دي؟	۱۳۲
آیا چې کوم کس آذان وکړي هغه دې اقامت هم وکړي؟	۱۳۴	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوده شوي خلک د مونځ د پاره راپاڅول	۱۳۷
الصلاة خير من النوم عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په آذان کې نه دی داخل کړی	۱۳۸	غوږونو کې ګوتي ورکول او آذان ویل مسنون دی	۱۳۹
بَابُ فَضْلِ الْأَذَانِ وَإِجَابَةِ الْمُؤَذِّنِ	۱۴۰	د قیامت په ورځ به مؤذنین عزت مند وي	۱۴۰
شیطان د آذان آواز نه تختي	۱۴۱	د آذان جواب څنګه ورکړی شي؟	۱۴۳
د وسیلې مطلب	۱۴۵	د آذان نه پس دعاء	۱۴۷
آذان د شعائر اسلام نه دی	۱۴۹	د مابنام آذان نه پس د نفل مونځ حکم	۱۵۰
امام د مقتدیانو د مونځ ذمه دار دی	۱۵۲	د اوه کالو پورې آذان ورکولو فضیلت	۱۵۳
یوائې مونځ کولو د پاره هم آذان کول په کار دي	۱۵۴	د تنخواه نه بغیر آذان کول	۱۵۶
د استیجار علی الطاعات مسئله	۱۵۷	د آذان او اقامت په مینځ کې دعاء قبلیږي	۱۵۸
د دعاء قبلیدو دوه وختونه	۱۵۹	د مؤذن ثواب څنګه ګټلې کیږي؟	۱۶۰
د آذان نور مسائل	۱۶۶	د وخت نه مخکې د آذان کولو حکم	۱۶۶
که د سحر مونځ قضاء شي نو څنګه به اداء کیږي	۱۷۰	جمعه کې د شاملیدو د پاره منډه مه وهئ	۱۷۴
چرته چې شیطاني اثرات وي هغه ځای نه تختیدل په کار دي	۱۷۵	د مؤذن په ذمه دوه امانتونه دي	۱۷۷
بَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ	۱۷۹	په کعبه کې د ننه د مونځ کولو حکم	۱۷۹
آیا کعبه کې د ننه د فرض مونځ کولی شي؟	۱۸۱	د کعبې ستنې څومره دي؟	۱۸۱
مسجد حرام کې یو مونځ په یو لاکھ دی	۱۸۲	دریې جوماتونو نه علاوه بل جومات ته سفر کول منع دي	۱۸۵
د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روضې زیارت د پاره سفر کول	۱۸۷	ریاض الجنة	۱۸۹

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د مسجد قباء فضیلت	۱۹۰	د جومات د جوړیدلو فضیلت	۱۹۲
میدان محشر کې به اوه کسان د الله تعالی په رحمت کې وي	۱۹۴	جومات سره د بیت الخلاء والا معامله مه کوئ	۱۹۸
جومات ته د داخلیدو نه پس دوه رکعته نفل کوئ	۱۹۸	د سفر نه واپس کیدلو وخت کې په جومات کې څه وخت ناسته کول	۱۹۹
په جومات کې د ورک شوي څیز اعلان منع دی	۲۰۰	که بدبودار څیزونه وخوړئ نو بیا جومات ته مه ځئ	۲۰۱
د مونځ په حالت کې چې بلغم راشي نو څه کول ورسره په کار دي	۲۰۳	هر یو قبر ځای د سجدې ګرځول حرام دي	۲۰۴
سحلو او کورونو کې جوماتونه عام کول په کار دي	۲۰۸	په جوماتونو کې نقش ونګار د قیامت د علامو نه دی	۲۱۰
د دې امت سیر و سیاحت جهاد دی	۲۱۳	خصي جوړیدل او جوړولو حکم	۲۱۵
الله تعالی په خوب کې لیدل	۲۱۶	د حج او مونځ ثواب او د علیین تحقیق	۲۲۱
جومات ته د داخلیدو دعاء	۲۲۴	جومات کې حلقې جوړول، اشعار ویل، اخیستل او خرڅول منع دي	۲۲۵
هغه مقامات چې هلته مونځ مکروه دی	۲۳۰	د نهی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الفاظو حیثیت	۲۳۱
زنانو د پاره قبرونو ته تلل څنګه دي	۲۳۳	د الله تعالی د انواراتو اویازره (۷۰۰۰۰) پردې	۲۳۵
مسجد لوی دولت دی دې څخه فائده اوچته کړئ	۲۳۷	جومات کې دنیاوي خبرې منع دي	۲۳۸
مسجد کې په اوچت آواز باندې خبرې کول منع دي	۲۳۹	دنیاوي خبرو د پاره جومات څخه بهر ځای په کار دي	۲۴۱
قبلې طرف ته توکل منع دي	۲۴۲	قبلې طرف ته توکلو والا امام د امامت څخه فارغ کړی شو	۲۴۳
بیت الله او د بیت المقدس زمانه	۲۵۰	**بَابُ السُّتْرَة**	۲۵۳
په یو څادر کې د مونځ کولو طریقه	۲۵۳	د مونځ کولو په وخت کې د اوګو پټول په کار دي	۲۵۴

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
پرتوګ(لنګ) د ګیتو څخه لاندې ساتل سخته ګناه ده	۲۵۹	د بالغې زنانه د سر پټید و څخه بغیر مونځ نه قبلیږي	۲۶۰
مونځ کې سدل مکروه دی	۲۶۲	د چپړو سره د مونځ کولو حکم	۲۶۳
په یو څادر کې مونځ کول څنګه دي	۲۶۷	بَابُ السُّتْرَة	۲۷۰
یوه تاریخي سُتره	۲۷۰	د سُترې مخې ته تیریدل جائز دي	۲۷۱
د څناور نه سُتره جوړول هم جائز دي	۲۷۳	مونځ ګزار مخې ته په تیریدلو باندې لویه ګناه ده	۲۷۵
مونځ ګزار مخې ته تیریدو والا ته دې سُوک ورکړی شي او ودې درولی شي	۲۷۶	مونځ ګزار مخې ته زنانه، خر، او د سپي تیریدلو حکم	۲۷۷
مونځ ګزار مخې ته د نبځې په راتلو سره مونځ نه باطلیږي	۲۷۸	مونځ ګزار مخې ته د خر په تیریدو سره مونځ نه باطلیږي	۲۷۸
خط رابنکلو سره سترې نه کار اخیستلی شي یا نه شي اخیستلی	۲۷۹	سُتره نزدې اودرول په کار دي	۲۸۰
ستره بالکل مخامخ مه ودروئ	۲۸۰	خرو او سپو لوبې کولې او مونځ جاري ؤ	۲۸۱
یو څیز تیریدلو سره مونځ نه باطلیږي	۲۸۲	سل کالو پورې انتظار کول	۲۸۳
څمکه کې ننوځه خو د مونځ ګزار مخې ته مه تیریږه	۲۸۳	درې لاسه فاصله باندې تیریدل جائز دي	۲۸۴
بَاب صفة الصَّلَاة	۲۸۶	په مونځ کې تعدیل ارکان واجب دي او که فرض؟	۲۸۶
د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ نقشه	۲۹۰	آیا بسم الله د هر یو سورت جزء دی؟	۲۹۱
په مونځ کې بسم الله په مزه وویلی شي او که په تیز آواز باندې؟	۲۹۳	په قعده کې د ناستې بهتره طریقه څه ده؟	۲۹۵
په قعده کې د شیطان په شان مه کینئ	۲۹۶	تکبیر اولی کې لاسونه د کوم ځای پورې اوچتول په کار دي	۲۹۷
د سمع الله لمن حمده مطلب	۲۹۹	په تحمید او تسمیع کې تقسیم	۳۰۰
په مونځ کې د رفع الیدین مسئله	۳۰۱	په رفع الیدینو کې د فقهاو اختلاف	۳۰۲
تکبیر تحریمه کې لاسونه د غوږونو پورې اوچتول په کار دي	۳۱۱	په مونځ کې د جلسې استراحت حکم	۳۱۲

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
په مونځ کې به لاسونه څنګه کیخودلی شي	۳۱۴	طول قیام افضل دی که کثرت د رکعاتونو؟	۳۱۸
د حضور ﷺ د مونځ مکمل نقشه	۳۱۹	د تعدیل ارکان تعلیم	۳۲۳
یو سلام سره دوه دوه نفل کول افضل دي یا څلور څلور؟	۳۲۴	د مونځ نه پس دعاء غوښتل په کار دي	۳۲۵
د فرضونه پس د دعاء ثبوت	۳۲۶	امام ته په اوچت آواز سره تکبیرونه ویل په کار دي	۳۲۷
بغیر د سوچه په لویو باندې اعتراض نه دی په کار	۳۲۸	څلور رکعاتو کې دوویشت تکبیرات وي	۳۲۹
رفع الیدین صرف تکبیر تحریمه په وخت کې دي	۳۲۹	**بَابُ مَا يُقْرَأُ بَعْدَ التَّكْبِيرِ**	۳۳۲
د تکبیر تحریمې نه پس یو څه خاموشي سنت ده	۳۳۳	په مونځ کې د حضور ﷺ او ږدې دعاګانې	۳۳۴
یوه لویه دعاء	۳۳۷	د تکبیر تحریمې نه پس ثناء ویل ثابت دي	۳۳۸
په مونځ کې د سکتاتو حکم	۳۴۰	**بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلَاةِ**	۳۴۳
اول بحث: په بیان د رکنیت او عدم رکنیت د فاتحې کې	۳۴۴	دویم بحث: په څومره رکعاتو کې قرآت فرض دی	۳۴۵
دریم بحث: قرآت خلف الامام	۳۴۶	د سورة [illegible] فضیلت	۳۵۸
په مونځ کې بسم الله په مزه ویل په کار دي	۳۶۰	په مونځ کې د [illegible]ن ویلو فضیلت	۳۶۱
د مقتدي د مونځ طریقه	۳۶۲	په مونځ کې د اول رکعت د اوږدو سنه	۳۶۳
په مونځ کې د حضور ﷺ د قیام مقدار	۳۶۴	د مابنام په مونځ کې قرآت	۳۶۷
په نفل کوونکي پسې د فرض کوونکي د اقتداء حکم	۳۶۸	د نبي کریم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ آواز مبارک د یرزیات ښائسته ؤ	۳۷۱
حضور ﷺ به په مونځ کې مختلف سورتونه لوستل	۳۷۲	د جمعې ورځې د سحر په مونځ کې کوم سورة وویل شي	۳۷۴

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
په مونځ کې بسم الله په مزه ویل	۳۷۶	د آمین بالجهر حکم	۳۷۷
د معودتین فضیلت	۳۸۲	د طوال مفصل او قصار مفصل مطلب	۳۸۴
د امام نه وروسته د قرآت حکم	۳۸۵	په جهري مونځونو کې خلک د امام نه وروسته فاتحې ویلو سره بازار نه راغلل	۳۸۶
د امام متابعت ضروري دی	۳۸۸	کوم کس چې په قرآت کولو باندې قادر نه وي هغه څه وکړي	۳۸۹
د سبحان ربی الاعلی ثبوت	۳۹۰	د خاصو سورتونو په اختتام باندې خاصې دعاګانې	۳۹۱
جناتو (پیریانو) ته جواب ورکړو	۳۹۲	په دوو رکعتونو کې یو سورت ویل څنګه دي	۳۹۳
حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ سورة بقره دوو رکعتونو کې ویلې وه	۳۹۴	حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ د سحر په مونځ کې سورة یوسف ویلو	۳۹۴
بَابُ الرُّكُوع	۳۹۶	د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قومه او جلسه	۳۹۷
د فربنتو متعلق عجائبات او د هغوي عبادت	۳۹۸	په رکوع او سجده کې قرآن ویل منع دي	۴۰۰
هر رکن صحیح صحیح اداء کړئ ورنه مونځ به مو باطل وي	۴۰۳	د رکوع او د سجدې تسبیحات	۴۰۳
د تعدیل ارکان په نه کولو باندې سخت وعید	۴۰۶	د دې امت بدترین غل هغه دی چې د مونځ نه غلا کوي	۴۰۶
بَابُ السُّجُودِ وَفَضْلِه	۴۰۸	د سجدې اعضاء	۴۰۸
په سجده کې په صحیح طریقې سره اعضاء کیښودل په کار دي	۴۰۹	د زنانه او د نارینه په مونځ کې فرق	۴۱۰
په سجده کې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یوه دعاء	۴۱۲	انسان چې کله په سجده کې وي دا الله تعالی ته نزدې وي	۴۱۴
د شیطان تختیدل	۴۱۴	ډیرې سجدې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د نزدیکت سبب دی	۴۱۵
د سجدو فضیلت	۴۱۶	سجدې ته د کوزیدو او پاڅیدو طریقه	۴۱۷

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
سجدې ته د کوزیدو او پاځیدو د کیفیت بیان	۴۱۸	په جومات کې د مونځ د پاره ځای خاص کول منع دي	۴۲۰
په جلسه او قعده کې د ناستې طریقه	۴۲۱	په رکوع او سجده کې ملا نیغه ساتل په کار دي	۴۲۲
په سجده کې د سر کیښودو کیفیت	۴۲۳	**بَابُ التَّشَهُّد**	۴۲۴
د قعدې طریقه او د اشارې بالسبابه کیفیت	۴۲۴	د التحیات طرز او طریقه	۴۲۷
په مونځ کې کوم تشهد افضل دی	۴۲۹	په شهادت کې د ګوتې اوچتولو نه پس حرکت ورکول څنګه دي	۴۳۲
د اشارې په وخت کې ګوته خوځول نه دي په کار	۴۳۳	اشاره په یوې ګوتې سره کول په کار دي	۴۳۴
په قعده کې د ناستې صحیح طریقه	۴۳۴	د شهادت ګوتې په اوچتیدو سره شیطان سوزي	۴۳۶
بَابُ الصَّلَاةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفضلها	۴۳۸	په التحیات کې درود ویل فرض دي او که سنت؟	۴۳۹
په التحیات کې د درود ویلو طریقه	۴۳۹	آل محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څوک دي؟	۴۴۰
د درود ویلو مختلفې صیغې	۴۴۲	د درود ویلو فضائل	۴۴۳
د درود د پاره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حاضر نه وي	۴۴۴	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سلام کونکو ته د سلام جواب ورکوي	۴۴۵
د حیات النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسئله	۴۴۶	د اکابر علماو او فقهاو یو څو حوالې	۴۵۰
د زمانې عجائبات	۴۵۱	د کورونو نه قبرستان مه جوړوئ	۴۵۳
د درود په نه ویلو باندې وعید	۴۵۵	په درود او سلام لیږلو سره د دین او دنیا ضروریات پوره کیږي	۴۵۶
د درود نه پس غوښتلی شوې دعاء قبلیږي	۴۵۷	د فرضو نه پس دعاء کول ثابت دي	۴۵۸
د نبي امي مظلب	۴۵۹	د درود نه ویلو والا لوی بخیل دی	۴۶۰

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه سلام ځي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه راځي	۴۶۱	د جمعې په ورځ د درود ثواب ډيرېږي	۴۶۲
يو خاص درود او د شفاعت مطلب	۴۶۲	څو پورې چې يې درود نه وي لوستلی دعاء نه قبليږي	۴۶۴
بَابُ الدُّعَاءِ فِي التَّشَهُّدِ	۴۶۵	په تشهد کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامع دعاء	۴۶۵
په مونځ کې د سلام نه مخکې د صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خصوصي دعاء	۴۶۸	په سلام اړولو کې د سر تاوولو اندازه	۴۶۸
د مونځ نه پس امام مقتديانو طرف ته مخ کړي او کيني	۴۶۹	مستحب عمل لازم ګڼل بدعت دی	۴۷۰
د فرض مونځ نه پس د سنتو د پاره ځای بدلول په ګار دي	۴۷۴	په مونځ کې د سلام کيفيت	۴۷۵
مقتدي سلام کې د امام نيت څنګه وکړي	۴۷۶	بَابُ الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ	۴۷۸
د فرضونه پس وظائف او دعاګاني	۴۷۹	د فرائضو نه پس اذکار طويل دي که قصير	۴۸۰
د فرضونه پس الله اکبر په اوچت اواز لوستل او که په مزه ؟	۴۸۰	د مونځونو نه پس د اهل بدعت عمل مستند نه دی	۴۸۰
د فرض مونځ نه پس د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ناستې مقدار	۴۸۲	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بزدلۍ نه د پناه دعاء ولې غوښتله	۴۸۴
د مالدار او غريب په عبادت کې تقابل	۴۸۵	د دعاء د قبوليت وخت	۴۸۸
د معوذاتو د لوستلو فائدې	۴۸۸	د لمر راختو پورې د ذکر فضيلت	۴۸۹
په دوه رکعته اشراق باندې د حج او عمرې ثواب	۴۸۹	د فرض مونځ نه پس سمدستي د سنتو د پاره او دريدل منع دي	۴۹۰
د مونځ نه پس د تسبيحاتو يو صورت	۴۹۱	د آيت الکرسي لوی فضيلت	۴۹۱
د سحر او مانښام نه پس د الله د ذکر فضيلت	۴۹۳	صرف نوم د الله الله ذکر د قرآن کريم نه ثابت دی	۴۹۴
بَابُ مَا لَا يَجُوزُ مِنَ الْعَمَلِ فِي الصَّلَاةِ وَمَا يُبَاحُ مِنْهُ	۴۹۶	د مونځ په اول دور کې د صحابي عجيبه قصه	۴۹۷

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د مونځ په کیفیت کې ډیر ځلې تبدیلي راغلې	۵۰۰	په مونځ کې ډیر حرکات منع دي	۵۰۲
په مونځ کې خصر ممنوع دی	۵۰۲	په مونځ کې یو خوا بل خوا کتل د شیطان خوشحاله کول دي	۵۰۳
په مونځ کې د دعاء په وخت کې آسمان ته کتل منع دي	۵۰۴	یو نیم ځلې عمل دائمي سنت نه شي جوړیدی	۵۰۴
په مونځ کې د اسویلي کولو په وخت کې خوله بنده ساتل په کار دي	۵۰۵	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په مونځ کې جن نیول او پریښودل	۵۰۶
امام ته د لقمې ورکولو صورت	۵۰۷	په مونځ کې په اشارې سره د سلام جواب ورکول څنګه دي	۵۰۹
په مونځ کې تشبیک منع دی	۵۱۱	په مونځ کې یو خوا بل خوا کتلو سره ثواب کمیږي	۵۱۱
په مونځ کې د سجدې ځای ته نظر کول په کار دی	۵۱۲	په ژړا سره مونځ نه ماتیږي	۵۱۳
د سجدې ځای د صفا کولو د پاره پوکې مه وهئ	۵۱۴	په مونځ کې په تشو باندې لاس کیښودل د دوزخیانو ننبه ده	۵۱۵
په مونځ کې د مارا و لړم د وژلو حکم	۵۱۵	په معمولي عمل سره مونځ نه فاسدیږي	۵۱۶
د مونځ په دوران کې که اودس مات شي نو څه به کولې شي؟	۵۱۷	که مونځ کې اودس مات شو نو په پوزه باندې لاس کیږده او ووځه	۵۱۸
د سلام نه بغیر د مونځ نه د وتلو حکم	۵۱۸	د ګرمۍ نه د بچ کیدو د پاره په کپړه باندې سجده کول جائز دي	۵۲۰
په اشارې سره د سلام جواب څنګه دی	۵۲۱	**بَابُ السَّهْوِ**	۵۲۳
که د رکعتونو په شمار کې شک شو نو څه کول په کار دي	۵۲۳	سجده سهوه د سلام نه مخکې په کار ده او که وروسته؟	۵۲۵
پنځم رکعت د پاره د پاځیدو مسئله	۵۲۷	په مونځ کې د خبرو کولو مسئله	۵۲۹
د سجدې سهوې نه پس تشهد کول په کار دي	۵۳۶	مونځ ګزار ته په اوله قعدې پریښودلو سره څه کول په کار دي	۵۳۶
بَابُ سُجُودِ الْقُرْآنِ	۵۳۹	سورة نجم کې تکویني (طبعي) سجده ده	۵۳۹

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د سورة انشقاق او سورة علق سجدې	۵۴۰	آیا سجده د تلاوت واجب ده او که سنت؟	۵۴۳
په قرآن کریم کې د پنځلسو سجدو ثبوت	۵۴۶	د سورة حج فضیلت	۵۴۶
سجده د تلاوت په قاري او سامع دواړو باندې ده	۵۴۷	د سجدې د تلاوت اهمیت	۵۴۸
مفصلاتو کې د سجدې نه کولو مطلب	۵۴۸	په سجده تلاوت کې دننه دعاء	۵۴۹
عجیبه خوب او عجیبه دعاء	۵۴۹	د سورة (ص) سجده ثابت ده	۵۵۱
بَاب أَوْقَات النَّهْي اى الاوقات التى كره فيها الصلوة	۵۵۲	د ممنوع وختونو بیان	۵۵۲
په ممنوعه وختونو کې د مونځ کولو حکم	۵۵۲	په مکروه او ممنوعه وختونو کې د جنازې مونځ نه کول	۵۵۴
د سحر او مازیګر نه پس مونځ صحیح نه دی	۵۵۵	په مکروه وختونو کې هیڅکله مونځ مه کوئ	۵۵۵
حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازیګر د مونځ نه پس دوه رکعته ولی کول	۵۵۷	د سحر د سنتو د قضاء مسئله	۵۵۹
په مکه مکرمه کې مکروه وخت وي او که نه؟	۵۶۱	آیا د جمعې په ورځ نصف النهار کې مونځ جائز دی	۵۶۳
د مکروه وختونو تفصیل	۵۶۴	د مازیګر نه پس یو مونځ هم نشته	۵۶۵
د بیان جواز په وخت خپل تعارف کول ضروری دی	۵۶۵	بَاب الْجَمَاعَة وفضلها	۵۶۷
جمعه فرض ده او که سنت او که واجب؟	۵۶۷	د جماعت فوائد	۵۶۸
د جماعت پریښودو یو څو عذرونه	۵۶۸	په جمعې سره مونځ او بغیر د جمعې نه په ثواب کې فرق	۵۶۹
د جمعې پریښودو باندې سخت وعید	۵۶۹	د چا شان چې اوچت وي هغه دې په عبادت کې ښه کوشش وکړي	۵۷۱
د سختې یخنۍ د وجې نه جماعت ترک کول جائز دي	۵۷۲	اول د ودۍ بیا مونځ	۵۷۲

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
که ډوډۍ مخامخ وي یا د اودس ماتی حاجت وي نو مونځ وروسته کول په کار دي	۵۷۳	چې کله مونځ اودریږي بیا سنت مه کوئ	۵۷۴
د زنانو د جمعې د سره مونځ کولو حکم	۵۷۵	زنانه چې خوشبو ولګوي نو بهر دې نه وځي	۵۷۷
د زنانه د پاره کورکې مونځ کول افضل دي	۵۷۸	پردیو سړو ته عطر بوئ کولو والا زنانه بد کاره ده	۵۷۹
په منافقانو باندې کوم مونځ بوج دی	۵۸۰	په کلي او ځنګل کې هم مونځ په جماعت سره کوئ	۵۸۱
که تش اودس ماتې تیز وي نو اول ځان فارغول په کار دي	۵۸۲	پیش امام تنه عامه دعاء کول په کار دي	۵۸۲
مونځ د څه وجې نه مه مؤخر کوئ	۵۸۳	مونځ د جمعې سره کولو ترغیب	۵۸۴
د آذن نه پس جومات نه وتل منع دي	۵۸۶	قول او عمل سره د آذان جواب ورکول لازم دي	۵۸۷
د سحر مونځ جماعت سره کول د تهولې شپې تهجد کولو نه بهتر دی	۵۸۹	دوه کسانو په منځ کې جماعت جائز دی	۵۸۹
د حضرت ابن عمر او د هغه د ځوی خفګان	۵۹۰	**بَاب تَسْوِيَةِ الصَّفِّ**	۵۹۲
د صف د نیغولو حکم	۵۹۲	صف برابر ساتل د مونځ د مکمل کیدو حصه ده	۵۹۴
د علم او پوهې خلک دې امام سره نزدې ولاړ وي	۵۹۴	په جوماتونو کې شور مه کوئ	۵۹۵
په مسجد کې د حلقو په ځای په صف کې ناسته په کار ده	۵۹۶	د زنانو او سړو بهترین صف کوم یو دی	۵۹۷
په صفونو کې خالي ځای پریښودل نه دی په کار	۵۹۸	په مخکې صفونو کې باید څه نقص نه وي	۵۹۹
صف مکمل کولو سره لوی ثواب دی	۶۰۰	په صف کې ښي طرف ته اودریدل بهتر دي	۶۰۰

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د تکبیر نه پس هم امام صفونه برابرولی شي	٦٠٠	په مونځ کې وُلي (اوږې) نرم ساتل بهتر دی	٦٠١
په وُلو او ګیټو سره صف نیغیږي	٦٠٢	امام په مینځ کې اودرول په کار دي	٦٠٣
په اول صف کې په شمولیت نه کولو باندې سخت وعید	٦٠٣	په صف کې وروسته دیوائې اودریدو والا حکم	٦٠٤
بَابُ الْمَوْقِف	٦٠٦	نفلی جَمعه غیر اختیاري جائز ده	٦٠٦
که مقتدیان دوه کسان وي څنګه به اودریږي	٦٠٧	مقتدي زنانه او سړی به څنګه اودریږي	٦٠٧
مقتدي یو سړی او زنانه وي جماعت به څنګه اودریږي	٦٠٨	د صف ته د رسیدو نه اخوا که رکوع وکړې نو څه به کوې؟	٦٠٨
امام ته یوائې په اوچت ځای باندې اودریدل مکروه دي	٦١٠	د تعلیم په غرض امام په اوچت ځای باندې اودریدی شي	٦١١
په حالت د اعتکاف کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امامت	٦١٣	د ماتحت خلکو ګمراه کوونکی حاکمان تباه دي	٦١٤
بَابُ الْإِمَامَة	٦١٦	د امامت مستحق څوک دی	٦١٦
د ړوند کس امامت جائز دی	٦٢٠	د شرعي عیب والا امام مونځ قبول نه دی	٦٢١
د دري کسانو مونځ نه قبلیږي	٦٢٢	عامو محلو کې د عالم نشتوالي د قیامت نښه ده	٦٢٣
د فاسق امیر په نګرانۍ کې هم جهاد جائز دی	٦٢٣	د نابالغ ماشوم د امامت مسئله	٦٢٤
اسلام د مساوات نښه مذهب دی	٦٢٨	**بَابُ مَا عَلَى الْإِمَام**	٦٣٠
مونځ دروند کول نه دي په کار	٦٣٠	د غلط مونځ کولو والا امام په خپله مجرم دی	٦٣٢
بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُومِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ وَحُكْمِ الْمَسْبُوق	٦٣٥	د امام متابعت	٦٣٥
که امام معذور وي د هغه متابعت ضروري دی	٦٣٧	د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امامت او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بیماري	٦٣٩

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د امام نه مخکې د سر اوچتولو والا سر به د خر جوړيږي	٦٤١	د امام موافقت	٦٤٢
رکوع کې شریک کیدو سره رکعت ملاویږي	٦٤٢	د تکبیر اولی لوی فضیلت	٦٤٣
که جمعه ونیسي یا نه خو ثواب ملاویږي	٦٤٣	د جماعت فضیلت	٦٤٤
د حضور ﷺ مرض وفات او د مونځ مکمل نقشه	٦٤٥	سورة فاتحه نه لوستلو سره ثواب کم ملاویږي	٦٤٨
د امام نه مخکې سجدې ته تلل ډیره لویه ګناه ده	٦٤٨	بَابُ مَنْ صَلَّى صَلَاةً مَرَّتَيْنِ	٦٤٩
حضرت معاذ رضي الله عنه دوه ځلې مونځ ولی کړی وُ	٦٤٩	په کور کې مونځ وکړی او بیا جماعت ومومي نو څه به کوي؟	٦٥٠
د مونځ کولو والا مسلمان وي	٦٥٢	د حضرت ابن عمر رضي الله عنه فیصله	٦٥٤
یو مونځ دوباره کول منسوخ او ممنوع دي	٦٥٥	په کومو وختونو کې دوباره مونځ کول ممنوع دي	٦٥٦
بَابُ السُّنَنِ وفضائلها	٦٥٧	په دولس رکعاتو سنت کولو باندې جنت کې محل ملاویږي	٦٥٧
د جمعې سنت	٦٥٩	د حضور ﷺ د نوافلو مکمل نقشه	٦٦٠
د سحر د سنتو تاکید او فضیلت	٦٦٢	د مابنام فرض مونځ نه مخکې د دوه رکعتونو نفلو حکم	٦٦٢
د جمعې مونځ نه مخکې او وروسته څومره رکعاته سنت دي	٦٦٣	محاکمه او فیصله	٦٦٥
د ماسپښین د سنتو فضیلت	٦٦٦	د زوال په وخت کې د ځلورو رکعاتو نفلو کولو فضیلت	٦٦٧
د مازیګر د مونځ نه مخکې د ځلورو رکعتو نفلو فضیلت	٦٦٧	د مابنام نه پس شپږ رکعتو کولو سره د دولس کالو عبادت ثواب ملاویږي	٦٦٨
داوایینو انتهائي تعداد شل رکعته دی	٦٦٩	د ماخوستن سنت	٦٧٠

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د سحر د مونځ نه مخکې او د مابنام د مونځ نه پس د سنتو فضیلت	٦٧٠	د مازیګر د مونځ نه پس د دوه رکعاته کولو حکم	٦٧١
د مابنام د آذان نه پس دوه رکعاته نفلو کولو حکم	٦٧٢	نفل مونځ کول په کور کې افضل دي	٦٧٤
دسنتونه پس اجتماعي دعاء ثابت نه ده	٦٧٥	د فرضو نه پس متصل د سنت کولو وجه	٦٧٦
د سنتو او فرضو نه پس ځومره فاصله په کار ده	٦٧٧	د جُمعې مونځ نه پس شپږ رکعته مونځ کول ثابت دي	٦٧٨
بَاب صَلَاةِ اللَّيْل	٦٨٠	د ماخوستن او د سهر په مینځ کې یوولس رکعاته	٦٨٠
د سحر د سنتو نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کله هم په طرف باندې نه دی اوده شوی	٦٨٢	د دري رکعاتو وترو ثبوت	٦٨٣
د تهجد و نه مخکې دوه رکعاته نفل کول په کار دي	٦٨٤	د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تهجد و مکمل نقشه	٦٨٥
د وترو دري رکعاته	٦٨٧	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دري رکعاته وتر کړې	٦٨٨
نفل مونځ په ناسته باندې کول	٦٨٩	په تهجد و کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم سورتونه لوستل	٦٨٩
د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د اوږد مونځ ذکر	٦٩٠	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به یو آیت لوستلو کې ټوله شپه په ولاړه تیروله	٦٩٣
د مونځ په قرائت کې برابري په کار ده	٦٩٢		
یو نیک عمل باندې دوام بنه کار دی	٦٩٤	عبادت کې برابروالی محبوب دی	٦٩٥
په تهجد و کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معمول	٦٩٥	**بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ**	٦٩٨
بَابُ التَّحْرِيضِ عَلَى قِيَامِ اللَّيْلِ	٧٠٤	د شیطان انسان سره لوبې	٧٠٤
د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډیر والي د عبادت	٧٠٥	شیطان د مونځ نه کوونکي په غوږ کې واړه بول کوي	٧٠٦
فیشن کوونکي زنانه به د قیامت په ورځ باندې بربندې وي	٧٠٧	د الله تعالی د رحمت د نازلیدو وخت	٧٠٧
هره شپه کې د قبولیت یو وخت وي	٧٠٩	د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ روژې او مونځ محبوب تر عمل دی	٧٠٩

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د شپې عبادت کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عادت	۷۱۰	د تهجد فضیلت	۷۱۱
درې قسمه خلک خوش قسمته دي	۷۱۱	د تهجد و د مونځ د پاره بنځه او خاوند یو بل پاځولی شي	۷۱۲
د دعاء د قبولیت وخت	۷۱۲	نیک عمل څه ته وایي؟	۷۱۳
د تهجد و پریښود و مخالفت	۷۱۴	د الله مخلوق ته د تکلیف ورکولو والا انسان دعاء نه قبلیږي	۷۱۴
د تهجد و فضیلت	۷۱۵	د تهجد و مونځ انسان د بدۍ نه منع کوي	۷۱۵
د خپل کور والو سره د تهجد و د مونځ فضیلت	۷۱۶	په امت کې د اوچتې مرتبې والا خلک کوم یو دي	۷۱۶
په تهجد و کولو کې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عادت	۷۱۷	**بَابُ الْقَصْدِ فِي الْعَمَلِ**	۷۱۸
همیشه عمل محبوب تر وي	۷۱۹	د طاقت لرلو په دائره کې عمل کول په کار دي	۷۱۹
تر څو پورې چې چست وې عبادت کوه	۷۲۰	د خوب ورتلو وخت کې مونځ کول نه دي په کار	۷۲۰
دین آسان مذهب دی دا په عمل سره مه سختوه	۷۲۱	که د شپې عبادت (وظیفه) پاتې شي د ورځې یې پوره کړه	۷۲۳
د مجبورۍ او معذورۍ حالت کې په ملاسته مونځ کولو حکم	۷۲۴	بغیر عذر په ناسته مونځ کولو باندې نیم ثواب ملاویږي	۷۲۵
د شپې په اودس کې د څملاستو فضیلت	۷۲۶	دوه قسمه خلکو نه الله تعالی ډیر زیات خوشحاله وي	۷۲۶
د مسلمانانو د پاره مونځ د راحت او سکون ذریعه ده	۷۲۸	**بَابُ الْوِتْرِ**	۷۳۰
د وتر د وجوب او تعداد رکعاتونو بیان	۷۳۰	وتر جوړیدو د پاره یو رکعت وي	۷۳۶
		د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د روایت مطلب	۷۳۶
د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وتر او تهجد و پوره نقشه	۷۳۷	وتر د شپې آخره حصه کې کول په کار دي	۷۳۹

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
ددیني طلباو د پاره د وترو حکم	۷۳۹	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د دري خبرو وصیت کړی دی	۷۴۰
په شرعي آسانتیاو باندې شکر ادا کول په کار دي	۷۴۱	د تهجد او وترو مونځونو د رکعتونو تعداد	۷۴۲
د وتر مونځ واجب دی	۷۴۳	وترو ته ترغیب او د هغې فضیلت	۷۴۳
د وترو وجوب او د دې وخت او فضیلت	۷۴۴	د وترو قضاء لازم ده چې دا یې د وجوب دلیل دی	۷۴۴
د دري رکعاتو وترو ثبوت	۷۴۴	په وترو کې ویلو والا دعاء قنوت	۷۴۵
وترو کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعاء	۷۴۷	د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو رکعت وترو باندې د صحابو تعجب	۷۴۸
د وتر نه کولو سخت وعید	۷۴۹	د وترو قضاء د وترو د وجوب دلیل دی	۷۴۹
د وتر مونځ واجب دی او که سنت؟	۷۵۰	وتر دري رکعاته دي	۷۵۰
دوو رکعتو سره یو رکعت یو ځای کولو سره د وتر جوړیدو واقعه	۷۵۰	په ناسته مونځ کولو طریقه	۷۵۱
د وترو نه پس دوه رکعته نفل په ناسته کول ثابت دي	۷۵۱	**بَابُ الْقُنُوت**	۷۵۳
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مسلمانانو قېدیانو د پاره د راخلاصیدو دېرې دعاګاني غوښتې وې	۷۵۴	د قنوت نازله وخت بعد الرکوع دی	۷۵۵
قنوت نازله ټولو مونځونو کې هم لوستلی کیږي	۷۵۶	قنوت نازله د ضرورت د حده پورې دی	۷۵۷
همیشه د پاره قنوت نازله لوستل بدعت دی	۷۵۷	د روژې نصف ثاني کې د قنوت ثبوت	۷۵۷
بَاب قیام شهر رَمَضَان	۷۵۹	په جماعت سره تراویح کول د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت دي	۷۶۴
د روژې میاشتو کې د تراویح فضیلت	۷۶۵	نفل مونځ په کور کې کول بهتر دي	۷۶۶
نبي عَلَيْهِ السَّلَام درویشت پنځه ویشت اوه ویشت ورځې تراویح کړی دي	۷۶۶	د شعبان د میاشتې د پنځلسمې شپې فضیلت	۷۶۷

Maktaba Tul Ishaat.com

مضمون	صفحه	مضمون	صفحه
د برات په شپه قبرستان ته تلل	۷۶۹	د پنځلسم شعبان روژه	۷۶۹
د نفل مونځ په کور کې کولو فضیلت	۷۶۹	د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تراویحو د پاره جمعه مقرر ول	۷۶۹
د تراویحو د ابتدائي وخت نقشه	۷۷۱	د تراویحو آخري وخت د پیشمني پورې دی	۷۷۲
پنځلسم شعبان کې د لوي لوي تبدیلیانو فیصلې کیږي	۷۷۲	شب براءت کې د کینه ګر او د مشرک مغفرت نه کیږي	۷۷۴
د پنځلسم شعبان روژه او عبادت	۷۷۵	**بَاب صَلَاةِ الضُّحَى**	۷۷۶
د څانښت مونځ بیان	۷۷۶	حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلوة الفتح اته رکعاته ادا کړې دي	۷۷۷
د څانښت مونځ د رکعتونو تعداد	۷۷۷	د څانښت مونځ فضیلت	۷۷۸
د څانښت بهتر وخت	۷۷۹	په انسان کې درې سوه شپیته جوړونه دي	۷۸۰
د څانښت دولس رکعاتو باندې جنت کې محل ملاویږي	۷۸۱	د څانښت مونځ د پاره په مسجد کې ناسته کول	۷۸۱
د سمندر د ځګ برابر ګناه هم معاف کیږي	۷۸۲	د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په نزد د څانښت اهتمام	۷۸۳
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله د څانښت مونځ کړی دی او کله یې نه دی کړی	۷۸۳	حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د څانښت مونځ نه کولو	۷۸۴

بسم الله الرحمن الرحيم

اللهم صل على محمد

وعلى ال محمد كما صليت

على ابراهيم وعلى ال ابراهيم

انك حميد مجيد

اللهم بارك على محمد وعلى

ال محمد كما باركت على

ابراهيم وعلى ال ابراهيم

انك حميد مجيد

عرض حال

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين ، و الصلاة و السلام على أشرف الأنبياء و المرسلين سيد الأولين و الآخرين ، وعلى آله و أصحابه الطيبين الطاهرين و الحمد لله رب العالمين .

امابعد! د الله تعالى لاكهـ لاكهـ شكر دى چې هغه دې كمزورې بنده ته صرف په خپل فضل و كرم سره د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احاديثو مقدسو د تشريح او د توضيح توفيق ورکړو .

بهر حال د الله تعالى په مدد او نصرت سره د مشكوة شريف د شرحې دوه (۲) جلدونه مكمل شو ، او منظر عام ته راغلل ، او د دريم جلد د ليكلو شروع الحمد لله نن په دولسم شعبان ۱۴۲۳هـ كې وشوه.

توضيحات پښتو شرح د مشكوة وړومبى جلد د مشكوة شريف ابتدائي (وړومبى) حصې سره متعلق دى چې هغه د " **كتاب الايمان** "، " **كتاب العلم** " او " **كتاب الطهارة** "په توضيحاتو او تشريحاتو باندې مشتمل دى .

د دې نه پس ما دا مناسبه وګڼله ، چې د مشكوة شريف د دويمې حصې : "**كتاب النكاح**" نه زر تر زره يو جلد تيار شي چې د مشكوة ثاني د زده كوونكو او ښوونكو د پاره آسانتيا شي نو د ډير محنت نه پس الحمد لله هغه تيار شو چې هغه په "**كتاب النكاح**" ، "**كتاب العتق** "، "**كتاب القصاص** "، "**كتاب الحدود** " او " **كتاب الامارة و القضاء**" باندې مشتمل دى ، او د ترتيب په اعتبار سره څلورم جلد شميرلې شي .

دې نه پس ضروري وه چې د "**كتاب الصلاة**" نه په توضيحات او تشريحاتو كار شروع شي ، الحمد لله نن د ډيرو مصروفياتو باوجود مې په هغې كار شروع كړو ، زه د خپل رب نه ډير په عاجزۍ سره د توفيق او تكميل دعاء غواړم او بيا د دې د قبوليت عامه او خاصه دعاء كوم .

ما د توضيحات د اولنې جلد په شروع كې د دې شرحې خصوصيات ، امتيازات ،مراجع او مصادر ، طرز وطريقه د تحرير او تقرير او انداز بيان او ترتيب بيان كړې دى چې د هغې د اعادې ضرورت نشته هلته دې وكتلې شي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د مشکوة شریف د ښودلو په وخت کې ما د اسلامي میاشتو مطابق چې کومه میاشت کې په کوم تاریخ کوم سبق ښودلې دی هغه تاریخ ما په دې شرح کې لیکلې دی چې هر مُدرس ته دا اندازه وي چې هغه په کوم رفتار کتاب ښائي.

نو ددې جلد اول درس په لسم (۱۰) ربیع الاول ۱۴۱۰هـ کې ښودلی وو ، نو لهذا ددې نه به شروع کولی شي.

و الله ولي التوفیق وهو یهدي السبیل

و صلی الله علی نبیه الکریم

فضل محمد یوسفزئي

۱۲ شعبان ۱۴۲۳هـ

راشنک الائي ضلع بټکرام صوبه سرحد پاکستان

كِتَابُ الصَّلَاة

د مونځ بيان :

قال الله : ﴿رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاء﴾.(سورة ابراهيم :۳۰).
اى زما ربه ! ما او زما اولاد د مونځ قائمونكي جوړ كړي اى زمونږه ربه زما دُعا قبوله كړي .

و قال الله تعالى : ﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَّحْنُ نَرْزُقُكَ﴾.(سورة طه :۱۳۲).
او خپل كور والاو ته د مونځ حكم كوه او په خپله هم په دې قائم اوسيږه مونږه ستا نه روزي نه غواړو بلكې مونږه تا ته روزي دركوو .

و قال الله تعالى : ﴿فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا﴾ .
(سورة مريم :٥٩).
بيا ددوي نه پس داسې خلك راغلل چې هغوي مونځ ضائع كړو او خواهشاتو پسې ولګيدل پس زر به هغوي د ګمراهئ سزا وموميِ .

وقال الله تعالى : ﴿ وَأَقِمِ الصَّلَاةَ إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَلَذِكْرُ اللهِ أَكْبَرُ﴾ . (سورة عنكبوت : ٤٥).
او د مونځ پابندي كوي يقينا مونځ منع كوي خلك د بې حيائي او د بدو كارونو نه او د الله يادول ډير لوي دى .

د مخكې باب سره د كتاب الصلاة ربط : د كتاب الصلاة د ماقبل بابونو سره ربط دا رنګې دى چې صاحب مشكوة د ټولو نه مخكې كتاب الايمان كيښود و ځكه چې د ايمان نه بغير يو عمل هم قبول نه دى ، د كتاب الايمان نه پس كتاب العلم كښود ى شو ځكه چې په علم باندې عمل موقوف دى د علم نه بغير يو عمل پيژندل او په هغې باندې عمل كول ممكن نه دي د علم نه پس د كتاب الصلاة درجه او مقام وو ځكه چې صلوة ټولو عباداتو لره جامع دى ځكه چې په صلوة كې قيام دى نو په كائناتو كې چې څومره ځيزونه ونې(بوټي)كانړي د قيام په حالت كې طبعي طريقې سره د الله په عبادت كې مصروف دي او څومره فرشتې چې د پيدائش نه واخلي تر اوسه پورې په قيام كې د الله تعالى په عبادت كې ولاړې دي ددې ټولو مشابهت د مونځ د قيام سره راځي ، دغسې په مونځ كې ركوع ده نو په كائناتو كې چې څومره

Maktaba Tul Ishaat.com

مخلوقات،حیوانات وغیره اوفرشتې وغیره د رکوع په حالت کې دي ددې ټولو د عبادت نه د مونځ سره مشابهت رائي دغسې په مونځ کې سجده ده نو کائناتو کې چې څومره مخلوقات په طبعي طریقې سره د الله تعالی په وړاندې سر په سجده دي او کومې فرشتې چې د پیدائش نه واخلي تر اوسه پورې په سجده کې دی ددې ټولو د عبادت نه په مونځ کې مشابهت رائي دغسې په مخلوقاتو کې چې څومره ځیزونه غرونه وغیره د قعدې په حالت کې طبعي طریقې سره د الله تعالی په عبادت کې مشغول دی او څومره فرشتې چې په حالت د ناستې کې په عبادت کې مصروفې دي ددې د ټولو د عبادت نه د مونځ سره مشابهت رائي. خلاصه دا چې مونځ جامع العبادات دی د ایمان او علم نه پس دده مقام دی لیکن مونځ چونکه په طهارت باندې موقوف دی او طهارت د مونځ د پاره شرط دی ځکه مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ طهارت په مونځ باندې مقدم کړو چې کله د طهارت د بیان نه فارغ شو نو اوس صاحب مشکوة اصل مقصود بیانول وغوښتل نو د **کتاب الصلاة** عنوان یې کیښودلو.

د ارکان خمسه عجیبه ترتیب :حقیقي عاشق او مجازي عاشق دواړه هر وخت د خپل محبوب د حاصلولو کوشش کوي :(۱) نو چې کله مجازي عاشق د خپل محبوب د حاصلولو کوشش کوي نو د ټولو نه مخکې هغه د خپل معشوق ، تعریف او مدح او توصیف کوي ، ددې د پاره چې د قصیدې په ویلو خپل محبوب ته ځان ورسوي ، بهر حال د عربو او د عجمو د عاشقانو او شاعرانو هغه ټولې قصیدې چې دوي هغه د خپلو محبوبانو باره کې ویلي دي هغه ددې مقصد د حاصلولو د پاره ویلي شوې دي د امرء القیس ، زُهیر ، طرفه ، لبید ابوتمام او د ابوطیب متنبي قصیدو ته چې تاسو وګورئ نو تاسو ته به دا حقیقت په واضح طریقې سره په نظر راشي .د غسې چې یو حقیقي عاشق کله الله راضي کوي نو هغه د ټولو نه اول په ژبه باندې د کلمه شهادت اقرار کوي او د الله تعالی عظمت او شان بیانوي چې د هغې طرف ته په یو حدیث کې داسې اشاره شوې ده : **بني الاسلام علی خمس شهادة ان لا اله الا الله و ان محمدًا رسول الله و اقام الصلاة و ایتاء الزکوة و صوم رمضان و حج البیت .**

(۲) چې کله مجازي عاشق د قصیدو په ویلو سره خپل محبوب حاصل نه کړي نو په دویمه مرحله کې هغه د محبوب مخکې عاجزي شروع کړي ، ددې په تعظیم کې کله ودریږي او کله د هغه مخکې تیتیږي ، د ادب او تعظیم او عاجزئ او تواضع دغه ټول صورتونه یو ښکاره حقیقت دی چې هر چا ته معلوم دی . شریعت مطهره د حقیقي عاشق د پاره د محبوب د حاصلولو او د هغه د راضي کولو د پاره په دویمه مرحله کې مونځ کیښودی دی چې په هغې کې د الله تعالی د راضي کولو د پاره حقیقي عاشق د ټولو نه مخکې دواړه لاسونه تر غوږونو پورې اوچت کړي او د تسلیم او د رضا مظاهره کوي ، او لاس ترلی د تعظیم د پاره ولاړ وي بیا ډیر د عاجزئ په حالت کې رکوع کوي او بیا د محبوب په قدمونو کې په سجده پریوځي او د جسم د ټولو نه قابل احترام اعضاء تندی او پوزه په ځمکه مړي د محبوب په حاصلولو کې

دا د عاجزئ آخري حد دی .(۳) او چې کله مجازي عاشق د قصيدې په ويلو او تعظيم او ادب په دواړو مرحلو کې د محبوب په حاصليدو کې کامياب نه شي نو بيا د مال په لګولو باندې شروع وکړي د معشوقې په حاصليدو عاشق کله هم شومتيا او کنجوسي نه کوي په دې ميدان کې هر عاشق سخي ګرځي لهذا لکونه روپۍ خرچ کول په دې کې ده ته ډير آسان وي تر څو معشوقه لاس ته ورشي .شريعت مقدسه کې د محبوب د حاصلولو د پاره په دې مرحله کې حقيقي عاشق د پاره زکوة ورکولو قانون مقرر کړی شوی دی ، عاشق حقيقي د محبوب حاصلولو د پاره او دده د رضا کولو د پاره خپل مال کې معين او مقرره حصه مال د الله په لار کې خرچ کوي تر څو چې محبوب راضي شي .(۴) عاشق مجازي چې کله دې دريو مرحلو کې کامياب نه شي بيا خوراک څکل بند کړي او د لوږې هړتال (احتجاج) کوي دغه رنګ د محبوب زړه نرم شي او د هغه لاس د عاشق په لاس کې راشي بهر حال ټول عاشقان دغه رنګ مجاهده او مظاهره کوي ځينې په کې مړه شي او ځينې خپل مقصد ته ورسيږي. شريعت مطهره د عاشق حقيقي د پاره په دې کې روژه ايښې ده که ګرمي وي يا يخني د رمضان روژې به پوره کوي چې د هغه محبوب خوشحاله شي او عاشق حقيقي کامياب شي .(۵) کله چې مجازي عاشق په دې څلور مراحلو کې خپل معشوق حاصل نه کړي ، بيا هغه کور ، بچي ، بنار آبادي پريږدي بې سامانه بغير کپړو او خپې ابله او سر تور دشت بيابان او ځنګل صحرا طرف ته ځي چې د معشوقې نښې نښانې وګوري او خپل نزدي خپلوانو نه جدا شي چې د معشوقې په تلاش کې کامياب شي ځکه چې د مجنون او ليلى قصې او د هغوي د يو بل په کوڅو او صحراګانو کې د ليونو په شان ګرځيدل پټ نه دی .يو ځل مجنون يو سپی په خپل څادر کينولو او خلکو دې ملامت کوو نو مجنون وويل چې ما مه ملامته کوئ دا سپی ما د خپلې معشوقې په کوڅه کې ليدلی وو ځکه مې په خپل څادر باندې کينولو چې دده خپې زما په څادر راشي ددې منظر نقشه په اشعارو کې داسې ده :

رأى المجنون في البيداء كلب ❁ فجر اليه للاحسان ذيلا

فلاموه على ما كان منه ❁ فقالوا لم منحت الكلب نيلا

فقال دعوا الملامة ان عيني ❁ رأته مرة في حي ليلى

شريعت مطهره د حقيقي عاشق د پاره په دې مرحله کې حج د بيت الله فريضه ايښودې ده د محبوب حاصلولو او راضي کولو د پاره حقيقي عاشق کفن واچوي او خپې ابله او سر تور ه بنځه ، بچي او کلي خپلوان کور هر څه پريږدي او د الله کور طرف ته ځي بيا منى ته ځي بيا عرفات ته لاړ شي ژاړي د مزدلفې نه راکوز شي په چغو ژاړي بيا منى کې کانې ولي بيا د محبوب د کور نه ګير چاپيره طواف نه کوي په آخر کې محبوب راضي شي او د ګناهونو نه پاک شي او وطن ته واپس راشي . بره حديث کې کوم روايت چې ما نقل کړې دی په هغې کې د ارکان خمسه ترتيب داسې ذکر دی او چې په کوم انداز سره ما د ترتيب

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت کړې دی ددې طرف ته فتح الملهم کې شیخ الاسلام علامه شبیر احمد عثماني رَحِمَهُ اللَّهُ اجمالي اشاره کړې ده . (فتح الملهم).

ما ددې متعلق د خپل استاذ حضرت مولانا فضل محمد سواتي رَحِمَهُ اللَّهُ نه ددې تشریح اجمال ویلی دی دا تشریح او تفصیل به د کتاب الحج په شروع کې بیانوم خو د زندګۍ پته نه لګي نو ځکه دا فائده ما دلته وليکله ، او که الله تعالی موقع راکړه نو هلته به هم اشاره وکړم .

د صلوة لغوي او اصطلاحي تحقيق :د صلوة اصطلاحي تعريف علماو داسې ذکر کړې دی : **هي اركان معهودة و افعال مخصوصة في اوقات مخصوصة بكيفية مخصوصة** . يعنې مخصوص وخت کې په مخصوص طريقې سره مخصوص افعال اداء کول مونږ دی.**صلوة** منقول شرعي دی يعنې شريعت دې ته دا حيثيت او تعارف ورکړی دی په دې کې د چا هم اختلاف نشته .خو په دې کې د هر چا اختلاف دی چې صلوة چې منقول شرعي دی ددې منقول عنه څه څيز دی يعنې دا دکوم څيزنه منقول شوې راغلې دي اوددې ماده اشتقاق څه ده توجه ورته وکړئ:(١) د اکثرو علماو خيال دادی چې **صلوة** په لغت کې د دعاء په معنی کې دی بيا دا مخصوص عبادت ته وويلی شو (يعنې بيا ددې اطلاق په عبادت باندې وشو)ځکه چې په دې کې هم دعاء ده (**كما في قوله عليه السلام : اذا عيحا احدكم فليجب فان كان مفطرا فليطعم و ان كان صائما فليصل ، ابوداؤد ١/٣٣٤**). (٢) صاحب قاموس ليکلي دي : صلوة په لغت کې : دعاء ، رحمت ، او استغفار په معنی دی .(٣) بعضې علماو ليکلي دي ، صلوة په لغت کې **تحريک الصلوين** ته ويلی شي او مونږ کوونکي هم کوناټو ته حرکت ورکوي .(۴) بعضې علماء وايي چې صلوة د **صلى الفرس** نه ماخوذ دی ځکه چې د آسونو په منډه کې چې کوم آس مخکې شي هغې ته مجلی ويلي شي او د هغې د کوناټو سره چې متصل کوم آس دويم وي هغې ته مصلي ويلي شي ځکه چې د هغې سر د مخکني آس د کوناټو سره برابر دی دغه رنګ مونږ کوونکي هم چې په جمعې سره مونږ کوي نو د يو بل نه وروستو ولاړ وي .بعضې علماو ليکلي دي : **صلى يصلى** سمع د باب نه هم دی او د باب تفعيل نه هم دی چې يو څيز لره په اور کې اچولو او سوزولو ته ويلی شي کله چې کونتی (امسا) په اور کې د نيغولو د پاره واچوي نو وايي : **صليت العصا في النار** ، په دې اعتبار سره مونږ ته ځکه صلوة ويلی شي چې مونږ کوونکی نيغ شي او ګناه يې وسوزي او ختمه شي .په ټولو معانو کې ډيره واضحه او راجحه معنی داده:صلوة په اصل کې د دعاءپه معنی کې ده بيا ارکان مخصوصه طرف ته منتقل شو. (الكاشف عن حقائق السنن ٢/١٧١، و في عمدة القاري ٢/٢٦٥).

د مونځ فرضيت :د تولو نه مخکې د تهجدو مونځ فرض شوی دی بیا د تهجد حکم منسوخ شو او د سنحر او مازیګر مونځ فرض شو لکه څنګه چې په قرآن کریم کې ورته اشاره شوې ده :﴿ **وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ بِالْعَشِيِّ وَالْإِبْكَارِ**﴾ (پاره ۲٤) (**شرح النقاية ۱/۱۰۸**).

بیاد هجرت نه دوه کاله مخکې د معراج په شپه پنځه مونځونه فرض شو اوس هم فرض دي ددې نه انکار کوونکی کافر دی ددې خصوصیت دادی چې دا مونځونه د اسمانونو د بره په عرش باندې فرض شوې دی او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په ژبه مبارکه باندې د امت د پاره آخري وصیت د مونځ متعلق داسې وو : **الصلاة و مامَلكت ايمانكم** . د مونځ پابندي کوئ او خکته خلکو باندې ظلم مه کوئ .بیا د هجرت نه پس په دویم کال زکوة او روژه فرض شول او په پنځم (۵هـ) یا په (٦هـ)یا (۹هـ) کال د هجرت باندې حج فرض شو .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

نیک عملونو سره واړه ګناهونه معاف کیږي

﴿۱﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :
د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمایي چې : نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : چې څوک د
« الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَ الْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَ رَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ
غټو ګناهونو نه بچ شي نو پنځه مونځونه او د جمعې نه د جمعې پورې او د رمضان نه د رمضان پورې
مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اُجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرَ ». (رواه مسلم) (۱)
دده هغه ګناهونه ختموي کوم چې ددې په مینځ کې شوې دي.

توضيح : **الصلوة الخمس**:داکلمه دخپل معطوفاتو سره مبتداءواقع شوې ده او "**مكفرات** "کلمه ددې خبر دی،"**مكفرات** " د تکفیر نه دی د کفارې په معنی کې دی مراد د ګناهونو کفاره او معاف کول او ختمول دي،دحدیث مطلب دادی چې دپنځه مونځونوپه مینځ کې چې کوم واړه ګناهونه کیږي نو هغه په دې مونځونو سره ختمیږي دغه رنګې د یوې جمعې نه د دویمې جمعې پورې کوم واړه ګناهونه کیږي دغه مونځونو کولو سره ختمیږي او معاف کیږي همدارنګې د رمضان نه بل رمضان پورې د ټول کال ګناهونه ددې روژو په نیولو سره معاف کیږي،دابحث مخکې تیرشوی چې نیک اعمال کولو سره بالاتفاق

---

(۱) أخرجه مسلم ۲۰۹/۱ رقم الحديث:۲۳۳۰۱٦،والترمذي ٤۱۸/۱ رقم الحديث : ٤۱۸ ، وأخرجه أحمد في مسنده ۳٥۹/۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

سره واړه ګناهونه معاف کيږي . د قرآن کريم د آيت : ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ (هود : ۱۱۴) نه همدا صغائر مراد اخستلې شوي دي اګرچې بعضې علماو د لوي ګناهونو قول کړی. ليکن د جمهورو علماو په نزد د لويو ګناهونو د معافۍ د پاره توبه ضروري ده ، همدارنګې د حقوق العباد دمعافي د پاره ضروري دي چې صاحب حق نه د معافۍ غوښتنه وشي ، خلاصه داده چې نيک عملونو سره واړه ګناهونه ختميږي او معاف کيږي او که توبه يې وکړه نو غټ ګناهونه هم ختميږي او معاف کيږي او که توبه يې ونه کړه نو په کبائرو کې تخفيف او سپک والی به ضرور راځي .

لما بينهن : ددې جملې يو مطلب دادی چې د يوې ورځې پنځه مونځونو نه واخله تر دويمې ورځې پنځه مونځونوپورې ددې دواړوپه مينځ کې چې کوم واړه ګناهونه دي هغه معاف کيږي. دويم مطلب يې دادی چې دهردويم مونځ په مينځ کې چې کومه ګناه وشي دغه مونځونودوجې هغه معاف کيږي، لمعات کې شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ ليکي : دلته دادويم مطلب مراددی اواحاديث په همدې دلالت کوي. (اشعة اللمعات ۲۹۸-۲۹۹).

سوال : چې کله يو مونځ سره يا روژي سره او د جمعې مونځ نه دويم مونځ پورې ټول واړه ګناهونه معاف کيږي نو بيا اودس کولو سره او جومات طرف ته تللو سره او دويم مونځ سره به څه معاف کيږي ؟ ځکه چې واړه ګناهونه خو ټول په ټوله مخکې معاف شو .

جواب : ددې جواب دادی چې نورو نيکو سره ددغه کس درجې بلندې شي او نورې نيکيانې دده په اعمال نامه کې جمع شي ، شيخ په لمعات کې ليکلي : چې د صغائرو د ورانيدو دغه صفت په هره نيکۍ کې موجود دی اوکه يو نيکي ګناهونه ختم کړل نو ډيره خه ده او که ټولو نيکو په جمع سره ختم کړل نو نور علی نور به وي . (اشعة اللمعات ۲۹۹).

آيا د صغائرو د معاف کيدو د پاره د کبائرو نه ځان بچ کول ضروري دی ؟اذا اجتنبت الکبائر :دا اجتناب نه دمجهول صيغه ده اوس حديث کې دا بحث دی چې آيادصغائرو د معافۍ د پاره اجتناب عن الکبائر شرط ضروري دی او که شرط نه دی ؟په دې کې دا تفصيل دی چې دلته دري صورتونه دي: **اول صورت** : دادی که چيرته د يو کس ګناهونه صرف صغائر وي او د غټو نه پاک وي په دې اتفاق دی چې دده ټول ګناهونه به معاف شي. **دويم صورت**: چې د يو کس ټول ګناهونه کبائر وي نو اتفاق دی چې د توبې نه بغير به دده هيڅ ګناه معاف نه شي توبې سره به معاف کيږي که نه نو معاف کيږي **إلا ما شاء الله** . **دريم صورت** : د يو کس صغائر او کبائر دواړه ګناهونه وي.نو په دې کې د معتزلو مسلک دادی چې د کبائرو په موجودګۍ کې صغائر نه معاف کيږي او د کبائرو د معاف کيدو خو سوال نه پيدا کيږي هغوی وايي چې د صغائرو معاف کيدو دپاره اجتناب عن الکبائرشرط ګرځولی شوی دی هغوی دمذکوره حديث نه

استدلال کوي. مګر جمهور اهل السنة و الجماعة فرمايي : چې د صغائرو د معافۍ د پاره اجتناب عن الکبائر شرط نه دی ، د کبائرو په موجودګۍ کې هم نيکو اعمالو سره صغائر معاف کيږي ځکه اکثر احاديثو کې مطلقا د کوم شرط لګولو نه بغير صغائر د معاف کيدو ذکر راغلي دي (**کذا قال النووي**).

باقي معتزلو د مذکوره احاديثو نه چې کوم استدلال کړی دی هغه استدلال **صحيح نه دی** ځکه چې **اذا اجتنبت الکبائر** جمله د استثناء په ځای کې واقع ده يا ماقبل د پاره شرط نه دی نو مطلب دادی چې نيک اعمالو سره صغائر معاف کيږي او کبائر نه معاف کيږي.

د پنځه مونځونو مثال د پاک نهر دی :

﴿٢﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :

دحضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ (صحابه کرامو ته مخاطب شو)

" أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَنَّ نَهْرًا بِبَابِ أَحَدِكُمْ يَغْتَسِلُ فِيهِ كُلَّ يَوْمٍ خَمْسًا

او وي فرمايل تاسو ووايئ چې د چا د دروازې مخې ته نهر روان وي او هغه روزانه په هغې کې پنځه ځله

هَلْ يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ ؟ قَالُوْا : لَا يَبْقَى مِنْ دَرَنِهِ شَيْءٌ ؟.

لامبي نو آيا دهغه په بدن به خيری باقي پاتي شي؟صحابه کرامو عرض وکړو چې نه بالکل به خيری پاتې

قَالَ : فَذَلِكَ مَثَلُ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ

نه شي نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايل: تاسو پوهه شئ! چې دا مثال د پنځه مونځونو دی الله تعالى ټول

يَمْحُو اللهُ بِهِنَّ الْخَطَايَا "(متفق عليه). (١)

(صغائر) ګناهونه د دغې مونځونو په برکت داسې ختموي لکه څنګه چې اوبه خيری لري کوي.

توضيح : ارأيتم : اي اخبروني يعني ما ته ووايه ، **لو ان نهرا ای لو ثبت ان نهرا** يعني فرض کړئ که چيرې د چا دروازې سره د صفا اوبو نهر وي ، **هل يبقى** دا جمله په محل د استفهام کې ده يعني د استفهام نه مقصود همدغه جمله ده . درن بدن کې خيري ميري ته ويلي شي ، ددې جمع **ادران** ده ،

---

(١) أخرجه البخاري ١١/٢،رقم الحديث : ٥٢٨، ومسلم ٣٦٢/١ رقم الحديث:٢٨٣-٦٦٧ ، والنسائي ٢٣٠/١، رقم الحديث: ٤٦٢ ، والترمذي ١٣٩/٥ رقم الحديث :٢٨٦٨

Maktaba Tul Ishaat.com

فذلک دلته د **فاء** کلمه د شرط محذوف په جواب کې واقع ده عبارت داسې دی : **اذا اقررتم ذلک و صح عندکم فهو مثل الصلاة (کذا قال الطیبي)** (**الکاشف عن حقائق السنن ۲/۱۷۳**).

دې حدیث کې په بدن باندې ښکاره خیري سره دګناه تشبیه ورکړی شوې ده اوداوبوتشبیه دمونځ سره ورکړی شوې ده چې څنګه ظاهري خیری میری د اوبو سره ختمیږي دغه رنګ د باطني ګناهونو خیری د مونځ سره ختمیږي .

سوال: دلته په ظاهره داسوال کیږي چې په اوبو سره هرقسم ګندګي لرې کیږي هغه خفیفه وي او که غلیظه حالانکه مونځ سره صرف صغیره ګناه لري کیږي اوکبیره نه لرې کیږي .

جواب : دلته تشبیه په ټولو اجزاو کې نه ده بلکې بعضې اجزاو کې ده او هغه ګناه صغیره ده څنګه چې خفیفه ګندګي صرف په اوبو سره لري کیږي د مږلو ضرورت نشته دی همدارنګې په مونځونو سره صرف صغائر معاف کیږي د توبې ضرورت نشته دی .

په مونځ سره ګناه معاف کیږي :

﴿۳﴾ وَ عَنِ اِبْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : إِنَّ رَجُلًا أَصَابَ مِنْ اِمْرَأَةٍ قُبْلَةً
د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمایي چې : یوکس د یوې (پردي) ښځې نه چپه واخیسته
فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ
بیا (داحساس شرمندګۍ سره) د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو قصه یې ورته ذکر کړه
(پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ جواب ورنه کړو ، د وحي په انتظار وو په دې مینځ کې دغه کس مونځ وکړو)
فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى : ﴿ وَ أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ وَ زُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ
نو الله تعالی دا آیت نازل کړو (ترجمه) مونځ دورځې په شروع او آخر کې او دشپې په څه حصه کې کوئ ځکه
الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ﴾ فَقَالَ الرَّجُلُ : يَا رَسُولَ اللهِ أَلِي هٰذَا ؟
چې نیکي (یعني مونځ) ګناهونه ختموي، پس هغه کس وویل ای د الله رسوله ! آیا دا حکم زما د پاره دی؟
قَالَ : « لِجَمِيعِ أُمَّتِي كُلِّهِمْ » . وَ فِي رِوَايَةٍ : « لِمَنْ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: د ټول امت د پاره دی ، او په یو بل روایت کې ذکر دي : چې د هغه چا د پاره دی چا

عَمِلَ بِهَا مِنْ أُمَّتِي » . (متفق عليه). (۱)
چې عمل وکړو په دې باندې زما د امت نه .

توضيح : **ان رجلاً**: شارحين ليکي چې دده نوم ابوالیسر دی وايي چې دده خواته دانصارويوه ښځه د کهجورو اخستو دپاره راغله دغه کس ډير خوشحاله شو ورته يې وويل چې زما سره په کور کې ددې نه ښائسته کهجوري دي هغه ووينه چې کله دغه ښځه کورته راغله دغې ښځې ته غاړه ورکړه او چپه يې ترې واخيسته ښځې ورته وويل دالله نه وويريږه چې دا يې واوريدل نو په خپل کار پښيمانه شو بهر راووتو ، ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخامخ را روان ؤ او خپل غلط حرکت تذکره يې ورته وکړه ،ابوبکرصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وفرمايل : توبه اوباسه بيا د پاره داسې ګناه مه کوه ، دا کس ددې نه پس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغی او خپله قصه يې ذکر کړه .(الکاشف عن حقائق السنن ۲/۱۷۳،اشعة اللمعات ۲۹۹).

طرفي النهار : د ورځې د دوو طرفونو نه مراد د يو قول مطابق سحر او ماسپښين اول طرف دی او مازيګر او مابنام دويم طرف دی او **زلفاً من الليل** نه ماسخوتن مراد دی ددويم قول مطابق سحريو طرف دی او ماسپښين او مازيګر دويم طرف دی او **زلفاً من الليل** نه مراد مابنام او ماسخوتن دی(**الکاشف ۲/۱۷۳**).

زلفاً داد **زلفة** جمع ده په معنی د نزدې سره مراد ترې وختونه او ګينټې دي ځکه چې ګينټې هم يو بل ته نزدې وي . په دې حديث کې **سيئات** او ددې نه مخکې حديث کې **خطايا** چې کوم الفاظ راغلي دي ددې نه مراد صغيره ګناهونه دي همدارنګې ددې حديث نه معلومه شوه چې د يوې ښځې نه صرف چپه اخيستل اګر چې ځای د فتنې دی مګر په کبائرو کې داخل نه دی ، خو که چيرته يې زنا وکړه نو بيا ټول چپې اخيستل او کتل او اوريدل کبائرو کې شمارل کيږي .

﴿٤﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ
دحضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې يو کس دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضرشو
فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّي أَصَبْتُ حَدًّا
او عرض يې وکړو يا رسول الله! ما نه داسې کار شوی دی چې په هغې حد واجب دی ، پس ته په ما باندې

---

(۱) أخرجه البخاري ۸/۲، رقم الحديث :۵۲۶، ومسلم ۲۱۱۵/٤ رقم الحديث ۳۹-۲۷۶۳،والترمذي ۲۷۲/۵ رقم الحديث . ۳۱۱۵ .

Maktaba Tul Ishaat.com

فَأَقِمْهُ عَلَيَّ قَالَ وَ لَمْ يَسْأَلْهُ عَنْهُ قَالَ
حد جاري كړه دراوي بيان دى وايي: پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دده نه د حد په باره كې تپوس ونه كړو فرمايي
وَ حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ
چې دمونځ وخت راغي نو دغه كس د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سره مونځ وكړو چې كله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دمونځ نه
قَامَ الرَّجُلُ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي أَصَبْتُ
فارغ شو هغه كس اودريدو وبيا يې عرض وكړو: يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! ما نه داسې كار شوى دى چې
حَدًّا فَأَقِمْ فِيَّ كِتَابَ اللهِ قَالَ
په هغې حد واجبيږي پس زما په باره كې د الله تعالى حكم نافذ كړه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل
أَلَيْسَ قَدْ صَلَّيْتَ مَعَنَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَإِنَّ اللهَ قَدْ غَفَرَ لَكَ ذَنْبَكَ
چې آياتازماسره مونځ ونه كړو؟ هغه وويل ولې نه، پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: الله تعالى ستا خطاء معاف
أَوْ قَالَ حَدَّكَ "(متفق عليه).(۱)
كړه يا يې داسې وفرمايل: ستا حد وبخښلى شو.

توضيح: **اصبت حدا اى فعلت شيئا يوجب الحد**: يعنې ما داسې لويه ګناه وكړه كومه چې حد شرعي واجبوي. (الكاشف ۲/۱۷۴).

سوال: دلته يو اشكال دى چې هغه كس په خپله اقرار وكړو چې ما د لويې ګناه په شان د غلا او شرب خمر وغيره ارتكاب كړى او پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د مونځ ادا كولو سره د هغه د بخښنې اعلان وكړو، چې ددې نه معلومه شوه چې مونځ وغيره نيک عملونو سره صغائرو نه علاوه كبائر هم معاف كيږي حالانكه معامله داسې نه ده.

اول جواب: چې د هغه كس ګناه كبيره نه وه ليكن د هغه ګمان دا وو چې زما ګناه ډيره لويه ده د الله تعالى نه ويريدونكى كس وړه ګناه هم لويه ګناه ګڼي. **دويم جواب**: دادى چې دې كس تعزير باندې د حد اطلاق وكړو دده ګناه باعث د تعزير وه كومه چې وړه وه. **دريم جواب**: دادى چې دا كس پښيمانه شو او په اخلاص سره يې توبه وبستله د كوم سره چې دده لويه ګناه معاف شوه په مونځ كولو سره صرف ده ته زيرى وركړى شو بهر حال احتمالات ډير دي لهذا اوس اشكال باقي پاتې نه شو. (الكاشف ۲/۱۷۴).

---

(۱) أخرجه البخاري ۱۲/۱۳۳، رقم الحديث: ۶۸۲۳، ومسلم ۴/۲۱۱۷ رقم الحديث: ۴۵-۲۷۶۵.

سوال : اوس دلته دويم اشكال دادی چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دغه كس د ګناه نوعيت معلومولو په باره كې تحقيق او تفتيش ولې نه فرمايلو كيدی شي چې د دغه كس ګناه لويه وه .

جواب :پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د وحي او الهام يا د كشف په ذريعه معلومه شوې وي چې د دغه كس ګناه صغيره ده كبيره نه ده كه چيرې واقعي دغه كس د حد مرتكب شوی وو نو د حد مقدمه(كيس) د حاكم عدالت ته د رسيدلو نه پس حد نه نافذولو نه بغير د يو حاكم كار هم نه دی چې معاف يې كړي .

او حدک:راوي ته شک دی چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ **حدک** لفظ فرمايلي وو يا **ذنبک** دې نه د محدثينو د احتياط اندازه كيږي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د روايا تو په نقل كولو كې څومره قدرې اهتمام كوي .

د ټولو نه ښه عمل كوم يو دی ؟:

﴿٥﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

دحضرت عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس وكړو

أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ قَالَ : « الصَّلَاةُ لِوَقْتِهَا »

چې الله تعالى ته كوم عمل ډير خوښ دی نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : په خپل وخت مونځ كول

قُلْتُ ثُمَّ أَيٌّ قَالَ :

(يعني په مكروه وخت كې مونځ نه كول) ما وويل بيا كوم عمل غوره دی؟پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل :

« بِرُّ الْوَالِدَيْنِ » قُلْتُ : ثُمَّ أَيٌّ قَالَ :

مور او پلار سره نيكي كول ، ما عرض وكړو : بيا كوم عمل غوره دی؟ پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل :

« اَلْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ » قَالَ حَدَّثَنِي بِهِنَّ

د الله په لار كې جهاد كول ، ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي : چې ما ته دا دري خبرې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ

وَ ۰ لَوْ اِسْتَزَدْتُهُ لَزَادَنِيْ (متفق عليه) . (١)

فرمايلي ،كه ما نور تپوس نه هم كولی نو پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به د دې نه هم ډير بيان فرمايلی.

توضيح : **ای الاعمال احب الی الله** : يعني عملونو كې افضل عمل كوم يو دی .دلته مشهور سوال دی دې تذكره علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ كړې ده او ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ هم كړې ده(مرقات ٢/٢٧١، الكاشف

---

(١) أخرجه البخاري ٩/٢،رقم الحديث :٥٢٧، ومسلم ٩٠/١ رقم الحديث:١٣٩-٨٥، والنسائي ٢٩٢/١، رقم الحديث:٦١٠ ، والترمذي ٣٢٥/١ رقم الحديث :١٧٣ .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲/۱۷۵) په توضیحات جلد اول کې ددې تفصیل په یو ځای کې تیر شوی دی مکرر یاد ساتلو وجې ورته اشاره کوم.

سوال : سوال دادی ټولونه ښه او اوچت خو یو ځیز کیدی شي لیکن احادیثو کې چې پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه کله هم د ښه عمل تپوس کړی شوی وي نو پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ مختلف عملونه ښه خودلي دي مثلاً زیر بحث حدیث کې **الصلاة لوقتها** د ټولو نه ښه عمل خودل شوی دی. حضرت ابوذرغفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث کې **ایمان بالله وجهاد في سبیل الله** لره خه عمل ګرځولی دی، په یو حدیث کې **اطعام الطعام** ته افضل عمل ویلی شوی دی، یو حدیث کې **ان یسلم المسلمون من یده ولسانه** ته بهتر عمل ویلی شي، یو حدیث کې ذکر الله ته خه عمل ویل شوی دي یو حدیث کې **ان افضل الاعمال جهاد لا غلول فیه** ته افضل عمل ویلی شوی دی یو حدیث کې **احب الاعمال الی الله ادومها** راغلی دی. د سوال مقصد دادی چې د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژبې مبارکې نه مختلف جوابونه ولې راغلي دي.

اول جواب : د حدیث شارحین ددې سوال مختلفو وجوهاتو سره جواب ورکړی دی بنیادي طور باندې دا خبره پیژندل ضروري ده چې فضیلت کلیه صرف ایمان ته حاصل دی په عملونو کې یو عمل ته هم کلي فضیلت حاصل نه دی. البته افضلیت جزئي ضروري دی اعمال په باره کې مختلف جوابات راغلي دي یا خو د سوال کوونکو په اعتبار سره مختلف دی چې په کوم سوال کوونکو کې کومه کمزوري وي د هغې نشاندهي یې فرمایلې ده یعنې ستا د پاره اوستا مناسب خو د ټولو نه غوره عمل هغه عمل دی په کوم کې چې له تا نه سُستي کیږي. **دویم جواب** : دادی چې د زمانې او وخت په اعتبار سره یې یو عمل افضل ګرځولی دی مثلاً جهاد په زمانه کې جهاد افضل او د حج په موسم کې حج وغیره افضل ګرځولی دی اود تکلیف په وخت کې تکلیف والا ته خوراک ورکول افضل ګرځولې دی. **دریم جواب** : چرته چې هم افضل اسم تفضیل صیغه استعمال کړی شوې ده ددې نه مراد نفس فعل او مطلق فضیلت دی بل عمل باندې اوچتوالی مقصود نه دی. **څلورم جواب** : افضل یو نوع ده ددې یو فرد نه دی بلکې ډیر افراد دي لهذا کوم عمل چې یې افضل خودلی دی نو ګویا هغه به ددغې نوع یو فرد وي، او دا ډیر ښه جواب دی. **پنځم جواب** : دادی چې دا افضیلت په مختلفو اعتباراتو سره دی مثلاً ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ارحم امتې په اعتبار سره افضل دی، عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **اشدهم في امر الله عمر** په اعتبار سره افضل حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حیاء په اعتبار سره او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قضاء په اعتبار سره افضل دی یا مثلاً جهاد د اعلاء کلمة الله په اعتبار سره افضل دی او مونځ د ذکر الله په اعتبار سره افضل او غوره دی. او سلام د تواضع په اعتبار سره او صدقه د همدردۍ او سخاوت په اعتبار سره افضل ده ددې حدیث د

نورو احاديثو سره هيڅ تعارض نشته دا جواب هم ښه او عمده دی.

د تولو نه ښه عمل کوم يو دی ؟د ايمان تقابل د يو عمل سره نه شي کيدی ليکن په مونځ او جهاد في سبيل الله کې د فقهاو بحث شته چې کوم افضل دی يوه طبقه د علماء کرامو دې طرف ته تلي دي چې مونځ مطلقاً افضل دی مګر يوه طبقه د علماءکرامو دې طرف ته تلي دي چې جهاد افضل دی ياد ساتئ دا تقابل هغه وخت دی چې کله جهاد فرض کفايه وي ليکن چې کله جهاد فرض عين شي نو بيا د ايمان نه پس د تولو نه افضل عمل جهاد دی.

حدثني بهن : ددې جملې نه ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د حديث د سماع تاکيد فرمايي چې دا خبرې ما ته په خپله پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيان کړي دي او ما په خپله اوريدلي دي واسطه په کې نشته.

ولو استزدته : يعنې که د افضليت خبرې ما نورې معلومولې نو پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام به نور اعمال هم بيان کړې وو ليکن ما نور تپوس ونه کړو چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام ته تکليف او مشقت نه وي.

د مونځ پريښودل د کفر علامه ده :

﴿٦﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « بَيْنَ الْعَبْدِ
د حضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې : نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : په مينځ د ايمان
وَ بَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ » [1].
او کفر کې (ديوال غورځول) مونځ پريښودل دی.

توضيح : بين العبد : يعنې د ايمان او کفر په مينځ کې پرده او منع والی مونځ دی.

سوال : ددې حديث د ظاهري الفاظو نه اشکال پيدا کيږي هغه داسې چې د ظاهري الفاظو مطلب دادی چې د بنده او کفر په مينځ کې فرق کوونکي څيز پريښودل د مونځ دي حالانکه د بنده او کفر په مينځ کې فرق کوونکي څيز مونځ کول دي پريښودل نه دي. **جواب** : علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ وغيره جواب کړی دی په حقيقت کې دا جواب قاضي عياض مالکي رَحِمَهُ اللَّهُ ورکړی دی هغه دادی چې د ترک لفظ د حد په معنی واخستلی شي نو مطلب به واضحه شي يعنې د ايمان او کفر په مينځ کې چې کوم حد فاصل دی هغه مونځ دی کوم کس چې ددې حد نه اوړي او مونځ نه کوي نو هغه د کفر په ميدان کې داخل شي او کفر ته نزدې شي .قاضي عياض رَحِمَهُ اللَّهُ دويم جواب دا کوي چې دلته په حديث کې چې د بين کوم لفظ راغلی

---

(١) أخرجه مسلم ١/٨٨ رقم الحديث: ١٣٤-٨٢، والترمذي ٥/١٤ رقم الحديث : ٢٦١٨.

Maktaba Tul Ishaat.com

دی دا ظرف دی او هر ظرف ځان د پاره یو متعلق غواړي ددې ظرف متعلق محذوف دی چې هغه وصلة لفظ دی ، تقدیر د عبارت داسې دی: **ترک الصلاة وصلة بین العبد والکفر** ،یعنې مونځ پریښودل سړي کفر ته رسوي په دې دواړو توجیهاتو کې اوله توجیه واضحه ده اګر چې په دې کې تاویل دی . (الکاشف ۲/۱۷۷).

شیخ عبدالحق رَحِمَهُ اللّٰهُ په لمعات کې دریمه توجیه بیان کړې ده هغه هم خه ده فرمایي چې : کیدی شي چې په دې حدیث کې "**العبد**" نه مؤمن مراد وي او "**الکفر**" نه کافر مراد وي او معنی دې داسې شي چې د مؤمن او کافر په مینځ کې فرق کوونکي څیز دمونځ پریښودل دی چاچې مونځ پریښودلوهغه به کافروي اوچاچې مونځ وکړو هغه به مسلمان وي. (اشعة اللمعات ۲۰۱).

۱۱ ربیع الاول ۱٤۱۰هـ

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ :

په بندګانو باندې مونځ کول د الله تعالی حق دی :

﴿۷﴾ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :

د حضرت عباده ابن صامت رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمایي : چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: چا

خَمْسُ صَلَوَاتٍ افْتَرَضَهُنَّ اللّٰهُ تَعَالٰى

چې دې پنځه مونځونو پاره کوم چې الله تعالی فرض کړې دی (فرائضو او مستحباتو په ادا کولو سره)

مَنْ أَحْسَنَ وُضُوءَهُنَّ وَ صَلَّاهُنَّ لِوَقْتِهِنَّ وَ أَتَمَّ رُكُوْعَهُنَّ وَ خُشُوْعَهُنَّ

په ښه طریقې سره اودس وکړو او په خپل وخت یې وکړل همدارنګې په دې کې یې رکوع او عاجزي وکړه

كَانَ لَهُ عَلَى اللّٰهِ عَهْدٌ

(یعنې مونځ یې په حضور قلبي سره وکړ) دده د پاره په الله تعالی باندې ذمه (یعنې د الله تعالی وعده)

أَنْ يَغْفِرَ لَهُ وَ مَنْ لَمْ يَفْعَلْ

داده چې هغه دده (واړه) ګناهونه وبخښي او چا چې داسې ونه کړل (یعنې په دې ذکر شوي طریقې سره

فَلَيْسَ لَهُ عَلَى اللّٰهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُ وَ

یا یې مطلق مونځ ونه کړ) نو الله تعالی باندې دده ذمه نشته ، که الله وغواړي بخښش به ورته وکړي او

إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ » .(۱)

كه چيرته وغواړي نو عذاب به ورته ورکړي.

توضيح : **احسن وضوءهن** : بهتر او ښائسته اودس دادی چې ددې د فرائضو ، مستحباتو او سنتو پوره پوره خيال وساتلې شي ، **لوقتهن** دا لام کلمه په معنی د **في** سره ده يعنې افضل او مستحب وخت کې مونځ ادا کول ، **وخشوعهن** ممکن دی چې دلته د خشوع نه سجده مراد واخستلی شي رکوع او سجده يې ځکه خاص کړي دي چې دا په مونځ کې اهم ارکان دي (مرقات ۲/۲۷۳).

عهداً دا دلته د وعدې په معنی کې اخستلی کيږي نو مطلب دا چې الله تعالی د بنده سره د احسان په شکل د مغفرت داسې وعده وکړه چې ددې پوره کول يقيني دي (مرقات ۲/۲۷۳ ، الکاشف ۲/۱۷۹).

علامه تورپشتي رَحِمَهُ اللَّهُ ليکلي : چې د کوم څيز في الحال او في المآل حفاظت او رعايت سره مکمل خيال ساتلو ته هم عهد ويلی شي ددې وجې نه چا سره پخې وعدې کولوته عهد ويلی شي . شيخ نور هم فرمايي : چې دلته بطور اتساع او تشاکل د بنده طرف ته د عهد نسبت شوی دی،مجمع البحارکې ليکلي دي چې دعهد لفظ کله دوصيت په معنی کې استعماليږي، احاديثو کې د عهد لفظ ددغه معانو نه يوه معنی کې استعماليږي (**كذا في اللمعات**)

شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ په لمعات کې ليکي چې په دې حديث کې دې خبرې طرف ته اشاره ده چې مونځ پرېښودلو والا کافر نه دی خو د ګناه کبيره کوونکی دی بيا فرمايي چې د مرتکب کبيره په باره کې دا واجب او لازم نه دی چې الله تعالی ده ته سزا ورکړي دا خالص د الله مرضي ده چې ده ته عذاب ورکړي يا يې معاف کړي داد اهل سنت مسلک دی . همدارنګې دا هم پيژندل په کار دي چې د ګناه کبيره مرتکب هميشه دوزخي نه دی بلکې د ګناه مطابق سزا خوړلو نه پس به د جهنم نه وځي د خوارجو او معتزلو په دې کې اختلاف دی .د اهل السنة په نزد الله تعالی باندې د بنده د طرف نه هيڅ هم واجب نه دي که الله تعالی چيرته نيک مؤمن يا مجانين او ماشومانو ته عذاب ورکړي او په جهنم کې يې واچوي يا يو فاسق په ثواب او نعمت کې وساتي ، نو الله تعالی په دې پابند نه دی بهر حال مونځ کول د هر مسلمان ذمه داري ده کومه چې د الله تعالی د طرف نه په دې بنده باندې مقرر ده ، ددې ادا کول لازم دی برابره خبره ده که په دې کې ده ته مزه وي او يا نه .

---

(۱) أخرجه أحمد في مسنده ۳۱۷/۵، وأخرجه أبو داود في السنن ۲۹۵/۱ رقم الحديث : ٤٢٥ ، وأخرجه ابن ماجه في سننه ٤٤٩/١ رقم الحديث:١٣٠١.

Maktaba Tul Ishaat.com

په ځلورو اعمالو باندې د جنت زيری :

﴿۸﴾ وَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :

د حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې : نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : (مسلمانو !)

« صَلُّوا خَمْسَكُمْ وَ صُومُوا شَهْرَكُمْ وَ أَدُّوا زَكَاةَ أَمْوَالِكُمْ وَ

پنځه وخته خپل مونځ كوئ خپله درمضان دمياشتې روژې نيسئ د خپل مال زكوة وركوئ او د خپل سردار

أَطِيعُوا ذَا أَمْرِكُمْ تَدْخُلُوا جَنَّةَ رَبِّكُم » . (رَوَاهُ أَحمد وَ التِّرْمِذِيّ). (۱)

(چې كله هغه د خلاف شرع څيزونو حكم نه كوي) تابعداري كوئ د خپل رب په جنت كې به داخل شئ.

توضيح : صلوا خمسكم : يعنې هغه پنځه مونځونه كوئ چې د ورځې او شپې په تاسو فرض دي او چې كوم ستاسو سره خاص دی ، علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ ليكي چې د دې اعمالو اضافت د دې امت افرادو ته ځكه شوی چې دا اعمال په خپلو طريقو او خصوصياتو سره دې امت سره خاص دي چې د دې وجې نه دا امت د نورو امتونو په مقابله كې په دې اعمالو كې ممتاز ګرځيدلی دی .

شهركم: د دې نه د رمضان روژې مراد دي چونكې د رمضان مياشت مشهوره ده نو ځكه تصريح ته ضرورت نشته دی ، زكوة ذكر د روژې نه پس وكړی شو كيدی شي چې دا تاخير د يو راوي د بيان د وجې نه شوی وي ، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : د فرضيت په اعتبار سره زكوة د رمضان فرض كيدو نه پس فرض شوی وو ځكه وروستو ذكر كړی شو او قرآن او حديث كې مونځ سره ځكه يو ځای دی چې مونځ د عبادات بدني جرړه ده او زكوة د عبادات مالي اصل او جرړه ده په دې حديث كې د حج ذكر نشته ، علماء فرمايي : چې د دې حديث بيانيدو په وخت كې حج فرض شوی نه وو . (مرقات ۲/۲۷۴).

ذا امركم: ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د دې نه خليفه او بادشاه او د دوي وزيران مراد دي يا د دې نه علماء مراد دي چې د شريعت په رڼا كې علماء چې كوم حكم نافذ وي هغه حكم منئ او كوم حكمران چې د شريعت خلاف حكم صادر كړي هغه مه منئ بلكې د حكمران نافرماني ضروري ده (مرقات ۲/۲۷۵)

تدخلوا جنة ربكم: د مخكيني څلورو او امر و جواب دا دی يعنې په دخول اولي سره به جنت ته داخل شي.

سوال : دلته يو سوال دی چې د خول جنت د پاره اصلي سبب او علت خو د الله تعالى رحمت او فضل دی دلته اعمال د علت او شرط په درجه كې ولې ايښودل شوي دي . **جواب** : د جنت داخليدو د پاره اصل

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲۵۱/۵، وأخرجه الترمذي في السنن ۵۱۶/۲، رقم الحديث : ۶۱۶.

علت او سبب د الله تعالى رضا او فضل او كرم دى ليكن جنت د اوچتو درجاتو د حصول دپاره اعمال ضروري دي .علماء ددې اشكال دا جواب هم وركوي چې د جنت داخليدو د پاره نيک اعمال اسباب او د سبب په درجه كې دي كوم طرف ته چې نسبت په دې مناسبت سره كيږي .

ماشوم دې په كوم عمر كې د مونځ پابندوكړ ځول شي ؟

﴿۹﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :
حضرت شعيب د خپل پلار او هغه د خپل نيكه نه روايت كوي فرمايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل
«مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ أَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِين
چې كله ستاسو اولاد د اوو (۷) كالو شي نو د مونځ حكم ورته وكړئ او چې د لسو كالو شي (نو په مونځ
وَ فَرِّقُوا بَيْنَهُمْ فِي الْمَضَاجِعِ ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ .(۱)
پريښودو باندې) هغه ووهئ ، او جدا والى راولئ په مينځ د دوي كې د اوده كيدو په ځايونو كې .
وَكَذَا رَوَاهُ فِيْ شرح السّنة عَنهُ .(و في المصابيح عن سبرة ين معبد)
همدارنګې شرح السنة كې عمرو نه او په مصابيح كې سبرة بن معبد نه دا روايت نقل كړى شوى دى.

توضيح : مروا : دا امر صيغه ده ابتداء نه يې همزه حذف كړى شوه چې كلمه سپكه شي .

اولادكم : دا كلمه هلكانو او جينكو دواړو ته شامل ده . **بالصلوة** : په مونځ سره ،سره ددې د شرائطو نه يعني د مونځ شرائطو لحاظ ساتلو باندې هم . **وهم** : دا جمله حاليه ده او هلكان يې په جينكو باندې غالب كړل ځكه يې د مذكر ضمير راوړى دى ، **سبع سنين** : داوو كالو د خاص كيدو وجه ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ او شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ دا ليكلې ده چې په دې عمر كې سړي كې دننه د قوت او طاقت يو نوى دور شروع كيږي دغه وجه ده چې دويم سبع يعني څوارلس كالو نه پس د بلوغت وخت شروع كيږي ځكه ماشوم ته د اوو كالو په عمر كې د مونځ عادت كولو حكم شوى دى چې ماشوم د مونځ نه غافله نه شي . همدارنګې شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ دا هم وايي : چې لس كاله شمار په لسيزو كې اوله لسيزه ده په دې عمر كې په ماشوم كې يو داسې قوت پيدا كيږي چې بلوغت حدودو ته نزدې وي ددې وجې نه شرعي حكم كې سختي راځي او د حواسو كنټرول كولو د وجې نه هلك او جينځ لره په دې عمر كې جدا اوده كيدو او د ځملاستو نه منع كړى شوې ده او دا حكم چې څنګه د ورور او خور د پاره دى دغه شان دا حكم د نا

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۳۳٤/۱ رقم الحديث : ٤۹٥ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲۵۹/۲، رقم الحديث :٤۰۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

اشنا هلک او د جينئ د پاره هم دی بلکې ددوي د پاره دا حکم بطريق اولی دی .

واضربوهم : دې حديث کې د ماشوم د پاره دوه حکمه دي يو بطور تاديب او دويم د تربيت د پاره چې مونځ پريښودو سره ماشوم وهلی شي او د تربيت په بناء باندې دده بستره جدا کولی شي ، د اول حکم تعلق د حقوق الله سره دی او د دويم حکم تعلق د حقوق العباد او د اصلاح د معاشرې سره دی ، همدارنګې په دې حديث کې د پوره دين تعليم راغلی دی او په دې کې دا خبره هم راغله چې د دين د هر حکم په خلاف ورزی باندې ماشوم وهئ د افسوس خبره ده چې نن سبا خلک سکول نه ويلو باندې د پنځه کالو ماشوم وهلی شي مګر د مونځ پروا نه کوي .ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ ليکي : که چيرته دوه سړي يا دوه ښځې سره د جامو يو بل سره داسې اوده شي چې پټ اعضاء په ښکاره کيدو سره يو بل سره نه يو ځای کيږي نو دا جائز دی . (مرقات ۲/۲۷۵).

په مونځ سره د منافق مال او جان محفوظ کيږي :

﴿۱۰﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَ
د حضرت بريده نه روايت دی وايي چې : نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : هغه عهد چې په مينځ زما او د
بَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ وَابْن مَاجَه [1]
منافقينو کې دی هغه مونځ دی لهذا چا چې مونځ پريښود و هغه کافر شو.

توضيح : **بيننا و بينهم** : يعنې زمونږ او د منافقينو په مينځ کې د مال او جان د حفاظت چې کومه معاهده شوې ده چې مونږ د هغوي د مال او جان ته تعرض نه شو کولی بنيادي وجه داده چې هغوي په ظاهر کې په صحيح طريقې سره مونځ کوي چې د مسلمانانو سره يې مشابهت پيدا کيږي که چيرته هغوي مونځ پريښودو چې د ټولو نه افضل ترين عبادت دی نو هغوي او کافر به په ظاهري طور باندې يو شان شي ځکه چې اعتقادي منافق خو د مخکې نه کافر دی مګر د مونځ کولو د وجې نه دده په کفر باندې پرده وه چې مونځ يې پريښود و نو پرده ترې اوچته شوه . شارحين د دې حديث د تشريح په پيش نظر د "**فقد كفر**" ترجمه کوي چې اوس هغوي کفر ښکاره کړو (مرقات ۲/۲۷٦).

د دې مضمون تائيد د دې حديث نه هم کيږي چې کله پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د منافقينو د قتل کولو اجازت وغوښتلې شو نو نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل: چې د مونځ کوونکو د قتل کيدو نه زه منع کړی شوی يم.

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۳٤٦/٥، وأخرجه الترمذي في السنن ۱٥/٥، رقم الحديث : ۲٦۲۱، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۳٤۲/۱ رقم الحديث:۱۰۷۹.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث

﴿۱۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

د حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې يو کس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلو

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي عَالَجْتُ اِمْرَأَةً فِي أَقْصَى الْمَدِينَةِ وَ إِنِّي أَصَبْتُ مِنْهَا

او عرض يې وکړو يارسول الله ما دمدينې په يو طرف کې ديو زنانه سره غاړه ملاوکړه اوما وکړه ددې سره

مَا دُونَ أَنْ أَمَسَّهَا فَأَنَا هٰذَا فَاقْضِ فِيَّ مَا شِئْتَ.

په غير د صحبت نه هر څه، نو زه حاضريم چې فيصله وکړئ تاسو زما په باره کې چې څه مو خوښه وي

فَقَالَ لَهُ عُمَرُ لَقَدْ سَتَرَكَ اللهُ لَوْ سَتَرْتَ عَلَى نَفْسِكَ.

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل: الله تعالى ستا د عيبونو پټ والى کړى ووکه تاهم غيبت پټ کړى وې (نو ښه

قَالَ وَ لَمْ يَرُدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلَيْهِ شَيْئًا

به وه) حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورنه کړو (د الله د

فَقَامَ الرَّجُلُ فَانْطَلَقَ فَأَتْبَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

حکم په انتظار کې وو) بهر حال هغه کس اودريدو او لاړو بيا پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه راغونښتلو د پاره

رَجُلًا فَدَعَاهُ وَ تَلَا عَلَيْهِ هٰذِهِ الْآيَةَ: ﴿ وَ أَقِمِ الصَّلَاةَ طَرَفَيِ النَّهَارِ

يو کس وليږوچې هغه راولي پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه مخکې دا آيت ولوستو: دورځې په اول او آخر کې

وَ زُلَفًا مِنَ اللَّيْلِ إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ ذٰلِكَ ذِكْرَىٰ لِلذَّاكِرِينَ﴾ (سورة هود: ۱۱۴)

او د شپې په څه حصه کې مونځ کوئ ځکه چې نيکي ګناهونه ختموي اودا نصيحت د نصيحت قبلوونکو

فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ يَا نَبِيَّ اللهِ هٰذَا لَهُ خَاصَّةً

د پاره دی د خلکو نه يو کس غرض وکړو اى د الله رسوله! دا حکم خاص کړ دې کس د پاره دی؟ پيغ

قَالَ: « بَلْ لِلنَّاسِ كَافَّةً » رَوَاهُ مُسلم (۱)

عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل: نه. د ټولو خلکو د پاره دی.

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲۱۱۶/٤ رقم الحديث ۴۲ ۲۷۶۳، وأخرجه أبوداود في السنن ٦١١/٤ رقم الحديث: ٤٤٦٨.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: عالجت امرأة: عالج يعالج معالجة د لوبو او چپې اخيستو نه كنايه ده،شارحين ليكي چې دا هغه كس دی چې دده قصه ددې باب په اولني فصل كې په حديث نمبر ۳ كې تيره شوې ده چې دده نوم ابواليسر دی ليكن ابن حجر رَحِمَهُ اللّٰهُ وغيره شارحين فرمايي چې دا قصه د يو بل كس ده اوس سوال دا پيدا كيږي كه چيرته داد يو بل كس قصه ده او ځانله قصه ده نو كوم ايت چې د اولني كس متعلق ويلی شوی دی نو دا آيت هم د اولني كس متعلق ويلي شوی دی نو څنګه دا دوه واقعې كيدی شي.

ددې جواب ابن حجر رَحِمَهُ اللّٰهُ دا ورکړی دی چې كيدی شي چې دا آيت مكرر نازل شوی وي، دويم جواب محققينو دا ورکړی دی چې دا ضروري نه ده چې دا آيت مكرر نازل شوی دی او نه په دې حديث كې اشاره شته چې دا آيت دوباره نازل شوی دی بلكې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د مخكې نه نازل شوی آيت ددغه كس واقعه متعلق لوستلی دی او دا هم كيدای شي چې د يو آيت اطلاق په مختلفو واقعاتو وکړی شي.

فقال رجل من القوم : ددې جملې نه معلوميږي چې دا دواړه جدا جدا واقعات دي ځكه چې سوال كوونكي يا عمر فاروق رضی الله دی يا حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دی او هلته په اولنۍ قصه كې دهغه حكم او فضيلت دخصوصيت سوال كوونكی هغه كس په خپله وو كوم چې صاحب دواقعې وو.

په مونځ كولو سره ټول ګناهونه ريژيږي:

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ خَرَجَ زَمَنَ الشِّتَاءِ وَ الْوَرَقُ
دحضرت ابوذر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دی چې يو ځل نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وو تود خزان په موسم كې چې پانړې
يَتَهَافَتُ فَأَخَذَ بِغُصْنَيْنِ مِنْ شَجَرَةٍ قَالَ
غورځيدې نو پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د يوې ونې دوه ښاخونه ونيول، راوي وايي چې : (څنګه چې حسب
معمول پانړې د غورځيدو موسم كې يو ښاخ په خوځولو سره پانړې ډيرې غورځيږي دغه شان چې كله
فَجَعَلَ ذَلِكَ الْوَرَقُ يَتَهَافَتُ قَالَ فَقَالَ : يَا أَبَا ذَرٍّ
پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ښاخونه ونيول نو) دهغې نه پانړې وغورځيدې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ابوذره!
قُلْتُ لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ : إِنَّ الْعَبْدَ الْمُسْلِمَ لَيُصَلِّي الصَّلَاةَ
ماعرض وکړو ای دالله رسوله! زه حاضريم پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې كله مؤمن بنده مونځ كوي

يُرِيْدُ بِهَا وَجْهَ اللهِ فَتَهَافَتُ عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا تَهَافَتُ هٰذَا الْوَرَقُ عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ . رَوَاهُ أَحْمَدُ (۱)

خاص دالله درضاد پاره نو د هغه ګناهونه داسې غورځيږي لکه څنګه چې ددې ونې نه پانړې غورځيږي .

توضيح : **زمن الشتاء** : ژمې او د خزان موسم ته **شتاء** ويلی کيږي ، د بعضې ونو نه علاوه باقي د ټولو ونو پانړې وچيږي او په دې موسم کې رژيږي او پريوځي ددې منظر تذکره کړی شوې ده او دلته د خزان موسم مراد دی. **يتهافت** : باب **تفاعل** نه **تهافت يتهافت** پرلپسې او مسلسل پريوتو په معنی راځي که چيرته د ونې ښاخونه وخوزولی شي نو بيا خو پانړې په تيزی سره غورځيږي لهذا په دويمه جمله کې چې د **يتهافت** کوم ذکر راغلي هغه همدغې مقصد ښکاره کولو د پاره دی کله چې نبي کريم ﷺ دوه ښاخونه ونيول او حرکت يې ورکړو بيا خو به بې اختياره پانړې غورځيدلې . **لبيک** : يعنې بار بار ستاسو په خدمت کې حاضر يم . **وجه الله** : مطلب دادی چې مونځ خالص د الله تعالی د پاره کوئ نه د بل څه مقصد د پاره وي او نه د ريا کارئ د پاره وي .

فتهافت په اصل کې **فتتهافت** دی او **ذنوبه** ددې فاعل دی ددغه ګناهونو نه هم د عام قاعدې مطابق صغائر مراد دي اګر چې احاديثو کې الفاظ مطلق راغلي دي کوم چې کبائرو ته هم شامل دی.

د خاص قسم دوه رکعتونو سره ټول ګناهونه معاف کيږي :

﴿۱۳﴾ وَعَنْ زيد بن خَالِد الْجُهَنِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « مَنْ صَلَّى
د حضرت زيد بن خالد الجهني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايل چا چې وکړو دوه
سَجْدَتَيْنِ لَا يَسْهُوْ فِيْهِمَا
رکعته مونځ (يعنې د غفلت په صورت کې نه بلکې دزړه حاضريدو سره) چې په هغې کې يې هيڅ غلطي
غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ » (رَوَاهُ أَحْمَدُ). (۲)
ونه کړه نو الله تعالی به دده مخکنې ټول ګناهونه معاف کړي .

توضيح : **سجدتين** : ددې نه دوه رکعته مونځ مراد دی او ويل د سجدې او د رکوع او مراد تړې مونځ اخيستل په قرآن کريم او حديث کې بار بار راغلي دي .

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۱۷۹/۵ .

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۱۹٤/۵ .

Maktaba Tul Ishaat.com

لا يسهو فيهما : يعني په دې دوو ركعتونو كې مونځ كوونكى د مونځ نه غافل نه وي ، علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي : چې مونځ ګذار په حاضر دماغۍ او حضور قلبي سره مونځ كوي يا داسې وګڼي چې داسې عبادت كوي ګويا چې الله تعالى دا وينې . (الكاشف ۲/۱۸۳)

غفر الله له : يعني الله تعالى دده ټول مخكنې صغائر ګناهونه معاف كوي ، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي : چې علماو ذنوب په صغائرو سره يو ځاى يا مقيد كړي دي اګر چې د حديث الفاظ صغائر او كبائرو دواړو ته شامل دي .(مرقات ۲/۲۷۹).

دوو ركعتو مونځ كول خو آسان دي مګر دې دوو ركعتو دپاره چې كوم شرط دى چې په زړه كې دالله تعالى نه علاوه بل خيال بالكل رانه شي دا آسان نه دى وايي: دوه ركعته مونځ په اصلي حالت سره كولو دپاره شاه اسماعيل رَحِمَهُ اللَّهُ دوه سوه ركعته مونځ كړى ؤليكن داكيفيت او حالت پوره نه شو بياسيد أحمد شهيد رَحِمَهُ اللَّهُ چې د ځان سره او درولو دوه ركعته مونځ يې ورته وښودو نو په دغه كيفيت باندې مونځ وشو .

مونځ نه كولووالا به فرعون او هامان سره وي :

﴿۱۴﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : أَنَّهُ
عبد الله ابن عمرو بن العاص د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كوي چې : يوه ورځ نبي كريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
ذَكَرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا فَقَالَ :
د مونځ ذكر وكړو (يعني د مونځ فضيلت او داهميت بيانولو اراده يې وكړه) نو پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل
« مَنْ حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَتْ لَهُ
چې كوم كس په مونځ باندې محافظت كوي (يعني پابندئ سره مونځ كوي) نوده د پاره دا مونځ دايمان
نُوْرًا وَ بُرْهَانًا وَ نَجَاةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ
رڼا (د زياتوالي سبب) او (د ايمان د كمال وضاحت) دليل به وي او د قيامت په ورځ به د نجات ذريعه
وَ مَنْ لَمْ يُحَافِظْ عَلَيْهَا لَمْ يَكُنْ لَهُ نُوْرًا وَلَا برهَانًا
وي او چې كوم كس د مونځ حفاظت نه كوي نو دهغه دپاره به نه دايمان رڼا وي او نه (د كمال ايمان) دليل
وَلَا نَجَاةً وَ كَانَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَعَ قَارُونَ وَ فِرْعَوْنَ وَ هَامَانَ
او نه (د قيامت په ورځ) به د مغفرت ذريعه وي بلكې داسې كس به د قيامت په ورځ د فرعون او هامان سره

وَأُبَيِّ بْنِ خَلَفٍ » رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالدَّارِمِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.(۱)

او ابي بن خلف سره (په عذاب كې مبتلا) وي.

توضيح: ذكر الصلاة: يعني يو ورځ نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ فضيلت او ددې شرافت بيان كړو.

من حافظ عليها: يعني په دوام سره يې مونځ وكړو، ددې فرائض، اركان او ددې واجبات او سنن او مستحبات او ددې اوقاتو يې پوره پوره خيال وساتلو. **نورا**: يعني په ميدان حشر كې به دا مونځ د هغه مونځ ګڼل د پاره په كار رائي. **وبرهانا**: يعني دده په ايمان باندې به واضح او ښكاره دليل وګرځي.

قارون: حضرت موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه كې د يو تباه حال او بد بخت كس نوم دى كوم چې په ځمكه كې ننيستلې شوى وو. **فرعون**: ديو داسې لعنتي كس نوم دى چې د خدائي دعوى يې كړې وه بيا په بحر قلزم كې تباه او غرق شو. **هامان**: داد هغه شيطان نوم دى چې د فرعون وزير او مشير ؤاو د فرعون سره غرق شو

ابي بن خلف: دې بدبخت كس پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ته په مكه كې ډير تكليف وركړى وو او بيا د كفارو سره د جنګ د پاره مدينې منورې ته راغلې وو او په احد كې يې د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ شهيد كولو د پاره مخكې شوې وو او پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دغه كس په نيزې ووهلو او مردار يې كړو، كوم چې په انسانيت كې بدبخت انسان ګڼلې شوې وو. په دې حديث مبارك كې د مونځ پابندي نه كولو والا او سستي كولو د پاره دومره سخت عذاب خودل شوى دى چې دا ذكر شوي كسان په دوزخ كې ممتاز دي نو ددې سره به دا كسان هم په دوزخ كې وي او چې كوم مسلمان بالكل مونځ نه كوي نو ددوي انجام د دغه كسانو نه به هم بدتر وي. په دې حديث كې دا اشاره هم ده چې كله انسان د بادشاهت په نشه كې مونځ پريږدي، او كله د وزارت د وجې نه، او كله د ملازمت د وجې نه، او كله د مال د نشې د وجې نه، او كله د حق سره د دښمنۍ د وجې نه مونځ پريږدي دا قسم خلک او ددوي په شان نور خلک ټولو د پاره دا سخته تنبيه وركړى شوې ده او كوم خلک چې د مونځ پابندوي په دې حديث كې اشاره ده چې مونځ كوونكي او پابندي كوونكي د مونځ خلک به د نبيانو او صلحاو او شهداو سره وي.

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۱۶۹/۲، والدارمي في السنن ۲۹۰/۲، رقم الحديث: ۲۷۲۱، وأخرجه البيهقي في شعب الايمان ٦٤/٣ رقم الحديث: ۲۸۲۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به مونځ پريښودونكي كافر ګڼلو :

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيْقٍ قَالَ : كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لَا يَرَوْنَ
د حضرت عبدالله ابن شفيق نه روايت دی وايي : چې د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ صحابه كرامو به نه ليدلو
شَيْئًا مِنَ الْأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلَاةِ . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ). (۱)
يو عمل په ټولو افعالو اواعمالوكې چې پريښودل به يې كفر ګڼل كيدو په غير د مونځ نه .

توضيح: لا يرون: دا كلمه د راى نه اخيستل شوې ده ددې نه مراد عقيده ساتل دي يعنې د صحابو دا عقيده وه چې مونځ نه كولو والا كافر كيږي . (الكاشف ۲/۱۸۴، المرقات ۲/۲۸۱).
ددې قسم احكاماتو ذكر تغليظاً او تشديدا شوی دی ليكن دې الفاظو لره په خپل ظاهر باندې پريښودل ډير بهتر دي ځكه چې حكمت په دې كې دی ګڼې مقصد د شارح به فوت شي ، علماء ليكي كه مونځ پريښودل د انكار په صورت كې وي نو دې سره سړی كافر كيږي او كه مونځ پريښودل د خندا يا د توهين يا د سپك والي د وجې نه وي نو هم دغه سړی كافر ګرځي او كه د سستۍ د وجې نه مونځ نه كوي نو د ګناه كبيرې مرتكب كيږي ، امام احمد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : كه قصدا يا عمدا مونځ نه كوي نو دغه كس مرتد دی او قتل يې كړئ ، د امام مالك او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دغه كس واجب القتل دی ، خو دا قتل د مرتد كيدو د وجې نه نه دی بلكې د زجر د وجې نه دی ، امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : مونځ نه كوونكی هميشه د پاره په جيل كې واچوئ يا به توبه وكړي يا به په هغه حالت كې مړ شي ، سعدي بابا رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : مونځ نه كوونكي ته قرض مه وركوئ ځكه چې څوك د الله تعالى قرض نه شي ادا كولى نو ستا قرض به څه ادا كړي ، بعضې علماء ليكي مونځ نه كوونكي د مسلمانانو په مقبره كې مه دفن كوئ بهر حال د اهل السنة والجماعة په نزد مونځ نه كوونكی كافر نه دی خو دلته حديث كې مونځ نه كوونكی دپاره دا حكم تغليظاً او تشديدا او د زجر او تنبيه د وجې نه دی .

﴿۱۶﴾ وَ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : أَوْصَانِيْ خَلِيْلِيْ
د ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې وصيت وكړو ما ته زما ملګري (نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) چې
أَنْ لَا تُشْرِكَ بِاللهِ شَيْئًا وَ إِنْ قُطِّعْتَ وَ حُرِّقْتَ
تاسو د الله تعالى سره شريك مه جوړوئ اګر چې تاسو ټوټې ټوټې كړې شئ په اور وسوځولې شئ او

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۱۵ رقم الحديث :۲۶۲۲.

وَلَا تَتْرُكْ صَلَاةً مَكْتُوبَةً مُتَعَمِّدًا فَمَنْ تَرَكَهَا مُتَعَمِّدًا فَقَدْ بَرِئَتْ مِنْهُ الذِّمَّةُ
قصدا مونځ مه پريږدئ ، او چا چې مونځ قصدا پريښود و نو دده نه به ذمه خالي وي ، همدارنګې کله هم
وَلَا تَشْرَبِ الْخَمْرَ فَإِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ. (۱)
شراب مه څکئ ، ځکه چې دا د هرې ګناه جړ ه ده .

توضيح:اوصاني خليلي: وصيت هغه تاکيدي اوضروري حکم ته ويلی شي کوم چې دمرګ په وخت کې دخپلو خپلوانو په باره کې کوي خليل خاص ملګري ته ويلی شي دلته ترې مراد پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام دی .

لا تشرک: د الله تعالی په ذات او صفاتو کې شريک جوړولو ته شرک ويلی شي .

وان قطعت: دا حکم د عزيمت په درجه کې دی يعنې ځان يې د هلاکت سره مخ کړو مګر شرک کلمه يې د ژبې نه ، نه وي ويلي ،اګر چې د ځان بچ کولو د پاره د کفر کلمه ويلو اجازت شته دی چې داد رخصت په درجه کې دی چې کله يې په زړه کې ايمان موجود وي **الا من اکره وقلبه مطمئن بالايمان .**

برئت منه الذمة : علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي : دې جملې نه کفر تغليظا مراد شوی دی چې دا سړی کافر شو يا د ذمې نه مراد هغه امان دی چې ددې په ذريعه سره د انسان مال او ځان محفوظ کيږي يعنې مونځ پريښودو په وجه سره اوس دغه کس ته د قتلولو سزا يا د تعزير سزا ورکولی شي اوس امن اوچت شوی دی .(مرقات ۲/۲۸۱).

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۱۳۳۹ رقم الحديث : ٤٠٣٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْمَوَاقِيْت:

د مونځ دوختونو بيان:

قال الله تعالى: ﴿إِنَّ الصَّلَاةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَابًا مَّوْقُوتًا﴾ (سورة النساء: ۱۰۳).

و قال الله تعالى: ﴿فَسُبْحَانَ اللهِ حِيْنَ تُمْسُوْنَ وَحِيْنَ تُصْبِحُوْنَ وَلَهُ الْحَمْدُ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَعَشِيًّا وَحِيْنَ تُظْهِرُوْنَ﴾ (سورة الروم: ۱۸/۱۷).

د مواقيت لغوي او اصطلاحي تحقيق: **مواقيت** جمع د **ميقات** ده بعضې اهل لغتو ويلي دي چې خلاف القياس **مواقيت** د **وقت** جمع ده او **وقت** او **ميقات** د دواړو معنی يوه ده دواړو کې ترادف دی "**المقدار من الدهر**" يعنې د زمانې يو متعين حصې ته وقت ويلی شي. (مرقات ۲/۲۸۲).

بعضې علماء وايي: چې وقت مطلق زمانې ته ويلي شي. او ميقات د زمانې هغه حصې ته ويلی شي چې په هغې کې يو کار او عمل مقرر کړی شي او دلته همدغه مفهوم مراد دی د ميقات اطلاق کله متعين زمانې نه علاوه په متعين ځای باندې هم کيږي لکه څنګه چې د حج احرام اچولو د پاره يو خاص ځای ته ميقات ويلی شي. د مونځ فرض کيدو د پاره اصل علت او سبب خو د الله تعالى حکم او خطاب دی بيا د هر مونځ د پاره ددې وخت د هغې سبب دی. شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې د پنځه مونځونو د وختونو چې کوم حکمت بيان کړی دی د هغې خلاصه داده فرمايي چې انسان کله د شپې اوده کيږي نو د الله تعالى د ډيرو نعمتونو د شکر ادا کولو نه قاصره وي تر دې پورې چې د خپل سکون او امن او صحت د نعمت نه هم غافله اوسيږي. همدارنګې هغه د خپلې ګټې او د معاش نه هم عاجزه شي او د مړي په حکم کې شي، شپې تيريدو نه پس چې کله ورځ راشي نو الله تعالى په ده باندې د سحر مونځ فرض کړو ترڅو چې د شپې د ټولو غلطيانو تلافي او ختموالې وشي او الله تعالى د مرګ نه پس چې ده ته کومه زندګي ورکړې فرمايلي دي چې ددې په نه طريقې سره شکر ادا کړی شي بيا چې د انسان د الله تعالى ورکړی شوو طاقتونو نه د زندګي اسباب تلاش کوي او د ورځې په رڼا کې نيکي حاصلوي او حلاله روزي پيدا کوي چې کله دا نعمت انسان ته حاصل شو نو الله تعالى ددې نعمت شکر ادا کولو د پاره په دې انسان د ماسپښين مونځ فرض کړو بيا د انسانانو عام عادت دی چې د ماسپښين په وخت کې اوده کيږي چې آرام وکړي نو ددې خوب د وجې نه چې د الله تعالى په يادولو او عبادت کې کوم کموالی راغلی دی د هغې د پاره يې د مازيګر مونځ فرض کړو ترڅو چې کموالي پوره والی راشي بيا عام عادت دی چې د مازيګر په وخت کې انسان په خپل کار او ګټې او زندګی کې دومره مشغوله وي

چې په بازارونو کې د ګرځيدو سره غافله شي دغه رنګ د ټولې ورځې د نعمتونو پوره والی وشي ځکه ددې شکر ادا کولو د پاره او د تقصيراتو يعنې کم والي ه ختميدو د پاره الله تعالی د مابنام مونځ فرض کړو چې کله انسان د هر قسم آفت نه بچ شي او د ورځې ښې خاتمې ته ورسي نو ددې شکر ادا کول په ده باندې لازم شو ځکه الله تعالی د ماسخوتن مونځ فرض کړو تر څو چې د **ختامه مسک** مصداق جوړ شي (اشعة اللمعات ۳۰۴-۳۰۵).

اَلْفَصْلُ الأول:

د پنځو مونځونو دوخت بيان:

﴿۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقْتُ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ

دعبدالله ابن عمرو نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دماسپښين وخت دزوال نه پس دی

وَ كَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُولِهِ مَا لَمْ يَحْضُرِ الْعَصْرُ

او ددې آخري وخت هغه دی چې د سړې سوری د هغه د اوږدوالي برابر نه شي د مازيګر وخت راتلو پورې

وَ وَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرِ الشَّمْسُ وَ وَقْتُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ

او د مازيګر وخت تر هغه وخته پورې دی چې کله لمر زيړ نه وي او د مابنام وخت تر هغه وخته پورې دی

مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ الْأَوْسَطِ وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوعِ الْفَجْرِ

چې کله شفق غائب نه وي او د ماسخوتن وخت د نيمې شپې پورې دی او د سحر وخت د طلوع فجر نه تر

مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَأَمْسِكْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِنَّهَا

هغه وخته پورې دی چې کله لمر راونه خيژي او چې کله لمر راوخيژي نو مونځ مه کوئ ځکه چې لمر د

تطلع بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ» (رَوَاهُ مُسلم) (۱)

شيطان دواړو ښکرو په مينځ کې راخيژي.

توضيح :وقت الظهر: لفظ د ظهر ماده اشتقاق ظهور دی او دا وخت هم د ورځې په مينځ کې ظاهريږي دې وخت ته هجيرة هم ويلي کيږي ځکه چې دا وخت هاجره يعنې د ماسپښين وخت ته بالکل نزدې وي. (مرقات ۲/۲۸۲).

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۴۲۸ رقم الحديث: ۱۷۳-۶۱۲، وأبو داود ۱/۲۸۰ رقم الحديث :۳۹۶، والنسائي ۱/۲۶۰، رقم الحديث: ۵۲۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

حدیث کې د سحر وخت بیانولو په ځای د ماسپښین وخت نه یې د وختونو د تعین ابتداء ځکه کړی شوې ده چې ماسپښین هغه اولنی مونځ دی کوم چې د معراج په شپه د سحر په وخت کې ادا شوی وو ځکه خو دې ته **الصلاة الاولی** ویلی شي. همدارنګې چې کله جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د وختونو بیان کولو نو جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ هم د ماسپښین وخت نه شروع وکړه. **اذا زالت الشمس**: دلمر سوری چې کله رورو کمیږي نو پوهه شه چې لمر اوچتیږي او چې کله د سوري کم والی او دریږي نو پوهه شه چې لمر د نیمې ورځې په نقطه باندې ولاړ دی او چې کله سوری په ډیریدو شي نو د زوال وخت شروع شي او په دې هم ځان پوهه کړه چې مجموعي طور باندې د مونځ وختونه په درې قسمه دي: اول **اوقات الصحة والاداء** دي دا هغه وختونه دي چې په دې کې مونځ وکړی شي نو هغه به صحیح وي قضاء به نه وي بلکې په ادا کیدو کې شمارل کیږي په دې کې به د مکروهه کیدو شبه نه وي. دویم وخت مستحب دی داد صحیح وخت هغه حصه ده چې په دې کې مونځ کول اولی او بهتر دی اګر چې مخکې او وروستو مونځ کول هم جائز دی. دریم وخت مکروهه دی کوم کې چې مونځ کول مکروهه دی د موجوده باب په احادیثو کې د وخت د صحیح کیدو بیان دی. بیا ددې نه پس په ص ۹۴ کې په باب النهي کې د مکروهه وخت بیان دی چې په هغې کې مونځ کول مکروهه دی.

د ماسپښین وخت: د ماسپښین په شروع کې د چا اختلاف نشته د ټولو امامانو په نزد د زوال نه د ماسپښین وخت شروع کیږي د ختمیدو په وخت کې د فقهاو اختلاف دی چې د ماسپښین وخت د کوم وخت پورې دی ددې وجې نه د مازیګر په وخت کې هم اختلاف دی، بهر حال په ماسپښین کې اختلاف داسې دی:

د فقهاو اختلاف: امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُمُ اللَّهُ او صاحبین یعنې د جمهورو مسلک دادی چې د اصلي سوري نه علاوه چې د هر څیز سوری ددې مثل شي نو د ماسپښین وخت ختمیږي او د مازیګر وخت شروع کیږي خو امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د ماسپښین او د مازیګر په مینځ کې د لږ داسې وخت هم قائل دی کوم چې مشترک وي د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ نه د وخت په انتهاء کې د ماسپښین وخت متعلق څلور اقوال دی، درې قوله واضحه دي نو ځکه همدا بیانولی شي: (۱) اول قول دادی چې د دوو مثلینو نه د ماسپښین وخت شروع کیږي او مثل ثالث سره د مازیګر وخت شروع کیږي دا قول د احنافو په نزد مشهور دی اګر چې فتوی په دې باندې نه ده. (۲) امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دویم قول دادی چې مثل اول باندې د ماسپښین وخت ختمیږي او د مازیګر وخت شروع کیږي دا قول د جمهورو او د صاحبینو د مسلک موافق دی او فتوی په دې قول ده، درمختار کې د ډیرو کتابونو په حوالو سره دا مسلک راجح ګرځیدلی دی، فتاوی ظهیریه او خزانة المفتین کې د امام صاحب دې مسلک ته رجوع ثابت کړی شوې ده. (۳) امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ نه دریم قول دا رانقل دی چې د ماسپښین وخت په مثل اول

سره ختمیږي خو د مازیګر وخت دوو مثلینو نه وروسته د مثل ثالث نه شروع کیږي او په مینځ کې څه وخت مهمل دی نه د مازیګر وخت دی او نه د ماسپښین وخت، په دې کې معذوره خلک مونځ کولی شي، حضرت شاه انور شاه رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي چې په دې اقوالو کې تطبیق دادی چې مثل اول خاص د ماسپښین د پاره دی او مثل ثالث د مازیګر سره خاص دی او مثل ثاني مشترک دی مګر د ټولو د پاره نه دی بلکې صرف د معذورو ملګرو د پاره دی.

دلائل: جمهورو د زیر بحث حدیث نه استدلال کړی دی چې د لمر د زوال نه مثل اول پورې ماسپښین او مثل اول نه مازیګر شروع کیږي، د جمهورو دویم دلیل امامت جبریل عَلَيْهِ السَّلَام دی چې په هغې کې تصریح موجود ده "**حین صار ظل کل شيء مثله**" یعنې مثل اول باندې د مازیګر وخت شروع کیږي.

امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ اولنی دلیل هغه احادیث دي چې په هغې کې د ماسپښین وخت لره یخولو تاکید او ترغیب دی لهذا په بخاري شریف کې روایت دی: **عن ابي سعید الخدري قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابردوا بالظهر فان شدة الحر من فیح جهنم.**

همدارنګې په ترمذي کې روایت دی: **عن النبي الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال اذا اشتد الحر فابردوا بالصلوة فان شدة الحر من فیح جهنم**. د ابراد ددې روایاتو نه طریقه د استدلال داسې ده چې په کرم ملکونو کې مثل ثاني په وخت ابراد راځي ددې نه مخکې وخت یخ کیدی نه شي نو ابراد لفظ ګویا اعلان دی چې د ظهر وخت مثلین پورې دی په مثل اول باندې نه ختمیږي.

د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دویم دلیل: د حضرت ابوذر غفاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه روایت دی چې په دې کې د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام سره د سفر یوه قصه داسې بیان کړې ده: **عن ابي ذر قال کنا مع النبي الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في سفر فاراد المؤذن ان یؤذن فقال له ابرد ثم ان اراد ان یؤذن فقال له ابرد ثم اراد ان یؤذن فقال له ابرد حتی رأینا فیئ التلول فقال النبي الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان شدة الحر من فیح جهنم فاذا اشتد الحر فابردوا بالصلوة**. (بخاري ج ۱ ص ۷۷) دې حدیث کې فیئ لفظ راغلی دی چې د سوري په معنی دی او "التلول" د تا په ضمې سره د تل جمع ده چې د غونډی په معنی کې ده د غونډیو سوری ډیر وروسته راځي خاص کر کرم ملکونو کې سوری ډیر په مشکله سره راځي د حضرت ابوذر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا وینا چې ما د ماسپښین مونځ دومره په تاخیر سره کړی دی او د ابراد تحقق هغه وخت وشو چې کله مونږ د غونډیو سوری ولیدل دا معامله دوو مثلینو نه مخکې ممکن نه ده داد امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ مشهور قول د پاره واضح دلیل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ دریم دلیل : د مخکنیو امتونو یهود او نصارا و باندې د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ امت د فضیلت والا حدیث دی کوم چې په مشکوة شریف کې د **باب ثواب هذه الامة** کې صاحب د مشکوة نقل کړی دی ددې مضمون او مفهوم داسې دی چې یهود و مثلا سحر نه د ماسپښین پورې کار وکړو هغوي ته الله تعالی یو قیراط مزدوري ورکړه بیا نصاری د ماسپښین نه د مازیګر پورې کار وکړو نو دوي ته الله تعالی یو قیراط مزدوري ورکړه دې باندې یهود او نصاری غوسه شو چې زمونږه کار او وخت ډیر دی او معاوضه کمه راکړی شوه او ددې امت د کار وخت کم دی او ثواب ورته ډیر ورکړی شو نو الله تعالی وفرمایل : چې ما تاسو ته څه درکړي آیا په تاسو مې ظلم کړی دی هغوي وویل : نه زمونږ حق خو مونږ ته راکړی شو خو هغوي ته ډیر ورکړی شو نو الله تعالی وفرمایل : دا خو زما فضل او کرم دی چې چا باندې یې زه کوم نو کولی یې شم. اوس په دې واقعه کې خبره واضحه شوه چې د ماسپښین نه د مازیګر پورې وخت ډیر دی او مازیګر نه د مابنام پورې وخت کم دی او دا صرف په هغه وخت کې دی چې د ماسپښین وخت دوو مثل پورې اوږد ومنلی شي که داسې نه وي نو په یو مثل باندې د ماسپښین وخت ختم شي نو بیا د ماسپښین نه د مازیګره پورې وخت اوږدیږي نه کوم چې د مازیګر نه د مابنام پورې وي دا په اشارة النص سره بهترین استدلال دی په شرط ددې چې دا صورت حال دغه شان وي.

جواب : جمهور علما و د حدیث دا امامت د جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه چې کوم استدلال کړې دی دهغې جواب دادی چې علامه نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ دې ته منسوخ ویلی دي ځکه چې دا حدیث بالکل د ابتداء د زمانې دی دې نه پس ډیر احادیث داسې دي چې په هغې کې په دې وختونو کې اوږدوالی او تفصیل راغلې دی او په اولنې حکم کې بدل والی راغلی دی ددې حدیث په بعضې اجزاو باندې جمهور هم عمل نه کوي یا په کې تاویل کوي یا ددې جواب ورکوي. د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت نه احناف دا جواب کوي چې دا په مستحب وخت او استحباب باندې محمول دی چې ددې نه احناف انکار نه کوي. بهر حال علماء احناف وایي چې احتیاط په دې کې دی چې د ماسپښین مونځ په مثل اول کې وکړی شي او د مازیګر مونځ د مثل ثاني نه پس وکړی شي چې د تولو امامانو په نزد اختلاف ختم شي او دواړه مونځونه بغیر د اختلاف نه په خپلو وختونو کې اداء کړی شي ، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په اقوالو کې چې کوم قول : جمهورو موافق وي فتوی په هغې قول باندې ده.

د ماسپښین او مازیګر په مینځ کې د مشترکه وخت مسئله:

د ماسپښین او مازیګر د وخت متعلق احادیثو کې بعضې الفاظ داسې راغلي دي چې د هغې نه شبهه او شک پیدا کیږي چې یو وخت داسې هم دی چې هغه وخت د ماسپښین او مازیګر په مینځ کې مشترک دی او هر یو مونځ په هغې کې کیږي ددې وجې نه په دې مسئله کې د فقهاو اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف : د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ، امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد وختونو

کې داسې یو وخت نشته چې په دوو مونځونو کې شریک وي هان د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ نه یو روایت شته چې د معذوره کسانو د پاره مثل ثاني مشترک وخت دی. د جمهورو په مقابله کې د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او د عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ اللّٰهُ مسلک دادی چې د مثل اول نه پس څلور رکعته وخت د ماسپښین او مازیګر د پاره مشترک دی چې په هغې کې د ماسپښین مونځ هم جائز دی او د مازیګر مونځ هم جائز دی.

دلائل: امام مالک او عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ اللّٰهُ د حدیث جبرائیل د امامت نه استدلال کوي چې په هغې کې یې د دواړو وختونو د پاره دا الفاظ راغلي دي: **حین صار ظل کل شیء مثله او حین کان ظله مثله**. ددې نه معلومه شوه چې د اولې ورځې د ماسپښین مونځ او د دویمې ورځې د مازیګر مونځ په یو وخت کې اداء کړی شوي دي چې ددې نه معلومه شوه چې د دواړو وخت مشترک دی. جمهورو د بحث کوونکي حدیث نه استدلال کړی دی په دې کې **مالم یحضر العصر** الفاظ موجود دي ددې واضحه مطلب دادی چې څو پورې د مازیګر وخت نه راځي هغه وخته پورې د ماسپښین وخت موجود وي چې کله د مازیګر وخت راشي نو د ماسپښین وخت ختم شي په دې کې اشتراک نشته.

جواب: د مالکیه د دلیل جواب دادی چې د **حین کان ظله مثله** مطلب **حین کان قریبا من مثله** دی یعنې بعینه هم هغه وخت نه دی بلکه د یو مثل سورې نزدې وخت مراد دی.

دویم جواب دادی چې علامه نووي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي: امامت جبرائیل حدیث منسوخ دی وروستو بیا تفصیل راغلی دی په هغې کې اجمال دی.

داخبره یادساتئ احناف چې داخبره کوي چې یو مثل یادوه مثله پورې د ماسپښین وخت دی ددې مطلب دادی چې اصل سورې لرې کړي او باقي الاسورې دیوځیز برابرشي نو دا د ماسپښین وخت دی.

د مازیګر وخت: د ماسپښین وخت په ختمیدو کې د امامانو اختلاف دی، نو د مازیګر وخت په شروع کیدو کې هم د ائمو اختلاف دی د مازیګر د شروع کیدو وخت څه دی آیا د مثل اول نه شروع کیږي لکه څنګه چې د جمهورو خیال دی یا د مثل ثاني نه وروسته شروع کیږي لکه څنګه چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ رایه ده ددې تفصیل ذکر شوی دی، اوس د مازیګر د آخري وخت مسئله ده نو په موجوده حدیث یعنې زیر بحث کې دا الفاظ راغلي دي: **وقت العصر مالم تصفر الشمس**. د جمهورو په نزد د مازیګر وخت د لمر پریوتلو پورې دی یعنې اصفرار الشمس نه مخکې مستحب وخت دی او ددې نه پس جائز وخت دی خو سره د کراهته، امام اوزاعي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي چې اصفرار الشمس پورې د مازیګر وخت انتهاء وخت ده ددې نه پس نه دی هغه ددې حدیث د برنې جملې نه استدلال کوي چې اصفرار څو پورې نه وي نو مازیګر دی، اصفرار راتلو سره د مازیګر وخت ختمیږي جمهورو ددې حدیث نه

Maktaba Tul Ishaat.com

استدلال کړی دی چې په دې کې دا الفاظ راغلي دي : **من ادرک رکعة من العصر قبل ان تغرب الشمس فقدادرک العصر**،نو چې کله دلمر پریوتلو نه مخکې یو رکعت کولو سره دمازیګر مونځ ادا کیږي نو د اصفرار په وخت کې بطریق اولی ادا کیږي .د امام اوزاعي رَحِمَهُ اللّٰهُ د استدلال جواب دادی چې په دې حدیث مبارک کې مستحب وخت بیان شوی دی .

و وقت صلوة المغرب مالم یغب الشمس : نمر پریوتو نه پس مابنام شروع کیږي د مابنام په شروع کیدو کې د چا هم اختلاف نشته د مابنام اخري وخت کې هم دې خبره باندې اتفاق دی چې د شفق پریوتلو پورې د مابنام وخت دی البته د شفق په تفسیر او ددې په تعین کې اختلاف دی ددې وجې نه د مابنام په اخري وخت کې د فقهاو اختلاف دی .

د فقهاو اختلاف : د فقهاو بنیادي اختلاف د لفظ شفق په مصداق کې دی ، د جمهورو او صاحبینو په نزد د لمر د پریوتو نه پس په آسمان کې چې کوم سور والی راشي دغه سور والي ته شفق ویلی شي چې کله دغه سور والی ختم شي نو د مابنام وخت هم ختمیږي .د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد شفق د هغه سپینوالي نوم دی چې د سورو الي د ختمیدو نه وروسته په آسمان کې خوریږي تر څو پورې چې سپینوالی موجود وي نو مابنام به هم موجود وي .او ددې سپینوالي نه وروسته چې کوم تور والی خور شي نو هغه د ماخوستن وخت دی ، د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد دغه وخت یو ګینته او لس منټه پورې وي ، نتیجه دا راووته چې چا په دې سپینوالي کې د ماخوستن مونځ وکړو نو د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد مونځ جائزنه دی .د جمهورو په نزد جائز دی او که چا د بیاض په وخت کې د مابنام مونځ وکړو نو د جمهورو په نزد جائز نه دی او د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد جائز دی . احتیاط په دې کې دی چې د مابنام مونځ د سور والي په موجودیت کې اداء کړی شي وروستو کوي یې مه ، د احنافو فتوی په دې باندې ده ، د احنافو اکثرو علماو ویلي دي چې امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ د جمهورو قول طرف ته رجوع کړې ده (**کذا في النهر**).

دلائل : جمهورد حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د روایت نه استدلال کړی دی چې الفاظ یې دادی: **قالت : کانوا یصلون العتمة فیما بین ان یغیب الشفق الی ثلث اللیل** .د استدلال طریقه داسې ده چې دلته د **شفق** نه مراد سورو الی دی که ددې نه مراد **بیاض** یعنې سپینوالی شي نو صحیح کیږي نه ځکه چې **شفق ابیض** د شپې دریمې حصې پورې په خپله باقي وي نو ددې په مینځ کې د ماخوستن مونځ کولو مفهوم په سوچ کې نه راځي ، نو معلومه شوه چې د **شفق** نه مراد **حمرة** دی بیاض نه دی.د جمهورو دویم

دلیل په دار قطني کې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه روایت دی چې په هغې کې په بنکاره شکل باندې د **شفق** تفسیر په **حمرة** سره شوی دی : **قال قال رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الشفق الحمرة .د جمهورو دریم دلیل د اهل لغتو تصریح ده چې د شفق نه مراد حمرة یعنې سوروالی دی چنانچه شیخ اصمعي او خلیل بن احمد او فراء تصریح کړې ده چې د **شفق** نه مراد **حمرة** دی . د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ دلائل ډیر زیات دي اولنی دلیل د ابوداؤد روایت دی چې په دې کې **حین یسود الافق** الفاظ راغلي دي او دا تورو الی دهغه بیاض نه وروسته راځي کوم بیاض چې د حمرة نه پس راځي ، نو معلومه شوه چې تر څو پورې بیاض وي د ماښام وخت به موجود وي .ددې حضراتو دویم دلیل د ترمذي شریف د حدیث هغه تکړه ده چې په هغې کې دا الفاظ : **وان اول وقت العشاء الآخرة حین یغیب الافق** ، راغلي دي او دا ظاهر دی چې د آسمان غاړې هغه وخت ورکیږي چې کله د شفق بیاض ختم شي .دا قسم نور احادیث هم دي چې په هغې کې د بیاض د ختمیدو او د تیارې د خوریدو ذکر وي چې د هغې نه دا خبره ثابتیږي چې د **شفق** نه مراد **حمرة** نه دی بلکې **بیاض** دی .د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ دریم دلیل د لغت امامانو تشریح او تفسیر هم دی چې **شفق** په لغت کې **بیاض** ته ویلی شي چنانچه د لغت امام شیخ مبرد او شیخ زجاج فرمایي چې د شفق نه مراد بیاض دی ددې په تللو سره د ماخوستن وخت راځي .

جواب : د احنافو سره د جمهورو روایاتو په مقابله کې کافي روایات دي او د اهل لغت په مقابله کې لوي لوي ملګري د لغت موجود دي ، لیکن د احنافو په نزد فتوی د جمهورو او صاحبینو د قول مطابق ده ، یاد ساتئ چې شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې ددې مسئلې چې کوم تحقیق کړی دی په هغې کې شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ سره ذکر کړی دی.

یوه بله مسئله : دماښام په وخت کې په مضیق او موسع کیدو کې د فقهاو اختلاف دی ، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د ماښام وخت ډیر تنګ دی صرف اودس او دري رکعته فرض او دوه رکعته سنت کول پکې امکان لري ، ددې نه وروسته د ماخوستن وخت شروع کیږي د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ او جمهورو په نزد د ماښام وخت د غروب شفق پورې پراخه دی.امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ د حدیث امامت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه استدلال کړی دی په دې کې په دواړو ورځو کې حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د ماښام مونځ په یو وخت کې کړی وو چې ددې نه معلومیږي چې په دې وخت کې د مخکې کیدو او وروسته کیدو امکان نشته .

Maktaba Tul Ishaat.com

جمهورو د **مالم يغب الشفق** والا حديث نه استدلال کړی دی ، چې ددې نه د وسعت يعنې اوږدوالي اندازه کيږي . همدارنګې **قبل ان يغيب الشفق** الفاظ چې د حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت کې دي ددې نه هم معلوميږي چې په وخت کې ابتداء او انتهاء ده او په دې کې دیو حده پورې وسعت دی .علامه نووي رَحِمَهُ اللهُ ليکلي دي چې د شوافعو فتوی په دې ده چې د مانښام وخت د غروب شفق پورې وي او همدا د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ زور قول دی.

وقت العشاء: داسلام نه مخکې په عربو کې خلکو ماخوستن په عتمة نوم سره يادولو ، نو اسلام ددې لفظ عادت ختم کړو او په عشاء يعنې ماخوستن سره يې مشهور کړ، عشاء اولی ته مغرب او عشاء آخر ته عشاء يعنې ماخوستن ويلی شي ، د عشاء په اول وخت او ددې په شروع وخت کې هغه اختلاف دی کوم چې د مانښام په آخري وخت کې دی . حضرت سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ ، عبد الله ابن مبارک رَحِمَهُ اللهُ او حضرت اسحاق بن راهويه رَحِمَهُ اللهُ او يو قول کې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دا ټول حضرات فرمايي چې د ماخوستن وخت د نيمې شپې پورې دی ددې نه پس جائز نه دی ، جمهور فقهاء فرمايي چې د ماخوستن وخت د صبح صادق پورې دی ، دا اختلاف څه بنيادي اختلاف نه دی چونکې احاديثو کې مختلف الفاظ دي ځکه د فقهاو اقوال هم مختلف دي په بعضې احاديثو کې **الی نصف الليل** الناظ دي ، په بعضو کې **ثلث الليل** الفاظ دي . په طحاوي شريف کې بعضې رواياتو کې و **آخره حين يطلع الفجر** الفاظ راغلي دي ، په بعضې رواياتو کې **الی ان يدخل وقت الاخری** الفاظ دي ، ددې وجې نه د فقهاو اقوال هم مختلف شو . ليکن ټول آحاديث فقهاو خپلې مخې ته راوستل او يو اجتماعي مسئله يې ترې واخسته او په ټولو احاديثو کې تطبيق داسې راغی چې د شپې دريمې حصې پورې د ماخوستن مستحب وخت دی ، او د نيمې شپې پورې د ماخوستن وخت جائز دی بغير د کراهته ، او د صبح صادق پورې وخت وروسته کول جائز دی خو سره د کراهته.په حديث شريف کې چې کوم **الاوسط** لفظ راغلی دی داد **ليل** صفت دی مطلب دادی چې شپه کله درميانه وي نه ډيره وړه وي او نه ډيره اوږده وي ، همدارنګې درميانه شپې نيموالی مراد دی يا دا لفظ نصف کلمې د پاره صفت دی او مطلب دادی چې ډيروالې او کموالې نه بغير د شپې نيمې پورې ماخوستن دی ګويا دا يو قسم تاکيد دی .

وقت الفجر: دسحر وخت د طلوع فجر نه د لمر ختلو پورې دی ، ددغه وخت په شروع او آخر کې څه قابل ذکر اختلاف نشته دی ، البته امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ طرف ته دا قول منسوب دی دده په نزد سحر وخت اسفار او رڼا خوريدو پورې دی . د لمر ختلو پورې نه دی ،امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ **وصلی الفجر فاسفر** د

حديث د الفاظ نه استدلال کوي، جمهورو دابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مرفوع حديث نه استدلال کړی دی چې په دې کې دا الفاظ دي: **من ادرک رکعة من الصبح قبل ان تطلع الشمس فقدادرک الصبح** (مشكوة:٦١) ددې روايت په نظر کې د امت اجماع په نظر کې نيولو د وجې دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول ناقابل التفات دی هغه حديث دامامت جبرائيل ديوې جملې نه بطور اجتهاد استدلال کړی دامامت جبرائيل ډيرو اجزاو تعلق دمونځ بالکل شروع وخت سره دی ځکه دا روايت ټولو شارحينو منسوخ ګرځولی دی.

بين قرني الشيطان: قرني د تثنيه صيغه ده د قرن نه، او قرن بنکر ته ويلی شي مطلب دا چې لمر د شيطان د دوو بنکرو په مينځ کې راخيژي چې مراد ترې د سر دواړه طرفونه دی. د حديث ددې جملې مطلب دا نه دی چې لمر د شيطان د دواړو بنکرو مينځ نه راخيژي بلکې ددې حديث مخلف دنورو احاديثو د تفصيل مطابق دادی چې د شيطان عبادت په انسانانو کې هيڅوک نه کوي ليکن خبيث دا غواړي چې زما عبادت دې د الله تعالى د عبادت سره مشابه شي. ددې مقصد د پاره شيطان د لمر راختو په وخت کې لمر ته مخامخ داسې ولاړ وي چې دا لمر دده په سر باندې تيريږي نو دلته د نمر عبادت کوونکي مخامخ اودريږي او د نمر او سپوږمۍ عبادت کوي او شيطان هم مخامخ ولاړ وي، د هغه خيال دا وي چې دا خلک زما عبادت کوي او خپل اولاد ته ښائي چې اوګورئ څنګه زما عبادت کولی شي ددې وجې نه شريعت مسلمانان منع کړي دي چې د نمر راختو په وخت کې او د نمر پريوتو په وخت کې او د نصف النهار په وخت کې يو عبادت هم صحيح نه دی.

د مونځ دوختونو بيان:

﴿۲﴾ وَ عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ
حضرت بريدة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې يو کس د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د مونځ د وخت پوښتنه
فَقَالَ لَهُ : « صَلِّ
وکړه (د مونځ د اول او آخر وخت په باره کې) نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل: چې ته مونځ وکړه د
مَعَنَا هٰذَيْنِ » يَعْنِي الْيَوْمَيْنِ فَلَمَّا زَالَتِ الشَّمْسُ
مونږ سره دا دوه ورځې (چې ته د مونځونو وختونه وپيژني) چې کله لمر زائله شو نو نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ
أَمَرَ بِلَالًا فَأَذَّنَ ثُمَّ أَمَرَهُ
حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د آذان حکم وکړو حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آذان وکړو بيا پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ده ته د تکبير

Maktaba Tul Ishaat.com

فَأَقَامَ	الظُّهْرَ	ثُمَّ
حکم وکړو د ماسپښین د مونځ تکبیر یې وکړو (او پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام مونځ ورکړو) بیا نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ		
أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعَصْرَ وَ الشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ ثُمَّ		
د مازیګر د مونځ د اقامت حکم وکړو چې نمر اوچت او سپین صفا وو (او د مازیګر مونځ یې وکړو) بیا یې		
أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْمَغْرِبَ حِيْنَ غَابَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ		
د ماښام د اقامت حکم وکړو چې لمر ډوب شوی وو (او د ماښام مونځ یې وکړو) بیا یې د ماخوستن د اقامت		
أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْعِشَاءَ حِيْنَ غَابَ الشَّفَقُ ثُمَّ		
حکم وکړو چې شفق ختم شوی وو (او د ماخوستن مونځ یې وکړو) بیا سحر کید و سره د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام		
أَمَرَهُ فَأَقَامَ الْفَجْرَ حِيْنَ طَلَعَ الْفَجْرُ		
د اقامت حکم وکړو (او مونځ یې وکړو ګویا چې په اوله ورځ یې ټول مونځونه د وخت په اول کې ادا کړه او		
فَلَمَّا أَنْ كَانَ الْيَوْمُ الثَّانِي		
دا یې وښودله چې د مونځ اول وخت دا دی. بیا چې کله دویمه ورځ شوه نو پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام حضرت		
أَمَرَهُ فَأَبْرَدَ بِالظُّهْرِ فَأَبْرَدَ بِهَا فَأَنْعَمَ أَنْ يُبْرِدَ بِهَا		
بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د ماسپښین مونځ یخ کید و حکم یې ورکړو او ښه په یخ کید و کې یې د ماسپښین مونځ وکړو		
وَصَلَّى الْعَصْرَ وَ الشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ أَخَّرَهَا فَوْقَ الَّذِيْ		
او د مازیګر مونځ یې په هغه وخت کې وکړو چې نمر اوچت وو لیکن پرونې وخت نه یې وروسته د مازیګر		
كَانَ وَ صَلَّى الْمَغْرِبَ قَبْلَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ وَ		
مونځ وکړو او د ماښام مونځ یې د شفق ختمیدو نه مخکې (یعنې شفق ورکیدو ته نزدې) وکړو او د		
صَلَّى الْعِشَاءَ بَعْدَ مَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ وَ صَلَّى الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ بِهَا		
ماخوستن مونځ یې د شپې دریمه حصه تیریدو په وخت کې وکړو او د سحر مونځ یې په ښه رڼا کې وکړو		
ثُمَّ قَالَ أَيْنَ السَّائِلُ عَنْ وَقْتِ الصَّلَاةِ فَقَالَ الرَّجُلُ		
بیا یې وفرمایل: د مونځ د وختونو پوښتنه کوونکی چیرته دی د غه کس مخې ته راغی او عرض یې وکړو		

أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ : « وَقْتُ صَلَاتِكُمْ بَيْنَ مَا
اى دالله رسوله ! زه حاضريم پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمايل ستاد مونځونو وختونه دهغه وختونو په مينځ
رَأَيْتُمْ » (رَوَاهُ مُسْلِم) (۱)
كې دى كوم چې تاپه دې دوو ورځو كې وليده .

توضيح : **ان رجلاً** : يعني يو كس د مونځونو د وختونو په باره كې پوښتنه وكړه چې د مونځ اول وخت كوم دى او د دې آخري وخت كوم يو دى ، پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ مناسب وګڼړله چې دغه كس ته زباني ويلو په ځاى عملي طور باندې خو دل فائده مند دي ددې وجې نه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځونه اول وخت كې وكړل او په دويمه ورځ يې بالكل آخري وخت كې ادا كړل او بيا يې دغه سائل ته وويل چې ددې دواړو وختونو په مينځ كې ستا د مونځ وخت دى. **فانعم ان يبرد** : ډير يخوالي د وجې نه لفظ انعم استعمال شوى دى .

بين ما رأيتم : يعني دې دوو وختونو په مينځ كې ستا د مونځ وخت دى .

سوال : دلته يو سوال دى چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د دوو وختونو په مينځ كې د مونځ وخت ګرځولى دى ددې نه معلوميږي چې د دواړو وختونو اول طرف او آخر طرف د دواړو وختونو د مونځ نه خارج دى حالانكه هغه په خپله د مونځ په وختونو كې داخل دى .

جواب : ددې جواب دادى چې د حديث ددې جملې مطلب دادى چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي چې په اوله ورځ ما د وخت په شروع كې چې كوم مونځ وكړو او په دويمه ورځ مې د وخت په آخره حصه كې وكړو ، دغه اول او آخر يو ځاى كړه نو په مينځ كې ټول وخت د مونځ دى ، خلاصه دا شوه چې د مونځ د وختونو طرفونه د مونځ د وختونو نه خارج نه دي بلكې په دې كې داخل دي .(مرقات ۲/۲۸٦).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۳﴾ عَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَمَّنِي جِبْرِيلُ
حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي چې امام جوړشو حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ
عِنْدَ الْبَيْتِ مَرَّتَيْنِ
(د مونځ صورت او وختونو خودلو د پاره) د خانه كعبې سره خوا ته يې ماته دوه پيرې (يعني دوه ورځې)

(۱) أخرجه مسلم ۱/٤۲۸ رقم الحديث: ۱۷٦-٦۱۳، والنسائي ۱/۲۵۸، رقم الحديث: ۵۱۹ .

Maktaba Tul Ishaat.com

فَصَلّٰى بِيَ الظُّهْرَ حِيْنَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَ كَانَتْ

مونځ راکړو نو په اوله ورځ چې کله نمر زائله شو نو اول یې ما ته د ماسپښین مونځ راکړو او چې کله د

قَدْرَ الشِّرَاكِ وَ صَلّٰى بِيَ الْعَصْرَ حِيْنَ صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيْءٍ مِثْلَهُ وَ صَلّٰى بِيَ الْمَغْرِبَ حِيْنَ

هر یو څیز سوری د هغې برابر وو نو د مازیګر مونځ یې راکړو او د ما بنام مونځ یې راکړو چې په کوم وخت

أَفْطَرَ الصَّائِمُ وَ صَلّٰى بِيَ الْعِشَاءَ حِيْنَ غَابَ الشَّفَقُ

کې روژه دار روژه ماتی کوي او د ماخوستن مونځ یې راکړو په هغه وخت کې چې کله غائب شو شفق

وَ صَلّٰى بِيَ الْفَجْرَ حِيْنَ حَرُمَ الطَّعَامُ وَ الشَّرَابُ عَلَى الصَّائِمِ

او د سهر مونځ یې راکړو په هغه وخت کې چې روژه دار د پاره خوراک حرام شي (یعنې صبح صادق شي)

فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ صَلّٰى بِيَ الظُّهْرَ حِيْنَ

نو بیا یې ما ته د سحر مونځ راکړو او چې کله بله ورځ شوه نو ما ته یې د ماسپښین مونځ په هغه وخت کې

كَانَ ظِلُّهُ مِثْلَهُ وَ صَلّٰى بِيَ الْعَصْرَ حِيْنَ كَانَ ظِلُّهُ

وکړو چې کله سوری یو مثل ته ورسیدو ، او د مازیګر مونځ یې په هغه وخت کې وکړو چې کله سوری

مِثْلَيْهِ وَ صَلّٰى بِيَ الْمَغْرِبَ حِيْنَ أَفْطَرَ الصَّائِمُ وَ

دوو مثلو ته ورسیدو او د ما بنام مونځ یې راته په هغه وخت کې وکړو چې کله روژه دار روژه ماتوي او د

صَلّٰى بِيَ الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ وَ صَلّٰى بِيَ الْفَجْرَ فَأَسْفَرَ

ماسخوتن مونځ یې په هغه وخت کې وکړو چې دوه حصې شپه تیره وه او د سحر مونځ یې راته ښه په رڼا کې

ثُمَّ الْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ هٰذَا وَقْتُ

وکړو ، او بیا جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَام زما طرف ته متوجه شو او وې فرمایل : ای محمد ! دا وختونه د مخکنیو

الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِكَ وَ الْوَقْتُ مَا بَيْنَ هٰذَيْنِ الْوَقْتَيْنِ » . (۱)

پیغمبرانو د مونځ وختونه دي او د مونځ وخت د دې وختونو په مینځ کې دي .

توضیح : عند البیت : د دې نه بیت الله مراد دی ، داد هجرت نه مخکې قصه ده .

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۳۳۳/۱، وأخرجه أبو داود في السنن ۲۷٤/۱ رقم الحديث : ۳۹۳ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲۱۹/۱، رقم الحديث ٦٦٧، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۲۱۹/۱ رقم الحديث:٦٦٧.

قدر شراک: ظاهره داده چې د بوټ د تسمې سره دا تشبیه د پلنوالي د وجې نه ورکړی شوې ده د اوږدوالي سره نه ده . بیا د ځای او وخت په اعتبار سره سوری اصلي مختلف کیږي بعضې ځای کې سوری اصلي دیر وي بعضې کې کم وي او په بعضې ځای کې بالکل نه وي لکه په مکه مکرمه کې چې نورلسم سرطان بالکل اصلي سوری نه وي .(الکاشف ۲/۱۹۰، المرقات ۲/۲۸۸).

دامتونو د مونځونو ختونه : هذا وقت الانبیاء .

سوال : دلته یو سوال دی چې مخکنیو پیغمبرانو سره د مشابهت معنی څه ده ؟.

جواب: دا مشابهت د جدا وختونو په اعتبار سره دی په غالب طور باندې د ماخوستن مونځ نه علاوه د هغوی او د دې امت په وختونو او مونځونو کې یو شان والي شته او د ماخوستن مونځ د امت محمدیه خصوصیت دی داسې هم کیدی شي چې مخکې امتونو باندې د ماخوستن مونځ نفلي طور باندې وو او په دې امت باندې د ماخوستن مونځ فرض دی نو دا تشبیه صحیح ده .(المرقات ۲/۲۸۹).

شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللّٰهُ په لمعات کې د مختلفو امتونو د مونځونو مختلف وختونه ذکر کړي دي چې کله د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ توبه د سحر په وخت کې قبوله شوه نو بطور شکرانه به یې د سحر مونځ کولو . د ماسپښین په وخت کې د حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ د ځان په بدله کې د کډ قرباني قبوله شوه نو هغه به بطور شکرانه د ماسپښین څلور رکعته مونځ کولو ، حضرت عزیر عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله سل کاله پس ژوندی کړی شو نو د مازیګر وخت وو نو ددې وجې نه بطور شکرانه د مازیګر څلور رکعته به یې کول، حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې چې کله امتحان راغی بیا د معافئ حکم راغی نو د مانښام وخت وو کله چې داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ څلور رکعته مونځ کول وغوښتل نو څلورم رکعت دیر د ژړیدو د وجې نه او د سترې کیدو د وجې نه یې پوره نه کړو نو ددې وجې نه دري رکعته پاتې شو .او د ماخوستن مونځ د ټولو نه مخکې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړی وو دا ددې امت یو خصوصیت وو .

امني : یعني جبرائیل امین عَلَيْهِ السَّلَامُ دوه ځل ما ته مونځ راکړی وو .دلته دا خبره محل د بحث نه ده چې جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ مفضول وو او پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته یې مونځ ځنکه ورکړو یا جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ متنفل وو او پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ مفترض وو ځکه چې کله جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د الله تعالی د طرف نه د مونځ کولو حکم ملاو شو نو جبرائیل امین عَلَيْهِ السَّلَامُ مفترض جوړ شو .

بین هذین الوقتین : ددې جملو وضاحت مخکې تیر شوی دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿٤﴾ وَ عَنْ اِبْنِ شِهَابٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَخَّرَ الْعَصْرَ

حضرت شهاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې بيشکه حضرت عمربن عبدالعزيز (يوه ورځ) دمازيګر مونځ

شَيْئًا فَقَالَ لَهُ عُرْوَةُ : أَمَا إِنَّ

(وخت مختارنه) لږ ناوخته ادا کړو حضرت عروه (چې داوليدو) نووي ويل چې واورئ اوپوهه شئ چې

جِبْرِيلَ قَدْ نَزَلَ فَصَلَّى أَمَامَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

حضرت جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام دپيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام مخې ته ولاړ وو اوپه اول وخت کې يې مونځ ادا کړو حضرت

فَقَالَ لَهُ عُمَرُ : اعْلَمْ مَا تَقُولُ يَا عُرْوَةُ فَقَالَ :

عمربن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ ورته وفرمايل عروه لږ سوچ فکر سره وايه داڅه وايي عروه وويل ما د حضرت

سَمِعْتُ بَشِيْرَ بْنَ أَبِي مَسْعُودٍ يَقُولُ سَمِعْتُ أَبَا مَسْعُودٍ

ابومسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دزوي بشيرنه اوريدلي هغه وايي ما د حضرت ابومسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوريدلي دي هغه

يَقُولُ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ : « نَزَلَ جِبْرِيلُ

وايي ما د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام نه اوريدلي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام زما امام جوړ شو

فَأَمَّنِي فَصَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ

نو ما د هغه سره مونځ وکړو بيا ما د هغه سره مونځ وکړو بيا ما د هغه سره مونځ وکړو بيا ما د هغه سره مونځ

صَلَّيْتُ مَعَهُ ثُمَّ صَلَّيْتُ مَعَهُ » يَحْسُبُ بِأَصَابِعِهِ خَمْسَ صَلَوَاتٍ [1].

وکړو بيا ما د هغه سره مونځ وکړو ترډيرې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام پنځه مونځونه دګوتو په شمار لوسره وښودل.

توضيح :**آخر العصر شيئاً**: يعنې په وخت مستحب کې لږ تاخير شوی دی دا مطلب نه دی چې د مازيګر مکروه وخت پورې تاخير نه دی. (المرقات ۲/۲۹۱).

عروة: حضرت عروه د شان والا تابعي دی داد حضرت اسماء بنت ابي بکر او د زبير ځوی دی هغه دا

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٣٠٥/٦،رقم الحديث :٣٢٢١، ومسلم في الصحيح ٤٢٨/١ رقم الحديث:١٦٦-٦١٠، وابن ماجة ٢٢٠/١، رقم الحديث:٦٦٨.

غوښتل چې حضرت عمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ اللّٰهُ ته حدیث د امامت جبرائیل واوروي چې په هغې کې د مونځ په اول وخت کې د کولو بیان دی دلته ځکه ده په حرف تنبیه **اما** سره د کلام شروع وکړو دې د پاره چې عمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ اللّٰهُ خبره په غور سره واوري.

اعلم ما تقول: دا صیغه د امر ده حضرت عمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ اللّٰهُ حضرت عروه ته وفرمایل: ای عروه ته په سوچ او فکر سره خبره کوه ته حدیث بیانوي حالانکه ته صحابي نه یې ته د سند نه بغیر څنګه حدیث ذکر کوي، دې باندې حضرت عروه مکمل سند بیان کړو او وي ویل چې زه په ښه غور او سوچ سره دا حدیث بیانوم د دې سند دا سې دی: په دې باندې حضرت عمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ اللّٰهُ خاموش پاتې شو.

حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپلو والیانو (ګورنرانو) ته د مونځ حکم ورکوي:

﴿۵﴾ وَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : أَنَّهُ

د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په باره کې روایت دی چې خط یې ولیکلو خپلو کارکوونکو (یعنې د اسلامي

كَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ إِنَّ أَهَمَّ أُمُوْرِكُمْ عِنْدِيْ اَلصَّلَاةُ

سلطنت حکامو) ته چې په هغې کې یې لیکلي وو چې په ټولو کارونو کې بهترین کار هغه مونځ کول دي

فَمَنْ حَفِظَهَا وَ حَافَظَ عَلَيْهَا

لهذا چا چې د مونځ حفاظت وکړو (یعنې په ارکانو او شرائطو سره یې وکړو) او د هغې یې خیال وساتو

حَفِظَ دِيْنَهُ وَ مَنْ ضَيَّعَهَا فَهُوَ لِمَا سِوَاهَا

نو ګویا چې ده د خپل دین (باقي کارونو) حفاظت وکړو او چا چې د غه ضائع کړو نو دا د مونځ نه علاوه کارونو

أَضْيَعُ ثُمَّ كَتَبَ أَنْ صَلُّوا الظُّهْرَ إِذَا كَانَ الْفَيْءُ ذِرَاعًا إِلَى أَنْ

لره ډیر ضائع کوونکی دی. بیا یې دا ولیکل: چې د ماسپښین مونځ د یو ګز سوري د زوال کیدو نه ترد

يَكُوْنَ ظِلُّ أَحَدِكُمْ مِثْلَهُ وَ الْعَصْرَ

یو مثل سوري پورې (علاوه د اصلي سوري نه) په هغه وخت کې کوئ او د مازیګر مونځ په داسې وخت

وَ الشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ بَيْضَاءُ نَقِيَّةٌ قَدْرَ مَا

کې کوئ چې کله لمر اوچت او سپین وي او لمر پریوتو کې دومره وخت تیرشي چې څوک په دې وخت کې

يَسِيْرُ الرَّاكِبُ فَرْسَخَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً قَبْلَ مَغِيْبِ الشَّمْسِ وَ الْمَغْرِبَ إِذَا غَابَتِ الشَّمْسُ وَ

دوه یا دري میله سفر وکړي مخکې د لمر د وبیدو نه او د مابنام مونځ د نمر پریوتو نه پس کوئ او د

Maktaba Tul Ishaat.com

الْعِشَاءَ إِذَا غَابَ الشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ فَمَنْ
ماخوستن مونځ د شفق غائبيدو نه تر دشپې دريمې حصې پورې کوئ او ځوک چې دماخوستن مونځ ونه
نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ فَمَنْ نَامَ فَلَا نَامَتْ عَيْنُهُ وَ
کړي او اوده شي نو دده ستر ګو ته دې خوب نصيب نه شي دري ځله يې دا بد دعاء وکړه او وي ليکله او
الصُّبْحَ وَ النُّجُومُ بَادِيَةٌ مُشْتَبِكَةٌ (رَوَاهُ مَالك في المؤطا) (۱)
د سحر مونځ په داسې وخت کې کوئ چې کله ستوري په تياره کې وي.

توضيح: **كتب الى عماله: عمال** جمع د **عامل** ده مراد تر ې ګورنر او والي دی (المرقات ۲/۲۹۲).
حالانکه مونځ د دين ستن ده او د دين دبنيادي ارکانونه ده او د دې خيال ساتل د مسلمانانو د خليفه دبنيادي ذمه دارانو (مسؤليتونو) نه ده ځکه حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې حکم په سرکاري او تاکيدي طريقې سره وکړو او حق يې ادا کړو چې چا د مونځ حق ادا کړو يعنې مونځ يې وکړو او د دې د فرائضو او مستحباتو او واجباتو او سنتو او وخت حفاظت او پابندي يې وکړه نو دا د ملک نورو کارونو او د حقوق الله او حقوق العباد پابندي هم کولې شي ليکن چا چې مونځ ضائع کړو چې کول يې پريښود لو يا يې د وخت رعايت ونه کړو يا يې فرائض او واجبات په صحيح طريقې سره ادا نه کړل نو دغه کس د ملک د امورو او د نورو عبادتونو ډير ضائع کوونکی دی، ګويا مونځ د مسلمانۍ يو معيار دی چنانچه سعدي بابا رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: مونځ نه کوونکي ته قرض مه ورکوئ ځکه چې داد الله تعالى قرض نه شي ورکول نو دا به د بنده حق څنګه ورکړي، سلطان باهو فرمايي: مونځ نه کوونکي د مسلمانانو په مقبره کې مه دفن کوئ مسلمانانو. بادشاهانو لره دا حديث د عبرت درس ورکوي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به خپل ماتحت ته د مونځ حکم ورکولو او د وختونو تفصيل به يې ورليږلو او نن سبا حکمرانان د مونځ خبرې عار او شرم ګڼي ځکه دوي په ټوله دنيا کې ذليله وي او د کافرانو غلامي کوي او د الله تعالى تعريف نه کوي بلکې د امريکي تعريف کوي.

الفۇ ذراعا: مخکې تير شوي دي چې د هر ملک د سوري نظام جدا جدا دی د دې وجې نه د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا فرمان د يو خاص مقام او د يو خاصې زمانې سره خاص دی.

مايسير: دلته کلمه **ما** مصدريه ده، **فرسخ** دري ميله يو فرسخ وي، شاعر وايي:

---

(۱) أخرجه مالك في الموطأ ۶/۱ رقم الحديث: ۶، كتاب وقوت الصلاة.

ان البريد من الفراسخ اربع ✿ و لفرسخ فثلاث اميال ضعوا

والميل الف اى من الباعات قل ✿ و الباع اربع اذرع فتتبع

ثم الذراع من الاصابع اربع ✿ من بعدها العشر و ثم الاصبع

ست شعيرات فظهر شعيرة ✿ منها الى بطن لاخرى توضع

ثم الشعيرة ست شعرات فقل ✿ من شعر بغل ليس فيها مدفع

فمن نام: په ظاهره دا حکم د ماخوستن سره متعلق دی ځکه چې ماخوستن د خوب وخت وي په روايتونو کې د ماخوستن مونځ نه مخکې خوب نه منع فرمايلي ده دلته هم حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ماخوستن مونځ نه مخکې خوب کوونکي د پاره بد دعاء او خيرې کوي ، ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ددې حديث نه معلومه شوه چې د ماخوستن مونځ نه مخکې خوب حرام دی ليکن د احنافو په نزد تفصيل دادی : که چيرته د مونځ وخت داخل نه وو نو خوب منع نه دی او که وخت داخل وي او د پاڅيدو انتظام يې وي نو اوده کيدل جائز دي او که انتظام يې نه وي او د خوب داسې غلبه وه چې د مونځ وخت تر فوت کيږي نو بيا خوب کول جائز نه دي بلکې مکروه دی (**كذا في المرقات ۲/۲۹۳**)

بعضې شارحين د **فمن نام** نه د مونځ پريښودل او غفلت او هيريدل مراد اخستی برابره خبره ده که خوب وي او که بله مشغله وي . (**اشعة اللمعات ۳۱۰**)

النجوم بادية : **نجوم** د **نجم** جمع ده ستوري مراد دي ، او د **بادية** نه مراد ظاهريدل او واضح کيدل دي ، **مشتبكة** ددې تفصيل دی چې ګڼ ستوري موجود وي .

دیو مشکل حدیث مطلب :

﴿٦﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : كَانَ قَدْرُ صَلَاةِ رَسُول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ الظُّهْرَ فِي

د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د ماسپښين مونځ اندازه په

الصَّيْفِ ثَلَاثَةَ أَقْدَامٍ إِلَى خَمْسَةِ أَقْدَامٍ وَ فِي الشِّتَاءِ خَمْسَةَ أَقْدَامٍ إِلَى سَبْعَةِ أَقْدَامٍ.(۱)

ګرمئ کې د دري قدمونو نه تر پنځه قدمونو پورې وه او په ژمي کې د پنځه قدمونو نه تر اوه قدمونو پورې وه .

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۲۸۳/۱ رقم الحديث : ٤٠٠ ، وأخرجه النسائي في السنن ۱/ ۲۵۰ رقم الحديث : ۵۰۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح : **الی خمسة اقدام** : د حساب پوهیدونکو په اصطلاح کې قدم د هر څیز د قد اومې حصې ته ویلی شي په یخنی کې سوری اوږد وي ځکه د ماسپښین مونځ وخت کله اوه قدمه او کله پنځه قدمه په مقدار باندې وي. خلاصه دا شوه چې د **سبعة اقدام** مطلب پوره مثل دی او د **ثلاثة اقدام** مفهوم تقریبا نیم مثل دی او **خمسة اقدام** مطلب تقریباً دیو مثل دوه نیم دی. (المرقات ۲/۲۹۴).

داخبره بار بار لیکلی شوې ده چې د سوري دا نظام د ټولو ملکونو او علاقو د پاره یو شان نه دی بلکې د علاقو بدلیدو سره د سوري دا مقدار بدلیږي. الحمد لله ددې حدیث مطلب واضحه شو زه په دې باندې د الله تعالی لاکهه شکر ادا کوم او په دې هم شکر ادا کوم چې د حدیث خدمت په مکه مکرمه کې کوم.

فضل محمد نزیل مکة المکرمة

دار عمر عبدالحفیظ مکي

۹ رمضان ۱۳۲۳هـ

بَابُ تَعْجِيْلُ الصَّلَاة:

په جلتی او تادی سره مونځ کولو بیان:

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

د مونځ د مستحب وختونو تعین:

﴿۱﴾ عَنْ سَيَّارِ بْنِ سَلَامَةَ قَالَ : دَخَلْتُ أَنَا وَ أَبِيْ عَلَى

د حضرت سیار بن سلامه نه روایت دی فرمایي چې: حاضر شوم زه او زما والد (مونږ دواړه) د حضرت

أَبِيْ بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ فَقَالَ لَهُ أَبِيْ كَيْفَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ابوبرزة اسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت کې زما پلار د هغه نه پوښتنه وکړه چې: څنګه به کولو پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام

يُصَلِّي الْمَكْتُوْبَةَ فَقَالَ كَانَ يُصَلِّي الْهَجِيْرَ الَّتِيْ تَدْعُوْنَهَا الْأُوْلٰى حِيْنَ تَدْحَضُ الشَّمْسُ

فرض مونځ هغوي وویل: چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د ماسپښین چې اولنی مونځ ورته ویلي شي د لمر د زائله

وَ يُصَلِّي الْعَصْرَ ثُمَّ يَرْجِعُ أَحَدُنَا إِلٰى

کیدو په وخت کې کولو او د مازیګر مونځ (به یې داسې وخت) کې کولو چې واپس به راتلو د مونږ نه خپل

رَحْلِهِ فِيْ أَقْصَى الْمَدِيْنَةِ وَ الشَّمْسُ حَيَّةٌ وَ نَسِيْتُ

ځای ته د مدینې غاړې ته او لمر به روښانه وو (یعنې د بدلیدو نه مخکې) او سیار وایي چې: ما هیر کړه

مَا قَالَ فِي الْمَغْرِبِ وَ كَانَ يَسْتَحِبُّ

هغه څه چې د ماښام د مونځ په باره کې ابو برزه چې څه ویلي وو او (ابو برزه وایي) چې بهتر به یې ګڼلو

أَنْ يُؤَخِّرَ الْعِشَاءَ الَّتِيْ تَدْعُوْنَهَا الْعَتَمَةَ وَ كَانَ يَكْرَهُ النَّوْمَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام په تاخیر سره کول د ماخوستن مونځ کوم ته چې تاسو عتمة وایي او مکروه به یې ګڼلو خوب

قَبْلَهَا وَ الْحَدِيْثَ بَعْدَهَا وَ كَانَ يَنْفَتِلُ مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ حِيْنَ

مخکې د ماخوستن د مونځ نه او خبرې کول پس د مونځ نه او د سحر مونځ نه به داسې وخت کې فارغیدل

يَعْرِفُ الرَّجُلُ جَلِيْسَهُ وَ يَقْرَأُ بِالسِّتِّيْنَ إِلَى الْمِائَةِ.

چې هر یو کس به ځان سره ناست کس پیژندلو او لوستل به یې (مونځ کې) د شپیته آیتونو نه ترسل آیتونو

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ فِيْ رِوَايَةٍ : وَلَا يُبَالِي بِتَأْخِيرِ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ
پوري اوپه يوروايت کې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام به سوچ نه کولو په وروسته کولو دماخوستن مونځ تردريمې
اللَّيْلِ وَلَا يُحِبُّ النَّوْمَ قَبْلَهَا وَ الْحَدِيثَ بَعْدَهَا . (متفق عليه)[1]
حصې دشپې پورې اونه به يې خوښول خوب مخکې دماخوستن مونځ نه اونه خبرې کول وروسته دمونځ نه

توضيح: صاحب مشكوة چې كله دمونځونو دوختونود واجب كيدو بيان وكړو او دا يې وښودل چې د هرمونځ دوخت اولنۍ حصه دكوم ځای نه ده اوآخري حصه د كوم ځای پورې ده نواوس يې د مونځ دمستحب وخت بيان شروع كړوچې ددې وخت په كومه حصه كې مونځ كول افضل دي ددې مقصد دپاره هغه دباب **تعجيل الصلاة** عنوان قائم كړو،اوس اصولي طورباندې دمونځونوپه افضل وخت كې دشوافعواوداحنافواختلاف دی،شوافع دماخوستن مونځ نه علاوه باقي په ټولومونځونو كې د تعجيل او د جلتۍ كولو ته افضل وايي ، او احناف د مانښام مونځ نه علاوه ټول مونځونو كې تاخير كولو ته افضل وايي ، ليكن د تاخير مطلب دا نه دی چې د وخت مكروهه پورې تاخير وشي بلكې مطلب دادی چې په وخت مستحبه كې لږ تاخير وشي . ددې باب د احاديثو په ضمن كې به ټول تفصيل راشي .د بحث لاندې حضرت سيار بن سلامه په حديث كې د پنځوو مونځونو د وختونو ذكر دی مګر په دې كې صرف اشارات دي ددې وجې نه يې د سحر مونځ نه تر ماخوستن مونځ پورې په ترتيب سره مونځونو د وختونو مستحب والی بيان كړی دی چې لوستونكي په آسانه سره پوهه شي .

د سحر مستحب وخت : حين يعرف الرجل جليسه : يعنې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام چې كله د سحر مونځ نه فارغ شو نو خلكو به خپل نزدې ملګري پيژندل، ددې مطلب داشو چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام به د سحر مونځ په غلس اوتياره كې شروع كولو ځكه چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام به كله شپيتو نه تر سل ايتونو پورې د سحر مونځ كې تلاوت كوو او بيا به هم خلكو د يو بل سره نږدې كس نه پيژندلو ، نو معلومه شوه چې **غلس** كې به يې كولو ، دويم حديث كې دي مفهوم ته و **الصبح بغلس** الفاظو سره اشاره شوې ده نودلته د **غلس** حكم وشو مګر ددې نه علاوه په ډيرو احاديثو كې راغلي دي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام د سحر مونځ په اسفار(رڼا) كې حكم وركړی دی .په روايتونو كې ددې اختلاف نه د فقهاو په مينځ كې د سحر مونځ د مستحب وخت كې اختلاف شو اګر چې په دې باندې اتفاق دی د طلوع فجر نه د لمر راختو

---

(۱) أخرجه البخاري ۲۶/۲،رقم الحديث : ٤٠٥، ومسلم ٤٤٧/١ رقم الحديث:٢٣٥-٦٤٧، وأبو داود ٢٨١/١ رقم الحديث :٣٩٨، والنسائي ٢٤٦/١، رقم الحديث: ٤٩٥ ، وابن ماجة ٢٢١/١، رقم الحديث:٦٧٤.

پوري تول وخت د سحر د مونځ دی .

د فقهاو اختلاف : امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ، امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ يعني د جمهورو په نزد د سحر مونځ په غلس کې کول افضل دی چې ابتداء هم په غلس کې وي او ختميدل هم په غلس کې وي .د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ ، سفيان ثوري او امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د سحر مونځ په اسفار کې شروع کول او په اسفار کې ختمول يعني په رڼا کې مستحب او افضل دی په داسې حال کې که چيرته د سحر مونځ فاسد شي نو چې دوباره کولو د پاره په وخت کې امکان ضرور وي ، د امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ نه يو قول منقول دی چې امام طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ اخستې دی ددې دواړو په نزد شروع په غلس يعني (تياره) کې افضل ده مګر قرأت دومره اوږدول چې ختموالی په اسفار يعني په رڼا کې راشي ، دغه رنګ په غلس او اسفار دواړو احاديثو مبارکو باندې عمل به راشي او احاديثو کې تطبيق به هم راشي ليکن په دې مسلک کې دروندوالی او لوي بوج دی .

دلائل : د جمهورو اول دليل : مشکوة کې (ص ۴۵ باندې حديث ۲) کې محمد بن عمرو بن الحسن روايت دی په دې کې دا الفاظ راغلي دي : **والصبح بغلس** ، او غلس د شپې اخري حصې هغه تياره ده چې داد سحر رڼا سره يو ځای وي لهذا په تياره کې مونځ کول افضل دی نن سبا په جزيره عرب کې په دې حديث عمل کيږي .د جمهورو دويم دليل : مشکوة کې (ص ۴۵ باندې حديث ۱۱) کې د حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا روايت دی چې په دې کې دا الفاظ دي: **قالت :كان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليصلي الصبح فتعرف النساء متلفعات بمروطهن ما يعرفن من الغلس.** (**متفق عليه**)

د جمهورو دريم دليل د حضرت ابومسعود انصاري روايت دی ددې دا الفاظ دي: **انه صلى الصبح بغلس ثم صلى مرة اخرى فاسفر بها ثم كانت صلوته بعد ذلک في الغلس حتى مات ولم يعد الى ان يسفر** . يعني د ژوند معمول د غلس وو يو ځل نيم يې اسفار کړي بيا يې کله هم نه دی کړی جمهورو د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د ژوند دغه معمول او فعلي رواياتو نه استدلال کړی دی او د هغه روايت نه هم استدلال کوي کوم کې چې په اول وخت کې مونځ کول افضل ګرځول شوی دی ، او د مشکوة فصل ثالث کې د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ والا روايت نه هم استدلال کوي چې په دې کې دا الفاظ دي : **والصبح و النجوم بادية مشتبكة** يعني چې کله په آسمان کې ډير ستوري چمک پرق وهي نو هغه وخت تياره وي ، نو معلومه شوه چې په تياره کې يې مونځ کړی دی ، په دې مسئله کې د احنافو ډير دلائل دي چې يو څو دلائل ذکر کولی شي :(۱) د احنافو اول دليل موجوده حديث د حضرت سيار والا روايت دی په دې کې : **حين يعرف الرجل جليسه** الفاظ راغلي ، طرز استدلال داسې دی چې کله يو کس خپل ملګري پيژني

Maktaba Tul Ishaat.com

خاص کړ چې کله جماعت تنګ وي نو دغه وخت ښه ډیره رڼا وي داد اسفار دلیل شو . (۲) د احنافو دویم دلیل بخاري او مسلم کې د ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دی دکوم الفاظ چې په اختصار سره دادي: **ما رأيت رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلى صلوة بغير وقتها الا بجمع الى ان قال و صلى صلوة الصبح من الغد قبل وقتها** ، یعني پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام کله هم یو مونځ د خپل وخت معتاد نه مخکې نه وو ادا کړی . صرف په مزدلفه کې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام د وخت معتاد نه مخکې د سحر مونځ په غلس کې وکړو ددې نه معلومه شوه چې عام عادت یې په غلس کې نه وو . (۳) د احنافو دریم دلیل چې په خپل مدعا باندې واضحه دلیل دی چې په مشکوة کې په فصل ثاني کې د رافع بن خدیج رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حدیث نمبر ۲۶ دی الفاظ یې دادی : **اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر** (ترمذي ، ابوداؤد) دې واضح دلیل کې امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ یوتاویل کړی چې په **کتاب الام** کې ذکر دي ،اوهغه تاویل داچې دې حدیث کې **اسفار** مرادنه دی بلکې د **اسفروا** مطلب دادی چې د سحر وخت خه یقیني معلوم شي بیا د سحر مونځ په کې کوئ داسې نه چې د طلوع فجر نه مخکې وشي لهذا چې تا ته واضحه اندازه وشي چې صبح صادق وخت شو نو دغه وخت کې د سحر مونځ کوئ ددې حدیث د اسفار سره هیڅ تعلق نشته او نه د **غلس** منافي دی .

ددې جواب احناف دا ورکوي چې دا تاویل صحیح نه دی ځکه چې دې سره دویمه جمله : **فانه اعظم للاجر** موجود دی او **اعظم** اسم تفضیل دی نو مطلب به داشي چې د سحر راختو وخت یقیني شي نو مونځ کوي ځکه چې دا په اجر او ثواب کې ډیر لوي دي او که د طلوع فجر نه یې مخکې مونځ وکړو نو جائز دی خو ثواب به کم ملاویږي دا مطلب بالکل غلط دی ځکه چې دې تاویل سره به د حدیث ټول مفهوم وران شي ، همدارنګې دا تاویل هم ځکه صحیح نه دی چې په دې روایت کې **اسفروا** لفظ دی لیکن په نورو روایاتو کې **کلما اسفرتم** الفاظ دي ، هلته خو د یقین هغه مطلب نه شو اخستی کوم چې امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ اخستی دی یو روایت کې **کلما اصبحتم بالفجر** دی یو روایت کې **نوروا بالفجر فانه اعظم للاجر** الفاظ دي ، یو روایت کې **حين اسفرت الارض** الفاظ دي یو روایت کې دا الفاظ دي : **يا بلال اسفر بالصبح حتى يبصر القوم موقع نبلهم من الاسفار** ، یعني د سحر مونځ په داسې رڼا کې کوئ چې خلک غشي ولي چې د غشي لګیدو ځای معلوم وي ددې الفاظو او تفصیلاتو په موجودګی کې د حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ تاویل قابل قبول نه دی بهر حال د احنافو دلائل ډیر دي او واضحه دي اګر چې جمهورو سره هم دلائل شته دی .

جواب : ائمه احناف د جمهورو دلائلو په باره کې وايي د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام مبارک فعل نه په کثرت سره ثابت دی چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام د سحر مونځ په غلس(تياره) کې کړی دی ليکن هغه ټول فعلي روايات دي او مونږ چې د رافع بن خديج روايت **اسفروا بالفجر** راجح ګرځولی دی نو دا قولي روايت دی نو هر کله چې په قول او فعل کې تقابل راشي نو قولي راجح وي ځکه چې فعلي کې د خصوصياتو او امتيازاتو وغيره احتمالات وي نو لهذا دلته هم دا خصوصيات دي مثلاً : غلس کې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام ددې وجې نه مونځ کړی چې صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ تهجد ګزار وو او سحر نه مخکې په جومات کې موجود وو ددې وجې نه تکثير جماعت(د غټې جمعې) د پاره انتظار ضروري نه دی چې کله صبح صادق شو نو جمع به ودريده چې ستړي تهجد ګزار فارغ شي .همدارنګې په مسجد نبوي کې په جماعت کې به زنانه هم شريکې وې د هغوي د پردې مسئله به وه نو ځکه به په غلس کې مونځ کيدلو چې د ښځو بې پردګي نه وي ، همدارنګې چې کومې ښځې به په جماعت کې شريکيدلې نو د هغوي په کورونو کې به د ماشومانو د راپاڅيدو او د ژړا مسئله وه نو ځکه به مونځ زر کيدو چې زنانه فارغې شي نن سبا هم د چا د ډيوټی(وظيفې) مسئله وي نو په غلس کې مونځ کول ضروري دي ځنګه چې په روژه کې خلک حاضريږي او په غلس کې مونځ کوي خلک په آرام سره نوکرو ته ځي حالانکه د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام فعل مونږ ته ډير غوره دی خو پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام چې امت ته کوم فرمان کړی دی نو هغه عملي کولو دپاره په دې فعل باندې مقدم دی .پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام به په خپله چې څنګه هم عمل کولو خو مونږ ته يې د اسفار حکم کړی دی او په دې کې دغټې جمعې فائده هم ده .باقي د جمهورو دليل: **مايعرفن من الغلس** کې علماء فرمايي : چې د **من الغلس** لفظ مدرج دی دا يو راوي ذکر کړی دی ځکه چې ابن ماجه وغيره کتابونو کې ددې لفظ پته نه لګي يا دا چې په تنګ ځای کې چې کله زنانه په ځادر کې را تاؤ شوې وي نو په اسفار کې يې هم پته نه لګي دليل تام نه شو پاتې د ابومسعود انصاري روايت علماو ضعيف ګرځولی دی . باقي چې په کوم رواياتو کې مونځ په اول وخت کې کولو فضائل راغلي دي د هغې مونږ هم قائل يو چې وخت مستحب مراد دی مستحب وخت کې مونځ کول افضل او اولی دی باقي امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ د بعضې صحابو د معمول نه استدلال کړی دی او د ټولو احاديثو د جمع کولو کوشش يې کړی دی مګر په دې عمل کول مشکل دي پاؤ باندې يوې ګينټې پورې مونځ کولې شي .

د ماسپښين مستحب وخت : د ماسپښين مستحب وخت کې اختلاف دی ددې نه مخکې د ماسپښين د وخت متعلق اختلاف تير شوی دی هغه د ماسپښين وخت د مستحب په باره کې نه وو بلکې هغه د ماسپښين وخت په شروع او آخري سره متعلق وو بهر حال مستحب وخت کې اختلاف دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

د فقهاو اختلاف: د شوافعو په نزد ماسپښین کې تعجیل افضل دی مزید نور تفصیل نشته، د احنافو په نزد په دې کې تفصیل دی که موسم سخت ګرم وي نو **ابراد في صلوة الظهر** او تاخیر مستحب دی او که موسم یخ وي نو تعجیل مستحب دی.

دلائل: فقهاو په خپلو مدعاو باندې دلائل راجمع کړي دي د شوافعو دلائل دادي :**اولنی دلیل د** حضرت خباب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی ددي الفاظ دادی: **شکونا الی رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **حر الرمضاء فلم یشکنا**. ددې حدیث نه معلومیږي چې په سخته ګرمئ کې مونځ شوی دی دا په اول وخت کې د کولو او د تعجیل دلیل دی. دویم دلیل د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روایت دی ترمذي شریف کې موجود دی چې الفاظ یې دادي: **ما رأیت اشد تعجیلا للظهر من رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **ولا من أبي بکر ولا من عمر**. شوافعو ددې روایت نه هم استدلال کړی دی ددې الفاظ دادي :**کان یصلي الظهر بالهاجرة**. یعنې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام به دماسپښین مونځ وختي کولو یعنې د غرمې لفظ راغلی دی. داحنافو ائمو دلیل په بخاري کې حدیث: **ابردوا بالظهر** نه استدلال کړی دی، همدارنګې د حضرت ابوذر غفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په قصه کې چې کوم لفظ راغلي : **حتی رأینا فیء التلول** دې نه هم د ماسپښین د تاخیر استدلال کیږي ددې نه علاوه هم د ابراد او د تاخیر کافي روایات موجود دي.

جواب: شوافعو چې د تعجیل د ماسپښین متعلق کومو روایاتو نه استدلال کړې دی په دې کې حضرت حباب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت د مکي زمانې مونځونو سره تعلق لري او مدني ابراد والا روایت سره دا روایت موقوف شوی دی، همدارنګې زمکه ګرمه کیدل د مونځ د تعجیل علامه نه ده بلکې ګرم ملکونو کې د مابنام پورې زمکه ګرمه وي. د شوافعو د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او دغه رنګ د ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روایت نه چې کوم استدلال کړی دی دا تعجیل په یخنۍ موسم باندې محمول دی چې په یخنۍ کې مونځ په جلتۍ او تادۍ سره کړی دی دا په خپله احادیثو کې موجود دی. باقي د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کې چې لفظ د **الهاجرة** راغلی دی نو دا اول وخت سره خاص نه دي بلکې **هاجره** د ماسپښین نه تر مازیګره پورې وخت ته ویلی شي.

د مازیګر مستحب وخت: زیربحث حدیث کې: **و صلی العصر.... والشمس حیة**، الفاظ راغلي دي بعضې روایاتو کې **والشمس مرتفعة** الفاظ دي دې روایاتو نه د مازیګر مونځ د جلتۍ او تادۍ اندازه کیږي او بعضې روایاتو نه معلومیږي چې مازیګر کې تاخیر شوی دی د روایاتو د اختلاف د وجې نه د مازیګر مونځ په مستحب وخت کې د فقهاو اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف : دري ائمه د مازيګر مونځ تعجيل ته مستحب وايي او د احنافو ائمو په نزد تاخير مستحب دی ليکن دومره تاخير جائز نه دی چې په لمر کې اصفرار او تغير راشي بلکې مستحب وخت کې دننه لګ تاخير مستحب دی .

دلائل : د ائمه ثلاثه اولنی دليل همدغه زير بحث حديث دی چې په هغې کې مذکور دی چې د مازيګر مونځ نه پس زمونږ نه يو کس د مدينې په بهر اطرافو کې خپل کور ته تللو او لمر تازه يعنې اوچت ولاړ وو نو معلومه شوه چې د مازيګر مونځ په جلتی او تادی وخت کې کيږي .ائمه ثلاثه دويم دليل د مشکوة ص ۴۵ باندې د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دويم روايت دی چې د مازيګر مونځ نه پس د مدينې لرې ته تللو او لمر هغه وخت پوره اوچت وو او بعضې عوالي د مدينې نه په څلور ميله فاصله کې وو ائمه ثلاثه د رافع بن خديج رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د روايت نه استدلال کړی دی دا حديث د مشکوة ص ٦١ باندې حديث نمبر ۲۹ دی ، کوم کې چې دا فرمايي چې مونږ د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام سره د مازيګر مونځ کولو او ددې نه پس اوښ به مو ذبح کړو او په لسو حصو باندې به مو تقسيم کړو بيا به مو غوښه پخه کړه او بيا به مو وخوړله او لمر به تر دې وخته پورې پريوتې نه وو .جمهور فرمايي : ددې روايت نه واضح طور باندې معلوميږي چې د مازيګر مونځ په جلتی سره کولی شي لهذا زر مونځ کول افضل دی .د احنافو دليل د ام سلمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا روايت دی چې په مشکوة ص ٦٦ باندې حديث نمبر ۳۳ دی ددې الفاظ دادي : **قالت كان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشد تعجيلاً للظهر منكم و انتم اشد تعجيلا للعصر منه.** ددې حديث نه معلومه شوه چې د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام نه پس خلکو مازيګر کې تعجيل شروع کړو ، دې باندې ام سلمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا د خفګان اظهار وکړو .د احنافو دوهم دليل علي بن شيبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دی کوم چې په ابوداؤد (ج ۱ ص ۵۹) باندې موجود دی الفاظ يې دادي : **عن علي بن شيبان قال قدمنا على رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المدينة فكان يؤخر العصر ما دامت الشمس بيضاء نقية .**

د احنافو دريم دليل د حضرت رافع بن خديج رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دی چې طبراني او احمد او دار قطني ذکر کړی دی الفاظ يې دادي : **عن رافع بن خديج ان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يأمرنا بتاخير العصر (كذا في معارف السنن).**

د احنافو څلورم دليل د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عمل دی عبد الرحمن بن يزيد فرمايي چې هغه به د مازيګر مونځ ناوخته يعنې په تاخير سره کولو (**كذا في مصنف ابن ابي شيبة**) د ټولو روایاتو نه احنافو دا سبق واخيستو چې په مازيګر کې تاخير کول مستحب دی خو په شرط ددې چې مستحب وخت موجود وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: ائمه ثلاثه د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغیره چې د کوم روایاتو نه استدلال کړی دی چې په هغې کې د مدینې نه د بهر تللو او څلور میله لاره وهل او نمر د موجود کیدو ذکر دی ددې جواب دادی عوالي د مدینې مختلف قسم باندې دي بعضې اته میله باندې ، بعضې څلور میله او بعضې په دري میله فاصله باندې دي ، او حدیث کې تعیین نشته دی چې کوم عوالي مراد دي ، حالانکه د تللو والا پته هم نه لګي چې پیدل دی یا په سورلی باندې دی ، دا هم معلوم نه دی چې ځوان دی یا بوډا ، دغه رنګې دا هم علماء لیکي چې د مازیګر نه پس څلور یا اته میله فاصله وهل د محنتي عربو د پاره هیڅ نه دی ، نن سبا د احنافو د مسلک مطابق د مازیګر مونځ نه پس خلک دومره فاصله ښه په آسانه وهي او لمر موجود وي . فتح الملهم کې علامه عثماني رَحِمَهُ اللهُ لیکي : په دیو بند کې یو مدرس وو د زیارت په ورځ به چې کله چوتې وشوه نو د احنافو د وخت مطابق به یې د مازیګر مونځ وکړو اوپیدل به منګلورته تللو او هلته به یې د ماښام مونځ کولو ، دیوبند نه د منګلوره پورې دولس میله فاصله ده .ائمه ثلاثه د رافع بن خدیج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روایت نه استدلال کړی دی احناف د هغې جواب داسې ورکوي چې عربو خلکو اونښ ذبح کول او د هغې په جوړولو کې ماهر وو چې ماهر لس کسان اونښ ذبح کړي او بیا یې تقسیم کړي او نرمه نرمه غوښه زر پخه کړي دا کار ډیر زر کیږي دا د مازیګر د تعجیل دلیل نه دی بلکې دا کار د مازیګر نه پس هم کیږي یا داسې قسمه روایات د ګرمۍ په موسم باندې حمل کړی شي نو په هغې کې وسعت کیدی شي .بهر حال صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د مازیګر مونځ نه پس د وختونو اندازې ښودلې دي ، دې نه د مازیګر تعجیل معلومیږي هیڅ تعین نشته دی که وخت مستحب کې که چیرته تاخیر وشي نو د احنافو مسلک ډیر مناسب دی او احادیثو نه په دې باندې استدلال کولی شي نن سبا غیر مقلد حضرات او په حجاز مقدس کې د مازیګر مونځ دومره وختي کولی شي چې د هغې نه پس خلک کاروبار شروع کوي حالانکه د مازیګر لغوي معنی نچوړدی نو دا وخت د ورځې نچوړ ګنړل په کار دي دا نه چې نیمه ورځ د مازیګر نه پس راشي او د ماسپښین نه پس لږ وخت پاتې شي د انصاف تقاضا داده چې نه ډیر ناوخته وکړی شي او نه ډیر مخکې وکړی شي .

د ماخوستن مستحب وخت : وکان یستحب ان یؤخر العشاء : د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ او اسحاق بن راهویه رَحِمَهُ اللهُ په نزد د ماخوستن مستحب وخت ثلث اللیل پورې دی ، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد ماخوستن کې تعجیل افضل دی ، د شوافعو او مالکیو دلیل د حضرت نعمان بن بشیر روایت دی ددې الفاظ دادي : **کان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یصلیها ای العشاء لسقوط القمر الثالثة (مشکوة ص ٦١)** دا حضرات فرمایي چې د دریمې شپې میاشت په جلتې سره ورکیږي معلومه شوه چې جلتي کول افضل دی . د شوافعو دوهم دلیل هغه عام روایات دي چې په

هغې کې په اول خت کې مونځ کول افضل ویلی شوې دي ، د احنافو او جمهور واولني حديث زير بحث دی دې کې تاخير مستحب دی دا واضحه دليل دی . د جمهورو دوهم دليل مشکوة ص ٦١ باندې د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې الفاظ يې دادی : **لولا ان اشق على امتي لامرتهم ان يؤخر العشاء الى ثلث الليل (رواه احمد و ابوداؤد)**

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : د دويمې شپې مياشت د غروب شفق سره نزدې ورکيږي حالانکه د دريمې شپې مياشت ډير وخت پس ورکيږي ، ددې حضراتو استدلال مکمل نه دی باقي د اول وخت د فضيلت څومره روايات دي ددې ټولو جواب دادی د اول وخت نه مراد هغه وخت دی چې هغه مستحب او افضل وخت دی او هغه هلته دی چې کوم مونږه وايو .

فائده: د مونځ د مستحب وختونو په تعين کې چې د کومو فقهاو اختلاف دی هغه ټول په اولی او غير اولی کې اختلاف دي ، د جواز او عدم جواز اختلاف نه دی لهذا دا اختلافات د جنګ او جګړې ځای نه دی جوړول په کار. احنافو د جماعت ډيروالي په خاطر د ماخوستن مونځ وروسته کول افضل ګرځولی چې په راتلونکي حديث کې ذکر دي لهذا په اول وخت کې د مونځ کولو د فضيلت نه احناف انکار نه کوي.

لا يحب النوم : يعنې د ماخوستن مونځ نه مخکې خوب کول صحيح نه ګڼړي ، ځکه چې د مونځ د قضاء کيدو خطره وي اکثر علماء يې مکروه ګڼړي ، بغضې حضراتو ورته جائز ويلي دي چنانچه حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ماخوستن مونځ نه مخکې اوده کيدو .علامه نووي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : که چيرته چا باندې د خوب غلبه نه وي او د مونځ د قضاء کيدو ويره نه وي بيا مکروه نه دی د ماخوستن نه پس فضول خبرې کول مکروه دي خو علمي او ديني خبرې کول جائز دي مخکې تفصيل ذکر شوی دی .

په شريعت کې د جماعت ډيروالی مطلوب دی :

﴿۲﴾ وَعَنْ مُحَمَّد بن عَمْرِو ابْن الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ : سَأَلْنَا جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ

د محمد بن عمرو بن حسن بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې مونږ تپوس وکړو د جابر بن عبد الله

عَنْ صَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَ كَانَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ وَ الْعَصْرَ

نه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مونځ په باره کې نو هغه وويل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د ماسپښين مونځ وختي کولو او د مازيګر

وَ الشَّمْسُ حَيَّةٌ وَ الْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتْ

مونځ يې داسې وخت کې کولو چې لمر به ژوندی ؤ (رڼا) به وه او د مابنام مونځ به يې د نمر پريوتو نه پس کولو

وَ الْعِشَاءَ إِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ وَ إِذَا قَلُّوْا أَخَّرَ

او د ماخوستن مونځ چې کله به خلک ډير وو نو زر به يې کولو او چې کله به خلک کم وو نو تاخير به يې کولو

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ الصُّبْحَ بِغَلَسٍ . (متفق عليه)[1]

او د سحر مونځ به يې په تياره کې کولو .

توضيح : اذا قلوا أخر : ددې حديث نه يوه قاعده مخې ته راغله چې د د جمعې زياتوالی د شريعت په نظر کې ډير اهم دی لهذا د مونځونو په وختونو کې ددې خاص خيال ساتل په کار دی ، ددې قاعدې نه د احنافو مسلک ته هر ځای کې فائده وي .

﴿۳﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بِالظَّهَائِرِ

د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې : مونږ د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې د ماسپښين مونځ کولو

سَجَدْنَا عَلَى ثِيَابِنَا اِتِّقَاءَ الْحَرِّ . (متفق عليه ولفظه للبخاري) . (۲)

نو مونږ سجدې کولې په خپلو څادرو باندې د ګرمۍ نه د ځان بچ کولو د پاره .

توضيح : بالظهائر : دا لفظ د **ظهيرة** جمع ده دا غرمې ته ويلی شي ليکن دلته ظهر مراد دی هره ورځ د ظهر راتلو د پاره جمع راوړلی شوې ده .

سجدنا على ثيابنا : يعنې د ګرمۍ نه د بچ کيدو د پاره چې تندی ونه سوزي مونږه به په خپل څادر سجده کوله . امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وايي : دلته د کپړې نه مراد هغه کپړه ده چې اچولی نه شي بلکې جدا کپړه وي ځکه چې د اچولی شوې کپړې په هره حصه باندې سجده جائز نه ده . احناف فرمايي : چې د اچولی شوې متصل کپړې په هره حصه باندې سجده جائز ده او په حديث کې په دغه بدن باندې د اچولی شوې کپړې باندې د سجدې خبره کيږي ځکه چې صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سر باندې اچولو د پاره به کپړه په مشکل ملاويده حالانکه د هغوي سره د جدا کپړې تصور نه وو . (المرقات ۲/۲۹۸) .

په زمکه باندې د لمر ځه اثرات کيږي :

﴿٤﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې : پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايل چې کله سخته وي ګرمي

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۷،رقم الحديث : ٥٦٥، ومسلم في الصحيح ۱/٤٤٦ رقم الحديث:٦٣٣-٦٣٦، وأبوداؤد ۱/۲۸۱ رقم الحديث :٣٩٧، والنسائي ۱/٢٦٤، رقم الحديث: ٥٢٧ .

(۲) أخرجه البخاري ۲/۲۲،رقم الحديث : ٥٤٢، ومسلم ۱/٤٣٣و٤٣٢رقم الحديث:١٨٥-٢١٨،وأبوداؤد ۱/۲۸٤ رقم الحديث :٤٠٢، والنسائي ۱/۲۸٤، رقم الحديث: ٥٠٠ ، والترمذي ۱/۲۹٥ رقم الحديث : ١٥٧ ، وابن ماجة ۱/۲۹٦، رقم الحديث: ١٢٠٨ .

فَأَبْرِدُوا بِالصَّلَاةِ ». وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ عَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ بِالظُّهْرِ

نو مونځ په يخ وخت کې کوئ ، د بخاري په يو حديث کې د ابو سعيد نه منقول دی دما سپښين مونځ په يخ

وخت کې کوئ (يعني د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کې بالصلوة راغلې او د ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت کې

فَإِنَّ شِدَّةَ الْحَرِّ مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ

بالظهر راغلې او په دې روايت کې دا الفاظ هم دي) ځکه چې د ګرمئ سختوالی د دوزخ د دهوپ او برأس

وَاشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا فَقَالَتْ رَبِّ أَكَلَ بَعْضِيْ بَعْضًا

نه دی او د دوزخ اور خپل رب ته شکايت کړې وو : ای ربه زما ! بعضې شغلې بعضې شغلو لره خوري نو

فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَ نَفَسٍ فِي الصَّيْفِ

الله تعالى ده ته د دوو سا ګانو اجازت ورکړو نو يوه ساه په ګرمئ کې اخلي او يوه ساه په ژمي کې اخلي ،

أَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ وَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الزَّمْهَرِيْرِ .مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَفِيْ رِوَايَةٍ

په ګرمئ کې چې کوم وخت تاته ډيره ګرمي معلوميږي ، او په ژمي کې چې کوم وخت تاته ډيره يخني

معلوميږي (نو د دې سبب هم دا دی چې يوه ساه په ګرمئ کې او يوه په ژمي کې اخلي) ، او په يو روايت

لِلْبُخَارِيِّ فَأَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْحَرِّ فَمِنْ

د بخاري کې دي چې : کوم وخت تاسو د ګرمئ سختوالي د لمر په دهوپ کې محسوسوي نو د دې سبب

سَمُوْمِهَا وَ أَشَدُّ مَا تَجِدُوْنَ مِنَ الْبَرْدِ فَمِنْ زَمْهَرِيْرِهَا.(۱)

د دوزخ ګرمه ساه ده او چې کوم وخت تاسو د يخنئ احساس کوئ نو دا د دوزخ يخه ساه ده .

توضيح : من فيح جهنم : فيح دوپ او براس ته ويلى شي په لمر کې د رابنکلو قوت او مقناطيسي کشش (جاذبيت) وي ځکه دا حرارت خپل طرف ته راکاږي او جمع کوي يې د لمر چې کومه طبقه دوزخ ته نزدې وي هغه طبقه د دوزخ نه حرارت په ډير مقدار سره راکاږي بيا دا حصه کومو علاقو ته ډيره نزدې وي هغه علاقو کې ډيره ګرمي وي او چې د لمر کومه طبقه د دوزخ نه لرې وي په هغې کې حرارت کم وي بيا چې دا طبقه کومو علاقو ته نزدې وي په هغه علاقو کې يخني ډيره وي دا وجه ده چې کوم ملکونه په

---

(۱) أخرجه البخاري ۱۸/۲،رقم الحديث : ۵۳۶، ومسلم ۴۳۱/۱ رقم الحديث:۱۸۵-۶۱۸، وأبو داود ۲۸۴/۱ رقم الحديث:۴۰۲، والنسائي ۲۸۴/۱، رقم الحديث: ۴۰۲ ، والترمذي ۲۹۵/۱ رقم الحديث : ۱۵۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

خط استواءکې واقع وي هلته ګرمي ډیره وي دلمرشعاګانې چې کوم ځای کې دځه څیزسره نه لګیږي هلته حرارت نه ظاهریږي داسې هواګانو کې د ګرمۍ احساس نه کیږي او تنګ ځایونو کې د لمر شعاګانې لګي هلته حرارت ډیر ښکاره کیږي د زمکې نه د لمر فاصله نهه کروړه دیرش لکه میله خودلی کیږي .بهر حال د بخاري په روایت کې دا مضمون راغلی دی چې کوم وخت تاسو د ګرمۍ سختوالې د لمر په دهوپ کې محسوسوئ نو ددې سبب د دوزخ ګرمه ساه ده او چې کوم وخت تاسو د یخنۍ احساس کوئ نو دا د دوزخ یخه ساه ده .

ټول کال کې دوزخ دوه ساه ګانې اخلي :**اشتکت النار** : دوزخ د الله تعالی په مخ کې شکایت وکړو زما بعضې شغلې بعضې نورې شغلو لره خوري مطلب دا چې د اور ډیر والی او د هغې حرارت دومره سخت او تیز دی چې دا شغلې یو بل کې ګډې وډې شي او یو بل فنا(ختمولو)کولو باندې راکوزیږي الله تعالی ورته د دوه ساګانو اجازت ورکړو یوه ساه بهر طرف ته وځي نو دننه ګرمي په دنیا کې خوره شي او چې کله ساه دننه راښکي نو په دنیا کې یخني خوره شي .

سوال :دلته دا اشکال پیدا کیږي چې دا خبره په خپل ځای باندې ثابته شوې ده چې د ګرمۍ ډیر والی او کموالې د زمکې د حرکت او د عرض البلد او د نمر د وجې نه دی نو دلته څنګه ویلی شو چې داد دوزخ د دهوپ وجه ده .

جواب : ددې جواب دادی چې یو نظام د اسباب ظاهره دي یو نظام د اسباب باطنه او د غیر ظاهره دي د خلکو نظر په اسباب ظاهره باندې دی لیکن د شریعت نظر په اسباب ظاهرو سره په اسباب باطنو باندې هم لګي دلته شریعت د نمر هغه پټ علت او سبب ذکر کړی دی چې د دوزخ دوپ او حرارت دې باقي د دوزخ شکایت د خپلې ژبې د حال مطابق وي چې کوم انداز کې تعبیر وشي دغه به د هغې ژبه وي . د ابراد دا حکم په ډیرو احادیثو کې راغلی دی اوصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په دې عمل کړی دی .

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وایي: که یو کس ډیر لرې نه جومات ته راځي او په لاره کې ډیره ګرمي وي نو دداسې کس د پاره په ابراد کې مونځ کول او تاخیر کول جائز دی، او چې کوم خلک په نزدې جوماتونو کې مونځ کوي یا یواځې مونځ کوي ددوي د پاره په تاخیر سره مونځ کول جائز نه دي .(اشعة اللمعات ۲۱۳).

امام ترمذي د ابراد احادیث او په ګرمۍ کې د تاخیر سره د ماسپښین مونځ کول افضل او اولی دی .

﴿۵﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي الْعَصْرَ
د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې : پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د مازیګر مونځ په داسې وخت کې کولو
وَ الشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ حَيَّةٌ فَيَذْهَبُ الذَّاهِبُ إِلَى الْعَوَالِي فَيَأْتِيهِمْ
چې لمر به اوچت اوژوندی ؤ(یعني رڼا)به وه او څوک تلونکي به چې عوالي ته تللو او واپس چې به راتلو

وَ الشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ وَ بَعْضُ الْعَوَالِي مِنَ الْمَدِينَةِ عَلَى أَرْبَعَة أَمْيَال أَو نَحْوَه (متفق عليه).(١)

نولمربه اوچت ولاړؤ اوبعضې عوالي دمدينې نه په څلورميله يادڅلورميله نه زياتې فاصلې باندې وې

توضيح: العوالي: عوالي جمع د عالية ده مسجد قباء طرف ته د مدينې ښار نه بهر چې کوم اوچت کلي دي هغې ته عوالي ويلى شي، مسجد بنو قريظه علاقه په عوالي کې داخل ده.

و بعض العوالي: شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ په لمعات کې ليکي چې داکلام ديو راوي طرف نه جوړشوى.

(قال الشيخ في اللمعات: و اين قول زهري است كه راوي از انس است، ٣١٤).

اونحوه: په دې کې د مذکر ضمير مقدار طرف ته راجع کيږي ځکه يې مذکر راوړى دى ددې حديث نه دا معلومه شوه چې د مازيګر مونځ زر کړى شوى دى ليکن ددې دومره زر والې نه معلوميږي کوم چې غير مقلد او شوافع حضرات د مازيګر مونځ کوي. د هغوي مونځ د ورځې په څلورمه حصه کې کيږي دلته په حديث کې اجمال دى معلوم نه دى چې عوالي پيدل وو، يا په سورلئ باندې وو يا عوالي کمزوري وو يا مضبوط وو او دا معلوم هم نه دى چې دا کس د عوالي په کوم طرف تللو يا دوه ميله والا طرف باندې يا دري يا څلور يا اته ميله طرف باندې.

زرزر څلور ټونکي وهل او مونځ کول د منافق کار دى:

﴿٦﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :

د حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل دا (مازيګر مونځ څوک آخروخت

"تِلْكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ: يَجْلِسُ يَرْقُبُ الشَّمْسَ حَتَّى إِذَا اصْفَرَّتْ وَ كَانَتْ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ

کې کوي) د منافق مونځ دى چې هغه ناست وي او لمر ته ګوري چې کله لمر زيړ شي او د شيطان دوو ښکرو

قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعًا لَا يَذْكُرُ اللهَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا" (٢).

مينځ کې شي نو هغه اودريږي او زرزر څلور ټونکي ووهي او په دغه مونځ کې د الله ذکر هم لږ وکړي.

توضيح: تلک: دا اشاره ذهنيه ده او ددې نه د مازيګر هغه مونځ مراد دى چې په دې کې د مکروه وخت

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٢٨/٢،رقم الحديث : ٥٥٠، ومسلم في الصحيح ٤٣٣/١ رقم الحديث:١٩٢-٦٢١، وأبو داود ٢٨٥/١ رقم الحديث :٤٠٤، والنسائي ٢٥٢/١، رقم الحديث: ٥٠٧ ،وابن ماجة ٢٢٣/١، رقم الحديث:٦٨٢.

(٢) أخرجه مسلم في الصحيح ٤٣٤/١ رقم الحديث:١٩٥-٦٢٢، وأبو داود ٢٨٨/١ رقم الحديث :٤١٣، والنسائي ٢٥٤/١، رقم الحديث: ٥١١ ، والترمذي ٣٠١/١ رقم الحديث : ١٦٠ .

Maktaba Tul Ishaat.com

پوري بغير د څه شرعي عذر تاخير وكړي شي.

المنافق : يا خو ددې نه حقيقي منافق مراد دی نودا دده د مونځ نقشه ده ځكه چې دالله درضا دپاره مونځ نه كوي بلكې د ښودنې د پاره مونځ كوي ځكه چې په دې كې د اركانو برابر والی او د مستحب وخت لحاظ نه وي، همدارنګې په دې كې ذكرالله تعالى كم وي(اشعة اللمعات ۳۱۴، مرقات ۲/۳۰۰) ګويا دمنافق مونځ دظاهري اركانوپه اعتبارسره هم ناقص دی اوباطني اذكاروپه لحاظ سره هم ناقص دي دمنافقينوپه باره كې اعلان دی **لايذكرون الله الاقليلا**، تونګي وهلو مطلب دادی چې منافق دښودلو دپاره زرزر مونځ كوي اوپه تيزئ سره په زمكه سجدې كوي ګويا دچرګې په شان دزمكې نه دانې خوري.

سوال : دلته سوال پيدا كيږي چې په څلورركعاتو كې اته سجدې دي دلته دڅلورو سجدو ذكر ولې وشو ؟

جواب : دادی چې كله منافق داولنی سجدې نه صحيح طريقې سره سر اوچت نه كړو نو ګويا چې په څلور ركعاتو كې څلورتونګي ووهلې يا دادسفرمونځ خبره ده په دې كې دوه ركعته وي يادهغه وخت خبره ده چې كوم وخت كې دمازيګر دوه ركعته وواولنی جواب راجح اوواضح دی، بل دمازيګر مونځ خاص والی ددې وجې نه وشو چې دامونځ نهايت اهم دی اودصلوة وسطى دی ددې لوي فضيلت اوشان دی كوم كس چې په دې كې كوتاهي كوي هغه نهايت بدحركت كوي اګرچې نورومونځونو كې هم دغه رنګ تيزي كول غلط كار دی. شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ وايي چې په دې حديث كې د حقيقي منافق په ځای عملي منافق هم مراد اخستلی شي چې كله مراد عملي منافق شي نو بيا دغه منافق د مونځ كولو په صفت باندې وګرځولی شي، علامه مظهري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي كه يو كس د مازيګر مونځ د لمر اصفرار(زيړوالي) پورې وروسته كړو نو ده ځان منافق ظاهر كړو ځكه په مسلمانانو باندې لازم دی چې ځان د منافق د مشابهت نه وساتي د افغانستان او د كوئټې مسلمانان په دې حكم كې ډير كوتاهي كوي. (اشعة اللمعات ۳۱۴).

چا چې مونځ پريښودو دهغه كورورانو تباه شو :

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «الَّذِيْ تَفُوتُهُ صَلَاةُ الْعَصْرِ
د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: چا چې د مازيګر مونځ قضاء كړو
فَكَأَنَّمَا وُتِرَ أَهْلَهُ وَ مَالَهُ ». (متفق عليه)[1]
ګويا چې دده مال او اولاد ټول لوټ كړی شو.

(۱) أخرجه البخاري ۲/۳۰،رقم الحديث : ۵۲۲، ومسلم ۱/۴۳۵ رقم الحديث:۲۰۰-۶۲۶، وأبو داود ۱/۲۹۰ رقم الحديث :۴۱۴، والنسائي ۱/۲۳۷، رقم الحديث: ۴۷۸ .

توضيح : **وتر اهله** : وتر هلاک کيدو او غټ نقصان ته ويلي شي دا ماده د **ضرب يضرب** نه راځي د حديث مطلب دا شو چې د ناراستئ د وجې نه چا د مازيګر مونځ قضاء کړو دا دومره لويه حادثه او مصيبت دی ګويا د کور ټول اولاد او مال يې تباه شو ، دغه رنګ هر يو کس خپله ښځه او بچي او مال او سامان د لوي حادثې نه هر وخت خپل ځان بچ کوي په کار ده چې د مونځ قضاء کيدو نه هم ځان بچ کړي د مازيګر مونځ تخصيص وجه ددې نور هم فضيلت دي ورنه دا حکم د نورو مونځونو متعلق دی ، بعضې احاديثو کې مطلق الفاظ راغلي دي: **من ترک صلوة مکتوبة حتی تفوته** ، يا داسې **من فاته الصلاة فکانما وتر اهله (کذا في اللمعات)**

ددې نه معلومه شوه چې دا وعيد د ټولو مونځونو په باره کې دی دا هلاکت په دريو مرحلو کې کيدې شي که چيرته د وخت پوره مونځ پريخودلی شي دا پوره او مکمل هلاکت دی .که په وخت مکروه کې يې وکړو دا دويم هلاکت دی او که جماعت يې پريښود لو دا دريمې درجې هلاکت دی په دريو اړو هلاکتونو کې د مونځ پريخودونکی به څه ناڅه داخل وي . (اشعة اللمعات ۳۱۴ ،مرقات ۲/۳۰۱).

﴿۸﴾ وَ عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: " مَنْ تَرَكَ
د حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : چا چې پريښود و د
صَلَاةَ الْعَصْرِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُه. (۱)
مازيګر مونځ دده ټول نيک اعمال تباه شو .

توضيح : **فقد حبط عمله** : **حبط** د **سمع** او **ضرب** دواړو نه راځي د عمل ضائع او باطل کيدو ته ويلی شي دلته حکم په سخت والي او زجر او تنبيه باندې مبني دی ځکه چې د مسلمان ټول عمل مرتد کيدو نه پس باطل کيږي د کبيره ګناه دوجې داسې نه کيږي، داهل السنة والجماعة مسلک دی. دخوارجو او معتزلو په نزد کبيره ګناه کولو سره د سړي ټول نيک اعمال ضائع کيږي ددې حديث نه خوارج او معتزله استدلال کوي. اهل السنة والجماعة داحديث په تشديداوسخت والې باندې حمل کوي ترڅوچې دنورو نصوصو سره يې تعارض رانه شي يا د همدغې ورځ اعمال مراد دي چې د کومې ورځې يې د مازيګر مونځ پريخی دی او د مونځ پريښودل د انکار او د استحقاق د وجې نه وي نو دا کس مرتد شو او دده ټول اعمال تباه شول .(المرقات ۲/۲۰۲ ،اشعة اللمعات ۳۱۵ ،الکاشف ۲/۲۰۰).

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۳۱،رقم الحديث : ۵۵۳، والنسائي ۱/۲۳۶، رقم الحديث: ٤٧٤ ، وابن ماجة ۱/۲۲۷، رقم الحديث: ٦٩٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹﴾ وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ: كُنَّا نُصَلِّي الْمَغْرِبَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

د حضرت رافع بن خديج نه روايت دی فرمايي: مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د مابنام مونځ په داسې وخت کې

فَيَنْصَرِفُ أَحَدُنَا وَ إِنَّهُ لَيُبْصِرُ مَوَاقِعَ نَبْلِهِ". (متفق عليه)(۱)

کولو چې د مونځ نه د فارغيدو نه پس به چا د خپل غشي پريوتو ځای ليدلو.

توضيح: **مواقع نبله**: يعنې چې کله به د مابنام مونځ نه فارغ شو او بهر ته به راووتلو او يو چا به چې کوم طرف ته غشی ويشتلو نو غشی چې به کوم ځای لګيدو هغه ځای به د رڼا د وجې نه ښکاره کيدو.
ټول ائمه په دې باندې متفق دي چې د مابنام مونځ په اول وخت کې کول مستحب دی، البته د احنافو په نزد د مابنام مونځ وخت کې وسعت دی او د شوافعو په نزد د مابنام مونځ کې تنګوالې دی، تفصيل يې مخکې تير شوی دی. (مرقات ۲/۳۰۲، الکاشف ۲/۲۰۱).

﴿۱۰﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانُوْا يُصَلُّونَ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی فرمايي چې: پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ او صحابه کرامو به مونځ کولو د

الْعَتَمَةَ فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَغِيبَ الشَّفَقُ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ الْأَوَّلِ. (۲)

ماخوستن د شفق ورکيدو نه پس تر اولې دريمې حصې د شپې پورې.

توضيح: **العتمة**: د اسلام نه مخکې په جاهليت کې ماخوستن ته به عربو **عتمه** ويله، نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ددې لفظ نه منع فرمايلي ده حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا نوم کيدی شي ددې د وجې ذکر کړی وي چې تاسو ته اوسه پورې معلومه نه شوه چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ددې نه منع فرمايلې ده.
د حديث مطلب دادی چې اولنی شفق ختميدو سره د ماخوستن مونځ کيږي د شپې دريمې حصې پورې مستحب وخت دی او د نيمې شپې پورې جائز وخت دی او بيا د سحر پورې تاخير کول جائز دی سره د کراهت نه. (مرقات ۲۰۲-۲/۲۰۳، اشعة اللمعات ۳۱۵).

﴿۱۱﴾ وَ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لَيُصَلِّي الصُّبْحَ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې کله د سحر مونځ کولو نه فارغ شو

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۴۰، رقم الحديث: ۵۵۹، ومسلم ۱/۴۴۱ رقم الحديث: ۲۱۷-۶۳۷، وابن ماجة ۱/۲۲۴، رقم الحديث: ۶۸۷.
(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۴۷، رقم الحديث: ۸۶۴.

فَتَنْصَرِفُ	النِّسَاءُ	مُتَلَفِّعَاتٌ	بِمُرُوطِهِنَّ
نو هغه ښځې چې د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سره به يو ځای مونځ کولو نو په ځادرو کې به پټې واپس راتلې نو			
مَا يُعْرَفْنَ مِنَ الْغَلَسِ . (متفق عليه)(۱)			
د تيارې د وجې نه به څوک نه پيژندل کيدې.			

توضيح : **متلفعات** : **تلفع** د بدن او مخ په ځادر باندې پټولو په معنى راځي .(مرقات ۲/۳۰۳،اشعة اللمعات ۳۱۵، الكاشف ۲/۲۰۲).

بمروطهن :**مروط** جمع د **مرط** ده وړې يا ريښمي ځادر ته ويلى شي مطلب دادى چې كه چيرته زنانه په ځادرو كې پټې نه وي نو په تيارو كې به پيژندل كيدې دغه شان به دا **تلفع** د **غلس** د پاره قيد او شرط وګرځي. (**كذا في اللمعات**)

سوال : دلته دا سوال پيدا كيږي چې د حضرت ابو برزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت كې راغلي دي چې كله به پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام د مونځ نه فارغ شو نو سړي به خپل ملګري لره پيژندلو او دلته په حديث كې دي چې ښځې به نه پيژندل كيدې دا تعارض دى .

جواب : ددې جواب لمعات كې دا وركړى شوى دى چې د ابو برزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حديث تعلق نزدې سره دى سړي خپل ځان سره ناست كس پيژندلو او ددې حديث تعلق د لرې سره دى ، د لرې نه ښځې نه پيژندل كيږي نو هيڅ تعارض نشته دى .

﴿۱۳﴾ وَعَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ : أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ زَيْدَ بْنَ ثَابِتٍ
حضرت قتادة د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كړى چې : نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام او زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ
تَسَحَّرَا فَلَمَّا فَرَغَا مِنْ سَحُورِهِمَا قَامَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصَّلَاةِ فَصَلَّى
(روژه نيولو د پاره) پيشمنى وكړو د پيشمنى نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَام د مونځ د پاره اودريدو او مونځ يې وكړو
قُلْنَا لِأَنَسٍ : كَمْ كَانَ بَيْنَ فَرَاغِهِمَا مِنْ سَحُورِهِمَا
(قتاده وايي) مونږ د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وكړه د هغوي دواړو د پيشمنې نه د فارغيدو نه پس

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳٤۹،رقم الحديث :۸٦۷، ومسلم في الصحيح ۱/٤٤٦ رقم الحديث:۲۳۲-٦٤٥، وأبو داود ۱/۲۹۳ رقم الحديث :٤۲۳، والترمذي ۱/۲۸۷ رقم الحديث :۱٥۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ دُخُولِهِمَا فِي الصَّلَاةِ ؟ قَالَ : قَدْرُ
اومونځ شروع کيدو په مينځ کې څومره وخت وو ؟حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې دومره وخت وخت وو
مَا يَقْرَأُ الرَّجُلُ خَمْسِينَ آيَةً . (۱)
چې يو کس په کې پنځوس (۵۰) درميانه ايتونه ولولي.

توضيح : **خمسين آية** : يعني پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د پيشممي نه د فارغيدو نه پس د صبح صادق پورې مونځ کې پنځوس (۵۰) درميانه آيتونو په اندازه به يې وخت تيرولو ، صاحب مشكوة ددې حديث مبارک نه د سحر د مونځ غلس (تياره) کې کول ثابتوي صاحب لمعات وايي : ددې نه غلس نه ثابتيږي دا يوه اندازه ده او د ايتونو د لوستلو انداز مختلف کيدی شي بيا جومات ته تلل او د سحر دوه رکعته سنت کول او د ايتونو واړه او اوږدېدل دا هغه احتمالات دی .چې ددې په موجودګئ کې ددغه وخت مقدار معلومول مشکل دي همدا وجه ده چې علامه تورپشتي رَحِمَهُ اللهُ ليکلي دي چې دلته د وخت کومه اندازه بيان ده ، خلکو ته په دې عمل کول جائز نه دي ځکه چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په ديني احکاماتو کې دهرقسم غلطی نه محفوظ دی او نور خلک محفوظ نه دي .(اشعة اللمعات ۳۱۶، مرقات ۲/۳۰۴)

ډير بد حکمران هغه دی چې په مونځونو کې سُستي کوي :

﴿۱۳﴾ وَ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ : قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: " كَيْفَ أَنْتَ
د حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې (يوځل) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته وفرمايل: هغه وخت به تاسو څه
إِذَا كَانَتْ عَلَيْكَ أُمَرَاءُ يُمِيتُونَ الصَّلَاةَ أَوْ قَالَ : يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَنْ وَقْتِهَا؟
کوئ چې کله ستاسو حکمران د وخت مختاره سره دوکه وکړي يا د هغې نه تاخير وکړي او مونځ وکړي
قُلْتُ : فَمَا تَأْمُرُنِي ؟ قَالَ : " صَلِّ الصَّلَاةَ
ماعرض وکړو اسې وخت دپاره به ماته تاسو څه حکم کوئ پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: ته مونځ کوه په خپل
لِوَقْتِهَا فَإِنْ أَدْرَكْتَهَا مَعَهُمْ فَصَلِّ فَإِنَّهَا لَكَ نَافِلَةٌ (۲).
وخت او که دهغوي سره وخت ملاؤ شو نو دهغوي سره هم مونځ وکړه دغه مونځ به ستا دپاره نفل شي .

(۱) أخرجه البخاري ۲/۵٤،رقم الحديث :۵۷۶، ومسلم ۳/۱۷۰.

(۲) أخرجه مسلم ۱/٤٤۸ رقم الحديث:۲۳۸-٦٤۸، وأبو داود ۱/۲۹۹ رقم الجديث :٤۳۱، والنسائي ۲/۱۱۳، رقم الحديث:۸۵۹ ، والترمذي ۱/۳۲۲ رقم الحديث : ۱۷٦۰ ، وابن ماجة ۱/۳۹۸، رقم الحديث: ۱۲۵٦.

توضيح : كيف انت :يعني هغه وخت به ستا څه حالت وي او يا به څه كوئ ؟(المرقات ۲/۳۰۴، اشعة اللمعات ۳۱٦).

عليك الامراء:يعني چې په تاسو داسې حكمران مقرر شي اوحاكم وي دهغه تاسومخالفت نه شئ كولى(المرقات ۲/۳۰۴، اشعة اللمعات ۳۱٦).

شارحين ليكي : ددغې امراو نه مراد د بنو اميه بعضې حكمرانان دي او دا اولنى حكمران وو چې د مونځ واجبات او سنتو او تعديل اركانو د وختونو وغيره كې يې سُستي شروع كړه (**كذا في اللمعات**) سفر السعادة كې ليكلي دي چې د ټولو نه اولني مونځ په قومه او جلسه كې سستي د بنواميه حكمران كړې ده ، د حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفات په ۳۲هـ كې شوې وو .

ويؤخرون الصلوة : يعني هغه خلك به مونځ كې تاخير كوي او كه تاسو د هغوي سره مونځ كوئ نو د افضل وخت نه به محرومه شئ او كه ځانله مونځ كوئ نو ددوي د طرف نه به د تكليف ويره وي او د جماعت نه د پاتې كيدو وعده هم ده دا پيغمبر د راتلونكو واقعاتو د پاره پيشنګوئي كړې ده مطلب دا نه دى چې ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به خامخا داسې حكمرانان مومي دلته حديث كې "او" لفظ د شك د پاره دى راوي ته شك شوې وو چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ يميتون لفظ استعمال فرمايلى وو يا يؤخرون لفظ وو او دا ممكن هم دى چې دا او د تنويع د پاره دى نو د اولني لفظ مطلب به داشي چې مونځ به بالكل وهي يعني دوخت جوازنه په خارج وخت كې به يې كوي او د دويم لفظ مطلب دادى چې په مونځ كې به تاخير كوي. (المرقات ۳۰۴-۲/۳۰۵، اشعة اللمعات ۳۱٦).

فما تأمرني : حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د خپل مونځ فكر شو او پوښتنه يې وكړه چې زمونږ د پاره څه حكم دى پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې خپل مونځ ځان ته په مستحب وخت كې كوئ او كه د هغوي سره د مونځ موقع ملاؤ شوه نو هغه به ستاسو د پاره نفل شي .تاسو ته به د وخت فضيلت هم ملاؤ شي او جماعت نه به محرومه هم نه شئ ددې حديث نه دا خبره معلومه شوه كه چيرته امام مونځ مكروه وخت پورې وروسته كوي نو مقتديان دې په افضل وخت كې مونځ ځان ته ادا كړي ، علماء ليكي : د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې فرمان مصداق د ماسپښين او ماخوستن دى ځكه چې د مازيګر او د سحر نه پس نفل منع دي ، همدارنګې د مابنام مونځ دري ركعاته دى او دري ركعاته نفل جائز نه دي ليكن شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ وغيره شارحين فرمايي پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د ټولو مونځونو دا حكم وركوي چې كوئ ځكه چې په نه كولو كې فتنه او د فساد د پيدا كيدو خطره ده لهذا ارتكاب د كراهت ددې نه بهتر دى چې فتنه واقع نه شي ، حالانكه د مجبورى په وخت كې اضطراري طور باندې مونځ كولو سره كراهت ختميږي دا مفهوم

Maktaba Tul Ishaat.com

واضح دی اګر چې اجتهادي مسلک په خپل ځای دی ددې تفصيل مخکې راځي . (المرقات ۲/۳۰۵، اشعة اللمعات ۳۱٦).

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي د مابنام مونځ هم کوئ مګر څلور رکعاته جوړ کړئ امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په مؤطا کې **الا الفجر و المغرب** د استثناء والا حديث راغلی . **يميتون** جملې متعلق دا بحث دی ايا ددې نه دا مراد دی چې خلک مونځ د خپل جائز وخت نه مؤخر کړي او خارج وخت کې يې وکړي يا د مستحب وخت نه يې مؤخر کړي .

امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې دلته د مستحب وخت نه تاخير کول مراد دی ظالم حکمرانان مونځ په تاخير سره کولو او اوس مونځ نه کوي ليکن علامه ابن حجر عسقلاني رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي : چې دلته خارج وخت کې مونځ کول مراد دي اولنی خبره ډيره واضحه او راجحه ده .دلته اوس يو فقهي مسئلې کې اختلاف دی هغه دا چې که يو کس د عذر يا مجبوری يا د غلط فهمی د وجې نه په کور کې مونځ وکړي او بيا يې په جومات کې جماعت وليدو نو دا به څه کوي ؟ د حديث ظاهري الفاظ دادي چې په جماعت کې دې شريک شي.

اوس د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد ټولو مونځونو کې شريک کيدای شي او د مابنام مونځ کې دې يو رکعات زيات کړي چې څلور رکعاته شي ليکن احناف او فقهاء وايي دا کس د ماسپښين او ماخوستن مونځ کې شريک کيدی شي خو د مابنام ، مازيګر او سحر کې نه شي شريکيدی ، ددې متعلق په صحيح احاديثو کې ممانعت راغلی او مابنام دري رکعاته نفل په شريعت کې منقول نه دي او ډير يا کم کولو سره د امام مخالفت راځي دا جائز نه دی ، احناف فرمايي : امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ مؤطاء کې ددې حديث په ضمن کې يوه جمله نقل کړې ده .

الا الفجر و المغرب : بهر حال مخکې د شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ تشريح ياد ساتل په کار دی بعضې علماو د **نافلة** لفظ معنی په مزيد او اضافي سره اخيستې ده .

دنمر دراختو او پريوتو په وخت کې مونځ کول څنګه دی ؟

﴿۱٤﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «مَنْ أَدْرَكَ
د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه راويت دی وايی چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل : چاچې وموندلو يو
رَكْعَةً مِنَ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الصُّبْحَ . وَ مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الْعَصْرِ
رکعت د سحر د لمر راختو نه مخکې نو ده د سحر مونځ وموندلو او چا چې وموندلو يو رکعت د مازيګر

قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَقَدْ أَدْرَكَ الْعَصْرَ » .(متفق عليه)(۱)

مخكې دلمرپريوتونه ګويادە دمازيګرمونځ وموندو(يعنې دده مونځ به نه ضائع کيږي).

توضيح : فقد ادرک الصبح : ددې حديث دوه اجزاء دي : د يو جزء تعلق د سحر مونځ سره دی او د دويم جزءتعلق د مازيګر مونځ سره دی،ددې حديث يوظاهري مفهوم دی چې په دې باندې دامت نه يوامتي هم عمل نه دی کړی هغه مفهوم مراد نه دی ، هغه مفهوم داسې دی چې که چيرته يو کس د سحر او مازيګر مونځونو کې يو يو رکعت وموميي نو ده مکمل مونځ وموندو ، ګويا ددغه وخت يو رکعت مکمل مونځ وو، دويم مفهوم يې دادی چې که يو کس ته د سحر او مازيګر يو رکعت ملاؤ شي نو دويم رکعت د وخت د وتو نه پس مثلاً نمر ختو په وخت کې يا د نمر پريوتو په وخت کې وکړي نو دا دې خيل مونځ پوره کړي .مطلب دادی چې يو کس د مازيګر يا د سحر د مونځ د پاره آخري وخت کې اودريدو او يو رکعت يې وکړو چې نمر راوختو يا د مازيګر په وخت کې نمر پريوتو ددې حديث په بناء سره دواړه مونځونه صحيح شول هغه کس د نمر راختو او پريوتو په وخت کې خپل مونځ پوره کولې شي اوس په دې کې د فقهاو اختلاف دی . (اشعة اللمعات ۳۱٦-۳۱۷، المرقات ۳۰۵-۲/۳۰٦).

د فقهاو اختلاف :امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَااللَّهُ فرمايي دسحر او مازيګر د دواړو وختونو يو حکم دی دمونځ شروع کيدو نه پس که چيرته نمر راختل يا پريوتل وشي نو دادې خپل مونځ مکمل کړي مونځ يې صحيح دی.اکثر احناف فرمايي : که دغه رنګ واقعه(خبره) د مازيګر په وخت کې راغله نو مونځ صحيح دی ليکن دسحرپه وخت کې مونځ فاسديږي ګويااحناف دسحراومازيګرمونځ کې فرق کوي دغه فرق کولوسره غيرمقلدينو ډيرشورجوړکړې دی چې تاسوپه نيم حديث باندې عمل کوئ اودويمه حصه نه قبلوئ بلکې قياس قبلوئ اوجمهورهم شکايت کوي چې دافرق مناسب نه دی . (اشعة اللمعات ۳۱٦، المرقات ۲/۳۰۵).

په سحر او مازيګر کې د فرق وجه : احناف علماء فرمايي چې د مونځ د پاره سبب مطلق وقت دی اوس مازيګرکې هغه جزءچې دمونځ سره متصل دی دغه جزءدمونځ دپاره سبب جوړشواودغه وخت ناقص دی چې کله د مونځ واجب کيدل ناقص شو که ددې ادا کيدل هم ناقص شي نو هيڅ پروا نشته ددې برعکس د سحرمونځ وخت کې يو جزء هم ناقص نشته که يو کس د لمر راختو وخت کې مونځ کوي دا ناقص وخت دی لهذا کامل واجب ناقص طور باندې ادا کيږي ددې وجې نه دا ادا کيدل صحيح نه دی.

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/٥٦،رقم الحديث : ٥٧٩، ومسلم ۱/٤۲٤ رقم الحديث:۱٦۳-۲۰۸، وأبو داود ۱/۲۸۸ رقم الحديث :٤۱۲، والنسائي ۱/۲٥۷، رقم الحديث: ٥۱۷ .

Maktaba Tul Ishaat.com

اعتراض : احناف ائمو باندې دا اعتراض دی چې دا خو قیاس دی او د نص صریح په مقابله کې قیاس راوړل ضروري او جائز نه دي لهذا سحر او مازیګر کې فرق ضروري نه دی .

جواب: اصل حقیقت دادی چې په مکروه وختونو کې د نهي عن الصلاة چې څومره احادیث په کثرت سره وارد دي دا حدیث د هغې سره متعارض دی د متن او سند او قوت په اعتبار سره ټول احادیث صحیح دي ځکه ابن الهمام او علامه صدر الشریعة فرمایي : د اصول فقه قواعد مطابق دغه تعارض ختمولو د پاره او احادیثو کې د تطبیق پیدا کیدو د پاره قیاس طرف ته رجوع کول په کار دی چې د قیاس په وجه یو طرف ته ترجیح ورکړی شي (المرقات ۲/۳۰۵).

نو قیاس دا فیصله وکړه چې د سحر وخت کامل دی نو واجب کامل دی نو ددې ادا ناقص وخت کې جائز نه ده نو مونږ به فاسد شي او د مازیګر په وخت ناقص کې مونږ واجب شوې دی لهذا ناقص ادا سره مونږ به صحیح شي نو احناف د قیاس په ذریعې سره **العیاذ بالله** حدیث رد کړی نه دی بلکې متعارض روایاتو کې تطبیق پیدا کولو د پاره یو له په بل باندې ترجیح ورکړې ده نو سحر کې فساد صلوة ته ترجیح ورکړې او مازیګر کې صحت صلوة ته ترجیح ورکړې دا یو تاویل او ترجیح ده او دا حدیث په خپل ظاهر باندې محمول نه دی ټولو تاویل کړی دی او اجتهادي عمل یې په کار راوستی دی او د حدیث د محمل په تعیین کې ټولو کوشش کړې دی چا باندې هم الزام لګول مناسب نه دي چې هغه زما توجیه نه ده قبوله کړې او اجتهاد ولې کوي.

د مذکوره حدیث محمل : امام بیهقي رَحِمَهُ اللَّهُ دا روایت داسې نقل کړې دی : **من ادرک من الصبح رکعة قبل ان تطلع الشمس و رکعة بعد ما تطلع الشمس فقد ادرک الصلوة** .امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ په خپل کتاب کې داسې نقل کړی دی: **من ادرک من العصر رکعة فلیتم صلوته** .دا خبره واضحه ده چې زیر بحث حدیث په ظاهر باندې محمول نه دی ټولو تاویل کړی دی د سحر او مازیګر مونږ د هیچا په نزد هم یو رکعت نه دی ، جمهورو دا مخمل خودلی چې په وخت کې دننه یو رکعت تعلق د معذورو کسانو د پاره دی مثلاً یوه ښځه حائضه ده او مازیګر یا سحر په اخري وخت کې پاکه شوه صرف تکبیر تحریمه د ویلو وخت ورته ملاؤ شو نو ده باندې دا مونږ فرض دی یا نابالغ ماشوم په آخري وخت کې بالغ شو یا کافر په دغه وخت کې مسلمان شو یا لیونی سړی په دغه وخت کې عقلمند شو ، یا بې هوشه کس په آخري وخت کې په هوش کې راغلو په دې خلکو مونږ فرض شو ، اوس یو رکعت یا یو تحریمه یې په اصل وخت کې ادا کړو او دویم رکعت دویم وخت کې یعنې د نمر راختو یا پریوتو نه پس ادا کړي سحر مونږ هم صحیح او د مازیګر مونږ هم صحیح دی .د احنافو نه امام طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ هم ددې حدیث د امحمل بیان کړی دی،شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ په لمعات کې په دې رد کړی دی چې په نورو روایاتو کې :

من ادرک من الصبح قبل ان تطلع الشمس و رکعة بعد ما تطلع الشمس الفاظ راغلي دي دا تاويل هلته نه چليږي ځکه د جمهورو اوطحاوي په دې محمل باندې حديث لګول صحيح نه دي (لمعات ۳۱۷) بعضې علماو دا حديث منسوخ ګرځولی دی او د مکروه وختونو تهول احاديث دې د پاره ناسخ ګرځولی شوي دي دې باندې دا اشکال رائي چې د ناسخ او منسوخ دپاره ضروري دی چې په دې کې تعيين د تاريخ وي چې فلانکی حديث مخکې او فلانکی وروستو دی او دا مؤخر او وروسته حديث ددې د پاره ناسخ دی ، دلته دا څيز موجود نه دی ، بعضې ددې حديث محمل دا ګرځولی دی په مکروه وختونو کې د مونځ ممانعت هغه خلکو د پاره دی چې د هغې عادت دا جوړ شوی دی چې هميشه مکروه وخت کې مونځ کوي، که يو کس داسې وي چې هميشه په پابندئ سره په وخت کې دننه مونځ کوي مګر د مجبورۍ د وجې نه اضطراري طور باندې اتفاقاً مونځ کې تاخير وکړي او ناوخته پاڅي که يو رکعت په وخت کې دننه وکړي او يو رکعت د وخت تيريدو نه پس وکړي خو داد عادت نه دی بلکې خلاف عادت کله نا کله داسې وشي نو دا صورت معاف دی دا خاص حکم دی عامه ضابطه او قاعده نه ده.

﴿۱۵﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «إِذَا أَدْرَكَ أَحَدُكُمْ

دحضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه راويت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: چې کله وموميي يو کس دتاسې

سَجْدَةً مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ وَ إِذَا أَدْرَكَ سَجْدَةً مِنْ

نه يو رکعت د مازيګر د مونځ مخکې د نمر پريوتو نه نو مونځ دې پوره کړي ، او که وموميي يو رکعت د

صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَلْيُتِمَّ صَلَاتَهُ»[1]. رَوَاهُ الْبُخَارِيّ

سحر مخکې د لمر راختو نه نو هغه ته په کار دي چې مونځ پوره کړي.

توضيح : سجدة : علامه خطابي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي سجدې نه مراد صرف سجده نه ده بلکې ددې نه مراد کامل رکعت دی چې په دې کې رکوع او سجده دواړه وي د سجدې اطلاق په رکعت ځکه شوی دی چې سجده د رکعت د تکميل لوي رکن دی يا د قبيلې د تسمية الكل باسم الجزء نه دی. (المرقات ۲/۳۰۶)

قضاء عمري :

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «مَنْ نَسِيَ صَلَاةً

دحضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل: د چانه چې مونځ کول هيرشي

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۷،رقم الحديث :۵۵۶، ومسلم في الصحيح ۱/۴۲۴ رقم الحديث:۱۶۴-۶۰۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَوْ نَامَ عَنْهَا فَكَفَّارَتُهُ أَنْ يُصَلِّيَهَا إِذَا
يا د مونځ په وخت کې (غافله) اوده شي (او مونځ پاتې شي) ددې بدل دادی چې اداء دې کړي کله چې
ذَكَرَهَا » وَ فِيْ رِوَايَةٍ : « لَا كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذٰلِكَ » . (متفق عليه). (۱)
ورته یاد شي، یو روایت کې دا الفاظ دي چې ددې مونځ کولو نه غیر ددې بل بدل نشته.

توضيح : فكفارتها : كفارة لفظ نه دا اندازه ولګيده چې مونځ نه کول او قضاء کول په هر حال کې د ګناه کاردی برابره خبره ده که په غلطی سره وي او که په يري سره وي يا بغير اختياره وي.

ان يصليها: يعنې مونځ د څه وجې نه پاتې شي د هغې کفاره صرف او صرف د مونځ اعاده ده او فوراً کول په کار دي بله څه حيله ددې د پاره نشته، نو ددې نه معلومه شوه چې د قضاء عمری هيڅ اصل نشته دايو بدعت دی چا ايجاد کړی دی دې نه داهم معلومه شوه چې لکه څنګه روژه پاتې شي نو فديه اداکولی شي داسې حکم دمونځ نه دی مونځ دپاره کفاره ولې نشته دی بلکې ددغې مونځ اعاده به کولی شي، بعضې علماو د مونځ د فديې خبره کړې ده چونکې د روژې نه مونځ افضل دی لهذا دغه ځای نه دا قياس کړی دی چې د روژې فديه ده د مونځ هم په کار ده قضاء عمري ځکه غلطه ده چې په دې کې اتحاد مکان هم نشته او اتحاد وخت او مونځ هم نشته بلکې د چا فرض مونځ دی او د چا نفل.

اذا ذكرها : شوافع حضرات فرمايي چې کله هم ياد شي هغه وخت دې وکړي دغه ددې اصل وخت دی برابره خبره ده که مکروه وخت وي يا د مازيګر نه پس يا د سحر نه پس، ائمه احناف فرمايي : ټولو احاديثو کې مکروه وختونو کې د مونځ سخت ممانعت راغلی دی لهذا **اذا ذكرها** کې دا خبره پرته ده چې کله وخت د مونځ د پاره صحيح دی او که د مونځ د پاره صحيح نه وي نو په هغې کې مونځ نه دي کول په کار بلکې د وخت صالح انتظار په کار دی لکه څنګه چې په **ليلة التعريس** کې د سحر پيغمبر انتظار فرمايلی وو ځکه چې د لمر راختو او پريوتو او د زوال وخت **صالح للصلوة** نه دی. امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې په دې دريو منع شوې وختونو کې نفل هم منع دي او که څوک په دې وختونو کې فرض کول غواړي نو جائز دي، احناف فرمايي چې په مکروه وختونو کې کوم ممانعت راغلی دی په دې کې د يو مونځ تخصيص هم نشته لهذا ددې ممانعت تقاضا داده چې په دې وختونو کې د نوافلو په شان د فرض

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۷۰،رقم الحديث :۵۹۷، ومسلم في الصحيح ۱/۴۷۷ رقم الحديث:۳۱۵-۶۸۴، وأبو داود ۱/[illegible] رقم الحديث :۴۴۲، والنسائي ۱/۲۹۳، رقم الحديث: ۶۱۳ ، والترمذي ۱/۳۳۵ رقم الحديث : ۱۷۸.

کولو نه هم ځان ساتل راغلي دي **ليلة التعريس** کې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ فرض د لمر راختو نه مؤخر کړي او بيا يې مونځ کړی دی.

﴿۱۷﴾ وَ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " لَيْسَ فِي النَّوْمِ
د حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل نه دی شمارپه اوده کيدو کې
تَفْرِيطٌ إِنَّمَا التَّفْرِيطُ فِي الْيَقَظَةِ فَإِذَا نَسِيَ أَحَدُكُمْ
د مونځ پاتې کيدل کوتاهي، بلکې کوتاهي په ويخه کې وي، لهذا چې کله هير شو په تاسو کې ديو کس
صَلَاةً أَوْ نَامَ عَنْهَا فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى
نه مونځ يادمونځ په وخت کې غافله اوده شونو مونځ دې وکړي چې کله هم وريادشي ځکه چې الله تعالى
قَالَ : ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِيْ﴾ رَوَاهُ مُسلم[1].
فرمايي : زما د يادولو په وخت کې مونځ کوئ.

الْفَصْل الثَّانِي:

په دريو څيزونو (کارونو) کې تاخير مه کوئ :

﴿۱۸﴾ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ: «يَا عَلِيُّ ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا
حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته وفرمايل: ای علي! درې کارونو کولو کې تاخير مه
الصَّلَاةُ إِذَا أَتَتْ وَ الْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ وَ الْأَيِّمُ
کوه يو مونځ په خپل وخت کې کول دويم جنازه کې تادي کول چې کله تياره شي اودريم دبې خاونده زنانه
إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفُؤًا ». [2]
په نکاح کې تادي کول چې کله يې کفو ملاؤ شي.

توضيح : اذا اتت : دا صيغه د **اتيان** نه ده د راتلو په معنی ده علامه تورپشتي رَحِمَهُ اللهُ وايي: دا صيغه په ټولو نسخو کې داسې ده ليکن په دې کې تحريف شوې دی اصل صيغه د همزې د مد سره **"آنت"** ده چې

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۴۷۲ رقم الحديث: ۳۱۱-۲۸۱، وأبو داود ۱/۳۰۴ رقم الحديث :۴۳۷، والنسائي ۱/۳۳۴، رقم الحديث:۱۷۷ .

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۲۰ رقم الحديث :۱۷۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

د **كالت** په وزن باندې ده ددې معنی ځانته ده يعنې چې کله نزدې کړی شي .(المرقات ۲/۳۰۸، الکاشف ۲/۲۰۷، اشعة اللمعات ۳۱۷).

مطلب دا چې کله مونځ نزدې کړی شي نو کارونه وروستو کول په کار دي **او مونځ مستحب** وخت کې کول په کار دي، ګويا مسلمان ته حکم دی چې خپل کار د **الله تعالي د کارنه** وروستو کړي، ددې عکس مه کوئ ورنه ګناه ده .

والجنازة: يعنې چې کله جنازه حاضره شي بيا ددې په جنازه او تدفين کې تاخير مه کوئ ځکه که د مړي بدن وپرسيږي نورسوائي ده،علامه طيبي شافعي رَحِمَهُ اللهُ د علامه اشرف علي قول نقل کړی دی چې ددې حديث نه معلومه شوه چې دجنازې مونځ په مکروه وختونو کې کول مکروه نه دي خو که چيرته ددې وختونو نه مخکې جنازه راشي نوبيا په کې دغه وخت پورې تاخير مکروه دی اوداد سجدې تلاوت حکم هم دی مازيګر اودسحر نه پس جنازه کول مکروه نه دی اوسجده تلاوت هم مکروه نه دی.

الايم: ايم بې خاونده ښځې ته ويلی شي برابره خبره ده که واده شوې نه وي يا واده شوې وي خو طلاقه شوې وي ، مطلب دادی چې کله جينئ بالغه شي او کفو کې رشته ملاؤ شي بيا ددې په نکاح کې تاخير مه کوئ که نه نو ددې نه به د بد کاری او نورو ګناهونو دروازې خلاصې شي او په معاشره کې به فتنې او فسادونه جوړ شي ، کفو داد کفايت نه دی په معنی د برابر والي ، مطلب دا چې جينئ او هلک په نيو ځو ځيزونو کې برابر وي:(۱) نسب(۲) اسلام(۳) آزادي(۴) ديانت(۵) مال(٦) پيشه .

مسلمانانو ته په کار دي چې د هندوانو د رسمونو د وجې نه د هلک او جينئ په نکاح کې دې تاخير نه کوي ډير غلط اثر او نتيجه به يې وي ، اسلام د سړي په ذمه صرف مهر نکاح لازم کړی دی بل يو ځيز هم لازم نه دی او په ښځه هم يو ځيز لازم نه دی .

په اول وخت کې مونځ کول افضل دی :

﴿۱۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «اَلْوَقْتُ الْأَوَّلُ مِنَ الصَّلَاةِ
د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : مونځ په اول وخت کې کول
رِضْوَانُ اللهِ وَ الْوَقْتُ الْآخِرُ عَفْوُ اللهِ » [1].
د الله تعالی د خوښحالئ سبب دی او په آخري وخت کې کول د الله تعالی د معافئ سبب دی.

توضيح: رضوان الله: يعنې اول وخت مختار کې مونځ کول د الله تعالی د رضامندی حاصلول دي

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۲۱ ، رقم الحديث : ۱۷۲.

مقصد دادی چې په کومو وختونو کې تاخیر کول د یو خاص مقصد د پاره وي هغه ددې نه مستثنی دي ځکه چې ددې د عارضي حالاتو دوجې نه دهغې تاخیر وخت مختار دی مثلاً ګرمئ کې دماسپخین مونځ د ابراد په غرض سره تاخیر افضل دی ، په سحر کې اسفار افضل دی ، همدارنګې د جماعت د کثرت د وجې نه تاخیر افضل دی .

الوقت الآخر : ددې نه مراد مکروه وخت دی مثلاً دمازیګر مونځ کې د **اصفرار شمس**(دلمر دزیړ والي) پورې تاخیر کول مکروه دی اوماسخوتن کې د **نصف اللیل** نه ډیر تاخیر مکروه دی لیکن ددې حدیث مطلب دانه دی چې دې تاخیر سره فرض نه اداکیږي فرض اداشوالبته کراهت به الله تعالی معاف کړي . (المرقات ۲/۳۰۹، اشعة اللمعات ۳۱۸).

د ټولو نه افضل عمل مونځ دی :

﴿۲۰﴾ وَ عَنْ أُمِّ فَرْوَةَ قَالَتْ : سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :

دحضرت ام فروه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی فرمایي چې د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام نه پوښتنه وشوه(دثواب د زیاتیدو

أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: الصَّلَاةُ لِأَوَّلِ وَقْتِهَا [1]

په اعتبار سره) کوم عمل افضل دی پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل : مونځ په خپل اول وخت کې کول .

توضیح : **الصلوة لوقتها** :یعني مستحب او افضل وخت کې مونځ کول د ټولو اعمالو نه افضل عمل دی ، په آحادیثو کې مختلف څیزونو ته افضل عمل ویلی شوی دی ، علماء لیکي : مونځ مطلقاً افضل دی مګر جهاد چې کله فرض عین شي د ایمان نه پس هغه د ټولو نه افضل عمل دی ددې افضلیت تفصیل د توضیحات په اول جلد کې مکمل لیکل شوی (اشعة اللمعات ۳۱۸).

ترمذي دې حدیث ته د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د وجې نه ضعیف ویلي دي لیکن نورحضرات فرمایي چې داحدیث صحیح دی . **کتاب العلم** کې د عبدالله ابن عمر عمري متعلق تفصیل موجود دی ، شیخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې تفصیل ذکر کړی دی . (اشعة اللمعات ۳۱۸).

په اول وخت کې مونځ کول افضل عمل دی :

﴿۲۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: مَا صَلَّى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةً لِوَقْتِهَا الْآخِرِ

دحضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی چې وایي :یو مونځ هم پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام په آخري وخت کې

---

(۱) أخرجه مسند أحمد ٦/٣٧٤،وأخرجه أبوداؤد في السنن ١/٢٩٦ رقم الحديث :٤٢٦،والترمذي في السنن١/٣١٩،رقم الحديث :١٧٠.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَرَّتَيْنِ حَتّٰى قَبَضَهُ اللهُ تَعَالٰى .(۱)
دوه ځله نه دي کړي تر دي پورې چې الله تعالى پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفات کړو.

توضيح: لوقتها الآخر: يعنې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام به اول وخت مختار کې مونځ کولو مکروه وختونو کې به يې نه کولو صرف د جواز د وجې نه يو ځلې چيرته پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام په آخري وخت کې مونځ کړی وو چې د اول او آخري وخت تعين وشي. (المرقات ۲/۳۱۰، اشعة اللمعات ۳۱۸).

شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې ليکي: دا حديث او د حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا کلام د هغه تاخير متعلق دی د کوم نه پس چې اصل وخت نه وي ورنه په وخت جواز کې دننه تاخير خو څوځو ځله شوی دی تبوک کې د سحر مونځ کې تاخير شوی وو چې عبد الرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کړی وو ، همدارنګې ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ځل مونځ کول شروع کړه وروستو پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو، همدارنګې يو ځل نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب کې رب العالمين وليدو نو ماخوستن کې يې تاخير وکړو همدارنګې د امت د تعليم د پاره او د جواز بيانولو د پاره کله نا کله تاخير شوی دی .خلاصه داده چې دلته د تاخير نه مراد د هغه وخت تاخير دی چې ددې نه پس جائز وخت نه پاتې کيږي. (اشعة اللمعات ۳۱۸).

بهر حال د مانښام وخت کې د ټولو فقهاو اتفاق دی چې تعجيل افضل دی.

په مانښام کې د ستورو انتظار کول نه دي په کار:

﴿۲۲﴾ وَ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: " لَا تَزَالُ أُمَّتِي بِخَيْرٍ
د حضرت ابو ايوب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي: زما امت به هيڅ کله د خير نه محروم نه
أَوْ قَالَ: عَلَى الْفِطْرَةِ مَا لَمْ يُؤَخِّرُوا الْمَغْرِبَ
شي او يا يې داوفرمايل چې د فطرت اسلام په طريقه باندې به وي تر څوچې د مانښام مونځ دومره وروسته
إِلَى أَنْ تَشْتَبِكَ النُّجُومُ "(۲).
نکړي چې ستوري رڼا شروع کړي. دا روايت دارمي د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی.

توضيح: تشتبک النجوم: اشتباک د اختلاط په معنی دی مراد د ستورو ګډوالی دی ، ددې حديث نه معلومه شوه چې مانښام صرف د ستورو په نظر راتلو سره وخت نه مکروه کيږي چې کله ستوري ګڼ شي بيا د مانښام وخت باقي نه وي ، شيعه ګان (بيکاره خلک) هغه وخت پورې اذان نه کوي تر څو پورې چې

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۲۸ رقم الحديث :۳۲۸ ، وأخرجه أحمد في مسنده ۶/۹۲.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۲۹۱ رقم الحديث : ٤١٨ .

ستوري ليدلی شوې نه وي ، همدارنګې د حديث مخالفت هم دی او د امت محمدية د متفق اعمالو نه جدا لاره اختيارول دي څنګه چې د هغوي کوشش وي چې په يو شرعي عمل کې هم د مسلمانانو سره يو ځای پاتې نه شي ، **الفطرة** نه د دين اسلام نيغه لار مراد ده . (المرقات ۲/۳۱۱).

﴿۲۳﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْلَا
د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی ، فرمايی چې : پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل : چې که چيرته ما ته د
أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِيْ لَأَمَرْتُهُمْ أَنْ
خپل امت د تکليف ويره نه وي نو هغوي ته به (د واجب کيدو په طريقه باندې) دا حکم ورکړې وي چې
يُؤَخِّرُوا الْعِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نصفه . (۱)
د ماخوستن مونځ د شپې دريمې حصې پورې يا نيمې شپې پورې وروسته کوئ .
﴿۲٤﴾ وَ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " أَعْتِمُوْا
د حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايی چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام وفرمايل تاسو په تاخير سره
بِهٰذِهِ الصَّلَاةِ فَإِنَّكُمْ قَدْ فُضِّلْتُمْ بِهَا عَلَى سَائِرِ الْأُمَمِ
کوئ دغه مونځ (يعنې د ماخوستن مونځ) چې تاسو ته په نورو امتونو باندې د دغه مونځ دوجې فضيلت
وَ لَمْ تُصَلِّهَا أُمَّةٌ قَبْلَكُمْ (رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُد) . (۲)
حاصل دی تاسو نه مخکې چا هم دا مونځ نه دی کړی.

توضيح : اعتموا : ادخلوا هذه الصلوة في العتمة ، عتمه تيارې ته ويلی شي دلته يا صرف تياره مراد ده يا د ثلث الليل نه کنايه ده ددې حديث نه هم د تاخير د ماخوستن پته لګي .

فانكم قد فضلتم : ددې نه معلومه شوه چې د ماخوستن وخت او د ماخوستن مونځ صرف دې امت ته ورکړی شوی دی ددې تفصيل په مواقيت کې تير شوی دی ، بهر حال دې تاخير کې تکثير جماعت هم دی ، د انتظار کولو تکليف په کې هم دی او د ماخوستن اهتمام په کې هم دی دا ټول امور باعث د ثواب

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲/۳۵۰، وأخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۱۰، رقم الحديث : ۱٦۷، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۲۲٦ رقم الحديث: ٦۹۱.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۲۹۲ رقم الحديث :٤۱۹ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۰٦، رقم الحديث : ۱٦۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

دي، دې کې فائده هم ده چې د ناوخت پورې يو مسلمان انتظار کوي او بيا مونځ وکړي ددې نه وروسته بيا فوراً د خوب تياري کوي او د ماخوستن د مونځ نه پس د فضول خبرو نه محفوظ شي او وخت نه ضائع کوي. (اشعة اللمعات ۳۱۹)

﴿۲۵﴾ وَ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ : أَنَا أَعْلَمُ بِوَقْتِ هٰذِهِ الصَّلَاةِ صَلَاةِ

د حضرت نعمان ابن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې : زه ښه پيژنم وخت ددې مونځ يعنې مونځ د

الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهَا لِسُقُوطِ الْقَمَرِ لِثَالِثَةٍ.(۱)

دويم عشاء (ماخوستن) پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ دا مونځ د دريم تاريخ مياشتې پتيدو په وخت کې کولو.

توضيح: العشاء الآخرة: عشاء ته د مابنام د وجې نه دوهم عشاء ويلی شي ځکه چې مابنام ته عشاء اولی ويلی شي.

سقوط القمر : يعنې د دريمې شپې مياشت چې کله پريوځي په دغه وخت کې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د ماخوستن مونځ کولو، دې حديث کې هم د ماخوستن د تاخير طرف ته اشاره ده ځکه چې د دريمې شپې مياشت **ثلث الليل** په وخت کې پريوځي، چې د تجربې نه دا ثابت دی. (اشعة اللمعات ۳۱۹).

﴿۲۶﴾ وَعَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «أَسْفِرُوا بِالْفَجْرِ

د حضرت رافع بن خديج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: د سحر مونځ په رڼا کې

فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَلَيْسَ عِنْدَ النَّسَائِيِّ: «فَإِنَّهُ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ»(۲).

کوئ چې پرڼا کې مونځ کولو باندې ډير ثواب ملاويږي. او نشته د نسائی په روايت کې **فانه اعظم للاجر**

توضيح : ددې حديث متعلق ټول مباحث او اختلافي اقوال مخکې تير شوي دي او اسفار کې چې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ کوم تاويل کړی دی د هغې معقولي جواب مخکې تير شوی دی.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲۹۱/۱ رقم الحديث : ٤١٩ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۳۰٦/۱، رقم الحديث : ١٦٥.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ١٤٢/٤، وأخرجه أبو داود في السنن ۲۹٤/۱ رقم الحديث : ٤٢٤ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲۸۹/۱، رقم الحديث : ١٥٤.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۲۷﴾ عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ قَالَ: «كُنَّا نُصَلِّي الْعَصْرَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ

د حضرت رافع بن خدیج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی، فرمایي: مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د مازیګر مونځ وکړو او

تُنْحَرُ الْجَزُورُ فَتُقْسَمُ عَشْرَ قِسَمٍ ثُمَّ تُطْبَخُ فَنَأْكُلُ لَحْمًا نَضِيجًا قَبْلَ مَغِيبِ الشَّمْسِ»(۱)

اوښان موذبح اوپه لسو حصو موتقسیم کړه بیاموپخه کړه اودلمرپټیدونه مخکې مودغه غوښه وخوړه.

توضیح: **الجزور**: جزور اوښ ته ویلي شي برابره خبره ده که نر وي او که ښځه البته ددې د پاره د مؤنث صیغه استعمالولی شي. (المرقات ۲/۳۱۴، الکاشف ۲/۲۱۱، اشعة اللمعات ۳۲۰).

عشر قسم: دعربو د عادت موافق په اوښ کې لس کسان شریک کیږي بیا غوښه په لسو کسانو تقسیم کړي دلته دا مراد دی.

نضیجاً: یعني مکمل طور باندې پخه غوښه مونږه خوړله ددې حدیث نه په ظاهره دا معلومه شوه چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازیګر مونځ په اول وخت کې یعني مثل اول په راتلو سره کولو د جمهورو او صاحبینو مسلک همدا دی.

او یو قول د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ دا وو په مثل اول باندې د مازیګروخت شروع کیږي بلکې ستامشهورمسلک دادی چې دمازیګروخت مثل ثاني نه شروع کیږي تفصیل یې مخکې ذکر شوی دی او د حضرت رافع بن خدیج ددې روایت محمل دا ویلی شوې دی.

په ماخوستن کې د تاخیر واقعه:

﴿۲۸﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: مَكَثْنَا ذَاتَ لَيْلَةٍ نَنْتَظِرُ

د حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی فرمایي: چې یو شپه مونږ ناست وو چې انتظار مو کولود

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ فَخَرَجَ إِلَيْنَا حِينَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ أَوْ بَعْدَهُ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ماخوستن مونځ د پاره نو تشریف راوړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د شپې دریمې حصه یا ډیره شپه تیریدو

فَلَا نَدْرِي أَشَيْءٌ شَغَلَهُ فِي أَهْلِهِ

نه پس مونږ ته معلومه نه وه چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د کوربه کارکې مشغول ؤ (د عادت مطابق وختي یې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۵/۱۲۸، رقم الحديث: ۲۴۸۵، ومسلم في الصحيح ۱/۴۳۵ رقم الحديث: ۱۹۸-۶۲۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَوْ غَيْرُ ذٰلِكَ فَقَالَ
مونځ ته تشريف رانه وړو) يا ددې نه غير (نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته څه عذر پيښ شوې وُ) نووي فرمايل نبي عَلَيْهِ السَّلَام
حِيْنَ خَرَجَ : « إِنَّكُمْ لَتَنْتَظِرُوْنَ صَلَاةً
چې كله يې تشريف راوړو تاسو انتظار كولو (او تاسو د پاره دا مناسبه هم وه ځكه چې) د مونځ انتظار
مَا يَنْتَظِرُهَا أَهْلُ دِيْنٍ غَيْرُكُمْ وَ لَوْلَا أَنْ يَثْقُلَ عَلٰى أُمَّتِي
نُلاسې خلک كوئ ستاسو نه غير يو دين والا د مونځ انتظار نه دى كړى او كه ما باندې زما امت د تكليف
لَصَلَّيْتُ بِهِمْ هٰذِهِ السَّاعَةَ » ثُمَّ أَمَرَ الْمُؤَذِّنَ
ويره نه وي نو ما به دا مونځ په دې وخت كې كولې ، بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَام آذان كوونكي ته د تكبير حكم وركړو
فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَ صَلّٰى . (رَوَاهُ مُسْلِم) (۱)
هغه تكبير وكړو او نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونځ وكړو .

توضيح : الشئ شغله : ددې تاخير د وجې نه په دې حديث كې ده اونه نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه ويلي دي ، يو بل حديث مشكوة (ص ۷۱) كې دي په هغې كې ذكر دي چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام الله تعالى په خوب كې وليدو . (الكاشف ۲/۲۱۲).

اهل دين غيركم : دا يې ځكه وفرمايل : د ماخوستن مونځ يهوديان او نصارا و باندې يا په بل امت باندې فرض شوى نه وو .

هذه الساعة : يعني دشپې دريمه حصه يا ددې نه هم څه وخت پس د ماخوستن مونځ مؤخر كول لازم والى خو امت باندې د رحمت او شفقت د وجې نه ثلث الليل پورې تاخير لازم نه كړو اگر چې تاخير افضل دى پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام د مبارک عمل نه دا معلومه شوه چې د ماخوستن په وخت كې خلک ټول موجود وو نو مونځ به يې زر كولو او چې خلک به كم وو نو تاخير به يې كولو .

پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام به مونځ كې سپكوالې كول :

﴿۲۹﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ نَحْوًا مِنْ صَلَاتِكُمْ
د حضرت جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى فرمايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَام به ستاسو مونځونو سره نزدې نزدې

(۱) أخرجه مسلم ۱/٤٤٢، رقم الحديث : ٦٣٩-٢٢٠، وأبو داود ۱/۲۹۲ رقم الحديث : ٤٢٠، والنسائي ۱/۲٦۷، رقم الحديث: ٥٣٧.

وَ كَانَ يُؤَخِّرُ الْعَتَمَةَ بَعْدَ صَلَاتِكُمْ شَيْئًا وَ كَانَ يُخَفِّفُ
(وختونو کې) مونځ کوه خو د ماخوستن مونځ به يې ستاسو مونځونونه څه وخت پس کولو او سپکوالې
الصَّلَاةَ .(۱)
به يې کولو په مونځ کې،

توضيح :**العتمة**: عتمة ماخوستن ته ويلى شي د جاهليت په زمانه کې د ماخوستن همدا نوم ؤ پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ بيا ددې نوم داستعمال نه منع وفرمايله اودعشاء نوم يې خورکړلوسوال دادى چې جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دمنع کيدوباوجود لفظ عتمه ولې استعمال کړو؟(المرقات۲/۳۱۵-۳۱۶،اشعة اللمعات ۳۲۲)

ددې جواب دادى چې کيدى شي حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته په دغه وخت کې د منعه والي حديث نه وو رسيدلى ، يا د لفظ د شهرت د وجې نه يا مخامخ خلکو ته د آسانتيا د وجې نه او د مشهورې طريقې د نبودنې د پاره دا لفظ استعمال کړى وو چې په دې کې استمرار نه وو بلکې د يو وخت ضرورت وو .

يخفف : يعنې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په مونځ کې واړه واړه سورتونه لوستل ددې وجې نه به په مونځ کې سپکوالې وو ددې تعلق د هغې سره هم کيږي چې هغه به خلکو ته سپک مونځ کوه او په خپله به يې اوږده مونځونه کول همدارنګې هغه به د مابنام مونځ کې سورة اعراف لوسته ددې وجه داده چې دپيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ په ژبه مبارکه به چې کوم تلاوت راوتلوپه هغې کې به په دې خلکوته خوشحالي ملاويده ددې وجې نه مونځ به يې سپک معلوميدو ، اوس امت ته دا تعليم دى چې په دې حديث کې مذکور دى.دويم حديث کې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وجه هم بيان کړې ده چې بعضې خلک کمزورې وي يعنې بوډاګان ځينې مريضان وي او ځينې ملګرې د کار والا وي لهذا مونځ سپک کوئ .

﴿۳۵﴾ وَ عَنْ أَبِي سَعِيْدٍ قَالَ : صَلَّينا مَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د حضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى فرمايي چې: مونږ يوورځ دنبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سره جمعې ته د
صَلَاةَ الْعَتَمَةِ فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْنَا
ماخوستن مونځ د پاره جومات ته تشريف يوړو (اتفاقا په دغه ورځ) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تشريف رانه وړو د
حَتّٰى مَضٰى نَحْوٌ مِنْ شَطْرِ اللَّيْلِ فَقَالَ : « خُذُوا مَقَاعِدَكُمْ »
تردې چې تيره شوه نيمه حصه د شپې د دې نه پس راغې او مونږ ته يې وفرمايل: چې تاسو په خپلو ځايونو کينئ

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/٤٤٥،رقم الحديث :٦٤٣-٢٢٧، وأخرجه أحمد في المسند ٥/١٠٥.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَأَخَذْنَا مَقَاعِدَنَا فَقَالَ : « إِنَّ النَّاسَ قَدْ صَلُّوْا وَ أَخَذُوْا

مونږ په خپلو ځايونو ناست وو ددې نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: نورو خلکو مونځ وکړو اوپريوتل په خپلو

مَضَاجِعَهُمْ وَ إِنَّكُمْ لَنْ تَزَالُوا فِيْ صَلَاةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ

بسترو کې (نو تاسو ته معلومیدل په کاردی) چې تاسې به په مونځ کې يئ ترڅو چې تاسو انتظار کوئ د

الصَّلَاةَ وَ لَوْلَا ضَعْفُ الضَّعِيفِ وَ سَقَمُ السَّقِيمِ لَأَخَّرْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ إِلٰى شَطْرِ اللَّيْلِ.(۱)

مونځ اوکه د کمزورو اوبيمارانو خيال نه وی نو مابه همیشه دامونځ نیمې شپې ته رسولی اوبیابه مې کولی

توضيح: ان الناس قد صلوا: دې نه د مسجد نبوي نه علاوه نورې محلې مراد دي چې د ماخوستن په اول وخت کې مونځ کړی وو بيا اوده شوي دي يا د نورو دينونو خلک يهود او نصاری مراد دي هغوي به د مانبام مونځ وکړو بيا به اوده شول او کله نه چې تاسو د ماخوستن مونځ انتظار کوئ نو تاسو مونځ کې مشغول يې او برابر ثواب به يې تاسو ته ملاويږي او که د خلکو مجبورياني نه وې نو ددې ثواب حاصلولو د پاره به ما په تاسو لازمي د ماخوستن مونځ کې تاخير کولو حکم درکولی.(المرقات ۲/۳۱٦، اشعة اللمعات ۳۲۲).

د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې به د مازيګر مونځ ناوخته کيدو:

﴿۳۱﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَشَدَّ تَعْجِيلًا

حضرت ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا (خلک مخاطب کړل) او ورته يې وفرمايل : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به ډير مخکې کولو د

لِلظُّهْرِ مِنْكُمْ وَ أَنْتُمْ أَشَدُّ تَعْجِيلًا لِلْعَصْرِ

ماسپښين مونځ ستاسو نه (د کرمې نه علاوه نورو مونځونو کې) او تاسې ډير مخکيوالي کوئ د مازيګر

مِنْهُ .(۲).

په مونځ کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه.

توضيح : دا حديث واضح طور باندې د احنافو دليل دی چې د مازيګر مونځ کې لږ تاخير کول مستحب دی . دومره جلتي هم مه کوئ لکه څنګه چې نن سبا غير مقلدين کوي . سعودي عرب کې د ماسپښين نه

---

(۱) أخرجه أبوداؤد ۱/۲۹۳ رقم الحديث: ٤٢٢،والنسائي۱/۲٦۸، رقم الحديث:٥٣٨، وابن ماجه في السنن ۱/۲۲٦ رقم الحديث:٦٩٣، وأخرجه أحمد في مسنده ۳/٥.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۰٦ رقم الحديث .۱٦۱ ، وأخرجه أحمد في مسنده ٦/۲۸۹.

واخله تر مازيګره پورې چې څومره وخت دی نو د مازيګر نه د مابنام پورې وخت يا خو ددې برابر دی يا د ماسپښين وخت ددې نه کم وي دومره زر د مازيګر مونځ چيرته کيږي.

د موسم دوجې نه د مونځ وخت مخکې وروستو کيدی شي:

﴿۳۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ الْحَرُّ

د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (د ماسپښين) مونځ په ګرمی موسم کې

أَبْرَدَ بِالصَّلَاةِ وَإِذَا كَانَ الْبَرْدُ عَجَّلَ [1].

په يخ والي کې کولو او د يخنئ په موسم کې به يې زر کولو.

توضيح: ابرد بالصلاة د ماسپښين وخت او ددې په مونځ کې چې کوم اختلاف په نظر راځي او په رواياتو کې چې کوم تعارض معلوميږي هغه ددې حديث سره ختم شو ځکه چې دلته تعجيل په يخنی موسم باندې حمل کړی دی او د ماسپخين ناوخته کيدو تعلق د ګرمی موسم سره دی لهذا د تعجيل او تاخير حکم د جدا جدا موسمونو د پاره دی هيڅ تعارض نشته دی. (اشعة اللمعات ۳۲۲).

﴿۳۳﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّهَا سَتَكُونُ عَلَيْكُمْ

دحضرت عبادة بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته وفرمايل: نزدې به په تاسو

بَعْدِي أُمَرَاءُ يَشْغَلُهُمْ أَشْيَاءُ

باندې زمانه پس داسې خلک حاکمان مقرر شي چې هغوي به مشغولوي د دنيا څيزونه (يعنې د نفس

عَنِ الصَّلَاةِ لِوَقْتِهَا حَتَّى يَذْهَبَ وَقْتُهَا

خواهشات) د مونځ نه په (مستحب) وخت کې تر دې چې د مونځ وخت به ووځي (يعنې کراهت راشي)

فَصَلُّوا الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا ». فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ

نو تاسو مونځ کوئ په خپل وخت باندې (اګر که ځانله ولې نه وي) يو کس عرض وکړو: يا رسول الله!

أُصَلِّي مَعَهم؟ قَالَ: «نعم». (۲)

آيا بيا ددوي سره مونځ هم وکړم؟ پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل: آو د هغوي سره مونځ هم وکړئ (چې ثواب ډير ملاؤ شي او د بادشاه د مخالفت د وجې نه فتنه او فساد پيدا نه شي).

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۲٤۸/۱ رقم الحديث ٤۹۹.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۳۰۱/۱ رقم الحديث ٤۳۲، وأخرجه أحمد في مسنده: ۷/٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: **انها** دا ضمير قصه ده ، **امراء** ددې نه د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام د سنت نه جدا بادشاه مراد دی لکه حجاج بن يوسف او بنو اميه نور داسې بادشاهان مراد دي چې مونځ يې د مختار وخت نه مؤخر کولو او ځينې بادشاهان مونځ بالکل نه کوي لکه څنګه چې نن سبا دي دا خلک په هيڅ حساب کې نه دي. (المرقات ۲/۳۱۷).

لوقتها: ددې نه مراد مستحب وخت دی.

قال نعم: چې کله د فتنې خطره وي نو مونځ ځانله په خپل ځای باندې مستحب وخت کې کولو او د ظالم بادشاهانو سره فتنه دُفع کول او د مجبورئ د وجې نه هغوي سره په مونځ کې شاملیږئ ددې تشريح مخکې تيره شوې ده.

﴿۳٤﴾ وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَكُونُ عَلَيْكُمْ

د حضرت قبيصه بن وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام وفرمايل: په تاسو به داسې

أُمَرَاءُ مِنْ بَعْدِي يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ فَهِيَ لَكُمْ وَ هِيَ

حکمرانان وي دمانه پس چې وروسته کوي به مونځ اودغه مونځ به ستاسو د پاره فائده مند وي اوهغوي

عَلَيْهِمْ فَصَلُّوا مَعَهُمْ مَا صَلَّوُا الْقِبْلَةَ »[1].

دپاره به عذاب (ګناه) وي ترڅوپورې چې هغوي قبلې ته مونځ کوي تاسو هم دهغوي سره مونځ کوئ.

توضيح: **فهي لكم**: ددې جملې مطلب دادی چې که تاسو مستحب وخت کې مونځ وکړئ بيا د فتنې د دفع کيدو د وجې نه د ظالم حکمران سره شريک شئ دا دويم مونځ ستاسو د پاره فائده مند دی او ددې به تاسو ته ځانله او جدا ثواب ملاويږي.

دويم مطلب يې دادی چې تاسو د فتنې د دفع کيدو او د فساد نه د بچ کيدو د ويرې د هغوي سره مونځ وکړئ نو ستاسو مواخذه به نه کيږي د مجبورئ د وجې نه به ستاسو نيول نه کيږي خو د ظالمانو حکمرانانو د پاره دا مونځ عذاب (ګناه) دی ځکه چې هغوي د مجبورئ د وجې نه نه بلکې د سُستئ د وجې نه په مکروه وخت کې مونځ وکړو او د دنيا په کارونو کې مشغول وو دا خو په تاخير باندې بادشاه ته وعيد دی او څوک چې مونځ بالکل نه کوي بلکې مني يې هم نه دا واجب القتل دی. (اشعة اللمعات ۳۲۳).

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۳۰۱ رقم الحديث: ٤٣٤.

﴿۳۵﴾ وَ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ الْخِيَارِ : أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى عُثْمَانَ

حضرت عبيد الله بن عدي بن خيار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په باره کې نقل دی چې دا حاضر شو د حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

وَ هُوَ مَحْصُوْرٌ

په خدمت کې (چې کله هغه د خپل شهادت نه مخکې د بغاوت په ورځو کې په خپل کور کې) بند وو ، نو

فَقَالَ : إِنَّكَ إِمَامُ عَامَّةٍ وَ نَزَلَ بِكَ مَا

عرض يې وکړو چې : تاسو زمونږ د ټولو امام يې او په تاسو باندې چې څومره مصيبتونه نازل شوي دي

تَرَى وَ يُصَلِّيْ لَنَا إِمَامُ فِتْنَةٍ وَ نَتَحَرَّجُ

هغه تاسو هم وينئ (او زمونږ حال دادی) چې مونږ ته د فتنې او فساد يو امام مونځ راکوي (چې هغه

فَقَالَ : الصَّلَاةُ

پسې وروسته مونځ کول مونږ ګناه ګڼړو دا يې واوريدل) حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمايل : مونځ کول

أَحْسَنُ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ فَإِذَا أَحْسَنَ النَّاسُ فَأَحْسِنْ مَعَهُمْ

د خلکو په اعمالو کې ښه او افضل عمل دی لهذا چې کله خلک نيکي وکړي تاسو هم د هغوي سره نيکي کوئ

وَإِذَا أَسَاؤُوْا فَاجْتَنِبْ إِسَاءَتَهُمْ [1].

او که هغوي ګناه وکړي نو تاسو د هغوي د ګناه نه ځان بچ کړئ .

توضيح : **وهو محصور** ، حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خلاف د عبدالله بن سبا په تحريک باندې د مصر خلک را اوچت شول او د دغه خلکو يوه مجموعه (ډله) مدينه منوره کې داخل شوله يا خو اکثر صحابه د دښمن په مقابله کې جهاد ته تلي وو يا د حج د پاره مدينې منورې نه مکي مکرمې ته تلي وو راغلي خلک حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څلويښت ورځو پورې په کور کې مدينه کې بند کړی وو ددې وجې نه مسجد نبوي ته نه شو راتللی ، دې زمانه کې د فتنه ګرو او فسادیانو امام مونځ ورکولو ددې نوم شارحين کنانه بن بشر خودلی دی حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه تپوس کوونکي تپوس وکړو چې د فسادیانو مشر کوم چې مونځ ورکولو آيا ده پسې وروسته مونځ کيږي ؟ (المرقات ۲/۳۱۸).

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۲/۱۸۸، رقم الحديث : ٦٩٥.

Maktaba Tul Ishaat.com

ونتحرج : يعني مونږ هغه پسې وروسته مونځ کولو کې حرج محسوسوو او ګناه ګڼو د حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عدل او انصاف حلم او علم ته وګورئ چې سخت تکليف او پريشانئ په حالت کې هم يوه جمله هم ونه ويله بلکې وې فرمايل : صحيح ده دا خلک ما پسې شا ته لګيدلي دي خو مونځ نيک عمل دی او چې څوک ښه عمل کوي تاسو هم په هغې کې شريک کيږئ ستاسو سخت دښمن ولې نه وي او چې څوک غلط کار کوي نو په غلطی کې دهغوي سره يو ځای کيږئ مه اګر چې ستاسو محبوب ولې نه وي. بهر حال دغه مصيبت کې حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سنه ۳۵ اتلس (۱۸) ذوالحجه کې شهيد کړی شو ، ځان يې قربان کړو خو د مدينې احترام يې وساتلو ، چې تفصيل يې ان شاء الله د توضيحات په آخري جلد کې راځي.

بَابُ فَضَائِلِ الصَّلَاة :

د مونځ د فضائلو بيان :

قال الله تعالى : ﴿حَافِظُوْا عَلَى الصَّلَوَاتِ والصَّلَاةِ الْوُسْطَى﴾ (بقرة: ۲۳۸)

و قال الله تعالى : ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَّن تَبُورَ﴾ (سورة فاطر : ۲۸)

اَلْفَصْلُ الأول:

د مازيګر او سحر د مونځ فضيلت :

﴿۱﴾ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : « لَنْ يَلِجَ
دعمارة بن رويبة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي ما دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوريدلي دي چې :هيڅ کله به داخل نه شي
النَّارَ أَحَدٌ صَلَّى قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوْبِهَا » يَعْنِي الْفَجْرَ وَالْعَصْر . (رَوَاهُ مُسلم)[1]
اورته هرهغه څوک چې دنمر راختو او پريوتونه مخکې (دوه مونځونه) وکړي يعنې د سحر او مازيګر.

توضيح :لن يلج ولوج نه د داخليد و په معنى کې دی يعنې د عذاب ورکولو په غرض به دوزخ کې نه داخليږي ورنه دتيريد و په غرض سره خو داخبره بنکاره ده چې ټول انسانان به په دوزخ باندې تيريږي د قرآن آيت دی :﴿وَإِنْ مِّنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا﴾ (المرقات ۲/۳۱۹ ، اشعة اللمعات ۳۲۳).

الفجر و العصر : د نمر راختو نه مخکې چې کوم مونځ کيږي هغه د سحر مونځ دی او کوم مونځ چې د نمر پريوتو نه مخکې کيږي هغه د مازيګر مونځ دی .

سوال : دې حديث نه دا معلومه شوه چې څوک د سحر او مازيګر مونځ اهتمام کوي هغه به د يوې ګناه د وجې نه هم دوزخ ته نه ځي خواه د نورو کبائرو ارتکاب يې ولې نه وي کړی نور مونځونه پرې ولې نه بخښل دا دوه مونځونه د ټولو ګناهونو د پاره کفاره ده د الله تعالى رحمت اګر چې وسيع دی ليکن د جمهورو علماو په نزد دا خبره جوړه شوې ده چې د ګناه کبيره د بخښنې د پاره توبه ضروري ده او طاعات

(۱) أخرجه مسلم ۱ ۴۴۰ رقم الحديث: ۲۱۲ ۶۳۴، وأبو داود ۱/۲۹۷ رقم الحديث ۴۲۷، والنسائي ۱ ،۲۳۵، رقم الحديث ۴۷۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

او نيكي د صغائرو د پاره كفاره ده نه د كبائرو د پاره ، نو بيا د عدم دخول حكم څنګه دی ؟

جواب :علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ داسې جواب وركړی څوک چې د سحر مونځ اهتمام كوي حالانكه د سحر وخت د آرام وخت دی د غه رنګ كوم كس چې د مازيګر وخت اهتمام او پابندي كوي حالانكه د مازيګر وخت ډير د مشغوليدو او د مصروفيت وخت دی ظاهر دادی چې څوک دا دوه مشكل مونځونه كوي نو ددې نه علاوه نور مونځونه بطريقِ اولی كولی شي ،شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په دې اشكال كوي كه دا ومنو چې سړي د نورو مونځونو حفاظت كوي د هغې څه ضمانت دی چې دا كس د مونځ پريښودو علاوه بله ګناه نه كوي او دوزخ كې به نه داخليږي .(الكاشف ۲/۲۱۵، المرقات ۲/۳۱۹، اشعة اللمعات ۳۲۳).

شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ بيا دا جواب وركوي چې په دې حديث كې در حقيقت د دې دوو مونځونو فضيلت او عظمت بيان دې د دې دوو ځايونو په بيان كې مبالغه ده ، د دواړو مونځونو لوي شان دی څوک چې دغې پابندي كوي الله تعالى به دا دوزخ كې نه داخلوي او نور ګناهونه به په خپل فضل سره معاف كړي. (اشعة اللمعات ۳۲۳).

﴿۲﴾ وَ عَنْ أَبِيْ مُوسٰى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ
د حضرت ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي : چا چې وكړه د ديخ وخت دواړه مونځونه
دَخَلَ الْجَنَّةَ» . (متفق عليه)(۱)
(يعنې د سحر او ماسخوتن مونځونه) دا به جنت ته داخليږي .

توضيح:البردين قاموس كې ليكلي چې بردان ديخ وخت دوو مونځونو ته يعنې سحر او ماسخوتن ته ويلی شي ليكن اكثر علماء د دې نه مراد د سحر او مازيګر اخلي ځكه چې دواړه مونځونه دورځې په دواړو طرفونو كې واقع دي او د دې په وختونو كې هوايخه لګي د دې نه مخكې حديث هم د دې حديث تائيد كوي په دې كې د مازيګر او سحر د غه فضيلت بيان كړی دی.(المرقات ۲/۳۳۰،اشعة اللمعات ۳۲۴).

د دې حديث فضيلت او د دې نه ماقبل حديث په فضيلت كې معمولي فرق وو د دې حديث د لاندې مونځ كوونكي جنت ته به ځي خو دا يې نه دي ويلي چې د نورو ګناهونو د وجې سزا نه پس به جنت ته ځي يا بغير د سزا به ځي اوس دې كې احتمال شته چې سزا خو ړلو نه پس به جنت ته ځي ،په دې باندې هم دخل الجنة صادق راځي ليكن د دې نه مخكې حديث كې واضح طور باندې دا ويلي شوي دي چې دا كس به په هيڅ حالت كې نه داخليږي .

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۵۲،رقم الحديث :۵۷۴، ومسلم في الصحيح ۱/۴۴۰ رقم الحديث:۲۱۵-۶۳۵.

د کراما کاتبین د ډیوتی (وظیفی) طریقه :

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَتَعَاقَبُونَ فِيكُمْ مَلَائِكَةٌ بِاللَّيْلِ

دابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: راځي ستاسو خواته فرښتې په شپه او

وَ مَلَائِكَةٌ بِالنَّهَارِ وَ يَجْتَمِعُونَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ وَ صَلَاةِ الْعَصْرِ

ورځ کې (ستاسو اعمال لیکي او دالله تعالی دربارته یې رسوي) او جمع کیږي تولې د سحر او مازیګر مونځ

ثُمَّ يَعْرُجُ الَّذِينَ بَاتُوا فِيكُمْ فَيَسْأَلُهُمْ رَبُّهُمْ

کې بیا آسمان ته ځي هغه فرښتې چې ستاسو سره یې شپه تیره کړی وي نو تپوس کوي الله تعالی د خپلو

وَ هُوَ أَعْلَمُ بِهِمْ كَيْفَ تَرَكْتُمْ عِبَادِي

بندګانو په حالاتو د پوهید و باوجود د هغوي نه چې تاسو زما بندګان په کوم حالت کې پریښود ل هغوي

فَيَقُولُونَ تَرَكْنَاهُمْ وَ هُمْ يُصَلُّونَ وَ أَتَيْنَاهُمْ وَ هُمْ يُصَلُّونَ » (متفق عليه).[1]

وایي: مونږ ستا بندګان د مونځ په حالت کې پریښود ل او چې مونږ کله ورتلو نو هغوي په مونځ باندې وو.

توضیح: **يتعاقبون** د باب **تفاعل** نه **تعاقب** د یو بل نه مخکې وروستو تلو راتلو په معنی کې دی یعنې د فرښتو یوه ډله د انسانانو اعمال لیکلو د پاره چې کله راشي نو دویمه ډله د هغوي اعمال لیکلي واخلي او آسمان طرف ته یې وړي دا دواړه د فرښتو ډلې د سحر او مازیګر مونځ کې یو ځای کیږي ددې وجې نه د دواړو مونځونو فضیلت واضح دی. (المرقات ۲/۳۲۰، اشعة اللمعات ۳۲۴).

يتعاقبون د جمع صیغه ده ددې نه پس فاعل اسم ظاهر فرښته ده د قواعدو مطابق دا صیغه د مفرد په کار ده جمع یې ولې راوړه، ددې یو جواب دادی **يتعاقبون** کې دا واؤ د راتلونکي فاعل د جمع کیدو باندې دلالت کولو د پاره راغلی یعنې دا صرف علامت د فاعل دی ضمیر فاعل نه دی.

دویم جواب دادی: اسم ظاهر په ظاهره فاعل معلومیږي خو اصل کې فاعل نه دی بلکې د **يتعاقبون** د فاعل نه بدل دی.

دریم جواب: **يتعاقبون** خبر مقدم دی، **ملائكة بالليل** مبتداء مؤخره ده، د قرآن مجید په دې آیت: ﴿وَأَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا﴾ کې هم دا قسمه توجیهات دي.

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۳۳، رقم الحديث: ۵۵۵، ومسلم ۱/۴۳۹ رقم الحديث: ۲۱۰-۶۳۲، والنسائي ۱/۲۴۰، رقم الحديث: ۴۸۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

فيسالهم:يعني د شپې فرښتو نه الله تعالى تپوس كوي چې تاسو زما بندګان په كوم حالت كې پريښي ددې تپوس په وجه الله تعالى د خپل انسانانو فضيلت ظاهروي چې زما بنده ګان څنګه ذكر كوي او څنګه د الله تعالى بزرګي او پاكي بيانوي حالانكه چې كله انسان پې پيدا كولو نو فرښتو وويل چې اى الله ! آيا تاسو داسې مخلوق پيدا كوئ چې فتنه او فساد به پيدا كوي .اى الله تعالى زمونږ د پوهې نه دا خبره لرې ده چې د شرير مخلوق د پيدا كيدو مقصد څه دى او كه نيك وي نو زمونږ نه نيك بل څوك كيدى شي چې هغه د ورځې او د شپې په تسبيح ، تهليل او پاكۍ كې لګيا وي ځكه الله تعالى په فرښتو باندې هره ورځ ظاهروي چې وګورئ دا مخلوق د فساد په ځاى زما عبادت كوي او څومره په خوند باندې زما عبادت په حالت د تكليف او مشقت سره كوي.بهر حال دې حديث كې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ خپل امت ته د دوو مونځونو ترغيب وركوي چې ددې ښه پابندي كوئ ځكه د انسان د اعمالو ليكلو د پاره د فرښتو دوه ډلې دي يوه د ورځې د پاره او دويمه ډله د شپې د پاره ، چې كله د ورځې والا فرښتې ډيوټي پوره كړي نو آسمان طرف ته ځي ، بيا د شپې والا فرښتې راځي ددوي نه تپوس كوي دا ددې خبرې ښكاره دليل دى چې د شپې ډيوټي والا فرښتې د ورځې والا فرښتو نه افضل دي ، وجه داده چې د عبادت په اعتبار سره د شپې درجه د ورځې نه افضل ده ځكه چې په شپه كې سكون وي عبادت دريا كارى نه پاك وي او عبادت د زړه په اطمينان سره كيږي لهذا د شپې فرښتې د ورځې فرښتو نه غوره او افضل دي ځكه الله تعالى ددوي نه تپوس كوي د خپلو بندګانو متعلق (كذا في اللمعات)

د سحر مونځ كوونكي د الله تعالى په حفاظت كې وي :

﴿٤﴾ وَعَنْ جُنْدُبٍ الْقَسْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى صَلَاةَ الصُّبْحِ فَهُوَ
د جندب قسري نه روايت دى فرمايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : چا چې د سحر مونځ وكړو هغه (دنيا او
فِيْ ذِمَّةِ اللهِ فَلَا يَطْلُبَنَّكُمُ اللهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ
آخرت)كې د الله تعالى په امن كې دى داسې به نه وي چې الله تعالى په خپله وعده كې تا نه څه مواخذه وكړي
فَإِنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدْرِكْهُ ثُمَّ يَكُبَّهُ
او چا نه چې د الله تعالى په وعده او امن كې مطالبه وشوه نو الله تعالى به دا كس را ونيسي او وګوزار به
عَلَى وَجْهِهِ فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ ». وَ فِيْ بَعْضِ نُسَخِ الْمَصَابِيْحِ الْقُشَيْرِيُّ بَدَلَ الْقَسْرِيِّ.(1)
يې كړي دوزخ ته تور مخ (او په بعضې نسخو د مصابيح كې د قسرى په ځاى قشيري ذكر شوى دى).

(١) أخرجه مسلم في الصحيح ١/٤٥٤ رقم الحديث:٦٢-٦٥٧، والترمذي ٤/٤٠٤ رقم الحديث : ٢١٦٤ .

توضيح : في ذمة الله : ددې نه دالله تعالى وعده اوامن مراد دى دحديث مطلب دا شو چا چې د سحر مونځ وکړو داد الله تعالى په حفاظت او د هغه په وعده او امن کې راغى ، پس مسلمانانو کې چا چې هم دې مونځ ګزارته نقصان ورکړو هراعتبار سره ؤ نو ددې مطلب داشو چې دې کس د الله تعالى په وعده او په امن کې خلل واقع کړو او دالله تعالى حفاظت ته يې نقصان ورکړو ځکه به الله تعالى دې بدبخت مواخذه کوي.بعضې شارحينو يې دا مطلب بيان کړى دى چې ذمة الله يعنې د سحر مونځ په خپله وعده اوامن دى د سحر مونځ کوونکي سره په خپله دالله تعالى دامن وعده ده د دنيا او د آخرت لهذا عام مسلمانانو ته په کار دي چې د سحر مونځ اهتمام ډير کوي د سحر مونځ مه قضاء کوئ د الله تعالى کومه وعده ده چې هغه برقرار پاتې شي د مونځ قضاء کيدو سره هغه وعده ماته نه شي ځکه چې د ماتيدو سره به الله تعالى نيول کوي . (المرقات ۲/۳۲۱).

د اول صف فضيلت :

﴿۵﴾ وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ

د حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي : که چيرته معلوم شي خلکو ته

مَا فِي النِّدَاءِ وَ الصَّفِّ الْأَوَّلِ ثُمَّ لَمْ يَجِدُوا إِلَّا أَنْ يَسْتَهِمُوْا

ثواب د آذان کولو او په (مونځ کې د) اول صف کې د اودريدو نو دا به حاصل نه شي ورته په غير د قرعې

عَلَيْهِ لَاسْتَهَمُوا وَ لَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي التَّهْجِيرِ

اچولو نه شي ، نو هغه به پرې قرعه اندازي ضرور وکړي ، او که چيرته ثواب ورته معلوم شي ماسپښين

لَاسْتَبَقُوا إِلَيْهِ وَ لَوْ يَعْلَمُونَ مَا فِي الْعَتَمَةِ وَ الصُّبْحِ

مونځ ته په جلدئ سره د راتللو نو مونځ د پاره به په منډه راځي او که د ماسخوتن او د سحر فضيلت ورته

لَأَتَوْهُمَا وَلَوْ حَبْوًا ». (متفق عليه). (۱)

معلوم شي نو دکناټو په سرونو باندې به راشي.

توضيح : الا ان يستهموا : استهام د سهم نه د قرعه اندازې په معنى کې دى ، يعنې د آذان کولو او په اول صف کې د اودريدو ثواب چا ته معلوم شو او بيا ددې د فضيلت د پاره خلکو سره د قرعه اندازې موقع راشي نو د ثواب د حصول د پاره په قرعه اندازې وکړي لکه څنګه د يو څو کسانو په آذان کولو باندې

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۹۶،رقم الحديث :۶۱۵، ومسلم ۱/۳۲۵ رقم الحديث:۱۲۹-۴۳۷، والنسائي ۱/۲۶۹، رقم الحديث:۵۴۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

جګړه شوه حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دوي په مينځ کې قرعه اندازي وکړه (المرقات ۲/۳۲۲، اشعة اللمعات ۳۲۵).

تهجير: هر يو ځيز طرف ته. جلدي او سبقت کولو ته ويلی شي بيا د ماسپښين مونځ د پاره زر وتلو د وجې نه استعمال شوی دی، ځينو د جمعې د پاره زر وتلو مطلب اغستی دی او ځينو د هر يو مونځ د پاره په جلتي ورتلو په معنی کې اخستی دی. **لاستبقوا**: د يو بل نه مخکې وتلو په معنی کې دی که دې خلکو ته د مونځ د پاره د جلتي کولو فضيلت معلوم شي نو دا خلک به د يو بل نه مخکې کيږي.

العتمة: ماسخوتن ته ويلی شي اسلام نه مخکې د ماسخوتن نوم عتمه وو اسلام د دې نوم ماسختون کيښودو، د عتمه په لفظ باندې پابندي ولګيده شايد دلته چې کوم اطلاق شوی دی داد حرمت او مخالفت نه مخکې وو. حبوا ماشوم چې کله په خاپوړو باندې يعنې لاسونه او سينه باندې روان وي داسې تللو ته حبوا ويلي شي، ځينې ترجمه کوونکو د دې لفظ په ځناټو باندې د تللو کړې ده صحيح دواړه دي مګر متبادر دادی چې په خاپوړو باندې د تلو ترجمه وکړی شي. (المرقات ۲/۳۲۳).

کوم يو مونځ په منافق باندې بوج (ګران) وي:

﴿٦﴾ وَ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيْسَ صَلَاةٌ أَثْقَلَ عَلَى الْمُنَافِقِيْنَ
د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي: نشته دي دروند مونځ په منافقينو
مِنَ الْفَجْرِ وَ الْعِشَاءِ وَ لَوْ يَعْلَمُوْنَ مَا فِيْهِمَا لَأَتَوْهُمَا وَ لَوْ حَبْوًا ». [1]
باندې د سحر او ماسخوتن مونځ نه غير که چيرته د دواړو ثواب ده ته معلوم شي د ځناټو په سر به راشي.

توضيح: اثقل: دا دين په معامله کې منافق هسې هم غل دی دده په مزاج کې د عبادت په باره سستوالی او سترګې پټول دي د سحر او ماسخوتن مونځ نه سخت وختونو کې دا کله ګرمی، يا يخنی کې د ماسخوتن مونځ انتظار کولی شي او د سحر مونځ د خوب په وخت کې کولی شي نو ځکه د منافق طبيعت د ايمان نه منلو د کمزورۍ دوجې نه مونځونه په دوي باندې مشکل وي حالانکه د ماسخوتن او سحر وخت کې تياره وي نو د دوي د پاره په دې وختونو کې سترګې پټول او ځان غائبول آسان وي. د دې حديث نه معلومه شوه چې مخلص سړي او صحيح مؤمن په دې دواړو مونځونو کې ښه کوشش مشقت کوي، دې حديث نه مونږ ته دا تعليم حاصل شو چې يو مخلص مسلمان ته په کار دي چې خصوصاً د سحر او

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱٤۱/۲، رقم الحديث: ٦٥٧، ومسلم في الصحيح ٤٥١/١ رقم الحديث: ٢٥٢-٢٥١.

ماسخوتن مونځ کې کوشش وکړي دانه چې دمنافقينو سره مشابهت پيدا نه شي .(اشعة اللمعات۳۲۵)

﴿۷﴾ وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى الْعِشَاءَ
د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي : چا چې د ماسخوتن
فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا قَامَ نِصْفَ اللَّيْلِ وَ مَنْ صَلَّى الصُّبْحَ
مونځ د جمعې سره وکړو هغه داسې دی ګويا چې ده نيمه شپه عبادت کې تيره کړه او چا چې د سحرمونځ
فِيْ جَمَاعَةٍ فَكَأَنَّمَا صَلَّى اللَّيْلَ كُلَّهُ ». (۱)
هم په جمع وکړو ګويا چې ده ټوله شپه په عبادت کې تيره کړه .

توضيح :قام نصف الليل: يعنې ګويا چې نيمې شپې پورې يې تهجد وکړل **قام** او **صلى** کې مختلفو الفاظو کې **تفنن في العبارة** دی مطلب يې يو دی(المرقات۲/۳۲۴،الکاشف۲/۲۲۰،اشعة اللمعات۳۲۵).

الليل کله ددې حديث دوه مفهومه دي چا چې د ماسخوتن مونځ ه جمعې سره وکړو ګويا چې نيمه شپه تهجد يې وکړل او چا چې د سحر مونځ د جمعې سره وکړو ګويا چې ټوله شپه عبادت کې مشغول وي په دې صورت کې د ماسخوتن مونځ باندې د سحر مونځ فضيلت او فوقيت ثابت شو ،او دويم مفهوم يې دادی چې چا د ماسخوتن مونځ د جمعې سره وکړو ده ته د نيمې شپې ثواب ملاؤ شو او چا چې د سحر مونځ په جمعې سره وکړو ګويا چې ده ته د باقي نيمې شپې ثواب ملاؤ شو ، دغه رنګ د ټولې شپې د تهجد و ثواب ورته ملاؤ شو ، دا مطلب ډير واضحه دی .

د شرعي اصطلاحاتو خيال ساتئ :

﴿۸﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ
دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي : چې غالب دې نه شي باندې چيان خلک د
عَلَى اِسْمِ صَلَاتِكُمُ الْمَغْرِبِ ». قَالَ :« وَ تَقُوْلُ الْأَعْرَابُ هِيَ الْعِشَاءُ . وَ
مانبام مونځ نوم اخستو کې په تاسو باندې،راوي وايي چې:باندې چيان مانبام ته هم ماسخوتن وايي بيا
قَالَ لَا يَغْلِبَنَّكُمُ الْأَعْرَابُ عَلَى اِسْمِ صَلَاتِكُمُ الْعِشَاءِ فَإِنَّهَا فِيْ كِتَابِ
نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل:چې دماسخوتن نوم اخستو کې دې هم دوي په تاسو غالبه نه شي ددې نوم په کتاب

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/٤٥٤ رقم الحديث:٦٥٦-٢٦٠، وأبو داود ۱/۳۷٦ رقم الحديث :٥٥٥، والترمذي ۱/٤٣٣ رقم الحديث :٢٢١ .

Maktaba Tul Ishaat.com

اللهِ الْعِشَاءُ فَإِنَّهَا تُعْتِمُ بِحِلَابِ الْإِبِلِ . (رواه مسلم)[1].

الله کې عشاء دی ځکه چې بانډه چیان په مونځ کې تاخیر کوي د اوښانو نه پرې رالوشلو د وجې نه.

توضیح: **الاعراب**: اعراب په بانډه کې اوسیدونکي ته ویلی شي دا خلک د ښار نه لري اوسیدو د وجې نه د عام آدابو نه خبر نه دي دلته د اعراب نوم ددوي د نه پوهیدو د وجې نه اخستلی شوی دی ورنه عرب خلک به (یعني د ښار والا) هغوي به هم مابنام ته د ماسخوتن نوم اخستو او ماسخوتن ته یې عتمه ویله، دلته د اعرابو نه د جاهلیت دور بانډې والا مراد دي چې دوي به شرعي اصطلاحات بدلولو سره د ختمیدو کوشش کولو، ددې وجې نه پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د عربو ښار والا منع کړل چې تاسو د بانډه چیانو په شان جوړ نه شئ چې خپل شرعي اصطلاحات او شرعي اطلاقات بدل کړئ او د هغوي هغه اختیار کړئ چې ددې وجې نه په تاسو د هغوي ثقافت او معاشرتي پیژندنه غالبه راشي تاسو له په کار دي چې قرآن او حدیث کې کوم نومونه وي او چې کومه اصطلاح متعارفه وي هغه استعمال کړئ. دې حدیث نه دا معلومه شوه چې په مسلمانانو لازم دي چې خپله ژبه او خبرې د شریعت په اصطلاح کې درست ساتي او د فجارو او کافرانو په تقلید کې خپل شرعي او ثقافتي میراث برباد نه کړي. (المرقات ۲/۳۲۵، الکاشف ۲/۲۲۱).

فانها في كتاب الله العشاء، دا مخکې جمله د نهي او مخالفت د پاره علت دی چې د بانډه چیانو تقلید مه کوئ د قرآن حکم منئ قرآن ماسخوتن د ﴿وَمِن بَعْدِ صَلَاةِ الْعِشَاءِ﴾ په نوم سره یاد کړې دی.

فانها تعتم بحلاب الابل: دې جملې نه پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دا ښکاره کړه چې په جاهلیت کې به هغوي ماسخوتن ته عتمه ولې ویلو فرمایي چې بانډه چیانو خلکو به دا اوښانو نه پرې رالوشلو د وجې نه به پرې ناوخته شوخه تیاره به ولګیده ددې وجې نه به یې تیاره ته عتمه ویله، خلاصه دا چې کله د اسلام دور شروع شو نو د مابنام وخت ته یې **صلوة المغرب** او د ماسخوتن مونځ ته **صلاة العشاء** نوم ورکړو د جاهلیت دور باقي پاتې شوي بانډه چیانو او په اسلام کې داخل شوي مسلمانانو بانډه چیانو د ماسخوتن ته **عتمه** ویل برقرار وساتل او ځینې مسلمانانو هم **عتمه** ویلو دې وجې نه پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دوي په سختۍ سره منع کړل او دې ته یې **عتمه** ویل مکروه وګرځول. **سوال**: دیرو روایاتو کې راغلې چې پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ او صحابه په خپله ماسخوتن ته عتمه ویله داسې ولې؟

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۴۳،رقم الحديث : ۵۶۳، ومسلم ۱/۴۴۵ رقم الحديث:۲۲۹-۶۴۴، والنسائي ۱/۲۷۰، رقم الحديث: ۵۴۱، وابن ماجة ۱/۲۳۰، رقم الحديث:۷۰۴.

جواب: شارحين ليکي چې کوم ځای کې په احاديثو کې د الفظ استعمال دی نو دا په جاهليت زمانې باندې محمول دی، خو شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې ماسخوتن ته عتمه ويل مکروه تنزيهي دي يعنې خلاف اولی دی نو چا چې دمنع کيدو نه پس د الفظ استعمال کړه نو ده خلاف اولی کار وکړو.

تعتم دا صيغه د باب **افعال** ده **اعتام** په معنی د **دخول في العتمه** دی دا د مجهول صيغه هم ويل شوې او د معروف هم، که د مجهول صيغه وي نو ضمير به صلوة ته راجع کيږي نو مطلب به دا شي چې د اوښانو پئ رالوشلو د وجې مونځ کې تاخير راغې او په تياره کې به يې کولو او که صيغه د معلوم شي بيا به ضمير اعرابو طرف ته راجع شي مطلب به يې دا شي چې د باندې خلکو د اوښانو د پئ د وجې نه مونځ وروستو کړی وو. (اشعة اللمعات ۳۲۶، ۳۲۸).

تعتم مجهول صيغه ده او **تعتم** د معروف صيغه ده دواړه د باب **افعال** نه دي رواه **مسلم** شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ وايي: دا روايت مطلقاً د مسلم روايت کې شمارل ځای د بحث دی ځکه چې د دې حديث اولنی جمله صرف امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ نقل کړې ده مسلم کې نشته او د دې دويمه جمله چې **وقال لا يصلين** نه شروع شوې ده صرف مسلم کې ده په بخاري کې نشته. (المرقات ۳/۲۲۶).

صلوة الوسطی مصداق کوم مونځ دی؟

﴿۹﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ:
حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د غزوه خندق په ورځ وفرمايل (کافرانو) مونږ د مينځني
"حَبَسُوْنَا عَنْ صَلَاةِ الْوُسْطٰى: صَلَاةِ الْعَصْرِ مَلَأَ اللهُ بُيُوْتَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا). (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ)(۱)
مونځ نه يعنې د مازيګر مونځ کولو نه منع کړی وو والله تعالی دې د دوي کورونه او قبرونه دا ورنه ډک کړي.

توضيح: صلاة الوسطی صلاة العصر: قرآن کريم کې د مونځونو د حفاظت متعلق يو آيت دی: ﴿حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى﴾ په څلوريشت (۲۴) کينتو کې پنځه مونځونه فرض کړي دي چې کله دوه مونځونه د يو طرف نه شمار کړی شي او دويم طرف نه هم دوه مونځونه واخستلی شي پنځه مونځونو کې هر يو مونځ وسطی يعنې مينځ والا جوړيږي، ځکه د دې تعين مشکل دی هلته احاديثو کې چې کله وکتلی شي حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نه صلوة وسطی مصداق مازيګر معلوميږي. فصل

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۹۵/۸، رقم الحديث: ۴۵۳۳، ومسلم في الصحيح ۴۳۷/۱ رقم الحديث: ۲۰۵-۶۲۷، وأبو داود ۲۸۷/۱ رقم الحديث: ۴۰۹، والنسائي ۲۳۶/۱، رقم الحديث: ۴۷۳، والترمذي ۲۰۲/۱ رقم الحديث: ۲۹۸۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

ثاني کې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کې هم ددې مصداق د مازیګر مونځ ګرځول شوی دی، بیا فصل ثالث کې حضرت زید بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کې دلیل سره دا خودلي چې د صلوة الوسطی مصداق د ماسپښین مونځ دی. (الکاشف ۲/۲۲۳، اشعة اللمعات ۳۲۶).

بیا ددې نه پس د امام مؤطا مالک په روایت کې دي چې د صلوة الوسطی مصداق د سحر مونځ دی د روایاتو د اختلاف د وجې نه د فقهاو هم د صلوة الوسطی په تعیین کې اختلاف دی که واړه لوي اقوال راجمع کړی شي نو تقریبا شلو پورې تعداد رسي.

د فقهاو اختلاف: ځینې فقهاء د **صلوة الوسطی** مصداق د ماسپښین مونځ ګرځوي ځینې د سحر مونځ ځینې د مازیګر ګرځولی دی، بعضې د جمعې مونځ **صلوة الوسطی** ګرځولی دی، ځینې د تهجد مونځ ددې مصداق جوړ کړی دی خو مشهور دري اقوال دي: امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د سحر مونځ **صلوة الوسطی** ګرځولی دی. امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ د مازیګر مونځ **صلوة الوسطی** ګرځولی دی. د حضرت ابو سعید خدري او زید بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په نزد صلوة الوسطی مصداق د ماسپښین مونځ دی.

دلائل: د حنابلو دلیل دا موجوده حدیث مرفوع د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی چې دا حدیث امام بخاري او امام مسلم رَحِمَهُمَا اللهُ په صحیحین کې راوړې، په حدیث کې په خپله نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د صلوة الوسطی تفسیر په مازیګر سره کړی دی، چې دا ډیر مضبوط دلیل دی، ددې نه پس په فصل ثاني کې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صریح حدیث هم ددوي دلیل دی. شوافع او مالکیه په فصل ثالث کې په حواله د موطا مالک کې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت استدلال کې نیولی دی دې کې واضح طور باندې ذکر دي چې **صلوة الوسطی صلوة الصبح**. حضرت ابو سعید خدري، زید بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او نورو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اجتهادي روایاتو باندې خپل مسلک قائم کړی وو چې په فصل ثالث کې روایت نمبر ۱۲ او ۱۳ دی چې دا ددغه حضراتو نه منقول دی.

جواب: احنافو او حنابلو چې د کوم روایت نه استدلال کړی دی هغه مرفوع حدیث دی او د شوافعو او مالکیو استدلال د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ آثار دي، د مرفوع حدیث مقابله نه شي کولی، علامه نووي رَحِمَهُ اللهُ وایي چې: د آحادیثو صحیحو صریحو تقاضا دا ده چې **صلوة الوسطی** نه د مازیګر مونځ مراد دی او دا مختار دی، علامه ماوردي شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: چې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ اګر چې د صلوة الوسطی مصداق سحر ګرځولی دی خو د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول دی چې کله صریح او صحیح حدیث راشي نو هغه زما مذهب دی هغه اخلئ او زما قول چې د هغې مخالف وو نو په دیوال یې ګوزار کړئ.

(لمعات ج ۲ ص ۲٦۸) (الكاشف ۲/۲۲۳، اشعة اللمعات ۳۲٦، مرقات ۲/۳۲۷).

ددې نه علاوه چې کومو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ اجتهاد کړی چې د **صلوة الوسطى** نه د ماسپښين مونځ مراد دی د هغوي مستدل آثار د صحابو دی چې د مرفوع حديث په مقابله کې هيڅ ځيز نه دی کيدی شي دغه صحابو ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مرفوع حديث نه وو رسيدلی ځکه يې اجتهاد کړی شوي اقوال خپل کړه.

واقعه: غزوه خندق ته غزوه احزاب هم ويلی شي دا غزوه په (سنه ۵هـ) کې رامخې ته شوې وه دې غزوه کې د مکې نه د ابوسفيان په مشرئ کې د ټولو قبائلو نه دولس زره مشرکين مدينې منورې ته د حملې د پاره راغلي وو د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په حکم باندې خندق ونه ويستلی شوې وو ځکه دې ته جنګ خندق ويلي شي او د عربو ټول قبائل ډلې ډلې شوې وو ځکه دا غزوه د غزوه احزاب په نوم باندې مشهوره وه، دخندق ونوسره نزدې د حفاظت سخت انتظام موجود وو ځکه يوه ورځ پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د ماسپښين مازيګر او ماسخوتن مونځ کولو وخت ملاؤ نه شو، دې کې يې د مازيګر مونځ باندې خصوصي افسوس کړی وو او د کفارو د پاره يې بد دعا وکړه، د خندق په موقع صحابه درې زره وو، ۲۸ ورځې د محاصرې نه پس کافران تباه شول او وتښتيدل. (المرقات ۲/۳۲٦).

الْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۱۰﴾ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ وَسَمُرَةَ بن جُنْدُبٍ قَالَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صَلَاةُ الْوُسْطَى
حضرت ابن مسعود او سمره بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا راويان دي وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل مينځنی مونځ
صَلَاةُ الْعَصْرِ » (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ). (۱)
(يعنې په قرآن کريم کې چې کوم صلوة الوسطى مذکور دی) هغه د مازيګر مونځ دی.
﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿إِنَّ قُرْآنَ الْفَجْرِ
حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه نقل کوي نبي عَلَيْهِ السَّلَام د الله تعالى د دې قول: يعنې د سحر مونځ
كَانَ مَشْهُودًا﴾ قَالَ: « تَشْهَدُهُ مَلَائِكَةُ اللَّيْلِ وَ مَلَائِكَةُ النَّهَارِ » (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ). (۲)
دفرښتو د حاضريدو وخت دی، په تفسير کې وايي: جمع کيږي د سحر مونځ کې دورځې او د شپې فرښتې.

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳٤۰، رقم الحديث: ۱۸۲.

(۲) أخرجه مسند أحمد ۲/٤۷٤، وأخرجه الترمذي ۵/۲۸۲، رقم الحديث: ۳۱۳۵، وأخرجه ابن ماجه ۱/۲۲۰ رقم الحديث: ۲۷۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

الْفَصْل الثَّالِث:

﴿۱۲﴾ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ وَ عَائِشَةَ قَالَا : اَلصَّلَاةُ الْوُسْطٰى

حضرت زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې صلوة وسطى (يعني مينځنى مونځ)

صَلَاةُ الظُّهْرِ [1]. (رَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ زَيْدٍ وَالتِّرْمِذِيُّ عَنْهُمَا تَعْلِيقًا).

د ماسپښين مونځ دى.

﴿۱۲﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ وَلَمْ يَكُنْ

دزيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د ماسپښين مونځ وختي كولو او نه به وو

يُصَلِّي صَلَاةً أَشَدَّ عَلٰى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مِنْهَا

يومونځ چې كولو به يې په مونځونو كې سخت په اصحابو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې په غير د ماسپښين مونځ نه نو

فَنَزَلَتْ : ﴿ حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَ الصَّلَاةِ الْوُسْطٰى ﴾

دا آيت نازل شو: تاسو د ټولو مونځونو او خصوصاً د مينځني مونځ حفاظت كوئ او زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

وَ قَالَ إِنَّ قَبْلَهَا صَلَاتَيْنِ وَ بَعْدَهَا صَلَاتَيْنِ [2].

به فرمايل : د ماسپښين مونځ نه مخكې هم دوه مونځونه دي او د دې نه پس هم دوه مونځونه دي.

﴿۱۴﴾ وَ عَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ وَ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ كَانَا يَقُوْلَانِ :

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ وايي ماته داخبره رارسيدلې ده چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ويل

الصَّلَاةُ الْوُسْطٰى صَلَاةُ الصُّبْحِ ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَ ابْنِ عُمَرَ تَعْلِيقًا) [3]

مينځني مونځ د سحر دى. او دا روايت امام ترمذي د ابن عباس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه نقل كړى دى تعليقا

د سحر مونځ كوونكي د ايمان علمبردار دى :

﴿۱۵﴾ وَ عَنْ سَلْمَانَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ : « مَنْ غَدَا إِلَى

حضرت سلمان نه روايت دى وايي چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې: څوك چې ځي د

---

(۱) أخرجه مؤطأ امام مالک ۱۳۹/۱ رقم الحديث: ۲۷ ،كتاب صلاة الجماعة ، و الترمذي عنهما تعليقا ۳٤۲/۱ رقم الحديث :۱۸۲.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۲۸۸/۱ رقم الحديث ٤۱۱ ، وأخرجه أحمد في المسند ۱۸۳/٥.

(۳) أخرجه مالک في الموطأ بلاغا ۱۳۹/۱ رقم الحديث : ۲۸ من كتاب صلاة الجماعة وأخرجه الترمذي تعليقا في سننه ۳٤۲/۱.

صَلَاةِ الصُّبْحِ غَدَا بِرَايَةِ الْإِيمَانِ وَ مَنْ غَدَا إِلَى السُّوقِ
سحر مونځ د پاره ، ګويا د ايمان جنډه يې په لاس کې وي او روان وي او څوک چې سحر بازار ته روان وي
غَدَا بِرَايَةِ إِبْلِيسَ »[1].
نو د شيطان جنډه يې په لاس کې وي او روان وي .

توضيح: برايۃ الايمان: يعنې کوم کس د سحر مونځ د پاره کور نه وځي ګويا د ايمان جنډه يې اوچته کړې او وځي او څوک چې د سحر مونځ نه بغير بازار ته روان شي چې تجارت وکړي نو د شيطان جنډه يې اوچته کړې ده او وځي . (المرقات ۲/۳۳۰، اشعة اللمعات ۳۳۸).

علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ وايي چې په دې حديث کې د رحمان د لښکر او د شيطان د لښکر تمثيل ذکر کړی.

تمثيل: تشبيه الهيئة المركبة بالهيئة المركبة نوم دی يعنې يو طرف ته ډير څيزونو مجموعه ده ددې نه يو هيئت او نتيجه مخې ته راځي دغه رنګ دويم طرف ته ډير څيزونه دي د هغې هم نتيجه ده ددې دواړو نتيجو يو بل سره تشبيه نوم تمثيل دی. (الكاشف ۲/۳۲٦).

مثلاً د شاعر په دې شعر کې د تمثيل نقشه واضحه ده :

كان مثار النقع فوق رؤسنا ❁ واسيافنا ليل تهاوى كواكبه

يعنې يو طرف ته د جنګ دوړه ده ددې نه تيارې خوره شوې وي په دې کې توري پرقيږي او نيزې حرکت کوي او دويم طرف ته د شپې تيارې ده په دې کې ستوري پرقيږي او ستوري تکړې تکړې شوې پرقيږي د دواړو صورتونو په مينځ کې د تشبيه نوم تمثيل دی .

په موجوده حديث کې دا کيفيت دی چې يو کس د سحر مونځ له ځي ګويا چې جنډه يې اوچته کړې وي داسې وي چې د لښکر سره د دښمن مقابلې د پاره داسې ځي څنګه چې مجاهدين د دښمن مقابلې د پاره وځي او د اسلام په غلبه کې اضافه کوي دوهم طرف ته کوم خلک چې د مونځ نه بغير غفلت سره بازار ته مخ کړي ګويا د شيطان جنډه يې اوچته کړې وي خپلو ملګروسره بازار ته ځي او د شيطان غلبه کې زياتوالی کوي .

يا سا[illegible] څوک چې د سحر مونځ وکړي او بازار ته ځي او حلال رزق ګټي هغه ددې وعيد نه بچ دی څکه چې دا ديو جائز کار د پاره وځي .

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۲/۷۵۱ ، رقم الحديث : ۲۲۳٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب الْأَذَان:

د اذان بيان:

قال الله تعالى: ﴿وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَعْقِلُونَ﴾(التوبة:۲)
و قال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِن يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ .(الجمعة: ۱۰).

د آذان شروع څنګه وشوه ؟ مکه مکرمه کې د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ معراج وشو د معراج په شپه کې مسلمانانو باندې مونځونه فرض شول چونکې مکه مکرمه کې په ښکاره د اسلام په ټولو احکاماتو عمل نه کيدو نو ځکه د مونځ د پاره د آذان اهتمام ونه کړی شو او دا ورځ د مکې آخري ورځې وې او د مدينې منورې طرف ته د تللو د وجې د آذان اهتمام نه شو کيدی چې کله پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مدينې منورې ته هجرت وکړو د هجرت په اولنې کال پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ سره مشوره وکړه مونځ ته د راجمع کيدو د پاره څه انتظام په کار دی مختلف طريقې او رايې مخې ته راغلې .د بعضې صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ رايه داوه چې کله د مونځ وخت شي نو جنډه به اوچته کړی شي نو خلک چې جنډه وينې نو جومات ته به راځي خو دا رايه محبوبه نه شوه چې هر کس پورې جنډه ورسي دا مشکل کار وو ، ځينې صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ مشوره ورکړه چې د مونځ په وخت کې به اورلګي پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دا خبره رد کړه چې دا خو د مجوسيانو سره ملګرتيا ده ، ځينې د ډول او ښکر وهلو مشوره ورکړه دا خبره يې هم ورته رد کړه دا خو د يهوديانو سره مشابهت دی ، ځينې صحابو د جرس او ټلئ وهلو مشوره ورکړه دا يې هم رد کړه چې دا هم د نصارا و د عبادت نښه ده ، آخر دا چې مجلس ختم شو او فيصله ونه شوه ، وختې طور باندې دا فيصله وشوه چې خلک به د مونځ د پاره په دې رابلو چې الصلاة جامعة نو خلک به مونځ ته راځي ، ويلې کيږي چې دا مشوره حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورکړې وه، ياد ساتئ د هجرت نه پس په اولنې هجري کال کې مسجد نبوي جوړ شو او په اولنې هجري کال کې د آذان مشروعيت وشو آذان اګر چې د يو لوي عبادت د پاره اعلان دی مګر آذان په خپله هم د اسلام يوه نښه ده .په دې کې هم د اسلام اهم څيزونه جمع کړی شوي دي د الله تعالى لوی والی او عظمت ذکر شوی دی او د توحيد لوي درس په کې موجود دی ، د کاميابی او د فلاح دعوت پکې پروت دی او د آخرت د پاره پوره تياری پکې پروت دی په آذان کې د روح پوره خيال ساتلی کيږي صرف په رسم آذان باندې څه حاصليږي .

الغرض! پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سره یو مخلص صحابي وو د هغه نوم عبدالله بن زید بن عبدربه وو ده ته ډیر درد وو چې پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د خلکو د راجمع کولو باره کې ډیر فکرمند دی، ډیر پریشانه او غم ورته وو چې دغه غم څنګه د پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه ختم کړو په دغه فکر کې هغه اوده شو په خوب کې یې یو نیک سیرته انسان ولیدو چې ناقوس یې اوچت کړی وو د دغه صحابي بیان دی چې ما دغه کس ته وویله ای د خدای بنده! ته دا ناقوس خرڅوي؟ هغه جواب ورکړو ته داد څه د پاره اخلي، ما ورته وویل دا به مونږ وهلو د پاره اخلو چې خلک مونځ له پرې راغونډ کړو نو هغه ورته وویل چې ددې نه بهتر څیز درته وښائم؟ ما غرض وکړو ضرور ولې نه، هغه راته وویل داسې ووایه دا یې وویل قبلې ته یې مخ کړو غوږونو کې یې ګوتې ورکړي او مکمل آذان یې وکړو، د صحابي بیان دی زه سحر وختي پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ خوا ته راغلم ټوله قصه مې ورته بیان کړه پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمایل: ان شاء الله دا خوب رښتیا دی ته دا کلمات حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وښایه د هغه آواز تیز دی هغه به ددې کلماتو په ذریعې سره آذان ورکوي، کله چې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آذان وکړو نو عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل لنګ راخکلو او پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ته حاضر شو او وي ویل: ای د الله رسوله! په الله قسم داخوب خوماهم لیدلې وو دا کلمې دي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: الحمد لله یعني د الله تعالی شکر یې ادا کړو.

بعضې روایاتو کې دي چې حضرت عبدالله بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمایي: ما چې کله خوب ولیدو په هغه وخت کې زه نه ډیر اوده وم او نه ډیر بیدار وم بلکې هسې د بیهوشۍ حالت وو؛ یو روایت کې فرمایي: که د خلکو بدګماني نه وی نو ما به ښکاره ویلی وی چې زه بیدار وم په دغه وخت کې. دې بیان نه دا خبره واضحه شوه چې آذان په مدینه منوره کې مشروع شوی دی کوم حضرات چې د مکې مکرمې قائل دي یا خو معراج کې پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ آذان اوریدلی دی یا جبرائیل امین چې کوم وخت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دنیا وي آسمان ته بوتلو یوې فرښتې د الله تعالی په مخکې وویل: الله اکبر الله اکبر د پردې نه شاته آواز راغې انا الله اکبر انا الله اکبر، ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ فرمایي دا ټول روایات صحیح نه دي اونه دا خبره ثابت ده چې په مدینه کې لس یا یولس یا څوارلس صحابو دا خوب لیدلی دی.

سوال: دلته سوال دا دی چې د آذان شرعي حیثیت څنګه وګرځیدو دا خو د یو صحابي خوب وو دا خو شرعي دلیل نه جوړیږي؟

جواب: چې کله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: **انها لرؤیا حق ان شاء الله**، ددې جملې نه د آذان شرعي حیثیت معلوم شو کویا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ددې خوب نه پس د وحي په ذریعې سره د آذان حکم ورکړی شوی وي، مصنف عبدالرزاق کې هم دي او په مراسیل د ابو داؤد کې هم دا روایت موجود دی چې حضرت عمر

Maktaba Tul Ishaat.com

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله آذان واوريد و نو فوراً د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوا ته راغی او وايي ما خو هم داسې خوب ليدلی دی نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : **سبقک بذلک الوحي** .دې روايت نه معلومه شوه چې دآذان مشروعيت صرف دصحابي په خوب نه دی بلکې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې وحي هم نازله شوې ده.

دآذان لغوي او اصطلاحي تعريف :آذان په لغت کې په معنی داعلام او اعلان سره دی يعنې خبرورکول، آذان د باب **تفعيل** مصدر دی د **فعال** په وزن راغلی دی او باب **تفعيل** نه داسې مصدر رائي لکه **تكذيبا و كذابا . تسليما و سلاماً**.او په اصطلاح کې: **هواعلام بدخول وقت الصلاة بذكر مخصوص في وقت مخصوص**،يعنې په مخصوص وختونو کې يو څو مخصوصو الفاظو سره د مونځ په وخت کې د راتلو خبر ته آذان ويلی شي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل :

دآذان کلمات او دويلو طريقه :

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : ذَكَرُوا النَّارَ وَ النَّاقُوسَ
د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې: صحابه کرامو د اور او ناقوس ذکر کړی وو (د آذان د
فَذَكَرُوا الْيَهُوْدَ وَ النَّصَارَى
مشروعيت نه مخکې د مونځ د وخت اعلان کولو په سلسله کې)بعضې د يهوديانو او د نصارا و ذکر
فَأُمِرَ بِلَالٌ أَنْ
وکړ (چې ددوئ مشابهت به اختيار کړی شي) بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړو چې
يَشْفَعَ الْأَذَانَ وَ أَنْ يُوتِرَ الْإِقَامَةَ . قَالَ إِسْمَاعِيلُ :
د آذان کلمات جفت وايه او وتر وايه د اقامت کلمات ، وايي شيخ اسماعيل رَحِمَهُ اللهُ (چې ددې حديث
فَذَكَرْتُهُ لِأَيُّوبَ.
راوي او د بخاري او مسلم استاذ دی) ما ددې حديث ذکر ايوب ته (چې ددې دويم راوي دی) وکړو نو

فَقَالَ : إِلَّا الْإِقَامَة . (متفق عليه) [1].
هغوي وويل چې : لفظ د **قد قامت الصلاة** دوه ځلي ووايه (يعني تكبير په اول او آخر كې **الله اكبر**
نه علاوه باقي كلمات يو يو ځلي او لفظ **قد قامت الصلاة** دوه ځلي) .

توضيح : **ان يشفع للاذان** يعني د آذان كلمات جفت وايي يعني دوه دوه كلمې يو ځاى كوى او وايي اواقامت كلمې طاق وايي يعني يويو كلمه ځان ځان له وايي په دې كې د فقهاو اختلاف دى .(المرقات ۲/۲۳۲، الكاشف ۲/۲۲۸؛ اشعة اللمعات ۳۲۹).

د فقهاء كرامو اختلاف : دكلماتو په تعداد كې او دغه رنګ په ادا كولو او د ويلو په اعتبار سره آذان په ځلور قسمه دى :اول مكي آذان دى دويم مدني آذان دى دريم كوفي دى آذان ځلورم بصري آذان دى .مكي آذان چې مكي خلكو خپل كړى وو او مكې كې به يې كولو (د اهل مكې آذان شوافعو اخستى دى ددې آذان(۱۹) نولس كلمې دي په دې كې ځلور ځله **اشهد ان لا اله الا الله** دى ځلور ځله **اشهد ان محمد رسول الله** دى په دې كې اته ځله شهادتين دي همدارنګې په دې كې ځلور ځله **الله اكبر الله اكبر** دى او ځلور ځله **حي على الصلاة** او **حي على الفلاح** دا ټول شپاړس كلمات شو او دوه ځله آخر كې الله اكبر او په آخر كې لا اله الا الله دى دا ټول نولس كلمات شو .دويم آذان د اهل مدينه دى دا حضرت امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ خپل كړې ذى ، ددې كلمات اولس دي ، دا يو قول مطابق اولس(۱۷) او د دويم قول مطابق ديارلس(۱۳) كلمات دى اولس(۱۷) كلمات داسې دى په شروع كې دوه ځله **الله اكبر** او بيا اته ځله شهادتين دي او ځلور ځله حيعلتين دي او بيا دوه تكبيره دي او بيا **لا اله الا الله** دى او دويم قول مطابق ديارلس كلمات داسې دي چې **الله اكبر** دوه ځله شهادتين ځلور ځله حيعلتين ځلور ځله آخر كې دوه ځله **الله اكبر** او بيا **لا اله الا الله** دى .د بصرينو آذان هغه دى كوم چې د اهل بصري والا دى او دې كې نولس كلمات دي خو د ويلو طريقه د شوافعو نه بدله ده هغه دا چې ځلور ځله تكبيرات او شپږ ځله شهادتين او شپږ ځله حيعلتين دي ، بيا دوه ځله الله اكبر او بيا **لا اله الا الله** دى : د اهل كوفه آذان امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ اخستلى دى او سفيان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ اخستى دى دا آذان په پنځلس كلمو باندې مشتمل

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۷۷،رقم الحديث : ٦٠٣، ومسلم في الصحيح ۱/۲۸٦ رقم الحديث:۳-۳۷۸، وأبو داود ۱/۳٤۹ رقم الحديث :٥٠٨، والنسائي ۲/۳، رقم الحديث:٦۲۷ ، والترمذي ۱/۳٦۹ رقم الحديث :۱۹۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

دی څلور ځله تکبیرات دي څلور ځله شهادتین دي څلور ځله حیعلتین دي آخر کې دوه ځله تکبیر او بیا لا اله الا الله دی. (اشعة اللمعات ۳۲۹، الکاشف ۲/۲۲۸).

د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا ټولې طریقې او اقسام د پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه ثابت دي دا اختلاف مباح دی چا چې کوم آذان وکړو جائز دي د محل او موقع په اعتبار سره په هریو باندې عمل کول جائز دی. بهر حال د آذان په کلماتو او طریقو کې د فقهاو اختلاف د اولی او غیر اولی دی د جواز او عدم جواز اختلاف نه دی.

دلائل: شوافع حضرات د مشکوة ص ۶۳ کې فصل اول کې دویم حدیث نه استدلال کړی دی چې د حضرت ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تفصیلی روایت دی، دغه رنګ شوافعو د مشکوة باب الاذان کې فصل ثاني کې دویم او دریم حدیث نه هم استدلال کړی دی او دواړه احادیث د ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دي، دا دري واړه احادیث د مشکوة اردو شرح توضیحات کې باب الاذان کې حدیث نمبر ۵، ۴، ۳، ۲، په حوالې سره درج دي، د شوافعو په نزد آذان کې چې د ترجیع کولو کومه مسئله ده هغه هم دلته ده چې شهادتین څلور ځلې وویلی شي یو ځلې په زوره او یو ځل په مزه باندې دې ته ترجیع ویلي شي عام شارحین چې کله د فقهاو اختلاف نقل کوي نو هغوي دا وایي چې شوافع د **ترجیع في الآذان** قائل دي ددې مطلب هم دا شو چې ددوي په نزد د آذان کلمات نولس دی. د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دلیل د اهل مدینې عمل دی بعضې روایات داسې دي چې په دې کې دوه ځله تکبیرات ذکر دي **ان یشفع الاذان** او آذان مثنی مثنی نه هم مالکیه یو حد پورې استدلال کوي. د احنافو دلیل په مشکوة شریف ص ۶۴ باندې د فصل دویم حدیث دی چې عبد الله ابن زید بن عبد ربه روایت دی چې توضیحات کې په ترتیب لسم نمبر (۱۰) حدیث دی، ددې روایاتو واضح الفاظو سره د آذان ذکر اوددې ابتدا هم ذکر ده او د پنځلس کلماتو وضاحت هم بیان کړی دی او حدیث د آذان د پاره اصل او بنیاد دی.

د احنافو دویم دلیل د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د زندګۍ هغه آذانین دي چې د پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په حکم باندې او د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په موجودګۍ کې کړي دي په مدینه منوره کې، دې کې د ترجیع نوم او نښه نشته دغه د حضرت عبد الله ابن مکتوم آذانونه دي دې کې هم ترجیع نشته دی دغه رنګ د زیاد بن حارث صدائي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په آذان کې هم ترجیع نشته دی حالانکه دریو واړو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په موجودګۍ کې آذان کولو. احنافو په عدم ترجیع باندې د ټولو روایاتو نه استدلال کړی دی په هغې کې الاذان مثنی مثنی الفاظ راغلي دي ظاهر دی چې کله دوه دوه کلمې وي نو د څلورو څلورو نفي وشوه دا یو جزئي دلیل دی داد مدعا یو جزء ثابتوي.

جواب: ائمه احناف د شوافعو د دلیل د ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روایت نه جواب کوي چې ده ته د ترجیع

شهادتین حکم ورکړی شوې وو دا په اصل کې د تعلیم په طور وو د آذان کولو هیڅ ضابطه او طریقه نه وه اصل واقعه داسې راغله چې پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د طائف نه واپس راتلو په لاره کې د مونځ وخت شو چې کله چې آذان کیدو نو د علاقې ماشومانو هم نقل شروع کړو آذان یې کولو په دې ماشومانو کې ابومحذوره لږ لوي وو پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دده د نیولو او ځان ته د حاضریدو حکم وکړو چې کله ابومحذوره راوستی شو پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ورته وفرمایل: آذان وکړه په دغه وخت کې مسلمان لا نه وو، حالانکه مشرکانو به هم الله تعالی لوي ګڼلو ځکه یې په الله اکبر کې هیڅ نه محسوسولو خو چې کله شهادتین ته ورسیدو نو په مزه مزه یې ولوستلو په خپله فرمایې چې کله ما په زوره ولوستلو نو اسلام زما په زړه کې دننه شو پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دده په سر باندې لاس کیښودو او لاړو حضرت ابومحذوره پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وویل ما د مکې مؤذن جوړ کړه پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دا دمکې مؤذن مقرر کړو نودغه شان آذان یې وکړو چې څنګه ورته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طریقه د تعلیم ښودلی وو دا ضابطه نه وه بلکې د پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د ابومحذوره سره مینه او محبت وو ددې وجې نه دا یو خصوصیت د ابومحذوره وو ددې وجې نه ده د خپل سر ویښته نه خرولي وو اونه یې واړه کړې ووځکه چې په دې باندې د پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لاس مبارک لګیدلی وو دغه رنګ معامله د آذان سره هم وکړه. احناف وایي: سنتیت د آذان **ترجیع في الاذان** باندې موقوف نه دی که څوک یې کوي نو منع نه دی اوکه څوک یې نه کوي نو سنت پریښودونکي نه دی، مخکې د ابومحذوره قصه نقل شوه دا طحاوي اوقدامه لږ په تفسیر سره ذکر کړې ده باقي امام مالک رَحِمَهُ اللهُ د دوو تکبیراتو والا حدیث نه استدلال کړی دی نو ابوداؤد د **قال ابوداؤد** ویلو سره په دې باندې تبصره کړې ده چې د زهري څومره شاګردان دی ټولو دابن عبدربه په روایت کې د زهري څلور تکبیراتو والا روایت نقل کړی دی صرف معمر دوه تکبیراتو والا ذکر کړی دی کلام ختم شو.

خلاصه دا شوه چې د معمر روایت د ثقاتو خلاف دی ځکه هغه ضعیف دی چې قابل قبول نه دی.

مونځ د پاره اقامت او د هغې کلمات: و ان یوتر الاقامة، اقامت اذان الحاضرین دی دومره آواز کو کار دي چې جومات کې دننه خلک صرف اوري او په جمعه کې شریک شي دغه رنګ د اقامت په کلماتو کې هم د فقهاو اختلاف دی د تعداد په اعتبار سره.

د فقهاو اختلاف: د امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد د اقامت په کلماتو کې ایتار دی یعني دا کلمات جفت نه دي بلکې طاق دي یعني الله اکبر الله اکبر اشهد ان لا اله الا الله، اشهد ان محمد رسول الله، حي على الصلاة، حي على الفلاح، قد قامت الصلاة، قد قامت الصلاة، الله اکبر الله اکبر

Maktaba Tul Ishaat.com

لا اله الا الله ، دا ټول یولس کلمات شو . (المرقات ۲/۳۳۲).

د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد **قد قامت الصلاة** هم یو ځل دی نو ټول لس کلمې شوې ، د جمهورو په مقابله کې احناف فرمایي په اقامت او آذان کې فرق نشته دی د دواړو پنځلس کلمات دي خو په اقامت کې **قد قامت الصلاة** دوه ځله اضافي دي نو د اقامت کلمات اولس شو د احنافو په نزد ، د اقامت په مسئله کې جمهور یو طرف ته دي او احناف بَلَ طرف ته دي .

دلائل : جمهور د اقامت په ایتارا وطاق کیدو باندې د هغه احادیثو د الفاظو نه استدلال کړی چې په هغې کې **ان یوتر الاقامة** الفاظ راغلي او موجوده حدیث کې دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا الفاظ موجود دي . (المرقات ۲/۳۳۲).

دائمه احناف دلیل : حضرت عبدالله بن زید انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د آذان روایت دی په هغې کې وکذا الاقامة الفاظ راغلي دي په مشکوة ص ٦٤ باندې موجود دی یعنې آذان په شان د اقامت هم دی او قد قامت الصلاة دوه ځله په اقامت کې مسلم دی د اقامت ټول اولس کلمات د حدیث نه ثابت شو .

د احنافو دویم دلیل د حضرت ابومحذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی د مشکوة په ص ٦٣ باندې موجود دی په دې کې دا الفاظ دي والاقامة سبع عشرة کلمة دا نهایت صریح دلیل دی ، څلورم دلیل د سلمه بن اکوع روایت دی پنځم دلیل د حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی ، شپږم دلیل د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی ، ددې حضراتو ټولو روایاتونو کې دا الفاظ موجود دي : **الاذان مثنى مثنى والاقامة مثنى مثنى** طرز استدلال داسې دی چې کله اقامت دوه دوه ځله دی نو ایتار چرته شو ؟ .

جواب : احناف د جمهورو دلیل **یوتر الاقامة** نه یو جواب دا ورکړو که ددې جملې مطلب دا وي کوم چې جمهورو اخستی دی نو داد بیان جواز د پاره دی په اقامت کې ایتار هم جائز دی کله کله داسې هم شوې دي . **دویم جواب** دادی د اقامت د کولو طریقه یې ښودلې ده چې په آذان کولو کې ترسل او تمهل دی په مزه مزه وایي او په ې باندې **ان یشفع الاذان** الفاظ دلالت کوي او په اقامت کې حدر دی چې په جلتی جلتی یوه کلمه په یوه ه ویل په دې باندې ان **یوتر الاقامة** الفاظ دلالت کوي که د ویلو طریقه او انداز ښودل مراد نه دی بیا خو شفع جفت ته ویلي شي یعنې دوه دوه کلمې وي حالانکه جمهور د څلورو کلمو د ویلو قائل دي چې تکبیرات څلور وي او شهادتین څلور څلور ځلې وي نو شفعه باندې څنګه عمل راغی او که د ان **یشفع الاذان** نه پوره آذان شفعه مراد شي نو آیا دوباره آذان به کولی شي چې شفعه متحقق شي ؟ معلومه شوه چې ایتار الالفاظ مراد نه دي بلکې ایتار صوت مراد دی او که ان یوتر

الاقامة کې ایتار معنی که یو یو ځلې ویل وي نو بیا داسې ویل په کار دی حالانکه جمهور د قد قامت الصلاة دوه ځلې او اول او په آخر کې تکبیر هم دوه ځلې ویلو باندې فتوی ورکوي که په ایثار باندې عمل وي نو بیا کلمات یو یو ځل ادا کول په کار دي چې بیا په اته کلماتو باندې عمل وشي اصل حقیقت دادی چې په دې حدیث کې د آذان او اقامت کیفیت ذکر دی د جفت او طاق خبره نشته دی بلکې د کلماتو د ادا کولو کیفیت بنودل شوی دی **تَرَسَّلُ** و **تَحَدُّرُ** خبره بیان شوې ده چې په دې باندې **ان یشفع الاذان** او **ان یوتر الاقامة** دلالت کوي او په راتلونکي حدیث د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث نمبر ۷ کې واضح طور باندې پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د ترسل او تحدر حکم کړې چې ددې توجیه تائید دی .شیخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ په اشعة اللمعات کې ددې حدیث په وضاحت کې لیکلي دي چې دبنوامیه د بعضې حکمرانانو په نزد مخکې زمانه کې د اقامت او د آذان الفاظ یو شان لوستلی کیدل په دواړو کې هیڅ فرق نه وو لیکن د بنو امیه بعضې حکمرانانو په اقامت کې فرق وکړو چې کله مونځ د پاره بهر راووتل دوي ته به د مونځ جلتي وه ځکه دوي د اقامت کلمات یو یو کړل او ځان له یې جوړ کړل دغه رنګ دا سلسله چلیده .توجیه شیخ دهلوي رَحِمَهُ اللهُ په اشعة اللمعات کې لیکلي ده لیکن دا د پوهیدو نه ډیره لرې خبره ده ، **والله اعلم** (اشعة اللمعات ۳۲۹).

د ناقوس تحقیق : الناقوس په احادیثو کې د ناقوس لفظ ذکر دی ددې د مسترد کیدو وجه دا ذکر شوې ده چې داد نصارا و د عبادت نښه ده ناقوس د دوو لرګو د مجموعې نوم دی په دې کې یو لرګی اوږد وي او یو وړوکی وي وړوکی لرګی په غټ لرګي باندې ووهلی شي نو آواز پیدا کوي د عیسایانو په ګرجو کې نن سبا دا څیزونه وي کوم ته چې ټلئ ویل کیږي نن سبا عیسائیان د لرګو په ځای د جدید اشیاو استعمال کوي .(المرقات ۲/۳۳۱).

النار دې حدیث کې د اور ذکر راغلی دی دا یې ځکه مسترد کړو چې دا د مجوسیانو نښه ده .

سوال : دلته حدیث کې اور او ناقوس ذکر دی بیا د نصارا و ذکر وو ددې نه معلومه شوه چې اور بلول د یهودو د عبادت مضبوطه نښه ده حالانکه داد مجوسیانو نښه ده د یهودو نه ده.

جواب : ددې جواب عامو شارحینو ورکړی دی کیدی شي د بعضو یهودو په نزد د اور رنا کول د عبادت نښه وه او د اکثرو په نزد نښکر او بوق یعنې بغل وهل علامت او نښه ده .

ددې اعتراض صاحب د تعلیق الفصیح دا ورکړی چې په حقیقت کې ددې حدیث بیانولو کې راویانو د اختصار نه کار اخستی دی ددې په مفهوم کې مشکل والی پیدا کړی دی په تفصیلي روایاتو کې د اور ناقوس او د بوق ذکر دی بیا د مجوسو او نصارا و د یهودو ذکر دی ، دې ترتیب کې لف ونشر مرتب دی لیکن بعضې راویانو په دې کې اختصار کړی دی او بوق یې نه دی ذکر کړی دوي ته په کار وو چې د

Maktaba Tul Ishaat.com

بوق ذکر یې نه کولو نو بیا به یې یهود هم نه ذکر کولی او د اور سره به یې مجوس ذکر کولی خو داسې ونه شوه نو مفهوم کې خلل راغی داسې معلومه شوه چې اور د یهودیانو د عبادت قومي نښه ده حالانکه داسې نه ده. عمدة القاري کې علامه عیني رَحِمَهُ اللَّهُ وایي عبد الوارث په دې حدیث کې دا اختصار کړی علامه عیني رَحِمَهُ اللَّهُ وایي دروح په روایت کې ابو الشیخ تفصیلي حدیث داسې نقل کړې دی: **فقالوا لو اتخذنا ناقوسًا فقال النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذلک للنصاری فقالوا لو اتخذنا بوقا فقال ذلک لليهود فقالوا لو رفعنا نارًا فقال ذاک للمجوس** (التعليق الفصيح ص ۹۷)(المرقات ۲/۳۳۱).

بوق، القرن او الثبور دا دري واړه الفاظ دي چې څیز د پاره ویلی کیږي داد شپیلۍ په شان یو آله ده، دې کې پوک وهلو سره یو تیز آواز پیدا کیږي منجد کې ددې تصویر د مائکروفون په شان جوړ دی ددې ترجمه: بګل، نرسنګا او سنګ سره کولی شي. **الا الاقامة**: یعني **قد قامت الصلاة** دوه ځلې ویل کیږي ځینې روایاتو کې استثناء نشته په دې امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ عمل کړی دی د هغه په نزد **قد قامت الصلاة** یو ځای ویلي کیږي نو بیا د هغې په نزد د اقامت کلمات لس دي. د مختلفو احادیثو نه معلومیږي چې د اقامت او آذان په کلماتو کې کافي فرق دی ددې وجې نه دا امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د موقع او محل په اعتبار سره ټولې طریقې خپلول مباح دی. دا فیصله ډیره ښه ده ددې وجې نه چې په ټولو احادیثو باندې عمل راشي نن سبا په حرم شریف کې آذان د احنافو په مسلک باندې کیږي او اقامت د شوافعو او د جمهورو په مسلک باندې کیږي. باقي دا مسئله زیر بحث راوړې ده چې د آذان شرعي حیثیت څه دی؟

د آذان شرعي حیثیت: د جمهورو فقهاو راجح مسلک دادی چې پنځه مونځونو د پاره آذان سنت دی، د احنافو دا اکثرو فقهاو دا فتوی ده خو بعضې احناف آذان ته واجب وایي چې پنځه وخته مونځونو د پاره آذان کول واجب دي، دا حضرات دا امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ دیوې فتوی نه استدلال کړی امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ وایي چې کوم خلک یا قوم آذان ونه کړي نو د وخت حکومت باندې لازم دي چې دغه خلکو سره جنګ وکړي ددې وجې نه بعضې حضرات د آذان د وجوب قائل دي ځکه یې خو ددې په نه کولو باندې د جهاد او جنګ حکم کړی دی لیکن ددې حضراتو دلیل تام نه دی ځکه چې آذان سنت کید و سره سره د اسلام نښه هم ده او د اسلام د شعائرو نه دی او د حکومت ذمه داري ده چې د شعائر اسلام حفاظت وکړي دا جنګ د شعائر اسلام د حفاظت په بنیاد باندې دی د آذان د وجوب په بنیاد باندې نه دی.

د آذان د کلماتو حکمت او مقصد:

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ قَالَ: أَلْقَى عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّأْذِينَ هُوَ بِنَفْسِهِ

د ابو محذوره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام په خپله ما ته (بغیر د واسطې نه) آذان خودلی

فَقَالَ : " قُلِ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ

دی ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : وايه الله ډير لوی دی ، الله ډير لوی دی ، الله ډير لوي دی ، الله ډير لوی دی ،

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ

زه ګواهي ورکوم چې د الله تعالی نه غير بل د عبادت لائق نشته زه ګواهي ورکوم چې د الله تعالی نه غير

إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا

بل څوک د عبادت لائق نشته ، زه ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی زه ګواهي ورکوم چې محمد

رَسُولُ اللهِ . ثُمَّ تَعُودُ فَتَقُولَ : أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

د الله رسول دی ، بيا يې وفرمايل : چې وايه زه ګواهي ورکوم چې د الله نه غير بل معبود نشته دی ، زه

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ

ګواهي ورکوم چې د الله تعالی نه غير بل معبود نشته دی ، زه ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی زه

أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ

ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی ، راځئ مونځ طرف ته راځئ مونځ طرف ته راځئ کاميابۍ طرف

حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ" (رَوَاهُ مُسْلِمٌ). (۱)

ته ، راځئ کاميابي طرف ته الله ډير لوی دی الله ډير لوی دی د الله نه سوا بل معبود نشته دی .

توضيح : اکبر د اسم تفضيل صيغه نه ده بلکې د صفت مشبه صيغه ده ددې ترجمه داده چې الله تعالی ډير لوي دی که اسم تفضيل شي نو معنی به يې دا شي چې الله تعالی د ټولو نه لوي دی دې کې دا نقصان دی چې د الله د توحيد په موقع باندې نور هم لوي تسليم کړی شوي دي چې د وحدانيت منافي دی ځلور ځلې الله اکبر ويلو سره دا اشاره مقصود ده چې د الله تعالی عظمت او لوی والی ځلور طرفه عالم کې جاري او ساري دی . (المرقات ۲۳۲-۲/۲۳۳).

حي علی الفلاح : ددين او دنيا د کاميابي او د هر مصيبت نه د حفاظت نوم فلاح دی ، دې کې ټولې نيکۍ راغلې او بديو نه د بچ کيدو ضمانت راغلی دا مسنونه او منقوله جمله ده چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۲۸۷/۱ رقم الحديث:٦-۳۷۹، وأبو داود ۳٤۳/۱ رقم الحديث :٥۰۳، والنسائي ٥/۲، رقم الحديث: ٦۳۲ ، وابن ماجة ۲۳٤/۱، رقم الحديث: ۷۰۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

امت ته ذکر کړې ده او د فرښتو تعليم سره ملاؤ ده دا جمله يې شيعه او روافض نه منې هغوي ددې په ځای **حي على خير العمل** په آذان کې وايي حالانکه دا دروغ دي اوبدعت دي.

د روافضو آذان داهل حق نه ډير خلاف دی په دې کې د ګمراهۍ اودمنافقت اوپه امت کې د جدا والې پيدا کيدو د پاره نور اعلانات دی، دحضرت ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې روايت کې **ترجيع في الاذان** ذکر ده چې شوافعو اومالکيو اختيار کړی دی .د ترجيع مطلب دادی چې شهادتين يو ځلې په مزه ويلې شي بيا دوباره په تيز آواز وويلې شي او پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د دوباره ويلو حکم بطور تعليم وو تاسو دا شرعي وګڼلو او د عمر تر ډوله موده مو په دې عمل وکړو بهر حال دا حديث د شوافعو دليل دی.

الْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۳﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَانَ الْأَذَانُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی، وايي چې: د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په زمانه کې د آذان کلمات دوه دوه

وَ الْإِقَامَةُ مَرَّةً مَرَّةً غَيْرَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ.(۱)

ځلې او تکبير کلمات يو يو ځلې ويل کيدلی البته (تکبير کې) قد قامت الصلاة مؤذن دوه ځلې ويله.

﴿٤﴾ وَعَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهُ الْأَذَانَ تِسْعَ عَشْرَةَ

د حضرت ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې: پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ده ته ښودلي وو، د آذان نولس

كَلِمَةً وَ الْإِقَامَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً.(۲)

(۱۹) کلمات او د اقامت يې ورته اولس (۱۷) کلمات ښودلي وو.

توضيح: سبع عشرة كلمة يعنې د اقامت کلمات (۱۷) دي دا حديث په واضح طور باندې دا حنافو دليل دی، د احنافو په نزد دا روايت د نورو رواياتو د پاره ناسخ دی چې په کومو کې د اقامت يولس (۱۱) کلمات ذکر دي، دې روايت نه د شوافعو د مسلک مطابق د آذان نولس (۱۹) کلمات ثابتيږي د احنافو په نزد **شهادتين** کې تکرار په تعليم باندې محمول دی د ترجيع د پاره نه دی. (المرقات ۲/۱۲۳).

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۵۰ رقم الحديث: ۵۱۰.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۳/٤۰۹، وأخرجه أبو داود في السنن ۱/۳٤۲ رقم الحديث: ۵۰۲، وأخرجه الترمذي في السنن ۱/۳٦۷، رقم الحديث: ۱۹۲.

﴿٥﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ عَلِّمْنِي سُنَّةَ الْأَذَان

حضرت ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته غرض وكړو يا رسول الله! ما ته د آذان طريقه وښايه

قَالَ : فَمَسَحَ مُقَدَّمَ رَأْسِهِ . قَالَ : " تَقُولُ اَللهُ أَكْبَرُ

راوي وايي :نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ابو محذوره په تندي باندې لاس رابنكلو او بيا يې وفرمايل وايه : الله اكبر

اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ تَرْفَعُ بِهَا صَوْتَكَ ثُمَّ تَقُولُ : أَشْهَدُ أَن لَا إِلَه إِلَّا الله أشهد أَن لَا

الله اكبر ،الله اكبر ،الله اكبر په دې سره آواز اوچت كړه بيا وايه : اشهد ان لا اله الا الله ، اشهد ان لا

إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ تَخْفِضُ بِهَا صَوْتَكَ ثُمَّ

اله الا الله ، اشهد ان محمدًا رسول الله ، اشهد ان محمدًا رسول الله دا په قلاره باندې ووايه بيا آواز

تَرْفَعُ صَوْتَكَ بِالشَّهَادَةِ: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَن لَا إِلَه إِلَّا الله أشهد أَن مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ

اوچت كړه په شهادة سره اشهد ان لا اله الا الله ، اشهد ان لا اله الا الله ،اشهد ان محمدا رسول الله

أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ فَإِنْ كَانَ

اشهد ان محمدًا رسول الله حي على الصلاة ، حي على الصلاة ، حي على الفلاح ، حي على الفلاح ، كه چيرته

صَلَاةُ الصُّبْحِ قُلْتَ : الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ

د سحر د پاره آذان وي نو ددې نه پس دا كلمات وايه : الصلاة خير من النوم ، الصلاة خير من النوم

اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ". (١).

(يعني مونځ دخوب نه بهتر دى) الله اكبر ،الله اكبر ،لا اله الا الله .

توضيح : ان **تخفض بها صوتك** : په دې روايت كې **ترفع** او **تخفض** الفاظ راغلي دي نو ددوي په نظر كې د احنافو هغه توجيه صحيح نه ده چې شهادتينو كې تكرار د تعليم د پاره دى ځكه چې دا حديث دغه توجيه ته اجازت نه وركوي .لهذا د احنافو جواب به همدغه وي چې نور ډير روايات او عبد الله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قصه د آذان او د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغيره مؤذنينو ترجيع نه كوله،ددې ټولو امورو د وجې نه

---

(١) أخرجه أبوداود في السنن ١/٣٤٠ رقم الحديث : ٥٠٠ ، وأخرجه النسائي في السنن ٢/٧ رقم الحديث :٦٣٣.

Maktaba Tul Ishaat.com

احنافو د حضرت ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايات مرجوح كړو او نور روايات يې راجح كړل. (المرقات ۲/۲۳۷)

مقدم رأسه: يعني روايا تو كې د رأس لفظ راغلى دى دا د دې خبرې دليل دى چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د حضرت ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سر لاس ايخودى وو دا واضح او راجح دى بعضې حضراتو د دې جملې مطلب دا اخستى دى چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپل سر مُبارک لاس راخكلى وو دا مطلب واضح نه دى.

د آذان نه پس د مونځ د پاره اعلان څنګه دى؟

﴿٦﴾ وَ عَنْ بِلَالٍ قَالَ : قَالَ لِيْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « لَا تُثَوِّبَنَّ
د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى، وايي چې : پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ما ته وفرمايل : چې تثويب مه
فِيْ شَيْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ إِلَّا فِيْ صَلَاةِ الْفَجْرِ». (۱)
كوه په هيڅ يو مونځ كې د مونځونو نه په غير د سحر مونځ نه.
وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ : أَبُو إِسْرَائِيلَ الرَّاوِي لَيْسَ هُوَ بِذَاكَ الْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيْثِ.
امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ وايي چې ابو اسرائيل راوي قوي نه دى د محدثينو حضراتو په نزد باندې.

توضيح: لا تثوبن، دا صيغه د **تثويب** د باب **تفعيل** نه ده په لغت كې **تثويب** په معنى د رجوع او واپس كيدو دى دې نه ثيبه بنځه مراد ده دې نه ثوب او ثواب دى په دې اعتبار سره بيت الله ته مثابة للناس فرمايلي دي په دې ټولو كې واپسئ معنى موجود ده دلته حديث كې تثويب اعلام بعد اعلام او اطلاع بعد اطلاع ده اعلان بعد اعلان مراد دى تثويب په دري معنو او دريو مطالبو او مقاصدو باندې رائي

(۱) اقامت او تكبير ويلو ته هم تثويب ويل كيږي (۲) د سحر آذان كې **الصلاة خير من النوم** ويلو ته هم تثويب ويل كيږي (۳) اعلام نه پس اعلام يعني د آذان ويلو نه پس اقامت نه مخكې يو كس اعلان وكړي اوخلكو ته د مونځ رابللو د پاره خپلو الفاظ كې اعلان وكړي دې ته هم تثويب ويل شي. (اشعة اللمعات ۳۳۰، المرقات ۲۳۷-۲/۲۳۸).

دې تثويب كې سخت اختلاف دى، متقدمينو او سلف صالحينو دې ته مكروه او بدعت ويلي دي. د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه منقول دي او دده متعلق مشهور دي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو كس جومات كې وليدو چې هغه تثويب كولو يعني د آذان نه پس يې د مونځ د پاره اعلان كولو، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل: **اخرجوا هذا المبتدع من المسجد**. (اشعة اللمعات ۳۳۱، المرقات ۲/۳۳۸).

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۷۸ رقم الحديث : ۱۹۷ .

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کې منقول دي چې دوي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ځلې جومات کې مؤذن په تثويب کولو باندې وليدو ، عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جومات نه بهر راوتو او خلکو ته يې وفرمايل چې دې بدعتي مخې ته مه ودريږئ ، امام محمد رَحِمَهُ اللهُ به هم داسې قسمه تثويب باندې سخت خفه کيده او ويل به يې چې تول مسلمانان په عبادت کې يو شان دي ، بهر حال د سحر په آذان کې **الصلاة خير من النوم** کوم تثويب دی داد زماني د رسالت نه جاري دی د غفلت او خوب د وجې يا د سستۍ د وجې نه دې الفاظو ويلو ته د سنت درجه حاصله ده ، ددې نه علاوه خلکو په خپل خپل انداز کې ددې نه علاوه نور اعلانات د سحر مونځ کې داخل کړي دي ځکه چې د سحر وخت د خوب او غفلت او سُستي وي .

بيا آخر کې امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ عام مونځونو کې د قاضيانو او حکامو او په دين کې مشغوليدونکو خلکو د پاره خاص طور باندې اعلان کول د آذان نه پس جائز وګرځول د مشغولتيا د وجې نه چې مؤذن وغيره ورښې او ورته ووايي: **ايها الامير الصلاة جامعة** ، او متاخرينو په دين کې مشغوله خلکو ته اطلاع ورکولو د پاره اعلان ښه وګڼلو ، ګويا د زماني د تبديلئ د وجې نه يا د زماني د خلکو د تبديلئ د وجې نه حکم بدليږي لکه څنګه چې نن سبا په مدارسو کې د آذان نه پس دوباره د پاڅيدو د پاره اعلان کوي، دغه رنګ مؤذنينو پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ته هم خصوصي اطلاع ورکړې وه ، خلفاء راشدينو ته هم ورکړی شوې وه دوي انکار نه شي کولی په ښکاره عامو جوماتونو کې دآذان نه پس دوباره اعلان کول ناجائزدي ياکه چيرته خاص داعي ياخاص سبب دوجې نه کله يوکس اعلان وکړي هغه بيله خبره ده مګرمستقل طور باندې دآذان نه پس اعلان کول په هر حالت کې بدعت دی ، ځکه چې ددې وجې نه د آذان حيثيت او مشروعيت اصل مقصد ته نقصان رسي .

په آذان کولو کې ځينې غلطياني خطرناکې دي :

﴿۷﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِبِلَالٍ : « إِذَا أَذَّنْتَ

دحضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې کله ته آذان کوې

فَتَرَسَّلْ وَ إِذَا أَقَمْتَ فَاحْدُرْ وَاجْعَلْ بَيْنَ أَذَانِكَ وَ إِقَامَتِكَ قَدْرَ

نوپه وقفه وقفه يې کوه اوچې کله اقامت کوې نوزرزريې کوه دآذان او تکبير په مينځ کې دومره وقفه کوئ

مَا يَفْرُغُ الْآكِلُ مِنْ أُكْلِهِ وَالشَّارِبُ مِنْ شُرْبِهِ وَ الْمُعْتَصِرُ إِذَا دَخَلَ لِقَضَاءِ حَاجَتِهِ

چې روتی والا دخپلې روتی نه اواوبو والا دخپلو اوبونه اوقضاء حاجت ته تلونکي د خپل قضاء حاجت نه

Maktaba Tul Ishaat.com

وَلَا تَقُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوْنِيْ ». (۱)
فارغ شي او هغه وخت پورې مونځ د پاره مهٔ ودريږئ ترڅو پورې چې موزه نه يم ليدلی .دا حديث ترمذي
وَ قَالَ : لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيْثِ عَبْدِ الْمُنْعِمِ وَ هُوَ إِسْنَادٌ مَجْهُوْلٌ.
نقل کړی او ويلي يې دي چې دا حديث غير د عبد المنعم نه دبل چانه،نه پيژنو او د دې سند مجهول دی.

توضيح : **فترسل وقفې وقفې سره آذان کولو ته ترسل ويلی کيږي او زر زر تکبير کولو ته حدر ويلی شي** دا حديث په دې خبره واضح دليل دی ، احناف چې په آذان او اقامت کې د شفع او ايتار کومه معنی اخيستې ده په دې حديث کې په دغه طرز تعليم ورکړی شوی دی او دغه معنی د دې احاديثو مطالبو ته ډيره نزدې ده ، دې حديث نه دا خبره هم معلومه شوه چې په دې آذان او اقامت کې د غلطی نه ځان بچ ساتئ ځکه چې آذان کې غلطي کولو سره ايمان کې د خرابی خطره وي مثلاً : **الله اکبر** کې **الف** باندې مد وويلي شي او د **اکبر** په ځای باندې **اکبار** ويلی شي او قصداً داسې کولو سره د کفر خطره وي ځکه چې د مد په صورت کې استفهام پيدا شي چې آيا الله لوي دی يا نه دی ، دغه رنګ **اکبار** د **کبر** جمع جوړيږي د دې معنی يو قسم طبله رائي دغه رنګ د **اشهد الف** باندې مد راشي نو د استفهام معنی شوه چې خطرناکه ده ګويا مؤذن ووايي چې آيا زه ګواهي ورکړم ، دغه رنګ د **ان** په ځای **انا** ويلي شي علماء ليکي د آذان او اقامت کلمات د وقف په حالت سره منقول دي د هرې کلمې په آخر کې اعراب بنکاره کولو سره خلاف سنت کار دی لکه **حي علی الصلاة** ، **حي علی الفلاح** په آخر کې اعراب نه بنکاره کول ځکه چې د وقف په حالت کې منقول دی ، دغه رنګ **قد قامت الصلاة** د وقف په حالت کې منقول دی د دې په آخر کې پيش ويل غلط دی .

د آذان او جمعې په مينځ کې څومره وقفه کول په کار دي ؟ قدر ما يفرغ الآكل : دا د آذان او د اقامت په مينځ کې د مقدار بيان دی چې د آذان نه پس دومره وقفه په کار ده چې يو مونځ کوونکي د قضاء حاجت ضرورت محسوس کړي او په آسانی سره ترې فارغ شي يا ولږې والا خپل ضرورت پوره کړي يا بل يو مختصر ضرورت په کې پوره کړي نن سبا د ګهړئ ترلی انتظام دئ يعنې جوماتونو کې نيمه ګينټه وقفه ورکولی شي ، بعضو کې پنځلس منټه د پاکستان په مؤذنينو کې د ټولو نه لويه کمزوري داده چې په دې

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۷۳ رقم الحديث : ۱۹۵ .

ملک کې افغانستان . بنګله دیش کې آذان د وخت تعیین د پاره نه وي بلکې د مونځ د تعیین د پاره وي که آذان د وخت د تعیین د پاره وي نو د وخت شروع کیدو نه یو څو مینټه مخکې به یې آذان کولو مګر داسې نه وي لکه د ماسپښین وخت د زوال نه شروع کیږي نو مناسب او مسنون دا دی چې په دغه وخت کې آذان کولی شوی لیکن آذان د وخت شروع کیدو نه پس نیمه ګینټه بعد کولی شي خو سعودي عرب کې آذان د وخت د تعیین د پاره کولې شي نو د وخت په شروع کې کولی شي دا ډیره ښه خبره او عمل دی. (الکاشف ۲/۲۳۳، المرقات ۲/۳۳۸، اشعة اللمعات ۳۳۱).

د صفونو صحیح کولو د پاره دې مقتدیان کله اودریږي ؟ ولا تقوموا حتی تروني: چې کله مؤذن اقامت د پاره اودریږي چې څو پورې تاسو زه نه یم لیدلی دغه وخته پورې تاسو کینئ پاسئ مه ځکه د وخت نه مخکې پاڅیدو کې تکلیف ډیروي، د دې حدیث نه معلومه شوه چې د تکبیر شروع کیدو نه پس به نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ د حجرې نه راوتو او چې کله حي علی الصلاة ویلو نو پیغمبر عَلَيْهِ ٱلصَّلَاةُ وَٱلسَّلَامُ به محراب ته رارسیدو، اوس پاتې شوه دا مسئله چې مقتدي به د مونځ د پاره کله اودریږي دې کې اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف: د امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ او د جمهورو علماو رای داده چې په صفونو کې د مقتدیانو د پاره مقرر وخت نشته څه وخت چې وغواړي نو صف دې برابر کړي، د بعضې علماو رای داده چې کله مؤذن قد قامت الصلاة ووایي نو مقتدي دې دغه وخت کې ودریږي، په مصنف ابن ابي شیبه کې سوید بن غفله، قیس بن حازم، حماد، سعید بن مسیب او حضرت عمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ ٱللَّهُ قول نقل کړې دی چې کله مؤذن اقامت شروع کړي نو **قیام الی الصفوف** واجب دی چې په صفونو کې اعتدال راشي چې کله مؤذن اقامت ختم کړي نو امام دې تکبیر شروع کړي. د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ مسلک دا دی چې مؤذن **قد قامت الصلاة** ووایي نو امام دې تکبیر تحریمه شروع کړي او مونځ دې هم شروع کړي او د امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ یو قول دا هم دی خو د جمهورو مسلک دا دی چې مؤذن څو پورې اقامت ختم کړې نه وي نو امام به تکبیر نه کوي او دا امام صاحب رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم یو قول دی او فتوی په همدې قول باندې ده. د امام شافعي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په نزد چې کله مؤذن تکبیر کولو نه فارغ شي نو مقتدیان دې اودریږي د دې حدیث نه دا مسئله واخستلی شوه چې څوک هم د اقامت په وخت کې یا د دې نه مخکې جومات ته راشي نو ده ته مخکې ناسته په کار ده ییا په **حي علی الصلاة** باندې اودریدل په کار دي. نن سبا اهلِ بدعت د همدې بدعت پابندي کوي دوي ولاړ کس معاف کوي نه تر څو چې یې کینولی نه وي زما په خیال دا اهل بدعت په یو علمي غلطي کې دي که نه نو په حدیث کې ولاړ کس کینول د التزام اشاره قدرې هم نشته دی.

فقهاء احناف کتابونو کې لیکلي دي چې **حي علی الفلاح** په وخت کې اودریږئ د دې دا مطلب دی که د مجبورۍ د وجې نه مخکې ونه دریږي نو ییا د دې نه پس د ناستې اجازت نشته دی، فقهاء لیکي چې د

Maktaba Tul Ishaat.com

نستې آخري حد حي على الصلاة دی ، ددې نه پس ناسته جائز نه ده ددې دا مطلب نه شو چې د حي على الصلاة نه مخکې به څوک نه اودريږي او که څوک ودريدو نو د طعن لائق به وي لکه څنګه چې يې اهلِ بدعت کوي.

شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ ددې حديث لاندې ليکي : اى لا تقوموا للصلاة بمجرد الاقامة حتى تبصروني اخرج من البيت و في الفقه يقوم عند على الصلاة و يحرم عند قد قامت الصلاة (لمعات ج ۳ ص ۹)

دې عبارت کې هم دغه خبره ده چې د حي على الصلاة نه پس ناسته منع ده ځکه چې صف نيغول په کار دي دا نه چې د حي على الصلاة نه مخکې ناسته لازم ده ، شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې ليکلي دي : کيدی شي پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د حي على الصلاة سره د حجرې نه محراب ته راتلو ځکه يې فرمايلي: چې زما راتلو او ليدو پورې مه اودريږي (اشعة اللمعات ج ۱ ص ۳۳۱)

آيا چې کوم کس آذان وکړي هغه دې اقامت هم وکړي ؟

﴿۸﴾ وَعَنْ زِيَادِبْنِ الْحَارِثِ الصُّدَائِيِّ قَالَ: أَمَرَنِيْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنْ أُوْذِنْ فِي
د حضرت زيد بن حارث صدائي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی فرمايي چې ما ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د آذان حکم وکړو د
صَلَاةِ الْفَجْرِ » فَأَذَّنْتُ فَأَرَادَ بِلَالٌ أَنْ يُقِيمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ:
سحر مونځ د پاره ما آذان وکړو بيا حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اقامت کول غوښتل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې :
« إِن أَخَا صُدَاءٍ قَدْ أَذَّنَ وَ مَنْ أَذَّنَ فَهُوَ يُقِيمُ ».(۱)
صدائي ورور دې آذان کړی دی او څوک چې آذان وکړي هغه به اقامت هم کوي.

توضيح : ان اخا صدا : زياد بن حارث صدائي ته پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په دې حديث کې اخا صدا ويلی دا صحابي دی او د يمن اوسيدونکي دی د قبيلې نوم يې صدا دی ده ته د ددې نسبت د وجې نه صدا ويلی شو د عربو دستور دی چې د يوې قبيلې د کس ذکر کيږي نو هغه ته د ددې قبيلې ورور ويلی کيږي ددې قاعدې مطابق پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دې صحابي ته اخا صدا وفرمايل يعنې د صدا قبيلې ورور. (المرقات ۲/۳۴۰، اشعة اللمعات ۳۳۱).

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۸۳ رقم الحديث : ۱۹۹، وأخرجه أبوداود في السنن ۱/۳۵۲ رقم الحديث : ۵۱٤ .

فهو يقيم : چې څوک آذان وکړي د هغه حق دی چې اقامت هم وکړي ددې په استحقاق کې د فقهاو معمولي شان اختلاف دی . (المرقات ۲/۳۴۰).

د فقهاو اختلاف : د استحقاق تقاضا خو داده چې څوک آذان وکړي هغه دې اقامت هم وکړي خو که بل چا اقامت وکړو نو ددې شرعي حيثيت څه دی دې کې د شوافعو او حنابلو مسلک دادی چې داسې کول مطلقا مکروه دی که د مؤذن اجازت وي او يا نه وي خو که اقامت وشو نو د دوباره کولو ضرورت نشته دی .ائمه احناف فرمايي : که مؤذن په خوشحالۍ اجازت ورکړو بيا جائز دی بغير د کراهت نه او که مؤذن اجازت نه وي ورکړی او خوشحاله هم نه وي نو بيا دا اقامت مکروه دی .امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمايي د غير مؤذن اقامت مطلقا جائز دی يعنې په هر حالت کې جائز دی.

دلائل : شوافع او حنابله د زياد بن حارث د دوی روايت نه استدلال کړی دی چې په دې پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تکبير کولو نه منع کړی دی او وجه داده چې آذان کوم کس کړی دی اقامت به هم هغوي کوي، مالکيه حضراتو د عبدالله ابن زيد بن عبدربه د حديث نه استدلال کړی دی چې هغه ته پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل : ته بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د آذان کلمات وښايه چې آذان وکړي حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د آذان کولو نه پس د اقامت وخت راغی نو پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام عبدالله بن زيد ته وفرمايل : **قم انت** ، دلته غير مؤذن اقامت وکړو معلومه شوه چې جائز دی که مؤذن راضي وي او که نه وي . احنافو دواړه قسمه روایاتو کې د تطبيق صورت پيدا کړو که مؤذن نه وي خوشحاله چې اقامت دې بل څوک وکړي لکه څنګه چې د صدائي د حديث معامله وه کيدی شي صدائي نه ؤ خوشحاله ځکه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام منع فرمايلې وه د حضرت عبدالله ابن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اقامت اجازت حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورکړو کيدی شي هغه په دې راضي ؤ نو لهذا د احنافو د مسلک مطابق په ټولو احاديثو کې تطبيق راغلی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۹﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : كَانَ الْمُسْلِمُونَ حِيْنَ قَدِمُوْا الْمَدِيْنَةَ يَجْتَمِعُوْنَ
حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي : چې مسلمانان کله مدينې ته راغلل او جمع شول نو مونږ د پاره وخت
فَيَتَحَيَّنُوْنَ لِلصَّلَاةِ وَلَيْسَ يُنَادِيْ بِهَا أَحَدٌ فَتَكَلَّمُوا يَوْمًا فِيْ ذَلِكَ
متعين کول په کار ؤ (څکه) چې مونځ د پاره د راباللو څوک نه وو (يوه ورځ) چې په دې مسئله خبرې وشوې
فَقَالَ بَعْضُهُمْ : اتَّخِذُوا مِثْلَ نَاقُوْسِ النَّصَارَى وَ قَالَ بَعْضُهُمْ: قَرْنًا مِثْلَ قَرْنِ الْيَهُوْدِ
ځينو وويل چې د نصارا و په شان ناقوس جوړول په کار دي ، او بعضو وويل : د يهوديانو په شان څکر

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ عُمَرُ أَوَلَا تَبْعَثُونَ رَجُلًا يُنَادِي بِالصَّلَاةِ ؟

جورول په کار دي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل: يو سړي ولي نه مقرر وو چې د مونځ د پاره خلک رابللی

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « يَا بِلَالُ قُمْ فَنَادِ بِالصَّلَاةِ » .(۱)

شي پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : اى بلاله ! ته ودريږه او خلک د مونځ د پاره راغونډ کړه .

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ قَالَ: لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاقُوسِ

حضرت عبد الله بن زيد بن عبد ربه فرمايي: چې کله نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د ناقوس جوړولو حکم ورکړو چې

يُعْمَلُ لِيُضْرَبَ بِهِ لِلنَّاسِ لِجَمْعِ الصَّلَاةِ طَافَ بِي وَ أَنَا نَائِمٌ رَجُلٌ يَحْمِلُ

د خلکو د مونځ د پاره جومات ته راجمع کولو د پاره ووهلی شي نوما په خوب کې وليدو چې ديو کس په

نَاقُوسًا فِي يَدِهِ فَقُلْتُ يَا عَبْدَ اللهِ أَتَبِيعُ النَّاقُوسَ قَالَ

لاس کې ناقوس نيولی روان وو ما هغه کس ته وويل: د الله بنده چې ته دا ناقوس خرڅوي؟ هغه کس وويل

وَمَا تَصْنَعُ بِهِ فَقُلْتُ نَدْعُو بِهِ إِلَى الصَّلَاةِ قَالَ

ته په دې څه کوي؟ ما ورته وويل چې مونږ پرې خلک جومات ته د مونځ د پاره راجمع کوو هغه ورته وويل

أَفَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكَ فَقُلْتُ لَهُ بَلَى قَالَ فَقَالَ تَقُولُ اللهُ أَكْبَرُ

چې د دې نه بهتر څيز درته ونه ښايم؟ ما ورته وويل ولې نه ضروريې وښايه د غه کس وويل دا وايه په الله اکبر

إِلَى آخِرِهِ وَكَذَا الْإِقَامَةُ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

آخره پورې هغه ورته آذان وښود لو او د غه رنګ اقامت هم کله چې سحر شو نو زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې

فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا رَأَيْتُ فَقَالَ : « إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ إِنْ شَاءَ اللهُ

حاضر شوم او ټول خوب مې ورته ذکر کړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (خوب دا وريدو) اووي فرمايل: ان شاء الله خوب

فَقُمْ مَعَ بِلَالٍ فَأَلْقِ عَلَيْهِ مَا رَأَيْتَ فَلْيُؤَذِّنْ بِهِ فَإِنَّهُ أَنْدَى

ربښتيا دی اوس د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره اودريږه هغه ته وايه او هغه به يې وايي ځکه چې هغه اوچت

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۷۷/۲، رقم الحديث : ٦٠٤، ومسلم في الصحيح ۲۸۵/۱ رقم الحديث: ۱-۳۷۷، والنسائي ۲/۲، رقم الحديث: ۱ ، والترمذي ۳٦۲/۱ رقم الحديث : ۱۹۰

صَوْتًا مِنْك » فَقُمْت مَعَ بِلَالٍ فَجَعَلْتُ أُلْقِيهِ عَلَيْهِ وَ يُؤَذِّنُ بِهِ قَالَ

آوازوالادی،زه دحضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ودريدم اوهغه ته مې بنسودواوهغه آذان وركوه راوي وايي

فَسَمِعَ بِذَلِكَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ وَ هُوَ فِيْ بَيْتِهِ فَخَرَجَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ

چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې كله خپل كور كې آذان واوريدو نو راووتواو خپل څادريې په ځمكه راخكو

وَ يَقُول وَ الَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَقَدْ رَأَيْتُ مِثْلَ مَا أُرِيَ

اووې وويل اى دالله رسوله!قسم په هغه ذات چې ته يې په حق سره راليږلى يې ماهم داسې خوب ليدلى

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ إِلَّا

دى نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: الحمد لله، داحديث ابوداؤد، دارمي او ابن ماجه نقل كړى خو ابن ماجه د

أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرِ الْإِقَامَةَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ لَكِنَّهُ لَمْ يُصَرِّحْ قِصَّةَ النَّاقُوسِ.[1]

تكبيرذكرنه دى كړى اوترمذي ويلي دا حديث صحيح دى خو د ناقوس د قصې تصريح يې نه ده كړې.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوده شوي خلک د مونځ د پاره راپاڅول:

﴿۱۱﴾ وَ عَنْ أَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ فَكَانَ

د حضرت ابوبكرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي زه دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره سحر مونځ ته ووتم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې د

لَا يَمُرُّ بِرَجُلٍ إِلَّا نَادَاهُ بِالصَّلَاةِ أَوْ حَرَّكَهُ بِرِجْلِهِ[2]. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد).

كوم كس خواته تيريدويابه يې دمونځ دپاره آوازوركولويابه يې دخپې نه ونيولواوحركت به يې وركړو.

توضيح: نادا ه بالصلاة يعني پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د سحر آذان نه پس چې كله پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ به په كوم يو كس هم تيريدو چې ويده به وو نو هغه به يې راپاڅولو او كله به يې هغه كس ته په خپل قدم مبارك باندې حركت وركولو او راپاڅولو به يې. (المرقات ۲/۳۳۴).

ددې نه معلومه شوه چې اوده كس ته يا آواز وركوئ يا يې په لاس يا خپې باندې حركت سره راپاڅوئ، نن سبا په مدارسو كې په دې سنت باندې عمل شروع دى او مقرر اساتذه سحر او ماسپښين وخت كې د

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۳۳۷ رقم الحديث: ٤٩٩، وأخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۲۳۲ رقم الحديث ۷۰٦، وأخرجه الدارمي في السنن ۱/۲۸٦ رقم الحديث: ۱۱۸۷

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۲/٤٩ رقم الحديث: ۱۲٦٤

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ د پاره طالبان د خوب نه را پاڅوي او د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ قدم مبارک چې د يو صحابي سره لګيدلی وي داد هغه د پاره د فخر خبره ده .اوده کس د خوب نه د پاڅيدو بنه طريقه داده چې د خپې د ګوتې نه يې ونيسه او حرکت ورکړه يا ورله په سر يا تندي باندې لاس کيږده حرکت ورکړه ، يک دم آواز په تيزه باندې د خطرې نه خالي نه دی .

حرک برجله: ددې ترجمه شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ داسې کړې ده : **يا مي جنبانيد اورا به پای مبارک خود.** ددې ترجمه مظاهر حق جديد کې پشوې ده هغه محل نظر دی .(اشعة اللمعات ۳۳۳).

الصلاة خير من النوم حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په آذان کې نه دی داخل کړی :

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ الْمُؤَذِّنَ جَاءَ عُمَرَ
د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په باره کې نقل دي چې ده ته دا حديث رسيدلی چې راغې مؤذن عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ
يُؤْذِنُهُ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ فَوَجَدَهُ نَائِمًا فَقَالَ :
خو اته د سحر مونځ د پاره يې خبر ورکولو نو مؤذن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په حالت د خوب کې وموندو نو وي ويل
الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ فَأَمَرَهُ عُمَرُ أَنْ يَجْعَلَهَا فِي نِدَاءِ الصُّبْحِ. (رَوَاهُ مالک فِي الْمُوَطَّأِ) (۱)
الصلاة خير من النوم، حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مؤذن ته حکم وکړو چې دا کلمه د سحر په آذان کې داخله کړه.

توضيح: فامره عمران يجعلها: يعنې حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مؤذن ته حکم ورکړو چې دا کلمه د سحر په آذان کې وايه. **سوال** : ددې جملې نه ښکاره معلوميږي چې **الصلاة خير من النوم** جمله حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خپل طرف نه د سحر آذان کې داخله کړې ده ، ددې نه دا سوال پيدا کيږي چې حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خپل طرف نه يو څيز په شريعت کې ولې او څنګه داخل کړو ؟ (الکاشف ۲/۲۳۵،اشعة اللمعات ۳۳۳، المرقات ۲/۳۴۴).

جواب : حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قطعا دا جمله د سحر آذان کې نه ده داخله کړې ، دې نه مخکې حديث نمبر ۵ کې د حضرت ابو محذوره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په روايت کې ښکاره الفاظ موجود دي، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمايل : چې کله د سحر آذان وي په هغې کې **الصلاة خير من النوم** وايي اوس دا خبره چې حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څنګه فرمايلې دي : چې ای مؤذنه داد سحر په آذان کې داخله کړه ، دې کې يو احتمال دا هم کيدې شي چې د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ نه پس دا کلمه د سحر په آذان کې پريخودلی شوې وه نو حضرت

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۷۲،رقم الحديث : ۸ من کتاب الصلاة.

عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ یاده کړه چې داد سحر د آذان د پاره ده وایه یې د سحر په آذان کې او شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ په اشعة اللمعات کې دا لیکلي دي .دویم احتمال دادی حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د مؤذن په دې جمله باندې د آذان نه بهر کولو باندې خفګان کړی وي چې دا جمله د سحر مونځ کې وایه ، د آذان نه علاوه د چا د پاڅیدو د پاره یې مۀ وایه .(اشعة اللمعات ۳۳۳).

ددې نه د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ددې سخت موقف پته لګي کوم چې هغه د اسلام د اصولو او ضوابطو او قواعدو او احکامو د حفاظت او نګرانۍ د پاره اختیار کړي وو .دریم احتمال دادی چې حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مؤذن ته د تاکید او تذکیر د وجې فرمایلي وو چې د سحر آذان کې لازمي طور باندې دا وایه . (كذا في التعليق الفصيح) . بهر حال د رافضو مرفوضه او د شیعو شنیعو اعتراض بې ځایه دی چې دا کلمه پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپله آذان کې شامله کړې ده .

غوږونو کې ګوتي ور کول او آذان ویل مسنون دی :

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَعْدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ سَعْدٍ مُؤَذِّنِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:
د حضرت عبد الرحمن بن سعد بن عمار بن سعد مؤذن د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت دی وایي چې :
حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
مانه زما والد او هغه د خپل والد عمار او هغه د سعد د نیکه نه اوریدلي دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام حضرت
أَمَرَ بِلَالًا أَنْ يَجْعَلَ أُصْبَعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ وَ قَالَ: « إِنَّهُ أَرْفَعُ لِصَوْتِكَ » .(رَوَاهُ ابْن مَاجَه). (۱)
بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته حکم وکړو چې خپلې دواړه ګوتې په غوږونو کې ورکوه دې سره آواز ډیر اوچتیږي .

توضیح : اصبعیه في اذنیه : یعني دواړه غوږونو کې دې ګوتې ورکړه او آذان وایه ، ددې حکمت خپله په حدیث کې مذکور دی چې ددې وجې نه د مؤذن آواز تیز وي ددې وجه داده چې مؤذن خپل آواز کم اوري ددې وجې نه دا نور هم د آواز تیزیدو کوشش کوي ، نو یو تیز آواز والا آذان به راځي ، نن سبا لاؤډ سپیکر دی مګر علماء دغه فتوی ورکوي چې په غوږونو کې ګوتې کیښودل سنت دي چې دا سنت ختم نه شي.

حدثني ابي عن ابیه : دې حدیث کې د سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نوم راغلی دی داد پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کې د مسجد قباء مؤذن ؤ ، د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وفات باندې حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ شام ته لاړو او هلته یې استوګنه اختیار کړه یعني هلته یې خپل ژوند تیرول شروع کړل ددې په ځای باندې حضرت سعد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د ټولې زندګۍ د پاره د مسجد نبوي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مؤذن شو .(الكاشف ۲/۳۳٦، المرقات ۲/۳۴۵).

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۲۳٦ رقم الحديث :۷۱۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ فَضْلِ الْأَذَانِ وَإِجَابَةِ الْمُؤَذِّنِ:

آذان او ددې د جواب فضیلت:

آذان د اسلام د ننبو نه یوه ننبه ده د الله تعالی د عظمت او شوکت اعلان کوي، د اسلام د غلبې ننبه ده د توحید او رسالت او د پاکی شهادت اوچت عنوان دی نو ځکه د آذان ورکولو او برقرار ساتلو ډیر لوي فضیلت او ثواب دی دې باب کې هغه احادیث ذکر کېږي چې په دې کې به دا بیان وي چې آذان ورکول د دنیا او آخرت د عظمتونو او د ثوابونو د حصول یوه ذریعه ده کوم ځای کې چې آذان ښکاره کیږي دا ددې خبرې ګواهي ده چې هلته اسلام ته شوکت او عزت حاصل دی، دغه وجه ده د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ قول دی چې د کومې علاقې ټول مسلمانان آذان پریږدي نو د هغوي خلاف ددې وخت بادشاه د جهاد اعلان وکړي، پاتې شوه داخبره چې آذان کول ډیر افضل دی یا امامت ډیر افضل دی، راجح قول دادی چې که یو کس ته پوره یقین وي چې د امامت ټول حقونه په ښائسته طریقې سره پوره کوي دهغه د پاره امامت افضل دی او که د امامت فرائض په صحیح طریقې سره نه شي پوره کولې نو آذان ورله کول افضل دي، اوس داسوال چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپله زندګی کې آذان کړی دی یا یې نه دی کړی؟ راجح قول دادی چې پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ د آذان دعوت ورکړی دی او فضیلت یې هم بیان کړی دی خو آذان یې نه دی فرمایلي او امامت یې همیشه په خپله کړی دی.

یوه مسئله دا هم ده چې د آذان جواب ورکول څنګه دي علماء لیکي د آذان یو جواب فعلي دی، دویم جواب قولي دی، جواب فعلي دادی چې کوم وخت آذان واوري دغه وخت جومات طرف ته ځه او قولي جواب دادی چې کوم کلمات مؤذن وایي هغه دې سامع هم وایي. کله چې د مختلفو محلو نه د آذان آواز رائي صرف د یو جومات آذان جواب ورکول واجب دی او که یو کس مخکې نه جومات کې ناست ؤ هغه باندې د آذان جواب ورکول لازم نه دی ځکه چې هغه جواب فعلي کړی دی اوس په دغه دوران کې جومات کې تلاوت کوي نو هغه دې تلاوت جاري ساتي او که څوک د جومات نه بهر تلاوت کوي نو هغه دې د آذان جواب ورکولو د پاره تلاوت بند کړي (کذا في اللمعات) (اشعة اللمعات ۱۳۴).

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل

د قیامت په ورځ به مؤذنین عزت مندوي:

﴿۱﴾ عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: ما د پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه اوریدلي دي فرمایي:

«الْمُؤَذِّنُونَ أَطْوَلُ النَّاسِ أَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ» (رَوَاهُ مُسلم). (۱)

چې د قيامت په ورځ باندې د ټولو نه اوچت څټونو والا به مؤذنين وي.

توضيح: اطول الناس اعناقا: يعنې د قيامت په ورځ باندې به د ټولو نه اوچتو څټونو والا مؤذنين وي ددې ډير مطلبه دي: (۱) بعضې ليکي چې د قيامت په ورځ باندې به مؤذنينو ته لوي شان حاصل وي د آذان په برکت به دوي ته لوي اعزاز حاصل وي څټونه به يې اوچت وي دا جمله ددې اعزاز نه کنايه ده ځکه چې معزز کس څټ اوچت ساتي. (۲) بعضې علماء ليکي ددې نه مراد دادی مؤذنين به د قيامت په ورځ باندې سرداران وي ځکه چې د سردارانو څټونه اوچت وي. (۳) ابن عربي رَحِمَهُ اللهُ وايي: چې دا خلک د ډيرو اعمالو والا او ثواب والا به وي. (۴) قاضي عياض رَحِمَهُ اللهُ وايي: **لفظ اعناق د عنق** جمع ده د څټ په معنى کې ده بلکه دا **اعناق** د باب **افعال** مصدر دی چې د تيزتللو په معنى کې دی يعنې دا خلک به جنت ته تيزی تيزی سره منډې وهي اوله معنى جامع او ډيره واضحه ده. (اشعة اللمعات ۳۳۴، المرقات ۲/۳۴۶).

شيطان د آذان آواز نه تختي:

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ: إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي چې: کله آذان د مونځ

أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ وَ لَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِينَ فَإِذَا قَضَى

د پاره وويلى شي نو شيطان شاه کړي او منډې وهي او تيزونه اچوي چې آذان وانه وري چې کله ختم شي

النِّدَاءَ أَقْبَلَ حَتَّى إِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ أَدْبَرَ حَتَّى إِذَا قُضِيَ التَّثْوِيبَ أَقْبَلَ

آذان نو دا بيا راشي خو چې کله تکبير ويلي کيږي نو بيا منډې وهي چې تکبير ختم شي بيا واپس راشي

حَتَّى يَخْطِرَ بَيْنَ الْمَرْءِ وَ نَفْسِهِ يَقُولُ اذْكُرْ كَذَا

چې د انسان او د هغه د زړه په مينځ کې نقصان پيدا کړي نو مونځ کوونکي ته وايي چې فلانکي څيز ياد

اذْكُرْ كَذَا لِمَا لَمْ يَكُنْ يَذْكُرُ حَتَّى

کړه فلانئ خبره ياد کړه نو کومې خبرې چې مونځ کوونکي ته يادې نه وي هغه ورته يادوي تر دې پورې

(۱) أخرجه المسلم في الصحيح ۱ ۲۹۰ رقم الحديث ۱۴ ۳۸۷ وابن ماجه ۱ ۲۴۰، رقم الحديث:۷۲۵، أخرجه أحمد في المسند ۴/۹۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَظَلَّ الرَّجُلُ لَا يَدْرِيْ كَمْ صَلّٰى. (متفق عليه) (۱)

چې دغه کس ته دا یاد نه وي چې ده څو رکعته وکړه.

توضيح: له ضراط اصيلي يوې نسخې کې وله ضراط واو سره راغلی دی دا جمله حاليه ده ضراط وضريط تيزونو اچولو ته ويلي کيږي. (المرقات ۲/۳۴۷، اشعة اللمعات ۳۳۵).

قاضي عياض وايي دا کلام په حقيقت باندې محمول دی ځکه چې شيطان هم بانګ لري او خوري څکي او تيزونه اچوي يعني د آذان آواز په شيطان باندې ډير وزن داره دی څنګه چې په خرې باندې امان ډير شي نو خره تيزونه اچوي نو شيطان هم تيزونه اچوي او لکۍ وهي او منډې وهي دا احتمال هم لري چې ددې نه مراد سخت نفرت ظاهرول دي. علامه طيبي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې ددې نه مراد دادی چې کله آذان شروع شي نو شيطان د آواز نه خپل ځان لري ساتلو او د غافله کيدو کوشش کوي. (الکاشف ۲/۲۳۸).

د شيطان د غفلت تشبيه يې داسې آواز سره ورکړې ده چې ددې نه غوږونه ډک شي او ددې آواز نه علاوه بل آواز نه اوري بيا ډير تقبيح د پاره دغه آواز يې د ضراط سره ياد کړو دا يو تشبيهي کلام دی، لهذا احاديثو کې صريح الفاظو سره تيز اچول راغلي دي دا کلام په تشبيه او مجاز باندې حمل کول لرې خبره ده ځکه چې حقيقي معنی مراد اخيستل ګران نه دي، شيطان دومره معزز نه دی چې مونږ د هغه طرف ته د تيز اچولو نسبت ته کوو.

سوال: دلته دا اشکال رائي چې شيطان د تلاوت نه نه تختي او د مونځ نه نه تختي او د مونځ په مينځ کې شهادتينو نه، نه تختي څه وجه ده چې صرف د اذان نه تختي؟ **جواب**: آذان د شعائر الله نه دی چې کوم ځای کې آذان بنکاره کيږي هلته د اسلام غلبه وي او شيطان د اسلام عظمت او شوکت او د هغې رفعت او عزت برداشت نه کوي ځکه تيزونه اچوي او تختي. ښو معلومه شوه چې د جهاد او ازادۍ په زمکه باندې آذان کول او د غلبې او قدرت او شوکت د سورې د لاټدې آذان کولو شان يو شانتې وي. او په حالت د مغلوبيت او مظلوميت کې د آذان حيثيت بل شان وي، اقبال رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي:

الفاظ و معانی میں تفاوت نہیں لیکن ملا کی آذان اور ہے مجاہد کی آذان اور

بعضې علماو دا جواب ورکړی دی چې دلته په حديث کې د آذان فضيلت په مونځ باندې جزئي ذکر دی دې نه د مونځ کلي فضيلت باندې اثر نه پريوځي، بعضې علماء دا وايي چې مؤذن داعي الى الخير دی

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۸٤، رقم الحديث : ٦٠٨، ومسلم في الصحيح ۱/۲۹۱ رقم الحديث: ۱۹-۳۸۹، وأبو داود ۱/۳۵۵ رقم الحديث: ٥١٦، والنسائي ۲/۲۱، رقم الحديث: ٦٧٠ ، أخرجه أحمد في المسند ۲/۳۱۳.

اوشيطان داعي الى الله دی داعي الى الشر د داعي الى الخير د آذان د وجې نه سوزي او تختي.

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَسْمَعُ مَدَى صَوْتِ الْمُؤَذِّنِ

ابو سعيد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: چې څوک اوري د مؤذن آواز هغه

جِنٌّ وَلَا إِنْسٌ وَلَا شَيْءٌ إِلَّا شَهِدَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ). (۱)

که انسان وي يا جنات يا هر څيز چې وي تول به د قيامت په ورځ د مؤذن د پاره دايمان ګواهي ورکوي.

توضيح: مدى صوته: مدى مسافت اولري والې او د انتهاء په معنى کې دی دې حديث مبارک کې مؤذنينو ته دا ترغيب دی چې د چا آواز څومره تيز وي نو هغه له په کار دی چې آواز دې انتهائي درجې پورې د تيزيد و کوشش وکړي دغه وجه ده چې مؤذن په غوږونو کې ګوتې ورکړي او آذان دې کوي چې آواز اوچت او تيز وي او چې ډير نه ډير ثواب ورته ملاؤ شي، دا وجه ده چې آذان د جومات نه بهر په يو اوچته مناره کې دې کولی شي. (اشعة اللمعات ۳۳۵، المرقات ۲/۳۴۸، الكاشف ۲۳۹).

د آذان جواب څنګه ورکړی شي؟

﴿٤﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ:

د عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوريدلي چې فرمايل يې

"إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ فَإِنَّهُ

چې کله تاسو د مؤذن آواز واورئ نو دغه الفاظ دوباره تاسو وايي بيا په ما باندې درود ووايي ځکه چې

مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ بِهَا عَشْرًا

څوک په ما باندې يو ځل درود شريف وُلولي د دې په بدله کې الله تعالى په ده باندې لس رحمتونه نازلوي

ثُمَّ سَلُوا اللهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ اللهِ

بيا زما د پاره د وسيلې دعا کوئ وسيله د جنت يوه اعلى درجه ده دا د الله په بنده ګانو کې صرف يو بنده ته

وَ أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ فَمَنْ سَأَلَ لِيَ الْوَسِيلَةَ

ملاويږي او زما اميد دی چې هغه بنده به زه يم چې څوک زما د پاره د وسيلې دعا کوي د (قيامت په ورځ)

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۸۷، رقم الحديث: ٦٠٩، والنسائي ۲/۱۲، رقم الحديث: ٦٤٤، وابن ماجة ۱/۲۳۹، رقم الحديث: ۷۲۳، أخرجه أحمد في المسند ۳/۳۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

حَلَّتْ عَلَيْهِ الشَّفَاعَةُ. (رَوَاهُ مُسلم). (۱)

د هغه سفارش په ما باندې ضروري دی.

توضيح : فقولوا مثل ما يقول: يعني څنګه الفاظ چې مؤذن ادا کوي تاسو هم دغه رنګ جواب ورکوئ، اجابت د مؤذن په دوه قسمه دی یو اجابت فعلي دی د مؤذن په بلنې باندې جومات ته لاړشي، دویم اجابت قولي دی چې په ژبه باندې جواب ورکړي اوس په دې مسئله کې بحث دی، چې څوک د مؤذن آذان نه اوري هغه د پاره څه ردعمل کول ضروري دی او څنګه جواب ورکړي د آذان په جواب کې د فقهاو معمولي شان اختلاف دی چې جواب ورکول واجب دي او که مستحب دي. (اشعة اللمعات ۳۴۵).

د فقهاو اختلاف : اوله اختلافي مسئله : اهل ظواهر او ځینې احناف او مالکیه د دې قائل دي چې د مؤذن د الفاظو په شان الفاظ سره جواب ورکول واجب دي او امام شافعي، احمد او امام مالک رَحِمَهُمُ اللهُ او اکثر احناف د دې قائل دي چې اجابت قولي مستحب دی واجب نه دی...

دلائل : فريقِ اول د زیر بحث حدیث نه استدلال کړی دی چې په دې کې د امر صیغه ده او داد وجوب دپاره راځي نو اجابت قولي واجب دی. فريق ثاني د مسلم یو حدیث نه استدلال کړی دی د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د یو مؤذن آذان واوریدو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل : **على الفطرة**، په دې کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مؤذن الفاظو په جواب کې نور الفاظ وفرمایل، نو معلومه شوه چې واجب نه دی، د فريقِ اول جواب دادی چې د امر صیغه په استحباب باندې محمول ده یعني مستحب دی.

دوهمه اختلافي مسئله : دې حدیث کې دوهمه اختلافي مسئله هم ذکر ده هغه داده چې آیا پوره آذان کې دغه کلمات دوباره وویل شي یا د آذان د جواب په کلماتو کې فرق شته، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او اهل ظواهر وایي پوره آذان د مؤذن د کلماتو په شان جواب کې دوباره ووایه تر دې پورې چې حیعلتین په جواب کې هم دغه ووایه، د ائمه احنافو او حنابلو په نزد د **حي على الصلاة، حي على الفلاح** په جواب کې حوقله یعني **لا حول ولا قوة الا بالله** ویل په کار دي.

دلائل : فريقِ اول د موجوده حدیث نه استدلال کړی دی او وایي په دې حدیث کې د یو لفظ هم استثناء نشته بلکې د ټولو الفاظو جواب په دغه الفاظو کې د ادا کولو حکم دی څنګه چې یې مؤذن ادا کوي. د فريقِ ثاني دليل د مسلم شریف حدیث نمبر ۵ دی چې پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د **حي على الصلاة** په جواب

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۲۸۸/۱ رقم الحديث: ۱۱-۳۸٤، وأبو داود ۳۵۹/۱ رقم الحديث :۵۲۳، والنسائي ۲۵/۲، رقم الحديث: ، والترمذي ۵٤۷/۵ رقم الحديث : ۳٦۱٤ ، أخرجه أحمد في المسند ۱٦۸/۲.

کې لا حول ولا قوة الا بالله فرمایلي دی دغه رنګ حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت په بخاري کې دی په هغې کې هم د لا حول ولا قوة الا بالله ذکر موجود دی. د فریقِ ثاني سره عقلي دلیل هم موجود دی هغه دا چې کله مؤذن د مونځ د پاره یا د کامیابئ د پاره رابلل کوي او چې خلک هم جواب کې مؤذن د مونځ او کامیابئ د پاره رابلل کوي نو دا ښکاره تهوقې او مذاق او استهزاء ده چې په شریعت کې جائز نه دي.
د فریقِ اول د دلیل جواب دادی چې هغه روایت مجمل دی او د احنافو روایات مفسر دي او کله چې د مجمل او مفسر په مینځ کې تعارض راشي نو ترجیح به مفسر ته وي په حقیقت کې په دې دواړو کې تعارض قدري هم نه وي بلکې صرف اجمال او تفصیل کې فرق ذی دا هم واورئ چې د آذان د کلماتو په جواب کې د مؤذن او سامع په الفاظو کې فرق دا راتلی شي د هغه حیعلتینو الفاظو په جواب کې لا حول ولا قوة الا بالله به سامع وایي چې د خپلې عاجزئ او بې وسئ اظهار وکړي او الله تعالی نه د نصرت او مدد درخواست وکړي او د سحر د آذان په جواب کې مؤذن الصلاة خير من النوم وایي او سامع به صدقت وبررت وبالحق نطقت سره جواب ورکړي د مؤذن د دعوې تصدیق به وکړي او د هغه ذات او ذ هغه د کلمو تعریف او صفت به وکړي دغه رنګ چې کله مکبر تکبیر کې قد قامت الصلاة ووایي نو سامع به ددې په جواب کې أقامها الله و أدامها الفاظو سره به د مونځ د نظام باقي کیدو او شعائر الله د دائمي کیدو دعاء وکړي، دا الفاظ په راتلونکي د حضرت ابوامامه په روایت نمبر ۱۷ کې مذکور دي لهذا دا هم مستند دی. (المرقات ۲/۳۳۹).
د آذان په ختمیدو باندې چې د درود شکل کې کومه دعاء غوښتلی شي دې حدیث کې دې طرف ته اشاره ده، د درود هغه الفاظ په روایت نمبر ٦ کې مکمل طور باندې موجود دي.

دوسیلې مطلب: الوسیلة دا لفظ په عربي او پښتو او فارسي ټولو کې وسیلې او ذریعې ته ویلی شي یعنې یو مطلوب ته چې کومې ذریعې استعمالیږي هغه وسیله ده دې حدیث کې د وسیلې مطلب په خپله نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بیان کړی دی چې دا دیوځای او دیو مقام نوم دی چې په جنت کې دی شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې لیکلي: چې په دې حدیث کې د کومې وسیلې ذکر دی دې نه د الله تعالی نزدیکت مراد دی دلته ویلی شوي دی چې داد جنت دیو مقام نوم دی نو ددې مطلب هم قرب او نزدې والی دی ځکه چې جنت هم د قرب الهي مقام دی او وسیله هم د قرب ځای او مقام دی. (اشعة اللمعات ۳۳۵).
قاموس کې یې لیکلي دي وسیله او واسله د بادشاه سره یو اعلی مقام او اوچت درجاتو د حصول یو نوم دی چې یو کس ته د قرب او منزلت دا مقام حاصل شي نو ده ته وسیله حاصل شوه دې درجو ته د رسیدو د پاره د نیک اعمالو او د اعلی کارنامو ضرورت وي ځکه وسیله ښو اعمالو ته هم ویلی کیږي دلته

Maktaba Tul Ishaat.com

حدیث کې د جنت نه مخکې د محشر په میدان کې د شفاعت کبری د پاره چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالی مقام قرب ته ځي هغې ته وسیله ویلی شوې ده او دغه مقام ته مقام محمود هم ویلی شوی دی چې ددې تذکره قرآن کریم کې موجود ده ، د وسیلې دا مفهوم ددې حدیث باره کې ډیر موزون دی. (المرقات ۲/۳۵۰).

ارجو : ددغه درجې او مقام محمود او د وسیلې دغه اعلی مقام او ارفع مقام د پاره حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متعین دی بیا هم پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د تواضع او انکساری په ذریعې سره ارجو زه امید لرم الفاظ استعمال کړي دي ، بعضې شارحین ارجو په **اتیقن** په معنی باندې اخیستې دی ماته یقین دی چې دا درجه به ما ته ملاویږي .

﴿۵﴾ وَعَنْ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ اَللهُ

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمایلي دي چې کله ووایي مؤذن الله

أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ فَقَالَ أَحَدُكُمُ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ

اکبر الله اکبر نو ووایئ تاسو هم هریو کس الله اکبر الله اکبر بیا چې کله مؤذن ووایي: **اشهد ان لا اله**

إِلَّا اللهُ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ قَالَ

الا الله نو تاسو هم داوایي ، بیا چې کله مؤذن ووایي **اشهد ان محمداً رسول الله** نو تاسو هم ووایي هریو

أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ قَالَ لَا حَوْلَ

کس اشهد ان محمدًا رسول الله ، بیا چې کله مؤذن حي علی الصلاة ووایي ، نو تاسو هم ووایي هریو کس

وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ قَالَ لَا حَوْلَ

لا حول ولا قوة الا بالله ، بیا چې کله مؤذن حي علی الفلاح ووایي نو تاسو هم ووایي هریو کس : لا حول

وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ قَالَ اللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ ثُمَّ

ولا قوة الا بالله ، بیا چې کله مؤذن الله اکبر الله اکبر ووایي نو تاسو هم ووایي الله اکبر ، الله اکبر بیا

قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

چې مؤذن لا اله الا الله ووایي نو تاسو هم هریو کس لا اله الا الله ووایي (د آذان په جواب کې دا کلمات

مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ ». (رَوَاهُ مُسلم).[1]

چې څوک) د زړه د صدق نه وايي هغه به جنت ته داخليږي.

توضيح: الله اكبر، الله اكبر دلته تكبير دوه ځلې ويل شوي دا د مكمل آذان حكايت نه دى بلكې د اختصار سره د آذان ديو څو كلمو ذكر دى چې د آذان باقي كلماتو طرف ته اشاره ده حالانكه تكبيرات خو څلور ځلې دي لاحول عن المعصية الا بنصر الله و قدرته ولا اتيان على طاعة ولا قوة على طاعة الا بمدد الله.

من قلبه: يعنې د زړه د صدق او پوخ ايمان نه دا كلمات و وايه نو ضرور به جنت ته داخل شي كه ګناه يې موجود وي او الله تعالى د طرف نه معاف شوې هم نه وي نو سزا ور كولو نه پس به د دخول ثانوي په صورت كې جنت ته داخل شي او كه ګناه يې نه وي يا الله تعالى معاف كړې وي نو په د دخول اولي سره به جنت ته داخل شي. (المرقات ۲/۳۵۱).

د آذان نه پس دعاء:

﴿٦﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ

د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي چا چې د آذان اوريد و په وخت كې

اللَّهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَ الصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ

چې اى الله ماته د دې كامل دعا (آذان) او پرورد كار د دې مونځ قائمه زمونږ سردار محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته

وَ الْفَضِيلَةَ وَ ابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا

وسيله (د جنت د ټولو نه خاص او اعلى درجه) او بزرګي عنايت كړه او مقام محمود يې ورله وركړو چې

الَّذِي وَعَدْتَهُ حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ).[2]

د كومې وعده دې ورسره كړې ده د قيامت په ورځ به د ده د پاره زما شفاعت واجب وي.

توضيح: اللهم رب هذه الدعوة التامة: آذان ته يې دعوت ويلي دي ځكه چې په توحيد مشتمل دى او عبادت طرف ته دعوت دى. شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات كې ليكلي دي: د دې دعوت نه مراد

---

(١) أخرجه مسلم في الصحيح ١/٢٨٩ رقم الحديث: ١٢-٣٨٥، وأبو داود ١/٣٦١ رقم الحديث: ٥٢٨.

(٢) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٩٤ رقم الحديث: ٦١٤، وأبو داود ١/٣٦٢ رقم الحديث: ٥٢٩، والنسائي ١/٢٦، رقم الحديث: ٦٨٠، والترمذي ١/٤١٣ رقم الحديث: ٢١١.

Maktaba Tul Ishaat.com

توحيد كلمې دي لكه څنګه چې د قرآن په آيت كې (**له دعوة الحق**) دعوت نه مراد توحيد دی دې سره **التامة** لفظ لګولو سره اشاره كړې ده د توحيد كلمې كامل او مكمل ناقابل تبديلي او تنسيخ دي بيا د كمال سره محمد رسول الله د كلمې سره يو ځای كړو توحيد او رسالت كې يې اعلى كمال پيدا كړو دا مجموعه دعوت تامه په نوم سره ياد كړی شوی دی. (اشعة اللمعات ۳۳٦، المرقات ۲/۳۵۳).

الصلاة القائمة دې جملې كې د مونځ طرف ته اشاره ده دې طرف ته دعوت وركولی شي الله تعالى قرآن مجيد كې مونځ باره **ويقيمون الصلاة** الفاظ بار بار ويلی شي اقامت صلوة طرف ته په دې كلمو كې اشاره شوې ده.

والفضيلة: ممكن دی چې د دې فضيلت نه دغه وسيله مراد ده او ممكن ده جمله كائناتو باندې د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د پاره فضيلت دعاء وي دلته بعضې خلک **والدرجة الرفيعة** الفاظ زياتوي خو مستند طريقو سره ثابت نه دي ځكه يې دلته ويل په كار نه دي.

مقام محمود: د مقام محمود نه د شفاعت كبرى هغه مقام مراد دی چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ هلته د الله تعالى مخې ته په حالت د سجدې كې عجيب او نا اشنا محامدو سره د الله تعالى تعريف كوي بيا الله تعالى به وفرمايي: **ارفع رأسک يا محمد سل تعط**، نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به وفرمايي: ای الله! حساب شروع كړه، بيا به حساب شروع كړي. **حلت** بعضې روايا تو كې **وجبت** لفظ راغلی دی يعنې دغه كس د پاره به زما شفاعت واجب شي د **حلت** معنى د حلال كيدو ده او مستحق كيدو هم ده.

شفاعتي: په قيامت كې به د شفاعت ډير اوچت مقام وي هلته به د دې د قيمت پته ولګي. د مثال په طور يو كس په يو ځای كې نه پوهيږي چې څه كول په كار دي حيران ولاړ وي اعمالو د تللو ويره هم وي څوک خپل كس هم نه وي په انتظار كې سخته ګرمي هم وي خفه ولاړ وي يک دم يو كس راشي او داد لائن نه رابهر كړي او جنت ته يې داخل كړي او وايي داد محمد عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كس دی دغه كس د پاره په دغه وخت كې د شفاعت او سفارش نه علاوه بل هيڅ شئ نه شي كيدی لكه څنګه چې د بين الاقوامي پرواز په وخت يو كس د اميګريشن سسټم (د يو ملک نه بل ملک ته سفر كول) ما تحت كاغذاتو چيک كولو د پاره پريشان ولاړ وي او يک دم د ائرپورټ يو غټ افسر راشي او دا د لاس نه ونيسي او وايي: دا زما كس دی دغه شان دا كس هم د مختلفو مصيبتونو نه وځي، **اللهم ارزقنا شفاعة نبيک بجاه حبيبک محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**.

په مختلفو آحادیثو کې د آذان نه پس د نورو دعاګانو ویلو ذکر هم راغلی دی راتلونکي حدیث کې د یو څو دعاګانو بیان راروان دی .(المرقات ۲/۳۵۳،اشعة اللمعات ۳۳۷).

آذان د شعائر اسلام نه دی :

﴿۷﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُغِيرُ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ

د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به په دشمن حمله کوله د سحر کیدو په

وَ كَانَ يَسْتَمِعُ الْأَذَانَ فَإِنْ سَمِعَ أَذَانًا أَمْسَكَ وَ إِلَّا

وخت کې او د آذان د اوریدو انتظار به یې کولو که آذان به شروع شو نو حمله به یې نه کوله او که (د آذان)

أَغَارَ فَسَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ

آواز به نه ؤنو حمله به یې کوله یو ځل یې په دښمن د حملې کولو په وخت کې دیو سړي نه واوریده چې ویل

اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « عَلَى الْفِطْرَةِ »

یې الله اکبر الله اکبر نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل: دا کس د اسلام (په طریقه) باندې دی (ځکه چې آذان

ثُمَّ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهِ

مسلمان وایي) بیا دغه کس وویل: زه ګواهي ورکوم چې د الله تعالی نه غیر بل معبود نشته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « خَرَجْتَ مِنَ النَّارِ »

(دا واوریدل) وي فرمایل : (تاسو شرک کولو نه بچ شئ) تاسو د دوزخ نه را ووتلی ، صحابو (څلورو

فَنَظَرُوْا فَإِذَا هُوَ رَاعِيْ مِعْزًى . (۱) (رَوَاهُ مُسلم).

طرفوته وکتل او معلوم یې کړل چې آذان کولو والا څوک دی) چې وي کتل هغه دګډو څرولو والا کس دی

توضیح :یغیر اذا طلع الفجر :د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عادت شریفه وو چې کله به یې د دښمن خلاف کارواېي کوله نو د سحر په وخت کې به یې کوله دا د دښمن د غفلت وخت دی او د مسلمان مجاهد د چستی وخت دی ، بیا حملې کولو وخت کې د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ حکمت دا دی چې په کوم کلي باندې حمله رسیږي آیا په دې کې مسلمانان شته یا ټول کافران دي که چیرته د مسلمان اندازه وي بیا کارواېي په احتیاط سره کوئ کنې د احتیاط ضرورت نه وو ، دې مقصد د پاره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سحر آذان

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۲۸۸ رقم الحديث:۹-۳۸۲، وأبو داود ۳/۹۸ رقم الحديث :۲٦۳٤، والترمذي ٤/١٤٠ رقم الحديث :١٦١٨ .

Maktaba Tul Ishaat.com

انتظار کولو ،دې حدیث کې ددې ذکر دی چې د اسلام لښکر ته دا تعلیم ورکړی شوی خو عام مسلمانانو ته ویل شوې چې په دار الحرب کې اوسیدنه اختیار نه کړي ورنه د اسلام لښکر په حمله کې به راشي او مړه به موکړي . (المرقات ۲/۳۵۴، اشعة اللمعات ۳۳۷).

ددې حدیث نه معلومه شوه چې آذان د شعائر اسلام نه دی ځکه چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آذان کولو ته داسلام نښه او نه کولو ته د کفر نښه ویلي دی دا وجه ده چې فقهې جزئیاتو کې دا جزئیه موجود ده ، که د مسلمانانو بعضې خلک آذان پریږدي په حکومت وخت باندې فرض دي چې ددوي خلاف د جهاد اعلان وکړي ځکه چې اذان د شعائر اسلام نه دی دا ځان له خبره ده چې آذان سنت دی .

﴿۸﴾ وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «مَنْ قَالَ

د حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایلي دي : چا چې وویل د

حِيْنَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ

مؤذن د آذان اوریدونه پس زه ګواهي ورکوم چې د الله نه غیر هیڅوک نه معبود او نه د هغه شریک شته زه

وَ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَ رَسُولُهُ رَضِيتُ بِاللهِ رَبًّا

ګواهي کوم چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالی رسول اوبنده دی اوزه راضي یم د الله تعالی په رب کیدو

وَ بِمُحَمَّدٍ رَسُولًا وَ بِالْإِسْلَامِ دِينًا . غُفِرَ لَهُ ذَنْبَهُ » . (رَوَاهُ مُسْلِم).[1]

او د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په رسول کیدو او د اسلام په دین کیدو باندې وبه بخښل شي ده ته ګناهونه دده.

توضیح : رضیت بالله ربا دغه دعاء د آذان په ختمیدو باندې ویل ډیر مناسب ده د آذان په دوران کې کلمات د آذان په جواب کې خلل واقع نه شي دې دعا ویلو سره دا هم معلومه شوه چې د آذان نه پس مختلفې دعاګانې ویل د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ سنت دي صرف یو دعاء متعین نه ده .

غفر له ذنبه : باربار لیکلی شوي دي چې د ګناه نه مراد صغیره ګناه ده کبائرو د پاره د توبې ضرورت دی .

د مابنام آذان نه پس د نفل مونځ حکم :

﴿۹﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ:

د حضرت عبد الله ابن مغفل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وُایي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي : چې په

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۲۹۰ رقم الحديث:۱۳-۳۸۶، وأبو داود ۱/۳۶۰ رقم الحديث :۵۲۵، والنسائي ۲/۲۶، رقم الحديث: ۶۷۹ ، والترمذي ۱/۴۱۱ رقم الحديث : ۲۱۰ ، أخرجه أحمد في المسند ۱/۱۸۱.

«بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ» ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ

مينځ دهردوو آذانونو کې مونځ دی، په مينځ دهردوو آذانونو کې مونځ دی اوبيا يې وفرمايل په دريم ځل

«لِمَنْ شَاءَ». (متفق عليه).[1]

چې دا مونځ د هغه کس د پاره دی چې خوښه يې شي.

توضيح: بين كل اذانين صلوة: اذانين نه مراد آذان او اقامت دی اول آذان دغائبو اودويم آذان د حاضرينو دی داقامت اواذان په مينځ کې وخت ډير برکتي دی اوددعاء دقبليدو وخت هم دی ځکه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام مکرر ترغيب ورکړو په دې کې د نفل مونځ کولو که دغه مونځ نفل وي يا سنت په باقي مونځونو کې کيږي خو د مابنام آذان او اقامت په مينځ کې نفل کولو کې د فقهاو اختلاف دی. (المرقات ۲/۳۵۲).

د فقهاو اختلاف: د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ د يو قول مطابق د مابنام مونځ نه پس او د مابنام مونځ نه مخکې دوه رکعته نفل کول مستحب دي. امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد دا رکعتونه اصل کې جائزدي خو د مابنام مونځ د تاخير د وجې نه دا مکروه لغيره جوړيږي د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ يو قول دادی چې دا نفل صرف مباح دي مستحب هم نه دي امام مالک او امام ابو حنيفه رَحِمَهُمَا اللَّهُ يو قول د اباحت دی او ابن همام اباحت راجح ګرځولی دی.

دلائل: شوافعو او حنابلو زير بحث حديث د عبدالله بن مغفل رَحِمَهُ اللَّهُ نه استدلال کړی دی د بخاري يو روايت د عبدالله ابن مغفل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه داسې نقل کړی دی پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: صلوا قبل صلوة المغرب دې حضراتو د مشکوة ص ۱۵۵ کې حضرت مختار بن فلفل او حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايات نه استدلال کړی دی په دې کې د دې رکعتونو کولو بنکاره ثبوت موجود دی. احنافو او مالکيو د حضرت بريده اسلمي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نه استدلال کړی دی دادارقطني په دې الفاظو کې نقل کړی: **وعن بريدة عن عبدالله بن مغفل المزني قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ان عند كل اذانين ركعتين ما خلا المغرب** (زجاجة المصابيح ۱ ص ۱۹۹)

دې روايت کې د مابنام نه علاوه وختونو کې د دوو آذانونو په مينځ کې رکعتين ذکر دي او د مابنام استثناء ده احنافو او مالکيو زير بحث حديث کې لمن شاء الفاظو نه استدلال کوي په دې کې د کولو او نه کولو اختيار دی اوس کول جائز دي خو دې سره د مابنام تاخير خطره ده ددې وجې نه د نه کولو اختيار

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۱۱۰، رقم الحديث: ٦٢٧، ومسلم في الصحيح ۱/۵۷۳ رقم الحديث: ۸۳۸-۳۰٤، وأبو داود ۲/۵۹ رقم الحديث: ۱۲۸۳، والنسائي ۲/۲۸، رقم الحديث: ٦٨١، والترمذي ۱/۳۵۱ رقم الحديث: ۱۸۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

هم دی او په دې کې احتیاط هم دی. احنافو په مشکوة کې د مختار بن فلفل روایت نه استدلال کړی دی ده نه تپوس وکړی شو آیا حضور ﷺ دا دوه رکعتونه کړي دي نبي کريم ﷺ و فرمايل:

كان يرانا نصليها فلم يأمرنا ولم ينهنا (رواه مسلم).

دې روایت نه هم اختیار معلومیږي ځکه چې نبی عليه السلام نه يې په خپله کړي دي، او نه يې چا ته حکم کړی دی او نه يې څوک منع کړي دي ددې په کولو په استحباب او یا جواز باندې عمل کولو کې یو کس د مانبام په تاخیر کې واقع کیږي چې مکروه دی، د احتیاط په بناء باندې احناف د نه کولو د پاره حکم ورکړو که تاخیر نه وي نو بیا دا کراهیت لغیره هم نه دی بهر حال دا دومره لوي اختلاف نه دی په کومو ملکونو کې چې عوام او ائمه حضرات د دوو رکعتو پابندي کوي بیا احنافو ته په کار دي چې دا دوه رکعته کوي دغه رنګ په یو ځای کې په رمضان کې افطاري کې ناوخته شي نو خلکو ته په کار دي چې هسې ناستې نه دا دوه رکعته کوئ ځکه چې دا اختلاف د طرفینو نه داستحباب په حکم کې دی نو معامله آسانه شوه، د ځینې شارحینو خیال دی چې دا حکم مخکې وو بیا موقوف شو.

الْفَصْلُ الثَّانِي:

امام د مقتديانو د مونځ ذمه دار دی:

﴿۱۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْإِمَامُ ضَامِنٌ وَ الْمُؤَذِّنُ

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې: نبي عليه السلام فرمایلي دي: امام ضامن دی او مؤذن

مُؤْتَمَنٌ اَللّٰهُمَّ أَرْشِدِ الْأَئِمَّةَ وَ اغْفِرْ لِلْمُؤَذِّنِينَ»[1]

امانتدار دی (بیا نبي عليه السلام دا دعاء وفرمایله) ای الله! امامانو ته هدایت وکړي او مؤذنانو ته بخشش

وَ الشَّافِعِيُّ وَ فِي أُخْرَى لَهُ بِلَفْظِ المصابيح.

وکړي. او امام شافعي رحمه الله دوهم روایت په مصابیح کې ددې په شان رانقل کړی دی.

توضيح: الامام ضامن: یعنې امام د خپلو مقتدیانو ذمه دار او کفیل دی چې د هغوي مونځ خراب نه وي امام د قرائت ذمه دار دی او د تعدیل ارکان ذمه دار دی د مونځ د رکعتونو ذمه دار دی د مونځونو د ارکانو او د رکعتونو د تعداد او د مونځونو د حرکاتو او حرکاتو ذمه دار دی.

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ٤٦١/٢، وأخرجه أبو داود في السنن ٣٥٦/١ رقم الحديث: ٥١٧، وأخرجه الترمذي في السنن ٤٠٢/١، رقم الحديث: ٢٠٧.

ضامن، دا مذکوره مفهوم د احنافو د ذوق مطابق دی د احنافو په نزد د امام مونځ په صحت او فساد سره د مقتديانو مونځ مربوط دی که د امام مونځ فاسد شو نو د مقتديانو مونځ به هم فاسد شي. ليکن شوافعو د **ضامن** مفهوم په نګران او رعايت سره کړی دی ځکه چې د دوي په نزد د امام مونځ ځانله دی او د مقتديانو ځانله مونځ دی د امام حيثيت صرف د منتظم او مرتب او نګران دی که د امام مونځ فاسد شو نو د مقتديانو مونځ نه فاسديږي. (المرقات ۲/۳۵۲، اشعة اللمعات ۳۳۸).

والمؤذن مؤتمن: مؤذن امانت او د امانت دار کيدو مطلب دا دی چې هغه د خلکو د مونځونو صحيح وختونو خيال ساتي خلک روژه نيسي سحر او مابنام دواړه وختونو کې په مؤذن اعتماد کوي او د هغه د آواز انتظار کوي، همدارنګې مؤذن په چت باندې وخيژي او آذان وکړي په دې کې د خلکو په کورونو کې پاسيدو کې قوي امکان دی ځکه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي مؤذن امانت دار دی هغه يې امين جوړ کړی دی د حديث په آخر کې هدايت او رهنمائي او مؤذن د پاره د استغفار دعاء غوښتلې ده د دواړو احوالو مناسب دعاء ده.

د اوه کالو پورې آذان ورکولو فضيلت:

﴿۱۱﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « مَنْ أَذَّنَ سَبْعَ سِنِيْنَ
د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام وفرمايل: چا چې آذان ورکړو اوه کاله د
مُحْتَسِبًا كُتِبَتْ لَهُ بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه). [1]
ثواب حاصلولو د پاره نو وبه ليکلی شي دده د پاره خلاصي او نجات د دوزخ نه.

توضيح: سبع سنين: د اوه کالو د خدمت د مودې تعين او آذان ورکولو باندې اعزاز ورکولو حکمت د الله تعالی او د هغه رسول ته حواله دی. (المرقات ۲/۳۵۹).

محتسبا: يعنې د ثواب په نيت اوه کاله آذان ورکول خالص د الله د وجې يې آذان ورکړو د دنيا وي اغراض او مقاصد نشته دی ځکه الله تعالی ده ته د جنت امتياز ورکړې ده، احتساب يعنې د ثواب په نيت او د ثواب په ارادې سره کوم کار وکړی شي دې ته احتساب ويلي شي، ددې په مقابله کې هغه کار چې د ثواب په نيت نه وي بلکې دا کار په معاشره کې د خاطر داری او د ښودنې د پاره وي نو دا د الله تعالی په نزد مقبول نه دی. **براءة**: د خلاصيدو د پاره يو پروانه ورکولی شي دې پروانې ته براءة ويلي

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۴۰۰، رقم الحديث: ۲۰۶، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۲۴۰ رقم الحديث: ۷۲۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

کيږي ددې ذکر په دې حديث کې راغلی دی .

يواځې مونځ کولو د پاره هم آذان کول په کار دي :

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «يَعْجَبُ رَبُّكَ مِنْ رَاعِي

د عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : ستارب خوشحاليږي دهغه چيلو

غَنَمٍ فِيْ رَأْسِ شَظِيَّةٍ لِلْجَبَلِ يُؤَذِّنُ بِالصَّلَاةِ وَيُصَلِّي فَيَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ انْظُرُوا إِلَى عَبْدِيْ هٰذَا

څرونکي نه په غرونو کې چې آذان کوي او مونځ کوي نو الله ملائکو ته وايي چې وګورئ دې زما بنده ته

يُؤَذِّنُ وَ يُقِيمُ الصَّلَاةَ يَخَافُ مِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِي وَ أَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ [1].

چې آذان کوي او مونځ کوي او ما نه ويريږي ما هم دده بنده ګناه وبخښله او جنت ته مې داخل کړو .

توضيح : **يحب ربک** يعني ستا رب راضي کيږي او خوشحاله کيږي که د ک نه خطاب د الله د طرف نه پيغمبر ته وي نو بيا حديث قدسي دی او که خطاب عوام الناس سره خاص وي بيا حديث قدسي نه شو شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ وايي اوله توجيه ډيره راجح ده .(اشعة اللمعات ۳۳۹، المرقات ۳۵۹-۲/۳۶۰)

شنطية د قضية په وزن ده د غر اوچت والي ته ويلی شي يخاف مني يعني چرا ګاه د دنيا ټولو علاقو نه بچ وي او غرونو طرف ته تلی وي او چې د مونځ وخت راشي نو زما د ويرې د وجې نه او زما د خوشحالولو د پاره آذان کوي او بيا مونځ کوي په لوي غر باندې د الله تعالى ذکر کوي او بيا مونځ کوي الله تعالى دده نه خوشحاله وي او فرشتو ته وايي وګوره زما بنده زما د ويرې نه اذان وکړي بيا مونځ وکړي هغه يې معاف کړو او جنت کې يې داخل کړو ، علماء ليکي : د آذان نه مراد اقامت او آذان دی او چې کله ځان له مونځ کوي بيا فرښتې د هغه سره او دريږي او مونځ کوي نو د غه کس ته د جماعت ثواب ملاويږي دې حديث نه دا تعليم حاصل شو که يو کس ځان له په سفر کې وي يا د کار د وجې نه په صحراء کې وي نو آذان دې کوي .(المرقات ۲/۳۶۰).

﴿۱۳﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « ثَلَاثَةٌ عَلَى

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : د قيامت په ورځ به دري کسان د

كُثْبَانِ الْمِسْكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَدَّى حَقَّ اللهِ وَ حَقَّ مَوْلَاهُ

مشکو په يو ډيرې باندې وي (اول) هغه غلام چې د الله تعالى حقوق ادا کولو سره سره يې د آقا حقوق هم ادا

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۹/۲ رقم الحديث : ۱۲۰۳ ، وأخرجه احمد في مسنده ۱۵۷/٤ .

وَ رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَ هُمْ بِهِ رَاضُوْنَ وَ رَجُلٌ
كړي وي (دويم) هغه كس چې خلكو ته مونځ ورکوي او خلک د هغه نه خوشحاله وي (دريم) هغه كس چې
يُنَادِيْ بِالصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ وَ لَيْلَةٍ ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[1]
دشپې ورځې (يعني هميشه) پنځه مونځونو دپاره آذان كوي، امام ترمذي رَحِمَهُ اللّٰهُ دا حديث نقل كړی دی
وَ قَالَ: هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.
او وايي چې دا حديث غريب دی.

توضيح: كثبان المسک كثبان الكثبة او **كثب** داد **كثيب** جمع ده **كثيب** دشكي غونډی ته ويلي شي په دې كې د جمع كيدو معنی پرته وي امرء القيس د **كثب** تذكره په خپل مشهور كتاب كې كړې ده:

ويوماً على ظهر الكثيب تعذرت ❁ عَلَيَّ وآلت حلفة لم تحلل

يوه ورځ محبوبې د شكو د ډيرې سره د ملاويدو نه انكار وكړو قطعي طور باندې او نه ماتونكی قسم يې وخوړو.

وعبد: د عبد نه مراد مملوک دی برابره خبره ده كه غلام وي او يا وينځه وي.

وهم به راضون: يعنې قوم د خپل امام نه خوشحاله او راضي وي د هغه د علم او تقوی د وجې نه او د هغه د كردار او د خبرې د وجې نه او د هغه د قرائت او بنائسته آواز د وجې نه او د حق خبرو او انصاف د وجې نه ټول دده نه راضي وي، په دې حديث كې د محلې اكثر اهل دين او اهل فراست خلكو رضامندي مراد ده د هر چا نه، ځكه هغوي خو عموما خفه وي.

ورجل ينادي: د مضارع صيغې نه دې خبرې طرف ته اشاره ملاويږي چې مؤذن هميشه او استمرار سره آذان كوي (كذا في اللمعات)

﴿۱۴﴾ وَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: « اَلْمُؤَذِّنُ يُغْفَرُ لَهُ
د حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي: آذان كوونكي ته بخښنه دده
مَدٰى صَوْتِهِ وَ يَشْهَدُ لَهُ كُلُّ رَطْبٍ وَ يَابِسٍ وَ شَاهِدُ الصَّلَاةِ يُكْتَبُ لَهُ
دآواز انتها مطابق كيږي او هر وچ او لوند څيز او مونځ ته رابلونكي گواهي كوي دده دپاره او دده دپاره

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳۱۲/٤، رقم الحديث: ۱۹۸٦، وأخرجه احمد في مسنده ۲٦/۲۵

Maktaba Tul Ishaat.com

خَمْسٌ وَ عِشْرُوْنَ صَلَاةً وَ يُكَفَّرُ عَنْهُ مَا بَيْنَهُمَا ».(۱)
د پنځويشتو (۲۵)مونځونو ثواب ليکلي کيږي اودمونځونو په مينځ کې که ګناه وشي معاف کيږي. او
وَرَوَى النَّسَائِيُّ إِلَى قَوْلِهِ: «كُلُّ رَطْبٍ وَيَابِسٍ» وَقَالَ: «وَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ مَنْ صَلَّى». (والنسائي ۲/۱۲)
نسائي دا روايت د كل رطب ويابس پورې نقل کړی اوداالفاظ يې هم نقل کړي چې وله مثل اجر من صلى

توضيح: مدى صوته: يعنې کوم ځای پورې چې د مؤذن آواز رسي دې کې چې څومره فرشتې وي يا انسان ټول په ټوله به د قيامت په ورځ به د مؤذن دپاره ګواهي ورکوي لکه څنګه چې د دې باب حديث نمبر ۳ کې تيرشو. (الكاشف ۲/۲۴۸، اشعة اللمعات ۳۳۹، المرقات ۲/۳۶۲).

وشاهد الصلاة: د دې نه مراد په جماعت شريک کيدونکي خلک دی ده ته د جماعت د وجې نه يو مونځ کې د ۲۵ مونځونو ثواب ورکوي. **وله اجر**: يعنې څومره خلک چې جمعه کې شريک شي مؤذن ته به د هر يو برابر ثواب ورکولی شي ځکه چې مؤذن ټول مونځ ته رابللي دي او دوي ته دعوت ورکوونکی دی **الدال على الخير كفاعله** مسلمه قاعده او حديث دی دې حديث نه معلومه شوه د ثواب په اعتبار سره مؤذن د مونځ کوونکو نه افضل دی.

د تنخواه نه بغير آذان کول:

﴿۱۵﴾ وَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ
د عثمان بن ابي العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې مانبي عَلَيْهِ السَّلَام ته عرض وکړو: ای د الله رسوله!
اجْعَلْنِيْ إِمَامَ قَوْمِيْ فَقَالَ: « أَنْتَ إِمَامُهُمْ
ماد قوم امام کړه نونبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: ته د دوي امام شوې، يعنې ما تاسو د خپل قوم امام کړئ خو ته
وَاقْتَدِ بِأَضْعَفِهِمْ وَ اتَّخِذْ مُؤَذِّنًا لَا يَأْخُذُ عَلَى أَذَانِهِ أَجْرًا ».(۲)
مونځ کولو کې د ډير ضعيف خلکو اقتداء کوې او داسې مؤذن مقرر کړه چې آذان باندې پيسې نه اخلي.

توضيح: اقتد بأضعفهم، يعنې مونځ کې د کمزورې خلکو رعايت کوه مه قرائت ډير اوږده وه چې د

---

(۱) أخرجه مسند أحمد ۴۱۱/۲، و أبو داود ۳۵۳/۱ رقم الحديث: ۵۱۵، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۲۴۰/۱ رقم الحديث: ۷۲۴.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۳۶۳/۱ رقم الحديث: ۵۳۱، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۲۳۶/۱ رقم الحديث: ۷۱۴.

کمزورو خلکو په برداشت کې نه وي او مه د مونځ ارکان دومره سپک کوه چې خلک تنګ شي او مونځ کول پریږدي. (المرقات ۲/۳٦۴، الکاشف ۲/۲۴۹، اشعة اللمعات ۳۴۰).

ه استیجار علی الطاعات مسئله: لا یأخذ علی اذا له اجرا: دې حدیث نه معلومه شوه چې مؤذن ته په خپل آذان باندې پیسې اخیستل صحیح نه دي په دې باندې قیاس کولو سره امام ته په امامت باندې پیسې اخیستل جائزنه دي تردې چې مطلقاً استیجار علی الطاعات منع دی په دې کې دفقهاو اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف: امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او شوافعو حضراتو په نزد باندې اجرت اخیستل مطلقاً جائزنه دی، د حنابلو په نزد طاعاتو یعنې آذان او اقامت تعلیم د قرآن او امامت باندې پیسې اخیستل جائزنه دي د احنافو دوه طبقې دي یوه طبقه د متقدمینو ده او یوه د متأخرینو ده، د متقدمینو احنافو په نزد استیجار علی الطاعات ناجائزدی، احناف متأخرین علماء فرمایي: استیجار علی الطاعات په جواز باندې ددوي فتوی نشته دی خو د مجبوری په صورت کې د جواز قول یې کړی دی. حالانکه اصل مسئله د عدم جواز ده او د جواز خبره عارضي ده او د مجبوری د لاندې ددې قول شوی دی چې د شعائر اسلام حفاظت وشي چې دیني مناسبت ختم نه شي چې کله یو کس امامت او خطابت او تدریس تردې چې آذان باندې پیسې نه اخلي نو خامخا بیا به هر یو کس د شعائر اسلام ده یو منصب حفاظت ذمه دار نه شي ددې وجې نه به ددین ټول احکامات خراب شي لکه څنګه چې د ملحدینو مقصد دی ځکه هغوي په اجرت علی الطاعات باندې اعتراض کوي هلته بیت المال نه سلفو او صلحاو خطباَو معلمینو او مفتینو ته وظائف ملاویدل ځکه به دوي د دین حفاظت کولو، اوس ددې منصب حفاظت او بچ کیدو د پاره بقدر ضرورت متأخرین د اجرت اخیستو قول پیش کړو ځکه چې دا ضرورت دی او الضرورة تتقدر بقدر الضرورة دی نن سبا امام او مؤذن د دین خدمت ته نه ګوري بلکې دنیا ګټل یې مقصود وي، نو داسې امام او مؤذن د پاره اجرت اخیستل ناجائز دی، عقود رسم المفتي کې ابن عابدین شامي لیکلي دي: ددې خلاصه داده چې د شریعت یو منصب بغیر د تنخو نهاه باقي نه شي پاتې کیدی مثلاً آذان او امامت نو داسې منصب باقي ساتلو د پاره اجرت اخیستل جائز دی لکه درس او تدریس امامت او آذان او د قضاء او افتاء مناصب شو او په بعضې مناصبو باندې اجرت وانه اخستلی شي نو ختمیږي نه مثلاً تراویحو کې ختم کول، تیوشن کول دا داسې مناصب دي چې ددې په ذریعې سره د شریعت یو منصب هم نه ختمیږي نو په داسې منصب باندې اجرت صحیح نه دی که وکتلې شي د صحابه کرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ په دور کې مجاهدینو ته عوض ورکړی شوی وو او قاضیانو ته په شرعي فیصلو باندې اجرت ورکړی شوی وو، خلفاء او امراء ته د دین په خدمت باندې تنخواه ملاؤ شوې وه دا دلائل د جواز د پاره کافي دي. توضیحات جلد څلورم کې ص ٦۴۵ باندې استیجار علی الطاعات باندې مکمل بیان موجود دی دې طرف ته رجوع کول د زړه اطمینان دی بهر حال چې کله د مجبوری د وجې په معامله کې جواز پیدا

Maktaba Tul Ishaat.com

شو ، د زيږ بحث حديث توجيه به داوي چې دلته اخلاص سره اجرت نه بغير آذان کولو ترغيب طرف ته اشاره کړی شوې ده ، د اجرت اخيستل اونه اخستل مسئله بيانول مقصود نه ده ،داوجه ده چې په مسلمانانو کې اوس هم ډيرې علاقې داسې دي هلته آذان په خپله کوي او اجرت نه اخلي اونه داجرت اخيستلو تصوروي لهذا کوم ځای پورې چې ممکن وي دې حديث باندې عمل کولو دپاره داسې ماحول جوړول په کار دی .خلاصه دا شوه چې په حديث کې د اخلاص کوم ترغيب ورکړی شوی دی په دې کې هيڅ کلام نشته دی .

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: عَلَّمَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقُوْلَ عِنْدَ

د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ماته بنودلې وُچې زه ووايم په وخت

أَذَانِ الْمَغْرِبِ : « اَللّٰهُمَّ إِنَّ هٰذَا إِقْبَالُ لَيْلِكَ وَ إِدْبَارُ نَهَارِكَ وَ أَصْوَاتُ

د مابنام آذان کې دا دعاء: ای الله ! دا وخت دی ستا دشپې دراتللو اودورځ د تللو او تا ته د آوازونو کولو

دُعَاتِكَ فَاغْفِرْ لِيْ »[1]

والا (يعنې مؤذن) ته زما بخښنه او مغفرت وکړي .

توضيح : **اللهم هذا** ، چې د آذان جواب مکمل شي بيا دې ددې نه پس دا دعاء ووايي او په دې دعاء کې د شپې او ورځې بدليدو طرف ته اشاره ده ځکه چې د مابنام نه پس دا دعاء وايي دې نه دا خبره هم واضحه شوه چې د آذانونو نه پس د مختلفو دعاګانو ثبوت شته خو د آذان او اقامت په مينځ کې چې کوم وخت دی داد دعاء د قبليدو بهترين وخت دی ځکه چې په دې کې د مختلفو دعاګانو اهتمام شوی دی . (المرقات ۲/۳۶۵، الکاشف ۲/۲۵۰).

د آذان او اقامت په مينځ کې دعاء قبليږي :

﴿۱۷﴾ وَ عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ أَوْ بَعْضِ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ بِلَالًا أَخَذَ

حضرت ابو اُمامة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يا بعضې اصحاب د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي چې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شروع کړو

فِي الْإِقَامَةِ فَلَمَّا أَنْ قَالَ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَقَامَهَا اللهُ وَ

اقامت چې کله يې **قد قامت الصلاة** وويلو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (ددې په جواب کې) وفرمايل: **اقامها الله و**

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱ ۳۶۲ رقم الحديث ۵۳۰ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۵ ۵۳۶، رقم الحديث ۳۵۸۹.

أَدَامَهَا » وَ - قَالَ فِيْ سَائِرِ الْإِقَامَة : كَنَحْوِ

ادامها يعني د الله تعالى مونځ قائم او دائم ساته ، او د تكبير باقي كلمو جواب يې هغه ورکړو کوم چې

حَدِيْثِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي الْأَذَان [1].

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د آذان په حديث کې شوې دی .

﴿١٨﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا يُرَدُّ الدُّعَاءُ

د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي كريم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام وفرمايل : نه رد كيږي دعاء په

بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَة» [2].

مينځ د آذان او اقامت کې .

توضيح :لا يرد الدعاء: دمسلمانانو دعاء الله تعالى هر وخت په رحمت او مهربانۍ سره قبلوي خو د آذان او اقامت چې کوم وخت دی هغه دومره سعادت مند دی او دومره برکت والا دی چې په دې وخت کې د دعاء کولو والا دعاء الله تعالى نه رد کوي، دې حديث نه مسلمانانو ته دا تعليم ورکولی شي چې مسلمانانو ته په کار دي چې دوي خپل دنيا وي او اُخروي حاجتونه د الله تعالى نه په دې وختونو کې غواړي، د حديث ظاهري الفاظونه دا معلوميږي چې دعاء د آذان سره متصل وي يا لږ ساعت پس وغوښتلی شي په هر صورت کې به قبليږي خو اولی او بهتره داده چې د آذان ختميدو سره يو ځای کول په کار دي . (المرقات ٢/٢٦٦، اشعة اللمعات ٣٤٠)

د دعاء قبليدو دوه وختونه :

﴿١٩﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «ثِنْتَانِ لَا تُرَدَّانِ

د حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل : دوه دعاګانې نه رد کيږي

أَوْ قَلَّمَا تُرَدَّانِ الدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ وَ عِنْدَ الْبَأْسِ حِيْنَ

يا يې وفرمايل چې کم رد کيږي يو هغه دعاء چې د آذان په وخت کې کيږي او دويم هغه دعاء چې د جنګ

---

(١) أخرجه أبو داود في السنن ١/٣٦٠ رقم الحديث : ٥٢٨ .

(٢) أخرجه أبو داود في السنن ١/٣٥٨ رقم الحديث : ٥٢١ . و الترمذي ١/٤١٥، رقم الحديث : ٤١٥، مسند أحمد ٣/١١٩.

Maktaba Tul Ishaat.com

يُلْحِمُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا» وَفِي رِوَايَةٍ: «وَتَحْتَ الْمَطَرِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ: وَتَحْتَ الْمَطَرِ[1]

په دوران کې چې کله قتل وقتال شروع کيدو په وخت کې وغوښتلې شي.

توضيح: او **قلما تردان**، ممکن دی چې دا اُود شک د راوي د پاره وي او دا هم ممکن دی چې دا اُود تنويع د پاره وي يعني د دوو دعاګانو انواع ذکر وي.

قلما لفظ عدم ته ويلي کيږي اول صورت کې راوي ته شک شو د **لا تردان** الفاظ ارشاد يې وفرمايل يا **قلما تردان** الفاظ دي. (اشعة اللمعات ۳۴۰، المرقات ۲/۲۶۷).

عند النداء: دې نه مراد آذان دی او د آذان وخت د دعاګانو د قبليدو وختونو کې شمارل کيږي، **وعند البأس** بأس سخت جنګ دی او مراد ترينه په جهاد ميدان کې د کفارو په مقابله کې سخت جنګ دی دا هم د دعاء د قبليدو وخت دی يعني تر له توجه د الله تعالى په ذات باندې پرته وي.

لحم يلحم باب **سمع** نه راځي جنګ ته ويلی شي ددې وجې نه هم د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نوم رسول **الملاحم** مشهور دی دلته دا صيغه د باب **افعال** او **سمع** نه راځي اګر چې **سمع** نه ډير مستعمل دی، و **تحت المطر** باران حالانکه د آسمان نه کيږي ګويا چې الله تعالى د خوا نه کيږي ځکه په دې کې رحمت او برکت دی دې مبارک وخت کې هم دعاء قبليږي که باران په ده باندې وريږي يا صرف هسې وريږي.

د مؤذن ثواب څنګه ګټلې کيږي؟

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الْمُؤَذِّنِينَ

د حضرت عبدالله ابن عمرو نه روايت دی وايي چې يو صحابي عرض وکړو يا رسول الله آذان کوونکي په

يَفْضُلُونَنَا فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قُلْ كَمَا يَقُولُونَ

فضيلت کې زمونږ نه مخکې شو نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل: څنګه چې هغه وايي تاسو هم داسې وايي

فَإِذَا انْتَهَيْتَ فَسَلْ تُعْطَ».[2]

چې کله فارغ شئ څه چې غواړئ ورکولی به شي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۴۵/۳ رقم الحديث: ۲۵۴۰، وأخرجه الدارمي في السنن ۲۹۳/۱، رقم الحديث: ۱۲۰۰.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۳۶۰/۱ رقم الحديث: ۵۲۴.

توضيح : **يفضلوننا** :يعني مؤذنين خلک آذان کولو سره ثواب کې زمونږ نه مخکې کيږي آيا مونږ داسې عمل کولی شو چې په ثواب کې د هغوي سره يو شان شو دا دور صحابه دی چې په دې کې به په نيکيو کې منډه او مخکيوالی کيدو او د هر ملګري به دا خيال وو چې زه د نورو ملګرو نه ثواب کې وروسته پاتې نه شم لکه نن صبا چې د دنيا او پيسې ګټلو کې يو بل نه مخکې کيږي دوي ته پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام د ثواب ګټلو د پاره کم خرچ والا عمل دا وښودو چې مؤذن آذان کوي نو جواب ورکوئ او چې آذان ختم شي دعاء کوي .(المرقات ۲/۳٦۷)

په دې کې به تاسو ته د آذان کوونکو د اصل ثواب په شان ثواب ملاويږي او د دې نه پس دې کوي دې سره به مزيد ثواب تاسو ته ملاويږي .شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې ليکي : جواب ورکوونکي چې د جواب سره د آذان نه پس دعاء ووايي نو ممکن دی چې په ثواب کې د مؤذن نه مخکې شي په دې شرط چې مؤذن دعاء ونه کړي .(اشعة اللمعات ۳۴۱).

د دعاء نه شايد هغه دعاء مراد وي چې په حديث نمبر ٦ کې مذکور وي او عوامو کې مشهوره ده ، دې حديث نه دا هم معلومه شوه چې څوک اجابت فعلي باندې عمل وکړي جومات ته راځي نو هغه ته هم په کار دي چې د خاموش کيناستو په ځای اجابت قولي وکړي او دا دعاء دې ووايي چې ثواب کې شريک شي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۲۱﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ :
د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې ما اوريدلي د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام نه چې فرمايل به يې:
إِنَّ الشَّيْطَانَ إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ذَهَبَ حَتَّى يَكُونَ مَكَانَ الرَّوْحَاءِ. قَالَ الرَّاوِيْ وَالرَّوْحَاءُ
چې کله شيطان د مونځ آذان اوري نو تختي تر دې چې مقام روحا پورې ورسي ، راوي وايي : چې روحا د
مِنَ الْمَدِيْنَةِ عَلَى سِتَّةٍ وَ ثَلَاثِيْنَ مِيْلاً [1].
مدينې نه شپږ ديرش کلو ميټره فاصله باندې دی .

توضيح : **ان الشيطان** ، ممکن ده چې د دې نه د ټولو لوي شيطان مراد وي چې آذان واوري وتختي ، او ممکن ده چې جنس شيطانان مراد وي ، اول صورت ډير واضح دی .(المرقات ۲/۳٦۸).

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/ ۲۹۰ ، رقم الحديث :۱۵-۳۸۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

الروحا: د يو کوهي نوم دی د مدينې منورې زړې لارې بانديخوا واقع دی يعنې يو کس چې د مدينې نه مکې طرف ته د بدر په لاره ځي شپږ ديرشو کيلو متره باندې دا کوهي واقع دی د لارې په غاړه باندې د يوې اوږدې فاصلې سره الروحا بولي لکيدلي دی ، بيا په سړک باندې ځي نو نيغ لاس باندې هلته په يو لويه نالی صحرائي علاقه کې دا کوهي واقع دی ، اوس هم په دې کې يخې اوبه ملاويږي دې سره يو زور جومات دی وايي چې په خپل دور کې د دې سره اويا (۷۰) پيغمبرانو آرام کړی دی .او سيد الاولين والآخرين پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د دري سوه ديارلس (۳۱۳) صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره جنګ بدر ته تشريف وړلو نو دلته يې آرام کړی وُ ، يعنې شپه يې تيره کړې وه . بنده ناچيز په رمضان کې د خپلو احبابو سره د دې کوهي اوبو نه غسل کړی دی،دبوقې په ذريعې سره يې اوبه راويستلی شي کوم ځلک چې د بدر په لاره باندې مکې ته ځي نو دا کوهي په لاره کې راځي،الله تعالى دې آباد ساتي .مدينه منوره کې مقيم صوفي حاجي نورمحمد افغاني رَحِمَهُ اللهُ ما ته ويلي وو د روحا کوهي د سړک نه لږ آخوا په يوه محله کې دی اوسړک سره چې کوم کوهي دي نودابل کوهي دی والله اعلم

قال الراوي : د راوي نه نافع بن طلحه مراد دی چې د دې کنيه ابوسفيان ده .

﴿۲۲﴾ وَ عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ قَالَ : (إِنِّي لَعِنْدَ مُعَاوِيَةَ

د حضرت علقمه بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: زه (يو ورځ) د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

إِذْ أَذَّنَ مُؤَذِّنُهُ فَقَالَ مُعَاوِيَةُ كَمَا قَالَ مُؤَذِّنُهُ حَتَّى إِذَا قَالَ : حَيَّ

سره وم ، چې د هغه مؤذن آذان وکړو نو معاويه هغه څه وويل کوم چې مؤذن ويل ، چې کله به مؤذن : حَيَّ

عَلَى الصَّلَاةِ : قَالَ : لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ فَلَمَّا قَالَ : حَيَّ

على الصلاة وويل ، نو حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به وويل : لاحول ولا قوة الا بالله او چې کله به مؤذن حَيَّ

عَلَى الْفَلَاحِ قَالَ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيمِ وَقَالَ بَعْدَ ذَلِكَ مَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ

على الفلاح وويل ، نو حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به وويل: لاحول ولاقوة الا بالله او ويل به يې د دې نه پس

ثُمَّ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم قَالَ ذٰلِك (۱).

هغه چې مؤذن ويل بيايې وويل: ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوريدلي دي چې هغه به داسې ويل .

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۲/۲۵ رقم الحديث : ٦٧٧ ، واحمد في مسنده ٤/٩١-٩٢.

توضيح : علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي : لا حول ولا قوة الا بالله نه پس العلي العظيم الفاظ په روايا تو کي نادردي. عقلمه بن وقاص رَحِمَهُ اللَّهُ کبارو تابعينو نه دی (الکاشف ۲/۲۵۳، المرقات ۳۶۸-۲/۳۶۹)

﴿۲۳﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَامَ

د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره يو ځای وو چې اودريدو

بِلَالٌ يُنَادِي فَلَمَّا سَكَتَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :

حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اوآذان يې وکړو چې کله هغه (آذان وکړو) غلی شو نو نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام وفرمايل:

« مَنْ قَالَ مِثْلَ هٰذَا يَقِينًا دَخَلَ الْجَنَّةَ »[1].

چې کوم کس دغه رنګ په يقين سره (يعني د زړه په خلوص سره) وويل نو جنت ته به داخل شي.

﴿۲۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَمِعَ الْمُؤَذِّنَ يَتَشَهَّدُ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې کله به نبي عَلَيْهِ السَّلَام د مؤذن نه شهادتين اوريدل نو

قَالَ : « وَ أَنَا وَ أَنَا ».[2]

فرمايل به يې : او زه هم، او زه هم.

توضيح : قال وانا وانا : چې کله به مؤذن په آذان کې شهادتين وويل نو پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام به په جواب کې دوه ځله وفرمايل : زه هم ګواهي ورکوم د توحيد او رسالت، څنګه ګواهي چې تاسو ورکوئ دغه رنګ ګواهي زه هم ورکوم. ددې نه معلومه شوه چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت په شان په خپل رسالت باندې په ګواهي ورکولو باندې مکلف دی، اوس په دې کې بحث او تحقيق دی چې آيا پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام د خپل امت په شان اشهد ان محمد رسول الله الفاظ وويلي شي يا اشهد اني رسول الله الفاظ ادا کولی شي. (اشعة اللمعات ۳۴۱).

عام علماء دا ليکي : چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام د خپل امت په شان د خپل رسالت ګواهي کولی شي اوس حديث نمبر (۲۱) کې حضرت معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا وايي ما چې د کومې کلمې جواب کې ويلي دي نبي عَلَيْهِ السَّلَام دغه رنګ کلمو سره جواب ورکولو، اوس په ظاهره زير بحث حديث سره تعارض راغلی

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۲/۲۴ رقم الحديث : ۶۷۴ .

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۳۶۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

ځکه چې په دې کې وانا،انا الفاظ دي .علماء جواب ورکوي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کله دا الفاظ ويلي دي اوکله يې هغه الفاظ ويلي دي چې دهغې تذکره حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کړې ده دواړه ثابت دي .

﴿۲۵﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : «مَنْ أَذَّنَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: څوک چې آذان وکړي دولس کاله

وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ وَ كُتِبَ لَهُ بِتَأْذِينِهِ فِي كُلِّ يَوْمٍ

ده د پاره جنت واجبيږي او ده ته به د آذان په بدله کې (ددې په اعمال نامه کې) هره ورځ (يعنې د هر آذان

سِتُّونَ حَسَنَةً وَ لِكُلِّ إِقَامَةٍ ثَلَاثُونَ حَسَنَةً »[1].

په عوض) شپيته نيکئ او د هر تکبير په بدله کې ديرش نيکئ ليکلی کيږي .

توضيح: **ثلاثون حسنة**: آذان کوونکي ته په هر آذان باندې هره ورځ اضافي شپيته (٦٠) نيکی ملاويږي او تکبير کوونکي ته ددې نيمې يعنې ديرش نيکی ملاويږي او د شمار راز الله تعالى او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته حواله دی ، د آذان په نسبت اقامت باندې ثواب ځکه لږ دی چې په آذان کې محنت ډير دی او اقامت کې محنت کم دی او کيدی شي چې د جمهورو په ذوق باندې د اقامت کلماتو کې ايتار دی ځکه يې ثواب کې کموالی دی .(المرقات ۲/۳۷۰، اشعة اللمعات ۳۴۲).

سوال: فصل ثاني حديث نمبر ۱۱ کې د اوه کالو پورې آذان ورکولو باندې د جنت خوشخبري ده دلته دولس کالو باندې خوشخبري ده دا په ظاهره تعارض دی ددې جواب څه دی ؟

جواب: شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې ددې يو جواب دا کړی چې علامه کرماني بطور ضابطه جواب ورکړی دی که هلته هم شمار او حساب کې اختلاف نظر باندې راشي نو په دې کې تعارض نشته دی ځکه چې عدد اکثر عدد اقل لره منافي نه دی .شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ دويم جواب دا ورکړی دی چې اوه کالو پورې آذان کولو ثواب د دوزخ نه د بچ کيدو براءة ملاويږي چې په جنت کې د ددا خليدو زيری دی دلته زير بحث حديث کې د آذان کولو وخت دولس کاله دی چې ډيره موده اووخت دی ځکه يې ده ته دجنت زيري ورکولو سره روزانه شپيته (٦٠) نيکی اضافي ورکولی شي.(اشعة اللمعات ۳۴۲).

﴿۲۶﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : كُنَّا نُؤْمَرُ بِالدُّعَاءِ عِنْدَ أَذَانِ الْمَغْرِبِ. (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ)

او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې مونږ ته دمابنام د آذان په وخت کې د دعا غوښتلو حکم شوی دی.

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۲٤۱ رقم الحديث : ۷۲۸ ، وأخرجه الدار قطني في السنن ۱/۲٤۰ رقم الحديث :۲۳.

توضیح: لؤمر: یعني مونږ ته به حکم کیدو چې مونږ د مانښام اذان په وخت کې دعا غواړو دې حدیث نه خو یو خبره دا معلومه شوه چې د اذان په وخت کې او پس د آذان نه د قبولیت د دعا وخت دی، دویمه خبره دا معلومه شوه چې په دې وخت کې دعاء غوښتل که سنت او واجب نه دي نو کم از کم مستحب خو دي ددې اهتمام کول په کار دي خو دا یاد ساتئ په دې دعاء کې لاس اوچتول د سلفو او خلفو نه ثابت نه دی بغیر د لاسونو اوچتولو دعاء وکړئ. (المرقات ۲/۳۷۰، اشعة اللمعات ۳۴۲).

علامه طیبي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي: کیدی شي دا هغه دعاء وي چې د کومې ذکر حدیث نمبر ۱۶ کې دی یعني **اللهم هذا اقبال لیلک وادبار نهارک و اصوات دعاتک فاغفرلي**. دلته دا وضاحت هم ضروري دی چې د دعاء د هر آذان نه پس مستحب ده بیا د مانښام تصریح څه ضرورت ؤ؟ **(اخرجه ابوداؤد ۵۳۰)**

ددې جواب دادی کیدې شي د مانښام آذان نه پس دعاء د نورو آذانونو نه ډیره مؤکده او قابل اهتمام وي ځکه یې ددې ذکر وکړو چونکې د مانښام وخت د ورځې په ختمیدو باندې او د شپې په راتلو باندې یو لوي انقلاب ظاهریږي ځکه دا وخت قابل اهتمام شو د مانښام آذان او اقامت یو ځای ویلي کیږي یعني دومره فاصله په کې نه وي ځکه هم دا وخت اهم شو او د دعاء تاکید په کې شوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

باب:
د آذان نور مسائل:

دې باب سره هيڅ عنوان نشته دی ځکه داد تنوين سره ويلي کيږي ، شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ د دې عنوان داسې بيان کړی دی : **باب في متممات ولواحق الآذان** ، يعنې د مخکني بابونو سره متعلقه څه د نورو احکامو بيان ، دې باب کې د وخت نه مخکې د آذان مسائل هم دي ، او د آذان د تاخير مسائل هم دي ، د استحقاق آذان هم مسئله ده او آذان باندې جومات ته راتللو طريقه هم ذکر ده او د مؤذن ذمه دارو ذکر هم دی دا ټول د آذان د متعلقاتو نه دي .

الْفَصْل الأول:

بَابُ تَأْخِيرِ الْأَذَان
دوخت نه مخکې د آذان کولو حکم :

﴿۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «إِن بِلَالًا يُؤذن

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايلي : بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ آذان کوي

بِلَيْلٍ فَكُلُوْا وَ اشْرَبُوا حَتّٰى يُنَادِيَ ابْنُ أُمِّ مَكْتُوْم»

د سحر په شپه کې نو (روژه کې د پيشنمي) خوراک څښاک کوئ څو پورې چې ابن ام مکتوم آذان نه وي

ثُمَّ قَالَ : وَ كَانَ رَجُلًا أَعْمَى لَا يُنَادِيْ حَتّٰى

کړی ، ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي : ابن مکتوم يوړوند سړي دی چې آذان به يې نه کولو تر څو پورې چې به ده ته

يُقَالَ لَهُ: أَصْبَحْتَ أَصْبَحْتَ. (متفق عليه) [1]

دانه وو ويلې شوي چې تا سبا کړو تا سبا کړو.

توضيح : ان بلالا ينادی بليل ، يعنې بلال به د شپې په وخت کې آذان کولو د سحر کيدو نه مخکې يعنې د تهجد و د پاره به يې آذان کولو ، تاسو خلک دده آذان سره د پيشمني خوراک مه بندوئ بلکې خورئ يې تر دې پورې چې عبد الله ابن ام مکتوم آذان وشي .(المرقات ۲/۳۷۱).

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۹۹،رقم الحديث :٦١٧، ومسلم ۲/۸٦۲ رقم الحديث:۳٦-۱۰۹۲، والنسائي ۲/۱۰، رقم الحديث: ٦۳۷ .

دا خبره ټولو ته معلومه ده چې د آذان مشروعیت د مونځونو د ختونو د تعیین د پاره دی ځکه په دې باندې د ټولو فقهاو اتفاق دی ، د سحر نه علاوه ټولو ختونو کې د وخت نه مخکې آذان جائز نه دی که چا وکړو نو دوباره به یې بیا کوي خو د سحر په آذان کې د فقهاو اختلاف دی چې سحر کیدو نه مخکې آذان جائز دی یا نه دی .

د فقهاو اختلاف : د امام مالک ،امام شافعي اوامام احمد بن حنبل او امام ابویوسف رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په نزد د سحر اذان د سحر نه مخکې جائز دی او د اعادې ضرورت یې نشته دی ، امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي : د نورو ختونو په شان د سحر په وخت کې د سحر کیدو نه مخکې آذان کول جائز نه دي که چا وکړو نو دوباره به یې کوي د ډیرو سلفو هم دا مسلک دی .

دلائل : جمهور زیر بحث د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د روایت نه استدلال کوي چې په هغې کې : **ان بلالا ینادی بلیل** الفاظ راغلي دي ، ددې نه معلومیږي چې د سحر کیدو نه مخکې آذان کولی شي .

(۱) د ائمه احنافو اولنی دلیل په ابوداؤد شریف کې د حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دی هغه ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل : **لا یؤذن حتی یستبین لک الفجر هکذا و مد یده عرضا** (رواه ابوداؤد)

(۲) د احناف دویم دلیل په بیهقي او ابوداود کې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت پیش کوي چې په (**قبل الفجر** آذان کولو باندې) حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو تا داسې ولې وکړل ؟ جواب یې ورکړو چې کله زه پاڅیدم نو اوس پورې په خوب کې وم نو ما دا خیال وکړو چې صبح صادق شوی دی (نو ما آذان وکړو) په دې وجه ورته پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمایل : اوس لاړ شه او خپل باره کې اعلان وکړه چې زه اوده وم (او د خوب په حالت کې مې په غلطی سره اذان وکړو).

(۳) د احنافو دریم دلیل د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دی : **ان بلالا أذن قبل الفجر فغضب رسول الله صلى الله عليه وسلم** (زجاجة المصابیح ج ۱ ص ۲۰۱)

(۴) د احنافو څلورم دلیل ترمذي کې د حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دی یو ورځ یې آذان د سحر کیدو نه مخکې کړی وو نو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته حکم وکړو چې آذان دوباره وکړه ، دغه رنګ ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ طرف ته منسوب دی چې تا خپل غلام ته **قبل الوقت** آذان کولو باندې دوباره کولو حکم ورکړی وو ، دغه رنګ احناف د **والمؤذن مؤتمن** نه استدلال کړی ځکه چې د وخت نه مخکې آذان کول د وخت سره خیانت کول دي او مؤذن امین دی ده ته داسې کول نه دي په کار (۵) ائمه احنافو سره عقلي دلیل هم شته هغه داسې لکه څنګه چې د باقي څلور مونځونو وختونو کې آذان د وخت نه مخکې معتبر نه دی دغه شان آذان د سحر نه مخکې صحیح نه دی ځکه چې ټولو کې علت مشترکه دی هغه دا چې آذان د وخت

Maktaba Tul Ishaat.com

دتعيين دپاره دی اووخت نه مخکې آذان تجهيل (خلک په جهالت کې اچول دي) تعيين دوخت نه دی.

جواب: احناف د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د آذان په باره کې وايي چې هغه د پيشمني از تهجد و د پاره ؤ د سحر د پاره نه ؤ د سحر دپاره مستقل طور باندې ابن ام مکتوم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آذان کولو او حالانکه هغه رونده هم ؤ نو خلک به راتلل چې **اصبحت اصبحت**، حضرت سحر شو، سحر شو، تاسو زر آذان وکړئ نو ابن ام مکتوم به پاڅيده او آذان به يې ورکړو، حالانکه بخاري کې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت الفاظ دادی: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل: **لا يمنعن احدكم او احد منكم آذان بلال من سحوره فانه يؤذن او ينادی بليل ليرجع قائمكم ولينبه نائمكم** (بخاري ج۱ ص ۸۷) يعنې د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آذان دې تاسو د پيشمني نه منع نه کړي ځکه چې هغه د سحر کيدو نه مخکې آذان ورکړو چې تهجد گزار کورونو والا د پيشمني د پاره تياري وکړي، يا اوده شوي راپاڅي، دا حديث دليل دی چې د سحر آذان د وخت نه مخکې نه دی شوی کوم آذان چې مخکې شوې دی هغه به د پيشمني د پاره ؤ دې سره حضرت سمرة بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت هم دال دی، د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آذان د پيشمني د پاره ؤ دا هغه مسئله ده چې په دې کې څومره حيرانتيا وشي يعنې تعجب وشي نو کم دی ټول جمهور يو طرف ته دي او د استدلال د پاره دوي سره دليل نشته او مذکور حديث نه ددې مسلک د پاره پټه اشاره هم نشته دی. **فجر مستطيل**: دا په اُفق د آسمان باندې کرخې ته ويلی شي چې په مينځ کې يې اوږده رڼا وي دويم نوم **ذنب السرحان** او دروغژن سحر دی، **المستطير** آسمان غاړو باندې خورې شوی رڼا ته ويلی کيږي ددې دويم نوم ريښتينې سحر دی.

﴿۲﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَمْنَعَنَّكُمْ مِنْ
د حضرت سمرة بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: تاسې دې منع نه کړي د -
سُحُورِكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ وَلَا الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيلُ وَ لَكِنِ الْفَجْرُ الْمُسْتَطِيرُ
پيشنمي کولو نه آذان د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او نه اوږد سحر (صبح کاذب) البته هغه سحر چې خوريد ونکي
فِي الْأُفُقِ ». وَ لَفْظُهُ لِلتِّرْمِذِي [1]
وي په افق باندې (چې کله صبح صادق راوخيژي نو بيا خوراک څښاک بند کړئ) الفاظ د ترمذي دي.

---

(۱) أخرجه مسلم ۷۷۰/۲ رقم الحديث: ٤٣ - - ١٠٩٤، وأبوداود في السنن ۷۵۹/۲ رقم الحديث: ٢٣٤٦، وأخرجه الترمذي في السنن ۸٦/۳ رقم الحديث: ٧٠٦.

﴿۳﴾ وَ عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَابْنُ عَمٍّ لِيْ

د حضرت مالک بن حويرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې زه نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ته راغلم او زما د تره زامن

فَقَالَ: « إِذَا سَافَرْتُمَا فَأَذِّنَا وَ أَقِيْمَا وَ لْيَؤُمَّكُمَا

نو نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل: چې کله تاسو سفر کوئ نو آذان او تکبير کوئ او امامت دې وکړي تاسو

أَكْبَرُكُمَا » . (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ). (۱)

ته چې کوم په تاسو کې مشروي.

﴿٤﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « صَلُّوا

د حضرت مالک بن حويرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونږ ته وفرمايل مونځ وکړئ

كَمَا رَأَيْتُمُوْنِيْ أُصَلِّي وَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ

تاسې لکه څنګه چې تاسې ما وينئ چې زه مونځ کوم، او چې کله د مونځ وخت شي، نو تاسو کې دې يو

فَلْيُؤَذِّنْ لَكُمْ أَحَدُكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَكْبَرُكُمْ ». (۲) (متفق عليه)

کس آذان وکړي بيا امامت دې وکړي کوم چې په تاسې کې مشروي.

توضيح : **كما رأيتموني** : اصل شريعت هغه دی چې د هغې نمونه پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ښودلې ده ځکه پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : ما ته ګورئ زما په شان عمل کوئ، زما طريقه خپله کړئ، زما په طريقه باندې لاړ شئ د خپل طرف نه د عبادت د پاره ترتيب مه جوړوئ.

فليؤذن لكم احدكم : يعنې د مونځ په وخت کې چې د تاسو نه څوک آذان وکړي برابره خبره ده که په سفر کې وي يا مقيم وي بيا د امامت د پاره دې تاسو کې چې څوک افضل وي نو هغه دې امامت وکړي. (المرقات ۲/۳۷۷).

ددې کلام نه معلومه شوه چې په معاشره او محله کې هر يو کس آذان د پاره مخکې کيدې شي، خو د امامت د پاره د هغې اهل مخکې کول په کار دي. اکبرکم دې نه مراد افضل کس دی صرف عمر کې لوی

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۱۱۰،رقم الحديث:۶۲۸،مسلم ۱/۴۵۶، رقم الحديث : ۲۹۲-۶۷۴، والترمذي ۱/۳۹۹،رقم الحديث:۲۰۵، أبوداؤد ۱/۳۹۵. رقم الحديث : ۵۸۹، نسائي ۲/۹. رقم الحديث : ۶۳۶، ابن ماجه ۱/۳۱۳، رقم الحديث : ۹۷۹، مسند أحمد ۵/۳۵.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۱۱۱،رقم الحديث : ۶۳۱،وأخرجه الدارمي في السنن ۱/۳۱۸، رقم الحديث : ۱۲۶۳، وأخرجه أحمد في المسند ۵/۵۳ .

Maktaba Tul Ishaat.com

کس مراد نه دی بلکه علم او فضل کې د ټولو نه مقدم وي که په دې کې دواړه برابر وي بیا چې عمر کې لوي وي هغه به امام جوړیږي او د عمر نه هغه عمر مراد وي چې د اسلام په حالت کې تیر شوی وي د جاهلیت د عمر اعتبار به نه وي.

که د سحر مونځ قضاء شي نو څنګه به اداء کیږي:

﴿٥﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَفَلَ مِنْ غَزْوَةِ خَيْبَرَ

د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام چې کله را واپس شو د غزوه خیبر نه نو ټوله

سَارَ لَيْلَةً حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْكَرَى عَرَّسَ

شپه یې سفر وکړو تر دې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې خوب غلبه وکړه نو آرام د پاره د شپې آخري حصه کې یو ځای

وَ قَالَ لِبِلَالٍ : " اِكْلَأْ لَنَا اللَّيْلَ . فَصَلَّى بِلَالٌ مَا قُدِّرَ لَهُ

کوز شو بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې وفرمایل چې زمونږ خیال کوه نو حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تهجد مونځ یو څه اندازه

وَنَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَأَصْحَابُهُ فَلَمَّا تَقَارَبَ الْفَجْرُ اسْتَنَدَ بِلَالٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ

وکړو او نبي عَلَيْهِ السَّلَام او صحابه اوده شو چې کله سحر شو حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپلې کیجاوې ته ډډه ووهله

مُوَجِّهَ الْفَجْرِ فَغَلَبَتْ بِلَالًا عَيْنَاهُ وَ هُوَ مُسْتَنِدٌ إِلَى رَاحِلَتِهِ فَلَمْ يَسْتَيْقِظْ

او د سحر (مشرق) طرف ته یې مخ کړو او خوب ورغی چې ډډه یې وهلې وه خپلې کیجاوې ته نو را بیدار نه

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَلَا بِلَالٌ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِهِ حَتَّى ضَرَبَتْهُمُ الشَّمْسُ

شو نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام او نه بلال او نه یو کس د صحابه کرامو نه تر دې چې هغه باندې ګرمي راغله نو د ټولو

فَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوَّلَهُمُ اسْتِيقَاظًا فَفَزِعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «أَيْ بِلَالُ»

نه مخکې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام ستر کې مبارکې وغړیدې، نبي عَلَيْهِ السَّلَام خفه شو او وي فرمایل: ای بلاله! داځه

فَقَالَ بِلَالٌ أَخَذَ بِنَفْسِي الَّذِي أَخَذَ بِنَفْسِكَ

وشو؟ حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غرض وکړو ای د الله رسوله! زه هم هغه څیز نیولی وم چې کوم تاسو نیولې وي

قَالَ : « اقْتَادُوا » فَاقْتَادُوا رَوَاحِلَهُمْ شَيْئًا ثُمَّ

(یعنې خوب) نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام وفرمایل: دې ځای نه روان شئ نو ټولو خلکو لږ ساعت مزل وکړو بیا

تَوَضَّأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ أَمَرَ بِلَالًا فَأَقَامَ الصَّلَاةَ

نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام او دس وکړو او بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یې د تکبیر حکم ورکړو د مونځ د پاره یې تکبیر وکړو

فَصَلَّى بِهِمُ الصُّبْحَ فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ : " مَنْ نَسِيَ الصَّلَاةَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام صحابو ته مونځ ورکړو چې د مونځ نه فارغ شو نو وي فرمايل: کوم کس نه چې مونځ هيرشي

فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا فَإِنَّ اللهَ تَعَالَىٰ قَالَ: ﴿وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي﴾ . (رَوَاهُ مُسلم) .[1]

نو د يادېدو سره يې زړ بيا کوئ ځکه چې الله تعالى فرمايي : زما يادېدو سره مونځ کوئ.

توضيح : من غزوة خيبر ، غزوه خيبر په (سنه هـ) کال کې راغلې وه د مدينې منورې د طرفونو نه بنو نظير وغيره اکثر يهوديان د خيبر علاقو کې يو ځای شوي وو مدينه منوره چونکې د اسلام مرکز جوړ شوی وو او دا يهوديان هر وخت د اسلام د مرکز خلاف د بهر د کفارو سره يې رابطې ساتلې ، د عقل او تدبير تقاضا ده چې اسلامي مرکز د خطرې نه او يهوديانو ددې ناپاکو فتنو نه پاک کړی شي ، پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام د صلح حديبيه نه واپس کيدو سره د څه تاخير نه علاوه په صلح حديبيه کې شامل تقريبا يو نيم زر صحابو سره په خيبر باندې حمله وکړه د مدينې منورې نه خيبر د شمال طرف ته ۹۶ ميله فاصلې باندې واقع دی دغه وخت دا علاقه په اوه لويو مضبوطو جنګي قلعه ګانو باندې مشتمل وه د خيبر په زمکه کوزيدو سره **نبي الملاحم** دا تاريخي جملې وفرمايلې : **الله اکبر خربت خيبر ، الله اکبر خربت خيبر ، الله اکبر خربت خيبر** ، يوې مياشتې پورې د اسلام لښکرو د خيبر محاصره کړې وه بيا تولې قلعه ګانې فتح شوې د کفر ۹۲ يهويدان مړه شو او د اسلام شپاړس کسان شهيدان شول ، په توله علاقه باندې د اسلام جهنډه اوچته شوه ، حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قموص قلعه فتح کړه او باب خيبر يې مات کړو ددې د وجې نه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د فاتح خيبر لقب ملاؤ شو . (المرقات ۲/۲۷۶).

قفل : د جنګ ميدان نه واپس راتلونکو مجاهدينو ته د **قفل** لفظ استعمال شوی .

الکری : د خوب ډير اقسام او درجې دي چې کله په سترګو د خوب اثر کيږي هغې ته سنه ويل کيږي چې کله سپک اثر په دماغ باندې وي هغې ته کدی ويلي کيږي چې کله اثر په زړه باندې وي نعاس ورته ويلي شي . دې الفاظو کې معمولي فرق دی خو دا الفاظ مترادفه دي ټولو نه ابتدائي خوب ته اوسيلی ويلي شي چې کله په ټول بدن باندې د خوب اثر وشي هغې ته نوم ويلي کيږي.

عرس د **تعريس** د باب **تفعيل** نه دی د شپې په آخرې حصه کې پرا و اچولو ته **تعريس** ويلي شي.

اکلانا الليل : يعني زمونږ د شپې پيره (څوکيداري) کوه **اکلا** باب **فتح يفتح** نه د امر صيغه ده د يو څيز

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۴۷۱، رقم الحديث: ۳۰۹-۶۸۰، والنسائي ۱/۲۹۵، رقم الحديث: ۶۱۸ ، وابن ماجة ۱/۲۲۷، رقم الحديث: ۶۹۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

نگراني او حفاظت او څويکدارۍ ته کلا ويلي شي

موجه الفجر : دا جمله د استند ضمير نه حال واقع ده او موجه د باب تفعيل نه د اسم فاعل صيغه ده چې د اوړيدو په معنى کې دى اصل عبارت داسې دى : **اى موجه راحلة الى الفجر** . ددې مضاف د حذف سره چې هغه سورلئ په داسې انداز کې کينولې چې د هغې سره يې ځان ووهلې وي د سحر ظرف ته يعنې مشرق طرف ته يې مخ کړو (كذا في اللمعات)

شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ ليکي : **موجه د متوجه** په معنى کې دى يعنې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مشرق طرف ته د سحر راختو د پاره سورلئ ته ځان وهلي وه او متوجه شوو .

اقتادوا داد باب **افتعال** نه د امر صيغه ده اصل کې داد قود نه دى چې وزن د مهموز نه نيون او وراښکلو ته ويلي شي . دغه رنګ د سوق او د شړلو په معنى کې هم دى **فاقتادوا** : دې باب نه د ماضي صيغه ده يعنې ټول خلک د دغه ځاى نه سورلئ واغستې او روان شول .

سوال : سوال دادى چې د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله ستړګې خلاصې شوې نو رسول الله صلى الله عليه وسلم فورا د مونځ اهتمام ولې ونه کړو د وادئ نه لږ مخکې تلو سره د مونځ کولو څه حکمت دى ؟

جواب : دلته احناف او شوافع جدا جدا حکمت ذکر کوي دې سره د مسلک فقهي تائيد حاصليږي .

احناف علماء فرمايي : د لمر راختو مکروه وخت وو دغه وخت کې قضاء مونځ د کول مکروه وو ځکه پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لږ د مخکې تللو حکم صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته ورکړو چې مکروه وخت ختم شي .

مسلم شريف کې روايت دى : **فسرنا حتى اذا ارتفعت الشمس نزل** (ص ۲۳۹) داد احنافو د قول تائيد دى . د شوافعو په نزد د دغه رنګ قضاء مونځونو ادا کول د سحر کيدو په وخت کې جائز دى پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ته د دغه ځاى نه د تللو حکم وکړو چې دغه ځاى کې د شيطانانو اثر او د اوسيدو ځاى وو په بعضې روایاتو کې هغه طرف ته اشاره هم موجود ده .

سوال : دلته يو مشهور سوال دى هغه دا چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د خوب په حالت کې زما ستړګې اوده کيږي خو زما زړه نه اوده کيږي بلکې ويښ وي يا د ويښ پاتې کيدو باوجود د پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه د سحر مونځ ولې قضاء شو ؟

جواب : اکثرو شارحينو دا جواب کړى دى چې په بدن کې د هر يو انداام خپله خپله ذمه داري وي د سحر موندل او ليدل د زړه وظيفه نه ده بلکې داد ستړګو ذمه داري ده دغه وجه ده که يو کس ستړګې بندې کړي او د بيدارئ په حالت کې سحر کيدل وغيره او د ليدونکو څيزونو ادراک نه شي کولې حالانکه زړه ويښ دى او سړي هم بيدار دى صرف ستړګې بندې دي په خپله حضرت ابن ام مکتوم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بيدارئ په حالت کې د سحر کيدو ادراک نه شو کولى ځکه چې هغه روند وو خو زړه يې بيدار وو دلته هم د پيغمبر

معامله داسې وه د سحر لیدلو وظیفه د سترګو وه او سترګې بندې وي خو د زړه د ویښ کیدو باوجود هم د سحر کیدو ادراک ونه کړه او مونځ قضاء شو ، خو د ګرمئ د وجې نه چې کله په بدن باندې اثر وشو نو بیا د سحر کیدو او د نمر راختو احساس وشو ، د پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام مونځ قضاء کیدل او د وحې اوکشف په ذریعې سره د الله تعالی د طرف نه دپاڅیدو انتظام نه کول په دې کې د الله تعالی مرضي اوحکمت ووچې د دې فعل په ذریعې سره ستاامت ته په داسې کارونو کې یو طریقه او سنت ملاؤ شي د توضیحات جلد اول ص ۳٦٦ باندې د دې تفصیل ذکر شوی دی هلته یې وګورئ .

واقام الصلاة ، حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تکبیر حکم ورکړو د مونځ د پاره یې تکبیر ویلو او پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سره یې مونځ وکړو .دې لفظ نه په ظاهره دا معلومیږي د قضاء مونځ د پاره صرف تکبیر کول کافي دی آذان کول ضروري نه دی د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نوی قول هم داسې دی خو د شوافعو د علماو زور قول او معتمد مسلک دادی چې د قضاء مونځونو د پاره آذان ضروري دی .د احنافو مسلک هم دادی چې اقامت او آذان دواړه ضروري دي صاحب بدایه په هدایه کې لیکي چې پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د لیلة التعریس د سحر قضاء مونځ د آذان او اقامت سره کړی دی ، شیخ ابن همام رَحِمَهُ اللهُ په فتح القدیر کې د مسلم شریف یو اوږد حدیث حواله ورکړې ده چې په دې کې د لیلة التعریس قصه ده دې حدیث کې الفاظ دادي : **ثم اذن بلال بالصلاة فصلى رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ركعتين** (مسلم ج ۱ ص ۲۳۹) دابوداؤد شریف په یو روایت کې دا الفاظ دي : **انه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر بلالا بالاذان و الاقامة حين ناموا من الصبح و صلوها بعد ارتفاع الشمس** (كذا في اللمعات ۳٤٤) دې تفصیلي حدیث نه پس دا ویلي شي چې زیر بحث حدیث کې کوم الفاظ دي یعني اقام الصلاة دا مجمل دی تفصل د نظر نه ، نه شو غورځولی .

مسئله : که یو کس د سحر مونځ قضاء کړو نو د فرض مونځ سره سنت به هم کوي که چیرته د زوال نه مخکې قضاء کوي او که د زوال نه پس یې وکړو نو بیا د سحر سنت به نه کوي ، که د یو کس نه د سحر سنت پاتې شو او فرض یې وکړل نو اوس د لمر راختو نه پس یې نه شي کولی خو که د ثواب د حصول د پاره هغه دوه رکعته نفل وکړي دا مسئله به وروستو په تفصیل سره راځي .

﴿٦﴾ وَ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : إِذَا أُقِيمَتِ

د حضرت ابو قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام وفرمایل : چې کله تکبیر وویل شي

Maktaba Tul Ishaat.com

الصَّلَاةُ فَلَا تَقُوْمُوْا حَتّٰى تَرَوْنِيْ قَدْ خَرَجْتُ". (متفق عليه) (۱)

د مونځ د پاره نو تر څو پورې چې زه د حجرې نه نه يم راوتی تاسو مه اودريږئ.

جمعه کې د شاملیدو د پاره منډه مه وهئ:

﴿۷﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايلي: چې کله اودريږي مونځ نو تاسو

فَلَا تَأْتُوهَا تَسْعَوْنَ وَ ائْتُوهَا تَمْشُونَ وَ عَلَيْكُمُ السَّكِينَةُ فَمَا أَدْرَكْتُمْ فَصَلُّوا

په منډه مه راځئ بلکې ښه په مزه او په خپل چلن سره راځئ نو چې څومره مونځ تاسو ونيوه هغه وکړئ،

وَمَا فَاتَكُمْ فَأَتِمُّوا». (متفق عليه) (۲)

او کوم چې فوت شي هغه پوره کړئ.

وَ فِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: « فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا كَانَ يَعْمِدُ إِلَى الصَّلَاةِ فَهُوَ فِيْ صَلَاةٍ».

د مسلم په يو روايت کې ذکر دي: څوک چې د مونځ اراده وکړي نو هغه (حکماً) په مونځ کې شمارل کيږي

توضيح: **فلا تأتوها تسعون**، يعني ښه په سکون او وقار باندې مونځ له راتلل کوئ په تيزۍ سره په منډه مونځ له مه راځئ، که تاسو ته د ثواب فکر وي هغه به تاسو ته ملاويږي او که تاسو ته څه بل سوچ لاحق وي هغه پريږدئ. (المرقات ۲/۳۷۹).

سوال: دلته سرسري سوال دی: په قرآن کې ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ﴾ (بقرة آيت: ۱۴۷) او ﴿سَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ﴾ (آل عمران آيت: ۱۳۳) نه معلوميږي، د نيکو طرف ته منډه وهل مطلوب او مقصود دي بيا په دې حديث کې نيکۍ طرف ته منډه وهلو باندې ولې منع راغلې؟ **جواب:** د قرآني آيتونو مطلب دادی چې په وخت باندې د نيکو تياري کوئ او په ښې طريقې سره يې حاصل کړئ د دې آيتونو مطلب دا نه دی چې په وخت کې کوتاهي وکړئ او بيا په آخره کې نيکۍ طرف ته منډه وهئ (كذا في اللمعات)
اصل حقيقت دادی چې څوک چې مونځ کې د شاملیدو د پاره منډه وهي هغه کس اکثر خلک د ثواب په

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۱۱۹،رقم الحديث : ۶۳۷، ومسلم في الصحيح ۱/۲۲ رقم الحديث:۱۵۶-۶۰۴، وأبو داود ۱/۳۶۸ رقم الحديث :۵۳۹، والنسائي ۲/۸۱، رقم الحديث: ۷۹۰ ، والترمذي ۲/۳۹۵ رقم الحديث : ۵۱۷ .

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۹۰،رقم الحديث :۹۰۸، ومسلم في الصحيح ۱/۴۲۰ رقم الحديث:۱۵۱-۶۰۲، وأبو داود ۱/۳۸۴ رقم الحديث :۵۷۲، والنسائي ۲/۱۱۴، رقم الحديث: ۸۶۱ ، والترمذي ۲/۱۴۸ رقم الحديث : ۳۲۷ ، أخرجه أحمد في المسند ۵/۲۹۶.

نيت باندې نه وي بلکې بيا ورته ځان ته مونځ کول يو لوي غرا و زحمت ښکاري يا د دې د پاره منډه وهي چې رکعت تللو نه پس خلک ما ته ګوري چې وګوره ده نه رکعت تللې دی صرف په دې نيت باندې منډې وهي که د ثواب نيت وي نو بيا په وخت باندې د کور نه ولې نه راوتو چې په سکون سره مونځ کې شامل شوی وی او اوس هم چې دا رائي نو د دې حديث مطابق ده ته ثواب ملاويږي او دا په مونځ کې شمارل کيږي بيا د منډې وهلو مطلب څه دی او خدای مه کړه که دا کس په فرش باندې راپريوځي نو بيا به څه وي او يا دا چې د سپين ګيرې سره يا د غټ وجود او بدن سره دا خوند نه کوي څومره بد لګي اسلام مونږ ته د عبادت کولو وقار ښائي چې د خندا ذريعه جوړه نه شي که څوک د تکبير اولی يا د جمعې ثواب حاصلولو د پاره تيز تيز قدم کيدې بيله خبره ده ددې ګنجائش شته ، په دې کې هم دا سې منډه نشته .

فهو في صلوة : صلوة کې تنوين د تنکير د پاره دی يعنې دا کس يو قسم په مونځ کې دی او هغه حکمي مونځ دی او هغه ته د مونځ ثواب ملاويږي ځکه چې داد ثواب په نيت سره ځي اګر چې حقيقي مونځ کې شامل نه وي .

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِيْ

الْفَصْل الثَّالِث:

چرته چې شيطاني اثرات وي هغه ځای نه تختيدل په کار دي :

﴿۸﴾ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ أَنَّهُ قَالَ : عَرَّسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لَيْلَةً

د زيد بن اسلم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام او درېدو د شپې په آخره حصه کې د

بِطَرِيقِ مَكَّةَ وَ وَكَّلَ بِلَالًا أَنْ يُوقِظَهُمْ لِلصَّلَاةِ فَرَقَدَ

مکې په لاره کې او حکم يې وکړو بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته چې د مونځ د پاره تول راپاڅوي چې کله تول اوده شول

بِلَالٌ وَ رَقَدُوا حَتَّى اسْتَيْقَظُوا وَقَدْ طَلَعَتْ عَلَيْهِمُ الشَّمْسُ فَاسْتَيْقَظَ الْقَوْمُ وَ قَدْ فَزِعُوْا

د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ستر کې هم پټې شوې تول د لمر راختو وخت کې راپاڅيدل خلک ويريدل (د مونځ

فَأَمَرَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَرْكَبُوا حَتَّى يَخْرُجُوا مِنْ ذَلِكَ الْوَادِي وَ قَالَ:

په قضا کيدو باندې) نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې سورلو باندې کينئ او د دې ځنګل نه وځئ اووي فرمايل

«إِنَّ هٰذَا وَادٍ بِهِ شَيْطَانٌ ». فَرَكِبُوا حَتَّى خَرَجُوا مِنْ ذَلِكَ الْوَادِي

دا داسې ځنګل دی چې په دې شيطان مسلط دی تول په سورلو باندې د ځنګل نه ووتل يو ځای ته ورسيدل

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ أَمَرَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَنْزِلُوا وَأَنْ يَتَوَضَّئُوا وَأَمَرَ بِلَالًا أَنْ يُنَادِيَ لِلصَّلَاةِ أَوْ يُقِيمَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام دا ودس حکم وکړو حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې د آذان او تکبير کولو حکم وکړو بيايې دخلکو

فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَيْهِمْ وَقَدْ رَأَى مِنْ فَزَعِهِمْ

سره د سحر قضاء مونځ ادا کړو چې کله د مونځ نه فارغ شو خلک يې د خفګان په صورت کې وليدل نو وې

فَقَالَ: «يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّ اللهَ قَبَضَ أَرْوَاحَنَا وَلَوْ شَاءَ

فرمايل: اى خلکو! الله تعالى د اوده کيدو په وخت کې روحونه اخيستې وو که الله تعالى غوښتل نو د

لَرَدَّهَا إِلَيْنَا فِي حِينٍ غَيْرِ هٰذَا فَإِذَا رَقَدَ أَحَدُكُمْ عَنِ الصَّلَاةِ أَوْ نَسِيَهَا

لمر راختو نه مخکې به يې واپس کړى وى که په تاسو کې څوک د مونځ نه غافله شي او مونځ کول يې هير

ثُمَّ فَزِعَ إِلَيْهَا فَلْيُصَلِّهَا كَمَا كَانَ يُصَلِّيهَا فِي وَقْتِهَا» ثُمَّ

شي هغه ته په کار دي چې په هغه طريقې سره مونځ وکړي لکه څنګه چې يې په خپل وخت کې کوي بيا

الْتَفَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ فَقَالَ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ أَتَى بِلَالًا وَ

ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ طرف ته متوجه شو او وې فرمايل: چې شيطان راغى حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته او

هُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فَأَضْجَعَهُ ثُمَّ لَمْ يَزَلْ يُهَدِّئُهُ

دا په مونځ باندې ولاړ ؤ او شيطان هم دده سره ؤ او دا يې کجاوې ته په ډډه وهلو مجبوره کړو او تالى

كَمَا يُهَدَّأُ الصَّبِيُّ حَتَّى نَامَ» ثُمَّ دَعَا

ورکول کيدې لکه څنګه چې ماشومانو ته تالئ ورکول کيږي تردې چې خوب پرې غلبه وکړه بيا راوبللو

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَالًا فَأَخْبَرَ بِلَالٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ الَّذِي أَخْبَرَ

نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نو بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته هغه خبرې وکړي کومې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. أَبَا بَكْرٍ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ:

ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته کړې وې حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان واوريد واووې ويل

أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللهِ. رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا (۱)

چې زه ګواهي ورکوم چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د الله تعالى رسول دى (دا روايت امام مالک مرسلاً نقل کړې)

---

(۱) أخرجه مالک مرسلا في الموطأ ۱/۱٤، رقم الحديث: ۲٦، كتاب وقوت الصلاة.

توضيح : بطريقة مكة : داسې معلوميږي چې دا واقعه بله ده او حديث نمبر ۵ کې چې کومه واقعه تيره شوې ده هغه بله ده دلته **بطريقة مكة** لفظ دی او هلته د خيبر ذکر دی چې په لاره د مدينه کې واقع ده . (المرقات ۲/۳۸۲).

شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ لمعات کې ليکي : کيدی شي واقعې دوه وي يا راوي ته وهم شوی وي او **طريقة مكة** لفظ يې وويله، **ان ينادى للصلاة او يقيم** دلته أو لفظ د شک د پاره دی راوي ته شک شو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام **ينادي** لفظ ويلی دی او که **ديقسم** لفظ يعنې آذان کولو حکم يې ورکړو يا د اقامت کولو حکم يې ورکړو ، بعضې شارحين ليکي أو شک د پاره نه دی بلکې دواؤ په معنی دی ددې نه مراد معنی د جمع ده يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي چې آذان او اقامت دواړه يو ځای وکړي (اشعة اللمعات ۳۴۵) . ددې نه د احنافو د مسلک تائيد کيږي.

وقد رأى من فزعهم: صحابه کرامو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ په دې خبره باندې ډير زيات خفګان وکړو چې د دوی مونځونه ولې قضا شو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام د دوي خفګان لرې کولو د پاره دوی ته تسلي ورکړه چې دا الله تعالی د طرف نه تکويني فيصله وه الله تعالی وکړه که الله تعالی نه غوښتلی نو داسې به يې نه کولی تاسو خفه کيږئ مه تاسو ته د مونځونو په قضاء کيدو باندې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نمونه او طريقه وښودله ، يا نبي عَلَيْهِ السَّلَام حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته ټوله قصه بيان کړه چې شيطان د حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره څه وکړه . **يُهَدِّؤُهُ** : دلته د الفظ د باب **افعال** نه دی مور چې کلمه ماشوم ته غيږه کې ټالئ ورکوي دې ته اهداء ويلي کيږي داد سکون په معنی کې دی د اصيغه د **فتح يفتح** نه هم راځي چې د سکون او د ودريدو په معنی کې دی. **اشهد انک رسول الله** ، (کله چې نبی عَلَيْهِ السَّلَام بلال ته د شيطان د کاروائی خبره واوروله او بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د هغې تصديق وکړو نو دا د نبوت معجزه شوه) ، د نبوت د اثبات د پاره په دې باندې ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کواهي ورکړه چې تاسو د الله تعالی حق پيغمبر يې، دې واقعې ته **ليلة التعريس** ويلي کيږي.

د مؤذن په ذمه دوه امانتونه دي :

﴿۹﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " خَصْلَتَانِ
د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام فرمايلي دي : دوه خصلتونه دي

Maktaba Tul Ishaat.com

مُعَلَّقَتَانِ فِيْ أَعْنَاقِ الْمُؤَذِّنِيْنَ لِلْمُسْلِمِيْنَ : صِيَامُهُمْ وَ صَلَاتُهُمْ ". (۱)

چې زورند دي په غاړو د مؤذنينو کې يو د هغوی روژې ، او دويم د هغوی مونځونه.

توضيح : خصلتان معلقتان ، د مسلمانانو دوه امانتونه او بنيادي ذمه داری د مؤذن په څټ (ګردن) سره نختې وي او مؤذن د هغې د حفاظت ذمه دار دی ، دې کې د ټولو نه ډومبې څيز روژه ده ځکه چې مسلمانان د پيشمني په وخت کې د مؤذن په آذان باندې اعتماد کوي ، د هغه آذان سره روژه بندوي او دغسې ورسره روژه ماتوي ، دويم څيز مونځ دی د مونځ د وخت راتللو پته په آذان سره لګي که موذن خپل آذان کې مخکيوالی او وروستووالی کوي او بې وخته آذان کوي ، د عامو مسلمانانو سره وخت کې خيانت دی ځکه مؤذن ته په کار دي چې د آذان په وختونو کې احتياط کوي .(المرقات ۲/۳۸۴، اشعة اللمعات ۲۴۶).

پاکستان ، هندوستان ، افغانستان او بنګله ديش کې د مونځ د تعيين د پاره آذان کولی شي ، د وخت د تعيين د پاره نه، حالانکه آذان د وخت د تعيين د پاره مشروع دی په دې خبره باندې افسوس دی. علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ دې حديث کې د ترکيب حوالې سره ليکلي دي چې **خصلتان** موصوف دی او **معلقتان** د دې صفت دی دواړه مبتداء شود **للمسلمين** د پاره چې خبر دی او **صيامهم وصلوتهم** د **خصلتان** د پاره بيان دی . (الکاشف ۲/۲۴۱).

شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې ليکي : متبادر دا دی چې **خصلتان** مبتداء دی او **معلقتان** يې خبر دی دا اعتراض چې مبتدا نکره څنګه واقع کيږي نو ما څو ځله ليکلي دي اصل دار و مدار په فائدې باندې دی که ده مبتدا نه فائده او استفاده وي نو نکره واقع کيدو کې هيڅ حرج نشته دی (لمعات)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۲۳۶ ، رقم الحديث : ۷۱۲.

بَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ:

د جومات او د مونځ د مقاماتو بیان:

قال الله تعالى: ﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ﴾ (سورة التوبة آيت: ۱۸).

وقال الله تعالى: ﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللهِ أَحَدًا﴾ (سورة جن آيت: ۱۸).

و قال الله تعالى: ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا﴾ (سورة آل عمران آيت: ۹۶).

مساجد جمع د مسجد ده، مسجد د جیم په کسرې سره ویل خلاف القیاس دی د قیاس مطابق په جیم باندې زور ویل په کار دي اګر چې سنت کې نه دي راغلې بهر حال چې کوم ځای د مونځ په غرض جوړ شي او خلکو ته په هغې کې د مونځ کولو اجازت ورکړی شي هغه جومات وي اوس دا وقف ګرځي او د قیامت پورې به دا جومات وي نه دا خرڅولی شي نه په دویم ځای سره بدلولی شي، د آسمان طرف نه واخله د ځمکې تر ویخ پورې د جومات ځای وي د دنیا په تاریخ کې اولنی جومات بیت الله او مسجد حرام د عبادت د پاره مقرر شوی وو او بیا څلویښت کاله پس بیت المقدس هم د عبادت د پاره مقرر شو، اسلامي دنیا کې د هجرت نه پس د ټولو نه مخکې د مسجد قباء بنیاد ایښودی شوی دی د فضیلت په اعتبار سره افضل مسجد الحرام دی، بیا مسجد نبوي ﷺ دی بیا بیت المقدس دی او څلورم نمبر باندې مسجد قباء دی.

مواضع الصلاة: یعنې د مونځ مقاماتو نه هغه ځایونه مراد دي چې په هغې کې مونځ کول مکروه یا غیر مکروه وي د دې تفصیل په راتلونکي حدیث کې راځي، دې لفظ کې د مونځ کولو هغه ځایونو طرف ته اشاره ده چې هغه جومات نه دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

په کعبه کې د ننه د مونځ کولو حکم:

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: لَمَّا دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبَيْتَ دَعَا فِي

دابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې کله داخل شو نبي علیه الصلاة والسلام بیت الله ته او دعاء یې وکړه په

﴿نَوَاحِيهِ كُلِّهَا وَلَمْ يُصَلِّ حَتَّى خَرَجَ مِنْهُ فَلَمَّا خَرَجَ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي قُبُلِ

ټولو طرفونو کې او په غیر د مونځ کولو نه بهر راوو توهر کله چې راووتو نو دوه رکعته مونځ یې وکړ مخامخ

Maktaba Tul Ishaat.com

الْكَعْبَةِ وَ قَالَ: « هٰذِهِ الْقِبْلَة ». (۱)

كعبې ته او وې فرمايل: دا قبله ده، مسلم دا روايت د ابن عباس نه او هغه د اسامه بن زيد نه روايت كړې.

توضيح: هذه القبلة. پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ چې كله د مكې د فتح كيدو په موقع باندې كعبې ته دننه تشريف وروړو نو د كعبې دروازې ته مخامخ يې دوه ركعته مونځ وكړو او ويې فرمايل: دا قبله ده، د ارشاد مطلب دادی چې اوس به د قيامت پورې بيت الله قبله وي دا به كله هم نه منسوخ كيږي، ددې دا مطلب نه دی چې د دروازې طرف ته قبله ده او باقي طرفونه قبله نه ده بلكه د بيت الله څلور واړه طرفونه قبله ده، د پاكستان قبله دغه طرف ته ده چې كوم طرف ته پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ارشاد وفرمايلو او هغه د بيت الله دروازه ده چې د مشرق طرف ته واقع ده. (المرقات ۲/۳۸۷، اشعة اللمعات ۳۴۶).

تعارض بين الحديثين: دې كې اختلاف دی چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ كعبه كې دننه نفل كړي دي او كه نه؟ حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت اسامه بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه دا معلوميږي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په كعبه كې دننه مونځ نه دی كړی خو حضرت عبد الله بن عمر او حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه معلوميږي چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په كعبه كې دننه مونځ كړی دی (لمعات)

دفع تعارض: شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت ته ترجيح وركړی شوې ده ځكه چې هغه مثبت ده او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت منفي دی او كله چې د مثبت او منفي په مينځ كې تعارض راشي نو ترجيح به مثبت ته وركوو ځكه چې اثبات كې اصل خبر سره څه علمي اضافه هم كيږي لكه څنګه چې په اصول فقه كې مذكور دي، دفع د تعارض د پاره دويم جواب دادی چې د حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په كتو كې خلل واقع شوی دی هغه په خپله دعا كې مشغول وو او لرې هم وو ځكه ده نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په مونځ نه دی ليدلی، حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نزدې ؤ او پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ يې هم ليدو، ځكه د هغه روايت راجح دی، دا جواب هم كيدی شي چې د كعبې داخليدل دوه ځلې شوې دي يو ځل يې نفل كړي دي او يو ځل يې نه دي كړي، ددې تعارض دريم جواب دادی چې حضرت اسامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د تصويرونو ورانولو د پاره اوبو پسې بهر ليږلی وو كيدی شي په دغه وخت كې يې نفل كړي وي، بهر حال هر يو خپله خپله مشاهده بيان كړه خو په هغې كې شك نشته چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په كعبه كې دننه مونځ كړی وي راتلونكي د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نمبر ۱۲ دې باندې واضح دلالت كوي. (اشعة اللمعات ۳۴۷).

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱/۵۰۱ رقم الحديث: ۳۹۸.

آيا كعبه كې دننه د فرض مونځ كولى شي ؟ دې باندې د ټولو فقهاو اتفاق دى چې په بيت الله كې دننه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نفل مونځ كړى دى او په غير د اختلاف نه جائز دى البته په دې مسئله كې اختلاف دى چې فرض مونځ كعبه كې دننه كول جائز دي او كه نه دي ؟ اكثر فقهاء فرض مونځ كعبه كې دننه كول جائز ګڼري خو امام مالک او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ كعبه كې دننه فرض مونځ جائز نه ګڼري ، كيدى شي مالكيه او حنابله د قرآن د دې آيت نه استدلال كوي ﴿فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ﴾ (البقرة آيت:۱۴۴) طريقه ده استدلال داسې ده چې د الله تعالى حكم دى بيت الله طرف ته مخ كړئ او څوک چې بيت الله كې دننه مونځ كوي هغه د بيت الله يوې حصې ته متوجه دى او يوې حصې طرف ته يې شاه ده ځكه فرض جائز نه دي او نوافلو كې وسعت او نرمي ده ځكه هغه جائز دي احناف ، شوافع ، مالكيه او جمهور د دې آيت نه استدلال كوي ﴿أَن طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْعَاكِفِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ﴾ (البقرة آيت:۱۲۵) دلته دننه د مونځ كولو مطلق ذكر دى بيت الله كې برابره خبره ده كه فرض وي او كه نفل وي څه فرق نشته دى دغه رنګ استقبال كولو كې استيعاب هم نشته دى لهذا د بعضې حصې استقبال كافي دى .

د كعبې ستنې څومره دي ؟

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْكَعْبَةَ وَأُسَامَةُ بْنُ
د حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى ، وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَام داخل شو كعبې ته او اسامه بن
زَيْدٍ وَعُثْمَانُ بْنُ طَلْحَةَ الْحَجَبِيُّ وَبِلَالُ بْنُ رَبَاحٍ فَأَغْلَقَهَا عَلَيْهِ
زيد او عثمان بن طلحة الحجبي او بلال بن رباح رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ورسره وو نو دروازه يې بنده كړه نبي عَلَيْهِ السَّلَام
وَمَكَثَ فِيهَا فَسَأَلْتُ بِلَالًا حِينَ خَرَجَ
لږ ساعت دننه وو ، حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې : كله حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بهر راووتو چې
مَاذَا صَنَعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : جَعَلَ عَمُودًا عَنْ يَسَارِهِ
نبي عَلَيْهِ السَّلَام دننه څه كول بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل : نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونځ كولو چې يو ستن د نبي عَلَيْهِ السَّلَام كس طرف
وَعَمُودَيْنِ عَنْ يَمِينِهِ وَثَلَاثَةَ أَعْمِدَةٍ وَرَاءَهُ وَكَانَ الْبَيْتُ يَوْمَئِذٍ عَلَى سِتَّةِ أَعْمِدَةٍ ثُمَّ صَلَّى (متفق عليه)[1]
ته وه او دوه خې طرف ته او دري شاته وې هغه وخت خانه كعبه كې شپږ ستنې وې (او اوس دري دي) .

توضيح :عثمان بن طلحة الحجبي: دا د حاجب طرف ته منسوب دى څوكيدار او چابى او چتوونكي په

---

(۱) أخرجه مسلم في ۹۶۸/۲ رقم الحديث :۳۹۵-۱۳۳۰ وأخرجه النسائي ۲۲۰/۵ رقم الحديث :۲۹۱۷، وأحمد في المسند ۲۰۱/۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

معنی دی دبیت الله چاییاني دې کس سره وي .(المرقات ۲/۳۸۸)

دصلح حدیبیه په دویم کال نبي عَلَيْهِ السَّلَام عمرة القضاء دپاره راغلی ؤ او دعثمان بن طلحة نه يې چاييانې وغوښتې نو هغه انکار وکړو ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل : عثمانه ! واوره يو وخت به داسې راشي چې دا چاييانې به ما سره وي او زه چې يې چاته ورکول وغواړم نو ورکوم به يې ، هغه وویل : چې په دغه ورځ به د قریشو بده ورځ وي او قریش به ذلیل وي .

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل : چې په دغه ورځ به قریش په فخر سره وي کله چې مکه فتح شوه نبي عَلَيْهِ السَّلَام حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ولیږلو چې لاړ شه د حضرت عثمان بن طلحة نه چاييانې واخله. عثمان پټ شوې وو چاييانې يې نه وزکولې تر دې چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دهمکي ورکړه او چاييانې يې پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام ته ورکړې او پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام دروازه خلاصه کړه او بیت الله يې ووینځلو او دننه يې تشریف یوړو ، په دې وخت کې عثمان بن طلحة موجود ؤ .

بیا د حضرت علي او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړو خیال دا ؤ چې چاييانې ده ته ورکړل شي د قرآن آیت نازل شو : ﴿إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ (النساء آیت: ۵۸) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عثمان بن طلحة ته وفرمایل : چې د الله تعالی په حکم باندې چاييانې تا ته حواله کوم : خذها خالدة تالدة .یعنې همیشه به تاسو سره وي ، څوک ظالم بادشاه به يې د تاسو نه اخلي که نه نو څوک به يې هم درنه نه شي اخستی .

عثمان بن طلحة مسلمان شو بیا دده وارث نه موندلو د وجې نه دده ورورته يې چاييانې ورکړی شوې هغه خپل ورور شیبه ته ورکړي نن ورځ پورې د بنو شیبه سره دي . د بیت الله دروازې نه کافي دننه لاړ او مخامخ دیوال ته یو څو ګزو په فاصله باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کړی دی .

د بخاري په روایت کې دا الفاظ دي : چې دریې ستنې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاته وي او یوه ستن يې چپ طرف ته وه او دوه ستنې يې نبي طرف ته وې ، په دغه وخت کې بیت الله شپږ ستنو باندې ولاړ وو او د بیت الله چت نن هم د لرګو نه جوړ دی، شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې لیکي: نن صبا دا ستنې صرف دریې پاتې شوې دي (اشعة اللمعات ۳۴۷).

مسجد حرام کې یو مونځ په یو لاکھ دی :

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي

دابوهریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمایي : مونځ کول زما په دې جومات (مسجد

هٰذَا خَيْرٌ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَام » . (متفق عليه). (۱)

نبوي)كې بهتر دي د موخ كولو نه په نورو جوماتونو كې دزرو مونځونو كولونه په غير د مسجد حرام نه.

توضيح: خير من الف صلاة: د ثواب د زياتيدو په اعتبار سره مسجد حرام د ټولو نه افضل دی، دې كې يو مونځ په يو لاک دی، خو زياتوالی او دوچنده كيدل د ثواب په اعتبار سره دي، د مونځونو په اعتبار سره نه دي، يعنې تضعيف في الثواب دی تضعيف في الاجزاء نه دی، ځنګه چې عوامو كې مشهور دي كه چا يو مونځ وكړو، نو دې كس ته يو لاک مونځونه ملاؤ شو. دغه رنګ د ټولو قضاء مونځونو كفاره شوه دا غلطه خبره ده. بلكې دلته صرف د ثواب دوچنده ملاؤيدو خبره ده مونځ يو شمار كېږي، ځكه چې يو مونځ يې كړی دی. مسجد نبوي كې يو مونځ په يو هزار مونځونو برابر دی. (المرقات ۲/۳۹۲)

او مسجد اقصى كې يو مونځ په پنځوس زره مونځونو برابر دی، ابن ماجه كې بعضې روايات تو كې راغلي دي، چې مسجد نبوي كې يو مونځ د پنځوس زرو مونځونو برابر دی. (مشكوة ص ۷۲) خو دا روايت كمزوری دی، بعضې روايات تو كې دي، چې يو مونځ د لس زرو مونځونو سره برابر دی. ملا علي قاري وايي دا زياتوالی داسې دی، چې يوه نيكي د دې امت د لسو نيكيو برابر وي، لهذا هزار مونځونه لس زره مونځونه شمار كېږي، شوافع حضرات فرمايي د ثواب دوچنده كيدو دا حكم د فرض مونځونو سره خاص دی، په سنتو او نوافلو كې دا اضافت نه دی، (المرقات ۲/۳۹۲) ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ مرقات كې ليكي دا دو چنده كيدل او ثواب په ټولو نيكيو كې دی، مونځ سره خاص نه دی، دارنګه علماوو دا فيصله راجح ګرځولې ده چې، دا دوه چنده كيدل او ثواب د حرم د ځمكې د پاره عام دی صرف مسجد حرام سره خاص نه دی. دې حديث كې او مشكوة (ص ۷۲) باندې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت كوم چې توضيحات حديث نمبر (۵۹) دی، دواړو كې په ظاهره تعارض دی، ځكه چې دلته د مسجد نبوي فضيلت يو مونځ د زرو مونځونو برابر ښودلی دی، حالانكې هلته پنځوس زره ذكر دي؟

جواب: شروع د وحې كې د زرو فضيلت وو، بيا پنځوس زره پورې فضيلت زيات شو. دويم جواب په اعدادو كې تعارض نشته دی، ځكه چې عدد اقل د عدد اكثر په ضمن كې دی، د دې مخالف نه وي، بعضو د پنځوسو زرو والا روايت كمزوری ګرځولی دی.

فائده جليله: دې حديث كې يو لفظ **مسجدهذا** ذكر دی، دې نه په ظاهره معلوميږي، مسجد نبوي چې كله د پيغمبر په زمانه كې وو، نيكيو او د مونځونو فضيلت دې جومات سره خاص وو، دې نه پس چې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۵۷۸،رقم الحديث : ۵۰۵، ومسلم في الصحيح ۲/۹۶۶ رقم الحديث:۳۸۸-۱۳۲۹، وأبو داود ۲/۵۲۴ رقم الحديث :۲۰۲۳، والنسائي ۲/۶۳، رقم الحديث: ۷۴۹. أخرجه أحمد في المسند ۲/۱۱۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

جومات کې زیاتوالی راغی، نو دا فضیلت د هغه حصو د پاره نه دی. علامه نووي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي ددې فضیلت حصول د پاره دا مناسب دي چې یو کس دې په هغه حصو د مسجد نبوي کې مونځ وکړي چې کوم د حضور عَلَيْهِ السَّلَام په زمانه کې موجود وو. (المرقات ۲/۳۹۲)

د علامه تاج الدین سبکي رَحِمَهُ اللَّهُ هم دا رایه ده، (المرقات ۲/۳۹۲) خو ابن تیمیه رَحِمَهُ اللَّهُ او علامه محب طبري رَحِمَهُ اللَّهُ خپل اوږد کلام کې ویلي، چې دوچنده ثواب دا فضیلت د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام دزماني جومات سره خاص نه دی بلکې دهغې نه علاوه حصوته هم شامل دی کوم چې د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام د زماني نه پس په کې زیاتوالی شوی دی. (المرقات ۲/۳۹۲)

امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ نه تپوس وشونووې ویل دا خاص والی نه دی که چرته د ثواب د حصول خاص والی د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام د زماني جومات سره خاص وی نو خلفاء راشدینو به په جومات کې زیاتوالی نه کولی او نه به خلکو قبلولی، تاریخ مدینه کتاب کې لیکلی چې حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د مسجد نبوي د پراخوالي نه فارغ شو او وې ویل که مسجد نبوي ذوا[illegible]پورې غټ شي نو ټول به په مسجد نبوي کې شمارکېږي او دنبي عَلَيْهِ السَّلَام جومات به ورته ویل کېږي. سماویو جماعت دې طرف ته تللي چې څنګه په مکه مکرمه کې یوه نیکي د کیفیت په اعتبار سره یو لک پورې رسیږي نو دغه شان یوه ګناه دیو لاک پورې ډیریږي. دا قول د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ دی او دا قول د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هم دی او دا قول د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د مجاهد هم دی، حالانکې د ثواب دا دوچنده کیدل د راجح قول مطابق د پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام د زماني سره خاص نه وو، بلکې د ټولو زمانو د پاره دی.

بیا علماو کې دا خبره چلیده، چې مکه مکرمه افضل ده که مدینه منوره، د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې مدینه منوره افضل ده، خو جمهور په دې باندې متفق دي چې مکه مکرمه د حرم ځمکه د مدینې منورې نه افضل ده دواړو کې فرق دی کوم فرق چې په حج او عمره کې دی بیت الله مثال د حج دی اودمسجد نبوي مثال د عمرې دی.

بهرحال مکه مکرمه افضل ده په دې باندې څو نصوص دال دي البته مدینه منوره کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام جسم مبارک چې د کومې حصې سره لږیدلی هغه د کعبې نه افضل ده، دا قول د قاضي عیاض رَحِمَهُ اللَّهُ هم دی، بلکې د ابن عقیل حنبلي رَحِمَهُ اللَّهُ نه منقول دی، (المرقات ۳۹۶-۲/۳۹۷)

د پیغمبر د بدن مبارک کومه حصه چې قبر سره لږیدلې وي هغه د عرش نه ډیره افضله ده.

دا ټول تفصیل ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ مرقات کې د دې حدیث د لاندې بیان کړی هلته کتلی شئ. (المرقات ۳۹۶-۲/۳۹۷)

دري جوماتونو نه علاوه بل جومات ته سفر کول منع دي

﴿٤﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ
د حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي: مه تړئ کيجاوه (يعني
إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ: مَسْجِدِ الْحَرَامِ وَ الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى وَ مَسْجِدِي هٰذَا". (متفق عليه)[1]
سفر مه کوئ) مګر دري جوماتونو ته مسجد حرام، مسجد اقصى اوزما مسجد (يعني مسجد نبوي).

توضيح: لا تشد الرحال: شد يشد نصر ينصر نه د تړلو په معنى ده او الرحال نه کيجاوه مراد ده، دا ټوله جمله د سفر نه کناية ده او د نفي صيغه د نهي په معنى کې ده. مطلب دا شو، چې د دريو جوماتونو نه علاوه نورو جوماتونو ته سفر مه کوئ. (المرقات ۲/۳۹۷).

ددې حديث د پوهيدو د پاره دا خبره ضروري ده، چې دلته مستثنى مفرغه ده او ددې د پاره مستثنى منه مخذوف راويستل ضروري دي، اوس د مستثنى منه مخذوف راويستلو او تعين کې د علماو اختلاف دی، يو طرف ته جمهور امت دی او دويم طرف ته حافظ ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ دی، ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ دلته مستثنى منه عامه ګڼي او وايي: دلته **مکان** يا **موضع** الفاظ راويستلی شي، عبارت داسې دی: **لا تشد الرحال الى موضع الا الى ثلاثة مساجد**، يعني دريو جوماتونو نه علاوه نورو جوماتونو ته سفر جائز نه دی، دې عموم امکنه کې ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ د جوماتونو نه علاوه د مقدس مقاماتو او ټولو مزارونو ته تلل ناجائز ګرځولي دي تردې پورې چې ددې عموم د وجې نه د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روضې مبارکې ته خاص په دغه غرض سفر کولو ته هم ناجائز ويلي دي. د هغه مقصد د روضې مبارکې نه منع کول نه دي، بلکې نيت د مسجد نبوي کول په خپله په کې روضه مبارکه راځي د هغې زيارت به وشي، دې صورت کې زيارت کول مستحب دي. ددې مسئلې د وجې نه تاسو ډير لوي تکاليف او مصيبتونو کې ګير شوی او ستاسو شاګرد ابن قيم رَحِمَهُ اللهُ هم ددې شکار شو. ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ جيل کې ګرفتار شو تردې چې جنازه يې هم د جيل نه ووتله، نن سبا د سعودي حکومت هم دا عقيده ده، خو بنکاره خلکو سره څه نه شي کولی. د جمهورو په نزد باندې دلته مستثنى منه عموم امکنه نه ده، بلکې عموم مساجد دي، تقديري عبارت داسې دی: **لا تشد الرحال الى مساجد الا الى ثلاثة مساجد**، يعني د دريو جوماتونو نه

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٣/٧٠، رقم الحديث: ١١٩٧، ومسلم في الصحيح ٢/٩٧٥ رقم الحديث: ٤١٥-٨٢٧، وأبو داود ٢/٥٢٩ رقم الحديث: ٢٠٣٢، والنسائي ٢/٣٧، رقم الحديث: ٧٠٠، والترمذي ٢/١٤٨ رقم الحديث: ٣٢٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

علاوه بل جومات ته خاص کرسفرمه کوئ، ځکه چې باقي ټول جوماتونه ثواب او فضيلت کې يو شان دي. خلاصه دا چې دې حديث کې ممانعت صرف جوماتونو نه راغلی دی د نورو سفر بحث نه دی، هغه سفرونه ددې حديث د مفهوم نه خارج دي، ځکه چې مستثنی، د مستثنی منه جنس نه وي، چې استثناء د مساجدو نه شوه، نو مستثنی منه به هم مساجد وي. شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ (اشعة اللمعات ۳۴۸) لمعات کې ليکي چې دې کې ډير توجيهات کيدې شي چې يو توجيه دا ده چې دې حديث کې ددې دريو جوماتونو شان او چتول مقصد دی، چې د فضيلت مرتبې او د عظمت په اعتبار سره د نورو جوماتونو په نسبت امتيازي درجه مراد وي، چې څوک مشقت او تکليف او چتول وغواړي، نو دې دريو جوماتونو ته د سفر اهتمام دی وکړي، ځکه چې ددې جوماتونو لوی شان دی. (لمعات ج ۳ ص ۴۲)

ددې توجيه مقصد او خلاصه دا شوه، چې دې کې صرف دې دريو مساجدو ته سفر کولو ترغيب دی نورو سفرونو بحث په کې نشته دی. حضرت شاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ په خپل کتاب **حجة الله البالغة** کې په دې تحقيقي کلام کړی دی فرمايي: زما خيال خو دا دی چې د جاهليت په زمانه کې بعضې ځايونه تبرک ګڼل کيده د هغې د عظمت د وجې به يې سفر کولو دغه سفر به يې باعث د برکت متصور کولو ظاهره ده چې داسی عقيده ساتل چې يو ځای د تبرک د پاره د هغې عظمت د وجې نه هغه ځای ته سفر کولو دا نه صرف ذهني او فکري بيماري ده، بلکې د فتنې او فساد ذريعه جوړيږي، ځکه په حديث مبارک کې داسې سفرونو څخه ممانعت راغلی دی، چې شعائرالله سره د غير شعائر الله التباس رانه شي او يو کس د غيرالله عبادت ونه کړي زما په نزد باندې صحيح خبره دا ده چې د مزارونو داولياء الله او د دغه حضراتو د عبادت ځايونو ته تردې چې کوه طور طرف ته سفر کول ټول په دې ممانعت کې برابر دي، خاص کر داسی ځايونو ته سفر کول جائز نه دي. (حجة الله البالغه)

د شاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ د تحقيق دا خلاصه راوتله، چې په حديث کې د مستثنی منه تعلق د اهل عربو وغيره هغه مقامات دي، چې هلته به د جاهليت ميلې لږيدلې، هلته به شرک او بدعات کيدل، عرسونه به کيدل او په خاص موسمونو کې به خاص خاص ځايونو طرف ته به د لرې لرې نه د قافلو په شکل کې سفرونه کول. بعضې حضراتو دا توجيه کړې ده، څنګه چې اشعة اللمعات کې بيان دی، ددې دريو مقاماتو او مساجدو نه علاوه بل ځای ته سفر د تقرب او د عبادت په نيت کول جائز نه دي، ددې نفې صرف د هغه سفر باره کې ده چې هغې کې تقرب او عبادت وي، دې نه علاوه سفرونه په خپل ځای باندې وجه د جواز لري، هو، د مزارونو د پاره لرې نه سفر کول مختلف فيه ده. بعضې علماء دا مباح ګڼي او بعضې ورته حرام وائي، حالانکې قاضي عياض مالکي، قاضي حسين او ابومحمد الجوزي رَحِمَهُمُ اللَّهُ مقامات متبرکه اوزيارتونود صالحينو د قبرونو طرف ته سفر کول حرام ګرځولي (كذا في مجمع البحار) حضرت شاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ په کلام کې عدم جواز دی او د احمد علی لاهوري رَحِمَهُ اللَّهُ په کلام کې هم

عدم جواز ذی، شاه انورشاه کشمیري رَحِمَهُ اللّٰهُ هم فرمایي د اولیاو قبرونو ته سفر کول جائز نه دي چې د اباحت او حرمت اختلاف راغلی دی، نو لا محاله حرمت ته به ترجیح وي، لکه څنګه چې مشهوره قاعده ده، حدیث کې مسجد اقصی لفظ راغلی دی، اقصی د بعید په معنی دی او دا مسجد د مکې او مدینې نه ډیر لرې دی، ځکه ورته اقصی ویلي شي، دا یو وجه د تسمیه شوه.

د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روضې زیارت د پاره سفر کول: دې مقام کې د دې حدیث د توضیح نه یو بله مسئله مخې ته راغله، هغه دا چې د پیغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روضه اطهر د پاره سفر کول څنګه دي په قصد او ارادې سره، د حدیث په عام نهي کې دا هم داخل دی که نه؟ نو د جمهورو مسلک دا دی د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روضې مبارکې ته سفر کول د اعلی قرباتو نه دی او د حدیث ممانعت تعلق خاص کر دې زیارت سره نه دی.

امام غزالي رَحِمَهُ اللّٰهُ دا اختیار کړی دی او فرمایي حدیث کې مستثنی منه صرف مساجد دي، ابن تیمیه رَحِمَهُ اللّٰهُ د حدیث ممانعت عام ګرځولی دی او دده په نزد باندې روضه اطهر ته په ارادې او مقصد سره سفر کول جائز نه دي، د دې مسئلې د وجې نه د امت علماء دده خلاف قلم اوچت کړو ډیر څه یې ورپسې ولیکل او په خپله د شام بادشاه دا په جیل کې بند کړو.

دلائل: شیخ الاسلام ابن تیمیه رَحِمَهُ اللّٰهُ د خپل موقف د پاره زیر بحث حدیث نه استدلال وکړو او مخکې یې څنګه لیکلي وو، چې مستثنی منه د عموم امکنو نه ګرځولې ده او عام امکنو کې روضه د رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم داخل ګڼي، هغه د روضه رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زیارت مستحب ګڼي، خو فرمایي د دې د پاره به مستقل سفر نه کوئ سفر به د مسجد نبوي په نیت سره کوئ.

د جمهورو اولنی دلیل هغه ټول احادیث دي چې هغې کې د پیغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه پس د قبر زیارت بیان دی، بلکې (**وعن ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مرفوعا من حج فزار قبري بعد موتي كان كمن زارني في حياتي**) (بیهقي، مشکوة ص ۲۴۱) وفاءالوفاء کې دا قسمه ډیر روایات دي.

دویم دلیل حضرت امام غزالي رَحِمَهُ اللّٰهُ دي حدیث نه استدلال کړی: **كنت نهيتكم عن زيارة القبور فزوروها فانها تزهد فى الدنيا و تذكر الاخرة**، (ابن ماجه، مشکوة ص ۱۵۴)

مشکوة شریف په دغه صفحه کې د مسلم روایت هم شته د هغې الفاظ دا دي: (**عن بريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نهيتكم عن زيارة القبور فزوروها**) (ص ۱۵٤).

دریم دلیل ابن حجر عسقلاني رَحِمَهُ اللّٰهُ فتح الباري شرح د بخاري د زیارت د روضه اطهر په باره کې فرمایي: (**فانها من افضل الاعمال واجل القربات الموصلة الى ذى الجلال و ان شرعيتها محل**

Maktaba Tul Ishaat.com

اجماع بلا نزاع) يعني زيارت د روضه رسول الله ﷺ د بهترين اعمالو نه ده او الله تعالى ته په رسيدو كې لويه نيكي ده، ددې په مشروعيت باندې اجماع ده نزاع نشته. (فتح الباري ج ۳ ص ٦٦، بحواله اشرف التوضيح)

دا خبره ارشاد الساري د بخاري شرحې هم ليكلې ده، كوكب الدري په حاشيه كې شيخ الحديث رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: **(قلت وكذا حكى الاجماع عليه النووى و ابن الهمام وغيرهما)** (الكوكب الدرى، ج۱، ص ۳۳۹ بحواله بالا)

شاه ولي الله رَحِمَهُ اللهُ المصفى شرح الموطا كې ليكلي دي: **(سنت است زيارت قبر شريف آنحضرت ﷺ بعد فراغ حج بالاتفاق اهل علم.)** (المصفى، ج۱، ص ۳۳۹ بحواله بالا)

دجمهورو ځلورم دليل مسند احمد كې دا شد الرحال والا حديث دى دې كې مستثنى منه مذكوره ده كوم چې خاص ده عام نه ده او هغه لفظ مسجد دى، الفاظ دا دي: **(لاينبغي للمطى ان يشد رحله الى مسجد تبتغى فيه الصلوة إلا المسجد الحرام والمسجد الأقصى و مسجدي هذا)** (رواه احمد في مسنده) **حدثنا هاشم قال حدثنا عبد الحميد قال حدثني شهر (بن حوشب) قال سمعت أبا سعيد الخدري ذكر عنده صلوة في الطور فقال قال رسول الله ﷺ لاينبغي للمطى ان يشد رحله إلى مسجد يبتغي فيه الصلوة غير المسجد الحرام والمسجد الأقصى و مسجدي هذا.)** (و اسناده حسن بحواله التعليق الفصيح، ص ۱۰۰ نقلا عن عمدة القاري، ج ۳، ص ٦٨٧)

جواب: د ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ د شان جلالت او د علم دبدبه په خپل ځاى د منلو ده، ددې حديث نه د زيارت د قبر النبى ﷺ عدم جواز استدلال كول ډيره لرې بلكې ابعد بلكې غير اصوب ده، كه دې حديث كې مستثنى منه عام مواضع او عام امكنه واخيستلى شي، نو بيا څنګه روضه رسول ﷺ ته سفر كول منع دي، دغه رنګ تجارت د پاره، د علم د طلب د پاره او جهاد د پاره سفر كول يا نور داسې سفرونه ټول ممنوع دي، ددې څوک هم قائل نه دي، په خپله پيغمبر ﷺ د والدينو قبرونو ته تلى دى او د احد د شهداء د پاره يې مسلسل حاضري كړې ده.

دويم جواب دا دى چې كله مسند احمد په حديث كې واضح طور باندې مستثنى منه مذكور او مخصوص ده او هغه لفظ (**مسجد**) دى، نو بيا زير بحث حديث كې د مستثنى منه عام اخستلو څه جواز پاتې شو، بهر حال د زيارت قبر النبى ﷺ نه د منع كولو كوم قول چې ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ كړى دى دا د هغه د تفرداتو نه يو تفرد دى او تفردات د علماو شته دى، خو د چا د تفرد سره د هغه ټول علم ناقابل

اعتماد نه کېږي. حضرت قاسم الخيرات قاسم نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د متعارف مرګ قائل نه وو، بلکې د يو قسم د مرګ قائل وو، خو دې تفرداتو سره ددې حضراتو علميت په خپل ځای باندې قائم دی. والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

رياض الجنة

﴿٥﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا بَيْنَ بَيْتِي وَ مِنْبَرِي

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي: زما د کور او منبر په مينځ کې

رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ وَمِنْبَرِيْ عَلَى حَوْضِي. (متفق عليه)(١)

د جنت د باغونو نه يو باغ دی، او زما منبر زما د حوض د بره دی.

توضيح: مابين بيتي: نبي عَلَيْهِ السَّلَام خپل هغه کور ته اشاره وکړه، چې عائشه بي بي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره خاص دی چې يو کس قبلې طرف ته اودريږي او وګوري نو منبر نه کس طرف ته د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حجره ده او په دغه ځای کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شوی او دغه ځای کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر مبارک دی، د دغې کور او منبر په مينځ کې سپينه قالينه خوره ده، دغه رياض الجنة دی، او په دغې باندې اسطوانه توبه، اسطوانه عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، اسطوانه الحرس وغيره يو څو مبارکې تاريخي ستنې موجود دي.

و منبري: عربو بادشاهانو، سردارانو او بزرګانو کې دا رواج وو، چې د هغوئ خطبو او اعلاناتو د پاره خاص منبرونه وو، (اشعة اللمعات ٢٤٨، المرقات ٢/٣٩٨) يو شاعر وايي:

وتحزبوا حزبا فكل قبيلة ❁ فيها امير المومنين و منبر

دويم شاعر وايي:

واذا اعرنا سيدا من قبيلة ❁ ذا منبر صلى علينا وسلما

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله مدينې طرف ته تشريف راوړو مسجد نبوي کې منبر نه ؤ، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام د يو کهجورې ونې ته ډډه ووهله او خطبه به يې ورکوله، دغې ته حنانه ستن وايي، جنګ بدر نه لږ مخکې دويم هجری کال کې نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته يو انصاری زنانه درخواست وکړو چې زما يو غلام د لرګو په کار بنه پوهيږي نو زه درته منبر تياروم، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغې زنانه ته اجازت ورکړو دغې انصاريه نوم

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٣/٧٠،رقم الحديث : ١١٩٦، ومسلم في الصحيح ٢/١٠١١ رقم الحديث:٥٠٢-١٣٩١، والترمذي ٥/٦٧٥ رقم الحديث :٣٩١٥ ، أخرجه أحمد في المسند ٢/٢٣٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

عائشه وه دغلام نوم يې باقوم رومي ؤ ،با قوم رومي دجهاؤ ونې نه منبر جوړ کړو چې ددې درې زينې وې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې باندې خطبه فرمايله، بيا د منبر په زينو کې زيات والی وشو غالباً دغه وخت د منبر اووه(۷) زينې وې، او يو اوچته مناره د بره چهت نيږدې پورې رسيده، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصل منبر څه حادثه کې سوزيدلی وو، اوس دغه منبر په دغه ځای باندې دی او د لرګي نه جوړ دی.

روضة: په اصل کې ګڼ او شين باغ ته ويلي شي. (اشعة اللمعات ۳۴۸)

سوال: مدينې منورې کې مسجد نبوي کې دننه د ځمکې خطې ته د جنت باغيچه په کوم اعتبار سره ويلي شي؟

جواب: شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې تفصيلي کلام کړی دی آيا دا کلام حقيقت باندې محمول دی يا مجاز باندې. بيا هغه مجاز رد کړو او وې فرمايل د محقيقينو علماوو په نزد باندې دا کلام په حقيقت محمول دی، ددې يو مطلب دا دی چې دا مقام به د قيامت په ورځ جنت ته منتقل شي، دا اګر چې د ځمکې تکړه ده، ليکن د ځمکې او آسمان تکړې تکړې کيدلو او د قيامت هولناکی کې به دا حصه محفوظ وي، بيا به جنت طرف ته منتقل شي، ځکه يې احاديثو کې د جنت يوه باغيچه ګرځولې ده، ابن جوزي او ابن فرحون وې يي د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ هم دا رايه ده، (اشعة اللمعات ۳۴۸، المرقات ۲/۳۹۸) ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ دا قول راجح ګرځولی دی، د اکثرو محدثينو هم دا رايه ده، ددې حديث دويم مطلب په مالکيو کې لوی فقهي ابو حمزه رَحِمَهُ اللهُ دا بيان کړی دی، ممکن دی چې د ځمکې دا تکړه بعينه د جنت تکړه وي او د هغه ځای نه لاندې راوړل شوې وي او مسجد نبوي په دغه مقام کې ايښودلی شوې وي، ځنګه چې حجر اسود او مقام ابراهيم دواړه کانې جنت نه راوړل شوي دي او د قيامت په ورځ باندې به خپل مقام ته ځي. (المرقات ۲/۳۹۸).

سوال: سوال دا دی که دا روضة الجنة د جنت حصه وي دې کې د جنت خصوصيت ولې نشته، مثلاً روښانه ولې نه ده چې لمر وغيره ددينه بې نوره شي او کوم کس چې دې کې کيني ده ته ولږه او تنده نه وي، ځنګه چې جنت کې نه وي؟ **جواب:** کله چې دا حصه دنيا ته راوړلی شوه دې نه د جنت خصوصيت جدا کړی شو يا دا خصوصيت په پرده کې کيښودلی شو.

علی الحوض :ددې آسان مطلب دا دی په ميدان حشر کې به زما منبر په حوض باندې وي، حوض نه مراد حوض کوثر دی. (المرقات ۲/۳۹۹)

د مسجد قباء فضيلت :

﴿٦﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي مَسْجِدَ قُبَاءَ كُلَّ سَبْتٍ مَاشِيًا

د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي : چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به راتللو مسجد قباء ته ، هره هفته پيدل

وَ رَاكِبًا فَيُصَلِّيْ فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ .(متفق عليه) .(۱)

او یاسورلی باندې او دوه رکعته نفل به یې په کې کول.

توضیح: مسجد قباء :حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله مکې مکرمې نه مدینې منورې ته هجرت وکړو د عمرو بن عوف محله کې کوز شو، هلته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دیارلس یا څوارلس ورځې قیام وکړو نو دغه قیام په دوران کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مسجد قباء بنیاد کیښود. په اسلام کې د فضیلت په اعتبار سره مسجد قباء څلورم نمبر باندې دی، د تعمیر په اعتبار سره د هجرت نه پس د اسلام اولنې مسجد دی، د مسجد نبوی نه تقریبا درې میله فاصله باندې دی. (المرقات ۲/۴۰۰).

علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ فرمایي صحیح حدیث کې دي، چې دغه مسجد کې د هفتې په ورځ باندې دوه رکعتو نفلو کولو باندې د عمرې ثواب ملاویږي، د پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معمول وو، د هفتې په ورځ باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه جومات ته تشریف وړلو او دوه رکعته مونځ به یې اداء کولو، او هم د امت خلک دغه سنتو باندې عمل کوي. پیدل تلل د سورلی نه افضل دي. (المرقات ۲/۴۰۰).

فیصلی فیه رکعتین: داهل ظواهرو په نزد باندې دوه رکعته تحیة المسجد واجب دي، د جمهورو علماو په نزد باندې دا نفل دي، د ثواب کور دی او د شوافعو په نزد باندې ناستې نه مخکې کول دي، پس د ناستې نه ثواب نشته، د احنافو په نزد باندې ثواب ملاویږي.

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَحَبُّ الْبِلَادِ

د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمایي :خوښ مقامات په بنارونو کې

إِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا وَ أَبْغَضُ الْبِلَادِ إِلَى اللهِ أَسْوَاقُهَا». (رَوَاهُ مُسلم)(۲)

الله تعالی ته مساجد دي، او بدترین او ناخوښ مقامات الله تعالی ته بازارونه دي.

توضیح: احب البلاد: بنکاره خبره ده کوم ځای کې چې د الله تعالی عبادت کېږي هغه ټول ځایونه الله تعالی ته محبوب دي او جوماتونو کې چې کوم بنیادي عبادت کېږي هغه د الله تعالی عبادت دی، مونځونه، تهجد، نوافل، سنت، تلاوت، ذکر الله، آذانونه، اقامتونه، اعتکاف وغیره ټول عبادتونه جومات کې کېږي، ځکه الله تعالی ته خوښ دي. (اشعة اللمعات ۳۴۹، المرقات ۲/۴۰۰).

---

(۱) أخرجه البخاري ۳/۶۹،رقم الحديث : ۱۱۹۳، ومسلم ۲/۱۰۱۶ رقم الحديث:۵۱۶-۱۳۹۹، وأبو داود ۲/۵۳۳ رقم الحديث :۲۰۴۰، والنسائي ۲/۳۷، رقم الحديث: ۶۹۸.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۴۶۴ رقم الحديث :۲۸۸-۶۷۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

او بازارونو کې د الله تعالی نافرماني کېږي جکړې، دروغ، خيانت، ګاني، دوکه، فراډ، شور شعب او بې حيائي کېږي، ځکه الله تعالی ته ناخوښ ځايونه دي. دې نه معلومه شوه، چې جنت ته د تلو لاره مساجد دي، ترڅو پورې چې مسلمانان مساجدو ته نه وي راغلي نو هغې پورې هغوئ د مارکيټ نه جنت ته نه شي تللی، ددغې جوماتونو داطرافو نه بې شماره خلک جنت ته تلي دي، لهذا کمزوري خلک او جومات کې ډير وسيدونکي خلک حقير مه ګڼئ او بازارونو کې ګرځيدو والا خلک معزز مه ګڼئ.

سوال: دلته يو سطحي سوال دا دی د بازارونو نه ډيرې د ګناه اډې، شراب خانې، جوار خانې، د فحاشۍ اډې، سينماګانې وغيره دي نو هغه د بازارونو نه ډيرې مبغوضې ولې نه دي؟ **جواب**: جواب دا دی بازارونه قائم ساتل او آبادول د شارع طرف نه حکم دی او دا اډې تيارول د شريعت طرف نه نه دي، د حدیث مطلب دا دی شارع چې د کومو څيزونو اجازت ورکړې هغه کې بدترين ځايونه بازارونه دي. دويم جواب دادی بره چې کوموادواودګناهونو ذکروشودامقامات دبازارونو حصه ده دبازارنه جدانه دي

د جومات د جوړيدلو فضيلت

﴿۸﴾ وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ بَنَى لِلّٰهِ
د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي: چاچې جوړ کړود الله تعالی دپاره
مَسْجِدًا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ». (متفق عليه)[1]
جومات نو الله تعالی به ده د پاره په جنت کې کور جوړ کړي.

توضيح: من بنى الله مسجدا: يعني د الله تعالی رضا د پاره او د اسلام اشاعت په نيت باندې جومات جوړول، دا نه چې ځان ښودنې د پاره وي، يا د دنيا اغراضو او مقاصدو د پاره يې جوړوي، نو ددې ثواب نشته، بعضې علماء ليکي څوک چې د شهرت په غرض باندې جومات په خپل نوم جوړوي دې کې اخلاص نشته دی. (المرقات ۲/۴۰۱، اشعة اللمعات ۴۴۹).

مسجدا: نکره د تقليل د پاره وي يعنې وړوکی جومات ولې نه وي، ثواب ملاويږي، يو روايت کې دي، چې د کونترې د جالې هومره ولې نه وي، دې کې دا هم ممکن دي، چې يو کس معمولي حصه جومات کې واخلي پوره جومات جوړ نه کړي، ده ته هم د جومات جوړيدو ثواب ملاؤ شو.

في الجنة: جنت کې عاليشان محل ملاويدل د الله تعالی احسان دی، خو دې خوشخبرۍ نه دا معلومه شوه چې دا کس به جنت ته ځي، دا لويه خوشخبري ده، که محل ملاؤ شي او يا نه.

---

(۱) أخرجه البخاري ۱/۵۴۴، رقم الحديث: ۴۵۰، مسلم ۱/۳۷۸ رقم الحديث: ۲۴-۵۳۳، النسائي ۱/۳۱، رقم الحديث: ۶۸۸، مسند أحمد ۱/۷۰.

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ غَدَا

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: څوک چې ځي دورځې په اوله

إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْ رَاحَ أَعَدَّ اللهُ لَهُ

حصه کې جومات ته اويا راواپس کيږي دورځې په آخري حصه کې الله تعالى به تيار کړي دده دپاره سامان

نُزُلَهُ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ». (متفق عليه).[1]

دميلمستيا په جنت کې، برابره خبره ده که سحر لاړشي يا مابنام.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَعْظَمُ النَّاسِ أَجْرًا

د حضرت ابو موسى اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: زيات اجر په خلکو کې

فِي الصَّلَاةِ أَبْعَدُهُمْ فَأَبْعَدُهُمْ مَمْشًى

هغه چا ته د مونځ ملاويږي چې د مسافت په اعتبار سره لرې وي (يعنې څومره چې يې کور د جومات نه

وَالَّذِي يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ حَتَّى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْإِمَامِ

لرې وي هغومره به زيات اجر ورته ملاويږي) او کوم کس چې د مونځ په انتظار کې وي چې د امام سره مونځ

أَعْظَمُ أَجْرًا مِنَ الَّذِي يُصَلِّي ثُمَّ يَنَامُ». (متفق عليه).[2]

وکړي دده ثواب د هغه کس نه ډير دی چې ځان ته مونځ وکړي او ويده شي.

توضيح: ابعدهم ممشى: يعنې يو کس د لرې نه جومات ته د مونځ د پاره راځي د هغه کس نه ورته زيات ثواب ملاويږي کوم چې جومات سره نزدې وي، ځکه چې د هغه قدمونه ليکل کيږي، مګر دا ياد ساتئ که په لاره کې يو جومات پريږدي او دويم جومات ته د فضيلت په نيت ځي دا صحيح نه ده، خاصکر چې نزدې جومات ته پرې نقصان رسيږي، بيا داد ګناه کار جوړيږي. (اشعة اللمعات ۳۹۹، المرقات ۲/۴۰۳)

ثم ينام: يعنې يو کس مثلاً يوا ځې د ماسخوتن مونځ کوي اوبياويده کيږي اګرچې ډير افضل وخت کې يې وکړ خو د جمعې انتظار يې ونه کړو او يو کس هغه دی چې په تاخير سره يې مونځ وکړو، خو د جمعې انتظار يې وکړو جمعې کې د شامل کيدو او د انتظار د وجې نه ورته ثواب ملاويږي.

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۱٤۸، رقم الحديث: ٦٦٢، ومسلم في الصحيح ۱/٤٦۳ رقم الحديث: ۲۸٥-٦٦۹، وأخرجه أحمد في المسند ۲/٥۰۸.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۱۳۷، رقم الحديث: ٦٥۱، ومسلم في الصحيح ۱/٤٦۰ رقم الحديث: ۲۷۷-٦٦۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۱۱﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ : خَلَتِ الْبِقَاعُ حَوْلَ الْمَسْجِدِ فَأَرَادَ

د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : خالي شو يو څو کورونه د مسجد نبوي سره نزدې نو اراده

بَنُو سَلِمَةَ أَنْ يَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَ

وکړه بنو سلمه چې جومات ته نزدې راشي ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د دې دارادې معلومات وشو نو وې فرمايل

لَهُمْ : « بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنْتَقِلُوا قُرْبَ الْمَسْجِدِ ». قَالُوا : نَعَمْ يَا

دوي ته: ماته داخبره رارسيدلې چې تاسو اراده لرئ چې رانقل شئ جومات ته نزدې هغوی وويل آو ای د

رَسُولَ اللهِ قَدْ أَرَدْنَا ذَلِكَ . فَقَالَ : « يَا بَنِي سَلِمَةَ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ

الله رسوله مونږ دا اراده کړې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل ای بنو سلمه تاسو خپلو کورونو کې اوسئ ، ليکلی کيږي

آثَارُكُمْ دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ » (۱).

ستاسو قدمونو چاپونه بنو سلمه تاسو خپلو کورونو کې اوسئ ستاسو قدمونو چاپونه ليکلی کيږي.

توضيح: خلت البقاع: بقاع د بقعة جمع ده کولاو ميدان ته ويل کيږي، دلته امکنه (ځايونه) مراد دي. (المرقات ۲/۴۰۳).

بنو سلمة: دا د انصارو يو خاندان دی، د دې خلک د مسجد نبوي نه لرې وو ، مسجد نبوي سره د څه وجې نه کورونه خالي شو ، هغوئ اراده وکړه چې جمات ته نزدې راشي ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته معلومه شوه ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع وفرمايله. **ديارکم:** داد **الزموا** دپاره مفعول دی يعنې خپل کورونه لازم ونيسئ ځکه چې ستاسو د تلو راتلو قدمونه ليکلی کيږي اوستاسو د اعمالو په وزن کې شاملږي، ګويا دې آيت طرف ته اشاره ده ﴿وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا وَآثَارَهُمْ﴾ او مونږ ليکو کوم څه چې تاسو مخکې ليږلي دي او کوم څه چې د دې نه وروسته دي.

۲۱ ربيع الاول ۱۴۱۰ هـ

ميدان محشر کې به اوه کسان د الله تعالی په رحمت کې وي

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : « سَبْعَةٌ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: اوه قسمه کسان داسې دي چې

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۴۶۲ ، رقم الحديث : ۲۸۰ - ۶۶۵.

يُظِلُّهُمُ اللهُ تَعَالَى فِيْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ
الله تعالی به يې د قيامت په ورځ په خپل سوري کې ساتي په کومه ورځ چې د خدای د سوري نه غير بل سوری
إِمَامٌ عَادِلٌ وَ شَابٌّ نَشَأَ فِيْ عِبَادَةِ اللهِ وَ رَجُلٌ
نه وي: (۱) انصاف کونکي حاکم (۲) هغه ځوان چې خپله ځواني په عبادت کې مصرف کړي (۳) هغه کس
قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالْمَسْجِدِ وَ
چې د جماعت نه ووځي او ترهغې پورې چې واپس جماعت ته لاړنه شي د ده زړه په جمات کې وي (۴) هغه
رَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللهِ اجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَ
دوه کسان چې خالص د الله تعالی د پاره محبت ساتي که يو ځای کېږي د الله تعالی د محبت دوجې نه او که
تَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَ رَجُلٌ ذَكَرَ اللهَ خَالِيًا
جدا کېږي هم د الله تعالی د محبت د وجې نه (۵) هغه کس چې په خالي ځای کې د الله تعالی ذکر کوي
فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ وَ رَجُلٌ دَعَتْهُ امْرَأَةٌ ذَاتُ حَسَبٍ وَ جَمَالٍ
(الله دويرې) دستر کونه يې او بنکې ځي (٦) هغه کس چې راوبلي ده لره يوه بنځه د ښه نسب او ښائست والا
فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللهَ وَ رَجُلٌ
او دا سړی د هغې بنځې خواهشات و په جواب کې وايي چې: زه د الله تعالی نه ويريږم (۷) هغه کس چې
تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتَّى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِينُهُ». (متفق عليه). (۱)
په داسې پټه طريقه صدقه ورکړي چې د هغه چپ لاس ته هم معلوم نه وي چې ښي لاس څه خرچه کړي دي

توضيح: في ظله: ظل اصل کې سوري ته ويلي شي، دلته د لمر سوری مراد نه دی، بلکې د الله د طرف نه د عزت او عظمت او رحمت سوری مراد دی، بعضې علماو د عرش سوری مراد اخستی دی. بعضې ددې سوري نه د راحت او نعمت مراد اخيستی دی، بهر حال مقصود دا دی، دا خوش نصيبه اوه قسمه خلک به د الله تعالی د رحمت سوري د لاندې وي، دوی به محشر ميدان کې خفه نه وي، دا خصوصي جدا شان به دوی ته ځکه ملاويږي، مثلاً د عادل بادشاه د عدالت اثرات د خپل ذات نه علاوه په ټولو خلکو باندې هم وي، د الله د مخلوق د پاره د امام عادل عدالت عمومي رحمت وي. دويم کس ځوان

---

(۱) أخرجه البخاري ۱٤۳/۲، رقم الحديث: ٦٦۰، ومسلم في الصحيح ۷۱٥/۲ رقم الحديث: ۹۱-۱۰۳۱، أخرجه أحمد في المسند ٤۳۹/۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

عابد او زاهد دی، یعني ده دخپلو جذباتو سره او په حالت د ځوانۍ کې چې د لیونتوب وخت دی د الله تعالی د عبادت حق اداء کړو، ځکه دا عزت ورته ملاؤ شو. (المرقات ۲/۴۰۵).

در جوانی توبه کردن شیوه پیغمبریست ❁ وقت پیری گرگ ظالم میشود پرهیزگار

د دریم کس قرباني لویه ده، چې هر وخت د جومات سره محبت ساتي ښکاره خبره ده چې د جومات خدمت کوونکی به هم وي او هر وخت به عبادت ګزار هم وي. څلورم قسم هغه دوه کسان دي چې د هغوئ جدائي او یو ځای کیدل د الله د رضا د پاره وي، ښکاره خبره ده چې د الله تعالی اطاعت به د دوی مخې ته هر وخت وي، د الله تعالی دپاک والي مراقبه به هروخت حاصله وي. پنځم هغه کس دی چې ځان له ځای کې د الله تعالی په عظمت کې ډوب وي او د الله تعالی د ویرې د وجې نه او ښکې یې د سترګو نه ځي. داژړا دریانه پاکه وي، ځکه دا مقام ورته ملاؤ شوی دی: شپږم هغه کس دی چې په لوی امتحان کې صرف د الله تعالی دویرې د وجې نه کامیاب شوی وي، عامه زنانه نه وي، بلکې د اعلی خاندان سره تعلق لري او ښائسته هم وي او په خپله یې ورته ځان سپارلی وي، د دې ګناه نه د بچ کیدو وجه د الله تعالی خوف دی، ځکه د دې کس عزت وکړی شو. او اوم کس هم د اعلی کردار والا دی، محبت الهی کې دومره ډوب وي او ځان ښودنې نه دومره لرې وي چې د صدقې په وخت کې د الله تعالی نه سوا بل چاته پته نه وي، بلکې کوشش دا کوي، چې واجبې د صدقې علم خپل چپ لاس ته هم نه وي. مقصد دا چې صرف اووه کسان نه دي، بلکې اوه قسمه خلک دي.

﴿۱۳﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ

دابوهریره رضی الله عنه روایت دی وایي چې : نبي علیه السلام فرمایي: مونځ د سړي په جماعت سره د افضیلت

تُضَعَّفُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَ فِي سُوقِهِ خَمْسًا وَ عِشْرِينَ ضِعْفًا وَ ذَلِكَ أَنَّهُ إِذَا

لري د مونځ کولو نه په کور یا بازار کې په پنځویشت درجو باندې او دا ځکه چې کله یو کس په ښې طریقې

تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رُفِعَتْ لَهُ بِهَا

سره اودس وکړي صرف مونځ د پاره جومات ته راځي نو چې قدم اوچتوي د هر قدم په عوض کې یې یوه

دَرَجَةٌ وَ حُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةٌ فَإِذَا صَلَّى لَمْ تَزَلِ

درجه اوچتیږي او یوه ګناه یې معاف کیږي او ترڅو پورې چې مونځ نه پس په خپل ځای باندې ناست وي

الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ

فرښتې دده د پاره دعاګاني کوي: ای الله تعالی! دده بخښنه وکړه، ای الله تعالی! ده باندې رحم وکړه او

وَلَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلَاةَ ». وَ فِيْ رِوَايَةٍ:

څوپوري چې يو کس دمونځ په انتظار کې ناست وي نو دده دغه وخت مونځ کې شمار ېږي، او په يو روايت

قَالَ : « إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَتِ الصَّلَاةُ تَحْبِسُهُ»

کې دي چې يو کس جومات ته لاړ او دمونځ دوجې نه هلته حصار شو کويا دغه وخت يې هم مونځ کې دی

وَ زَادَ فِيْ دُعَاءِ الْمَلَائِكَةِ : " اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ اللَّهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ.

او زيات کړي دی فرښتو په دعا کې: ای الله! دغه کس ته بخښنه وکړې، د دغه کس توبه قبوله کړې او دا

مَا لَمْ يُؤْذِ فِيْهِ مَا لَمْ يُحْدِثْ فِيهِ .(متفق عليه) .[1]

به د هغه وخت پورې وي ترڅو پورې چې يو مسلمان ته تکليف ورنه کړي او په اودس کې وي.

توضيح: خمسا وعشرين ضعفا: مخکې باب الجماعة کې دا قسم احاديث راځي هلته به بحث کېږي چې کله (۲۵) او کله (۲۷) درجې ثواب ولې ملاويږي (المرقات ۲/۴۰۷)

ددې کمي اوزياتي وجه څه ده دلته خو صرف دا ويلی شي چې د جماعت نه بغير مونځ کولو باندې هغه ثواب نه ملاويږي کوم چې جمعې سره په مونځ کولو باندې هغه درجه حاصليږي (۲۵) يا (۲۷) درجې ثواب صرف هغه صورت کې حاصليږي، چې کله جماعت سره وي.

في مصلاه: شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ لمعات کې ددې حديث لاندې ليکي : چې دوچنده ثواب هغه وخت ملاويږي، چې مونځ کونکی د مانځه په ځای باندې کلک ناست وي او يو خوا بل خوا نه ګوري، که مونځ کونکي جومات کې يو خوا بل خوا لاړل، بيا دا ثواب نه ملاويږي. (اشعة اللمعات ۳۵۱).

مالم يؤذ: يو انسان يا مونځ کونکي ته تکليف ونه رسوي يعنې په خپل فعل او قول چا ته تکليف نه رسوی.

مالم يحدث: دا جمله د ماقبل **مالم يؤذ** نه بدل واقع ده د فرښتو دعاء تر هغه وخته پورې وي چې دا په اودس کې وي که جومات کې يې اودس مات شو بيا فرښتي دعاء نه کوي شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ لمعات کې ليکي دا صيغه د **يحدث د تحديث** نه په معنی د کلام هم کيدی شي يعنې فضيلت هغه وخت دی تر څو پورې چې مونځ ګزار جومات کې دنيا وي خبرې شروع نه کړي که خبرې يې شروع کړې نو فرښتې خپلې دعاګانې موقوف کړي هر مونځ کونکي ته په کار دي چې په اودس کې کيني د دنيا خبرو نه ځان

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۱۳۱،رقم الحديث :٦٤٧، ومسلم في الصحيح ۱/٤٥٩ رقم الحديث:٢٧٢-٦٤٩، وأبو داود ۱/۳۷۸ رقم الحديث :٥٥٩، أخرجه أحمد في المسند ۲/۲٥۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

وساتي. (اشعة اللمعات ۳۵۱).

جومات سره د بيت الخلاء والا معامله مه كوئ

﴿۱٤﴾ وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ

د حضرت ابي اسيد نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: تاسو کې چې څوک داخل شي جومات ته

فَلْيَقُلِ: اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ. وَإِذَا

نو هغه ته په کار دي چې دا دعاء ووايي: ای الله! د خپل رحمت دروازې ما ته خلاصې کړه، او چې کله د

خَرَجَ فَلْيَقُلِ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ". (رَوَاهُ مُسلم). (۱)

جومات نه وځي نو دا دعاء دې وايي: ای الله! زه د تا نه ستا فضل غواړم.

توضيح: فليقل اللهم: دې حديث مبارک کې جومات ته د ننوتو او دراوتو آداب ذکر شوي دي اوځه آداب د قياس په طور باندې معلوميږي حالانکې اول آدب دا دی چې جومات ته د داخليدو په وخت کې بنې خپه اول دننه کړی شي او دراوتو په وخت کې چپه خپه بهر کړی شي دا ځکه چې جومات سره د بيت الخلاء مشابهت رانه شي بيت الخلاء ته د ننوتلو په وخت کې د شريعت حکم دی چې اول کسه خپه دننه کوئ بيا بنې خپه او دوتو په وخت کې اول بنې خپه او بيا کسه خپه. (المرقات ۲/۴۰۹)

اوس که څوک د دې تعليم خلاف کوي هغه په ناپوهۍ کې د جومات سره د بيت الخلاء معامله کوي او بيت الخلاء سره د جومات معامله کوي، دلته حديث کې جومات ته د ننوتلو دعا مذکوره هر مسلمان ته په کار دي چې دالله تعالی په کور کې قدم کيږود وسره دالله تعالی نه د رحمت او د وسعت دعا ګاني وغواړي او چې جومات نه بهر قدم کيږدي، نو د روحانيت نه مالامال کيدو نه پس د مادياتو او د حلال رزق دعا غواړي، ځکه چې د جومات نه بهر دنيا سره واسطه رائي، بعضې روياتو کې د دخول مسجد په وخت کې مذکوره دعا سره د دې الفاظو د زيادت نقل شوی دی (بسم الله والسلام على رسول الله) (المرقات ۲/۴۱۰) که څوک دا هم ووايي ډيره ښه خبره ده.

جومات ته د داخليدو نه پس دوه رکعته نفل کوئ

﴿۱۵﴾ وَ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ

دا بو قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي: چې کله تاسو کې څوک داخل شي

(۱) أخرجه مسلم ۱/٤٩٤ رقم الحديث: ٦٨-٧١٣، وأبوداود ۱/۳۱۷ رقم الحديث: ٤٦٥، والنسائي ۲/٥٣، رقم الحديث: ۷۲۹، مسند أحمد ۳/٤٩٧.

الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَجْلِسَ ». (متفق عليه).[1]
مسجد ته هغه ته په کار دي چې د ناستې نه مخکې دوه رکعته مونځ وکړي.

توضيح: فليركع: دا دوه رکعته تحية المسجد باندې مشهور دي، که دې کې د تحية الوضوء نيت وشي، ددې ثواب به ان شاء الله حاصل شي، اوس ددې دوو رکعتونو حيثيت څه دی، د اهل ظواهرو او شوافعو په نزد باندې د دخول مسجد نه پس دوه رکعته مونځ واجب دي، خو داثواب به کوم وخت ملاويږي، شوافع وايي داثواب د کيناستو نه مخکې کولو باندې ملاويږي که مونځ ګزارجومات کې کيناستو بيا ثواب نه ملاويږي د جمهورو فقهاوو په نزد تحية المسجد دوه رکعته نفل واجب نه دي بلکې نفل دي، اهل ظواهراوشوافع زير بحث حديث کې د امر صيغې ته ګوري چې دا وجوب د پاره ده، (المرقات ۲/۴۱۰) جمهور وايي د امرداصيغه دوجوب دپاره نه ده بلکې استحباب باندې محمول ده ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ مرقات کې دې حديث د لاندې ليکي، که د دخول مسجد په وخت کې يوکس بې اودسه وويا وخت مکروه ؤ نو ځلور ځله دې سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر ولاحول ولاقوة الاباالله العلي العظيم) ووايي ده ته د دوو رکعتونو ثواب ملاؤ شو. (كذا في المرقات ۲/۴۱۰)

د سفر نه واپس کيدلو وخت کې په جومات کې څه وخت ناسته کول

﴿۱۶﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ
د حضرت کعب بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې کله د سفر نه راواپس شو نو
إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ
د څانښت وخت کې به راتلو نو اول به جومات ته تللو، هلته به يې دوه رکعته مونځ کول، بيا به (لږ ساعت
جَلَسَ فِيهِ". (متفق عليه)[2]
پورې) په جومات کې کيناستو.

توضيح: بدأ المسجد: يعني د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ عام معمول داؤ چې د خپل سفر نه به واپس کيدو وخت کې د

---

(۱) أخرجه البخاري ۱/۵۳۷،رقم الحديث : ۴۴۴، ومسلم ۱/۴۹۵ رقم الحديث:۶۹-۷۱۴، وأبو داود ۱/۳۱۸ رقم الحديث :۴۶۷، والنسائي ۲/۵۳، رقم الحديث: ۷۳۰.

(۲) أخرجه البخاري ۶/۱۹۳، رقم الحديث :۳۰۸۸، ومسلم ۱/۴۹۶ ، رقم الحديث: ۷۴-۷۱۶، وأبو داود ۳/۲۲۰ ، رقم الحديث :۲۷۸۱، و النسائي ۲/۵۳، رقم الحديث: ۷۳۲، أخرجه أحمد في المسند ۶/۳۸۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

شپې په ځای د ورځې په وخت کې مدینې منورې ته تشریف راوړلو او چې د ورځې به تشریف راوړلو، نو کورته د تللو نه مخکې به لږ ساعت مسجد نبوي کې کیناستو. دې نه به یوه فائده دا کیدله، که د څانبنت وخت به وو، نو مونځ به یې وکړو یا د تحیة المسجد ثواب به یې حاصل کړو. او دویمه فائده داده چې مدینې منوره کې کوم صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د جدائي وختونه تیر کړي وو هغوئ ته به جومات کې د یوځای کیدلو زیارت موقع ملاویدله او د یو بل احوالونه به خبریدل، دریمه فائده دا وه چې کورونو کې زنانه او ازواج مطهرات د خپل ځانونو او د کور صفایاني وکړي، په دې حدیث کې د امت د پاره د یر ښه تعلیم پروت دی. (المرقات ۲/۴۱۱، اشعة اللمعات ۳۵۲).

په جومات کې دورک شوي څیز اعلان منع دی:

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَمِعَ رَجُلًا

دحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي: چې څوک داواوري (یاوګوري)

يَنْشُدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَقُلْ:

چې څوک جومات کې خپل ورک شوې څیز ګوري نو هغه ته په کار دي چې دهغه جواب کې داووایي چې

لَا رَدَّهَا اللهُ عَلَيْكَ فَإِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا". (رَوَاهُ مُسلم)[1]

الله تعالی دی ستا ورک شوی څیز پیدا نه کړي ځکه چې جوماتونه دورک شوو څیزونو دپاره نه دي جوړ.

توضیح: لا ردها الله علیک: علماء لیکي په ظاهر الفاظو باندې عمل کولو د پاره که څوک داسی بده دعا وکړي، نو دا جائز ده، خو د زړه نه د بد دعا نیت نه وي، هو که څوک دا خیال کوي داسی بد دعائي سره دغه کس او نورو خلکو ته عبرت حاصل یږي او بیا جوماتونو کې داسی اعلانات نه کوي، نو بیا د زړه نه داسې بد دعائی کولو ګنجائش شته. (المرقات ۲/۴۱۱، اشعة اللمعات ۳۵۲).

نن سبا مساجدو کې اکثر د امامانو سره د خلکو په دې اعلاناتو باندې جکړې وي، د ماشومانو د ورکیدو اعلانات او د مړو د جنازو اعلانات او د خلکو د مالونو اعلانات جوماتونو نه کیږي، بلکې د پنجاب په طرفونو کې اوریدلي دي، چې د چرګانو او د چیلو اعلانات هم جوماتونو نه کیږي، چې دا ډیر غلط کار دی، د جومات انتیظامیه ته په کار دي چې جومات نه بهر لوډ سپیکر انتظام وکړي او صرف د ورک شوو څیزونو اعلانات نه بلکې هر هغه عمل چې کوم د جومات د تعمیر د مقاصدو نه جدا وي،

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۹۷ رقم الحديث: ۷۹-۵۶۸، وأبو داود ۱/۲۱ رقم الحديث: ۴۷۳، وابن ماجة ۱/۲۵۲، رقم الحديث: ۷۶۷. أخرجه أحمد في المسند ۲/۳۴۹.

ددې شور مسجد کې جائز نه دی. د سلف صالحینو په نزد باندې یو سائل ته هم صدقه ورکول نه ده صحیح، د حدیث آخري جمله (فان المساجد لم تبن لهذا) دغه عموم طرف اشاره کوي.

که بدبودار څیزونه وخورئ نو بیا جومات ته مه ځئ:

﴿۱۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ

د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمایي: چا چې خوراک وکړو ددې ونو

الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذَّى مِمَّا

بد بودارو (پیاز او اوګه) نه هغه دې زمونږ جومات ته نه راځي ځکه چې ملائکو ته تکلیف وي د هغه څه

يَتَأَذَّى مِنْهُ الْإِنْسُ». (متفق عليه).[1]

نه دکوم د وجې نه چې انسان ته تکلیف وي.

توضیح: الشجرة المنتنة: د بدبودارې ونې څخه پیاز او اوګه مراد دي، څنګه چې راتلونکي حدیث کې راځي، مطلب دا دی چې څنګه انسان ته د بدبودارو ونو څخه تکلیف رسیږي دغه رنګ فرښتو ته هم رسیږي، مسلمانانو ته په کار دي، چې کله پیاز او اوګه وخوري نو بیا دې جومات ته نه ځي، ځکه چې انسانانو سره فرښتې هم جومات کې وي، هغوئ ته تکلیف ملاویږي، په دې حکم کې هر هغه څیز داخل دی، چې بدبودار وي، که د خوړو څیزونه وي، لکه ګندنې، مولی، نسوار، سیګریټ، تمباکو والا پان وغیره ټول داخل دي، که د یو کس ترخ یا خولې یا بدن د یو زخم څخه بدبوی ځي ددې هم دا حکم دی، چې جومات ته داسی خلک مه راځئ، (المرقات ۲/۴۱۲، اشعة اللمعات ۳۵۲).

که نه سمیږي حکومت باندې لازم دي چې دوئ منع کړي، مونځ ګزار او فرښتو ته دې تکلیف نه ورکوي، بدبودار څیزونو څخه پس ګوړه وغیره استعمالوئ دې سره بدبو ختمیږي، دایې علاج دی د جومات قید احترازي نه دی، بلکې علماء لیکي داسې خلک د وعظ مجالسو، د ذکر اذکارو او محافلو او د قرآن کریم او حدیث درسګاهانو ته هم مه پریږدئ، شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې لیکي عامو مجالسو مثلاً د ولیمې دعوت ته هم مه ځئ. (اشعة اللمعات ۳۵۲).

مسجدنا: دې لفظ نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عموم طرف ته اشاره ده، چې صرف مسجد نبوي سره خاص نه دی، بلکې د مسلمانانو عام مساجدو دا حکم دی، ځکه (مسجدنا) څخه علاوه (مساجدنا) الفاظ

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۳۹، رقم الحديث: ۸۵٤، ومسلم في الصحيح ۱/۳۹٤ رقم الحديث: ۷۲-٥٦٤، والنسائي ۲/٤۳، رقم الحديث: ۷۰۷، أخرجه أحمد في المسند ۳/۳۷٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

هم راغلي دي، کوم ځای کې چې مسجدی لفظ راغلی هغه نور هم د سخت والي او تغليظ د پاره دی د نورو مساجدو په نسبت سره مسجد نبوي کې ددې بدبو نه سخت احتراز راغلی دی.

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «اَلْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ
د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: لاړې ټوکل په جومات کې ګناه ده
وَ كَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا ». (متفق عليه).[1]
او ددې کفاره دا ده، چې دا لاړې په ځمکه کې ومنډي.

توضيح: البزاق: يعنې جومات کې لاړې ټوکل يو قسم ګناه ده او کفاره يې ازاله کول دي. (المرقات ۲/۴۱۳، اشعة اللمعات ۳۵۳).

دفنها: د دفن کولو نه مراد ازاله ده، دا مطلب نه دی چې جومات کې توکل کوي بيايې دفن کوي که کله د مسجد حصه داسې وي چې هغې کې خټه اوشکه وي خو قصداً توکل مراد نه دي دا ټول د اضطرار صورتونه دي دلته څه الفاظو کې فرق ضروري دی: **النخامة** د اده غه بلغم نوم دی چې سينې نه برې خولې طرف ته راشي دې ته نخامه وايي **النخاع** د اده غه بلغم نوم دی چې د دماغونه بنکته خولې ته راشي (كذا في اللمعات) دا باريک فرق دی، خو دا الفاظ يو د بل په ځای ويلی شي. **بزاق، بصاق، بساق** او **تفل** د خولې لاړو ته ويلي شي، ليکن تر څو پورې چې خولې کې وي هغې ته ريق ويلي شي.

﴿۲۰﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي
د حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل پيش کيږي ماته زما د امت اعمال
حَسَنُهَا وَ سَيِّئُهَا فَوَجَدْتُ فِيْ مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الْأَذَى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيْقِ وَ وَجَدْتُ
ښه او بد اعمال، ما وليدل په نيک اعمالو کې د لاړې نه تکليف رسونکی څيز لرې کول، او ومې ليدل
فِيْ مَسَاوِئِ أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُوْنُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ ». (رَوَاهُ مُسلم)[2]
په خراب اعمالو کې چې په مسجد کې دننه لاړې توکړي او هغه دفن نه کړي.

---

(۱) أخرجه البخاري ۱/۵۱۱، رقم الحديث: ۴۱۵، مسلم رقم الحديث: ۵۵-۵۵۲، وأبو داود ۱/۳۲۲ رقم الحديث: ۴۷۵، والنسائي ۲/۵۰، رقم الحديث: ۷۲۳، أخرجه أحمد في المسند ۳/۲۳۲.

(۲) أخرجه مسلم ۱/۳۹۰ رقم الحديث: ۵۷-۵۵۳، وابن ماجة ۲/۱۲۱۴، رقم الحديث: ۳۶۸۳. أخرجه أحمد في المسند ۵/۱۷۸.

د مونځ په حالت کې چې بلغم راشي نو څه کول ورسره په کار دي

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي کله چې تاسو مونځ ته ودريږئ نو

فَلَا يَبْصُقْ أَمَامَهُ فَإِنَّمَا يُنَاجِي اللهَ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ وَلَا عَنْ يَمِينِهِ

مه توکئ خپلې مخې ته ځکه چې تاسې د الله سره مناجات کوئ ترڅو چې په مونځ کې يې، اونه نبي طرف

فَإِنَّ عَنْ يَمِينِهِ مَلَكًا وَ لْيَبْصُقْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ فَيَدْفِنُهَا ».

ته ځکه چې نبي طرف ته فرښته ده، او تُوکړئ کس طرف ته او يا لاندې د قدمونو اوبيايې ځمکه کې ښخ

وَ فِي رِوَايَةِ أَبِي سَعِيدٍ: « تَحْتَ قَدَمِهِ الْيُسْرَى ». (متفق عليه). (۲)

کړئ. د ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کې دي، بلکې د خپل کس قدم د لاندې توکړئ.

توضيح: فانما يناجي الله: دې حديث کې د مونځ ګزار کس تشبيه يې د هغه کس سره ورکړې ده چې خپل واجب الاحترام مالک ته ولاړ وي او هغه سره خبرې کوي او دغه حالت کې او دغه کيفيت کې د خپل مالک عزت او احترام د ټولو آدابو خيال ساتي او د هغه طرف ته د توکلو جرات نه کوي، دغه مونځ کونکي د پاره واجب دي، چې کله خپل حقيقي مالک ته مخامخ مونځ د پاره ولاړ وي، د ټولو آدابو خيال دې وساتي او د حاضريدو د شرائطو خيال دې وساتي، چې خپل مالک مخامخ لاړې توک نه کړي، که توکلو باندې مجبوره شي، بيا دې مخامخ نه توکوي، د الله تعالى ذات اګر چې د جهت او سمت د قيوداتو نه پاک دی، خو اسلام د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طريقې سره آداب مسلمانانو ته رسولي دي چې د رب ذوجلال په دربار کې د حاضرۍ په وخت کې کوم داسې صورت او طريقه اختيار شي چې د الله تعالى د ذات د کبرائي سره منافي وي. (الکاشف ۲/۲۷۸).

عن يمينه ملكا: دې فرښتې نه د کراماکاتبين نه علاوه نورې فرشتې مراد دي خاص کرمونځ وخت نبي طرف ته ولاړوي، مونځ ګزار د پاره رهنمائي او دعا کوي، ګويا دا يو ميلمه دی دده احترام په، مو ګزارباندې واجب دی دهغه طرف ته توکل منع دي يا فرښتې نه مراد کراماکاتبين دي دهغوي احترا لازم دی دا افضل دي د هغه فرښتې نه چې کس طرف ته وي د انسان بديانې ليکي نبي طرف ته فر اميره ده کس طرف ته فرښته مامور ده ځکه نبي طرف ته توکلو نه منع فرمايلې ده.

---

(۱) أخرجه البخاري ۱/۵۱۲، رقم الحديث ٤١٦، ومسلم ۱/۳۸۹ رقم الحديث: ۵۳-۵۵۰، وابن ماجة ۱/۳۲۶، رقم الحديث: ۱۰۲۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۲ ربيع الاول ۱٤۱۰هـ

هر يو قبر ځای د سجدې ګرځول حرام دي

﴿۲۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ مَرَضِهِ الَّذِيْ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: په هغه بيماری کې چې دهغې نه

لَمْ يَقُمْ مِنْهُ : « لَعَنَ اللهُ الْيَهُودَ وَ النَّصَارَى

پانه ځيدو (يعنې مرض وفات کې) د الله تعالى لعنت دې وي په يهودو او نصارا و باندې چې دوي د

اتَّخَذُوا قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِد». (متفق عليه) [1]

خپلو پيغمبرانو د قبرونو ځای د سجدې جوړ کړی وو.

توضيح: لعن الله اليهود: کله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د الله تعالى د طرف څخه معلوم شو، چې اوس ډير زر د دنيا څخه روان دی، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ويره راغله، چې هسې نه زما د امت څه خلک زما د قبر سره هغه معامله ونه کړي کومه معامله چې يهودو او نصارى د خپلو انبياو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ د قبرونو سره کړې وه، دې وجې نه يې خپل امت ته تنبيه ورکړه چې يهود او نصارى د کوم کار د وجې نه ملعون ګرځيدلي وو، د هغې نه تاسو بچ شئ. (المرقات ۲/۴۱٦-۴۱۵، اشعة اللمعات ۳۵۳).

شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې د علامه تورپشتی رَحِمَهُ اللهُ د حوالې سره ليکي قبرونه ځای د سجدې جوړول دوه طريقو سره دي، يو طريقه دا ده محض د قبر د عبادت په نيت سره قبرونو ته سجده کول، (لکه څنګه چې نن سبا دي) دويمه طريقه دا ده عبادت خو د الله تعالى د پاره وي خو ځای د سجدې د يو پيغمبر قبر جوړ کړې پدې خيال چې، دغه رنګ عبادت سبب د قبليدو دی، ځکه چې دې کې د الله تعالى عبادت هم وي او د انبياء کرامو او د هغوئ د قبرونو تعظيم کول هم وي دا دواړه طريقې غيرو مشروع دي، د الله تعالى د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نزد باندې ناخوښې دي، ړومبی طريقه خالص شرک او کفر دی. او دويمه طريقه هم حرامه ده او دا شرک جلي دی خو خفي او معنوي شرک دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: (**اللهم لاتجعل قبري وثنا يعبد اشتد غضب الله على قوم اتخذوا قبور انبياءهم مساجد**) علامه تورپشتی رَحِمَهُ اللهُ مزيد تشريح کې ليکي چې دې نه معلومه شوه، چې د يو نبي يا د يو ولي قبر طرف ته بطور تبرک او تعظيم مونځ کول حرام دي، (اشعة اللمعات ۳۵۳).

---

(۱) أخرجه البخاري ۸/۱٤۰، رقم الحديث: ٤٤٤٤، ومسلم ۱/۳۷٦ رقم الحديث: ۱۹-۵۲۹، أخرجه أحمد في المسند ٦/۱۲۱.

علامه نووي رَحِمَهُ اللهُ لیکي یو خیز طرف ته یاد هغي سره مونځ کول د تبرک د وجي مه کوئ، ځکه چې ددې په ممانعت کې احادیث موجود دي او ددې په حرمت کې د شک او شبهې ګنجائش نشته دی او ماته معلومه نده چې د تعظیم او د تبرک د وجي څخه د یو نبي یا د یو ولي قبر طرف ته مونځ کولو په حرمت کې د چا اختلاف شته دی، علامه تورپشتی رَحِمَهُ اللهُ لیکي که د قبرونو خواته جومات وي یا داسی ځای وي چې هلته قبرونه په نظر راځي، نو په داسی ځای کې مونځ کولی شي، داسی ځای کې هم د مونځ ګنجائش شته دی، چې هلته رومبی د پیغمرانو قبرونه وو، خو وروسته د هغي نبني هم باقي پاتې نه شوې، ځنګه چې مشهوره ده چې حطیم کې د حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ قبر دی حالانکې خلک هلته مونځ کوي. (كذا في اشعة اللمعات ۳۵۴)

بهرحال نن سبا عوام الناس د بزرګانو په مزارونو باندې د شرع خلاف سجدې او طوافونه کوي او نور ناروا کارونه هم کوي چې د اسلام او قرآن د تعلیماتو نه سراسر منافي دي. یو چا ډیر ښه ویلي دي:

زندگی اس کی ہے ملت کیلئے پیغام موت ❁ کر رہا ہوں جو بجائے کعبہ قبروں کا طواف

﴿۲۳﴾ وَ عَنْ جُنْدُبٍ قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ : « أَلَا

د حضرت جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوریدلي چې فرمایل یې: خبردار!

وَ إِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَانُوا يَتَّخِذُونَ قُبُورَ أَنْبِيَائِهِمْ وَ صَالِحِيهِمْ مَسَاجِدَ

ستاسو نه مخکې خلکو د خپلو انبیاو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او د بزرګانو د قبرونو سجده ګاه جوړې کړې وې، لهذا

أَلَا فَلَا تَتَّخِذُوا الْقُبُورَ مَسَاجِدَ إِنِّي أَنْهَاكُمْ عَنْ ذٰلِكَ »[1].

خبردار شئ تاسو خلک قبرونه سجده ګاه مه جوړوئ، زه تاسو ددې نه منع کوم.

﴿۲۴﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي: کوئ تاسې په خپلو کورونو کې

مِنْ صَلَاتِكُمْ وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا ». (متفق عليه)[2]

بعضې مونځونه او د کورونو نه قبرونه مه جوړوئ.

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۳۷۷/۱ رقم الحديث ۲۳ ۵۳۲.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۵۲۸/۱، رقم الحديث ۴۳۲، ومسلم في الصحيح ۵۳۸/۱ رقم الحديث: ۲۰۸-۷۷۷، وأبو داود ۶۳۲/۱ رقم الحديث: ۱۰۳۴، والنسائي ۱۹۷/۳، رقم الحديث: ۱۵۹۸، أخرجه أحمد في المسند ۱۶/۲

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: من صلوتكم: يعني خپل نوافل او سنت چې جماعت په کې نه وي هغه په کورونو کې کوئ ستاسو په کورونو کې به برکت راځي او عبادت د وجې نه به کور کې هدايت راځي. (المرقات ۲/۴۱۷)

ولاتتخذوها قبورا: يعني کورونه د عبادت نه داسې مه خالي کوئ لکه څنګه چې قبرونه خالي دي، بلکې د نوافلو او سنتو يوه حصه په کور کې کوئ، دغه وجه ده چې فقهاو سنت او نوافل کور کې کولو ته افضل ويلي دي، دا معنی ډيره واضح ده، بعضې شارحينو دا مطلب اخيستی دی چې خپل مړي کورونو کې مه دفن کوئ کورونو نه قبرستان مه جوړوئ، خو دا مطلب لرې دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۲۵﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايلي دي: په مينځ د مشرق او

الْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ» (۱)

مغرب کې قبله ده.

تشريح: قبلة: د دې حديث تعلق د مدينې منورې سره دی نورو ملکونو کې حکم داسې نه دی او شريعت کې ډير مسائل داسې دي چې د هغې تعلق د خاص ځای يا زماني سره وي، مدينه منوره چې ته واقع ده د دې په شمال کې شام واقع دی او جنوب کې يې مکه واقع ده، مشرق طرف ته يې خراسان نع دی او جانب مغرب کې مغربي علاقې دي، د دې حديث مطلب دا شو چې کوم خلک مدينې کې سيږي يا د مدينې په طرف کې د هغوئ د پاره قبله د مشرق او مغرب په مينځ کې ده، نه مشرق د دوی قبله ده او نه مغرب، يعني د دې دواړو په مينځ کې جنوب د دوي قبله ده، مشرق او مغرب صيفاً او شتاءً سيږي، ليکن د مينځ په لفظ کې ډير وسعت دی هر موسم کې قبله مينځ کې وي. (اشعة اللمعات ۳۵۴)

﴿۲۶﴾ وَعَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: خَرَجْنَا وَفْدًا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

: طلق بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: مونږ د يو وفد په شکل نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته راغلو او مونږ ټولو

فَبَايَعْنَاهُ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ وَأَخْبَرْنَاهُ أَنَّ بِأَرْضِنَا

د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره بيعت وکړو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره مو مونځ وکړو او بيا مو داعرض وکړو چې زمونږ په ځمکه

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۱۷۳، رقم الحديث: ۳۴۴، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۳۲۳ رقم الحديث: ۱۰۱۱.

بِبَيْعَةً لَنَا فَاسْتَوْهَبْنَاهُ مِنْ فَضْلِ طَهُوْرِهِ
کې يوه کرجه ده هغې سره څه وکړونو مونږ وغوښتې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د هغه داودس نه پاتې شونکي اوبه
فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ وَ تَمَضْمَضَ ثُمَّ صَبَّهُ لَنَا
نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ اوبه راوغوښتې اودس يې پرې وکړو اوخوله کې يې اوبه واچولې بيايې واچولې اوبه
فِيْ إِدَاوَةٍ وَ أَمَرَنَا فَقَالَ : « اخْرُجُوا فَإِذَا أَتَيْتُمْ أَرْضَكُمْ فَاكْسِرُوا بِيَعَتَكُمْ
په يولوښې کې اومونږ ته يې وفرمايل کله چې خپل ځای ته لاړشئ هلته کرجه ورانه کړئ اوپه هغه ځای کې
وَانْضَحُوْا مَكَانَهَا بِهٰذَا الْمَاءِ وَاتَّخِذُوهَا مَسْجِدًا » قُلْنَا : إِنَّ الْبَلَدَ بَعِيدٌ وَ الْحَرَّ شَدِيدٌ
دا اوبه واچوئ او بيا هلته جومات جوړ کړئ مونږ عرض وکړو زمونږ بنار خو ډير لرې دی اوسخته کرمي
وَ الْمَاءَ يُنْشَفُ فَقَالَ : « مُدُّوهُ مِنَ الْمَاءِ فَإِنَّهُ
ده دا اوبه چې هلته رسيږي نو وچې شوي به وي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : نورې اوبه ورسره ملاؤ کړئ ځکه
لَا يَزِيْدُهُ إِلَّا طِيْبًا [1] » .
چې ددې په پاک والي اوبرکت کې به نوره اضافه هم وشي.

توضيح: وفدا: ضرب يضرب نه وفدا وفوداً و افادة د هغې معززې جرګې نوم دی کوم چې د يو قوم د طرف نه خپل امير ته معامله وړي، ددې مفرد وافد دی، سنه ۹هـ د سنة الوفود په نوم سره يادېږي مسجد نبوي کې ددغې وافدينو قيام به کيدو دغې کې د يوې ستنې نوم اسطوانة الوفود ده، د وفد عبدالقيس قصه مشهوره ده هلته تشريح هم شوې ده.

بيعة: د عيسائيانو د عبادت ځای نوم دی او دې ته کرجه ويل کېږي او کنيسه د يهوديانو عبادتخانې ته ويلی شي او مسجد د مسلمانانو عبادت ځای ته ويلی شي، شارحين ليکي د وفد داخلک رومبی عيسائيان وو بيا چې کله مسلمانان شو هغوئ د خپلې کرجې غورځول اوغوښتل چې جومات پرې جوړ کړي، خو هغوئ غوښتل چې کرجه کې د غير الله د عبادت اثرات پراته دي دغې د ختميدو د پاره دغه ځای وينځل ضروري دي او بيا د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تبرک اوبه پرې اچول په کار دي دې مقصد د پاره د اودس نه باقي پاتې شوې اوبه اوغوښتلې او پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورکړې. (المرقات ۲/۴۱۹).

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۲/۳۸ رقم الحديث : ۷۰۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

فاستوهنباه: مطلب دا دی چې بطور هبه يې اوبه وغوښتلې.

اداوه: د چمړې لوښې ته ويلې شي، چې د اوبو نه به يې ډک کړو سفر کې به يې وړه، دې ته اردو کې چهاګل وايي.

ينشف: د مجهول صيغه ده د وچيدو په معنی ده، مطلب دا چې مسافت لرې دی، سفر اوږد دی د ګرمی موسم دی او اوبه د وچيدو څيز دی هلته د رسيدو پورې به وچې شي (مدوه) د امر صيغه ده د مدد نه دی، دې کې مزيد اوبه ملاؤ کړئ چې دغه اوبو سره د هغې مدد وشي.

لا يزيد الا طيباً: يعنې دا خيال مه کوه چې د نورو اوبو ملاويدو سره به د اصل اوبو برکت ختم شي، بلکه کومې نوې اوبه چې پکې واړولی شي، نو د اصل اوبو برکت به ډير شي، دويم مطلب دا دی دا نوې اوبه چې دغه متبرک اوبو سره ملاؤ شي دې سره به د نوو اوبو برکت هم زيات شي، دې جملې نه دواړه مطلبونه آخستل کيږي، شيخ عبدالحق لمعات کې ليکلي دي دې ټينه د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام د تبرکاتو ثبوت ملاويږي يا د پيغمبر عَلَيْهِ السَّلَام د وارثانو علماو او صلحاو تبرکاتو ثبوت هم ملاويږي. (اشعة اللمعات ۳۵۴).

شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ بالکل صحيح ليکلي دي، خو دې کې د حدود شريعت نه تجاوز نه دی په کار چرته دې عبادت شروع نه شي. (اشعة اللمعات ۳۵۴-۳۵۵)

علماو ليکلي دي خلک چې زمزم د لرې لرې علاقو پورې وړي او دا تبرک ګڼي او دخير او برکت والا يې ګڼي دې حديث نه دې ثبوت ملاويږي، بهر حال برکت ورکوونکی صرف او صرف د الله تعالی ذات دی او کوم څيزونو کې چې د الله تعالی تبرک اچوي هغه متبرک کيږي.

محلو او کورونو کې جوماتونه عام کول په کار دي

﴿۲۷﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بِبِنَاءِ الْمَسْجِدِ فِي الدُّورِ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام په محلو کې د جوماتونو جوړولو حکم

وَ أَنْ يُنَظَّفَ وَ يُطَيَّبَ [1].

کړې دی او دا چې (هغه جوماتونه دې) صفا وساتل شي او خوشبو دار دې کړی شي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۳۱٤/۱ رقم الحديث : ٤٥٥ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٤٨٩/۲، رقم الحديث : ٥٩٤، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۲٥٠/۱ رقم الحديث: ۷٥۸

توضيح: (دور) دال د ضمې سره د دار جمع ده دار کور ته ويل کېږي او محلې ته هم ويل کېږي، دلته محله مراد ده، يعنې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابو ته فرمايي په خپلو خپلو کورونو کې د کورونو جوماتو نه جوړ کړئ او په خپلو محلو کې د محلې جوماتونه جوړ کړئ. (المرقات ۲/۴۲۰).

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي په حديث کې هغه جوماتونه مراد دي چې کورونو کې د مونځ د پاره يو ځای خاص کړی شي، دې څخه محله هم مراد اخيستی شي، چې په هره محله کې ځان ته جومات په کار دی چې خلکو ته آساني وي او د جماعت ثواب حاصلول آسان وي، دا په هغه صورت کې دي، چې کله بل جومات ته نقصان نه وي، که نقصان وي، نو بيا جائز نه دی.

بهر حال جوماتونه قائم کول د مسلمان ديني، مذهبي، قومي او ملي علامه ده، مساجد قيام باعث د برکت او د رحمت دي، چې په ګومې محلې کې د اهل حقو جومات وي د دغې محلې خلکو د اهل حقو سره تعلق جوړيږي چې په کومې محلې د اهل باطلو جومات وي، نو خلک هم د اهل باطلو سره کېږي، ځکه مسلمانانو له جوماتونو جوړولو کې خيال کول په کار دي، دين اسلام د جهاد په ذريعې سره دنيا کې خور شوی دی او جوماتونه د علماو په ذريعې سره برقرار او محفوظ دي، چې کوم ملک کې جوماتونه او علماء ختم شي د خلکو څخه دين ختميږي او هغوی مرتد لوی شي او بيا مرتد کيدو سره مړه شي. حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپل دور خلافت کې حکم جاري کړی وو، چې کومه علاقه فتح شي رومبی هلته جومات جوړوئ، خو د يو جومات په ذريعې سره بل جومات ته نقصان مه رسوئ، يعنې مسجد ضرار جوړ نه شي، د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په دور خلافت کې د عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په حکم باندې څلور زره جوماتونه جوړ شو او جامع جوماتونه نهه سوه (۹۰۰) جوړ شو. ابن مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ د دې حديث نه د کورونو جوماتونه مراد اخيستي دي، اګر چې ملا علي قاري رَحِمَهُ اللّٰهُ دا مرجوح کړی دی، (المرقات ۲/۴۲۱).

حقيقت دا دی چې په کورونو کې جوماتونه مفيد دي، د کور خلک هر وخت مونځونه او عبادتونه په کې کوي، د باران، يخنی او د ويرې د وجې نه د کور افراد په هغې کې مونځونه کوي، ماشومانو ته تعليم ورکولی شي چې مونځ څه څيز دی د کور والا و شوق پيدا کېږي چې مونږ مسلمانان يو، زمونږ سره جومات دی، مونږ باندې چې صفائي لازم ده، مونږ باندې د هغې خوشبودار کول لازم دي، د کور والا و ددغه څيزونو د احساس سره سره د الله تعالی طرف نه د جومات د وجې نه رحمت او برکت ځان له حاصليږي، لهذا د حديث دا مطلب بيانول هم ضروري دي، ددې حديث الفاظ عام دي که د محلې جومات وي يا د کورونو جومات، البته جوماتونه ظاهري او معنوي اعتبار سره آبادول په کار دي او پاک ساتل ضروري دي. (المرقات ۲/۴۲۱).

Maktaba Tul Ishaat.com

په جوماتونو کې نقش ونگار د قيامت د علامو نه دی

﴿۲۸﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « مَا أُمِرْتُ

د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي : ماته حكم نه دي شوې

بِتَشْيِيدِ الْمَسَاجِدِ » . قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : لَتُزَخْرِفُنَّهَا

د جوماتونو د اوچتولو او ښائسته كولو ، ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي : تاسې د عبادت خانو ښائسته والی

كَمَا زَخْرَفَتِ الْيَهُود وَ النَّصَارَى [1] .

كوئ لكه څنگه چې يهود او نصاری (د عبادت خانو) ښائسته والی كوي.

توضيح: تشييد المساجد: د باب تفعيل نه تشييد روغن سره ښائسته كول او سمنټ وغيره سره پلستر كول، روغن سره پالش كول او مضبوط او اوچتولو په معنی كې دی، د مضبوطی او د وچتوالي په معنی (المرقات ۲/۴۲۱، اشعة اللمعات ۳۵۵) د قرآن كريم آيت داسی دي: ﴿وَقَصْرٍ مَّشِيدٍ﴾ (نساء: ۷۸) ﴿فِي بُرُوجٍ مُّشَيَّدَةٍ﴾ طرفه بن العبد د خپلې اوښې تشبيه د مضبوط پل سره وركړې ده، هغه داسی:

كقنطرة الرومی اقسم ربها ❁ تُكَنِّفَنَّ حتی تشاد بقرمده

ددې معنی په اعتبار سره مطلب دا شو چې ماته اوچتو او عاليشان او مضبوطو پليستر شوي جوماتونو د جوړيدو حكم نه دی شوی، مسجد نبوي د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت مبارك كې ساده او كچه وو، ديوالونه يې د خښتو او چت يې د كهجورو د څانگو څخه جوړ وو او ستنې يې د كهجورو د تنو څخه يا د كهجورو د لرگو څخه وې، عهد صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كې يې هم دا حالت وو، د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه كې دوباره تعمير شو؛ خو دغه رنگ ساده يې پريښودو، څنگه چې مخكې وو، خو څه نا څه كولاو والی په كې شوی وو، بيا د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دور خلافت كې چې هغه وكتل چې كورونه عاليشان او ښائسته دي، او دا دغه رنگ زوړ دی، نو عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نوې طرز باندې جوړ كړو، نو جومات كې كولاو والی هم راوستو او ښائسته يې هم كړو، ديوالونو كې مزين كانې او چت كې يې اعلی لرگي استعمال كړل، متاخرينو فقهاو ددې اجازت وركړو، چې جوماتونه هم ښائسته جوړوئ، لكه څنگه چې كورونه دي، چې جوماتونو سپكوالی ونه شي.

لتزخرفنها: زخرف سروزرو ته ويلي كېږي دلته مراد زيب او زينت دی او نقش او نگار ته ويلي شي،

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۱۰ رقم الحديث : ٤٤٨ .

زمونږ فقهاء مثلا صاحب هدايه ليکلي، چې کوم ځای پورې د جومات مضبوط والی وي، هغه جائز دي، که د چا د ذاتي مال نه وي يا د مسلمانانو د وقف مال نه وي بيا زيب اوزينت داد وقف مال څخه جائز نه دی که يو کس نقش اونګار کول غواړي نو د هغه حد پورې کول په کار دي چې د خلکو په مونځ کې د غفلت سبب ونه ګرځي او که سبب د غفلت ګرځي نو بيا د ذاتي مال څخه هم جائز نه دی، يعني مکروه دی. د حديث مطلب داشو چې راتلونکي داسی خلک به وي چې جوماتونه به ښائسته کوي اوپه ديوالونو باندې به سره زر مړي، حالانکې دا طريقه د سنت نبوي نه ده ځکه چې اسلام سادګي ښائي او د نقش اونګار په ځای عمل او کردار ښائي، نن سبا بريلوي حضرات مساجد عموما په دغه طرز جوړوي او د هدايت نه خالي وي، ځکه چې د شرک او بدعت مرکز ونه جوړ شي حالانکې د جومات د پاره د الله تعالی دا حکم دی ﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللّٰهِ أَحَدًا﴾.

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ

د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: د قيامت علاماتو نه يوه علامه دا

أَنْ يَتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ». (۱)

هم ده چې خلک به د مساجدو په باره کې يو بل باندې فخر کوي.

توضيح: يتباهى: دا د باب **تفاعل** او باب **مفاعله** نه **مباهات** د فخر کولو په معنی راځي، يعني د قيامت يو څو علاماتو نه دا هم ده، چې خلک به غټ غټ جوماتونه جوړوي او هغه به ښائسته کوي او خلکو ته به يې ښائي د الله تعالی رضا به مقصود نه وي، بلکې فخر مباهات اراده به يې وي او د دنيا والو نه شاباسی حاصلول به مراد وي (المرقات ۲/۴۲۲) ګويا چې:

مسجد تو بنادی شب بھر میں ایمان کی حرارت والوں نے ❁ من اپنا اپنا پرانا پاپی ہے برسوں میں نمازی بن نہ سکا

﴿۳۰﴾ وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسلم: «عُرِضَتْ عَلَيَّ أُجُورُ أُمَّتِي

د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: پيش کولی شي ماته ثواب زما د امت

حَتَّى الْقَذَاةُ يُخْرِجُهَا الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ وَ

تر دې پورې چې د کندګۍ او د خاورې ثواب هم پيش کولې شي چې اوباسي يې سړی د جومات نه او

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۱۱ رقم الحديث: ٤٤٩، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۳٤٤ رقم الحديث: ۷۳۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

عُرِضَتْ عَلَيَّ ذُنُوبُ أُمَّتِي فَلَمْ أَرَ ذَنْبًا أَعْظَمَ مِنْ سُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ أَوْ
پيش کولی شي ما ته ګناه د امت زما نو نه بنکاري ما ته غټه ګناه چې يو کس يو سورت د قرآن کريم او يا
آيَةٍ أُوتِيهَا رَجُلٌ ثُمَّ نَسِيَهَا»[1].
يو آيت ياد کړي او بيا يې هير کړي.

توضيح: القذاة: قذاة جمع د **قذى** ده په سترګو کې معمولي شان خزله وي هغې ته قذات ويلی شي. (المرقات ۲/۴۲۲، الكاشف ۲/۲۸۴) يو شاعر وايي:

رَأَى خَلَقٍ حَيْثُ يَخْفَى مَكَانُهَا ❁ فَكَانَتْ قَذَى عَيْنَيْهِ حَتَّى تَجَلَّت

دې حديث کې دې طرف ته اشاره ده چې د جومات مثال د انسان د سترګې په شان دی، څنګه د انسان په سترګه کې ګند پريوتو سره تکليف وي او هغه ددې د لرې کيدو کوشش کوي، دغه رنګ د جومات روح ته هم د ګندګی د وجې نه تکليف وي چا چې د جومات څخه ګند ګي يعنې خزله لرې کړه ده باندې د الله تعالی رحمت نازليږي. **ثم نسيها**: يعنې الله تعالی يو کس ته د قرآن کريم دولت ورکړي قرآن کريم يې ياد کړو يا يوه حصه يې ياده کړه بيا يې ددې قرآن ناشکري وکړه او هير يې کړو دا ډيره لويه ګناه ده. دظاهر حديث نه دا معلوميږي قرآن کريم يې يادولو نه پس بيا هير کړو او اوس يې په يادو باندې نه شي ويلی بعضې علماء ددې ګناه تعلق هغه صورت سره ښودلی دی چې دا سی يې هير کړي چې قرآن کريم په کتو هم نه شي ويلې. (المرقات ۲/۴۲۳).

﴿۳۱﴾ وَ عَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : بَشِّرِ الْمَشَّائِينَ فِي
د حضرت بريده نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي زيری ورکړه هغه تلونکو خلکو ته په
الظُّلَمِ إِلَى الْمَسَاجِدِ بِالنُّورِ التَّامِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ .[2]
تيارو کې جوماتونو ته په پوره رڼا سره د قيامت په ورځ باندې.
﴿۳۲﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: "إِذَا رَأَيْتُمُ
د حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: کله چې تاسو ګورئ يو

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۳۱۶ رقم الحديث :۳۶۱ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۵/۱۶۳، رقم الحديث :۲۹۱۶.

(۲) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۳۷۹ رقم الحديث : ۵۶۱ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۱/۴۳۵، رقم الحديث :۲۲۳.

الرَّجُلَ يَتَعَاهَدُ الْمَسْجِدَ فَاشْهَدُوا لَهُ بِالْإِيمَانِ فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى يَقُولُ:
کس دجومات خیال ساتلو باندې نوکواهي ورکړئ ده ته په ایمان سره ځکه چې الله تعالی فرمایي: ترجمه:
﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾. (سورة التوبة آیت: ۱۸) (۱)
بیشکه آبادوي جوماتونه د الله تعالی هغه څوک چې په الله تعالی او د قیامت په ورځ ایمان لري.

توضیح: یتعاهد المسجد: تعاهد باب **تفاعل** نه دخدمت او خیال ساتلو په معنی دی، مطلب دا دی چې تاسو یو کس وګورئ چې د الله تعالی د کور خیال ساتي د هغې حفاظت کوي جوړوي یې، د صفائي او خوشبو خیال یې ساتي، درنا انتظام په کې کوي، هغې کې کیني او عبادت په کې کوي، ذکر الله کې مشغول وي، تاسو ګواهي ورکړئ چې دغه کس مؤمن او ایمان والا دی او الله تعالی او د رسول ﷺ حکم منونکی دی، ځکه چې د قرآن کریم دا ګواهي ده، ددې بالعکس کوم کس چې د جومات سره تعلق نه ساتي، د هغې طرف ته ګوري هم نه، دده د ایمان ګواهي نه شي ورکولی. (المرقات ۲/۴۲۵).

لطیفه: یو بې دینه کس خپل دیندار ځوی ته وایي: زه چې لونبوته ګورم نو ماته په لونبو کې لوټه بده ښکاري او په کپړو کې مصلی ښه نه ښکاري او ځایونو کې جومات او په انسانانو کې ملاسړی ښه نه ښکاري ځوی ورته وویل چې تاکې خوتول علامات د جهنمي دي مخکې معلومه نه ده چې څه به کیږي.

ددې امت سیر و سیاحت جهاد دی

﴿۳۳﴾ وَ عَنْ عُثْمَانَ بن مَظْعُون قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ائْذَنْ لَنَا
د حضرت عثمان بن مظعون رضی الله عنه نه روایت دی وایي چې: یارسول الله ﷺ! ماته اجازت وکړه
فِي الِاخْتِصَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ
د خصي کیدو (چې زنا کې اخته نه شم) نبي علیه السلام وفرمایل: هغه کس زمونږ څخه نه دی چې څوک
خَصَى وَلَا اخْتَصَى إِنَّ خِصَاءَ أُمَّتِي الصِّيَامُ».
بل خصي کړي یا په خپله ځان خصي کړي بلکې زما امت د پاره خصي کیدل روژې نیول دي (ځکه چې روژې
فَقَالَ ائْذَنْ لَنَا فِي السِّيَاحَةِ.
نیولو سره شهوت ختمیږي) حضرت عثمان بن مظعون رضی الله عنه وویل بیا ماته د سیر و سیاحت اجازت راکړه

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱٤/۱، رقم الحديث: ۲٦۱۷، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۲٦۳/۱ رقم الحديث: ۸۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ : « إِنْ سِيَاحَةَ أُمَّتِي الْجِهَادُ فِي سَبِيْلِ اللهِ ». فَقَالَ :
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : زما د امت سياحت جهاد دی د الله تعالى په لاره كې، هغوی بيا وويل: صحيح ده.
ائْذَنْ لَنَا فِي التَّرَهُّبِ . فَقَالَ : « إِنَّ تَرَهُّبَ أُمَّتِي الْجُلُوس فِي
بيا ما ته د راهب جوړيد و اجازت راكړه، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : راهب جوړيدل زما د امت ناسته ده په
الْمَسَاجِدِ اِنْتِظَارًا لِلصَّلَاةِ». (۱)
جوماتونو كې د مونځ كولو په انتظار كې.

توضيح: حضرت عثمان بن معظون رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جليل القدر صحابي دی مكه مكرمه كې په اسلام قبلولو كې څوارلسم نمبر مسلمان دی، د حبشې هجرت يې وكړو، بيا د مدينې منورې د هجرت څخه سرفراز شو، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورسره د زړه محبت وو، مهاجرينو كې ډومبی مسلمان دی، په مدينه منوره كې (سنه ۲ هـ) كې وفات شوی دی، جنت البقيع كې د ټولو نه مخكې دا صحابي مدفون دی، ددې د مرګ نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده د تندي مبارک نه چپه اخيستې وه او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ستركو اوبنكې مبارکې ددې په تندي باندې پريوتې، او ددې په قبر باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله يو درونده كانې نصب كړاووې فرمايل چې زما د خاندان خلک به ده سره دفن كولی شي (**فرضي الله عنه وعن جميع الصحابة**) (**المرقات ۲/٤۲٥**).

في الاختصاء: اختصاء نزع الخصيتين يعنې د خپل ځان د خصي كولو په معنی كې دی، يعنې د انساني شهوت مركز خصيتين دي، چې كله دا ختم شي، د خواهشاتو او شهواتو جړه ختمه شي، ددې صحابي دا مقصد وو، چې داسې طريقه اختيار كړي، چې د دنيا لذتونو د نفس خواهشاتو څخه جدا شي او د خپل رب عبادت او خوشحالۍ كې مشغول وي، د ټولو نه مخكې هغوئ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اجازت وغوښتو، چې دا خپل عضو قوت مكمل ختمول غواړي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې غير فطري فعل ارتكاب څخه منع كړو او ددې نه د بچ كيدو آسان علاج يې ورته وښودو، چې تاسو ډيرې روژې نيسئ، ځكه چې روژې شهوت ختموي او شيطاني وسوسې او خواهشات لرې كوي او د تعلق مع الله ښه جذبات پيدا كوي.

ليس منا من خصى: خصى دويم كس خصي كول او اختصاء خپل ځان خصي كولو په معنی كې دي.

---

(۱) رواه في شرح السنة ۲/۲۷۰ رقم الحديث : ٤۸٤.

سوال: دلته دا اشكال دي آيا د دې عمل د ارتكاب په وجه سړی د اسلام څخه نه وځي د اهل السنة والجماعت په نزد باندې د ګناه كبيره په ارتكاب سره سړی نه كافر كېږي. (**ليس منا**) يعنې زمونږ څخه نه دی د دې څه مطلب دی؟

جواب: د دارنګه سوال او جواب توضيحات جلد اول كې ليكلي دي، خلاصه دا چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فرمان مطلب دا دی، داسې كس د دې خاص فعل د ارتكاب څخه د مسلمانانو په طريقه نه دی، د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طريقه باندې نه دی، د دې مطلب دا نه دی چې د اسلام څخه خارج شو يا دا كلام د اسلوب حكيم طور باندې وو، حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل داسې كس زمونږ څخه نه دی، هغه دومره متاثره شي، چې كله به هم دغه فعل او عمل ته نيږدې كېږي نه.

خصي جوړيدل او جوړولو حكم: حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ اولاد لره وړوكی وي او كه لوی وي خصي جوړيدل حرام دي، د انسانانو نه علاوه د ځناورو متعلق هم علامه قرطبي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: **انه ممنوع في الحيوان الا لمنفعة حاصلة في ذلک كتطيب اللحم او قطع ضر عنه**، علامه نووي شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي ځناور غير ماكول اللحم خصي كول مطلقاً حرام دي او چې كوم ځناور ماكول اللحم وي په دې كې واړه ځناور خصي كول جائز دي او غټ ځناور جائز نه دي. (فتح الملهم)

ائمه احناف د ځناورو خصي كول جائز ليكلي دي، خو مزيد تفصيلات نشته. حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي رَحِمَهُ اللّٰهُ فتاوی رشيديه (ص ۴۹۱) كې ليكلي: خصي كول د ټولو ځناورو د منفعت د وجې څخه يا ضرر دفع كولو د وجې صحيح دي. او د انسانانو خصي كول حرام دي.

في السياحة: حضرت عثمان بن مظعون رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د سير و سياحت اجازت وغوښتو، د دې مشعلې د وجې څخه چې نفساني خواهشاتو كې كموالی راشي او مقامي علاقو څخه لرې والی راشي. (المرقات ۲/۴۲۶).

د دې جواب كې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل زما د امت سير او تفريح او سياحت د جهاد عمل دی، ځكه چې مختلفو ملكونو كې جهاد د پاره تلونكي سير او تفريح مقصد په اعلی پيمانه باندې پوره كولی شي، او بې مقصده سفر هم نه دی، بلكې اعلی عبادت دی او د اعلاء كلمة الله او د اشاعة الدين د ټولو نه لويه ذريعه ده، يو حديث كې راغلي (**اغزوا تصحوا**) تاسو جهاد وكړئ صحت مند به ئې، دا هم دغه رنګ اشاره ده، غرونو، درو او وادیانو او صحرا و كې صحت مند آب و هوا او بدني ورزش څخه كامل صحت حاصليږي. **الترهيب**: راهب جوړيدل او د دنيا وي علاقو څخه يو طرف ته كيدل او ځانله والي اختيارولو ته رهبانيت ويلی شي، اسلام يو ښائسته مذهب دی، هغه ځانله والي او ګڼه كې دواړو ته حق ورکوي، ځكه چې دا دين فطرت دی، دې كې رهبانيت نشته دی، دلته د مونږ په انتظار كې ناسته

Maktaba Tul Ishaat.com

رهبانيت دی او يو بل حديث کې جهاد في سبيل الله ددې امت رهبانيت ګرځولی شوی دی.

الله تعالی په خوب کې ليدل

﴿۳٤﴾ وَعَنْ عبد الرَّحْمَن ابْنِ عَائِشٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَأَيْتُ رَبِّيَ عَزَّ وَجَلَّ

د حضرت عبد الرحمن ابن عائش رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: ما وليد وخپل رب

فِيْ أَحْسَنِ صُوْرَةٍ قَالَ : فَبِمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى؟

په ښائسته صورت کې الله تعالی زما څخه تپوس وکړو چې مقربې فرښتې کومې معاملې کې بحث کوي

قُلْتُ : أَنْتَ أَعْلَمُ قَالَ:

ماعرض وکړو: پروردګاره! تاسو ښه پوهيږئ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: (چې دا يې واوريدل) نو الله تعالی

فَوَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ فَوَجَدْتُ بَرْدَهَا بَيْنَ ثَدْيَيَّ

کيښود ولاس خپل زما د اوږو په مينځ کې چې يخوالی يې ما په خپلې سينه باندې محسوس کړو او دې

فَعَلِمْتُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَ الْأَرْضِ وَ تَلَا: ﴿ وَ كَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ

وجې نه زه د آسمان په ټولو څيزونو باندې پوه شوم بيا يې دا آيت مبارک ولوستو: دغه شان مونږ ابراهيم

مَلَكُوتَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِيْنَ﴾[1].

عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د ځمکې او آسمان تصرف ونښودو، چې د يقين والا خلکو کې شي.

و لِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوَهُ عَنْهُ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ

اوترمذي هم دا روايت (د ځينې الفاظو بدلون سره) د عبد الرحمن بن عائش رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

وَ مُعَاذِ بْنِ جَبَل وَ زَادَ فِيهِ : قَالَ:

او معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی او دې کې دا الفاظ زيات نقل کړي دي چې الله تعالی وفرمايل:

يَا مُحَمَّدُ ! ﴿ هَلْ تَدْرِي فِيمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى ؟ قُلْتُ:

ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! آياته پوهيږي چې مقربې فرښتې په څه کې بحث کوي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وايي ما عرض

---

(۱) أخرجه الدارمي في السنن ۲/۱۷۰ رقم الحديث : ۲۱٤۹.

نَعَمْ فِي الْكَفَّارَاتِ . وَ الْكَفَّارَاتُ : الْمُكْثُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ وَ

وکړو : آو ، د کفاراتو په باره کې خبرې کوي او کفارات انتظار دی په جومات کې د مونځونو نه پس او

الْمَشْيُ عَلَى الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ وَ إِبْلَاغِ الْوَضُوءِ فِي الْمَكَارِهِ

جماعت کولو د پاره پیدل لاړشي ، او د اودس اوبه په ښې طریقې سره ورسوي د سختۍ په وخت کې نو

فَمَنْ فَعَلَ ذَلِكَ عَاشَ بِخَيْرٍ وَ مَاتَ بِخَيْرٍ وَ كَانَ مِنْ خَطِيئَتِهِ

چا چې دا وکړه نو په نیکیو باندې ژوندی پاتې شو او په نیکیو باندې به مري او د ګناهونو نه به داسې پاک

كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ وَ قَالَ : يَا مُحَمَّدُ!

شي په شان د هغه ورځې چې دمور نه پیدا شوی وي او الله تعالی وفرمایل : ای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! چې

إِذَا صَلَّيْتَ فَقُلِ : اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَ تَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَ

مونځ څخه فارغ یې نو دا دعا وایه: ای الله! زه سوال کوم د تاسو نه د نیکیو کولو او د ګناهونو پریښودو او

حُبَّ الْمَسَاكِينِ وَ إِذَا أَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِي

د مساکینو سره د دوستۍ کولو او چې کله تاسو اراده وکړي په بندګانو کې د فتنې اچولو نو ما قبض کړه

إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُونٍ . قَالَ : وَ الدَّرَجَاتُ :

ځان ته په غیر د ګناه نه الله تعالی (د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په تعلیم کې د اضافت د پاره) فرمایي چې درجات دادي:

إِفْشَاءُ السَّلَامِ وَ إِطْعَامُ الطَّعَامِ وَ الصَّلَاةُ بِاللَّيْلِ وَ النَّاسُ نِيَامٌ. وَ

د سلام عام کول ، نورو ته خوراک ورکول او مونځ کول د شپې په داسې حصه کې چې خلک ویده وي او

لَفْظُ هٰذَا الْحَدِيثِ كَمَا فِي الْمَصَابِيحِ لَمْ أَجِدْهُ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ إِلَّا فِي شَرْحِ السُّنَّةِ.

الفاظ د دې حدیث لکه څنګه چې په مصابیح کې دي مانه دي لیدلې د عبد الرحمن نه مګر په شرح السنة کې

توضیح: رایت ربي: ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمایي که دا د خوب واقعه وي، چې پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الله تعالی په خوب کې لیدلی دی دې کې هیڅ اشکال نشته دی. او د طبراني یو روایت دې باندې دلالت کوي ظاهره دا ده چې د خوب واقعه ده. (المرقات ۲/۴۲۷).

او که چیرته داد بیداری واقعه وي، د مسند احمد دیو روایت څخه معلومیږي، بیا په دې کې تاویل کولی شي او هغه داسې چې مونږ د حدیث په ظاهر الفاظو ایمان لرو او ددې په حقیقي ادراک کې نه ځو، الله تعالی چې خپل رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته څه ښائي مونږ صرف دا وایو چې دا د الله تعالی لوی شان دی

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغې ايمان راوړو او کيفياتو کې نه ځو ،څنګه چې امام مالک رَحِمَهُ ٱللَّهُ د استوا عرش متعلق فرمايي:

(الاستواء معلوم والكيفية مجهولة والسوال منه بدعة)

في احسن صورة: دې متعلق هم سلف صالحينو رائی خپله کړې ده، يعنې (مايليق بشانه) داغوره ده او که احسن صورة د رائيت د فاعل نه حال شي، بيا د تاويل ضرورت نشته دی، يعنې پيغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې ما خپل رب ليدلی دی، او زه په داسې حال کې ووم، د خوش طبعۍ او بهترين حالت اوصورت کې وم. **يختصم:** د جهګړې په معنی کې دی، دلته مراد دا دی د عالم بالا فرښتې چې د کومو اعمالو په فضيلت او کې متعلق بحث کوي، يا د کومو اعمالو په قبوليت کې يو بل څخه مخکې کېږي، اوله معنی ډيره واضح ده.

فوضع كفه: دې لفظ کې هم تاويل داسې دی (**مايليق بشانه**) يعنې چې کوم د الله تعالی د شان سره مناسب دی ، همدارنګې الله تعالی د پيغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوږو په مينځ کې لاس کيښود و ددې د پاره چې د ملا الاعلی انکشاف تام او پوره شي ، حالانکې د فيض رباني يخوالی د پيغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله قلب اطهر او سينه منوره کې محسوس کړو او انکشاف تام شو.

الملاالاعلى: د يو قوم د اشرافو جماعت ته ملا ويل کېږي، ځکه چې دده د وجې څخه محفل ډک کېږي يا دې ته کتلو کې سترګې ډکې شي يا د رعب د وجې څخه زړه ډک شي.

فعلمت ما بين السموات: دغه فيض رباني د انکشاف تام کيدو د وجې څخه زه د ځمکې او آسمان تولو څيزونو باندې پوهه شوم او د عالم بالا د بحث جواب مې ورکړو، دا خبره ياد ساتئ چې دا انکشاف تام دائمي طور باندې حاصل نه وو، چې ددې نه دا مسئله راوباسي، چې پيغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ما کان او مايکون حاصل شو ، داسی عقيده ساتلو سره ډيرې غلط فهمياني پيدا کېږي او د قرآن کريم ډير آياتونه به بيا منسوخ شي، چې په دې آيتونو کې ښکاره د علم غيب نفې ده، الله تعالی فرمايي : ﴿قُل لاَّ يَعْلَمُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ الْغَيْبَ إِلاَّ اللهُ﴾ (سورة نمل آيت:٦٥) او بل ﴿وَلَوْ كُنتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لاَسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ﴾ (اعراف آيت:١٨٨)همدارنګې دې حديث ته محدثينو مرسل ويلی دی ځکه چې عبد الرحمن بن عائش رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ صحابي نه دی او روايت د پيغمبر صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نقل کوي، او دده نه صرف دا يو روايت منقول دی: (**البخاري عبدالرحمن حضر مي له حديث واحد الا انهم يضطربون فيه**) (**كذا في التعليق الفصيح**) **وقال البيهقي قد روى بطرق كلها ضعاف**) دا روايت دې سند سره داسې دی، خو دا روايت حضرت معاذ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ څخه تفصيل سره رانقل دی، چې

امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ په خپل مسند کې نقل کړی دی، همدارنګې امام ترمذي رَحِمَهُ اللَّهُ هم نقل کړی دی او ويلي يې دي، چې دا حديث حسن او صحيح دی، بيا فرمايي ما د امام بخاري څخه دې حديث په باره کې تپوس وکړو وې فرمايل دا حديث حسن او صحيح دی. خلاصه دا شوه، چې دا حديث صحيح دی خو انکشاف وقتي طور وو دائمي نه دی، چې د قرآن کريم او حديث په منځ کې تعارض رانه شي.

وتلا: ددې فعل په ضمير فاعل جوړيدو کې دوه احتماله دي، که ضمير الله تعالى طرف ته راجع شي، نو بطور دليل الله تعالى ورته ويلي دي، چې مونږ څنګه ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته د ځمکې او آسمان د بادشاهت مشاهده ښودلې ده، دغه رنګ پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هم مونږ د دنيا عجائبات او احکاماتو مشاهده وښودله، يا که ضمير په خپله پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راجع شي، نو بيا پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بطور استشهاد دا آيت ويلى وو، د علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد دا احتمال ډير راجح دی.

وليكون من الموقنين: ددې جملې معطوف عليه مخذوف دی ديو د اصل عبارت ترجمه داسې ده: (مونږ ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته عالم ربوبيت او الوهيت وښودل، چې ددې په ذريعې سره زمونږ د ذات د وجود په باره کې دليل ونيسي او د يقين کونکو نه شي. انبياء کرام عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په خوب کې ليدل د احاديثو څخه ثابت دي، ددې انکار صرف انکار حديث دی، البته الله تعالى خوب کې ليدلو متعلق علماء ليکي دا صرف د خيال او د تسلي حصول وي، الله چا نه دی ليدلی چې په خوب کې يې وګوري، د پيغمبرانو ذ حليه ذکر احاديثو کې موجود دی، نو خوب کې ليدل يې هم په حقيقت باندې محمول دی، الله تعالى خوب کې ليدلو متعلق علامه نووي رَحِمَهُ اللَّهُ شرح مسلم کې ليکلي دي: **(قال القاضي واتفق العلماء على جواز رؤية الله تعالى وصحتها فى المنام، وقال ابن الباقلانى رؤية الله تعالى في المنام خواطر في القلب وهي دلالات للرائى على امور كان او يكون كسائر المرئيات والله اعلم)** (حاشيه نووى، مسلم ج ۲ ص ۲۴۳) يعنې علامه ابن الباقلاني رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي الله تعالى خوب کې ليدل د ز[illegible] د تخيلاتو څخه يو تخيل او خيال دی، ذې څخه ليدونکي والا ته راتلونکي امور يا تير شوي امورو طرف ته اشاره ملاويږي، څنګه چې نورو خوبونو کې وي.

﴿۳۵﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ: «ثَلَاثَةٌ كُلُّهُمْ ضَامِنٌ
د ابو امامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت کړې دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه فرمايي: چې درې کسان داسې دي چې ضامن يې دی
عَلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ رَجُلٌ خَرَجَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ
الله تعالى: يو هغه کس چې د الله په لاره کې وتلي وي د الله تعالى ذمه داري ده يا خو ورته (د شهادت)

Maktaba Tul Ishaat.com

حَقَّى يَتَوَفَّاهُ فَيُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ يَرُدُّهُ بِمَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ أَوْ غَنِيْمَةٍ وَ
مرګ ورکړي چې جنت ته يې داخل کړي ، يا ورته ثواب او مال غنيمت ورکړي او کور ته راشي ، او دويم
رَجُلٌ رَاحَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ
هغه کس دی چې هغه (د مونځ د پاره) جومات ته لاړ شي ، الله تعالی د هغه ضامن دی (د عبادت د پاره د
وَ رَجُلٌ دَخَلَ بَيْتَهُ بِسَلَامٍ
ده کوشش او ثواب نه ضائع کوي) ، او دريم کس هغه دی چې خپل کور ته داخل شي نو سلام کوي نو دا
فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللهِ ». (۱).
هم د الله تعالی په ذمه داری کې دی.

توضيح: ضامن على الله : شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې ليکلي چې **ضامن** مضمون په معنی کې دی، لکه څنګه چې **افق** د مدفوق په معنی کې دی او **عاصم** د **معصوم** په معنی کې د مضمون په مفهوم کې د وجوب معنی پرته ده ، مطلب دا چې د دريو واړو حفاظت او ذمه داري الله تعالی خپلې ريښتينې وعدې د لاندې خپل ځان باندې واجب کړې چې دري واړه د ضائع کيدو او د ضرر د نقصان څخه حفاظت ورکوي. (اشعة اللمعات ۳۵۹، المرقات ۲/۴۳۶).

شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ دا هم ليکي د ضامن معنی د نسبت د پاره هم کيدی شي ، يعنې (ذوضمان) څنګه چې لابن او تامر صيغې ذولبن او ذوتمر په معنی سره دي ، مطلب هغه دی کوم چې بره تير شو ، دې حديث کې دري قسمه خلک مراد دي ، دري افراد مراد نه دي ، بيا دري اقسامو کې د رومبی قسم ذمه داری تفصيلي ذکر يې ، چې د غه خلک شهداء شي جنت ته به داخليږي يا به يې غازي جوړ کړي کور ته به مال غنيمت او ثواب سره واپس راشي ، د دويم او دريم قسم خلکو تفصيل يې ځکه بيان نه کړو ، چې د دوی حالت او فضيلت واضح دی او ظاهر دی ، چې د دوی حيثيت مطابق دې ته ثواب ملاويږي.

دخل بيته بسلام : د دې جملې دوه مفهومه دي ، اول مفهوم دا چې کله دا کس کور ته داخل شي نو کور والاوته د سنت مطابق سلام وکړي د دې په بدله کې به الله تعالی د دوي او د کور والا و حفاظت کوي او دوي باندې برکت نازلوي. دويم مفهوم دا چې کله دا کس کور ته داخل شي او کور کې دخپلو کور والا و سره په سلامتی سره ناسته کول په ځان باندې لازم کړي او د کور نه ووځي ، چې د دوی د وجې

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۳/۱۶ رقم الحديث : ۲۴۹۴.

څخه چاته تکليف ونه رسي، دا مطلب لږ بعيد معلوميږي لمعات کې دواړه مفهومه مذکور دي.

د حج او مونځ ثواب او د علیین تحقیق:

﴿۳۶﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « مَنْ خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ

د حضرت ابوامامة نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي: چې يو کس جومات ته د کور نه ووځي

مُتَطَهِّرًا إِلَى صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْحَاجِّ الْمُحْرِمِ وَ مَنْ

په اودس کې د فرض مونځ اداء کولو د پاره نو دده اجر په شان د احرام تړونکي حج کوونکي دي او څوک

خَرَجَ إِلَى تَسْبِيحِ الضُّحَى لَا يُنْصِبُهُ إِلَّا إِيَّاهُ فَأَجْرُهُ كَأَجْرِ الْمُعْتَمِرِ

چې ووتو څانښت مونځ د پاره چې تکليف او چتونکی وو نو ددې اجر په شان د اجر د عمرې کوونکي دی

وَ صَلَاةٌ عَلَى إِثْرِ صَلَاةٍ لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا

اوځوک چې دیو مونځ نه پس دويم مونځ کوي اوددواړو مونځونو په مينځ کې بې کاره خبرې نه کول عمل

كِتَابٌ فِي عِلِّيِّينَ ».[1].

داسې دی، کوم چې علیین کې ليکلی کېږي.

توضيح: فاجره كاجر الحاج: يعنې يو مسلمان صحيح طريقې سره په کور کې اودس وکړي او فرض مونځ د پاره جومات ته لاړشي دده ثواب دومره لوی دی لکه حاجي ته چې د حج ثواب ملاويږي او دغه مونځ ګزار صرف څانښت مونځ د پاره جومات ته لاړشي ده ته د يوې عمرې هومره ثواب ملاويږي، فرض مونځ مشبه دی او حج مشبه به دی، دغه رنګه نفل مونځ د عمرې د پاره مشبه دی او عمره مشبه به ده ګويا چې فرض مونځ د حج په شان دی او نفل مونځ د عمرې په شان دی او طهارت د احرام په شان دی.

سوال: دلته يو سوال دی دا قسم احاديث په هر ځای کې ملاويږي، مونځ په خپل ځای د حج څخه عبادت کې افضل دی، او لوی عبادت دی، خو ثواب بقدر مشقت ملاويږي او حج کې مشقت ډير وي او بل په دې کې مالي قرباني هم ده، او د وخت قرباني هم ده، نو دواړه ثواب کې څنګه برابر وي.

جواب: ددې جواب شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې داسې ورکړی دی: (**هذا من باب الحاق الناقص بالكامل مبالغة في الترغيب وليس المراد التسوية من كل الوجوه**) يعنې دې تشبيه کې مکمل مساوات نشته صرف ترغيب کې تشبيه ده چې مونځ د حج په شان لوی عبادت دی، علامه تورپشتي

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲۶۸/۵، وأخرجه أبو داود في السنن ۳۷۷/۱ رقم الحديث : ۵۵۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

رَحِمَهُ اللّٰهُ ددې سوال یو جواب دا هم ورکړی چې ددې تشبیه مطلب دا دی چې مشبه یعنې د مونځ ثواب څو چند یعنې دوچنده ډیریږي دحج د ثواب برابر ګرځي، کوم چې غیر مضاعف وي یعنې دوچندنه وي. (المرقات ۲/۴۳۵).

علامه دویم جواب داورکړی دی داتشبیه مخصوص څیزکې ده عام احوالوکې نه ده مطلب داچې څنګه مونځ کونکی دمونځ دپاره جومات ته ځي د کور ته واپس کیدو پورې ورته ثواب ملاویږي، دغه رنګ یوحاجي دکور څخه وځي دکورواپس کیدوپورې ورته ثواب ملاویږي ګویادا صرف امتداد ثواب کې تشبیه ده، مساوات کې نه. بعضې علماء ددې جواب داسې ورکوي دعبادت یواصل ثواب وي اویو اضافي ثواب وي تشبیه اصل ثواب کې وي، اضافي ثواب کې نه وي ددې توجیه ذکر علامه طیبي رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپل شرح کې کړې ده. (المرقات ۴۳۳-۲/۴۳۴).

تسبیح الضحی: لفظ د تسبیح نوافلو د پاره استعمال شوی دی، ددې وجه تسمیه دا ده، څنګه چې فرض مونځ کې تسبیحات د نوافلو په درجه کې دي، دغه رنګ فرض مونځ څخه علاوه نور مونځونه د نوافلو په درجه کې دي، ځکه یې د تسبیح په لفظ سره یاد کړی دی. **الضحی**: د څانښت مونځ ته ویل کیږي ددې فضیلت او د جواز او عدم جواز بحث آئنده کې انشاء الله راځي. **کتاب فی العلیین ای عمل مکتوب فی دیوان الحفظة**، یعنې د کراما کاتبین خاص دفتر کې ثواب لیکلی کیږي ځینو ویلي دي چې علیین د ټولو نه عمده جنت نوم دی څنګه چې سجین د بدترین دوزخ نوم دی بعضو ویلي دي علیین د اوم اسمان د پاسه د یو ځای نوم دی. علامه تورپشتي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي ټولو نه راجح قول دا دی، چې علیین د خیر او نیکۍ د دفتر نوم دی، دې کې صلحاء او نیکو خلکو اعمال موجود دي. (المرقات ۲/۴۳۵).

﴿۳۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ

دحضرت ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي: کله چې تیریږئ د جنت په باغونو

فَارْتَعُوا » قِيلَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ ؟ قَالَ:

باندې نو هلته به میوه خورئ، تپوس ترې وشو یا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنت باغ چرته دی؟ وي فرمایل

« الْمَسَاجِدُ ». قُلْتُ: وَمَا الرَّتْعُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ؟ قَالَ:

جوماتونه د (جنت باغ دی) بیا تپوس وکړی شو، یا رسول الله میوه خوړل څه دي؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل:

« سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَ اللهُ أَكْبَرُ »[1].
سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اکبر جوماتونو کې ددې کلمو ورد کول میوه خوړل دي.

توضيح: رياض الجنة: روضة باغ ته ويلى كېږي دې نه مراد مساجد دي، دې ته د جنت باغ ځكه ويلى شي چې دې كې هغه اعمال كېږي، چې كوم جنت ته د تللو ذريعه جوړيږي. (المرقات ۲/۴۳۵).

الرتع: باغونو كې دښه مقاماتو سير او تفريح او دښه لذت والا ميوې خوړلو ته رتع ويلى كېږي چې كله هم مساجدو ته تشبيه دباغاتو سره وركړى شوه، نو دا استعاره ترشيحيه ده، ددې د پاره يې ميوه ثابت كړه، په دې حديث كې مسلمانانو ته ترغيب وركولى كېږي، چې په مساجدو كې په كثرت سره د الله تعالى ذكر كوئ، ځوك چې په دنيا كې جوماتونو كې اوسيږي هغه به قيامت كې په جنت كې اوسيږي. او وخت مه ضائع كوئ دېره فائده حاصل كړئ، څه وخت پس به دا موقع د لاس نه ووځي.

يو شاعر وايي:

تمتع من شميم عرار نجد ❁ فما بعد العشية من عرار

﴿۳۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَتَى الْمَسْجِدَ
د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي: څوك چې راشي جومات ته
لِشَيْءٍ فَهُوَ حَظُّهُ »[2].
(دين يا دنيا) د كار د پاره هغه ته به د هغې نه حصه ملاويږي.

توضيح: فهو حظه: يعنې كوم كس دځه مقصد د پاره جومات ته راشي هغه ته به د دغه مقصد ملاويږي، كه عبادت اوښو اعمالو او ښه مقاصدو د پاره راغلى وي د هغې ثواب به ورته ملاويږي او كه دريا او غلط مقاصدو د خوريدو او د دنيا وي اغراضو د پاره وي د هغې گناه به او چتوي جومات څومره مقدس ځاى ولې نه وي دې كې يو غلط عمل په نيک عمل نه بدليږي د احديث گوياد (**انما الاعمال بالنيات**) والاحديث د مضمون يوه حصه ده. (المرقات ۲/۴۳۷).

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ٥/٤٩٧ رقم الحديث: ٣٥٠٩.

(۲) أخرجه أبوداؤد في السنن ١/٣٢٠ رقم الحديث: ٤٧٢.

Maktaba Tul Ishaat.com

جومات ته د داخليدو دعاء

﴿۳۹﴾ وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْحُسَيْنِ عَنْ جَدَّتِهَا فَاطِمَةَ الْكُبْرَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ

حضرت فاطمه بنت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د خپلې نيا فاطمه كبرى نه روايت كوي فرمايي: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ وَقَالَ: «رَبِّ

جومات ته تشريف راوړونوپه نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې به يې درود او سلام وويلو او بيابه يې دا دعا وويله: رب

اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ» وَإِذَا خَرَجَ

اغفرلي ذنوبي وافتح لي ابواب رحمتک، او چې كله به جومات نه راوتلو نو بيابه يې په نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې

صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ وَقَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ فَضْلِكَ". رَوَاهُ

به يې درود سلام ولوستلو او دا دعاء به يې ويله: رب اغفرلي ذنوبي و افتح لي ابواب فضلک، دا روايت

التِّرْمِذِيُّ وَأَحْمَدُ وَابْنُ مَاجَهْ وَفِي رِوَايَتِهِمَا قَالَتْ:

ترمذي، احمد، ابن ماجه نقل كړی دی او د احمد په روايت كې دا الفاظ دي حضرت فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي

إِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَكَذَا إِذَا خَرَجَ قَالَ: «بِسْمِ

چې كله به نبي عَلَيْهِ السَّلَام جومات ته داخليدو او همدارنګې چې كله به راوتو نو دا الفاظ به يې ويل: په نوم

اللهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللهِ» بَدَلَ: صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ وَسَلَّمَ.

د الله سره داخليږم او راوځم او سلامتيا دې وي په رسول الله باندې، په ځای د صل علی محمد وسلم، امام

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ وَفَاطِمَةُ بِنْتُ الْحُسَيْنِ لَمْ تُدْرِكْ فَاطِمَةَ الْكُبْرَى[1].

ترمذي وايي د دې حديث سند متصل نه دی ځکه چې فاطمې بنت حسين نه ده موندلې زمانه د فاطمه كبرى.

توضيح: ابواب رحمتک: يو مسلمان چې جومات ته داخليدو په وخت كې د دنيا اغراضو او مقاصدو د پاره دننه تلی نه دي، بلكې صرف د عبادت او د الله تعالى د رضا د پاره ځي، ځكه دا په دې موقع كې ډير مناسبت لري چې انسان د الله تعالى نه د هغه د رحمتونو او بركتونو د فيضان سوال كوي، ځوک چې جومات نه بهر راوځي، نو بيا عام طور باندې بازارونو كې د حصول رزق كتلو د پاره كوشش كوي، نو په

(۱) أخرجه الترمذي ۱۲۷/۲ رقم الحديث: ۳۱٤، وأخرجه أحمد في المسند ۲۸۲/٦، وابن ماجه في السنن ۲۵۳/۱ رقم الحديث: ۷۷۱.

داسی وخت کې سړي د پاره داسې ویل په کار دي: **اللهم افتح لي ابواب فضلک**، ځکه چې دلته د فضل نه د حلاله روزي مراد ده، دې حدیث کې د جومات د دخول او خروج ټول آداب او جامع انداز سره ټولې دعاګانې بیان کړي دي، اګر چې دې حدیث کې انقطاع شته او حدیث متصل نه دی، ځکه چې د حضرت حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لور فاطمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دغه وخت پیدا شوې هم نه وه، چې حضرت فاطمة الزهرا وفات شوې وه، بلکې د حضرت فاطمة الزهرا وفات په وخت کې حضرت حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صرف د اتو (۸) کالو وو. (المرقات ۲/۴۳۷).

جومات کې حلقې جوړول، اشعارویل، اخیستل او خرڅول منع دي

﴿۴۰﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت عمرو بن شعیب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوي چې منع کړې ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

عَنْ تَنَاشُدِ الْأَشْعَارِ فِي الْمَسْجِدِ وَعَنِ الْبَيْعِ وَالِاشْتِرَاءِ فِيهِ وَأَنْ يَتَحَلَّقَ النَّاسُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

د اشعارو ویلو نه په جومات کې او د اخیستلو او خرڅولو نه په جومات کې او د حلقې جوړولو نه په ورځ د

قَبْلَ الصَّلَاةِ فِي الْمَسْجِدِ[1].

جمعې باندې مخکې د مونځ نه په جومات کې.

توضیح: تناشد الاشعار: **تناشد** باب **تفاعل** نه اشعار ویلو په معنی دی، یعنې جومات کې اشعار ویلو څخه منع فرمایلې ده، د اشعارو نه مراد قبیح او مذموم باطل عشقیه اشعار دي، حالانکې بنه اشعار حسان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسجد نبوي کې په منبر باندې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخکې ویلي دي او د مسلمانانو په جوماتونو کې تا حال ویلي کیږي، بنه مضمونونو والا اشعار خو بنه نصیحت وي، البته کوم اشعار باطلو د وجې چې عقائد فاسدیږي د هغې ویل منع دي، اګر چې د نعمت یو قسم ولې نه وي، ځکه چې جوماتونه د عبادت او ذکر الله د پاره جوړ دي، دې کې په دروغو او بې هوده اشعارو ګنجائش نشته، تفصیل راتلونکي **باب الشعر** کې به إن شاء الله راشي. (المرقات ۲/۴۳۸).

وعن البیع: جومات کې چې څنګه اخیستل او خرڅول منع او ناجائز دي، دغه رنګ جومات کې دنیاوي خبرې او بې مقصده قصې کول هم منع دي. فقها و لیکلي دي چې څوک د سنتو نه پس فرض کولو نه مخکې فضول خبرو کې مشغول شي د هغې سنت ضائع شو، بعضې وایي سنت دې دوباره

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۶۵۱ رقم الحديث: ۱۰۷۹، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۱۳۹، رقم الحديث: ۳۲۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړي، بعضې وايي د سنتو اعاده ضرور نه ده خو کوم ثواب چې وو هغه به اوس نه ملاويږي.

وان يتحلق: تحلق د حلقې جوړولو په معنی ده، ددې نه منع شوې ده، که هغه تعليم او تعلم او د علمي مذاکرې په غرض سره ولې نه وي، ځکه چې مونځ ځخه مخکې کوم خلک جومات ته راځي هغوی مونځ کولو ته راځي لهذا دغې خلکو له په سنت طريقې مطابق صف کې قبلې ته مخ کولو سره ناسته په کار ده او حلقې سره ناسته ددې منافي ده د ممانعت دويمه وجه دا ده، چې د جمعې مونځ ځان له لوی عمل دی، ترڅو پورې کس ددې ځخه فارغ نه وي دې ته په بل کار کې مشغوليدل نه دي په کار او حلقه په دې کار کې خلل اچول دي، ځکه دا منع ده، ددې دوو وجوهاتو د وجې ځخه د خطبې په وخت کې هم حلقه منع ده او د خطبې نه مخکې هم. دريمه وجه دا ده دا وخت د خطبې د اوريدو او د خاموش کيدو دی، نه د حلقې جوړيدو دا دريمه وجه د خطبې سره صرف خاص ده، دغه وخت کې حلقه جوړول او ناسته منع ده خو بعضې روايات و کې د جمعې ذکر نشته بلکې (**نهى عن الحلق قبل الصلوة**) الفاظ دي لهذا دا ممانعت د جمعې د وجې نه صرف نه دی، بلکې عامو مونځونو ځخه هم مخکې حلقې جوړول منع دي، کيدی شي د جمعې تصريح ځکه وي، چې په دغه ورځ حلقې ډيرې وي او په دغه ورځ خلک هم ډير وي، تبليغي جماعت خلکو له په دې سنت باندې د عمل کولو فکر په کار دی.

﴿٤١﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ
د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: چې کله تاسو وګورئ چې يو څوک په
يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ فَقُولُوا: لَا أَرْبَحَ اللهُ تِجَارَتَكَ. وَ
جومات کې په اخيستلو او خرڅولو باندې نوورته ووايي: الله تعالى دې ستا په سودا کې نفع ونه کړي او
إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ فِيهِ ضَالَّةً فَقُولُوا: لَارَدَّ اللهُ عَلَيْكَ". (١).
چې کله يو کس دورک شوي څيز اعلان وکړي نوورته ووايي الله تعالى دې ستا ورک شوی څيز پيدا نه کړي

توضيح: لا اربح الله تجارتک: مساجد د الله تعالى د ذکر او تلاوت او مونځ د پاره جوړ دي او څوک چې په مسجد کې دنياوي معاملات او تجارات کوي، نو دا د مسجد د جوړولو مقاصد او د مسجد تقدس ورانوي، ځکه شريعت د داسې قسمه کارونو اجازت نه ورکوي او دې سلسله کې پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بطور زجر او تشديد فرمايي، په مسجد کې دا قسمه معاملات کونکي ته وايه الله تعالى دې تاته په تجارت کې نفع او ګټه درنه کړي. (المرقات ٢/٤٤٠).

---

(١) أخرجه الترمذي في السنن ٣/٦١٠، رقم الحديث: ١٣٢١.

علماء ليکي د دې حديث الفاظو باندې عمل صرف په ژبه باندې وکړئ د زړه نه بد دعائي اراده مه کوئ او ممکن ده چې حقيقي بده دعا مراد وي، دا چې تجارت دې بې نفع پاتې نه شي نو په مستقبل کې مساجد د دغه دنياوي کارونو څخه پاک ساتئ.

لاردها الله: د حديث په دې جملې کې هم د بره جملې وضاحت په ډاګه کې پوهيدل په کار دي، د دې څخه مخکې حديث نمبر (۱۷) مکمل تفصيل سره ذکر شوی دی هلته يې وګورئ.

﴿۴۲﴾ وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ قَالَ : نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُسْتَقَادَ
د حضرت حکيم بن حزام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام منع فرمايلې ده د قصاص اخيستلو
فِي الْمَسْجِدِ وَأَنْ يُنْشَدَ فِيهِ الْأَشْعَارُ وَأَنْ تُقَامَ فِيهِ الْحُدُودُ.
نه په جومات کې او د اشعارو ويلو نه په جومات کې او د حدودو قائمولو نه په جومات کې.
رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ فِي سُنَنِهِ وَصَاحِبُ جَامِعِ الْأُصُولِ فِيهِ عَنْ حَكِيمٍ (۱)

توضيح: ان يستقاد: استقاد کې سين او تا د طلب د پاره ده، **اى بطلب القود والقود القصاص** يعنې قصاص اخستل او څوک په جومات کې د قصاص په شکل د قتلولو نه منع فرمايلې ده، د دې وجې نه چې جومات کې وينه غورځيږي، د دې وجې نه چې جومات د ناپاک کيدو خطره ده، د حديث مطلب دا نه دی چې ژبه باندې د قصاص مطالبه په جومات کې نه شي کولی. (المرقات ۲/۴۴۰).

وان تقام فيه الحدود: دا الفاظ په دې باندې دلالت کوي، چې عملي طور باندې په جومات کې قصاص نافذ کول نه دي په کار، همدارنګه دا آخري جمله د حديث اولې حصې نه پس تعميم بعد التخصيص طور باندې ذکر شوې ده، حدود څخه مراد ټول حدود دي، که د الله تعالى سره متعلق حقوق دي يا حقوق العباد سره متعلق دي، ځکه چې دې کې د جومات هم بې حرمتي ده، او دا خطره هم ده، چې د حدودو د نافذ کيدو سره جومات پليت شي، ابن ابی ليلى رحمه الله د جواز ويلي دي، خو دده قول شاذ دی، شرح السنة کې ليکلي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د واجب الحدود کس په باره کې فرمايي جومات نه يې بهر وباسئ، دغه رنګ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي (كذا في المرقات ۲/۴۴۰).

فيه عن حكيم: د مشکوة په دې روايت کې د حکيم بن حزام ذکر دی حزام په (حا) باندې کسره ده، دا د حکيم دپلار نوم دی صاحب جامع الاصول صرف حکيم ذکر کړی دی او ابن حزام لفظ يې نه دی لګولې،

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ٤/٦٢٩ رقم الحديث : ٤٤٩٠ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ممکن ده هغه حکیم بل وي، اګر چې ظاهر دغه دی حکیم څخه ابن حزام مراد دی. ځکه چې دغه صحابي دی، ددې نه علاوه حکیم بن معاویه دی ددې صحابي کیدو کې اختلاف دی. (کذا في اللمعات).

امام مسلم صحیح مسلم (جلد ۲، ص٦) کې لیکلي: **قال مسلم بن حجاج ولد حكيم بن حزام في جوف الكعبة وعاش مائة وعشرين سنة**، یعنې دې صحابي ته ډوه تاریخي نا اشنا واقعې حاصل دي، یوه داچې کعبې سره خوا کې پیدا شوی دی، معلومه شوه چې مولود کعبه صرف حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دی بلکې دغه زمانه کې یوې ښځې ته دماشوم پیدا کیدو پریشاني لاحق شوې وه، نو د کعبې په پناه کې به تلله، نو پیدا کیدو کې به اساني راتله خواه مخواه شیعه حضرات جشن مولود کعبه لمانځي. ددغه صحابي دویمه دا عجیبه خبره ده چې عمریې یوسلو شل کاله وودا ډیر اوږد عمر دی، ددې ذکر د تعجب څخه خالي نه دی.

﴿٤٣﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بن قُرَّةَ عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ هَاتَيْنِ الشَّجَرَتَيْنِ
حضرت معاویه بن قره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه روایت کوي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منع کړې ده د دغه دوو ونو
يَعْنِي الْبَصَلَ وَ الثُّومَ وَ قَالَ: «مَنْ أَكَلَهُمَا فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا».
یعنې پیاز او اوګې (د خوړلو) نه او فرمایي: چې دا څوک وخوري نو زمونږ جوماتونو ته دې نه راځي.
وَ قَالَ: «إِنْ كُنْتُمْ لَا بُدَّ آكِلِيهِمَا فَأَمِيتُوهُمَا طَبْخًا»[1].
او وې فرمایل او که تاسو یې خوړل لازمي کئ، نو بیا په کار ده چې بدبو یې ختمه کړئ.

توضیح: ابن قرة: معاویه تابعي دی او د پلار نوم یې قرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی (ق) مضموم او (را) مشدده ده، قرة بن ایاس بن هلال مزنی صحابي دی. (المرقات ۲/۴۴۱).

الشجرتين: دلته اشکال پیدا کېږي عام عرف کې شجره ونې ته ویل کېږي، حالانکې د پیاز او اوګې بوټې وي، ونه نه وي، ددې اشکال د لاندې شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لیکلي (فی الصراح) (**شجرہ هر چه ساق دارد از درخت و نبات**) یعنې د شجرې اطلاق هر هغه بوټي باندې کېږي کوم چې پنډی باندې ولاړ وي، که د ونې په شکل کې وي یا د بوټي شکل کې وي، لهذا د پیاز او اوګې په بوټو باندې د شجرې اطلاق صحیح دی.

---

(١) أخرجه أبوداؤد في السنن ٤/٢٧٢ رقم الحديث: ٣٨٢٧، وأخرجه أحمد في المسند ٤/١٩.

هاتين الشجرتين: كې دوو بوټو ته اشاره دهنيه ده، ممكن دی چې دا دواړه بوټي د خبرو مجلس كې موجود وو، په دې صورت كې به دا اشاره هسې وی، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي د پياز او اوګې په حكم كې مولی او ګندنه هم ده. (المرقات ۲/۴۴۱).

ولايقربن مسجدنا: د قرب مسجد ممانعت بطور مبالغه دی، جومات ته دننه تلل او غاړې ته تلل منع دي، ترڅو پورې چې بدبو موجوده وي، چې بدبويې ختمه شي بيا تلل جائز دي. او د ممانعت وجه دا ده چې جومات كې فرښتو ته تكليف رسي. معلومه شوه، چې فرښتې هر وخت جومات كې وي، كه انسان وي او كه نه وي.

مسجدنا: دې كې اشاره د ملت ټولو جوماتونو ته ده، حديث كې دې طرف ته هم اشاره ده، چې د دې دواړو خوړل هغه وخت منع دي، كله چې يو كس جومات ته تلل غواړي او كه جومات ته نه ځي بيا يې خوړل جائز دي، خو علماء ليكي د عوام الناس عامو اجتماعاتو ته تلل هم په دغه بدبو كې منع دي (كذا في المرقات) مزيد تفصيل مخكې حديث نمبر (۱۸) د لاندې وضاحت كې ملاحظه كړئ.

لابد: قاموس كې ليكي بد د باب تفعيل نه تبديداً تفريق او جدا په معنی كې دی (**لابد بمعنى لا فراق او لا محالة**) شو (**لا**) خبر مخذوف دی، يعني **اكلها** او دا جمله د كان اسم او خبر په منځ كې جمله معترضه ده او د كان خبر اكليهما دی.

اميتوها: د **اماتت** نه ازاله رائحه كريهه مراد دی، كه هغه پخيدو سره وي يا بلې طريقې سره وي، د پخيدو ذكر استعمال غالب طور باندې دی.

﴿٤٤﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدٌ إِلَّا الْمَقْبَرَةَ
د حضرت ابو سعيد نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: ځمكه ټوله جومات دی مګر د مقبرې
وَ الْحَمَّامَ». (۱)
او د حمام دا جومات نه دی.

توضيح: الارض كلها مسجد: دا د دې امت خصوصيت دی هرې پاكې ځمكې باندې مونځ كول جائز دي بلكې د بني اسرائيلو مونځ د جومات نه علاوه جائزنه وو او جومات كې هم بغير د جمعې نه مونځ جائز نه وو دي حديث كې وويلی شوچې بغير كراهيته د ځمكې په هره حصه باندې مونځ جائز دی. (اشعة

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۳۳۰ رقم الحديث: ۴۹۲، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۱۳۱ رقم الحديث: ۳۱۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

اللمعات ۳٦۲، المرقات ۲/۴۴۲).

المقبرة: دې لفظ کې باً باندې زبر، زير او پيش درې واړه ويلې شي، چرته چې مړي دفن کولی شي د هغوئ مقام ته مقبره ويلي شي، ځنګه چې قبرستان ورته ويلی شي، قبرستان کې مونځ ځکه مکروه دی چې هلته عموماً ګندګي او پليتي وي، ځکه چې مړو د اجسادو خاوره هلته خوره شوې وي، که قبرستان کې داسې ناپاکي نه وي او غاړې ته پاک ځای وي، نو هغه ځای کې مونځ کولو کې څه خبره نشته، خو بعضې علماء هغه طرف ته تلي دي، د حديث ظاهر ته په کتلو سره قبرستان کې مطلقاً مونځ کول مکروه دي او قبر طرف ته مخ کول خو بالکل حرام دي، تفصيل حديث نمبر (۲۳) کې مخکې تير شوی دی.

والحمام: حمام ته د ګرمو اوبو د وجې نه حمام ويلي شي، دې کې مونځ ځکه مکروه دی چې دې کې خلک بغير د کپړو کېږي، دويمه وجه دا ده، دغې کې شيطانان جمع شوي وي.

هغه مقامات چې هلته مونځ مکروه دی

﴿٤٥﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُصَلَّى فِيْ سَبْعَةِ مَوَاطِنَ:
دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ منع کړې په اووځايونو کې دمونځ کولونه
فِي الْمَزْبَلَةِ وَ الْمَجْزَرَةِ وَ الْمَقْبَرَةِ وَ قَارِعَةِ الطَّرِيقِ
(۱) په ديران کې (کوم ځای کې چې ګنداچولی شي) (۲) قصاب خانه کې (۳) مقبره کې (۴) دلارې مينځ
وَفِي الْحَمَّامِ وَفِي مَعَاطِنِ الْإِبِلِ وَفَوْقَ ظَهْرِ بَيْتِ اللهِ"[1].
کې (۵) حمام کې دننه (٦) داوښانو دتړلوځای کې (۷) د خانه کعبې په چت باندې.

توضيح: مواطن: د موطن جمع ده، د ځای او مقام په معنی دی، يعنې اووه ځايونه داسې دي، چې هلته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کولو نه منع فرمايلې ده، (الکاشف ۳۰۲) علماء دې ممانعت لره په کراهت باندې حمل کړی دی، په دې کې د علماوو اختلاف دی، چې کراهت تحريمي دی يا تنزيهي دی، د بعضو په نزد باندې تنزيهي دی، دا د خلاف اولی په معنی باندې دی، د بعضو علماو په نزد باندې تحريمي دی، مکروه تحريمي اقرب الی الحرام وي، او مکروه تنزيهي اقرب الی الحلال وي، علماو دا قاعده هم ليکلې چې چرته چې مکروه مطلق راشي هلته د مکروه څخه تحريمي مراد وي.

وفي مزبلة: مجمع البحار کې ليکي (مزبلة د ميم فتحې سره دی او (با) باندې درې واړه حرکات جائز

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱۷۷/۲ رقم الحديث : ۳٤٦، وأخرجه ابن ماجه في السنن ۲٤٦/۱ رقم الحديث :۷٤٦.

دي، د هغه مقام نوم دی کوم ځای کې چې ګندګي پریوځي، لکه څنګه چې ورته کوړه خانه ویلي شي زبل د باً کسرې سره سوتو ته ویلي شي او که زبر وویلي شي، نو بیا دا د هغې ځمکې نوم دی کومې کې چې سوتي اچولی شي، لکه څنګه چې فصل ته سوتې ورکولی شي.

المجزرة: دا هغه مقام دی چې هلته ځناور ذبح کېږي، لکه مذبح خانه ورته ویلي شي، دې دواړو ځایونو کې مونځ ځکه مکروه دی، چې دې کې ګندګي موجود وي او دا د مونځ د رفعت شان منافي ده، د مونځ عظمت د دې خبرې تقاضا کوي دی چې بالکل صفا او پاک ځای کې وشي.

قارعة الطريق: قارعه د ټکولو او وهلو په معنی کې ده، د خلکو د امدو رفت د وجې عامه لاره د خلکو خپو د لاندې وهلی شي، ځکه کولاو او منځ لارې ته قارعه ویلي شي، ځکه دې اعتبار سره الطریق طرف ته دا اضافت بیانیه دی. (المرقات ۲/۴۴۲)

ملاعلي قاري داسې لیکلي چې د لارې منځ کې ځکه مونځ منع دی چې د عامو خلکو د امدورفت د وجې څخه مونځ کې سوچ او ځانله والی نه وي، دویمه وجه دا ده چې عامو خلکو ته د دې څخه تکلیف وي، دریمه وجه دا ده چې بیا به خلک د مونځ ګزار مخې ته تیریږي هغه به هم ګناهګار وي او بې ځایه ودریدو والا به هم ګناهګار وي دا وجه ده که چرته یو کس صحرا کې په لاره باندې مونځ وکړي، نو بعضې علماء فرمایي چې جائز دی، ځکه هلته د خلکو آمدورفت نه وي، (کذا في المرقات)

معاطن الابل: د عطن جمع ده بعضو د معطن جمع ګرځولې ده، هغه ځای ته ویلي شي چې کوم ځای کې اوښ اوبه څکي اوآرام کوي هغه ځای ته هم ویلي شي چې اوښ د شپې وخت کې ټرلی شي، دغه ځای کې مونځ ځکه مکروه دی، چې دې کې عموم نجاست وي، که په داسی ځای کې بغیر د جائی نماز مونځ وکړونو مونځ یې فاسد دی. او که دری (سجاده) خوره کړې وي، نو مونځ مکروه کېږي دې ځایونو کې لازم بد بویي وي، دا بحث هغه وخت دی چې د اوښانو د ټرلو په ځای کې اوښان موجود نه وي، که موجود وي نو بیا مطلق مونځ مکروه دی ځکه چې اوښ یو وحشي ځناور دی او لکه د آسمان نه میتیازې کوي، لهذا د مونځ ګزار کپړې پاکې ساتل یا ځای پاک ساتل ممکن نه دي، لکه آینده حکم رائي.

فوق ظهر بيت الله: ظهر لفظ کې دې طرف ته اشاره ده، چې د بیت الله څخه کوم ځای اوچت وو هلته مونځ مکروه دی، لهذا کراهت خاص دی د بیت الله د بره ودریدلو سره او دا کراهت د بیت الله د آدابو او احترام د وجې څخه دی، معلومه شوه چې د بیت الله څخه بنکته آبادي کول د شریعت منشاء ده، الدین کله ادب د بیت الله څخه اوچته آبادي کول عرفاً بې ادبي ده.

دنهى رسول الله ﷺ الفاظو حيثيت: د امت علماوو کې دا یو بحث چلیږي، چې په دې کې کومه نهي راغلې ده دې دې حیثیت څه دی آیا دې ته حرام ویلي شي یا حلال یا بل څه. (المرقات ۲/۴۴۳).

Maktaba Tul Ishaat.com

د علماو يوه طبقه وايي ددې څخه مضلتاً فساد او ناجائز کيدو طرف ته اشاره ده. دويمه طبقه وايي فساد طرف ته اشاره نه ده، بلکې فساد نه کمې درجې طرف ته اشاره ده، دريمه طبقه وايي عبادت کې چې کله نهی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راشي، نو دا عدم جواز طرف ته اشاره ده، او که معاملاتو کې لفظ راشي، نو عدم جواز طرف ته اشاره نه ده، څلورمه طبقه دا ده که د نهې متعلق نفس فعل سره وي، لکه د اخترونو په ورځ روژه نيول عدم جواز طرف ته اشاره ده او که نهې نفس فعل سره متعلق نه وي. بلکې څه واسطې سره وي، لکه مغصوبه ځمکه باندې مونځ کول داسې صورت کې عدم جواز مراد نه دی، بلکې د کمې درجې مراد اخستل په کار دي، چې د کراهت درجه ده، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي مرقات کې دا قسم بحث کړی دی. خلاصه دا چې احاديثو کې د نهې تعلق کله حرام سره وي کله مکروه تحريمي سره او کله مکروه تنزيهي سره او خلاف اولی سره وي.

﴿٤٦﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَلُّوا فِي مَرَابِضِ الْغَنَمِ

د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي: مونځ کوئ د چيلو ترلو ځای

وَلَا تُصَلُّوا فِي أَعْطَانِ الْإِبِلِ». (۱).

(غوجل) کې او مونځ مه کوئ د اوښانو د ترلو ځای کې.

توضيح: مرابض: د **مربض** جمع ده، د چيلو ترلو ځای ته ويل کيږي. (الکاشف ۳۰۴، المرقات ۲/۴۳۴)

اعطان: معاطن اعطان، عطن، معطن يو څيز دی، د اوښانو غوجل ته ويل کيږي، د چيلو او اوښانو په غوجل کې شرعي حکم کې فرق ځکه دی، چې د اوښانو غوجل عام طور باندې نرم وي، نو ميتيازې جذب کوي او خوريږي. او د چيلو ځای عام طور باندې سخت وي، نو متيازې نه خوريږي، نو کوم ځای چې پاک وي هلته مونځ کولی شي، دويم فرق دا دی، اوښ يو وحشي ځناور دی د وحشت صورت هم دی، دې سره نزدې مونځ کول د خطرې وي، خشوع او خضوع کې فرق راځي، ځکه چې بعضې روايتو کې راغلي دي، چې اوښ د شيطانانو څخه دی، يو روايت کې دي د جناتو د جنس څخه پيدا دی. ددې الټه چيلی يو خاموش ځناور دی، دې کې د خطرې او پريشانۍ خبره نشته دی. دريم فرق دا دی چې اوښ د ډير بره څخه متيازې کوي دې سره د مونځ ګزار بدن او کپړې ناپاکې کيږي په چيلو کې داسې نشته دی. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ دې بحث څخه پس ليکلي دي حديث په ممانعت کې کوم علت دی هغه د نجاست موجود کيدل او نيږدې کيدل دي، نو مونځ هر هغه ځای کې کول منع دي، چې هلته نجاست وي

---

(۱) أخرجه مسند أحمد ۴۵۱/۲، أخرجه الترمذي ۱۸۰/۲، رقم الحديث: ۳۴۸، وأخرجه ابن ماجه ۲۵۲/۱ رقم الحديث: ۷۶۸.

او ځای پاک نه وي که داسی ځای کې مصلی هم خوره کړی نو بیا هم مونځ کول منع دي، دمرابض او معاطن تخصیص بطور مثال دی مقصود عام ناپاک او پاک ځایونو بیان دی (المرقات ۴۴۳-۲/۴۴۴)

زنانو د پاره قبرونو ته تلل څنګه دي

﴿٤٧﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَائِرَاتِ الْقُبُورِ

د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ لعنت وایي د قبرونو زیارت کونکو زنانو

وَ الْمُتَّخِذِينَ عَلَيْهَا الْمَسَاجِدَ وَ السُّرُجَ. (۱)

او قبرونو څخه جومات جوړولو والا او قبرونو باندې رڼا لګولو والا باندې.

توضیح: زائرات القبور: زائره زیارت کونکې ښځې ته ویل کیږي قبور د قبر جمع ده مراد قبرستان دی، په دې حدیث کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ښځو باندې لعنت لیږي څوک چې قبرستان ته لاړې شي اودقبرونوزیارت کوي (المرقات ۲/۴۴۴) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اسلام په شروع کې د قبرونو څخه منع فرمایلې وه، چې په امت کې د شرک دروازه کولا و نه شي، چې کله اسلام مضبوط شو او د شرک او توحید کې فرق معلوم شو، نو پیغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د قبرونو اجازت دی ارشاد په ذریعه وفرمایلو: **کنت نهیتکم عن زیارة القبور فزوروها فانها تذکر الآخرة**) (المرقات ۲/۴۴۴) اوس بحث په دې کې دی، چې د عام ممانعت څخه پس کوم اجازت راغلی آیا دا اجازت صرف سړو له دی یا زنانه هم په دې اجازت کې داخلې دي. بعضې علماء وایي دا اجازت دواړو د پاره دی څنګه چې سړو د پاره قبرستان ته تلل جائز دي، دغه شان زنانو ته هم قبرستان ته تلل جائز دي او بعضې علماء وایي د اجازت تعلق صرف سړو سره دی، د زنانو په حق کې د حدیث سابقه نهي او ممانعت اوس هم برقرار دی، وجه دا ده، چې زنانو د قبرونو د آدابو خیال نه شي ساتلی او نه په آدابو باندې پوهیږي، د کمزورې عقیدې د وجې څخه بدعت، او شرک کې مبتلا کیږي، ځکه قبرونو ته تلل د دوی د پاره مناسب نه دي زیر بحث حدیث واضح طور باندې ددغه علماوو تائید کوي.

مزید تفصیل داسی دی شاه اسحاق دهلوي رَحِمَهُ اللهُ تحقیق داسې دی صحیح او معتمد قول مطابق زنانو ته د قبرونو زیارت کول مکروه تحریمي دي، احناف فقهاء (مستملی) کتاب کې لیکي د قبرونو زیارت د سړو د پاره مستحب او زنانو د پاره مکروه دی. یو کتاب مجالس واعظیه کې ذکر دي د زنانو د

---

(۱) أخرجه مسند أحمد ۲۲۹/۱، وأخرجه أبو داود ۵۵۸/۳ رقم الحديث : ۳۲۳۶ ، وأخرجه الترمذي ۱۳۶/۲، رقم الحديث : ۳۲۰، وأخرجه ابن ماجه ۵۰۲/۱ رقم الحديث: ۱۵۷۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

پاره جائزنه دي چې قبرونو ته لاړې شي، حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبرونو ته تلونکي زنانو باندې لعنت ويلی

(نصاب الاحتساب) کتاب کې مذکور دي د ښځو قبرونو له تللو باندې جواز او عدم جواز په باره کې قاضي ابو زيد رَحِمَهُ اللّٰهُ څخه تپوس وشو، هغوی جواب ورکړو، جواز او عدم جواز په باره کې تپوس مه کوئ، بلکې دا تپوس وکړئ چې دوئ باندې چې لعنت وريږي هغه څومره مقدار دی، ياد ساتئ چې کله زنانه قبر ته د تللو اراده وکړي، د الله تعالی او فرښتو په لعنت کې ګرفتاري شي. او چې کله قبر له لاړې شي، نو هر طرف نه يې شيطان خپل ګرفت کې ونيسي او چې کله قبر ته ورسيږي د مړي روح پرې لعنت وايي او چې د قبر څخه واپس راځي، نو د الله تعالی په ګرفت کې راشي يو حديث کې راغلي: چې کومې زنانه مقبرې ته ځي، نو د اووه آسمانونو او اووه ځمکو فرښتې پرې لعنت وائي، هغه د الله تعالی په لعنت کې د قبرستان لاره وهي او څوک چې کور کې د ميت د پاره دعا ګانې کوي نو الله تعالی ورله د حج او د عمرې ثواب ورکوي، د حضرت سلمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ څخه يو حديث منقول دی يو ځلې پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې دروازې کې ولاړ وو، د بهر څخه حضرت فاطمة الزهرا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا راغله حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې تپوس وکړو د چرته نه راغلې حضرت فاطمة الزهرا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ورته وويل فلانی زنانه وفات شوې وه هلته تلې ووم، نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل د هغې قبر ته تللې وې؟ حضرت فاطمة الزهرا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا جواب ورکړو معاذ الله! آيا زه داسې عمل کولی شم، چې د هغې ممانعت په خپله حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه ما اوريدلی، حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل تا ښه کړي دي چې قبر ته نه يې تلې که ته د هغې قبر ته تلې وې، نو د جنت بوی به دې هم نه وی محسوس کړی. قاضي ثناء الله رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپل کتاب مالابدمنه کې ليکي: (که زيارت مرد را جائز است نه زنانه را) يعنې قبرونو له تللو د سړو د پاره جائز دی او زنانه وو ته د پاره ناجائز دی. (بحواله مظاهر حق جديد)

د ټولو تصريحاتو او ظاهر حديث څخه دا خبره واضحه شوه چې د زنانو تلل قبرونو ته منع دی په دې کې لوی مفاسد دي چې ښکاره دي، چې هلته چراغ (ډيوه) لګوي چې هسې اسراف دی په کې او مجوسيانو سره مشابهت دی او زنانه اور ته نزدې راوستل هم دي. دا خو د عامو قبرستانونو مسئله ده، نن سبا چې کوم مزارونه جوړ دي، هلته د زنانو تللو اجازت اسلام څه چې شريف سړې هم خپله زنانه د پريښودو تصور نه کوي، الله تعالی دې د سړو او زنانو د عقائدو حفاظت وفرمايي. (آمين)

د جمهورو علماو په نزد قبرونو ته تللو ممانعت څخه د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر مبارک متثنی دی، هغه قبر د ټولو د پاره د برکت او ثواب ذريعه ده.

د الله تعالى د انوارو اتو اويازره (۷۰۰۰۰) پردې

﴿٤٨﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ : إِنَّ حِبْرًا مِنَ الْيَهُودِ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت ابو امامة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې يو يهودي عالم د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه تپوس وکړو چې

أَيُّ الْبِقَاعِ خَيْرٌ ؟ فَسَكَتَ عَنْهُ وَ قَالَ : « أَسْكُتُ

ښه ځای کوم دی؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ده ته د جواب ورکولو نه خاموش شو او وې فرمايل : چې زه به خاموش يم

حَتّٰى يَجِيءَ جِبْرِيلُ » فَسَكَتَ وَ جَاءَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ

تر څو چې جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وي راغلې نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خاموش ؤ ، چې کله جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغې نو

فَسَأَلَ فَقَالَ : مَا الْمَسْؤُوْلُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ نه تپوس وکړو نو جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې زه نه يم پوه ډير د تا نه

وَ لٰكِنْ أَسْأَلُ رَبِّيَ تَبَارَكَ وَ تَعَالَى . ثُمَّ قَالَ جِبْرِيلُ : يَا مُحَمَّدُ

ليکن زه به په دې باره کې د الله تعالى نه تپوس وکړم بيا جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغې او وې فرمايل اى محمد

إِنِّي دَنَوْتُ مِنَ اللهِ دُنُوًّا مَا دَنَوْتُ مِنْهُ قَطّ.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! نن زه الله تعالى ته دومره نزدې شوى وم چې کله هم دومره نزدې شوى نه وم ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

قَالَ : وَ كَيْفَ كَانَ يَاجِبْرِيل ؟ قَالَ : كَانَ بَيْنِي وَ بَيْنَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ

وفرمايل: اى جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ څومره نزدې شوى وې؟ وې فرمايل زما او د الله تعالى په مينځ کې اويازره

حِجَابٍ مِنْ نُورٍ فَقَالَ شَرُّ الْبِقَاعِ أَسْوَاقُهَا وَ خَيْرُ الْبِقَاعِ مَسَاجِدُهَا .(۱)

پردې موجود وې او الله تعالى وفرمايل: چې بد ځايونه بازارونه دي او ښه مقامات مساجد دي.

توضيح: فسكت: يعنې د يهودي د سوال په جواب کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاموش پاتې شو او خپل طرف څخه يې جواب ورنکړو ، دا ددې خبرې دليل دی، چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د الله تعالى ربښتنې پيغمبر دی، او خپل طرف څخه يوه خبره هم نه کوي، ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى. إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحٰى﴾ که نه نو داسې مواقعو کې خاموش پاتې کيدل ډير ګران وو ، خاص کر چې غير مسلم د اسلام متعلق سوال کوي.

---

(۱) رواه ابن حبان في صحيحه عن ابن عمر.

Maktaba Tul Ishaat.com

فقال: يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زړه کې وفرمايل چې د جبرائيل امين پورې به خاموش يم.

فسكت: يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاموش شو. علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ د دې کلام دغه مطلب بيان کړی دی، شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ دا کلام د سائل د سوال جواب جوړ کړی دی، هغه داسی چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاموش شو، گويا چا سائل سوال وکړو، ای د الله رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاسو ولې خاموش کېږئ، گويا تاسو جواب ورکړو، چې **اسكت** يعني زه دې د پاره خاموش يم، چې جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام راشي او وحي راوړي، بعضو نسخو کې **اسكت** د امر صيغې سره دی، گويا پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل ځان ته حکم وکړو، چې جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَام د راتلو پورې خاموش شه. (المرقات ۴۴۵-۲/۴۴۶).

سبعون الف حجاب من نور: دا حجاب او پردې د مخلوق په اعتبار سره دي د الله تعالى نسبت سره نه دي، ځکه چې الله تعالى د پردو په احاطه کې نه دی مخلوق په دو کې دی مخلوق کې د فرښتو د پاره چې کومې پردې دي هغه د نور پردې دي، انسانانو د پاره چې کومې پردې دي هغه جسماني او ظلماني پردې دي، دا مثال داسې دی، لکه لمر ته مخامخ د رڼو پسه ستر گو باندې د خړوالي پرده وي، نو لمر ورته نه ښکاري او لمر په پرده کې نه دی. شيخ سعدي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي:

گر نه بيند بروز شپره چشم ❁ چشمه آفتاب را چه گناه

شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ ليکي چې د (نور) لفظ نه دې طرف ته اشاره ده، چې د فرښتو حجاب نوراني دی او هغه د الله تعالى د عظمت او جلال او د الله تعالى د صفات تقدس او جمال او کمال حجاب (يعني پرده) ده. (اشعة اللمعات ۳۶۳)

ځينې انسانانو د پاره دغه نوراني پرده وي او بعضو د پاره ظلماني او نفساني پرده وي او د هر قسم پردې انتهاء نه وي، دلته د ستر (پټيدو) ذکر تحديد د پاره نه دی، بلکې ډير والي د پاره دی، بعضې شارحينو ددې تفصيل داسې بيان کړی دی، د حجاب څخه مراد حسي يا مادي پرده نه ده، ځکه چې الله تعالى باندې پرده محيط نه وي، بلکې حجاب کنايه ده دي، د يو داسې مانع څخه چې ددې په موجودګي کې الله تعالى ته څوک نه شي کتلى، دا نوري حجاب د مادي او حسي حجاب په شان د رؤيت د الله تعالى څخه مانع دی د مخلوق د پاره، مثال په طور باندې د الله تعالى د انوار اتو يو پرده په سپوږمي باندې ده، نو اوس لمر کې څومره زور دی، څوک خو دی ورته وګوري چې پته ولږيږي چې څنګه کيفيت دی. دا قسم حديث توضيحات (جلد اول ص ۳۰ حديث نمبر ۱۳) د تقدير په بيان کې تير شوی دی هلته يې وګورئ.

شرالبقاع: سائل صرف د خيرالبقاع باره کې تپوس کړې ؤ ليکن په جواب کې د ښه او بد مقاماتو ذکر

وشوچې د رحمان نظام او د شيطان نظام پته ولږيږي، يو کې خير او دويم کې د شر اعمال دي، دې حديث کې مسلمانانو ته د اتعليم ملاؤ شوچې کوم کس ته مسئله معلومه نه وي نو دهغه کس نه دې تپوس وکړي چې چا ته مسئله معلومه وي او په هغې کې شرم نه کوي لکه څنګه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسئله جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته پريښوده او جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ په الله تعالى ته پريښوده او هلته نه جواب راغى.

رواه: صاحب مشكوة مقدمه د مشكوة کې بيان کړى دى، دې کتاب کې بعضې ځايونه ما بغير د حوالې نه پريښودې دي، ځکه چې ما ته د اصل کتاب حواله معلومه نه وه، چا ته چې هغه حوالې ملا و شي ودې ليکي، دغه ځای کې بياض او خالي ځای پريخودى شوى دى، وروسته بيا علماوو هلته حواله ليکلې ده، دلته په هغه مقاماتو کې دا رومبى ځای دى، راوه ابن حبان دى، دې شارحينو دلته بياض ذکر کړى دى، اګر چې مشكوة کې دغه ځای کې بياض نشته چرته يو کاتب به ډک کړى وي.

الْفَصْل الثَّالِث:

مسجد لوى دولت دى دې څخه فائده اوچته کړئ

﴿٤٩﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ جَاءَ
د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى، وايي چې: ما د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه اوريدلي دي څوک چې راغلو
مَسْجِدِيْ هٰذَا لَمْ يَأْتِه إِلَّا لِخَيْرٍ يَتَعَلَّمُهُ أَوْ يُعَلِّمُهُ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ
زما دې جومات ته په دې غرض راشي چې نيک کارونه زده کړي او يا يې وښائي نو دغه کس په منزله د
الْمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ وَ مَنْ جَاءَ لِغَيْرِ ذٰلِكَ فَهُوَ بِمَنْزِلَةِ الرَّجُلِ يَنْظُرُ
مجاهد في سبيل الله دى او څوک چې په دې غرض سره رانه شي نو دا د هغه کس په شان دى چې ګوري د
إِلَى مَتَاعِ غَيْرِهِ»[1].
نورو سامان ته (د حسرت په نظر).

توضيح: مسجدي هذا: اشاره مسجد نبوي طرف ته ده، د مسجد ذکر بطور مثال دى څه تخصيص مقصود نه دى، بلکې د ټولو مساجدو دا حکم دى البته د مسجد نبوي دا حکم او فضيلت په اتم او اکمل طريقې سره دى او باقي جوماتونه د دې تابع دي. (المرقات ۲/۴۴۸).

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في مقدمة سننه ۱/۸۲ رقم الحديث: ۲۲۷، والبيهقي في شعب الايمان ۲/۲۶۳ رقم الحديث: ۱۶۹۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

يتعلمه: د زدکړې او ښودنې تخصيص ددې وجې نه دی، چې دا عمل اعلی او افضل دی ورنه په دې کې هيڅ حصر نشته بلکې هر نيک عمل مثلاً مونځ، تلاوت، اعتکاف او ذکرالله د ټولو داسې حکم دی جهاد في سبيل الله ثواب دغه کس ته ملاويږي، اګر چې مجاهد نه جوړيږي، خو ثواب ورته د هغه ملاويږي.

لغير ذلک: دې کې عموم دی يعنې لغير الخير مطلقاً نه د تعليم تعلم د پاره راغلی دی او نه ذکرالله دپاره، بلکې خير او نيکی نه علاوه لوبو او د ګرځيدو د رغبت د پاره او د تماشې په غرض وي.

ينظر الى متاع غيره: دې څخه افسوس او ملامت کيدل بيا مقصود دی، چې يو محروم کس د خپل مال څخه خالي لاس ناست وي او د نورو مال ته د حرص په نظر باندې ګوري، خو صرف ګوري ورته څه ورته په لاس نه ورځي، دوچنده غم دی، نه يې تر څې د اخيستو طاقت لري او نه په کې صبر شته. (المرقات ۲/۴۴۸).

بعضو شارحينو دا مطلب ذکر کړی دی، چې د قيامت په ورځ باندې به دا محروم کس ثواب ګټلو والاو ته د حسرت او افسوس په نظر ګوري غيز د غم څخه به ورته بل هيڅ څيز نه ملاويږي (**الا ان قد ندمت ولم ينفع الندم**) داخو دهغه کس مثال دی چې څه نا څه غرض سره مسجد ته راغلی وو، او چا چې زندګی کې جومات طرف ته کتلي هم نه دي غلطی سره دده انجام څومره خطرناک وي او د مسلمان چې کوم سفر جنت طرف ته دی، دده د پاره ضروري دي چې تيريدل يې په جومات وي، که يو مسلمان دا غواړي چې زه د جومات خوله نه ګورم او مارکيټ نه به جنت ته لاړشم دا ناممکن دی ځکه چې مارکيټ څخه جنت ته لار نشته دی بلکې مارکيټ څخه جومات ته لار شته دی، مولانا صاحب سره به ملاويږی، دين باندې پوهيدل په کار دي، بيا به درته صحيح لاره آسانه شي او جنت ته به لاړ شي معلومه شوه چې جنت لوی دولت دی او مسلمانانو د پاره لوی نعمت اورحمت دی.

جومات کې دنياوي خبرې منع دي

﴿۵۰﴾ وَعَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ
د حسن بصري نه مرسلا روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايلي را به شي په خلکو باندې يو داسې وخت
يَكُونُ حَدِيثُهُمْ فِي مَسَاجِدِهِمْ فِي أَمْرِ دُنْيَاهُمْ . فَلَا تُجَالِسُوهُمْ فَلَيْسَ لِلّٰهِ
چې د دوي خبرې به په جوماتونو کې د دنيا خبرې وي نو تاسو د دوي سره مه کيناست ځکه چې نشته الله
فِيهِمْ حَاجَةٌ» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان .
تعالی ته د داسی خلکو حاجت او ضرورت .

توضيح: يأتي على الناس زمان: دې جملې نه اندازه کېږي چې په جومات کې داسې کارکول د قيامت د علاماتو نه دي او دې حديث کې اشاره هم شوې ده داسې زمانه به راځي (المرقات ۲/۴۴۹).
نن سبا دغه زمانه راغلې ده د خلکو فضول خبرې جومات کې کېږي صوبه سرحد، کشمير، ګلګت او ټولو يخو علاقو کې منکرات ډير موندلی کېږي، زما د اندازې مطابق د ټولو نه ډيرې خبرې رائوند کې کېږي، ما هلته کې ليدلي، چې خلک صفونو کې ولاړ وي او د امام تکبير په انتظار کې وي او خلک خبرې تيزې تيزې کوي، ټوله شپه مجمع جومات کې خوب کوي او ټوله ورځ يې بسترې په جومات کې خورې وي. راتلونکی حديث ډير واضح دی، چې مسجد کې دنياوي کلام کې ځومره ګناه ده، دې نه پس حديث نمبر (۵۲) کې علاج هم ښودلی دی، چې مسجد سره يو ځای خبرو د پاره خاص کړی وي، حالانکې هغه د صحابه و دور وو، د هغوئ او زمونږ خبرو کې ډير فرق دی. کاش رائوند کې دا اصلاح وشي، فتح القدير کې ابن الهمام ليکي: **الكلام المباح في المسجد مكروه يأكل الحسنات**، يعنې مباح کلام هم جومات کې مکروه دی د انسانانو نيکۍ خوري (چې کله د حد څخه ووځي) حاجة دا جمله د دې خبرې څخه کنايه ده، چې الله تعالی د داسې خلکو څخه بيزار دی. او د الله تعالی د رحمت څخه خارج دي، الله تعالی ته د دوي هيڅ ضرورت نشته، اګر چې عبادت د پاره حاضر دي. دا حديث په دې باندې دلالت کوي، چې په جومات کې دنياوي امورو خبرې کول مکروه دي، ډير زيات احاديث په دې باندې دلالت کوي دنياوي خبرو څخه مراد عبث او بې فائدې خبرې دي، فقهاء ليکي د سنتو نه پس که چا دنياوي خبرې وکړې د دې کس د سنتو ثواب ختميږي او که د دنياوي خبرو يوه يا دوه کلمې وي، نو هغه په دې کې داخل نه دي.

مسجد کې په اوچت آواز باندې خبرې کول منع دي

﴿۵۱﴾ وَ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ : كُنْتُ نَائِمًا فِي الْمَسْجِدِ فَحَصَبَنِيْ رَجُلٌ

د سائب بن يزيد رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې : زه په جومات کې ويده وم، يو کس زما ګکرۍ ته وهله

فَنَظَرْتُ فَإِذَا هُوَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَقَالَ اذْهَبْ فَأْتِنِي بِهٰذَيْنِ

ما چې وکتل هغه حضرت عمر رضي الله عنه ؤ نو وي وفرمايل ته لاړشه د غه دوه کسان زما خواته راوله (چې

فَجِئْتُهُ بِهِمَا فَقَالَ :

جومات کې يې په تيز آواز باندې خبرې کولې) ما هغوي راوغوښتل حضرت عمر رضي الله عنه هغوي نه تپوس

مِمَّنْ أَنْتُمَا أَوْ مِنْ أَيْنَ أَنْتُمَا قَالَا : مِنْ أَهْلِ الطَّائِفِ.

وکړو چې څوک يې تاسو يا يې وفرمايل د کوم ځای يې؟ هغوي جواب ورکړو مونږ د طائف اوسيدونکي

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ : لَوْ كُنْتُمَا مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ لَأَوْجَعْتُكُمَا
يو ،حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وفرمايل : كه تاسو د مدينې خلک وئ مابه تاسو ته سزا دركړې وې تاسو
تَرْفَعَانِ أَصْوَاتَكُمَا فِيْ مَسْجِدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[1].
په زوره زوره خبرې كوئ د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جومات كې.

توضيح: فحصبني: وړوكو كانو ته حصا ويل كېږي، يعني حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د وړو كانو په ذريعه ځان ته متوجه كولو د پاره په هغې ووهلم، ما وكتل نو عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وو.(المرقات ۲/۴۵۰،الكاشف ۲/۳۰۷)

ممن انتما: راوي ته شک دی چې عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كومه جمله استعمال كړې ده.

من اهل الطائف: د عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د هر دوو جملو جواب دې كې موجود دی.

لاوجعتكما: كه تاسو دبهر ميلمانه نه وئ اودمسجد نبوي دآدابو څخه ناخبرنه وئ مابه تاسوته سخته سزا دركړې وه خوعمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دمسافرت دوجې معاف كړل اوصرف دژبې وعيديې ورته واوروه.

ترفعان اصواتكما: دا جمله مستانفه ده د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ طرف څخه نوی كلام دی، فی مسجد رسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دې كلام كې د مسجد نبوي نور هم عظمت او رفعت او شرافت طرف ته اشاره ده، خصوصاً چې هلته حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آرام فرمايي، خپله روضه مباركه كې ژوندی ې اوداللہ تعالی فرمان دی: ﴿لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ﴾ (حجرات:۲) (كذا في المرقات) علامه نووي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: **يكره رفع الصوت في المسجد بالعلم وغيره**، يعني علمي مشغله وي يا نور داسې محفل وي په جومات كې په تيزآوازباندې خبرې كول مكروه دي،(المرقات ۲/۴۵۰).

ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ وايي: **سئل مالک عن رفع الصوت في المسجد بالعلم فقال لا خير فيه بعلم ولا بغيره ولقد ادركت الناس قديما يعيبون على مايكون بمجلسه وانا اكره ذلک والا ادری فيه خيرا.** (كذا في المرقات ۲/۴۵۰). ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ مرقات كې ليكي: دامام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ مذهب هم دا دی چې په مسجد كې آواز اوچتول مكروه دي ذكرالله ولې نه وي خومسجد كې درس و تدريس جائز دي بشرط ددې چې مونځ كونكوته څه تشويش نه وي(اذ مذهبه كراهة رفع الصوت في المسجد

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱/۵۶۰ رقم الحديث : ۴۷۰ .

ولو بالذكر الخ. (مرقات)

بهر حال په جومات كې تيز آواز باندې خبرې مكروه دي، اګر چې علمي مكالمه ولې نه وي، خو حد كې اوسيدل په كار دي.

دنياوي خبرو د پاره جومات څخه بهر ځای په كار دي

﴿۵۲﴾ وَ عَنْ مَالِك قَالَ : بَنٰى عُمَرُ رَحْبَةً فِيْ نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ تُسَمّٰى
امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د مسجد په يو طرف كې چوتره جوړه كړې وه ، د هغې نوم
الْبُطَيْحَاءَ وَ قَالَ مَنْ كَانَ يُرِيدُ أَنْ يَلْغَطَ أَوْ يُنْشِدَ شِعْرًا أَوْ يَرْفَعَ صَوْتَهُ
بطيحاء ؤ ، او خلكو ته به يې ويل كه څوك فضول خبرې كول غواړي يا اشعار ويل غواړي يا په تيز آواز
فَلْيَخْرُجْ إِلٰى هٰذِهِ الرَّحَبَةِ (۱) .
خبرې كول غواړي هغه ته په كار دي (چې د مسجد څخه ووځي) او دغه كوﻻ و ځای ته دې راشي.

توضيح: رحبة: مسجد نبوي سره يو كوﻻ و ميدان ته رحبه ويلى شوې ده او داسې رحبه عام كوﻻ و ځای اوصحرا ته ويلي شي ځكه يې **في ناحية المسجد** سره مقيد كړې ده، د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په دې ترتيب سره امت ته دا تعليم ملاويږي چې كله يو منكر څخه بچ كيدل مشكل وي (المرقات ۲/۴۵۱، الكاشف ۲/۳۰۸).

نوددې متبادل لاره اختيارول په كار دي، حالانكې خلك خبرې كوي او د مونځ په وخت كې جومات كې د يو ځای كيدو كوشش كوي، د دوئ اصلاح د پاره حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ متبادل لاره اختيار كړه چې مسجد نه بهر يو كوﻻ و ميدان د دنياوي خبرو د پاره جوړ كړى وو. نن سبا د صوبه سرحد يخو علاقو كې اكثر مسجد سره خواته مسافرخانې جوړوي او مقصد يې هم دا وي چې مسجد كې خبرې نه وي، ډيره فائده تري حاصليږي.

اللغط: داسې كلام ته ويلي شي، چې د هغې آواز اوريدلى شي، خو مطلب يې معلوم نه وي، **ينشد** شعراً څپل شعر وائي، يا د بل چا وايي، دواړو ته انشاد شعر ويلي شي، اشعارو څخه مراد خاص شعر نه وي، مطلقاً شعر مراد وي، اګر چې ابن حجر رَحِمَهُ اللّٰهُ مذموم اشعار مراد اخيستلي دي، خو ملا علي قاري رَحِمَهُ اللّٰهُ په دې رد كړى دى.

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۱۷۵ ، رقم الحديث : ۹۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

اويرفع صوته: ملاعلي قاري رَحِمَهُ اللهُ وايي : ولو بالذكر، يعني آواز اوچتول مسجد كې د ذكر سره هم مكروه دی.

قبلې طرف ته توكل منع دي

﴿٥٣﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُخَامَةً فِي الْقِبْلَةِ
دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (مسجد كې) قبلې طرف ته ګرنګ (خړينګ) وليدل نو
فَشَقَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ حَتَّى رُئِيَ فِي وَجهه
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ډير خفه شو تر دې چې د هغې اثر د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخ باندې راښكاره شو ، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ
فَقَامَ فَحَكَّهُ بِيَدِهِ فَقَالَ: « إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا
اودريدو اوپه خپل لاس مبارک باندې يې وګرولو اوګزاريې کړو اووې فرمايل تاسو کې چې څوک مونځ
قَامَ فِي صلَاته فَإِنَّمَا يُنَاجِيْ رَبَّهُ وَ إِنَّ رَبَّهُ بَيْنَهُ وَ بَيْنَ الْقِبْلَةِ
ته اودريږي د خپل رب سره خبرې کوي او دغه وخت دده پروردګار دده او قبلې ترمينځ وي هريو ته په
فَلَا يَبْزُقَنَّ أَحَدُكُمْ قِبَلَ قِبْلَتِهِ وَ لَكِنْ عَنْ يَسَارِهِ أَوْ تَحْتَ قَدَمِهِ » ثُمَّ
كار دي چې د قبلې طرف ته هرګز مه توكئ بلكې خپل ګس طرف يا د خپلو قدمونو لاندې توک كوئ بيا
أَخَذَ طَرَفَ رِدَائِهِ فَبَصَقَ فِيهِ ثُمَّ رَدَّ بَعْضَهُ عَلَى بَعْضٍ فَقَالَ: «أَوْ يَفعل هٰكَذَا» (١).
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خپل څادر طرف ونيولو او په هغې يې توک کړل او وې فرمايل : چې بيا داسې كوئ.

توضيح: نخامة: د لغت كتاب مغرب كې يې ليكلي **نخامه** او **نخاعة** د هغې څليبنتناک څيز نوم دی د زكام په وخت كې د خيشوم څخه راوځي. (الكاشف ٢/٣٠٨، المرقات ٢/٤٥١)

علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ وايي: نخاعه د هغه تهوک نوم دی چې د حلق آخري حصې څخه خارج كېږي، بهر حال د پوزې د دننه څخه چې كوم څليبنتناک څيز د پوزې په ذريعې سره راوځي هغې ته خراش ويلي شي او هغه څيز كوم چې د معدې څخه د حلق په ذريعې سرا راوځي، هغې ته بلغم ويلي كېږي. او كوم څيز چې خوله كې دننه پيدا شي او بهر راوځي هغه ته تهوک ويلی شي، نو نخامه او نخاعه د بلغم په معنی كې دي، خو خيشوم څخه بنكته حلق ته راشي يا معده څخه بره حلق ته راشي او د خراش او بلغم مصداق او فرق واضح دی، تجربه وايي چې توک او خراش اختياري څيز دی او بلغم لږ لږ غير اختياري راځي او

---

(١) أخرجه البخاري في صحيحه ١/٥٠٧ رقم الحديث :٤٠٥.

په ديوالونو باندې غورځولی شي. او د حديث مصداق غالباً بلغم دی.

فحک بيده: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپله بطور اکرام د مسجد څخه دغه څليبنتناک څيز په خپل لاس مبارک صاف کړو، کيدی شي بلغم وچ وو، يا په لاس کې يې څه څيز واخيستو او صفا يې کړو يا که چرته لوند وو او دا هم ممکن دی چې چاته يې حکم ورکړی وي چې صفا يې کړه، خو دا معنی بعيده ده.

يناجي ربه: يا ژبه باندې قرآت کوي يا زبان حال مناجات کې مشغول وي دا وجه ده مونځ يې د مؤمن معراج گرځولی دی. **بينه و بين القبلة:** يعنې الله تعالی ته دچې کوم کس مخامخ ودريږي، نو قبلې ته مخ کړې ده عبادت د خپل رب کوي او رب راضی کوي، ځکه د دغه بنده مقصود دده او قبلې په منځ کې ډنډ ځکه يې دا حکم ورکړو چې قبلې طرف ته مه توکه، دې سره د رب بې ادبي رائي، حالانکې چپ طرف ته توکه يا قدمونو لاندې توکه، په دې شرط چې مونځ جومات کې نه وي، ځکه مسجد کې يو ځای کې هم جائز نه دی، دا د صحرا او د مسجد څخه خارج مسئله ده، دې څخه دا ثابته شوه، که په مسجد کې د توکلو صورت کيف راشي نو صرف په خپلو کپړو باندې توک وکړئ اوبيا يې ومړئ صاف يې کړئ، دې ادب او احترام سره داخبره ثابته شوه چې د بيت الله ډير لوی احترام دی، چې د زرګونو ميله لرې دې طرف ته توکل منع دي، نو اودس ماتي کې خو بيا چا له هم اختلاف نه دی په کار، حالانکې بيت الله طرف ته خپې اوږدې کول هم مناسب نه دي، دا د آدب خلاف دی، پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تهول ژوند کې داسی ملاسته مبارکه کړې ده چې قدم مبارک يې بيت الله طرف ته نه دی راغلی، مسلمان د مرګ څخه پس هم قبلې طرف ته دفن کولی شي چې، د چا خپې بيت الله طرف ته نه راځي.

قبلې طرف ته توکلو والا امام د امامت څخه فارغ کړی شو:

﴿٥٤﴾ وَعَنِ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادٍ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَجُلًا أَمَّ قَوْمًا

حضرت سائب بن خلاد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو صحابي دی وې ويل يو کس امامت ورکولو قوم ته

فَبَصَقَ فِي الْقِبْلَةِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْظُرُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ فَرَغَ

او قبلې طرف ته يې لاړې تهوک کړي اتفاقاً نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه طرف ته کتل کله چې مونځ څخه فارغ شو نو

«لَا يُصَلِّي لَكُمْ». فَأَرَادَ بَعْدَ ذَلِكَ أَنْ يُصَلِّيَ لَهُمْ فَمَنَعُوهُ

مقتديانو ته يې ورته وويل چې آئنده به دا امام نه وي دغه کس چې بيا مونځ ورکول وغوښتل نو خلکو منع

وَأَخْبَرُوهُ بِقَوْلِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کړو او د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ارشاد يې ورته وويلو دغه کس د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شو او د واقعې

Maktaba Tul Ishaat.com

فَذَكَرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : نَعَمْ وَ حَسِبْتُ أَنَّهُ

ذكر يې ورته وكړو ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : آو (راوي وايي) چې زما خيال دى نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه كس ته

قَالَ: « إِنَّكَ قَدْ آذَيْتَ اللهَ وَ رَسُوْلَهُ »[1].

فرمايلي وو : چې تا الله تعالى ته او د الله رسول ته تكليف رسولى دى.

توضيح: رجل من اصحاب النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ددې تصريح ضرورت ځكه راغلو چې دا صحابي غير مشهور دى يا ددې صحابي كيدو كې اختلاف دى. (المرقات ۲/۴۵۳).

فذكر ذلك: يعنى كله چې د دغه كس په بې ادبۍ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خفه شو او په خپله يې دې سره خبرې ونه كړى، بلكې مقتديانو ته يې وفرمايل، چې دا كس به ستاسو امام نه وي، ځكه چې دا د امامت اهل نه دى، بيا يې چې كله مونځ ورکول وغوښتل نو خلكو منع كړو هغې د وجې تپوس وكړو خلكو ورته وويل دا پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حكم دى دا كس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خواته راغې او تپوس يې وكړو، چې تاسو واقعي زه د مونځ كولو څخه منع كړې يم، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل آو ما منع كړى ئې، نو د هغه د وجې تپوس وكړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل تا الله تعالى او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته تكليف رسولى دى، دغه رنګ يې امام د امامت څخه فارغ كړو.

وحسبت: دا د راوي خلاد بن سائب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كلام دى، يعنې زما خيال دى چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نعم څخه پس دا سخت كلمات هم ذكر كړي دي، دې سخت وعيد څخه پس د يو مسلمان د پاره مناسب او جائز نه دي چې قبلې طرف ته تهوک كوي، دې حديث كې لفظ د قبلې دى، دې نه جانب قبله ديوال مراد دى، محراب مراد نه دى، ځكه چې د محراب ايجاد حضرت عمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ اللهُ هغه وخت كې كړى دى، چې كله مسجد نبوي نوى تعمير شو. محراب ته موقف الامام هم ويلى شي، ځكه چې دې كې امام ودريږي او دا ټولو كې ښه ځاى وي، دا وجه ده د بادشاه محل ته هم محراب ويلي شي، هغه هم عمده او ښه ځاى وي او بادشاه ځان له په هغې كې اوسيږي، محراب ته ځكه محراب ويلي شي، چې امام په هغه ځاى كې شيطان سره جګړه كوي.

﴿۵۵﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ احْتَبَسَ عَنَّا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ عَنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ

د حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې : يو ورځ تاخير وكړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سحر مونځ ته

---

(۱) أخرجه أبوداؤد في السنن ۱/۲۲٤ رقم الحديث : ٤٨١.

حَقَّى كِدْنَا نَتَرَاءَىٰ عَيْنَ الشَّمْسِ فَخَرَجَ سَرِيْعًا فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ

راتللو باندې نږدې وه چې لمر راختلې وې دې وخت کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زر تشريف راوړو د مونځ دپاره تکبير

فَصَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ تَجَوَّزَ فِيْ صَلَاتِهِ فَلَمَّا سَلَّمَ

وشو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (صحابو سره) مونځ وکړو مونځ کې يې تخفيف وکړو نو هر کله چې يې سلام واړولو

دَعَا بِصَوْتِهِ فَقَالَ لَنَا عَلَى مَصَافِّكُمْ كَمَا أَنْتُمْ ثُمَّ

نو مونږ ته يې په تيز آواز وفرمايل: څنګه چې تاسو په خپل ځای ناست يې همدغه شان کينئ، بيا زمونږ

انْفَتَلَ إِلَيْنَا ثُمَّ قَالَ أَمَا إِنِّي سَأُحَدِّثُكُمْ مَا حَبَسَنِي عَنْكُمُ الْغَدَاةَ إِنِّي

طرف ته متوجه شو او وې فرمايل: خبردار! ننسحر مونځ کې ناوخته راتللو وجه بيانوم مانن شپه (تهجد

قُمْتُ مِنَ اللَّيْلِ فَتَوَضَّأْتُ وَ صَلَّيْتُ مَا قُدِّرَ لِيْ فَنَعَسْتُ فِيْ صَلَاتِيْ

مونځ دپاره) اودس وکړو او څومره چې زما په مقدر کې ووهغه مې وکړو اوپه مونځ کې ماته خوله وازې

حَتَّى اسْتَثْقَلْتُ فَإِذَا أَنَا بِرَبِّيْ تَبَارَكَ وَ تَعَالَى فِيْ أَحْسَنِ صُوْرَةٍ

راغې تر دې چې خوب په ما باندې غالب شو (دغه وخت) يو دم ما دخپل رب ښه صورت وليد والله تعالى

فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ قُلْتُ لَبَّيْكَ رَبِّ قَالَ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى قُلْتُ لَا أَدْرِيْ

وفرمايل (تاته پته شته) چې مقربې فرښتې کومه خبره کې بحث کوي ما عرض وکړو اى الله ماته پته نشته

قَالَهَا ثَلَاثًا قَالَ فَرَأَيْتُهُ

الله تعالى دري ځلې داو فرمايل (او ما دغه جواب ورکولو) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: ما وليدو چې الله تعالى

وَضَعَ كَفَّهُ بَيْنَ كَتِفَيَّ حَتَّى وَجَدْتُ بَرْدَ أَنَامِلِهِ بَيْنَ ثَدْيَيَّ

زما د ولو په مينځ کې لاس کيښود و تر دې چې ما د الله تعالى د ګوتو يخ والى په سينه کې محسوس کوو

فَتَجَلَّى لِيْ كُلُّ شَيْءٍ وَ عَرَفْتُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ

نو زما مخې ته هر څيز ظاهر شو او ما ته ولې خبرې وپيژندې بيا الله تعالى وفرمايل اى محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ!

قُلْتُ لَبَّيْكَ رَبِّ قَالَ فِيْمَ يَخْتَصِمُ الْمَلَأُ الْأَعْلَى

ما وويل: اى الله! زه حاضريم وې فرمايل (اوس وايه) مقربې فرښتې څه کې بحث کوي؟ ما عرض وکړو

Maktaba Tul Ishaat.com

قُلْتُ فِي الْكَفَّارَات قَالَ مَا هُنَّ قُلْتُ مَشْيُ الْأَقْدَامِ إِلَى الْجَمَاعَاتِ وَ

د کفاراتو په باره کې الله تعالی وفرمایل : هغه کوم څیزدی؟ ماعرض وکړو جماعتونو ته تلل اوراتلل او

الْجُلُوسُ فِي الْمَسَاجِدِ بَعْدَ الصَّلَوَاتِ وَ إِسْبَاغُ الْوَضُوءِ حِيْنَ الْكَرِيهَاتِ

جومات کې کیناستل وروسته د مونځونو نه ،او په سختۍ کې په ښه طریقې سره اودس کول ، الله تعالی

قَالَ ثُمَّ فِيْمَ ؟ قُلْتُ : فِي الدَّرَجَاتِ . قَالَ : وَمَا هُنَّ؟

وفرمایل : نور په کوم څیز کې بحث کوي ماعرض وکړو درجو په باره کې، وې فرمایل : هغه څه دي؟ ما

قُلْتُ إِطْعَامُ الطَّعَامِ وَ لِيْنُ الْكَلَامِ وَ الصَّلَاةُ بِاللَّيْلِ

عرض وکړو : غریبو او مساکینو ته روټۍ ورکول او په نرمه لهجه کې خبرې کول او مونځ کول د شپې په

وَ النَّاسُ نِيَامٌ . ثُمَّ قَالَ : سَلْ قُلْتُ

داسې حال کې چې خلک ویده وي بیا الله تعالی وفرمایل اوس ځان دپاره څه غواړې وغواړه مادعاوکړه

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَتَرْكَ الْمُنْكَرَاتِ وَحُبَّ الْمَسَاكِينِ وَأَنْ تَغْفِرَلِيْ

ای الله ! زه ستا نه د نیکۍ کولو او د معاصیو پریښودو او محبت د مسکینانو او مونږ ته مغفرت وکړې

وَ تَرْحَمَنِي وَ إِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةً فِيْ قَوْمٍ فَتَوَفَّنِيْ غَيْرَ مَفْتُوْنٍ أَسْأَلُكَ

او رحم وکړې او چې کله ته اراده وکړې د یو قوم د ګمراهۍ نو ما وفات کړې په غیر د ګمراهۍ نه زه سوال

حُبَّكَ وَ حُبَّ مَنْ يَحْبُكَ وَ حُبَّ عَمَلٍ

کوم د تانه د محبت ستا او د هغه کس محبت چې تاسره محبت کوي او د داسې عمل محبت چې ستا محبت

يُقَرِّبُنِي إِلَى حبك ". فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « إِنَّهَا حَقٌّ

ته سړی نزدې کړی بیا رسول الله ﷺ مونږ ته وفرمایل : چې دا خوب بالکل ریښتونې دی ،لهذا

فَادْرُسُوهَا ثُمَّ تَعَلَّمُوهَا ». (۱) وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ وَ

تاسو دایاد کړئ او بیا یې خلکو ته وښائي. امام ترمذي رحمه الله وایي چې دا حدیث حسن او صحیح دی او

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳۴۳/۵ رقم الحديث : ۳۲۳۵.

سَأَلْتُ مُحَمَّد ابْن إِسْمَاعِيل عَنْ هٰذَا الحَدِيْث فَقَالَ : هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ.

ما د محمد بن اسماعيل نه دې حديث په باره کې تپوس وکړو نو هغه وويل چې دا حديث صحيح دی.

توضيح: ددې حديث تشريح ددې نه مخکې حديث نمبر (۳۴) کې تيره شوې ده، هغه حديث کې دا احتمال وو، چې دا واقعه بيداری کې راغلې ده، خو دلته دې حديث کې تصريح ده دا واقعه د خوب ده، چې کله واقعه د خوب وي، نو بيا بريلوي حضرات دې روايت نه خپلو غلطو عقائدو ته ترويج نه شي ورکولی. يو ځلې يو بريلوي ته محمد شفيع اوکاړوي وويل نن زه ددې حديث غوښه حل کوم، حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راوتو کې ناوخته ولې کړو، بيا يې وويل حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خواته الله تعالى راغی حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ له تلو او الله تعالى حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کولو، وايي چې د چا مونځ له ځي هغه ستا سره دی. استغفرالله! د ناجوړه سوچ څنګه ناجوړه تشريح ده. (المرقات ۲/۴۵۵).

اُحْتُبِسَ: د مجهول صيغه ده يعنې اودرولی شو او د معلوم صيغه هم ده يعنې په خپله اودريدلو.

فثوب: د اقامت په معنی دي. **نترای**: يعنې دومره ناوخته شو چې مونږ کتل چې لمر خو نه دی راختلی.

فثُوِّبَ د مونځ د پاره اقامت کولو ته تثويب وايي. **تجوز**: يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَام مختصر مونځ ورکړ.

على مصافكم: مصاف صف ته ويلي شي، يعنې تاسو په خپل خپل صفونو کې په خپل ځای کينئ.

انها: يعنې دا خوب ربښتنې خوب دی **فادرسوها** يعنې دا زده کړئ، ښه پرې ځان پوهه کړئ او بيا يې خلکو ته وښايئ، **تعلموها** علامه قرطبی رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: دلته دې صيغه کې لام امر مخذوف دی: **ای لتعلموها** يعنې نور پوهه کړه.

﴿۵۶﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا

د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام به فرمايل چې کله به

دَخَلَ الْمَسْجِدَ : « أَعُوذُ بِاللّٰهِ الْعَظِيمِ وَ بِوَجْهِهِ الْكَرِيمِ وَ سُلْطَانِهِ الْقَدِيمِ

داخليدو مسجد ته: زه پناه غواړم په الله تعالى عظمت والا، بزرګ ذات والا، هميشه بادشاهي والا سره

مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ » قَالَ : « فَإِذَا قَالَ

د شيطان مردود نه، نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي: څوک چې جومات ته د ننوتو په وخت کې دا دعاء ووايي: (نو

Maktaba Tul Ishaat.com

ذٰلِكَ قَالَ الشَّيْطَانُ حُفِظَ مِنِّيْ سَائِرَ الْيَوْمِ »[1].

شيطان د دغه كس په باره كې) وايي چې ټوله ورځ به زما د شر څخه محفوظ وي.

﴿۵۷﴾ وَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ

د حضرت عطاء بن يسار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي دي: ای الله! مه ګرځوه

قَبْرِيْ وَثَنًا يُعْبَدُ اِشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلٰى قَوْمٍ

قبر زما بُت چې خلک يې عبادت کوي او د الله تعالی سخت غضب او غصه نازله شوې ده په هغو خلکو

اتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَائِهِمْ مَسَاجِدَ » .[2]

چې دوي ګرځولې دي قبرونه د خپلو انبياو ځای د سجدې.

توضيح: وثنا يعبد: اوثان وثن بُت ته ويلي شي او يعبد د عبادت کولو په معنی کې دی، يعنې زما قبر د بت خانې په شان مه جوړوئ چې خلک يې عبادت شروع کړي او لرې لرې څخه خلک راځي او سجدې کوي او طواف شروع کړي او د شريعت خلاف تعظيم شروع کړي، که دې حديث ته وکتلی شي، نو د پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټول ارشادات عملي طور باندې موجود دي، يو طرف ته د قبرونو دومره زور دی چې هغوی د پيغمبرانو ګير چاپيره قبرونو هم عبادت شروع کړی دی دا پيشنګوی پوره شوه، دويم طرف ته الله تعالی د نبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې دعا قبوله کړه، چې نن سبا خلک په قبرونو باندې سجدريزه پراته دي، خو مجال نشته چې د پيغمبر صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر ته څوک ښکته شي، (المرقات ۲/۴۵۴).

حالانکې د قبر پرستو امام د روضه اقدس په باره کې فرمايي:

سر سوئے روضہ جھکا پھر تجھ کو کیا ❁ دل تھا ساجد نجدیا پھر تجھ کو کیا؟

ان کو بتملیک ملیک ❁ مالک الملک کیا پھر تجھ کو کیا؟

اشدت غضب دا جمله ګويا د سائل جواب کې راغلی چا سوال کړی وو يا رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاسو دا دعا دومره اهتمام سره ولې غواړئ، حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورکړو خپل امت باندې شفقت او مهرباني مقصود او مطلوب ده، ځکه چې يهودو او نصارا و باندې د الله تعالی قهر او غضب نازل شو، نو هغوئ د خپلو انبياو قبرونه سجده ګاه جوړ کړي وو.

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۳۱۸ رقم الحديث ٤٦٦

(۲) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۱۷۲ رقم الحديث : ۷۵ من كتاب قصر الصلاة في السفر .

﴿۵۸﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَحِبُّ الصَّلَاةَ فِي الْحِيطَانِ. قَالَ

د حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خوښولو مونځ په حيطان کې. ويلي

بَعْضُ رُوَاتِهِ يَعْنِي الْبَسَاتِينَ [1]. (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ) وَ قَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ

دي بعضې راويانو چې د حيطان نه مراد باغونه دي، امام ترمذي دا روايت نقل کړی دی وايي دا حديث

غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الْحَسَنِ بن أَبِي جَعْفَرٍ وَقد ضعفه يحيى ابْن سعيد وَغَيره.

غريب دی چې نه دی منقول مګر د حسن بن جعفر نه او ضعيف ګرځولي يحيى بن سعيد وغيره.

﴿۵۹﴾ وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي بَيْتِهِ

د انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: چې ديوسړي مونځ په خپل کور

بِصَلَاةٍ وَ صَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِ الْقَبَائِلِ بِخَمْسٍ وَ عِشْرِينَ صَلَاةً وَ صَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِي

کې ديو مونځ برابر دی او د محلې جومات کې د (۲۵) مونځونو برابر دی او مونځ يې په هغه مسجد کې

يجمع فِيهِ بخمسمائة صَلَاةٍ وَ صَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى

چې جمع کيږي هغې کې مونځ د پنځه سوه (۵۰۰) مونځونو برابر دی، او مسجد اقصى کې مونځ کول د

بِخَمْسِينَ أَلْفِ صَلَاةٍ وَ صَلَاتُهُ فِي مَسْجِدِي بِخَمْسِينَ أَلْفَ صَلَاةٍ وَ

پنځوس زرو مونځونو برابر دی او مونځ کول زما په مسجد کې هم د پنځوس زرو مونځونو برابر دی او

صَلَاتُهُ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ بِمِائَةِ أَلْفِ صَلَاةٍ» [2].

مونځ کول په مسجد حرام کې د يو لک مونځونو برابر دی.

توضيح: في بيته: دې حديث کې د ځان ته ځان ته د مونځونو د درجاتو وضاحت بيان کړی دی چې د دې فضيلت هر يو کس واوري او عمل کې يې راولي، دې راخکوونکي او باعث ترغيب حديث کې ډومبی فضيلت د هغه کس دی چې کور کې مونځ کوي، مونځ يې پرېښې نه دی، بلکې کړی يې دی، خو ځان ته يې کړی دی، ده ته د يو مونځ ثواب ملاويږي دا کمه درجه ده. (المرقات ۲/۴۵۹). **مسجد القبائل:** يعنې محلې مسجد کې مونځ وشويو مونځ د (۲۵) مونځونو برابر ثواب ملاويږي. **يجمع فيه:** دې څخه

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۱۵۵ رقم الحديث: ۳۲٤.

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/٤۵۳ رقم الحديث: ۱٤۱۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

جامع مسجد مراد دی، دې کې خلک د جمعې اوانترمونځونو دپاره راجمع کېږي حالانکې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (۹۰۰) جامع مساجد او (۴۰۰۰) عام مساجد جوړ کړي وو، يعنې څوک چې جامع مسجد کې د جماعت سره مونځ وکړي دې ته د پنځه سوه مونځونو ثواب ملاويږي، بيت المقدس او مسجد نبوي که څوک يو مونځ وکړي، نو پنځوس زره مونځونو ثواب ملاويږي او که څوک بيت الله کې مونځ وکړي، نوددې بدله کې ورته يو لاک مونځونو برابر ثواب ملاويږي، دلته د مونځونو د شمار ترتيب داسې دی، بعضې رواياتو کې د مسجد نبوي ثواب يو زر (۱۰۰۰) برابر ښودلی دی، دواړو رواياتو کې په ښکاره ډير تعارض دی، خو داسې دفع کولی شي، چې شمار کې تعارض نه دی، ځکه چې يو عدد د دويم عدد نفې نه کوي، دويم جواب دا دی فضائل او درجات ډيرېږي لهذا دا تضاد او تعارض نه دی، مخکې هم همدې ابوابو کې داسې قسمه احاديث او د دوی تشريح تيره شوې وه، تفصيل هلته موجود دی.

بيت الله او د بيت المقدس زمانه

﴿٦٠﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ مَسْجِدٍ وُضِعَ

د ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: مانبي عَلَيْهِ السَّلَام ته عرض وکړو يا رسول الله! کوم مسجد جوړ

فِي الْأَرْضِ أَوَّلُ؟ قَالَ: «الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ» قَالَ: قُلْتُ: ثُمَّ أَيٌّ؟ قَالَ: «ثُمَّ الْمَسْجِدُ

شوې اول په زمکه کې؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل مسجد حرام ما عرض وکړو بيا دې نه پس وې فرمايل مسجد

الْأَقْصَى». قُلْتُ: كَمْ بَيْنَهُمَا؟ قَالَ: «أَرْبَعُونَ

اقصى بيا ماتپوس وکړو ددې دواړو مساجدو مينځ کې څومره فرق دی؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل څلويښت

عَامًا ثُمَّ الْأَرْضُ لَكَ مَسْجِدٌ فَحَيْثُمَا أَدْرَكَتْكَ الصَّلَاةُ فَصَلِّ»[1].

کاله بيا يې وويل ټوله ځمکه ستاسو دپاره مسجد دی چې کوم ځای کې د مونځ وخت شي هلته يې کوئ.

توضيح: وضع في الارض اول: و قائع الدهور يو وړوکی شان کتاب دی، دې کې د کائناتو د تخليق متعلق ډير څه ليکلي وو، دې کې دا هم وو، چې ټولو نه مخکې الله تعالى يوه شنه ملغلره جوړه کړه دغه ملغلرې ته الله تعالى د هيبت او د رعب په نظر وکتل، نو د ويرې څخه دغه ملغلره اوبه شو، اوس کائناتو کې ټولې اوبه دي، قرآن کريم ددې طرف ته داسې اشاره موجود ده ﴿وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى الْمَاءِ﴾ (هود:۱) بيا الله تعالى اوبو ته د رعب په نظر وکتل، نو اوبه د ويرې د وجې نه وې شيدې، نو وچې شوې، يو قسم

---

(۱) أخرجه البخاري ٦/٤٠٧، رقم الحديث: ٣٣٦٦، ومسلم ١/٣٧٠ رقم الحديث: ٢-٥٢٠، والنسائي ٢/١٢، رقم الحديث: ٦٩٠، مسند أحمد ٥/١٥٦.

لوندوالی او خټه پاتې شوه او بره لوګی پاڅیدو، دغه لوګي څخه الله تعالی آسمان جوړ کړو، قرآن کریم کې دې طرف ته داسې اشاره ده ﴿ثُمَّ اسْتَوَى إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ﴾ (حم سجده: ۱۱) لاندې کومه خټه او لوندوالی وو دهغې څخه الله تعالی ځمکه جوړه کړه قرآن کریم کې اشاره موجوده ده ﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَٰلِكَ دَحَاهَا﴾ (نازعات: ۳۰) کوم ځای نه چې ځمکه خوره شوه، دغه ځای د ځمکې منځ او سرة الدنیا وو، او دغه ځای ټوله دنیا کې د اوچتې ډیرې په شان وو او دغه ځای الله تعالی د خپل کور د پاره خوښ کړو، دې ته یې حرم مکه ووئیلو، دغه ځای بیت الله جوړ شو، ټولو نه مخکې د بیت الله بنیاد فرښتو ایخی وو، او د دنیا مختلف غرونو څخه لوی لوی کانې د بیت الله په بنیادونو کې اچولی شوي دي.

کله چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ دنیا ته راغی دده ته د ځانته والي ویره محسوس شوه، همدارنګ د فرښتو سره یو ځای د بیت المعمور طواف مناظر دوی ته یادیدل، الله تعالی ته د (سراندیب) کلي ته د تلو حکم وکړو، جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ راهنمائي کوله تردې چې کلي کې داسې ځای ته ورسیدو، کوم ځای کې چې فرښتو د بیت الله بنیاد اچولی وو، الله تعالی په حکم بیت المعمور د آسمانونو څخه لاندې راوړو او په هغه بنیادونو باندې کیښودو، حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ او فرښتې یو ځای عبادت او طوافونه شروع کړل، بیا چې طوفان نوح راغی، نو الله تعالی بیت المعمور د اوه آسمانونو د برې کړو، او ځمکې کې د بیت المعمور نښې او بنیادونه د خاورې لاندې راغلل او پټ شول، دغه قواعد ښکاره کولو او دې باندې بیت الله قائم کولو حکم حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وشو، نود حضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ سره یو ځای دا کار وکړو، او بیت الله تعمیر یې وکړو، چهت نه وو، دروازه هم موجوده نه وه، د یوې دروازې ځای هغه وو، چې نن سبا موجود دی، دویمه دروازه د دغې مقابل رکن یماني طرف ته وه، بیا (تبع) بادشاه دروازې ولږولې او بیت الله ته یې پردې واچولې. بیا عمالقو د بیت الله په تعمیر کې کار وکړو، بیا قریشو بیت الله د ورانیدو څخه پس جوړ کړو، دې کې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم (۳۵) کالو په عمر کې حصه اخستې وه، قریشو پکې ردوبدل وکړو، حطیم حصه یې پریښوده او د دوو پر ځای یې یوه دروازه پریښوده او دغه دروازه یې هم د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ د قد برابر ځمکې څخه اوچته کړه، بیا حضرت عبدالله بن زبیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په خپل دور خلافت کې بیت الله وران کړو او د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تمنا باندې یې جوړ کړو، حطیم یې هم دننه کړو او دوه دروازې یې جوړې کړې.

حجاج بن یوسف چې غالب شو، نو بیت الله یې دوباره د قریشو په طرز باندې جوړ کړو، چې نن سبا پورې دغه شان دی، حضرت امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ څخه هارون الرشید اجازت وغوښتو چې بیت الله د پیغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تمنا بندې جوړ کړم، حضرت امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ فتوی ورکړه، اوس په بیت الله کې تغیر او تبدیل حرام دی، چې دا د بادشاهانو د تعمیر کهلونه (د لوبو ځیز) ونه ګرځي، بیا د ترک

Maktaba Tul Ishaat.com

بادشاه تعمیر وکړو خو تغیر او تبدیلي پکې ونه کړو، نن پورې هغه شان قائم دی، بیا به قیامت ته نیږدې د بیت الله حقیقت الله تعالی د دنیا څخه وچتوي او قیامت به قائم شي. شاه عبدالعزیز رَحِمَهُ اللهُ خپل تفسیر کې د بیت الله مرحله وار تعمیر بیان کړی دی، سورة بقره تفسیر کې وګورئ، ما دیرو ځایونو کې د کائناتو تخلیق متعلق د شني ملغلرې واقعه ذکر کړې ده، خو دا دومره مستند څیز نه دی.
ابن کثیر د کائناتو تخلیق کې نور هم تفصیل لیکلی دی، (البدایه جلد اول) کې مذکور دي، ما چې څه لیکلي دا مربوط دي او بیت الله سره یې تعلق شته، د شني ملغلرې پیدایښت او د دې څخه د کائناتو تخلیق واقعې طرف ته (جلالین ص ۱۸۰ حاشیه ۱۳) باندې صاحب کمالین اشاره کړې ده.

المسجدالحرام: دې ته حرام ځکه وایي چې دې کې ښکار حرام دی. او بل دا چې په دې کې د حلال څیزونو ارتکاب حرام دی. او بل دا چې محترم او واجب الاحترام دی. **المسجدالاقصی:** ځکه ورته اقصی وایي چې د مکې او مدینې څخه ډیر لرې واقع دی.

اربعون عاماً: یعني د بیت الله او مسجد اقصی په آبادۍ او تعمیر کې څلویښت کاله فاصله وه.
سوال: دلته مشهور اشکال دي، د بیت الله شریف جوړولو والا حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ دی او د بیت المقدس جوړونکو والاحضرت سلیمان عَلَيْهِ السَّلَامُ دی د دواړو پیغمبرانو عَلَيْهِمَا السَّلَامُ ترمینځ زر کاله فاصله ده، دا څنګه ممکن دی، چې دواړو کې څلویښت کاله فاصله ده؟
جواب: علامه طیبی رَحِمَهُ اللهُ او علامه بیضاوي رَحِمَهُ اللهُ د دې اشکال جواب کړی، چې د نورو شروحاتو د جواباتو څخه ډیر واضح دی، هغه دا چې دلته د تعمیر او ترقۍ او د بنیاد کیښودو خبره نه ده، بلکې د الله تعالی د عبادت د پاره چې عبادت ګاه په ځمکه باندې بیت الله مقرر شو، نو څلویښت کاله بعد بیا بیت المقدس مقرر شو.

دې جواب باندې د حدیث لفظ (وضع) واضح دلالت کوي، ځکه چې لفظ د وضع په ځای د تعمیر باندې ډیر واضح دی، د قرآن کریم آیت مبارک ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ﴾ (آل عمران آیت: ۹۶) کې هم د وضع لفظ واضح دی، چې د عبادت مقرر کیدو د پاره استعمال شوی دی، ظاهري تعمیر د پارې بنا او بنیان الفاظ راځي.

بَاب السّتْر:

مونځ کې د ستر پټولو مسائل

قال الله تعالى: ﴿يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنْزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْءَاتِكُمْ وَرِيشًا﴾ (سورة اعراف آيت: ۲۶)

و قال الله تعالى: ﴿يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ﴾ (سورة اعراف آيت: ۳۱).

د مونځ صحيح کيدو دپاره ډير شرائط دي په هغې کې يو شرط (ستر) دی، يعنې شرمګاه او مستوره اعضاء پټول فرض دي. صاحب مشکوة دې مذکوره باب کې د دې سلسلې احاديث جمع کړي دي، دې څخه علاوه د هغه کپړو ذکر دی، کومې کپړې چې صحابوو اچولې وي او مونځ يې په کې کړی وو. دې باب کې صاحب مشکوة مجموعي طور باندې اتلس احاديث ذکر کړي دي.

اَلْفَصْل الأول:

په يو څادر کې د مونځ کولو طريقه

﴿۱﴾ عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي

د حضرت عمر بن ابی سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ما نبي عَلَيْهِ السَّلَام وليدو چې مونځ يې کولو په

ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُشْتَمِلًا بِهِ فِي بَيْتِ أُمِّ سَلَمَةَ وَاضِعًا

يوه کپړه کې چې په بدن يې اچولې وه دا کپړه، په کور د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کې داسې يې اچولې وه

طَرَفَيْهِ عَلَى عَاتِقَيْهِ. (متفق عليه)[1].

چې دواړه غاړې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په ولو باندې پرتې وې.

توضيح: في ثوب واحد: حالت وسعت او طاقت په وخت کې دري کپړې يعنې شلوار، قميص او د پټکي استعمال مستحب دي، د وسعت او قدرت باوجود داسې کپړو کې مونځ کول مکروه دي، بالاتفاق چې ثياب بذله او ثياب مهنه وي، يعنې داسې کپړې وي چې موجب عار وي، چې واچوي، نو بنه مجلس ته په کې تلې نه شي، لکه شلوار او بنيان يا کتلی شی چې دغه يوه کې استعمال شده خړې يا شکيدلې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۴۶۹/۱، رقم الحديث: ۳۵۶، ومسلم في الصحيح ۳۶۸/۱ رقم الحديث: ۲۷۸-۵۱۷، والترمذي ۱۶۶/۲ رقم الحديث: ۳۳۹، أخرجه أحمد في المسند ۲۴۳/۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

کپړې وي او زړې. (المرقات ۲/۴۶۳).
که حالت د وسعت نه وي په وخت د ضرورت کې يو کپړې کې مونځ کول بغير د کراهته جائز دي بالاتفاق، دا به کتلی شی چې دغه يوه کپړه وسيع وي او څه نا څه ګنجائش په کې وي. بيا د اشتمال صورت محمود او خوښ دی، اشتمال صورت او طريقه شيخ عبد الحق رَحِمَهُ ٱللَّهُ په اشعة اللمعات کې داسې ليکلې ده د څادر ګس جانب د ګس ولي د لاندې راښکې نيغ به يې په ولي باندې واچوي، بيا د څادر ښې جانب د ولي په ښي طرف د لاندې راښکلې شي او ګس ولي باندې به يې واچوي، اوس د څادر دواړه طرفونه د ولو شاته لاړشي، دغه ځای څخه به دواړه سينو طرف ته راوستی شي او غوټه به ورکړي، دې ته اشتمال وايي، (الکاشف ۲/۳۱۵، اشعة اللمعات ۳۶۹، المرقات ۲/۴۶۳).

دا په **توشح** او **فليخالف** وغيره نومونو سره هم يادېږي. غوټه لږول د اشتمال حصه نه ده صرف مضبوط کيدو د پاره که څادر اوږد وي، نو د غوټې ضرورت نشته دی.

واضعاً طرفيه: دا جمله د مشتملا د ضمير نه حال دی او اشتمال د صورت تفصيل او وضاحت دی.

د مونځ کولو په وخت کې د اوګو پټول په کار دي

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدُكُمْ
دابو هريره رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ فرمايي: داسې مونځ دې نه کوي يو کس په تاسو
فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ لَيْسَ عَلَى عَاتِقَيْهِ مِنْهُ شَيْءٌ». (متفق عليه). [1]
کې په يوه کپړه کې چې د کپړې يوه حصه هم په ولو باندې نه وي.

توضيح: ليس على عاتقيه: باوجود ددې نه چې کپړه کې ګنجائش شته او بيا هم کپړه په ولي باندې نه وي، دې صورت کې مونځ کولو اجازت نشته دی، د مذکور حديث ظاهره الفاظو مطلب دا دی، دې کې علماوو دا حکمت بيان کړی دی، که کپړه په ولي باندې وانه چوي او دغه کپړه تهه بند او ګرځوي، يعنې ښکته او بره ټولو حصو د پاره يوه کپړه ده، دې صورت کې د کپړې پريوتو ويره ده، او ستر د کولاويدو ويره هم ده او د رب په دربار کې يو قسم بې ادبي هم ده. (المرقات ۲/۴۶۴، الکاشف ۲/۳۱۵).
اوس په حديث کې کوم ممانعت دی، دغه حيثيت کې د فقهاء کرام معمولي شان اختلاف دی.
د فقهاو اختلاف: امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ ٱللَّهُ او د څه سلفو علماو په نزد باندې که کپړه ډيره وي او بيا هم

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۴۷۱، رقم الحديث: ۳۵۹، ومسلم في الصحيح ۱/۳۶۸ رقم الحديث: ۲۷۷-۵۱۶، وأبو داود ۱/۴۱۴ رقم الحديث: ۶۲۶، والنسائي ۲/۷۱، رقم الحديث: ۷۶۹، أخرجه أحمد في المسند ۲/۲۴۳.

په ولو باندې کپړه نه اچوي په کولاو ولو سره مونځ کول جائز نه دي، بلکې مکروه تحريمي دي، ائمه ثلاثه يعني جمهور وايي، چې ستر مکمل پټ وي، نو بيا مونځ کېږي، خو ولو ښکاره کيدو سره جواز مع الکراهت وي او دا کراهت تنزيهي دی، تحريمي نه دی.

دلائل: حنابلو حضراتو زير بحث حديث څخه استدلال کړی دی او حديث يې په عدم جواز باندې حمل کړی دی،(المرقات ۲/۴۶۴) جمهورو د حديث حکم په عدم جواز باندې نه، بلکې خلاف اولی باندې حمل کړی دی، هغوی فرمايي چې په دې حديث کې د ولو پټولو حکم دی و حکمت لاندې ذکر کړی دی، هغه دا که په ولي کپړه نه وي په يو څادر صورت کې ستر ښکارکيدو ويره وي او که په لاس سره يې نيسي، نو په نوم باندې لاس کيښودو سنت فوت کېږي، بهر حال کپړه د دې نه هم کمه وه، چې د اشتمال صورت په کې نه جوړيږي، نو بيا يې مرې سره ترڼ په کار دي که د دې نه هم کم وو، بيا د ولي څخه ښکته وترئ، چې ستر پټ شي، غير ضرورت په حالت کې ستر کولاو ساتل کراهت څخه خالي نه دی، خاص کر که فيشن وي او ويخته انګريزي وي، بيا نور هم په دې کې کراهت سختيږي.

﴿۳﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ : « مَنْ

د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوريدلې چې فرمايل يې: چا چې

صَلَّى فِيْ ثَوْبٍ وَاحِدٍ فَلْيُخَالِفْ بَيْنَ طَرَفَيْهِ »[1].

مونځ وکړو په يوه جامه کې هغه ته په کار دي چې د دې کپړو په دواړو طرفونو کې دې مخالفت وکړي.

﴿٤﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فِيْ خَمِيصَةٍ لَهَا

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په داسې څادر کې مونځ وکړو چې په غاړو

أَعْلَامٌ فَنَظَرَ إِلَى أَعْلَامِهَا نَظْرَةً فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ :

باندې لږ کار شوی وو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه شوې کار ته وکتل نو کله چې د مونځ نه فارغ شو وې فرمايل

« اذْهَبُوْا بِخَمِيصَتِيْ هٰذِهِ إِلَى أَبِيْ جَهْمٍ وَ ائْتُوْنِي بِأَنْبِجَانِيَّةِ أَبِي جَهْمٍ فَإِنَّهَا

دا څادر ابي جهم خواته ويسئ (او دا هغه ته حواله کړئ) د ابي جهم انبجانية راوړه، ځکه د دغه څادر زه

أَلْهتني آنِفًا عَنْ صَلَاتِيْ» (متفق عليه) وَفِيْ رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ قَالَ: "كُنْتُ أَنْظُرُ

لرې ساتلی يم د خپل مونځ نه. او د بخاري په يو روايت کې دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي وو: ما کتلو د

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۴۷۱،رقم الحديث ۳۶۰، وأبو داود ۱/۴۱۴ رقم الحديث :۶۲۷، وأخرجه أحمد في المسند ۲ ۲۵۵

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَى عَلَيهَا وَ أَنَا فِي الصَّلَاة فَأُخَافُ أَن يَفْتِنَنِيْ [1].

مونځ په دوران کې ددغه څادر نقش اونګار ته ماته دا ویره وه، چې زما مونځ خراب نه کړي.

توضيح: خميصه: دا یو داسی څادر ته ویل کېږي، چې د وریښم یا وړې څخه جوړ وي، ددې رنګ تور وي دې کې کربنې وي خاص کر د یمن ښائسته څادر ته خمیصه ویلي شي.(المرقات ۲/۴۶۵)
علامه جریري وایي:

لبست الخميصه ابغي الخبيصه ❁ وانشبت شصى في كل شيصه

لها اعلام: دا د خمیصه د پاره تاکید دی، یا یې بیان دی، ځکه چې خمیصه هغه څادر وي چې دې کې دوه یا ددې څخه ډیرې کربنې او ګلونو نقش او نګار وي په کې. **الى ابى جهم:** دا د یو صحابي نوم دی ویلي شي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خواته دوه خمیصه څادرونه راغلي وو یو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خپله واچولو او دویم څادر یې ابوجهم ته حواله کړو، د مونځ کولو څخه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه څادر لرې کړو او دغه دویم یې د ابوجهم څخه واپس راوړو چې ساده وو، د بعضې روایاتو څخه معلومیږي ابوجهم بطور تحفه دا څادر حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورکړی وو، پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه د خاطره لږ ساعت د پاره اچولی ؤ، بیا یې ترې ساده راوړو ځکه چې ګلونو والا د هغه په توجه الی الله کې فرق راوستی وو.

انبجانية: دا لفظ د همزې کسرې او د نون ساکن او باء کسرې او د یا تخفیف سره ویلي شي د انفعالیه په شان دی.

الهتني: یعنې زما مخې ته چې کله نقش اونګار راغی هغې زما توجه ختم کړه او زما توجه الی الله کې یې فرق راوستو، علماء لیکي د دنیا نقش او نګار هم صفا زړونو والا متاثر کوي، امام بخاري ددې حدیث څخه استدلال کړی دی په مونځ کې داسې خیالونه راتلل د مونځ د پاره مضر نه دي، بهر حال قلوب صافیو باندې معمولي څیز ډیر اثر کوي، د تورو زړونو والا د دې نه څه خیر دی، شیخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې لیکلي، دا په حقیقت کې د امت د پاره تعلیم دی او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امت ته تنبیه ورکړې ده، د دنیا نقش او نګار څخه ځان ساتئ ډیر خطرناک څیز دی، دې څخه هر یو کس متاثره کېږي.(اشعة اللمعات ۳۷۰).

الفا: اى قريباً (نزدې) یعنې اوس اوس **يقال الفه الشيء اى ابتداه ومنه الاستيناف)**

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۴۸۲،رقم الحديث : ۳۷۳، ومسلم في الصحيح ۱/۳۹۱ رقم الحديث:۶۲-۵۵۶، وأبو داود ۱/۵۶۲ رقم الحديث :۹۱۴، والنسائي ۲/۷۲، رقم الحديث:۷۷۱، أخرجه أحمد في المسند ۶/۱۷۷.

ان يفتنني أي ان يوقعني في الفتنة والشغل: بهر حال چې كله زړه د شيشي په شان پاک وي او دآئينې په شان روښانه وي، دې باندې معمولي د خيري هم اثر كېږي. كپړه څومره سپينه وي، دې باندې تور تاكي ډير ښه ښكاري، اهل الله او اهل دل زړونو تعلق مع الله د وجې څخه داسې روښانه وي، او دې په مقابله كې سياه كار او بدكار خلک دي، د دوئ په دماغو او زړه باندې د لوی ګناه اثر پته نه لګي.

﴿٥﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : كَانَ قِرَامٌ لِعَائِشَةَ سَتَرَتْ بِهِ جَانِبَ بَيْتِهَا
د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د خپل كور په يوه حصه كې پرده اچولې
فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَمِيطِي عَنَّا قِرَامَكِ هٰذَا فَإِنَّهُ
وه، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته وفرمايل: دغه پرده زما مخې نه اخوا كړه ځكه چې ددې
لَا يَزَالُ تَصَاوِيرُهُ تَعْرِضُ لِيْ فِيْ صَلَاتِيْ ». (١).
تصويران په مونځ كې زما مخې ته برابر ولاړ وي.

توضيح: قرامک: د قاف په كسرې سره قرام هغه باريكې پردې ته ويلي شي، چې مختلف رنګونه په كې لږيدلي وي، بعضې اهل لغت وايي: قرام هرنرم باريكې كپړې ته وايي علامه تورپشتي رَحِمَهُ اللهُ وايي قرام هغه پردې ته وايي چې هغې كې ګلونه او نقش او نګار وي (المرقات ٢/٤٦٧، اشعة اللمعات ٣٧١)

اميطي: اماطة الاذى د لرې كولو او اخوا كولو په معنى راځي.

تصاوير: دې څخه د روح والا ځناورو تصاوير مراد نه دي، بلكې دغه نقش و نګار ته تصاوير ويلي شوي دي او ممكن دي چې د روح والا تصاوير وي، او حضرت عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته د ممانعت علم نه وو، چې كله پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته ووئيل، نو حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا پردې لرې كړې.

﴿٦﴾ وَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ : أُهْدِيَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرُّوجَ حَرِيرٍ
د عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : په تحفه كې راوليږله نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته يو كس قبا دريښمو
فَلَبِسَهُ ثُمَّ صَلَّى فِيهِ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَزَعَهُ نَزْعًا شَدِيدًا كَالْكَارِهِ لَهُ ثُمَّ
نبي عَلَيْهِ السَّلَام په كې مونځ وكړو بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَام ددې وجې نه لرې كړولكه چې بدكنونكي وو هغه لره، بيا

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ١/٤٨٤، رقم الحديث : ٣٧٤، أخرجه أحمد في المسند ٣/١٥١.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ : "لَا يَنْبَغِيْ هٰذَا لِلْمُتَّقِيْنَ. (متفق عليه). (۱)

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل دا (ريښمي كپړې د شرک او كفر نه) د بچ كيدو والا د پاره مناسب نه دي.

توضيح: اهدى: اكيدر شاه دومة الجندل د غزوه تبوک په موقع د صلحې نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې يو ريښمي قبا د تحفې په طور پيش كړه، يا د مصر شاه مقوقس هديه راليږلې وه، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واچوله او بيا يې لرې كړه او ويې غورځوله. (اشعة اللمعات ۳۷۱).

فروج حرير: فروج هغه قباء ته ويلي شي، چې كريوان يې شا طرف ته وي، **فا** باندې فتحه او را مشدده او **جيم** باندې ضمه ده.

للمتقين: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا ريښمي قبا يې په هغه وخت كې اچولې وه چې حرمت نه وو راغلې ځكه يې په كې مونځ كړى ؤ او كيدى شي چې په همدغه وخت كې حرمت راغلى وي ځكه خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ډير په سرعت سره وويستله اووې فرمايل : د متقي پرهيزګار د پاره مناسب نه دي يا د متقينو نه مراد شرک او كفر نه بچ كيدونكي خلک دي يعنې مسلمان د پاره مناسب نه دي چې ريښم استعمال كړي، بعضې علماو ليكلي چې كيدې شي چې د څه بل مصلحت د وجې نه نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ريښم اچولي وي او بيا يې ويستلي وي او د امت د پاره په كې تعليم دى چې په عملي طور باندې د دې څخه نفرت وكړي او كتونكو ته هم نفرت وشي.

الْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۷﴾ عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ قَالَ: قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي رَجُلٌ أَصِيدُ

د حضرت سلمة بن اكوع نه روايت دى وايي چې ما عرض وكړو : يا رسول الله ! زه يو بنكاري سړى يم آيا

أَفَأُصَلِّي فِي الْقَمِيصِ الْوَاحِدِ ؟ قَالَ : نَعَمْ وَازْرُرْهُ وَلَوْ بِشَوْكَةٍ. (۲)

زه په يو كُرته كې مونځ كولې شم ؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته فرمايل : آو خو ترئ يې اګر كه په اغزي سره وي.

توضيح: اصيد: د متكلم صيغه ده يعنې زه بنكاري سړى يم اكثر بنكار كې مصروف يم (المرقات ۲/۴۶۸)

القميص الواحد: بنكاري خلک اكثر بنكار څخه وروسته منډه وهي او لنګ سره سړى منډه تيزه نه شي

---

(۱) أخرجه البخاري ۱/۴۸۴، رقم الحديث : ۳۷۵، ومسلم ۳/۶۴۶ : رقم الحديث: ۲۳-۲۰۷۵، أخرجه أحمد في المسند ۴/۱۴۹.

(۲) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۴۱۶ رقم الحديث : ۶۳۲ .

وهلي صرف يو قميص كې به د ښكار دپاره وتلو نو بيا به د مونځ وخت راتلو، دې وجې نه د مسئلې لحاظ سره حضرت سلمة بن اكوع ته پريشاني شوه ځكه چې د قميص ګريبان كولاو وود سجدې او ركوع په حالت كې به ستر كولاو كيدو، ځكه يې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه يې تپوس وكړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ جواب كې وفرمايل تاسو يو قميص كې مونځ كولى شئ، كه د ګريبان كولاويدو ويره وي، نو بټن ولږوئ، كه بټن نه وي، نو ځنګلي ونې نه ازغى استعمال كړئ. فقهاء ليكي كه يو مونځ ګزار خپل ګريوان نه عورت غليظه ته وګوري دې سره هم مونځ نه فاسديږي دغه رنګ يو كس ازار كې مونځ كوي او لاندې څخه څوك دده ستر ته ګوري دې سره هم مونځ كې نقصان نه راځي ستر كولاو كيدل هغه دي چې مخامخ څخه مخكې وروسته، نبي او ګس هر طرف څخه په نظر راځي.

پرتوګ (لنګ) د ګيټو څخه لاندې ساتل سخته ګناه ده

﴿۸﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : بَيْنَمَا رَجُلٌ يُصَلِّي مسبلا إِزارہ قَالَ لَهُ
دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې يو كس وو مونځ يې كولو اولنګ يې زوړند وو نوو فرمايل ده ته
رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «اذْهَبْ فَتَوَضَّأْ» فَذهب وَتَوَضَّأَ ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاړ شه اودس وكړه هغه كس لاړو اودس يې وكړو بيا راغلو نو وويل يو سړي : يا رسول الله!
مَا لَكَ أَمَرْتَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ ؟ قَالَ : « إِنَّهُ كَانَ يُصَلِّي وَ
تاسې ولې ده ته د اودس كولو امر كوئ ؟ نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته فرمايل: دغه كس مونځ كولو او
هُوَ مُسْبِلٌ إِزَارَهُ وَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَا يَقْبَلُ صَلَاةَ رَجُلٍ مُسْبِلٍ إِزَارَهُ »[1].
زوړند وو لنګ دده او الله تعالى نه قبلوي مونځ د هغه سړي چې زوړند وي لنګ دده.

توضيح: مسبل ازاره: هو ارسال الثوب واطالته زيادة على الحد المشروع تكبرا واختيالاً (المرقات ۲/٦٦٩) يعنې د ناز او تكبر د وجې نه پرتوګ وغيره د شرعي حد څخه لاندې ځوړند ساتلو ته ويل كېږي، اسبال صرف ازار سره خاص نه دى، بلكې شلوار، پرتوګ كېږه چې وې د ګينهو څخه ښكته ځوړند ساتل مكروه تحريمي دي، او دا اسبال دى، د لاس ګوتو باندې لستوړې راتلل هم اسبال دى، د پټكي شمله د ولي څخه ښكته راشي، دې ته هم اسبال وائي، حديث كې د ازار ذكر ځكه دى، چې دغه وخت كې د پرتوګ رواج نه ؤ، بعضې روايات و كې **اسبال ثوب** لفظ راغلى دى او **ثوب** هر قسم كپړې ته شامل دى،

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/٤۱۹ رقم الحديث : ٦۳۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

او دا اسبال مکروه تحریمي دی، دې حالت کې اصل مونځ کېږي، خو کامل مونځ نه کېږي او د ثواب نه محروم پاتې کېږي، دې کې سخت وعید او تغلیظ دی. د احنافو او شوافعو په نزد باندې پرتوږد ګیټو نه ساتل مونځ کې وي یا بغیر د مونځ څخه وي، مکروه تحریمي دی، او امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ مونځ کې داسې اسبال ته جائز وائي، خو د مونځ څخه بهر عام وختونو کې ناجائز دی، او فرمایي تکبر، غرور، ناز او نخرې د مونځ نه علاوه وخت کې وي، مونځ کې نه وي، د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ دا قول شاذ دی.

سوال: د اکثرو خلکو دا خیال دی، چې پاجامه د ګیټو څخه لاندې زوړنده هغه وخت منع ده چې بطور تکبر وي او که نه وي بیا زمونږ د پاره منع نه دی. **جواب:** جواب دا دی دا د شیطان دهوکه ده انسان ته یې ورکوي، حقیقت دا دی، پاجامه په خپله لاندې ځوړندول متکبرانه وضع ده، دې کې د تکبر سوال خامخا کیدی شي، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابه وو جماعت کې سوا د ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه چاته هم اجازت نه دی ورکړی او صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عذر پیش کړو زه یې پوره خیال ساتم، خو د خپې سوا کیدو د وجې څخه ازار بنکته زور کوي، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل تاسو کې تکبر نشته دا یقین دهاني صرف صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته حاصل ده، د امت بل هیڅ کس ته حاصل نه ده.

اذهب فتوضأ: دلته یو سوال دی چې د اسبال مرتکب دغه کس مونځ غیر مقبول دی، دې باندې پوهیږو، خو اودس کونکي کس ته دوباره د اودس کولو حکم ولې ورکړو؟ د دې بهترین جواب علامه طیبي رَحِمَهُ اللَّهُ ورکړی دی، کیدای شي دغه کس ته د دوباره اودس کولو حکم ځکه وکړو چې هغه په خپله سوچ وکړي، چې رشتیا هغه د یو شنیع او قبیح فعل ارتکاب کړی دی، دغې وجې نه یې ده ته د دوباره اودس کولو حکم ورکړو چې دده په دماغو کې دا خبره راشي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام په حکم باندې ظاهري پاکي سره باطني پاکي هم حاصله شي او د دې باطن تکبر او عجب په شان بیمارو څخه پاک شي (المرقات ۲/۴۶۹)

بهر حال مسلمانانو ته سوچ په کار دی، چې هغوئ مذهبي طور باندې څومره پستي کې تلي دي اجتماعي طور باندې د منکر ارتکاب کوي او دا منکر ګڼي هم نه، عرب او عجم علماء هم په دې بیماری کې اخته دي، د مصر یولوی عالم چې پاجامه به یې د ګیټو څخه بنکته ساتله د پوړونه لاندې راکوزید و په وخت پرتوګ یې په خپې کې ونخته وغورځید و او مړ شو الله تعالی عجیبه سزا ورکړه. او دویم که زنانه ته وکوري، نو هغوی د ګیټو څخه بره ساتي، څه الټه نظام روان دی، یو شاعر وایي:

رنگی کو نارنگی کہا دودھ کڑہے کو کھویا ✿ چلتی کا نام گاڑی رہھایوں کبیر ارویا

د بالغې زنانه د سر پټیدو څخه بغیر مونځ نه قبلیږي

﴿۹﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روایت دی وایي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام فرمایلي دي: نه قبلیږي مونځ د

حَائِضٍ إِلَّا بِخِمَارٍ »[1].

بالغې ښځې مګر په لوپټي کې يې مونځ کيږي.

توضيح: حائض: دې څخه بالغه زنانه مراد ده حيض نابالغې زنانه نه راوځي چې زنانه د بلوغ عمر ته ورسيږي که حيض راشي او که رانه شي حکم دادی چې د سر پټولو څخه په غير مونځ صحيح نه دی. شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ په لمعات کې فرمايي: سر باندې لوپټه نه ساتلو دوجې نه بطور حقارت دغه وخت کې زنانه د حائضې په نوم باندې يادیږي، حيض يو ګندګي ده. (الکاشف ۲/۳۱۹، اشعة اللمعات ۳۷۲).

ددې حديث نه معلومه شوه، چې د زنانه د سر ويښته او سر په ستر کې داخل دی، که زنانه په غير د سر پټولو څخه مونځ وکړي، نو مونځ يې نه کيږي او دغه رنګ زنانه باريکو کپړو کې مونځ وکړي چې د ويښتانو يا د بدن رنګ په نظر راشي نو مونځ يې نه کيږي، البته دا حکم د آزادې زنانه د پاره دی، د وينځو نه دی، ځکه چې د وينځې سر ستر کې داخل نه دی. د سړو ستر د زنګنونو نو څخه بره او نوم څخه ښکته حصه ده، دا د (باندیانو) هم ده او د هغوئ خيټه او ملا او پختی (تشي) هم په ستر کې داخل دي.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتُصَلِّي الْمَرْأَةُ

د ام سلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې: ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه پوښتنه وکړه چې آيا د ښځې مونځ کيږي

فِي دِرْعٍ وَخِمَارٍ لَيْسَ عَلَيْهَا إِزَارٌ؟ قَالَ: « إِذَا كَانَ

په لوپټه او قميص کې چې نه وي په دې باندې پاجامه؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل (آو کيږي) خو په دې شرط چې

الدِّرْعُ سَابِغًا يُغَطِّي ظُهُورَ قَدَمَيْهَا »[2]. وَذَكَرَ جَمَاعَةٌ وَقَفُوهُ عَلَى أُمِّ سَلَمَةَ.

کرته دومره اوږده وي چې دې سره د دې د خپو ظاهر پټ کړي او يو جماعت دا روايت په ام سلمه موقوف کړی دی

توضيح: درع: د زنانه يو قميص ته ويل کيږي ددې جمع دروع ده، (الکاشف ۲/۳۲۰، المرقات ۲/۴۷۰). امرء القيس وايي:

إلى مثلها يرنو الحليم صبابة ۞ إذا ما اسبكرت بين درع ومجول

داسې ښځو طرف ته صابر صوفي سړی هم ډير په شوق سره ګوري چې کله هغوی خپلو قميصونو کې مستې مستې ځي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۲۱ رقم الحديث: ۶۴۱، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۱۵، رقم الحديث: ۳۷۷، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۲۱۵ رقم الحديث: ۶۵۵.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۲۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

سابغاً: کاملا واسعا یعني سر پټولو د پاره لوپټه وي، او کولاو قمیص وي، چې خپو پورې رسیږي، بیا که شلوار او ازار هم نه وي مونځ کېږي. **ظهور قدميها**: دې جملې څخه معلومه شوه، چې زنانه د خپو ظاهر ستر کې داخل دي، ددې پټول په مونځ کې واجب دي.

مونځ کې سدل مکروه دی

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ وَ

حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منع فرمایلي د سدل نه په مونځ کې او

أَنْ يُغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ .(۱).

بل ددې نه چې پټه کړي سړی خوله خپله.

توضيح: السدل: في اللغة الارخاء وفي الشرع الارسال بدون المعتاد) (كذا في المرقات ۲/٤۷۲) یعني سدل په لغت کې ځوړندید و ته ویل کېږي او شرع کې غیر معتاد او خلاف عادت طریقه باندې ځوړندید و ته سدل ویلي شي. **قال ابوعبيد السدل ارسال الرجل ثوبه من غير ان ينضم جانبيه بين يديه فان ضم فليس بسدل و قال الخطابي السدل ارسال الثوب حتى يصيب الارض**). حضرت شاه ولي الله رَحِمَهُ اللهُ وایي: شریعت لباس کې عمده هئیت اختیارول حکم ورکړی دی، ددې خلاف کپړا استعمالول سدل دی، ګویا سدل دا دی چې حالت د مونځ کې کپړا وضع اصلي خلاف پرېښودلی شي، چې د وقار خلاف وي. **قال صاحب الهداية هو ان يجعل ثوبه على راسه وكتفيه ثم يرسل اطرفه من جوانبه**، صاحب هدایه چې د سدل کوم تعریف کړی دی چې هغې علامه ابن الهمام رَحِمَهُ اللهُ تبصره کړې: دا تعریف هغه رومال باندې هم صادقېږي چې بعضو خلکو په ولو باندې اچولی وي او زوړندیې ساتلی وي د غه خلکو ته په کار دي چې بیا د غه رومال په ځمکه باندې کیږدي او مونځ وکړي. فتاوی قاضي خان دا خاص طریقې سره رومال د تاوول هم د سدل په تعریف کې داخل کړی دی، فرمایي: **هو ان يجعل الثوب على رأسه او على عاتقه و يجعل جانبيه امامه على صدره** (كذا في المرقات ۲/٤۷۲) د سدل د کراهت یوه وجه دا هم ده، پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې څخه منع فرمایلې ده او دویمه وجه یې دا ده چې د سدل په بعضو صورتونو کې دیهود و سره مشابهت موندلی کېږي او بعضو صورتونو کې اشتمال

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/٤۲۳ رقم الحديث : ٦٤۳ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۱۷، رقم الحديث :۳۷۸.

الصماء کې سدل داخلېږي او دا ټول منع دي.

يغطي الرجل فاه: مونځ کې خوله پټول منع دي عربو کې دېڅړې استعمال عام وو هغه خلکو به دېڅړې يو طرف باندې خوله پټوله دې سره به يې دخولې اوازوالی پټيده دې نه يې ځکه منع وفرمايله دې سره قرآت صحيح طريقې سره نه لوستل کېږي او نه سجده په صحيح طريقې سره کېږي که د خولې څخه بدبوی يا آتکي رائي نو په لاس سره خوله پټول يوائې جائز نه بلکې مستحب دي.

د چپړو سره د مونځ کولو حکم:

﴿۱۲﴾ وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « خَالِفُوا الْيَهُودَ فَإِنَّهُمْ لَا يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ وَلَا خِفَافِهِمْ ».[1].

دحضرت شداد بن اوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي مخالفت وکړئ د يهود وسره (دچپړو اوموزو اچولو په صورت کې مونځ کولو کې) ځکه هغوئ به موزې اوبوټان نه اچول.

توضيح: في نعالهم: د نعل جمع ده بوټانو ته ويلي شي، چپل که نوي وي يا صفا وي هغې سره مونځ کول مباح دي کومو علاقو کې چې دا ناجائز ګڼلی کېږي، هلته دا اباحت مؤکد کېږي، خو بوټانو اچولو کې مونځ کولو د پاره څه شرائط دي، اول دا چې چپل نرم وي چې خپې په ځمکه باندې لږېږي، که بوټان داسی سخت وي چې سجده کې خپې معلق وي، داسی بوټانو کې مونځ کول جائز نه دي، نن سبا چې بوټان او پشاوري څپلی دي، دويم شرط دا دی، چې بوټان جومات ګنده کوونکي نه وي، ددې مطلب دا دی چې دجومات ګيرچاپيره علاقه صفا ستهراوي يا خاوريځ ميدان وي دې باندې تللو سره مزيد صفا کېږي که دمسجد سره خواوشا علاقه صفا نه وي ګنده کوڅې وي، داسې ګنده علاقو کې استعمال شده چپلو سره مسجد ته راتلل موجب تلويث مسجد دی لکه څنګه چې د مالکيو حضراتو په مساجدو کې تلويث نمايا نظر رائي، نن سبا مساجد او ماحول د دور اول مساجد او ماحول باندې قياس باعث خطر او قياس مع الفارق دی. (المرقات ۲/۴۷۳).

بهر حال زير بحث حديث کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل امت ته دا تعليم دی، چې يهود بوټانو کې مونځ جائز نه ګڼي او موزه نه استعمالوي، تاسو د دوئ مخالفت وکړئ او مونځ کې دا دواړه څيزونه استعمال کړئ، معلومه شوه چې ګمراه خلکو مخالفت کې يو امر مباح هم مامور به جوړېږي او د مخالفت په نيت دې مباح عمل باندې ثواب ملاويږي، د حديث څخه دا هم معلوميږي چې کوم ځای کې مخالفت نه وي،

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۴۲۷ رقم الحديث ۶۵۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا حكم مامور به درجه كې نه وي، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ مرقات كې ليكلي : زما په ذهن كې د دې حديث مطلب دا راځي، چې يهوديان د بوټانو سره مونځ جائز نه ګڼي، تاسو د دوئ مخالفت وكړئ. بوټانو سره مونځ كول جائز ګڼل دا مطلب نه دى چې تاسو دا فعل شروع كړئ. (المرقات ۲/۴۷۴)

باقي پيغمبر صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يهوديانو د مخالفت د وجې څخه بوټانو سره مونځ كړې وو، هلته د مخالفت فضا وه، يا د جواز د پاره يې كړى وو، امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي د ادب تقاضا دا ده، چې د بوټانو سره مونځ مه كوئ، بلكې بوټان اوباسئ او مونځ كوئ. د دې مطلب هم دا دى، زمونږه زمانه كې ادب هم دا دى چې بوټان اوباسئ مونځ د پاره، يا مطلب دا دى چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ آخري عمل دې باندې دى حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چپلې ويستلې او مونځ به يې كولو، دا ادب دى نن سبا غير مقلدين هم كله د بوټانو سره مونځ كولو اعلان كوي، يو ځلې ګرين ټاؤن محمديه مسجد كې يې اعلان وكړو چې نن د جمعې مونځ چپلو سره كوو، داناپوهي ده چرته د ګرين ټاؤن كراچۍ ګنده نالۍ او چرته د مدينې پاكې ځمكې ته.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ

د حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ يو ځل صحابو وته مونځ ورکولو

إِذْ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَوَضَعَهُمَا عَنْ يَسَارِهِ فَلَمَّا رَأَى ذَلِكَ الْقَوْمُ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اچانک چپې وويستلې خپل ګس طرف ته يې كيښودلې، كله چې خلكو دا وليدو نو هغوئ

أَلْقَوْا نِعَالَهُمْ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاتَهُ قَالَ: «مَا حَمَلَكُمْ

هم چپې وويستلې، چې كله پوره كړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ خپل نو وې فرمايل: څه څيز مجبوره كړئ تاسې

عَلَى إِلْقَائِكُمْ نِعَالَكُمْ ؟» قَالُوا: رَأَيْنَاكَ أَلْقَيْتَ نَعْلَيْكَ فَأَلْقَيْنَا

په ويستلو د چپړو باندې هغوي عرض وكړو مونږ وكتل چې تاسو چپې ويستلې دي نو مونږ هم وويستې

نِعَالَنَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ جِبْرِيلَ أَتَانِي فَأَخْبَرَنِي أَنَّ فِيهِمَا قَذَرًا

چپې، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: ما ته جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ راغې هغه خبر راكړو چې زما چپړو پسې ګندګي

إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلْيَنْظُرْ فَإِنْ رَأَى فِي نَعْلَيْهِ قَذَرًا

لږيدلې ده، په تاسو كې چې څوك مسجد ته راځي نو خپلې چپې دې ګوري كه نجاست ورپسې لږيدلى

فَلْيَمْسَحْهُ وَ لِيُصَلِّ فِيهِمَا » .[1]

وي او درته معلوم شي نو صفا يې کړئ او مونځ په کې وکړئ.

توضيح: قذر: هر هغه کنډکي چې طبيعت يې ناخوښه کړي او دې څخه کنده بوی راشي هغه قذر دی چې ددې د پاره ضروري نه دی چې هغه نجس هم وي لکه څنګه چې بلغم دی دا قذر دی خو نجس نه دی. (المرقات ۲/۴۷۴).

عن يسارة: دا په هغه صورت کې جائز دی، چې کس طرف ته مونځ ګزار نه وي، ګيني راتلونکي حديث کې ددې ممانعت موجود دی، چونکې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ امام دی، ځکه ستاسو کس طرف ته څوک نه وو، بل پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ دوران کې پيزار ويستل عمل قليل دی د مونځ منافي نه دی.

فاخبرني جبرائيل: پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ د طبعي نظافت او د کمال احتياط په نظر اطلاع ورکړه، په بوټانو پسې ګندګي ده، ددې مطلب دا نه دی چې نجاست سره تا د مونځ څه حصه ادا کړی ده، دې حديث څخه يوه دا خبره معلومه شوه، پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته علم الغيب نه وو ګيني جبرائيل د نبوت نه مخکې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله چپړې ويستلی وې، دويمه خبره دا معلومه شوه، د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هر فعل واجب اتباع دی، ځکه چې صحابو اوليدو نو اتباع يې وکړه، که يو عمل د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خصوصياتو څخه وي، نو په هغې کې اتباع نشته دی، دريمه خبره دا معلومه شوه، که د چپړو سره نجاست لږ يدلی وي، مونځ نه کيږي او ګندګي څخه استعمال چپړې صفا کول آسان نه دي، لهذا پيزار سره مونځ کول نه دي په کار.

فليمسحه: که ګندګي وچه وي، نو رابښکلو سره صفا کيږي او که ګندګي لونده وي، نو وينځلو سره صفا کيږي، کيدای شي دلته د سړک ختې وي هغه داسی هم معاف دي، د بحث چيړلو ضرورت نشته، چې پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعضې مونځ تحمل نجاست سره کړی وو، بيا مونځ څنګه صحيح دی؟

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : کله چې په تاسو کې څوک مونځ کوي

فَلَا يَضَعْ نَعْلَيْهِ عَنْ يَمِينِهِ وَلَا عَنْ يَسَارِهِ فَتَكُونَ عَنْ يَمِينِ غَيْرِهِ

نو نه دي ږدي پيزار خپل خي طرف ته او نه کس طرف ته ، چې وي به نبي طرف دده ته دويم کس مګر که

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۲۶ رقم الحديث : ۶۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا أَنْ لَا يَكُونَ عَنْ يَسَارِهِ أَحَدٌ وَ لْيَضَعْهُمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ ». وَ فِي رِوَايَةٍ:

چيرته نه وي ګس طرف ته بل څوک ، بلکې ږدي دې د دواړو خپو په مينځ کې ، او په يو روايت کې دي :

« أَوْ لِيُصَلِّ فِيهِمَا ».[1].

يادې مونځ وکړي داسې حالت کې چې پيزاريې اچولی وي .

الْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۱۰﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ : دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَرَأَيْتُهُ

د حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې زه داخل شوم په نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې نو ما وليدو

يُصَلِّي عَلَى حَصِيرٍ يَسْجُدُ عَلَيْهِ.

نبي عَلَيْهِ السَّلَام چې مونځ يې کولو په پوړ باندې او په دې باندې يې سجده کوله نو ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

قَالَ : وَ رَأَيْتُهُ يُصَلِّي فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ مُتَوَشِّحًا بِهِ [2].

وايي: ما وليدو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونځ کولو په يوه کپړه کې چې نختي وه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام جسم پورې.

توضيح: **على حصير**: حصير د کهجورو د شاخونونه جوړه شوي پوړ ته وايي، (المرقات ۲/۴۷۶) بعضې د دې ترجمه په بوريا سره کوي، حديث کې **الخمرة** لفظ راغلی دی، هغه هم دلته پوړ ده، البته حصير لوی او **الخمرة** وړکوتي پوړ ته ويلې شي دا حديث په دې دلالت کوي چې د مونځ ګزار د تندي او ځمکې په مينځ کې کوم ځای حائل وي هغې باندې مونځ کول جائز دي، دلته چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام په پوړ باندې مونځ کړی دی، د دې څخه داخبره هم ثابت کېږي، د پوړ څخه علاوه کپړو او قالينو باندې مونځ کول هم جائز دي، اګرچې دې د پاره علماو سره ځان له دلائل دي خو دلته اشاره هم دليل دی.(المرقات ۲/۴۷۶).

د مالکيو حضراتو مشر قاضي عياض رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ځمکې باندې بغير د څه څيز څخه مونځ کول افضل دي، ځکه چې سر او تندې خالص په خاورو باندې کيښودو سره اعلی درجه حضوع او خشوع حاصليږي دا د مونځ اصل روح دی، که مجبوري وي، يخنۍ يا ګرمۍ څخه د بچ کيدو ضرورت وي، نو

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۴۲۸ رقم الحديث : ۶۵۴ ، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۴۶۰ رقم الحديث: ۱۴۳۲.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۳۶۹ رقم الحديث : ۲۸۴- ۵۱۹.

بيا پوړ و غيره اچول بهتر دي.

بعضې حضرات وايي کوم څيزونه د ځمکې څخه راوتي وي هغې باندې مونځ جائز دی، خو کوم چې راوتي نه وي د ځمکې څخه، لکه کپړې وغيره، هغې باندې مونځ بهتر نه دی، اوريدلي مو دي چې حجاج بن يوسف خالي ځمکې باندې سجده کول ضروري ګڼله اوپوړ وغيره باندې مونځ کول ناجائز ګڼل، تعجب په دې دی چې څومره ډيرو بې ګناه مسلمانانو قاتل دلته دومره احتياط کوي او د انسانانو د قتل ګناه يې هيره وي، بهر حال د جمهورو علماو په نزد باندې پوړ او کپړې وغيره باندې مونځ کول جائز دي.

﴿۱۶﴾ وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ:

حضرت عمرو بن شعيب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خپل پلار نه او هغه د خپل نيکه نه روايت کړې دي او هغه وايي چې:

رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي حَافِيًا وَ مُنْتَعِلًا[1].

ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ليدلی چې مونځ به يې کولو کله خپې ابله او کله د پيزار سره.

په يو څادر کې مونځ کول څنګه دي

﴿۱۷﴾ وَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ: صَلَّى جَابِرٌ فِيْ إِزَارٍ قَدْ عَقَدَهُ

د محمد بن منکدر نه روايت دی وايي چې: مونځ وکړو جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يوائې په لنګ کې چې ترلی يې ؤ

مِنْ قِبَلِ قَفَاهُ و ثيابه مَوْضُوعَة على المشجب قَالَ لَهُ قَائِلٌ تُصَلِّي

خپل څټ طرف ته او کپړې يې زورندې وي په کونتۍ باندې، چا ترې تپوس وکړو: تا مونځ وکړو يوائې

فِي إِزَارٍ وَاحِدٍ فَقَالَ إِنَّمَا صَنَعْتُ ذَلِكَ لِيَرَانِيَ أَحْمَقُ مِثْلُكَ وَ أَيُّنَا

په لنګ کې نو جواب يې ورکړو: ما دا کار په دې وجه وکړو چې ما وګوري يو احمق ستا په شان او د چا

كَانَ لَهُ ثَوْبَانِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ[2].

سره وي دوه جامې په زمانه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې.

توضيح: المشجب: ميم کسره او شين ساکن جيم باندې فتحه ده. (الکاشف ۲/۳۲۴، المرقات ۲/۴۷۷) (عيدان يضم رؤسها يخرج بين قوائمها و توضع عليها الثياب) د پوهيدو د پاره ددې ترجمه کونتۍ

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۲۷ رقم الحديث: ۶۵۳

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۴۶۷ رقم الحديث: ۳۵۲، وأخرجه أحمد في المسند ۳/۳۳۵

Maktaba Tul Ishaat.com

سره کولی شي، خو حقیقت کې دا یو داسی څیز دی، چې کورونو کې نصب کولی شي، د تکون په شکل باندې وي، ددې لاندې کلې یو ښپه او کله درې ښپې وي، ددې بره حصه کې ډیر کوتپیانې جوړې وي. دې ته د ضرورت کپړې اچولی شي، مخکې زمانې کې به دې ته مشکیزې ځوړند ولی شوې، چې اوبه یخې وی، نن سبا هم دا څیزونه موجود دي، د کپړو وغیره د پاره استعمالیږي.

حضرت جابر رضی الله عنه د شریعت مطهره حدود و ظاهر کولو د پاره داسې وکړه د کپړو په موجودګی کې یو کپړې کې مونځ وکړو، یو تابعي دوی ولیدلو او خیال یې وکړو چې خلاف سنت کار کوي، نو زړې اعتراض وکړو، حضرت جابر رضی الله عنه سختی سره جواب ورکړو چې سنت طریقې ته ولې خلاف سنت وایي ته احمق یې، د نبي علیه السلام په زمانه کې د یوې کپړې نه ډیرې چا سره وې، دغه یوې کپړې کې به یې مونځ کولو، دا جائز دي.

غرض یې دا ؤ چې حضرت جابر رضی الله عنه د دغه کس د عدم جواز نظریه رد کړه، کله چې ستر پټ وي، نو یو کپړه کې مونځ جائز او صحیح دی او شریعت کې د جواز حد تعین فرمایي، دې څخه دا نه معلومیږي چې داسې افضل دي، افضل هغه دی چې درې کپړې مونځ د پاره استعمال شي، لکه چې راتلونکي د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه په روایت کې تصریح موجود ده او هغه د صحابو مکالمې ذکر دي د جواز او افضلیت او د ادب ځایونه ځانله ځانله دي.

تاسو په یو مثال سره ځان پوه کړئ یو خادم ته یو کس ویل چې بازار ته لاړشه او منه راوړه هغه کس لاړو او منه یې په خپله لمن کې په زولی کې راوړه او خپل مخدوم ته یې په ځمکه باندې مخامخ واچوله، دغه کس د آقا حکم پوره کړو، نامناسبې طریقې سره او دغه رنګ د آقا په حکم باندې بله منه راوړه او صفا یې کړه او په یو ښکلي لوخي کې یې واچوله او د بره یې پرې یو دوه ګلونه هم کیښودل او د آقا مخې ته یې په دسترخوان وغیره باندې کیخودله، ده هم حکم پوره کړو، خو په صحیح طریقې باندې، دا صورت د مونځ هم دی، د الله تعالی حکم پوره کولو د پاره یوه کپړه هم کافي ده، خو د ادب تقاضا بله ده. نن سبا غیر مقلدین د آدابو دا ښائسته طریقې پریږدي مونځونو کې داسې شکل اختیار کړي، چې په خپله انسان ته ښه نه لږي، نو د کائناتو خالق ته به څنګه ښه ولږي.

چون بشنوی سخن اهل دل مگو که خطاء است ❁ سخن شناسی نه ئی دلبرا خطا این جا است
نه هر جائی مرکب توان تاختن ❁ که جاه یا سپر باید انداختن
هزار نکته باریک تر ز مو این جا است ❁ نه هر که سر بتراشد قلندری داند

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: الصَّلَاةُ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ سُنَّةٌ كُنَّا نَفْعَلُهُ

د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دی وایي: مونځ کول په یوې کپړې کې سنت دي مونږ به دغسې

مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا يُعَابُ عَلَيْنَا . فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ : إِنَّمَا كَانَ

مونځ کولو د نبي عليه السلام په زمانه کې او مونږ ته به چا بد نه وېل ، نو ابن مسعود رضي الله عنه وايي دا په هغه

ذَالِكَ إِذْ كَانَ فِي الثِّيَابِ قِلَّة فَأَمَا إِذْ وَسَّعَ اللهُ فَالصَّلَاةُ فِي الثَّوْبَيْنِ أَزْكَى [1].

وخت کې چې کله کپړې کمې وي اوس الله کپړو کې وسعت راوستی نو په دوه کپړو کې مونځ کول بهتر دي

توضيح: سنة: ای جائزة يعنې يو کپړه کې مونځ کول جائز دي مونږ به په يوه کپړه کې مونځ کولو چا هم څه طعن نه دی کړی، حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه د مونځ جواز خبره کوي چې : که يوه کپړه وي، نو مونځ په کې جائز دی. (المرقات ۲/۴۷۷).

فقال ابن مسعود :مخکنی زمانه کې د کپړو تنګۍ طرف ته اشاره کړې ده، دغه وجې نه په يوه کپړه کې د جواز مونځ فرمايلی وو.

ازکی: يعنې کله چې الله تعالی وسعت وکړي او کپړه موجود وي، بيا د جواز د حد څخه وتل د افضل په حد باندې عمل کول په کار دي، او هغه دا چې دوو کپړو کې مونځ افضل او پاکه خبره ده.
نن سبا غير مقلدينو آزاد خيالو ته د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه خبره ياد ساتل په کار دي او په هغې باندې عمل کول په کار دي د ليوانو جوړيدو څخه څه فائده ده.

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۵/۱۴۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ السُّتْرَة:
د سترې بيان

دې باب کې ټول اتلس(۱۸) احاديث مذکور دي، دې کې سترې نه علاوه د مونځ ګزار مخې ته تيريدو باندې وعيد او د مونځ ماتيدو څيزونو بيان دی.

سترة: سين باندې ضمه ده او تا ساکنه ده، لغت کې د يو څيز شا او اړخ او د پردې په معنی کې ده، ددې اصطلاحي مفهوم دا دی، چې مونځ ګزار مخې ته ودريدونکي څيز ته سترې ويلې شي، چې دې سره د مونځ ګزار د سجدې ګاه پته ولږيږي او تلونکي خلک ګناه ګار نه شي، سترې کې ديوال، لرګی، ستن وغيره استعمالولی شي، يعنې هر هغه څيز چې انسان ته د لرې نه په نظر باندې راځي سترې د پاره ضروري ده، چې اوږدوالي يې کم از کم يو ګز وي او د زياتوالي يې هيڅ مقدار نشته دغه شان پلنوالي کې يې هم څه حد معلوم نه دی، که ودريدل يې ممکن نه وي، نو بيا سور کيښودل په کار دي، پدې شرط سره چې سترې لويه وي، شوافع دوه ثلث ذراع په طول کې جائز ګڼي، د سترې پلنوالي کم از کم د يو ګوتې برابر وي، چې په نظر راځي د امام سترې د مقتديانو د پاره کافي ده ځان له ځان له سترې ته ضرورت نشته، که يو کس د مقتديانو صفونو منځ کې تيريږي، نو دوی په دې وعيد کې نه راځي کوم چې احاديثو کې موجود دی، د امام سترې د مقتديانو د پاره کافي ده، که يو کس طولا صفونو کې مخکې راځي يا بهر وځي دا د احاديثو د وعيد څخه خارج دی، اګر چې بغير ضرورت داسې کول مناسب نه دي. خو اصل وعيد عرضاً تلونکي د پاره دی، د غه رنګ که يو مسجد شپيته (٦٠) قدمونو څخه ډير کولاو وي، نو بيا د مصلی مخې ته دومره حد کې تيريدل په کار دي، چې د مونځ ګزار نظر پرې نه لږي، ـې هغه خپل سجدې ځای ته ګوري، که مسجد ددې څخه کم وي، نو بيا مخې ته مطلقاً تيريدل منع ـي. که د سترې د پاره لرګی نه وي، نو بيا محرابي شکل يو کرښه سترې جوړول هم جائز دي حديث کې ددې ـکر راغلی دی اګر چې احنافو فقهاو د هدايې والا شان د کرښې حيثيت لره سترې کې نه دی شامل کړی. د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ يو قول دا هم دی، چې د امام سترې صرف د امام سترې ده او مقتديانو د پاره امام په خپله سترې ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:
يوه تاريخي سُتره

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَغْدُو إِلَى الْمُصَلَّى

د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَام د سحر په وخت کې عيد ګاه ته تشريف راوړو

وَ الْعَنَزَةُ بَيْنَ يَدَيْهِ تُحْمَلُ وَ تُنْصَبُ بِالْمُصَلَّى بَيْنَ يَدَيْهِ فَيُصَلِّيْ إِلَيْهَا .(۱).

اونيزه يې ودروله دده وي مخې ته ، چې کومه به دوي مخې ته ودروله اودوي به هغې ته مونځ کولو .

توضيح: **العنزة**: د عين فتحې سره او نون او زا باندې هم فتحه ده، داسې نيزې ته ويلي شي، چې د عصا څخه اوږده وي، خو د اوږدې نيزې څخه وړه وي، که نون ساکن وويلي شي، نو عنزة چيلى ته ويلي شي، دلته ددې نيزې څخه خاص تاريخي نيزه مراد ده.(المرقات ۲/۴۷۹).

واقعه داسې وه، جنګ بدر کې حضرت زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په يو کافر حمله وکړه چې د هغه نوم عبيده بن سعيد وو، چې اسلحه کې پټ وو، صرف سترګې يې په نظر راتلې، حضرت زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په هغه حمله وکړه او نيزه يې ورته په سترګو کې ورکړه هغه راپريوتو او مړ شو، خو زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته خپله نيزه راويستل مشکل شو، دوی په هغوئ باندې لوی بوج واچولو او نيزه يې ترې ويستله، چې هغې سره نيزه کږه شوه، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې تاريخ ژوندی ساتلو د پاره دا نيزه سترې د پاره استعمالوله، بيا صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، بيا عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، بيا عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، په دور خلافت پورې دا تاريخي نيزه خلفاء راشدينو استعمالوله ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې نيزې نه د سترې کار هم اخيستو ، او د ځمکې د نرمولو د پاره به يې هم استعمالوله او جنګ بدر تاريخي فتحې ياد ساتلو طرف ته به يې اشاره هم فرمايله.

تنصيب: د نصب کولو او دخولو په معنى ده، بالمصلى دې څخه مراد عيدګاه ده، عيدګاه کولاو ميدان کې وه ديوال مخامخ نه وو ، ځکه سترې نصب کول ضروري وو .

د سُترې مخې ته تيريدل جائز دي :

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ : رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ وَ هُوَ بِالْأَبْطَحِ

د حضرت ابو جحيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي ما وليد و نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مکه مکرمه کې د ابطح په مقام کې

فِيْ قُبَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ أَدَمٍ وَ رَأَيْتُ بِلَالًا أَخَذَ وَضُوءَ

په سرې چمړې والا خيمه کې او ما وليد و حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې اخيستې وي باقي مانده اوبه داود س د

رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ رَأَيْتُ النَّاسَ يَبْتَدِرُوْنَ ذٰلِكَ الْوَضُوءَ فَمَنْ أَصَابَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه او ما وليده نور خلک چې تيزي يې کوله د دغه اوبو په حاصلولو کې نو چاته چې ملاوشوي

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۴۶۳،رقم الحديث :۹۷۳، وابن ماجة ۱/۴۱۳، رقم الحديث:۱۳۰۴. أخرجه أحمد في المسند ۲/۱۴۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْهُ شَيْئًا تَمَسَّحَ بِهِ وَ مَنْ لَمْ يُصِبْ مِنْهُ شَيْئًا

ددې نه څه اوبه نو مړلي به يې په خپل بدن يا خوله باندې ، او چا ته چې به څه ملا و نه شو نو د بل کس د

أَخَذَ مِنْ بَلَلِ يَدِ صَاحِبِهِ ثُمَّ رَأَيْتُ بِلَالًا أَخَذَ عَنَزَةً

لوند والي نه به يې څه حاصل کړل ځان پسې به يې مړلي ،بيا ما وليدو بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې نيزه يې په ځمکه

فَرَكَزَهَا وَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فِيْ حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مُشَمِّرًا صَلَّى إِلَى الْعَنَزَةِ

کې خښه کړه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره کرخو والا جوړه اچولې وه او لمن يې اوچته کړې راوتو او نيزې ته مخامخ

بِالنَّاسِ رَكْعَتَيْنِ وَ رَأَيْتُ النَّاسَ وَ الدَّوَابَّ يَمُرُّوْنَ بَيْنَ يَدَيِ الْعَنَزَةِ .(متفق عليه)[1].

اودريدو او صحابو ته يې دوه رکعته وکړه او ما وکتل چې سړي اوځناور به دستړې مخې ته تيريدل.

توضيح: الابطح: دا د مکې څخه منى ته چې ځې نږدې د يوې کولاو نالى نوم دى، چې المحصب ورته هم ويلي شي، دغه ځاى کې ډير ميده کانې دي ، ځکه ورته ابطح او محصب ويلي شي، چې د ميده کانو په معنى کې دى. (المرقات ۲/۴۷۹، اشعة اللمعات ۳۷۵)

أدم: داد اديم جمع ده، د چمړې په معنى کې دى.

الوَضوء: د واو فتحې سره هغه اوبو ته ويل کېږي چې د اودس څخه پس باقي پاتې شي او هغه اوبو ته هم ويل کېږي چې د اعضاو څخه منفصل کېږي او پريوځي، صحابو بطور تبرک دا اوبه استعمالولى او دا اوبه د تبرک د پاره شايان شان هم دي، چې دا د پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعضاء او عبادت کې استعمال شوې مبارکې اوبه دي.

حلة حمرا: يعنې داسې جوړه وه چې دې کې سرې وې (سرخ) کرخې خالص سور نه وو ، ځکه چې دغه د سړو د پاره جائز نه دى. **مشمرا**: تشمير په حالت د کپړو راغونډولو کې زر تلو ته ويلي شي.

يمرون: مرور تلو ته ويلي کېږي، يا تيريدو ته، دې کې **تغليب العقلاء على غير العقلاء** دى، يعنې صيغه د مذکر عاقل ده، خو مراد صرف عقلاء نه دي، بلکې ځناور هم مراد دي، ظاهره ده، چې خلک سترې مخې ته تيريدو او بيان کيدو څخه مقصود هم دا دى، چې سُتره کافي ده، که سُتره وي نو مخې ته تيريدو کې هيڅ ګناه نشته، بلکې جائز دى.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۴۸۵،رقم الحديث : ۳۷۶، ومسلم في الصحيح ۱/۳۶۰ رقم الحديث: ۲۵۰-۵۰۳ .

د ځناور نه سُتره جوړول هم جائز دي

﴿۳﴾ وَ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ يُعَرِّضُ رَاحِلَتَهُ

حضرت نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كوي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د خپلې سورلۍ مخې ته كينوؤ

فَيُصَلِّيْ إِلَيْهَا . (متفق عليه) وَ زَادَ الْبُخَارِيُّ قُلْتُ :

هغې طرف ته يې مونځ كولو. او مزيد بخاري دا هم نقل كړي دي چې ما تپوس وكړو د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه

أَفَرَأَيْتَ إِذَا هَبَّتِ الرِّكَابُ . قَالَ : كَانَ يَأْخُذُ الرَّحْلَ

چې اوښ به چيرته تللو ،نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به څه كول ؟ ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به كجاوه مخې

فَيُعَدِّلُهُ فَيُصَلِّيْ إِلَى آخِرَتِهِ .[1].

ته كيښوده او د هغې روستنۍ لرګي طرف ته به يې مونځ كولو.

توضيح: يعرض : صيغه باب ضرب يضرب څخه ده، يو ځناور په سور كې كينول مراد دي، چې د مونځ ګزار او قبلې په منځ كې سترە جوړه شي، باب **تفعيل** څخه هم دا معنى مراد ده.

افرايت: يعنې ماته خبر راكړه او ماته ووايه.

اذا هبت: هبوب د خوب څخه پاڅيدو يا يو ځناور كيناستو نه پس پاڅيدو ته ويلي شي، شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ وايي، هبوب لفظ د تللو د پاره بطور مجاز استعمال شوى دى، يعنې كله ځناور موجود نه وي، بلكې د څريدو يا اوبه څښلو د پاره تلى وي، بيا سترە كوم څيز نه وي. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي اذا هبت اى قامت للسير، دې كلام څخه اندازه لږي، چې ځناور دوران مونځ كې پاڅيږي لاړشي، بيا به څه كيږي، حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته جواب وركړو، بيا به پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كيجاوه د ستري د پاره كيښوده، د حديث سياق او سباق تقاضا دا ده، د مونځ په دوران كې ځناور تللو څخه پس ستري په باره كې سوال وكړو او جواب د دغې متعلق راغلى او كيجاوه صحيح كول مونځ په دوران كې عمل قليل دى، يو لاس سره كيږي. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ دې اشارې څخه زه د دې سياق او سباق كې خبره كوم، ورنه په يو شرح كې هم تشريح ما نه ده ليدلې، عام شراحو هغه مطلب اخيستى، كه يو ځناور د څريدو د پاره تلى ؤ او ستري د پاره څه نه وو، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به څه كول، ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب وركړو :بيا به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د كجاوې نه سترە جوړه كړه، خو دا مطلب سياق او سباق څخه ډير لرې وو، د

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۵۷۰،رقم الحديث : ۵۰۷، ومسلم في الصحيح ۱/۳۵۹ رقم الحديث:۲۴۷-۵۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

سترې د پاره ځناور متعين نه وو، سترہ هر څيز څخه جوړيږي، بيا ددې سوال او جواب څه مطلب دی.

الرکاب: ددې نه مراد اوښ دی، ددې مفرد **راحله** ده، خپلې صيغې نه ددې مفرد نه راځي قاموس کې دي **رکاب** بر وزن **کتاب** ددې مفرد **راحله** ده، او ددې جمع **رکب** بر وزن **کتب** دی، **رکابات** او **رکائب** هم راځي. (كذا في اللمعات) **يعدله:** دتعديل څخه دی برابرا و نيغ معنی کې دی.

الی اخرته: کجاوې دواړه طرف ته لرګي لږيدلي وي، يو ددې مخکې حصه کې چې دا سور په لاس کې نيسي او يو ددې په آخره کې وي، چې دې ته سور تکيه لږولې وي. اخرة د آخري لرګي نوم دی، هغې ته مؤخره الرحال هم ويلي شي، چې راتلونکي حديث کې دي، دې حديث کې د ځناورو ذکر دی فقها ليکي که يو انسان د مونځ ګزار مخې ته ناست وي، نو دده پشت يعنې ملا دې سترہ جوړه کړي، خو چې مخامخ نه وي.

﴿٤﴾ وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسلم: «إِذا وَضَعَ
د حضرت طلحه بن عبيد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي چې کله سُتره جوړه کړي
أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ فَلْيُصَلِّ
يو کس دستاسو نه خپلې مخې ته په شان دورو ستنې لرګی د کجاوې نو هغه ته په کار دي چې مونځ وکړي
وَلَا يُبَالِ مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذٰلِك» (رَوَاهُ مُسلم). (١)
او پرواه دې نه کوي که مخې ته يې څوک تيريږي.

توضيح: ولايبال: يعنې سُترې نه پس د چا پروا مه کوئ، چې څوک مخې ته تيريږي، ځکه چې د سترې په موجودګی کې د مونځ ګزار په مونځ کې اثر نه پيروځي، اطمينان سره مونځ کوئ، دې صورت کې **لايبال** تعلق د مونځ ګزار سره دی او دا احتمال هم دی، چې د **لايبال** تعلق د تيريدونکي سره وي، مطلب دا چې کله سترہ موجود وي، نو مونځ ګزار مخې ته تيريدونکي ته پروا نه ده په کار، چې زه د مونځ ګزار مخې ته زم، بلکې بغير د خطرې څخه دې تيريږئ د سترې په موجودګی کې تيريدل جائز دي، هيڅ قسم د غم ضرورت نشته. (المرقات ۲/۴۸۳، اشعة اللمعات ۳۷۶).

---

(١) أخرجه مسلم ١/٤٥٨ رقم الحديث: ٢٤١-٤٩٩، وأبو داود ١/٤٤٢ رقم الحديث: ٦٨٥، والترمذي ١/١٥٦ رقم الحديث: ٣٣٥، وابن ماجة ١/٣٠٣، رقم الحديث: ٩٠٤. أخرجه أحمد في المسند ١/١٦١.

مونځ ګزار مخې ته په تير يدلو باندې لويه ګناه ده

﴿٥﴾ وَعَنْ أَبِي جُهَيْمٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ

دابو جهيم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي که چيرته معلومه شي تيريدونکي

بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِيْنَ خَيْرًا لَهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ

د مونځ ګزار مخې ته ددې په سزا باندې ، نو اودريدل څلويښت کاله به بهتر وګڼي ددې نه چې تير شي د

بَيْنَ يَدَيْهِ » قَالَ أَبُو النَّضْرِ : لَا أَدْرِي قَالَ : « أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ شَهْرًا أَوْ سَنَةً » . (متفق عليه)[1].

مونځ ګزار مخې ته ، ابو نضر وايي : ما ته پته نشته چې څلويښت ورځې که مياشتې او که کاله يې ويلي.

توضيح: ماذا عليه: يعنې مونځ ګزار مخې ته تيريدو والا ته که په عين اليقين معلوم شي چې دې تيريدو باندې څومره سخته سزا ده، نو څلويښت کاله به انتظار وکړي او د مونځ ګزار مخې ته به تير نه شي. (المرقات ۲/۴۸۳)

انسان پنځه منټه انتظار کې ستړی کيږي، نو څلويښت کاله انتظار به څومره سخت وي او ددې سزا په بدله کې څلويښت کاله انتظار هم کم دی، ځکه چې د تيريدو سزا ډيره سخته ده. (اشعة اللمعات ۳۷٦).

اربعين: دې لفظ کې شک پريوتو چې د **اربعين** تميز څه دی، آيا څلويښت ورځې يا څلويښت مياشتې يا څلويښت کاله. د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو روايت امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ په مشکل الاثار کې بيان کړی دی هغه کې سل کاله د انتظار کولو ذکر دی، امام طحاوي دا ثابت کړو زير بحث حديث کې د څلويښتو څخه څلويښت کاله مراد دي، بعضې روياتو کې **اربعين خريفا ای سنة** .

علماء ليکي وعيد هغه تيريدونکي په باره کې دی، چې د مونځ ګزار مخې ته عرضا تيريږي همدارنګې دا هغه صورت دی چې تيريدونکی د مونځ ګزار د سجدې په ځای تيريږي، بعضې د مونځ ګزار بدن سره مس کيدو قيد هم لږولی دی، بهر حال وعيد سخت دی، علماء د مجبوری د وجې څخه حرمين شريفين ددې څخه مستثنی کړي دي، ورنه بيا هلته ټوله ورځ انسان يو طرف ته نه شي تلې، ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ کعبه د خلکو د پاره ستره ګرځولې ده . (كذا في المرقات ۲/٤۸۳)

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/٥۸٤،رقم الحديث : ٥۱۰، ومسلم في الصحيح ۱/۳٦۳ رقم الحديث:۲٦۱-٥۰۷، وأبو داود ۱/٤٤۹ رقم الحديث :۷۰۱، والنسائي ۲/٦٦، رقم الحديث: ۷٥٦ .

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ ګزار مخې ته تيريدو والا ته دې سُوک ورکړی شي اوودې درولی شي

﴿٦﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ

دحضرت ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: چې کله مونځ وکړي يو کس يو

إِلَى شَيْءٍ يَسْتُرُهُ مِنَ النَّاسِ فَأَرَادَ أَحَدٌ

داسې څيز طرف ته چې هغه ستره وي د خلکو نه بيا که اراده وکړه يو کس (يعنې مونځ ګزار او دستري په

أَنْ يَجْتَازَ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلْيَدْفَعْهُ فَإِنْ أَبَى فَلْيُقَاتِلْهُ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ».

مينځ) د تيريدو نو وي دروه او که ويې نه منې، نو قتل يې کړه ځکه چې (داسې صورت کې) دا شيطان

هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَ لِمُسْلِمٍ مَعْنَاهُ. (١).

دی (دا الفاظ د بخاري دي او مسلم دا روايت بالمعنى نقل کړی).

توضيح: فليدفعه: عمل کثير سره دفع کول اجماعاً مفسد الصلوة دی، همدارنګې د دفاع دا حق ستري کيښودو نه پس دی او که مونځ ګزار ستره نه وي ايښودې، نو جرم د مونځ ګزار دی، (المرقات ۲/۴۸۵) باقي پاتې شوه دا مسئله چې دفاع کول اولی او بهتر دي يا غير اولی دي. دې کې تفصيل دی نفس دفاع مباح ده، خو دفاع نه کول امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې اولی ده، جمهورو فقهاو په نزد باندې دفاع کول وجوبي حکم نه دی، کومو آحاديثو کې چې د دفاع حکم راغلی، هغه د بيان رخصت د پاره دی يا شروع کې وجوب وو، بيا منسوخ شو. (كذا في الزيلعي)

فليقاتله: د جګړې په معنى کې دی، د قتل په معنى کې نه دی، د قتال مفهوم د قتل څخه جدا دی، خو بعضې روايتو کې فليقتله الفاظ راغلي دي، دې نه په بنکاره قتل مراد دی، اوس که يو کس ظاهري حديث باندې عمل وکړو او دفاع يې وکړه هغه کس واقعي وهلی شي، قاضي عياض رَحِمَهُ اللهُ فرمايي د دفاع حد پورې دفاع کولو څخه که څوک مړ شو، علماء په دې اتفاق دی، چې قصاص نشته، خو ديت کې اختلاف دی، بعضې ديت واجب ګڼي بعضې يې واجب نه ګڼي.

فانه شيطان: اوس دا کس د شيطان والا کار کوي، د شيطان په شان سرکشي باندې راکوز شوی دی، د شيطان په شان شو، که يو مونځ ګزار د لاري په منځ باندې ودريدو، نو ګناه په هغه باندې ده.

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ١/٥٧١،رقم الحديث :٥٠٩، ومسلم في الصحيح ١/٣٦٢ رقم الحديث ٢٥٩-٥٠٥، وأبو داود ١/٤٤٩ رقم الحديث :٧٠٠، والنسائي ٢/٦٦، رقم الحديث ٧٥٧ ، وابن ماجة١ ٢٠٧، رقم الحديث ٩٥٤.

مونځ ګزار مخې ته زنانه، خر، او د سپي تيريدلو حکم

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَقْطَعُ الصَّلَاةَ

د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايلي دي: باطلوي مونځ

الْمَرْأَةُ وَ الْحِمَارُ وَ الْكَلْبُ. وَ يَقِي ذٰلِكَ مِثْلُ مُؤْخَرَةِ الرَّحْلِ ». (۱).

ښځه، خر او سپی او کيخودی شي د کيجاوې وروسته لرګې په شان يو څيز دسترې د پاره.

توضيح: تقطع الصلوة: ددې حديث ظاهري الفاظ دې باندې دلالت کوي، که د يو مونځ ګزار مخې ته خر، سپی او ښځه تيره شي، نو ددې مونځ باطل شو، دې دريو څيزونو ددغه کس مونځ باطل کړو.

سوال دا دی، دا حديث دغه رنګ په ظاهر باندې دی، يا د نورو احاديثو د وجې نه ددې ظاهر مؤول بتاويل دی، دې کې د فقهاو اختلاف دی. (المرقات ۲/۴۸۶).

د فقهاء کرامو اختلاف: درې واړو ائمو امام مالک، امام ابوحنيفه او امام شافعي رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد ښځه، خر او سپی يا ددې نه علاوه بل يو انسان يا ځناور که د مونځ ګزار مخې ته تير شو دې سره مونځ نه باطليږي امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او اهل ظواهرو په نزد باندې ښځه، خر او د سپي تيريدو سره مونځ فاسديږي. امام احمد رَحِمَهُ اللهُ نورو احاديثو کې د ښځې او خر تيريدو باره کې شک کې پريوتي دي او فتوی يې ورکړې ده، چې صرف سپي تيريدو سره مونځ ماتيږي، بيا سپو کې د تور سپي قيد بعضې روايتو کې دی، نو صرف تور سپې قاطع الصلوة وګرځولی شو، باقي نور څيزونه قاطع صلوة نه دي.

دلائل: امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ او اهل ظواهر زير بحث حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت نه استدلال کړی دی، دې کې درې څيزونه واضح طور باندې قاطع صلوة دي، په ابوداود شريف کې دا الفاظ دي: **(قال يقطع الصلوة المراة الحائض والكلب)** (ص، ۱۰۳)

جمهور د حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت څخه استدلال کوي، په مشکوة کې (ص، ۷۴) باندې موجود دی، الفاظ دا دي: **(لا يقطع الصلوة وادرؤ ما استطعتم)** (ابوداود)

همدارنګې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايت نمبر (۸) په مشکوة کې (ص، ۷۴) باندې موجود دی، ددې څخه يې هم استدلال کړی، د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت نمبر (۹) په مشکوة کې (ص ۷۴) باندې موجود دی، ددې څخه يې هم استدلال کړی دی، دغه رنګ حضرت فضل بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت نمبر (۱۳) څخه هم جهمورو استدلال کړی دی. دې ټولو احاديثو څخه معلومه شوه، چې ښځه،

---

(۱) مسلم ۳۶۵/۱ رقم الحديث: ۲۶۶- ۵۱۱، واخرج ابن ماجه أوله ۳۰۵/۱ رقم الحديث: ۹۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

خر او سپی قاطع صلوة نه دي، حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا زوردار انداز سره ددې تردید وکړو او وې فرمایل : (**شبهتمونا بالحمر والكلاب**)(بخاري ص ۷۳).

اول جواب: د حنابلو او اهل ظواهرو د پیش کړو دلائلو جواب دا دی، قطع صلوة څخه مراد خشوع او خضوع او تعلق مع الله خاص رابطه ده هغه ختمیږي. دې څیزونو کې سپی او خر مضر بالجسم دي. او بنځه مضمر بالمیل والحسن ده، دا درې واړه انواع د شیطان د وسوسو مراکز دي، ددې په ذریعه شیطان د مونځ ګزار نورانیت او وصل مع الله او توجه او ځان له والی ختمیږي، خو مونځ نه فاسدیږي. دغه رنګ به ټولو روایاتو کې تطبیق راشي. **دویم جواب**: ددې حضراتو روایات د جمهورو د روایاتو مخې ته منسوخ دي، په خپله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه څیزونو سره مونځ قطع کیدلو قائل وو او دغه روایاتو راوي دی، خو بعد کې د عدم قطع فتوی ورکوله دا د نسخ دلیل دی.

دریم جواب: ددې دریو څیزونو په فساد کې مبالغې طرف ته اشاره شوې ده، ددې فتنه لویه او سخته ده، مونځ کې دې څخه بچ شئ، دا د احتیاط او احتراز طرف ته توجه راولي.

مونځ ګزار مخې ته د بنځې په راتلو سره مونځ نه باطلیږي

﴿۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ وَ أَنَا مُعْتَرِضَةٌ
د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی وایي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د شپې مونځ کولو او زه داسې پرته وم
بَيْنَهُ وَ بَيْنَ الْقِبْلَةِ كَاعْتِرَاضِ الْجَنَازَةِ . [1].
په مینځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ او د قبلې کې لکه څنګه چې جنازه د مونځ ګزار مخې ته پرته وي.

مونځ ګزار مخې ته د خر په تیریدو سره مونځ نه باطلیږي

﴿۹﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : أَقْبَلْتُ رَاكِبًا عَلَى أَتَانٍ وَ أَنَا يَوْمَئِذٍ قَدْ نَاهَزْتُ
ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې زه یوورځ سوررا غلم په خر باندې او زه په دې وخت کې بلوغت
الِاحْتِلَامَ وَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ بِمِنًى إِلَى غَيْرِ جِدَارٍ
ته نزدې وم او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ منى کې د خلکو سره مونځ کولو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مخې ته دیوال نه وو (یعنې
فَمَرَرْتُ بَيْنَ يَدَيْ بَعْضِ الصَّفِّ فَنَزَلْتُ فَأَرْسَلْتُ الْأَتَانَ تَرْتَعُ
نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سترې نه وه او د رولې) زه د بعضې صفونو مخې ته تیر شوم د خر څخه کوز شوم هغه مې پریښوده

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۴۹۲،رقم الحديث :۳۸۳، ومسلم في الصحيح ۱/۳۶۶ رقم الحديث:۲۶۷-۵۱۲.

وَ دَخَلْتُ فِي الصَّفِّ فَلَمْ يُنْكِرْ ذٰلِكَ عَلَيَّ أَحَدٌ (۱).

او څريدلو او زه صف کې دا خل شوم، ماته چا هم څه ونه ويل.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ:

خط رابنکلو سره ستړې نه کار اخيستلی شي يا نه شي اخيستلی

﴿۱۰﴾ وَ عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: کله چې مونځ کوي په تاسو کې څوک

فَلْيَجْعَلْ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ شَيْئًا فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَلْيَنْصِبْ عَصَاهُ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ مَعَهُ عَصًى

نو خپلې مخې ته څه ودروئ، او که څه پيدا نه شو نو خپله امساء مخې ته ودروئ، او که امساء هم نه وي

فَلْيَخُطَّ خَطًّا ثُمَّ لَا يَضُرُّهُ مَا مَرَّ أَمَامَهُ». (۲)

نو يو خط راکاږئ، نو بيا که دهغې مخې ته څوک تيرشي څه نقصان نه کوي.

توضيح: فلينصب عصا: دې حديث کې مونځ ګزار د پاره د سترې سهوليا تو بيان شوی دی، يوه آساني او سهولت دا دی، که يو کس سره د سترې د پاره هيڅ هم نه وي، نو امسا دې د سترې په ځای باندې استعمال کړي او که ځمکه سخته وه امسا په ځمکه باندې نه ننوته، بيا امسا طولاً په ځمکه باندې کيښودو سره کافي ده، (المرقات ۲/۳۸۸-۳۸۹)

په شرح **منية المصلى** کې ليکلي دي که يو کس خپله عصا د سترې د استعمال په وخت کې ځمکه کې دننه کولو په ځای طولا مخې ته کيږدي، نو د بعضې علماو په نزد باندې د سترې عمل پوره شو، خو د بعضې علماو په نزد باندې د سترې په ځای دا عمل کافي نه دی. کفايه کې ليکلي که مونځ ګزار عصا په ځمکه کې د دننه کولو په ځای مخې ته کيږدي، نو عرضاً دې نه ږدي، بلکې طولاً په کار ده. دې حديث څخه مونځ ګزار ته دا سهولت هم ملاؤ شو، که مونځ ګزار سره هيڅ څيز د سترې د پاره نه وو، لاس کې عصا هم نه وه، نو خپلې مخې ته دې خط راکاږي دا سترې د مونځ ګزار د پاره کافي ده، دې سره د مونځ ګزار د زړه څخه شک او شبهات او وسوسې ختميږي، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول قديم او د امام احمد بن

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۵۷۱،رقم الحديث :۴۹۳، ومسلم في الصحيح ۱/۳۶۱ رقم الحديث:۲۵۴-۵۰۴، وأبو داود ۱/۴۵۸ رقم الحديث :۷۱۵.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۴۳ رقم الحديث : ۶۸۹ ، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۳۰۳ رقم الحديث: ۹۴۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ دا مسلک دی، خط رابنکل د سترې دپاره کافي دي، د احنافو متاخرينو علماو دا قول اختيار کړی، د حنفيو اکثرو علماو او د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد خط رابنکل د سترې د پاره کافي نه دي، دې سره امتياز نه حاصليږي. او د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ قول جديد دا هم دی، صاحب هدايه هم دا قول اخيستی دی، د کربنې اعتبار نشته، بهر حال حديث کې اضطراب هم دی، خو د کربنې ذکر او ددې ثبوت حديث کې موجود دی. (المرقات ۲/۴۸۹)

بيا د خط رابنکلو مسئله کې د علماو اختلاف دي، يعنې طريقه کې، بعضې د محرابي خط خبره کړې ده، بعضو طولا خط رابنکلو ته ترجيح ورکړې ده، بعضې عرضاً خوښ کړی دی، محرابي شکل ډير باعث اطمينان دی او عام احنافو په نزد باندې د خط اعتبار شته. د صاحب د هدايه قول معتبر نه دی، محقق ابن همام او امام ابويوسف خط رابنکلو ته راجح وېلي دي.

سُتره نزدې اودرول په کار دي

﴿۱۱﴾ وَ عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِيْ حَثْمَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ

د حضرت سهل بن ابی حثمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: کله چې مونځ کوي يو

إِلَى سُتْرَةٍ فَلْيَدْنُ مِنْهَا لَا يَقْطَعِ

څوک په تاسو کې سترې طرف ته، نو هغه ته په کار دي چې سترې سره نزدې اودريږي چې مات نه کړي

الشَّيْطَانُ عَلَيْهِ صَلَاتَهُ». (۱)

شيطان په ده باندې مونځ دده.

سترې بالکل مخامخ مه ودروئ

﴿۱۲﴾ وَ عَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ: مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي

د مقداد بن الاسود نه روايت دی وايي چې: ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ کله هم نه دی ليدلی چې مونځ يې کړې وي

إِلَى عُودٍ وَلَا عَمُودٍ وَلَا شَجَرَةٍ إِلَّا جَعَلَهُ عَلَى حَاجِبِهِ الْأَيْمَنِ أَوِ الْأَيْسَرِ

لرکي، ستنې او يا ونې طرف ته، بلکې هغه به د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نبي طرف يا چپ طرف وريځو ته مخامخ وو

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/٤٤٦ رقم الحديث: ٦٥٥.

وَلَا يَصْمُدُ لَهُ صَمَدًا .(۱).
او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دې ته مخامخ قصد نه کولو.

توضيح: ولا يصمد: اى لا يقصد قصداً يعنې بالکل تندي او سترګو ته مخامخ کيښودو اراده به يې نه کوله بلکې ستره به يې نبي يا کس طرف ته کيښوده، چې بت پرستو سره مشابهت رانه شي، ځکه اسلام د توحيد څخه ډک مذهب دی، چې په دې کې شک هم نشته، چې څوک خيال وکړي چې دا کس دې ستنې ته ولاړ دی، او ددې عبادت کوي، ددې وجې نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سترې ته مخامخ د ودريدو قصد نه کولو، بلکه چپ يا نبي طرف وروځې ته به يې مخامخ کيخوده ددې وجې نه اسلام د جنازې په مونځ کې رکوع او سجده نده ايخې دې دپاره چې کوم مشرک د شرک په شبهه کې پرې نه وځي (المرقات ۲/۴۹۰)

خرو او سپو لوبې کولې او مونځ جاري ؤ

﴿۱۳﴾ وَ عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : أَتَانَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ نَحْنُ فِي
د فضل بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تشريف راوړوو رځ زمونږ خواته او مونږ په
بَادِيَةٍ لَنَا وَ مَعَهُ عَبَّاسٌ فَصَلَّى فِي صَحْرَاءَ
خپل ځنګل کې وو حضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ؤ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ځنګل کې مونځ (دا سې
لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ وَ حِمَارَةٌ لَنَا وَ كَلْبَةٌ تَعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ
طريقې) سره کولو چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مخې ته ستره نه وه زمونږ خرو او سپو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مخې ته لوبې
فَمَا بَالَى بِذٰلِكَ .(۲).
کولې او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د هغې پروا نه کوله.

توضيح: بادية لنا: د اهل عربو د ستور وود موسم په اعتبار سره بعضې ورځې به يې په صحرا کې خيمې لږولې، دې مقصد دپاره د هغوی خپلې خپلې علاقې مختص وی، ډغه علاقې به په بادیه سره يادیدې، يعنې ځنګلي چراګاه (اشعة اللمعات ۳۷۸) ددغې ځنګلي چراګاهونو تذکره عربو په خپلو اشعارو کې کوله دا د دوئ د تمدن يوه حصه وه اکثر به د دوئ جګړې د چراګاه د وجې شروع کيدې، د حضرت ابن

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۴۵ رقم الحديث : ۶۹۳ .

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۵۹ رقم الحديث :۷۱۸ .

Maktaba Tul Ishaat.com

عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم يو ځنګلي صحرائي علاقه وه فضل بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې تذكره كوي، دا باجان سره نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ چراګاه ته تشريف راوړو او په كولاو ميدان كې يې مونځ ورکړو، مخې ته يې ستره نه وه او خرې او سپۍ خپل منځ كې لوبو كې مشغول وو، او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هيڅ پروا نه كوله.

حمارة: دا د حمار ميم صاحبه خرې ته ويلى شي، او (اتان) هم ورته ويلى شي.

كلبة: دا د كلب ميم صاحبه سپۍ ته ويلي شي، دا دواړه چونكې د شيطان د كيناستو مراكز دي، ځكه د دوئ خپل منځ كې ژوره رشته وي، دې حديث كې كوم ځاى نه دا خبره معلومه شوه، چې سپۍ او خرې مخې ته تيريدو باندې مونځ نه باطليږي، هلته دا خبره هم معلومه شوه چې صحرا كې بغير د سترې مونځ شوى دى، ځكه ستره واجب نه بلكې مستحب ده.

يو ځيز تيريدلو سره مونځ نه باطليږي

﴿۱٤﴾ وَ عَنْ أَبِيْ سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ

د ابوسعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي: نه ماتوي مونځ د يو مونځ ګزار

شَيْءٌ وَادْرَأُوا مَا اسْتَطَعْتُمْ فَإِنَّمَا هُوَ شَيْطَانٌ»[1].

مخې ته تيريدونكى هيڅ ځيز، تاسو حتى الامكان هغوى منع كوئ، ځكه چې تيريدونكى شيطان دى.

الْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۱۵﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كُنْتُ أَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرِجْلَايَ فِي قِبْلَتِهِ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مخې ته داسې اوده وم چې زما دواړه خپې قبلې طرف ته وې

فَإِذَا سَجَدَ غَمَزَنِي فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ وَ إِذَا

كله چې به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سجده كوله نو زما په خپو به يې چونكارې لګولې ما به خپې راغونډې كړې او كله چې

قَامَ بَسَطْتُهُمَا قَالَتْ: وَ الْبُيُوتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيهَا مَصَابِيحُ.[2]

به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پاڅيدو نو ما به خپې خورې كړې، عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي دغه ورځو كې كوركې چراغ نه ؤ.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/٤٦٠ رقم الحديث :۷۱۹.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/٥٨٨ رقم الحديث : ٥١٣، ومسلم ۱/٣٦٧ رقم الحديث :۲۷۲- ٥١٢، وأخرجه أبو داود في السنن ۱/٤٥٧ رقم الحديث :۷۱۲ .

توضيح: عمزني: دي حديث څخه دا خبره معلومه شوه. چې ښځې مسح کولو سره اودس نه ماتيږي، دويمه خبره دا معلومه شوه، عمل قليل جائز دی. او دريمه دا چې ښځه مخامخ وي مونځ نه باطليږي، څلورمه خبره دا معلومه شوه. هغه وخت کې کورونه واړه وو او دريها انتظام نه وو. حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خپل عذر داسې بيانوي، پنځمه خبره دا معلومه شوه، که يو کس د تهجد و مونځ کوي او بل ملاست وي، نو اجازت شته. (المرقات ۲/۴۹۱).

سل کالو پورې انتظار کول

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُكُمْ مَا لَهُ فِي أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْ أَخِيهِ مُعْتَرِضًا فِي الصَّلَاةِ كَانَ لَأَنْ يُقِيمَ مِائَةَ عَامٍ خَيْرٌ لَهُ مِنَ الْخُطْوَةِ الَّتِي خَطَا»[1].

د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي: که چيرته پوهه شي يو کس په تاسو کې چې خپل مسلمان ورور مخې ته چې هغه مونځ کوي عرضا تيريدل څومره لويه ګناه ده نو دې دپاره به سل کاله ودريدل د يو قدم مخکې تلو څخه بهتر وي.

ځمکه کې ننوځه خو د مونځ ګزار مخې ته مه تيريږه

﴿۱۷﴾ وَ عَنْ كَعْبِ الْأَحْبَارِ قَالَ: لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ لَكَانَ أَنْ يُخْسَفَ بِهِ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ.

وَ فِي رِوَايَةٍ: أَهْوَنَ عَلَيْهِ[2].

د کعب احبار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: که چيرته پوهه شي يو تيريدونکي مخکې د مونځ کوونکي چې د دې څه سزا ده نو دې کس دپاره په خپله ځمکه کې ننوتل دا بهتر دي د مونځ ګزار مخې ته تيريدونه.

او يو روايت کې د بهتر په ځای ډير آسان لفظ دی.

---

(۱) ابن ماجه في السنن ۱/۳۰۱ رقم الحديث: ۹۴۶.

(۲) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۱۵۵، رقم الحديث: ۳۵، كتاب قصر الصلوة في السفر.

Maktaba Tul Ishaat.com

دري لاسه فاصله باندې تيريدل جائز دي

﴿۱۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ

د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي: چې کله مونځ کوي يو په تاسو کې په

إِلَى غَيْرِ السُّتْرَةِ فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ وَ الْخِنْزِيرُ وَ الْيَهُودِيُّ وَ الْمَجُوسِيُّ وَ الْمَرْأَةُ

غير د سُترې نه، نو ماتيږي مونځ دده په مخې ته تيريدو د خر، خنزير، يهودي، مجوسي او ښځې سره

وَ تُجْزِئُ عَنْهُ إِذَا مَرُّوا بَيْنَ يَدَيْهِ عَلَى قَذْفَةٍ بِحَجَرٍ». (۱)

خو که د يو کانې ويشتو مسافت سره څوک تيرشي، نو هيڅ باک نشته.

توضيح: اليهودي والمجوسي: يهودي او مجوسي او خنزير هم د خرې او سپو په شان د شيطان مراکز دي، لهذا د دوی تيريدل د مونځ ګزار مخې ته د مونځ ګزار د الله تعالى سره تعلق، خشوع او خضوع کې فرق راولي. (المرقات ۲/۴۹۴) فصل اول حديث نمبر (۷) کې توضيح او تشريح او ددې حديث وضاحت يو شان دی، هلته يې اوګورئ، دغه حديث روايت په خپله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوي، چې دې کې د مونځ باطل کيدو حکم مذکور دی او دغه حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نمبر (۹) کې بيان فرمايي خره د مونځ ګزارو مخې ته څريده چا پرې هم انکار ونه کړو، ددې نه معلومه شوه، چې په خپله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل روايت نه رجوع وکړه، دا ددې روايت منسوخ کيدو دليل دی، يا دغه توجيه او تطبيق دی، چې حديث نمبر (۷) تشريح کې مذکور دی.

قذفة بحجر: حجر کانې ته ويلي شي او قذف ويشتو په معنی کی دی، واړه کانړي خلک په ګوتو کې مړي او بيا يې غورځوي دې ته قذف ويلي شي، کيدی شي دلته دغه فاصله مراد وي، کوم چې منی کې جمرات په کانو ويشتل کيږي او دغه فاصله د دريو لاسونو په فاصله باندې وي.

ددې حديث مطلب دا شو، چې دا څيزونه د مونځ ګزار مخې ته د درې لاسه فاصله باندې تير شي، د مونځ ګزار هيڅ نقصان نه کيږي او تيريدونکي د پاره هم څه حرج نشته. د فقهي کتابونو کې فقهاو بحث کړی دی، د مونځ ګزار مخې ته د تيريدو حد څه دی او هغه فاصله څه ده، بعضې فقهاوو درې ذراع يعنې درې لاسه قول کړی دی، دغه رنګ د دې حديث کې دې طرف ته اشاره ده، لهذا درې ذراعه فاصله کې دننه تلل منع دي، بعضې څلويښت ذراعه فاصلې په منځ کې منع فرمايي، دې نه پس جائز دي، بعضې فقهاء پنځه ذراعه کې دننه، بعضې فقهاء وايي د سجدې ځای کې دننه منع دي، بعضې دوه يادرې

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۵۲ رقم الحديث: ۷۰۴.

صفونو کې دننه تلل منع فرمایلي. شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې لیکي صحیح خبره دا ده چې کله څوک خشوع او خضوع والا مونځ ګزار مونځ کوي او د قیام په حالت کې د سجدې ځای ته ګوري د کوم ځای پورې تلونکي په نظر راځي، هغه ځای پورې تیریدل منع دي، ځکه چې مونځ ګزار د قیام په حالت کې ځای د سجدې ته ګوري او په رکوع کې قدمونو ته، سجده کې خپلې پوزې ته، قعده کې خپلې غاړې (څټ) ته نظر وي او سلام په وخت کې خپلو اوګو ته ګوري. (اشعة اللمعات ۳۷۹).

قاضي خان او صاحب د هدایه موضع سجود په منځ کې د تیریدو څخه منع لیکلې، حدیث کې سخت وعید د هغه کس د پاره دی، چې د مونځ ګزار د سجدې په ځای کې تیریږي دا اسانه او واضحه خبره ده، بیا مسئله هغه وخت ده، چې کله صحرا یا کولاو میدان کې یا شپیته (٦٠) ګزه لوی مسجد وي، سړې مخې ته تیر شي، که مسجد وړوکی وي، نو انسان د مونځ ګزار مخې ته یو ځای کې هم نه شي تیریدی، ځکه چې ټول مسجد موضع واحد دی، مونځ ګزار ته هم په کار دي چې د اخوا دیخوا مطالعه دی نه کوي، بلکې الله تعالی طرف ته دې متوجه شي، چې د تیریدونکي والا طرف ته یې احساس هم نه وي، آخر خپل رب طرف ته ولاړ دی.

حکایت: یو ځلې مجنون په یو ځای کې د لیلی په غم کې ډوب روان ؤ، چې تیریدل یې د مونځ ګزار مخې ته وشو، مونځ ګزار مجنون ډیر ورته، چې زه مونځ ته ولاړ یم او ته زما مخې ته تیریږې، مجنون ورته وویل، چې ته د چا د پاره مونځ کوې، هغه ورته وایي الله تعالی ته ولاړ یم، مجنون ورته وایي ته حقیقي الله تعالی ته ولاړ یې چې زه دې ولیدم او زه د مجازي لیلی په غم کې دومره ډوب یم چې ما ته ونه لیدې.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب صفة الصَّلَاة:
د مونځ د کیفیت بیان

و قال الله تعالى: ﴿وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ﴾ (البينة آيت ۵) و قال الله تعالى ﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾ (مدثر آيت: ۳) و قال الله تعالى: ﴿وَذَكَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلَّى﴾ (اعلى آيت ۱۵) ﴿قُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾ (بقرة آيت: ۲۳۸) ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ (مزمل آيت ۲۰) قال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ﴾ (حج آيت ۷۷)

دې باب کې صاحب د کتاب شل احادیث راجمع کړي. دې کې د مونځ د شروع نه واخله تر آخره پورې ټول کیفیات او د مونځ پوره ترکیب او ترتیب ذکر کړې شوی. سجده، رکوع، تکبیر تحریمه او رفع یدین قعده جلسه او تعدیل ارکان مکمل بیان دی. ددې مجموعې نوم صفة الصلوة ایښودې شوی دی.

اَلْفَصْل الأول:
په مونځ کې تعدیل ارکان واجب دي او که فرض؟

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: أَنَّ رَجُلًا دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی وایي چې: یو سړی داخل شو په نبي علیه الصلاة والسلام باندې او نبي علیه السلام

جَالِسٌ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَصَلَّى

ناست وو د مسجد په یو طرف کې نو هغه مونځ وکړو (خو تعدیل ارکان. قومه او جلسه لحاظ یې و نه کړو)

ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَعَلَيْكَ السَّلَامَ

بیا د نبي علیه السلام په خدمت کې حاضر شو او سلام یې وکړو نبي علیه السلام د سلام جواب ورکړو او ویې فرمایل

ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ». فَرَجَعَ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ

لاړشه بیا مونځ وکړه ځکه چې تا مونځ ونه کړو هغه لاړو د مخکې په شان یې مونځ وکړو او راغې نبي علیه السلام

فَقَالَ: «وَعَلَيْكَ السَّلَامُ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ».

ته یې سلام وکړو نبي علیه السلام د سلام جواب ورکړو اوویې فرمایل چې لاړشه مونځ بیا وکړه تا مونځ نه دی

فَقَالَ فِي الثَّالِثَةِ أَوْ فِي الَّتِي بَعْدَهَا عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ اللهِ

کړی (دغه رنګ دري ځلې وشو) دریم ځل یا څلورم ځل دې کس عرض وکړو: یا رسول الله! ما ته وښایه

فَقَالَ: «إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ

(چې څنګه مونږ وکړم) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل: چې کله د مونږ کولو اراده وکړې نو ښه طریقې سره

ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ

اودس وکړه بیا قبلې ته مخ کړه او تکبیر ووایه بیا قرآن کریم کې چې کوم (سورة) تاته آسان وي هغه ووایه

ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا

بیا صحیح طریقې سره رکوع وکړه بیا سر اوچت کړه تر دې چې نیغ ودریږې بیا اطمینان سره سجدې ته لاړ

ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ

شه بیا سر اوچت کړه په اطمینان سره کینه بیا دوباره سجدې ته لاړ شه بیا سر اوچت کړه او اطمینان سره

جَالِسًا». وَفِي رِوَايَةٍ: «ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَسْتَوِيَ قَائِمًا ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا». (متفق عليه)[1]

ناست اوسه، یو روایت کې دا الفاظ هم دي: بیا سر اوچت کړه او نیغ اودریږه بیا ټول مونږ داسې پوره کړه.

توضیح: **ان رجلا**: د دغه کس نوم خلاد بن رافع انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو، دا بدري صحابي دی او بدر کې شهید شوی دی، لهذا دا واقعه د جنګ بدر څخه مخکې ده، دې حدیث ته **حدیث المسيء للصلوة** نوم ورکولی کیږي. (المرقات ۲/۴۹۴).

فصل: ددې نه د **تحية المسجد** مونږ مراد دی او دغه وخت صحابه و **تحية المسجد** څخه راغلل او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره یې په آدب باندې مصافحه کوله.

فانک لم تصل: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلاد بن رافع انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دوباره د مونږ حکم څکه ورکړو، چې هغه سجده، رکوع او قعده کې تعدیل ارکان نه وو کړي.

سوال: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته خلاد بن رافع انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مونږ کې غلطي کوله او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده ته غلطي نه ښودله، بلکې بار بار یې ورته د غلط مونږ حکم ورکولو دا تقریر علی

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۳۷، رقم الحديث: ۷۵۷، ومسلم في الصحيح ۱/۲۹۸ رقم الحديث: ۴۵-۳۹۷، وأبو داود ۱/۵۳۴ رقم الحديث: ۷۵۶، والنسائي ۱/۱۹۳، رقم الحديث: ۱۰۵۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

الخطاء دی او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د طرف نه تقریر علی الخطاء محال دی داسی ولې وشو؟

جواب: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بار بار ده ته حکم ځکه ورکړو چې ستا مونځ صحیح طریقې سره اداء نه شو، لارښه بیا صحیح طریقې سره مونځ وکړه، د مونځ د اعادې دا حکم تقریر علی الخطاء نه دی، بلکې تنبیه علی الخطاء دی.

سوال: دلته دویم سوال دا دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اول ځل دغه صحابي ته صحیح طریقه ولې نه ښودله دریم ځل پورې د مونځ دوباره کولو څه حکمت وو؟

جواب: کیدای شي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا کتل چې آیا دا کس دا غلطي دعدم علم د وجې نه ده، بیا یې ورته صحیح طریقه اوښودله. ددې سوال دویم جواب دا دی، چې بار بار د مونځ کولو حکم ځکه ورکولو، چې بار بار غلطي ځخه پس صحیح طریقه وکړي، نو دا اوقع فی النفس ده، بیا به چرته هم غلطي نه کوي. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلاد بن رافع انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مطالبې باندې صرف مونځ نه بلکې د اودس ځخه واخله د مونځ ټول ارکان تفصیل وښودو، او د امت مخکې د مونځ کولو صحیح طریقه راغله.

ثم اقرأ: یعنې تکبیر تحریمې نه پس قرآن وایه، چې کوم آسان ځای وي هغه وایه، دا فریضه قرآت طرف اشاره ده او د الفاظو اندازه داسې ده چې مطلق قرات فرض دی د فاتحې ذکر نشته اګرچې مسند احمد، سنن بیهقي او ابن حبان کې **ثم اقراء بام القرآن** الفاظ راغلي، دغه اختلاف راروان دی.

حتی تطمئن راکعا: د مونځ هر رکن په خپل ځای اداء کول او هر رکن کې د دې مقدار وډیدل چې د بدن هر جوړ په خپل ځای نیغ شي دې ته تعدیل ویلي شي.

د فقهاو اختلاف: ټولو فقهاو اتفاق دی چې قومه، جلسه، رکوع او سجده کې تعدیل کوئ خو اختلاف په دې کې دی چې د دې تعدیل حیثیت څه دی. امام شافعي، امام احمد بن حنبل او امام ابو یوسف رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد باندې تعدیل ارکان فرض دي. امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او قاضي ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ یو ځلې سبحان الله مقدار پورې وډیدلو ته فرض وایي. او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ دري ځله سبحان الله په مقدار وقفه ټولو ته فرض ویلي. د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ مسلک دلته واضح نه دی. امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې تعدیل ارکان فرض نه دي بلکې واجب دي.

دلائل: جمهورو د تعدیل ارکان په فضیلت باندې د حضرت خلاد بن رافع انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زیر بحث حدیث ځخه استدلال کوي، (المرقات ۲/۴۹۴)

دې حدیث کې د مانځه د اعادې حکم دی، چې د فرضیت دلیل دی، همدارنګې دې کې **فانک لم تصل** بسره د مونځ بالکل نفي کړې ده دا هم د فرضیت دلیل دی، بل په دې حدیث کې د طمانیت حکم او امر شوې او مطلقا امر فرضیت د پاره وي، دغه رنګ د ترمذي یو روایت دی چې الفاظ یې دا دي: **لا تجزئ**

صلوة لا يقيم الرجل فيها يعنى صلبه في الركوع والسجود دې نه هم جمهور د تعديل ارکان د فرض کيدو استدلال کړی دی. امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ د قرآن کريم آيت ﴿**ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا**﴾ نه استدلال کړی دی، د طرز استدلال داسې دی، سجده د **وضع الجبهة على الارض** نوم دی او رکوع مطلق انخناء ته ويلي شي، اوس دې باندې د تعديل ارکان اضافه خبر واحد سره په آيت باندې اضافه ده، دا مناسب نه دی، مطلق رکوع او سجده فرض ده او تعديل ارکان د حديث د وجې واجب دي، همدارنګه د فرضو د ثبوت د پاره نص د **قطعي الثبوت والدلالة** ضرورت دی، دلته حديث **قطعي الثبوت** نه دی، اګر چې **قطعي الدلالة** دی **ظني الثبوت قطعي الدلالة** نص ځکه فرض نه بلکې واجب ثابتيږي، دغه رنګ د احنافو دويم دليل مسند احمد، طبراني هغه روايت دی چې هغې کې د مونځ د سرقې بيان دی، الفاظ يې دا دي: **ان اسوء السرقة من يسرق من صلوته قالوا كيف يسرق من صلاته قال لا يتم ركوعها ولا سجودها**، دې حديث کې تعديل ارکان نه کولو والا کس ته د مونځ غل ويلی شوی دی، ليکن دده مونځ باطل نه کړی شو، نو دا د وجوب دليل دی، که تعديل فرض وی، نو تعديل ماتيدو سره به مونځ باطليده، خود بطلان حکم نه لري.

جواب: احنافو د خلاد بن رافع انصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت محمل ښودلو د پاره ډير جوابونه کړي دي.

اول جواب: ترمذي کې خلاد بن رافع انصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث په آخر کې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ارشاد دی: **(اذا فعلت ذلک فقد تمت صلوتک وان انقصت منه شيئا انتقصت من صلوتک)**

دې عبارت باندې راويانو کړې ده: **(وكان هذا اهون عليهم من الاولى انه من انتقض من ذلک شيئا التقص من صلوته ولم تذهب كلها)** ددې حاصل دا شو، رومبی صحابه د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ارشاد **(انک لم تصل)** نه پريشانه شو، چې تعديل نه کولو سره به مونځ فوت کېږي، چې آخره کې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وضاحت وکړو، نو صحابو ته تسلي وشوه، چې مونځ بالکليه نه ځي بلکې ناقص کېږي، دې ځخه فرضيت نه ثابتيږي، د جمهورو دليل **(انک لم تصل)** ځخه احناف دويم جواب دا ورکوي چې، دا نفي د کمال ده د اصل مونځ نفي مراد نه ده.

دريم جواب: دې اصل کې دا اختلاف د اعتقاد دی چې هغوی ورته فرض وايي، مونږ تعديل ته واجب وايو، د عمل په اعتبار سره هيڅ اختلاف نشته، ځکه چې د واجب ترک کولو سره احناف هم د مونځ اعاده لازمي ګڼي، د اختلاف اصل بنياد پديکې دی، چې احناف د دلائلو د تفاوت د وجې فرض او واجبو کې تفاوت کوي، او نورو ائمو په نزد باندې د واجبو درجه ډيره واضح نه ده، د احتياط په اعتبار

Maktaba Tul Ishaat.com

سره د جمهورو مسلک بهتر دی، احنافو تعديل ته فرض نه دي ويلي، د احنافو خلک په دې باندې پوهه شو، چې تعديل هيڅ ځيز نه دی، حالانکې افغانستان او بلوچستان او سرحد کې خلک د مونځ په تعديل ارکان کې ډير کمزورو الی کوي.

د حضرت شاه انور شاه کشميري رَحِمَهُ اللّٰهُ **رائی**: حضرت شاه صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي تعديل ارکان مسئله کې چې کوم مشهور اختلاف دی، دا اختلاف حقيقي نه دی، بلکې لفظي دی، ځکه چې د تعديل ارکان دري درجې دي: (۱) يو رکن کې دومره توقف کول چې د بدن اعضاء حرکت انتقاليه بند شي او هريو عضوې ته قرار راشي، دتعديل ارکان طمانيت دا درجه اتفاقي طور باندې فرض ده. (۲) يو رکن کې دومره توقف کول چې يو ځل **سبحان الله** په کې وويل شي دا درجه واجب ده. (۳) يو سړی دري ځلې **سبحان الله** ويلو په مقدار توقف وکړي، دا د سنت درجه ده. د دريو واړو دا نتيجه راووته کوم چې تعديل ارکانو ته فرض وايي هغوي ډومبی درجه مراد اخيستې ده او څوک چې تعديل ته واجب وايي هغوي دويمه درجه خپله کړې او کوم چې ورته سنت وايي هغوي دريمه درجه مراد اخيستې ده.

۲۹ ربيع الاول ۱٤۱۰هـ

د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ نقشه

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَفْتِحُ الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيرِ وَ
د حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د مونځ شروع د تکبير نه کوله او د
الْقِرَاءَةِ بِـ (الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ) وَ كَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ
قرائت شروع به يې د الحمد لله نه کوله او چې کله به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رکوع کوله نو نه به يې او چتولو سر خپل
وَ لَمْ يُصَوِّبْهُ وَ لَكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ وَ كَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ
او نه به يې ډير ښکته کولو بلکې درميانه حالت کې به وو، او چې کله به يې د رکوع نه سر اوچت کړونو
لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَائِمًا وَ كَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ لَمْ
سجده به يې نه کوله تر څو چې به نيغ او دريدلی نه وو او چې کله به يې د سجدې نه سر اوچت کړونو نه به يې
يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ جَالِسًا وَ كَانَ يَقُولُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةَ وَ كَانَ يَفْرِشُ
کوله سجده تر څو چې برابر ناست نه وو او د هر دوه رکعاتونو نه پس به يې التحيات ويله او خو روله به يې
رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَ يَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنَى وَ كَانَ يَنْهَى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ وَ
کسه خپه او نبی خپه به يې نيغه او دروله او نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به د شيطان دناستې نه منع فرمايله او منع

يَنْهَى أَنْ يَفْتَرِشَ الرَّجُلُ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ السَّبُعِ وَ كَانَ يختم
به يې کوله ددې نه چې خوړې کړي سړی څنګلې په شان د خورولو د لاسونو د ځناورو او ختمولو به يې
الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيمِ. (رَوَاهُ مُسلم)(۱)
مونځ خپل په سلام کړځولو سره.

توضيح: القراءة بالحمدلله: يعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې قرآت شروع کولو، نو د الحمدلله نه به يې شروع کولو، دې جملې نه دا واضحه شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونځ کې بسم الله په مزه ويله او چې قرآت به يې شروع کولو نو په تيزه باندې به يې د الحمدلله نه شروع کوله، بسم الله په تيزه يا په مزه ويلو کې د علماو اختلاف دی. اختلاف په حقيقت کې په دې باندې متفرع دی، چې آيا بسم الله جزء د قرآن کريم دی او که نه؟ که جزء د قرآن کريم وي، نو د هر سورت جزء دی يا نه؟ دې کې هم د فقهاو اختلاف دی. (المرقات ۲/۴۹۹).

آيا بسم الله د هر يو سورت جزء دی؟: د جمهور امت په دې باندې اتفاق دی، چې بسم الله د قرآن کريم جزء دی او دا يو آيت دی، صرف امام مالک رَحِمَهُ اللهُ طرف ته منسوب دی، چې په سورة نمل کې بسم الله د قرآن کريم جزء نه دی، دا اختلاف د سورة نمل بسم الله څخه علاوه کې دی، سورة نمل جزء کيدل او قرآن کريم کيدل اتفاقي امر دی، اوس خپلو کې اختلاف شو، آيا بسم الله د هر سورت جزء دی يا صرف بين السورتين کې فصل د پاره ده.

د فقهاو اختلاف: حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې بسم الله د هر سورت داسې جزء دی، څنګه چې د سورت نمل جزء دی، امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې بسم الله د هر سورت جزء نه دی، بلکې دا د سورت په شروع کې صرف بين السورتين د فصل د پاره ده، لهذا دا يو آيت دی، چې دا د دې مقصد د پاره ډيرو ځايونو کې ذکر شوې ده، د شوافعو په نزد باندې دا ډير آيتونه دي، يو آيت نه دی، د بسم الله متعلق د حنابلو حضراتو اقوال مختلف دي، ځکه د دې ذکر کولو ضرورت نشته دی، ځو دومره ياد ساتئ چې هغوی په دې مسئله کې احنافو طرف ته نيږدې دي.

دلائل: امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دده موافقين حضرات د جزئيت د بسم الله د پاره د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت څخه استدلال کړې دی، الفاظ يې دا دي: (۱) **عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه كان يقول الحمدلله رب العلمين سبع آيات احداهن بسم الله الرحمن الرحيم.**

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۵۷ رقم الحديث: ۲٤۰-٤۹۸، وأبو داؤد ۱/٤۹٤ رقم الحديث :۷۸۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

د بسم الله جزئیت باندې د ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د یو روایت څخه استدلال کړی دی:

(۲) عن ام سلمة انه قراء الفاتحة وعد بسم الله الرحمن الرحيم والحمدلله رب العالمين.

شوافعو حضراتو په جزئیت د بسم الله باندې د ابوداود د روایت څخه هم استدلال کړی دی:

(۳) عن انس بن مالک قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انزلت علی آنفا سورت فقرأ بسم الله الرحمن الرحيم انا اعطيناک الکوثر حتی ختمها)

(۴) شوافعو ددې څخه هم استدلال کړی دی چې بسم الله د هر سورت سره قلم وحی سره بالالتزام داسی لیکلي ده چې چاته وهم هم نه کیږي، چې بسم الله د هر سورت جزء نه دی، بسم الله د هر سورت جزء دی دا د فاتحې جزء هم دی او چې فاتحه مونځ کې ویلي شي، نو بسم الله به هم په جهري مونځونو کې پټ جهر سره وائي، چې د فاتحې جزء پاتې نه شي. ائمه احناف او ملګري یې فرمایي بسم الله د قرآن کریم یو آیت دی چې فصل بین السورتین دی دا د یو سورت جزء هم نه دی، هو سورت نمل کې د یو آیت حصه ده. خپل مدعا باندې احناف د یوڅو احادیثو څخه استدلال کوي:

(۱) حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی چې حدیث قدسي دی، مشکوة (ص، ۷۸) باندې مذکور دی، الفاظ دا دي: (**قال الله تعالی قسمت الصلوة بينی و بين عبدی نصفين ولعبدی ما سال فاذا قال العبد الحمدلله رب العالمين قال الله تعالی حمدنی عبدی**). دې حدیث کې سورت فاتحه یویو آیت ولوستلو، خو بسم الله ذکر په کې نشته، بسم الله د یو سورت جزء هم نه دی.

(۲) د احنافو دویم دلیل د حضرت ابوهریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه روایت دی، چې هغې کې حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سورت ملک دیرش آیتونه شمار کړل الفاظ دا دي: (**عن ابی هريرة انه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال سورت في القرآن ثلاثون آية شفعت لصاحبه حتی غفرله، تبارک الذي بيده الملک**) که بسم الله د سورت جزء وګڼلی شي، بیا سورت ملک د دیرشو په ځای یو دیرش آیتونه په کار دي او حدیث کې د دیرشو ذکر دی.

(۳) احنافو د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مشهور روایت څخه استدلال کړی دی چې دې کې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صفا ویلي دي بسم الله د دوو سورتونو په مینځ کې جدائي او فصل د پاره راغلې ده، الفاظ دا دي: **عن ابن عباس کان النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا يعرف السورة حتی ينزل عليه بسم الله الرحمن الرحيم.**

(۴) احنافو او ملګرو یې هغه مضبوط دلیل څخه هم استدلال کړی دی، چې د ټولو قراو او علماو او فقهاو په نزد دې باندې اتفاق دی، چې سورة کوثر درې آیتونه دی، او سورة اخلاص څلورو باندې مشتمل دی، که بسم الله د هر سورت جزء وګڼلی شي، نو سورة کوثر څلور او اخلاص پنځه آیتونه

جوړيږي، حالانکې دا اجماع امت خلاف ده، او دغه رنګ د قرآن کريم د سورتونو په ټولو آيتونو کې به اختلاف راوچت شي تر دې چې سورة فاتحه او وه آيتونه به اته(۸) آيتونه شي.

جواب: شوافع د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت نه استدلال کړی، د دې جواب دا دی چې د حديث په سند کې اضطراب دی، ځکه چې بعضې محدثينو د دې سند کې د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نوم ذکر کولو شک کړی دی همدارنګې د دې حديث مرفوع او موقوف کيدو کې محدثين اختلاف کوي، د دې دواړو وجهو ځخه دا حديث ضعيف دی، همدارنګه د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ام سلمه روايتونو کې تعارض دی، ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايت کې **بسم الله الحمد لله رب العالمين** يو آيت دی، حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کې بسم الله مستقل آيت دی. **(و اذا تعارضا تساقطا)**

دويم جواب دا دی، دا حديث خبر واحد دی، او خبر واحد ته قطعي علم حاصل نه دی او بسم الله د فاتحې او يا د هر سورت جزء ګرځولو د پاره قطعي علم ته ضرورت دی دا په عقل سره نه بلکې په نقل سره ثابت کيږي د دې روايت په مقابله کې نور روايات قوي دي، د دې نه معلومه شوه، چې بسم الله د فاتحې جزء نه دی، ځنګه چې حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځخه حديث قدسي مروي دی. د شوافعو د دويم او دريم دليل جواب دا دی چې دا اخبار آحاد دي، دې نه قطعي علم نه حاصليږي او د بسم الله د سورت د پاره جزء کيدل په قطعي علم سره کيږي، دويم جواب دا چې د بسم الله ذکر هغه احاديثو کې د جزئيت په طور نه دی، صرف تبرک د پاره دی، دا احاديث د هغه قوي او مشهور احاديثو په مقابله کې دي، چې هغې کې بسم الله د سورت فاتحې او يا د نورو سورتونو د پاره جزء نه دی، لهذا دې ډيرو احاديثو ته ترجيح ورکړی شوې ده. د شوافعو حضراتو ځلورم دليل چې حقيقت کې عقلي دليل دی د هغې جواب دا دی، چې د دې دليل ځخه دا ثابتيږي، چې بسم الله د قرآن کريم جزء دی، چې فصل بين السورتين د پاره دی، دې ځخه دا نه ثابتيږي، چې بسم الله د هر سورت يا د فاتحې جزء دی. (تعليق الفصيح)

په مونځ کې بسم الله په مزه وويلی شي او که په تيز آواز باندې؟ بسم الله د هر سورت جزء دی او که نه دی، دې اختلاف باندې د فقهاو يو بل اختلاف متفرع دی، هغه دا چې بسم الله په جهري مونځ کې د سورت فاتحې ځخه مخکې جهراً ويل په کار دي يا سراً.

د فقهاو اختلاف: د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ مسلک دا دی د فاتحې نه مخکې بسم الله بالکل نه دي ويل په کار نه سراً او نه جهراً، يعني بسم الله ويل مسنون نه دي. د جمهورو فقهاو په نزد بسم الله سراً ويل سنت دي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې جهري مونځ کې بسم الله په اوچت آواز سره ويل سنت دي.

دلائل: امام مالک رَحِمَهُ اللهُ بسم الله بالکل نه ويلو باندې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت ځخه استدلال کړی دی، الفاظ يې دا دي: **(عن انس قال صليت خلف النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و ابي بكر و عمر و عثمان**

Maktaba Tul Ishaat.com

وعلى فلم اسمع احدا منهم يقرأ بسم الله الرحمن الرحيم. (رواه مسلم)
امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د حضرت عبد الله ابن مفضل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت څخه استدلال کړی دی، احنافو د دلائلو په ضمن کې به راشي، امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د زیر بحث حدیث څخه هم استدلال کړی دی، چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الحمد لله رب العالمين څخه قرآت شروع کولو، لهذا بسم الله وبالله سنون نه دي. شوافع حضرات بسم الله په اوچت آواز سره وئیلو باندې د حضرت نعیم بن مجمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت څخه استدلال کړی دی الفاظ یې دا دي: (صليت وراء ابي هريرة فقراء بسم الله الرحمن الرحيم ثم قراء بام القرآن الخ. (رواه ابن خزيمة و ابن حبان والنسائی). شوافع د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت څخه استدلال کړی دی چې د مشکوة (ص ۸۰) باندې فصل ثاني کې رومبی حدیث دی: عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يفتتح صلوته ببسم الله الرحمن الرحيم.
شوافعو حضراتو د صحابوا و تابعینو څه آثار هم استدلال کې راوړي دي، چې طحاوي نقل کړي دي.
(۱) احناف او ملګري یې د زیر بحث صحیح او صریح حدیث څخه ترک الجهر بالتسمية باندې استدلال کړی دی چې واضح دی. (۲) احناف مشکوة (ص ۷۹) باندې د حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت څخه استدلال کړی دی چې الفاظ یې د مالکیو د په دلائلو په ضمن کې نقل شوي دي.
(۳) ائمه احنافو مشکوة (ص ۷۸) باندې د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت څخه هم استدلال کړی دی، دې کې دا الفاظ دي: (استفتح القراءة بالحمد لله رب العالمين. (رواه مسلم)
(۴) امام ترمذي رَحِمَهُ اللَّهُ ترک جهر بالبسملة د پاره یو باب ترلی دی، او دې کې یې هغه روایت نقل کړی کوم چې یزید بن عبد الله د خپل پلار عبد الله بن مغفل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه داسې روایت کوي: عن ابن عبد الله بن مغفل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال سمعني ابي و انا في الصلوة أقول بسم الله الرحمن الرحيم فقال لي اي بنی محدث اياک والحدث... الخ (ترمذي، ص ۵۷)
ددې روایت نه احنافو استدلال کړی دی او وایي دې صحابي جهر د بسم الله ته بدعت وئیلی دی، ددې په مقابله کې د استحباب وغیره یو روایت هم نه شي اخیستی، ځکه چې دا د مبیح او محرم مسئله ده.
(۵) د مسند احمد یو روایت دی چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه منقول دی، چې صحابو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ به بسم الله په اوچت آواز سره نه ویله، ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه امام طحاوي نقل کړی دی، چې دوی وایي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات پورې بسم الله په اوچت آواز نه ده فرمایلې د ابن ماجه په روایت کې ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي ما بسم الله په اوچت آواز نه ده ویلې، د ابن ماجه په روایت کې ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي ما حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پسې شاته مونځ کړی دی دې تولو

حضراتو بسم الله په مزه باندې ویلې ده. امام طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ یو روایت نقل کوي، عکرمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وایي چې کله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته د بسم الله په اوچت آواز سره ویلو متعلق معلومات وشو، نووې فرمایل (**ذلک فضل الاعراب**) یعنې بسم الله په اوچت آواز سره ویل دبې علم خلکو کار دی، دې ټولو روایاتو نه ائمه احناف د بسم الله په قلاره ویلو استدلال وکړو.

جوابات: د ټولو نه مخکې د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د استدلال نه جواب ورکولې شي هغوي چې د کومو احادیثو نه استدلال کړی دی، هغې کې د بسم الله په اوچت آواز د ویلو نفي ده، د بسم الله بالکل ویلو نفي نه ده، دا وجه ده چې احنافو په دغه روایاتو سره بسم الله په مزه ویلو باندې استدلال کړی دی. ائمه احناف او شوافعو حضراتو دلیل د حضرت نعیم بن مجمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت نه یو جواب دا ورکړی دی، چې دې سره جهر بالبسملة باندې استدلال یقیني نه دی، ځکه کله ویونکی په مزه وایي، خو دا په هغه انداز سره وي چې نزدې والا یې آوري، دلته دغه احتمال دی، او چې کله احتمال راشي، نو استدلال باطل شي.

دویم جواب دا دی ممکن دی چې حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د تعلیم د پاره داسې کړې وو، ځکه چې موقع د تعلیم وه، په وچت آواز باندې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپخین مونځ کې قرآت هم کړی دی.

دریم جواب دا دی د جهر والا روایات معلل بالشذوذ دي، ځکه چې دغه رنګ مسئله کې صرف یو یا دوه راویانو بیان کول باعث علت وي، یا جواب داسې دی چې د جهر والا روایات د هغه روایاتو څخه کمزوري دي، چې کوم کې د مزه وئیلو تذکره ده. شوافعو چې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د کوم روایت څخه استدلال کړی دی، صاحب ترمذي هغه نقل کولو نه پس وایي: (**هذا حدیث لیس اسنادہ بذاک**) یعنې د دې حدیث سند قوي نه دی، دې څخه علاوه شوافعو چې کومو آثارو او روایاتو څخه استدلال کړی دی دغه ټولو باره کې دارقطني داسې لیکلي: (**وعن الدار قطني انه قال لم یصح عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في الجهر حدیث**) (کذا في اللمعات)

دارقطني متعلق راځي چې ده مصر کې په جهر بالبسملة باندې یو کتاب ولیکلو، د تیاریدو نه پس یو مالکي عالم ده ته قسم ورکړو چې ماته په دې کې یو حدیث هم صحیح وښایه چې جهر بالبسملة باندې دلالت کوي، هغه په جواب کې وفرمایل چې د جهر په باره کې یو حدیث هم صحیح نه ملاویږي (کذا في اشعة اللمعات ۳۸۱) حازمي وایي چې د جهر بالبسملة احادیث اګر چې د صحابو نه منقول دي، لیکن د دې اکثره حصه د ضعف نه خالي نه ده. بهر حال خلاصه دا شوه چې د جهر روایت یا ضعیف نا قابل استدلال دی، یا جهر تعلیم د امت د پاره وختي او عارضي وو.

په قعده کې د ناستې بهتره طریقه څه ده؟ وکان یفترش رجله الیسری: دې حدیث کې نبي عَلَيْهِ السَّلَام په قعده کې د ناستې طریقه بیان کړې ده، یعنې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله قعده کې ناسته کوله، نو

Maktaba Tul Ishaat.com

ګسه خپه به يې خورولە او بنې خپه به يې ودرولە، اوس په دې کې د فقهاوو اختلاف دی، آيا افضله طريقه داده چې دې حديث کې مذکوره ده يا تورک طريقه باندې ناسته افضله ده کوم چې راتلونکي حديث کې ذکر ده.

د فقهاو اختلاف: امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ مسلک دا دی، چې اوله قعده کې افتراش افضل دی او دويمه قعده کې تورک بهتر دی، ځکه چې دويمه قعده کې ډير ساعت پورې ناسته وي او تورک طريقه باندې ناسته کول آسان وي. د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ مسلک دا دی، که مونځ د دوو قعدو والا وو، نو آخري قعده کې تورک کول په کار دي، که مونځ د يوې قعدې يا يو تشهد والا وو، نو دې کې افتراش کول په کار دي. امام اعظم ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې دواړو قعدو کې افتراش ضروري دی، تورک صرف د مجبورۍ د وجې نه دی.

دلائل: شوافع د حضرت ابو حميد ساعدي روايت څخه استدلال کوي او تورک داسې کولی شي چې سړی په قعده کې کيني او دواړه خپې بنې طرف ته وباسي او خپل ورک يعنې مقعد باندې کيني، ابو حميد ساعدي په روايت کې دويمه قعده کې تورک حکم صراحتاً مذکور دی. (اشعة اللمعات ۳۸۱).

ائمه احناف د زير بحث حديث حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا په مسلم کې روايت څخه استدلال کړی دی چې دې کې د قعده اولی او ثانيه قيد نشته، بلکې دا مذکور دي، چې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معمول دا وو مونځ کې چې بنې خپه ولاړه او کسه خپه به يې خوره وه، ياد ساتئ دا اختلاف د افضل دی د جواز او عدم جواز نه دی. دواړه طريقې جائز دي، البته احنافو افتراش له ځکه ترجيح ورکړې ده، چې دې کې مشقت وي او عبادت هغه افضل دی چې هغې کې مشقت وي. **کان افضل الاعمال احمزها ای اشدها** او احنافو د تورک والا احاديث حالت ضعف باندې حمل کړي دي. (اشعة اللمعات ۳۸۱).

په قعده کې د شيطان په شان مه کينئ: **عقبة الشيطان:** دويم حديث کې (**اقعاء الکلب**) لفظ راغلی دی، د دواړو مطلب يو دی، عقبة الشيطان او اقعاء الکلب يو صورت دا دی چې انسان خپلې خپې او او زنګونان ودروي او کوناټو باندې کيني او دواړه لاسونه په ځمکه باندې کيدي لکه څنګه چې سپې کيني په مونځ کې داسې ناسته د ټولو فقهاو په نزد باندې مکروه ده، که سړی معذور وي هغه ځانته خبره ده. علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې د اقعاء صورت دا دی چې يو سړی د خپلو خپو په پوندو باندې مقعد کيدي او کيني. د لغت په اعتبار سره د عقبه دا صورت ډير واضح دی، ځکه چې (عقب) بنګړې (کيتې) ته ويلي شي. (اشعة اللمعات ۳۸۱، الکاشف ۲/۳۳۹)

يفترش الرجل: يعنې سړی ته د مونځ په دوران کې په حالت سجده کې دواړه لاسونه داسې خورول منع دي لکه څنګه چې درنده کيني او دغه وخت کې خپل مخې ته دواړه لاسونه په ځمکه خواره کړی، دې سره سړی ناراسته کيږي او مونځ کې غفلت پيدا کيږي.

رجل: يعني لفظ د سړي ويلو سره دي طرف ته اشاره ده چې ښځې ته د سجدې په حالت کې لاس سره د ټولو اعضاولره راغونډول او ځمکې سره يو شان کول په کار دي، ځکه چې دا د ددې د ستر سره مناسب دي.

بالتسليم: يعني سلام به يې اړولو او مونځ به يې د السلام عليكم په الفاظو سره ختمولو، دا مسئله (توضيحات جلد اول، ص ۵۰۶) باندې ليکلې ده هلته يې وګورئ. دې حديث کې دوه الفاظ د لغت په اعتبار سره د حل کولو دي. يو لفظ **لم يشخص** دا د نصر ينصر څخه اوچتيدو او کډه کولو په معنى کې دى او دلته د باب افعال نه د سر اوچتيدو او آسمان طرف ته د اوچتيدو په معنى کې دى، مطلب دا دى، چې په رکوع کې حضور ﷺ داسې اعتدال کړى دى، چې د حضور ﷺ سر، ملا او ولې به يې برابر وو، د دې نه به حضور ﷺ سر مبارک نه اوچتولو.

ولم يصوبه: دا صيغه د باب **تفعيل** ده د تصويب نه سر ښکته کول او لاندې وړلو په معنى دى، مطلب دا شو چې نبي عليه الصلاة والسلام به په حالت د رکوع کې سر داسې اعتدال سره کيښود و چې د حضور ﷺ سر او ملا به يې برابر وو، دې نه به حضور ﷺ سر ښکته نه وړلو، هر مسلمان مونځ ګزارته په کار دي، چې دې د حديث په تعليم باندې غور کولو سره عمل وکړي.

فقهاء کرام ليکي: په رکوع کې سر او ملا داسې نيغه ساتئ که د اوبو نه ډک جام په ملا باندې کيږدئ چې د اوبو نه يوه قطره هم پرې نه وځي. (المرقات ۲/۴۹۹).

تکبير اولى کې لاسونه د کوم ځای پورې اوچتول په کار دي

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي حميد السَّاعِدِيِّ قَالَ: فِيْ نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ:

د ابو حميد ساعدي رضي الله عنه متعلق روايت شوې چې د نبي عليه السلام د صحابو په يو جماعت کې وويل چې

أَنَا أَحْفَظُكُمْ لِصَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ رَأَيْتُهُ إِذَا كَبَّرَ

ما ته نبه ياده ده د نبي عليه السلام د مونځ طريقه، ما نبي عليه الصلاة والسلام ليدلى چې کله به يې تکبير کولو نو

جَعَلَ يَدَيْهِ حِذَاءَ مَنْكِبَيْهِ وَ إِذَا رَكَعَ أَمْكَنَ يَدَيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ

خپل دواړه لاسونه به يې داوګو پورې وړل اوچې رکوع ته به تلونو دواړه ځنګونان به يې په لاسونو مضبوط

ثُمَّ هَصَرَ ظَهْرَهُ فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ اسْتَوَى حَتَّى يَعُودَ كُلُّ فَقَارٍ

نيول او خپله ملا به يې ښکته کوله او خپل سر به يې اوچتولو نو نيغ به اودريدو تر دې چې ټول جوړونه به

مَكَانَهُ فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا

يې برابر شو او چې سجدې ته به تلو نو دواړه لاسونه به يې په ځمکه کيښودل نه به يې خورول او نه به يې

Maktaba Tul Ishaat.com

قَابِضِهِمَا وَ اسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ
راغوندول اودخپو ګوتې به يې قبلې طرف ته مخامخ کولې اوددوو رکعتونو پوره کولونه پس به کيناستو
جَلَسَ على رجله الْيُسْرَى وَ نصب الْيُمْنَى وَ إِذا جَلَسَ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ قَدَّمَ
نو په ګسه خپه باندې به کيناء او بنۍ خپه به يې نيغه ساتله او چې آخري رکعت به يې وکړو نو مخکې
رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَ نَصَبَ الْأُخْرَى وَ قَعَدَ عَلَى مَقْعَدَتِهِ [1]. (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ).
به يې راوويستله ګسه خپه او بنۍ خپه به يې سيده اودروله او په کونا تو باندې به کيناستو.

توضيح: انا احفظكم: حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چونکه د اکابرو صحابو نه وو او قديم الاسلام هم دی او احاديثو بيان کولو کې مکثرينو صحابو څخه دی، ځکه يې کم عمر او کم صحبت والا صحابو ته وفرمايل چې زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونږ د ټولو نه ډير محفوظ کونکی يم د دوئ مبارک تعلق د خدره قبيلې سره دی او انصارو د مدينې څخه دی، د اکثرو صحابو او تابعينو استاد دی (سنه ۷۴هـ) د څلوراتيا (۸۴) کالو په عمر کې وفات شوی دی او جنت البقيع کې دفن دی. (المرقات ۲/۵۰۱، اشعة اللمعات ۳۸۲).

حذاء منكبيه: يعنې تکبير تحريمې کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل دواړه لاسونه د خپلو وړو (کندهو) پورې اوچتول، يو څو احاديثو کې دغه شان الفاظ دي، مثلاً "**خذو منكبيه**" "**حيال منكبيه**" په دې کې د ولو پورې د لاسونو اوچتولو ذکر دی، بعضې احاديثو کې د غوږونو برابر لاسونه اوچتولو ذکر دی مثلاً مسند احمد، دارقطني روايت کې "**حتى تكون ابهاماه حذاء اذنيه**" الفاظ راغلي، بعضې رواياتو کې "**الى شحمتى اذنيه**" الفاظ راغلي دي، دې کې د غوږونو پوس والي پورې لاسونو وچتيدو اشاره ملاويږي او بعضې رواياتو کې "**الى فروع اذنيه**" الفاظ راغلي، دې کې د غوږونو برې حصې پورې لاسونو وچتيدو اشاره ملاويږي، ددې درې قسمه رواياتو په بنياد د فقهاء کرامو معمولي شان اختلاف دی، چې لاسونه کوم ځای پورې وچت کړی شي. د شوافعو او مالکيو حضراتو په نزد باندې د ولو پورې لاسونه اوچتولو معمول دی او د دوئ په نزد باندې افضل دی. امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې درې اقوال دي، ولو پورې، غوږونو پورې او اختيار او مشهور اول قول دی. او غير مقلدين د سينې اوچتوالي پورې په لاس اوچتولو قائل دي. (المرقات ۲/۵۰۱).

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۰۵، رقم الحديث : ۸۲۸.

ائمه احناف د غوږونو د پوس والي پورې لاسونو وچتيدو ته افضل وايي دا مسلک ډير ښه دی، يعني د غوږونو د پوس والي پورې لاسونو وچتيدو سره سينې او د ولو پورې لاسونو وړلو باندې هم عمل راځي اودې نه علاوه په محدود مسلک باندې عمل راځي دااختلاف دعدم جوازنه دی بلکې دا افضل دی. شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ په لمعات کې ليکلي، دا هم ممکن دی په مختلفو وختونو کې په مختلفو حالاتو کې د لاندې دغه ټولو طريقو باندې عمل کولی شي(اشعة اللمعات ۳۸۲)

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په دې ټولو احاديثو باندې عمل کولو دپاره يو توجيه ښودلې ده، هغه وايي د تکبير تحريمې په وخت کې د لاسونو تلي د ولو مخامخ ګوتې د غوږونو مخامخ وي اودګوتو سرونه د غوږونو د برې حصې سره برابر وي، دې وجې نه ټولو احاديثو باندې عمل راځي او احاديثو کې تطبيق هم راغی.

امکن يديه: يعني د رکوع په حالت کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مضبوطۍ سره په دواړو لاسونو باندې ځنګونان نيولي وو، دغه حالت کې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ګوتې مبارکې کولاو وې، سجده کې به نبي عَلَيْهِ السَّلَام ګوتې يو ځای کړې او په ځمکه باندې به يې مضبوطۍ سره ولږولې. علماء وايي د رکوع په حالت کې ګوتې کولاو ساتئ او د سجدې په حالت کې ګوتې مضبوطۍ سره په ځمکه باندې يو ځای کوئ، د تکبير تحريمې او قعدې په صورت کې په خپل طبعي حالت باندې پريږدئ.

هصر ظهره: يعني ملا دومره ښکته کوئ چې سر او د بدن وروسته حصې سره برابر وي. (هصر) باب ضرب څخه رانښکل، ښکته کول نزدې کول او ماتولو په معنی کې راځي، دلته د ښکته کيدو په معنی دی. څنګه چې امرؤ القيس وايي:

هصرت بغودي راسها فتمايلت ❁ علی هضيم الکشح ريا المخلخل

غير مفترش: يعني ستاسو لاسونه په ځمکه باندې ايخودی شوي وو، خو څنګلي به د ځمکې څخه جدا وې، د **افتراش سبع** په شان نه دی.

ولا قابضهما: يعني څنګلي اوپتون به يې د خيټې نه لرې ساتلو تلي اوګوتې به يې په ځمکه باندې مضبوطۍ سره کيښودې، ليکن پتون او څنګلي به يې د خيټې او ځمکې نه دومره لرې ساتلې چې د چيلۍ بچی د دوی د سينې لاندې تيريدل وغواړي نو تيريدی شي، د قابض دا مطلب هم کيدی شي، چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په ځمکه باندې ګوتې خورولې راغوندولې به يې نه.

د سمع الله لمن حمده مطلب

﴿٤﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا

دابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام به او چتول دواړه لاسونه د ولو پورې چې کله به يې

Maktaba Tul Ishaat.com

افْتَتَحَ الصَّلَاةَ وَ إِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ وَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ
مونځ شروع کولو او چې کله به يې تکبير ويلو د رکوع د پاره، او چې کله به يې پورته کولو سر د رکوع نه
رَفَعَهُمَا كَذَلِكَ وَ قَالَ : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ
نو هم دواړه لاسونه به يې او چتول همدارنګې، او ويل به يې الله د هغه چا تعريف قبول کړو چا چې د هغه
حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَ كَانَ لَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السُّجُودِ .(۱).
حمد بيان کړو ، اى زمونږ ربه! ستا د پاره تعريف دى ، او نبي عَلَيْهِ السَّلَام به نه کول دارنګې په سجدو کې.

توضيح: سمع الله لمن حمده: دلته د **سمع** معنى قبول کولو ده، يعني الله تعالى د دغه کس حمد قبول کړو چا چې دده حمد وکړو. **لمن:** کې لام د نفع د پاره دى، يعني الله تعالى د حمد کونکي د فائدې د پاره دهغه حمد قبول کړو. **حمده:** کې هاء سا کنه ده چې دسکتې او داستراحت د پاره ده. (اشعة اللمعات ۳۸۳)

ربنا لک الحمد: دا الفاظ احاديثو کې دري قسمه راغلي دي. **ربنا لک الحمد، ربنا ولک الحمد، اللهم ربنا ولک الحمد.** ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ وايي آخري دوه جملې د اولنۍ جملې څخه افضل دي، د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ څخه دور څخه او وروسته د علماو په معمول کې دا دعا داسې ده: **ربنا ولک الحمد حمدا كثيرا طيبا مباركا فيه.**

په تحميد او تسميع کې تقسيم: زير نظر حديث کې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وايي امام به تحميد او تسميع دواړه وايي، ځکه چې د حديث نه دا طريقه معلوميږي، د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ او د امام محمد رَحِمَهُ اللهُ هم دا مسلک دى، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ وايي د تقسيم په طور باندې **سمع الله لمن حمده** به امام وايي او **ربنا لک الحمد** دي مقتديان وايي. امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ دي حديث نه استدلال کړى دى، ابن ماجه څخه علاوه د سننو په ټولو کتابونو کې مذکور دي، الفاظ دا دي: **عن ابى هريرة قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا قال الامام سمع الله لمن حمده فقولوا ربنا لک الحمد.** (اشعة اللمعات ۳۸۳)
د استدلال طريقه داسې ده چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امام او ماموم په منځ کې دا کلمات تقسيم کړي

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۱۸/۲، رقم الحديث : ۷۳۵، ومسلم في الصحيح ۲۹۲/۱ رقم الحديث: ۲۲-۳۹۰، وأبو داود ۴۶۳/۱ رقم الحديث :۷۲۲، والنسائي ۱۲۲/۲، رقم الحديث:۸۷۸.

دي او تقسيم د شركت منافي دی، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ زير بحث حديث په حالت د امامت باندې نه محمول كوي، بلكې وايي چې دا د منفرد مونځ طريقه ده او منفرد به دواړه جملې وايي.

في السجود: يعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجدې ته تلو وخت كې او واپس كيدو وخت كې رفع اليدين نه كول، شوافع حضرات اګر چې د رفع اليدينو قائل دي، خو هغوئ صرف ركوع ته تلو په وخت او واپس كيدو په وخت كې رفع اليدين كوي او تكبير تحريمې په وخت كې كوي، دې څخه علاوه د رفع اليدينو قائل نه دي. د سجدې په وخت كې اګر چې رفع اليدين د احاديثو څخه ثابت دي، خو شوافع دا منسوخ ګڼي، په احاديثو كې ددغې واضح طور باندې تذكره موجود ده. او احناف د ركوع په وخت كې رفع اليدين منسوخ ګڼي د رفع اليدينو مسئله مخكې راتلونكي ده.

۲ ربيع الثاني ۱٤۱۰هـ

په مونځ كې د رفع اليدين مسئله:

﴿۵﴾ وَ عَنْ نَافِعٍ : أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ

د نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چې كله مونځ شروع كولو نو تكبير به يې ويلو

وَ رَفَعَ يَدَيْهِ وَ إِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ وَ إِذَا

او خپل دواړه لاسونه به يې اوچتول او چې كله به ركوع ته تللو نو دواړه لاسونه به يې اوچتول او چې كله

قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَفَعَ يَدَيْهِ وَ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ

به يې سمع الله لمن حمده وويل نو دواړه لاسونه به يې اوچتول، او چې كله به پاڅيدو د دوه ركعتو نه نو

رَفَعَ يَدَيْهِ وَرَفَعَ ذَلِكَ ابْنُ عُمَرَ إِلَى نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [1].

دواړه لاسونه به يې اوچتول، او رسوي دا حديث ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ته.

توضيح: واذا ركع رفع يديه: دې نه مخكې حديث نمبر (۴) او زير بحث حديث نمبر (۵) او راتلونكي احاديثو كې د ركوع حالت كې رفع اليدين كولو مسئله بيان شوې ده. اصل بحث ته تللو نه مخكې يو څو خبرې ضروري دي: **اوله مسئله:** رومبۍ مسئله د رفع اليدين حكم او ددې شرعي حيثيت دی نو پيژندل په كار دي چې يو د تكبير تحريمې په وخت كې د لاسونو اوچتولو حكم دی. نو د جمهورو په نزد باندې دا سنت دي دې كې خاص اختلاف نشته، د بعضې اهل ظواهرو او داؤد ظاهري په نزد باندې دا فرض دي،

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۲۲، رقم الحديث :۷۳۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

اهل روافضو زيديه فرقې هم اختلاف کړی دی، تکبير تحريمې نه علاوه مقاماتو کې د رفع اليدينو حکم افضل او غير افضل حيثيت لري يا ډير نه ډير د سنت اختلاف دی.

دوهمه مسئله: دويمه مسئله دا ده چې د رفع اليدين ثبوت په مونځ کې کوم ځای کې دی، لکه څنګه چې مخکې تير شو چې تکبير تحريمي کې رفع اليدين د ټولو په نزد باندې سنت دي دې کې څه خاص اختلاف نشته، د تکبير تحريمي نه علاوه شپږ ځايونو کې داسې دي چې هغې کې د رفع اليدينو ثبوت په احاديثو کې ملاويږي هغه مقامات دا دي: (۱) **رفع اليدين عند الركوع** (۲) **رفع اليدين عند الرجوع عن الركوع** (۳) **رفع اليدين عند الذهاب الى السجدة** (۴) **عند الرجوع عن السجدة كما في النسائي** (۵) **رفع اليدين عند القيام الى الركعة الثالثة كما في ابى داؤد ص ۱۰۲** (۶) **رفع اليدين في كل تكبيرة عند الرفع والخفض كما في مسند احمد**. دې شپږو مقاماتو کې صرف دوه ځايونه داسې دي چې د رفع اليدين او عدم رفع اليدين کې اختلاف دی هغه رکوع ته د تلو په وخت او واپس کيدو په وخت کې دې نه علاوه څلور ځايونه په هغې کې رفع اليدين د ټولو ائمه په نزد منسوخ شوي دي لهذا د رفع اليدين نوم کله چې هم راشي نو د هغې نه مراد دغه دوه مقامات دي.

دريمه مسئله: دريمه مسئله دلته دا ده چې رفع اليدينو کې لاس کوم ځای پورې او چتول په کار دي دا مسئله حديث نه مخکې حديث نمبر (۳) تشريح کې په تفصيل سره تيره شوې ده هلته يې اوګورئ.

په رفع اليدينو کې د فقهاو اختلاف او د دې پس منظر: بهر حال دا مسئله د دور صحابو نه مختلف فيها راروانه ده د تابعينو په دور کې هم په دې کې اختلاف وو، څوک رفع کونکي وو او څوک د ترک رفع قائل وو داسې ښار نه وو چې په هغه کې دواړو طرف والا خلک نه وو، خو په دنيا کې کوفه واحد داسې ځای وو چې هغې کې رفع اليدينو والا هيڅوک هم نه وو، ټول د رفع اليدينو د ترک قائل وو د هغې وجه دا ده چې کوفه د اکابرو صحابو د تعليم مرکز وو او هلته حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ معلم عام وو د هغه د تعليم دا آثار وو د هغه نه پس د هغه د شاګردانو او د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ د تعليم دا آثار وو غرض دا چې د رفع اليدينو مسئلې په شروع کې طرفينو کې سخت والی نه وو او روسته سخت والی راغی اهل مکو د ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تعليم د وجې نه رفع اليدين شروع کړل او بيا حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دا مسئله ډيره په سختی سره خپله کړه، دې نه پس خلکو په دې باندې تحقيقي کتابونه وليکل ټولو نه مخکې امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ جزء رفع اليدين کتاب وليکو امام بيهقي، علامه ابن عبد البر او حافظ ابن قيم رَحِمَهُمُ اللهُ دې باندې کتابونه وليکل د امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ کتاب په جواب کې محمد بن عمرو مروزي رَحِمَهُ اللهُ رفع اليدينو باندې يو تحقيقي کتاب وليکو. علامه زاهد کوثري رَحِمَهُ اللهُ ليکلي چې رفع اليدينو باندې بهترين او مفيد کتاب او د ټولو نه مدلل کتاب د شاه انور شاه کشميري رَحِمَهُ اللهُ (ليل الفرقدين في رفع

الیدین او بسط الیدین لنیل الفرقدین) دی. امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ د رفع الیدینو ثبوت باندې په خپل کتاب کې (۱۳) احادیثو استخراج کړی دی، علامه ابن عبدالبر رَحِمَهُ اللَّهُ (۲۳) احادیثو استخراج کړی دی، امام بیهقي رَحِمَهُ اللَّهُ د (۳۰) احادیثو ذکر کړي دي، حافظ عراقي رَحِمَهُ اللَّهُ رفع الیدینو ثبوت کې (۵۰) احادیث راوړي دي. دې وجې نه امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ آخر وویل چې رفع الیدین مسئله کې عدم رفع الیدین والا سره چرته هم صحیح روایت نشته. حضرت انور شاه کشمیري رَحِمَهُ اللَّهُ د امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ ددې دعوې متعلق فرمایي د روایاتو د تحقیق نه پس دا خبره صفا واضحه شوه چې نه دا دعوې صحیح ده او نه هغه کثیر روایات کوم چې قائلین د رفع الیدینو نقل کړي دي د هغوی دعوې لره ثابتوي. دوي چې کوم ډیر روایات نقل کړي دي هغې کې د بعضو تعلق د **رفع الیدین عند السجدة** دی او بعضې **عند القیام الی الرکعة الثالثة** سره دی بعضې **عند السلام** وغیره سره دی بعضې **عند الرکوع** سره او بعضې ناقابل استدلال دي شاه صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ وایي د رفع الیدینو په سلسله کې درې قسمه روایات دي: (۱) اول هغه روایات دي چې ناطق برفع الیدین دي. (۲) دویم هغه روایات دي چې ناطق بعدم رفع الیدین دي. (۳) دریم هغه روایات دي چې ساکت عنها دي، یعنې رفع الیدین او عدم رفع الیدین باندې ناطق روایات دواړو طرف نه تقریباً برابر دي او کوم روایات ساکت عنها دي دا چې کوم طرف سره ولګي، نو د هغوئ تله درنه وي: که احناف خپل طرف نه ساکت عنها روایات تلې کې شمار کړي چې عدم رفع الیدینو باندې دال دي، ځکه چې مقام تعلیم کې د سائل سوال په جواب کې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذکر نه وو کړی. دا دې طرف ته ښکاره اشاره ده چې خاموش روایات د ترک رفع الیدین دلائل دي. دې اعتبار سره د ترک رفع الیدین روایات ډیریږي، نو دا دعوای صحیح نه ده چې دغه طرف سره صحیح روایات نشته.

د رفع الیدین او عدم رفع الیدین مسئله کې دا خبره هم یاد ساتئ چې امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په غزه کې پیدا شوی وو، بیا یې مکې ته هجرت وکړو، نو دوي د اهل مکې په طرز عمل باندې عمل وکړو او هلته حضرت ابن زبیر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د تعلیم د وجې نه رفع الیدین کیدل د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ عام دستور دا وو چې دوي به د اهل مدینې تعامل په ټولو مسائلو کې مخې ته کیښودو. د مدینې والا هم د ترک رفع الیدین قائل وو، نو دوي هم دا واخیستو. او د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ عادت او فقهي مزاج دا وو چې دوي به د حدیث په ظاهر باندې عمل کولو دا وجه ده چې د کثرت روایاتو د وجې نه د دوي اقوال به ډیر وو. د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ فقهي مزاج دا وو چې دوی همیشه د شریعت مطهره د قواعد کلیه لحاظ کړی دی د د کلیاتو د حفاظت دپاره یې په جزئیاتو کې تاویل کړی دی، خو کلیات یې برقرار ساتلي دي دا وجه ده که مسلک د احنافو ته څومره سطحي نظر باندې اوکوری، نو جزئیات به د دې منافي نظر باندې راځي \

Maktaba Tul Ishaat.com

او څومره ژور نظر باندې چې او ګورئ، نو دا مسئله په ټولو احادیثو باندې پوره منطبق په نظر راځي.

د امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ رای: امام ترمذي په سنن ترمذي کې د رفع الیدینو د پاره باب ترلی دی، د دوه قسمه احادیثو استخراج یې کړی دی او دواړو باندې یې تبصره هم فرمایلې ده او خپل اظهار یې هم کړی دی، چنانچه د رفع الیدینو په ثبوت باندې یې تبصره کړې ده هغه فرمایي: (**و بهذا یقول بعض اهل العلم**) یعنې په رفع الیدین باندې عمل کولو والا او رفع الیدین رائی ساتلو والا یو څو علماء دي او چې کله رفع الیدین او ترک رفع الیدین والا حدیث باندې تبصره کولو وخت کې د خپلې رائی اظهار فرمایي، نو وایي: (**و به یقول غیر واحد من اهل العلم. ص،۵۹**) یعنې ترک رفع الیدین قول د دومره علماوو رائی ده چې په شمار کې راوستل مشکل دي.

د شیخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ رای: دوي فرمایي دې مسئله کې جانبینو کې احادیث موجود دي اګر چې رفع الیدینو احادیث ډیر دي خو دویم طرف ته هم اچادیث موجود دي او دایولوړ د بحث دی دا تعارض داسې لرې کولی شي یا خو په احادیثو کې به د تطبیق قول کولی شي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله رفع الیدین کړي او کله یې نه دي کړي. چې په کوم هم عمل کولی شئ نو ویې کړئ دواړه جائز دي، صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کوم حالت کې لیدلی دی، نو نقل کړي دي.

(۲) یا یو منسوخ ګڼلی شي یعنې رفع الیدین شروع کې وو بیا منسوخ شو حالانکې لوی لوی صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ مثلاً عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رفع الیدین نه کول دا ددې حکم منسوخ کیدو دلیل دی. (۳) او که فرض کړی که دواړه وي بیا به عدم رفع الیدین ته ترجیح وي، ځکه چې عدم رفع الیدین کې د حرکت په نسبت سره سکون دی چې د مونځ حالت کې ډیر مناسب دی، ځکه چې د مونځ متعلق قرآن کریم کې فرمایي: ﴿**قُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ**﴾ (**بقرة آیت: ۲۳۷**) **ای ساکتین.**

او حدیث کې دا الفاظ راغلي دي: (**اسکتوا في الصلوة**) یعنې خاموشئ سره مونځ کوئ.

بهر حال د جانبینو مسلکي تحقیق به ستاسو مخې ته راشي. رائئ چې وې ګورو:

۳ ربیع الثاني ۱۴۱۰ھ

دلائل: د رفع الیدینو مثبتینو او غیر مثبتینو دلائل ذکر کولو نه مخکې یو ځلې بیا د دوي مذاهبو باندې نظر اچوو. امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ او یو قول د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دې طرف ته تلی دی چې عند الرکوع رفع الیدین څنګه چې شروع کې سنت عمل وو اوس هم سنت عمل دی. امام ابو حنیفه، سفیان ثوري، ابراهیم نخعي رَحِمَهُمُ اللهُ او د مشهور مختار قول مطابق د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې عند الرکوع رفع الیدین نشته، لکه مخکې رفع الیدین وو وروسته کې بیا منسوخ

ګڼلی شو، دغه رنګ عند الرکوع هم یا منسوخ شو یا موقوف دي، لهذا عدم رفع راجح ده. احناف وایي د نسخ ددې احتمال د وجې نه رفع الیدین په ځای عدم رفع افضل او اولی ده، ځکه چې رفع الیدینو کې خطره ده چې منسوخ حکم باندې عمل اونه شي او منسوخ حکم باندې عمل کول حرام دي د سنت فضیلت حاصلولو کې په ناجائزو کې د پریوتو احتمال راغی، ځکه اولی او افضل ترک رفع الیدین وګرځولی شو، حالانکې د احادیثو انبار دواړو طرف ته دی.

د شوافعو او حنابلو دلائل: (۱) شوافع او حنابله زیر بحث حضرت نافع او ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا روایت نه استدلال کړی دی. (۲) دې حضراتو دې نه مخکې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت نمبر (۴) نه استدلال کړی دی. (۳) شوافع او حنابله زیر بحث حدیث نه پس حضرت مالک بن حویرث رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت نه هم استدلال کړی دی. (۴) د رفع الیدین قائل خلکو حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حدیث نمبر (۸) نه هم استدلال کړی دی. (۵) مثبتینو د رفع الیدینو حضرت ابو حمید ساعدي رَحِمَهُ اللَّهُ اوږد حدیث نمبر (۱۲) نه هم استدلال کړی دی. مشکوة ص۷۶ باندې دي چې دې ټولو احادیثو کې **عند الرکوع او عند الرفع عن الرکوع** په وخت کې د رفع الیدینو تصریح موجوده ده او دا په مطلوب باندې واضح دلائل دي.

د احنافو او مالکیو دلائل: په رفع الیدینو کې احناف او مالکیو دلائل ډیر زیات دي، د مالکیه حضراتو مسلک اګرچې احنافو په شان دی او مشهور هم دا دی، خو ددې دلائلو احناف ډیره تذکره کوي، ځکه خو د احنافو نوم اخیستلی کېږي، چونکې رفع الیدینو باندې د احنافو دلائل مندرجه ذیل دي:

(۱) (**عن علقمة قال قال لنا ابن مسعود الا اصلی بکم صلوة رسول الله فصلی ولم یرفع یدیه الا مرة واحدة مع تکبیرة الافتتاح**) (ابوداود، ترمذي، مشکوة ص۷۷)

(۲) (**و عن البراء ابن عازب قال کان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا کبر لافتتاح الصلوة رفع یدیه حتی یکون ابهاماه قریباً عن شحمتی اذنیه ثم لا یعود**) (طحاوي ص۱۵۴)

برني احادیث امام ترمذي فی الباب عن البراء بن عازب په عنوان کې ذکر کړي دي.

(۳) **و عن ابن عمر مرفوعا ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کان یرفع یدیه اذا افتتح الصلوة ثم لا یعود.** (**رواه البیهقی فی الخلافیات باسناد صحیح کذا في معارف السنن**)

(٤) **و عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال لا یرفع الایدی الا في سبع مواطن:** (۱) **في افتتاح الصلوة** (۲) **و استقبال القبلة** (۳) **و علی الصفا** (٤) **والمروة** (٥) **والعرفات** (٦) **وبجمع** (۷) **وعند الجمرة** (**طبراني والبخاري فی جزء رفع الیدین**) **بحواله تنظیم الاشتات**)

Maktaba Tul Ishaat.com

(٥) (وعن ابن مسعود عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه كان يرفع يديه في اول تكبيرة ثم لا يعود) (طحاوي، ص١٥٤ و كذا في الترمذي والنسائي)

(٦) و عن جابر بن سمرة قال خرج علينا رسول الله فقال مالي اراكم رافعي أيديكم كانها اذناب خيل شمس اسكنوا في الصلوة. (مسلم)

د مسلم په دې روايت باندې مخالفين خفه کېږي د دې حديث تعلق سلام په وخت کې رفع يدين دي دې نه نبي عَلَيْهِ السَّلَام منع فرمايلې دې، استدلال کولو والا وايي: حديث مبارک کې چې اسکنوا في الصلوة کوم الفاظو ارشاد فرمايي مونږ دې نه استدلال کوو چې مونځ کې سکون او کم نه کم حرکات مطلوب دي چې قرآن کريم کې اشاره ده ﴿قُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ﴾ (بقرة آيت:٢٣٨) اى ساكنين ساكتين عابدين.

(٧) عن عباد بن الزبير ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا افتتح الصلوة رفع يديه في اول الصلوة ثم لم يرفعها فى شئ حتى يفرغ. (رواه البيهقي في الخلافيات)

(٨) و عن مجاهد قال صليت خلف ابن عمر فلم يكن يرفع يديه الا في التكبيرة الاولى من الصلوة) (مصنف ابن ابي شيبة، بيهقي، طحاوي)

(٩) رُوي عن ابن عباس قال كان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يرفع يديه كلما ركع و كلما رفع ثم صار الى افتتاح الصلوة وترک ما سوا ذلک. (كذا في التعليق الصبيح بحواله تنظيم الاشتات)

(١٠) عن الاسود قال رايت عمر بن الخطاب يرفع يديه في اول تكبيرة ثم لا يعود. (مصنف ابن ابي شيبة طحاوي)

قال و رائيت ابراهيم النخعي والشعبي يفعلان كذلک. (مصنف ابن ابى شيبة و طحاوي ص ١٥٦)

(١١) عن عاصم بن كليب عن ابيه ان عليا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان يرفع يديه في اول تكبيرة من الصلوة ثم لا يرفع بعد. (رواه الطحاوي باسنادين جيدين ص ١٥٤)

(١٢) وراى عبدالله بن الزبير رجلا يرفع يديه من الركوع فقال "مه" كان هذا شئ فعله النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثم تركه. (كذا في التعليق الصبيح بحواله تنظيم الاشتات)

(١٣) و عن المغيرة بن شعبة قال قلت لابراهيم حديث وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انه رأى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يرفع يديه اذا افتتح الصلوة واذا ركع و اذا رفع راسه من الركوع فقال ان كان وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راه مرة يفعل فقد راه عبدالله خمسين مرة لا يفعل ذلک. (طحاوي ص ۱۵۴)

و في البدائع رُوي عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انه قال العشرة الذين شهدلهم النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالجنة ماكانوا يرفعون ايديهم الا في افتتاح الصلوة. (كما في العيني، ج۳، ص۷)

دټولو احاديثو مرفوعو اوآثار منقولو نه داخبره واضحه شوه چې درفع اليدينو په مسئله کې دواړو طرف ته داحاديثو ذخيره موجوده ده، ياخو دواړه جانب احاديثو کې تطبيق صورت پيدا کول په کار دي کوم عمل کوم ځای کې رائج دی هغې باندې هلته عمل کول په کار دي اوجائز دواړه ځنډل په کار دي.

ابن حزم په خپل مايه ناز تصنيف (المحلي ج۳ ص ۲۳۵) کې ليکلي چې کله د جانبينو نه د احاديثو صحت معلوم شو، نو اوس دواړه عمله مباح دي يو عمل هم فرض نه دی، پس مونږ ته داسې او په دې نيت مونځ کول په کار دي که مونږ رفع اليدين وکړو، نو مونږ داسې مونځ وکړو، ځنګه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړی دی او که مونږ رفع اليدين ونه کړه، نو بيا هم مونږ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طريقه مونځ وکړو. د ابن حزم عربي الفاظ دا دي: فلما صح انه عليه السلام كان يرفع في كل خفض و رفع بعد تكبيرة الاحرام و(كان) لا يرفع (ايضا) كان كل ذلک مباحا لا فرضا وكان لنا ان نصلي كذلک فان رفعنا صلينا كما كان رسول الله يصلي و ان لم نرفع صلينا كما كان رسول الله يصلي (المحلى ج۳ ص۲۳۵)

که د تطبيق صورت چاته خوښ نه وي، نو بيا د رفع اليدينو احاديث منسوخ يا موقوف ګرځول په کار دي يا د عدم رفع اليدينو احاديث راجح ګرځول په کار دي، لکه ځنګه چې په دې بحث کې د شيخ عبدالحق رائی د دې بحث لاندې ليکلی شوې ده (اشعة اللمعات ۳۸۳).

٤ ربيع الثاني ١٤١٠هـ

سوالات او جوابات: (۱) **سوال**: مندرجه ذيل روايا تو باندې مخالفينو څه نا څه اعتراض کړی دی تاسو د دې قسم روايا تو نه څنګه استدلال کوئ؟

جواب: که د مخالفينو ټول اعتراضات وکتلی شي، نو اصولي طور باندې د دې اعتراض خلاصه دا ده چې په دې روايا تو کې يا ارسال دی يا غرابت او تفرد دی يا په دې کې ادراج دی.

واضح جواب دا دی دا روايات ډيرو طريقو سره وارد دي، نو د تعدد طرف سره تفرد او غرابت او ادراج ختميږي باقي پاتې شو بعضې روايا تو مرسل کيدل، نو غرض دا دی د جمهورو په نزد ارسال معتبر دی مونږ جمهور سره يوو او هغوي زمونږ سره دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: مثبتين د رفع اليدينو حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث نمبر (۲۰) باندې اعتراض کړی دی چنانچه سنن ترمذي کې امام ترمذي حضرت عبدالله ابن مبارک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په حواله سره اوويل او فرمايي د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث ثابت دی کوم چې د رفع اليدينو متعلق دی، خو د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت ثابت نه دی دې کې عدم رفع اليدين ذکر دی. (ترمذي، ص ۵۹)

صاحب مشکوة د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دغه روايت د اصل مبحث نه لري فصل ثالث (ص ۷۷) کې ذکر کړی دی او بيا دې باندې د امام ابوداؤد په حوالې سره يې اعتراض کړی دی. (**و قال ابوداؤد ليس هو بصحيح على هذا المعنى**)

جواب: ددې سوال اولنې جواب دا دی چې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت چې کومو واسطو سره امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ته رسيدلی هلته د دې طويلې سلسلې سند نه وو، صرف يو يا دوه واسطې وې، اوس د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ نه پس مونږ پورې د طويل سند د وجې نه که روايت کې ضعف راشي دې نه د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مستدل ته څوک نقصان نه شي رسولی. يوه قاعده او ضابطه درجې لري دا جواب چې هر ځای جاري وي. د امام ترمذي رَحِمَهُ اللَّهُ دويم جواب دا دی چې د رفع اليدينو متعلق حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه دوه روايات منقول دي، يو مرفوع قولي دی او دويم مرفوع فعلي دی يعنې ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خپل فعل اوښودو حديث ته يې مرفوع وويله يا خپل قول ويلو سره حديث ته يې مرفوع وويله. حضرت عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ اللَّهُ مرفوع قولي باندې رد کوي چې دا ثابت نه دی، نو مرفوع فعلي ته هغوئ غير ثابت څنګه وايي هغه په خپله د مرفوع فعلي راوي دی، لکه نسائی (ص، ۱۲۸) کې واضح طور باندې موجود دی. خامخا ابن مبارک رَحِمَهُ اللَّهُ مرفوع قولي نه انکار کوي او ددې احناف هم قائل دي حالانکه احناف مرفوع فعلي ثابت ګڼي او ددې نه استدلال کوي او د مرفوع قولي نه احناف استدلال نه کوي ددې الفاظ دادي: (**ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يرفع يديه الا في اول مرة**) (ترمذي)

د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د روايت مدار عاصم بن کليب رَحِمَهُ اللَّهُ باندې دی او د مسلم راويانو نه دی، لهذا مرفوع فعلي ثابت نه دی په خپله امام ترمذي دې کتاب کې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فعلي روايت متعلق فرمايي دا روايت حسن دی اود ډيرو خلکو په دې باندې عمل دی دغه شان جرح اوتعديل کې يحيى بن سعيد القطان المغربي رَحِمَهُ اللَّهُ نه (**الوهم والايهام**) کې دا الفاظ نقل دي: (**انه صحيح حديث ابن مسعود رضى الله عنه**) دغه رنګ ابن حزم اندلسي رَحِمَهُ اللَّهُ دې حديث ته صحيح ويلي دی او دار قطني ورته هم صحيح ويلي دي (**كذا في عرف الشذي**).

همدارنګې عبدالله ابن عبدالبر، علی المدني، یحی بن معین. امام ذهبی او ابن منده رَحِمَهُمُ اللهُ ورته صحیح ویلي دي، صاحب مشکوة چې د امام ابوداود په حوالې سره کوم اعتراض کړی دی.

قال ابوداود: لیس بصحیح علی هذا المعنی) ددې جواب هم دغه دی چې دا د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوع قولي حدیث باندې اعتراض دی دا جواب په حقیقت کې د صاحب مشکوة غلطی پټولو د پاره وو او دومره لوی کس غلطی نه د بچ کیدو د پاره دی. ورنه امام ابوداود د براء بن عازب رَحِمَهُ اللهُ روایت ته لیس بصحیح ویلي دی حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت باندې ابوداود اعتراض نه دی کړی، لکه څنګه چې د ابوداود سیاق او سباق نه واضح دی او که بالفرض امام ابوداود د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت باندې اعتراض کړی وي ددې جواب دا هم کیدای شي چې امام ابوداود دا ضعف علی المعنی سره مقید کړی وي، یعنې روایت صحیح وي نورو راویانو نقل کړي وي سند صحیح دی خو د خاص معنی په اعتبار سره ضعیف دی. باقي مثبتین د رفع الیدینو دلائلو کې د ټولو نه ډیر معتمد او مستند او مضبوط او محفوظ روایت د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی دې باره کې مثبتین حضرات وایي چې د دوي لکه د سند سلسة الذهب ده، ځکه چې نجوم السماء نقل کړی دی او حجة الله علی العلمین دی. رائځ چې لږ وینو ددې حیثیت څه دی ټولو نه مخکې خبره دا ده ددې روایت موقوف کیدو او مرفوع کیدو کې اختلاف دی اګر چې امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ مرفوع له ترجیح ورکړې ده. خو امام ابوداود رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب (ص:۱۰۸) باندې ددې د مرفوع او موقوف کیدو باندې کافي بحث کړی دی اوس ددې حدیث بنیادي عمارت کمزوری شو. کیدی شي چې دا موقوف وي او په موقوف باندې شوافعو حضراتو په نزد استدلال کول جائز نه وي. دویمه خبره دا چې ددې حدیث صحیح کیدو باوجود په دې کې شپږ قسمه اضطراب دی: (۱) امام مالک رَحِمَهُ اللهُ چې کله (مدونه) کې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت نقل کوي، نو هلته رفع الیدین صرف تکبیر تحریمه کې ثابت دي. (۲) موطا امام مالک کې صرف عند الرکوع رفع یدین ثابت دي. (۳) موطا امام محمد کې عند الرکوع او عند الرفع عن الرکوع رفع الیدینو ثابت دي. (۴) د امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ کتاب صحیح بخاري کې صرف عند السجدتین رفع الیدین ثابت دي. (۵) او دا ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت چې کله امام بخاري جزء رفع الیدین کې ذکر کوي، نو هلته دریم رکعت د پاره د ودریدو په وخت کې رفع الیدین ذکر دي. (٦) طحاوي وغیره کې دې روایت نه

(رفع یدین عند کل خفض ورفع) یعنې هر تکبیر په وخت کې رفع الیدین ثابت دي د دومره اضطراب او اختلاف د وجې نه روایت د خپل مقام نه ډیر ښکته رائي.

آخر کې خلاصه دا راوته چې د رفع الیدینو مسئله اولی او غیر اولی، افضل غیر افضل ده جائز او غیر جائز مسئله نه ده یا داسې وویل شي چې رفع الیدین مسئله د اسلام شروع کې وه بیا چې مونځ کې څنګه باقي تغیرات او تنسیخات اوشو، نو د رفع الیدینو مسئله هم موقوف او منسوخ شوه، دا څه

Maktaba Tul Ishaat.com

فرض کلام یا څه مفروضه نه ده بلکې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی نسخ باندې دال دی، حضرت عبدالله ابن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت نسخ باندې دال دی ځکه ددې حدیث منسوخ کیدو قوي احتمال پیدا شو، نتیجه دا راوته چې یو طرف ته رفع الیدین سنت دي او دویم طرف ته د نسخ قوي احتمال دی او منسوخ باندې عمل کول حرام دي اوس سنت خپلول او حرامو کې د پریوتو مقابله شوه. داسې سنت ترک کول اولی او افضل دي چې دې باندې عمل کولو سره سړی حرامو کې مبتلا کېږي دې وجې نه احنافو ترک د رفع الیدین ته اولی وایي چې منسوخ عمل باندې عمل سره خطره رانه شي.

(۲) **سوال:** مثبتین د رفع الیدینو الا کهدا اعتراض وکړي چې منسوخ کیدو باندې تاسو سره څه دلیل دی؟

جواب: ددې اعتراض اول جواب خو همدغه دی چې مندرجه بالا آحادیث او آثار تصریحات او توضیحات دې خبره باندې واضح دلیل دی چې دا حکم مخکې وو بیا موقوف او منسوخ شو دویم الزامي جواب دا دی چې د رفع الیدینو شپږ مقاماتو نه باقي څلور مقاماتو کې تاسو حضرات رفع یدین ترک کولو سره دي څلورو مقاماتو کې د رفع الیدینو حکم په خپله منسوخ تسلیموئ دي څلورو مقاماتو دپاره کوم جواب ستاسو وي هغه زمونږ هم دی فرق صرف دومره دی تاسو څلور مقاماتو کې او مونږ شپږ مقاماتو کې دا عمل منسوخ ګڼو.

د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او د امام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ مناظره: ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ مرقات کې د رفع الیدینو دې بحث کې لیکلي چې صاحب د فتح القدیر ابن همام د هدایه شرح کې د رفع الیدینو بحث کې لیکلي چې یو ځلې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ مکه مکرمه کې دارالحناطین کې یو ځای شو دواړو رفع الیدین مسئله کې بحث شروع کړو. (المرقات ۲/۵۰۴).

امام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ: امام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ نه داسې سوال وکړو چې تاسو رکوع ته تلو وخت کې او واپس رکوع نه د راتلو په وخت کې لاس ولې نه اوچتوئ؟

امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ: مونږ رفع الیدین ځکه نه کوو چې په دې کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه صحیح حدیث منقول نه دی.

امام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ: صحیح حدیث ولې نشته حالانکې ماته زهري ویلي دي او هغه د سالم نه او سالم خپل پلار نه حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه داسې نقل کوي: (ان رسول الله کان یرفع یدیه اذا افتتح الصلوة وعند الرکوع و عند الرفع منه)

امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ: ددې په جواب کې امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ عدم رفع الیدین د پاره سند سره داسې حدیث بیان کړی: (حدثنا حماد عن ابراهیم عن علقمة والاسود عن عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کان لا یرفع یدیه إلا عند الافتتاح ثم لا یعود)

امام اوزاعي رَحِمَهُ اللَّهُ: امام اوزاعي رَحِمَهُ اللَّهُ عُلُوِ سند طرف ته اشاره کولو سره وويل زه تاته دزهري، سالم او ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د سند نه حديث بيانوم او ته حماد ابراهيم سند نه زما مخې ته حديث بيانوي.

امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ: امام صاحب فرمايي وګوره شيخ حماد رَحِمَهُ اللَّهُ د شيخ زهري رَحِمَهُ اللَّهُ نه لوی فقيه دی دغه رنګ ابراهيم نخعی د شيخ سالم رَحِمَهُ اللَّهُ نه فقه کې لوی دی او شيخ علقمه رَحِمَهُ اللَّهُ د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه فقاهت کې څه کم نه دی اګرچې ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته شرف دصحابيت دوجې نه لوی مقام حاصل دی، شيخ اسود رَحِمَهُ اللَّهُ بغير د مقابلې پاتې شودې وجې نه زمونږ وزن نورهم ډيرشو. او حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ به څه وايم هغه د فقاهت امام او د فضيلت سپوږمی ده حضرت امام اوزاعي رَحِمَهُ اللَّهُ سند اوچت کيدو او عالي کيدو سره خپل سند ته ترجيح ورکولو کوشش کوي امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دراويانو د فقاهت د وجې نه خپل روايت ته ترجيح ورکړې ده. دې مسئله کې طرفينو کې وسعت او ګنجائش دی سختې کولو ضرورت نشته غير مقلدين دې مسئله کې سختي کوي او صحيح لارې نه تجاوز کوي او دا اختلاف د جائز او ناجائز اختلاف ګڼي او خلک يو طرف احاديثو نه تشويش کې مبتلا کوي او د فضيلت بحث په فرضيت درجه کې ساتي. ددوي په نزد يوه قاعده ده هغه دا چې مونږ کې سنت پريښود و سره مونږ فاسد يږي او رفع اليدين سنت دي دې پريښود و سره مونږ باطل شو حالانکې دا قاعده د هغوئ خپله ده د امت د علماو او فقهاو ددې سره څه تعلق نشته.

تکبير تحريمه کې لاسونه د غوږونو پورې اوچتول په کار دي

﴿٦﴾ وَ عَنْ مَالِك بنِ الْحُوَيْرِث قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا كَبَّرَ

دمالک ابن حويرث رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به چې کله تکبير تحريمه ويله نو

رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ وَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَقَالَ :

اوچتول به يې دواړه لاسونه ترغوږونو د نرمی پورې اوچې کله به يې پورته کولو سر د رکوع نه نو ويل به يې

سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَعَلَ مِثْلَ ذَلِك . وَ

سمع الله لمن حمده ، او دغه شان به يې کول (يعنې دواړه لاسونه به يې د غوږونو نرمیو پورې ورړل) او

فِي رِوَايَةٍ : حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوعَ أُذُنَيْهِ . (متفق عليه)[1]

په يو روايت کې دي: چې دواړه لاسونه به يې د غوږونو بره حصې پورې ورړل.

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٢١٩،رقم الحديث : ٧٣٧، ومسلم في الصحيح ١/٢٩٣ رقم الحديث:٢٥-٣٩١، أخرجه أحمد في المسند ٣/٤٣٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: ددې حديث تشريح تكبير تحريمې په وخت دواړه لاسونو د اوچتيدو په وخت کې مسئله او مکمل اختلاف مخکې حديث نمبر (۳) کې تير شوی دی هلته يې وکورئ دلته دې حديث کې يې د لاسونو اوچتولو حد د غوږونو برنې حصې پورې د وړلو بيان کړی دی دا د احنافو مستدل دی او کوم حضرات چې صرف سينې پورې لاسونه اوچتوي هغوی ته په کار ذي چې دا حديث د نظره ونه غورځوي او څه همت دې وکړي لږ اوچت دې يې وړي. (المرقات ۲/۵۰۱).

۵ ربيع الثاني ۱۴۱۰ھ

په مونځ کې د جلسې استراحت حکم

﴿۷﴾ وَ عَنْهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي فَإِذَا كَانَ فِيْ وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا.[1].

دمالک بن حويرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دي چې وي ليدو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مونځ کولو باندې چې کله به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په طاق رکعت کې ؤ نو نه به پاڅيدو ترڅو پورې به سيده شوی نه وو.

توضيح: في وتر من الصلوة: مطلب دا دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې مونځ کولو اولني يا دريم رکعت آخري سجدې نه سر اوچتولو نه پس به لږ کيناستو استراحت به يې وکړو او بيا به بل رکعت دپاره پاڅيدو د فقهاو اصطلاح کې دې عمل ته جلسه د استراحت ويلی شي. (المرقات ۲/۵۰۵).

لم ينهض: د پاڅيدو په معنی کې دی يعنې ترڅو چې تاسو نبه استراحت نه وي کړی دغه وخت پورې تاسو دويم يا څلورم رکعت ته مه پاڅئ.

د فقهاو اختلاف: جلسه استراحت کې د فقهاو اختلاف دی آيا دا د عبادت حصه او مسنون عمل دی يا په وخت د مجبوری کې عمل دی. امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دې ته مطلقا سنت وايي که د عذر پرته وخت کې وي يا بغير د عذر وي دا د عبادت يوه حصه ده او سنت دي هغه فرمايي داسې د ناستې نه پس د پاڅيدو هم دا طريقه ده چې دواړو لاسونو سره د ځمکې نه په تکيا سره پاڅي دا مسنون دي. امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ او د مختار قول مطابق او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمايي دا جلسه د استراحت د عبادت سنت يا د مستحباتو د قسم نه نه ده، بلکې دا د عذر د وجې نه په حالت د مجبوری کې کولی شي او دا په حالت د مجبوری باندې محمول دی. (المرقات ۲/۵۰۵، اشعة اللمعات ۳۸۴).

دلائل: حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل زير بحث د حضرت مالک بن حويرث روايت دی چې خپل

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۰۲، رقم الحديث : ۵۲۳.

مقصد باندې واضح دليل دی د جمهورو دليل د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث دی چې ترمذي کې په دې الفاظو منقول دي: **عن ابي هريرة قال كان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ينهض في الصلوة على صدور قدميه** (ترمذي ص ٦٤)

امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ د مالک بن حويرث روايت نه پس متصل دا حديث نقل کړو او په دې باندې يې د اهل علمو عمل ښودلی شي، دې نه معلومه شوه دا حديث صحيح دی او په کثرت سره امت په دې باندې عمل کړی اګرچې د دې حديث په يوه طريقه سند کې خالد بن اياس راوي ته ضعيف ويلی شوی دی، خو د يوې طريقې د وجې نه د اصل حديث صحت نه متاثر کيږي دا روايت مصنف ابن ابی شيبه رَحِمَهُ اللهُ کې داسې منقول دي: **عن ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انه كان ينهض في الصلوة على صدور قدميه ولم يجلس** د غه شان روايت حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مصنف ابن ابی شيبه کې نقل دي (المرقات ٢/٥٠٦)

بلکې د شعبي په حوالې سره ابن ابی شيبه داسې وايي: **عن الشعبي قال كان عمر و علي و اصحاب النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ينهضون في الصلوة على صدور اقدامهم** (كذا في اشعة اللمعات ٢/٣٨٤، المرقات ٢/٥٠٦)

په مصنف عبد الرزاق کې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ متعلق دا روايت داسې منقول دی: **عبد الرزاق عن ابن عينيه عن ابن ابی ليلى قال سمعت عبد الرحمن بن يزيد يقول رمقت عبد الله بن مسعود فی الصلوة فرايته ينهض ولا يجلس قال ينهض على صدور قدميه فی الركعة الاولى والثالثه.)**

علامه ابن دقيق العيد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي دا خبره عجيبه ده، يو عمل ته استراحت هم وايي او بيا سنت هم وايي حالانکې د عبادت مدار په تکليفاتو باندې دی استراحت باندې نه دی.

جمهورو باب التشهد د فصل ثاني په آخري حديث نمبر (٩) کې هم استدلال کړی دی کوم چې مشكوة (ص، ٨٥) کې مذکور دي الفاظ يې دا دي: **وعن عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال كان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فی الركعتين الاوليين كان على الرضف حتى يقوم.** (رواه الترمذي)

ياد ساتئ علامه تورپشتي رَحِمَهُ اللهُ د تشريح مطابق دا حديث د جمهورو دليل دی ورنه نور شارحينو ددې مطلب تشهد د قعده اولی بيان کړی دی.

جواب: جمهورو شوافعو ته ددې دليل دا جواب ورکړو، مالک بن حويرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت حالت د عذر باندې محمول دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حالت د عذر يا ضعف د وجې نه دا عمل کړی دی او په حالت عذر کې داسې کول نبه لري.

Maktaba Tul Ishaat.com

دويم جواب دا دی د ابن حويرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت بيان جواز باندې محمول دی بهر حال د فقهاو دا اختلاف د جواز او عدم جواز نه دی بلکې د اولی او غير اولی اختلاف دی.

باقي شوافعو چې د غازي ودريدو کومه طريقه بيان کړې ده چې دواړه لاسونو سره په ځمکه تکيا کوي جمهور دې باره کې فرمايي، حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کې ممانعت داسې راغلی دی باب التشهد کې حديث نمبر (۹) د لاندې ددې بحث ان شاء الله راځي.

په مونځ کې به لاسونه ځنګه کيخودلی شي

﴿۸﴾ وَ عَنْ وَائِلِ بْنِ حَجَرٍ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ رَفَعَ يَدَيْهِ

د وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: دوي وليدو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې او چتول به يې دواړه لاسونه

حِيْنَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ ثُمَّ الْتَحَفَ بِثَوْبِهِ ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى

په وخت د شروع کولو د مونځ کې د تکبير د پاره بيايې لاسونه کپړه کې دننه کړل بيايې کيښودو بنې لاس

عَلَى الْيُسْرَى فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ أَخْرَجَ يَدَيْهِ مِنَ الثَّوْبِ ثُمَّ رَفَعَهُمَا

په چپ لاس باندې بيا چې رکوع ته د تلو اراده يې وکړه نو بيايې دواړه لاسونه د کپړې نه را بهر کړه او او چت يې

وَ كَبَّرَ فَرَكَعَ فَلَمَّا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمَّا

کړل او تکبير ويلو سره رکوع ته لاړ چې کله **سمع الله لمن حمده** يې وويله نو لاس يې او چت کړو بيا چې کله

سَجَدَ سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ [1]. (رَوَاهُ مُسلم).

يې سجده کوله نو سجده يې وکړه د دواړه لاسونو په مينځ کې.

توضيح: ثم وضع يده اليسرى: دې کې دريو مسائلو طرف ته اشاره ده ددې تفصيل ضروري دی دې کې د ائمو اختلاف هم دی خو دا د جواز او عدم جواز اختلاف نه دی اولی او د غير اولی دی. (المرقات ۲/۵۰۷).

اوله مسئله او د فقهاو اختلاف: په حالت د قيام کې لاس تړل مسنون دي يا پريښودل مسنون دي دې کې د فقهاو اختلاف دی د جمهورو سلفو او خلفو مسلک دا دی وضع د يدينو سنت ده يعنې مونځ کونکې چې کله مونځ کې او دريږي نو لاسونه دې وتړي لاسونه تړلي سا تل سنت دي ارسال سنت نه دی. د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ مشهور قول د ارسال دی يعنې لاسونه په حالت قيام کې نوم باندې نه کيښودل، بلکې

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۰۱ رقم الحديث: ۵٤-٤۰۱.

زوړند په کار دي دويم قول د جمهورو په شان دی لاسونه تړل سنت دي. ارسال يدين کې امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ د قياس نه استدلال کړی چې يو کس بادشاه ته مخامخ مونځ کې ودريږي نو د رعب او هيبت ويره وي لاسونه ځوړند په کار دي وضع يدين نه ده په کار. جمهورو د زير بحث حديث نه استدلال کړی چې خپل مقصد کې واضح تر دی دي نه پس حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث نمبر (۹) نه استدلال کړی دی يا فصل ثاني حديث نمبر (۱۴) حضرت قبيصه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت نه استدلال کړی دی، دې ټولو احاديثو په موجودګی کې د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ د قياس هيڅ مقام نشته (المرقات ۲/۵۰۸)

همدارنګه دا ډير احاديث په شيعو او روافضو باندې حجت دی دوي به د مسلمانانو سره عبادت کې د اشتراک د وجې نه لاس نه تړل، بلکې دوي په هر يو عمل کې د مسلمانانو نه جدا جدا دي، ځنګه چې د هغوي طريقه ده د شيعه باطل خيال دی حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې منافقينو مونځ کې د دوکې په غرض باندې لاسونه تړل د قرآن آيت ﴿يَقْبِضُونَ أَيْدِيَهُمْ﴾ (توبة آيت: ٦٧) کې تحريف کولو سره د دې نه استدلال کوي.

دوهمه مسئله او د فقهاو اختلاف: کله چې دې حديث کې د لاس کيخودو صراحت راغلی، نو اوس د جمهورو په منځ کې اختلاف راغلی چې لاس کوم ځای کيخودی شي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ، سفيان ثوري رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ مشهور قول مطابق مونځ کې لاس نوم نه لاندې کيښودل افضل دي. دامام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد او يو غير مشهور قول کې امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد مونځ کې لاس سينې دلاندې اودنوم دبره کيښودل افضل دي (**كذا في رحمة الامة في اختلاف الائمة ص۳۲**)

امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ د صحيح ابن خزيمه د روايت نه استدلال کړی دی الفاظ يې داسې دي: (**فوضع يده اليمنى على اليسرى على صدره**) دې روايت کې لاس د سينې د بره کيښودو ذکر دی او د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ يو قول هم داسې دی. ائمه احناف او حنابله د حضرت علی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د آثر نه استدلال کړی دی.

الفاظ يې دا دي: (**قال من السنة وضع الكف على الكف في الصلوة تحت السرة**). (**المرقات ۲/۵۰۹**) دا روايت سنن بيهقی، ج ۲، ص۳۱ باندې نقل کړی دی او بذل المجهود، ج۲، ص۲۳) نقل کړی دی، مصنف ابن ابی شيبة کې، ج۱، ص۳۹۸) باندې راوړی، دغه رنګ ابن ابی شيبة رَحِمَهُ اللّٰهُ حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دې الفاظو سره نقل کړی دی. (مصنف ابن ابی شيبة ج۱ ص۳۹۸).

ياد ساتئ: د لاس تړلو يا کيښودو په مقام په تعين کې څومره روايات دي اصول جرح او تعديل پيش نظر دي ټولو کې کلام دی، احنافو چې د کومو روایاتو نه استدلال کړی دی، نو په دې باندې د شوافعو مستدلات په نسبت کم کلام شوی دی بهر حال دا د افضل او غير افضل مسئله ده بيا بيان د جواز د پاره دغه رنګ عمل شوی دی دې کې څه لويه جګړه نشته. امام ترمذي داسې فيصله کړې ده:

Maktaba Tul Ishaat.com

والعمل على هذا عند اهل العلم من اصحاب النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ومن بعدهم يرون ان يضع الرجل يمينه على شماله في الصلوة وراى بعضهم ان يضعهما فوق السرة ورأى بعضهم ان يضعهما تحت السرة وكل ذلك واسع عندهم (ترمذی، ج ۱، ص ۵۹)

امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ دد ې فيصلې نه دا معلومه شوه چې لاس د نوم نه بره وي يا ښکته ټولو کې ګنجائش دی خو فوق الصدر ذکر نه کولو باندې امام ترمذي غیر مقلدین حضرات پریشانی کې واچول د دوي د عمل څه ګنجائش په نظر نه راتلو، افسوس سره ویلي کیږي چې بعضې حضرات دې کې دومره غلو کوي چې د سینې نه بره او مړی نه ښکته لاسونه ایږدي دا کوم سنت دي کوم کسان چې د نوم نه ښکته لاس ږدي هغوئ له هم احتیاط په کار دی چې ډیر ښکته لاس مه ایږدئ لاندې عورت غلیظه دی چې د لاس څه حصه د نوم نه ښکته او څه نوم د پاسه وي دا مستحسن دی.

دریمه مسئله او د فقهاو اختلاف: د لاس کیښودو په کیفیت کې هم اختلاف دی بلکې ائمه احناف خپل منځ کې هم اختلاف دی ددې وجه دا ده بعضې روایاتو کې وضع الکف علی الکف ذکر دی، لکه څنګه چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایاتو کې دي بعضې روایات کې ښې لاس په چپ لاس باندې کیښودل روایات شته، لکه د حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت نمبر (۹) دی بعضې روایاتو کې د (رسغین) ذکر هم دی علماء کرامو په کې بهترین تطبیق کړی دی دې نه ټولو روایاتو باندې په آسانه عمل کیږي مثلاً د ښي لاس تلی د چپ لاس په پشت باندې کیښودی شي او ګوتو سره د ګس لاس د ګټو احاطه وشي او د ښي لاس باقي دري ګوتې د چپ لاس په مړوند باندې کیښودی شي دغه رنګ کف او اسفین اوذراع والا ټول روایاتو باندې عمل رائي دا خبره ځان سره ساتئ. بعضې خلک پوره لاسونه دولونیږدي پورې وړي اویوبل لاس په کې پټوي او سینې باندې دبره ږدي دا مسنون شکل نه دی.

من الثوب: ددې معلومیږي حضرت وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په یخنی موسم کې ولیده ځکه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس په کپړو کې پټ کړی وو.

بین کفیه: مسنون طریقه دا ده د سجدې په حالت کې دواړه لاسونه د غوږونو سره داسې کیږدئ که د غوږنو نه څه پرېوځي نو د لاسونو شا باندې به پریوځي، بلکې سر او لاس برابر اندازه باندې کیږدئ.

وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څوک وو؟ وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لوی شان والا صحابي دی (المرقات ۲/۵۰۶).

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په آخري عمر کې یې ایمان راوړی ؤ د حضرموت اوسیدونکی ؤ او قبائلي سردارانو نه ؤ او دده پلار د حضرموت وغیره بادشاه ؤ وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غالباً سنة الوفود کې مدینې منورې ته په خپله رضا اورغبت سره راغلې ؤ او اسلام یې قبول کړو او صحابو ته یې بشارت ورکړی ؤ چې لرې علاقې حضرموت نه وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسلمان کیدونکی راروان دی چې الله تعالی او دهغه د رسول یې د

زړه په مينه او محبت سره ومنل او د هغه ځای د باشاهانو د کورنۍ نه ؤ، کله چې حضرت وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورسيدو، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې ښائسته استقبال وکړو او ځان ته يې نزدې کړو اوبيايې خپل ځادر ورته خور کړو او دده په حق کې يې دا دعاء وکړه: (اللهم بارک في وائل وولده وولدولده) (المرقات ۲/۵۰۶) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ حضرت وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپلې علاقې سردار مقرر کړو حضرت وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډير د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مونځ کيفيت بيان کړی دی دده د پلار نوم حجر دی اول حا بيا جيم، وروسته د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دور خلافت کې وفات شوی دی.

﴿۹﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: كَانَ النَّاسُ يُؤْمَرُونَ أَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ

د حضرت سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: خلکو ته به حکم کيدلو چې مونځ کزار به ږدي

الْيَدَ الْيُمْنَى عَلَى ذِرَاعِهِ الْيُسْرَى فِي الصَّلَاةِ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)[1]

ښي لاس په ګس (چپ) لاس باندې په مونځ کې.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ

د حضرت ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې کله د مونځ اراده کوله تکبير تحريمه

حِيْنَ يَقُومُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُولُ: « سَمِعَ اللهُ لِمَنْ

به ويله په وخت د اودريدو کې بيا يې تکبير وويل د رکوع ته تللو په وخت کې بيا يې ويل: سمع الله لمن

حَمِدَهُ » حِيْنَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ ثُمَّ يَقُولُ وَ هُوَ قَائِمٌ: «رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ» ثُمَّ

حمده. چې کله به يې د رکوع نه خپله ملا را اوچته کړه، بيا په ولاړه ولاړه ربنا لک الحمد وويلو، بيا يې

يُكَبِّرُ حِيْنَ يَهْوِي ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَسْجُدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ

تکبير وويله چې کله د سجدې د پاره ښکته کېدو بيا يې تکبير وويله چې کله د سجدې نه را اوچتيدو او

يَفْعَلُ ذَلِكَ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا حَتَّى يَقْضِيَهَا وَيُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُومُ مِنَ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوسِ (متفق عليه)[2]

کول به يې دارنګې په ټول مونځ کې او کله چې به د دوو رکعاتو نه پس پاڅيدلو، نو تکبير به يې ويله.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۲٤، رقم الحديث: ۷٤۰.

(۲) أخرجه البخاري ۲/۲۷۲، رقم الحديث: ۷۱۹، ومسلم ۱/۲۹۳ رقم الحديث: ۲۷-۳۹۲، والنسائي ۲/۲۳۳، رقم الحديث: ۱۱۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

طول قيام افضل دی که کثرت در کعاتونو؟

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَفْضَلُ الصَّلَاةِ طُولُ الْقُنُوتِ»[1]

د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي د تولو نه بهتر مونځ دا دی چې په هغې کې قيام اوږدوي

توضيح: طول القنوت: لفظ قنوت ډيرو معانو او مطالبو باندې رائي قنوت بمعنی سکوت هم دی، په معنی د خشوع او خضوع هم دی، په معنی د قيام هم دی، دعا هم ده، قنوت نازله ته هم ويلی کېږي او د دې معنی طاعت هم دی دلته د طول قنوت نه مراد قيام دی په مونځ کې يعنې مونځ کې ډير وخت پورې اودريدل قرآن کريم لوستل افضل دي. (المرقات ۲/۵۱۰).

څوک چې نفل مونځ کوي د دې دوه طريقې کيدی شي ړومبی طريقه دا ده انسان مونځ ډير ساعت پورې ولاړ د قرآن کريم لوستل کوي او اوږده رکعتونه وکړي دې ته طول قيام ويلي کېږي. دويمه طريقه دا ده سړی قيام او قرآت اوږد نه کړي بلکې په دغومره وخت کې مختصر مختصر ډير رکعاتونه وکړي دې ته کثرت سجود ويلي کېږي، دې باندې د تولو اتفاق دی چې د دواړه طريقې جائز او باعث ثواب او اجر دي، خو دې کې بحث دی چې دې کې کومه طريقه ډيره افضل ده. د شوافعو، احنافو او جمهورو په نزد باندې طول قيام افضل دی، ځکه چې دې کې تلاوت قرآن دی، او په مانځه کې تلاوت د مانځه د تسبيحاتو نه افضل دی، (المرقات ۲/۵۱۱).

د بعضې سلفو په نزد باندې کثرت سجود افضل دی ځکه چې حديث کې راغلي دي چې بنده کله سجده کې وي نو الله تعالی ته ډير نزدې حالت کې وي د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ يو قول هم دغه رنګ دی چې تکثير سجود افضل دی اګر چې د دوي مسلک هغه دی کوم چې بيان شو. (**كذا في معارف السنن**)

د جمهورو په رائی کې ډير وزن دی يو خو ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله طول قيام افضل ګڼلی دی، دويم دا چې قرآن کريم طول قيام کې ډير ويلي کېږي او تلاوت افضل دی تسبيحاتو ته، حالانکې کثرت تسبيحات کثرت سجود او رکعات سره وي بعضې دواړه برابر حسابوي، بعضې خلک شپه د طول قيام د پاره او ورځ کثرت سجود د پاره افضل وايي. شارحينو د دې حديث دا سې تشريح کړې ده ما چې بره وضاحت کړی دی تشريح کې دا ډيره واضحه ده باقي سجده افضل ده يا قيام افضل دی د دې بحث ان شاء الله په **باب السجود** کې راځي.

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۲۰ رقم الحديث: ۱۶۴-۷۵۶.

الْفَصْل الثَّانِي:

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ مکمل نقشه:

﴿۱۲﴾ عَن أَبِي حَمِيْد السَّاعِدِيّ قَالَ فِيْ عَشْرَةٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت ابو حميد ساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ده دنبي عَلَيْهِ السَّلَام د لسو صحابو جماعت ته وويل

أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالُوْا فَاعْرِضْ.

ماته دتاسو ټولو نه دنبي عَلَيْهِ السَّلَام د مونځ طريقه ښه معلومه ده د صحابو جماعت وويل صحيح ده بيان يې

قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاة يرْفَع يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ

کړئ ده وويل نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام به چې مونځ ته اودريد و نو خپل دواړه لاسونه به يې اوچت کړه داوږو برابر

ثُمَّ يُكَبِّرُ ثُمَّ يَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ وَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ

او تکبير به يې ويلو بيايې قرآت کولو بيايې تکبير وويله او خپل دواړه لاسونه يې اوچت کړه داوږو پورې

ثُمَّ يَرْكَعُ وَ يَضَعُ رَاحَتَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَعْتَدِلُ فَلَا

بيايې رکوع وکړه او کيخودل دواړه لاسونه په زنګونونو باندې او ملا به يې سيدها کوله او سر به يې نه ډير

يُصَوِّبِ رَأْسَهُ وَلَا يُقْنِعُ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ فَيَقُولُ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ» ثُمَّ يَرْفَعُ يَدَيْهِ

ښکته کولو اونه ډيرا وچتولو بيا د سر اوچتيد و سره سمع الله لمن حمده وويله او اوچتول به يې دواړه لاسونه

حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ مُعْتَدِلًا ثُمَّ يَقُولُ: «اللهُ أَكْبَرُ» ثُمَّ يَهْوِي إِلَى الْأَرْضِ سَاجِدًا

داوږو پورې او سيدها به اودريدو بيا تکبير ويلو سره ځمکې طرف ته ښکته کيدو او سجده به يې کوله

فَيُجَافِي يَدَيْهِ عَن جَنْبَيْهِ وَ يفتح أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ

په حالت د سجده کې يې خپل دواړه لاسونه د پتونانو نه جدا ساتل او د خپلو خپو ګوتې به يې قبلې طرف ته

ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَ يُثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرَى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا

کولې بيا به يې د سجدې نه سر اوچت کړو او ګسه خپه به يې خوره کړه او په هغې باندې به سيدها کيناستو

ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتَّى يَرْجِعَ كل عظم إِلَى مَوْضِعِهِ مُعْتَدِلًا ثُمَّ يَسْجُدُ ثُمَّ يَقُولُ: «اللهُ أَكْبَرُ» وَ

تردې چې هر يو انډام به په خپل ځای برابر شو بيا به تکبير وويله او سجدې ته به ټلو بيا الله اکبر وويله او

Maktaba Tul Ishaat.com

يَرْفَعُ وَ يَثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرَى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَعْتَدِلُ حَتَّى

سجدې نه به يې سر اوچت کړو بيا به يې کسه خپه تاؤ کړه دې باندې به اطمينان سره کيناستو تردې چې د

يَرْجِعَ كُلُّ عَظْمٍ إِلَى مَوْضِعِهِ ثُمَّ يَنْهَضُ ثُمَّ يَصْنَعُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذَلِكَ ثُمَّ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ

بدن هر اندام به په خپل ځای برابر شو بيايې دويم رکعت کې همدارنګې کول چې دوه رکعتونه پس اودريدو

كَبَّرَ وَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى يُحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ كَمَا كَبَّرَ عِنْدَ افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ

نو الله اکبر به يې وويلو دواړه لاسونه به يې اوږو پورې رسولو لکه څنګه چې يې د مونځ شروع کې تکبير

ثُمَّ يَصْنَعُ ذَلِكَ فِي بَقِيَّةِ صَلَاتِهِ حَتَّى إِذَا كَانَتِ السَّجْدَةُ الَّتِي

کولو او باقي مونځ به يې هم په همدې طريقې سره کولو او چې کله به يې هغه سجده وکړه چې د دې نه پس

فِيهَا التَّسْلِيمُ أَخَّرَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَ قَعَدَ مُتَوَرِّكًا عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ

سلام ګرځول وي نو رابهر به يې کړه خپله چپه خپه او ګس طرف ته به د تورک په حالت کې کيناستو او

ثُمَّ سَلَّمَ . قَالُوا : صَدَقْتَ هٰكَذَا كَانَ يُصَلِّي .(۱)

بيا به يې سلام واړولو صحابو ورته وويل تا رښتيا وويل نبي عَلَيْهِ السَّلَام دا سې مونځ کولو.

(وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ وَ ابْنُ مَاجَهْ مَعْنَاهُ وَ قَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَ

ترمذی او ابن ماجه دا روايت بالمعنی نقل کړی ، او امام ترمذي وايي : دا حديث حسن او صحيح دی او

وَ فِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ مِنْ حَدِيثِ أَبِي حُمَيْدٍ : ثُمَّ رَكَعَ فَوَضَعَ

ابوداؤد په يوروايت کې دابوحميد نه دا الفاظ مروي دي بيا چې به رکوع ته تلونو دا سې به يې کيښودل

يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ كَأَنَّهُ قَابِضٌ عَلَيْهِمَا وَ وَتَّرَ يَدَيْهِ

دواړه لاسونه په زنګونانو باندې ګويا چې په مضبوطي سره يې نيولي وو او خپل لاسونه د کمان په شان به

فَنَحَّاهُمَا عَنْ جَنْبَيْهِ وَ قَالَ : ثُمَّ سَجَدَ

يې اينبي وو او څنګلي به يې د خپلو دواړو اړخونو نه لرې ساتلې ،او راوي وايي :بيا سجدې ته لاړو نو

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/٤٦٧ رقم الحديث : ۷۳۰ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۱۰۵، رقم الحديث : ۳۰٤، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۳۳۷ رقم الحديث:۱۰٦۱.

فَأَمْكَنَ أَنْفَهُ وَ جَبْهَتَهُ الْأَرْضَ وَ نَحَّى يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَ وَضَعَ كَفَّيْهِ

خپله پوزه او تندی به يې په ځمکه کيښودو او لاسونه د پتونانو نه جدا وساتل او کيخودل به يې دواړه لاسونه

حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ وَ فَرَّجَ بَيْنَ فَخِذَيْهِ غَيْرَ حَامِلٍ بَطْنَهُ عَلَى شَيْءٍ مِنْ فَخِذَيْهِ حَتَّى فَرَغَ

داوږو برابر او دواړه پتونان به يې کولا وساتل او خپله خيټه به يې دواړونه جدا کړه تر دې چې د سجدې نه فارغ

ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَأَقْبَلَ بِصَدْرِ الْيُمْنَى عَلَى قِبْلَتِهِ وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُمْنَى

شو او ويا به کيناستو چپه خپه يې خوره کړه او د ښې خپې شا يې قبلې طرف ته کړو ښې لاس يې په ښي زنګون

وَ كَفَّهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى وَ أَشَارَ بِأُصْبُعِهِ يَعْنِي السَّبَّابَةَ.

باندې او ګس لاس يې په ګس زنګون باندې کيښود و او اشاره يې وکړه په سبابې ګوتې سره د (اشهدان

وَ فِي أُخْرَى لَهُ : وَ إِذَا قَعَدَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ

لااله الاالله ويل) په وخت کې. او د ابوداؤد په يو بل روايت کې دي چې : دوه رکعته وکړي او کيني او

قَعَدَ عَلَى بَطْنِ قَدَمِهِ الْيُسْرَى وَ نَصَبَ الْيُمْنَى وَ إِذَا كَانَ فِي الرَّابِعَةِ

ګسبه خپه باندې به کيناستو او ښې خپه به يې سيدها اودروله، او چې څلورم رکعت باندې به کيناستونو

أَفْضَى بِوَرِكِهِ الْيُسْرَى إِلَى الْأَرْضِ وَ أَخْرَجَ قَدَمَيْهِ مِنْ نَاحِيَةٍ وَاحِدَةٍ.

چپ کونات يې به يې د ځمکې سره ملاؤ کړو او دواړه خپې به يې يو طرف ته ويستې.

توضيح: انا اعلمكم: ممکن دی حضرت ابوحميد الساعدي موجوده لسو صحابو نه په عمر کې لوی وو، ځکه يې وفرمايل زه ستاسو نه ډير پوهه يم. (المرقات ۲/۵۱۱).

شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ لمعات کې ليکي که يو کس تاسو کې ځان ته لوی عالم وايي د فخر او تکبر د پاره نه وي بلکې حقيقت ښکاره کولو د پاره داسې وکړي دا جائز دي که يو کس د لوی والي او تکبر د پاره او نفساني اغراضو د لاندې ځان ته لوی عالم وايي دا ناجائز دي. (اشعة اللمعات ۳۸۵).

ثم يكبر: دا جمله دې باندې دلالت کوي چې تکبير تحريمه کې اول لاس اوچتولی شي او چې کله لاسونه د غوږونو برابر شي بيا د الله اکبر ويل په کار دي احنافو فقهاو کې د صاحب هدايه وغيرو اکثر فقهاو دا رائی ده البته امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ او طحاوي په نزد باندې معارنت بهتر دی. يعنې کوم وخت چې لاس اوچت کړي هغه وخت الله اکبر ويل په کار دي.

يصبي: باب تفعيل نه دی سرښکته کيدو معنی باندې دی دلته رکوع کې سرښکته کولو په معنی کې دی.

Maktaba Tul Ishaat.com

ولايقنع: باب **افعال** نه دی رکوع کې سر ډير اوچت کولو ته ويلي کېږي او ددې نه منع کړی دی.

يثنی: ثنی يثنی د تاويد و پدمعنی کې دی، قعده کې ناستې د پاره خپه تاوول او په هغې باندې د ناستې کيفيت يې بيان کړی دی.

و وتر يديه: توتير باب **تفعيل** نه دی په کمان باندې چله خيژولو ته ويلي کېږي.

فنحاهما: دې الفاظو نه ددې تغير مقصود دی، څنګه کمان باندې چله خيژولی شي دغه وخت کې کمان دواړه جانب جدا کېږي دغه رنګ دلته لاس اړخ نه جدا وي.

فامكن انفه و جبهته: معلومه شوه چې د سجدې صحيح کيدو د پاره ضروري دي چې پوزې او تندی دواړه ځمکه باندې جوښت کيخودل شي د تولو احاديثو نه دا معلوم شو که چا د عذر نه او مجبوری د وجې دواړو کې يو سره سجده وکړه نو بغير کراهت نه جائز دی، خو که بغير د څه عذر او مجبوری چا يو عضوه باندې سجده وکړه هغې کې دا تفصيل دی که صرف تندي باندې سجده وکړه او پوزه يې استعمال نه کړه دا مکروه ده البته سجده وکړه مونځ يې وشو او که تندې يې استعمال نه کړو صرف پوزې باندې سجده وکړه نو امام صاحب په نزد باندې دې صورت کې کراهت سره سجده اوشوه مونځ صحيح دی، ليکن امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ او محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې دې صورت کې سجده صحيح نه ده، ځکه مونځ فاسد شو د احناف فتوای دې باندې ده.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ: أَنَّهُ أَبْصَرَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ
د حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ما نبي عَلَيْهِ السَّلَام وليد و چې کله اودريده د مونځ
رَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى كَانَتَا بِحِيَالِ مَنْكِبَيْهِ وَحَاذَى بِإِبْهَامَيْهِ أُذُنَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.
د پاره نو اوچت يې کړه دواړه لاسونه د ولو برابر اودواړه ګوتې يې د غوږونو پورې وې وړې بيايې تکبير
وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: يَرْفَعُ إِبْهَامَيْهِ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ[1].
وکړو. اوداابوداود په يو روايت کې دي چې تاسو ګوتې د غوږونو نرمیو (پوڅکيو) پورې وړئ.
﴿۱٤﴾ وَعَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّنَا
قبيصه بن هلب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خپل پلار نه نقل کوي وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام مونږ ته مونځ کولو نو

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/٤٦٥ رقم الحديث: ۷۲٤.

فَيَأْخُذُ شِمَالَهُ بِيَمِينِهِ .(۱).

وي نيولو خپل ښي لاس سره چپ لاس.

د تعديل ارکان تعليم

﴿۱۵﴾ وَ عَنْ رِفَاعَة بن رَافع قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ جَاءَ

حضرت رفاعة بن رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: يو کس مسجد ته راغې او مونځ يې وکړو بيا د نبي عَلَيْهِ السَّلَام خدمت

فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «أَعِدْ صَلَاتَكَ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ»

کې حاضرشو سلام يې وکړو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: خپل مونځ دوباره وکړه ځکه چې تا مونځ نه دی کړی

فَقَالَ : عَلِّمْنِي يَا رَسُولَ اللهِ كَيْفَ أُصَلِّي ؟ قَالَ :

هغه غرض وکړو يا رسول الله! تاسو ماته د مونځ طريقه وښائي چې مونځ څنګه وکړم؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

«إِذَا تَوَجَّهْتَ إِلَى الْقِبْلَةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ وَمَا شَاءَ اللهُ أَنْ تَقْرَأَ فَإِذَا رَكَعْتَ

چې کله تاسو قبلې ته مخ کړئ نو الله اکبر ووايئ بيا سورة فاتحه اوڅه چې الله وغواړي وايي او چې رکوع

فَاجْعَلْ رَاحَتَيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ وَ مَكِّنْ رُكُوعَكَ وَامْدُدْ ظَهْرَكَ فَإِذَا

ته ځئ نو خپل لاسونه په زنګونانو باندې ږده او رکوع کې قائم اوسه او خپله ملا هموار ه ساته او چې رکوع

رَفَعْتَ فَأَقِمْ صُلْبَكَ وَ ارْفَعْ رَأْسَكَ حَتَّى تَرْجِعَ الْعِظَامُ إِلَى مَفَاصِلِهَا فَإِذَا سَجَدْتَ

نه سر اوچت کړې نو خپله ملا نيغه کړه اوسر اوچت کړه تر دې چې هر عضو برابر شي او چې کله سجده کوې

فَمَكِّنِ السُّجُودَ فَإِذَا رَفَعْتَ فَاجْلِسْ عَلَى فَخِذِكَ الْيُسْرَى ثُمَّ

نو ښه طريقې سره سجده وکړه او چې د سجدې نه سر اوچت کړې خپل کس پتون باندې کينه بيا دغه رنګ

اصْنَعْ ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ وَ سَجْدَةٍ حَتَّى تَطْمَئِنَّ . هٰذَا

په هر رکوع او سجده کې کوه تر دې چې رکوع ، سجده، قومه او جلسه په اطمينان سره وکړې. د حديث دا

«لَفْظُ» الْمَصَابِيحِ ". وَ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدُ مَعَ تَغْيِيرٍ يَسِيرٍ وَ رَوَى التِّرْمِذِيُّ وَ النَّسَائِيُّ

الفاظ مصابيح کې دي ، ابوداؤد دا معمولي تغير او تبديل سره نقل کړي ، همدارنګې ترمذي او نسائی

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۳۲/۲، رقم الحديث : ۲۵۲، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۶۶/۱ رقم الحديث:۷۰۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

مَعْنَاهُ . وَ فِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ قَالَ : « إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ

هم بالمعنى دا نقل كړي د ترمذي يو روايت كې دا الفاظ هم دي چې :تاسو كله دمونځ اراده وكړئ داسې

فَتَوَضَّأْ كَمَا أَمَرَكَ اللهُ بِهِ ثُمَّ تَشَهَّدْ فَأَقِمْ

اودس وكړئ څنګه چې الله تعالى امر كړى بيا كلمه شهادت ووايي بيا بيې طريقې سره مونځ وكړئ اود

فَإِنْ كَانَ مَعَكَ قُرْآنٌ فَاقْرَأْ وَ إِلَّا فَاحْمَدِ اللهَ وَ كَبِّرْهُ وَ هَلِّلْهُ ثُمَّ ارْكَعْ ».(۱)

قرآن څه حصه ووايه چې تاته ياده وي او كه ياده نه وي الحمد لله الله اكبر او لا اله الا الله ووايه بيا ركوع وكړه

تشريح: ددې احاديثو تشريح وغيره مخكې شوې ده دلته د ذكر كولو ضرورت نشته.

يو سلام سره دوه دوه نفل كول افضل دي يا څلور څلور؟

﴿۱۶﴾ وَعَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « الصَّلَاةُ مَثْنَى مَثْنَى

د فضل بن عباس نه روايت دى وايي چې : نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايلي دي : چې مونځ دوه دوه ركعته دى

تَشَهُّدٌ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَ تَخَشُّعٌ وَ تَضَرُّعٌ وَ تَمَسْكُنٌ ثُمَّ تُقْنِعُ

تشهد دى په هر دويم ركعات كې او د (مونځ روح) خشوع ، عاجزي او اظهار د غريبۍ دي ،بيا اوچت

يَدَيْكَ يَقُول تَرْفَعُهُمَا إِلَى رَبِّكَ مُسْتَقْبِلًا بِبُطُونِهِمَا وَجْهَكَ

كړه خپل رب ته دواړه لاسونه،راوي وايي :اوچت كړئ خپل رب ته داسې لاسونه چې دلاسونو تلي خولې

وَ تَقُولُ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَ مَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ

طرف ته وي (كومه چې د دعاء طريقه ده) اودا ووايي :اى زما ربه!اى زما ربه!اوځوک چې داسې ونه كړي

فَهُوَ كَذَا وَ كَذَا ». وَ فِي رِوَايَةٍ : « فَهُوَ خِدَاجٌ »(۲).

نو دده مونځ داسې دى اوهغه دى (ناقص دى) د يو روايت الفاظ دادي : چې دده مونځ ناقص دى.

توضيح: الصلوة مثنى مثنى: يعنې نفل مونځ دوه دوه ركعته دى دې باندې دټولو اتفاق دى نفل مونځ دوه دوه ركعته په يو سلام سره هم جائز دي او څلور ركعاته هم جائز دي خو داد افضل او غيرافضل اختلاف شو. (المرقات ۲/۵۲۱).

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۳۷ رقم الحديث : ۷۵۹ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۱۰۵، رقم الحديث :۳۰۲.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۲۵ رقم الحديث : ۳۸۵ ، وأحمد في المسند ۱/۲۱۱.

د فقهاو اختلاف: امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي كه ورځ وي يا شپه نفل دوه ركعته مطلقا افضل دي د صاحبينو په نزد باندې ورځ كې څلور څلور او د شپې دوه دوه نفل كول افضل دي. د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې مطلقا څلور ركعاته نفل كول افضل دي.

دلائل: امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ زير بحث حديث د فضل بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه او هر هغه حديث نه استدلال كړی دی چې په هغې كې مثنی مثنی ذكر دی. صاحبينو د شپې دوه دوه ركعاته نفلو كولو افضليت په تراويح مونځ باندې قياس كړی دی او د ورځې افضليت د پاره يې هغه دليل وركړی دی كوم چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دليل دی. اوس به راشي امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ څلور ركعاته افضليت باندې د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا روايت نه استدلال كړی دی هغه فرمايي حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسخوتن نه پس څلور ركعات نفل كولو باندې دوام فرمايلی وو د حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا مروي بخاري شريف كې حديث داسی دی فرمايي: **(ما كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يزيد في رمضان ولا في غيره على احدى عشرة ركعة يصلي اربعا فلا تسال عن حسنهن و طولهن ثم يصلي اربعا فلا تسأل عن حسنهن و طولهن ثم يصلي ثلاثا.... الخ)** (بخاري، ج ۱ ص ۱۵٤)

امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ يو عقلي دليل نه استدلال كړی هغه داسی چې هر هغه عبادت افضل دی چې هغې كې مشقت ډير وي او په يوې تحريمه باندې څلور ركعاته كولو كې مشققت ډير وي ځكه دا افضل دی.

جواب: دا ټول جائز اعمال دي صرف افضليت كې اختلاف دی، لهذا د جواب ضرورت نشته علماء احناف فرمايي مثنی مثنی چې كوم حديث دی دې كې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ ګزار د ادنی ركعتونو ذكر كړی دی افضليت خبره نشته مطلب دا چې دوه دوه ركعتونو نه كم مونځ نشته. صاحبينو ته جواب دا دی تراويح چونكې ډيرې دي ځكه هلته سهولت وركړی شوی دی او په دوه دوه ركعاتو باندې عمل شوی دی.

د مونځ نه پس دعاء غوښتل په كار دي: دې حديث كې د مونځ نه پس دعا غوښتلو ترغيب ذكر دی خو ذكر كولو نه مخكې د يو څو مشكل الفاظو تشريح ضروري ده:

تخشع: باب **تفعل** مصدر دی مرفوع دی د عاجزی په معنی دی. (المرقات ۲/۵۲۱).

تشهد: دا هم د باب **تفعل** نه مصدر صيغه ده مرفوع دی او مثنی مثنی نه پس خبر ثاني دی يعني هر دوه ركعتونو كې يو تشهد ضروري دی. **و تضرع**: دا هم د باب **تفعل** نه د مصدر صيغه ده كثرت سره دعا غوښتل او سوال كول او ژړا كولو په معنی كې دی د دې تعلق ظاهري جسم سره دی.

و تمسكن: باب **تفعل** نه د مصدر صيغه ده د ذلت افتقار او احتقار د اظهار په معنی كې دی دا ټول په

Maktaba Tul Ishaat.com

ترکیب کې مرفوع واقع دي. **ثم تقنع یدیک**: باب **افعال** نه د مخاطب صیغه ده اقناع د اوچتیدو په معنی سره رائي دلته دعا کې لاس اوچتول مقصود دي.

یقول: دا کلام د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دی د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کلام تفسیر بیانوي یعنې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي تاسو دعا کې دواړه لاسونه اوچتوئ او د الله تعالی مخې ته داسې کیفیت جوړ کړئ چې د لاسونو تلي ستامخ طرف ته وي. (المرقات ۲/۵۲۲).

وتقول یارب: دا د مرفوع حدیث حصه ده یعنې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي تاسو دعا کې داسې وایي: کذا و کذا یعنې چا چې د مونځ نه پس دعا ونه غوښتله نو دده مونځ ناقص دی دې مطلب د پاره دویم حدیث کې خداج لفظ راغلی چې د نقص او نقصان په معنی راغلی دی دې نه معلومه شوه فاتحه نه لوستلو سره مونځ کې نقص راځي مونځ نه باطلیږي سوچ په کار دی آیا دعا نه غوښتلو سره مونځ باطل شو نه بلکې نقص په کې راغي. شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ وایي: **دل الحدیث علی استحباب الدعاء بعد الصلوة**، د حدیث نه د مونځ نه پس دعا غوښتل مستحب ثابت شو.

د فرضونه پس د دعاء ثبوت: نن نه څه وخت مخکې سنتو نه پس اجتماعي دعا شته یا نشته باندې سخت اختلاف وو خو اخره کې اهل بدعت د مسلمانانو عام ماحول ته کتلو سره خاموشه کیناستل او اوس یوه بله مسئله پیدا شوې ده آیا فرائضو نه پس اجتماعي دعا ثابت ده یا نه ده، جمهور عجم د فرائضو نه پس لاس اوچتول ضروري ګڼي او په خپله لاس اوچت کړي او دعا غواړي جزیره عرب کې مسلمانان د فرضو نه پس دعا د پاره لاس نه اوچتوي نو د عجمو علماو هم هغوئ ته وکتل او دهغوئ په نقش قدم باندې د تلو کوشش کوي. مفتي هند کفایت الله صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ د فرائضو او سنتو نه پس دعا غوښتل یا نه غوښتل متعلق **النفائس المرغوبة في حکم الدعاء بعد المکتوبة** په نوم یو کتاب لیکلی دی دا په حقیقت کې یوه فتوی ده دې باندې د مختلف ملکونو سل (۱۰۰) علماو دستخط دی دې کې مفتي صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ د فرضونه پس دعا غوښتلو باندې یو لوی کلام کړی دی د ثبوت دا یو عمیق تحقیق دی کتاب فصل اول نه حضرت مفتی صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ د دلائلو سره د سنتو نه پس اجتماعي دعا نفي کړې ده او فصل دوهم نه د فرائضو نه پس د دعا غوښتلو ثبوت باندې یو لس احادیث ذکر کړي دي. او بیا مختلف علماوو نه د جواز او عدم جواز متعلق فتوای اخستې ده ددې په جواب کې د مختلفو علماو دا جواب دی د ټولو جواباتو عبارت نیږدې نزدې نزدې داسې دی. فرائضو سره متصل د دعاء غوښتل د سنت موافق دي ددې ثبوت احادیثو کې موجود دی خو د سنتو او نوافلو نه پس خاص التزام سره دعا غوښتلو ثبوت احادیثو کې موجود نه دی بلکې دا التزام بدعت دی دا ترک کول ضروري دی. (نفائس مرغوبه ص ۶۱)

حضرت مفتي صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ چې د کومو احاديثو نه استدلال کړی دی په هغې کې واضح طور باندې فرائضو نه پس دعا غوښتلو ذکر شته خو سوال کونکی وايي چې لاس اوچتوي او اجتماعي دعا غوښتل ذکر او ثبوت يو حديث کې هم نشته د دغې وجې اهل حديث او د حرمينو علماو او د جزيره عرب علماء او د عجمو بعضې او قليل علماو د فرائضو نه پس لاس اوچتول او اجتماعي دعا غوښتل صحيح نه ګڼي خو فرائضو نه پس د دعا قائلين دوي ته يو څو جوابونه ورکوي :(۱) لاس اوچتول د دعا آداب نه دي چې د دعا ثبوت دی نو رفع اليدين ثبوت په خپله باندې وشو. (۲) حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نوافلو نه پس دعا غوښتې هغې کې لاس اوچت کړی دی فقهاو دا عمل د فرائضو نه پس سره لګولی دی او په دې عمل شروع شو فيض الباري شرح بخاري کې شاه انور شاه صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دې باندې باريک او طويل کلام کړی دی. (۳) د مذاهب اربعو علماء دې دعا ته مستحب ويلو سره ډير وخت په دې باندې عمل کړی وو لهذا نن سبا د اختلافاتو اعتبار نشته. **والله اعلم بالصواب.**

(۴) زيربحث حديث واضحه عاجزی سره لاس اوچت او ژړا سره دعا غوښتلو ترغيب ورکوي حديث کې يو احتمال بل هم شته د هغې واضح مطلب دا دی دا معامله مونږ کولو نه پس دعا غوښتلو ده ځکه شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ لمعات کې د فرائضو نه پس اجتماعي دعاء غوښتل مستحب ګڼلي ده .

خداج: يعنې څوک چې داسې دعاء نه غواړي نو د هغوي مونږ ناقص دی دلته د **خداج** دې لفظ نه مراد نقصان دی ، يو حديث کې **فاتحه خلف الإمام** پريښودو باره کې د **خداج** لفظ استعمال شوی دی ، ددې نه معلومه شوه د فاتحې لوستل فرض نه دي بلکې واجب دي ورنه د **خداج** لفظ به نه استعماليدنی بلکې د **باطل** لفظ به استعمال شوی وی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

امام ته په اوچت آواز سره تکبيرونه ويل په کار دي

﴿۱۷﴾ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ الْمُعَلَّى قَالَ : صَلَّى لَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ

د سعيد بن حارث بن معلی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: مونږ ته مونځ راکړوا ابو سعيد خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او

فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيرِ حِينَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ وَ حِيْنَ سَجَدَ وَ حِيْنَ رَفَعَ

تکبيريې په جهر سره وويل کله چې د سجدې نه يې سر اوچت کړوا وچې کله سجدې ته لاړو همدارنګې يې

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ وَ قَالَ : هٰكَذَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ .(رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ). (۱)

وکړل او چې کله يې دوه رکعاتونه سر او چت کړو نو همدارنګه يې وکړل او وې ويل مانبي عَلَيْهِ السَّلَام داسې ليدلې ؤ

توضيح: حين رفع راسه: دې دريو مقاماتو کې تيز آواز سره د تکبيراتو ذکر ځکه کړی دی چې بحث په دې کې وو يا دې وجې نه چې خلکو د سستۍ د وجې نه تکبيرات ويل پريښودي وو يا دې وجې نه د دريو ذکر بطور نمونه وو او باقي تکبيرات يې په دې قياس کړل .(المرقات ۲/۵۲۳).

شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ په لمعات کې ليکي چې د بنو مروان دور کې حضرت ابوهريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مونځ ورکولو يو ځل دا بيمار شو نو مونځ ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورکړو او دې دريو ځايونو کې يې په اوچت آواز تکبيرات وويل چې مونځ يې ختم کړو چا وويل خلکو ته ستا مونځ نا آشنا بنکاره شو تاسو په منبر کيناستئ او ويې فرمايل قسم په خدائی ما ته د هيچا څه پرواه نشته چې ما سره مونځ کې اختلاف وکړي يا ونه کړي ما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليدو هغوئ به داسې مونځ کولو. شيخ لمعات کې دا هم ليکلي د مروان ملګري او به خپله هغه په مونځ کې تکبيرات د اوچت آواز په ځای په مزه وويل دې وجې نه حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ حواله ورکړه، امام ته په کار دي چې هغه خلکو ته نه ګوري بلکې مسونه طريقه دې اختيار کړي او په تيز آواز دې تکبيرات وايي .

بغير د سوچه په لويو باندې اعتراض نه دی په کار :

﴿۱۸﴾ وَ عَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ : صَلَّيْتُ خَلْفَ شَيْخٍ بِمَكَّةَ

د حضرت عکرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ما مونځ وکړو د يو بوډا پسې په مکه مکرمه کې (يعنې

فَكَبَّرَ ثِنْتَيْنِ وَ عِشْرِينَ تَكْبِيرَةً فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ :

حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) هغه په مونځ کې دوه ويشت تکبيرات وويل نو ما وويل ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته

إِنَّهُ أَحْمَقُ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ

دا سړی احمق دی (چې دومره ډير تکبيرات وايي) ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل : ستا مور دې په تا وژاړي

سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ (۲).

دا طريقه خو د ابوالقاسم محمد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده.

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۲/۲۰۳ رقم الحديث : ۸۲۵.

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۲/۲۷۲ رقم الحديث : ۷۸۸.

توضيح: عكرمة: دا عكرمه تابعي دی د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شاګرد دی دده بې ځايه جرات ته وګوره په يو صحابي باندې غلط اعتراض کوي علم ورسره نشته او په علم والا و باندې اعتراض کوي دا کلام د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په محبت او دفاع کې ليکم ورنه زما د پاره عکرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم د سر تاج دی. (المرقات ۲/۵۲۳).

ځلور رکعاتو کې دوويشت تکبيرات وي: سنة ابی القاسم: شارحينو ليکلي دي د مروان په دور کې هغوی تکبيرات په مزه شروع کړي وو حضرت عکرمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې غلطی ښکار شوی وو کله چې دوی حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اوچت آواز سره تکبيراتو باندې وليدو نو سخت تعجب کې شو او اعتراض يې وکړو، حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ښه ورته او وې فرمايل تکبيرات د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت دي ددې حديث نتيجه او د مخکيني حديث نتيجه يو دی ددې وخت تکبيراتو کې د حکومت طرف ته څه فرق راغلی وو ځکه عامو خلکو ته التباس وشو. (المرقات ۲/۵۲۴).

﴿۱۹﴾ وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ مُرْسَلًا قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الصَّلَاةِ

د علي بن الحسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مرسلا روايت دی دا وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به تکبير ويلو په مونځ کې

كُلَّمَا خَفَضَ وَ رَفَعَ فَلَمْ تَزَلْ تِلْكَ صَلَاتُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

چې کله ښکته کيدو رکوع ته او سجدې ته تلو کې او کله چې به پاڅيدو نو تکبير به يې ويلو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

حَتَّى لَقِيَ اللهَ تَعَالَى[1].

به هميشه داسې مونځ کولو تر دې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د الله تعالى سره ملاقات وکړو يعنې وفات شو.

رفع اليدين صرف تکبير تحريمه په وخت کې دي

﴿۲۰﴾ وَ عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ: قَالَ لَنَا ابْنُ مَسْعُودٍ: أَلَا أُصَلِّي

د حضرت علقمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مونږ ته وويل: آيا زه مونځ وکړم

بِكُمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ؟ فَصَلَّى

تاسې ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مونځ په شان؟ نو مونږ ته ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په شان مونځ وکړو

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۷۶ رقم الحديث: ۱۷ من كتاب الصلاة.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ لَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلَّا مَرَّةً وَاحِدَةً مَعَ تَكْبِيرَةِ الِافْتِتَاحِ .(۱).

اوپورته يې نه کړل لاسونه خپل مکر يو ځل يې اوچت کړل او هغه هم صرف په تکبير تحريمه کې.

وَقَالَ أَبُو دَاوُدَ: لَيْسَ هُوَ بِصَحِيح على هٰذَا الْمَعْنى.

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ

د حضرت ابو حميد ساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام به چې کله مونځ ته اودريدو نو

اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَ رَفَعَ يَدَيْهِ وَ قَالَ : الله أكبر (۲).

قبلې ته به يې مخ کولو (بيا) دواړه لاسونه يې اوچت کړل او (دې نه پس) يې تکبير وويلو.

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام مونږ ته د ماسپښين مونځ راکړو

وَ فِي مُؤَخَّرِ الصُّفُوفِ رَجُلٌ فَأَسَاءَ الصَّلَاةَ فَلَمَّا سَلَّمَ

او په آخري صف کې يو کس ولاړ ؤ هغه صحيح طريقې سره مونځ ونه کړو چې دغه کس سلام واړه وو نو

نَادَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « يَا فُلَانُ أَلَا تَتَّقِي اللهَ ؟ أَلَا تَرَى كَيْفَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام ورته آواز ورکړو: اى فلان! د الله تعالى نه، نه ويريږي، آيا تاته معلومه نه ده چې تا څنګه

تُصَلِّي ؟ إِنَّكُمْ تُرَوْنَ أَنَّهُ يَخْفَى عَلَيَّ شَيْءٌ مِمَّا تَصْنَعُونَ وَاللهِ إِنِّي لَأَرَى مِنْ خَلْفِي كَمَا أَرَى

مونځ وکړو ته خو پوهيږى چې څه کوى ما ته به پته نه وي، په الله قسم! زه وينم شا ته څيزونه لکه څنګه

مِنْ بَيْنَ يَدَيَّ» (۳).

چې زه وينم د مخې څيزونه.

توضيح: من خلفي: يعنې په خداى قسم زه په مونځ کې د خپل شاته خلک وينم ځکه په مونځ کې خلاف سنت کار مه کوئ دې حديث نه معلومه شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاته او مخکې يو شان ګوري.

سوال: دې ځاى کې دا سوال پيدا کيږي الله تعالى علم غيب خپله خاصه ګرځولې ده، د قرآن ډير آيتونه او

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۷۷ رقم الحديث : ۷۴۷، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۴۰، رقم الحديث : ۲۵۷.

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۲۶۴ رقم الحديث : ۸۰۳.

(۳) أخرجه أحمد في المسند ۲/۴۴۹.

د انبیاء کرامو او د بزرګانو ډیرې قصې په دې دلالت کوي د غیب علم الله تعالی سره خاص دی د احادیث مقدسو ډیر روایات په دې باندې دال دي علم الغیب د الله تعالی خاصه ده دې حدیث نه دا تاثر ملاویږي چې حضور ﷺ عالم الغیب دی او هغه په وروستو مخکې او پټ څیزونو باندې پوهیږي ددې تعارض جواب څه دی؟

جواب: شارحینو په دې روایاتو کې ډیر توجیهات کړي دي او ددې تعارض ډیر جوابونه یې کړي دي:

(۱) ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ فرمایي حضور ﷺ په حالت مونځ کې انکشاف تام ورته کیدو او ددې وجې نه په دوی باندې د تجلیاتو مکمل نزول به کیدو دې وجې نه بطور خرق عادت دوی ته وروستو مخکې څیزونه په نظر راتلل، دا کیفیت د مونځ نه بهر نه ؤ دې وجې نه دوی د مونځ نه علاوه د علم الغیب نفي کړې ده ددغې ددې حدیث سره تعارض نشته (کذا في المرقات بتفسیر یسیر). (المرقات ۲/۵۲۶)

(۲) شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې لیکلي حضور ﷺ مونځ کې وروستو او مخکې یو شان څیزونه نښکاریدل معجزه وه دوی حقیقي ستر کو سره وروستو مخکې کتل. (اشعة اللمعات ۳۹۲).

د شیخ په دې جواب کې څه بُعد نشته ځکه چې د وحي کنکشن کله شروع کیږي نو انبیاء کرامو ته هر یو څیز نښکاري او هغه علم بیا علم الغیب نه وي. علامه بوصیری رَحِمَهُ اللهُ وایي:

تبارک الله ما وحی بمکتسب ولا نبي علی غیب بمتهم

سعدي بابا د حضرت یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ او د حضرت یوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ د فراق په باره کې داسې وایي:

یکي پرسید ازان گم کرده فرزند ❁ که اے روشن گهر پیر خرمند

ز مصرش بوئے پیراهن شمیدی ❁ چرا در چاه کنعانش نه دیدی

بگفت احوال ما برق جهان است ❁ دمے پیدا و دیگر دم نهان است

گهے بر طارم اعلی نشینم ❁ گهے بر پشت پائے خود نه بینم

(۳) بعضو شارحینو دا جواب ورکړی دی کیدی شي وحي یا الهام په طور باندې معلومیده بهر حال څنګه چې وي خو دا حالت مستمره نه وو بلکې د مونځ سره محدود ؤ او شارحین په احادیثو کې محنت او کوشش کوي او ددې جوابات ورکوي چې دا په خپله ددې خبرې دلیل دی چې د امت محمدیه ﷺ عقیده د حضور ﷺ د پاره د غیب دان نه ده.

علم غیبے کس نمی داند بجز پروردگار ❁ هر که گوید ما بدانم تو ازو باور مدار

مصطفی هرگز نه نگفتی تا نه گفتی جبرئیل ❁ جبرئیلش هم نه گفتی تا نه گفتی کردگار

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا يُقْرَأُ بَعْدَ التَّكْبِيرِ:
تكبير تحريمي نه پس دعاګاني

قال الله تعالى: ﴿سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ حِينَ تَقُومُ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ﴾ (سورة طور: ۴۸/۴۹)

﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ﴾ (سورة حجر آيت: ۹۸)

﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾ (سورة واقعة آيت: ۹۶)

د تكبير تحريمي نه پس د مونځ په شروع کې د صحيحو احاديثو نه يو څو دعاګاني او اذکار ثابت دي مثلاً (سبحانک اللهم.. الخ) ثناء ويل مشهور دي دغه رنګ (اني وجهت وجهي... الخ ويل هم ثابت دي، امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ وايي تکبير تحريمه او فاتحې په مينځ کې مسنونه دعا نشته الله اکبر نه پس فاتحه شروع کول په کار دي لکه څنګه چې حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا روايات راغلي دي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فاتحې سره قرآت شروع کولو د جمهورو فقهاو په نزد دې موقعه باندې څه نا څه دعاويل په کار دي آحاديثو کې د دعاګانو ذکر شته بيا د جمهورو خپل مينځ کې اختلاف دی د احنافو او حنابلو په نزد (سبحانک اللهم... الخ) ويل افضل دي.

بيا د ټولو اوږدو دعاګانو په باره کې امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ وايي نوافلو او فرائضو دواړو کې د دې ويل مستحب دي خو ټولې ويلی شي يا بعضو باندې اکتفاء وکړي.

دامام صاحب په نزد باندې فرائضو کې صرف (سبحانک اللهم... الخ) ويل په کار دي او باقي دعاګاني په تهجد او نوافلو کې په کار دي په فرائضو کې داسې دعا رانه شي چې د مونځ باطل کيدو خطره په کې وي همدارنګه مونځ درونډ جوړ نه شي او په قوم باندې بوج جوړ نه شي.

امام طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ او ابو يوسف رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي فرائضو کې ثناء او (اني وجهت وجهي... الخ) دواړه يو ځای ويل په کار دي دې نه علاوه نه دي ويل په کار.

شوافع وايي که احاديثو کې د ټولو دعاګانو ذکر ملاويږي هغه نوافل او تهجد و باندې محمول دي فرائضو کې د احتياط په بنياد عامې دعاګاني نه دي ويل په کار.

يادغه دعاګاني تکبير تحريمې نه مخکې ويل په کار دي يا کله نا کله فرائضو کې ويل په کار دي ظاهري حديث نه دغه معلوميږي چې نوافلو سره سره حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرائضو کې هم دا دعاګاني کړي دي کله يو کس د احتياط په بنياد يې وايي ويلي شي ثواب ورته ملاويږي البته نوافلو کې اوږدې او مختصرې ټولې ويلي شي او فرائضو کې مختصر ويل په کار دي فرض مونځ په اوږديدو باندې په قوم

باندې بوج جوړ نه شي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امامان د فرض اوږد مونځ نه منع کړي وو او سخت د خفګان اظهار يې کړی وو که يو کس يوائې مونځ کوي يا نوافلو کې وي د هغه د پاره منع نه دي په دې شرط چې صرف مسنون دعاګانې وايي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

د تکبير تحريمې نه پس يو څه خاموشي سنت ده:

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يسكت بَين التَّكْبِير

د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به خاموش کيدو په مينځ د تکبير

وَ بَين الْقِرَاءَة إِسْكَاتَةً قَالَ أَحْسِبُهُ قَالَ هنيَّة فَقلت بِأبِي وَ أُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ

تحريمې او د قرآت کې، ما يوورځ عرض وکړو: يا رسول الله! په تاسو دې زما مور او پلار قربان شي

إِسْكَاتُكَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَ الْقِرَاءَة مَا تَقُولُ قَالَ: « أَقُولُ

تاسو د تکبير تحريمې او قرآت په مينځ کې خاموش پاتې کيږي څه وايي تاسو؟ وي فرمايل: زه وايم

اللَّهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَ بَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ

دا دعاء: ای الله! لرې والی پيدا کړي په مينځ زما او په مينځ د ګناهونو زما کې لکه څنګه چې تالرې والی

بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَ الْمَغْرِبِ اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا

پيدا کړي دی د مشرق او مغرب په مينځ کې، ای الله! ما د ګناهونو نه داسې پاک کړې لکه څنګه چې

يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ اللَّهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ والثلج وَالْبرد» (متفق عليه)[1]

سپينې کپړې نه خيرې لرې کولې شي، ای الله! زما ګناهونه د اوبو، واورې او ګلې سره وومينځې.

توفيح: اسكاتة: يعنې لږ ساعت د پاره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودريدو د دغه دوران کې به دوی څه ويل دې متعلق حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه تپوس وکړو چې تاسو دغه وخت کې څه وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دعاء نشاندهي وکړه. (المرقات ۲/۵۲۸-۵۲۷).

بالماء: خيرې لرې کولو د پاره عام طور اوبه استعماليږي که هغه نه وي نو د ګلې او يا د واورې اوبه هم

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۲۷، رقم الحديث: ۷٤٤، ومسلم في الصحيح ۱/٤۱۹ رقم الحديث: ۱٤۷-۵۹۸، وأبو داود ۱/٤۹۳ رقم الحديث: ۷۸۱، والنسائي ۱/۵۰، رقم الحديث: ۱۰

Maktaba Tul Ishaat.com

استعمالولی شي د دې ځيزونو ذکر ځکه دی ترڅو چې د طهارت د ټولو طريقو ذکر اوشي او د عموم پاکی مقصد حاصل شي حديث کې د سپينې کپړې ذکر ځکه وشو دې باندې ګندګي ښکاري او د وينځلو سره ښکاري چې خيرې ختم شو يا نه. د ګناه د ونيځلو کومه دعا ده دا تشبيه او تمثيل دی مراد د ګناهونو بخښش دی حقيقت کې وينځل مراد نه دي، امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ نه يو قول منقول دی تکبير تحريمې نه پس متصل فاتحه شروع کول په کار دي ثناء يا نورې دعاګانې مسنون نه دي خو د جمهورو دې باندې اتفاق دی تکبير تحريمې نه پس بطور خاص ثناء ويل مسنون دي تفصيل تير شوی دی.

په مونځ کې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوږدې دعاګانې

﴿۲﴾ وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَفِي رِوَايَةٍ:

د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام به چې کله مونځ ته اودريد و اويو روايت کې دي

كَانَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ كَبَّرَ ثُمَّ قَالَ: « وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي

چې مونځ به يې شروع کولو نو تکبير تحريمه به يې ويله بيا به يې ويل: ما خپل مخ هغه ذات طرف ته متوجه

فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَ الْأَرْضَ حَنِيفًا

کړی چې د آسمان او ځمکو پيدا کونکی دی او حال دا چې زه حق طرف ته متوجه کيدونکی يم او بيزاره يم

وَ مَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلَاتِي وَ نُسُكِي وَ مَحْيَايَ وَ مَمَاتِي

د باطل دين نه او د هغه خلکو نه، نه يم کوم چې شرک کوي، زما مونځ، زما عبادت، زما ژوند او زما مرګ

لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ وَ بِذَلِكَ أُمِرْتُ

د الله تعالی د پاره دی چې د دواړو جهانو رب دی او څوک شريک يې نشته او ما ته د دې حکم شوې دی

وَ أَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ اللَّهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْتَ رَبِّي وَ أَنَا عَبْدُكَ

او زه د مسلمانانو نه يم ای الله! ته بادشاه يې ستا نه سوا بل معبود نشته، ته زما رب يې او زه ستا بنده يم ما

ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ

خپل نفس باندې ظلم کړی زه د خپلو ګناهونو اقرار کوم ته زما ګناهونه معاف کړې، او نشته دی بخښش

إِلَّا أَنْتَ وَ اهْدِنِي لِأَحْسَنِ الْأَخْلَاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا

کوونکی په غير د تا نه بل څوک او بنه اخلاقو طرف ته زما رهنمائي وکړې غير د ستا نه بل څوک بنه اخلاقو

إِلَّا أَنْتَ وَ اصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لَا يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا

طرف ته رهنمائي کونکی نشته او بد اخلاق زما نه لرې کړی ځکه چې نه مې شي بچ کولی د بد اخلاقی

إِلَّا أَنْتَ لَبَّيْكَ وَ سَعْدَيْكَ وَ الْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ

نه په غیر د تا نه بل څوک زه ستا خدمت کې حاضر یم او ستا حکم منلو ته تیار یم ټولې نیکی ستا په لاس

وَ الشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ أَنَا بِكَ وَ إِلَيْكَ

کې دي، او ګناهونه ستاسو طرف ته منسوب نه دي زه ستاسو د سبب نه یم او ستاسو طرف ته رجوع کوم

تَبَارَكْتَ وَ تَعَالَيْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَ أَتُوبُ إِلَيْكَ » وَ إِذَا رَكَعَ

ته د برکت والا یې او دې خبرې نه اوچت یې زه تا نه بخښنه غواړم او تا ته توبه کوم او چې کله رکوع کوي

قَالَ : « اللَّهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَ بِكَ آمَنْتُ وَ لَكَ أَسْلَمْتُ

نو وایي به ای الله ! ما ستا د پاره رکوع کړې او په تا باندې مې ایمان راوړی او ستا د پاره مې اسلام راوړی

خَشَعَ لَكَ سَمْعِي وَ بَصَرِي وَ مُخِّي وَ عَظْمِي وَ عَصَبِي » فَإِذَا رَفَعَ

ښکته کیږي ستا د پاره زما اوریدل زما تندی زما دماغ زما هډوکي او زما پټې، چې کله د رکوع نه سر اوچت

رَأْسَهُ قَالَ : « اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الْأَرْضِ وَمِلْءَ مَا بَيْنَهُمَا

کړي نو وایي به ای الله! زمونږه ربه! ستا د پاره حمد دی د آسمانونو او ځمکو برابر او څه چې د دې مینځ کې

وَ مِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ » وَ إِذَا سَجَدَ قَالَ : « اللَّهُمَّ لَكَ

دی دهغې برابر او دهغه څیز برابر چې وروستو پیدا شي او چې کله سجده کوي نو وایي به: ای الله! ستا د پاره

سَجَدْتُ وَ بِكَ آمَنْتُ وَ لَكَ أَسْلَمْتُ سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي

ما سجده کړې ده، تا باندې مې ایمان راوړو او ستا د پاره مې اسلام قبول کړو زما مخ هغه ذات ته سجده

خَلَقَهُ وَ صَوَّرَهُ وَ شَقَّ سَمْعَهُ وَ بَصَرَهُ

وکړه چې هغې دا پیدا کړی دی ته یې صورت ورکړو د ده ستر ګې خلاصې شوې غوږونه خلاص شو، الله

تَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ » ثُمَّ يَكُونُ مِنْ آخِرِ مَا يَقُولُ بَيْنَ التَّشَهُّدِ وَ التَّسْلِيمِ:

تعالی دیر برکت او بهترین پیدا کونکی دی بیا به وایي په آخر کې هغه چې وایي د تشهد او د سلام په مینځ

« اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَسْرَفْتُ

کې: ای الله! زما مخکې او وروستو، پټ او ښکاره ټول ګناهونه معاف کړی او کوم اسراف چې ما کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ مَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ
هغه هم راته معاف کړي، او هغه ګناه مې هم معاف کړې چې د هغې علم ما نه ډير ستا سره وو او ته خپل
الْمُقَدِّمُ وَ أَنْتَ الْمُؤَخِّرُ
بنده ګانو کې چا ته وغواړې مخکې کوي يې (عزت ورکوې) او چا ته چې وغواړې وروسته کوي يې او
لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ » . رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَ فِي رِوَايَةٍ لِلشَّافِعِيِّ :
ستا نه غير بل هيڅوک معبود نشته. او د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په روايت کې (رومبۍ دعا کې د في يدک)
« وَ الشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ وَ الْمَهْدِيُّ مَنْ هَدَيْتَ
نه پس دا الفاظ دي يعنې ګناه ستا طرف ته منسوب نه ده او هدايت يافته هغه دی چې تاورته هدايت کړی
أَنَا بِكَ وَ إِلَيْكَ لَا مَنْجَى مِنْكَ وَ
وي، او زه ستا د قوت د وجې نه يم، او ستا طرف ته رجوع کونکی يم، نشته نجات ستا ذات نه علاوه او
لَا مَلْجَأَ إِلَّا إِلَيْكَ تَبَارَكْتَ » . (۱).
نشته ده پناه خو ستا ذات طرف ته او ته بابرکت يې.

توضيح: مخی: مخ مغز او ګودی ته ويلي شي او عصبی پټوته عصب ويلي شي. (اشعة اللمعات ۳۹۴).

ملأ السموات: يعنې د ځمکې او آسمانونه برابر دې دغه دواړه ډک شي.

من ثنی بعد: يعنې د ځمکو او اسمانونو نه علاوه کوم څيزونه چې معدوم وي خو ممکن الوجود دي ددې برابر حمد او ثنا ستا دپاره (بعد) يعنې **بعد المذكورات في السموات والارض.**

وشق سمعه: الله تعالی خپل قدرت کامله سره رحم کې د انسان او حيوان يو تصوير او يوه خاکه جوړوي چې بالکل اوبو او هوا باندې وي دغه خاکه کې ستر کې، غوږونه، پوزه او خوله مقاما تو باندې صرف يو تک لګيدلی وي بيا دغه ځايونو کې الله تعالی مناسب ستر کې غوږونه، خوله و غيره جوړ کړي دې حديث کې ددې ذکر شوی دی دانسان او ځناور تصوير کشي الله تعالی فرمايي او بيا دغه شق باندې انسان او حيوان جوړشي دا ديو شکر مقام دی او خصوصي انعام دی دې وجې نه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ددې ذکر

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۳٤ رقم الحديث ۲۰۱ ۷۷۱، وأبو داود ۱/۸۱٤ رقم الحديث :۷۶۰.

کړی: ﴿ فَتَبَارَكَ اللهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ ﴾ (سورة المؤمنون آیت : ١٤).

الشر لیس الیک: یعني د آدب او احترام او د تعظیم او عظمت د وجې نه د شر نسبت الله تعالی طرف ته نه دی شوې، ځینې ځنګه الله تعالی د خیر خالق دی دغه رنګ د شر خالق هم دی ها تخلیق شر دا خو کمال دی خو ارتکاب د شر دې کې قباحت دی.

یوه لویه دعاء

﴿٣﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ : أَنَّ رَجُلًا جَاءَ فَدَخَلَ الصَّفَّ وَ قَدْ

د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: یوورځ یو کس راغی او د مونځ صف کې داخل شو او بره او

حفزه النَّفس فَقَالَ : الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا

خکته کیده ساه یې (یعني ساه ساه کیدو) او وې ویل : الله تعالی ډیر لوی دی ټول تعریفونه الله لره دي

طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ فَلَمَّا قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ صَلَاتَهُ قَالَ : «أَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ

داسې تعریفونه چې ډیر پاکیزه او برکت والا دي نو کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ وکړو وې فرمایل چا وویل

بِالْكَلِمَاتِ ؟ » فَأَرَمَّ الْقَوْمُ . فَقَالَ : « أَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِالْكَلِمَاتِ ؟ » فَأَرَمَّ الْقَوْمُ.

دا کلمات؟ ټول خلک خاموش شو بیا یې وفرمایل : چا وویل دا کلمات بیا هم چا جواب ورنه کړو نو بیا

فَقَالَ : « أَيُّكُمُ الْمُتَكَلِّمُ بِهَا فَإِنَّهُ لَمْ يَقُلْ بَأْسًا » فَقَالَ

یې وفرمایل : دا کلمات چا ویلي دي (ویریږئ مه) چا چې دا کلمات ویلي هغه ګناه نه ده کړې ،نو وویل

رَجُلٌ : جِئْتُ وَ قَدْ حَفَزَنِي النَّفَسُ فَقُلْتُهَا.

یو کس یا رسول الله! کله چې زه راغلم نو زما ساه بره او بنکته کیده ما دا کلمات ویلي دي ، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

فَقَالَ: « لَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَيْ عَشَرَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَرْفَعُهَا » [1].

وفرمایل: ما ولیدل چې دولس فرښتو مخکې والی کولو چې دا کلمې به الله تعالی ته مخکې ځوک وړي.

توضیح: حفزه النفس: حفز ضرب یضرب نه د وروستو نه دیکه ورکولو په معنی کی دی محاوره ده حفز الیل النهار یعني شپې ورځې له لرې کړو دلته د ساه بره ختلو په معنی کې دی ډیر تیز راتلو د وجې نه ساه یې تله راتله ګویا ګویا دا ورته دیکه ورکوي.(المرقات ٥٣٥-٢/٥٣٦).

---

(١) أخرجه مسلم ١/٤١٩ رقم الحديث:١٤٩-٦٠٠، وأبو داود ١/٤٨٥ رقم الحديث :٧٦٣، والنسائي ٢/١٣٢، رقم الحديث:٩٠١.

Maktaba Tul Ishaat.com

فارم القوم: دا خاموش کيدو ته ويلي شي دا لفظ د ځناورو د پاره استعماليږي خاموشي کې مبالغه ده.

باسا: يعني ووايه دا کلمات چا ويلي دي ده خو څه غلط کار نه وو کړی د ويريدو ضرورت نشته چونکې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو کس متعين کړی نه وو ځکه صحابه کرام خاموش وو که چرته متعين کړی وی نو بيا جواب ورکول واجب وو.

بعضې رواياتو کې د ديرش فرښتو ذکر وو (**رايت بضعة وثلاثين ملكا**) په دې تفاوت باندې شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ عجيبه عارفانه کلام کړی دی دې سره ظاهري تعارض لرې شو فرمايي دغه صحابي چې کومه دعاء ويلې ده که مکررات او زائد حروف تري لرې کړی شي، نو د اصل جوهر په اعتبار سره دا حروف دولس (۱۲) پاتې شوځکه دولس (۱۲) فرښتو ذکر فرمايلی دی، که ددې دعاء مکررات او زائد شمار کړی شي دا حروف ديرش (۳۰) جوړيږي ځکه يې د ديرشو فرښتو ذکرفرمايلی دی ددغه صحابي د اخلاص د وجې نه او د کلماتو د عظمت د وجې نه فرښتو په منډه منډه دا کلمات اوچت کړل او رب خوا ته يې ويوړل.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

د تکبير تحريمې نه پس ثناء ويل ثابت دي:

﴿٤﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ
د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام به چې کله مونځ شروع کولونو (د تکبير
قَالَ: «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَ تَبَارَكَ اسْمُكَ وَ تَعَالَى
تحريمې نه پس به يې) ويل: ای الله ته پاک يې، او مونږ ستا پاکي بيانو، او مبارک دی نوم ستا او اوچت
جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُد.
دی شان ستا او ستا نه غير بل معبود نشته.
وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَارِثَةَ وَقَدْ تُكُلِّمَ فِيهِ مِنْ قِبَلِ حفظه.[1]

توضيح: **سبحانک اللهم**: د ائمه احنافو او حنابلو په نزد باندې تکبير تحريمې نه پس ثناء ويل افضل

۱

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۹۱ رقم الحديث: ۷۷۶، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۱۱، رقم الحديث: ۲۴۳.

دي او دا حديث دغه حضراتو مستدل دی ، شوافعو حضراتو (**اني وجهت...الخ**) دعا ته افضل ويلي ده خو ثناء والا حديث د نورو احاديثو په وجه مشهور او معروف دی، علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي د ثناء والا د حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا دا حديث حسن مشهور دی او دې باندې خلفاء راشدينو نه حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عمل فرمايلی دی، علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ دا حديث قوي کيدو باندې خپله شرح کې عمده او طويل کلام کړی دی .شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ لمعات کې وايي د **حارثه** يو طريق د وجې نه ددې حديث نورو طرقو ته ضعيف نه شو ويلي . (الكاشف ۳۵۹-۲/۳۶۰).

﴿۵﴾ وَ عَن جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ : أَنَّهُ رَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي صَلَاةً قَالَ:

دجبيربن مطعم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې مانبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په مونځ کولو ليدلی چې ويل به يې

« اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا وَالْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا وَ

الله لوی دی ، الله لوی دی ، الله لوی دی ، او حمد دی الله لره ډير حمد ، او حمد دی الله لره ډير حمد ، او

الْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا وَ سُبْحَانَ اللهِ بُكْرَةً وَ أَصِيلًا » ثَلَاثًا « أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ

حمد دی الله لره ډير او پاکي بيانوم د الله تعالی سحر او مابنام دري (۳) ځله ، او زه پناه غواړم د شيطان د

مِنْ نَفْخِهِ وَ نَفْثِهِ وَ هَمْزِهِ ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَ ابْنُ مَاجَهْ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ : « وَ

تکبر، ويختو او وسوسو نه . دا حديث ابوداؤد او ابن ماجه نقل کړی ، البته ابن ماجه نه دی ذکر کړې : و

الْحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا » . وَ ذَكَرَ فِي آخِرِهِ : «مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ » وَ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ :

الحمد لله كثيراً ، او آخر کې يې ذکر کړي دی: من الشيطان الرجيم او ويلي دي حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

نَفْخُهُ الْكِبْرُ وَ نَفْثُهُ الشِّعْرُ وَ هَمْزُهُ الْمَوْتَةُ .(۱).

د شيطان نفخ نه تکبر او نفث نه ويخته او همز نه ليونی مراد دی.

توضيح: نفخه : دې نه شيطان تکبر او خپله خوښه مراد ده اصل نفخ پوکي وهلو په معنی کې دی شيطان انسان داسې ګيروي انسان خپل ځان ته ډير لوی وايي بيا ځان خوښی او تکبر کې مبتلا کيږي، مطلب دا چې شيطان انسان کې دننه د تکبر پوکی وهي. حکيم الامت اشرف علی تهانوي رَحِمَهُ اللَّهُ ملفوظات کې وايي: هر حيوان د خپلې خولې نه غټيږي او وده کوي (يعنې خوراک وکړي نو غټ شي) ليکن انسان د

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۸۶ رقم الحديث : ۷۶۴ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۱/۲۶۵، رقم الحديث : ۸۰۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

غوږونو د لارې نه خپل تعريفونو اوريدو سره غټيږي.

نفث: اصل کې هغه پوک ته ويلي کيږي چې يو څيز باندې دم کولو وخت کې وهلی شي دې کې معمولي شان تهوک هم وي دلته سحر او جادو مراد دی چې شيطان يې په يو انسان باندې کوي يا د يو

په ذريعې سره بل باندې کولی شي، څنګه ﴿وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ﴾. **همزه**: ددې نه مراد طعن، يعنې غيبت کول دي په قرآن کريم کې ﴿هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ﴾ په دې معنی سره دی، بعضې شارحينو د همزه نه د شياطينو وسوسه مراد اخلي، د قرآن کريم ﴿مِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ﴾ دې معنی سره دی.

قال عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ددې الفاظو چې کوم تفسير کړی دی په هغې کې دوی د نفث نه ګنده او قبيح اشعار مراد اخيستي کوم چې شيطان د انسان په تخييل کې اچوي او دوي په دې ويلو باندې آماده کوي ددې مضمون هم قبيح وي او ددې معانی هم قبيح وي.

الموتة: حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د همزه نه جنون مراد اخيستی، ابليس يو انسان طرف ته متوجه کيدو سره وسوسې اچولې تردې چې انسان پاګل او ليونتوب ته ورسوي. دلته دا خبره يادساتئ ددې حديث الفاظ معانې او مطالب چې شارحين کوم ذکر کوي دا هغه وخت دی چې حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه ددې تفسير ثابت نه وی که د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ طرف ته بره منسوب شده تفسير ثابت شي بيا د بل تفسير او تشريح ته اعتبار نشته دغه مطلب به وي کوم چې عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ذکر کړی دی.

په مونځ کې د سکتاتو حکم

﴿٦﴾ وَعَن سَمُرَة بن جُنْدُب : أَنَّهُ حَفِظَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَكْتَتَيْنِ :
د سمره بن جندب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ده يادې ساتلي وي د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه دوه سکتې (خاموش کيدل)
سَكْتَةً إِذَا كَبَّرَ وَ سَكْتَةً إِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ
يوه سکته د تکبير تحريمې ويلو نه پس، او بله سکته به يې هغه وخت کوله چې کله به فارغ شو د قرائت
غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّين فَصَدَّقَهُ أُبَيٌّ بْنُ كَعْبٍ .(١).
غير المغضوب عليهم ولا الضالين نه، نو تصديق وکړو ددې قول حضرت ابي بن کعب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ.

توضيح: سکتتين: مونځ کې يو سکته يعنې خاموشي شروع کې تکبير تحريمې نه پس او سورة فاتحې نه

---

(١) أخرجه أبو داؤد ١/٤٩٢ رقم الحديث : ٧٧٩ ، والترمذي ٢/٣٠، رقم الحديث : ٢٥١، وابن ماجه ١/٢٧٥ رقم الحديث: ٨٤٤.

مخكې ده دا سكته دعاء استفتاح او تسميه او تعوذ د پاره ده او دا د ټولو فقهاو په نزد باندې مسلم ده.
دويمه سكته د فاتحې په ختميدو باندې ده دا سكته د شوافعو او حنابلو په نزد باندې مسنون ده چې مقتديان په كې سورة فاتحه اووايي. دريمه سكته قبل الركوع د سورة په اختتام باندې ده دې آخري سكته كې د احنافو په خپل مينځ كې اختلاف دى بعضې احناف سكتې ته بهتر وايي او بعضې وصل ته افضل وايي احناف محدثين سكتې ته افضل وايي، خو د مالكيو او احنافو كوم واضح مذهب دى هغه دا دى اول سكتې نه پس بله سكته نشته چې هغې ته مسنون ووايي، البته په آحاديثو كې درې سكتات ذكر دي، دې نه انكار نه شي كولى. (المرقات ۲/۵۴۲، اشعة اللمعات ۳۹۷).

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې كله پاڅيد و دويم ركعت كولو ته

استفتح الْقِرَاءَةَ ب «الْحَمد لله رب الْعَالمين» وَلَمْ يَسْكُتْ.[1] (هَكَذَا فِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ).

نو شروع كولو به يې قرائت په الحمدلله رب العلمين باندې او خاموش كيد و به نه.

وَذَكَرَهُ الْحُمَيْدِيُّ فِي أَفْرَادِهِ وَكَذَا صَاحِبُ الْجَامِعِ عَنْ مُسلم وَحده.

توضيح: استفتح القرآة: حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ويل غواړي، كله چې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دريم ركعت د پاره قيام كولو نو زر به يې قرآت شروع كولو او خاموشي به يې اختياروله. (المرقات ۲/۵۴۴، اشعة اللمعات ۳۹۷)

دې مقام كې دا وهم كيدى شي چې كله مونځ ګزار د دويمې شفعې د پاره قيام كوي نو دا يو نوى مونځ شروع كيږي دې مقام كې (سبحانك اللهم ... الخ) ويلو د پاره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كيدى شي سكته كړې وه دې وهم لرې كيدو د پاره حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي داسې نه ده يعنې دې مقام نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (الحمدلله .... الخ) نه قرآت شروع كولو او سكوت به يې نه كولو يعنې داسې طويل سكوت به نه وو څنګه چې اول ركعت كې وو هلته ثناء، تعوذ او تسميه ويلي كيږي، دلته صرف تسميه ويلي كيږي. علامه انور شاه كشميري رَحِمَهُ اللهُ عرف الشذي كې فرمايي د احنافو په نزد د هر ركعت په شروع كې بسم الله ويل مسنون دي بعضې احنافو واجب ويلي دي كه په ويره سره هير شي، نو سجده سهوه كولى شي فتوى سنت او استحباب باندې ده.

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۴۱۹ رقم الحديث: ۱۴۸ - ۵۹۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۸﴾ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَفْتَحَ الصَّلَاةَ كَبَّرَ

د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله مونځ شروع کولو نو تکبیر به یې ویلو

ثُمَّ قَالَ: «إِنَّ صَلَاتِي وَ نُسُكِي وَ مَحْيَايَ وَ مَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

بیا یې وویل: زما عبادت زما مونځ زما ژوندا و زما مرګ د الله پاک دپاره دی چې رب دی د ټولو مخلوقاتو چې

لَا شَرِيكَ لَهُ وَ بِذَلِكَ أُمِرْتُ وَ أَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ اللَّهُمَّ

څوک یې هم شریک نشته او په دې ما ته حکم کړی شوی، او د ټولو نه مخکې زه مسلمان یم، ای الله! زما

اَهْدِنِي لِأَحْسَنِ الْأَعْمَالِ وَ أَحْسَنِ الْأَخْلَاقِ لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا

رهنمائي وکړه نیک اعمالو اوښه اخلاقو طرف ته، چې رهنمائي نه شي کولی ښه اخلاقو طرف ته په غیر دتانه

إِلَّا أَنْتَ وَ قِنِي سَيِّئَ الْأَعْمَالِ وَ سَيِّئَ الْأَخْلَاقِ لَا يَقِي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ». (۱).

اومابچ کړي د بد و اعمالو او بد و اخلاقو نه چې د بد و اعمالو او اخلاقو نه ته بچ کولی شې.

﴿۹﴾ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مسلمة قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَامَ يُصَلِّي تَطَوُّعًا

د محمد بن مسلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې کله د نفل مونځ کولو دپاره ودریدو نو

قَالَ: «اللهُ أَكْبَرُ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَ الْأَرْضَ

ویل به یې الله ډیر لوی دی ما خپل مخ هغه ذات طرف ته متوجه کړو چې هغه آسمانو ځمکې پیدا کړي دي

حَنِيفًا مُسْلِمًا وَ مَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ». وَ ذَكَرَ الْحَدِيثَ مِثْلَ حَدِيثِ

په داسې حال کې چې زه توحید خپلوونکی یم او مشرکانو نه، نه یم. او ذکر یې کړو حدیث په شان د حدیث د

جَابِرٍ إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: «وَ أَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ». ثُمَّ قَالَ: «اللَّهُمَّ أَنْتَ

جابر خو د و انا من المسلمین په ځای و انا اول المسلمین الفاظ ذکر کړي، بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وویل ای الله! ته

الْمَلِكُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ وَ بِحَمْدِكَ» ثُمَّ يَقْرَأُ (۲).

بادشاه یې ستا نه سوا معبود نشته ته یو یې او ستا د پاره تعریف دی.

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۱۲۹/۲ رقم الحديث: ۸۹۶.

(۲) أخرجه النسائي في السنن ۱۳۱/۲ رقم الحديث: ۸۹۸.

بَاب الْقِرَاءَةِ فِي الصَّلَاةِ :
په مونځ کې د قرآت بيان

قال الله تعالى: ﴿وَإِذَا قُرِىءَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ (سورة اعراف آيت:۲۰٤)
﴿فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ﴾ (سورة نمل آيت: ۹۸)
﴿فَاقْرَؤُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ (سورة مزمل آيت: ۲۰)

د فقهاء کرامو په مينځ کې په مسائلو کې کله اختلاف د شرعي حکم د ناسخ او منسوخ صحيح ادراک نه کيدو د وجې نه وي ، او کله اختلاف په يو حکم کې دننه په استنباط او استخراج کې د اسبابو او عللو د اختلاف دوجې نه وي ، او کله د مجتهدينو په اجتهاد کې تخلف وي او کله فهم او ادراک معاني کې فرق راځي او کله د يو حکم متعلق کثرت نصوص او دې کې تفاوت د اختلاف ذريعه جوړيږي ، چونکې په هغې زمانې کې د ابلاغ د ذرائعو کموالی وو لرې علاقو نه به خلک مدينې ته راتلل او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه به يې يو حکم زده کړو او واپس به تلل او په دې باندې به يې هميشه د پاره عمل کولو او وروستو به حکم کې تبديلي راغلې وه ځکه چې ده به د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه يو حکم زده کړی ؤ په هغې باندې قائم به ؤ او راتلونکي خلکو د پاره به د اختلاف ذريعه جوړه شوه ، ددې وجې نه فقهاء کرامو ته چې کله الله تعالى ددې احکامو جمع او ترتيب موقع ورکړه نو نصوصو کې معمولي يا غير معمولي فرقونه مخې ته راغلل الله تعالى دې دوي ته جزاء خير ورکړي دوي لوی تکاليف اوچت کړل د شريعت مقدسه احکامات يې د عمل د پاره عوامو مخې ته کيښودل ، دې بې شماره مسائلو کې ځای پر ځای فروعاتو کې اختلاف کيدل يو فطري امر دی او دا اختلاف زحمت نه دی، بلکې رحمت دی ځومره چې هم د شريعت احکاماتو کې فقهاء کرامو اختلاف کړی دی دې ټولو نه لوی اختلاف قرائت خلف الامام کې دی، ځکه چې د يو طرف نه ويلي کېږي چې داسی کول فرض دي او د دويم طرف نه ويلي کېږي فرض نه دي، بلکې ناجائز دي ، ددې وجې نه قرآت خلف الامام مسئله هميشه موضوع د بحث پاتې شوې ده، دلته هم ددې متعلق يو څو ابحاث حاضر خدمت دي.

الْفَصْل الأول:

﴿۱﴾ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ

دعباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي نه دي کامل مونځ د هغه چا چې ويې نه

Maktaba Tul Ishaat.com

يقْرَأُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ» .(متفق عليه) وَ فِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: «لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَصَاعِدًا»[1].

لوستله فاتحه. او د مسلم يو روايت کې دي چې دهغه کس مونځ ونه شو چې فاتحه او نور څه يې ونه ويل.

توضيح: لاصلوة: مونځ کې د قرآت متعلق دري ابحاث اهم او مشهور دي دې کې د فقهاو اختلاف دی اول بحث د فاتحې رکنيت او عدم رکنيت کې دی. (المرقات ۲/۵۴۶، اشعة اللمعات ۳۹۸).

دويم بحث په دې کې چې په څومره رکعاتو کې قرآت فرض دی، دريم بحث قرآت خلف الامام کې دی.

اول بحث: په بيان در کنيت او عدم رکنيت د فاتحې کې: مونځ کې څومره مقدار قرآن لوستل فرض دي او کومه حصه متعين کول فرض دي آيا فاتحه رکن صلوة دی يا نه دې کې فقهاو اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف: امام شافعي، امام مالک او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُمُ اللّٰهُ يعنې جمهور فرمايي سورة فاتحه مونځ کې متعين طور باندې لوستل فرض دي او دا رکن صلوة دی که فاتحه ونه لوستل شي مونځ ونه شو باقي قرآن کريم چې څومره هم ويلي شي. امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ او صاحبين فرمايي فاتحه متعين طور باندې لوستل رکن صلوة نه دی بلکې رکن **صلوة قدر ماتجوز به الصلوة** دی که هغه آيت طويله وي يا قصيره وي يعنې دومره قرآت مونځ کې فرض دی چې څومره سره مونځ جائز کېږي که واړه دري آياته وي يا طويل يو آيت وي د آحاديثو مبارکو د وجې نه فاتحه مونځ کې لوستل بالخصوص واجب دی که يو کس مونځ کې باقي قرآت وکړي او فاتحه لوستل اونه کړي فرض قرآت خو اداء شو فاتحې د وجې نه واجب پاتې شو مونځ ناقص شو، لهذا سجده سهوه کول لازم دي، چې جبيره نقصان وشي يا د مونځ اعاده وکړي.

دلائل: د جمهورو دليل د عباده بن صامت زير بحث حديث دی دې کې مذکور دي عدم قرآت فاتحه نه مونځ کالعدم شمار وي معلوم شو چې خاص طور باندې فاتحه ويل مونځ کې فرض دي دې پرېښودو سره مونځ نفې کېږي او چاته چې دا مقام حاصل وي هغې ته رکن وايي، لهذا سورة فاتحه رکن صلوة ده او د مالکيو حضراتو په نزد باندې سورة فاتحې سره سورت ملاوول هم فرض دي يعنې دواړه رکن صلوة دي د ائمه احنافو دليل ﴿فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ (مزمل آيت: ۲۰) قرآن آيت مطلق ذکر دی دد ې تقاضا ده مطلق قرآن مونځ کې وويل فرض او رکن صلوة دي. دلته د فاتحې تعين او تخصيص نشته، لهذا دغه رکن نه شي کيدی د فاتحې تخصيص د خبر واحد حديث نه شوی دی او حکم چې د خبر واحد نه ثابت شي هغه فرض نه شي کيدی، بلکې واجب ورته ويل په کار دي او دا د احنافو مذهب دی مطلق قرآن لوستل فرض او رکن صلوة دی او خاص کر فاتحه لوستل واجب دي دا ځکه چې د فرض او

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۲۳۶،رقم الحديث :۷۵۶، ومسلم ۱/۲۹۵ رقم الحديث: ۳۴-۳۹۴، وأبو داود۱/۵۱۴ رقم الحديث :۸۲۲.

ركن مقام قطعي او يقيني وي او قطعي حكم د اثبات د پاره دليل قطعي په كار دی ځكه چې دلائل څلور قسمه دي:(۱) **قطعی الثبوت قطعی الدلالة.** (۲) **قطعی الثبوت ظنی الدلالة.**(۳) **ظنی الثبوت قطعی الدلالة.**(٤) **ظنی الثبوت ظنی الدلالة.** اولني قسم نه فرض ثابتيږي، دويم قسم نه واجب، دريم قسم نه سنن مؤكده وغيره ثابتيږي او څلورم قسم نه مستحبات ثابتيږي. مذكوره زير بحث حضرت عبادة بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث خبر واحد دی دا ظنی الثبوت قطعی الدلالة دی دې نه فرض يا ركن نه ثاتيږي، بلكې صرف واجب ثابتيږي او د وجوب فاتحه احناف قائل دي دا حديث د احنافو مسلک مخالف نه دی او د دوي مسلک د حديث مخالف دی همدارنګې د **لاصلوة** دوه مفهومه اخيستی شي، يو مفهوم دا دی چې دې نه بالكل اصل صلوة نفی مراد واخيستی شي او دويم مفهوم دا چې دې نه كمال صلوة نفی مراد واخيستی شي. د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دا دويم مفهوم متعين كوي دې كې (**فصلوته خداج غير تمام**) الفاظ راغلي، يعنې د مونځ وجود شته خو د سورة فاتحې نه لوستلو د وجې نه ناقص دي دا هغه وخت چې كله سړی امام يا منفرد وي مقتدي نه وي.

الزامي جواب دا دی: حديث كې **ما زاد** او **فصاعدا** الفاظ هم دي نو آيا د فاتحې نه علاوه بل څه هم ركن صلوة دی.

دويم بحث: په څومره ركعاتو كې قرآت فرض دی: دې باندې د ټولو اتفاق دی چې مونځ كې قرآت فرض دی خو اختلاف دې كې دی چې فرض مونځونو كې څومره ركعتونو كې قرآت فرض دی.

د فقهاو اختلاف: امام زفر رَحِمَهُ اللَّهُ او حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې صرف يو ركعت كې قرآت فرض دی ځكه فاقراو حكم دی دې كې تكرار نه دی او امر د تكرار تقاضا هم نه كې يو ركعت كې قرآت فرض كافی دی.(اشعة اللمعات ۳۹۸).

امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي دري ركعاتو كې قرآت فرض دی، ځكه چې دري ركعاته اكثر دي او **للاكثر حكم الكل** مسلمه قاعده ده ګويا د مالكيو په نزد باندې څلور ركعتونو كې قرآت فرض دی خو دري ركعتونو كې د ويلو حق اداء كېږي.(اشعة اللمعات ۳۹۸) امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې د فرائضو ټولو ركعتونو كې قرآت فرض دي او ضم د سورة د فرض اول ركعت كې او دويم كې نه واجب دی او نه سنت دی، بلكې مستحب دی مشهور قول مطابق د حنابلو هم مسلک دا دی چې ټولو ركعتونو كې قرآت فرض دی دا حضرات د قرآن مطلق حكم ته ګوري دې كې د قرآت لوستلو حكم دی، د ائمه احنافو مشهور او مفتی به قول دا دی كه څلور ركعاتو والا مونځ وي نو په اولو دوو ركعتونو كې بقدر ثلاث آيات قصار مطلق قرآت فرض دی. او خاص كر فاتحه واجب ده البته دوو ركعتونو نه پس قرآت ويل

Maktaba Tul Ishaat.com

ضروري نه دي که فاتحه ووايي ياتسبيحات يا خاموش پاتې شي.

دريم بحث: قرآت خلف الامام: مجموعي طور سره مونځ درې قسمه باندې دی(۱) صلوة الامام.(۲) صلوة الماموم.(۳) صلوة المنفرد. بيا يو مونځ جهري دی يو سري دی، نو امام د پاره دغه رنګ د منفرد د پاره جهري او سري مونځونو کې مطلق قرآت بالاجماع فرض ذی او ماموم او مقتدي باندې امام نه وروسته سورة ويل بالاتفاق واجب نه دي اوس يو صورت پاتې شو امام نه وروسته مقتدي باندې سورة فاتحه ويل څنګه ده دې کې اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف: قرآت خلف الامام ويل او نه ويلو کې فقهاوو ډير لوی اختلاف کړی دی، ځکه چې يو فريق لوستلو ته فرض وايي او دويم فريق ورته ناجائز او حرام وايي دا اختلاف بهر حال صحابه وو دور نه دی خو هغه دور کې دې کې دومره شدت او سختي نه وه. علامه بدرالدين رَحِمَهُ اللَّهُ(۸۰) صحابه شمار کړي دي چې قرآت خلف الامام د ترک قائل دي دې کې عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، ابوموسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، حضرت ابودرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نومونه شامل دي ددې مسئلې نوم قرآت خلف الامام دی خو ددې نه فاتحه خلف الامام مراد اخستل متعين شو جمهور فقهاء يعنې امام صاحب، امام مالک، احمد بن حنبل، سفيان ثوري، اوزاعي او عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُمُ اللَّهُ په نزد باندې جهري مونځ کې امام پسې وروسته فاتحه ويل جائز نه دي. بيا ائمه ثلاثو نه امام مالک او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُمَا اللَّهُ په نزد باندې سري مونځ کې قرآت خلف الامام مستحب دی، امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ نه سري او جهري مونځ کې فاتحه خلف الامام باره کې پنځه اقوال معارف السنن کې ذکر دي: (۱) ويل واجب دي (۲) مستحب (۳) مباح (۴) مکروه تنزيهي (۵) مکروه تحريمي دي. داحنافو په نزد باندې مکروه تحريمي ته ترجيح حاصل ده، د علماء احنافو نه امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ طرف ته صاحب هدايه دا خبره منسوب کړې ده د هغه په نزد باندې سري مونځ کې قرآت خلف الامام مستحب دی دغه رنګ ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ او نورو علماء هم ويلي دي، د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد مستحب دی، خو که د امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ کتابونو ته رجوع اوشي، نو موجوده حالت کې د هغې کتابونو نه معلوميږي چې د هغه په نزد باندې قرآت خلف الامام په هيڅ حالت کې جائز نه ګڼي مؤطا امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ کې فرمايي: **(لا قرآة خلف الامام فيما جهر فيه ولا فيما لم يجهر بذلک جاءت عامة الاثار وهو قول ابي حنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ)**(ص ۹۴)

دغه رنګ هغه کتاب الاثار کې قرآت خلف الامام روايات جمع کوي فرمايي **(وبه ناخذ لا نری القرآة خلف الامام فی شیء من الصلوة يجهر فيه اولم يجهر)** (ص، ۹۵)

دې روایاتو نه معلومه شوه امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ مسلک دې مسئله کې هغه دی چې د عامو احنافو دی

اوس هم صاحب هدايه اعرف ببيان مسلک الاحناف دی. همدارنګه ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ په مرقات کې وايي: **والامام محمد من ائمتنا يوافق الشافعي في القرآءة فی السرية وهو اظهر في الجمع بين الروايات الحديثية** (مرقات ج ۲ ص ۴۰۱) (المرقات ۲/۵۸۰).

يعني زمونږ د احنافو ائمو نه امام محمد رَحِمَهُ اللهُ سري مونځونو کې قرآت خلف الامام کې د شوافعو موافق دی او د احاديثو ټولو رواياتو جمع کولو د پاره دا مسلک ډير واضح دی او دا د امام مالک مسلک هم دی، (المرقات ۲/۵۸۰).

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ د فصل ثاني د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نمبر ۳۱ د لاندې ليکلي: **و مفهومه انهم كانوا يسرون بالقرآءة فيما كان يخفى فيه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وهو مذهب الاكثر وعليه الامام محمد من ائمتنا** (مرقاة ج ۲ ص ۳۰۲) (المرقات ۲/۵۸۲).

غالباً د شاه ولي الله رَحِمَهُ اللهُ هم دا رايه ده چې سري مونځ کې قرآت خلف الامام بهتر دی اوس هم د ائمه احنافو مسلک فتوای داسی نه ده کاش چې سري مونځ کې د احنافو قرآت خلف الامام ويلو فتوای ورکولی او شوافع جهرې کې د نه ويلو فتوای ورکولی، نو دواړو مسلکونو کې به په دې اختلاف کې کموالی راغلی وی او ټولو نصوصو کې به تطبيق راغلی وی، بلکې د مالکيو او حنابلو مسلک دی مفتي کفايت الله رَحِمَهُ اللهُ تعليم الاسلام کې ليکلي:

سوال: قرآت خلف الامام نه څه مراد دي؟ **جواب**: قرآت قرآن کريم لوستلو ته ويل کېږي.

سوال: مونځ کې څومره قرآن ويل په کار دي؟ **جواب**: کم از کم يو آيت لوستل فرض دي او سورة فاتحه لوستل واجب دي او د فرض ړومبی رکعت او دويم رکعت او نماز وتر او سنت او نفل ټولو رکعتونو کې سورة فاتحې نه پس يو بل سورة يا لوی يو آيت يا واړه درې آياتونه لوستل واجب دي.

سوال: آيا سورة فاتحه د ټولو مونځونو هر رکعت کې لوستل واجب دي؟ **جواب**: د فرض دريم او څلورم رکعت نه علاوه د هر مونځ که فرض وي يا واجب يا سنت يا نفل هر رکعت کې سورة فاتحه لوستل واجب دي، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې مقتدي باندې د امام نه وروسته فاتحه لوستل فرض دي.

۸ ربيع الثاني ۱۴۱۰ھ

دلائل: شوافع حضرات د زير بحث حديث د حضرت عباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه استدلال کوي، د شوافعو دويم دليل خواته د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث دی، دې کې (خداج غير تمام) الفاظ راغلي، يعني چا چې مونځ کې فاتحه ونه وئيله دده مونځ ناقص او ناتمام دی. چا سوال وکړو ای ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کله چې مونږ د امام نه وروسته يو وو دغه وخت کې قرآت په دوران کې فاتحه څنګه

Maktaba Tul Ishaat.com

ولولو هغه جواب ورکړو ددې خلاصه دا ده: فاتحه زړه کې وايه، خو پريږده يې مه، فاتحه لوی فضيلت لري او حديث کې په دې باندې د صلوة اطلاق شوی دی، بهر حال د شوافعو اصل دليل کوم چې خپل مدعا باندې واضح دی هغه مشکوة ص ۸۱ باندې فصل ثاني کې د حضرت عباده بن صامت حديث نمبر (۳۰) دی. (المرقات ۲/۵۸۰).

ددې نه علاوه شوافعو حضراتو صحابه کرامو څه آثارو نه هم استدلال کړی دی، جمهورو کې مالکيو او حنابلو احاديث قرآت خلف الامام روایاتو کې تطبيق پيدا کړی، کوم ځای کې چې د امام نه وروسته د لوستلو ممانعت راغلی هغه جهري مونځ کې دی او کوم ځای کې چې د فاتحه خلف الامام لوستلو حکم دی هغه سري مونځ کې دی کاش ټول امت په دې باندې جمع کيدی. جمهورو کې ائمه احنافو د پاره د دوه قسمه دلائلو ضرورت دي يو هغه دليل چې په هغې کې جهري مونځ کې فاتحه خلف الامام ممانعت ذکر دی او دويم دليل هغه دی چې هغې کې سري مونځ کې فاتحه خلف الامام نه لوستلو ثبوت وي، چونکې دا مسئله ډيره نازکه ده، دلته ځکه د دلائلو تفصيل به وي.

د احنافو اولني دليل: جهري مونځ کې فاتحه خلف الامام نه ويلو باندې احنافو او جمهورو سره د قرآن کريم آيت دليل کې: ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾ (اعراف آيت: ۲۰۴)

دلته دوه لفظه دي يو **فاستمعوا** دی ددې تقاضا دا ده چې کله قرآن لوستلی کيږي تاسو خاموش کينئ.

دويم لفظ **انصتوا** دی ددې مطلب دا دی چې کله قرآن لوستلی کيږي ته اګر چې هغه نه اوريږ بيا هم خاموش کينه. دې صورت کې استمعوا او انصتو د لغت په اعتبار سره فرق دی او دا فرق مفسرينو تسليم کړی دی، لهذا دا دليل د احنافو دواړو دعوو باندې واضح دليل دی، امام نه وروسته جهري مونځ وي يا سري مونځ وي ټولو کې قرآت نشته او که استمعوا او انصتوا مفهوم جدا جدا نه وي، بلکې يو وي، چې کله قرآن کريم لوستل کيږي تاسو خاموش کينئ، نو دې صورت کې دا آيت جهري مونځ کې امام نه وروسته لوستل نه کول د احنافو د پاره واضح دليل دی.

سوال: شوافعو او خاص کر غير مقلدينو دې استدلال باندې اعتراض کړی دی دا آيت د جمعې خطبې متعلق نازل دی، لهذا د خطبې وخت کې خاموش کيناستل په کار دي مونځ سره ددې تعلق نشته.

جواب: د مفسرينو او جمهورو علماو په نزد باندې دا آيت د مونځ متعلق نازل شوی دی، حافظ ابن تيميه رَحِمَهُ اللَّهُ وايي: **قال احمد اجمع الناس على انها نزلت في الصلوة.** (**فتاوی ابن تيميه ج ۲۲ ص ۲۹۵**)

امام المفسرين محمد بن جرير طبري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي دې آيت شان نزول کې دري قسمه اقوال مشهور دي، اول د مونځ متعلق دی، دويم دا چې ددې تعلق د خطبې سره دی، دريم دا چې دا آيت د خطبې او مونځ دواړو متعلق دی او ابن جرير رَحِمَهُ اللَّهُ دريم قول راجح ګرځولی دی.

دويم جواب دا دی چې صحيح ده دا آيت د جمعې خطبې باره کې دی نو چې کله د خطبې يو څو آيتونو د وجې استماع او انصاف حکم دی نو د مونځ قرآت کې بدرجه اولی په کار دی، ځکه چې مونځ کې ډير زيات آيتونه لوستل کېږي.

دريم جواب: د قرآن کريم آيتونو کې عموم د الفاظو اعتبار سره وي خصوص مورد او خصوصي واقعې ته اعتبار نه وي. **کمال في الاصول.**

څلورم جواب: د سورة اعراف دا آيت مکي دی او خطبه جمعه يا عيدين خطبه مشروعيت او شروع مدينه منوره کې شوې د نو آيت د خطبې سره څنګه تعلق ممکن دی (**کذا قال شيخ الاسلام ابن تيميه** رَحِمَهُ اللَّهُ) غير مقلدين حضرات چې کله د دې آيت د جواب نه عاجز کېږي، نو بيا سورة د فاتحه د قرآن کريم نه خارجوي. ما په خپله د يو غير مقلد نه آوريدلي وو وايي سورت فاتحه قرآن نه دی، لهذا امام کله فاتحه وايي، نو مقتدي له خاموش کيدل ضروري نه دي.

دويم دليل: د احنافو او جمهورو دويم دليل د ابوموسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث دی مشکوة کې (ص۷۹) باندې موجود دی ترتيب په اعتبار سره فصل اول حديث نمبر (۵) دی يو اوږد حديث دی دې کې دا الفاظ دي (**واذا قرآء فانصتوا**) يعنې کله چې امام قرآن لولي تاسو خاموش کينئ دا حديث امام مسلم مسلم شريف (ج۱، ص۱۷۴) باندې نقل کړی دی او تاکيد سره يې دې حديث ته صحيح ويلي اګرچې حديث بعضې طرقو کې د اجمله نشته مخکې تفصيل راروان دی.

سوال: شوافعو حضراتو د ابوموسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دې روايت باندې دوه اعتراضات کړي اول اعتراض دا دی دې روايت په سند کې سليمان تيمي رَحِمَهُ اللَّهُ دی او دا مدلس دی او دلته قتادة رَحِمَهُ اللَّهُ عنعنې سره نقل کوي او د مدلس عنعنه قبول نه وي دويم اعتراض دا دی **واذا قرا فانصتوا** کومه جمله چې ده د، قتادة رَحِمَهُ اللَّهُ نه صرف يو شاګرد د هغه سليمان تيمي رَحِمَهُ اللَّهُ نقل کوي د قتادة نور شاګردان دا جمله نه نقل کوي سليمان تيمي رَحِمَهُ اللَّهُ دې جملې نقل کولو کې منفرد دی، لهذا دا جمله معتبره نه ده.

جواب: د اولني اعتراض جواب دا دی چې د بعضې مدلسينو د ثقتوب د وجې نه د هغه عنعنه قبول وي لکه قتاده، اعمش او سليمان تيمي، لهذا دلته هم دده عنعنه قبول ده محدثينو تصريح کړې ده د صحيحينو روايتو کې که د مدلس عنعنه راشي هغه مقبول ده، ځکه چې د صحيحينو ټولو روايتو په صحت باندې د علماء اتفاق دی که هغوئ د عنعنه سره د مدلس روايت نقل کوي، نو پوره تحقيق سره يې نقل کوي. امام نووی رَحِمَهُ اللَّهُ يو ځای کې وايي: (**فقد قدمنا في مواضع من هذا الشرح ان ما رواه البخاري و مسلم عن المدلسين و عنعنوه فهو محمول على انه ثبت من طريق آخر سماع ذلک**

Maktaba Tul Ishaat.com

المدلس هذا الحديث فيمن عنعنه منه و اكثر هذا او كثير منه يذكر مسلم وغيره سماعه من طريق آخر متصلا به) (مسلم ج۱ ص۲۰۹)

دشوافعو دااعتراض ځکه بې ځای دی چې دا روايت ابوداود وغيره کې مذکور دی هلته عنعنه نشته.

د دويم اعتراض جواب دا دی قتادة نه(**و اذا قرآء فانصتوا**) جمله صرف سليمان تيمي نه ده نقل کړې بلکې دده متابع موجود دي چنانچه صحيح ابو عوانة روايت کې قتادة نه ابو عبيده نقل کړی دی او بيهقي او دار قطني او بزار روايت کې حضرت قتادة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه عمر بن عامر او سعيد بن ابی عروبه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا نقل کوي، لهذا سليمان تيمي رَحِمَهُ اللَّهُ د حضرت قتادة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د نورو شاګردانو نده ذکر کړې نو دا مخالفت نه شو امام مسلم دې جملې ته صحيح ويلې ده، ځکه چې هغه نه د هغه شاګرد ابوبکر رَحِمَهُ اللَّهُ تپوس وکړو، د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت کې چې کومه **و اذا قرآء فانصتوا** جمله ده دا څنګه ده امام مسلم رَحِمَهُ اللَّهُ وايي :(**هو صحيح عندي**).

فقال لم لم تضعه ههنا فقال ليس كل شئ عندي صحيح وضعته ههنا: يعنې شاګرد تپوس وکړو چې دا جمله صحيح ده بيا کتاب کې د ابوموسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دې حديث کې درج ولی نه کړه، امام مسلم رَحِمَهُ اللَّهُ جواب کې فرمايي دا ضروري نه ده چې زه هر صحيح حديث دلته جمع کوم ډير زيات صحيح آحاديث دي، خو ما دلته جمع نه کړل لکه څنګه چې دا حديث دی دې کې دا جمله ده البته زه چې کوم حديث جمع کوم هغه به ضرور صحيح وي، ابوموسی اشعري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نه د احنافو صرف يوه دعوای ثابت کېږي چې جهري مونځ کې قرآت خلف الامام نشته.

دريم دليل: د ائمه احنافو او جمهورو دريم دليل د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث دی دا ابوداود، امام نسائی او ابن ماجه نقل کړی دی او مشکوة کې ص۸۱ باندې مذکور دی (المرقات ۲/۵۸۲) او د شمار په اعتبار سره حديث نمبر ۳۳ دی الفاظ يې دادي **عن ابي هريرة** رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ **قال قال رسول الله** صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **انما جعل الامام ليئوتم به فاذا كبر فكبر واذا قرآ فانصتوا** (رواه ابوداود) (**المرقات ۲/۵۸۲**).

سوال: شوافعو دې روايت باندې اعتراض کړی دی، دې کې يو راوي ابو خالد دی چې ضعيف دی، لهذا استدلال صحيح نه دی.

جواب: ددې اعتراض جواب دا دی علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ ابو خالد په ثقاتو کې شمار کړی، دغه رنګ صديق حسن خان ده ته ثقه ويلي دی همدارنګه ابو خالد متابع د محمد بن سعد انصاري هم دی علامه شبير احمد عثماني رَحِمَهُ اللَّهُ فتح الملهم کې فرمايي دې حديث کې **و اذا قرآ فانصتوا** الفاظ هم نه وی نو بيا هم دا حديث عدم قرآت خلف الامام باندې واضح دليل دی، ځکه چې بخاري، مسلم او نورو احاديثو

کتابونو کې **واذا قرآء فانصتوا** جملې نه علاوه حدیث بکثرت موجود دی هغې کې مقتدي ته د امام د اتباع حکم شوی دی او د امام اتباع تکبیر کې دا ده تاسو هم تکبیر کوئ رکوع کې اتباع دا ده تاسو هم رکوع له ځئ، سجده کې اتباع دا ده تاسو هم سجده کوئ، قیام کې هم اتباع دا ده تاسو هم قیام کوئ سوچ کول په کار دي قرآن لوستلو کې د امام د اتباع طریقه څه ده آیا لوستل دي یا خاموش کیدل دي، بخاري روایت کې دي چې کله جبرائیل وحې راوړه او قرآن به یې لوستلو، نو حضور ﷺ به ورسره هم په مزه مزه لوستل د قرآن آیت راغی ﴿فَإِذَا قَرَأْنَاهُ فَاتَّبِعْ قُرْآنَهُ﴾ دې **فاتبع قرآنه** تفسیر کې حضرت ابن عباس رضي الله عنه وایي (**ای استمع له وانصت**) دې نه ښکاره معلومه شوه چې د قرآن لوستلو وخت کې د امام اتباع دا ده مقتدي دې خاموش وي، خواه قرآن اوري یا نه اوري، ځکه چې دا ذمه داري امام په خپله پوره کوي د ابو هریره رضي الله عنه دا حدیث هم احنافو دواړو دعوو د پاره دلیل جوړیږي.

ځلورم دلیل: د ائمه احنافو ځلورم دلیل د حضرت جابر رضي الله عنه روایت دی الفاظ یې دا دي: (**عن جابر قال قال رسول الله ﷺ من كان له امام فقراءة الامام له قراءة**) طحاوي دا روایت مختلفو طرقو سره ذکر کړی دی دغه رنګ امام محمد رحمه الله مؤطا کې دا ذکر کړی دی همدارنګې مسند ابی حنیفه کې هم موجود دی او بیهقي او دارقطني هم دا نقل کړی دی دې اکثر طرقو کې ضعف دی او بعضې طرق بالکل صحیح دي.

سوال: دارقطني دې روایت مرفوع کیدو باندې اعتراض کړی (**لم يسنده عن موسى بن ابي عائشه غير ابي حنيفة والحسن بن عمارة وهما ضعيفان**) یعنې دې روایت مرفوع نقل کولو کې صرف دوه روایان دي یو امام ابو حنیفه رحمه الله او دویم حسن بن عماره رحمه الله دی او دا دواړه ضعیف دي.

جواب: علامه بدرالدین عیني رحمه الله فرمایي کِه دارقطني کې معمولي شرم او حیا وی داسې خبره به یې کله هم نه کوله بیا د دوي خپلو شوافعو دارقطني باندې داسې قلم اوچت کړی دی چې پاش پاش کړی یې دی، بیا اصحاب الجرح والتعدیل علماء وایي ائمه اربعو باندې تفصیلي جرح هم معتبر نه ده بلکه علماء جرح و التعدیل د امام ابو حنیفه رحمه الله زبردست توثیق کړی دی چنانچه یحیی بن معین فرمایي: **ابو حنيفه رحمه الله ثقة مامون ما سمعت احدًا ضعفه و شعبة بن الحجاج يكتب اليه ان يحدث**) همدارنګه شعبه بن الحجاج هغه صدوق فی الحدیث سره ښایسته الفاظو سره یاد کړی دی هغه لیکلي دي: **قال شعبة بن الحجاج ابو حنيفة ثقة من اهل الدين و الصدق ولم يتهم بالكذب وكان مامونا فی دين الله صدوقا في الحديث**) یاد ساتئ شعبه د امام صاحب رحمه الله لوی استاذ انو کې دی،

Maktaba Tul Ishaat.com

بهر حال د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ شان ډير لوی دی امام بخاري او مسلم استاذ في الحديث شيخ عبد الرزاق صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ المصنف د امام ابو حنيفه شاګرد دی. هغه چې کله خپل کتاب کې د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ حديث نقل کوي، فرمايي اخبرنا ابو حنيفة رَحِمَهُ اللَّهُ .. الخ شيخ عبد الرزاق خپل کتاب مصنف کې تقريبا اويا ۷۰ روايات امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ نه اخيستي، امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ د امام صاحب د شاګردانو شاګردان دي ځکه امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي (**الناس عيال في الفقه على ابي حنيفة**) دارقطني له مناسب نه وو چې د خپلې سلسلې لوی فقيه او امام باندې داسې حملې کوي، ځه بس صحيح ده مونږ داسې سند راوړو چې هغې کې امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ نشته.

(عن اسحاق الازاق عن سفيان و شريک عن موسى بن ابي عائشة عن ابراهيم عن جابر قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من كان له امام فقراءة الامام له قراءة)

دريم سند واخله چې تسلي دې وشي: عن اسحاق الازاق عن سفيان الثوری و شريک عن موسى ابن ابي عائشة عن شداد بن الهاد عن جابر قال قال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من كان له امام فقراءة الامام له قراءة. دا ټول راويان مرفوع دي دا آخري سند خو على شرط مسلم دی او که دارقطني په ضد وي چې دا حديث مرسل دی مونږ دې ته وايو چې زمونږ نزد باندې او جمهورو علماو په نزد باندې مرسل روايت حجت دی اګر چې دارقطني په نزد باندې حجت نه دی نو مونږ دده درد نه شو کمولی دا روايت د احنافو دواړو دعوو ډپاره بهترين دليل دی ددې مطلب دا دی چې سري او جهري دواړو کې مونځ د امام قرآت کافي دی د مقتديانو د پاره.

پنځم دليل: عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال تكفيك قراءة الامام خافت وجهر (دار قطني) بعضو دې روايت باندې دمنکر حکم لګولې خو ابن قدامه رَحِمَهُ اللَّهُ وايي چې دې روايت باندې د فقهاو د مذهب بنياد قائم دی او د فقهاو مسلک چې کومو روياتو باندې قائم وي دغه روياتو ته منکر نه شي ويلی دا د ائمه احنافو د مسلک د پاره واضح دليل دی د احنافو دواړه دعوې دې نه ثابتې دي.

شپږم دليل: د ائمو احنافو شپږم دليل د مشکوة (ص، ۸۱) باندې د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دی دې کې دا الفاظ دي (**قال فانتهى الناس عن القرآءة مع رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**) شمار لحاظ سره دا حديث (۳۱) دی دا حديث جهري مونځ کې قرآءة خلف الامام نه کولو باندې واضح دليل دی د جمهورو دلائلو نه دليل دی همدارنګې ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ **متاخر في الاسلام** دی کيدی شي دا روايت د قرآءت باقي احاديثو ناسخ دي.

سوال: په دې حدیث باندې د شوافعو طرف نه یو اعتراض دی هغه دا فانتهی الناس جمله د زهري ده د صحابي نه ده دا روایت مرسل دی او د دې جمله مرفوع نه ده.

جواب: احناف ددې اعتراض جواب ورکوي حقیقت دا دی دا د ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نقل شوې جمله ده د زهري نه ده شوافعو ته وهم وشو. او دوهمه واقعه داسې وه چې زهري دا روایت بیانولو کله چې **فانتهی الناس** پورې ورسید و آواز په مزه شو داوریدونه، نوشاګردانو یوبل نه تپوس وکړو: **ماقال الزهري** یعني زهري څه وویل چې کله د هغه آواز په مزه شو ویلو والا وویل **قال الزهري فانتهی الناس**. نو آئنده نقل کونکي ته شبه اوشوه دا قول د امام زهري دی، د صحابي نه دی. حالانکې هلته ابوداود شریف (ص، ۱۴۰) کې تصریح موجود ده (**قال قال ابوهریره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فانتهی الناس**) دویم جواب دا دی ځه مرسل دی نو څه وشو جمهور خو مرسل د زړه نه منې دا روایت هم قابل قبول دی دې روایت نه هم د احنافو یوه دعوای ثابت کیږي، جهري مونځ کې فاتحه خلف الامام لوستلو نه خلک منع شي.

اوم دلیل: دا احنافو مضبوط دلیل حضرت ابوبکر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت او واقعه ده چې ابوبکر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ مسجد نبوي ته داخل کیدو په وخت کې اومندلو په حالت رکوع کې او دغه دروازې نه نیت وترو اورکوع په حالت کې صف طرف ته په منډه باندې ورسید و مونځ نه فارغیدو نه پس تاسود نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ نه د مسئلې تپوس وکړو نبي عَلَیْهِ السَّلَامُ وفرمایل: **زادک الله حرصاً ولا تعد**. (**مشکوة ص ۹۹**) حضور صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ده ته مونځ واپس کیدو نه فرمایل، بلکې د شوق زیاتیدو دعا یې وغوښتله الله تعالی دې ستا د نیکۍ طرف ته شوق زیات کړي، داسې بیا مه کوه بلکې صف کې شامل کیږه بیا تکبیر تحریمه کوه کوم مونځ چې دې ګیر کړو هغه کوه او کوم چې قضاء شو هغه اداء کړه.

د حدیث دې واقعه کې شوافع هیڅ تاویل نه شي کولی او دا مضبوط دلیل دی د امام قراءت د مقتدي قراءت دی جدا لوستلو ضرورت نشته که نه نو فرض پریښود و سره مونځ څنګه صحیح کیدی شي، دلته یو ضابطه او اصل دی دې وجې نه شوافع دغه رنګ مسلک باندې مجبور کړي دي هغه دا چې د شوافعو په نزد باندې امام او مقتدي په منځ کې مونځ کې اتحاد نشته، بلکې صرف عمل اشتراک دی او د هریو خپل عملي دی، ځکه هریو ته فاتحه لوستل په کار دي د امام ویل د هغه د پاره دي او مقتدي دې په خپله وایي، د احنافو په نزد باندې صرف اشتراک عمل نه دی، بلکې اتحاد عمل هم دی، لهذ قرآت الامام د مقتدي قرآت هم دی. بهر حال دا روایت هم د احنافو د پاره د دواړو دعوو دلیل دی.

اتم دلیل: حضرت جابر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دی چې کوم کس مونځ وکړي او فاتحه ونه لولي نو د هغه مونځ ونه شو (**الا ان یکون وراء الامام**) که د امام نه وروستو وي، نو بیا بغیر د فاتحې نه مونځ صحیح دی. ترمذي، موطأ، امام مالک او طحاوي دا روایت نقل کړی دی دا روایت د احنافو دسري او جهري

Maktaba Tul Ishaat.com

دواړو مونځونو د پاره واضح دليل دی.

نهم دليل: د احنافو نهم دليل د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه مشهور حديث دی چې شوافع يې خپل دليل کې پيش کوي خو حقيقت کې هغه د احنافو دليل دی الفاظ يې دا دي: (**وعن ابي هريرة قال قال النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من صلى صلوة لم يقرآ فيها بأم القرآن فهي خداج ثلاثا غير تمام**) (**مسلم شريف**)

طرز استدلال داسې دی فاتحه نه لوستلو د وجې نه حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ ګزار مونځ ناقص ګرځولی دی باطل يې نه دی فرمايلی، که فاتحه فرض وی بيا به مونځ باطل وی پريښود وسره.

سوال: دې استدلال باندې اعتراض دی ای احنافو تاسو په خپله منئ چې بغير د فاتحې نه مونځ ناقص دی، نو تاسو بيا ناقص مونځ ولې کوئ او دې نقصان اوچتيدو باندې دومره زور ولې ورکوئ.

جواب: مونځ باندې ډير وختونه راغلي وو يو وخت داسې وو مونځ کې خبرو کولو اجازت وو بيا هغه حکم موقوف شو او امام سره جهري مونځ کې قرآن لوستل باقي وو هغه هم موقوف شو او سري مونځ کې لوستل باقي پاتې شو بيا دا هم موقوف شو صرف فاتحه لوستل حکم باقي پاتې شو، بره حديث کې مذکور دي، بيا دا حکم موقوف شو او د امام قرآت د مقتديانو د پاره کافي وګرځولی شو باقي بند کړی شو چې کله د امام لوستل حکمي طور باندې د مقتديانو لوستل دي اوس دا نقصان ختم شو، لهذا د مقتديانو د فاتحې نه بغير مونځ ناقص نه دی.

لسم دليل: د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه علقمة روايت کوي، حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي کاش چې د دغه کس خوله د خاورو نه ډکه شي، چې څوک د امام نه وروسته لوستل کوي. (**رواه طحاوي باسناد حسن**) دغه شان عطاء بن يسار د حضرت زيد بن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت کوي هغوي وايي امام نه وروسته يو مونځ کې به هم څه نه وايي، دغه رنګ ابو حمزه رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي ما د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو چې امام مخامخ وې آيا زه د هغه نه وروسته لوستل اوکړم، ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ جواب کې وفرمايل نه مه يې لولئ. (طحاوي، ص ۱۵۱)

دې ټولو روياتو نه ثابته شوه، چې د امام او مقتدي مونځ کې وحدت او اتحاد راغی امام ځکه مقرر شو چې مقتدي دده اتباع وکړي، د امام مونځ ضامن دی او د مقتدي مونځ متضمن دی، اوس که مقتدي هم لوستل شروع کړي، نو دا د اصول اقتداء او اصول اتباع خلاف دی، خو دا ياد ساتئ دا قاعده صرف قرآن کريم لوستلو متعلق ده، ځکه چې د قرآن متعلق (**استمعوا و انصتوا**) حکم راغلی دی او نور اذکار د امام نه وروسته لوستل منع نه وي ددې مثال باندې ځان پوهه کړئ، مثلاً يو جرګه او يو معزز وفد بادشاه خواته ځي قاعده ده چې رومبی ټول د بادشاه دربار کې حاضريدو سره سلام وکړي بيا ټول يو ملګری د خبرو پيش کولو د پاره وکيل جوړ کړي او د وکيل خبره د ټولو خبره وي او بادشاه مخکې د

ټولو خبرو کولو د آدابو خلاف ګڼلی کېږي چې کله وکيل خبره کوي ټول دده د خبرې تائيد کوي. بالکل دغه رنګ صف کې خلک و دريږي او د الله تعالى په حضور کې ټول ثناء اوايي بيا خاموش شي او امام درخواست پيش کولو د پاره فاتحه اوايي بيا آخره کې ټول مقتديان پرې آمين اوايي دستخط پرې وکړي او ددې مضمون تائيد کوي، دلته د ټولو لوستلو سره اصول وکالت او اصول اقتداء د خرابيدو خطره وي، دلته چونکې درخواست د هدايت طلب کيدو د پاره دی، ځکه حکم کېږي قرآن وايي دا هدايت دی، ځکه امام سورة ملا وکړي قرآن وايي او چې کله درخواست قبول شي، نو ټول کينې او بطور شکر التحيات لولي او بيا تلل او رخصتي په سلام سره کوي.

باريکه مباحثه: منقول دي امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ سره قرآت خلف الامام باندې بعضې علماو مباحثه وکړه، هغوی وويل بحث او مناظرې د پاره يو جماعت تشکيل کړئ، هغوی يو جماعت جوړ کړو امام صاحب وويل ما سره به مناظره کې يو کس خبرې کوئ يا ټول، هغوی وويل يو کس امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ ورته وويل د يو کس خبره به د ټولو خبره وي يا د هغه خپله خبره به وي وفد اووېل نه هغه زمونږ نمائنده او وکيل دی د هغه خبره به د ټولو خبره وي امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ ورته وويل چې بس مناظره وشوه هغوی کې چې کوم کم فهم والا وو هغوی شور وکړو چې نه اوس مناظره به کوو د هغوی ماهرينو وويل ځئ تاسو د شکست اقرار خو په خپله وکړو. ګويا امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دوي ته عملي طور باندې وويل چې زما مخې ته بطور وکيل يو کس خبره کوي او د هغه خبره د ټولو خبره ده او ټول به خبرې نه کوي، نو دا قاعده دلته د مونځ متعلق هم ده، مونځ کې ددې نه انحراف ولې کوئ. دا وجه ده مصنف عبدالرزاق کې د ابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ دا قول مذکور دی په اسلام کې رومبی بدعت دا شروع شو چې خلکو د امام نه وروسته لوستل شروع کړل (**كذا في الجوهرة النقي**) په ظاهره دې عبارت کې مقصد جهري مونځونو کې لوستل بدعت دی، سري مونځ کې نه دی دې باندې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ يو عبارت دلالت کوي وايي: (**نحن نقول كل صلوة صليت خلف الامام يقراء قراءة لايسمع فيها قراء فيها**) (كتاب الام، ج ۷، ص ۱۵۳) يعنې مونږ وايو هر هغه مونځ چې د امام نه وروسته وشي او امام داسې قرآت کوي چې اوريدلی کېږي نه (يعنې سري قرائت) داسې صورت کې مقتدي قرآت وکړي. دې عبارت نه ښکاره ده چې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول جديد د امام مالک او د احمد هغې په شان دی، جهري مونځ کې د امام نه وروسته لوستل مه کوئ او سري کې کوئ.

۱۹ ربيع الثاني ۱٤۱۰هـ

د شوافعو د دلائلو جوابات: د شوافعو حضراتو د دلائلو په ضمن کې دري مشهور حديثونه پيش شوي وو چې د هغې جواب ورکولی شي شوافعو حضراتو د زير بحث حضرت عبادة بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

Maktaba Tul Ishaat.com

روايت نه استدلال کړی دی کوم چې صحيحينو کې مذکور دي د هغې جواب مخکې ورکړی دی دا خبر واحد دی دې نه فرضيت ثابت نه دی فرضيت د ثبوت د پاره قطعی الثبوت او قطعی الدلالة نص ته ضرورت دی دا دلته نشته.

دويم جواب: د حضرت عبادة بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کوم روايت چې صحيحينو کې منقول دی (**لاصلوة لمن لايقراء بفاتحة الكتاب**) دلته دې باندې قرآت خلف الامام باندې استدلال نه شي کولی، دې روايت کې قطعا دا تصريح موجوده نه ده چې دا مونځ د منفرد دی، يا د امام دی، يا د مقتدي دی. دې نه خو صرف دا معلوميږي چا چې فاتحه ونه لوستله د هغه مونځ نه دی شوی، ددې متعلق مونږ هم وايو د منفرد او امام مونځ بغير د فاتحې صحيح نه دی. (المرقات ۲/۵۷۷).

د قرآت خلف الامام داسې قسمه روایاتو توجيه امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ داسې کړې ده او داسې جواب سفيان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ ورکړی دا قسمه روايات د منفرد او امام باره کې دي، د سفيان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ قول په ابوداود ص ۱۱۶ کې دی. احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ قول ترمذي (ص، ۵۰) باندې مذکور دی، امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ يو قول ابن قدامه المغنی کې نقل کړی عبارت يې ډير مزيدار دی ځکه يې کتونکو ته هديه کوم: **قال احمد ماسمعنا احدا من اهل الاسلام يقول ان الامام اذا جهر بالقرآءة لا تجزئ صلوة من خلفه اذا لم يقراء وقال هذا النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واصحابه وهذا مالک في اهل الحجاز و هذا الثوري في اهل العراق وهذا الاوزاعي في الشام وهذا الليث في اهل المصر، ماقالوا الرجل صلى و قراء امامه ولم يقرء هو صلوته باطل.**

ددې کلام مطلب دا دی احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي ما په اهل اسلام و کې د يو نه هم نه دي اوريدلي چې دا وايي که امام جهر سره قرآت کوي او مقتدي قرآت نه کوي د هغه مونځ نه کيږي، بيا يې وفرمايل لږ او ګورئ دا حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابه مدينه کې موجود دي او دا امام مالک حجاز کې موجود دی، دا سفيان ثوري په عراق کې هغه اوګوره، اوزاعي شام کې دی او ليث بن سعد مرکز علم مصر کې دی دا ټول حضرات د دغه کس مونځ نه شي باطل کولی چې د هغه امام قرآت کوي او هغه په خپله قرآت نه کوي. امام ترمذي هم فاتحه خلف الامام نه لوستلو مونځ صحيح ګرځولی دی او فرمايي چې کوم خلک د مونځ فاسد کيدو خبره کوي هغه د تشدد نه کار اخلي او بيا وايي احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي : عباده بن صامت رَحِمَهُ اللَّهُ روايت منفرد باره کې دی. عباده بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ددې روايت دريم جواب دا ورکړی، دلته لاصلوة کې لا کلمه د نفی د کمال د پاره ده دغه رنګ يو څو احاديثو کې نفی د کمال د پاره ده. مثال په طور باندې: (**لاصلوة لجار المسجد، الا في المسجد، لا ايمان لمن لا عهد له، ليس**

المسكين الذي ترده التمرة والتمرتان، لايومن احدكم حتى اكون احب اليه من والده وولده، لايومن من يشبع و جاره جائع.

بهر حال حضرت عباده بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث کې اصل د صلوة نفی نه ده. بلکې د کمال نفی ده دا مونږ هم وايو او منو يې. خلاصه دا حديث ډير قوي دی، خو مدعا باندې نص نشته. حضرت عباده بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يو روايت هغه دی چې سننو کې مذکور دي چې هغه صاحب مشکوة کې (ص۸۱) باندې نقل کړی دی شمار په ترتيب سره حديث نمبر (۳۰) دی دې حديث کې قصه هم ده او خپل مدعا باندې صريح نص هم دی خو دغه حديث د ثبوت په اعتبار سره کمزوری دی. ددې کمزوری د وجې نه امام ترمذي رَحِمَهُ اللَّهُ ورله د حسن درجه ورکړه او بخاري او مسلم نقل کړی دی ددی کمزوری وجه دا ده د سند په اعتبار سره دا حديث مضطرب دی، ځکه چې مکحول کله محمود بن ربيع نه نقل کوي او کله په منځ کې د نافع واسطه ذکر کوي کله مکحول او عباده بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په منځ کې واسطه راځي کله دوه واسطې راځي همدارنګه دا جواب هم ورکولی شي حضرت عباده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کوم دور کې د فاتحې ذکر فرمايلو. دا دويم دور وو وروسته دريم دور چې کله راغی دا حکم موقوف شو، لکه مخکې چې بيان شوی دی په مانځه باندې د تغيراتو دري دوره راغلل. همدارنګې علماء اصولو په نزد دا قاعده ده چې د نهې نه پس کومه استثناء راځي، هغه د اباحت فائده ورکوي، يعنې امر بعد الحظر اباحت فائده کوي، لهذا فاتحې فرضيت ددې نه نه ثابتيږي. (**قال الشيخ گنگوهي**)

الزامي جواب دا دی: حضرت عباده بن صامت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زير بحث حديث کې په بعضې طرقو کې (**فصاعداً**) او **ماتيسر** الفاظ راغلي حالانکې شوافع حضرات مقتدي باندې ضم د سورت واجب نه وايي صرف فاتحه پرې فرض کوي، يعنې د حديث بعضې حصه باندې عمل کوي او بعض باندې عمل نه کوي، تردې ځای پورې د شوافعو حضراتو دوه دلائل جواب شول، د دوي دريم دليل حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغه روايت دی چې هغې کې فاتحې نه بغير مونځ ته خداج ويلي شوی دی. حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي زړه کې وايي، خو فاتحه مه پريږدئ، ددې جواب دا دی په اصل کې دا روايت د احنافو دليل دی، ځوک چې فاتحې ته واجب وايي. شوافع خو فاتحې ته فرض وايي بيا مونځ ته ناقص ځنګه ويلي شي بيا خو باطل شو، بيا هم احناف يو جواب دا ورکوي سفيان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ او احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ دا حديث منفرد د پاره ګرځولی دی باقي (**اقراء في نفسک**) مطلب دا دی چې په زړه کې د فاتحې تصور کوه ددې په معنی کې غور کوئ ددې په معانی کې غور کوئ، ورنه زړه کې قرآت نه کېږي د چا په نزد باندې دغه قرآت معتبر نه دی چې د هغې الفاظ په ژبه باندې ونه لوستل شي باقي د الزام په طور مونږ د شوافعو نه الزامي تپوس کوو چې مقتدي به فاتحه کوم وخت کې وايي که

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسو وايي چې د ثناء وخت کې دې وائي، نو کتاب الام کې ښکاره امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ منع فرمايلې ده، که تاسو وايي چې سکتاتو کې دې وايي، چې کله امام فاتحه ختمولو کې سکتات کوي يا بل ځای کې سکته وکړي. ددې جواب دا دی، که امام منځ کې سکته ونه کړي تاسو به څه کوئ او که دامين په وخت کې سکته کې يې وايي، نو هلته دومره وخت نشته چې فاتحه وشي او که امام د مقتدي انتظار کوي، بيا هغه پيش امام پاتې نه شو، ځکه چې امام مونځ کې د مقتدي تابعداري کوي او دا د قلب د موضوع دی. نو اوس تاسو اوايي چې مقتدي به په جهري مونځ کې څه وخت فاتحه ووايي؟

ما چې څه وليکل د فحولو علماو تحريراتو په رڼا کې مې وليکل، زه د حديث بې ادبي نه کوم، بلکې زه الله ته التجا کوم، چې ای زما مولی زما قلم د بې ادبۍ، ګستاخۍ، دانسته وغير دانسته غلطۍ نه وساتي، دا د حق او باطل مسئله نه ده، احاديثو په رڼا کې اجتهادي نقطه نظر سره اختلاف دی، ای الله! زما دنيا او آخرت کې حفاظت وفرمايي. آمين يا رب العلمين

د سورة فاتحې فضيلت

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا

د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايي: چاچې مونځ وکړو او وې نه لوستله په

بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِيَ خِدَاجٌ ثَلَاثًا غَيْرُ تَمَامٍ » فَقِيلَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ:

دې کې سورت فاتحه دده دا مونځ ناقص دی دې ځله نا پوره دی، ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه تپوس وشو چې

إِنَّا نَكُونُ وَرَاءَ الْإِمَامِ قَالَ اقْرَأْ بِهَا فِي نَفْسِكَ فَإِنِّي

کله مونږ د امام نه وروسته يو (هغه وخت يې هم وايو) هغه وويل آو خو زړه کې په مزه وايي ځکه چې ما:

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «قَالَ اللهُ تَعَالَى قَسَمْتُ الصَّلَاةَ بَيْنِي وَبَيْنَ عَبْدِي

نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه اوريدلي چې الله تعالى فرمايي ما مونځ خپل ځان او د بنده په مينځ کې تقسيم کړی دی

نِصْفَيْنِ وَ لِعَبْدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ الْعَبْدُ: ﴿ اَلْحَمْدُ

نيم زما او نيم زما د بنده او چې بنده څه غواړي هغه به ورته ورکولی شي چې کله بنده ووايي ټول تعريفونه

لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ ﴾ قَالَ اللهُ تَعَالَى حَمِدَنِي عَبْدِي وَ إِذَا

الله تعالى لره دي چې د ټول جهان رب دی نو الله تعالى فرمايي: زما بنده زما تعريف بيان کړو او چې کله

قَالَ: ﴿ اَلرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴾ قَالَ اللهُ تَعَالَى أَثْنَى عَلَيَّ عَبْدِي

بنده ووايي: الله تعالى ډير مهربان او نهايت رحم والا دی، الله تعالى فرمايي زما بنده زما ثناء بيان کړه

وَ إِذَا قَالَ (مَالِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ) قَالَ مَجَّدَنِيْ عَبدِيْ

اوچې کله بنده ووايي حاکم دی الله تعالی د قيامت په ورځ الله تعالی فرمايي زما بنده زما تعظيم اظهار

وَ إِذا قَالَ : (إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَ إِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ) قَالَ

وکړو اوچې کله بنده ووايي مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا نه مدد غواړو الله تعالی فرمايي

هٰذَا بَيْنِيْ وَ بَيْنَ عَبْدِيْ وَ لِعَبْدِيْ

دا زما اوزما د بنده په مينځ کې دی (يعنې عبادت الله پاره دی او مدد غوښتل د بنده دپاره دي) اوزما بنده

مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ (اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ

چې څه غواړي هغه به ورته ملاويږي ، او چې کله بنده ووايي : ای الله ! مونږ ته په نيغه لار روان کړه لار

الَّذِيْنَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا

د هغه خلکو چې هغوي باندې تا انعام کړې وي ، نه په لار د هغه چا چې غضب کړې وي تا او نه په لار د

الضَّالِّين) قَالَ هٰذَا لِعَبْدِيْ وَ لِعَبْدِيْ مَا سَأَلَ »[1].

گمراهانو الله تعالی فرمايي دا زما د بنده دپاره دی او بنده چې څه غواړي هغه ته به ملاويږي.

توضيح ثلاثا: يعنې خداج لفظ حضور ﷺ درې ځلې وويله.

ام القرآن: د سورة فاتحې نوم دی، دې ته **ام الكتاب** هم ويل کېږي وجه دا ده سورة فاتحه د ټولو مضامينو د قرآن اصل او بنياد دی، د قرآن ټول مضامين د دې گيرچاپيره گرځي.

غير تمام: دا د خداج تفسير دی او دې نه واضحه کېږي، چې فاتحه رکن صلوة نه دی. د شوافعو خيال دی چې دا رکن صلوة دی، د احنافو په نزد باندې قرآن مطلق رکن صلوة دی، حضور ﷺ چې کله اعرابي په مونځ باندې پوهه کولو ويې فرمايل (**اقراء ماتيسر معک من القرآن**).

خداج: بمعنی **ذات خداج** دی. **فقيل لابي هريرة** : سره معلومه شوه چې د سلفو صالحينو په نزد امام نه وروسته فاتحه ويل متعارف نه دی بلکې نه ويل متعارف دي، ځکه د ابوهريره رضی الله عنه نه سوال کېږي

في نفسک: يعنې په مزه يې وايه، احناف دې ته قلبي تصور او فاتحه کې غور، فکر باندې حمل کوي او

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲۹٦/۱ رقم الحديث : ۳۸-۳۹۵، وأخرجه أبوداود السنن ۵۱۲/۱ رقم الحديث :۸۲۱، والترمذي في السنن ۱۸٤/۵ رقم الحديث : ۲۹۵۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

دا قرآت د چا په نزد باندې هم معتبر نه دی معلومه شوه چې د امام نه وروسته فاتحه لوستل منع دي.

(المرقات ۲/۵۴۷). **قسمت**: د متكلم صيغه د تقسيم نه ده او اوس دا حديث قدسي جوړ شو.

الصلوة: فاتحه باندې اطلاق **الصلوة** وشو او دا د اطلاق الكل على الجزء قبيلې نه دی، كيدی شي دې نه حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بطور استنباط او اجتهاد فرضيت د فاتحې ثابت كوي، علماء احناف وفی روايۀ حنابله فرمايي دا اجتهاد مرفوع حديث مقابله كې فائده مند نه دی، شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ وايي دې استنباط كې خفا او پټ والی دی.

نصفين: دا تنصيف د ايتونو په اعتبار سره دی، ځكه چې فاتحه مجموعي اعتبار سره اوه آيتونو باندې مشتمله ده، **صراط الذين انعمت عليهم** چې يو آيت شمار كړی دی په دې باندې وقف كړی دی، درې آيتونو كې د الله تعالى تعريف دی او درې آيتونو كې د بنده طرف نه سوال دی او يو آيت **اياك نعبد و اياك نستعين** مشترک دی، رومبی نيم د الله تعالى تعريف دی او دويم نيمه حصه د بنده سوال دی.

ولعبدی ما سال: يعنې د بنده سوال زه قبلوم.

مجدني عبدي: كرم عالي او شرف ته مجد ويلي كېږي. علماء ليكي كله ذاتي شرافت نبه افعالو سره يو كيږي هغه ته مجد او مجيد ويلي كېږي، د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا حديث دې باندې واضح دليل دی چې (**بسم الله الرحمن الرحيم**) د سورۀ فاتحې جزء نه دی كه جزء شي، بيا فاتحه د اوو په ځای اته آيتونه كړځي، دا د دې حديث منافي دی همدارنګه د تقسيم په اعتبار سره بسم الله نه شامل كول د دې خبرې دليل دی دا د فاتحې جزء نه دی او دا د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ مسلک دی.

په مونځ كې بسم الله په مزه ويل په كار دي

﴿۳﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ أَبَا بَكْرٍ وَ
د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، حضرت ابو بكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت
عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا كَانُوا يَفْتَتِحُونَ الصَّلَاةَ بِـ«الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ» .(۱)
عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د مونځ شروع په الحمد لله رب العالمين سره كوله.

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۲۶،رقم الحديث :۷۴۳، ومسلم في الصحيح ۱/۲۹۹ رقم الحديث:۵۰-۳۹۹، وأبو داود ۱/۴۹۴ رقم الحديث :۷۸۲، والنسائي ۲/۱۵، رقم الحديث: ۹۰۷.

توضيح: كانوا يفتحون الصلوة: جهري مونځ کې الحمدلله شروع کولو نه مخکې بسم الله په مزه ويل په کار دي، د احنافو مسلک دا دی، يو روايت کې دي چې امام باندې د دريو څيزونو اخفاء ضروري ده. يو اعوذ بالله دويم بسم الله او دريم آمين، دلته بنکاره د روايت نه ثابتيږي چې بسم الله په مزه ويل په کار دي، ددې مسئلې مکمل تفصيل **باب صفة الصلوة** حديث نمبر ۲ کې ليکلی شوی. (المرقات ۲/۵۵۱).

په مونځ کې د آمين ويلو فضيلت

﴿٤﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: کله چې امام آمين ووايي تاسو

فَأَمِّنُوا فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ

هم آمين ووايي، ځکه چې د کوم کس آمين د فرښتو د آمين سره يو ځای شي الله تعالى معاف کوي دده

مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ). (۱) وَ فِي رِوَايَةٍ قَالَ: "إِذَا قَالَ الْإِمَامُ: (غَيْرِ الْمَغْضُوبِ

مخکيني ګناهونه. او په يو روايت کې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: چې کله امام ووايي: غير المغضوب

عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّين) فَقُولُوا: آمِينَ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ

عليهم ولا الضالين نو تاسو آمين ووايي ځکه چې د کوم کس چې آمين د فرښتو آمين سره يو وو نو معاف

لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَ لِمُسْلِمٍ نَحْوُهُ وَ فِي أُخْرَى

به شي د ده ته مخکيني ګناهونه دا الفاظ بخاري کې دي، د مسلم حديث الفاظ ددې په شان دي. او په يو بل

لِلْبُخَارِيِّ قَالَ: «إِذَا أَمَّنَ الْقَارِئُ

روايت د بخاري کې دي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: چې کله قرآن کريم لوستونکي آمين ووايي تاسو هم

فَأَمِّنُوا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تُؤَمِّنُ فَمَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ

آمين ووايي ځکه چې (دغه وخت) فرښتې آمين وايي او دچا چې آمين د فرښتو آمين سره يو ځای شو نو

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۶۲، رقم الحديث: ۷۸۰، ومسلم في الصحيح ۱/۳۰۷ رقم الحديث ۷۲ ۴۱۰، وأبو داود ۱/۵۷۶ رقم الحديث: ۹۳۶، والترمذي ۲/۳۰ رقم الحديث: ۲۵۰، وابن ماجة ۱/۲۷۷، رقم الحديث ۸۵۱

Maktaba Tul Ishaat.com

غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ ».

معاف به شي ده ته مخكيني ټول ګناهونه.

توضيح: **فامنوا**: يعني تاسو هم آمين ووايي ځكه چې فرښتې هم آمين وايي او هغه معصوم مخلوق دی، د هغوئ دعا قبليږي، كه چرته د هغوئ د دعا الفاظو سره ستاسو الفاظ ملاو شو، نو ستاسو به صغائر ټول ګناهونه معاف شي، چې ددې نه مخكې شوي دي. مقتدي داسې آمين صرف جهري مونځ كې كولی شي، سري مونځ كې داسې مقارنت امكان نشته، باقي دا مسئله آمين په مزه لوستل يا اوچت آواز سره دا مسئله فصل ثاني حديث نمبر (۳۲) كې ان شاء الله تفصيل سره راځي. (المرقات ۲/۵۵۳).

د مقتدي د مونځ طريقه

﴿۵﴾ وَ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: " إِذَا صَلَّيْتُمْ

د ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: كله چې تاسو مونځ كوئ نو

فَأَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا

برابروئ خپل صفونه بيا دې يو كس ستاسو امام جوړ شي چې هغه الله اكبر ووايي تاسو هم الله اكبر وايي

وَ إِذَا قَالَ (غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ) فَقُولُوا آمِينَ يُجِبْكُمُ اللهُ

كله چې امام غير المغضوب عليهم ولا الضالين ووايي تاسو آمين ووايئ قبوله به كړي الله تعالى ستاسو

فَإِذَا كَبَّرَ وَ رَكَعَ فَكَبِّرُوا وَارْكَعُوا فَإِنَّ الْإِمَامَ

دعاء اوچې كله امام الله اكبر ووايي اوركوع ته لاړ شي تاسو هم الله اكبر ووايئ اوركوع ته لاړ شئ ځكه امام

يَرْكَعُ قَبْلَكُمْ وَ يَرْفَعُ قبلكُمْ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ:

ركوع كوي مخكې د ستاسو نه، او ستاسو نه مخكې سر اوچتوي، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې: دا امام

« فَتِلْكَ بِتِلْكَ» قَالَ: « وَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللَّهُمَّ

مخكې سر اوچتول د ركوع كولو بدله ده اوچې كله ووايي امام سمع الله لمن حمده نو تاسو ووايئ اللهم

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ يَسْمَعُ اللهُ لَكُمْ». رَوَاهُ مُسْلِم وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَ قَتَادَةَ:

ربنا لك الحمد اوري الله تعالى ستاسې حمد. او د مسلم يو روايت كې د ابو هريرة او قتادة نه مروي دی

« وَ إِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوْا ».[1]

چې کله امام قرآت کوي تاسو خاموش اوسئ.

توضيح: فتلك بتلك: امام رکوع ته تاسو نه مخکې ځي تاسو وروسته ځئ خو امام رکوع نه ستاسو نه مخکې را اوچتيږي او تاسو رکوع کې يې، رکوع کې اوسيدل ستاسو او ستاسو امام برابر برابر شو.

يسمع الله لكم: الله تعالى ستاسو دعا اوريدلو سره قبول فرمايي، تحميد او تسميع مكمل تفصيل او فقهاوو اختلاف **باب صفة الصلوة** کې حديث نمبر (۴) لاندې ليکلی شوي دي. (المرقات ۲/۵۵۵).

خلاصه دا شوه که منفرد سړی **سمع الله لمن حمده** او **ربنالک الحمد** دواړه ووايي او که په يوباندې اکتفاء وکړي جائزده، دا حديث دامام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دليل دی، امام چې کله د رکوع نه اوچت شي هغه دې **سمع الله لمن حمده** ووايي تاسو **ربنالک الحمد** ووايي، يعنې تقسيم کار دی، خو امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي امام، مقتدي او منفرد ټول دغه کلمات اداء کړئ. صاحبين فرمايي امام دې دواړه کلمات وايي.

په مونځ کې د اول رکعت د اوږدولو مسئله:

﴿٦﴾ وَ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي الْأُولَيَيْنِ

حضرت قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د ماسپخين د مونځ اولني دوه رکعتو کې سورة

بِأُمِّ الْكِتَابِ وَ سُورَتَيْنِ وَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَ يُسْمِعُنَا

فاتحه او دوه سورته لوستل او په وروستي دوه رکعتو کې سورة فاتحه ويله او اورولو به يې مونږ باندې

الْآيَةَ أَحْيَانًا وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَا لَا يُطِيلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ وَهَكَذَا فِي الْعَصْرِ وَهَكَذَا فِي الصُّبْحِ[2]

کله کله يو آيت اواوږدولو به يې اول رکعت د دوهم نه دغه رنګ يې د مازيګر او سحر مونځ کې هم کولو.

توضيح: يقرا في الظهر: يعنې ماسپخين کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عام معمول دا وو، چې قرآت به يې په مزه کولو. خو کله کله به يې ماسپخين مونځ کې مونږ ته يو سورت يا آيت په اوچت آواز آورولو دا عمل تعليم د امت د پاره وو، چې دا معلومه شي چې سورت فاتحې نه پس بل سورت لولئ. او د ملاويدو

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۰۳ رقم الحديث: ٦٢-٤٠٤، وأبو داود ۱/۵۹٤ رقم الحديث: ۹۷۲، والنسائي ۲/۱۹٦، رقم الحديث: ۱۰٦٤.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲٦۰، رقم الحديث: ۷۷٦، ومسلم في الصحيح ۱/۳۳۲ رقم الحديث: ۱۵٤-٤۵۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

طريقه څه ده د ماسپخين مقيد اتفاقي دی احترازي نه دی، بلکې هغوی مازيګر کې هم داسې کول، دا ټول د امت تعليم د پاره وو.

ويطول: د باب تفعيل نه د طوالت په معنی دی، دې حديث نه معلوميږي چې اول رکعت د دويم نه طويل کول په کار دي. دې مسئله کې د فقهاو معمولي شان اختلاف دی. (المرقات ۲/۵۵۷).

د فقهاو اختلاف: امام مالک، امام شافعي، امام احمد بن حنبل او امام محمد رَحِمَهُمُ اللهُ مسلک دا دی، چې ټولو مونځونو کې اولنی رکعت د نورو رکعتونو په نسبت ډير اوږد کوئ. امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ او امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې صرف د سحر مونځ کې دا خصوصيت دی، چې ړومبی رکعت اوږد کولی شي، باقي ټولو مونځونو کې د رکعتونو حيثيت برابر دی، البته کوم رکعتونو کې چې ضم د سورة نه وي د هغې حيثيت جدا دی.

دلائل: جمهور زيږ نظر ابو قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نه استدلال کړی دی هغې کې ماسپخين او مازيګر او د سحر ړومبی رکعت اوږد کولو ذکر دی او د ماښام او ماسخوتن مونځ يې باقيو باندې قياس کړی دی عبدالرزاق معمر نه نقل کړي دي، زمونږ خيال دی ړومبی رکعت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځکه اوږد کړی دی، چې خلک ړومبی اومومي، امام ابوداود هم داسې ليکلي، امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمايي ړومبی رکعت اوږد کول سحر سره خاص دی، ځکه چې د سحر وخت د غفلت دی، که نفس قرآت ته اوګورئ، نو استحقاق قرآت کې دواړه رکعتونه برابر دي، ځکه مقدار قرآت کې هم دواړه برابر کيدل په کار دي، خو صرف دې عارض د وجې نه ړومبی رکعت طويل کړی دی، راتلونکی متصل روايت کې في کل رکعة قدر ثلاثين آية امام صاحب دليل دی، ځکه هلته يې د دواړو رکعتونو قرآت برابر ښودلی دی. امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي ړومبی رکعت دعا استفتاح او تعوذ باندې مشتمل دی، ځکه اوږد کيږي، قرآت د وجې نه صرف سحر مونځ کې د اوږدولو خصوصيت دی. خلاصة الفتاوی کې ليکلي امام محمد رَحِمَهُ اللهُ او جمهورو مسلک راجح او خوښ دی يعنې ړومبی رکعت اوږد کول بهتر دي.

په مونځ کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قيام مقدار:

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كُنَّا نَحْزُرُ قِيَامَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الظُّهْرِ

دابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې مونږ به اندازه کوله د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د قيام په ماسپخين

وَالْعَصْرِ فَحَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ قَدْرَ قِرَاءَةِ (الم تَنْزِيلُ

اومازيګر کې مونږ اندازه وکړه د قيام په اولنيو دوه رکعتو د ماسپښين کې په اندازه د ويلو د الم تنزيل

السَّجْدَةِ) وَ فِيْ رِوَايَةٍ : فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ قَدْرَ ثَلَاثِيْنَ آيَةً وَ

السجدة او په يو روايت کې دي: چې په هر رکعت کې ديرش آيتونو د لوستلو په قدر قيام کولو او مونږ

حَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ قَدْرَ النِّصْف من ذَلِك و حَزَرْنَا قِيَامَهُ فِي

اندازه کړه قيام په آخري دوه رکعتو کې په اندازه د نيم ددې اولنيو رکعتو ، او اندازه کړو مونږ قيام په

الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الْعَصْرِ عَلَى قَدْرِ قِيَامِهِ فِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَفِي الْأُخْرَيَيْنِ مِنَ

اولني دوه رکعتونو د مازيګر په اندازه د قيام د آخري دوه رکعتونو د ماسپخين آخري او آخري رکعتونو د

الْعَصْرِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ ذٰلِكَ .(۱)

مازيګر کې ددې نصف بقدر قيام مونږ اندازه کړې ده.

توضيح: حزرنا: حزر نصر ينصر نه اندازې کولو په معنى سره دى (المرقات ۲/۵۵۷، اشعة اللمعات ۴۰۳) چونکې مازيګر او ماسپخين قرآت سري وي، ځکه د قيام مقدار د اندازې نه معلومولى شي، کله چې خلک نيک وو، نو د قرآن سورتونو نه به يې د مسافت اندازه لګوله زمونږ د نيکونو دا رواج وو چې د لارو اندازې يې د سورة ياسين او کهف نه معلومولې، يو ويل کله د کلي نه ځم، نو دوه ځله سورة ياسين لوستلو سره کورته رسيږم، دويم به وويل زه يو ځلې لوستلو باندې کورته رسم، دغه رنګ اندازه به صحابه کرامو لګوله، حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپخين او مازيګر اول دوه رکعتونو کې قيام الم تنزيل السجدة مقدار فرمايي. او دويم روايت کې دي چې تاسو هر رکعت کې ديرش آيتونو لوستلو په مقدار قيام کولو، مطلب دا دى چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام هر رکعت کې الم تنزيل السجدة بقدر قرآت کوئ.

قدر النصف من ذلك: پوره حديث باندې پوهيدو د پاره ځان داسې پوهول په کار دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د ماسپخين اول دوه رکعته د قيام اندازه کله مونږ د ماسپخين د آخري رکعتونو د قيام نه کوله، داسې معلوميږي چې آخري رکعتونو قيام د اول رکعتونو نه نصف مقدار سره دى، يعنې، رومبو رکعتونو کې قرآت اوږد وي او آخري رکعتونو کې ددې نيم وي او چې د مازيګر مونځ اندازه لګوو، نو د مازيګر اول رکعتونو د قيام مقدار د ماسپخين آخري دوو رکعتونو د قيام مقدار دى. او مازيګر آخري دوو رکعتونو قيام مقدار د مازيګر اول دوو رکعتونو د قيام مقدار نيم دى. ټول شارحين ليکي ددې حديث نه

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۲٤ رقم الحديث: ۱۵٦-۳۵۲، وأبو داؤد ۱/۵۰۵ رقم الحديث ۸۰٤، والنسائي ۱/۲۳۷، رقم الحديث: ٤۷۵ .

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومیږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ آخري دوو رکعتونو کې قرآت کولو او بيا فرمايي دا مسلک د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دی، آخري دوو رکعتونو کې قرآت کول په کار دي، بيا فرمايي دا د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول جديد دی، قول قديم کې په دې آخري دوو کعتونو کې قرآت د سورة ضروري نه دی او فتوی دې باندې ده او دغه د احنافو مسلک دی. آخري دوو رکعتونو کې سورت ملاوول او لوستل نشته، که حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لوستلی وي.

نو د بيان جواز د پاره دې ټولو شارحينو برعکس شارح مشکوة علامه شمس الدين رَحِمَهُ اللهُ صاحب (التعليق الفصيح ص۱۲۵) کې ليکلي، دې حديث کې واضح اشکال دی او هغه دا دی چې مازيګر اول دوه رکعتو کې ضم د سورت وي او د ماسپخين آخري دوو رکعتونو کې ضم سورت نشته، نو ډاډو کې مقدار څنګه يو کيدی شي، ددې جواب شيخ شمس الدين دا ورکړو، دلته دې مونځونو او ددې رکعتونو قرآت کې مساوات او برابري مراد نه ده او دې حديث کې د قرآت مساوات ذکر نه دی، بلکې دلته صرف د قيام ذکر دی، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قيام اول رکعت کې څومره دی او آخري رکعتونو کې څومره دی کيدی شي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخري دوو رکعتونو کې فاتحه داسې ترتيل سره لوستلی وي چې اول رکعتونو د وخت سره د هغې وخت نيم کيږي. خلاصه دا چې دلته د قيام مقدار خبره ده د قرآت خبره نه ده، اولنو دوو رکعتونو کې فاتحې نه پس ضم سورت کيږي او آخري دوو رکعتونو کې نه کيږي، نو دغه د اول رکعتونو په نصف مقدار کې دي، ډير ژور وضاحت وشو، د حديث مطلب واضح او مناسب دی. احناف فقهاء ليکي آخري دوو رکعتونو کې مسنون دا ده چې فاتحه وويلی شی، ورنه تسبيحات وکړه يا خاموش شه اختيار دی. زه وايم که چرته امام نه وروسته مقتديان آخري رکعتونو کې فاتحې د لوستلو اهتمام وکړي اول رکعتونو کې فاتحه نه لوستل د لوستلو قائمقام شي، او اختلاف نه به بيخ شي.

﴿۸﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ بِـ(اللَّيْلِ
د جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به ويلو د ماسپخين په مونځ کې سورة والليل
إِذَا يَغْشٰى) وَفِي رِوَايَةٍ بِـ (سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) وَفِي الْعَصْرِ نَحْوَ ذٰلِكَ
اذا يغشى اويو روايت کې دي چې سورة **سبح اسم ربک الاعلى** يې ويلو او مازيګر مونځ کې هم دغه شان

وَ فِي الصُّبْحِ أَطْوَلَ مِنْ ذٰلِك [1].

لوستلو او سحر مونځ کې ددې نه يې اوږد قرآت کولو.

دمابنام په مونځ کې قرآت

﴿۹﴾ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ

د حضرت جبير بن مطعم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ما اوريدلي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د مابنام مونځ

بِـ « الطُّورِ » . [2]

کې سورة طور ويلو.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أُمِّ الْفَضْلِ بِنْتِ الْحَارِثِ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ

دام الفضل بنت حارث رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې: ما اوريدلي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به لوستلو د مابنام

بـ (الْمُرْسَلَاتِ عُرْفًا) [3].

په مونځ کې والمرسلات عرفا.

توضيح: (يقراء في المغرب بـ المرسلات: بعضې روايتو کې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به مابنام مونځ کې سورة اعراف، سورة انفال او سورة دخان لوستلو، دلته حديث سره د نورو احاديثو ذکر شريکيږي.

دې ټولو احاديثو نه دا خبره واضحه کيږي، مونځ کې يو رکعت سره څه خاص سورة متعلق نه دی او نه مونځ سره څه خاص سورة يا آيت ترلی دی. (اشعة اللمعات ۴۰۴)

دويمه خبره دا زده کول په کار دي، چې هغه اوږده سورتونه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لوستلي دي. دا په ښکاره معلوميږي، يا خو دا د هغه معجزه وه، يا دا اوږده سورتونه لوستل دې باندې محمول دي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کې ددې يوه حصه لوستلې ټول سورت مراد نه دی. اګر چې نوم د پوره سورت دی. يا تاسو ډيرو رکعتونو کې يو سورت تقسيم کړی لوستلی وو.

---

(۱) أخرجه مسلم ۳۳۷/۱ رقم الحديث: ۱۷۰-۳۵۹، وأبو داود ۵۰۶/۱ رقم الحديث :۸۰۶، والنسائي ۱۶۶/۲، رقم الحديث: ۹۸۰.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۴۷/۲،رقم الحديث : ۷۶۵، ومسلم في الصحيح ۳۳۷/۱ رقم الحديث: ۱۷۴-۴۶۳، وأبو داود ۵۰۸/۱ رقم الحديث :۸۱۰، والنسائي ۱۶۹/۲، رقم الحديث: ۹۸۷.

(۳)أخرجه البخاري في الصحيح ۲۴۶/۲،رقم الحديث :۷۶۳، ومسلم في الصحيح ۳۳۸/۱ رقم الحديث: ۱۷۳-۴۶۲، وأبو داود ۵۰۸/۱ رقم الحديث :۸۱۰، والنسائي ۱۶۸/۲، رقم الحديث: ۹۸۵ .

Maktaba Tul Ishaat.com

په نفل کوونکي پسې د فرض کوونکي د اقتداء حکم :

﴿۱۱﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: كَانَ مُعَاذُ بْنُ جبلٍ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ثُمَّ يَأْتِي

د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره مونځ کولو بيا به راتلو

فَيَؤُمُّ قَوْمَهُ فَصَلَّى لَيْلَةً مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ الْعِشَاءَ

او بيا به يې خپل قوم ته مونځ ورکولو نو (يو ورځ) هغوي د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د ماسخوتن مونځ وکړو

ثُمَّ أَتَى قَوْمَهُ فَأَمَّهُمْ فَافْتَتَحَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ فَانْحَرَفَ

او بيا راغې دقوم امامت يې وکړو او مونځ کې يې سورة بقره شروع کړه (کله چې قرآت اوږد شو) نوراووتو

رَجُلٌ فَسَلَّمَ ثُمَّ صَلَّى وَحْدَهُ وَ انْصَرَفَ فَقَالُوْا

يو کس د جومات نه او سلام يې واړولو او ځان له مونځ يې وکړو او لاړو خلکو چې وکتل نو وې ويل

لَهُ أَنَافَقْتَ يَافُلَانُ قَالَ لَا وَ اللهِ وَ لَآتِيَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ورته منافق شوي اي فلانيه! هغه وويل: نه په الله قسم دی (زه منافق نه يم) زه به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ورځم

فلأخبرنه فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ

او د حقيقت حال نه به يې خبر کړم دغه کس بارګاه رسالت کې حاضر شو او عرض يې وکړو يا رسول الله

إِنَّا أَصْحَابُ نَوَاضِحَ نَعْمَلُ بِالنَّهَارِ وَ إِنَّ مُعَاذًا صَلَّى مَعَكَ الْعِشَاءَ ثُمَّ أَتَى

مونږ اوښان والا يو د ورځې کار وکړو او بيشکه معاذ ستاسو سره د ماسخوتن مونځ وکړو بيا راغې او

قَوْمَهُ فَافْتَتَحَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلَى مُعَاذٍ

مونږ ته يې مونځ وکړو او سورة بقره يې په کې شروع کړه، نو متوجه شو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته

فَقَالَ : " يَا مُعَاذُ أَفَتَّانٌ أَنْتَ ؟ اقْرَأْ : " وَ الشَّمْسِ وَ ضُحَاهَا "

او وې فرمايل: اى معاذه! آيا ته فتنه پيدا کولو والا يې بهتره داده چې ته ووايي : والشمس وضحها،

"وَ الضُّحَى" "وَ اللَّيْل إِذَا يَغْشٰى" وَ "سَبِّحِ اسْمِ رَبِّكَ الْأَعْلَى". (١)

سورة والضحى. سورة والليل اذا يغشى او سورة سبح اسم ربک الاعلى.

توضيح: كان معاذ بن جبل: ددې حديث عمومي مفهوم دا دی، چې حضرت معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مدينې منورې کې يو محلې کې اوسيدو او خپلې محلې والاو ته به يې مسجد کې مونځ ورکولو او کله به مسجد نبوي کې مونځ ته تلل راتلل کول او کله به يې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اقتداء کې مسجد نبوي کې د ماسخوتن مونځ کولو، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله د ماسخوتن مونځ تاخير سره اداء کولو او قرآت به هم طويل وو، مونځ اداء کولو سره به ماسخوتن کې تاخير يعنې ناوخته کيدو او چې کله به معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مسجد نبوي نه فارغ شو نو خپل مسجد طرف ته به تللو هغې کې به هم وخت لګيدو او محلې والاو به انتظار کولو، کله چې به يې مونځ ورکولو سورة بقره اوږده سورتونو سره به يې اوږد قرآت کولو، يو ځلې داسې وشو چې د غې صحابه کې سليم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يا حزام رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مونځ مات کړو او ځانته يې اداء کړو، خلکو دا ملامته کړو چې ته منافق شوی يې، هغه اوويل منافقت خبره نه ده، زه به ضرور د نبي عَلَيْهِ السَّلَام وړاندې د معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ شکايت کوم، چنانچه ده شکايت وکړو او ويې ويل مونږ مزدوري کونکي خلک يو سترې خلک يوو، ږومبی د معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ انتظار کوو، بيا د هغې اوږد مونځ برداشت کوو، ځکه تيره شوې شپې مونځ ما ځانله وکړو، نبي عَلَيْهِ السَّلَام حضرت معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته په غوسه شو او ويې فرمايل آيا تۀ خلک په فتنه کې اچوې، داسې مه کوه بلکې داسې کوه، يا زما نه شاته مونځ کوه او خلکو ته مونځ مه کوه، يا ما پسې مونځ مه کوه، خو په دې کې هم خيال کوه چې مختصر مختصر سورتونه وايه. (المرقات ٢/٥٦٠، اشعة اللمعات ٤٠٥).

اوس ددې واقعې د وجې نه په فقهاو کې اختلاف راغلی، متنفل امام پسې د مفترض مونځ جائز دی يا نه. ځکه چې معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نفل کونکی وو او د محلې والا خلک مفترضين وو، ځکه چې معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرض مونځ به نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره کوو.

د فقهاو اختلاف: د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد متنفل پسې مفترض مونځ جائز دی، امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ يو قول هم داسې دی شوافعو په نزد نابالغ ماشوم امامت هم ددې اصولو دلاندې جائزدی.

د شوافعو دلائل: شوافع حضرات د معاذ بن جبل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زير بحث حديث او ددې واقعې نه استدلال کوي او وايي دا ښکاره چې معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرض مخکې کړي وو او اوس د محلې والاو ته چې کوم

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ١٠/٥١٥، رقم الحديث: ٦١٠٦، ومسلم في الصحيح ١/٣٣٩ رقم الحديث: ١٧٨-٤٦٥، وأبو داود ١/٥٠٠ رقم الحديث: ٧٩٠، والنسائي ١/١٧٢، رقم الحديث: ٩٩٨

Maktaba Tul Ishaat.com

امامت کوي هغې کې دا متنفل وو او متنفل پسې د مفترض مونځ جائز دی. دغه رنګ عمرو بن سلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يو نابالغ ماشوم خپل قوم ته مونځ ورکولو، هغه هم متنفل وو او قوم مفترض وو، څنګه چې باب **الامامة** حديث نمبر (۱۰) د لاندې ليکلی شوي دي دا قصه به راشي. امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ او مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د يو قول مطابق امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ دليل ترمذي او ابوداود کې حديث دی، الفاظ دادي: **الامام ضامن و المؤذن مؤتمن**، دې حديث کې د امام مونځ متضمن اسم فاعل ګرځولی شوی دی يعنې يو څيز ترخ کې اخيستونکی. او د مقتدي مونځ متضمن اسم مفعول ګرځولی شوی دی او دا خبره ښکاره ده، د متنفل مونځ د قوت او کيفيت په اعتبار سره کمزوری دی او د مفترض مونځ د قوت په اعتبار سره مضبوط او قوي دی.

انما جعل الامام ليؤتم به: حديث هم دا تعليم ورکوي، امام اعلی وي او متنفل امام ادنی وي، لهذا دا اقتداء جائز نه ده، دلته يو بنيادي قاعده ده د هغې د وجې نه دا اختلاف او قرآت خلف الامام اختلاف راغلی، هغه دا امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې امام او مقتدي مونځ کې اتحاد نشته دی، زمونږ په نزد باندې د امام او مقتدي مونځ کې اتحاد شته دی، د هغوئ په نزد باندې اتحاد نشته صرف افعالو کې اشتراک دی، لهذا جدا جدا مونځ دی هرې طريقې سره جائز دی. د جمهورو دويم دليل دا دی اسلام کې د صلوة خوف طريقه ده، که متنفل پسې مفترض مونځ کيدای، نو امام دوه يا درې ځله ځان له جماعت کولی او مقتديانو ته مونځ کې تلل راتلل دا ټول مشقت به نه برداشت کيدی.

جواب: د جمهورو د طرف نه د شوافعو مستدل او د حضرت معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د حديث ډير جوابونه دي:

(۱) اول جواب دا دی: د معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ واقعه هغه وخت باندې محمول ده، چې فرض مونځ به دوه ځلې کيدو بياطريقه منسوخ شوه، دې باندې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دلالت کوي، شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللَّهُ لمعات کې دا حديث داسې نقل کړی دی: **نهى ان تصلى فريضة فى يوم مرتين** (لمعات ج ۳ ص ۱۳۸) (اشعة اللمعات ۴۰۵) امام طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ هم داسې رايې ورکړې چې دا عمل منسوخ شوی دی.

(۲) د چا د نيت علم چا ته هم نه وي، حضرت معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عمل کې دا احتمال وو، چې دوي د حصول فضيلت د وجې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اقتداء کې نفل کړي وو او بيا يې خپل قوم ته فرض مونځ کړی دی، چې د جماعت فضيلت هم ملاو شي، بلکې جمع د فضيلتينو حاصله شي.

(۳) دريم جواب دا دی: چې د معاذ بن جبل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا عمل دده خپله رايې او خپل اجتهاد وو، دې باندې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تقرير او توثيق نه وو، کله چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته معلومه شوه، نو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خفګان اظهار وکړو.

(۴) څلورم جواب دا دی: د ماسخوتن اطلاق مانبام باندې هم کیږي، چې دې ته ماسخوتن اولی ویلې کیږي او عشاء باندې هم ددې اطلاق عام دی دې ته عشاء آخره ویلی کیږي، نو قوي احتمال دی، چې دلته د مانبام مونځ مراد دی او ددې تذکره ترمذي (ص،۷۵) باندې هم ملا ویږي.

(۵) ددغه خلکو دوه شکایاتونه وو، اول دا چې ماسخوتن کې تاخیر کیږي، دویم دا چې قرآت کې طوالت کیږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه جوابه وکړه، اول دا چې دوه ځایه د ماسخوتن مونځ مۀ کوه او که د قوم سره دی مونځ کولو، نو قرآت کې تخفیف کوه، نو دیو منهی عنه فعل نه څنګه استدلال کولی شي، باقي د عمرو بن سلمة رضی الله عنه د حدیث بیان هغه ځای کې راځي کوم ځای کې چې هغه حدیث راځي. د حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه او فعل کې ډیر احتمالات دي، ځکه ددې نه استدلال نه کیږي، اقراء، **والشمس وضحها**، یعنې دا سورت وایه، هغه سورت وایه او د وړو سورتونو نه وایه، دې نه مقصد دا نه دی چې اول رکعت کې سورت شمس وایه او دویم رکعت کې سورت اعلی وایه، یعنې داسې لوستل ترتیب مصحف خلاف دی، ځکه چې سورت اعلی مخکې دی، بلکې حدیث کې واؤ مطلق جمع د پاره دی، یعنې سورتونو کې تخفیف د پاره کوم لولې، ځکه چې مسنونه طریقه ترتیب مصحف مطابق لوستل دي او ددې خلاف لوستل خلاف اولی دي، خو یو کس که د یو سورت په آیتونو کې تقدیم او تاخیر کوي دا ناجائز دی، و جه د فرق دا ده د آیتونو ترتیب قطعي او توقیفي دی او سورتونو ترتیب نزول نه پس د صحابو اجتهاد دی، همدارنګه ایتونو کې تقدیم او تاخیر سره مضمون او معانیو کې فرق راځي او سورتونو کې داسې نه وي، دې حدیث نه امت ته دا تعلیم حاصل شو چې امام ته په کار دي چې هغه د مقتدیانو په هر لحاظ سره د مونځ خیال وساتي، چې نفرت کونکي او منتشر نه شي.

د نبي کریم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ آواز مبارک ډیر زیات نبائسته ؤ

﴿۱۲﴾ وَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِشَاءِ:

د حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې ما اوریدلي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام به لوستل د ماسخوتن مونځ

(وَ التِّيْنِ وَ الزَّيْتُوْنِ) وَمَا سَمِعْتُ أَحَدًا أَحْسَنَ صَوْتًا مِنْهُ .(۱).

کې سورة والتین والزیتون او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آواز نه د بل چا آواز نبائسته نه وو اوریدلی.

توضیح: احسن صوتا: څنګه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باطني کمالاتو کې د ټولو نه ډیر کامل او اکمل انسان وو، د غه رنګ الله تعالی ورته ظاهري او جسماني نبائسته والی او کمالات ورکړي وو، څنګه

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۵۱،رقم الحديث : ۷۶۹، ومسلم في الصحيح ۱/۳۳۹ رقم الحديث:۱۷۷-٤٦٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

چې الله تعالى حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته حسن صورت ورکړې وو، دغه رنګ يې ورته ښائسته آواز هم ورکړی وو، ددې تذکره حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې حديث کې کړې ده، دا څه د جذباتو يا د مبالغې اظهار نه وو، بلکې دا د صحابي د بيان قوت آخري حد کيدی شي، خو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کمال پيغمبری ابتدائي حد وي. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ ددې حديث لاندې ليکي ابن عساکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو حديث نقل کړی دی، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: الله تعالى کله يو پيغمبر ليږلې، نو هغه ته ښائسته آواز او حسن صورت والا مخ مبارک ورکړی تر دې چې الله تعالى ستاسو پيغمبر محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليږلو هغه ته يې هم ښائسته آواز او ښائسته شکل ورکړی ؤ (مرقات ج ۳ ص ۲۹۲) (المرقات ۲/۵۶۳)

آحاديثو کې راغلي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آواز به هغه ځای پورې رسيدو کوم ځای پورې چې د چا آواز نه رسيدو، د بهيقي يو روايت کې دي چې يو ځلې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه ورکړه په کورونو کې زنانوو هم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آواز واوريدو، ابو نعيم د عبدالله ابن رواحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو حديث نقل کوي، هغه فرمايي زه په بنو تميم کې وم د جمعې په ورځ په منبر باندې مې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آواز واوريدو، نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايل کينئ دابن ماجه يو روايت کې دي، چې ام هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تلاوت هغه وخت واوريدو، کله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې په وخت کعبې سره ناست وو تلاوت يې کولو، او ام هانی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خپل کور کې وه. بهر حال داسې دې ولې نه وي چې کله:

جهاں کے سارے کمالات ایک تجھ میں ہیں ❁ ترے کمال کسی میں نہیں مگر دو چار

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په مونځ کې مختلف سورتونه لوستل

﴿۱۳﴾ وَ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ بـ(ق وَ الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ) وَ نَحْوِهَا وَ كَانَتْ صَلَاتُهُ بَعْدُ تَخْفِيفًا.(۱)

د حضرت جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به لوستل د سحر مونځ کې (ق والقرآن المجيد) يا داسې يو بل سورة او بيا به هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ سپک وو.

توضيح: تخفيفاً: يعنې سحر کې سورة ق وغيره طويل قرآت باوجود به بيا هم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ سپک وو، ځکه چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرآت به د خوند نه ډک وو، ددې جملې ډير مفهومات دي. (اشعة اللمعات ۴۰۶).

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۳۳۷، رقم الحديث: ۱۶۸-۴۵۸، وأخرجه أحمد في المسند ۵/۹۱.

علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ دا مطلب بيان كړی دی، چې د سحر مونځ نه علاوه نور څلور مونځونه سپک وو د سحر مونځ به اوږد وو، عامو شارحينو دا مطلب بيان كړی دی، خو دا زړه ته نه لږي. ځكه چې د حديث الفاظ او عربيت ذوق دا نه قبلوي. علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ د دې جملې مطلب دا بيان كړی، چې (بعد) تعلق زماني سره دی، يعنې ابتدائي هجرت كې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ به مسجد نبوي كې اوږد وو، ځكه چې خلک به كم وو، چې خلک ډير شو، نو بيا د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ مختصر شو، دا مطلب د حديث سره څه نزدې دی. (المرقات ۲/۵۶۳).

صاحب سفر سعاده ليكي د نورو امامانو په نسبت نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ طويل مونځ مختصر بنكاره كيدو تولونه مخكې چې كوم مطلب ليكلی دی هغه د شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ رايه ده، زما په خيال دغه مطلب راجح دی، دا ټول اشعة المعات كې مذكور دي (اشعة اللمعات ج۱ ص۴۰۶)

﴿۱۴﴾ وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ : أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقْرَأُ
د حضرت عمرو بن حُريث رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوريدلي چې لوستل به يې د
فِي الْفَجْرِ (وَاللَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ)[1]
سحر مونځ كې والليل اذا عسعس.
﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ: صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصُّبْحَ بِمَكَّةَ
د عبد الله بن سائب نه روايت دی وايي چې : مونځ وكړو مونږ ته نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د سحر په مكه كې نو
فَاسْتَفْتَحَ سُورَةَ (الْمُؤْمِنِينَ) حَتَّى جَاءَ ذِكْرُ مُوسَى وَ هَارُونَ أَوْ ذِكْرُ عِيسَى
شروع يې وكړه په سورة المؤمنين سره، كله چې راغې ذكر د موسى او د هارون يا د عيسى عَلَيْهِمَا السَّلَامُ نو
أَخَذَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ سَعْلَةٌ فَرَكَعَ .[2]
ونيو نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ توخي، بيا نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ركوع ته ولاړو.

توضيح: حتى جاء ذكر موسى: يعنې سورة مومنون آيت ﴿ثُمَّ أَرْسَلْنَا مُوسَى وَأَخَاهُ هَارُونَ﴾ ته چې كله حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورسيدو، نو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زړه مبارک به ډک شو او په ژړا به شو، د دغې وجې نه به د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مری وچه شوه، نو توخی به ورته راغی، نو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۳۶ رقم الحديث: ۱۶۴-۳۵۶، وأبو داود ۱/۵۱۱ رقم الحديث: ۸۱۷.

(۲) أخرجه مسلم ۱/۳۳۶ رقم الحديث: ۱۶۳-۴۵۵، وأبو داود ۱/۴۲۶ رقم الحديث: ۶۴۹، والنسائي ۲/۱۷۶، رقم الحديث: ۱۰۰۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

سورة ختمولو نه مخكې ركوع ته لاړو. (المرقات ۲/۵۵٦).

او ذكر عيسى: او د شک د پاره دی، راوي ته شک دی، د حضرت عيسى ذكر دا سې دی: ﴿وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً﴾. سعلة دا لفظ د سين په فتحې او ضمې دواړو سره دی د ژړلو د وجې نه مری وچه شي او تو خی راشي، ډغې ته سعلة وايي.

د جمعې ورځې د سحر په مونځ کې کوم سورة وويل شي

﴿۱٦﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْفَجْرِ يَوْمَ
د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به ويلو د سحر په مونځ کې په ورځ
الْجُمُعَةِ بِـ(الم تَنْزِيلُ) فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى وَفِي الثَّانِيَةِ (هَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ). (متفق عليه)[1]
د جمعې په اول رکعت کې: الم تنزيل، او په دويم رکعت کې: هل اتى على الانسان.

توضيح: د جمعې په ورځ سحر مونځ کې الم تنزيل يعنې سورة سجدة په (۲۱) سپاره کې دی د دې نوم سجده ده، په دريو ركوع باندې مشتمل دی، دا به يې اول رکعت کې لوستلو (المرقات ۲/۵٦٦). او سورة دهر به يې په دويم رکعت کې لوستلو، قرآن كريم کې يو حم السجده ده دغه سورة مراد نه دی. شوافع حضرات فرمايي دې حديث باندې عمل کولو سره د جمعې په ورځ سحر دا دواړه سورتونه لوستل په کار دي، احناف فرمايي متعين طور باندې لازمول نه دي په کار، ځکه چې دې سره د عقيدې نقصان کېږي، ها ظاهري حديث باندې عمل کول مستحب دي او اولى دي، په دې شرط چې د دغې سنت تابعداري کول په ارادې سره وي او د لزوم عقيده نه وي، ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې سورتونو نه علاوه جمعې په سحر کې نور سورتونه هم ويلي دي، دوام ثابت نه دی او غير دوام لوستلو نه احناف منكر نه دي.

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ قَالَ: اسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَلَى
د حضرت عبيد الله بن ابي رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې خليفه مقرر کړو مروان ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په
الْمَدِينَةِ وَخَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فَصَلَّى لَنَا. أَبُو هُرَيْرَةَ
مدينه منوره او په خپله مکې ته لاړو نو مونځ وکړو مونږ ته (دهغه عدم موجودګی) کې ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۷۷، رقم الحديث: ۸۹۱، ومسلم في الصحيح ۲/۵۹۹ رقم الحديث: ٦۵-۸۸۰، وأبو داود ۱/٦۴۸ رقم الحديث: ۱۰۷۴، والنسائي ۲/۱۵۹، رقم الحديث: ۹۵۵.

الْجُمُعَةَ فَقَرَأَ سُورَةَ (الْجُمُعَةِ) فِي السَّجْدَةِ الْأُولَى وَفِي الْآخِرَةِ: إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ فَقَالَ:

د جمعې نو اول رکعت کې سورة جمعه او دويم رکعت کې سورة اذا جاءک المنافقون ولوستو او وې ويل

سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ بِهِمَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ .(١)

ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه د جمعې په ورځ د دې دواړو سورتونو لوستل اوريدلي دي.

﴿١٨﴾ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْعِيدَيْنِ

د نعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به لوستل د دواړو اخترونو په مونځ کې

وَفِي الْجُمُعَةِ بِـ(سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى) وَ (هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ) قَالَ:

او د جمعې په مونځ کې سبح اسم ربک الاعلى او هل اتاک حديث الغاشية. او نعمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي:

وَإِذَا اجْتَمَعَ الْعِيدُ وَالْجُمُعَةُ فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ قَرَأَ بِهِمَا فِي الصَّلَاتَيْنِ .(٢)

چې به جمع شو اختر او جمعه په يوه ورځ نو لوستل به يې په دواړو کې دا دواړه سورتونه.

﴿١٩﴾ وَعَنْ عُبَيْدِ اللهِ: أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ:

د عبيد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تپوس وکړو د ابو واقد ليثي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه

(مَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ؟ فَقَالَ:

چې څه به لوستل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په ورځو کې او غټ اختر مونځونو کې، هغوئ وويل چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دغه

كَانَ يَقْرَأُ فِيهِمَا: بِـ(ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ) وَ(اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ).(٣)

دواړو مونځونو کې سورة ق والقرآن المجيد او اقتربت الساعة لوستلو.

﴿٢٠﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي رَكْعَتَيِ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به لوستلو په دواړو سنت رکعتونو د

---

(١) أخرجه مسلم في الصحيح ٢/٥٩٧ رقم الحديث: ٦١-٨٧٧، وأبو داود ١/٦٧٠ رقم الحديث: ١١٢٤.

(٢) أخرجه مسلم ٢/٥٩٨ رقم الحديث: ٦٢-٨٧٨، وأبو داود ١/٦٧٠ رقم الحديث: ١١٢٢، والنسائي ٣/١١٢، رقم الحديث: ١٤٢٤.

(٣) أخرجه مسلم ٢/٦٠٧ رقم الحديث: ١٤-٨٩١، وأبو داود ١/٦٨٣ رقم الحديث: ١١٥٤، والنسائي ٣/١٨٣، رقم الحديث: ١٥٦٧.

Maktaba Tul Ishaat.com

الْفَجْرِ :(قُلْ يَاأَيُّهَاالْكَافِرُونَ)و (قل هُوَالله أَحَدٌ) .(۱)

سحر کې قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد .

﴿۲۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقْرَأُ فِي رَكْعَتَي الْفَجْرِ :

د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به لوستل په دواړو سنت رکعاتو نود سحر کې

(قُولُوا آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا) وَالَّتِي فِيْ آلِ عِمْرَانَ (قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ

قولوا امنا بالله وما انزل الينا او هغه چې په سورة آل عمران کې دی : قل يا اهل الكتب تعالوا الى كلمة

سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ) (۲).

سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ.

الْفَصْلُ الثَّانِي:

په مونځ کې بسم الله په مزه ويل

﴿۲۲﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْتَتِحُ صَلَاتَهُ بِـ(بِسْمِ اللهِ

د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به شروع کولو خپل مونځ په بسم الله

الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم) . (۳) وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَاكَ.

الرحمن الرحيم سره ، امام ترمذي ويلي دي چې د دې حديث اسناد قوي نه دی.

توضيح: د دې حديث پوره توضيح او تفصيل او د فقهاو اختلاف باب صفة الصلوة حديث نمبر (۲) د لاندې ليکلی شوي دي، دا حديث د احنافو دليل دی، بسم الله لوستل په کار دي او امام ترمذي دې روايت ته بلا وجه ليس اسناده بذالک ويلی دی او حالانکې دا حديث حسن او صحيح الاسناد دی.

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۰۲ رقم الحديث:۹۸-۷۲۶.

(۲) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۰۲ رقم الحديث:۱۰۰-۷۲۷.

(۳) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۱٤ رقم الحديث : ۲٤۵ وقال ليس اسناده بذاک.

د آمين بالجهر حكم

﴿٢٣﴾ وَعَنْ وَائِل بْنِ حجر قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يقْرَأُ: (غَيْرِ

د وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ما د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه واوريدل چې وي لوستلو غير

الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّيْن) فَقَالَ: آمِينَ مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ. (١)

المغضوب عليهم ولا الضالين او بيا يې په اوږد آواز سره آمين وويله.

توضيح: فقال آمين: لفظ آمين کې رومبی دا بحث دی، چې دا د کوم لغت او ژبې لفظ دی بعضې علماء د فارسي تسليم کړی دی، دا لفظ (همين) وو ددې معنی کذالک ده. دې نه عربي جوړه شوه، نو آمين شو. مطلب دا چې امام قرآءت وکړي او امين ووايي بيا مقتدي دې پدې باندې د مهر تصديق ولګوي او امين دې ووايي، (چې صحيح يې ويلي دي هم داسې ده) بعضې علماء دا د عبراني او سرياني ژبې لفظ تسليم کړی دی دې ژبو کې داسی اوزان ډير راځي، څنګه چې هابيل، قابيل. ميکائيل او اسرافئيل دا الفاظ په دغو ژبو کې په معنی د استجب راځي، بعضې نور علماء فرمايي دا لفظ اعجمي نه دی. بلکې دا د عربي لفظ دی او عربو استعمال کړی دی. مجنون ليلى وايي:

آمين آمين لا ارضى بواحدة ❁ حتى اضم اليها الفين امينا

بيا وايي:

اللهم لاتسلبنى حبها ابدا ❁ ويرحم الله عبدا قال امينا

دا لفظ دوه قسمه شوی دی، يعني بالقصر (امين) او بالمد (آمين) دواړه قسمه صحيح دي او امينا الف اشباعي سره هم صحيح دی، ددې لفظ دوه قسمه لوستل غلط دي. لکه امين. دويم الف باندې مد او ميم باندې شد سره لوستل غلط دي، لکه آمين د قصد په معنی سره دی، آمين مسئله کې دوه ځايه کې اختلاف دی، رومبی اختلاف دې کې دی آيا آمين ضرف د مقتدي وظيفه ده يا د امام او مقتدي دواړو وظيفه ده. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې دا صرف د مقتدي وظيفه ده او حديث (اذا قال الامام ولاالضالين فقولوا آمين) دلته د تقسيم د کار دی، د امام کار فاتحه لوستل دي او د مقتدي

---

(١) أخرجه أبو داود في السنن ١/٥٧٤ رقم الحديث: ٩٣٢، وأخرجه الترمذي في السنن ٢/٢٧، رقم الحديث. ٢٤٨.

Maktaba Tul Ishaat.com

کار **آمين** ويل دي، جمهور فقهاء او ائمه ثلاثه فرمايي ، چې **آمين** د امام او مقتدي دواړو وظيفه ده. ددې دليل د صحيحينو روايت دی (**قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا امن الامام فامنوا**) چې کله امام **آمين** ووايي تاسو هم آمين وايي. جمهور د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ د دليل جواب ورکوي دغه دليل په خپله دعوی باندې صريح نه دی، بلکې صرف اشارة النص نه استدلال دی په خپله جمهورو د عبارة النص نه استدلال کړی دی چې اولی او ارجح دی سري مونځ کې دا صرف د امام وظيفه ده. فرقه ضالة. شيعه، شنيعه او رافضه مرفوضه آمين ويلو ته مفسد صلوة ويلی ، ابن حزم ظاهريه او غير مقلدين آمين ويلو ته واجب وايي .آمين کې دويم اختلاف دې کې دی، چې آيا آمين په تيزه جهرا لوستلی کيږي يا سراً.

د فقهاو اختلاف: آمين جهرا او سرا لوستلو کې د څلورو امامانو اتفاق دی دواړه قسمه لوستل جائز دي. په يو جانب کې هم کراهت نشته، خبره صرف دومره ده چې احنافو جهرا لوستلو ته د مسنون اطلاق نه کوي، بلکې د جائز درجه کې يې مني او شوافع حضرات سرا لوستلو ته جائز وايي او جهرا ته افضل وايي ، دا اختلاف اصل کې د افضل او غير افضل دی د جائز او غير جائز نه دی امام شافعي او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُمَا اللهُ جهري مونځ کې آمين بالجهر ته افضل وايي او احناف او مالکيه آمين بالسر افضل ګرځولی دی.

دلائل: شوافع او حنابله زيربحث حديث د وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه استدلال کړی هغه کې **مدبها صوته** الفاظ راغلي، ددې مطلب دغه حضراتو په نزد باندې (**رفع بها صوته دی**)

د شوافعو دويم دليل د بشر بن رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی دې کې **رفع بها صوته** الفاظ راغلي دي چې خپل مدعا باندې صريح دليل دی، ابن ماجه روايت دی: **حتى يسمعها الصف الاول فيرتج بها المسجد.** **(كذا في اللمعات)** (اشعة اللمعات ۴۰۹)

د شوافعو دريم دليل د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی چې ابوداود نقل کړی دی هغې کې دا الفاظ راغلي دي (**كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا تلا غير المغضوب عليهم ولا الضالين قال آمين حتى يسمع من يليه من الصف الاول.** (لمعات ج ۲ ص ۱۴۴) (اشعة اللمعات ۴۰۹)

امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ خپل کتاب ترمذي شريف کې دواړه روايات نقل کړي دي يو کې جهر ذکر دی، دويم کې عدم جهر ذکر دی، بيا امام ترمذي جهري روايت ته ترجيح ورکړه او امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ په حوالې سره عدم جهر روايت باندې اعتراضات وارد کړي دي.

داحنافو او مالکيو رومبی دليل د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی، دغه صاحب هدايه هم نقل

کړی دی او استدلال یې تري کړی دی، اصل روایت حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه منقول دی. الفاظ یې دا دي: (**عن عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال يخفى الامام اربعة اشياء التعوذ والبسملة و امين و سبحانک اللهم و بحمدک و عن ابن مسعود مثله** (لمعات، ج۳، ص۱٤٤)(اشعة اللمعات٤٠٩)

دې روایت ته صاحب هدایه روایت بالمعنی ویلی دی، ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایي :

اربع يخفيهن الامام و ذكر من جملتها التعوذ و التسمية و امين. (هدایه، ص ۱۰۳)

(۲) د احنافو دویم دلیل جمع الجوامع کې روایت دی علامه سیوطي رَحِمَهُ اللَّهُ نقل کړی دی الفاظ دا دي: (**عن ابي وائل قال كان عمر و علي لا يجهران بالبسملة ولا بالتعوذ والا آمين.** (رواه جرير والطحاوي كذا في اللمعات) (اشعة اللمعات٤٠٩)

(۳) د احنافو دریم دلیل د سمرة بن جندب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت دی (مشکوة ص ۷۲) باندې داسې منقول دي **عن سمرة بن جندب انه حفظ عن رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سكتتين سكتة اذا كبر وسكتة اذا فرغ من قرآءة غير المغضوب عليهم ولا الضالين فصدقه ابي بن كعب.** (ابو داود)

دې روایت کې ولا الضالین وخت کې چې کومه سکته ذکر ده دا صرف آمین بالسر لوستلو د پاره ده.

(۴) د احنافو څلور دلیل تهذیب الاثار کې د طبراني روایت دی الفاظ یې دا دي.

(عن ابي وائل قال لم يكن عمر وعلي يجهران ببسم الله الرحمن الرحيم والا آمين)

(۵) د احنافو و مالکیو پنځم دلیل دغه د وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت دی هغه داسې دی: **عن وائل بن حجر ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرء غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقال آمين و خفض بها صوته.** (ترمذي ص ٣٤)

روایات او اثار دواړو طرف ته شته، خو مدار د اختلاف دغه روایت د وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې دی شوافعو مدبها صوته د راویانو د وجې او قوت د سند په اعتبار سره راجح ګرځولی دی او د احنافو مستدلات یې څه نا څه وجه باندې معلول ګرځولې دی، د شوافعو دا مستدل سفیان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ نقل کړی دی (المرقات ۲/۵۷۱) او د سفیان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ سند دوي عمده ګرځولی دی او د احنافو طریق سند شعبه نقل کړی دی. احناف دې ته په سفیان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ باندې ترجیح ورکوي اتۀ اتۀ ترجیحات بیان کولی شي، خو فیصله نه کېږي احناف او مالکیه د قرآن د دې آیت نه هم آمین بالسر باندې استدلال کوي: ﴿ادْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ﴾ (سورة اعراف، آیت ۵۵).

د استدلال طریقه داسې ده آمین دعاء ده او د دعاء په باره کې د قرآن اعلان دی چې دعاء په مزه غواړه،

Maktaba Tul Ishaat.com

لهذا آمين هم په مزه وايي.

جواب: ائمه احنافو د وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت مدبها صوته جواب دا ورکړی، په زوره سره لوستلو کې دا نص صريح نه دی، بلکې مدبها مطلب دا هم کيدی شي، دراز آواز سره آمين لولئ دا جواب کمزوری دی اصل جواب دا دی، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقينا اوچت آواز باندې آمين ويلي دی، خو دا په تعليم امت باندې محمول دی، لکه څنګه چې د ماسپخين مونځ کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرآت په تيزه باندې کړی وو. **رفع بهاصوته** هم دا جواب دی، بهر حال شروع کې ويلي شوي دي، چې دا اختلاف د افضل اوغير افضل دی دا اختلاف په حقيقت کې اختلاف نه دی.(شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې ليکي **والظاهر الحمل على كلا الفعلين تارة فتارة**) يعنې ظاهره دا ده چې، دواړه فعله جائز دي، کله زور سره کله په مزه باندې دواړه قسمه د موقع او مقام مناسب جائز دي،(اشعة اللمعات،۴۰۹)

حالانکې کوم خلکو ته چې کومو علاقو کې د عدم جهر تعليم ورکړی شوی دی، چې همدا يو صورت جائز دی، که په دغې عمل کوي په سنت عمل دی، دوي په دې تشويش کې اچول نه دي په کار، چې تاسو په تيزه باندې وايي آخر هغوئ هم د جواز په يو طرف باندې ولاړ دي.

لطيفه: د درسونو او تعليم زمانه کې مې د استاذانو نه دا لطيفه اوريدلې ده، هندوستان کې چې کله غير مقلدينو حضراتو دې مسئله کې سخت والی کړی دی او د امين بالسر والا مونځ فاسد کول يې شروع کړل، عوامو کې تشويش پيدا شو، د علماو مناظرې شروع شوی، د انګريز دور دی، يو ځلې انګريز جج مخې ته مناظره اوشوه هغه د طرفينو د دلائلو اوريدو نه پس فيصله داسې وکړه، ما چې څه واوريدل دې نه اندازه اوشوه يو آمين بالجهر دی، ستاسو د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا هم ثابت دي، دويم آمين بالسر دی ستاسو د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا هم ثابت دي، دريم آمين بالشر دی دا د چا تنګول او تشويش پيدا کولو د پاره دی دا ستاسو د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت نه دي. واقعي دې خبرې کې وزن شته، مونږ وکتل اکثر بد باطن خلک مودودي وغيره خپل مقاصدو راويستلو د پاره يو مسجد کې زور سره آمين وايي، حالانکې غير مقلدين اهل حديث نه وي، په يو ځای کې قبضه کولو سره بعضې حضرات خپل نمائشي درود شروع کړي، مقصد صلوة وسلام نه وي، بلکې ارادې نورې وي. **فالى الله المشتكى**.

د غير مقلدينو حضراتو په نزد باندې پريشان کن صورت دا دی، سنت پريښودو سره د هغوئ په نزد باندې مونځ باطل کېږي، دې وجې نه هغوئ کې سخت والی دی، د اعمالو مختلفې درجې دي، فرض عمل پريښودو سره مونځ باطليږي او واجب پريښودو سره ناقص کېږي او سنت پريښودو سره سړی د ثواب، ادب او استحباب نه محروميږي، خو د مونځ باطل کيدو هيڅ وجه نشته دی.

﴿۲٤﴾ وَعَنْ أَبِي زُهَيْرٍ النميري قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتِ يَوْمٍ فَأَتَيْنَا

د ابوزهير نميري نه روايت دی وايي چې : مونږ ووتلو د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ سره يوه شپه او راغلو يو داسې

عَلَى رَجُلٍ قَدْ أَلَحَّ فِي الْمَسْأَلَةِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَوْجَبَ إِنْ خَتَمَ".

کس ته چې ډيره خواري يې کوله په دعا کې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: واجب يې کړو (جنت) که ختم يې کړه

فَقَالَ : رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ : بِأَيِّ شَيْءٍ يَخْتِمُ ؟ قَالَ : « بِآمِين ». (۱).

نو وويل يو کس د قوم نه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته چې په څه شيز سره يې ختم کړي؟ وې فرمايل په آمين سره.

توضيح: الح : د باب **افعال** نه الحاح عاجزي او زاري سره اصرار کولو ته ويلي کېږي، دلته الله تعالى نه دعا کولو کې ښه مبالغه او اصرار کول مراد دي، علماء عربو د پاره په کار دي خپل عوام د دعاء عادي جوړ کړي او عاجزي ورته وښائي. (المرقات ۲/۵۷۱).

اوجب : يعني دغه کس خپل ځان د پاره جنت واجب کړو، الله تعالى باندې د بندګانو طرف نه هيڅ شيز واجب نه دی، دلته مراد دا دی الله تعالى خپل فضل، کرم او خپل احسان سره خپل ځان باندې واجب او لازم کړی دی، ګويا داسې وعده يې کړې ده چې د هغې نه وعده خلافي نه کوي.

ان ختم: يعني پدې شرط چې دعا باندې مهر ولږوي، دويم مطلب دا دی، چې دعا په يو شيز باندې ختم کړي، رومبی معنی سره دا لفظ د خاتم نه د مهر په معنی کې دی، يو حديث کې دي آمين خاتم رب العلمين دی مطلب دا چې څنګه د بادشاه مهر په يو خط باندې ولږي د هر قسم نقصان نه محفوظ شي او قابل اعتماد جوړه شي، دغه رنګ لفظ آمين هم، چې دا د کومې دعا نه پس ولولي، هغه محفوظ او مقبول او قابل اعتماد جوړ شي، دې آمين نه مونځ کې د ننه آمين مراد اخيستلى کېږي او د مونځ نه بهر آمين هم مراد اخيستلى کېږي، دې حديث نه امت ته تعليم حاصل شو که دعا اجتماعي وي يا انفرادي آخر کې **آمين يا رب العلمين** وايي، الله تعالى طرف نه دې عمل او دعا باندې مهر قبوليت او مهر حفاظت او برکت ولږي.

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْمَغْرِبَ بِسُورَةِ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به لوستلو دما بنام مونځ کې سورة

---

(۱) وأخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۵۷۷ رقم الحديث :۹۳۸ .

Maktaba Tul Ishaat.com

(الْأَعْرَافِ) فَرَّقَهَا فِيْ رَكْعَتَيْنِ .(۱)

اعراف او تقسيمولو به يې په دواړو ركعتونو باندې.

توضيح: ظاهري حديث نه دا معلوميږي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مانښام دوو ركعتونو كې پوره سورة اعراف ويلی ؤ او د مانښام وخت اكر چې تنګ وي او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ عموما مختصر قرآت فرمايلو او كله د بيان جواز د پاره طويل قرآت لوستلی دی. (المرقات ۲/۵۷۲)

دې نه بطور اشاره دا ثابت كيږي چې د مانښام مونځ دومره تنګ نه وي، څنګه چې يې شوافع ګڼي، د دوي په نزد باندې غروب افتاب نه پس سرخي وي، دغه شفق دی، د دې په خاتمې باندې د مانښام وخت ختميږي، خو د احنافو په نزد باندې شفق د لمر پريوتو نه پس د سرخۍ نه پس سفيدي نوم دی او دا وخت كافي اوږد دی، سورة اعراف دوو ركعتو كې لوستلی كيږي په دې شرط چې قرآت حدر سره وي، مصري طرز باندې نه وي، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په قرآت كې تيزي وه او معجزه هم ورسره شامله وه يعنې كم وخت كې چې ډير قرآت وشي دې ته (طی) ويلې شي، شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ وايي دا ويل ډيرلري دي، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سورة اعراف بعضې حصه لوستله پوره يې نه دی لوستلی. (اشعة اللمعات ۴۱۰)

د معوذتين فضيلت

﴿۲۶﴾ وَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ : كُنْتُ أَقُوْدُ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاقَتَهُ فِي

د حضرت عبقة بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : ماپرې نيولی وو د اوښ د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په

السَّفَرِ فَقَالَ لِيْ : « يَا عُقْبَةُ أَلَا أُعَلِّمُكَ خَيْرَ سُوْرَتَيْنِ

يو سفر كې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته وفرمايل ای عقبه! آيا ونه ښايم زه تاسو ته دوه بهترين سورتونه چې ويل

قُرِئَتَا ؟ » فَعَلَّمَنِي (قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الفلق) و (قل أعُوذ بِرَبِّ

شوي دي (يعنې ما باندې نازل شوي) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته وښودل : قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب

النَّاس) قَالَ : فَلَمْ يَرَنِي سَرَرْتُ بِهِمَا جِدًّا

الناس عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زه د دغې دواړو سورتونو نه ډير خوشحاله نه وم ليدلی كله چې

فَلَمَّا نَزَلَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ صَلَّى بِهِمَا صَلَاةَ الصُّبْحِ لِلنَّاسِ فَلَمَّا

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سحر مونځ د پاره راكوزشو نو خلكو ته مونځ كې يې دغه دواړه سورتونه ولوستل چې كله د

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۲/۱۷۰ رقم الحديث : ۹۹۱.

فَرَغَ الْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ: «يَا عُقْبَةُ كَيْفَ رَأَيْتَ؟» رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُد وَالنَّسَائِيّ[1].

مونځ نه فارغ شو زما طرف ته يې وکتل او ويې فرمايل عقبه تا وليده؟ (ددې فضيلت).

توضيح: فلم يرني سررت بهما: يعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله وکتل چې ماته معوذتين اوريدو باندې ډيره خوشحالي نه وه ځومره چې نورو سورتونو باندې وه، (المرقات ٢/٥٧٣) چې هغې کې توحيد اوږده او اعلى مضامين وي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه محسوس کړو او غوښتل يې چې ماته عملي طور باندې ددې سورتونو عظمت وښائي، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سحر مونځ په مختصر سورتونو باندې وکړو او وې فرمايل (**کيف رايت**) يعنې ودې ليدو؟ ځنګه د ټولونو افضل مونځ چې دې کې طويل سورتونه ويلي کېږي، او دې مختصرو سورتونو سره يې وکړو، دا ددې سورتونو شان او عظمت وو او ښه سورتونه دي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معوذتين سورتونو ته (خير سورتونه) دې اعتبار سره ويلي دي چې دې کې د شيطان مکر او فريب او د هغې د وسوسې نه تحفظ او د بچ کيدو مکمل سامان دی، دې اعتبار سره دا ټول ښه سورتونه دي.

﴿٢٧﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ

د حضرت جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَام به لوستلو د مانبنام په مونځ کې په

لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ: قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ.[2]

شپه د جمعه کې قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد.

وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنِ ابْنِ عُمَرَ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ «لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ». (ابن ماجه ٨٣٣).

او روايت کړی ابن ماجه د احديث دا ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه خو نه يې دي ذکر کړي **ليلة الجمعة**

توضيح: يقراء: يعنې د مانبنام مونځ کې تاسو کله دا دواړه سورتونه لوستل، دې دواړو کې اول سورت کې د کفارو نه د بيزارۍ اعلان دی او دويم سورت کې د توحيد خالص اعلان دی. دا وجه ده تاسو د مانبنام او سحر سنتونو کې ډيرځل دغه سورتونه لوستل د ورځې او شپې په شروع کې تاسو دا اعلان دوباره کوئ، ځنګه چې يو ځای والا حديث کې راځي. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې دواړو سورتونو باندې دوام او استمرار نه دی کړی، دې نه امت ته دا تعليم ملاؤ شو، چې د قرآن هر سورت مونځ کې

---

(١) أخرجه أبو داؤد في السنن ٢/١٥٢ رقم الحديث: ١٤٦٢.

(٢) البغوي في شرح السنة ٣/٨١ وابن حبان ٣/١٥٨ رقم الحديث: ١٨٣٨.

Maktaba Tul Ishaat.com

لوستل په کار دي او يو سورت خاص کول نه دي په کار.

﴿٢٨﴾ وَ عَنْ عَبْدُ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : مَا أُحصي مَا سَمِعْتُ

د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې :زه نه شم شمار کولی چې ما څو ځلې اوريدلي چې

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ

نبي اکرم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به لوستل په دوه رکعتو کې د مابنام مونځ نه پس او په دوه رکعتو کې مخکې د

صَلَاةِ الْفَجْرِ : بِـ(قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ) وَ (قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ) .(١)

سحر د مونځ نه په دواړو سنتو کې قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد.

وَ رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ إِلَّا أَنه لَمْ يَذْكُرْ : « بَعْدَ الْمَغْرِبِ » (ابن ماجه١١٤٨)

او روايت کړی دی ابن ماجه د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ، خو دده روايت کې (بعدالمغرب) الفاظ نشته دی.

د طوال مفصل او قصار مفصل مطلب

﴿٢٩﴾ وَ عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ أَحَدٍ

سليمان بن يسار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: چې ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به فرمايل: ما مونځ نه دي کړي وروسته د يو کس نه

أَشْبَهَ صَلَاةً بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فلَان . قَالَ سُلَيْمَان : صَلَّيْتُ

چې څه شابه وي مونځ د هغه د مونځ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره د فلاني کس نه ، سليمان وايي : ما هم مونځ وکړو

خَلْفَهُ فَكَانَ يُطِيلُ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ مِنَ الظُّهْرِ وَ يُخَفِّفُ الْأُخْرَيَيْنِ و

د دې کس شا ته هغه به اوږدول اولني دوه رکعته د ماسپښين او آخري دوه رکعته به يې مختصر کول او

يُخَفِّفُ الْعَصْر وَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِقِصَارِ الْمُفَصَّلِ وَ يَقْرَأُ فِي

مختصر به يې کولو د مازيګر مونځ او لوستل به يې د مابنام مونځ کې قصار مفصل او لوستل به يې په

الْعِشَاءِ بِوَسَطِ الْمُفَصَّلِ وَ يَقْرَأُ فِي الصُّبْحِ بِطِوَالِ الْمُفَصَّلِ(٢).

ماسخوتن کې اوساط مفصل او لوستل به يې د سحر مونځ کې طوال مفصل .

---

(١) أخرجه الترمذي في السنن ٢/٢٩٦، رقم الحديث :٤٣١.

(٢) أخرجه النسائي في السنن ٢/١٦٧ رقم الحديث : ٩٨٣ ، وأخرجه النسائي في السنن ١/٢٧٠ رقم الحديث . ٨٢٧ .

توضيح: بقصار المفصل: قرآن كريم د سورتونو د پاره څه اصطلاحي نومونه دي چې چانچه سورة بقره سورة آل عمران، سورة مائده، سورة انعام، سورة اعراف، سورة انفال او براءت دا اوه سورتونه د **السبع الطول** نوم سره مشهور دي. پدې شرط چې انفال او توبه يو وي.

دې نه پس هغه سورتونه دي، چې هغه په سلو ايتونو باندې مشتمل وي يا د سلو نه په ډيرو باندې مشتمل وي، دا سورتونه د (مئين) په نوم سره مشهور دي. دې نه پس هغه سورتونه دي، چې مثاني ورته ويلى كېږي، دا سلسله د سورة حجرات پورې تلې ده، سورة حجرات نه **والناس** پورې ټولو سورتونو ته (**مفصلات**) ويلي كېږي، ځكه چې دا د يو بل نه زر زر جدا كېږي.

دې مفصلاتو كې بيا تر اول واړه سورتونه په درې درجو باندې تقسيم كړى، هغې ته يې **طوال**، اوساط او قصار نومونه ورکړې دي، خو د مفصل نوم ورسره خواته لږولى شوى دى، چې معلوم شي چې دا تقسيم (مفصلاتو كې دى) سورت حجرات نه سورة بروج پورې طوال مفصل دي. **سورة بروج** نه **سورة بينة** پورې اوساط مفصل دي او سورة بينة نه سورة والناس پورې قصار مفصل دي، دې حديث كې دې تفصيل طرف ته اجمالي اشاره ده، او تفصيل يې فقهاو ذكر كړې دى، **والحمد لله على ذلك (المرقات ۲/۵۷۷-۵۷۶).**

من فلان: ددې نه مراد غالباً حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دى.

د امام نه وروسته د قرآت حكم

﴿۳۰﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: كُنَّا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ

د عبادة بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې: يوورځ مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه وروسته ولاړوو په مونځ

الْفَجْرِ فَقَرَأَ فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ فَلَمَّا فَرَغَ

د سحر كې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ چې قرآت شروع كړو نو دراته شو لوستل ورته بيا چې كله فارغ شو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

قَالَ: «لَعَلَّكُمْ تَقْرَؤُونَ خَلْفَ إِمَامِكُمْ؟» قُلْنَا: نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ.

د مونځ نه وې فرمايل تاسو د امام نه شا ته قرآت كوئ مونږ ورته وويل چې آو يا رسول الله! نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

قَالَ: «لَا تَفْعَلُوا إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ

وفرمايل: تاسې مه وايئ په غير د فاتحې نه بل څه ځكه چې مونځ نه كيږي د هغه چا چې فاتحه ونه وايي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ لِلنَّسَائِيِّ مَعْنَاهُ وَ فِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُد قَالَ : « وَ أَنَا أَقُول

او نسائي دا روايت بالمعني نقل كړی او د ابوداؤد يو روايت كې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل ماوويل

مَالِي يُنَازَعنِي الْقُرْآن ؟ فَلَا تَقْرَؤُوْا بِشَيْءٍ مِنَ الْقُرْآنِ إِذَا جَهَرْتُ

په زړه كې چې دا څه وشو چې قرآت په ما دروند كيږي نو تاسو مه لولئ بل څه، چې كله زه په اوچت آواز

إِلَّا بِأُمِّ الْقُرْآن»[1].

لوستل كوم په غير د سورة فاتحې نه.

توضيح: لعلكم تقرءون: دې نه معلومه شوه چې د مقتديانو وروسته په مزه لوستل او نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې د مقتديانو روحاني طور باندې بوج پريوتو، ځكه هغوی تپوس وكړو شايد تاسو خلك زما وروسته قرآت كوئ، كه دغه خلكو په تيزه لوستل كول، نو بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا سوال نه فرمايلو، چې دې كې د مونځ تفسيرونو نه يو تفسير دی، چې فاتحې نه علاوه بل څه مه وايي، بيا وروسته د فاتحې لوستلو نه منع هم راغله، لكه مخكې ليكلی شوي دي. (المرقات ۲/۵۷۷، اشعة اللمعات ۴۱۱) د فاتحې لوستلو نه علاوه امام نه وروسته قرآن لوستلو ممانعت باندې دا حديث د احنافو دليل دي او فاتحې لوستلو باندې دا دشوافعو دليل دی.

په جهري مونځونو كې خلك د امام نه وروسته فاتحې ويلو سره بازار نه راغلل

﴿۳۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنْ صَلَاةٍ جَهَرَ فِيهَا

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فارغ شو د هغه مونځ نه چې په هغې كې يې جهري

بِالْقِرَاءَةِ فَقَالَ : « هَلْ قَرَأَ مَعِي أَحَدٌ مِنْكُمْ آنِفًا ؟ »

قرائت كړی وو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونځ گزارو ته متوجه شو وې فرمايل آيا اوس چا ما سره قرآت كولونو

فَقَالَ رَجُلٌ : نَعَمْ يَا رَسُولَ اللهِ ، قَالَ : " إِنِّي أَقُولُ : مَا لِي

وويل يو كس چې آو يا رسول الله، نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې (زه په زړه كې) وايم چې څه چل وشو چې

أُنَازَعُ الْقُرْآنَ ؟ « قَالَ فَانْتَهَى النَّاسُ عَنِ الْقِرَاءَةِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

زه قرآن لوستلو كې بوج محسوسوم، ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې: منع شو خلك د قرائت نه د نبي عَلَيْهِ السَّلَام

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۵۱۵ رقم الحديث : ۸۲۳ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۱۱۶، رقم الحديث :۳۱۱.

فِيمَا جَهَرَ فِيهِ بِالْقِرَاءَةِ مِنَ الصَّلَوَاتِ حِيْنَ سَمِعُوْا ذَلِكَ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ »[1].

سره په هغه مونځ کې چې جهري قرائت کولو چې کله يې دا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه واوريدل.

توضيح: مالي انازع القرآن: منازعه د يو شي رابنکلو ته ويلی شي، يعنې امام هم لوستل کوي او مقتدي هم شاته لوستل کوي، دا منازعه ده، (المرقات ۲/۵۷۹)

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زړه کې وويل او په ژبه باندې اظهار يې هم وکړو ، داسې نه دي کول په کار، نو خلکو جهري مونځونو کې د عام قرآت او فاتحې نه منع شو. دا حديث د احنافو مضبوط دليل دی، چې د امام نه وروسته قرآن لوستلو باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سختی سره منع فرمايلي ده او فاتحه هم قرآن دی، د دې ممانعت هم راغلی.

بعضې غير مقلدين د عجيب جرات نه کار اخلي. ما په خپله د يو غير مقلد نه اوريدلي دي چې سورة فاتحه قرآن نه دی او الله تعالی ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ﴾ فرمايلي، لهذا فاتحه قرآن نه جدا دی، د دې ويل به ضروري وي، دا خبره ياد ساتئ چې د امام نه وروسته صرف د قرآن ممانعت راغلی، قرآن نه علاوه نور کوم اذکار او وظائف چې دي د هغې لوستل جائز دي.

او هغه د قرآت وخت کې نه وي، چې کله قرآت ختم شي، نو هلته دغه اذکار دي، لکه تسبيحات دغه رنګ ثناء او **التحيات** دي.

د احنافو په نزد باندې دا روايت امام نه وروستو لوستلو د پاره ناسخ دی، ځکه چې ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ متأخر في الاسلام دی، نو دا د آخري دور نقشه ده، او **فانتهى الناس** الفاظو کې د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د عملي فيصلې اندازه کېږي او دا جمله د زهري نه ده، بلکې د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ده، لکه مخکې تفصيل تير شوی دی.

﴿۳۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عمر والبياضي قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الْمُصَلِّيَ يُنَاجِي

د ابن عمرو بياضي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي : مونځ ګزار مناجات کوي د

رَبَّهُ فَلْيَنْظُرْ مَا يُنَاجِيهِ بِهِ وَلَا

خپل رب سره دوي ته په کار دي چې دې کې غور وکړي چې په کوم څيز چې ورسره مناجات کوي او مه دې

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲/۲٤۰ ، وأخرجه أبو داود في السنن ۱/۱٦۰ رقم الحديث : ۸۲٦ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۱/۱۱۸، رقم الحديث : ۳۱۲، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۲۷٦ رقم الحديث ۸٤۸

Maktaba Tul Ishaat.com

يَجْهَرُ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ بِالْقُرْآنِ ».[1].

اوچتوي آواز يو په بل باندې د قرآن کريم په ويلو کې.

توضيح: بالقرآن: يعنې بعضې لوستلو والا په زور زور سره دويم کس باندې غالب کيږئ مه او مه يې په تشويش کې اچوئ، اوس که هغه په مونځ کې اوريدونکی وي يا خوب کې وي يا په خپله قرآن لولي. دې ټولو صورتونو کې يو مسلمان ته تکليف ورکول جائز نه دي، لهذا قرآن په زوره سره مه وايي او د قرآن نه علاوه بل څيز سره تکليف ورکول خو بطريق اولى بد عمل وي، د دې حديث، نه هم معلومه شوه، امام نه وروسته جهري مونځ کې فاتحه لوستل مناسب نه دي. (المرقات ۲/۵۸۱).

د امام متابعت ضروري دی

﴿۳۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا جُعِلَ

د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې مقرر شوی دی

الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَ إِذَا

امام ددې د پاره چې د هغې پيروي وشي چې امام الله اکبر ووايي نو تاسو هم الله اکبر ووايئ او چې کله

قَرَأَ فَأَنْصِتُوا ».[2].

امام قرائت کوي نو تاسو خاموش او چپ اوسئ.

توضيح: يعنې چې کله قرآن لوستلی کيږي (نو په اوچت اواز سره لوستلو په صورت کې) تاسو دا اورئ او (په قلاره د لوستلو په صورت کې) خاموشه اوسئ، لهذا معلومه شوه د امام نه وروسته مقتديانو د پاره څه وويل مطلقا ممنوع دي، خو اکه جهري مونځ وي يا سري (**من كان له امام فقراءة الامام قرآة له**) يعنې مونځ کې چې د چا امام وي، نو د امام قرءآت د مقتدي قرآءت دی،. دا حديث بالکل صحيح دی. بخاري او مسلم نه علاوه ټولو نقل کړی دی، او هدايه کې دلته مذکور دي، چې دې باندې اجماع د صحابو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او اتفاق دی.

فأنصتوا: يعنې کله چې امام قرآن وايي، نو تاسو خاموشه کيږئ، (المرقات ۲/۵۸۲)

که د هغوئ قرآءت اورئ، نو بنه طريقې باندې او توجه سره يې اورئ، لو هلته د **فاستعموا** حکم دی او که

---

(۱) أخرجه أحمد ۳/۳٤٤، ومالک ۱/۸۰ رقم الحديث ۲۹ من كتاب الصلاة

(۲) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/٤۰٤ رقم الحديث: ٦۰٤.

مونځ سړي وو، نو هلته دا سې خاموشه کېږئ ځکه، **وانصتوا** فرمايي. دا حديث د احنافو دليل دی او د جمهورو هم دا مسلک دی او د امام قرآت د ټول قوم قرآت دی، نو قوم بغير د قرآت نه پاتې نه شو.

کوم کس چې په قرآت کولو باندې قادر نه وي هغه څه وکړي

﴿۳٤﴾ وَ عَنْ عَبْدُ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ : جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:

د عبدالله ابن ابی اوفی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : يو کس راغې نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته او عرض يې وکړو

إِنِّي لَا أَسْتَطِيعُ أَنْ آخُذَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْئًا فَعَلِّمْنِي مَا يُجْزِئُنِي

زه قدرت نه لرم چې يا د دې کړم يو څه حصه د قرآن، نو تاسو ما ته څه څيز وښائي چې زما د پاره کافي وي

قَالَ : « قُلْ سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: ته دا وايه: الله تعالى پاک دی، ټول تعريفونه الله لره دي، الله نه غير بل معبود نشته

وَ اللهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ » . قَالَ :

الله ډير لوی دی، دګناه نه دبچ کيدو او عبادت کولو توفيق صرف الله تعالى د طرف نه دی، هغه کس وويل:

يَا رَسُولَ اللهِ هٰذَا لِلّٰهِ فَمَاذَا لِيْ ؟ قَالَ : « قُلْ

يارسول الله! دا خو د الله تعالى د پاره دي زما د پاره څه دي؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل (خپل ځان) د پاره دا وله

اللّٰهُمَّ ارْحَمْنِي وَ عَافِنِي وَ اهْدِنِي وَ ارْزُقْنِي » .

ای الله! په ما باندې رحم وکړه ما په عافيت سره وساته، ماته هدايت وکړه او ماته رزق راکړه، بيا دغه کس

فَقَالَ هٰكَذَا بِيَدَيْهِ وَ قَبَضَهُمَا . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَمَّا هٰذَا فَقَدْ مَلَأَ

په خپلو دواړو لاسونو دا سې اشاره وکړه او بند يې کړل، نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: دغه کس د ډک کړل دواړه

يَدَيْهِ مِنَ الْخَيْرِ » رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ عِنْدَ قَوْلِهِ: إِلَّا بِاللهِ [1].

لاسونه د نيکيو نه. د نسائي روايت په الا بالله پورې ختم شوی دی.

توضيح: اني لا استطيع: سوال: يو اهل ژبې والا او بيا عربي او عرب ذهانت نه دا حبره ډيره لرې ده چې هغه د قرآن لږه حصه هم يادولی نه شوه چې هغې سره مونځ جائز شي. (اشعة اللمعات ۴۱۳).

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۲۱ رقم الحديث : ۸۳۲، وأخرجه النسائي في السنن ۲/۱٤۳ رقم الحديث : ۹۲٤ وأحمد ٤/۳۵۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

جواب: ددې جواب دا دی، څنګه چې عربو کې ذهین خلک وو دغه رنګ کمزورې هم شته همدارنګه عمر رسیده خلکو ته زده کړه ډیره مشکله وي او ډیر د قرینې قیاس خبره دا ده، دغه کس به اوس مسلمان شوی وو او د مونځ معامله به ورته راغلې وه، نو دا سوال یې وکړو.

دریم جواب دا دی، چې د اسلام شروع کې دا سهولت وو، چې د قرآن په ځای ذکر الله او تسبیحاتو سره مونځ جائز وو، که یو کس ته ډیر سورتونه یاد وي، نو یو سورت باندې همیشه والی مکروه دی. او که یاد ورته نه وي نو یاد دې کړي، ورنه مکروه دي، او ددې نه مراد خلاف سنت دی.

هذا الله: دا کس څومره هوښیار وو دا تسبیحات، تمجیدات او تعریفات ټول د الله تعالی د پاره دي آخر زما د پاره د دعاء د درجې کوم څیز دی، دې وجې نه حضور ﷺ دې کس ته د رحمت، عافیت. هدایت او د رزق دعا اوښودله.

فقال هكذا: قال لفظ عربي لغت کې اشارې د پاره هغه وخت استعمالیږي، کله چې ددې په صله کې (با) راشي دلته (بيديه) کې د (با) حرف د وجې نه دې جمله کې د اشارې معنی پیدا شوې ده.

وقبضهما: یعنې دې کس دواړه لاسونه اشارې کولو سره بند کړل، ګویا دې ته یو ښه نعمت ملاو شو او خوشحاله شو او هغه یې محفوظ کړو، یا یوې یوې ګوتې باندې د کلماتو شمار کولو سره بندې کړې، دې سره حضور ﷺ وفرمایل، دې کس دواړه لاسونه د نیکیو نه ډک کړل.

د سبحان ربی الاعلی ثبوت

﴿۳۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ إِذَا قَرَأَ (سبح اسم ربك الأعلى) قَالَ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى[1].

دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به چې کله لوستلو په یو مونځ کې سبح اسم ربک الاعلی، نو سبحان ربی الاعلی به یې هم لوستلو.

توضيح: قرآن آیت دی ﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى﴾ دې کې د تسبیحاتو حکم دی دې حکم باندې حضور ﷺ په خپله هم عمل کړی ؤ او امت ته یې هم وفرمایل چې دا الفاظ (سبحان ربی الاعلی) سجده کې وایي. دغه شان کله ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾ نازل شو، حضور ﷺ وفرمایل چې دا

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۴۹ رقم الحديث: ۸۸۳.

الفاظ (**سبحان رب العظيم**) په رکوع کې وايي.

دا عجيب ترتيب دی، يعنې انسان وجود چې څومره باقي پاتې کېږي، الله تعالی د شان پوره اعتراف انسان نه شي کولی، خو انسان خپل وجود ختموي، نو د الله تعالی د شان مکمل اعتراف شروع کړي. کله انسان اودريږي، نو **هغه الله اكبر** ووايي، چې خپل ځان يوه درجه ښکته کړي، نو **سبحان ربي العظيم** ووايي، خو چې سجده کې کله خپل ځان بالکل فاني کړي، دغه وخت د الله تعالی شان مکمل طور باندې اوچت کړي او **سبحان رب الاعلى** ووايي، يعنې زه څومره وړوکی يم او الله تعالی دومره لوی دی.

د خاصو سورتونو په اختتام باندې خاصې دعاګانې

﴿۳۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "من قَرَأَ مِنْكُم بِـ

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل تاسو کې چې څوک هم ولولي سورة

(التِّين وَ الزَّيْتُون) فَانْتهى إِلَى (أَلَيْسَ الله بِأَحْكَم الْحَاكِمين) فَلْيَقُلْ:

والتين والزيتون، او چې کله ورسيږي: **اليس الله باحكم الحاكمين** ته، نو دا الفاظ دې ووايي:

بَلَى وَ أَنَا عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ. وَ مَنْ قَرَأَ:

بلى وانا على ذلك من الشاهدين (آو اوزه دې باندې شهادت کوونکو نه يم) او کوم کس چې ولولي

(لَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ) فَانْتَهَى إِلَى (أَلَيْسَ ذَلِكَ بِقَادِرٍ عَلَى أَنْ يحيي الْمَوْتَى) فَلْيَقُلْ

(**لااقسم بيوم القيامة**) اوورسيږي دې آيت ته (**اليس ذلک بقادر على ان يحى الموتى**) نو ودې ووايي:

بَلَى. وَ مَنْ قَرَأَ (وَ الْمُرْسَلَاتِ) فَبَلَغَ: (فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ)

بلى، او څوک چې لولي سورة مرسلات او دې آيت (**فباي حديث بعده يؤمنون**) ته ورسيږي، نو ودې

فَلْيَقُلْ: آمَنَّا بِاللهِ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَ التِّرْمِذِيُّ إِلَى قَوْلِهِ:

ووايي: **امنا بالله** (مونږ په الله تعالی باندې ايمان راوړی دی) ابوداود او ترمذي دا روايت (والتين آيت)

Maktaba Tul Ishaat.com

(وَ أَنَا عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ

وانا على ذلک من الشاهدين پورې نقل کړی دی.

توضيح: فليقل بلى: مذکوره مقاماتو په شان د څو مقاماتو په باره کې هم مناسب جواب ورکولو ذکر راغلی دی، مونځ کې دننه داسې جواب ورکول او نه ورکولو په باره کې د علماو اختلاف دی. امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي ددې سورتونو په ختميدو باندې دا کلمات ويل په کار دي، که مونځ د فرضو وي يا د نفلو او د مونځ نه بهر هم داسې جواب ورکوئ. او امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي د مونځ نه بهر په هر حالت کې جواب ورکول په کار دي که په مونځ کې وي، بيا په نفلو کې جواب ورکوئ او فرائضو کې نه. (اشعة اللمعات ٤١٥).

امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي: د مونځ نه بهر جواب ورکول په کار دي، خو مونځ کې دننه ورکول نه دي په کار، مونځ که د فرضو وي يا د نفلو. دې سره وهم کېږي، چې دا کلمات هم د قرآن دي او که څوک د حديث ظاهر باندې عمل کول غواړي، بيا د نوافلو کې وکړي ځکه چې بعضې روايتو کې د نوافلو (تهجدو) تصريح موجوده ده، همدارنګه نوافلو کې وسعت شته.

جناتو (پيريانو) ښه جواب ورکړو

﴿٣٧﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلَى أَصْحَابِه
د حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: (يو ورځ) ووتلو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپلو صحابو کرامو ته او
فَقَرَأَ عَلَيْهِم سُورَةَ الرَّحْمٰنِ مِنْ أَوَّلِهَا إِلَى آخِرِهَا فَسَكَتُوا فَقَالَ:
سورة رحمن يې د اول نه تر آخره پورې ولوستو، صحابه کرام خاموش ناست وو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل:
« لَقَدْ قَرَأْتُهَا عَلَى الْجِنِّ لَيْلَةَ الْجِنِّ
دا سورة ما د جناتو مخې ته هغه شپه لوستلی وو کله چې دوي اسلام قبلولو او قرآن کريم اوريدو د پاره
فَكَانُوا أَحْسَنَ مَرْدُودًا مِنْكُمْ كُنْتُ كُلَّمَا أَتَيْتُ على قَوْله (فَبِأَيِّ آلَاءِ رَبِّكُمَا
راجمع شوي وو او هغوی جواب ورکولو کې ستاسو نه بهتر وو، کله چې زه دې آيت: **فباي آلاء ربكما**

---

(١) أخرجه أبو داود في السنن ١/٥٥٠ رقم الحديث ٨٨٧، وأخرجه الترمذي في السنن ٥/٤١٣، رقم الحديث: ٣٢٤٧.

تُكَذِّبَانِ) قَالُوا لَا بِشَيْءٍ مِنْ نِعَمِكَ رَبَّنَا نُكَذِّبُ

تكذبان ته وړ سبه ۰ نو دا جواب به يې ورکولو : ای پروردګاره! مونږ ستا سو د يو نعمت تکذيب نه کوو

فَلَكَ الْحَمْدُ ۰ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.(۱)

او ټول تعريفونه ستا د پاره دي . دا روايت امام ترمذي نقل کړی اوويلي يې دي دا حديث غريب دی.

توضيح: احسن مردودا: يعنې جناتو چې کله سورة رحمن نعمتونو والا آيت واوريدو هغوی ستاسو نه ښه جواب ورکړو او هر نعمت په بدلې کې يې اوويل مونږ ناشکري نه کوو . (المرقات ۲/۵۸۶).

بعضې خلک د ښه تلاوت په جواب کې سبحان الله وغيره الفاظ قرآت دوران کې وايي، بعضې محتاط علماءوايي دا صحيح نه ده بلکې داد **فاستمعوا او انصتوا** خلاف دی خاموش کيدل په کار دي، پاتې شود سورة رحمن آيت په دې کې باقاعده استفهام سره يې سوال کړی، دد ې جواب قرآت کې مخل او مضر نه دی.

الْفَصْلُ الثَّالِث:

په دوو رکعتونو کې يو سورت ويل څنګه دي

﴿۳۸﴾ عَنْ مُعَاذِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ الْجُهَنِيِّ قَالَ : إِنَّ رَجُلًا مِنْ جُهَيْنَةَ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ

د معاذ بن عبد الله الجهني رَحِمَهُ اللهُ نه روايت دی وايي چې : يو کس د جهينه قبيلې ما ته بيان کړل چې : ده

سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَرَأَ فِي الصُّبْحِ (إِذا زلزلت) فِي الرَّكْعَتَيْنِ كلتيهما فَلَا أَدْرِي

اوريدلي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د سحر مونځ دوو رکعتونو کې سورة زلزال لوستلی او زه نه پوهيږم چې

أَنَسِيَ أَمْ قَرَأَ ذَلِكَ عَمْدًا .(۲)

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ قصداً دا سې کړي وو يا ترې نه هير شوي وو.

توضيح: في الركعتين : يعنې يو سورت زلزال يې دوو رکعتونو کې ولوستلو که چرته نيم هم ولولې بيا هم جائز دی. مګر په هر رکعت کې د پوره سورت ويل په کار دی (المرقات ۲/۵۸۷)

په ظاهره خو دا سې معلوميږي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بيان جواز د پاره دا سې کړې وي او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه هير شوې نه دی بلکې ارادةً يې دا سې کړي، اګر چې اولی او افضل دا دی چې يو سورت

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۳۷۲، رقم الحديث : ۳۲۹۱.

(۲) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۵۱۰ رقم الحديث : ۸۱۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

مکرر مه لولئ، خاص کر فرائضو کې داسې نه دي کول په کار.
عوامو ته سوچ کول په کار دي، دې کې اکثر داسې کول، سورة اخلاص یا بل سورة مخصوصه ټولو رکعتونو کې دوباره دوباره لولي کم از کم دومره سورتونه یاد ول په کار دي، چې مونځ کې کراهت رانه شي، چاته چې دیر سورتونه یاد وي او دې یو سورت وایي دا مکروه ده او چاته چې یاد نه وي هغه له یاد ول په کار دي ورنه مونځ به مکروه شي او د مکروه مطلب خلاف سنت دی.

حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سورة بقره دوور کعتونو کې ویلې وه

﴿۳۹﴾ وَ عَنْ عُرْوَةَ قَالَ : إِنَّ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صَلَّى الصُّبْحَ فَقَرَأَ فِيهِمَا بِـ(سُورَةِ الْبَقَرَةِ) فِي الرَّكْعَتَيْنِ كِلْتَيْهِمَا [1].

عروه بن زبیر رَحِمَهُ اللهُ وایي چې : یو ځل ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سحر مونځ ورکړو اووي لوستلو په دواړو رکعتونو کې سورة بقره .

توضیح: حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سورة بقره څه حصه یو رکعت کې او څه بل رکعت کې لوستلې وه دا جائز دي، خو پوره سورة بقره د سحر دوو رکعتونو کې لوستل د کراهت نه خالي نه دي ځنګه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مابنام مونځ کې سورة اعراف لوستلی وو چې معجزې نه خالي نه ده،

حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سحر په مونځ کې سورة یوسف ویلو

﴿۴۰﴾ وَعَنِ الْفَرَافِصَةِ بْنِ عُمَيْرٍ الْحَنَفِيِّ قَالَ : مَا أَخَذْتُ سُورَةَ يُوسُفَ إِلَّا مِنْ قِرَاءَةِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ إِيَّاهَا فِي الصُّبْحِ مِنْ كَثْرَةِ مَا كَانَ يُرَدِّدُهَا [2].

حضرت فرافصه بن عمیر حنفي رَحِمَهُ اللهُ وایي : ما یاد کړی دی سورة یوسف د لوستلو د حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سحر په مونځ کې، ځکه چې ده به د سحر مونځ کې په کثرت سره لوستلو.

توضیح: **اخذت سورة یوسف**: که څوک دا اعتراض وکړي، چې یو سورت مونځ د پاره متعین کول مکروه دی، بیا حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسې ولې کول؟ ددې جواب دا دی یو سورة د ټولو مونځونو د پاره متعین کول د علماو په نزد باندې مکروه دی، خو صرف سورة یوسف د سحر مونځ کې په کثرت سره

---

(۱) أخرجه مالک ۸۲/۱ رقم الحديث : ۳۳ من كتاب الصلاة.
(۲) أخرجه مالک ۸۲/۱ رقم الحديث : ۳٤ من كتاب الصلاة.

لوستل ددې منافي نه دی ځکه چې دا دټولو مونځونو سره خاص کولو معامله نه ده، تاسو صرف سورة يوسف فقط نه لوستلو ،بلکې کثرت سره به مو دا سورة لوستلو او نور سورتونه به مو هم لوستلو خو ډير کم، دا صورت دکراهت نه خالي دی،علماء ليکي،چې کثرت سره سورة يوسف لوستلو وجې الله تعالی دې کس ته دشهادت مرګ ورکوي، عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې ښکاره نمونه ده(المرقات ۲/۵۸۸)

﴿٤١﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ : صلينَا وَرَاء عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ الصُّبْح

د عامر بن ربيعة نه روايت دی وايي چې: يو ورځ مونږ د سحر مونځ حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې وکړو

فَقَرَأَ فيهمَا بِسُورَةِ يُوسُفَ وَ سُورَةِ الْحَجِّ قِرَاءَةً بَطِيئَةً قِيلَ لَهُ:

هغوي په دواړو رکعتونو کې سورة يوسف او سورة حج په مزه مزه ولوستلو چاد عامر نه تپوس وکړو چې

إِذًا لَقَدْ كَانَ يَقُومُ حِينَ يَطْلُعُ الْفجْر قَالَ : أجل.(۱)

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به سحر راختو په وخت کې پاڅيدو؟ هغوي وويل چې آو.

﴿٤٢﴾ وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ :

د عمرو بن شعيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار او هغه د خپل نيکه (حضرت عبد الله) نه نقل کوي هغه به فرمايل:

مَا مِنَ الْمُفَصَّلِ سُورَةٌ صَغِيرَةٌ وَلَا كَبِيرَةٌ إِلَّا قَدْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

نشته د مفصل نه يو وړوکې يا غټ سورت داسې، چې ما به نه وو اوريدلې د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه

يَؤُمُّ بِهَا النَّاسَ فِي الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ(۲). رَوَاهُ مَالك.

د خلکو په فرض مونځونو کې.

﴿٤٣﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ

د حضرت عبد الله بن عتبه بن مسعود رَحِمَهُ اللهُ نه روايت دی وايي چې : لوستل به نبي عَلَيْهِ السَّلَام په موښ د

الْمَغْرِبِ بِـ (حم الدُّخَانِ) . رَوَاهُ النَّسَائِيّ مُرْسَلًا(۳).

مانښام کې سورة (حم) او (دخان) سورتونه. دا روايت نسائی مرسلا نقل کړی.

(۱) أخرجه مالک ۸۲/۱ رقم الحديث : ۳٤ من كتاب الصلاة.

(۲) أبوداود ۵۱۰/۱ رقم الحديث :۸۱٤.

(۳) أخرجه النسائي ۱٦۹/۲ رقم الحديث :۹۸۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب الرُّكُوع:
د رکوع بیان

قال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا﴾ .(سورة حج آيت:۷۷).

رکوع په لغت کې **انحناء** او ښکته کیدو یعني تېټیدو ته ویلی کېږي، مونځ کې رکوع دا د صلوة یو رکن دی ددې نه منکر کافر دی او مونځ کې پریښودو سره مونځ باطلیږي، رکوع ددې امت د خصوصیاتو نه ده، سابقه امتونو په مونځ کې رکوع نه وه، حضرت مریم عَلَيْهَا السَّلَامُ ته چې کوم حکم وشو (**اركعي**) نو دغه د صلې په معنی کې ده، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ لیکي مونځ کې رکوع د سجدې د پاره تمهید او وسیله ده، ځکه دې کې تکرار نشته او سجده یو لوی مقصد دی او د الله تعالی عبادت یو لوی عمل دی، ځکه په دې کې تکرار دی.

دویم حکمت دا چې ډډ مبنی سجده کې آیت ﴿مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ﴾ (**طه آيت:۵۵**) طرف ته اشاره ده. او دویمه سجده کې ﴿وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ﴾ (**طه آيت:۵۵**) طرف ته اشاره ده او بیا قیام طرف ته تلو کې (و منها نخرجکم تارة اخرى) طرف ته اشاره ده. دریم حکمت دا چې حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ مخې ته فرښتو سجده وکړه او سجدې نه پاڅیدل، هغوی ابلیس ته وکتل د سجدې نه محرومه ولاړ وو، نو فرښتو بطور شکر دریمه سجده وکړه، لهذا سجدې دوه دي، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ لیکي د حکمت تلاش کیدو څه قیمت نشته، اصل خبره داده چې دا د الله تعالی حکم دی، دوه سجدې وکړئ، ځکه مونږ دوه سجدې کوو.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَقِيمُوا
د انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي : (مسلمانانو) په صحیح طریقې سره کوئ
الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ فَوَاللهِ إِنِّي لَأَرَاكُمْ من بعدِي». (متفق عليه)[1]
رکوع او سجدې په الله تعالی قسم! زه تاسو خپل شانه هم وینم.

توضيح: ددې حدیث توضیح او تشریح **باب صفة الصلوة** حدیث نمبر (۲۲) کې تیره شوې ده.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۲۵،رقم الحديث :۷۴۲، ومسلم في الصحيح ۱/۳۱۹ رقم الحديث:۱۱۰-۴۲۵.

﴿۲﴾ وَ عَنِ الْبَرَاءِ قَالَ : كَانَ رُكُوعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ سُجُودُهُ

د براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی وایي: چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د قیام او قعود نه غیر رکوع، سجده او ناسته

وَبَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَإِذَا رَفَعَ مِنَ الرُّكُوعِ مَا خَلَا الْقِيَامَ وَالْقُعُودَ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ. (متفق عليه)[1]

په مینځ د دواړو سجدو کې. او رکوع نه سر او چتول. داتول په مقدار کې تقریبا برابر وو.

توضیح: قریبا من السواء: یعني نزدې نزدې وو بالکل یو شانته نه وو دې حدیث کې ددې بیان دی چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مونځ کې ځلور لوی ارکان مثلاً رکوع، سجده، جلسه او قومه تول برابر دي. (المرقات ۲/۵۹۱).

ماخلا القیام والقعود: ددې جملې مطلب دا دی، د قیام رکن، او د قعدې رکن، د سجدې او رکوع پشان نه وو، بلکې دې کې قیام کې قرآءت وي او قعده کې التحیات وي، ځکه دواړه ارکان د باقي ارکانو نه اوږده دي.

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قومه او جلسه

﴿۳﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ»

دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې کله سمع الله لمن حمده وویله د رکوع نه اوچتیدو

قَامَ حَتَّى نَقُولَ : قَدْ أَوْهَمَ ثُمَّ

کې (دومره وخت پورې به ولاړوي) چې مونږ خپل زړه کې ویل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا رکعت پریښود ویې چې

يَسْجُدُ وَ يَقْعُدُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ حَتَّى نَقُولَ :

به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سجدې ته لاړو دواړو سجدو کې به دومره کیناستو. چې مونږ به زړه کې وویل چې نبي

قَدْ أَوْهَمَ. (رَوَاهُ مُسلم)[2].

عَلَيْهِ السَّلَامُ دا سجده پریښوده.

توضیح: قد اوهم: یعني نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په قومه او جلسه کې دومره ډیر وخت لږولو چې کتونکو ته به دا

---

(۱) أخرجه البخاري ۲/۲۷۲، رقم الحديث: ۷۹۲، ومسلم ۱/۳۴۳ رقم الحديث: ۱۹۳ ۴۷۱، وأبو داود ۱/۵۳۲ رقم الحديث ۷۵۴.

(۲) أخرجه مسلم ۱/۳۴۴ رقم الحديث: ۱۹۶ ۴۷۳، وأحمد ۳/۲۰۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

خيال راتلو چې شايد حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مونځ کې وهم اوشو، چې آيا اوس څه کول دي. (المرقات ۲/۵۹۲).

دويم مطلب دا چې **اوهم** دترک کيدو په معنى سره راځي، يعنې زمونږ په خيال کې به تيريده چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مونځ بعضې حصه ترک کړه، علماء ليکي چې راجح دا دى، چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دا طوالت نفل مونځونو کې کولو او که فرائضو کې کله به يې طوالت کولو، نو دا کله کله باندې محمول وو.

﴿٤﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ: «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي» يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ. (متفق عليه)[1]

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دى وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په کثرت سره لوستله په رکوع او سجده کې دا دعاء: اى الله! ته پاک يې اى زمونږ ربه! زه ستا تعريف بيانوم اى الله! ته زما ګناه معاف کړه.

توضيح: يتاول القرآن: يعنې د قرآن کريم يو آيت نه استدلال کوي، ځکه چې قرآن کريم کې د سورة نصر آيت داسې دى ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ﴾ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې نه استدلال کولو، څومره چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کثرت سره مونځ کې حمد باري تعالى فرمايي دې سره استغفار هم شامل وي او بنه ډير استغفار غواړي. (المرقات ۲/۵۹۳).

د فربښتو متعلق عجائبات او د هغوي عبادت

﴿٥﴾ وَعَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ:

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دى وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به ويل په رکوع او سجده کې دا کلمات:

«سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ رَبُّ الْمَلَائِكَةِ وَالرُّوحِ». [2]

د فربښتو او د روح (جبرائيل) پروردګار ډير پاک دى او نهايت پاک دى.

توضيح: كان يقول: يعنې کله کله به يې رکوع کې داسې کلمات اداء کول دوام ترې مراد نه دي.

سبوح قدوس: ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ د نهايه ابن اثير په حوالې سره وايي سبوح او قدوس دواړه د مبالغې صيغې دي او د دواړو لفظونو اولنې حروف مفتوح او مضموم هم دي، البته د ضمې او پيش

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٢٩٩، رقم الحديث: ٨١٧، ومسلم في الصحيح ١/٣٥٠ رقم الحديث: ٢١٧-٤٨٤، وأبو داود ١/٥٤٦ رقم الحديث: ٨٧٧، والنسائي ٢/٢١٩، رقم الحديث: ١١٢٢.

(٢) أخرجه مسلم ١/٣٥٣ رقم الحديث: ٢٢٣-٤٨٧، وأبو داود ١/٥٤٣ رقم الحديث: ٨٧٢، والنسائي ٢/١٩٠، رقم الحديث: ١٠٤٨.

استعمال مشهور دی دې دواړو لفظونو سره د الله تعالی پاکي مقصوده، تکرار د تاکید د پاره دی یا یو کې د الله تعالی د ذات پاکي مقصوده او دویم کې د صفاتو پاکي مقصوده سبوح ای الت سبوح الت قدوس د هغه ممکن دي یو لفظ کې د ماضي مفهوم دی او دویم کې د مستقبل مفهوم دی، مطلب دا چې الله تعالی هرې زمانې کې هر عیب نه پاک دی ای **طاهر من کل عیب ومنزه عن کل یستقبح**. (المرقات ۲/۵۹۳).

رب الملائکة: علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي دنیا کې د ټولو نه لوی مخلوق فرښتې دي او د ټولو نه فرمان بردار هم فرښتې دي او د الله تعالی عباداتو کې مصروف هم فرښتې دي. یو اثر کې منقول دي هرې پاڼې او ګیاه سره یوه یوه فرښته ده، دویم آثر کې دي چې د باران هرې قطرې سره یوه یوه فرښته د آسمان نه راځي او هره قطره شماري او دا هم محفوظ کوي، چې دا قطره چرته پریوځي. یو حدیث کې دي بعضې داسې فرښتې دي، چې کله نه الله تعالی ځمکه او آسمان جوړ کړی دی، هغه فرښتې په سجده کې پرتې دي او د قیامت پورې به سجدې نه سر نه اوچتوي، دغه رنګ بعضې فرښتې رکوع کې دي د قیامت پورې به رکوع کې وي، دغه رنګ بعضې صف کې ولاړې دي او قیامت پورې به په صف کې ولاړې وي. کله چې د قیامت په ورځ د الله تعالی تجلي په هغوئ باندې پریوځي، نو دوي چې خپل رب ته ګوري وایي به (**سبحانک ما عبدناک کما ینبغي لک**) (المرقات ۲/۵۹۴).

د طبراني په یو روایت کې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي او و آسمانونو کې یو قدم بلکې یو لویشت برابر بلکې یو تلي برابر ځای خالي نه دی، دوی کې څوک د سجدې په حالت کې وي او څوک د قیام په حالت کې عبادت کوي، کله چې د قیامت ورځ شي، نو ټولې فرښتې به ووایي (**سبحانک ما عبدناک حق عبادتک**) (المرقات ۲/۵۹۴). یو اثر کې دي، حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ هره ورځ حوض کوثر کې غوپه وهي. بیا خپلې وزرې څنډې نو د هرې قطرې نه یوه فرښته پیدا کېږي، کعب بن احبار فرمایي ځمکه کې دیوې دانې برابر ځای خالي نه دی، چې هغې کې فرښتې مقرر نه دي د دغې ځایونو معلومات الله تعالی ته رسوي، یو حدیث کې راغلي، چې د بیت الله محاذاتو کې آسمانونو کې بیت المعمور دی، هغې کې روزانه اویازره (۷۰۰۰) فرښتې مونځ کوي، بیا کله هم د هغوئ نمبر دوباره نه راځي.

والروح: راجح او واضح دا دي روح نه مراد جبرائیل دی، دې ته روح ځکه ویلي شوی دی، چې د دنیا وجود سره وابسته دی، بعضې علماء وایي روح نه مراد د فرښتو یو ځانله جماعت دی، بعضې علماء وایي روح نه مراد د الله تعالی د دربار یو دربان فرښته ده، چې د ټولو فرښتو نه لویه ده، که چرته هغه خوله خلاصه کړي، نو ټولې فرښتې به د هغې په خولې کې راشي. (**کل ذلک في مرقات المفاتیح لملا علي قاري ج۳ ص۳۱۰**)

Maktaba Tul Ishaat.com

په رکوع او سجده کې قرآن ويل منع دي

﴿٦﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَلَا إِنِّي نُهِيتُ

د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي :خبردار! زه ددې وخت نه منع شوی يم

أَنْ أَقْرَأَ الْقُرْآنَ رَاكِعًا أَوْ سَاجِدًا فَأَمَّا الرُّكُوعُ فَعَظِّمُوا فِيهِ الرَّبَّ

چې زه حالت رکوع او يا حالت سجده کې قرآن ولولم لهذا تاسو په رکوع کې د خپل رب لوئي بيان کړئ

وَ أَمَّا السُّجُودُ فَاجْتَهِدُوا فِي الدُّعَاءِ فَقَمِنٌ أَنْ يُسْتَجَابَ لَكُمْ ». (١)

او سجده کې د دعا پوره پوره کوشش اوکړئ مناسب دي چې دا دعا ستاسو قبوله شي.

توضيح: انې نهيت: دبعضې علماو خيال دی، دا نهی تنزيهي ده او بعضې وايي دا تحريمي ده. (المرقات ۲/۵۹۵، اشعة اللمعات ۴۱۸).

د قياس تقاضا هم دا ده چې دا نهې تحريمي ده، الله تعالی د هر حالت د پاره خپله خپله وظيفه مقرر کړې ده مونږ کې قيام د ټولو نه ښه حالت دی، ځکه دې کې د قرآن اوريدلو حکم ورکړې شوی دی، قرآن په ټولو اذکارو کې ښه او اعلی ذکر دی، لهذا د الله تعالی د منشاء خلاف کول حرام يا تحريمي دي.

الله تعالی د رکوع او سجدې حالت د پاره اذکار مقرر کړي دي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي زه په حالت رکوع او سجود کې د قرآن لوستلو نه منع کړی شوی يم، لهذا رکوع کې د الله تعالی تعظيم بيانول په کار دي او سجده کې دعا غوښتل په کار دي، تعظيم خو **سبحان ربي العظيم** دی او سجده کې چې د کومې دعا حکم شوی دی، د هغې مطلب دا چې د دعا دوه قسمه دي، يو قسم دا چې الله تعالی نه د الفاظو په ذريعه د خپل مطلب دعاګاني اوغوښتلی شي، دويم قسم دا چې د الله تعالی حمد او ثناء بيان شي، دا هم اصل کې دعا ده، دې وجې نه الله تعالی په دې باندې خوشحاله کيږي او بيا خير کې زياتوالی کوي، ددې حمد په ضمن کې حصول مقصود د پاره بهترين انداز دعا ده. يو حديث کې ددې تشريح تائيد شوی دی فرمايي : **افضل الذكر لا اله الا الله و افضل الدعا الحمد لله**، سجدې دوارې قسمه دعاګانو باندې مشتمل دي، معلومه شوه احناف چې مونږ کې صريح دعا غوښتلو په ځای کوم ذکر الله راجح ګرځولی دی هغه په خپله هم دعاء ده، بعضې احناف وايي د نوافلو مونږ کې په سجدو کې ډيرې دعاګاني غواړئ خو فرائضو کې صرف تسبيحاتو باندې اکتفاء ضروري ده. (لمعات مختصرا)

---

(١) أخرجه مسلم في الصحيح ١/٣٤٨ رقم الحديث: ٢٠٧-٤٧٩، وأبو داود ١/٥٤٥ رقم الحديث :٨٧٦.

فقمن: قاف باندې فتحه او ميم باندې کسره ده، دا د لائق او مناسب معنی باندې دی او دا واحد، جمع او تثنيه ټولو د پاره استعماليږي.

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قَالَ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی، وايي چې: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې کله ووايي

الْإِمَامُ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ

امام **سمع الله لمن حمده** نو تاسو ووايئ: **اللهم ربنا لک الحمد**، ځکه چې د چا قول چې يو ځای شي د

قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". (متفق عليه) (۱)

قول د فربښتو سره نو معاف به شي ده ته مخکنۍ ټول ګناهونه.

﴿۸﴾ وَعَنْ عَبْدُ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ ظَهْرَهُ مِنَ

د عبدالله بن ابي اوفی نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به چې کله اوچتوله خپله ملا مبارکه د

الرُّكُوعِ قَالَ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ اللَّهُمَّ

رکوع نه دا به يې فرمايل: الله تعالی دې قبول کړي د هغه کس حمد چا چې د هغه حمد اوثناء وکړه ای الله

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَ مِلْءَ الْأَرْضِ وَ مِلْءَ مَا

اوای ربه! ټول تعريفونه ستا د پاره دي د آسمانونو برابر او د ځمکو برابر او د هغه څيز برابر چې کوم د

شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ» (۲).

آسمان او ځمکې نه پس پيدا کوي.

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ

د ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به چې کله اوچتولو سر د رکوع نه دا به

قَالَ: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَ مِلْءَ الْأَرْضِ وَ مِلْءَ مَا

يې ويل: ای الله اوای زمار به! ستا د پاره ټول تعريفونه دي د ډک د آسمان او ځمکې او د هغه څيز کوم چې د

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۸۳، رقم الحديث: ۷۹۶، ومسلم في الصحيح ۱/۷۰۶ رقم الحديث: ۷۱-۴۰۹، وأبو داود ۱/۵۲۹ رقم الحديث: ۸۴۸، والنسائي ۲/۱۹۶، رقم الحديث: ۱۰۶۳.

(۲) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۴۶ رقم الحديث: ۲۰۲-۴۷۶، وأبو داود ۱/۵۲۸ رقم الحديث: ۸۴۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ أَهْلُ الثَّنَاءِ وَ الْمَجْدِ أَحَقُّ

آسمان او ځمکې نه پس پيدا کوې ای دهر قسم تعريف او دبزرګۍ مستحقه ستا ذات دغه تعريف نه اوچت

مَا قَالَ الْعَبْدُ وَ كُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ

دی کوم چې بنده کوې مونږ ټول ستا بندګان يو ای الله! تا چې کوم څيز راکړی څوک دهغې منع کونکی نشته

وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجد»[1].

او ورکولو والا څوک نشته دکوم څيز نه چې تا منع کړی او فائده نه شي ورکولې مالدار ته مالداري دده.

توضيح: من شيء بعد: يعنې آسمان او ځمکې نه پس عرش او کرسي او ټوله دنيا حمد او ثناء ستا دپاره ده.

اهل الثناء والحمد: دا منصوب على المدح دی. ای امدح اهل الثناء يا مرفوع دی **ای انت اهل الثناء**

احق ما قال العبد دا مبتداء ده او **اللهم لا مانع الخ** خبر دی او **وكلنا لك عبد** دا جمله معترضه ده،

ذالجد دا منصوب مفعول به دی، **ولا ينفع** د پاڼې فاعل الجد دی جد قسمت او بخت ته هم ويلي شي او رزق او دولت ته هم ويلي شي، دا معنی دلته ډيره مناسبه ده، جد نيکه ته هم ويلي شي او محنت او مشقت ته هم ويلي شي، ټولې معناګانې د مناسبت د وجې نه دلته اخيستلی کېږي. (المرقات ۲/۵۹۸)

ددې حديث نه مخکې په دواړه حديثونو کې چې کومه تشريح ذکر شوې ده، دلته هم دغه شان تشريح ده.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ: كُنَّا نُصَلِّي وَرَاءَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَلَمَّا

د رفاعة بن رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پسې شاته مونځ کولو کله چې نبي

رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ قَالَ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ». فَقَالَ رَجُلٌ وَرَاءَهُ:

عَلَيْهِ السَّلَامُ د رکوع نه سر اوچت کړو نو **سمع الله لمن حمده** يې وويله يو کس د دوي نه شاته ولاړ وو وې ويل

رَبَّنَا وَ لَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ:

ربنا ولک الحمد حمدا کثيرا طيبا مبارک فيه، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله د مونځ نه فارغ شو وې فرمايل

«مَنِ الْمُتَكَلِّمُ آنِفًا؟» قَالَ: أَنَا. قَالَ: «رَأَيْتُ بِضْعَةً وَ ثَلَاثِينَ مَلَكًا

دا کلمات چا وويل؟ دغه کس وويل چې: ما وويل، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: ما بره ديرش فرښتې وليدلې

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۴۷ رقم الحديث: ۲۰۵ - ۴۷۷، وأبو داود ۱ ۵۲۹ رقم الحديث: ۸۴۷، والنسائي ۲/۱۹۸، رقم الحديث ۱۰۶۸.

يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا أَوَّلَ ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ).[1]

خپل منځ کې دې خبره باندې تيزي کوله چې ددې کلماتو ثواب به په ډومبی څوک ليکي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ:

هر رکن صحيح صحيح اداء کړئ ورنه مونځ به مو باطل وي

﴿۱۱﴾ عَنْ أَبِي مَسْعُودِ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُجْزِئُ صَلَاةُ الرَّجُلِ حَتَّى يُقِيمَ ظَهْرَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ» رَوَاهُ أَبُوْدَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ وَالدَّارِمِيُّ

د ابو مسعود انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: نه صحيح کيږي مونځ د يو کس تر هغه وخت پورې چې هغه په رکوع او سجده کې خپله ملا نيغه نه کړي.

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

او امام ترمذي فرمايي دا حديث حسن صحيح دی.

توضيح: يقيم ظهره في الركوع: کله چې رکوع نه واپس قومه کې د مونځ ګزار ملا نيغه نه وي د هغه مونځ جائز نه دی، د غه رنګ چې سجدې نه واپس جلسه کې ملا نيغه نه وي مونځ درست نه دی. دې حديث کې تعديل ارکان طرف ته اشاره ده. دا مسئله مخکې تيره شوې ده. (المرقات ۲/۶۰۰، الکاشف ۲/۳۹۹).

جمهور ددې د فرضيت قائل دي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دې ته واجب وايي، ځکه چې د فرض د پاره د دليل قطعي ضرورت دی هغه دلته موجود نه دی خو د وجوب د پاره دا حديث دليل دی ددې احناف قائل دي.

د رکوع او د سجدې تسبيحات

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ ﴿ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴾ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « اجْعَلُوهَا فِي رُكُوعِكُمْ » فَلَمَّا

د عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: کله دا آيت **فسبح باسم ربک العظيم** نازل شو نو وويل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تاسو خلک دا (**سبحان ربي العظيم**) په صورت کې خپل رکوع کې شامل کړئ، او کله چې

---

(۱) أخرجه البخاري ۱/۳۴۷ رقم الحديث: ۲۰۵ - ۴۷۷، وأبو داود ۱/۵۲۹ رقم الحديث: ۸۴۷، والنسائي ۲/۱۹۸، رقم الحديث: ۱۰۶۸.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۳۳ رقم الحديث: ۸۵۵، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۵۱، رقم الحديث: ۲۶۵، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۲۸۲ رقم الحديث: ۸۷۰

Maktaba Tul Ishaat.com

نَزَلَتْ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اجْعَلُوهَا فِي سُجُودِكُمْ»(۲).

نازل شو دا آيت: سبح اسم ربک الاعلى، نو وې فرمايل: دا تسبيحات په سجده کې شامل کړئ.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا

عون بن عبد الله د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کوي وايي چې: نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي: چې کله

رَكَعَ أَحَدُكُمْ فَقَالَ فِي رُكُوعِهِ: سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ تَمَّ

تاسو کې څوک رکوع وکړي هغه ته رکوع کې (سبحان ربي العظيم) دري ځله ويل په کار دي، نو پوره

رُكُوعُهُ وَ ذَلِكَ أَدْنَاهُ وَ إِذَا سَجَدَ فَقَالَ فِي سُجُودِهِ

به وي رکوع دده، او دا ادنى درجه ده او څوک چې سجده وکړي نو هغه ته په کار دي چې ووايي په سجده

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ تَمَّ سُجُودُهُ وَ ذَلِكَ أَدْنَاهُ". (۲).

کې (سبحان ربي الاعلى) دري ځلې نو سجده به يې پوره وي او دا هم ادنى درجه ده.

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ لِأَنَّ عونا لم يلق ابن مَسْعُود

توضيح: وذلک ادناه: رکوع او سجده کې تسبيحات سنت دي، خو ددې تعداد څومره دی، ددې تعين په دې حديث کې شوی دی، نو دري ځلې تسبيحات لوستل ادنى ښودلى شي. علماء ليکي ادنى درجه د کمال ده، يعنې د دريو نه کم دا ناقص دی دري کمال دی، ادنى درجه د کمال يې ځکه ښودلې ده، نفس سنت يو ځلې ويلو سره ادا کېږي، اوسط درجه د سنت پينځه ځلې ويل دي او اعلى درجه اوو ځلې ده او انتهائي کمال حد نشته. طاق عدد بهتر دی، يولسو پورې تلل په کار دي، خو امام له د مقتديانو خيال ساتل په کار دي منفرد آزاد دی. (المرقات ۲/۶۰۲، الکاشف ۲/۴۰۰).

﴿۱٤﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ: أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ:

د حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره مونځ وکړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به ويل په رکوع

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵٤۲ رقم الحديث: ۸٦۹.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۵۰ رقم الحديث: ۸۸٦، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/٤٦، رقم الحديث: ۲٦۱.

«سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ » وَ فِي سُجُودِهِ : «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى» وَمَا أَتَى عَلَى آيَةِ رَحْمَةٍ

کې (سبحان ربي العظيم) او سجده کې (سبحان ربي الاعلى) او کله به چې هم نبي عَلَيْهِ السَّلَام آيت رحمت

إِلَّا وَقَفَ وَ سَأَلَ وَمَا أَتَى عَلَى آيَةِ عَذَابٍ إِلَّا وَقَفَ وَ

ته ورسيد و هلته به اودريد و دعاء به يې کوله ، او کله به چې د عذاب آيت ته ورسيد و هلته به اودريد و او

تَعَوَّذَ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ وَرَوَى النَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ إِلَى قَوْلِهِ: «الْأَعْلَى».

د عذاب نه به يې پناه غوښتله . نسائی او ابن ماجه دغه روايت د سبحان ربي الاعلى پورې نقل کړې دی،

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ(۱).

او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

توضيح: آيت رحمت او عذاب باندې په ودريدلو سره توجه کوئ او دعا او استغفار کول نوافلو کې په کار دي يعني نوافلو کې داسې اودريدل داحنافو او مالکيو په نزد جائز دي که حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيان جواز دپاره کړی وي هغه ځان له خبره ده محتاط انداز کې فرائضو کې جائزده. (المرقات، ۶۰۲-۲/۶۰۳).

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۱۵﴾ عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قُمْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَلَمَّا

د عوف بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ماد نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره مونځ وکړو نبي عَلَيْهِ السَّلَام چې کله

رَكَعَ مَكَثَ قَدْرَ سُورَةِ الْبَقَرَةِ وَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ : « سُبْحَانَ ذِي الْجَبَرُوتِ وَ الْمَلَكُوتِ

رکوع ته لاړو په اندازه د سورة بقره (لوستلو) رکوع کې ؤ او وې فرمايل :پاک دی د قهر او د بادشاهت ،

وَالْكِبْرِيَاءُ وَالْعَظَمَةِ» . (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ)(۲)

او د لوئي او د بزرګۍ مالک الله پاک دی .

﴿۱۶﴾ وَ عَنِ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ : سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ : مَا صَلَّيْتُ

د ابن جبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: ماد انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه واوريدل ويل يې مامونځ نه دی

---

(۱) أخرجه أبوداؤد۱/۵۴۳رقم الحديث:۸۷۱،وأخرجه الترمذي۲/۴۸،رقم الحديث : ۲۶۲، وأخرجه ابن ماجه۱/۲۸۶رقم الحديث: ۸۸۸.

(۲) أخرجه النسائي ۲/۱۹۱ رقم الحديث : ۱۰۴۹ ، وأبوداود ۱/۵۴۴ رقم الحديث : ۸۷۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَرَاءَ أَحَدٍ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُشْبِهَ صَلَاةً بِصَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

کړي وروسته د يوچا نه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د وفات نه پس، داسې مونځ چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مونځ په شان وي

مِنْ هٰذَا الْفَتَى يَعْنِي عُمَرَ بْنَ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ : قَالَ :

ددغه نوجوان يعني عمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ اللهُ نه علاوه بل چا پسې . راوي وايي : انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي :

فَحَزَرْنَا رُكُوعَهُ عَشْرَ تَسْبِيحَاتٍ وَ سُجُودَهُ عَشْرَ تَسْبِيحَاتٍ .(۱).

مونږ دهغه رکوع کې لس تسبيحات او سجده کې لس تسبيحاتو اندازه وکړه.

د تعديل ارکان په نه کولو باندې سخت وعيد

﴿۱۷﴾ وَ عَنْ شَقِيقٍ قَالَ : إِنَّ حُذَيْفَةَ رَأَى رَجُلًا لَا يُتِمُّ

د شقيق رَحِمَهُ اللهُ نه روايت دی وايي چې حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو کس وليد وچې نه يې اداء کوله په صحيح طريقې

رُكُوعَهُ وَلَا سُجُودَهُ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ دَعَاهُ فَقَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ : مَا صَلَّيْتَ.

سره رکوع او سجده، کله چې هغه مونځ وکړو حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه راوغوښتو او وې ويل تا ونه کړو مونځ

قَالَ : وَ أَحْسِبُهُ قَالَ : وَ لَوْ مِتَّ مِتَّ

پوره طريقې سره شقيق رَحِمَهُ اللهُ وايي: زما ګومان داؤ چې دې کس ته يې داهم وويل که ته مړشي نو مړ به يې

عَلَى غَيْرِ الْفِطْرَةِ الَّتِي فَطَرَ اللهُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ .(۲).

په غير فطرت باندې کوم باندې چې الله تعالى محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پيدا کړی دی.

ددې امت بدترين غل هغه دی چې د مونځ نه غلا کوي

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً

د ابو قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: د غلا په اعتبار سره د ټولو نه لوی غل

الَّذِي يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ ». قَالُوا : يَا رَسُولَ اللهِ وَ كَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ ؟

هغه دی، چې د خپل مونځ نه غلا کوي، صحابو عرض وکړو : يارسول الله ! د مونځ نه څنګه غلا کېږي ؟

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۱/۵۵۱ رقم الحديث : ۸۸۸ .

(۲) أخرجه البخاري ۲/۲۷٤ رقم الحديث :۷۹۱.

قَالَ : لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا ". (۱).

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ركوع او سجده پوره نه كول.

توضيح: اسوء الناس: يعنې بدترين خلک هغه دي چې د مونځ د اركانو نه غلا كوي او تعديل اركان برقرار نه ساتي. نو دا د آخرت دائمي خساره ده، د دنيا خساره خو پوره كېږي چې مالک يې معاف كړي يا شرعي حد پرې جاري شي او د آخرت سزا نه به بچ شي، خو د مونځ غل داسې دی. چې دده د غلا ازاله كول ممكن نه دي. دا كس خپل حق په خپله وهي او ددې په بدله كې د آخرت عذاب اخلي. دا ښكاره خساره ده. (المرقات ۲/۶۰۵، الكاشف ۴۰۲-۲/۴۰۳)

﴿۱۹﴾ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ مُرَّةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا تَرَوْنَ فِي الشَّارِبِ

دنعمان بن مرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل ستاسو څه خيال دی د شراب څكونكي

وَ الزَّانِي وَ السَّارِقِ ؟" وَ ذَلِكَ قَبْلَ أَنْ تُنْزَلَ فِيهِمُ الْحُدُودُ

زنا كونكي او غلا كولو والا په باره كې، دا سوال نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه مخكې د حدودو د نازليدو وو صحابه

قَالُوْا : اَللهُ وَ رَسُولُهُ أَعْلَمُ . قَالَ : « هُنَّ

كرامو عرض وكړو چې : الله تعالى او د هغه رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ښه پوهيږي، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : دا

فَوَاحِشُ وَ فِيهِنَّ عُقُوْبَةٌ وَ أَسْوَأُ السَّرِقَةِ الَّذِيْ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ».

ګناه كبيره ده ددې سزا هم شته، او بدترين غل هغه دی كوم چې د خپل مونځ نه غلا كوي، صحابه كرامو

قَالُوْا : وَ كَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ يَا رَسُولَ اللهِ ؟ قَالَ : « لَا

وويل يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انسان خپل مونځ نه څنګه غلا كوي ؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: چې نه كوي

يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا» (۲). وروى الدَّارِمِيُّ نحوه.

په صحيح طريقې سره ركوع او سجده.

(۱) أحمد في المسند ۵/۳۱۰ ، والدارمي ۱/۳۵۰ رقم الحديث :۱۳۲۸.

(۲) مالک في الموطأ ۱/۱۶۷، رقم الحديث .۷۲ ، كتاب قصر الصلاة في السفر.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب السُّجُود وَ فَضْله:

د سجدې کيفيت او فضيلت

سجده په لغت کې د عاجزۍ اظهار او سر ښکته کولو ته ويل کېږي ، شرعي اصطلاح کې سجده (وضع الوجه على الارض على طريق مخصوص) نوم دی. (اشعة اللمعات ۱/۴۳).

اَلْفَصْل الأوّل:

د سجدې اعضاء

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ

دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي ماته حکم شوې دی د سجدې کولو

عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ وَ الْيَدَيْنِ وَ الرُّكْبَتَيْنِ وَ أَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ وَلَا

په اوه اندامونو :يعنې تندې، دواړه لاسونه، دواړه زنګونان او دواړو خپو پنجو باندې او دا منع دي چې

نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَلَا الشَّعْرَ » (متفق عليه)[1].

مونږ خپلې کپړې او ويښته راغونډ کړو.

توضيح: على سبعة اعضاء: دې حديث کې وويلی شو چې په سجده کې ځمکه باندې کوم اعضاء لږول ضروري دي، ددې تفصيل دا دی د فقهاو په دې باندې اتفاق دی، چې سجده کې دواړه لاسونه او دواړه زنګونان په ځمکه باندې کيښودل سنت دي، قرآن کريم کې الله تعالى د سجدې کولو حکم کړی دی. او سجده وضع الوجه على الارض نوم دی، اوس په مخ کې ډير اعضاء دي، قرآن کريم کې دې ته تعين هم نشته، که دې حکم باندې عمل کولو د پاره صرف مخ په ځمکه باندې کيښودلی شي، نو حکم نه پوره کېږي ځکه چې مخ کيښودلو سره انحراف عن القبلة رائي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه داسې کول ثابت نه دي. مخ کې دويم عضو زنده، خو ددې کيښودلو سره حکم نه اداء کېږي، يو خو ددې وجې نه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت نه دي، دويم ددې وجې نه چې زنه په ځمکه باندې لږولو سره هيڅ تعظيم نشته او سجده الله تعالى د تعظيم د پاره مقرر کړې ده. (المرقات ۲/۶۰۶).

---

(۱) البخاري ۲۹۷/۲ رقم الحديث : ۸۱۲ ، ومسلم ۳۵٤/۱ رقم الحديث :۲۳۰ ـ ٤۹۰ .

د فقهاو اختلاف: اوس صرف تندی او پوزه پاتې شوه، ددې کیښودل په ځمکه باندې دا تعظیم دی او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت هم دي، دې کې اختلاف دی د جمهورو علماو په دې باندې اتفاق دی، چې سجده کې پوزه او تندی دواړه کیښودل افضل دي، البته دې کې اختلاف دی، چې یو باندې اکتفاء کول جائز دي یا نه دي، د جمهورو په نزد باندې سجده کې تندی او پوزه دواړه کیښودل ضروري دي که یو باندې چا اکتفاء وکړو، نو مونځ جائز نه دی. امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ وایي: لاعلی التعین ددې نه عضوه کیښودل فرض دي، که صرف تندی یې کیښودو، نو سجده بلا کراهت جائزده. بعضې روایاتو کې صرف تندی مستقل کیښودل ثابت دي، یو روایت کې جائز مع الکراهة دی او که چا صرف پوزه کیخوده او سجده یې وکړه دا جائز دي او که نه دي، جمهور او صاحبین د ټولو په نزد باندې سجده جائز نه ده، د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دې باره کې دوه روایات دي، یو دا چې سجده کراهت سره جائزده، دویم روایت دا چې ځان له پوزې سره سجده جائز نه ده او دې باندې فتوای ده. (المرقات ۲/۶۰۷).

دا ټول اختلافات هغه وخت دي چې څه عذر نه وي که چاته څه عذر ؤ، نو بیا به د عذر مطابق جواز وي.

قدمونه سجده کې په ځمکه باندې کیښودل ضروري دي: سجده کې قدمونه ځمکه باندې کیښودلو متعلق مسئله ده، د سجدې حالت کې دواړه خپې په ځمکه باندې ټیک کول ضروري دي، او که په پوره سجده کې ځمکې نه دواړه قدمونه اوچت وو، نو سجده ونه شوه، مونځ به فاسد شي. او که یو قدم اوچت وو او دویم په ځمکه باندې وو، دا صورت مکروه دی، حدیث کې اووه اعضاو باندې سجده کولو ذکر راغلی دی، خو د باقي اعضاوو حیثیت دغه رنګ نه دی، بلکې لاس او زنګون په ځمکه کیښودل مسنون دي، خو دا بحث هغه وخت دی، چې کله عذر وي، د عذر وخت کې جائز دی.

لانکفت: **کفت ضرب** نه د راغونډیدو په معنی دی، ویخته یو څیز سره ټرلو ته کفت ویلی کیږي، دا راغونډیدل ممنوع دي چې سجده کې کپړې او ویخته هم شامل دي، دا خیال مه کوه چې کپړې او ویخته به خاورو سره ولړي او خراب به شي، ځکه چې خاورو طرف ته د ټولو تلل دي. (المرقات ۲/۶۰۸).

وكل الذي فوق التراب تراب

په سجده کې په صحیح طریقې سره اعضاء کیښودل په کار دي

﴿۲﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « اعْتَدِلُوْا فِي

د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمایل: (اطمینان سره) اوسیږئ په

Maktaba Tul Ishaat.com

السُّجُودِ وَلَا يَبْسُطُ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ». (متفق عليه)[1]

سجده کې او نه دې خوروئ يو کس په تاسو کې په سجده کې دواړه لاسونه په شان د سپي.

توضيح: اعتدلوا في السجود: سجده کې اعتدال کوئ د لاسونو ګوتې يو ځای کولو سره په ځمکه باندې ښې مضبوطې ږدئ، څنګلې د ځمکې نه جدا ساتئ او خيټه د پټونانو نه جدا ساتئ او سجده کې ښه په لطمينان سره تسبيحات لولئ، څنګه چې متصل دې حديث سره دويم حديث کې ذکر شوي دي. (المرقات ۲/۶۰۹).

انبساط الكلب: سپی چې کله کوناتو باندې کيني، نو د **اقعاء** په صورت باندې کيني، ددې هم ممانعت دی، څنګه چې سپی په سينه باندې کيني، نو مخې والا خپې ځمکه باندې مخې ته داسې عجيبه انداز بلندې خوروي، ددې نه مونځ ګزار منع شوی دی، داد غفلت او سستی ښکاره ده او دې صورت سره غفلت هم پيدا کيږي، انبساط دويم روايت کې **افتراش السبع** نوم سره ياد شوی دی، ټول يو څيز دی. (المرقات ۲/۶۰۹).

دزنانه او دنارينه په مونځ کې فرق

﴿۳﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا سَجَدْتَ

د براء ابن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې کله تاسو سجده کوئ

فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ.[2]

خپل دواړه لاسونه ځمکه باندې ږدئ او څنګونونه د ځمکې نه اوچت ساتئ.

توضيح: فضع كفيك: يعنې د غوږونو برابر يا د ولو برابر دواړه لاسونه ځمکې باندې ږدئ. (المرقات ۲/۶۰۹).

وارفع: يعنې څنګونان د ځمکې نه اوچت ساتئ چې د **انبساط** او **افتراش** صورت رانه شي. احکم د نارينو د پاره دي. (المرقات ۲/۶۱۰).

زنانو ته په کار دي چې هغوي په سجده کې خپل ټول اعضاء راغونډ کړي او ځمکې سره دې يو کړي، ځکه چې ددې د پردې دا تقضا ده، حديث کې دې پردې ته بطور قاعده او کليه اشاره شوې ده، چې هر

---

(۱) أخرجه البخاري ۱/۲۰۸، مسلم ۲/۵۳.

(۲) اخرجه مسلم ۱/۳۵۶ رقم الحديث: ۲۳۴-۴۹۴، ونحمد في المسند ۴/۲۸۳.

هغه فعل ته شامل ده. چې دې کې د پردې ضرورت وي، مثلاً تکبیر تحریمي کې لاس د اوږو او سینو په مخ کې وړل باعث د پردې دی، د زنانو د پاره دا مامور به دی، رکوع او سجده کې اعضا راغونډول باعث د پردې دی. د خپو ګیټی پټول پرده ده. مامور به دی. د سر ویښته پټول پرده ده. لهذا مامور به دی. لاس باندې لاس وهل امام ته فتحې ورکولو کې د سبحان الله په ځای باعث پرده دی. لهذا مامور به دی، حالانکې دا ټول امور د نارینو د مونځ د افعالو برعکس دي. معلومه شوه. چې د سړو او د ښځو مونځ یو شان کنډل مناسب نه دي، بلکې دواړو کې فرق دی. د ښځو مونځ کې هر هغه څیز خپلول په کار دي، چې هغې کې بالکل نمائش نه وي.

﴿٤﴾ وَ عَنْ مَيْمُونَةَ قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا سَجَدَ جَافَى

دمیمونې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به چې کله سجدې ته تللو نو فرق به یې کولو

بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى لَوْ أَنَّ بَهْمَةً أَرَادَتْ أَنْ تَمُرَّ تَحْتَ يَدَيْهِ مَرَّتْ

په مینځ د دواړو لاسونو کې چې که د چیلۍ بچی به د هغوی د لاسونو لاندې وتل وغواړي نو وتی شي.

هٰذَا لَفْظُ أَبِي دَاوُد كَمَا صَرَّحَ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ بِإِسْنَادِهِ ، وَ لِمُسْلِمٍ

دا الفاظ د ابوداؤد دي لکه څنګه چې تصریح کړې په شرح السنة کې په خپل سند سره او مسلم دا حدیث

بِمَعْنَاهُ : قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا سَجَدَ

بالمعنی نقل کړی چې الفاظ یې دی: میمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به (داسې) سجده کوله

لَوْ شَاءَتْ بَهْمَةٌ أَنْ تَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لَمَرَّتْ[1].

چې چیلۍ بچی تر یې لاندې وتل وغواړي نو وتی شي.

توضیح: **بهمة:** د ګډې یا چیلۍ نوی بچی اوشي هغې ته **سخلة** ویلي شي او چې کله په خپلو خپو ګرځي هغې ته بهمة ویلي شي. یعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کې د سجدې حالت کې خپله خیټه مبارکه دخپلو پټونانو نه او څنګلي د ځمکې نه دومره جدا ساتلې چې د چیلۍ بچی تر یې په آسانۍ تیریدو. (المرقات ۲/۶۱۰، الکاشف ۲/۴۰۶).

رواه ابوداود: صاحب مشکوة په دې سره په صاحب د مصابیح باندې اعتراض کوي، چې هغه دا التزام کړی دی چې اول فصل کې به د بخاري او مسلم روایت نقل کوي او ددې حدیث الفاظ د ابوداود دي او

---

(1) أخرجه مسلم ۱/۳۵۷ رقم الحديث: ۲۳۷-۴۹۶، وأبو داود ۱/۵۵۴ رقم الحديث: ۸۹۸، والنسائي ۲/۲۱۳، رقم الحديث: ۱۱۰۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

فصل اول کې يې درج کړي دي، اګر چې معنوي اعتبار سره دا حديث مسلم ذکر کړی دی. (المرقات ۲/۶۱۰).

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَالِكٍ بن بُحَيْنَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ

د عبدالله بن مالک بن بحينة نه روايت دی وايي چې: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به کله سجده کوله نو خپل

فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتَّى يَبْدُوَ بَيَاض إِبطَيْهِ . (متفق عليه)[1].

لاسونه به يې دومره کولاو ساتل، چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تخرږونو سپين والی به ښکاره شو.

توضيح: عن عبدالله بن مالک ابن بحينة دې سند کې يو فني خبره ده، ددې يادول ضروري دي، هغه خبره دا ده، د عبدالله د پلار نوم مالک دی او د عبدالله د مور نوم بحينه دی دلته عبدالله مور او د پلار دواړو طرف ته منسوب دی، څنګه عبدالله بن ابی ابن سلول دواړو طرف ته منسوب دی، دې سند کې دا غلط فهمي پيدا کېږي، شايد مالک بحينه ځوی وي، حالانکې داسې نه ده، بحينه د مالک ښځه ده، د عبدالله مور ده، محدثين دغه رنګ سند کې الف ډيره وي د ابن سره يې ليکي، دلته هم په مالک باندې تنوين لوستل په کار دي، او بيا الف زياتول او لوستل په کار دي چې دا معلومه شي، چې ابن بحينة د عبدالله صفت دی. دا قاعده ما په توضيحات جلد اول کې تفصيلي ليکلې ده. (المرقات ۲/۶۱۱).

دې نه دا معلوميږي عبدالله چې کوم وخت کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلی وو، هغه وخت کې کيدی شي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قميص په ځای څادر اچولې وي، د هغې د غاړو نه بغل ښکاره کيدو، ګيني د قميص سره بيا د بغل سپين والی نه ښکاري د بغل سفيدي الفاظونه دا معلوم شو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډير زيات ښائسته وو، ځکه چې بغل عمومي تور رنګ والا وي، چې د کوم کس تخرږونه سپين وي، هغه به نور څومره ښائسته وي. (المرقات ۲/۶۱۱).

زه عن شريک في محاسنه فجوهر الحسن فيه غير منقسم

په سجده کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه دعاء

(٦) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ: «اللَّهُمَّ

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپله سجده کې دا وويل: ای الله! زما

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ١/٤٩٦،رقم الحديث : ٣٩٠، ومسلم في الصحيح ١/٣٥٦ رقم الحديث:٣٣٥-٤٩٥.

اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ دِقَّهُ وَجِلَّهُ وَأَوَّلَهُ وَآخره وعلانيته وسره» .[1].

ټول واړه او غټ مخکې او وروسته ښکاره او پټ ګناهونه معاف کړی.

توضیح: دقه دال کسرې سره دقیق نه دی، جله جیم کسرې سره جلیل نه دی، د کثیر په معنی سره دی د دواړو لفظونو معنی دا شوه، قلیله و کثیره یا معنی دا ده واړه او لوی ګناه، و علانیته و سره، یعنې ښکاره او پټ ګناهونه دې نه مراد دي. او کوم چې د خلکو نظرونو نه پټ دي، هغه هم معاف کړه، ګیني الله تعالی نه هیڅ هم پټ نه دي.(الکاشف ۲/۴۰۷).

دا دعا حضور ﷺ لوستلې ده، دې کې احتمال دی چې د تسبیحاتو په ځای باندې یې دا دعا لوستلې ده او دا احتمال هم دی، چې د تسبیحاتو نه پس یې لوستلې وي، دا احتمال کیدی شي، فرائضو کې لوستلې وي یا نوافلو کې.(المرقات ۲/۶۱۱).

﴿۷﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: فَقَدْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً مِنَ الْفِرَاشِ

دعائشې رضی الله عنها نه روایت دی وایي چې یو شپه ما حضور ﷺ په بستره باندې ونه موندو، ما

فَالْتَمَسْتُهُ · فَوَقَعَتْ يَدِي عَلَى بَطْنِ قَدَمَيْهِ

حضور ﷺ کتو چې دې کې زما لاس د حضور ﷺ خپو سره ولږیدو (ما چې وکتل)

وَ هُوَ فِي الْمَسْجِدِ وَ هُمَا مَنْصُوْبَتَانِ

حضور ﷺ په حالت د سجدې کې ؤ او د حضور ﷺ دواړه خپې مبارکې ولاړې وې،

وَ هُوَ يَقُوْلُ : « اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ

حضور ﷺ داسې ویل ای الله! زه ستاسو د رضا په ذریعې ستاسو د غضب نه پناه غواړم، ستاسو

وَ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَ أَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي

دمعافی په ذریعې ستاسو د عذاب نه پناه غواړم او ستاسو د پناه طلبګار یم او زه احاطه نه شم کولې ستا

ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ» . (رَوَاهُ مُسلم)[2].

د تعریف د شمار، تاسو داسې یې څنګه چې د خپل ځان تعریف کوئ.

---

(۱) اخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۵۰ ،رقم الحديث : ۴۸۳/۲۱۶ ،وابوداود ۱/۵۴۶ رقم الحديث : ۸۷۸.

(۲) أخرجه مسلم ۱/۳۵۲ رقم الحديث:۲۲۲-۴۸۶، وأبو داود ۱/۵۴۷ رقم الحديث :۸۷۹، والنسائي ۲/۲۲۲، رقم الحديث:۱۱۳۰ ، والترمذي ۵/۴۸۹ رقم الحديث : ۳۴۹۳ .

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: د فقدان نه ملاویدو او ورکیدو په معنی سره هم دی او **افتقدت** د پیداکولو په معنی دی. المسجد نه مراد حجره کې ځای د سجدې هم کیدی شي. او بمعنی السجود سجده هم کیدی شي.

دې حدیث کې واضح دلیل دی چې **مس المرأة** سره اودس نه ماتیږي. (المرقات ۲/۶۱۲).

انسان چې کله په سجده کې وي دا الله تعالی ته نزدې وي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ

دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي بنده الله تعالی ته هغه وخت نږدې

وَهُوَ سَاجِدٌ فَأَكْثِرُوا الدُّعَاءَ. (رَوَاهُ مُسلم)[1].

وي چې کله سجده کې وي، ځکه تاسو (سجده کې) ډیرې دعاګانې کوئ.

توضیح: کله چې سړی تکبیر تحریمې له لاس اوچتوي، ګویا دې ټولې دنیا ته خیرآباد وویل او شاته یې ګوزاره کړه او مکمل طور باندې الله تعالی طرف ته متوجه کېږي. او الله تعالی مخامخ وي، بیا چې سړی سجده کوي، ګویا دا د الله تعالی رحمت کې غوپه وهي یا د الله تعالی په قدمونو کې پریوځي. ظاهره ده دا نزدیکت نزدې نسبت دی، ځکه دغه وخت کې دعا کوئ، چې د الله تعالی رحمت مکمل متوجه وي، دا خبره یې حدیث کې بیان کړې ده. (المرقات ۲/۶۱۳).

د شیطان تختیدل

﴿۹﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قَرَأَ ابْنُ آدَمَ السَّجْدَةَ فَسَجَدَ

دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمایي کله چې ابن آدم د سجدې آیت ولولي او سجده

اعْتَزَلَ الشَّيْطَانُ يَبْكِي يَقُولُ: يَا وَيْلَتِي أُمِرَ ابْنُ آدَمَ بِالسُّجُودِ

وکړي، دې وخت کې شیطان ژاړي اویو طرف ته شي اووایي ای کاش! ابن آدم ته د سجدې حکم وشو هغوي

فَسَجَدَ فَلَهُ الْجَنَّةُ وَأُمِرْتُ بِالسُّجُودِ فَأَبَيْتُ فَلِيَ النَّارُ". (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[2].

سجده وکړه او دجنت حقدار شو او ماته د سجدې حکم وشو ما د حکم نافرماني وکړه نو ماته اور ملا شو.

توضیح: یبکی: یعنې کله چې انسان د تلاوت په وخت کې د سجدې آیت، ولولي او سجده وکړي، نو شیطان لرې تختي او په چغو ژاړي. د آدم اولاد قرآن کریم ولوستو او سجده یې وکړه، ماته چې د سجدې

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۵۰ رقم الحديث: ۲۱۵-۴۸۲، وأبو داود ۱/۵۴۵ رقم الحديث: ۸۷۵، والنسائي ۲/۲۲۶، رقم الحديث: ۱۱۳۷

(۲) اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۸۷ رقم الحديث: ۱۳۳-۸۱، وابن ماجه في السنن ۱/۳۳۴، رقم الحديث: ۱۰۵۳.

حکم وشو، ما انکار وکړو، (المرقات ۲/۶۱۴).

د ابلیس دا چغې او ژړا یا خو حقیقة په ټولو د افسوس او حزن دي، یا د مکرمچ پشان د دوکې او ښکې دي ځکه چې منقول دي چې حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته ابلیس وویل الله تعالی نه تپوس وکړه، چې زما توبه به قبوله شي یا نه؟ الله تعالی موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ته وفرمایل شرط هغه دی، چې آدم ته سجده وکړه. اوس خو آدم نشته خو قبر ته مخامخ ورته سجده وکړه، ابلیس وویل ما ژوندي آدم ته سجده نه ده کړې. دغه رنګ یوه ضعیفه قصه ده چې د ابلیس روح قبض کولو د پاره چې فرښتې راشي دا مشرق او مغرب او جنوب طرف ته تختي (تردې چې دا قصه احادیثو کې شته) کله چې فرښتې دا راقابو کړي. دا به د حضرت آدم قبر سره راوځي، چې سجده وکړي، لیکن دا خبیث به د مرګ په وخت کې هم سر برې کوي. چې غیر اختیاري طور باندې هم د سجدې صورت جوړ نه شي. دومره سخت دښمن ؤ، دلته خو به دده ژړا د تازه تازه سزا د وجې نه وي او یا به دغه فراډ ژړا وي، لکه د بې بې غیرته او بې حیا او دهوکه باز، د بدر میدان کې د تختید و په وخت کې ابوجهل ته ویلي وو ﴿إِنِّي أَخَافُ اللهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ﴾

ډیرې سجدې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د نږدیکت سبب دی

﴿۱۰﴾ وَعَن ربيعَة بن كَعْب قَالَ: كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَيْتُهُ بِوَضُوئِهِ

دکعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې زه به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د شپې وم او د اودس اوبه او نور

وَ حَاجَتِهِ فَقَالَ لِي : « سَلْ » فَقُلْتُ: أَسْأَلُكَ

ضروریات به مې ورکول، یوورځ نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ماته وفرمایل وغواړه ما عرض وکړو زه غواړم ستا

مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ . قَالَ:

ګاونډیتوب په جنت کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل کومه مرتبه چې ته غواړې هغه خو ډیره عظیمه ده

« أَوْ غَيْرَ ذٰلِكَ ؟ ». قُلْتُ هُوَ ذَاكَ . قَالَ :

ددې نه علاوه بل څه وغواړه ما عرض وکړو زما درخواست خو صرف دغه دی، نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمایل

« فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ » . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

دې مرتبې حاصلیدو د پاره تاسو کثرت سجود په ذریعې سره خپل ذات په باره کې زما مدد کوه.

---

(۱) اخرجه مسلم في صحيحه ۱/۳۵۳ رقم الحديث :۲۲۶-۴۸۹، والنسائي ۲/۲۲۷ رقم الحديث : ۱۱۳۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: (و حاجته) یعني اودس د پاره اوبه، لوټه او مصلی یا استنجاء د پاره نرم کانې او نور خدمت کول په ضروریاتو کې داخل دي، (المرقات ۲/۶۱۵).

د شپې وخت کې مشقت والا خدمت نه او د اطاعت د جذبې نه د خوشحالی د وجې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بطور صله وفرمایل وغواړه څه غواړې دغه عقیدتمند غلام ورته وویل په جنت کې ستاسو سره یو ځای والی غواړم، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غوښتل چې دا کس ددې نه علاوه بل څه او غواړي یا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اندازه لږ وله چې ددې کس دا مطالبه یو جذباتي اظهار دی او که په رشتیا جذبې سره دی. لیکن رشتنې عاشق چې کله جواب ورکړو، بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل دعا به زه کوم. خو تاسو به زما دومره تعاون او مدد کوئ، چې په کثرت سره سجدې کوئ. (المرقات ۶۱۵-۲/۶۱۶).

معلومه شوه، چې د بزرګانو دعاګانو سره د عمل ضرورت هم دی، دا نه چې صرف د دعا په بنیاد باندې خپل عمل پریږدي او خالي آرزوګانې کوئ، چا ویلي دي چې چا بې کولاویدو د پاره ذریعه ده، خود لاس سره زور ورکولو د پاره چابي دباوول دي، یعنې تاله اګر چې چابي سره کولاویږي، خود لاس حرکت ضروري دی.

فتح قفل ار چه کلید است اے عزیز ۞ جنبش از دست تو می خواهند نیز

دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چې دنیکانو خدمت د سعادت لویه ذریعه د حصول ده. او دې نه هم دا معلومه شوه چې، د خدمت کولو نظر د آخرت سعادت باندې لږیدلی وي، د دنیا څیزونه فاني دي، دې خوش قسمته صحابي ته اوګورئ، جنت هم ورته ملاو شو او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رفاقت هم ملاو شو.

د سجدو فضیلت

﴿۱۱﴾ وَعَنْ مَعْدَانَ بْنِ طَلْحَةَ قَالَ: لَقِيتُ ثَوْبَانَ مَوْلٰى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

دمعدان بن ابی طلحة رَحِمَهُ اللهُ (تابعي) نه روایت دی وایي چې ما ملاقات وکړو دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د آزاد کرده

فَقلت : أَخْبِرْنِيْ بِعَمَلٍ أَعْمَلُهُ

غلام حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره او هغه ته مې عرض وکړو ماته داسې عمل وښایه چې دغه عمل زه کوم،

يُدْخِلُنِي اللهُ بِهِ الْجَنَّةَ فَسَكَتَ ثُمَّ سَأَلْتُهُ فَسَكَتَ

چې ددې عمل په بدله کې ما جنت ته داخل کړي نو هغه خاموش شو ما دوباره عرض وکړو هغه بیا خاموش

ثُمَّ سَأَلْتُهُ الثَّالِثَةَ فَقَالَ: سَأَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ما چې دریم ځل عرض وکړو هغه وویل داسوال ما دنبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ نه کړی ؤ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَقَالَ : « عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ لِلّٰهِ فَإِنَّكَ لَا تَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ

فرمايلي ؤچې تاسو الله ته ډيرې سجدې کوئ ځکه چې تاسو چې کله الله ته يوه سجده وکړي نو او چت به

اللّٰهُ بِهَا دَرَجَةً وَ حَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً » . قَالَ مَعْدَانُ : ثُمَّ

کړي الله تعالى په دې سره يوه درجه او کموي به د تا نه په دې سجدې سره يوه ګناه .معدان وايي مابيا

لَقِيتُ أَبَا الدَّرْدَاءِ فَسَأَلْتُهُ

ابودرداء سره ملاقات وکړو او هغه نه مې هم دا سوال وکړو (کوم چې مې ثوبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه کړې وو)

فَقَالَ لِيْ مِثْلَ مَا قَالَ لِيْ ثَوْبَانُ. (رَوَاهُ مُسلم)[1].

هغوئ هم ماته دغه جواب راکړو، کوم چې ثوابان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راکړی وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

سجدې ته د کوزيدو او پاڅيدو طريقه

﴿۱۲﴾ عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ : رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا سَجَدَ

دوائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې ما نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وليد وچې کله به يې د سجدې اراده وکړه نو

وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ وَ إِذَا نَهَضَ

اول به يې دواړه زنګونان (په ځمکې باندې) کيخودل مخکې دا ايښودو دلاسونو نه او چې کله به او چتيدو

رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ.[2]

د سجدې نه نو او چت به يې کړل لاسونه مخکې د زنګونانو نه.

توضيح: اذا سجد وضع: علماو د سجدې اعضاء ځمکې باندې د کيخودلو د پاره سجدې وخت کې او د سجدې نه د پاڅيدو په وخت کې د او چتولو په باره کې اصول وضع کړي دي، هغه داسې دي، چې کله سړی ولاړ وي چې د هغه کوم عضوه د قيام په حالت کې ځمکې ته نږدې وي هغه دې ډومبی کښږدي او کومه عضوه چې د قيام په حالت کې د ځمکې نه څومره لرې وي د سجدې نه د پاڅيدو وخت کې هغه او چتول په کار دي، دې اعضاو کې بعضې علماء تندی او پوزه يوه عضوه ګرځولې ده، لهذا دې کې د

---

(۱) اخرجه مسلم ۱/۳۵۳ رقم الحديث : ۲۲۵ - ۴۸۸، والترمذي ۲/۲۳۰ رقم الحديث : ۳۸۸ والنسائي ۲/۲۲۸ رقم الحديث :۱۱۳۹.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۲۴ رقم الحديث : ۸۳۸ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۵۶، رقم الحديث :۲۶۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکې والي او وروستوالي ضرورت نشته، خو بعضې علماء فرمايي پوزه اقرب الى الارض ده، د تلو په وخت کې رومبى دا لګول په کار دي. بهر حال ددې کيفيت لحاظ هغه وخت دى، چې څه عذر نه وي که عذر وو، نو عذر خو عذر وي. (المرقات ۲/۶۱۷).

سجدې ته د کوزيدو او پاڅيدو د کيفيت بيان

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ

دابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: تاسو کې چې څوک سجده

فَلَا يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ

کوي هغه دې د اوښ د ناستې پشان نه کيني، بلکې ده ته په کار ده، کيږدي خپل دواړه لاسونه په زمکه

قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ. وَالدَّارِمِيُّ قَالَ أَبُو سُلَيْمَانَ الْخَطَّابِيُّ: حَدِيثُ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ

باندې مخکې د خپلو زنګونانو نه. او ابو سليمان خطابي ويلي دي چې: حديث د وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

أَثْبَتُ مِنْ هٰذَا وَقِيلَ: هٰذَا مَنْسُوخٌ.(۱)

ددې حديث نه ډير صحيح ثابت دى، حالانکې ويلي شوي دي چې دا حديث منسوخ دى.

توضيح: (وليضع يديه قبل ركبتيه) سجدې ته د تلو په وخت او واپس کيدو په وخت کې کومه عضوه ځمکې باندې مخکې کيښودل په کار دي، دې کې د علماو اختلاف دى. (المرقات ۲/۶۱۸).

د فقهاو اختلاف: د دريو ائمو په نزد باندې سجدې ته د تللو په وخت کې هغه معروف ترتيب دى، چې کوم اعضاء ځمکې ته نږدې وي هغه مخکې کيښودل په کار دي او واپس کې ددې عکس دى، لکه مخکې حديث نمبر (۱۲) کې مذکور دي، امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ او اوزاعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي سنجدې ته د تللو وخت کې رومبى ځمکې باندې لاس کيږده، بيا زنګونان، بيا لاسونه، بيا پوزه، بيا تندى. (المرقات ۲/۶۱۸)

دلائل: جمهورو د وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د روايت نه استدلال کړى دى، بلا تاويله په خپل مقصد باندې واضح دليل دى، د امام مالک دليل زير بحث د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث دى، د فقهاو اختلاف اولى او غير اولى او افضليت کې دى، جواز او عدم جواز کې نه دى، امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث قولي دى او د وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث فعلي دى، او اصول دا دي، چې کله قول الرسول او فعل الرسول تقابل وي، ترجيح قول ته به وي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۲۵ رقم الحديث: ۸۴۰.

جوابات: جمهورو د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ د مستدل د ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت نه تسلي بخش جوابات ورکړي دي.

اول جواب: د ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث دا منسوخ دی او صحيح ابن خزيمه کې د مصعب بن سعد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت ددې د پاره ناسخ دی، هغه وايي: **كنا نضع اليدين قبل الركبتين فامرنا بوضع الركبتين قبل اليدين.**

دويم جواب: د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت د محدثينو په نزد باندې معلول دی او د وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت اقوی او اثبت دی، اصولي طور باندې وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت ته ترجيح ورکولی شي، حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت کې يو علت دا دی، امام ترمذي ددې غرابت بيانولو سره دا معلول ګرځولی دی. دويم علت دا دی د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت د هغه د نورو راويانو سره معارض دی. امام طحاوي مضبوط سند سره دا روايت ذکر کوي. هغه روايت بالکل د وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت په شان دی.

دريم علت دا دی ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت اوله حصه په خپله د دويمې حصې سره معارض ده، ځکه چې اوله حصه کې (**فلا يبرک کما يبرک البعير**) الفاظ دي، حالانکې اونټ چې کله کيني، اول زنګونان کيږدي، دې الفاظو نه پس **وليضع يديه قبل رکبتيه** الفاظ ددې معارض او مخالف دي، ځکه محدثين فرمايي، دلته يو راوي نه بيان کولو کې وهم شوی دی. او هغه **يديه په رکبتيه** باندې مقدم کړی، ګيني اصل عبارت کې **رکبتيه** مقدم دی، نو د ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت کې به تعارض ختم شي او د وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت کې به تعارض ختم شي، يعنې يو روايت کې چې دومره علتونه وي، هغه به د وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د روايت مقابله څنګه وکړي.

دريم جواب: د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت د معذور د پاره دی او دې کې د چا اختلاف نشته او معذوره حضرات داسې عمل کوي او د هغوی سره نبه هم بنکاري، غير معذور سره دا عمل بالکل نبه نه بنکاري او سنت طريقه هغه ده کومه چې نبه بنکاري. صاحب مشکوة هم د حضرت ابو هريره رضی الله عنه روايت نه دوه جوابونه کړي دي چې، يا خو د ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت منسوخ دی يا معلول غير قوي دی، د وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت اثبت او اقوی دی. (المرقات ۲/۶۲۰).

﴿۱۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ:

دابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دواړو سجدو په مينځ کې دا وويل:

Maktaba Tul Ishaat.com

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي وَاهْدِنِي وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي»[1].

ای الله! ما وبښې، ما باندې رحم وکړې، ماته هدایت وکړې، ما محفوظ وساتې او ماته رزق راکړې.

﴿۱۵﴾ وَعَنْ حُذَيْفَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ:

د حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د دواړو سجدو په مینځ کې دا ویل: ای

«رَبِّ اغْفِرْ لِي». (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، والدارمي).[2]

زما ربه! ماته بخښنه وکړې.

نوټ: د ظاهرو احادیثو نه دا معلومیږي، چې د فرائضو او نوافلو مونځونو په جلسه کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا دعاګاني لوستلې بیشک فرائض د زوائدو نه محفوظ ساتل دا احنافو په نزد باندې اولی دی، خو اختصار سره مسنون مستند دعاګاني منع نه دي. احناف صرف د احتیاط په طور باندې وایي چې چیرته فرض مونځ فاسد نه شي، بعضې روایاتو کې تصریح ده، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به نفلو کې اوږدې دعاګاني غوښتلې، خو اختصار سره فرائضو کې دعاګانو غوښتلو نه منع نه ده کړې. ابن عابدین شامي رَحِمَهُ اللهُ د جواز قائل دی. (كما في زجاجة المصابيح، ج۱، ص ۲۷۰)

الْفَصْلُ الثَّالِث:

په جومات کې د مونځ د پاره ځای خاص کول منع دي

﴿۱۶﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ نَقْرَةِ الْغُرَابِ

د عبد الرحمن بن شبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې منع کړې ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د کارغانو په شان د ټونګو وهلو

وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ وَأَنْ يُوَطِّنَ الرَّجُلُ الْمَكَانَ فِي الْمَسْجِدِ

او د ځناور په شان لاس خوریدو نه. او ددې نه یې هم منع فرمایلې چې څوک جومات کې ځای مقرر کړي

كَمَا يُوَطِّنُ الْبَعِيرُ.[3].

لکه څنګه چې یې اوښان مقرر کوي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۵۳۰/۱ رقم الحديث: ۸۵۰، وأخرجه الترمذي في السنن ۷۶/۲، رقم الحديث: ۲۸٤، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۲۹۰/۱ رقم الحديث: ۸۹۸.

(۲) اخرجه النسائي ۲۳۱/۲ رقم الحديث: ۱۱٤۵، والدارمي ۳٤۸/۱ رقم الحديث: ۱۳۲٤

(۳) أخرجه أبو داود في السنن ۵۳۸/۱ رقم الحديث: ۸۶۲.

توضيح: نقرة الغراب مرغۍ چې کله دانه خوري هغه ټونګه وهي، دلته مراد دا دی، چې سجدې ته زر تلل او زر واپس کيدل منع دي، آرام او اطمينان سره عمل کول په کار دي.

افتراش السبع: ددې وضاحت حديث نمبر (۲) کې تير شوی دی. (المرقات ۲/۶۲۱).

ځومره احاديثو کې چې د ځناورو په شان طريقه او هئيت اختيارولو نه په مونځ کې منع راغلې، بعضې ځناورو نومونه هم ذکر دي: (۱) **افتراش السبع**. (۲) **افتراش الكلب واقعاء الكلب**. (۳) **بروک البعير**. (۴) **التفات الثعلب**. (۵) **نقرة الديک**. (۶) **نقرة الغراب**. (۷) **عقبة الشيطان**. (۸) **رفع الايدی كاذناب خيل شمس**. (۹) **دبيح الحمار** يعنې رکوع کې د خر په شان سر ښکته کولو ته ويل کېږي. دې نه معلومه شوه، چې مونځ انسان د حيواناتو نه جدا کوي او انسان نه انسان جوړوي. لکه:

علم معقولات گنده می کند ۞ علم منقولات بنده می کند

علم منقولات انبياء آست ۞ علم معقولات علم اشقياء آست

وان يوطن المكان: اوښ چې کوم ځای کې کيني، نو دغه ځای خپل ځان د پاره خاص کړي، هلته بل اوښ نه پريږدي، دغه رنګ جومات کې نه دي کول په کار، چې مونځ ګزار خپل ځان د پاره يو داسې ځای متعين کړي چې دويم څوک هلته نه کيني دا مکروه او ممنوع ده، لکه جوماتونو کې بعضې غټ خلک داسې کوي يا شهرت د پاره داسې کوي، جومات خو وقف ځای دی، کوم کس چې مخکې راشي د هغه حق دی، چې کوم ځای کې کيني کيناستلی شي. (المرقات ۲/۶۲۱).

ملا حلواني رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: دغه رنګ د مونځ ګزار د پاره دا هم ممنوع او مکروه ده، چې هغه د مونځ د پاره يو خاص لباس او جامی متعين کړي او دا خيال کوي، چې ددې نه علاوه بله جوړه کې مونځ نه کېږي. (المرقات ۲/۶۲۱).

په جلسه او قعده کې د ناستې طريقه

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عَلِيُّ!

د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل، ای علي! کوم څيز چې زه

إِنِّي أُحِبُّ لَكَ مَا أُحِبُّ لِنَفْسِي وَأَكْرَهُ لَكَ مَا أَكْرَهُ لِنَفْسِي

د ځان د پاره محبوب کنړم هغه څيز ستا د پاره هم محبوب کنړم او کوم څيز چې د ځان د پاره نه خوښوم

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا تُقْعِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ » . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)(۱).

هغه ستا د پاره هم نه خوښوم، دواړو سجدو په مينځ کې اقعاء مه کوئ.

توضيح: لاتقع: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دواړو جهانو د پاره رحمت دی، خو د خپل امت د پاره روف الرحيم دی، يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کوم څيز د ځان د پاره خوښوي هغه د امت د پاره هم خوښوي بيا د اهل بيتو معامله د عام امت په نسبت لږه خاص ده، که امت ته يې په رخصت باندې د عمل اجازت ورکړی وي، نو اهل بيتو ته يې په عزيمت باندې حکم ورکړی دی، دې باره کې د حضرت علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام دا مکالمه وشوه. ددې خلاصه دا ده چې د سجدو منځ کې اقعاء نه بچ اوسئ.

اقعاء صورت: مشهور صورت دا دی، چې بين السجدتين يا قعده کې سړی کوناټو باندې کيني او دواړه زنګونان او پوندی ولاړې وي، او لاسونه يې په ځمکې باندې ايښودې وي، څنګه چې سپی کيني. د اقعاء مشهوره او صحيح معنی دا ده. (المرقاث ۲/۶۲۲).

بعضې علماء اقعاء دې ته وايي يو مونځ ګزارد سجدو منځ کې يا قعدې حالت کې داسې کيني چې د خپو پنجې ځمکې باندې کيږدي او کوناټي د پوندو د بره کيږدي او لاسونو د زنګونانو سره پټونانو باندې کيږدي، خو د اقعاء هر صورت مکروه دی، دا د سپو او ځناورو سره مشابهت دی. (المرقات ۲/۶۲۲).

په رکوع او سجده کې ملا نيغه ساتل په کار دي

﴿۱۸﴾ وَعَنْ طلق بن عَلِيٍّ الْحَنَفِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا يَنْظُرُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ

د طلق بن علي حنفي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي نه ګوري الله تعالی د

إِلَى صَلَاةِ عَبْدٍ لَا يُقِيمُ فِيهَا صُلْبَهُ بَيْنَ خُشُوعِهَا وَ سُجُودِهَا . (رَوَاهُ أَحْمد)(۲).

هغه کس مونځ ته چې دا په خپل مونځ کې په حالت سجدې او رکوع کې خپله ملا نه نيغه وي.

توضيح: لاينظرالله: د رحمت په نظر الله تعالی نه ګوري او مونځ په دوران کې نزول رحمت په داسې کس نه نازليږي، چې هغه مونځ کې داسې لاپرواهي کوي او د مونځ د آدابو خيال نه ساتي داسې عبادت اعلی درجې د قبوليت ته نه رسي، چونکې سجده او رکوع د الله تعالی د عبادت اهم رکن دی، چې دې کې نقص راشي، نو پوره مونځ ناقص شي، ځکه د سخت وعيد حکم راغلی دی. (المرقات ۲/۶۲۲).

خشوعها: رکوع باندې د خشوع اطلاق شوی دی، دلته قومه کې ملا نيغول او تعديل ارکان صحيح

---

(۱) أخرجه الترمذي ۲/۷۲ رقم الحديث : ۲۸۲.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۴/۲۲.

طريقې سره اداء کولو باندې تنبيه ده.

سجودها جلسه کې اطمينان سره ناسته په کار ده، هغه داسې چې هر اعضاء خپل ځای باندې شي. (المرقات ۲/۶۲۲).

په سجده کې د سر کيښودو کيفيت

﴿۱۹﴾ وَ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ : مَنْ وَضَعَ جَبْهَتَهُ
د حضرت نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي: چا چې کيښودو تندي خپل په
بِالْأَرْضِ فَلْيَضَعْ كَفَّيْهِ عَلَى الَّذِيْ وَضَعَ عَلَيْهِ
ځمکه باندې نو هغه ته په کار دي، چې هغه خپل دواړه لاسونه هم په ځمکه باندې په هغه ځای کيږدي
جَبْهَتَهُ ثُمَّ إِذَا رَفَعَ فَلْيَرْفَعْهُمَا فَإِنَّ
کوم ځای کې چې يې تندی ايخودی دی، بيا کله چې پاڅي خپل دواړه لاسونه دې هم اوچت کړي، ځکه
الْيَدَيْنِ تَسْجُدَانِ كَمَا يَسْجُدُ الْوَجْهُ . (رَوَاهُ مَالِك)[1].
چې څنګه مخ سجده کوي، دغه رنګ لاسونه هم سجده کوي.

توضيح: کفيه: مونځ کې چې مونځ ګزار کله سجدې ته ځي د هغې ټول اعضاء سجدې کې شريک کيږي، د لاسونو هم سجده وې، دې ته په کار دي چې د سجدې دوران کې لاسونه په داسې ځای باندې کيښودلی شي چې دواړو غوږونو ته مخامخ وي که چرته د غوږونو نه څه څيز راپريوځي، نو هغه به د لاسونو په بره حصه رائي، لاسونه نه بالکل د ولو او خيټې سره کيښودل او نه د سر نه مخکې کيښودل، بلکې د سر منځ کې کيښودل او لاسونه غاړو ته کيښودل په کار دي، او د احنافو مسلک هم دا دی، څنګه چې دې حديث کې دي.

خو شوافع حضرات د ولو سره خواته کيښودل يې بهتر ګڼي، ظاهري حديث د احنافو دليل دی او شوافعو سره د دې حديث صرف تاويل دی، هغه دا چې دې حديث کې دا وايي، څنګه تندی ځمکه باندې کيخودلی دی، دغه رنګ لاسونه هم د ولو سره خواته قبلې طرف ته کيږده چې د دې سجده هم وشي. (المرقات ۶۲۲-۲/۶۲۳).

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۱۶۳، رقم الحديث : ۶۰ ، من کتاب قصر الصلوة في السفر .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب التَّشَهُّد:

د تشهد بيان:

دوو قعدو کې چې کومه خاص ناسته ذکر کولی شي هغې ته تشهد ويلي شي، شهادت معنی ګواهي ورکولو ته ويلي شي، دې ذکر کې خاص کر شهادتين بيانيږي ځکه دې ته تشهد ويلی شي، دلته صرف د تشهد لفظ دی عنوان د لاندې دا بيان کوي چې د تشهد د ناستې کيفيت څه دی او د شهادتينو لوستل څنګه دي، ددې نه پس د **الصلوة على النبي** عنوان دی دا هم په حقيقت کې د هغه دوه قعدو کې د اذکارو بيان دی مګر داد درود لوستلو متعلق دی په دې کې دا ويلې شوي دي چې په قعدو کې به په حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې درود څنګه ويل په کار دی، ددې نه پس د **الدعاء في التشهد** عنوان ايښې دي دا هم په حقيقت کې په قعده کې د اکارو متعلق دی چې د شهادت او درود نه پس د دعاء طريقه څه ده؟ او دعاء به څنګه وي داد سلام ګرځولو پورې د اذکارو بيان دی او بيا د عنوان نه په غير د سلام نه پس د دعاګانو بيان يې کړې دی. (المرقات ۲/٦۲۳).

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

د قعدې طريقه او د اشارې بالسبابه کيفيت

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ

د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : نبي کريم عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ چې به کله تشهد کې کيناستو، نو

وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى وَ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُمْنَى وَ

خپل ګس لاس به يې د ګسې خپې په زنګون باندې او بنې لاس په بنې خپې په زنګون باندې کيښوده او

عَقَدَ ثَلَاثًا وَ خَمْسِيْنَ وَ أَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ .

خپل (بنې) لاس به يې په شان د عدد دري پنځوس (۵۳) بند کړو او شهادت ګوتې سره به يې اشاره وکړه.

وَ فِيْ رِوَايَةٍ : كَانَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ

او په يو روايت کې دي: چې کله به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مونځ کې کيناسته نو ايښودل به يې خپل دواړه

يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَ رَفَعَ أُصْبُعَهُ الْيُمْنَى الَّتِيْ تَلِي الْإِبْهَام

لاسونه به يې زنګونانو باندې کيښودل او د بنې لاس ګوته کومه چې د غټې ګوتې سره نزدې ده اوچتوله

يَدْعُو بِهَا وَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى

او د هغې سره به يې دعا غوښتله (يعنې اوچتيد و سره به يې وحدانيت ثابتولو) او ګس لاسونه به يې

رُكْبَتِهِ بَاسِطَهَا عَلَيْهَا. [1].

پتونانو باندې کولاو کيښودل.

توضيح: (**وعقد ثلاثة و خمسين**) انسانانو ته مختلف زمانو کې د عدد او شمارلو مختلفې طريقې رائج شوي دي، دې کې مروجه طريقه دا هم وه چې ګوتې يو ځای کول او جدا کولو طريقه هم ده، چې دې حديث کې ورته اشاره شوې ده، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د (۵۳) عدد نښه جوړه کړه. هغه داسې مثلاً ټولې ګوتې يې بندې کړې صرف د شهادت ګوته يې کولاو پاتې شوه او د ګوتې سر يې د شهادت د ګوتې بېخ سره کيښوده، دا دري پنځوس عدد دی. او دا طريقه شوافعو خپله کړې وه، دا دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول جديد دی، (المرقات ۶۲۳-۲/۶۲۴، الكاشف ۲/۴۱۷).

او احنافو نوي (يعنې لس کم سل) عدد خپل کړی دی، هغه داسې چې خنصر بنصر يعنې کچې او هغې سره نزدې ګوته بنده کړی شي او د غټې او د منځ ګوتو نه حلقه جوړه کړې او شهادت ګوتې سره دې اشاره وکړي، دا طريقه د احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ هم ده، او د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول قديم هم داسې دی. او مخکې مسلم روايت کې دا طريقه مذکور ده، امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې د لاس ټولې ګوتې بند کړئ او شهادت ګوتې سره اشاره اوکړئ، دا ټولې دري طريقې شوې.

بعضې روياتو کې څلورمه طريقه هم شته، چې ټولې ګوتې به خورې وي او د شهادت ګوتې سره به اشاره وکړي، بعضې احنافو دا عمل غوره کړی دی. (المرقات ۶۲۳-۲/۶۲۴، الكاشف ۲/۴۱۷).

داشاري حکم: د احاديثو نه دا معلوميږي، چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمل په مختلف طريقو سره وو او په مختلفو وختونو کې يې مختلفې طريقې اختيار کړې وې، دا اضطراب في الحديث نه دی، بلکې بيان جواز د پاره دی، چې امت د پاره په دې کې وسعت او آسانتيا وي. دا اعتراض بې ځايه دی، چې د اشاري احاديثو کې اضطراب دی، ځکه مطلقا اشاره نه ده کول په کار، د جمهورو او فقهاو اقوالو سره معلوميږي، چې هلته د ټولو په نزد باندې سنت عمل ګرځولی دی، د محل او موقع مناسبت سره چې په کومې طريقې باندې عمل وشو بس سنت اداء شو. (المرقات ۶۲۳-۲/۶۲۴، الكاشف ۲/۴۱۷).

د مجدد الف ثاني رَحِمَهُ اللهُ راى: مجدد الف ثاني رَحِمَهُ اللهُ د احاديثو تحقيق او د ظاهري اختلاف په بنياد د اشاري نه انکار کړی دی، او وايي د اشاري احاديثو په حکم کې اضطراب موندلی کېږي، دې منفرد دې

---

[1] مسلم ۱/۴۰۸ رقم الحديث: ۱۱۵-۵۸۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

او شاذ رائی باندې د وخت علماو او د مجدد الف ثاني ځوی په دې باندې رد کړی دی، جمهورو فقهاو او د احنافو د ائمو متفق مسئله پریښودل او د مجدد الف ثاني رَحِمَهُ اللّٰهُ د تفرد رایه احترام سره منل نظر انداز کولی شي، دا خو نوې خبره نه ده د لویو شخصیاتو بعضې رائی منفرد وي، ائمه احناف او ابو یوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ د اشارې په حکم باندې متفق دي. دا د احنافو متقدمین حضرات دي، بعضې احناف (ماوراء النهر او هندوستان او افغانستان د اشارې د ترک کیدو قائل دي، خو دا ترک کول دعدم جواز دلیل نه دی، حجاز مقدس او د عربو ټول علماء قدیما او حدیثا اشارې کولو باندې متفق دي.

علامه ابن الهمام رَحِمَهُ اللّٰهُ لیکي اشاره منع کول د روایت او د رایت د دواړو منافي دی. خلاصه دا چې کله احادیثو کې اشاره ثابت وي، صحابه کرام، تابعین ټول په دې متفق وي، جمهور فقهاء د امت او د عراق علماء او د حجاز حرمینو دې باندې متفق دي، بیا دې باندې عمل کول اولی او انسب دي. فقهاو احنافو طرف ته د فقه یو کتاب منسوب دی، چې د هغې نوم خلاصه کیدانې ده، هغه کتاب کې اشارې کولو ته حرام ویلي، خو ددې کتاب مصنف یقیني طور باندې پته نه لږي د احنافو مشهورو او معروفو علماو د دغه کتاب غیر معروف کیدو باندې تنقید کړی دی. علامه ابن همام لیکي: که د خلاصه کیداني مصنف په کلام کې د تاویل ګنجائش نوی، نو مونږ به دې باندې د کفر فتوای لږولې وی، تاویل دا کیدی شي، چې هغه **کاهل الحدیث** لفظ استعمال کړی دی او اهل حدیث ګوتې له حرکت ورکوي. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي که حسن ظن نه وی، نو د دغه کس په کلام کې د کفر خطره ده. (المرقات ۲/۶۲۴).

بهر حال اشاره بالسبابه حکم د استحباب او سنن زوائد نه کم نه دی، فقهاء دې ته سنت وایي، موطا د محمد کې امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمایي (**بصنیع رسول الله نأخذ وهو قول ابي حنیفة** رَحِمَهُ اللّٰهُ) امالي د ابویوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ کې تصریح موجود ده، امام ابویوسف د اشارې قائل دی. د احنافو کتابونو کې ظاهر الروایة کې د اشارې ذکر نشته، خو دا مضره هم نه ده، بلکې ظاهر الروایات اشارې نه ساکت دی، خو عدم ذکر د عدم جواز دلیل نه دی. اشارې کولو مقام دا دی، کله چې مونږ ګزار شهادت ته ورسي. لااله نفی باندې ګوته اوچته کړی چې نفي قولي سره نفي عملي هم راشي، شوافع او حنابله فرمایي الاالله اثبات باندې ګوته اوچتول دیر بهتر دي، دا هم جائز دي، قعده کې چې سړی کینې او د ښي لاس ګوتې بندې کړي د شهادت د پاره او دا هم جائز دي، چې شهادت ته ورسي هغه وخت ګوتې بندې کړي. او بیا اشاره وکړي او اشارې نه پس ګوته ښکته کول هم جائز دي او سلام پورې اوچته ساتل هم جائز دي، خو حلقه ماتول صحیح نه دي.

یدعوبها: ددې مطلب دا دی ګوته اوچتول د توحید اشاره کول هم دعا ده. (المرقات ۲/۶۲۴-۶۲۵. الکاشف ۲/۴۱۸).

باسطها باسط اسم فاعل صیغه ده، مراد چې د ګس لاس ګوتې په زنګون باندې کولو کیښودل. (المرقات ۲/۶۲۴-۶۲۵)

د التحیات طرز او طریقه:

﴿۲﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا

دعبدالله بن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به کله (مونځ کې د التحیات د

قَعَدَ يَدْعُو وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى وَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى

پاره) کیناستو نو خپل ښي لاس به یې په خپل ښي پتون باندې کیښود او خپل ګس لاس به یې په ګس پتون

وَ أَشَارَ بِأُصْبُعِهِ السَّبَّابَةِ وَ وَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلَى أُصْبُعِهِ الْوُسْطَى

باندې کیښود او شهادت ګوتې سره به یې اشاره کوله او خپله غټه ګوته به یې په مینځنۍ په ګوتې باندې

وَ يُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرَى رُكْبَتَهُ [1]. (رَوَاهُ مُسلم).

کیښوده (یعني داسې حلقه به یې جوړوله) او نبي عَلَيْهِ السَّلَام به (کله) خپل ګس لاس سره ګسه زنګون نیولو.

﴿۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

دعبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې مونږ چې به کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونځ کولو،

قُلْنَا السَّلَامُ عَلَى اللهِ قَبْلَ عِبَادِهِ

نو (قعده کې د التحیات په ځای) دا به مو ویل: الله باندې سلام دی، مخکې دده په بندګانو باندې سلام نه

السَّلَام عَلَى جِبْرِيل السَّلَام عَلَى مِيكَائِيل السَّلَام عَلَى فلَان وَ فُلَان

جبرئیل باندې سلام دی، میکائیل باندې سلام دی او فلانکي (یعني د فرشتو په هریو فرشته او د انبیاو نه

فَلَمَّا انْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ

په هریو نبي) دې سلام وي نو یوه ورځ کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د مونځ نه فارغ شوز مونږ طرف ته متوجه شو،

---

(۱) مسلم ۱/۴۰۸ رقم الحدیث : ۱۱۲- ۵۷۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ : « لَا تَقُولُوا السَّلَامُ عَلَى اللهِ فَإِنَّ اللهَ هُوَ السَّلَامُ

وې فرمايل الله باندې سلام مه وايي، الله تعالى په خپله سلام دى (يعنې دالله تعالى ذات دټولو آفتونو او

فَإِذَا جَلَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَقُلِ التَّحِيَّاتُ

نقصاناتو نه پاک دى) كله چې تاسو كې څوک په قعده باندې كيني دا وايي: ټول تعريفونه او بدني او مالي

لِلّٰهِ وَ الصَّلَوَاتُ وَ الطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَ بَرَكَاتُهُ

عبادتونه الله تعالى دپاره دي، اى پيغمبره په تا باندې دې سلام او د الله تعالى رحمتونه او برکتونه وي،

السَّلَامُ عَلَيْنَا وَ عَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ فَإِنَّهُ إِذَا

سلام دې وي په مونږ باندې او د الله تعالى په نيک بندګانو باندې، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل كوم كس چې دا

قَالَ ذَلِكَ أَصَابَ كُلَّ عَبْدٍ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَ الْأَرْضِ أَشْهَدُ

كلمات وايي، دهغه برکت په ځمکه او آسمان كې هرنيک كس ته رسيږي، بيايې وفرمايل زه ګواهي وركوم

أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَ رَسُولُهُ

چې الله تعالى نه سوا بل هيڅ معبود نشته او ګواهي وركوم چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله بنده او رسول دى

ثُمَّ لْيَتَخَيَّرْ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُوهُ ». (متفق عليه). (۱)

بيايې وفرمايل دې نه پس بنده ته كومه دعا نبه ښكاري هغه دې اختيار كړي او الله نه دې سوال وكړي.

توضيح: التحيات لله: دلته دري الفاظ دي او دريو واړو كې مختلف توجيهات دي، خو مشهوره معنى دا ده، التحيات نه مراد عبادت قولي، او الصلوٰتُ نه عبادت بدني، الطيبات نه مراد عبادت ماليه دى، مطلب دا چې زما قولي عبادت الله تعالى د پاره دى. او زما بدني او مالي عبادت هم د الله تعالى د پاره دى يعنې هر نوع عبادت د الله تعالى د پاره دى ګويا دا اعلان دى: ﴿إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ﴾.

السلام عليك ايها النبي: سوال: كله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ سره موجود نه دى بيا يې مونږ ولې دې خطاب سره ياد وو، نو آيا بيا دې نه دا نه ثابتيږي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حاضر او ناظر دى، لكه

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۱۱، رقم الحديث : ۸۳۱، ومسلم في الصحيح ۱/۳۰۱ رقم الحديث: ۵۵-۴۰۲، وأبو داود ۱/۵۹۱ رقم الحديث :۹۶۸، والنسائي ۲/۲۴۰، رقم الحديث: ۱۱۶۸.

څنګه چې بعضې کم فهمه خلکو خیال دی؟ (المرقات ۲/۶۲۷).

جواب: اصل کې دا خطاب د الله تعالی د طرف نه دی، چې شب معراج کې د حضور ﷺ سره شوی دی. قصه داسې وه: د معراج په شپه حضور ﷺ ته الله تعالی وفرمایل، چې کله یو دوست خپل دوست خواته ځي ځان سره یو تحفه ضرور وړي، نو ما له څه راوړي حضور ﷺ ورته جواب ورکړو التحیات لله دا جواب ډیر عظیم وو، ددې په صله کې الله تعالی ورته وفرمایل **السلام علیک ایها النبي ورحمة الله و برکاته**، داهم ډیرلوی اعزاز او انعام ؤ. ځکه حضور ﷺ خپل امت هم ځان سره یوځای کړو، **السلام علینا و علی عباد الله الصالحین**، داد امت سره لویه همدردی وه او دا پوره مکالمه ډیره مناسب وه، بنا په دې باندې جبرائیل اعتراف د شان د نبی ﷺ کې وفرمایل: **اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمد عبده ورسوله** دې ټولې مکالمې ته چې وګورئ څوک دا ویلی شي چې دا زمونږ د طرف نه ده؟، حقیقت کې دا مکالمه مونږ نقل کوو، چې د معراج په شپه د الله تعالی په دربار کې شوې وه. (المرقات ۲/۶۲۷-۶۲۸).

عمدة القاري کې بدر الدین عیني رحمه الله وایي اصل کې دا کلام حضور ﷺ صحابو ته نبود لو چې ستاسو مخې ته وو، بیا دا کلام هغه صحابه وو هم واخیستو کوم چې غائب وو او دغه رنګ دا سلسله غائبینو کې روانه وه. ددې کلام مطلب دا هم دی، دا صیغه حاضر او ناظر د عقیدې لاندې نه ده. بلکې دا بطور نقل او حکایت ده. علامه سیوطي رحمه الله او نورو محدثینو د کرماني رحمه الله په شان وغیره نقل کړی کله چې د حضور ﷺ وصال وشو نو صحابو په دغه ځای **السلام علی النبي** ویل چې هغې کې د حاضر سره د خطاب په ځای د غائب خطاب دی، فقهاء او محدثین دا توجیهات ځکه کوي چې د امت مسلمه په نزد باندې د حضور ﷺ په باره کې عقیده د حاضر او ناظر جائز نه ده.

الصالحین: دې قید سره هغه ټول خلک خارج شول کوم چې صالح نه دي، علماء فرمایي صالح سړی هغه دی، چې د خالق او مخلوق په حقونو کې رعایت ساتي. (المرقات ۲/۶۲۸).

څومره لویه خوش قسمتي ده د هغه خلکو کوم چې صالح دي ځکه چې د اولیاء الله او د حرمینو د ائمو او فضلاو دعاګاني دوي ته مفت ملاویږي، صرف دا چې صالح جوړ شي، **اللهم ارزقنا صلاحا و اعطنا فلاحا**.

په مونځ کې کوم تشهد افضل دی

﴿۴﴾ وَعَن عبد الله بن عَبَّاس أَنَّهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا

عبد الله بن عباس رضی الله عنه فرمایي چې حضور ﷺ به مونږ ته داسې تشهد بنودلو لکه څنګه چې به

Maktaba Tul Ishaat.com

يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ فَكَانَ يَقُولُ : « التَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ

يې مونږ ته ښودل د قرآن کريم يوه سورت او ويل به يې: ټول برکت والا تعريفونه او ټول مالي او بدني عبادتونه

لِلّٰهِ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللّٰهِ وَ بَرَكَاتُهُ السَّلَامُ

الله تعالى د پاره دي، اى نبى ﷺ تاسو باندې سلامتي ده او برکتونه او رحمتونه سلام دې وي

عَلَيْنَا وَ عَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ

په مونږ باندې او په نيکو بندګانو باندې اوزه د دې خبرې ګواهي ورکوم چې نشته لائق د عبادت په غير د الله

وَ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ »[1]. رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

نه بل څوک او ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله تعالى رسول دى.

وَلَمْ أَجِدْ فِي الصَّحِيحَيْنِ وَلَا فِي الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّحِيحَيْنِ: «سَلَامٌ عَلَيْكَ» و «سَلَامٌ عَلَيْنَا» بِغَيْرِ أَلِفٍ وَلَامٍ وَلٰكِنْ رَوَاهُ صَاحِبُ الْجَامِعِ عَنِ التِّرْمِذِيِّ.

توضيح: يعلمنا التشهد: قعده اولى واجب ده او قعده آخره مونځ کې فرض ده، په دواړو قعدو کې تشهد لوستلى کېږي. سوال دا دى د تشهد باره کې لس روايات موجود دي، مختلف تشهدات ذکر دي، خو مشهورو رواياتو کې درې تشهده مشهور دي:

(۱) تشهد د ابن مسعود رضي الله عنه (۲) تشهد د ابن عباس رضي الله عنه (۳) تشهد د عمر فاروق رضي الله عنه.

چونکې تشهد کې د الله تعالى وحدانيت په ښه طريقې باندې ثابتول مقصد دي، نو صحابه کرامو مختلفو الفاظو سره دغه پيش کړى دى، دا وجه ده د ټولو علماو اتفاق دى، چې د صحابو دور کې مختلف تشهدات لوستل کيدل او د لس صحابو جدا جدا تشهدات وو، ټول جائز دي، جواز او عدم جواز کې اختلاف نه دى، البته افضل او غير افضل کې اختلاف راغلى، خبره صرف د ترجيحاتو ده. (المرقات ۲/۶۳۰، الكاشف ۲/۴۲۲).

د فقهاو اختلاف: درې تشهدات مشهور دي تشهد د ابن مسعود رضي الله عنه، تشهد د ابن عباس رضي الله عنه، تشهد د عمر فاروق رضي الله عنه، اوس په دې کې کوم افضل دى او کوم ته ترجيح ده، امام شافعي رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنه تشهد ته افضل وايي او دې ته يې ترجيح ورکړې ده، امام مالک رحمه الله د عمر فاروق رضي الله عنه تشهد ته افضل او ترجيح ورکړې ده، موطا مالک کې د دې تشهد صيغې د ابن عباس

---

(۱) مسلم ۱/۳۰۲ رقم الحديث: ۴۰۳/۶۰ ، وأبوداؤد ۱/۵۹۶ رقم الحديث : ۹۷۴ ، والترمذي ۲/۸۳ رقم الحديث : ۲۹۰.

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شان دي، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ د عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تشهد ته افضل وايي او ترجيح ورکوي، حنابله هم د احنافو سره دي. (المرقات ۲/۶۳۰، الكاشف ۲/۴۲۲).

وجوه ترجيح: ائمه احناف او حنابله تشهد د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د ډيرو وجوهاتو نه ترجيح ورکړې ده: (۱) وجه اول امام ترمذي اعتراف کړی، د تشهد باره کې چې د جمهورو صحابو او تابعينو عمل د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تشهد مطابق دی او حديث خپل مطلب کې ډير اصح او اوضح دی.

(۲) د تشهد د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الفاظ نقل کولو کې د ټولو ائمو حديثو توافق او اتفاق دی.

(۳) د خلکو د تعليم په غرض باندې حضرت ابو بکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ منبر نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې دا تشهد لوستلې وو.

(۴) د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په تشهد کې تجدد د عمل دی، دې کې دوه ځلې واو سره کلام ذکر کړی دی، يعني **التحيات لله والصلوات لله والطيبات لله**، ددې په عکس بل تشهد کې عطف نه وو، بلکې يوه جمله وه، چې د صفاتو سره مذکوره وه.

دلته علماء يوه قصه ليکي: يو ديهاتي د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ خواته راغی او سوال يې وکړو بواو او بواوين امام صاحب جواب ورکړو (بواوين) **فقال بارک الله فيک کما بارک في لا ولا ثم وَلَّىٰ** حاضرين په دې پوهه نه شو، او امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ نه يې تپوس وکړو، چې دې باندې چې څه وويل او تاسو څه جواب ورکړو، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ وويل هغه وويل چې زه کوم تشهد ووايم؟، آيا هغه ووايم چې هغې کې يو واو دی، يا د دوو واو والا، ما جواب ورکړو د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ والا تشهد ووايه، هغې کې دوه واوه دي، ددې وجې هغه دعا وکړه چې الله تعالى دې تا د زيتون د ونې په شان برکتي کړي چې نه شرقي وي او نه غربي دې کې دې آيت طرف ته اشاره شوې ده: ﴿**مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونِةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ**﴾ (سورة النور آيت: ۳۵).

(۵) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله په ژبه باندې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړو، ددې تشهد تعليم مخکې امت ته ورسوئ، بلکې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډير اهتمام سره د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاس ونيوه او دا تشهد يې ورته وښودو.

دا حديث د **مسلسل باخذ اليد** نوم سره مشهور دی، حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل شاګرد لاس ونيوو او ورته يې اوښودو تردې چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ استاذ حماد رَحِمَهُ اللهُ د امام صاحب لاس ونيوو او ددې تشهد تعليم يې ورله ورکړو.

(۶) زما په خيال د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تشهد د ټولو نه لويه وجه د ترجيح د معراج شپه ده، چې الله تعالى مخې ته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا کلمات په خپله لوستلي وو، چې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کې

Maktaba Tul Ishaat.com

دي، بهر حال دا مسئله د اولی او غیر اولی ده، هر یو سره وجوه ترجیحات موجود دي.

پسند اپنی اپنی نصیب اپنا اپنا

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

په شهادت کې د ګوتې اوچتولو نه پس حرکت ورکول څنګه دي

﴿٥﴾ وَعَن وَائِلِ بْنِ حُجَرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : ثُمَّ جَلَسَ

وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (سجدې نه سر اوچت کړو دغه رنګ) کيناست و

فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى وَ حَدَّ مِرْفَقَهُ الْيُمْنَى

چې خپله ګسه خپه يې خوره کړه او ګس لاس يې د ګسې خپې په پتون باندې کيښود او کيښوده بنې څنګل

عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى وَ قَبَضَ ثِنْتَيْنِ

په بنې پتون باندې (يعنې خپله څنګل يې دورون سره يوځای نه کړه) او بندي يې کړي دواړه ګوتې (يعنې

وَ حَلَّقَ حَلْقَةً

کچې او د هغې سره نزدې ګوتې) (داحنافو د مسلک مطابق منځ ګوته او غټه ګوته) حلقه يې جوړه کړه

ثُمَّ رَفَعَ أُصْبُعَهُ فَرَأَيْتُهُ يُحَرِّكُهَا يَدْعُوْ بِهَا [1].

بيايې د شهادت ګوته اوچته کړه او ما وليد وچې دغه ګوتې ته يې حرکت ورکولو او اشاره يې ورسره کوله

توضيح: وقبض ثنتين: دوه ګوتې يې بندې کړې، دې نه مراد کچې او هغې سره خواته ګوته ده هغې ته خنصر او بنصر ويلی شي. (المرقات ۲/۶۳۳).

و حلق حلقة: يعنې د مينځ او غټې ګوتې سرونه يو ځای شي حلقه ورته ويلي شي، دا طريقه د احنافو په نزد باندې راجح ده او دغه عدد تسعين دی، او دغه حديث د احنافو دليل دی.

او د شوافعو حضراتو د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نمبر (۱) نه استدلال دی، دې کې دري پنځوس عدد ښودلی دی. (المرقات ۲/۶۳۳).

دا خبره يادې ساتل په کار دي چې د اهل حسابو په نزد باندې د ګوتو اشارو او کيښودلو نه خاص عدد طرف ته اشاره ده، يويزد پاره جدا اشاره او لسيز طرف ته جدا دغه رنګ ورپسې ځه، ددې فن په تقريرات

---

[1] أحمد في المسند ٤/٣١٨ ، وأخرجه أبوداود ١/٥٨٧ رقم الحديث :٩٥٧، والنسائي ٣/٣٧ رقم الحديث ١٢٦٨.

الرافعي کې ښه بحث شوی دی، بهر حال ګوتې اوچتيدو نه پس حرکت ورکولو کې اختلاف دی.

دفقهاو اختلاف: امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ يحرکها لفظ نه استدلال کړی دی فرمايي چې شهادت ګوتې له دې حرکت ورکوي ترڅو پورې چې يې سلام نه وي اړولی. (المرقات ۲/۶۳۴).

جمهور فقهاء فرمايي د ګوتې اوچتيدو نه پس حرکت نه دي ورکول په کار يا دې اوچته نيسي يا ښکته حرکت نه دی په کار.

دلائل: امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د زير بحث حديث د حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نه استدلال کړی دی هغې کې **يحرکها** الفاظ دي، ائمه احناف او جمهور دې سره د حضرت عبدالله بن زبير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نه استدلال کړی دی، هغې کې **لايحرکها** الفاظ راغلي.

تطبيق: دې تطبيق سره دواړو رواياتو کې تعارض ختميږي او د وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت جواب په کې هم کيږي او د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ مستدل هم نه پاتې کيږي: تطبيق داسې دی د وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت کې **يحرکها** مطلب دا نه دی، چې ګوته اوچته کړه او حرکت ورکوه، بلکې مطلب دا دی چې د اشارې د پاره ګوته اوچته کړه او د دغه اوچتيدو نه يې **يحرکها** سره تعبير کړی دی.

امام بيهقي د دواړو رواياتو تطبيق کولو باره کې داسې ارشاد فرمايي: (**فيحتمل ان يکون المراد بالتحريک الاشارة بها) لا تکرير تحريکها فيکون موافقا لرواية ابن زبير (بيهقي، ج ۲، ص ۱۳۲)**

دې کې دا احتمال شته، چې د ګوتې خوځولو نه مراد اشاره ده، خوځول نه دي، نو بيا د وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د ابن زبير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ رواياتو کې موافقت راځي.

د اشارې په وخت کې ګوته خوځول نه دي په کار

﴿٦﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُشِيْرُ

د عبدالله ابن زبير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اشاره کوله (د کلمه شهادت

بِأُصْبُعِهِ إِذَا دَعَا وَلَا يُحَرِّكُهَا [1].

لوستلو) په وخت کې په خپلې ګوتې سره چې کله به يې (په قعده کې) دعا کوله خو خوځوله يې نه.

وَ زَاد أَبُو دَاوُد وَلَا يُجَاوِز بَصَرُهُ إِشَارَتَه.

ابوداود دا الفاظ هم رانقل کړي دي او د هغوی نظر به د اشارې نه تجاوز نه کولو.

(۱) أخرجه أبوداود ۱/۶۰۴ رقم الحديث : ۹۹۰ ، والنسائي ۳/۳۹ رقم الحديث :۱۲۷۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: لايحركها: دا حديث واضح دليل دی، چې د تحريک السبابه ذکر چې د دې حديث نه مخکې کوم حديث کې راغلی وو، هغه يا مؤول دی يا موقوف دی او عدم تحريک صراحت سره ثابت دی. او دا حديث په امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ باندې حجت دی. (المرقات ۲/۶۳۳).

لايجاوز بصره اشارته: د دې عبارت مطلب دا دی چې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نظر به د اشارې بالسبابه نه مخکې تجاوز نه کولو. بلکې د قعدې په وخت کې به د هغه نظر مخې ته وو. دويم مطلب يې دا دی، چې د هغه نظر به په اشارة بالسبابه باندې پروت وو، چې مضمون توحيد ښه په زړه او دماغ کې کيني، عامو شارحينو دا دويمه معنی مراد اخيستې. دريم مطلب دا دی چې د هغوی نظر هغه وخت آسمان ته نه ځي ځکه چې د هغې نه دا تاثر ملاويږي، چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ګوتې مبارکې سره اشاره کوي چې، الله تعالی په آسمانونو کې دی، دې نه د جهت احتمال هم کيږي، چې تجسم ته مستلزم دی او دې سره حدوث لازم دي او د دې نه الله تعالی پاک دی. (المرقات ۲/۶۳۳).

اشاره په يوې ګوتې سره کول په کار دي

﴿۷﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : إِنَّ رَجُلًا كَانَ يَدْعُو بِإِصْبَعَيْهِ

د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې يو کس تشهد کې په دواړو ګوتو اشاره وکړه نو نبي

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَحِّدْ أَحِّدْ.(۱).

کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمايل يوې ګوتې سره اشاره کوه، يوې ګوتې سره اشاره کوه.

توضيح: احد احد: ابوداود او نسائی روايت کې دا وضاحت موجود دی، حضرت سعد بن ابی وقاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قعده کې کلمه شهادت په وخت کې د دواړو لاسونو د شهادت ګوتو سره اشارې کولې، کيدای شي خيال يې دا وو چې دې سره د توحيد په اثبات کې اضافت وشي، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله وکتل، نو دا يې د دې عمل نه منع کړو او حکم يې وکړو چې يوې ګوتې سره يعنې وحدانيت د اثبات د پاره يو ګوتې سره اشاره کوئ. (المرقات ۲/۶۳۴).

په قعده کې د ناستې صحيح طريقه

﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَنْ يَجْلِسَ الرَّجُلُ فِي الصَّلَاةِ

دابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړې د دې نه چې کيني سړي په مونځ کې

---

(۱) أخرجه الترمذي ۵/۵۲۰ رقم الحديث : ۳۵۵۷، والنسائي ۳/۳۸ رقم الحديث : ۱۲۷۱.

وَ هُوَ مُعْتَمِدٌ عَلٰى يَدِهِ . (رَوَاهُ أَحْمد ، وَأَبُو دَاوُد)[1] وَ فِي رِوَايَةٍ لَهُ :
او تكيه يې لكولې وي په لاس باندې . د ابوداود يو روايت كې دا الفاظ هم دي: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
نَهٰى أَنْ يَعْتَمِدَ الرَّجُلُ عَلٰى يَدَيْهِ إِذا نَهَضَ فِي الصَّلَاة.
ددې نه هم منع فرمايلې چې يو كس مونځ كې د پاڅيدو وخت كې د لاس نه مدد اخلي.

توضيح: وهو معتمد: ددې مطلب دا دی چې سړی كله قعده كې كيني، نو ځمكې باندې دې لاس نه ږدي، بلكې دواړه لاسونه دې په خپلو پتونانو باندې داسې ږدي چې د ګوتو سرونه د زنګونانو د بره راشي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځمكه باندې تكيا كولو نه منع فرمايلې ده، دويمه خبره دې حديث كې دا بيان شوې ده، سړی چې كله سجده وغيره نه پاڅي هغه ته په كار دي چې په ځمكه باندې تكيه ونه لږوي، ددې نه هم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع فرمايلې ده، (المرقات ۲/۶۳۴).

د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ مسلک دا دی چې قيام ته پاڅيدو وخت كې ځمكه باندې لاسونو سره تكيا نه شي كولی، كه چا ته عذر وي، نو شرعاً صاحب عذر معذور وي. هغه چې څه كوي مجبور دی. (المرقات ۲/۶۳۴-۶۳۵).

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي بغير عذر كه څوك تكيا لږوي پاڅيدلی شي، د شوافعو حضراتو د جلسه استراحت او تكيا لږولو د پاره باب صفة الصلوة حديث نمبر(۷) نه استدلال كړی دی، د احنافو دليل زير نظر حديث دی او ورسره حديث نمبر(۹) كې هم د دوي دليل دی، ددې مسئلې پوره تفصيل حديث نمبر(۷) په توضيح او تشريح كې شوی دی، دا خبره د ياد ساتلو قابله ده، دا بحث هغه وخت دی چې كله معذور نه وي كه معذور كس وي نو معذور مجبور دی او د هغه د پاره ممانعت نشته. (المرقات ۲/۶۳۴-۶۳۵).

﴿۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ
د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اولو دوو ركعتونو كې (يعني
كَأَنَّهُ عَلَى الرَّضْفِ
اوله قعده) كې (تشهد د پاره دومره كيناستو) كويا چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ګرم كاڼي باندې ناست دی

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۶۰۴ رقم الحديث : ۹۹۲ .

Maktaba Tul Ishaat.com

حَتّٰى يَقُومَ. (۱).

او په (جلتی) سره به پاڅیدو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۱۰﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا

د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونږ ته تشهد داسې ښودلو لکه څنګه چې

يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآن:

به یې مونږ ته د قرآن کریم یو سورت ښودلو (یعنې څنګه چې د قرآن کریم د الفاظو په اعتبار مختلف دی

دغه رنګ د تشهد الفاظ هم مختلف دي، چنانچه دې روایت کې د تشهد الفاظ داسې ذکر دي (ترجمه):

« بِسْمِ اللهِ وَ بِاللهِ التَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَ الصَّلَوَاتُ وَ الطَّيِّبَاتُ

یعنې د الله په نوم او توفیق سره شروع کوم او ټول تعریفونه او ټول مالي اوبدنې عبادت الله تعالی د پاره دی

السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَ بَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا

سلام دې وي په تا باندې ای نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د الله تعالی برکتونه او رحمتونه، سلام دې وي په مونږ باندې

وَ عَلٰى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَ أَشْهَدُ

او د الله په نیکو بندګانو باندې او زه ددې خبرې ګواهي ورکوم چې د الله نه غیر بل معبود نشته، او ګواهي

أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أَسْأَلُ اللهَ الْجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِاللهِ مِنَ النَّارِ» . (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ) (۲).

ورکوم چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله بنده او رسول دی زه د خدای نه د جنت سوال کوم او د دوزخ نه پناه غواړم

د شهادت ګوتې په اوچتیدو سره شیطان سوزي

﴿۱۱﴾ وَ عَنْ نَافِعٍ قَالَ : كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ

د نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چې کله مونځ کې کیناستو، نو

---

(۱) أخرجه أحمد ۳۸٦/۱ ، وأبوداود ٦۰٦/۱ رقم الحديث : ۹۹۵ ،والترمذي ۲۰۲/۲ رقم الحديث :۳٦٦ والنسائي ۲٤۳/۲ رقم الحديث : ۱۱۷٦.

(۲) أخرجه النسائي ۲٤۳/۲ رقم الحديث : ۱۱۷۵ .

وَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَ أَشَارَ بِإِصْبَعِهِ وَ أَتْبَعَهَا بَصَرَهُ

خپل دواړه لاسونه به يې په خپل دواړو زنګونانو باندې کيښودل او ګوتې سره به يې اشاره کوله او نظر به

ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «لَهِيَ أَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنَ الْحَدِيدِ».

يې په ګوته باندې ؤاوويل به يې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي دا په شيطان باندې دا وسپنې نه زيات سخت دی

يَعْنِي السَّبَّابَةَ. (رَوَاهُ أَحْمد)[1].

يعنې شهادت ګوتې سره اشاره د وحدانيت، دا په شيطان باندې د نيزې وار کولو نه زيات سخت دی.

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ كَانَ يَقُولُ: مِنَ السُّنَّةِ إِخْفَاءُ التَّشَهُّدِ[2].

د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: تشهد په مزه آواز سره لوستل سنت دي.

وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترمذي وايي دا حديث غريب دی.

نوټ: صحابي چې کله **من السنة** وايي، د هغه دا قول د **قال رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شان مرفوع حديث جوړيږي.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

---

(۱) أحمد في المسند ۲/۱۱۹.

(۲) أبوداود ۱/۶۰۲ رقم الحديث: ۹۸۶، والترمذي: ۲/۸۴ رقم الحديث: ۲۹۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الصَّلَاةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفَضْلُهَا:

په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د درود لوستلو فضيلت

قال الله تعالى: ﴿إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾ (سورة احزاب آيت: ٥٦).

سلموا يا قوم بل صلوا على صدر الامين ✿ مصطفى ما جآء الا رحمة للعالمين

صلوة په لغت کې دعا، استغفار، رحمت او حسن الثناء ته ويلى شي.
که د صلوة نسبت الله تعالى طرف ته وشي دې نه د رحمت کامله نزول مراد دى، که نسبت يې فرښتو ته وشي، نو استغفار ترې مراد دى، او که نسبت يې انسانانو ته وشي دې نه دعا مراد ده، او که مرغانو طرف ته يې نسبت وشي دې نه تسبيح او تهليل مراد دي. (اشعة اللمعات ۱/۴۳۴).
په ټول عمر کې يو ځل درود لوستل فرض دي، قرآن کريم يو څو آيتونه په دې باندې دلالت کوي، که مجلس کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم مبارک واخيستلى شي په اول ځل، درود لوستل واجب دي، که دوباره واخيستى شي بيا دورد سنت او مستحب دى، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې درود لوستل بالذات مقصود دي او نورو انبياو او صحابه کرامو باندې بالتبع لوستل جائز دي، مستقل طور باندې بل چا باندې لوستل ناجائز دي، بلکې بعضې محققينو صلوة د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خصوصياتو نه ګرځولى دى. او سلام د ټولو پيغمبرانو د پاره عام دى، ها بالتبع صلوة نورو انبياو عليهم السلام باندې لوستلى کېږي. (اشعة اللمعات ۱/۴۳۴).

رضى الله عنه: لفظ چونکې اخبار بالرضا دى، ځکه د صحابو نه علاوه بل چا د پاره جائز نه دى، صحابو سره خاص دى، بعضې متقدمين علماء يې د غير صحابي د پاره هم جائز کوي، بعضې مقاماتو کې غير صحابي د پاره لفظ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مستعمل دى. (اشعة اللمعات ۱/۴۳۴).

رحمة الله عليه: لفظ د اولياء الله او د علماو د پاره استعماليږي، البته بالتبع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او رحمة الله عليه غير صحابي او غير ولي په باره ويلي کېږي. (اشعة اللمعات ۱/۴۳۴).
لمعات کې د شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ د کلام نه دا معلوميږي، صلوة او سلام نه که صرف مراد دعا، يعنې د دې لغوي معنى مراد واخيستلى شي، بيا د انبياو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ نه علاوه د نورو د پاره هم استعماليږي، لکه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (**اللهم صل على آل ابي اوفى، اللهم صل على عمرو بن العاص**) لوستلى دى.
دا ټول د دعاء او رحمت په طور باندې دي، درود په طور باندې نه دي، دغه صورت د حال د لفظ د

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دی. (الکاشف ۲/۴۳۱، اشعة اللمعات ۱/۴۲۳).

په التحیات کې درود ویل فرض دي او که سنت؟

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي التحيات کې هم دورد لوستل فرض دي، تشهد نه پس قبل السلام هم فرض دي، خو دې مسئله کې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ سره څوک نشته، بلکې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قول شاذ دی. د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ معتمد قول دا دی، که یو کس په مجلس کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوم مبارک واوري یو ځلې درود لوستل واجب دي، د هغې نه پس لوستل مستحب دي. د **التحیات** او د تشهد نه پس سنت دي. دا د جمهورو مسلک دی، البته د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ یو قول امام شافعي سره دی، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د قرآن کریم درود والا آیت نه استدلال کړی دی، احادیثو کې چې د درود کوم فضائل ذکر شوي دي، هغې نه یې هم استدلال کړی دی، خو دا استدلال واضح نه دی، په آیت کې مطلق درود ذکر دی، مونځ سره خاص نه دی، نه د هر ځلې لوستلو خبره ده، احادیثو کې یې د درود فضیلت بیان کړی، د درود لوستلو ترغیب دی، دا د فرضیت دلیل نه دی، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته هر درود لوستل فرمایلي وو: **اذا قلت هذا او فعلت هذا فقد تمت صلاته**. دلته د درود لوستلو نه بغیر صرف تشهد پورې لوستل یا د هغې مقدار ناسته باندې مونځ مکمل او جائز ګرځولی شي، دا دلیل دی چې درود فرض نه دی، په عمر کې یو ځلې فرض دی، خصوصي طور باندې د تشهد نه پس قبل السلام سنت مؤکده دی. (الکاشف ۲/۴۳۰، المرقات ۳/۵).

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

په التحیات کې د درود ویلو طریقه

﴿۱﴾ وَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى قَالَ : لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ

د عبدالرحمن بن ابی لیلی رَحِمَهُ اللهُ (تابعي) نه روایت دی وایي چې: زما ملاقات وشو د کعب بن عجره

فَقَالَ أَلَا أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

(صحابي) سره هغه وویل زه تاته هغه څیز بطور هدیه پیش نه کړم کوم چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوریدلی دی؟

فَقُلْتُ بَلَى فَأَهْدِهَا لِي فَقَالَ سَأَلْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ما عرض وکړو ولې نه، ماته یې ضرور هدیه کړه هغه وویل مونږ (یو څو صحابه) سوال وکړو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ ! كَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ فَإِنَّ اللهَ

نه یا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاسو باندې او ستاسو په اهل بیتو باندې مونږ درود څنګه ولولو ځکه الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com

قَدْ عَلَّمْنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكُم قَالَ : « قُوْلُوْا

مونږ ته په تاباندې د سلامتۍ لپاره لوطريقه ښودلې (خو دروډنه) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل داسې وايي

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ

اى الله! محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او آل محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې رحمت نازل کړه څنګه چې تا رحمت نازل کړې

عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَ عَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ

ؤ په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام او آل ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې بيشكه چې ستا صفت شوى دى او ته اوچت يې. اى

اللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ

الله! محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او آل محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې برکت نازل کړه. لکه څنګه چې تا برکت نازل کړې

عَلٰى إِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ». (بخاري، مسلم) (۱)

ؤ په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام او آل ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې، بيشكه چې ستا صفت شوى دى.

إِلَّا أَنَّ مُسْلِمًا لَمْ يَذْكُرْ "عَلٰى إِبْرَاهِيمَ فِي الْمَوْضِعَيْنِ.

توضيح: كيف نسلم : يعني التحيات كې السلام عليك ايها النبي ورحمة الله وبركاته الفاظو سره الله د سلام طريقه ښودلې ده، يعني معراج كې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې الله تعالى په خپله سلام لوستلى ؤ اوس دصلوة طريقه وښايه ځكه چې قرآن كريم كې د صلوة او سلام دواړو حكم دى حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې درود ابراهيمي وائې، علماء ليكي، چې په ټولو درودونو كې افضل درود د مونځ والا دى، چې د لوستلو نه يې بريلوي حضرات محروم دي. (الكاشف ۲/۶۲۹، المرقات ۳/۶).

آل محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څوک دي؟ (آل) اهل او عيال ته ويل كېږي او تابعدار وته هم (آل) ويل كېږي د (آل) تعين كې د علماء كرامو مختلف اقوال دي، د بعضې علماو د آل محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه صرف د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اهل او عيال مراد دي، بعضې حضرات فرمايي آل محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تابعدار او فرمان بردار خلک مراد دي، هر مؤمن او متقي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آل دى، بعضې حضرات فرمايي د آل محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه هغه اهل بيت مراد دي، چې هغوى د پاره صدقه اخيستل حرام دي. (الكاشف ۲/۶۳۰، المرقات ۵-۳/۷).

فخرالدين رازي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ازواج مطهرات او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اولاد

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۶/۴۰۸، رقم الحديث : ۳۳۷۰، ومسلم في الصحيح ۱/۳۰۵ رقم الحديث: ۶۶-۴۰۶.

اهل بيتو کې شامل دي. مطلب دا دی ازواج مطهرات د اهل بيتو اولني مفهوم کې دا شامل دي، ددې نه پس نور خلک دې کې شامل دي او ازواج مطهرات خو خود په اهل بيتو کې شامل دي.

علی ابراهيم: حديث کې په درود سره حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ولې خاص شوی دی، ددې يوه وجه داده حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ تلی الاطلاق جد الانبياء دی، دويمه وجه دا ده حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاص کر جد امجد دی، دريمه وجه داده چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شريعت محمدي اصولي طور باندې د دين ابراهيمي تابع دی، چنانچه مکې والا و به ځان ته ابراهيميان ويل او بعضې عبادتو کې به يې هم د هغه تابعداري کوله.(المرقات ۳/۷).

دکما صليت بحث: **سوال**: د تشبيه قاعده ده چې ادنی تشبيه د اعلی سره ورکولی شي چې ادنی مشبه، د کامل مشبه به سره ملاؤ کړي که دا قاعده درود ابراهيمي کې ومنلی شي، دې سره د اسلام هغه عقيده متاثره کېږي، دې کې دا خبره منل شوې ده چې محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ټولو انبياو کې افضل دی. (المرقات ۳/۷).

جواب: علماء کرامو ددې سوال ډير جوابات ورکړې دی بلکې بعضې علماو په دې لفظ باندې کتابونه ليکلي دي.

اول جواب: دا دی چې په تشبيه کې د اعلی سره د ادنی تشبيه قاعده اکثريه ده، قاعده کليه نه ده، نو لهذا ذکر شوي صورت ددې قاعدې لاندې نه راځي.

دوهم جواب: دا دی چې د مشبه به قوي او اعلی او افضل کيدل ضروري نه دي، لکه اوضح او اظهر او اعرف کيدل ضروري دي، ځکه الله تعالی د خپل نور الهي تشبيه طاقچې او ډيوې ايښودلی شوې سره داسې ورکړی: ﴿مَثَلُ نُوْرِهٖ كَمِشْكَاةٍ فِيْهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِيْ زُجَاجَةٍ الخ﴾ (سورة النور آيت:۳٤) (المرقات ۳/۷).

په يو شاعر باندې چا اعتراض وکړو چې تا د بادشاه د سخاوت او شجاعت تشبيه د حاتم طائي او د عمرو سره ورکړه او په دې سره دې د بادشاه توهين وکړو داسې چې د اعلی تشبيه دې د ادنی سره ورکړې ده نو دې شاعر جواب ورکړو:

لا تنكروا ضربي له من دونه ❁ مثلاً شرودا في الندى والبأس

فالله قد ضرب الاقل لنوره ❁ مثلاً من المشكاة والنبراس

يعنې ما په سخاوت او شجاعت کې د کم تر ځيز سره چې کومه تشبيه ورکړې ده ته په دې باندې تنقيد او اعتراض مه کوه ځکه چې الله تعالی د خپل نور تشبيه د يو کم تر ځيز طاقچه او فانوس سره ورکړې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

دريم جواب: دادی چې دلته تشبيه په نفس صلوة کې ده په کيفيت او کميت د صلوة کې نه ده يا په بل تعبير سره دلته اشتراک في النوع دی چې په نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې نوع صلوة وی په دې کې بحث نه دی چې کومه نوع اتم ده او کومه نوع غير اتم ده.

څلورم جواب: دادی چې دلته په **كما صليت** کې **كاف** لفظ زائد دی، نو بيا خو د تشبيه خبره ختم شوه.
دا جوابات علماء بيانوي زما په خيال ددې بحث څه ضرورت نشته دی ځکه چې په حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې د الله تعالی د خصوصي رحمت نزول شوې وو که چيرته دده دعاء د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره وغوښتل شي نو په دې کې څه حرج نشته دی.

د درود ويلو مختلفې صيغې

﴿۲﴾ وَ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ : قَالُوْا : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! كَيْفَ نُصَلِّيْ عَلَيْكَ ؟

دابوحميد ساعدي نه روايت دی وايي چې صحابو عرض وکړو يا رسول الله مونږ تا باندې څنګه درود وايو؟

فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " قُوْلُوا : اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ أَزْوَاجِهِ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دا وايې : ای الله ! رحمت نازل کړه په محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوده په ازواجو

وَ ذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ وَ بَارِكْ

مطهراتو اوده په اولاد باندې، لکه څنګه چې تا په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې رحمت نازل کړی ؤ، اوبرکت

عَلَى مُحَمَّدٍ وَ أَزْوَاجِهِ وَ ذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ

نازل کړه په محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوده په ازواج مطهراتو اوده په اولاد باندې لکه څنګه چې تا برکت نازل

عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْد "[1].

کړې ؤ په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندې، بېشکه تۀ بزرګ او برتريي.

توضيح: وازواجه: د درود الفاظ او صيغې مختلف انداز او الفاظو سره راغلي دي، دغه رنګ د مشکوة احاديثو کې هم مختلفې صيغې راغلې دي، علماء ددې متعلق کتابونه ليکلي څه صيغې احاديثو نه ثابت دي او څه د بزرګانو معمولاتو نه منقول دي، کومې صيغې چې د شان نبوت منافي نه وي، يا د شريعت د اصولي قواعدو مخالف نه وي. د هغې د لوستلو جواز شته.
علماء ليکي درود ابراهيمي تولونه افضل دی، بريلوي حضرات خپل ځان ته عاشقان رسول وايي،

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ٤٠٧/٦،رقم الحديث : ٣٣٦٩، ومسلم في الصحيح ٣٠٦/١ رقم الحديث:٦٩-٤٠٧.

هغوي د درود لوستلونه محروم دي، کوم چې مستند دی او د دوي درود کې غلطه عقيده پرته ده. په دلائل الخيرات کې د درود مختلف قسمونه موجود دي او مختلفو صيغو سره موجود دي.

د درود ويلو فضائل

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً

د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمايي څوک چې ولولي په ما باندې درود

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرًا ». (رَوَاهُ مُسلم)[1].

. شريف يو ځلې الله تعالى به په ده باندې لس ځلې رحمت نازل کړي.

توضيح: **عشرا**: دې امت ته يو نيکی باندې لس نيکياني ملاويږي، دې اصولو مطابق دلته يو درود باندې لس رحمتونو وعده شوې ده، د الله تعالى د طرف نه لس درووده ليږلو مطلب د لس رحمتونو نزول دی، اوس هيڅ اشکال نشته. شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ دا جواب هم ورکړی دی، ممکن دی چې د الله تعالى طرف نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره يو خصوصي درود زمونږ د زرو درودنو نه ډير افضل وي، څنګه چې ملغلره د زرو دراهمو نه افضل وي. (المرقات ۳/۱۱).

الْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿٤﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى عَلَيَّ صَلَاةً وَاحِدَةً

دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي کوم کس چې ما باندې يو ځلې درود ولولي

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ عَشْرَ صَلَوَاتٍ وَ حُطَّتْ عَنْهُ عَشْرُ خَطِيئَاتٍ وَ رُفِعَتْ

نو الله تعالى به نازل کړي په ده باندې لس رحمتونه او معاف به يې کړي لس ګناهونه او اوچتې به کړي

لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ» [2].

دده لس درجې.

﴿٥﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَوْلَى النَّاسِ بِي

د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي په خلکو کې نزدې خلک به ما

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۰۶، رقم الحديث: ۷۰-۴۰۸.

(۲) أخرجه النسائي في السنن ۳/۵۰، رقم الحديث: ۱۲۹۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَكْثَرُهُمْ عَلَيَّ صَلَاةً ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1].
ته د قيامت په ورځ هغه خلک وي، کوم چې ما باندې ډير درود لوستلو والا وي.

توضيح: اولى الناس: اى اقرب الناس يعنې يو ځاى او سيدو والا ما سره تولونه نزدې هغه خلک وي، چې ډير درود لوستونکي وي، ځکه چې کثرت سره درود د کثرت يادېدلو دليل دى، او کثرت يادېدل د محبت دليل دى او د محبت صله معيت دى، ځکه جنت کې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وي. (المرقات ۳/۱۱).

ابن حبان ددې حديث وضاحت کې ليکي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ددې بشارت عظمى مصداق محدثين دي، ځکه چې محدثين حديث لولي او تولونه ډير درود لولي.

د درود د پاره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حاضر نه وي

﴿٦﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ لِلّٰهِ مَلَائِكَةً سَيَّاحِينَ
دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي د الله تعالى ډيرې فرښتې دي
فِي الْأَرْضِ يُبَلِّغُونِي مِنْ أُمَّتِيَ السَّلَامَ» (۲).
کومې چې ځمکې کې ګرځي زما د امت سلام ماته رارسوي.

توضيح: سياحين: يعنې د فرښتو ګشتي ډله ده، صرف دې باندې مامورې دي، چې د دنيا په هر ګوټ کې څوک درود ولولي هغه فرښتې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته رسوي، اوس ددې ترتيب څنګه دى، هغه الله تعالى ښه پيژني، د تلو راتلو طريقه هم کيداى شي، برقي نظام غوندې هم کيداى شي، دا څه مشکل کار نه دى، ددې حديث تعلق هغه اشخاصو سره دى، چې لرې لرې علاقو کې درود لولي او کوم چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره نزدې روضه اقدس سره لولي هغه په خپله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوري، د رسيدو ضرورت نشته. (المرقات ۳/۱۲).

دې حديث نه يوه دا خبره ثابته شوه، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته قبر مبارک کې حيات دائمي حاصل دى، دويمه دا خبره ثابته شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هر ځاى حاضر او ناظر نه دى، ګيني د فرښتو د پاره به ددې نظام ګ قائمولو ضرورت نه وو. او دې نه دا خبره هم ثابته شوه، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غيب دان نه دى، بيا منځ کې د واسطو څه ضرورت وو، بعضې روايتو کې راځي فرښتې د حضور

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۵٤ رقم الحديث : ٤٨٤.

(۲) أخرجه النسائي في السنن ۳/٤۳ رقم الحديث : ۱۲۸۲، والدارمي في السنن ۲/٤۰۹ رقم الحديث : ۲۷۷٤.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته د درود لوستلو والا نوم هم اخلي، چې دا درود فلان ابن فلان طرف نه دی. الحمد لله لوی سعادت دی چې په شاهی درګاه کې چې د یو فقیر تذکره وشي، دا څومره غټ نعمت او حاضري ده.

در مجلس آن نازنین حرفے که از ما می رود
کوم شاعر څه ښه ویلي دي:

کلاه گوشه دهقان به آفتاب رسید که سایه بر سرش انداخت چون تو سلطانی

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سلام کونکو ته د سلام جواب ورکوي

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ أَحَدٍ يُسَلِّمُ عَلَيَّ

دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فرمایي کوم کس چې په ما باندې درود ولولي

إِلَّا رَدَّ اللهُ عَلَيَّ رُوحِي حَتَّى أَرُدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ»[1].

نو الله تعالی زما روح ماته واپس کوي، تردې چې زه د سلام جواب ورکړم.

توضیح: رد الله علی روحي: د اهل سنت والجماعت دا مسلمه عقیده ده، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل قبر اطهر کې ژوندی دی، د مرګ نه پس الله تعالی هغه ته دائمي ژوند ورکړی. مسئله دا ده چې حیات الانبیاء کې د چا هم قابل ذکر اختلاف نشته، خو دې حدیث نه معلومه شوه، چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حیات مستمره او دائمي نه دی، بلکې بعضې اوقاتو کې د سلام د جواب د پاره روح واپس کوي، یا د سلام جواب ورکولی شي، ددې سوال علماء او شارحین ډیر جوابونه کړي دي. (المرقات ۳/۱۲).

علامه سیوطي رَحِمَهُ اللهُ تقریبا پنځلس جوابونه کړي، خو اصل درې یا دوه داسې دي چې کافي دي او زړه کې ځای نیسي. (المرقات ۳/۱۲).

(۱) روحی لفظ چې کوم دی، دې نه مراد نطق دی، یعني رد الله علي نطقي (کذا قال ابن حجر في فتح الباري)

(۲) الا رد الله علي روحي جمله اصل کې حال واقع ده د قاعدې مطابق قد مخذوف دی، اصل عبارت داسې دی: (الا وقد رد الله علی روحی) یعني څوک چې هم سلام کوي حالت دا وي چې الله تعالی زما روح واپس کوي (کذا قال البیهقي و ابن حجر والسیوطي)

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۵۳٤ رقم الحديث : ۲۰٤۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روح هر وخت د تجليات الهی په مشاهده کې ملا اعلی کې مشغول وي او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکمل دغې طرف ته متوجه دی، چې کله قبر سره څوک سلام کوي، د جواب د پاره روح واپس کوي، بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورکوي، دې جواب باندې اشکال دی چې، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې هر طرف نه هر وخت سلام پيش کولی شي، بيا د انفصال روح څه تصور کيدی شي، بهر حال دا د عالم برزخ مسئله ده، بهتره دا ده چې د چون چرا نه بغير تسليم کړی شي. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورکوي د نزدې خلکو سلام اوري او د لرې والاو سلام فرښتې ورته رارسوي او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورکوي، لکه څنګه چې راتلونکي حديث کې راځي.

د حيات النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسئله

دا مسئله نن سبا بعضې اطرافو کې ډيره سختی سره مخې ته راځي، يعنې خلک په کې اختلاف کوي، ځکه زه دلته اثبات حياة النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې يو څو ګزارشات کوم. ما په توضيحات جلد اول صفحه نمبر ۳۵۴ کې سماع موتی کې هم څه ليکل کړي دي، نه د چا اختلاف ذکر کوم او نه په دې کې د اختلاف ګنجائش شته، ټولو نه مخکې عرض دا دی چې عالم په درې قسمه دی: (۱) عالم دنيا (۲) عالم برزخ (۳) عالم آخرت.

عالم دنيا کې بدن متبوع او روح ددې تابع وي او د احکاماتو تغلق بدن سره دی. عالم برزخ کې روح متبوع او بدن ددې تابع وي او د احکامو تعلق روح سره وي. عالم آخرت کې دواړو حيثيت مساوي دی، دواړه مسؤل دي او د احکامو تعلق دواړو سره وي، ددې تفصيل هم توضيحات جلد اول کې تير شوی دی، کله چې د دريو عوالمو خبره مخې ته راغله، نو معلومه شوه چې د بدن سره د روح تعلق په درې قسمه دی:

اول: د پيغمبرانو ابدان او اجساد دي ددې سره د روح تعلق دومره ژور دی، چې بدن محفوظ کيدو سره سره ددې تعلق اثر دنيا باندې هم پريوځي، لهذا د يو نبی ميراث هم نه تقسيميږي، ځکه چې هغه ميراث دی نه ځکه چې دژوندي کس ميراث نه وي، همدارنګه د انبياو عليهم السلام د ازواج مطهراتو سره نکاح هم نه کيږي دا د انبياو عليهم السلام د ژوندي کيدو مضبوطه ننبنه او اثر دی.

دويم: د شهيدانو بدنونو سره د روح تعلق دی، ددې اثر دومره مضبوط او قوي وي، چې قبر کې يې بدن د پرسيدو او د چاوديدو نه محفوظ وي، خو ددې اثر په دنيا نه راځي، ځکه د د شهداو د زنانو سره نکاح جائز ده او د هغوی ميراث تقسيميږي.

دريم: د عام مسلمانانو بدنونه دي، دې سره د دوي د روح تعلق دومره کمزوری وي، چې دې سره د دوي بدنونه محفوظ نه وي، ها بعضې ځای يو خاص تعلق وي، هغه د نادر حکم کې دي، دې قاعده باندې پوهه کيدو نه پس ضروري خبرې واورئ.

اوله خبره داه: د قرآن کريم د نصوصو او احاديثو مقدسو د فرمان مطابق محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې هغه مرګ راغلی چې کوم په ټولو انسانانو باندې راځي او دې طرف ته ﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ﴾ (آل عمران: ۱۸۲) کې اشاره شوې ده او ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾ (زمر آيت: ۳۰) کې ددې اعلان شوی دی.

دويمه خبره دا ده: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وفات نه پس د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جسد اطهر سره د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روح داسې تعلق دی، چې ددې وجې نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر سره سلام اوري او جواب ورکوي.

دريمه خبره دا ده: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې چې کوم مرګ راغلی وو د هغې نوعيت څنګه دی او ددې کيفيت څه دی، ددې د معلومېدو مونږ مکلف نه يوو، مونږ صرف ددې مکلف يوو، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې طبعي مرګ راغلی، مونږ دا منو او انکار ترې نه کوو، دې کلام سره دا پټ والی لرې شو چې حضرت قاسم نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متعارف مرګ نه انکار کړی ووئ که چې هغه د مرګ نه انکار نه دی کړی، بلکې مرګ منې ددې په کيفيت کې يې خبرې کړي دي دا يو ځان ته بحث دی چې مونږ ددې مکلف نه يو، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طبعي متعارف مرګ متعلق د حضرت نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ داسې اقرار کولو او اعتقاد يې ساتلو، حضرت نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي ټول انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ ته خاصکر حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ده مرګ نسبت کولو اعتقاد ضروري دی. (لطائف قاسميه ص ۴)

څلورمه خبره دا ده: عقائد دوه قسمه دي، يو هغه ضروري عقائد دي چې د هغې انکار سره سړی کافر کېږي دويم هغه عقائد دي چې د هغې منکر کافر نه دی، خو ګمراه او فاسق ګڼلی شي، اول قسم عقائدو د پاره د قطعي دليل ضرورت دی، دليل ظني کافي نه دی. دويم قسم عقائدو د اثبات د پاره دليل ظني کافي دی، دليل قطعي ضروري نه دی، علامه عبد العزيز پرهاروي رَحِمَهُ اللهُ د شرح عقائد په شرح نبراس کې فرمايي:

(ان المسائل الاعتقادية قسمان احدهما ما يكون المطلوب اليقين كوحدة الواجب و صدق النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . و ثانيهما ما يكتفى فيها بالظن كهذه المسئلة والاكتفاء بالدليل الظنى انما لا يجوز في الاول بخلاف الثاني) . (نبراس، ص ۵۹۸)

حياة النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره زه اوس دلائل پيش کوم، توضيح او د تشريح کولو امکان نشته.

اولني دليل: حضرت اوس بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی، مشکوة کې، ص ۱۲۰ باندې مذکور دی:

(قالوا يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كيف تعرض صلوتنا عليك و قدارمت اى يقولون قد بليت قال ان الله عزوجل حرم على الارض ان تاكل اجساد الانبياء) (سنن نسائی، ابوداود، درامي، ابن ماجه، بيهقي)

Maktaba Tul Ishaat.com

و قد صح هذا الحديث ابن خزيمة و ابن حبان والدار قطني والنووي في الاذكار (ابن كثير ج ۳ ص ۵۱٤)
ددې حديث سند مستند دی صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ درود و سلام نه اوريدلو د پاره دليل پيش کړو چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جسم مبارک ريزه ريزه کړی شي، نو درود به څنګه اوري، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جواب ورکړو بدن به سالم وي دا حقيقت کې ددې سوال جواب وو، تاسو وايې درود او سلام پيش کولی نشي، ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوندی نه دی، نو څنګه به يې اوري، زه وايم چې زه يې اورم، ځکه چې زما جسم مبارک به محفوظ وي، محفوظ کيدو مطلب دا دی چې زه به ژوندی يم او ژوندی کس اوري. خلاصه دا چې صرف د اجسادو د حفاظت خبره نه ده، بلکې د صحابو د عدم حيات د تصور پوره پوره جواب دی.

دويم جواب: د حضرت ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کوم حديث مشکوة (ص، ۱۲۱) باندې مذکور دي د هغې څو الفاظ دا دي: **(قال قلت و بعد الموت قال ان الله عز وجل حرم على الارض ان تاكل اجساد الانبياء فنبي الله حي يرزق. (رواه ابن ماجه)**

قال ابن حجر رجاله ثقات و قال الشوكاني سنده جيد و قال الملا على قاري باسناد جيد نقله ميرك عن المنذري وله طرق كثيرة بالفاظ مختلفة) (مرقات ج ۳ ص ۲٤۲) (المرقات ۳/٤٦۰).
د کثرت طرقو د وجې نه دا حديث صفا (صحيح) دی، اګر چې ده باندې د انقطاع يا ارسال اعتراض شوی دی، خو دا د کثرت طرق د وجې نه بې ځای دی.
دغه رنګ د يو مرفوع حديث په باره کې دا ويل هم بې ځايه دي، چې نبی الله حی يرزق جمله مدرج ده، آخر ولې مدرج ده، څه دليل دی که مدرج هم وي، نو حياة النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره ددې جملې باقي حصه هم کافي ده او ددې نه مخکې کوم حديث چې تير شو هغه کافي دی، ځکه چې د بقاء د جسد جواب ددې سوال نه پس راغلی چې د مرګ نه پس درود و سلام څنګه پيش کولی شي، چې جسم باقي نه دی، جواب ورکړی شو چې کېږي، ځکه چې د نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جسم محفوظ دی، يعنې نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوندی دی.

دريم دليل: ابو يعلى موصلي سند سره د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نقل کړی دی، الفاظ دا دي: **(و عن انس قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الانبياء احياء في قبورهم)**
مسند ابو يعلى موصلی وکذا نقله علامه تقی الدين السبکی چې امام بيهقي رَحِمَهُ اللهُ ددې حديث تصحيح کړې ده، بيا ابن حجر، قاضي شوکاني، ملا علي قاري او انور شاه کشميري رَحِمَهُمُ اللهُ دې ته صحيح ويلي. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ الفاظ دا دي: **صح خبر الانبياء احياء في قبورهم يصلون** (مرقات

ج۳ ص ۲۴۱). (المرقات ۳/۴۶۰).

څلورم دليل: زير بحث حديث د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دى، دې كې حتى ارد عَلَيْهِ السَّلَام الفاظ دي.

پنځم دليل: حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت مشكوة (ص، ۸۷) باندې دى. الفاظ يې دا دي: **(عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من صلى علي عند قبري سمعته و من صلى علي نائياً ابلغته) (بيهقي)**

دا احاديث د اهل السنة والجماعة د مسلک دلائل وو، كله چې يو حديث ثابت دى. تاسو ولې د هغې د ضعف كوشش كوئ؟، آيا داسې بل صحيح روايت او حديث نشته چې مونږ په عدم حيات النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې مجبوره كوئ، يا يوه اجماع د امت وي، چې مونږ ته د عدم حياة النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعوت راكوي چې مونږ يې قبول كړو، كه څوک ووايې چې قرآن كريم اعلان كوي ﴿إِنَّكَ مَيِّتٌ وَإِنَّهُم مَّيِّتُونَ﴾ د دې نه مرګ ثابت دى، زه وايم كه دا مرګ داسې وي چې دې نه پس حيات نشته، نو بيا د مرګ نه پس دائمي مرګ او منه او اعلان وګړه بعثت بعد الموت نشته، حشر نشر نشته، جنت دوزخ د دې ثواب او عذاب نشته، ځكه چې مرګ ابدي او دائمي دى، او كه دا اعلان نه شئ كولى. نو او منئ چې دې آيت كې د هغه د مرګ ذكر دى، چې هغې نه پس حيات نشته، نو بيا دا منل ضروري دي، احاديثو كې چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره قبر كې كوم حيات ثابت دى، هغه ناقابل تردید حقيقت دى، او دې نه انكار ډير خطرناک دى، باقي د قبر نه يوه معمه جوړولو ضرورت نشته قبر اګر چې يو اوږد برزخي مقام دى، خاص كنده نه ده، خو ياد ساتئ چې مخصوص قبر او مخصوص كنده د قبر لفظ اولني مصداق ؤ، هغې طرف ته ډيرې اشارې نصوصو كې شوې دي او ډيرو اهل لغتو د دې تصريح كړې ده، ګويا برزخ رومبى د منزل قبر دى د قبر نه برزخ شروع كيږي، هلته هم قبر دى.

شپږم دليل:

قال الله تعالى: ﴿بَلْ أَحْيَاء عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ﴾ (سورة آل عمران آيت: ۱۶۹).

دا آيت د شهيدانو باره كې دى، چې د شهدا و دا مقام دى، نو د انبياو مقام خو به د دې نه ارفع او اعلى وي، دې كې څه قسمه تاويل او د شک ګنجائش نشته دى او نه ضرورت شته.

(۱) علامه بدر الدين عيني رَحِمَهُ اللهُ شارح بخاري عمدة القاري (ج۱۶، ص۳۵) باندې فرمايي:

قلت لا اشكال في هذا اصلا وذلک ان الانبياء عليهم الصلوة والسلام افضل من الشهداء والشهداء احياء عند ربهم فالانبياء بطريق الاولى.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) دغه رنګ عبارت د حافظ ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ هم دی، دا حضرات ددې حدیث وضاحت فرمایي هغې کې راغلي، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ ما لیدلی وو، چې قبر کې یې مونځ کولو.

الفاظ دا دي: (مررت على موسى ليلة أسرى بي عند الكثيب الاحمر وهو قائم يصلي في قبره. (مسلم)

(۳) شوکاني نیل الاوطار کې لیکي:

وو رود النص في كتاب الله في حق الشهداء انهم احياء يرزقون و ان الحياة فيهم متعلقه بالجسد فكيف بالانبياء والمرسلين.

(۴) علامه سخاوي خپل مشهور کتاب القول البديع کې فرمایي:

نحن نومن و نصدق بانه حي يُرزق وان جسده الشريف لا تأكله الارض والاجماع على هذا.

(۵) دیوبندي صدی مشهور محدث علامه محمد بن علان صديقي دليل الفالحين لطرق رياض الصالحين کې د حياة النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اثبات په باره کې لیکي: للنصوص والاجماع على انه حي في قبره على الدوام. (ص۲۰۲ ج۴)

(۶) فقیه النفس حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهي فتاوی رشیدیه کې لیکي: انبیاء یې ځکه مستثنی کړي دي، چې د دوي په سماع کې اختلاف نشته. (ص۵۹)

دا ټول دلائل او حواله جات د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حیات دائمي د پاره کافي شافي دي، د مقابلې او مجادلې څه علاج نشته، که د دلائلو په میدان کې شي، دومره ډیر دلائلو نه پس دغه اجماعي عقیده کې شک او تردد کول لوی جرات دی، خو څه وکړو طبیعت پرستي شریعت باندې غالبه راغلې ده، یو طرف ته داسې افراط دي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حاضر او ناظر ګڼي، هر ځای کې د دوي درود او سلام آوري او دویم طرف روضه اطهر باندې حاضري په دوران کې سلام پیش کول یو تصور ګڼلی شي او د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حیات طیبه نه هر قسمه انکار کوي. (فالى الله المشتكى)

د اکابرو علماو او فقهاو یو څو حوالې:

(۱) قاضي عیاض رَحِمَهُ اللَّهُ کتاب (شفاء شرح شفاء) کې لیکي ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي:

(فمن المعتقد المعتمد انه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حي في قبره كسائر الانبياء في قبورهم وهم احياء عند ربهم و ان لارواحهم تعلقا بالعالم العلوي والسفلي كما كانوا في الحال الدنيوي فهم بحسب القلب عرشيون و باعتبار القالب فرشيون.) (شفاء ج۲ ص۹۹، بهامش نسيم الرياض)

(۲) مشهور حنفي عالم علامه سید الوسي بغدادي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي:

(واختلف فی هذه الحیاة فمذهب کثیر من السلف انها حقیقة بالروح والجسد ولکنا لا ندرکها فی هذه النشأة)

بیا یو څو اقوال نقل کولو نه پس دې مذکور قول ته داسې ترجیح ورکوي:

والمشهور ترجیح القول الاول. (روح المعاني ج۲ ص۲۰)

(۳) مشهور شافعي مفسر علامه فخرالدین رازي رَحِمَهُ اللهُ دې مسئلې کې یو څو اقوال نقل کولو سره حیاة انبیاء باندې داسې فیصله کوي: الاول انهم فی الوقت احیاء کأن الله تعالی احیاهم لا یصال الثواب الیهم وهذا قول اکثر المفسرین.

بیا یو څو کلماتو نه پس دوباره فیصله آوروي:

واعلم ان اکثر العلماء علی ترجیح القول الاول. (تفسیر کبیر ج٤ ص ١٦٣)

(۴) د احنافو مشهور مفتي او مستند عالم ابن عابدین شامي رَحِمَهُ اللهُ موانع ارث باندې خپل کتاب (الرحیق المختوم) لیکلی دی هغې کې فرمایي: (عدم موت المورث بناء علی ان الانبیاء احیاء في قبورهم کما ورد في الحدیث. (رسائل ابن عابدین ج ۲ ص ۲۰۲)

امام ابوالحسن اشعري رَحِمَهُ اللهُ د یو غلط قول تردید کولو کې فرمایي:

(لان الانبیاء علیهم الصلوة والسلام احیاء فی قبورهم. (رد المختار، ج۳، ص ۲۵۹)

مشهور حنفي فقیه عالم علامه حسن بن عمار سرنبدالي رَحِمَهُ اللهُ نور الایضاح کې د زیارة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ متعلق لیکي: و مما هو مقرر عند المحققین انه صلی الله علیه وسلم حی یرزق ممتع بجمیع الملذات والعبادات. (نور الایضاح ص ۱۸۹، ۱۸۷)

(۵) قاضي شوکاني نیل الاوطار کې فرمایي:

قال المتکلمون المحققون من اصحابنا ان لبینا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حي بعد وفاته. (ج٥ ص١٠١)

د زماني عجائبات

د زماني څه عجیبه حالات دي او د دې انقلابات حیرانوونکي او باعث د عبرت دي، د حجاز په علماو باندې یو دور داسې راغلی وو چې حیاة النبی مسئلې ته یې ډیر زور ورکړی وو، او د عالم په اطرافو کې یې د حیاة النبی د عقیدې نشر او اشاعت کولو، او دې مسئلې په مخالفینو باندې طعن کوه، او په هغوی باندې د کفر او ګمراهۍ فتوې لګولې، کله چې هندوستان کې مولوي احمد رضا خان بریلوي د فتنې بدعت خبره راغله، هغه او غوښتل چې د علماء حجاز په ذریعې سره د دیوبند علماء بدنام شي او

Maktaba Tul Ishaat.com

دوي باندې د کفر فتوی ولږي، ځکه يې غلطې استفتاء په ذريعې سره د علماء ديوبند خلاف يو فتوی تياره کړه، ددې نوم حسام الحرمين ايخودی وو او علماء حرمين په ناواقفی سره دستخط کړې وو. علماء حجاز ته چې اندازه اوشوه چې دا استفتاء غلطو موادو باندې پيش شوې ده. هغوئ بيا (۲۶) سوالاتو باندې مشتمل يو مسوده تياره کړه او د يوې مسئلې متعلق يې سوال وکړو، د علماء ديوبند نه حضرت خليل احمد سهارنپوري رَحِمَهُ اللّٰهُ علماء ديوبند طرف نه جواب ورکړو او د رضا خان د غلطو موادو رد يې وکړو، چې دې نه يو کتاب تيار شو، چې د هغې نوم المهند علی المنند کيښودلی شو. د علماء حجاز سوالاتو کې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حياة بعد الوفات د سوال جواب په ذريعې سره ځه لږ ځای د طعن کرځولی وو، چې دا خلک حياة النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه منکر دي او د حجاز علماء په علماء ديوبند باندې طعن ځکه کوي، چې د حياة النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قائل دي، دې تغيراتو ته اوګورئ.

السوال الخامس: ما قولكم في حيات النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ في قبره الشريف هل ذلک امر مخصوص به ام مثل سائر المؤمنين حياته برزخية؟

الجواب: عندنا و عند مشائخنا حضرة الرسالة صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حي في قبره الشريف و حياته دنيوية من غير تكليف وهی مختصة به و بجميع الانبياء والشهداء لا برزخية كما هي حاصلة لسائر المؤمنين بل لجميع الناس كما نص عليه العلامة السيوطي في رسالته أنباء الأذكياء بحياة الانبياء حيث قال قال الشيخ تقي الدين السبكي حياة الانبياء والشهداء في القبر كحياتهم في الدنيا و يشهد له صلوة موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ في قبره فان الصلوة تستدعی جسدا حيا الى آخر ما قال فثبت بهذا ان حياته دنيوية برزخية لكونها في عالم البرزخ. (ص ۳۷ تا ۳۹)

دې سوال او جواب نه يو خو د زماني عجيبه انداز معلوميږي، هغه وخت د حجاز د علماو خيالات څنګه وو او نن څنګه دي، نن هغه حضرات د حياة النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبره عمومي طور باندې بدعت او زندقه علامت ګڼي او خلک په دغه نباء باندې ځان ته محبوب او معتوب کوي. ربښتيا دي چې:

انقلاباتِ جہاں واعظ رب ہیں دیکھو ❁ ہر تغیر سے صدا آتی ہے فہم فہم

د دې جواب د عبارت نه دې دا سې خبرې وضاحت هم وشو، زما په خيال پاکستان کې بعضې جذباتي حضرات د اختلاف بنياد ګرا او مرکزي کانې دي، هغه خبره دا ده کوم عبارت کې چې دا خبره راځي. چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حيات دنيوي دی، مخالفين دا ګڼي چې مرګ وربانديې نه دی راغلی او د مرګ نه انکار کولی شي. نو هغه مرګ والا آيت قرآن کريم کې لولي، حالانکې دا خبره بنکاره ده،

د طبعي مرګ نه انکار هیڅوک هم نه کوي نن سبا حزب الله او جماعت مسلمین وغیره شرپسند دي طرز باندې عمل کونکي دي، حالانکې یو مسلمان دا هم نه شي ویلی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دنیا کې دی، بلکې د نبوي حیات مطلب دا دی کله چې تاسو دنیا کې حیات وئ دغه رنګ حیاة دهغوی قبرمبارک کې هم دی، دې کې استبعاد وکړو ، بلکې ډیر ممکن دی، چې هغه حیات دنیا والا حیات نه ډیر اقوی دی.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت فاطمې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته وفرمایل ټولو نه مخکې به ته زما سره ملاویږې ، په دې حضرت فاطمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خوشحاله شوه، دا میلاویدل آخر څه دي ښکاره خبره ده، هغه به څه خوشحالي راحت وي، چې د دنیا ژوند په شان وي، بلکې د دې نه اقوی او اعلی ژوند شته او هغه ژوند د برزخ دی او قبر د برزخ یوه حصه ده، دې کې د جګړې څه دي، بره عبارت کې دنیویة برزخیة دغه مطلب دی، او دنیویة لفظ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حیاة د پاره استعمالول ډیر ضروري دي، یو خو ددې وجې نه چې سائل باقاعده ددې سوال کړی وو، دویمه وجه دا برزخي حیات خو عام مسلمانانو د پاره حاصل وي، یا د انبیاو او شهدا و حیات قرآن کریم او حدیث کې دومره اهتمام سره ولې بیانولی شي، ددې ضرورت څه دی، زه بیا وایم ددې (دنیویه) لفظ نه بعضې دنیادارو ته دهوکه لرېدلې ده، کوم چې حزب الله او جماعت المسلمین په شکل کې په مسلمانانو کې فرقې پیدا کوي، هغوئ پوهیږي دنیویه ویلو سره دنیا کې موجود کیدل لازم راغلل، حالانکې دا مطلب نه دی.

دلته عجیبه خبره ده، کوم خلک چې د انبیاو په عدم حیات باندې بحث کوي، هغوئ وایي چې مونږ حیات منو، خو مونږ برزخي حیات منو، بیا چې د هغوئ نه تپوس اوکړی شي، انبیاو ته په قبرونو کې حیات حاصل دی، او قبر هم د برزخ یوه حصه ده، نو دغه حضرات وایي چې برزخي حیات خو عامو انسانانو ته هم حاصل دی، دې کې د انبیاو خاص کولو څه ضرورت دی.

سبحان الله! عجیبه خلک دي، نه دنیوي حیات منلو ته تیار دي او نه برزخي حیات کې فرق کولو ته تیار دي، بس دا غواړي چې انبیاء کرام هم د عامو مسلمانانو په شان لائن کې ودرول په کار دي، چرته چې مسلمانان او غیر مسلم ټول ولاړ دي. (انا لله وانا اليه راجعون)

مونږ وایو حیات الانبیاء په باره کې زمونږ هغه عقیده ده کومه چې د احادیثو او اجماع امت نه ثابته ده او کومه چې د اهل سنت والجماعت او علماء دیوبند عقیده ده.

کفر است در طریقت ما کینه داشتن ✿ آئین ما است سینه چون آئین داشتن

د کورونو نه قبرستان مه جوړوئ

﴿۸﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ : « لَا تَجْعَلُوْا

دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوریدلي چې ویل یې تاسې مه ساتئ

Maktaba Tul Ishaat.com

بُيُوْتَكُمْ قُبُورًا وَلَا تَجْعَلُوا قَبْرِيْ عِيدًا وَ صَلُّوا عَلَيَّ فَإِنَّ
کورونه خپل د قبرونو په شان او زما په قبر باندې اختر مۀ جوړوئ، ما باندې درود وایي تاسو چې کوم
صَلَاتَكُمْ تبلغنِيْ حَيْثُ كُنْتُم» .(۱).
ځای کې یې ستاسو درود ماته رارسي.

توضيح: لاتجعلوا: ددې جملې درې مطالبه دي، ړومبی دا چې خپلو کورونو کې داسی مۀ کېږئ چې کور کې نه عبادت وي، نه مونځ وي، نه ذکر او اذکار وي، دغه رنګ قبرونو کې مړي وي، صرف پراته وي، بلکې تاسو د کور ماحول د عبادت ماحول جوړ کړئ، چې کورونو کې برکت راشي چې ستاسو اولاد هم داسې طریقې سره عادت شي، ددې صورت دا دی فرائضو نه علاوه نوافل او ذکر کورونو کې کوئ. (المرقات ۱۲-۳/۱۳).

دویم مطلب دا دی خپل مړي کورونو کې مۀ دفن کوئ، ځکه چې تدفین د پاره قبرستان مقرر دی، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حجره کې ځکه دفن کړو، چې د انبیاو د خصوصیاتو نه یو دا هم دی، چې کوم ځای کې پیغمبر وفات شي هلته یې دفن کوئ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انتقال د د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حجره کې شوی وو، ځکه هلته یې تدفین دی.

دریم مطلب دا دی قبرستان خپل کور مۀ جوړوئ هلته لاړ شي او منجاور جوړ شې او دیره واچوې، دې سره د زیارة القبور مقصد فوت کېږي چې دا نرم والی د زړه دی، بلکې کله کله زیارت کوئ، چې عظمت او احترام باقي پاتې شي، ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ نور مطالب هم ذکر کړي دي، خو د حدیث کلام نه داسې معلومیږي چې اوله معنی راجح او ډیره واضح ده. (المرقات ۳/۱۳).

ولاتجعلوا قبري عيدا: ددې کلام مطلب دا دی چې زما قبر نه میله مه جوړوئ، میله کې هر قسم حالت رائي، ددې حدیث جزء باندې الحمدالله نن سبا مدینه منوره کې ښه عمل روان دی، هلته د دنیا خلک جمع کېږي، ذکر، اذکار، درود و سلام فضاء قائموي، (المرقات ۱۳-۳/۱۴، الکاشف ۲/۴۳۵).

د حدیث ددې جملې نه په بدعتیانو او مشرکانو او د رسم او رواج د خیټې په عاشقانو ښه رد دی، کوم چې د خیټې او خواهش نفس په خاطر د اولیاء الله په مزارونو باندې د بدعت او شرک او رسمونو فضاء قائموي، چې د قرآن او حدیث پسې مزاق کولی شي او قبرونو د پاره منل شوې حلواګانې خوري، او د شرک او د بدعت چغې وهي او هیڅ نه شرمیږي.

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۲/۵۳٤ رقم الحديث :۲۰٤۲ .

وصلوا علي: شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې ليکي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ روضه اطهر باندې د اسې اجتماع نه منع فرمايلې، يو قدرتي سوال پيدا کيږي، قبر سره يو ځای کيدو سره درود او سلام پيش کول مقصود وي، دې نه څنګه منع کړی او که منع شي، بيا به څه کوی، درود او سلام به څنګه پيش کولی شي. ددې جواب دې جملې سره ورکړی شو، تاسو چې کوم ځای کې يې هغه ځای نه درود وايي ستاسو درود ماته رارسي، د هغې فکر مه کوئ، يعني حضور بالاقوال والقلوب کافي دی، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالابدان په ځای قولي حاضري کافي شافي ګڼئ. (المرقات ٣: ١٣-١٤، الکاشف ٢: ٤٣٥).

حبيب غاب عن عيني و جسمي ✿ وعن قلبي حبيب لا يغيب (اشعة اللمعات ١/٤٣٧-٤٣٨)

يعني:

دل کے آئینے میں ہے تصویر یار ✿ جب ذرا گردن جھکائی دیکھ لی

د درود په نه ويلو باندې وعيد

﴿٩﴾ وَ عَنْهُ قال : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « رَغِمَ أَنْفُ

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي په خاورو دې ککړه وي پوزه دهغه

رَجُلٍ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ وَ رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ

کس چې دهغې مخکې زما ذکر وشي اوما باندې درود ونه وايي اودغه رنګ د هغه کس پوزه چې راشي

عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ وَ رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ

پرې روژه او د هغه بخښنه ونه شي او همدارنګې د هغه کس پوزه دې هم په خاورو ککړه شي چې ده سره

أَدْرَكَ عِنْدَهُ أَبَوَاهُ الْكِبَرَ أَوْ أَحَدُهُمَا فَلَمْ يُدْخِلَاهُ الْجَنَّةَ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[1].

ژوندي وي بوډاګان مور او پلار او يا يو په دوي کې او دې جنت ته داخل نه شي.

توضيح: رغم اى لصق انفه بالرغام اى التراب: يعني د هغه کس پوزه دې خاورې شي. چې ما باندې يو ځلې درود ونه لولي، ځکه چې يو ځلې درود لوستل واجب دي، بار بار درود لوستل مستحب دي، مطلق وعيد تعلق د دنيا سره دی، د آخرت وعيد ذکر نه دی، ځکه چې پوزه خاورې کيدل سزا د دنيا ده، دې نه معلومه شوه بار بار درود لوستل واجب نه دي، بلکې مستحب دي. دويم هغه کس چې د روژې مياشت پرې راشي، خو د جنت ته د تلو والا جوړ نه شي، ځکه چې د روژې حق يې اداء نه کړو.

---

(١) أخرجه الترمذي في السنن ٥/٥١٤ رقم الحديث: ٣٥٤٥، وأحمد في المسند ٢/٢٥٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

درېم هغه کس چې پوزه دې خاوري شي چې دې خپل يو مور يا پلار يا دواړه په حالت د بوډا والي کې وينې او هغه رنګ قدر او خدمت يې ورله ونه کړه، چې جنت ته پرې داخل شي، نو دا کس لوی بدبخت دی. (المرقات ۳/۱۴)

﴿۱۰﴾ وَ عَنْ أَبِي طَلْحَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ جَاءَ ذَاتَ يَوْمٍ وَ

دطلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې (يو ورځ) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (زمونږ خواته) تشريف راوړو او

الْبِشْرُ فِي وَجْهِهِ

دغه وخت د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ مبارک باندې خوشحالي وه، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (صحابه تپوس

فَقَالَ : إِنَّهُ جَاءَنِي جِبْرِيلُ فَقَالَ : إِنَّ رَبَّكَ يَقُولُ

کولو نه پس يا مخکې) وفرمايل زما خواته جبرائيل راغلی، هغه وويل چې پروردګار فرمايي ای محمد

أَمَا يُرْضِيكَ يَا مُحَمَّدُ أَنْ لَا يُصَلِّيَ عَلَيْكَ أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِكَ إِلَّا

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آيا تاته ددې خبرې نه راضي نه يې چې ستا امت کې څوک په تا باندې يوځلې درود ولولي زه هغه

صَلَّيْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا وَلَا يُسَلِّمُ عَلَيْكَ أَحَدٌ مِنْ أُمَّتِكَ إِلَّا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ عَشْرًا[1].

باندې لس ځلې رحمت نازلوم او څوک چې يوځلې په تا باندې سلام ووايي هغه باندې لس ځلې سلام زه ليږم.

په درود او سلام ليږلو سره د دين او دنيا ضروريات پوره کيږي

﴿۱۱﴾ وَ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ : قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُكْثِرُ الصَّلَاةَ عَلَيْكَ

دابی بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې ما عرض وکړو يا رسول الله! زه په تاسو باندې ډير زيات درود

فَكَمْ أَجْعَلُ لَكَ مِنْ

وايم تاسوو وايي ماچې د خپل ځان د پارهٔ ډډ ځای پاره څومره وخت مقرر کړی دی هغې کې څومره وخت

صَلَاتِي ؟ فَقَالَ : « مَا شِئْتَ » قُلْتُ : الرُّبُعَ ؟

تاسو باندې درود ووايم نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل څومره چې ستاسو زړه غواړي ما عرض وکړو آيا څلورمه حصه

قَالَ : « مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ » . قُلْتُ : النِّصْفَ ؟

وې فرمايل څومره چې ستا زړه غواړي او که ډير مقرر کړی ستا د پاره بهتره ده ما عرض وکړو نو بيا نيم (وخت

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۳/۵۰ رقم الحديث : ۱۲۹۵ ، والدارمي في السنن ۲/۴۰۸ رقم الحديث : ۲۷۷۳.

قَالَ : « مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ »

مقرر کړم) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل څومره چې ستا زړه غواړي اوکه ډیر مقرر کړې ستا سود پاره بهتر دی

قُلْتُ : فَالثُّلُثَيْنِ ؟ قَالَ : « مَا شِئْتَ فَإِنْ زِدْتَ

ماعرض وکړو بیا دوه حصې مقرر کړم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل څومره ستا سو زړه غواړي اوکه ډیر مقرر

فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ » قُلْتُ : أَجْعَلُ لَكَ صَلَاتِي كُلَّهَا ؟

شي نوښه بهتره ده ماعرض وکړو بنده ده بیازه دخپلې دعا ټول وخت ستا سود درود پاره مقرروم نبي عَلَيْهِ السَّلَام

قَالَ : « إِذًا تُكْفَى هَمَّكَ وَ يُغْفَرُ لَكَ ذَنْبُكَ » . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1].

وفرمایل داستا سود پاره کافي دی اوستا سود دین اودنیا مقاصد پوره کوي اوستا سو ګناه به معاف شي.

توضیح: اکثر الصلوة: مطلب دا دی چې زه ډیر نه ډیر درود لیږلو اراده ساتم، تاسو ددې حد متعین کړئ، یا مطلب دا دی یارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه خپل ذات د پاره ډیرې دعاګانې کوم اوس زه غواړم د دعا په دغه وختونو کې په تاسو باندې درود ووایم، لهذا تاسو متعین کړئ چې څومره ووایم، دې جواب کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل څومره چې ته غواړې په خپله وخت متعین کړه، نو صحابي وفرمایل که څلورمه حصه مقرر کړم، خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پرې تحدید ونه کړو بلکې وې فرمایل چې څومره ویلی شي، تردې چې دغه صحابي نیم یاد کړو، بیا یې دوه حصې، خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ورله دغه جواب ورکولو، چې څومره ستا مرضي وي، چې څومره ډیر وي ستا په کې فائده ده، بیا صحابي وفرمایل، چې زه خپل ټول وخت درود کې خرچ کوم، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل دا خو ستا د پاره د دنیا او آخرت ضروریات پوره کوي او ستا ټول ګناهونه به معاف کړي، (المرقات ۲/۱۶).

ددې حدیث نه معلومه شوه چې د درود د لوستلو ډیرې فائدې دي، د شمار حد او شرط په کې نشته، حضرت کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپلو اورادو او وظائفو وختونه د درود د پاره وقف کړل، په دې سره نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د طرف نه هغه ته انعام بشارت ملاو شو، چې د ټول امت د پاره بشارت دی.

د درود نه پس غوښتلی شوې دعاء قبلیږي

﴿۱۲﴾ وَعَن فضَالة بن عُبَيْدٍ قَالَ: بَيْنَمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ

د فضاله بن عبید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې (یوورځ) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناست ؤ چې یو کس راغی

Maktaba Tul Ishaat.com

فَصَلَّى فَقَالَ : اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَ ارْحَمْنِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :

اومونځ يې وکړو او بيا يې دا دعاء وکړه: اللهم اغفرلي وارحمني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل اى

« عَجِلْتَ أَيُّهَا الْمُصَلِّي إِذَا صَلَّيْتَ فَقَعَدْتَ

مونځ کوونکيه تا (د دعاء ترتيب پريښود وسره) جلتي وکړه اووې فرمايل مونځ بيا وکړه او کينه د الله تعالى

فَاحْمَدِ اللهَ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ وَ صَلِّ عَلَيَّ ثُمَّ ادْعُهُ ».

تعريف بيان کړه ، څنګه چې د تعريف اهل دى او ما باندې درود ولوله بيا د الله تعالى نه وغواړه . فضاله

قَالَ : ثُمَّ صَلَّى رَجُلٌ آخَرُ بَعْدَ ذَلِكَ فَحَمِدَ اللهَ وَ صَلَّى عَلَى

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي دې نه پس يو بل کس مونځ وکړو هغه د الله تعالى تعريف هم وکړو او درود يې ولوستلو په

النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَيُّهَا الْمُصَلِّي

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې (خو دعاء يې ونه کړه) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته وفرمايل اى مونځ کوونکيه

ادْعُ تُجَبْ» (وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ ،نَحوه)[1].

دعاء هم کوه، چې قبوله شي.

د فرضونه پس دعاء کول ثابت دي

﴿۱۳﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : كُنْتُ أُصَلِّي وَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې يوورځ ما مونځ کولو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هم هلته موجود وُ

وَ أَبُو بَكْرٍ وَ عُمَرُ مَعَهُ فَلَمَّا جَلَسْتُ

او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم حاضر وو چې مونځ نه پس زه کيناستم

بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللهِ تَعَالَى ثُمَّ الصَّلَاةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ثُمَّ

د الله تعالى تعريف مې شروع کړو ، بيا مې په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې درود ولوستلو ، بيا دهغې نه وروسته مې

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ٥/٤٨٢ رقم الحديث : ٣٤٧٦، وأخرجه النسائي في السنن ٣/٤٤ رقم الحديث : ١٢٨٤.

دَعَوْتُ لِنَفْسِي فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « سَلْ تُعْطَهْ سَلْ تُعْطَهْ » . رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ[1]

خپل (ديني او دنياوي مقاصدو) دپاره دعاء وغوښتله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل غواړه ضرور به دي دعا قبليږي

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ:

د نبي امي مطلب

﴿١٤﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : « مَنْ سَرَّهُ

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي د کوم کس چې دا خوښه وي چې

أَنْ يَكْتَالَ بِالْمِكْيَالِ الْأَوْفَى إِذَا صَلَّى عَلَيْنَا أَهْلَ الْبَيْتِ فَلْيَقُلْ اللَّهُمَّ

هغه ته ډيرنه ډير ثواب ملاؤشي، هغه ته په کار دي چې مونږ اهل بيتو باندې داسې درود ولولي: اى الله

صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ وَ أَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ

محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې چې نبي امي دی، د دوی په ازاج مطهراتو باندې چې د مؤمنانو مورکانې دي

وَ ذُرِّيَّتِهِ وَ أَهْلِ بَيْتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ

اودنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اولاد اهل بيت باندې رحمت نازل کړه، څنګه چې تاپه اولاد د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې نازل

إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ» . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2].

کړی وو ، بېشکه ته حميد او مجيد يې.

توضيح: الامي: دنبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ ډيرنومونه دي ځينې نومونه داسې دي چې هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصوصيات او صفاتو په بنياد دي، سابقه کتابونو کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مشهور لقب او تعارف النبي الامي ؤ ددې ذکر تورات او انجيل کې دی، د يهودو او نصاراو په ژبو باندې عام وو، قرآن کريم کې دا لقب دوه ځلې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره استعمال شوی دی، په سورة اعراف (آيت نمبر ۱۵۴-۱۵۸) کې النبي الامي مبارک لقب مذکور دی، (المرقات ۳/۲۰).

د أُمِّيِّين لفظ هم قرآن کريم کې دري ځلې استعمال شوی دی، دې نه مراد اهل عرب او اهل مکه دي.

---

(١) أخرجه الترمذي في السنن ٤٨٨/٢ ، رقم الحديث : ٥٩٣ ، وأحمد في المسند ٣٨٦/٢.

(٢) أخرجه أبوداود في السنن ٦٠١/١ رقم الحديث : ٩٨٢.

Maktaba Tul Ishaat.com

امي: امر طرف ته منسوب دی. دې نه مراد هغه کس دی، چې لیکل او لوستلو باندې نه پوهیږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په دې اعتبار سره ویلي دي، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پیدائشت نه پس یو استاذ مخې ته ناسته نه ده کړې، ځلو پښت کاله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا سې تیر کړي وو، څنګه چې پیدائشت وخت کې وو، یا مخامخ الله تعالی خپل شاګرد جوړ کړو او ټول علوم شرعي نه یې خبر کړو، د وحې په ذریعې سره چې جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ واسطه وو، هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استاذ نه وو، دې طرف د تربیت ته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره کوي: **ادبني ربي فاحسن تأديبي**، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غیر شاګردی نه یې ځکه بچ اوساتلو، چې یا به خلک وایي چې دا د فلاني شاګرد دی او دلته یې د نبوت دعوی وکړه. (المرقات ۳/۲۰).

- د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاګردي د خپل ځان د پاره خالص کړې وه، چې د بل چا تربیت په دې کې امیزش رانشي. علامه محمد بوصیري رَحِمَهُ اللهُ په قصیده برده کې وایي:

كفاك بالعلم في الامي معجزة ... في الجاهلية والتأديب في اليتيم

یعني د یو امي په زمانه د جاهلیت کې دومره لوی علم او یتیمي په حالت کې دومره لوی ادب دده معجزې د پاره کافي ده. یو څو نور اشعار هم ذکر کوو چې د دې موقع سره مناسب دی:

نگار من که به مکتب نه رفت وخط نه نوشت ... بغمزه مسئله آموز صد مدرس شد

زما محبوب چې مکتب (سکول) ته نه ؤ تللې او خط یې هم نه ؤ زده چې په یوې اشارې سره یې مسئله زده کړه او د ټولو استاذ جوړ شو.

يتيمے كه ناكرده قرآن درست ... كتب خانهٔ چند ملت بشست

هغه یتیم چې ده لا قرآن کریم هم نه ؤ مکمل کړې چې د څو مذهبونو کتب خانې یې محو او کنګال کړې.

د درود نه ویلو والا لوی بخیل دی

﴿۱۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلْبَخِيلُ الَّذِيْ
دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې: نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي بخیل هغه کس دی چې د
ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.(۱)
هغه مخکې زما ذکر وشي او دا په ما باندې درود ونه لولي.

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۱۵، رقم الحديث: ۳۵۴۶، وأحمد في المسند ۱/۲۰۱.

وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنِ الْحُسَيْنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

توضيح: بخيل: يو خو د مال بخيل وي، چې دا عام خلک پيژني او بخيل يې مني. خو يو حقيقي بخيل دی عام خلک دا نه شي معلومولی، دده تعارف حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی حديث کې وفرمايل اصل بخيل هغه دی چې د هغه مخې ته زما نوم واخستلی شي او هغه په ما باندې درود ونه لولي. (المرقات ۳/۲۱).

نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته سلام ځي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه راځي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِي سَمِعْتُهُ وَمَنْ صَلَّى عَلَيَّ نَائِيًا أُبْلِغْتُهُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان[1].

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي کوم کس چې درود ولولي زما د قبر سره، هغه زه اورم او کوم کس چې لرې نه ما باندې درود راليږي هغه ماته رارسولی شي.

توضيح: عند قبري: ددې نه يوه خبره دا معلومه شوه، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل قبر کې ژوندی دی. او درود او سلام خپله اوري، ددې تفصيل مخکې تير شوی دی. دويم دا چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خواته درود او سلام رسي، داسې نه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درود او سلام پسې راځي بلکې بعضې خلک د عشق په دروغو دعوی کوي او معشوقي ته د تللو په حای معشوق خپل ځان ته درغوښتلو بې ځايه اصرار کوي حالانکه د محبوب خواته په خپل تلل په کار دی قاصد هم نه شي برداشت کولې، سعدي بابا رَحِمَهُ اللهُ وايي:

يار ديرينه مرا گويه زبان توبه مده ❁ كه مرا توبه بشمشير نه خواهد بودن
رشكم آيد كه كسے سير نگاه در تو كنده ❁ باز گويم كه كسے سير نه خواهد بودن

ترجمه: زما مخکنې دوست ته ووايه چې زما په باره کې د عشق نه وروستې کيدو نوم مه اخله ځکه چې ما توره وهلو سره هم څوک د عشق نه نه شي اړولې، ماته په دې باندې غيرت راځي چې قاصد ستا په ليدلو سره مريږي بيا زه وايم چې ستا په ليدلو سره څوک نه شي مريدلې.

میں نے کہا میں خود جاؤں کہ نکلے مطلب دل کچھ نہ کچھ ❁ میرا جانا اور ہے قاصد کا جانا اور ہے

چا يو خپل ذوق داسې بيان کړې دی:

---

[1] أخرجه البيهقي في شعب الايمان ۲۰۹/۲ رقم الحديث: ۱۵۵۳

Maktaba Tul Ishaat.com

سلام دي راغي ته رانغلي وا به دي نه خلم بي ديدنه سلامونه

د جمعې په ورځ د درود ثواب ډير لوي

﴿۱۷﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ : مَنْ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَاحِدَةً

د عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې کوم کس چې په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې يو ځلې درود ولولي

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَمَلَائِكَتُهُ سَبْعِينَ صَلَاةً. (رَوَاهُ أَحْمد)[1].

دې کس باندې الله تعالى او فرښتې اويا ځلې رحمت راليږي.

توضيح: په ظاهره داسې معلوميږي، چې دا ثواب د جمعې ورځې سره خاص دی، دې نه مخکې مرفوعو احاديثو کې يو ځلې درود باندې لسو ځلو نه ډير ثواب يې بيان کړی وو. د جمعې په ورځ يو حج د اوياو (۷۰) حجونو برابر وي، اوس ددې حديث د مخکې حديث سره تعارض نشته. (المرقات ۳/۲۲).

ددې حديث د الفاظو نه معلوميږي، چې دا موقوف دی اوږدا د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثر دی، خو داسې نه ده، ځکه چې د فضائلو په ابوابو کې يو حديث څوک د خپل طرف نه نشي ذکر کولی، د علماو متفقه فيصله ده چې : **والفضائل لاتؤخذ بالقياس** (تحفة الاحوذی ج۱۰، ص۳۶۴) يعنې فضائل په قياس سره نه شي بيانولې، خامخا حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به دا حديث د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې اوريدلی وي نو بيان کړی يې دی، نو دا روايت د مرفوع حديث په حکم کې شو.

يو خاص درود او د شفاعت مطلب

﴿۱۸﴾ وَ عَنْ رُوَيْفِعٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : مَنْ صَلَّى عَلَى مُحَمَّدٍ

د رويفع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي څوک چې درود وليږي په محمد

وَ قَالَ : اللَّهُمَّ أَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې او دې نه پس ووايي: اى الله! نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته هغه مقام ورکړه کوم چې ستا سره نزدې

يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَجَبَتْ لَهُ شَفَاعَتِي ". (رَوَاهُ أَحْمد)[2].

وي، د قيامت په ورځ د هغه د پاره زما شفاعت واجب کيږي.

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲/۱۸۷.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ٤/۱۰۸.

توضيح: المقعد المقرب: ددې نه مراد مقام محمود دی، دغه ځای کې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د محشر په ورځ شفاعت د پاره په سجده باندې وي او دا درود یو خاص قسم درود دی، چې دا خواص وایي. ددې درود عجیبه اثرات دي.

وجبت له شفاعتي: یعنې دې درود سره شفاعت واجبیږي او ددې اندازه به هغه وخت ولرې، چې کله د محشر په ورځ انسان خفه ولاړ وي او د حساب کتاب ټول مشکلات یې مخې ته وي او په دې کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قاصد راشي، قانوني افسر ته وایي، چې دا د محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کس دی، دا ووایي او کس د لاس نه ونیسي او جنت ته یې بوځي او شاهي مهمان خانه کې به یې کینوي. الله تعالی دې د ټولو مسلمانانو شفاعت نصیب کړي. **آمین** (المرقات ۳/۲۲).

﴿۱۹﴾ وَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

دعبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې یوه ورځ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ (مسجد یا مکان نه) را اوتلو

حَتّٰى دَخَلَ نَخْلًا فَسَجَدَ فَأَطَالَ السُّجُودَ حَتّٰى خَشِيتُ أَنْ يَكُونَ

اودکهجوروباغ ته دننه شو او هلته په سجده شو او سجده یې دومره اوږده وکړه چې زه ویریدم چرته ورته

اللهُ تَعَالَى قَدْ تَوَفَّاهُ. قَالَ: فَجِئْتُ أَنْظُرُ

الله تعالی مرګ نه وي ورکړی، زه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کتلو ته راغلم چې آیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژوندی

فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ: «مَا لَكَ؟»

دی که وفات شوی دی، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سرمبارک اوچت کړو او وې فرمایل څه وشو، بیاما صورت

فَذَكَرْتُ لَهُ ذٰلِكَ. قَالَ: فَقَالَ: "إِنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ لِي: أَلَا

حال ذکر کړو، راوي وایي دې نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: چې جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته وویل آیا

أُبَشِّرُكَ أَنَّ اللهَ عَزَّ وَ جَلَّ يَقُولُ لَكَ مَنْ صَلّٰى عَلَيْكَ صَلَاةً

تاته دا خوشخبري نه اوروم، چې الله تعالی فرمایي کوم کس چې په ما باندې درود ولولي زه به په هغې

صَلَّيْتُ عَلَيْهِ وَ مَنْ سَلَّمَ عَلَيْكَ سَلَّمْتُ عَلَيْهِ". (رَوَاهُ أَحْمد)[1].

باندې رحمت اولیږم او څوک چې په تا باندې سلام اوایي زه به هغه باندې سلام وایم.

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۱/۱۹۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

څو پوري چې يې درود نه وي لوستلی دعاء نه قبليږي

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: إِنَّ الدُّعَاءَ مَوْقُوفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ

دعمربن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې دعاء موقوف وي په مينځ د آسمان او ځمکه کې او هغې

لَا يَصْعَدُ مِنْهُ شَيْءٌ حَتَّى تُصَلِّيَ عَلَى نَبِيِّكَ. (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1].

نه يو څيز هم بره نه ځي ترهغې پورې ترڅو چې تاسو په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې درود نه وي لوستلی.

توضيح: ان الدعاء موقوف: يعنې څو پورې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې مو درود نه وي لوستلی دعا نه قبليږي، چې کله درود ولوستلی شي، نو دعا د درود سره يوځای شي او رب العزت دربار ته لاړه شي او د قبوليت شرف حاصل کړي.

د يو ميرۍ شوق وو چې د بيت الله زيارت وکړم، خو دا دومره فاصله وهل ورته ډير ګران وو په دې کې يو کونتره راغله د هغې خپه پسې ونخته، زر بيت الله ته راورسيدل، ځکه شاعر وايي:

مور مسکين ہوے داشت که به کعبه رسد ✿ دست درپائے کبوتر زدو ناګاه رسد

حص حصين کې يې ليکلي چې حضرت شيخ ابو سليمان داراني رَحِمَهُ اللهُ وفرمايل چې خپل حاجت د پاره دعا غوښتلو نه مخکې او وروسته درود شريف لولئ، نو الله تعالى به خپل فضل سره دعا قبلوي، د الله تعالى د شان کريمي تقاضا دا ده چې کله دواړه درودونه قبلوي نو منځ دعا به نه پريږدي، بلکې هغه به هم قبلوي، بعضې علماء فرمايي د انسان عمل کې درود داسې عمل دی، چې د الله تعالى په نزد باندې قبول دی، درود کله هم نه رد کيږي، په دې شرط چې صحيح درود وي.

دې روايت متعلق هم داسې کلام دی، کوم چې د حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخکې روايت نمبر (۱۷) کې تير شو، دا روايت هم اګر چې موقوف دی، خو دغه شان دواړه روايات لفظاً موقوف او حکماً مرفوع دي. (المرقات ۳/۲۴، الکاشف ۲/۴۴۲)

يارب صلى وسلم دائما ابدا ✿ على حبيبک خير الخلق کلهم

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۲ ۳۵٦، رقم الحديث ٤٨٦، والنسائي في السنن ۳/٥٦ رقم الحديث ۱۳۰۹.

بَاب الدُّعَاء فِي التَّشَهُّد:

تشهد نه پس د دعا لوستلو بيان:

قال الله تعالى: ﴿ وِمِنْهُم مَّن يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴾ (سورة بقره، آيت نمبر ۲۰۱)

سړی چې کله اخيرنی قعده کې کيني، نو د تشهد نه پس درود لوستلی کېږي او د درود نه پس دعا وي، دې نه مخکې باب التشهد کې حديث نمبر (۳) کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد مبارک تير شو، چې مونځ ګزار دې د تشهد نه پس د خپلې خوښې دعا غواړي. او د بره مذکور عنوان مطلب هم دا دی. آخرنی قعده کې چې څه لوستل کېږي هغې کې تشهد هم دی او تشهد نه پس دعا هم ده، دې عنوان سره ټول مراد دي، نو په دې صورت کې د لفظ في استعمال به صحيح شي، يا في لفظ د بعد په معنی سره دی، ای باب الدعا بعد التشهد دا سې به هم مقصود صحيح شي.

فقهاء احناف ليکي: دې دعا کې دا سې الفاظ نه دي په کار چې د کلام الناس سره په کې مشابهت راشي، يعنې يو کس دا سې دعا نه غواړي (اللهم زوجني فلانة) دې سره مونځ خرابيږي، احاديثو کې چې کومې دعاګانې وارد دي هغه د ټولو نه ښې دي هغه دې وايي.

اَلْفَصْل الأول:

په تشهد کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جامع دعاء

﴿۱﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو فِي الصَّلَاةِ يَقُولُ:

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کې د تشهد نه پس مذکوره دعاګانې غوښتې دي

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ

ای الله! زه د عذاب قبر نه پناه غواړم او د دجال مسيح د فتنې نه پناه غواړم، او د پناه طلب کاريم د فتنو د

الْمَحْيَا وَ فِتْنَةِ الْمَمَاتِ اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْمَأْثَمِ وَ الْمَغْرَمِ»

دنيا او د مرګ نه، ای ربه! زه ستا نه د ګناهونو او د قرض نه پناه غواړم (د راوي بيان دی چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د

فَقَالَ لَهُ قَائِلٌ مَا أَكْثَرَ مَا تَسْتَعِيذُ مِنَ الْمَغْرَمِ فَقَالَ:

دعا اوريدلو سره) چا وويل تاسو د قرض نه پناه غوښتل لوی تعجب خبره ده؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې

Maktaba Tul Ishaat.com

« إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا غَرِمَ حَدَّثَ فَكَذَبَ وَ وَعَدَ فَأَخْلَفَ ». (۱).

کس کله قرضداری شي، نو خبرې جوړوي او دروغ وايي او چې کله وعده کوي، نو وعده خلافي کوي.

توضيح: من عذاب القبر: دعذاب قبر تفصيلات په توضيحات جلد اول **باب عذاب القبر** کې وګورئ.

المسيح الدجال: دجال د **دجل** نه دی او د مبالغې صيغه ده، يعنې ډير لوی دوکه باز، ددې دوکه باز ذکر راتلونکي **باب الفتن** کې راځي ان شاءالله، دلته يو سوال دی، چې ده ته مسيح ولې ويل کېږي؟ دا لفظ د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ د القابو نه يو لقب دی، ددې جواب دا دی، چې عيسی ته مسيح ځکه ويل کېږي، چې هغه مبارک دی او عبراني ژبه کې دې ته مبارک ويل کېږي. دويمه وجه مسيح د مسح نه دی ددې معنی ده لاس وهل، حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ به مريضانو باندې لاس رابنکلو چې روغ شي، ځکه ده ته مسيح ويل کېږي، کله چې د مطلق مسيح لفظ راشي، نو دې نه حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ مراد دی. د دجال خبيث سره مسيح ځکه ذکر کولی شي، چې دې نه ممسوح العين مراد دی، يعنې دا خبيث يوې سترګې سره داسې (کانې) شيرا دی، چې د سترګې او مخ سره يو چټيل ميدان دی، يا دې وجې نه ورته مسيح ويل کېږي، چې ځلويښت ورځو کې به په پوره دنيا کې وګرځي غير د مدينې د کلي نه ددې تذکره به د مشکوة په آخره کې ان شاء الله راځي. (المرقات ۳/۲۵).

دا ياد ساتئ چې کله دجال سره مسيح استعماليږي، نو دې سره دجال لفظ ضرور استعمالوئ، چې د حضرت عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره التباس رانه شي. دې حديث کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شپږو مهلکو څيزونو نه پناه غوښتې ده، دا شپږ څيزونه ډير تباه کونکي دي، که دې کې يو څيز کې هم راګير شوی، نو دنيا او آخرت بربادېږي.

و من فتنة المحيا: د ژوند فتنه داده چې سړی د نيغې لارې نه ګمراهۍ طرف ته روان شي او د آخرت څه فائده په کې نه وي. (المرقات ۳/۲۵).

والممات: يعنې د مرګ فتنې نه پناه غوښتل، د مرګ فتنه دا ده چې د روح وتلو وخت کې شيطان لعين مختلفې وسوسې زړه کې اچوي او کله انسان د ايمان د دولت نه هم محرومو وي، او عذاب قبر کې ګيريدل، دا هم د مرګ فتنه ده، او حشر نشر هم د مرګ فتنه ده. (المرقات ۳/۲۵).

المأثم: دا لفظ خو يا د ظرف مکان صيغه ده، مطلب دا چې داسې ځايونو نه پناه غوښتل چې هلته د ګناه

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳۱۷/۲،رقم الحديث :۸۳۲، ومسلم في الصحيح ٤١٢/١ رقم الحديث:۱۲۹-۵۷۹، وأبو داود ٥٤٨/١ رقم الحديث :۸۸۰، والنسائي ۵۸/۳، رقم الحديث: ۱۳۱۰ .

ذريعه جوړيږي، يا **لفظ** مصدر ميمي دی، چې د ګناه په معنی کې دی، مطلب دا چې د ګناه د مواقعو نه او اسبابو نه تا پورې پناه غواړم، شيخ الهند کله چې مکه کې ګرفتار شو او مالټې ته يې بوتلو، نو وې فرمايل: شعر:

الحمد لله که به مصيبتی گرفتاريم نه به معصيتی

يعنې اصل قيدي هغه دی چې د ګناه قيدي وي. (المرقات ۳/۲۵).

المغرم: مغرم او **غرامه** تاوان او قرض ته ويل کېږي، دې نه هغه قرض مراد دی چې د عياشۍ او نافرمانۍ او بدمعاشۍ د پاره اخيستلی شوی وي، او د ورکولو خيال يې نه وي، يا هغه قرض مراد دی، چې قرض يې واخيستلو خو د ورکولو نيت يې نه وي، که يو کس نيک مقصد د پاره قرض واخلي او د ورکولو نيت يې وي، د داسې قرض د پاره دا وعيد نه دی، بهر حال صحابي ته د قرض اخيستلو نه پناه غوښتلو باندې تعجب وشو، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې سوال وکړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخيستلو عيوب بيان کړل، يو عيب دا چې د قرض اخيستلو په وخت کې دروغ خبرې جوړې کړې او قرض حاصل کړې، چې دا آخروي نقصان دی. او ورکولو وخت کې وعده خلافي کوې، نو دې کې د منافق يو صفت پيداشي، او چې دروغ اوايي دويم صفت د منافق په کې پيداشي، ځکه يې د قرض نه پناه غوښتې ده چې په دې سره د آخرت ډير لوي نقصان کيږي. (المرقات ۳/۲۶).

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ
ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي تاسو کې څوک (مونځ کې) آخري تشهد نه فارغ
فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ أَرْبَعٍ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَ مِنْ
شي، هغه ته په کار دي چې د څلورو څيزونو نه د الله تعالى نه پناه وغواړي. (۱) د دوزخ عذاب نه. (۲) د
فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَ الْمَمَاتِ وَ مِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ . (رَوَاهُ مُسلم)[1].
عذاب قبر نه. (۳) د ژوند او د مرګ د فتنې نه. (۴) د مسيح الدجال د ګناه نه.

توضيح: اذا فرغ: د حديث ظاهري الفاظو نه معلوميږي دا دعا مونځ کې دننه ده، البته د آخرنۍ قعدې او د سلام په منځ کې ده، سلام نه پس دا دعا منع ده، خو د حديث مطلب دا نه دی چې دا دعا د مونځ نه پس ده، دې حديث نه دا معلوم شو، چې سلام نه مخکې معروف دعاګانو نه علاوه نورې هم دعاګانې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲٤۱/۳،رقم الحديث : ۱۳۷۷، ومسلم في الصحيح ٤۱۲/۱ رقم الحديث:۱۳۰-۵۸۸، وأبو داود ۱۰٦/۱ رقم الحديث :۹۸۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

غوښتلی شی. (المرقات ۳/۲۶، الکاشف ۲/۴۴۴).

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هٰذَا الدُّعَاءَ

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه و ته او اهل بيتو ته دا دعا داسې ښودله

كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ يَقُوْلُ :

لکه څنګه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته د قرآن کريم يو سورت ښائي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به وويل دا

« قُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَ أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ

دعاء داسې وايي: اى الله! زه پناه غواړم په تاسره د عذاب د جهنم نه، او پناه غواړم په تاسره د عذاب قبر

وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ» (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)(۱).

نه او پناه غواړم په تاسره د فتنې د مسيح دجال نه او پناه غواړم په تاسره د فتنې د ژوند او د مرګ نه.

په مونځ کې د سلام نه مخکې د صديق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خصوصي دعاء

﴿٤﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ : قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ عَلِّمْنِي دُعَاءً

او ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو يا رسول الله! ماته وښايه داسې دعا

أَدْعُو بِهِ فِي صَلَاتِي قَالَ : « قُلِ اللّٰهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ

چې زه يې خپل مونځ کې وايم، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دا دعا لوله: اى ربه! يقينا ما ظلم کړې دی

نَفْسِي. ظُلْمًا كَثِيرًا وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ

په خپل نفس باندې اوستانه علاوه بل څوک ګناه نه معاف کوي، لهذا ته ما معاف کړه خاصکر مې معاف

وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ» (متفق عليه)(۲)

کړه او رحم را باندې وکړه، بېشکه تۀ معاف کولو والا او رحم کولو والا يې.

په سلام اړولو کې د سر ټاوولو اندازه

﴿٥﴾ وَعَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ :

عامر بن سعد رَحِمَهُ اللهُ (تابعي) د خپل پلار (حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) نه روايت کوي، هغوی

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۴۱۲ رقم الحديث : ۱۳۴ - ۵۹۰، وأبوداود في السنن ۱/۶۰۱ رقم الحديث : ۹۸۴.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۱۷،رقم الحديث :۸۳۴، ومسلم في الصحيح ۴/۲۰۷۸ رقم الحديث:۴۸-۲۷۰۵.

كُنْتُ أَرَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَ عَنْ يَسَارِهِ

وفرمايل زه وينم چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل ښي او كس طرف ته سلام اړولو ما به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حَتَّى أَرَى بَيَاضَ خَدِّهِ. (رَوَاهُ مُسلم)[1].

د مخ د اننكو سپين والى ليدلو.

د مونځ نه پس امام مقتديانو طرف ته مخ كړي او كيني

﴿٦﴾ وَ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا صَلَّى

دسمرة بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به كله د مونځ نه فارغ شو، نو

أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)[2].

زمونږ طرف ته به يې خپل مخ مبارک راواړولو.

توضيح: (**اقبل علينا بوجهه**) دې حديث كې تصريح موجوده ده، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونځ نه د فارغ كيدو نه پس به يې مقتديانو طرف ته مخ كړو او ناست به وو. (المرقات ۳/۳۰).

سوال: دې حديث كې قوم طرف ته متوجه كيدو سره د ناستې بيان دى، ورسره خواته روايت كې دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ښي طرف ته تاؤ شو او ناسته به يې وكړه، دې نه پس د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت كې دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چپ طرف ته تاؤ شو او ناسته به يې وكړه، دې نه پس د براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت نه معلوميږي چې ښي طرف ته به تاؤ شو او ناسته به يې وكړه، دې ټولو كې په ظاهره تعارض دى.

جواب: دې رواياتو كې د تطبيق دوه صورتونه دي، اول دا دى، چې د سلام نه پس به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې كوم طرف ته به يې د تللو اراده وه، نو هغه طرف ته به تاويدو، كله ښي طرف او كله چپ طرف ته به يې تشريف وړلو. او كه تلل به نه وو، نو بيا به قوم طرف ته متوجه شو او كيناستو به، دې بيان نه پس احاديثو كې تعارض نشته، البته په دې صورت كې د انصراف معنى ناسته نه ده، بلكې مخ تاوهل او تلل مراد دي او دا معنى اخيستل څه لږ نه ده. د تطبيق دويم صورت دا دى، چې سلام اړولو نه پس د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معمول دري قسمه وو، كله د سلام اړولو سره فوراً تشريف وړلو، دغه صورت كې عموماً حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كس طرف ته تاو شوى دى، او تشريف به يې وړلو، ځكه چې محراب نه د

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۴۰۹ رقم الحديث:۱۱۶-۵۹۲، والنسائي ۳/۶۱، رقم الحديث:۱۳۱۷ .

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۳۳،رقم الحديث :۸۴۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حجره کس طرف ته وه، چې کله سړی قبلې ته مخامخ ناست وي او کله چې ذکر الله او دعا په غرض باندې ناست وي، دغه وخت به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کس طرف باندې ناسته کوله، او دعا به يې غوښتله. او کله د سلام نه پس به يې خطبه وغيره کول مقصود وو، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به قوم طرف ته مکمل متوجه کيدو. ټولو رواياتو کې تطبيق رائي، انصراف نه قوم طرف ته تاويدلو سره متوجه کيدل هم مراد اخيستلی شي. بعضې ائمه حضرات خپل قوم ته سلام نه پس ښي طرف باندې تاويږي او کيني، شاه انور شاه کشميري صاحب رَحِمَهُ اللهُ دې طرز عمل باندې سخت نکير فرمايلو. دلته يوه مسئله داده د احنافو علماو عام عادت دا ؤ، د کومو فرائضو نه پس چې سنن نه وي، هغې کې به قوم طرف ته متوجه کيدو سره ناسته کوله او دعاء به يې کوله او کوم فرائضو نه بعد چې سنن وو هغې کې به قوم طرف ته نه تاويدلو، بلکې قبلې ته مخامخ يې دعا کوله او بيا به د سنتو د پاره ودريدل، دا رواج عام دی او مسئله هم دا ده، خو زير نظر احاديثو نه دا مسئله نه ثابتيږي.

﴿۷﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
دحضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ نه د فارغيدو نه پس خپل
يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)(۱).
ښي طرف ته به تاؤ شو او ناسته به يې کوله.

مستحب عمل لازم ګڼل بدعت دی

﴿۸﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : لَا يَجْعَلْ أَحَدُكُمْ لِلشَّيْطَانِ شَيْئًا مِنْ صَلَاتِهِ
دعبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې تاسو خپل مونځ کې د شيطان حصه مه مقرروئ،
يَرَى أَنَّ حَقًّا عَلَيْهِ أَنْ لَا يَنْصَرِفَ إِلَّا عَنْ يَمِينِهِ لَقَدْ رَأَيْتُ
يعنې هغه څيز لره لازم مه ګرځوئ چې (مونځ نه پس) ښي طرف ته تاؤ شئ، ځکه چې ما ليدلي دي چې
رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَثِيرًا يَنْصَرِفُ عَنْ يَسَارِهِ. (۲).
حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چپ طرف ته تاويدو.

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۴۹۲ رقم الحديث:۶۱-۷۰۸.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۳۷،رقم الحديث :۸۵۲، ومسلم في الصحيح ۱/۴۹۲ رقم الحديث:۵۹-۷۰۷، وأبو داود ۱/۶۳۱ رقم الحديث :۱۰۴۲.

توضيح: عن يسارہ: يعني يو امر مستحب لازم ګڼل خپل عمل کې شيطان د پاره حصه جوړول دي، مقتديانو طرف ته يا پاڅيدو په وخت کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ښي او کس دواړو طرف ته تاؤ شوی دی، اوس که يو کس ښي طرف ته تاويدو باندې ورته فضيلت دير ښکاري او خپل ځان باندې يې لازمه وي، نو دې کس امر مباح او مستحب عمل له د وجوب درجه ورکړه دا ناجائز او بدعت دی او دا په خپل مونځ کې د شيطان حصه جوړول دي، کاش چې اهل بدعتو دې حديث باندې نظر کولی، او عمل يې پرې کولی او غير لازم څيزونو باندې يې اصرار نه کولی. (المرقات ۳/۳۱، الکاشف ۲/۴۴۶).

ياد ساتئ د حضرت عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، د حضرت سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څلور واړه احاديث د دې باب موضوع سره متعلق نه دي، خو د دې باب د متعلقاتو نه دي، دې حديث نه يې دلته نقل کړی دی.

﴿۹﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ : كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې کله به مونږ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې شاته مونځ کولو نو دا خبره به

أَحْبَبْنَا أَنْ نَكُونَ عَنْ يَمِينِهِ

يې خوښوله چې مونږ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ښي طرف ته وو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (سلام په وخت کې)

يُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ قَالَ :

زمونږ طرف ته متوجه شي، براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه (سلام نه پس د دعا په طور

فَسَمِعْتُهُ يَقُولُ : « رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ

باندې) اوريدلي وو چې ويل به يې : ای ربه! ما د خپل عذاب نه بچ کړه په هغه ورځ کله چې خپل بندګان

تَبْعَثُ أَوْ تَجْمَعُ عِبَادَكَ ». (رَوَاهُ مُسلم)[1].

اوچتوي يا جمع کوي، (دې دواړو کلمو کې راوي ته شک شوی دی).

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : إِنَّ النِّسَاءَ فِي عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنَّ إِذَا سَلَّمْنَ

حضرت ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې ښځې به په زمانه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې چې کله به يې سلام

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۴۹۲، رقم الحديث: ۶۲-۷۰۹، وأبو داود ۵/۲۹۸ رقم الحديث: ۵۰۴۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنَ الْمَكْتُوبَةِ قُمْنَ وَ ثَبَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ مَنْ

وګرځولو د فرض مونځ نه نو فوراً به پاڅيدې او خپلو کورونو ته به تللې، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او کوم خلک

صَلَّى مِنَ الرِّجَالِ مَا شَاءَ اللهُ فَإِذَا

چې به مونځ کې ناست وو نو څومره ډير ساعت چې به الله تعالى ته منظور وو ناست به وو، کله چې به

قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ الرِّجَالُ.(۱)

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تللو، نو ټول خلک به اودريدل.

(وَسَنَذْكُرُ حَدِيثَ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ فِي بَابِ الضحك إِن شَاءَ الله تَعَالَى).

توضيح: قُمْنَ: يعنې زنانه به د سلام نه پس فوراً پاڅيدلې او سړي به ناست وو، چې تللو په وخت کې د سړو او د زنانو خپل منځ کې يووالى رانه شي، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې يو څو شرائطو سره زنانو د يو څو مجبوريانو د وجې نه مسجد نبوي ته راتلل ثابت دي. (المرقات ۲/۳۲).

شرائط دا وو چې ځوانانې زنانه به نه راځي او معمرې زنانه به هم صرف سحر، مابنام او ماسخوتن کې هم په پردې سره راتللې، عطر به يې نه لږول، د کپړو نمايش به يې نه کولو، آخر کې به راتللې او شروع کې به تللې، مونځونو ته د حاضريدلو مجبورې يې دا وه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې مونځ کول يې ارمان وو، مسائل او دين زده کړو، چې عباداتو کې د عبادت نقشه زده کړو، هغه د خير وقت کې خير وو، د نزول قرآن وخت وو، نبى آخر زمان موجود وو، د صحابو جماعت په شان د فربنتو وو، د خير القرون وخت وو، ځکه هر قسم تحفظ وو، خو نن سبا فتنې دور کې اجازت نشته دى، په خپله حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د صحابو دور کې د ممانعت فتوى ورکړې وه څنګه چې به وروسته راشي چې نن سبا د بنځو تلل مدارسو او مساجدو ته يا تبليغ او نورو محفلونو ته د موعظ د پاره او د سړو سره په لاروکې اختلاط کول دا ډيره بده او ناکاره خبره ده، چې د دې حديث د تعليماتو نه خلاف کول دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۱۱﴾ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: أَخَذَ بِيَدِي رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي يوه ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما لاس خپل لاس مبارک کې ونيوو

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳٤۹،رقم الحديث : ۸٦٦، أخرجه أحمد في المسند ٦/۳۱٦.

فَقَالَ : « إِنِّي لَأُحِبُّكَ يَا مُعَاذُ » . فَقُلْتُ : وَ أَنَا أُحِبُّكَ يَا رَسُولَ اللهِ .

او وې فرمايل معاذه! زه تاخپل دوست ګڼم ما عرض وکړو يا رسول الله! زه هم تاسو خپل دوست ګڼم،

قَالَ : " فَلَا تَدَعْ أَنْ تَقُولَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ : رَبِّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل يو مونځ نه پس هم دا دعا مه پريږده: اى ربه! ته زما مدد وکړه په خپل ذکر،

وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ " إِلَّا أَنَّ أَبَا دَاوُدَ لَمْ يَذْكُرْ : قَالَ مُعَاذٌ وَ أَنَا أُحِبُّكَ . (۱).

خپل شکر او ښه عبادت کې. خو ابوداؤد د معاذ دا الفاظ (وانا احبک) نه دي نقل کړي.

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ:

حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به سلام اړولو خپل ښي طرف

« السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَةُ اللهِ » حَتَّى

ته السلام عليكم ورحمة الله ويلو سره (يعني په تا باندې د الله سلامتي او د الله تعالى رحمت وي) تر دې چې

يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْمَنِ وَ عَنْ يَسَارِهِ : السَّلَامُ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ښي طرف اننګې سپينوالى په نظر راتلو او خپل ګس طرف ته به يې هم السلام

عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ الْأَيْسَرِ (۱).

عليكم ورحمة الله ويلو سره سلام وارولو تر دې چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د مخ سپينوالى په نظر راتلو. ترمذي خپل

وَ لَمْ يَذْكُرِ التِّرْمِذِيُّ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ . وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ.

روايت کې حتى يرى بياض خده الفاظ نه دي ذکر کړي او ابن ماجه دا روايت د عمار بن ياسر نه نقل کړى.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كَانَ أَكْثَرُ انْصِرَافِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ صَلَاتِهِ

د عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اكثر راتاويدو د مونځ نه

إِلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ إِلَى حُجْرَتِهِ. رَوَاهُ فِي شرح السنة.

چپ طرف ته او تللو به خپلې حجرې طرف ته.

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱۸۰/۲ رقم الحديث : ۱۵۲۲ .

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۶۰۶/۱ رقم الحديث :۹۹۲ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۷۹/۲، رقم الحديث :۲۹۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

د فرض مونځ نه پس د سنتو د پاره ځای بدلول په کار دي

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَطَاءٍ الْخُرَاسَانِيِّ عَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُصَلِّي الْإِمَامُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ حَتَّى يَتَحَوَّل ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَ قَالَ عَطَاءُ الْخُرَاسَانِيُّ لَمْ يُدْرِكِ الْمُغِيرَة. (۱).

حضرت عطاء خراساني د حضرت مغيره نه روايت کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي مونځ دې نه کوي امام په داسې ځای کې چې هلته مونځ شوې وي، بلکې هغه ځای نه دې جدا شي د روايت ابوداود نقل کړی او وايي چې د عطاء خراساني ملاقات د حضرت مغيره سره ثابت نه دی، لهذا دا حديث منقطع دی.

توضيح: حتى يتحول: دې حديث کې وايي چې کوم ځای کې فرض مونځ اوشي، هلته سنت مه کوئ، بلکې دغه ځای نه معمولي جدا شئ ځای دې بدل کړې او سنت وکړئ. (المرقات ۳/۳۴).

دلته دا خبره يادې ساتئ چې دا حکم صرف د امام د پاره نه دی، بلکې امام او مقتديانو د پاره بلکې ټولو فرائضو کونکو د پاره دا حکم دی، ددې وجه دا ده، چې د مونځ ګزارد پاره دوه جدا جدا ځايونه ګواه جوړ شي. او دويم جواب دا دی چې د صفونو نظام به ګډوډ شي، خلکو ته به پته ولږي چې مونځ شوی دی. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د بعضې علماو قول دی، ځای بدلولو حکم د هغه مونځ ګزارد پاره دی، چې د فرضو نه پس سنت وي او چې د کوم نه پس سنت نه وي، لکه سحر او مازيګر هلته دا حکم نشته، خو بعضې نور علماء وايي د فرائضو ټولو مونځونو نه بعد ځای بدلول په کار دي، که رش وي، او ځای تنګ وي، نو بيا ځای بدلول فرض يا واجب نه دي. او سحر او مازيګر مونځ نه پس ځای بدلول د هغې څه مقصد او فائده نشته. (المرقات ۳/۳۴).

﴿۱۵﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ حَضَّهُمْ عَلَى الصَّلَاةِ وَ نَهَاهُمْ أَنْ يَنْصَرِفُوا قَبْلَ اِنْصِرَافِهِ مِنَ الصَّلَاةِ . (۲).

د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به صحابو ته د مونځ کولو شوق پيدا کولو او دوی به يې د دې خبرې نه منع کول، چې هغوی مونځ کولو نه پس د هغوی نه مخکې پاڅي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۰۹ رقم الحديث :۶۱۶.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۱۲ رقم الحديث :۹۲۴.

الْفَصْل الثَّالِث:

﴿۱۶﴾ وَعَن شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي صَلَاتِهِ:

شداد بن اوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل مونځ کې (تشهد نه پس مذکوره دعا لوستله)

"اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ وَ الْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ وَ أَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ

ای الله! زه ستا نه په دین کې د ثابت قدمۍ او دنیغې لارې قصد سوال کوم، اوزه ستانه ستا د نعمت شکر

وَ حُسْنَ عِبَادَتِكَ وَ أَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيمًا وَ لِسَانًا صَادِقًا

اوستاد عبادت دښائسته والي سوال کوم، اوستانه قلب سلیم اوربښتینې ژبه غواړم، اوستانه هغه نیکي

وَ أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ وَ أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ وَ أَسْتَغْفِرُكَ

غواړم کومه چې تاسو پیژنې، او د هغه ګناه نه پناه غواړم کومه چې تاسو پیژنې او معافي غواړم درنه د

لِمَا تَعْلَمُ.[1]

هغه ګناهونو کوم چې تاسو پیژنې.

﴿۱۷﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي صَلَاتِهِ بَعْدَ التَّشَهُّدِ:

د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به فرمایل په خپل مونځ کې پس د تشهد نه

« أَحْسَنُ الْكَلَامِ كَلَامُ اللهِ وَ أَحْسَنُ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ ». (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ)[2].

بهترین کلامونو کې کلام د الله تعالی دی او ډیر بهترینه طریقه د محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده.

په مونځ کې د سلام کیفیت

﴿۱۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی وایي چې: حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په مونځ کې یو سلام

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ٤/٥٤ رقم الحديث: ١٣٠٤، وأحمد في المسند.

(۲) أخرجه النسائي في السنن ٣/٥٨ رقم الحديث: ١٣١١.

Maktaba Tul Ishaat.com

تَسْلِيمَةً تِلْقَاءَ وَجْهِهِ ثُمَّ يَمِيلُ إِلَى الشق الْأَيمن شَيْئًا. (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)(۱).

واړولو مخامخ رخ، بيا معمولي شان خوله مبارکه به يې ښي طرف ته اړوله.

توضيح: تلقاء وجهه: مونځ کې د سلام متعلق دري اهمې مسئلې دي: **اوله مسئله: خروج المصلي بلفظ** السلام فرض دی او که واجب د جمهورو او ائمه ثلاثه په نزد باندې لفظ سلام فرض دی او د احنافو په نزد باندې واجب دی، ددې مسئلې پوره بحث کتاب الطهارة کې تير شوی دی.

دويمه مسئله: مونځ کې د سلام طريقه څه ده او ددې تعداد څومره دی. (المرقات ۳/۳۷).

د فقهاو اختلاف: د مالکيو مسلک دا دی چې امام او منفرد د پاره يويو ځلې سلام ويل سنت دي، نه ښي طرف ته او نه کس طرف ته، بلکې مخامخ طرف ته سلام کول مسنون دي. ددې حضراتو په نزد باندې مقتدي د پاره دري سلامه مسنون دي، يو مخامخ، دويم ښي طرف، دريم چپ طرف ته، د احنافو او شوافعو او حنابلو يعنې د جمهورو په نزد باندې مونځ کونکی که امام وي يا مقتدي ټولو د پاره مونځ ته وتلو په وخت کې دوه سلامه مسنون دي.

دلائل: مالکيه زير بحث حديث د عائشې رضي الله عنها نه استدلال کړی، چې خپل مطلب باره کې واضح دی، د جمهورو دلائل ډير زيات دي هغه ټول د جمهورو دلائل دي، کومو کې چې د دوو سلامونو تصريحات راغلي، او عن يمينه و عن يساره الفاظ واضح طور باندې موجود دي.

جواب: جمهورو حضراتو د امام مالک د دليل توجيه دا کړې ده چې د حضرت عائشې رضي الله عنها د قول مطلب دا دی، چې حضور صلى الله عليه وسلم به د سلام الفاظ هغه وخت شروع کول، کله چې به يې مخ قبلې ته وو او بيا دغه آواز کې به يې مخ مبارک ښي طرف او چپ طرف ته اړولو، نو دوه سلامه به شو، دا مطلب نه دی چې اول نه آخر پورې يو سلام وي او مخامخ وي.

مقتدي سلام کې د امام نيت څنګه وکړي

﴿۱۹﴾ وَ عَنْ سَمُرَةَ قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَنْ نَرُدَّ

دسمره رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې حضور صلى الله عليه وسلم مونږ ته حکم راکړی، چې مونږ د جواب نيت

عَلَى الْإِمَامِ وَ نَتَحَابَّ وَ أَنْ يُسَلِّمَ بَعْضُنَا عَلَى بَعْضٍ. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۲).

وکړو د سلام اړولو وخت کې د امام د سلام او په خپل منځ کې مينه وساتو او يو بل ته سلام وکړو.

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۹۰ رقم الحديث: ۲۹۶.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۶۰۹ رقم الحديث: ۱۰۰۱، وأخرجه ابن ماجه ۱/۲۹۷ رقم الحديث: ۹۲۲.

توضيح: ان نرد على الامام: دې کې دري حکمونه بيان شوي دي: اولني حکم داسې دی، کله چې مقتدي سلام کړځوي هغه دی دا نيت وکړي چې د امام د سلام جواب ورکوم، ددې صورت به دا وي کوم مقتدي چې د امام ښي طرف ته ولاړ وي هغه دې اول سلام کې د ښي طرف د مونځ ګزارو او کرام الکاتبين فرښتو نيت وکړي او بيا چې چپ طرف ته سلام واړوي د امام د سلام جواب نيت دی وکړي. او کوم خلک چې د امام ګس طرف ته ولاړ وي هغوئ دی ښي طرف ته سلام اړولو کې د امام صاحب د سلام جواب ورکولو نيت وکړي او چپ طرف ته دې د مونځ ګزارو نيت وکړي او کوم مقتديان چې د امام نه وروسته دي بالکل هغوی دې دواړه سلامونو کې د امام د سلام د جواب نيت وکړي، لکه څنګه چې امام هم دغه رنګ نيت کولو کې پابند دی. (المرقات ۳/۳۷).

باقي ښي او ګس طرف کې د فرښتو نيت هر سلام کې په کار دی نه د جناتو د نيت ضرورت شته او نه د انسانانو د نيت ضرورت شته کوم چې د مونځ نه بهر دي او مونځ کې شامل نه دي.

وتتحابّ: دا دويم حکم دی، ددې مطلب دا دی مونږ ته حضور ﷺ فرمايلي دي چې خپل منځ کې يو بل سره محبت او کړئ، بغض او کينه ونه کړئ، د ټولو سره ښه اخلاق وساتئ. (المرقات ۳/۳۷).

وان يسلم بعضنا: يعنې مونږ ته دريم حکم دا شوی دی، چې مونږ په مونځ کې د يو بل د سلام نيت وکړو ددې صورت مخکې ذکر شوی دی، چې مقتديان مونځ کې د سلام اړولو وخت کې د يو بل د سلام نيت څنګه وکړي. (المرقات ۳/۳۸).

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب الذِّكْر بَعْد الصَّلَاة:
د مونځ نه پس د ذکر بيان

دې باب کې هغه احاديث بيانيږي، چې دې سره د مونځ نه پس د دعا او د وظائفو فضيلت او اهميت ظاهريږي. د ذکر لفظ عام دی، وظائفو او ادعيو ټولو ته شامل دی.

مسئله دا ده چې د کومو فرائضو نه پس سنت وي د هغې نه پس مونځ ګزار وظائف او ادعيه لوستلو د پاره څومره ساعت پورې کيناستی شي.

د احنافو علماو نه صاحب درمختار ليکي: د فرض مونځ کولو نه پس سنت کې تاخير مکروه دی صرف **اللهم انت السلام** آخر مقدار پورې ناسته ثابت ده، فقهاء دا خبره هم ليکي چې سنت لوستلو د پاره د فرائضو نه پس فوراً ودريدل په کار دي.

د علامه حلواني رَحِمَهُ اللَّهُ قول دا دی، د وظائف او دعاګانو د پاره فرائض او سنتو په منځ کې وقفه کولو کې څه باک نشته دا قول نورو فقهاو هم ليکلی دی.

مفتی الهند کفايت الله رَحِمَهُ اللَّهُ خپل کتاب (**النفائس المرغوبة في الادعية بعد المكتوبة**) کې ليکي: د **اللهم انت السلام** په روايت کې حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د وخت حصر او تعين نه دی کړی، بلکې حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا دې روايت کې **اللهم انت السلام** د مقدار اندازه ښودلې ده، نو دې مقدار او اندازه کې نورې دعاګانې هم راتلی شي، ددې ذکر احاديثو کې راغلی، دې کې څه منافات نشته او نه اختلاف. علامه حلبی رَحِمَهُ اللَّهُ د فقهاو کلام کې دغه معمولي شان اختلاف کې تطبيق کړی دی، دې وجې نه دواړو اقوالو کې څه اختلاف نه پاتې کيږي، هغه فرمايي صاحب درمختار چې تاخير مکروه ليکلې دی، نو که دې نه مکروه تنزيهي مراد واخيستلی شي، نو خبره اولی او غيره اولی به پاتې شي، مطلب به دا شي، چې سنتو کې تاخير کول بهتر دي. او د حلواني رَحِمَهُ اللَّهُ قول مطلب به دا شي، چې د وظائفو په غرض سره سنتو کې تاخير راشي څه مضائقه نشته، خو مناسب او ښه دا ده چې تاخير دې نه کوي، بهر حال وظائف د فرضو او سنتو منځ کې د لوستلو ګنجائش شته، فقهاء ليکي د فرضو نه پس د سنتو د پاره صف ماتول بهتر دي، صف بندی کې سنت او نوافل کول نه دي په کار. امام ته هم په کار دي چې د خپل ځای نه معمولي اخوا شي چې چا ته اشتباه رانه شي چې خلک فرضو کې ولاړ دي.

بعد المكتوبه چې د کومو دعاګانو ذکر په احاديثو کې **بعد المكتوبة** الفاظو سره راغلی دی، نو د سنتو نه پس به هم دغه وظائف لوستلی کيږي، ځکه چې **بعد السنن هم بعد المكتوبة** دی، سنت کولو سره د

فرض بعديت نه ختميږي، دې توجيه سره ډير اشكالات ختميږي، ددې تفصيل د مخكې احاديثو په ضمن كې راځي.

الْفَصْل الأول:

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كُنْتُ أَعْرِفُ انْقِضَاءَ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّكْبِيرِ.(۱)

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ ختميدل د الله اكبر ويلو سره معلومولو.

توضيح: اعرف انقضاء: حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه وخت ماشوم وو، ځكه په كور كې وو، د هغه كور د مسجد سره خواته وو، كله به چې جمعه وشوه او الله اكبر به وويلي شو ده ته به معلومه شوه، چې جمعه وشوه، دغه رنګ معمولي اواز او چتول د انسان طبعي نظام دلاندې وي، دې كې كلام نشته او د اهل حقو په مساجدو كې داسې كېږي او كيدل هم په كار دي.

خلاصه دا شوه، چې اعتدال حد پورې جهر بالاذكار ثابت دی، خو د حد نه تجلوز ثابت نه دی، بلكې عام وختونو كې هم ددې نه ممانعت راغلی، بعضې علماء وايي حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دكوم تكبير خبره كوي دا د ايام منى خبره ده، او ايام تشريق كې يې تكبيرات اوچت اواز سره وويل د امت متفقه مسئله ده.(المرقات ۳/۳۸).

دفرضونه پس وظائف او دعاګانې: مونځ نه پس دالله ذكر او دعا كول د جمهورو په نزد باندې مستحب دي، ډيرو احاديثو كې د فرائضو نه پس دعا ثابته ده، بلكې د فرائضو نه پس دعا كول د قبوليت د مواضعو نه شمار كړی دی، لكه يو حديث كې دي (**دُبر الصلوة المكتوبة**) علامه ابن القيم رَحِمَهُ اللهُ دې جملې كې تاويل كړی دی، دلته دبر الصلوة نه مراد د مونځ نه پس نه دی، بلكې د مونځ آخري حصه مراد ده، چې د سلام نه مخكې ده، خو دا تاوّيل صحيح نه دی، ځكه چې احاديثو كې (**اذا سلم من صلوة**) الفاظ هم راغلي او (**اذا انصرفت من صلوة المغرب**) الفاظ هم راغلي، دې نه معلوميږي چې دا اذكار د مونځ په اختتام كې دي، لكه بعضې روايتو كې عجيبه الفاظ راغلي دي، دې كې د فرضونه پس دعا كې لاس اوچتول ثابتيږي، مثلاً مصنف ابن ابی شيبه كې د حضرت عبد الله ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو حديث دی، الفاظ يې دا دي: (**ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يكن يرفع يديه حتى يفرغ من صلوته**) حافظ

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۲۵،رقم الحديث :۸٤۲، ومسلم في الصحيح ۱/٤۱۰ رقم الحديث: ۱۲۰-۵۸۳، وأبو داود ۱/٦۰۹ رقم الحديث :۱۰۰۲، والنسائي ۳/٦۷، رقم الحديث: ۱۳۳۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

جلال الدین سیوطي رَحِمَهُ اللّٰهُ د دې حدیث متعلق لیکي: رجاله ثقات. (اعلاء السنن)

د فرائضو نه پس اذکار طویل دي که قصیر: د فرضو نه پس څومره وخت پورې ذکر په کار دی، دې باره کې مختلف روایات دي، خو بنیادي طور باندې دا احادیث په دوه قسمه تقسیم کړی شوي دي، رومبی قسم هغه احادیث دي د کوم نه چې معلومیږي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ نه پس مختصر ذکر او دعا کوله، او مصلی نه به پاڅیدو. د حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا **اللهم انت السلام** والا روایت ددې نه یو قسم دی، دویم قسم هغه احادیث دي، چې د هغې نه معلومیږي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طویل اذکار او دعاګانې کړي دي، لکه (۳۳) ځله لوستلو والا دعا او آیت الکرسي او کله سحر نه پس د لمر راختو پورې دعاګانې کولې، احنافو دواړو کې داسې تطبیق کړی دی، د مختصر اذکارو والا احادیثو تعلق د هغه مونځ سره دی چې د هغې نه پس سنت مؤکده وي، لکه ماسپخین، مابنام او ماسخوتن، د طویل اذکارو احادیثو تعلق د هغه مونځ سره دی، چې د هغې نه پس سنت نه وي، لکه سحر او مازیګر مونځونه، فقهاء لیکي کوم مونځ نه پس چې سنت وي، د هغې زر کولو وجه دا ده، چې دا سنت د فرائضو سره یو ځای کړي او آسمان طرف ته یې اوچتوي، یو مرفوع حدیث یې د حضرت حذیفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نقل کړی دی، ددې الفاظ دا دي: (**عجلوا الركعتين بعد المغرب فانهما ترفعان مع المكتوبة** (اعلاء السنن ج ۳ ص ۱۵۷).

د فرضو نه پس الله اکبر په اوچت اواز لوستل او که په مزه؟: حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ زیر بحث روایت متعلق مخکې لیکلی شوي دي، چې هغه ماشوم وو، ځکه جماعت کې نه شریکیدو او کوریې مسجد سره نزدې وو، ځکه یې د صحابو مونځ نه فارغ کیدو نه پس د الله اکبر آواز اوریدلو، دغه یې نقل کړي دي، دې حدیث نه معلومیږي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ نه پس په اوچت آواز باندې الله اکبر وئیلو، ددې حدیث په بنیاد بعضې علماء قائل شوي وو، په تیز آواز باندې د مونځ نه پس الله اکبر ویل مستحب دي، دې کې ابن حزم او شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللّٰهُ هم دی، د جمهورو فقهاو او ائمه اربعو مسلک دا دی، د فرضو نه پس په تیز آواز الله اکبر ویل مستحب نه دي، بلکې مستحب په مزه آواز سره ویل دي، د جمهورو په نزد باندې کله کله په تیز آواز سره د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا عمل د امت د پاره بطور تعلیم وو. او دا حدیث په تعلیم باندې محمول وو، دې نه پس عبد الله ابن زبیر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حدیث هم په تعلیم امت باندې محمول دی، یا دا عمل د حج نه پس په منی کې ایام تشریق په تکبیراتو باندې محمول دی، یا دا جهر معمول مطابق معتدل جهر باندې محمول دی، اوس هم د اهل حقو مساجدو کې شروع دي، او د خلکو د ګنې د وجې نه آواز کې شور پیدا کیږي. (المرقات ۳/۳۹).

د مونځونو نه پس د اهل بدعت عمل مستند نه دی: د ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ددې حدیث نه اهل بدعت استدلال

کوي او مونځ نه پس په اوچت آواز باندې لااله الاالله ذکر څه وخت پورې کوي او خيال کوي، چې سنت طريقه باندې عمل کوي، خو د دوي دا استدلال د څه وجوهاتو په بناء صحيح نه دی، بلکې بې ځايه دی.

اوله وجه: اصل قاعده داده چې د صحابه کرامو عمل ته به کتلی شي، چې دوی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمل کومې اندازې سره قبول کړی دی، آيا هميشه د پاره يې شروع کړی وو او که نه وقتي طور باندې د څه عارض د وجې نه يې هغه عمل ترک کړی وي، دې قاعدې او اصل طرف ته د احاديثو مشهور شارح ابن بطال رَحِمَهُ اللهُ د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې حديث باندې تبصره کړې فرمايي: (**وقول ابن عباس كان على عهد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فيه دلالة انه لم يكن يفعل حين حدث به لانه لو كان يفعل لم يكن لقوله معنى فكان التكبير في اثر الصلوة لم يواظب الرسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طول حياته و فهم اصحابه ان ذلک ليس بلازم فتركوه خشية ان يظن انه مما لاتتم الصلوة الا به فلذلک كرهه من الفقهاء.**) (**بحواله اشرف التوضيح**)

ددې عبارت مطلب مختصراً دا دی چې ابن عباس رضی الله عنه چې دا وفرمايل چې د حضور صلی الله عليه وسلم په زمانې کې به داسې کيدل دا ددې خبرې دليل دی چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه کوم وخت کې دا حديث بيان کړو نو هغه وخت کې دده دا معمول نه وو، ځکه چې که دده خپل معمول وی، نو د ماضي په قصه بيانولو کې دده کلام څه مقصد او مطلب به نه جوړيدو.

خلاصه دا شوه چې تيز آواز سره تکبير ويلو باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوره ژوند کې مواظبت نه وو کړی او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابو هم دا کمله چې دا عمل لازم نه دی، ځکه هغوی دا عمل ترک کړو، ددې ويرې نه چې خلک يې د مونځ حصه ونه ګڼي، دې وجې نه فقهاو هم دا خوښ نه کړو.

دوهمه وجه: دا په ذهن کې ساتل په کار دي چې دا يو حديث هغه مطلب معتبر وي کوم چې فقهاو او علماو راويستی وي د خپل طرف نه د خير القرون نه پس مناسب نه ده چې څه خلک دا يو حديث په مطلب کې د اجتهاد نه کار واخلي او د هغې هغه مطلب راوباسي چې په خير القرون کې چا هم نه وي راويستی په زير بحث مسئله کې هم کتل په کار دي چې د امت علماء ددې حديث څه مطلب راويستی دی او ترننه پورې د علماء حق عمل په دې سلسله کې څنګه دی د صحابه کرامو خبره خو بل تاسو واوريدله چې صحابه کرامو په نزد باندې مونځ نه پس ذکر بالجهر رواج نه وو، د هغوئ نه بعد فقهاء هم دې حديث نه د مونځ نه پس ذکر بالجهر استحباب ثابت کړی ندی، د مذاهب اربعو فقهاو نه يو هم د مونځ نه پس اجتماعي طور باندې ذکر بالجهر ته مستحب نه دي ويلي، دا خو لا پريږده چې ضروري او لازم ورته ووايي مدابې

Maktaba Tul Ishaat.com

ورته هم نه دي ويلي. امام نووي شرح مسلم (ج۱ ص ۲۱۷) کې ليکي: **ونقل ابن بطال وآخرون ان اصحاب المذاهب المتبوعة وغيرهم متفقون على عدم استحباب رفع الصوت بالذكر والتكبير.**
بيا امام نووي رَحِمَهُ اللَّهُ د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په حوالې سره د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث مطلب داسې بيان کړی دی: **وحمل الشافعي رَحِمَهُ اللَّهُ الحديث على انه جهر وقتا يسيرًا حتى يعلمهم صفة الذكر لا انهم جهر وا دائما) (شرح مسلم ج۱ ص ۲۱۷)**
خلاصه داچې يا خو د جهر نه داسې معتدل جهر مراد واخيستلی شي، چې دې کې افراط او تفريط نه وي، دې باندې ټول خلک هم متفق کيدی شي او روایاتو کې هم تطبيق راتلی شي، بس دومره خبره ده چې بريلوي حضرات دې خپل آواز لږ کم کړي او ديوبنديان دې خپل آواز لږ اوچت کړي، دلته مناسب معلوميږي، چې مطلق ذکر باره کې ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ يو عبارت نقل کړی دی، چې دواړو اطرافو کې اعتدال راشي، دا عبارت هغوی د مشکوة باب الاعتصام بالکتاب والسنة فصل ثالث کې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث الفاظ (**واقلهم تكلفا**) شرح کې ليکلی دی ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ د صحابه کرامو شرعي مزاج په باره کې فرمايي:

(وكذا في الاحوال الباطنية فانهم كانوا لا يرقصون ولا يصيحون ولا يطيحون ولا يطرقون ولا يجتمعون للغناء والمزامير ولا يتحلقون للاذكار والصلوات برفع الصوت فى المساجد ولا فى بيوتهم بل كانوا فرشيين بادانهم عرشيين بارواحهم كائنين مع الخلق فى الظاهر بائنين عن الخلق مع الحق فى الباطن.. الخ

يطيحون: سرګردان او د ځان نه مجذوب جوړ کړي او ګرځي هغه ته وايي، **يطرقون** منتر ويلو په معنی سره دی **بائنين** جدا جدا معنی يې ده باقي ترجمه واضحه ده، الله تعالی دې په اعتدال باندې د قائم اوسيدو توفيق راکړي آمين.

د فرض مونځ نه پس د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ناستې مقدار

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ لَمْ يَقْعُدْ
د عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به کله سلام اړولو، نو ناسته به يې
إِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُولُ: «اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ
کوله په اندازه د دې دعاء: ای الله! ته سالم يې (يعنې د ټولو عيبونو نه پاک يې) او تا ته (د بنده ګانو

السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَال وَ الْإِكْرَام » . (رَوَاهُ مُسلم)(۱).

د تولو آفاتو نه) سلامتيا ده اى د لوئي او بخشش خاونده ته لوي يي.

﴿۳﴾ وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ

د حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به كله خپل مونځ نه فارغ شو،

اسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَ قَالَ : « اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ

نو دري ځلي به يي استغفار ويلو او بيا به يي دا دعا لوستله: اى الله !ته سالم يي (يعني د تولو عيبونو

وَ مِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَال وَ الْإِكْرَام ». (رَوَاهُ مُسلم)(۲).

نه پاک يي) او تا ته (د بنده ګانو د تولو آفاتو نه) سلامتيا ده اى د لوئي او بخشش خاونده ته لوي يي.

﴿۴﴾ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ:

حضرت شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د فرض مونځ نه پس (مذكوره دعاء لوستله)

« لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ

دالله تعالى نه سوا بل معبود نشته، هغه يودى څوک شريک يې نشته، هغه د پاره بادشاهي ده او الله تعالى

الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ

د پاره تعريف دى، هريو څيز باندې قادر دى، اى الله! كوم څيز چې ته راكوې څوک يې هم نه شي منع كولى

وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ

او كوم څيز چې رانه ته منع كوې، نو د هغې ورکولو والا څوک نشته او بچ كيدې نه شي دولت مند د خپل

مِنْكَ الْجَدُّ». (متفق عليه)(۳)

دولت د وجې نه ستا د عذاب نه .

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/ ٤١٤ رقم الحديث: ۱۳٦ - ٥٩٢، وأبو داود ۲/ ۱۷٦ رقم الحديث :۱۵۱۲، والنسائي ۳/ ٦٩، رقم الحديث: ۱۳۳۸ ، والترمذي ۱/ ۹٥ رقم الحديث : ۲۹۸ ، وابن ماجة ۱/ ۲۹۸، رقم الحديث: ۹۲٤.

(۲) أخرجه مسلم في الصحيح ۱ ٤١٤ رقم الحديث: ۱۳٥ ٥٩١.

(۳) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/ ۳۲٥،رقم الحديث :۸٤٤، ومسلم في الصحيح ۱/ ۳٤۷ رقم الحديث: ۲۰٥-٤۷۷، وأبو داود ۲/ ۱۷۲ رقم الحديث :۱٥۰٥، والنسائي ۳/ ۷۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: **ولا ينفع** : ددې صيغې فاعل **الجد** لفظ دی او دلته د دولت په معنی دی او **ذالجد** نه مراد مالدار سړی دی، دا لفظ د **لاينفع** د پاره مفعول به دی، **منک ای من عذابک** . (**المرقات ۳/٤۱**).

دبر كل صلوة : ددې څو مطلبه دي : يو دا چې د مونځ نه پس دا مطلب يې هم دی، بل د فرضو سلام سره متصل لوستل او دا مطلب يې هم دی چې د سنتو نه پس دا دعاء لوستل دا هم د فرضو نه پس ده. (المرقات ۳/۴۰).

﴿٥﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ مِنْ صَلَاتِهِ يَقُولُ

عبدالله ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كله خپل مونځ نه سلام واړوو، نو لوستل به يې

بِصَوْتِهِ الْأَعْلَى : « لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ

په اوچت آواز باندې دا كلمات: دالله تعالى نه سوا بل معبود نشته، هغه يو دی، څوک د هغه شريک نشته،

لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ لَا حَوْلَ وَلَا

هغه د پاره بادشاهي ده، هغه د پاره هر قسم تعريف دی، او هر څيز باندې قادر دی، ګناه نه بچ کيدل او د

قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَلَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ

عبادت کولو قوت صرف دالله تعالى په مدد سره دی، الله تعالى نه سوا معبود نشته، مونږ د هغه عبادت کوو،

لَهُ النِّعْمَةُ وَ لَهُ الْفَضْلُ وَ لَهُ الثَّنَاءُ الْحَسَنُ

الله تعالى طرف نه نعمت دی، او الله تعالى د پاره بزرګي ده، او هر قسم ښه تعريف الله تعالى د پاره دی، الله

لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَ لَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ » . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

تعالى نه سوا معبود نشته، مونږ خالص د الله تعالى د پاره عبادت کوو، اګر چې کافر يې نه خوښوي.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بزدلۍ نه د پناه دعاء ولې غوښتله

﴿٦﴾ وَ عَنْ سَعْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُعَلِّمُ بَنِيهِ هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ وَ يَقُولُ :

د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کې مروي دي هغه به خپل اولاد ته د دعا دا الفاظ ښودل او فرمايل به يې

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/٤۱٦ رقم الحديث:۱۳۹-۵۹٤، وأبو داود ۲/۱۷۳ رقم الحديث :۱۵۰٦، والنسائي ۳/۷، رقم الحديث: ۱۳٤۰ .

إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ يَتَعَوَّذُ بِهِنَّ دُبُرَ الصَّلَاةِ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ

چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل مونځ نه پس دې الفاظو سره پناه غوښتله، (ترجمه) اى الله زه پناه غواړم

مِنَ الْجُبْنِ وَ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبُخْلِ وَ أَعُوذُ بِكَ مِنْ أَرْذَلِ الْعُمُرِ وَ أَعُوذُ

په تا سره د بزدلۍ نه، او پناه غواړم په تا سره د بخل نه، او پناه غواړم په تا سره د ناکاره عمر نه، او پناه

بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا وَعَذَابِ الْقَبْرِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1].

غواړم په تا سره د فتنو د دنيا نه او د عذاب قبر نه.

توضيح: من الجبن: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بار بار د بزدلۍ نه پناه غوښتې ده، ددې وجه صرف هغه خلکو ته معلومه ده، چې د جهاد سره يې تعلق وي، ځکه چې کوم کس بزدله وي هغه نه خپل عزت بچ کوي او نه د مذهب دفاع کوي، رو رويې بزدلي ډيري کېږي، تردې چې د جهاد نه انکار وکړي، او داسې تاويلات کوي، چې د جهاد ميدان ته بهادر سړی راشي دا د بزدلانو کار نه دی. (المرقات ۳/۴۲).

دغه رنګ معامله د بخل نه د پناه غوښتلو هم ده ځکه چې کوم انسان بخيل شي هغه د صله رحمۍ حقوق پايمالوي، انساني حدود پايمالوي، تردې چې د فرضې زکات نه هم انکار وکړي.

ارذل العمر: دې نه يې پناه ځکه غوښتې ده، دې وخت کې د خپل عزت خيال نه شي ساتلی، نه اودس ماتی په خپله کولی شي، او نه کپړې په خپله ويستلی شي، او د کور په اضافي ځيزونو کې شمارلی شي. (المرقات ۳/۴۲). يو شاعر وايي:

فلا و الله ما في العيش خير ❀ اذا ما عد من سقط المتاع

ترجمه: قسم په الله! په دې ژوند کې هيڅ خير نشته چې کله انسان د کور په اضافي شيانو کې شمار کړل شي

د مالدار او غريب په عبادت کې تقابل

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: (إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي (يو ورځ) مهاجر فقراء د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت اقدس کې حاضر شول

فَقَالُوا: قَدْ ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالدَّرَجَاتِ الْعُلَى وَ النَّعِيمِ الْمُقِيمِ

او عرض يې وکړو يا رسول الله! دولت مندو خلکو اوچت درجات او دائمي نعمتونه يې ويوړل، حضور

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۱/۱۷٤، رقم الحديث: ٦٣٦٤، ومسلم في الصحيح ٤/۲۰۸۰ رقم الحديث: ٥٢-٢٧٠٦، والترمذي ٥/٥٣٥ رقم الحديث: ٣٥٦٧، وابن ماجة ۲/۱۲٦۳، رقم الحديث: ٣٨٤٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوْا يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل هغه څنګه، هغوی وويل چې هغوی داسې مونځ کوي څنګه چې يې مونږ کوو

وَ يَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ وَ يَتَصَدَّقُونَ وَلَا نَتَصَدَّقُ

اوروژې نيسي څنګه چې يې مونږ نيسو هغوی صدقات او خيرات کوي مونږ صدقات او خيرات نه شو کولی

وَ يُعْتِقُونَ وَلَا نُعْتِقُ

هغوی غلام آزادوي مونږ يې نه شو آزادولی ددې وجې نه هغوي ددې ثواب حقدار شوا و مونږ محروم پاتې

فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَفَلَا أُعَلِّمُكُمْ شَيْئًا تُدْرِكُونَ بِهِ

شونبي عَلَيْهِ السَّلَام ورته وفرمايل آيازه تاسو ته داسې څيزونه نه بنايم چې تاسې ورسي دې باندې عمل کولو سره

مَنْ سَبَقَكُمْ وَ تَسْبِقُونَ بِهِ مَنْ

دهغوی درجاتو ته کوم وچې تاسو نه مخکې اسلام راوړی او دهغو خلکو درجونه اوچت شئ کوم چې تاسو

بَعْدَكُمْ وَلَا يَكُونُ أَحَدٌ أَفْضَلَ مِنْكُمْ إِلَّا مَنْ صَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُمْ »

نه پس دي اوهيڅوک ستاسو نه بهتر نه شي کيدی، خو صرف هغه کس چې ستاسو دعمل په شان عمل کوي

قَالُوْا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ : « تُسَبِّحُونَ وَ تُكَبِّرُونَ

هغوئ عرض وکړو بنه ده اوبنايي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو هر مونځ نه پس سبحان الله، الله اکبر

وَ تَحْمَدُونَ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَ ثَلَاثِينَ مَرَّةً » . قَالَ أَبُو صَالِحٍ : فَرَجَعَ فُقَرَاءُ

اوالحمد لله دري ديرش (۳۳) ځلې وايي (حديث يوراوي) ابوصالح وايي څه ورځې پس حاضر شو فقراء

الْمُهَاجِرِينَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا سَمِعَ إِخْوَانُنَا أَهْلُ الْأَمْوَالِ بِمَا فَعَلْنَا

مهاجرين حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته اوعرض يې وکړو يارسول الله! که مالدار خلک ددې عمل نه خبر شو او

فَفَعَلُوا مِثْلَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « ذَلِكَ فَضْلُ

هغوئ شروع کړو (نو بيا به زمونږ نه په عمل کې افضل شي) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : دا ورکړه د

اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَاءُ » .

الله تعالى ده چې چا باندې فضل او انعام کوي.

وَلَيْسَ قَوْلُ أَبِي صَالِحٍ إِلَى آخِرِهِ إِلَّا عِنْدَ مُسْلِمٍ وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ: «تُسَبِّحُونَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ عَشْرًا وَتَحْمَدُونَ

عَشْرًا وَتُكَبِّرُونَ عشرا» . بدل ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ (متفق عليه)[1].

توضيح: ذلک فضل الله : يعني كوم ځای پوري چې انسان عباداتو کې مقابله کولی شي، نو په کار ده، خو چې کوم ځای کې د مقابلې ګنجائش نه وي، بيا د حسد او عناد ضرورت نشته، بلکې دا سبقت د الله تعالی د تقدير ګرځول او دا ويل په کار دي، چې دا د الله تعالی خصوصي رعايت دی، دې کې مونږ څه نه شو کولی، (المرقات ۳/۴۵).

دې حديث نه دا معلوميږي چې عبادت کونکي مالدار او وظائف کونکي دولت مند د فقير نه افضل دي، دې باره کې مشکوة آخري ابوابو کې به ان شاء الله کلام کېږي.

دې باره کې د علماو اختلاف دی، چې د شاکر مالداره درجه اوچته ده يا د صابر فقير. بابا سعدي رَحِمَهُ اللَّهُ ګلستان کې يو فقير زاهد سره دې مسئله کې خپله مناظره نقل کړې ده، بابا سعدي رَحِمَهُ اللَّهُ د مالداره شکر ګزاره د فضيلت قائل دی، ابن عطاء هم د شاکر مالداره د افضليت قائل وو، خو جنيد بغدادي رَحِمَهُ اللَّهُ او نور اهل الله د فقر اوفاقې او د فقير د افضليت قائل دي.

زير بحث حديث کې اګر چې ذلک فضل الله بې فرمايلی دی، خو د فقير په نسبت لره مالداره د پاره خطرات ډير دي، علماء ليکي د مالدارو دا فضليت جزئی دی، او فقراو ته کلي فضيلت حاصل دی.

﴿۸﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " مُعَقِّبَاتٌ

دکعب بن عجرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : هر فرض مونځ نه پس د

لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ أَوْ فَاعِلُهُنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ :

لوستلو د پاره يو څو کلمات وي چې دهغې ويلووالا ،يايې وفرمايل چې دهغې کونکی محروم نه پاتې کېږي

ثَلَاثٌ وَ ثَلَاثُونَ تَسْبِيحَةً ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَحْمِيدَةً وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ تَكْبِيرَةً". (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[2].

(هغه کلمات دا دي) سبحان الله دري ديرش، الحمد الله دري ديرش، الله اکبر څلور ديرش ځلې ويل.

توضيح: معقبات د عقب نه دی د يو نه پس بل راتلو والا ته عقب ويل کېږي، دلته دغه کلماتو ته معقبات ځکه ويلی شوي دي، چې دا يو بل پسې راځي.

خاب نامراد ته ويلي کېږي. (المرقات ۳/۴۷).

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۲۵،رقم الحديث :۸۴۳، ومسلم في الصحيح ۱/۴۱۶ رقم الحديث:۱۴۲-۵۹۵.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۴۱۸ رقم الحديث : ۱۴۵-۵۹۶، والنسائي ۳/۷۵ رقم الحديث :۱۳۴۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَبَّحَ اللهَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ

ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي کوم کس چې سبحان الله د هر مونځ نه

ثَلَاثًا وَ ثَلَاثِينَ وَ حَمِدَ اللهَ ثَلَاثًا وَ ثَلَاثِينَ وَ كَبَّرَ اللهَ ثَلَاثًا وَ ثَلَاثِينَ فَتِلْكَ

پس دري ديرش ځلې، الحمد لله دري ديرش ځلې او الله اکبر دري ديرش ځلې وايي چې د دې مجموعه عدد

تِسْعَةٌ وَ تِسْعُونَ وَ قَالَ تَمَامَ الْمِائَةِ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ

يو کم سل (۹۹) دی، او سل عدد پوره کولو دپاره يو ځلې لا اله الا الله وحده لا شريک له له الملک وله

الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَ إِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ". (۱)

الحمد وهو على كل شئ قدير وايي نو دده به ټول ګناهونه وبخلی شي، اګر چې د سمندر د ځک برابر وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

د دعاء د قبوليت وخت

﴿۱۰﴾ وَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ؟

د ابو امامة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې تپوس وکړی شو يا رسول الله! کوم وخت کې دعا ډيره قبليږي؟

قَالَ: «جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرِ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ) (۲).

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل د شپې په آخري حصه کې او د فرض مونځ نه پس.

د معوذاتو د لوستلو فائدې

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: أَمَرَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَنْ أَقْرَأَ

د عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته حکم وکړو، چې تاسي ولولئ

بِالْمُعَوِّذَاتِ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ (۳).

معوذات د هر مونځ نه پس.

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۴۱۸/۱ رقم الحديث: ۱۴۶-۵۹۷.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴۹۲/۵ رقم الحديث: ۳۴۹۹.

(۳) أخرجه أبو داود في السنن ۱۸۱/۲ رقم الحديث: ۱۵۲۳، وأخرجه الترمذي في السنن ۱۵۷/۵، رقم الحديث: ۲۹۰۳.

دلمر راختو پورې د ذکر فضيلت

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ

دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي ديو داسې جماعت سره زما ناسته ،

يَذْكُرُونَ اللهَ مِنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً

کوم چې د سحر مونځ نه د لمر راختو پورې ذکر کې مشغول وي دا ماته بهتر دی د آزادیدو د څلورو غلامانو

مِنْ وَلَدِ إِسْمَاعِيلَ وَ لَأَنْ أَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَذْكُرُونَ اللهَ مِنْ

د اولاد د اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام نه ، او زما ناسته د داسې خلکو سره چې د الله تعالى په ذکر کې مشغول وي د

صَلَاةِ الْعَصْرِ إِلَى أَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أُعْتِقَ أَرْبَعَةً » . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

مازيګر د مونځ نه تر ما بنام لمر پرې تو پورې زما په نزد باندې د دې نه بهتر دی چې څلور غلامان آزاد کړم.

توضيح: د عجمو په نسبت عرب افضل دي، ځکه ولد اسماعيل تخصيص يې وکړو ، دې حديث نه طويل ذکر الله ثبوت ملاويږي دا د هغه مونځ نه پس ذکر دی، چې د هغې نه پس سنن نه وي. (المرقات ۳/۵۱).

په دوه رکعته اشراق باندې د حج او عمرې ثواب

﴿۱۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « مَنْ صَلَّى الْفَجْرَ فِي جَمَاعَةٍ

دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام وفرمايل کوم کس چې د سحر مونځ جماعت سره

ثُمَّ قَعَدَ يَذْكُرُ اللهَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَانَتْ

وکړي او د اشراق وخت پورې د الله تعالى ذکر کې مشغول وي، او بيا دوه رکعته مونځ وکړي، نو دې کس

لَهُ كَأَجْرِ حَجَّةٍ وَعُمْرَةٍ » . قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « تَامَّةٍ

ته به د حج او عمرې ثواب ملاؤ شي، د راوي بيان دی، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي د پوره حج او

تَامَّةٍ تَامَّةٍ » . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[2].

عمرې، د پوره حج او عمرې، د پوره حج او عمرې ثواب دې ته ملاويږي.

توضيح: حجة وعمرة: شريعت کې د نيک اعمالو يو اصل ثواب وي او يو زائد او فضل ثواب وي،

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ٤/٧٣ رقم الحديث : ٣٦٦٧.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ٢/٤٨٠ رقم الحديث : ٥٨٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

اصل ثواب د بل نيک عمل په بدله کې ملاويږي، خو زائد او فضل ثواب صرف هغه کس ته ملاويږي. چې اصل عمل کې محنت کولو سره عمل کوي، مثلاً يو کس ذاکر دی، او لمر راختو پورې ذکرالله کې مشغول وي او اشراق دوه رکعته مونځ يې هم وکړو ، دې ته د حج او عمرې اصل ثواب ملاويږي، دا د الله تعالى په نزد باندې مقرر او متعين دی، او يو کس د حج او عمرې د پاره په خپله ځي محنت او مشقت برداشت کوي، خرچې کوي، هغې کې چې کوم زائد ثواب دی ، دا ثواب صرف هغه کس ته ملاويږي کوم چې په خپله د حج او عمرې سفر وکړو ، همدارنګې نور اعمال هم په دې باندې قياس کړه. (المرقات ۳/۵۳-۵۲)

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

د فرض مونځ نه پس سمدستي د سنتو د پاره او دريدل منع دي

﴿۱۴﴾ وَعَنِ الْأَزْرَقِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ : صَلَّى بِنَا إِمَامٌ لَنَا يُكَنَّى أَبَا رِمْثَةَ

ازرق بن قيس رضي الله عنه فرمايي يو ورځ زمونږ امام چې د هغه کنيه ابورمثه وه، مونږ ته يې مونځ وکړو او

قَالَ صَلَّيْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ أَوْ مِثْلَ هٰذِهِ الصَّلَاةِ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ:

وې فرمايل مايوورځ دامونځ ياددې په شان مونځ د حضور صلى الله عليه وسلم سره وکړو ، حضرت ابورمثه وايي

وَ كَانَ أَبُوبَكْرٍ وَ عُمَرُ يَقُومَانِ فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ عَنْ يَمِينِهِ

(دې مونځ کې) ابوبکر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما هم د نبي عليه السلام نبي طرف ته په اول صف کې ولاړوو

وَكَانَ رَجُلٌ قَدْ شَهِدَ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى مِنَ الصَّلَاةِ فَصَلَّى نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سَلَّمَ

يو کس (وروسته راغی) او تکبيراولی کې شريک شو حضور صلى الله عليه وسلم مونځ وکړو او سلام يې وکړ خولو

عَنْ يَمِينِهِ وَ عَنْ يَسَارِهِ حَتّٰى رَأَيْنَا بَيَاضَ خَدَّيْهِ ثُمَّ انْفَتَلَ كَانْفِتَالِ أَبِي رِمْثَةَ يَعْنِي

مونږ د حضور صلى الله عليه وسلم دا ننکو سپينو والی وليدو ، بيا حضور صلى الله عليه وسلم ابورمثه يعنې زما طرف ته يې

نَفْسَهُ فَقَامَ الرَّجُلُ الَّذِيْ أَدْرَكَ مَعَهُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى مِنَ الصَّلَاةِ يَشْفَعُ

مخ راواړولو او کينا ستو هغه کس کوم چې تکبيراولی کې شامل شوی وو ودريدو دوه رکعته مونځ د پاره

فَوَثَبَ إِلَيْهِ عُمَرُ فَأَخَذَ بِمَنْكِبَيْهِ فَهَزَّهُ ثُمَّ قَالَ

حضرت عمر رضي الله عنه فوراً پاڅيدو او دغه کس يې د دواړو ولونه ونيوو او حرکت يې ورکړو او وې فرمايل

اجْلِسْ فَإِنَّهُ لَمْ يُهْلَكْ أَهْلُ الْكِتَابِ إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بَيْنَ

چې کينه ځکه چې اهل کتاب دهلاکت کندې کې ځکه ورپريوتي ووچې هغوي به جدا والې نه کولوپه

صَلَاتِهِمْ فَصْلٌ . فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بَصَرَهُ فَقَالَ : « أَصَابَ

خپلومونځونو کې (يعني مينځ کې) نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل نظر برې اوچت کړو اووي فرمايل تادې په نيکي کړي

اللهُ بِكَ يَا ابْنَ الْخِطَابِ » . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

الله تعالى اى د خطاب ځويه (يعني تا ريښتيا وويل).

توضيح: التكبيرة الاولى: يعني دا کس مسبوق نه وو، چې فوت شوي مونځ د پاره سمدستي ودريدو، بلکې دا مدرک وو، او مونځ نه فارغ شوې ؤ او بغير د وقفې نه فوراً د نوافلو د پاره اودريدو، لکه بعضې جلدي کوونکي افغانان داسې کوي. (المرقات ۳/۵۳).

فهزه: يعني عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه کس د دواړو ولو نه ونيوو او ديکه يې ورله ورکړه او ورته يې وويل کينه، دومره زر نوافلو د پاره مهٔ ودريږه. (المرقات ۳/۵۴).

فصل: يعني د فرض او نوافلو په منځ کې وقفه او جدائي نه وه، دا جدائي يا خو د ذکر د وجې نه ده، يا د ځای د بدليدو د وجې نه ده، يا د مسجد نه د بهر وتلو د وجې نه ده. (المرقات ۳/۵۴).

سوال: ددې کس دومره لوی جرم څه وو، چې دې باندې يې ورته د هلاکت وعيد واورولو؟

جواب: ددغه کس فعل کې د فرض او نفل يو بل سره د متصل کولو جرم وو او يوځای کيدلو جرم دی، دغه رنګ عمل سره به نوافل فرائضو کې داخل شي او خلک به وايي چې دا فرض دي، دا عقيده خطرناکه او موجب هلاکت ده.

د مونځ نه پس د تسبيحاتو يو صورت

﴿۱۵﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ : أُمِرْنَا أَنْ نُسَبِّحَ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَ ثَلَاثِينَ

زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې مونږ ته حکم راکړی شو چې هر مونځ نه پس سبحان الله دري ديرش ځلې،

وَ نَحْمَدَ ثَلَاثًا وَ ثَلَاثِينَ وَ نُكَبِّرَ أَرْبَعًا وَ ثَلَاثِينَ فَأُتِيَ رَجُلٌ فِي الْمَنَامِ مِنَ الْأَنْصَارِ

الحمد لله دري ديرش ځلې او الله اکبر څلور ديرش ځلې وايي، يو انصاري فرښته خوب کې وليده، فرښتې

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقِيلَ لَهُ أَمَرَكُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَنْ تُسَبِّحُوا فِي دبر كُلِّ صَلَاةٍ

ددغه انصاري نه تپوس وكړو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاته حكم دركړى چې ته تسبيح وايه دهر مونځ نه پس

كَذَا وَ كَذَا قَالَ الْأَنْصَارِيُّ فِي مَنَامِهِ نَعَمْ قَالَ فَاجْعَلُوهَا خَمْسًا وَ عِشْرِينَ

دومره دومره، دغه انصاري وويل چې فرښتې وويل ددغه كلماتو تعداد پنځويشت ځلې مقرر كړه اودې

وَاجْعَلُوا فِيهَا التَّهْلِيلَ خَمْسًا وَعِشْرِينَ فَلَمَّا أَصْبَحَ غَدَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

سره لااله الا الله پنځويشت ځلې مقرر كړه كله چې سباشو دغه انصاري د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت كې

فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « فَافْعَلُوا »(۱).

حاضر شو او خپل د خوب حالت يې ورته بيان كړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل په دې باندې عمل وكړه

توضيح: فافعلوا: يعنې ما چې څه اوښودل دغه رنګ تسبيحات لولئ او تا چې خوب كې څه اوليدل او فرښتې اوښودل دغه هم وايه، دا د الله تعالى ذكر دى، څه پابندي نشته. (المرقات ۳/۵۶).

علامه شمس الدين رَحِمَهُ اللهُ (التعليق الفصيح شرح مشكوة المصابيح ج۲ ص ۷) باندې دري ديرشو تسبيحاتو متعلق ليكلي: شريعت كې چې كوم شمار واقع دى، هغې نه په كم باندې مطلوب فضيلت او مطلوب ثواب نه حاصليږي، كه يو كس مطلوبه عدد لولي او دې باندې اضافت كوي او د كم په ځاى باندې دير لولي، هغوئ ته هم هغه ثواب ملاويږي كوم چې فضيلت كې معين او مقرر شوى.

د آيت الكرسي لوى فضيلت

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلَى أَعْوَادِ الْمِنْبَرِ يَقُولُ: «مَنْ

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دغه د لرګو منبر باندې اوريدلي، چې كوم كس د

قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ إِلَّا الْمَوْتُ وَ

هر مونځ نه پس آية الكرسي لولي، نو ده لره جنت ته د تلو نه مرګ نه علاوه بل څيز نه شي منع كولى. او

مَنْ قَرَأَهَا حِينَ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ آمَنَهُ اللهُ عَلَى دَارِهِ وَدَارِ جَارِهِ وَأَهْلِ دُوَيْرَاتٍ حَوْلَهُ»

څوک چې يې داوده كيدو په وخت كې ووايي، الله تعالى دده كورته او دګاونډيانو كورونو ته امن ورکوي

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۳/۷۶، رقم الحديث : ۱۳۵۰ ، والدارمي ۱/۳۶۰ رقم الحديث :۱۳۵۴.

(رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ . فِي شعب الْإِيمَان وَ قَالَ إِسْنَاده ضَعِيف)[1].

دا روايت بيهقي په شعب الايمان كې نقل كړى ، او ويلي يې دي، چې د دې اسناد ضعيف دي.

توضيح: الالموت: دې حديث كې يې د اية الكرسي لوى مقام بنودلى دى، دا حديث اګر چې ضعيف دى، خو د اعمالو په فضيلت كې دا قسم احاديث هم مقبول دي.(المرقات ۳/۵۶).

سوال: دلته ظاهري طور باندې اشكال دى، چې د دخول جنت د پاره مانع مرګ نه دى، بلكې حيات او ژوند مانع دى، ځكه چې ژوندى كس جنت ته داخليدى نه شي.

جواب: علامه طيبي رَحِمَهُ اللَّهُ د اعتراض جواب وركوي، اصل كې دې كلام مقصد دا دى چې د بنده او د جنت په منځ كې يوه پرده ده، چې يو طرف ته جنت دى او دويم طرف ته حيات دى، منځ كې د مرګ پرده حائل ده، چې دا پرده لري شي ، سړى به جنت ته داخل شي ، دا وجه ده چې د مرګ په باره كې ويلى شي ، (الموت تحفة المؤمن) او دا هم ويلى شوي دي (الموت جسر يوصل الحبيب الى الحبيب) (الكاشف ۲/۴۶۲).

د سحر او مابنام نه پس د الله د ذكر فضيلت

﴿۱۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ غَنَمٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: « مَنْ قَالَ

دعبدالرحمن بن غنم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي كوم كس چې ووايي د

قَبْلَ أَنْ يَنْصَرِفَ وَ يَثْنِيَ رِجْلَيْهِ مِنْ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ وَ الصُّبْحِ

سحراو مابنام نه پس دمونځ ځاى نه دپاڅيدو او خپې اړولو نه مخكې (يعنې څنګه چې د التحياتو دپاره

لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ

ناستوي) دغه كلمات: دالله نه سوا بل معبود نشته، هغه يو دى، نه يې شريك شته، هغه دپاره بادشاهي ده

وَ لَهُ الْحَمْدُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِي وَ يُمِيتُ وَ

اوهغه لره ټول تعريفونه دي، او دهغه په لاس كې نيكي ده، دغه ذات ژوندي كول كوي او مرګ راولي او

هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ عَشْرَ مَرَّاتٍ كُتِبَ لَهُ بِكُلِّ وَاحِدَةٍ عَشْرُ حَسَنَاتٍ وَ مُحِيَتْ

په هرڅيز باندې قدرت لرونكى دى، لس ځلې نو ده ته په هر ځل باندې لس نيكۍ وركوي او معاف كوي

---

[1] رواه البيهقي في شعب الايمان ۲/۴۵۸ رقم الحديث : ۲۳۹۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

عَنْهُ عَشْرُ سَيِّئَاتٍ وَرُفِعَ لَهُ عَشْرُ دَرَجَاتٍ وَكَانَتْ حِرْزًا مِنْ كُلِّ مَكْرُوهٍ وَحِرْزًا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

دده نه لس ګناهونه، او دا کلمات ددې کس د پاره د هر بد څيز نه او د شيطان رټلي شوي نه امن دی. او

وَ لَمْ يَحِلَّ لِذَنْبٍ يُدْرِكُهُ إِلَّا الشِّرْكُ وَ كَانَ مِنْ أَفْضَلِ النَّاسِ عَمَلًا

شرک نه علاوه يو ګناه هم دی نه شي هلاکولی او دغه کس د عمل په اعتبار سره ټولو خلکو نه بهتر او افضل

إِلَّا رَجُلًا يَفْضُلُهُ يَقُولُ أَفْضَلَ مِمَّا قَالَ» .(رَوَاهُ أَحْمد)[1].

دی، غير د هغه کس نه چې هغه دده نه ډير دا کلمات وايي.

وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ عَنْ أَبِي ذَرٍّ إِلَى قَوْلِهِ: «إِلَّا الشِّرْكَ» وَلَمْ يَذْكُرْ: «صَلَاةَ الْمَغْرِبِ وَلَا بِيَدِهِ الْخَيْرُ» وَقَالَ:

هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. (ترمذي ٣٤٧٤).

صرف نوم د الله الله ذکر د قرآن کريم نه ثابت دی

﴿۱۸﴾ وَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بَعَثَ بَعْثًا قِبَلَ نَجْدٍ

دعمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې يو ځل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو لښکر نجد طرف ته وليږلو

فَغَنِمُوا غَنَائِمَ كَثِيرَةً وَ أَسْرَعُوا الرَّجْعَةَ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَّا لَمْ يَخْرُجْ

نو دغه لښکر ډير زر راوډير مال غنيمت سره واپس راغی، مونږ کې يو کس چې لښکر سره نه وو تلی وې ويل

مَا رَأَيْنَا بَعْثًا أَسْرَعَ رَجْعَةً وَلَا أَفْضَلَ غَنِيمَةً مِنْ هٰذَا الْبَعْثِ

مونږ داسې يو لښکر هم نه ؤليدلی چې ددې لښکر په شان زر واپس راشي او ځان سره دومره ډير مال هم راوړي

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى قَوْمٍ أَفْضَلَ غَنِيمَةً وَ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل، آيا تاسې ته يو داسې جماعت ونه ښايم چې تيز وي په مال غنيمت کې او

أَفْضَلَ رَجْعَةً ؟ قَوْمًا شَهِدُوا صَلَاةَ الصُّبْحِ ثُمَّ جَلَسُوا يَذْكُرُونَ

زر راتلو کې ددوي نه (نوو اوړئ) هغه جماعت دادی چې د سحر مونځ کې حاضر شي او بيا ناست وي ذکر

اللهَ حَتّٰى طلعت عَلَيْهِمُ الشَّمْسُ أُولَئِكَ أَسْرَعُ رَجْعَةً وَ

د الله کوي د لمر راختو پورې، نو دا هغه خلک دي چې دوي مخکې دي په زر واپس راتلو کې او د ډير

---

(١) أخرجه أحمد في المسند ٤/٢٢٧.

أَفْضَلَ غَنِيمَةً». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[1] وَقَالَ هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ وَ

مال غنيمت راوړو کې، دا روايت ترمذي نقل کړی او ويلي يې دي، دا حديث غريب دی. او ددې يو راوي

حَمَّاد بن أبي حميد هُوَ الضَّعِيف فِي الحَدِيث.

حماد ابن ابو حميد ضعيف دی.

توضيح: يذكرون الله: دې مسئله کې يو بحث دی چې د الله تعالى ذکر کول صرف په اسم ذات سره يعنې الله الله سره جائز او ثابت دی يا نه دی؟

بعضې علماء مثلاً شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ اللهُ طرف ته منسوب دی، هغه ځانله د اسم ذات ذکر ثابت نه ګڼي او فرمايي ددې مفهوم مبتداء او خبر ملاويدو نه بغير مکمل نه دی، لهذا الله سره بل څه ملاؤ کړئ بيا ذکر صحيح دی.

خو نور علماء جمهور سلف او خلف د اسم ذات ذکر باعث د ثواب او برکت ګڼي. علامه شمس الدين رَحِمَهُ اللهُ فرمايي (تعليق الفصيح، ج۲، ص٦) باندې د قرآن کريم ډير آيتونه د مفرد اسم ذات ذکر ثبوت ورکوي، مثلاً:

﴿اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا﴾ (سورة احزاب آيت: ٤١)

﴿يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمْ﴾ (سورة آل عمران آيت: ١٩٠)

﴿وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ﴾ (سورة احزاب آيت: ٣٥).

دې کې د مفرد اسم ذکر بيان او ثبوت دی. علامه فرمايي د قرآن نه دا مسئله ثابته ده، ځکه صحابه کرامو په احاديثو کې ددې اهتمام ونه کړو، زه وايم په حديث کې په مفرد اسم ذات سره ذکر کولو ثبوت شته، يو حديث کې دي ترڅو چې دنيا کې الله الله ويلو والا موجود وي قيامت به نه راځي.

[1] أخرجه الترمذي في السنن ٥/٥٢٢ رقم الحديث: ٣٤٧٣.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا لَا يَجُوزُ مِنَ الْعَمَلِ فِي الصَّلَاةِ وَمَا يُبَاحُ مِنْهُ:
مونځ کې د جائز او ناجائز ځيزونو بيان

قال الله تعالى: ﴿قُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ﴾ (سورة البقرة آيت: ۲۳۸).

وقال الله تعالى: ﴿قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾. (سورة المؤمنون آيت:۲/۱)

بعضې اعمال او افعال داسې دي چې د هغې سره مونځ فاسديږي او ځينې اعمال داسې دي، چې هغې سره مونځ مکروه کېږي او ځينې اعمالو سره مونځ مباح وي، ددې ټولو تفصيلات د فقه کتابونو کې مذکوز دي، دلته عنوان کې لايجوز لفظ عام دی که هغه اعمال د مفسداتو د قبيلې نه وي يا د مکروه د قبيلې نه وي.

په عمل کثير او عمل قليل کې فرق: د ټول فقهاو په نزد باندې عمل کثير سره مونځ فاسديږي، خو د عمل قليل او کثير د حد په تعين کې اختلاف دی، بعضې فقهاء وايي چې کوم عمل يو لاس سره وي هغه قليل دی او کوم عمل چې دواړو لاسونو سره وي هغه عمل کثير دی، د يو لاس او دواړو لاسونو مراد دا دی، عام عادت چې څنګه واقع وي، د هغې اعتبار به وي، مثلاً د خلکو عادت دی، چې پټکی په دواړو لاسونو سره وهي، اوس که يو کس په مونځ کې يو لاس سره پټکي وهل شروع کړل، نو مونځ يې فاسد شو، ځکه چې عادت د يو لاس نه وو. دغه رنګ قميص اچول شو، تير اندازي کول شو، دا د دواړو لاسونو اعمال دي، دغه رنګ چا دواړو لاسونو سره پرتوګ کلاو کړو، دې سره مونځ نه فاسديږي ځکه عام عادت کې دا عمل په يو لاس باندې کېږي، بعضې علماء وايي د عمل قليل او عمل کثير فرق داسې دی، مثلاً يو کس مونځ کې عمل کوي، او کتلو والا اوليدو، که يقين يې وو، چې داسې عمل مونځ کې نه کېږي، دا کس مونځ کې نه دی، نو دا عمل کثير دی او مونځ پرې فاسديږي. او که د کتونکي دا يقين وو، چې دا کس مونځ کې دی، اګر چې يو عمل کوي، دا عمل قليل دی. (المرقات ۳/۶۰).

شيخ ابن همام رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي عمل قليل او کثير فيصله په خپله په مونځ ګزار باندې پرېږدئ، که هغه پوهه شو، چې عمل کثير دی، نو مونځ يې فاسد شو او که قليل وو، نو مونځ يې صحيح دی. د بعضې علماو په نزد باندې دې معيار کې مختار دا دی، که يو عمل مسلسل دري ځلې اوشي، نو عمل کثير دی او که ددې نه کم وو، نو قليل دی، فقهاء ددې اقوالو د پاره د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه فرمان بنيادي قاعده ګرځوی چې هغې کې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو صحابي ته صرف د يو ورکوتې کانې لرې کولو اجازت ورکړی وو.

اَلْفَصْلُ الأول:

د مونځ په اول دور کې د صحابي عجيبه قصه

﴿۱﴾ عَنْ مُعَاوِيَةَ ابْنِ الْحَكَمِ قَالَ : بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دمعاويه بن حكم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره مايوورځ مونځ کولويودم مسجد کې

إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقُلْتُ : يَرْحَمُكَ اللهُ . فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ.

يوکس ته پرنجی (انتروشی) راغی ماجواب کې يرحمک الله وويل خلکو ماته برګ برګ کتل شروع کړل

فَقُلْتُ : وَا ثكل أُمَيَاهُ مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ فَجَعَلُوا يَضْرِبُونَ بِأَيْدِيهِمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ

ماوويل زمامور دې ماورک کړي تاسوماته څه برګ برګ کورئ خلکو خپل پتونان په لاسونو وهل شروع کړل

فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُونَنِي لَكِنِّي سَكَتُّ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ماچې وکتل چې خلک ما خاموش کوي، خو زه خاموش شوم، کله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړو،

فَبِأَبِي هُوَ وَأُمِّي مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ

زمامور اوپلار دې په نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې قربان وي ماخو نه مخکې دنبي عَلَيْهِ السَّلَام نه لوی عالم ليدلی وو

وَلَا بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ فَوَ اللهِ مَا كَهَرَنِي وَلَا ضَرَبَنِي وَلَا شَتَمَنِي قَالَ :

اوندبه وروسته وي، په الله قسم! نه خو هغه زه ورټلم او نه يې څه بد وويل، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

إِنَّ هَذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ من كَلَام النَّاس إِنَّمَا هُوَ التَّسْبِيحُ وَالتَّكْبِيرُ وَقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ أَوْ

مونځ کې د انسان خبرې مناسب نه دي، مونځ خو د تسبيح، تکبير او قرآن کريم لوستلو نوم دی. او يا

كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا سې نورځه وويل، ماعرض وکړويارسول الله! زه خو يو نوی مسلمان يم الله تعالى

وَقَدْ جَاءَ اللهُ بِالْإِسْلَامِ وَإِنَّ مِنَّا رِجَالًا يَأْتُونَ الْكُهَّانَ . قَالَ :

داسلام دولت باندې مشرف کړم زمونږ ډير خلک به کاهن خواته تلل، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل :

« فَلَا تَأْتِهِمْ » . قُلْتُ : وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ . قَالَ :

تاسو دهغوئ خواته هرګز مه ځئ ماعرض وکړو زمونږ نه ډير خلک بدفالي نيسي، نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

Maktaba Tul Ishaat.com

« ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ فِي صُدُورِهِمْ فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ » . قَالَ

دا يو داسې څيز دی څنګه چې يې خپل زړه کې ساتي تاسو دوي مه منع کوئ. معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي ما

قُلْتُ وَ مِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ . قَالَ :

عرض وکړو مونږ نه بعضې خلک خط راکاږي اوددې په ذريعه باندې دغيبو څه خبرې ښائي، وې فرمايل

« كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ

پيغمبرانو کې يو نبی وو چې هغه به خط راخکلو، لهذا که ددې کس خط راخکل په شان د نبي د خط

فَذَاكَ » . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1] .

راخکلو وو، نو هغه دغه خبره حاصلولی شي.

قَوْلُهُ: لَكِنِّي سَكَتُّ هَكَذَا وُجِدَتْ فِي صَحِيحِ مُسْلِمٍ وَكِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ وَصُحِّحَ فِي «جَامِعِ الْأُصُولِ» بِلَفْظَةِ كَذَا فَوْقَ: لكني.

توضيح: دې حديث کې يو څو مشکل الفاظ دي، اول په دې پوهيدل ډير مناسب دي **فرماني القوم** يعنې خلکو په سترګو باندې داسې ووهلم، لکه څوک چې په تير باندې وهل کوي، يعنې ګورګوريې کولو، چې دا څه کوي. (المرقات ۳/۶۱، الكاشف ۴۶۶).

واثكل امياه دا کلمه د ندبې په طور باندې استعمال شوې ده، لکه **وا امير المؤمنيناه ثكل** په د ضمې د **تاء** سره د هلاکت، مرګ، ځوی يا محبوب ورکيدو د پاره استعماليږي، اصل کې زنانه چې کله خپل ځوی ورک کړي دغه موقع کې ويل کېږي. دلته دا کلمه د (ام) طرف ته مضاف ده، اصل کې (**واثكل امي**) دې يعنې هايې زما موړې ما ورک کړې، تاسو ماته برګ برګ ولې ګورئ. (المرقات ۳/۶۱).

شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ اشعة اللمعات کې داسې ترجمه کوي: **وائی پسر مردن مادر من** مظاهر حق جديد کې عبد الله جاويد غازي پوري صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ ددې ترجمه غلطه کړې ده، دا وضاحت ما ځکه وکړو ما توضيحات کې ددغه حضراتو ترجمه وکړه.

ماشانكم : شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي دا لفظ هغه په زړه کې کړی. (اشعة اللمعات ۱/۴۵۸).

يصمتوني: دا **تصميت** د باب **تفعيل** نه د چپ کيدو په معنی راځي. (المرقات ۳/۶۱).

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۸۱ رقم الحديث:۳۳-۵۳۷، وأبو داود ۱/۵۷۰ رقم الحديث :۹۳۰، والنسائي ۳/۱۴، رقم الحديث:۹۳۰.

لكني سكت: دا داستدراک مخذوف نه دی اصل عبارت داسې دی: **غضبت وتغيرت واردت ان اعاملهم بمقتضى الغضب لكني سكت.** (**المرقات ۳/۶۱، الكاشف ۲/۴۶۶**).

ماكهرني: **كهر د فتح يفتح** نه دی تندی تروش کول او يو چا ته په حقارت سره راتللو ته وايي. (المرقات ۳/۶۱).

يتطيرون: دا لفظ د **الطيرة** نه دی بدفالی ته ويلي کيږي، ددې تفصيل به آخر د کتاب کې راځي.

من كلام الناس: دلته سوال دا دی تسبيحات هم کلام دی. بيا ددې اجازت يې څنګه ورکړی دی؟ (المرقات ۳/۶۲).

ددې جواب دا دی دلته د کلام الناس نه مراد هغه کلام دی، چې دې سره د خلکو د خطاب او مکالمې اراده شوی وي، تسبيحات اګر چې کلام دی، خو دې کې خلکو سره د تخاطب اراده نه کيږي که تخاطب اراده اوشي، نو دا هم ناجائز ده.

حديث عهد بجاهلية: يعنې زه د جاهليت زمانې ته نزدې يم اوس مې اسلام قبول کړی دی نوی مسلمان يم، دا وجه ده، چې حضور ﷺ ده ته دوباره د مونځ کولو حکم ورنه کړو، ګيني اتروشی او **الحمد لله** باندې **يرحمک الله** سره جواب ورکولو کې خطاب دی او مونځ کې خطاب کولو سره مونځ فاسديږي. (**كذا قال النووي و ابن الهمام**) (المرقات ۳/۶۲-۶۳).

الكهان: دا د **كاهن** جمع ده، هغه کس دی چې د هغه د ارواحو خبيثو او جناتو اوشيطانانو نسره تعلق وي او د دروغو خبرونه دې ته راوړي او په سلو دروغو کې يوه خبره چرته صحيح وي، په دې سره کاهن خپل رعب اچوي او کار اوباسي او د علم غيب دعوی کوي، جاهليت کې ددې ډيرزور وو. (المرقات ۳/۶۳).

دويم حديث کې د کاهن نه علاوه يو لفظ عراف هم راغلی، عراف هغه کس ته ويلي شي، چې د کوم عمل يا د کوم منتر جنتر او يا د جادو په ذريعې سره د پټو څيزونو احوال ذکر کوي، دادنجوميانو يو قسم دی، نن سبا ددې ډيرزور دی، د عراف او کاهن دواړو خواته د تصديق د پاره تلل حرام دي. (المرقات ۳/۶۳، الكاشف ۴۶۶-۲/۴۶۷).

يجدونه: يعنې يو شک او وهم دی، دې توهم پرستي کې چې سړی مبتدا شي نو بيا شکي جوړيږي او هريو کار کې تردد او شک کوي. (المرقات ۳/۶۳).

Maktaba Tul Ishaat.com

فلا يصدنهم: يعني دا وهم او شک سړی تردد کې اچوي، داد خپل کار نه منع کوي، بلکې دا عقيده ساتئ چې هر څه د الله تعالى د حکم لاندې داخل دي او الله تعالى باندې توکل کوئ. (المرقات ۳/۶۳).

يخطون: دا د خط راخکو په معنى دى، څنګه چې د کهانت او علم نجوم په ذريعې سره بعضې خلک غيبو ته د رسيدو خبرې کوي. دغه رنګ (رمل) په ذريعې سره هم کوشش کوي، رمل هغه عمل ته ويل کېږي، چې هغې کې خطوط راخکلى شي، بيا حساب لږولو سره پټو خبرو پورې د رسيدو کوشش کوي. (المرقات ۶۳-۳/۶۴).

نبي من الانبياء: شارحين ليکي ددې نه خو يا حضرت ادريس عَلَيْهِ السَّلَامُ مراد دى يا حضرت دانيال عَلَيْهِ السَّلَامُ مراد دى. (المرقات ۳/۶۴).

فمن وافقه: **سوال**: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کلام نه په ظاهره دا معلوميږي چې ددې عمل اجازت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورکړى دى، حالانکې في الواقع شريعت کې د رمل اجازت نشته.

جواب: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صراحت سره رمل باندې رد نه دى کړى، ددې تردید کې هغه نبي راځي، چې هغه به دا عمل بطور معجزه کولو، بلکه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکمت په انداز سره يو قاعده بيان کړه، ددې نه ددې عمل ممانعت هم راغلى او د دغه نبي په شان کې بې ادبي هم ونه شوه،

علامه خطابي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دلته تعليق بالمحال په ذريعې سره د دغه کار منع کړو، يعنې چې د کوم کس خط د نبي د خط موافق وو، هغه به صحيح وي او ظاهره ده ويلى شي چې زما خطوط د هغې په شان دي، څنګه چې د نبي دي، څوک ددې دعوى نه شي کولى. دويم دا چې د خط په ذريعې سره چې څه کيدل هغه د نبي معجزه وه او څوک په دې عمل کې لږيدل بې فائدې او باطل دي.

بلفظة كذا: يعنې كذا كلمه لكفي د پاسه صاحب جامع الاصول وليکل. دې طرف ته اشاره وو، چې لكفي كلمه صحيح ده، دې کې څه غلطي نشته، (المرقات ۳/۶۵).

د محدثينو په نزد قاعده دا ده، چې کله کلمه کې شک واقع شي او محدثين ددې صحت طرف ته اشاره کول غواړي، نو دوى لفظ كذا دغه کلمې د بره وليکي، دې حديث کې لفظ د لكفي د مسلم او حميدي په کتابونو کې دى، مصابيح کې دا لفظ نشته.

د مونځ په کيفيت کې ډير ځلې تبديلي راغلې

﴿۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ

د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په مونځ کې د سلام جواب ورکولو

فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ

يوځوورځي پس مونږ د نجاشي نه واپس راغلو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو، دغه وخت

سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ کولو مونږ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته سلام وکړو خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ د سلام جواب رانه کړو،

فَقُلْنَا : يَا رَسُولَ اللهِ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فِي الصَّلَاةِ

کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ وکړو مونږ عرض وکړو يا رسول الله! مونږ به تاسو ته په مونځ کې سلام وکړو،

فَتَرُدُّ عَلَيْنَا فَقَالَ : إِنَّ فِي الصَّلَاةِ لَشُغْلًا ". (متفق عليه)[1]

تاسو به جواب راکولو، نن تاسو جواب رانه کړو، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل مونځ په خپله يو لوی شغل دی.

توضيح: فلم يرد علينا: د اسلام په شروع کې مونځ کې خبرې کول جائز وې، بيا موقوف شوې، نو سلام اوخبرو دواړو نه منع راغله، خو امام پسې د قرآت اجازت وو، بيا هغه هم موقوف شو، خو د فاتحې لوستلو اجازت وو، بيا د احنافو په نزد باندې هغه هم موقوف شوه. ﴿قُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ﴾ ای ساکتين باندې عمل پاتې شو، **باب السهو** کې په دې باندې کلام راتلونکی دی. (المرقات ۳/٦٦).

النجاشي: دا د حبشو عادل بادشاه وو، بيا وروسته مسلمان شو د حبشو هر بادشاه دا لقب دی، څنګه چې د مصر د بادشاه لقب فرعون دی، د ترک د بادشاه لقب خاقان دی، د يمن د بادشاه لقب تبع دی، د شام د بادشاه لقب قيصر دی، د فارس د بادشاه لقب کسری دی او د هندستان د بادشاه لقب راجه وو. (المرقات ۲/٦٥).

لشغلا: يعنې د مونځ خپل اعمال دي، دې کې دننه اعمالو نه علاوه د نورو اعمالو ګنجائش په کې نشته. لهذا سلام او خبرې ممنوع دي، اوس ژبې سره جواب ورکول بالاتفاق مفسد صلواة دي، البته سر اشارې سره که مونځ ګزار جواب ورکړي د جمهورو په نزد باندې جائز بلاکراهت دی، البته احناف يې جائز مع الکراهت ګڼي، جمهور فرمايي باللسان جواب ممنوع دی او بالاشاره باقي پاتې دی، احناف وايي دواړو طرف ته د ممانعت اشاره ده، ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د سر اشارې سره جواب ورنه کړو، دې سره هغه دير پريشانه او خفه شو، که جائز وی او کراهت نه وی، نو ابن

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۸۸/۷، رقم الحديث : ۳۸۷۵، ومسلم في الصحيح ۳۸۲/۱ رقم الحديث: ۳٤-٥۳۸، وأبو داود ٥٦۷/۱ رقم الحديث: ۹۲۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به خفه کيدو نه، بس سر سره به جواب ورکړی شوی وی، که کراهت په تنزيهي باندې حمل کړی شي، نو د غير اولی اختلاف به پاتې شي. (المرقات ۲/٦٦).

په مونځ کې ډير حرکات منع دي

﴿۳﴾ وَ عَنْ مُعَيْقِيبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فِي الرَّجُلِ

معيقيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د هغه کس په باره کې روايت کوي، کوم چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه

يُسَوِّي التُّرَابَ حَيْثُ يَسْجُدُ ؟

د خپل ځان باره کې تپوس کړی وو، چې زه (مونځ کې) د سجدې ځای په خاورې سره برابروم، ددې څه

قَالَ : « إِنْ كُنْتَ فَاعِلًا فَوَاحِدَةً ». (متفق عليه)[1].

حکم دی، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل که تاسو برابروالی ضروري ګڼئ، نو يو ځلې داسې وکړئ.

توضيح: معيقيب حضرت معيقيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سعيد بن ابی العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آزاد کرده غلام دی، هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ملا باندې د مهر نبوت نه چپه واخسته، بيت المال باندې مامور وو، د هغه وفات سنه ۴۰هـ کې وشو. (المرقات ۲/٦٦).

فواحدة: فقهاء احناف ليکي که د مونځ په دوران کې د سجدې په ځای کې ګانې وو، يا برابر نه وي، دې وجې نه سجده کول مشکل وي، نو ګانې لرې کول جائز دي، يو يا دوه ځلې ددې نه ډير جائز نه دي، دې حديث نه دې حضراتو د پاره لويه تنبيه ده، کومو چې مونځ يوه لوبه ګڼله او د يو بل جيبونو نه به يې کاغذونه راويستل او پوزه به يې صفا کوله، عربستان او جزيره عرب د مسلمانانو نه د مونځ ادب تلې وو د لوبو سره به يې مونځ کولو. انا لله وانا اليه راجعون (المرقات ٦٦-۳/٦٧).

په مونځ کې خصر ممنوع دی

﴿٤﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الخصر فِي الصَّلَاةِ "[2].

ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی فرمايي حضور صلی الله عليه وسلم مونځ کې د خصر نه منع فرمايلې ده.

توضيح: خصر: اختصار او خصر تشي باندې لاس ايخودلو ته ويل کيږي دواړه لاسونه په دواړو تشو

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۷۹،رقم الحديث :۱۲۰۷، ومسلم في الصحيح ۱/۳۸۸ رقم الحديث:٤٩-٥٤٦.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۸۸،رقم الحديث :۱۲۲۰، ومسلم في الصحيح ۱/۳۸۷ رقم الحديث:٤٦-٥٤٥، وأبو داود ۱/۵۸۲ رقم الحديث :۹٤۷.

باندې ايخودل منع دي ځکه چې، مسنونه طريقه دواړه لاسونه په نوم باندې کيښودل دي.(المرقات ۳/٦٧).

اوس سوال دا دی چې په تشي باندې لاس ايخودلو نه ولې منع کړی شوې ده ددې څه وجه ده؟

جواب: دا دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ممانعت فرمايلی، نو د تپوس او سوال کولو ضرورت نشته. دا د ټولو نه لويه وجه ده، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع فرمايلې ده. دويم جواب دا دی ميدان محشر کې هغه خلک کوم چې دوزخيان دي په دغه شکل کې به ولاړ وي، ځکه يې د دوي مشابهت نه منع کړل، او يو حديث کې راځي چې دوزخي خپل لاس په طرف باندې کيښودلو سره سکون حاصلوي، څنګه چې يو کس ديرستړی شوی وي، نو خپل لاسونه په اطرافو باندې کېږدي او يوه اوږده ساه واخلي.

دريم جواب دا دی، چې د اهل النار نه مراد يهود دي، دغه خلکو په دنيا کې خپل لاسونه په طرف باندې اينبودي ولاړ وي، مونځ ګزاريې د هغوي د مشابهت نه منع کړو.

څلورم جواب دا دی دا حالت د تکبر دی، او د مسلمانانو د پاره په حالت د مونځ کې داسې ودريدل د کراهت نه خالي نه دي.

په مونځ کې يو خوا بل خوا کتل د شيطان خوشحاله کول دي

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الِالْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مونځ کې يو خوا بل خوا کتلو باره کې تپوس وکړو

فَقَالَ: «هُوَ اِخْتِلَاسٌ يَخْتَلِسُهُ الشَّيْطَانُ مِنْ صَلَاةِ الْعَبْدِ». (متفق عليه)[1]

آيا دا مفسد صلوة دی او که نه دی؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل دا رانښکل دي، شيطان بنده د مونځ نه راکاږي.

توضيح: اختلاس: د باب افتعال نه دی اختلاس رانښکل او يا يو څيز زر او چټولو په معنی دی، دې سره دانسان مونځ کامل نه پاتې کېږي.(المرقات ۳/٦٨).

په دې حديث کې د التفات نه مراد دا دی، چې مونځ ګزار څټ اخوا ديخوا اړوي او د قبلې نه مخ واړوي داصورت مکروه دی. او که د تاويدو سره سينه او بدن هم د قبلې نه واوړيدو نو په دې صورت کې مونځ فاسديږي. (المرقات ۳/٦٨).

د التفات دريم صورت دا دی صرف د سترګو په طرف سره کتل او سر يا څټ وانه وړي، دا صورت منع نه دی اګرچې خلاف اولی دی، ځکه چې د مونځ د آدابو نه دا هم دي چې نظر د سجدې په ځای باندې وي.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۲٤،رقم الحديث :۷۵۱، وأبو داود ۱/٥٦۰ رقم الحديث :۹۰۹؛ والترمذي ۲/٤٨٤ رقم الحديث : ٥۹۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

(المرقات ٣/٦٨).

په مونځ کې د دعاء په وخت کې آسمان ته کتل منع دي

﴿٦﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: منع دې شي خلک د

رَفْعِهِمْ أَبْصَارَهُمْ عِنْدَ الدُّعَاءِ فِي الصَّلَاةِ إِلَى السَّمَاءِ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارَهُمْ». (رَوَاهُ مُسلم)[1].

اوچتولو د نظرونو نه د دعاء په وخت کې آسمان ته، کينې د هغوی نظرونه به واخيستلی شي.

توضيح: لتخطفن: اختطاف د اخيستلو په معنی سره دی. (المرقات ٣/٦٩). ﴿يَكَادُ الْبَرْقُ يَخْطَفُ أَبْصَارَهُمْ﴾ (البقرة آيت: ٢٠) د همدې نه دی. نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دې حديث کې د مونځ يو آدب ذکر کولو ته اشاره کړې، مونځ کې التحيات باندې د دعا په وخت کې خپل نظر آسمان طرف ته مه اوچتوئ، دې نه دا وهم پيدا کيږي چې د الله تعالى د پاره په اسمان کې متعين ځای او مکان دی، دې نه جسميت ثابتيږي او جسميت سره حدوث لازم کيږي، چې دا موجب د بې ادبۍ دی، او د دعا حالت د عاجزۍ دی، او اسمان ته کتل د عاجزۍ خلاف دی، يو روايت کې دي، چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کې د دعا په وخت اسمان طرف ته کتل، خو چې دا آيت: ﴿الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ﴾ (سورة المؤمنون آيت:٢) نازل شو، بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل نظر بنکته ساتلو. مونځ نه علاوه د دعا په وخت کې اسمان طرف ته کتل جائز دي، وايي (السماء قبلة الدعاء) خو بعضې علماء دې ته خلاف اولى وايي.

يو نيم ځلې عمل دائمي سنت نه شي جوړيدی

﴿٧﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَتْ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَؤُمُّ النَّاسَ

ابو قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي ما وليدل چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلکو ته مونځ بنودلو (د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

وَأُمَامَةُ بِنْتُ أَبِي الْعَاصِ عَلَى عَاتِقِهِ فَإِذَا رَكَعَ

نمسی) امامه بنت ابو العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوږه باندې ناسته وه کله به چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رکوع ته

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٢٣٣،رقم الحديث :٧٥٠، ومسلم في الصحيح ١/٣٢١ رقم الحديث:١١٨-٤٢٩.

وَضَعَهَا وَ إِذَا رَفَعَ مِنَ السُّجُودِ أَعَادَهَا ". (متفق عليه)[1].

تلوهغه به يې (اشارې سره ښکته) کينوله اوچې سجدې نه به پاڅيد وهغه به يې په اوږه باندې کينوله.

توضيح: امامة: امامه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نمسۍ وه کومه چې د زينب بنت رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زوجه ابوالعاص لور وه. دلته دا سوال پيدا کيږي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرض مونځ کې وو، ځکه چې (**ليئوم الناس**) الفاظ په دې دال دي، نو فرض مونځ کې داسې عمل څنګه جائز شو، دا خو په ظاهره عمل کثير دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله ددې نه منع فرمايلي. (المرقات ٣/٦٩).

ددې جواب دا دی، چې وړوکی ماشوم يا ماشومه په مونځ کې اوچتول عمل کثير نه دی. علماء احناف ليکي چې د ماشوم اوچتولو سره مونځ نه فاسديږي، که ښځې ورله پې ورکړه، نو مونځ فاسد شو، اصل مدار عمل قليل او کثير باندې دی، بعضې علماو دا جواب ورکړی دی، دا د هغه وخت خبرې دي، کوم وخت کې چې په مونځ کې د ډيرو اعمالو کولو ګنجائش وو، يا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دير وقتي مجبوری نه داسې کړی وو او د وختي مجبوری نه يو عارضي عمل سره کوم چې يې يو نيم ځلې کړی وو دا د امت د پاره مستمره مسنونه قاعده نه شي جوړيدی، بعضې خلک دا حديث وويني نو خپل ماشومان مساجدو ته راولي او په اوږو باندې يې کينوي او مونځ کوي چې دا ددې خلکو په حديثو باندې د پوهې نه لرلو دليل دی اګر چې دوي ځان ته اهل حديث هم وايي. (المرقات ٣/٧٠).

په مونځ کې داسويلي کولو په وخت کې خوله بنده ساتل په کار دي

﴿٨﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ

ابوسعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل په تاسو کې چاته مونځ کې اسويلې راشي

فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ». (رَوَاهُ مُسلم)[2] وَفِي رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ

نو هغه دې حتی الامکان اوسيلی منع کړي، ځکه چې شيطان (خولې ته) ننوځي. او د بخاري الفاظ دادي،

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: " إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ وَلَا يَقُلْ: هَا

ابوهريره نه تاسو کې چاته مونځ کې اوسيلی راشي حتی الامکان يې منع کوئ او هامه وايي (لکه څنګه چې

---

(١) أخرجه مسلم ١/٣٨٦ رقم الحديث: ٤٢-٥٤٣، والنسائي ٣/١٠ رقم الحديث: ١٢٠٥ وأحمد في المسند ٥/٢٩٦.

(٢) أخرجه مسلم في صحيحه ٤/٢٢٩٣ رقم الحديث: ٥٧- ٢٩٩٥، وأبوداؤد ٥/٢٨٧ رقم الحديث: ٥٠٢٧، والترمذي ٢/٢٠٦ رقم الحديث: ٣٧٠.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَإِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ يَضْحَكُ مِنْهُ "
داسويلي په وخت بې اختياره د خولې نه دا لفظ اوځي) ځکه چې دا د شيطان طرف نه دی او هغه خاندي.

توضيح: تَثَاءَبَ: د ډير خوراک او درونـد بدن او نارستی د وجې نه اوسيلی راځي او عبادت کې د ناراستۍ او غفلت ذريعه جوړيږي، په دې شيطان خوشحاله کيږي، ځکه يې نسبت شيطان طرف ته دی. (المرقات ۳/۷۰).

اسلام د دې علاج دا ښودلی، چې خوله بنده کړئ، چې د شيطان وسوسو لاره بنده شي، دې سره د انسان شکل بدل شي، نو شيطان وايي د انسان مکروه شکل ته وګوري او وخاندي. د اوسيلي د ختميدو يو صورت دا هم دی چې، زړه کې خيال کوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کله هم نه دی راغلی.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په مونځ کې جن نيول او پريښودل

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ عِفْرِيتًا مِنَ الْجِنِّ
ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي نن شپه د جناتو نه يو ديو (يعنې سرکش
تَفَلَّتَ الْبَارِحَةَ لِيَقْطَعَ عَلَيَّ صَلَاتِي فَأَمْكَنَنِي اللهُ مِنْهُ
شيطان) زما خواته راغې دې د پاره چې زما مونځ کې خلل واچوي الله تعالى ماته په ده باندې قدرت راکړو
فَأَخَذْتُهُ فَأَرَدْتُ أَنْ أَرْبِطَهُ عَلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ حَتَّى تَنْظُرُوا إِلَيْهِ كُلُّكُمْ
ما ونيولو او وې غوښتل چې د مسجد نبوي يوې ستنې پسې يې وترم چې تاسو ټول يې وګورئ، نو ما ته
فَذَكَرْتُ دَعْوَةَ أَخِي سُلَيْمَانَ: ﴿رَبِّ هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي
د خپل ورور سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ دا دعا رايادې شوه: اى الله! ماته داسې بادشاهي راکړې چې مناسب نه وي
لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي﴾ فَرَدَدْتُهُ خَاسِئًا" (بخاري، مسلم)[1]
د ما نه غير بل چا ته د ما نه پس، نو ما دا شيطان ذليله کړو او پرې مې ښود و.

توضيح: عفريتا: سرکش ديو او خبيث پيري ته ويل کيږي، دا لفظ د انسان د پاره هم استعماليږي، ځکه من الجن نه يې د دې خبرې وضاحت کړی دی، چې عفريت د جناتو نه دی. (المرقات ۳/۷۱).

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/٥٥٤، رقم الحديث: ٤٦١، ومسلم في الصحيح ۱/۳۸٤ رقم الحديث: ۳۹-٥٤١، أخرجه أحمد في المسند ۲/۲۹۸.

تفلت: باب **تفعل** نه د راخلاصيدو په معنى راځي سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ لوى لوى جنات په جزيرو او غارونو کې بند کړي دي د دې نه دا سرکش و تختيدو او د خباثت سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مونځ خراب کيدو د پاره راغلى. (المرقات ۳/۷۱).

حق تنظروا اليه: دې نه معلومه شوه چې، جن نيولو سره تړلى هم شي، دا يو کثيف مخلوق دى لطيف نه دى، دويمه خبره دا معلومه شوه چې د جنات وجود شته، د دې وجود د قرآن او حديث نه او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د واقعاتو نه ثابت دي، دې باندې د امت اجماع ده، دوي خپل منځ کې واده کېږي، اولاد يې پيدا کېږي، د بعضې انسانانو سره هم واده کېږي، جنات خوري څکي او خوب کوي، جماع کوي، د دې ټول احوال **آكام المرجان في احكام الجان** کې مذکور دي، علامه سيوطى رَحِمَهُ اللهُ **لقط المرجان في احكام الجان** کې د دوي تاريخ پيدائش او وجود هر څه ذکر کړي دي د دې دلائلو نه پس چې څوک د دې نه انکار کوي، هغه د سرسيد احمد خان په شان ملحد کيدى شي. (المرقات ۳/۷۲).

فذكرت دعوة اخي: څنګه چې حضرت سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ ته په جناتو باندې تصرف حاصل وو، د غه رنګ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته هم حاصل وو، خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل ورور سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ د دعا د وجې نه تصرف استعمال نه کړو. (المرقات ۷۲-۳/۷۳).

خاسئا: ذليل خوار په معنى دى، سپى چې کله ورتلى شي او پاڅولى شي، د هغه د پاره اخساء لفظ استعماليږي. (المرقات ۳/۷۳).

امام ته د لقمې ورکولو صورت

﴿۱۰﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِهِ

سهل بن سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چا ته چې مونځ کې څه خبره راشي

فَلْيُسَبِّحْ فَإِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ » . وَ فِي

هغه ته په کار دي چې سبحان الله ووايي، ځکه چې لاسونو ته پرې ورکول د ښځو د پاره خاص دي. او په

رِوَايَةٍ : قَالَ : « التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ وَ التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ » . (متفق عليه)[1].

يو روايت کې دا الفاظ دي وايي: سبحان الله د سړو د پاره خاص دي او پرې قې وهل د زنانو د پاره خاص دي.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۷۷، رقم الحديث: ۱۲۰٤، ومسلم في الصحيح ۱/۳۱٦ رقم الحديث: ۱۰۲-٤۲۱، وأبو داود ۱/۵۷۸ رقم الحديث: ۹٤۰، والنسائي ۲/۷۷، رقم الحديث: ۷۸٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: نابه: نأب ينوب دا د **نصر ينصر** باب نه دی په مونځ کې دننه څه واقعه يا حادثه راتلو ته ويل کېږي. (المرقات ۳/۷۳، الکاشف ۲/۴۷۵).

مطلب دا دی چې مونځ کې يو خاص واقعه راشي، مثلاً امام ته مونځ کې سهوه راشي او هغه ته لقمه ورکولو ضرورت راشي، که داسی صورت کې که مونځ ګزار سړی وي، نو **سبحان الله** دې ووايي چې سړی مونځ کې مشغول وي او که زنانه وي او مونځ کې مشغوله وه نو دا دې **سبحان الله** نه وايي ځکه چې د دې آواز هم پرده دی، هغه دې د ښځې لاس تلي باندې د ګس لاس بره حصه په داسې اندازکې ووهي، چې د پرق صورت جوړ نه شي، ځکه چې بيا دې سره بيا مونځ ماتيږي، بهر حال د مونځ نه د بهر سړې او يا د امام د پاره د تنبيه دغه صورتونه دي، د جمهورو په نزد باندې داسې دي. او د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ يو روايت دی، چې سړې او زنانه کې هيڅ فرق نشته، دواړو د پاره تسبيح مقرر ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۱۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ هُوَ

عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې مونږ به سلام اچولو په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې په داسې حال کې

فِي الصَّلَاةِ قَبْلَ أَنْ نَأْتِيَ أَرْضَ الْحَبَشَةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا

چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به په مونځ کې ؤ مخکې دتللونه حبشې ته او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د سلام جواب راکولو کله چې

رَجَعْنَا مِنْ أَرْضِ الْحَبَشَةِ أَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي

مونږ د ملک حبشه نه واپس شو، زه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې حاضر شوم او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په مونځ کې ؤ

فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ حَتّٰى إِذَا قَضَى صَلَاتَهُ قَالَ: « إِنَّ اللهَ

ما سلام وکړو خو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ جواب رانه کړو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې کله د مونځ نه فارغ شوو وې فرمايل الله تعالى

يُحْدِثُ مِنْ أَمْرِهِ مَا يَشَاءُ وَ إِنْ مِمَّا أَحْدَثَ أَنْ لَا تَتَكَلَّمُوْا

چې خپل کوم حکم ښکاره کول وغواړي نو ظاهر کوي يې الله تعالى اوس دا حکم ښکاره کړو چې خبرې مه

فِي الصَّلَاةِ ». فَرَدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ. وَ قَالَ: « إِنَّمَا الصَّلَاةُ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَ ذِكْرِ اللهِ

کوئ په مونځ کې بيايې زما د سلام جواب وکړو او دې نه پس يې وفرمايل مونځ صرف د قرآن اود الله د ذکر

فَإِذَا كُنْتَ فِيهَا فَلْيَكُنْ ذٰلِكَ شَأْنُكَ » . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

د پاره دی کله چې تاسو په مونځ کې یئ ستاسو هم دا حال دی، یعنې صرف قرآن وایې او د الله ذکر کوئ.

په مونځ کې په اشارې سره د سلام جواب ورکول څنګه دي

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قُلْتُ لِبِلَالٍ : كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْهِم

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي ما د بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو چې څنګه جواب به ورکولو نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ چې

حِيْنَ كَانُوْا يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ ؟ قَالَ : كَانَ يُشِيْرُ بِيَدِهِ . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[2].

کله به په مونځ کې ؤاو دغه وخت به چې چا سلام وکړو بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل مونږ به په لاس سره اشاره کوله

وَفِي رِوَايَةِ النَّسَائِيِّ نَحوه وَعوض بِلَال صُهَيْب.

توضیح: یشیر بیده: مونځ ګزار ته چې به چا د مونځ په حالت کې سلام کولو، نو په لفظونو سره ورته جواب ورکول جائز نه دي، که داسې جواب یې ورکړو، نو د ائمه اربعو په دې باندې اتفاق دی چې مونځ فاسد دی او که اشارې سره جواب ورکړي دې کې د ائمو اختلاف دی.(المرقات ۳/۷۵).

د فقهاو اختلاف: امام مالک، امام شافعي او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد باندې اشارې سره د سلام جواب ورکول جائز دي، د احنافو په نزد باندې اشارې سره جواب ورکول مکروه دي، خو مونځ کېږي. (المرقات ۳/۷۵).

دلائل: جمهور زیر بحث حدیث نه استدلال کوي او وایي جواب باللسان ممنوع وګرځیده او جواب بالاشاره باقي پاتې شو، احناف وایي جواب باللسان سره سره جواب بالاشاره هم منسوخ شو، ددې تفصیل ددې باب دویم حدیث کې ذکر شوی دی، هلته دا هم دي چې اشاره مکروه تنزیهي ده، نو دا اختلاف اولی او غیر اولی پاتې شو، علماء لیکي چې سر یا لاس سره اشاره کولو مطلب دا دی، چې لاس مۀ ملاووئ، که چا مصافحه وکړه، نو مونځ یې فاسد شو.

﴿۱۳﴾ وَ عَنْ رِفَاعَةَ ابْنِ رَافِعٍ قَالَ : صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

رفاعة بن رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي یوورځ ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې مونځ وکړو نو د مونځ په دوران کې

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۶۷ رقم الحديث :۹۲٤ .

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۰٤ رقم الحديث :۳۶۸، والنسائي ۳/۵ رقم الحديث :۱۱۸۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَعَطَسْتُ فَقُلْتُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا عَلَيْهِ

ماته انتروشی راغلو نو ما وویل: تول تعریفونه الله لره دي، ډیر زیات تعریف او پاک تعریف ډیر برکت والا

كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَ يَرْضَى فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ انْصَرَفَ

تعریف څنګه چې د الله تعالی خوښ وي او هغه پرې راضي کیږي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې مونځ نه فارغ شو

فَقَالَ : « مَنِ الْمُتَكَلِّمُ فِي الصَّلَاةِ ؟ » فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّانِيَةَ

اووې فرمایل مونځ کې خبرو والا څوک ؤ، د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خفګان د وجې چا هم نه ویل، بیا دویم

فَلَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ ثُمَّ قَالَهَا الثَّالِثَةَ

ځل حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل، بیا هم چا جواب ورنه کړو، چې کله دریم ځل نبي عَلَيْهِ السَّلَام و فرمایل نو

فَقَالَ رِفَاعَةُ : أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ! فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « وَ الَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ

رفاعه وویل یا رسول الله! زه وم نبي عَلَيْهِ السَّلَام و فرمایل هغه ذات باندې قسم چې د هغه په قبضه کې زما ځان

لَقَدِ ابْتَدَرَهَا بِضْعَةٌ وَ ثَلَاثُونَ مَلَكًا أَيُّهُمْ يَصْعَدُ بِهَا ».(١)

دی، (ما ولیدل) چې دیرش فرښتو د دغې کلماتو په ورلو کې جلتې کوله، چې څوک به یې مخکې وړي.

﴿١٤﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «التَّثَاؤُبُ فِي الصَّلَاةِ

د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل مونځ کې اوسیلی کول

مِنَ الشَّيْطَانِ فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)(٢).

د شیطان نه دی، کله چې تاسو نه یو کس ته اوسیلی راشي، نو تاسو کوشش کوئ چې منع یې کړئ.

اودترمذي په بل روایت کې او د ابن ماجه په یو روایت کې دا الفاظ دي: چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام دا هم و فرمایل

وَ فِي أُخْرَى لَهُ وَ لِابْنِ مَاجَهْ: « فَلْيَضَعْ يَدَهُ عَلَى فِيهِ ».

چې مونځ کې څنګه اوسیلی راشي، نو خولې باندې لاس کیږدئ.

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٢٨٤،رقم الحديث : ٧٩٩، ومسلم في الصحيح ١/٤١٩ رقم الحديث:١٤٩-٦٠٠، وأبو داود ١/٤٨٨ رقم الحديث :٧٧٠.

(٢) أخرجه الترمذي في السنن ٢/٢٠٦ رقم الحديث :٣٧٠ ، وابن ماجه ٢/٣١٠ رقم الحديث : ٩٦٨.

په مونځ کې تشبيک منع دی

﴿۱۵﴾ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا تَوَضَّأَ أَحَدُكُمْ

کعب بن عجره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي تاسو کې چې څوک اودس وکړي،

فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ ثُمَّ خَرَجَ عَامِدًا إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يُشَبِّكَنَّ

نو ښه طريقې سره يې اودس وکړه، بيا د مونځ په اراده، باندې جومات ته لاړ شي، نو تشبيک مه کوئ د

بَيْنَ أَصَابِعِهِ فَإِنَّهُ فِي الصَّلَاةِ». (رَوَاهُ أَحْمد وَالتِّرْمِذِيّ وَالنَّسَائِيّ والدارمي)[1].

ګوتو په مينځ کې ،ګويا چې د دغه وخت په مونځ کې دی.

توضيح: فلايشبکن: علماء ليکي د يو لاس ګوتې دويم لاس په ګوتو کې دننه ورکول او لوبې کول د ې ته تشبيک ويل کېږي. او په مونځ کې تشبيک منع دی، که څوک مونځ د پاره جومات ته راځي، نو د کور نه راوتلو سره د مونځ په حکم کې دی، ده باندې د مونځ آداب خپلول واجب دي، نو تشبيک دې نه کوي. دې نه دا خبره معلومه شوه، کوم څيزونه چې د مونځ په دوران کې منع دي هغه د مونځ د پاره راتللو سره هم منع کېږي. (المرقات ۳/۷۸).

په مونځ کې يو خوا بل خوا کتلو سره ثواب کميږي

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَزَالُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ مُقْبِلًا

د حضرت ابو زر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل، الله تعالى متوجه وي

عَلَى الْعَبْدِ وَهُوَ فِي صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَلْتَفِتْ فَإِذَا الْتَفَتَ

يوبنده ته چې کله په مونځ کې وي ترڅوپورې چې يوخوا او بل خوا نه ګوري، او چې دا يو خوا او بل خوا

انْصَرَفَ عَنْهُ. [2].

وګوري، نو الله تعالى تر ې هم مخ واړوي.

توضيح: على العبد: يعنې الله تعالى بنده ته متوجه کېږي، **التفت** يو خوا بل خوا کتل مراد دي. او الله تعالى ورته فرمايي اى ابن آدمه! کوم طرف ته ګورې آيا ستا د پاره ما نه علاوه بل ښه شته، که بنده د دې

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۸۰ رقم الحديث : ۵۶۲ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۸۸، رقم الحديث :۳۸۶.

(۲) أخرجه أبو داود فى السنن ۱/۵۶۰ رقم الحديث : ۹۰۹ .

Maktaba Tul Ishaat.com

باوجود هم وګوري او دريم ځل داسې وشي، نو الله تعالى خپل مخ مبارک **مايليق بشانه** واړوي، د **انصرف عنه** مطلب هم دا دی. (المرقات ۳/۷۸).

په مونځ کې د سجدې ځای ته نظر کول په کار دی

﴿۱۷﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : « يَا أَنَسُ
دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل ای انسه ! په مونځ کې ته خپل
اجْعَلْ بَصَرَكَ حَيْثُ تَسْجُدُ » . رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِيْ سُنَنِهِ الْكَبِيرِ مِنْ طَرِيْقِ
نظر هلته ساته کوم ځای چې سجده کوې، دا روايت بيهقي په سنن کبير کې دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه په طريقې د
الْحَسَنِ عَنْ أَنَسٍ يَرْفَعُهُ . (ترمذي)[1].
حسن نقل کړی دی، دې ته جزري مرفوع ويلي دی.

توضيح: حيث تسجد: علامه طيبی رَحِمَهُ اللهُ وايي چې مستحب دا ده، چې په حالت قيام کې نظر د سجدې په ځای باندې وي، په رکوع کې نظر د قدم بره حصه باندې وي، په سجده کې نظر په پوزه باندې وي او په قعده کې نظر په لمن باندې وي. (المرقات ۳/۷۹، الكاشف ۲/۴۷۸).

بعضې علماو ليکلي دي : چې په حرم شريف کې نظر په کعبه باندې ساتل په کار دی، متاخرينو علماو دا خبره رد کړې ده. (كذا في اللمعات) (الكاشف ۲/۴۷۸، اشعة اللمعات ۱/۴۶۶).

﴿۱۸﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « يَا بُنَيَّ ! إِيَّاكَ
د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل ای زما ځويه! ځان بچ کړه د
وَ الِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّ الِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ هَلَكَةٌ . فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ
مونځ کې يو خوا اوبل خوا کتلو نه ځکه چې مونځ کې يو خوا بل خوا کتل د هلاکت سبب دی او که کتل ضروري
فَفِي التَّطَوُّعِ لَا فِي الْفَرِيْضَةِ » . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[2].
وي نو نفلو کې (څه باک نشته) خو فرضو کې کتل نه دي په کار.

توضيح: په فرائضو او نوافلو کې فرق دی، يعنې نوافلو کې تخفيف دی او ډيرو څيزونو ګنجائش په کې

---

(۱) أخرجه البيهقي في السنن الكبرى ۲/۲۸٤.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/٤۸٤ رقم الحديث :۵۸۹.

شته. او فرائضو کې نشته، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دا حدیث بطور ضابطه اخیستی دی، چې فرائضو سره د نوافلو په شان معامله کول صحیح نه ده. (المرقات ۳/۸۰).

﴿۱۹﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ يَلْحَظُ فِي الصَّلَاةِ

د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دی وایي چې : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کې د سترګو طرف

يَمِينًا وَ شِمَالًا وَلَا يَلْوِي عُنُقَهُ خَلْفَ ظَهْرِهِ.(۱)

سره نبي او ګس طرف ته کتل، خو شاته ملا طرف ته به يې څټ نه اړولو.

﴿۲۰﴾ وَ عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ رَفَعَهُ

عدی بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه او هغه د خپل پلار نه چې هغه دا حدیث نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ پورې رسولی نقل

قَالَ : « الْعُطَاسُ وَ النُّعَاسُ وَ التَّثَاؤُبُ فِي الصَّلَاةِ وَ الْحَيْضُ وَ الْقَيْءُ وَ الرُّعَافُ

کوي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي مونځ کې انتهوسی، خوب، اوسیلی راتلل، حیض، قئ او دپوزې ماتیدل

مِنَ الشَّيْطَانِ» .(۱).

دا د شیطان (د اثر) نه دي.

توضیح: دا شپږ څیزونه داسې دي، چې دې سره شیطان ډیر خوشحاله کېږي، یو حدیث کې دي، چې الله تعالی انتهوسی خوښوي او دلته فرمایي دې سره شیطان خوشحاله کېږي، دا ښکاره تعارض دی، د دې جواب دا دی کثرت سره انتهوسي وي، نو الله تعالیٰ يې نه خوښوي او چې کله کله وي بیا يې خوښوي. (المرقات ۳/۸۱).

په ژړا سره مونځ نه ماتیږي

﴿۲۱﴾ وَ عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ : أَتَيْتُ

مطرف ابن عبد الله بن شخیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل پلار نه نقل کوي، هغه ویلي دي، چې زه یو ورځ حاضر شوم د

النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ هُوَ يُصَلِّي وَ لِجَوْفِهِ أَزِيزٌ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې د غه وخت نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ کولو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دننه نه آواز راتلو

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۴۸۴ رقم الحديث :۵۸۷، والنسائي ۳/۹ رقم الحديث :۱۲۰۱ وأحمد في المسند ۱/۲۷۵.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۸۱ رقم الحديث :۲۷۴۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

كَأَزِيزِ الْمِرْجَلِ يَعْنِي : يَبْكِي وَ فِيْ رِوَايَةٍ قَالَ :

د کتوی د جوش وهلو پشان، یعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ژړل او د یو روایت الفاظ دا دي، هغوئ وویل

رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي وَ فِي صَدْرِهِ

چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما په مونځ باندې ولیدو د غه وخت د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سینې مبارکې نه د

أَزِيزٌ كَأَزِيزِ الرَّحَا مِنَ الْبُكَاءِ. (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَرَوَى النَّسَائِيُّ الرِّوَايَةَ الْأُولَى وَ أَبُو دَاوُدَ الثَّانِيَةَ)[1].

ژړندې د آواز په شان آواز راختو. (اولني حدیث نسائي روایت کړي او دویم حدیث ابوداود نقل کړی).

توضیح: **أزیز**: د جوش آواز ته ویلي کېږي، **المرجل**: دیګچي ته ویلي کېږي، دې حدیث نه معلومه شوه چې، د الله تعالی د ویرې نه مونځ کې ژړلو سره مونځ نه فاسدیږي. (المرقات ۳/۸۲).

هدایه کې لیکي که یو کس د جهنم یا د عذاب د وجې نه وژاړي دده مونځ نه فاسدیږي. یا که د جسم د درد د وجې نه وژاړي او الفاظ د آه وغیره د خولې نه ووځي، نو مونځ یې مات شو.

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ

دابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي څوک چې مونځ د پاره ودریږي، نو

فَلَا يَمْسَحِ الْحَصَى فَإِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهُ» .رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه[2].

په لاس سره دی کانې نه لرې کوي، ځکه چې رحمت مخامخ وي.

د سجدې ځای د صفا کولو د پاره پوکې مه وهئ

﴿۲۳﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ غُلَامًا لَنَا يُقَالُ لَهُ : أَفْلَحُ إِذَا

ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما یو غلام چې د هغې نوم افلح وو، ولید وچې هغه به

سَجَدَ نَفَخَ فَقَالَ : « يَا أَفْلَحُ

سجده کوله (د سجدې ځای صفا کولو د پاره) به یې پوکی وهلو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمایل : ای افلحه!

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/ ۵۵۷ رقم الحديث ۹۰٤.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱ ۵۸۱ رقم الحديث ۹٤۵ ، أخرجه الترمذي في السنن ۲ ۲۱۹، رقم الحديث :۳۷۹.

تَرِّبْ بِوَجْهَكَ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1].

خپل مخ باندې خاوره ولږوه.

په مونځ کې په تشو باندې لاس کېښودل د دوزخيانو نښه ده

﴿٢٤﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلِاخْتِصَارُ فِي الصَّلَاةِ

دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل مونځ کې اختصار يعنې (تشو

رَاحَةُ أَهْلِ النَّارِ». (رَوَاهُ فِي شرح السنة).

باندې لاس کېښودل) د جهنم د آرام اخيستلو صورت دی.

توضيح: نوټ: د اختصار او خصر پوره وضاحت ددې باب حديث نمبر (۴) کې تير شوی دی، د هغې يو جزء بيا ذکر کوم. (المرقات ۳/۸۴).

علماو د اختصار او خصر يو عجيب شکل ښودلی، علامه شمس الدين رَحِمَهُ اللهُ وايي: په مړي باندې چې کله ښځه ژاړي، نو اول خپل لاس په سينه باندې وهي، ددې نه پس بيا د شهات ګوته اوچته کړی وي يو خوا بل خوا ايې تاووي، ښه چې سترې شي، بيا دواړه لاسونه په اطرافو باندې کېږدي او سترګې پټې کړي، دا آخري حالت د جهنم والا دی. (الآن قد ندمت ولم ينفع الندم)

په مونځ کې د مار او لړم دوژلو حکم

﴿٢٥﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اقْتُلُوا الْأَسْوَدَيْنِ فِي

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ووژنئ دوه تور په

الصَّلَاةِ الْحَيَّةَ وَالْعَقْرَبَ». (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَلِلنَّسَائِيِّ مَعْنَاهُ)[2].

مونځ کې يعنې مار او لړم

توضيح: الاسودين: مار ته تغليباً تور ويلی شوی دی، ګيني د سپين او سور مارانو ذکر هم دلته دی، عربي کې د اسود لفظ هر قسم مار د پاره مستعمل دی. او لړم خو عموما تور وي، الله تعالى دې نور هم تور کړي. (المرقات ۳/۸۴).

---

(١) أخرجه الترمذي في السنن ٢ ٢٢٠ رقم الحديث :٣٨١.

(٢) أخرجه أبو داود في السنن ١ ٥٦٦ رقم الحديث : ٩٢١ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٢ ٢٣٢، رقم الحديث :٣٩٠.

Maktaba Tul Ishaat.com

احناف فقهاء اكثريت دا وايي چې مونځ کې دې قدمه مسلسل تلل او دې ګزاره کول مونځ فاسدوي. ځکه دې قدمونو نه کم تلل او کم وهلو سره مار مړ کول په کار دي، که ډير شو، نو عمل کثير به شي او مونځ به مات شي، که مونځ فاسد شو، نو دې سره مونځ ګزار ګنهګار نه دی، د ضرورت د وجې نه مونځ ماتولی هم شي او دغه عمل دی وکړي.

علامه سرخسی رَحِمَهُ اللهُ مبسوط کې دا مسئله ليکلې ده او فرمايي تلل او مار وژلو کې څه حد مناسب نه دی، څنګه چې حديث کې د مطلق تللو او وهلو ذکر دی، داسې کول په کار دي. هغه فرمايي که مونځ کوونکی بې اوده شي، نو دغه ځای نه بغير د مونځ ماتولو نه بل ځای ته تللی شي چې څومره قدمونه وي نو دلته هم جائز دي. احناف په دې سهولت باندې فتوی نه ورکوي او فرمايي دا مباح دي، چې مونځ ګزار مونځ مات کړي او لږم مړ کړي، دغه رنګ د چا ضائع کيدل يا کوهي، اور وغيره کې د پريوتو او سوزيدو خطره وي، نو مونځ ګزار د پاره مباح دي، چې مونځ دې مات کړي او هغه دې بچ کړي. (المرقات ۳/۸۴).

اګر بينم که نابينا وچاه است اګر خاموش بنشينم ګناه است

په معمولي عمل سره مونځ نه فاسديږي

﴿۲۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي تَطَوُّعًا وَالْبَابُ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کور کې نفل مونځ باندې مشغول ؤ او دروازه به يې

عَلَيْهِ مُغْلَقٌ فَجِئْتُ فَاسْتَفْتَحْتُ فَمَشَى فَفَتَحَ لِيْ

بنده ساتله زه به کورته راغلم دروازه به مې وتکوله نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به د دروازې خلاصولو د پاره راتلو،

ثُمَّ رَجَعَ إِلَى مُصَلَّاهُ وَ ذَكَرَتْ أَنَّ الْبَابَ كَانَ فِي الْقِبْلَةِ. وروى النَّسَائِيُّ نحوه.(۱).

بيا به په مصلي باندې ودريدو، حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي دروازه قبلي طرف ته وه.

توضيح: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به نفل مونځ کې مشغول ؤ کله کله به عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دروازه ووهله، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دروازې خلاصولو د پاره وارندې کيدو او واپس به په مصلي باندې ودريدو، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حجره وړه وه، ځکه عمل کثير نه وو، نوافلو کې ګنجائش ډير وي، دا نفلو باندې محمول وو، يا د مونځ په شروع کې بعضې اعمال کيدل بيا وروسته پابندي ولږيده، فقهاء ليکي بندې

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۵۶۶/۱ رقم الحديث: ۹۲۲، وأخرجه الترمذي في السنن ۴۹۷/۲، رقم الحديث: ۶۰۱.

دروازې خلاصولو سره مونځ نه فاسديږي. که عمل قليل وي، خو د کولاوې دروازې بندولو سره مونځ فاسديږي ځکه چې دلته عمل کثير کېږي. (المرقات ٦/٨٥).

د مونځ په دوران کې که اودس مات شي نو څه به کولې شي؟

﴿٢٧﴾ وَ عَنْ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « إِذَا فَسَا

دطلق بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې کله هوا لاړه شي په غير د

أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ وَ لْيُعِدِ الصَّلَاةَ » .(رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)[1].

آوازنه ديو کس نه په مونځ کې نوهغه ته په کاردي چې لاړ شي او اودس وکړي او مونځ دې دوباره وکړي.

وَ رَوَى التِّرْمِذِيّ مَعَ زِيَادَةٍ وَ نُقْصَانٍ . (ترمذي).

دا روايت ترمذي هم څه زيادت او نقصان سره نقل کړی دی.

توضيح: اذا فسا: يعني بغير د آواز نه يا د آواز سره هوا ووځي د مونځ په حالت کې مونځ ګزار به څه کوي؟ دې کې د فقهاو اختلاف دی. (المرقات ٣/٨٦).

د فقهاو اختلاف: د جمهورو ائمو په نزد باندې هر صورت کې دې مونځ مات کړي او نوی اودس دې وکړي او سر نه دې مونځ وکړي، ائمه احناف فرمايي بهتر او افضل دا ده، چې مونځ دی بيا سر نه وکړي، خو د فقهي د ضوابطو او شرائطو مطابق که يو کس مونځ نه ماتوي او ځي اودس کوي او واپس راتللو سره زور مونځ پوره کوي، نو جائز دي.

دلائل: جمهور د زير بحث حضرت طلق بن علي روايت نه استدلال کوي، دې کې د مونځ دوباره کولو حکم دی. (المرقات ٣/٥١٤).

د احنافو ائمو اول دليل په ابن ماجه کې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا مرفوع حديث دی الفاظ يې دا دي: **من اصابه قئ او رعاف او قلس او مذی فلينصرف فليتوضأ ثم ليبن على صلوته وهو في ذلك لا يتكلم.** (ابن ماجه ص ٨٧)

د احنافو دويم دليل: په موطا امام مالک کې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثر دی الفاظ يې دا دي: **(ان عبدالله بن عمر كان اذا رعف انصرف فتوضأ ثم رجع فبنى ولم يتكلم) (مؤطاء مالک ص٢٧)،**

---

(١) أخرجه أبو داود في السنن ١/١٤١ رقم الحديث : ٢٠٥ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٣/٤٦٩، رقم الحديث :١١٦٦

Maktaba Tul Ishaat.com

دريم دليل: د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثر دی موطا امام مالک کې الفاظ يې دا دي: **مالک بلغه ان عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كان يرعف فيخرج فيغسل الدم ثم يرجع فيبنى على ما قد صلى** (ص۲۷) دا څه لوی اختلاف نه دی احنافو په نزد باندې اعاده افضله ده او بناء جائزه ده، کومو احاديثو کې چې د اعادې حکم دی هغه افضليت باندې محمول دی او کوم چې په بناء باندې دی هغه جواز بيان د پاره دی، عمل په دواړو باندې راغلی.

که مونځ کې اودس مات شو نو په پوزه باندې لاس کيږده او ووځه

﴿۲۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَحْدَثَ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَأْخُذْ بِأَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْصَرِفْ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

دعائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې کله بې اودسه شي يو کس پ ته تاسو کې په مونځ کې هغه ته په کار دي چې خپله پوزه دې ونيسي او مونځ نه دې ووځي.

توضيح: فليأخذ بأنفه: يعنې مونځ کې د چا نه هوا خارج شوه او د صفونو منځ کې ولاړ وو، اوس که اوځي، نو خلک به وايي چې هوا يې خارج شوه او که نه اوځي او مونځ جاري ساتي، نو لويه ګناه ده، بلکې د کفر خطره ده، دې کس سره دوه صورتونه دي، دې ذکر په دې حديث کې وشو چې خپله پوزه دې ونيسي خلکو ته به پته ولږي چې پوزه يې ماته شوه، دې صورت نه احناف يو عجيبه مسئله راوباسي هغه دا چې د وينې سره اودس ماتيږي او که اودس مات نه شو، نو دا خلکو ته څنګه ښائي چې زما د پوزې نه وينه تلې ده، دې سره مې اودس مات شو، اوس که وينې سره اودس نه ماتيږي، لکه مسلک د شوافعو، نو بيا څنګه حيله کوي، ځکه چې خلک به وايي چې د وينې سره خو اودس نه ماتيږي د دې کس خو هوا خارج شوې ده، ځکه تختي. (المرقات ۳/۸۷).

دويم صورت ورسره دا دی، په صف کې دې ودريږي او مونځ دې مات کړي صرف خلکو سره دې کينې او پاڅي مونځ دې نه وايي، دا د هغه وخت خبره ده، چې کله صفونو نه وتل ګران وي.

د سلام نه بغير د مونځ نه دوتلو حکم

﴿۲۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أَحْدَثَ

دعبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي کله چې اودس مات شي

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/٦٦٦ رقم الحديث: ۱۱۱٤

أَحَدُكُمْ وَ قَدْ جَلَسَ فِي آخِرِ صَلَاتِهِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ فَقَدْ

په تاسو کې د يو کس هغه وخت چې د خپل مونځ اخري قعده کې ؤ او سلام يې ونه کړ خولو نو د دې کس

جَازَتْ صَلَاتُهُ » . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ

مونځ پوره شو. ترمذي دا روايت کړی دی او وايي دا يو داسې حديث دی د دې اسناد مضبوط نه دی او

وَ قَدِ اضْطَرَبُوا فِي إِسْنَادِهِ. (ترمذي)[1].

دوی د دې په اسناد کې مضطرب شوي دي.

توضيح: فقد جازت صلوته: يعنې که يو مونځ ګزار د تشهد په مقدار قعده آخيرنۍ کې کيناستو او بيا يې اودس مات شو، نو زير بحث حديث وايي چې دده مونځ اوشو. او دا د امام صاحب رحمه الله مسلک هم دی هغه فرمايي مونځ کې سلام سره وتل واجب دي، يو کس اختياري طور باندې منافی صلوة عمل سره مونځ نه وځي فرض يې پوره شو اګرچې واجب پاتې کيدو سره واجب الاعاده دی (المرقات ۳/۸۷) امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي د دې کس مونځ فاسد شو، ځکه چې د دوی په نزد باندې خاص سلام سره وتل فرض دي او هغه فرض پوره نه شو. بهر حال مونځ دوباره د دواړو په نزد باندې ضروري دی، فرق صرف دومره دی امام صاحب په نزد باندې واجب دی. او امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې فرض دی، زير بحث حديث د امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ دليل دی، اګر چې په دې کې د اودس ماتي عمل قصداً نه دی شوی، خو د مونځ کونکي د فعل نه دی او سلام نه بغير شوی دی، دې حد پورې د امام صاحب دليل دی، شوافع حضرات دې ته مضطرب وايي. مطلب دا چې دا حديث ضعيف دی، مطلب دا چې راويانو ته صحيح طور باندې ياد نه دی. (المرقات ۸/۸۸).

ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ دا حديث نه ضعيف ګرځولی دی او نه يې مضطرب ګڼلې، بلکې هغه فرمايي چې دا حديث دومره ډيرو طريقو سره وارد دی، چې دا حديث د حسن درجې ته رسيدلی. امام طحاوي دا حديث ګڼو طريقو سره نقل کړی دی. (المرقات ۸/۸۸).

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۳۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ فَلَمَّا

ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ د پاره تشريف راوړو او کله چې يې د

Maktaba Tul Ishaat.com

كَبَّرَ انْصَرَفَ وَ أَوْمَأَ إِلَيْهِمْ أَنْ كَمَا

تکبیر کولو اراده وکړه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وروسته لاړو او صحابو ته يې اشاره وکړه چې په خپلو ځايونو باندې

كُنْتُمْ . ثُمَّ خَرَجَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ جَاءَ وَ

ودريږئ، جومات نه بهر شو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غسل وکړو او په دغه حالت کې يې تشريف راوړو، او

رَأْسُهُ يَقْطُرُ فَصَلَّى بِهِمْ . فَلَمَّا

د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سر مبارک نه د اوبو قطرې پريوتې، بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ صحابو ته مونځ ورکړو، کله چې د

صَلَّى قَالَ: «إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا فنسيت أَن أَغْتَسِل» .(رَوَاهُ أَحْمد ،مؤطأ مالک)[1].

مونځ نه فارغ شو وې فرمايل ماته د غسل حاجت وو، خو مانه غسل هير شوی وو.

د ګرمۍ نه د بچ کيدو د پاره په کپړه باندې سجده کول جائز دي

﴿۳۱﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ : كُنْتُ أُصَلِّي الظُّهْرَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې ما به د ماسپښين مونځ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کولو او په يو

فَآخُذُ قَبْضَةً مِنَ الْحَصٰى لِتَبْرُدَ فِي كَفِّي

موټي کې به موکانې اخيستل چې زمونږ په لاس کې يخ شي چنانچه (د سجدې په ځای کې) به مود سختې

أَضَعُهَا لِجَبْهَتِي أَسْجُدُ عَلَيْهَا لِشِدَّةِ الْحَرِّ. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد، وروى النَّسَائِيّ نحوه)[2].

ګرمۍ د وجې نه کانې د سجدې په وخت کې د تندي نه لاندې کيښودل.

﴿۳۲﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ : قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَسَمِعْنَاهُ

ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يوورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کولو دپاره ولاړو ما واوريدل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

يَقُولُ : « أَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ » ثُمَّ قَالَ : « أَلْعَنُكَ بِلَعْنَةِ

فرمايل: زه ستا نه د الله تعالى پناه غواړم، بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ داو فرمايل زه په تا باندې لعنت کوم لعنت د

اللهِ » ثَلَاثًا وَ بَسَطَ يَدَهُ كَأَنَّهُ

د الله تعالى دې وي په تا باندې دري ځلې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپل لاس مبارک داسې خواره کړل، ګويا چې يو

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في سننه ۳۸۵/۱ رقم الحديث: ۱۲۲۰، وأحمد في المسند ۴۴۸/۲.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۲۸۲/۱ رقم الحديث : ۳۹۹ .

يَتَنَاوَلُ شَيْئًا فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الصَّلَاةِ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ سَمِعْنَاكَ

ځيزرانيسي كله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مونځ نه فارغ شو، مونږ وويل يارسول الله! نن مونږ واوريده دتاسو نه

تَقُولُ فِي الصَّلَاةِ شَيْئًا لَمْ نَسْمَعْكَ تَقُولُهُ قَبْلَ ذَلِكَ وَ رَأَيْنَاكَ بَسَطْتَ يَدَكَ

په مونځ كې داسې خبره چې كله هم مونږ تاسو نه نه وه اوريدلې او مونږ نن تاسو په لاس خوځيد وهم وليدئ

قَالَ : " إِنَّ عَدُوَّ اللهِ إِبْلِيسَ جَاءَ بِشِهَابٍ مِنْ نَارٍ لِيَجْعَلَهُ فِي وَجْهِي

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل دالله دشمن شيطان په لاس كې داورشغله راوړې وه چې زما په خوله كې يې واچوي

فَقُلْتُ أَعُوذُ بِاللهِ مِنْكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . ثُمَّ قُلْتُ : أَلْعَنُكَ

ما دري ځلې دا وويل چې زه تانه په الله تعالى باندې پناه غواړم، بيا ما وويل زه په تا باندې لعنت كوم د

بِلَعْنَةِ اللهِ التَّامَّةِ فَلَمْ يَسْتَأْخِرْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ ثُمَّ

الله تعالى پوره لعنت دې وي په تاباندې، هغه اخوانه شو دا (الفاظ) يې دري ځلې وويل بيا چې اخوانه شو

أَرَدْتُ أَخْذَهُ وَ اللهِ لَوْلَا دَعْوَةُ أَخِينَا سُلَيْمَانَ لَأَصْبَحَ

ماهغه نيول غوښتل، خو په الله تعالى قسم كه زما د ورور سليمان عَلَيْهِ السَّلَامُ دعا نه وى، نو دسحر پورې به

مُوثَقًا يَلْعَبُ بِهِ وِلْدَانُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ. (رَوَاهُ مُسلم)[1].

مې ترلى وى او د مدينې ماشومانو به پرې لوبې كولى.

په اشارې سره د سلام جواب ځنګه دى

﴿۳۳﴾ وَ عَنْ نَافِعٍ قَالَ : إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ مَرَّ عَلَى رَجُلٍ وَ هُوَ يُصَلِّي

دنافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې يوورځ ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو كس باندې تيرشو، چې هغه مونځ كولو

فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَرَدَّ الرَّجُلُ كَلَامًا

حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دغه كس سلام واچولو او دغه كس د سلام جواب په ژبې سره وركړو

فَرَجَعَ إِلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ فَقَالَ لَهُ : إِذَا سُلِّمَ عَلَى أَحَدِكُمْ وَ هُوَ يُصَلِّي

عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته راغى اووې فرمايل تاسوته كه د مونځ په حالت كې څوك سلام وكړي هغه

---

(۱) أخرجه مسلم ۳۸۵/۱ رقم الحديث : ٤٠-٥٤٢ ، والنسائي ۱۳/۳ رقم الحديث : ۱۲۱۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلَا يَتَكَلَّمْ وَلْيُشِرْ بِيَدِهِ . (رَوَاهُ مَالك)[1].

دې خبرې نه کوي، بلکې خپل لاس اشارې سره دې جواب ورکړي.

توضيح: وَلْيُشِرْ بيده: دا مسئله دې نه مخکې حديث نمبر (۱۲) کې تفصيلي ذکر شوې ده. بهر حال احناف وايي چې دا حکم په شروع کې ؤ، بيا موقوف شو، باقي ائمه د لاس اشارې سره جواب اوس هم جائز ګڼي، د احنافو په نزد باندې مکروه تنزيهي دی، يعنې خلاف اولی دی، په دې صورت کې اختلاف ختميږي. (المرقات ۳/۹۲).

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱۶۸/۱ رقم الحديث : ۷۶ ، من كتاب قصر الصلاة.

بَاب السَّهْو:
د سجده سهوې بيان

سهايسهو د نصر ينصر نه په معنى د هيريد و سره دى، ابن اثير رَحِمَهُ اللَّهُ نهاية كې ليكلي دي: (السهو في الشيء تركه من غير علم والسهو عن الشئ تركه مع العلم) دا دېر ښه فرق دى، دې نه دا خبره ظاهره شوه، چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته چې مونځ كې څومره ځلې سهوه شوې ده هغه ړومبى قسم سهوه ده، يعنې ترك الشيء من غير علم او دويم قسم سهوه حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته نه ده شوې، د دې مذمت قرآن كريم كې وارد دى: ﴿الَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾ (ماعون آيت: ۵). نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته اولنى سهوه تكويني طور باندې شوې وه، چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ عمل د امت د پاره عملي نمونه جوړه شي، شرعي اخبار او احكام بيانولو كې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په اقوالو كې سهوه نه ده شوې، خو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په افعالو كې سهوه كيده، دې كې حكمت وو، چې د امت خلك د سهوې مسائل زده كړي، د مونځ سنن او مستحبات كه پاتې شي دې سره مونځ نه فاسديږي، بلكې مونځ صحيح وي، خو د سنتو او مستحباتو چې كوم ثواب دى هغه نه ملاويږي، كه د مونځ فرائضو نه يو څيز سهواً يا عمداً پاتې شي، نو مونځ فاسديږي، ددې څه تدارك هم نشته، بلكې مونځ دوباره كول دي او اعاده فرض ده، كه مونځ كې يو واجب قصداً يا سهواً پاتې شي د دې هم علاج نشته مونځ دوباره كول او اعاده واجب ده. (المرقات ۳/۹۲)

كه واجب سهواً پاتې شي، يا فرضو كې تقديم او تاخير اوشي دې صورت كې ددې علاج سهوه ده، قعده اخيره كې د يو سلام نه پس دوه سجدې كول دي او بيا دې د سر نه تسهد شروع كړي او سلام دى واړوي، دې ته سجده سهوه ويلى شي.

اَلْفَصْل الأول:
كه د ركعتونو په شمار كې شك شونو څه كول په كار دي

﴿۱﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّي

ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي تاسو كې چې څوك كله او دريږي د مونځ

جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَلَبَّسَ عَلَيْهِ حَتَّى لَا يَدْرِيَ كَمْ

كولو د پاره نو دې خواته شيطان راځي او دا په شك كې اچوي تر دې چې ده ته يادنه وي چې ده څو ركعاته

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى؟ فَإِذَا وَجَدَ ذٰلِكَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْجُدْ سِجْدَتَيْنِ وَ هُوَ جَالِسٌ ».(۱).

مونځ وکړکه تاسوته داسې صورت راشي نوپه کاردي چې آخيرنی قعده کې کيني اودوه سجدې وکړي

توضيح: حق لايدري کم صلى: په دې بحث کې د فقهاء کرامو د اختلاف بيانولو نه مخکې ضروري ده چې ددې موضوع متعلق کوم آحاديث دي په هغې باندې بحث وشي (المرقات ۳/۹۳).

د مونځ په دوران کې يو کس ته د رکعاتونو شمار کې شک شو، هغه به څه کوي دې کې مختلف احاديث راغلي، دغه شان د فقهاو په منځ کې هم اختلاف دی. دې مسئله کې څلور قسمه احاديث مختلف انداز کې ذکر دي: (۱) هغه احاديث چې هغې کې بناء على الاقل حکم وي مثال په طور که شک په دوه يا دريو رکعاتو کې شو هغه دې دوه شمار کړي او که څلور او دريو کې تردد شو، نو دري دې شمار کړي. د فصل اول په دويم حديث کې دا حکم مذکور دی او ددې باب په آخري حديث کې هم دا حکم مذکور دی.

(۲) هغه حديث چې هغې کې دا بيان وي چې د شک صورت کې (تحری) يعنې سوچ کولو سره غالب ګومان او جانب راجح باندې عمل کول په کار دي، لکه ددې باب فصل اول کې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث نمبر (۳) کې دي: (**واذا شک احدکم في الصلوة فليتحر الصواب**)

(۳) هغه حديث کې دا حکم مذکور دی چې د شک صورت کې مونځ د سر نه کول په کار دي دا قسم روايت طبراني کې موجود دی، الفاظ دا دي: (**عن عبادة ابن صامت ان رسول الله** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **سئل عن رجل سها في صلوة فلم يدرِ کَمْ صلى فقال ليعد صلوته**) (بحواله اعلاء السنن)

(۴) هغه روايات دي چې مجمل دي دې کې تفصيل نشته، صرف دومره دي چې د سهوې په صورت کې سجده سهوه کول.

د فقهاو اختلاف: دا مختلف روايت په نظر کې نيولو سره فقهاء کرامو په خپل فقهي نظر سره څه نا څه حديث باندې عمل کولو فتوای ورکړې ده امام شعبي او اوزاعي فتوای ورکړې، د شک په صورت کې اعاده هر حالت کې لازم ده، دوی په دريم قسم روايا تو باندې عمل کړی دی. حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ او بعضې سلف څلورم قسم مجمل او مبهم روايا تو باندې فتوی ورکړې ده، هر حالت کې سجده سهوه ده، دا کافي ده، که د رکعات په صورت کې وي يا د بل څه د وجې وي سجده سهوه دې وکړي، امام شافعي، امام مالک، امام احمد بن حنبل رحمهم الله اصولي طور باندې فتوی ورکړې، بناء على الاقل شک پرېږده او يقين باندې عمل وکړه، دوی اول قسم روايا تو باندې عمل وکړو.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۰٤/۳،رقم الحديث : ۱۲۳۲، ومسلم في الصحيح ۳۹۸/۱ رقم الحديث:۸۲-۳۸۹، وأبو داود ٦۲۳/۱ رقم الحديث :۱۰۳۰، والنسائي ۳۰/۳، رقم الحديث: ۱۲۵۲ .

بره ذکر شوو فقهاو یو قسم احادیث اخیستي او باقي یې ترک کړي. امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ او ائمه احنافو په دې ټولو باندې عمل کولو ښائسته صورت ذکر کړی دی فرمایي دا روایات مختلفو اشخاصو باندې محمول دي، مثلاً که یو کس په اول ځل باندې شک شوی وایې چې دا کس دې اول مونځ ختم کړي او شروع نه دې بیا مونځ وکړي د استیناف روایت دې باندې محمول دی.

که د یو کس عادت وې هغه نه هیریږي او شک کوي داسې کس دې تحری وکړي او صحیح صورت معلومولو کوشش دې وکړي، تحري والا روایات دې کس باندې محمول دي، دا دې غالب ګومان باندې عمل وکړي او که د شک صورت داسې وي، چې هغه مساوي وې جانب راجح فیصله نه شي کولی، داسې صورت کې بناء علی الاقل روایاتو باندې عمل او کړئ او مجمل روایات په دغه درې صورتونو باندې حمل کړئ، داسې به په دریو واړو روایاتو باندې عمل راشي. (**فللّٰه در ابي حنيفة ما ادق نظره والطف فكره**) (المرقات ۳/۹۳).

سجده سهوه د سلام نه مخکې په کار ده او که وروسته؟

﴿۲﴾ وَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ :
عطاء بن یسار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د ابو سعید خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت کړی دی چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمایل
« إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِيْ صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلَّى ثَلَاثًا أَمْ أَرْبَعًا
کله چې تاسو کې یو کس د مونځ په منځ کې شک وکړو او یاد ورته نه وي چې ده درې رکعته کړي او که څلور
فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ وَلْيَبْنِ عَلٰى مَا اسْتَيْقَنَ
ده ته په کار دي چې خپل شک دې ختم کړي او کوم عدد باندې چې یې یقین وي په هغه باندې دې بناء وکړي
ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ فَإِنْ كَانَ صَلَّى خَمْسًا شَفَعْنَ لَهُ
بیادې سجده وکړي دوه سجدې مخکې د سلام اړولو نه، که پنځه رکعته یې کړي وي نو جفت به شي دغه
صَلَاتَهُ وَ إِنْ كَانَ صَلَّى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ كَانَتَا تَرْغِيمًا لِلشَّيْطَانِ » . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)(۱)
پنځه رکعته د دوو سجدو سره او که پوره څلور رکعته یې کړي وي نو دا سجدې به د شیطان د ذلت سبب شي.
وَ رَوَاهُ مَالِكٌ عَنْ عَطَاءٍ مُرْسَلًا . وَ
او امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ دا روایت د عطاء رَحِمَهُ اللّٰهُ نه په طریقه د ارسال نقل کړی دی، او دا امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۴۰۰ رقم الحديث : ۸۸، ۵۷۱ ، ومالک في الموطا ۱/۹۵ رقم الحديث : ٦٢ من كتاب الصلاة.

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي رِوَايَتِهِ : « شَفَعَهَا بِهَاتَيْنِ السَّجْدَتَيْنِ ».

په يو روايت کې دا الفاظ دي: مونځ ګزار د دغه دوو سجدو په ذريعې سره پنځه رکعته جفت جوړ کړل.

توضيح: فليطرح الشک: يعنې کوم کې چې شک دی دغه شک والا صورت په شان د نشتوالي دی. او يقيني والا صورت خپل کړه مثلاً دې حديث کې دري يا څلورو کې شک شو، مشکوک صورت د څلورو دي او يقيني صورتونه دري دي، مونځ ګزار ته په کار دي چې څلور رکعاته دې پريږي او دري رکعتونو باندې دې فيصله وکړي او د سلام ګرځولو نه مخکې دې دوه سجدې وکړي. (المرقات ۳/۹۳).

فان کان صلى: دا فا د تفريع او تفصيل د پاره ده دې نه د حديث روسته د ضابطې تفصيل بيان کول مقصود دي د تفصيل خلاصه داده: که مونځ ګزار في الواقع څلور رکعاته کړي وې او د اضافې د وجې نه رکعاتونه پنځه شو دوه سجده سهوې د يو رکعت قائمقام ګرځي نو شپږ رکعاته به شي نو د **شفعن له صلواته** چې کومه جمله دي د دې جملې مطلب دا دی چې دې دوه سجدو د طاق مونځ جفت جوړ کړو يعنې پنځه رکعاته يې شپږ کړل. (المرقات ۳/۹۴).

وان کان: که في الواقع دري رکعاته کړي دي او يو رکعت په اضافې سره څلور رکعاتونه جوړ شي، نو اوس دوو سجدو ضرورت رانغې لهذا دا دوه سجدې د شيطان د ذليله کيدو د پاره شوې ځکه چې شيطان مونځ ګزار په شک کې اچولی وو چې دده مونځ کم کړي. **والحمد لله على ذلک** (المرقات ۳/۹۴).

قبل ان يسلم: دې نه معلوم شو چې سجده سهوه د سلام نه روسته ده دې باره کې د فقهاو اختلاف دی خو دا اختلاف د جواز او عدم جواز نه دی بلکې د اولی او غير اولی دی. (المرقات ۳/۹۴).

دفقهاو اختلاف: شوافع حضرات سجده سهوه مطلقا د سلام نه مخکې ګڼي او دا افضل ګڼي. د مالکيو حضراتو په نزد که د سجده سهوې وجوب مونځ کې د زيادت د وجې نه وو بيا سجده سهوه بعد السلام افضل ده يا وجوب د نقصان د وجې نه وو بيا قبل السلام افضل ده. د امام مالک د دې فرق يادساتلو د وجې نه علماو حروف ته اشاره کړې ده (**القاف بالقاف**) يعنې نقصان په صورت کې قبل السلام ده دواړو کې قاف دی **قبل السلام** کې هم او نقصان کې هم (او **الدال بالدال**) د زيادت په صورت کې بعد السلام سجده سهوه ده دواړو کې دال دی، د حروفو په اعتبار سره يو بله خبره هم يادې ساتئ قابل او هابل کې قابل قاتل دی او هابل مقتول دی ځکه چې قاتل کې قاف دی. (المرقات ۳/۹۴).

څلور آسماني کتابونه او چا باندې چې نازل شوي د هغوي نومونه او کوم لغت کې نازل شوي د هغې نومونه دا زده کړي:

"**فعم**" فرقان په عربي ژبه کې په محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې نازل شوی دي.

"**تعم**" يعنې تورات په عبراني ژبه کې په موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې نازل شوی دي.

"**اسع**" يعنې انجيل په سرياني ژبه کې په عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې نازل شوی دي.

"**زبد**" زبور په يوناني ژبه کې په داود عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې نازل شوی دی.

همدارنګې دا معلومول چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د معراج په شپه کې کوم پيغمبر سره ملاقات شوی د نبي د نوم رومبی حرف او رومبی آسمان دغه ترتيب سره او و اسمانونو کې هر نبي سره ملاقات معلومول دې دپاره **اعياهما** کلمه ده. د هرپيغمبر دنوم اولنۍ حرف د دې جملې نه واخلئ دغه ترتيب سره آسمانونو کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د دغه نبي ملاقات شوی دی. مثلاً حضرت آدام عَلَيْهِ السَّلَامُ سره اول اسمان کې ملاقات شوی، دويم کې عيسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره، دريم کې يوسف عَلَيْهِ السَّلَامُ سره، څلورم کې ادريس عَلَيْهِ السَّلَامُ سره، پينځم کې هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ سره، شپږم اسمان کې موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ سره، اووم آسمان کې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ سره ملاقات شوی دی، دغه شان د جلالين د اولې حصې مصنف څوک وو، سيوطي او محلي کې دواړو کې کوم حروف مقدم وي هغه د اولې حصې مصنف دی، نو سيوطي د اولې حصې مصنف دی، ځکه چې سين حرف په ترتيب کې مقدم دی او دويمې حصې مصنف محلي دی.

بهرحال امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ په نزد موقع او محل مناسب قبل السلام باندې څوک عمل وکړي يا بعد السلام باندې يې عمل وکړي ټول جائز دي دا اختلاف د افضليت د پاره دی هر طرف ته صحيح حديث موجود دی، لکه حديث نمبر ۳، ۵، ۶، ۸ نه بالکل واضح دي.

پنځم رکعت د پاڅيدو مسئله

﴿۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ : أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ خَمْسًا

عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يو ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپخين پنځه رکعات کړي وو دهغه نه

فَقِيلَ لَهُ : أَزِيدَ فِي الصَّلَاةِ ؟ فَقَالَ : « وَمَا ذَاكَ ؟ » قَالُوا :

تپوس وکړی شو چې آيا مونځ کې زيادت وشو؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل څه وشو؟ صحابو عرض وکړو تاسو

صَلَّيْتَ خَمْسًا . فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ . وَفِي رِوَايَةٍ :

پنځه رکعاته وکړل نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د سلام اړولو نه پس دوه سجدې وکړې په دويم روايت کې دا الفاظ هم دي

قَالَ : « إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي

چې زه خو انسان يم څنګه چې تاسو خبرې کوئ دغه شان زه هم خبرې کوم مانه چې څه هيرشي ماته يې يادوئ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ

تاسو کې چاته چې مونځ کې شک شي هغه دې صحيح رايه قائم کړي په دغه رائی دې مونځ پوره کړي

ثُمَّ لِيُسَلِّمْ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ». (متفق علي)[1]

او بيا دې د سلام اړولونه پس دوه سجدې وکړي.

توضيح: صلى الظهر خمسا: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپښين څلور رکعتونو په ځای پينځه رکعاته اوکړل دا خو واضحه ده خو دا معلومه نه شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قعده اخيرنۍ کړې وه او يا يې نه وه کړې. (المرقات ۳/۹۵).

شوافع حضرات فرمايي پينځم رکعات ته د تللو د وجې نه سجده سهوه کافي ده که قعده اخيرنۍ يې کړې وي او کنه سجده سهوه هر صورت کې کافي شافي ده. د ائمه احنافو په نزد دې کې تفصيل دی که مونځګزار پينځم رکعات د پاره بغير د قعدې اخيرنۍ نه پاڅي ترڅو چې دې رکعت د رکوع او سجدې سره نه وي ملا و کړی واپس دې شي او سجده سهوې نه پس دې سلام واړوي مونځ درست دی، که رکعت يې سجدې سره ملا و کړو اوس دا کس نه شي کيناستی چې سلام واړوي بلکې دا دې يو بل رکعت هم سره وکړي شپږ رکعاته دې پوره کړي اوس فرضو کې نفل داخليدو سره مونځ باطل شو.

او دا شپږ رکعاته نفل جوړ شو فرض دې وکړي، که داسې صورت په سحر يا مازيګر کې هم راشي دې صورت کې هم مزيد دوه رکعته ملا و کړئ ټول رکعاتونه به نفل شي دا خيال مه کوئ چې د سحر او مازيګر نه پس نفل نشته دلته څنګه جائز دي؟ ددې جواب دا دی چې تراوسه پورې فرض مونځ پوره شوی نه دی، نو دا نفل بعد الفرض نه دي بلکې قبل الفرض دي که دا صورت د مانبام مونځ کې راشي دغه وخت صرف يو رکعت ورسره يوځای کړئ څلورو رکعاتو نفلو باندې سلام واړوئ فرض بيا وکړئ.

شوافعو په خپل موقف باندې دا دليل نيولی:

زير بحث حديث کې د قعده اخيري پريخودل او نه پريخودلو ذکر نه دی شوی ددې تفصيل ضرورت نشته بلکه هر دويم صورت کې صرف سجده سهوه د مونځ د صحت د پاره کافي وي. احناف فرمايي دې حديث کې **صلى الظهر** الفاظ دي دې نه اندازه کېږي چې دا هغه صورت دی چې آخره قعده کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناست وو. بيا پينځم رکعت د پاره ودريدلی وو، ځکه چې **صلى الظهر** ظاهري الفاظو مطلب

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۵۰۳،رقم الحديث : ٤٠١، ومسلم في الصحيح ۱/٤٠١ رقم الحديث:۹۲-۵۷۲، وأبو داود ۱/٦۲ رقم الحديث :۱۰۲۲، والنسائي ۳/۳۱، رقم الحديث: ۱۲٥٤ .

دا دی چې د ماسپښین مونځ یې پوره کړی دی، داسې صورت کې صرف سجده سهوه کافي ده که د آخرنۍ قعدې پاتې کیدو په صورت کې فرض مونځ دوباره کول دي. (المرقات ۳/۹۶).

بعد ماسَلَّمَ: یعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د دوو سلامونو نه پس دوه سجدې کړې وې دا د احنافو دلیل دی چې سجده بعد السلام ده، دې حدیث کې دویم روایت بیانولو سره صاحب د مشکوة **ثم یسلم ثم یسجد سجدتین** الفاظو سره هم سجده **بعد السلام** ثابت کړې ده چې د احنافو مسلک دی اختلاف او تفصیل مخکې تیر شوی او د **کلام في الصلوة** مسئله اوس راروانه ده لږ انتظار وکړي. (المرقات ۹۵-۳/۹۶).

د سجده سهوې د پاره د سلام طریقه او بیا د سجدې کولو طریقه دا ده که امام وي نو صرف نبي طرف ته دې سلام واوړي، ځکه چې دواړو طرف ته سلام اړولو سره مسبوقینو کې انتشار جوړیږي هغوي به د باقي مونځ د پاره ودریږي که منفرد سړی سجده سهوه کوي راجح دا دی چې دواړو طرف ته دې سلام واړوي بیا دې تشهد کولو نه پس سلام وواړوي.

په مونځ کې د خبرو کولو مسئله:

﴿٤﴾ عَنْ اِبْنِ سِيْرِيْنَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ابن سیرین د ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي هغه وفرمایل چې مونځ وکړو مونږ ته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

إِحْدَى صَلَاتَيِ الْعشي قَالَ ابْن سِيرِين سَمَّاهَا أَبُو هُرَيْرَةَ وَ لَكِنْ نَسِيتُ أَنَا قَالَ

د ماسپښین یا د مازیګر د کوم نوم چې ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ښودلی وو مانه هیر شوا بو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي

فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ سره دوه رکعاته وکړل د دریم رکعاته د پاره د پاځیدو په ځای سلام واړولو

فَقَامَ إِلَى خَشَبَةٍ مَعْرُوضَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَاتَّكَأَ عَلَيْهَا كَأَنَّهُ غَضْبَانُ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام دلرګي په مدد سره چې جومات کې عرضا ولاړوو اودریدو ګویا چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام غصه دی

وَ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى وَ شَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ وَ وَضَعَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام خپل ښي لاس خپل کس لاس باندې کیښودو او ګوتو کې یې ګوتې ورکړې او کیښوده خپل

خَدَّهُ الْأَيْمَنَ عَلَى ظَهْرِ كَفِّهِ الْيُسْرَى وَ خَرَجَتْ سُرْعَانُ الْقَوْمِ مِنْ أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالُوا

نبي اننګی د کس لاس په بره طرف باندې زر تلو والا خلک د جومات په دروازو ووتل صحابه کرامو وویل

Maktaba Tul Ishaat.com

قَصُرَتِ الصَّلَاةُ وَ فِي الْقَوْمِ أَبُو بَكْرٍ وَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا

آيا مونځ کې کمی راغی؟ صحابه کرامو کې ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم موجود وو

فَهَابَاهُ أَنْ يُكَلِّمَاهُ وَ فِي الْقَوْمِ رَجُلٌ فِي يَدَيْهِ طُولٌ يُقَالُ لَهُ ذُو الْيَدَيْنِ

دهغوي جرأت دتپوس نه ؤ صحابو کې یو کس ؤ چې دهغه لاس اوږد وو هغه ته ذوالیدین سره آواز کیدی

قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ ! أَنَسِيتَ أَمْ قُصِرَتِ الصَّلَاةُ

شو هغه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو یا رسول الله! آیا هیر شو درنه که مونځ کې کمی راغی؟ حضور

قَالَ : « لَمْ أَنْسَ وَ لَمْ تُقْصَرْ » فَقَالَ :

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل نه هیر شوې دي او نه مونځ کې کمی راغلی دي بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَام صحابو ته وفرمایل

« أَكَمَا يَقُولُ ذُو الْيَدَيْنِ ؟ » فَقَالُوا : نَعَمْ . فَتَقَدَّمَ

تاسو هم دا وایې څه چې ذوالیدین وویل صحابو عرض وکړو (آو) دغه خبره ده، نبي عَلَيْهِ السَّلَام مخکې شو

فَصَلَّى مَا تَرَكَ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ وَ سَجَدَ مِثْلَ

اوباقي مونځ یې پوره کړو او سلام یې واړولو او تکبیر یې وویلو او سجده یې وکړه په شان د حسب معمول

سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَ كَبَّرَ ثُمَّ كَبَّرَ وَ سَجَدَ

سجدو یا دهغې نه اوږده سجده بیایې تکبیر کولو سره سر اوچت کړو بیایې تکبیر وکړو او سجده یې وکړه د

مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ وَ كَبَّرَ فَرُبَّمَا سَأَلُوهُ

حسب معمول سجدو په شان یا اوږده سجده بیایې تکبیر کولو سره سر اوچت کړو خلکو ابن سیرین نه تپوس

ثُمَّ سَلَّمَ فَيَقُولُ نُبِّئْتُ أَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ

وکړو بیا دهغې نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَام سلام واړولو هغه وویل ماته دا خبره د عمران بن حصین د طرفه رارسیدلې

قَالَ ثُمَّ سَلَّمَ. (متفق عليه) [1]. وَ لَفْظُهُ لِلْبُخَارِيِّ

ده هغه به وویل چې بیا نبي عَلَيْهِ السَّلَام سلام واړولو دا روایت مسلم او بخاری نقل کړی خو الفاظ د بخاری دي

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ١/٥٦٢،رقم الحديث :٤٨٢، ومسلم في الصحيح ١/٤٠٣ رقم الحديث:٩٧-٥٧٣.

وَ فِي أُخْرَى لَهُمَا: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بَدَلَ «لَمْ أَنْسَ وَلَمْ تُقْصَرْ»:

اودبخاری اومسلم په یوروایت کې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې دي دوو خبرو (یعنې دمونځ دکمیدو

«كُلُّ ذَلِكَ لَمْ يَكُنْ» فَقَالَ: قَدْ كَانَ بَعْضُ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللهِ.

اویازما نه دهیریدو) کې یو خبره هم نه ده شوې ذوالیدین عرض وکړو څه خو شوې دی ای د الله رسوله.

توضیح: فقال لم انس و لم تقصر: مونځ کې خبرو کولو سره مونځ فاسدیږي او که نه او مونځ کې خبرې قصداً او نسیاناً جائز دي او که نه؟. (المرقات ۳/۱۰۳).

دا یو اختلافي مسئله ده په دې کې د فقهاو اختلاف دی:

د فقهاو اختلاف: دې باندې اتفاق دی چې د اسلام په شروع کې څه حده پورې خبرې جائز وې بیا منسوخ شوې د فقهاو په دې نسخ کې اختلاف دی، چې آیا هر قسم کلام مکمل طور باندې حرام شوی دی، او که نه د بعضې کلام اجازت اوس هم سته، ددې تفصیل دارنګه دی: د شوافعو په نزد اصلاح د صلوة د پاره قلیل کلام کول جائز دي په دې شرط چې نسیاناً وي دې نه مراد دا دی چې مونځ ګزار ته یاد نه وي چې مونځ کې ولاړیم. او د مونځ د اصلاح دپاره یې وکړې قعده وکړه وغیره تردې چې زیر بحث حدیث کې د ذوالیدین کلام دی امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي که اصلاح صلوة د پاره کلام قصدا هم وي جائز دی دې سره مونځ نه فاسدیږي. د امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ په خبرو کې اضطراب دی هر طرف ته یې یو یو قول دی بلکې ددې نه هم ډیر اقوال دي ددې ذکر کولو ضرورت نشته مجموعي طور باندې دې مسئله کې جمهور څه فرق سره یو طرف ته ولاړ دي او ائمه احناف بل طرف ته دي د ائمه احنافو په نزد هر قسم کلام منسوخ دی هر قسم کلام مفسد الصلوة دی که عمداً وي یا نسیاناً وي یا خطاء یا قصدا یا کثیرا وي هیڅ ګنجائش نشته.

دلائل: جمهورو د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د زیر بحث حدیث نه استدلال کړی دی دې کې مونځ ګزار ذوالیدین هم په وخت د مونځ کې کلام کړی دی او صحابو هم کلام کړی دی همدارنګې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم خبرې کړي دي بیا ټولو سجده سهوې سره مونځ وکړو د مونځ اعاده یې ونه کړه معلومه شوه چې خبرو سره مونځ نه فاسدیږي شوافعو دا کلام کلام نسیانا باندې حمل کړی دی او مالکیو دا کلام اصلاح د صلوة د پاره قصدا او عمدا باندې حمل کوي.

جمهورو فصل ثالث کې د عمران بن حصین حدیث نمبر (۸) نه هم استدلال کړی دی، دې کې هم داسې مضمون دی بلکې دې کې د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کور ته د تلو او واپس راتلو او د خبرو بیان دی جمهور ددې باب حدیث نمبر (۲) د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت نه هم استدلال کړی دی، دې کې د صحابو او حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خبرو ذکر دی بیا صرف سجده سهوه کافي ګڼلې ده. معلوم شول چې کلام قلیل

Maktaba Tul Ishaat.com

اصلاح صلوة دپاره وي،نو دا مفسد صلوة نه دی.د ائمه احنافو اود سفيان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ دلائل ډير دي :

(۱) حضرت معاويه بن الحكم السلمی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دی کوم چې د مشكوة باب ولايجوز من العمل فی الصلوة فصل اول کې رومبی حديث دی دې کې يوه قصه هم ده الفاظ يې دا دي: **(ان هذه الصلوة لا يصلح فيها شئ من كلام الناس)** امام مسلم دا روايت نقل کړی دی دا واضح دليل دی مونځ کې اول کلام ؤ بيا منسوخ شو، اوس مونځ کې ذکرالله، تلاوت او تسبحاتو نه علاوه بل څه جائز نه دي.

(۲) دې باب کې د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نمبر(۲) دی دې کې داراغلي چې د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د سلام جواب حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کې نه وو ورکړی او بيا يې وفرمايل: **ان في الصلوة لشغلا.**

(۳) ددې باب فصل ثاني کې د ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث نمبر(۱۱) دی ددې تخريج ابوداود کړی دی، دې کې واضح الفاظ دي الله تعالی چې کله غواړي د خپل دين په احکامو کې تبديلي کولی شي د حديث الفاظ دا دي: **(وان مما احدث الا تتكلموا في الصلوة)**

(۴) د احنافو مضبوط دليل د کلام په نسخ باندې واضح دليل دی د قرآن کريم آيت نه هم استدلال دی د حضرت زيد بن ارقم روايت دی امام مسلم په صحيح مسلم کې ذکر کړی دی الفاظ يې دا دي: **(كنا نتكلم فی الصلوة يكلم الرجل صاحبه وهو الى جنبه في الصلوة حتى نزلت ﴿وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ﴾ فامرنا بالسكوت و نهينا عن الكلام)** (مسلم، ج۱، ص ۱۰۴)

د ذواليدين د حديث جواب: ائمه احنافو زير بحث د ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د حديث نه دا جواب ورکوي چې خبرې واقعي د اسلام په شروع کې وې کوم وخت چې مونځ کې د خبرو کولو اجازت وو بيا کلام منسوخ شو جمهور د ذواليدين د واقعي نه هله استدلال کولی شي چې دا خبره ثابت کړي چې دا واقعه د کلام منسوخ کيدو نه پس ده دوي دا نه شي ثابتولی بلکې معامله ددې التپه ده.

د ذواليدين واقعه کله راغلې؟ په دې باندې اتفاق دی چې کلام په شروع کې کيدو بيا منسوخ شو اختلاف دې کې دی چې د ذواليدين دا واقعه (نسخ الكلام) نه مخکې وه يا مونځ کې کلام منسوخ کيدو نه پس راغلې ده؟ شوافع او مالکيه بلکې جمهور فرمايي د ذواليدين واقعه د نسخ الكلام نه پس ده خو څومره چې د کلام فی الصلاة کنجائش دې حديث کې دی دومره مونږ قائل يو دي نه علاوه منسوخ دی د ائمه احنافو تحقيق دادی چې د ذواليدين واقعه (نسخ الكلام) نه مخکې راغلې ده نه پس مکمل مونځ کې پابندي راغلې ده دې باندې څومره دلائل ورکړی شوي دي.(المرقات ۳/۱۰۳).

د جمهورو طرف نه يو قرينه، د يوې قرينې په طور باندې جمهور وايي چې د ذواليدين دا حديث او واقعه چې ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نقل کوي داسې وايي: **صلى بنا رسول الله** دې الفاظو نه معلوميږي چې ابوهريره

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د ذوالیدین واقعه کې موجود وو حضرت ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ (سنـ۷هـ) کې اسلام راوړی وو او د کلام د نسخې حکم ډیر مخکې راغلی وو، معلومه شوه چې په مونځ کې یو حد پورې کلام کولو اجازت اوس هم ثابت دی چې د عامې نسخې نه پس هم باقي دی دې کې نسخ باندې د فقهاو اختلاف دی.

جواب: حضرت ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ بیشک (سنـ۷هـ) کې اسلام راوړی دی خو صلی بنا الفاظو سره یقین کول چې ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دې واقعې کې موجود وو، دا صحیح نه دی ځکه داسې الفاظو سره د صحابو جماعت مراد اخستلی کېږي.

ای صلی بالمسلمین: یعنې د مسلمانانو جماعت ته حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ ورکړی وو داسې تعبیر ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دویم ځای کې هم کړی دی او څومره راویانو چې داسې تعبیر کړی دی حضرت بنوری رَحِمَهُ اللَّهُ (معارف السنن ج۳، ص ۵۱۲،) کې د اسې اولس ۱۷ مثالونه پیش کړي دي مشهور تابعي حضرت طاوس رَحِمَهُ اللَّهُ وویل **قدم علینا معاذ بن جبل... الخ** حضرت معاذ رضی الله عنه چې کله یمن ته راغی دغه وخت کې طاوس پیدا شوی هم نه وو ددې تعبیر حقیقت دا دی **ای قدم علی قومنا معاذ بن جبل الخ** (المرقات ۳/۹۸)

داسې دلته ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ **صلی بنا رسول الله** صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الفاظ هم دي دغه شان نزال بن سعد تابعي وایي: (**قال لنا رسول الله**) دلته هم **قال لقومنا** دی حالانکه نزال تابعي هلته چرته موجودیدلی شي. (المرقات ۳/۱۰۴)

دغه شان ذوالیدین په جنګ بدر کې شهید شوی وو او (سنـ۷ هـ) کې ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د هغوي د جملې واقعه څنګه ذکر کوي معلومه شوه چې دا هغه قصه ده **صلی بنا ای صلی بجماعة الصحابة**، طحاوی کې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قصه مذکور ده چې دده مخې ته د ذوالیدین دا حدیث پیش کړی شو هغوی وفرمایل: (**کان اسلام ابي هریرة بعد ماقتل ذوالیدین**) (ج۱، ص۲۹۵)

داحنافو د طرف نه اوله قرینه: په زیر بحث حدیث کې د **کلام في الصلاة** خبره ده ددې نه جمهورو استدلال کړی دی احناف فرمایي دا واقعه د جنګ بدر نه مخکې وه **نسخ الکلام في الصلوة** هجرت نه څه وخت پس مدینه منوره کې شوې ده دې باندې د احناف طرف نه چند قرائن دي: اوله قرینه داده چې زیر بحث حدیث کې د ذوالیدین ذکر دی او ذوالیدین جنګ بدر کې شهید شوی دی معلومه شوه دا قصه د جنګ بدر نه مخکې ده او د ذوالیدین شهادت باندې **نسخ الکلام في الصلوة** مکمل شوه.

دویمه قرینه: دې حدیث کې دا الفاظ دي (**ثم قام الی خشبة معروضة**) دې نه مراد ستن حنانه ده ستن

Maktaba Tul Ishaat.com

حنانه د جنګ بدر نه مخکې ورانه شوې ده دې باندې د ټولو اتفاق دی د حضور ﷺ د پاره منبر سنه ۲هـ کې تیار شوی وو، او د جنګ بدر واقعه سنه ۲هـ کې راغلې وه معلومه شوه چې حضور ﷺ د حنانه ستن حنانه ته ډډه وهل او ذوالیدین سره کلام کول دا د جنګ بدر نه مخکې واقعه ده دغه وخت کې نسخ الکلام حکم راغلی.

دریمه قرینه: دې حدیث کې ډیر اعمال، افعال او اقوال صادر شوي دي کوم چې د جمهورو په نزد هم یقینا مفسد صلوت دي مثلاً محراب نه اخوا کیدل لرکې ته ډډه وهل قبلې نه مخ اړول او حجرې ته تلل او بیا واپس راتلل او مباحثه کې قصداً او عمداً اوږد کلام کول ددې ګنجائش صرف هغه وخت دی چې مونځ کې کلام وغیره کې ډیر وسعت وو معلومه شوه دا د نسخ الکلام نه مخکې واقعه ده وروسته نه ده.

د جمهورو اعتراض: جمهورو د احنافو په دې قرینه باندې اعتراض کړی دی چې دا واقعه د بدر نه مخکې ده او په بدر کې شهید شوې وو، فرمایي تاسو ته غلط فهمي شوې ده چې جنګ بدر کې ذو الیدین شهید شوی وو داسې نه ده جنګ بدر کې ذوالشمالین شهید شوی وو د ذوالیدین نوم خرباق بن عمرو او د خزاعه د قبیلې نه وو او ذوالشمالین نو عمیر بن عمرو دی دا د بنو سلیم د قبیلې نه وو ذو الیدین د عثمان رضی الله عنه زمانې پورې ژوندی ؤ او د **کلام في الصلوة** جواز یې بیانولو (المرقات ۳/۱۰۰)

د احنافو جواب: ذوالشمالین او ذوالیدین دواړه د یو کس لقبونه وو خلکو به دې ته ذوالشمالین وئیلو چونکه بدفالي او بدشګوني په کې وه نو حضور ﷺ دې ته ذوالیدین وفرمایل عمیر یې نوم وو او خرباق یې لقب وو، خزاعه او سلیم څه ځان له قبیلې نه وې بلکې بنو سلیم د خزاعه بطن او څانګه ده.

د اټول نسبتونه صحیح دي په طبقات د ابن سعد کې یې داسې لیکلي: **ذوالیدین یقال له ذوالشمالین ایضاً**، دغه شان مبرد الکامل کې لیکلي دي: (**ذوالیدین وهو ذوالشمالین کان یسمی لهما جمیعاً**)

مسند بزار او طبراني کې یو حدیث د دواړو ذکر دی: (**صلی النبی ﷺ فقال له ذوالشمالین اقصرت الصلوة؟ قال علیه السلام کذلک یا ذالیدین؟ قال نعم**)

دې روایت نه صفا معلومیږي چې ذوالیدین او ذوالشمالین د یو کس دوه لقبه دي او جمهور د دې اقرار کوي، په بدر کې ذوالشمالین شهید شوی وو نتیجه دا راووته چې دغه ذوالشمالین ذوالیدین وو او د ذوالیدین په جنګ بدر کې شهادت واقع شوی وو لهذا زیر نظر حدیث کې دا واقعه بدر نه مخکې ده. نسخ الکلام واقعه هم مخکې ده د دې منسوخ روایت نه استدلال جائز نه دی.

د حدیث ذوالیدین نه دویم جواب: حضور ﷺ امت ته تعلیم ورکړی دی که یو امام مونځ کې غلطي وکړي هغه ته فتح ورکوئ سبحان الله لفظ سره او که زنانه وي، نو تصفیق دې کوي یعنې د ښې لاس په تلي باندې د کس لاس بره حصه ووهئ که مونځ کې د اصلاح صلوة د پاره کلام اجازت وی نو

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په دې طريقه باندې کله هم تعليم نه ورکولی معلومه شوه چې د ذوالیدین د حدیث حکم مکمل طور باندې منسوخ شوی دی د صاحب مشکوة د طرز عمل نه هم اندازه لګي چې دا حکم منسوخ شوی دی ځکه چې د دوی دې حدیث د سهوې په باب کې دې طرف ته اشاره کړې ده چې کلام فی الصلوة سهوه په طور باندې کیدی شي قصداً عمداً او اصلاحا ممکن نه دی.

د حدیث ذوالیدین دریم الزامی جواب: حدیث ذوالیدین باندې تاسو کله عمل کوئ په دې حدیث کې عمدا کلام شوی دی سوال او جواب مباحثه شوې ده د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ قبلې نه اوړیدلی دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کافي حد پورې تلی دی، کور ته تلی دی واپس راغلی دی که تاسو دې حدیث نه **کلام في الصلوة** ثابت کوئ بیا مونږ کې تلل هم او قبلې نه مخ اړول هم جائز کړئ، مونږ کې مناظره جائز کړئ ستاسو په نزد هم جائز نه دی بیا کلام ولی جائز کوئ داسې ووائي چې شروع کې داسې وو بیا منسوخ شو او مکمل منسوخ شو څه جزئي نسخ نه ده. (**في يديه طول**) ذوالیدین لقب ددې وجې نه دی ګیني هر کس د دوو لاسونو والا دی خو د نورو په نسبت ددې لاسونه لږ اوږده وو. (المرقات ۳/۱۰۰)

فربما سئلوه ثم سلم: یعنې ابن سیرین رَحِمَهُ اللهُ نه بعضې وخت خلکو تپوس کوه چې آیا ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ **ثم سلم** فرمایلی دی د سوال مطلب دا دی آیا سجده سهوه د سلام نه مخکې کیده یا بعد کې یې کوله ابن سیرین جواب کې فرمایي د ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کې ماته الفاظ یاد نه دي البته عمران بن حصین چې کله ماته دا حدیث واورولو هغې کې **ثم سلم** الفاظ دي ما دلته د ابوهریره روایت کې دا الفاظ د عمران بن حصین د روایت نه راوړې او نقل کړي مې دي. (المرقات ۳/۱۰۲).

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُحَيْنَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ صَلَّى بِهِمُ الظُّهْرَ

حضرت عبدالله ابن بحینه فرمایي یو ورځ چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابو ته د ماسپښین مونږ ورکولو

فَقَامَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ لَمْ يَجْلِسْ فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ

اولیي دوه رکعته وکړل (اوله قعده کې بغیر دناستې) نه اودریدو نور خلک هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره پاڅیدل

حَتّٰى إِذَا قَضَى الصَّلَاةَ وَ انْتَظَرَ النَّاسُ تَسْلِيمَهُ كَبَّرَ وَ هُوَ جَالِسٌ

تردې چې مونږ یې وکړو خلک د سلام په انتظار کې وو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په ناسته ناسته یې تکبیر وکړو

Maktaba Tul Ishaat.com

فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ ثُمَّ سَلَّمَ[1].

او سلام اړولو نه مخكې يې دوه سجدې اوكړې دې نه پس يې سلام واړولو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

د سجده سهوې نه پس تشهد كول په كار دي

﴿٦﴾ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ صَلَّى بِهِمْ فَسَهَا

عمران بن حصين فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلكو ته مونځ وكړونو سهوه شو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَسجدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ تَشَهَّدَ ثُمَّ سَلَّمَ.

(سلام واړولو) دوه سجدې يې وكړې هغې نه پس نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ التحيات وويله او سلام يې واړولو

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ . (ترمذي)[2].

امام ترمذى دا حديث نقل كړى او ويلي يې دي چې دا حديث حسن او غريب دى.

توضيح: فسها: دې حديث كې هغه ركن نه دى بيان كړى چې دې كې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه هير شوې دي صرف د هيرې ذكر دى، د تشهد دې حديث نه معلومه شوه چې سجده سهوې كولو نه پس يا د سر نه التحيات لوستل په كار دي او مكمل تشهد نه پس سلام اړول په كار دي. (المرقات ۳/۱۰۷).

د علماء احنافو په نزد دا بحث تير شوى دى د تشهد نه پس چې كوم درود او دعا ده هغه د اول تشهد سره لوستل په كار دي، او كه د دويم او آخري تشهد سره يو ځاى كول او لوستل په كار دي امام كرخي رَحِمَهُ اللهُ او صاحب هدايه دغه خوښ كړى دى چې سجده سهوې نه پس تشهد سره درود او دعاګانې ويل په كار دي د احنافو په دې باندې عمل دى ځينې احناف د اولني تشهد سره لوستل ويلى دى او بعضې د دواړو سره لوستل بهتر او احوط ويلى دى.

مونځ ګزار ته په اوله قعدې پريښودلو سره څه كول په كار دي

﴿٧﴾ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ الْإِمَامُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ

مغيره بن شعبه راوي دى فرمايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي كه امام د دوه ركعاتو كولو سره ودريږي

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٣/٩٢،رقم الحديث :١٢٢٤، ومسلم في الصحيح ١/٣٩٩ رقم الحديث:٨٥-٥٧، وأبو داود ١/٦٢٥ رقم الحديث :١٠٣٤، والنسائي ٣/١٩، رقم الحديث: ١٢٢٢ .

(٢) أخرجه الترمذي في السنن ٢/٢٤٠ رقم الحديث :٣٩٥.

فَإِنْ ذَكَرَ قَبْلَ أَنْ يَسْتَوِيَ قَائِمًا فَلْيَجْلِسْ وَ إِنِ اسْتَوَى قَائِمًا
که سيده کيدو نه مخکې ورته ياد شي نو هغه ته په کار دي چې کيني او که نيغ اودريدلی وو، نو اوس
فَلَا يَجْلِسْ وَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ» .(رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ)[1].
دې نه کيني او دوه سجده سهوې دې وکړي.

توضيح: فلايجلس: يعنې قعده اولى پريږدي او ودريدلې بيا دې قعدې ته نه راځي، بلکې بعضې علماء وايي چې مونځ يې ماتيږي، ځکه چې دا کس د قيام فرض نه واجب ته منتقل شو دې سره مونځ فاسديږي.

د نور الايضاح په حواشي کې ليکلي چې دا صورت خطرناک خو ډير دی که چا داسې وکړل، نو مونځ يې نه فاسديږي ځکه چې دې کس قيام فرض ترک کړی نه دی، بلکې دې کې يې تاخير وکړو قعدې نه پس دې بيا دغه قيام ته لاړشي اداء به يې کړي که پوره اودريدلی نه وي او **اقرب الى القيام** هم نه وي بلکې **اقرب الى القعود** وي دې ته واپس قعدې طرف ته تلل په کار دي اوس **اقرب الى القيام و القعود** معيار او حد څه دی؟ علماء ليکي چې د پاڅيدو په وخت کې که خپې نيغې نه وي دا **اقرب الى القعود** دی دې صورت کې څه مضائقه نشته خپل مونځ دې مکمل کړي او که خپې نيغې وي باقي بدن نيغ نه وي، نو دا کس **اقرب الى القيام** دی واپسي جائز نه ده او سجده سهوه لازم ده.

الْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۸﴾ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ : أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ صَلَّى الْعَصْرَ وَ سَلَّمَ
عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې يوورځ نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دمازيکر مونځ وکړو او سلام يې وکړ ځولو
فِيْ ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ ثُمَّ دَخَلَ مَنْزِلَهُ فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ الْخِرْبَاقُ وَ كَانَ فِيْ يَدَيْهِ
په دري رکعته کولو سره او کورته يې تشريف يوړو يو کس وويل چې دهغه نوم خرباق وو اولاسونه يې څه
طُولٌ فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ فَذَكَرَ لَهُ صَنِيعَه فَخرج غَضْبَانَ
اوږده وو اودريدو عرض يې وکړو يارسول الله! او هغه واقعه يې بيان کړه نبي عَلَيْهِ السَّلَام راووتو او په غوسه

---

(۱) أخرجه ابو داود في السنن ۶۲۹/۱ رقم الحديث : ۱۰۳۶ ؛ أخرجه ابن ماجه في سنن ۳۸۱/۱ رقم الحديث:۳۹۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَجُرُّ رِدَاءَهُ حَتَّى انْتَهَى إِلَى النَّاسِ فَقَالَ : « أَصَدَقَ هٰذَا ؟ ».

کې خپل څادر راکش کړو او خلکو خواته جومات کې ورغلو او وې فرمایل آیا ذوالیدین صحیح وایي صحابو

قَالُوا: نَعَمْ فَصَلَّى رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

وو ویل چې آونبي عَلَيْهِ السَّلَام یو رکعت وکړو بیایې سلام واړولو بیایې دوه سجدي وکړي او سلام یې واړولو.

﴿٩﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَلَّى صَلَاةً

عبد الرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي چې ویل یې چا چې مونځ وکړو

يَشُكُّ فِي النُّقْصَانِ فَلْيُصَلِّ حَتّٰى يَشُكَّ فِي الزِّيَادَةِ » . (رَوَاهُ أَحْمد)[2].

او شک یې شي په کمي کې نو هغه ته په کار دي چې بل مونځ وکړي تر دې چې د زیاتوالي شک یې شي.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

(١) أخرجه مسلم ٢٠٤/١ رقم الحديث : ١٠١-٥٧٤، وابن ماجه ٣٨٤/١ رقم الحديث : ١٢١٥.
(٢) أخرجه احمد في المسند ١٩٥/١.

بَاب سُجُود الْقُرْآن:

قال الله تعالى: ﴿وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ﴾ (سورة انشقاق آيت :۲۱).

وقال الله تعالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ارْكَعُوا وَاسْجُدُوا وَاعْبُدُوا رَبَّكُمْ﴾ (سورة حج آيت:۷۷).

په قرآن كريم كې ځينې آيتونه داسې دي چې په لوستلو يا اوريدلو سره يې سجده واجبيږي دې ته سجده د تلاوت ويل كيږي سجود القرآن نه مراد سجده د تلاوت ده، امام صاحب دې سجدې ته واجب وايي او د نورو ائمو په نزد باندې سجده د تلاوت سنت ده سجده تلاوت يوه سجده ده خو دوو تكبيرونو سره ده دويم تكبير د سجدې په وخت كې دى لاسونه غوږونو ته د وړو ضرورت نشته دغه شان د تشهد او سلام ضرورت هم نشته تكبير كولو سره پاڅيدل په خپله سلام دى سجده تلاوت د پاره نيت وي خو د آيت د تعين ضرورت نشته كوم وخت چې آيت ولولې او فوراً سجده اوكړې د نيت ضرورت نشته سجده تلاوت د پاره اودس كول قبلې ته مخ كول كپړې صفا ساتل او د پردې خيال ساتل هم ضروري دي، څنګه چې مونځ كې ضروري دي. سجده تلاوت كې هم دوه اهمې مسئلې دي اول دا چې د سجدو تعداد څومره دى په دې كې د امامانو اختلاف دى دويمه مسئله دا چې سجده تلاوت سنت ده يا واجب ده دې كې د فقهاو اختلاف دى دواړه مسئلې راتلونكي دي.

الْفَصْل الأول:

سورة نجم كې تكويني (طبعي) سجده ده

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: سَجَدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّجْمِ وَسَجَدَ مَعَهُ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)[1].

د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سورة نجم كې سجده وكړه نو د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مسلمانانو، مشركانو، جناتو او ټولو سجده وكړه.

توضيح: والجن والانس: يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سورة نجم د سجدې والا آيت اولوستلو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده وكړه او مسلمانانو هم وكړه نو ددې نه ثابت شوه چې سجده تلاوت اوريدلو او

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ٦١٤/٨، رقم الحديث :٤٨٦٢، والترمذي ٤٦٤/٢ رقم الحديث : ٥٧٥.

Maktaba Tul Ishaat.com

لوستلو والا دواړو باندې واجبيږي.(المرقات ۳/۱۰۹).

والمشركون: يعنې مشركانو او جن انس هم سجده وكړه يعنې طبعي شكل سره الله تعالى په دوي باندې سجده وكړه د قرآن اعجاز ښكاره شو يا داسې وګڼه چې حضور ﷺ د الله تعالى په حكم باندې سجده وكړه او مسلمانانو د حضور ﷺ په اطاعت كې سجده وكړه ټول حاضرينو سجده وكړه كه جنات وو يا انسانان وو دوي هم هلته حاضر وو ټولو سجده وكړه شيطان د حضور ﷺ

د لوستلونه پس آواز ورکړو **تلك الغرانيق العلى وان شفعاتهن لترتجى** دا چې يې واوريدل نو كفار خوشحاله شول او سجده كې پريوتل، خو راجح دا دى چې مشركينو كله د الله تعالى نعم باهره او قدرت كامله وليدل او واوريدل بغير د اختياره سجده كې پريوتل. باقي د غرانيق بې بنياده قصه د شان نبوت خلاف ده تقريبا ټول قابل اعتماد مفسرينو دې ته غير ثابت او غلط ويلي دي. (المرقات ۳/۱۰۹).

د سورة انشقاق او سورة علق سجدې

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : سَجَدْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي :
د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى وايي چې مونږ سجده وكړه د رسول الله ﷺ سره په
﴿إِذَا السَّمَاءُ انشَقَّتْ﴾ و ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ .(۱).
﴿إِذَا السَّمَاءُ انشَقَّتْ﴾ او ﴿اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ﴾ كې.

توضيح: في اذا السماء انشقت: احاديثو كې مختلفې سجدې د سورتونو ثابت دي خو بيان كې يې تفاوت دى بعضې احاديثو كې تعين يو شان دى او بعضې رواياتو كې انداز بدل وي دي وجې نه د قرآن كريم په سجدو كې په تعداد او مقاماتو كې اختلاف دى.(المرقات ۳/۱۱۱).

د فقهاو اختلاف: د امام مالک رحمه الله په نزد په مفصلاتو يعنې سورة نجم او سورة انشقاق او سورة علق كې سجده نشته دى، لهذا دده په نزد تعداد د سجدو يولس دى. د امام شافعي رحمه الله په نزد باندې قرآن كريم كې ټولې څوارلس سجدې دي خو د سورة په تعين كې فرق دى هغه فرمايي سورة (ص) كې سجده نشته او سورة (حج) كې د يوې په ځاى باندې دوه سجدې دي ټولې څوارلس سجدې دي. د امام احمد بن حنبل په نزد باندې ټولې پنځلس سجدې دي سورة (حج) كې د شوافعو په شان دوه سجدې منې او سورة (ص) كې يې د احنافو په شان يوه سجده منلې، نو پنځلس سجدې شوې. د احنافو په نزد باندې

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۴۰۶ رقم الحديث:۱۰۷-۵۷۸،والترمذي ۲/۴۶۲ رقم الحديث : ۵۷۳ ، وابن ماجة ۱/۳۳۶، رقم الحديث: ۱۰۵۸.

قرآن کې تولې څوارلس سجدې دي په سورة (حج) کې يوه سجده ده او په سورة (ص) کې هم يوه سجده ده دغه شان تولې سجدې څوارلس شوې. (المرقات ۱۱۴-۳/۱۱۵).

دلائل: امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د روايت نه استدلال کړی دی مشکوة (ص، ۹۴) باندې فصل ثانی حديث نمبر ۱۱ دی الفاظ يې دا دي: **ان النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يسجد في شيء من المفصل منذ تحول الى المدينة (ابوداود)**

د سورة حجرات نه د قرآن کريم اخره پورې تولو وړو سورتونو ته مفصلات ويلی شی لهذا دې سره د امام مالک دری سجدې کمې شوې يولس باقي پاتې شوې، امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د زيد بن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نمبر ۴ نه هم استدلال کړی دی چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سورة نجم سجده ونه کړه. (المرقات ۳/۱۱۵).

د امام شافعی په نزد باندې څوارلس سجدې دي، خو سورة (حج) کې دوه دي دې باندې هغوي د حضرت عقبه بن عامر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث نه هم استدلال کړی دی مشکوة (ص ۹۳) باندې حديث نمبر (۷) دی الفاظ يې دا دي: **(قلت يارسول الله فضلت سورت الحج بان فيها سجدتين قال نعم)**

امام شافعی رَحِمَهُ اللَّهُ په سورة (ص) کې سجده نه مني دې باندې دليل د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث نمبر (۵) دی دې کې دا الفاظ دي: **(سجدة ص ليست من عزائم السجود)**.

امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ تولې پنځلس سجدې مني د دې دليل فصل ثانی حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث دی دې کې نبکاړه دا الفاظ دي: **(خمس عشرة سجدة في القرآن منها ثلاث في المفصل وفي سورت الحج سجدتين)** (ابوداود، ابن ماجه) (المرقات ۳/۱۱۵).

امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ د سورة (ص) سجده هم مني تولې پنځلس سجدې شوې دي باندې د هغوي دليل د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د مجاهد والا روايت نمبر (۵) دی **(قال مجاهد قلت لابن عباس اسجدة في ص فقرا ... الخ)** يعنې سورة (ص) کې سجده ده. (المرقات ۳/۱۱۵).

امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ د سورة (ص) د سجدې د ثبوت د پاره د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث نمبر (۵) د مجاهد والا روايت نه استدلال کړی دی نقلي دليل د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دی. دغه امام طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ سند صحيح سره نقل کړی دی الفاظ يې دا دي: **(عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال في سجود الحج الاول عزيمة والاخر تعليم)** (طحاوي ج۱ ص ۲۴۹) (المرقات ۳/۱۱۴).

Maktaba Tul Ishaat.com

دغه شان ابو حمزه هم ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت نقل کړی دی. (**قال فی الحج سجدة**) یعنې په سورة (حج) کې یوه سجده ده.

امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ په موطا محمد کې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په باره کې داسې روایت نقل کړی دی: (**کان ابن عباس لایری في سورة الحج الا سجدة واحدة الاولی**) دغه شان د مجاهد اثر دی الفاظ یې دا دي: (**السجدة الاخرة فی الحج انما هی موعظة لیست بسجدة**)

احناف سورة (حج) کې د یوې سجدې په ثبوت باندې عقلي دلیل داسې پیش کوي هلته د دوو سجدو ذکر دی خو دې کې دویمه سجده صلوتیه ده تلاوتیه نه ده یعنې مونځ والا سجده ده دې باندې قرینه هم ده دې سره وارکعوا لفظ موجود دی.

جواب: جمهور د امام مالک دلیل نه جواب دا ورکوي چې د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت قابل استدلال نه دی، امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ او یحی بن معین او ابو حاتم رَحِمَهُ اللَّهُ ده لره ضعیف ګرځولی دی، دې مقابله کې د ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت مضبوط دی دې کې د مفصلاتو د سجدو ذکر دی، ابن عبد البر رَحِمَهُ اللَّهُ د حضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت ته منکر ویلي دي. یا دا جواب دی چې حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت د پاره ناسخ دی، امام مالک دویم دلیل د حضرت زید بن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت دی ددې جواب دا دی چې زر سجده نه کول د عدم سجدې دلیل نه دی کیدی شي دغه وخت کې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عذر د وجې نه نه وې کړې او وروسته یې کړي وې. سجده تلاوت کې تاخیر منع نه دی او نه مکروه دی. د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ د دلیل جواب دا دی چې په خپله د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت په آخر کې د مجاهد په حوالې سره سورة (ص) د سجدې ثبوت او وجوب مذکور دی د روایت شروع الفاظو مطلب دا دی (**لیس من عزائم السجود**) یعنې فرض نه ده، بلکې واجب ده یا سنت ده خو ثابت ده، دې نه د شوافعو استدلال صحیح نه دی په خپله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د دې باب فصل ثالث کې آخري حدیث نمبر (۱۵) نه د سورة (ص) د سجدې ثبوت منقول دی حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: (**سجدها داؤد توبة ونسجدها شکرا**) د دې نه پس ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ **لیس من عزائم السجود** یو محتمل الفاظو سره یو ثابت شده سجدې نه انکار کول ډیر لرې معلومېږي حالانکې حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د دې سجدې اهتمام کولو. (المرقات ۳/۱۱۲)

په کومو سورتونو کې سجدې دي: قرآن کریم کې اوله سجده سورة اعراف کې ده دویمه سجده په سورة رعد ده کې دریمه سجده په سورة نحل کې د څلورمه سجده په سورة بني اسرائیل کې ده پنځمه سجده په سورة مریم کې ده شپږمه سجده په سورة حج په دویمه رکوع کې ده اووه سجده په سورة فرقان کې ده

اتمه سجده په سورة نمل کې ده نهمه سجده په سورة الم تنزيل السجده کې ده لسمه سجده په سورة ص کې ده يولسمه سجده په سورة حم السجدة کې ده دولسمه سجده په سورة نجم کې ده ديارلسمه سجده په سورة انشقاق کې ده څوارلسمه سجده په سورة علق کې آخري سجده ده.

فائده مهمه لکل مهمه: د فقه کتاب نورالايضاح کې يې ليکلي دي که څوک د قرآن کريم تولو سجدو والا آيتونه په يوه ناسته کې قبلې ته مخامخ کيناستلو سره اولولي او هر آيت باندې سجده وکړي او خپل جائز حاجاتو د پاره دعا وکړي الله تعالى به يې دا حاجات پوره کړي دا خبره مجربه ده. فقهاو ليکلي دي چې تلاوت په وخت کې د سجدې آيت پريښودل مکروه دي د مونځ په دوران کې د سجدې آيت راشي نو سجده کول په کار دي که سجدې باندې قرآت ختم شي او رکوع ته لاړشي او رکوع کې د سجده تلاوت نيت هم وکړي نو اداء به شي يا رکوع کې نيت ونه کړي بلکې رکوع نه سجدې ته لاړشي د سجدې په ضمن کې د تلاوت سجده هم اداء شوه. (نور الايضاح ۱۱۵).

آيا سجده د تلاوت واجب ده او که سنت؟

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ (السَّجْدَةَ) وَنَحْنُ عِنْدَهُ
ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به سجدې لوستلې مونږ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره نزدې وو
فَيَسْجُدُ وَنَسْجُدُ مَعَهُ
کله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده کوله مونږ به هم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره سجده کوله اوزمونږ د خلکو
فَنَزْدَحِمُ حَتَّى مَا يَجِدُ أَحَدُنَا لِجَبْهَتِهِ مَوْضِعًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ.(۱)
دومره ګڼه وه چې د سجدې کولو د پاره ځای نه ملاويدو.

توضيح: ونسجد معه ونزدحم: يعنې د ډيرو خلکو د وجې نه ځمکه باندې سرکيښودلو ځای نه ملاويدو (نو مونږ به سجده نه پريښودله بلکې د يو بل په ملا باندې سجدې کولې) دې روايت نه د سجدې تلاوت وجوب ثابتيږي په دې کې هم د فقهاو اختلاف دی چې آيا سجده د تلاوت واجب ده او که سنت. (المرقات ۳/۱۱۱).

د فقهاو اختلاف: دائمو ثلاثو په نزد باندې سجده د تلاوت سنت ده صاحبين هم د جمهورو سره دي امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې سجده د تلاوت واجب على التراخى ده واجب على الفور نه ده.

دلائل: ائمه ثلاثو او صاحبينو دې تولو روایاتو نه استدلال کړی دی دې نه معلومه شوه چې کله کله به

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۵۵۷، رقم الحديث: ۱۰۷۶، ومسلم في الصحيح ۱/۴۰۵ رقم الحديث: ۱۰۴-۵۷۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده د تلاوت اولوستله او سجده به يې ونه کړه سجده نه کول ددې دليل دی چې دا واجب نه ده، زيد بن ثابت روايت نمبر (۴) کې (**فلم يسجد**) الفاظ موجود دي، د جمهورو دويم دليل د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثر دی، ترمذی کې مذکور دی الفاظ يې داسې دي: (**ان الله لم يكتب علينا السجود الا ان نشاء**)

دې روايت نه صفا معلوميږي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سجده د تلاوت نه فرض ګڼلې او نه واجب. (المرقات ۳/۱۱۲).

د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دليل صحيح مسلم کې حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی الفاظ يې دا دي:

(**اذا قرء ابن آدم السجدة اعتزل الشيطان يبكى يقول يا ويله امر ابن آدم بالسجود فسجد فله الجنة وامرت بالسجود فابيت فلى النار.**) (**مسلم**)

دې حديث کې د سجدې د تلاوت د پاره **امر** لفظ راغلی دی يعنې ابن آدم ته د سجدې حکم الله تعالى ورکړو دا د وجوب دليل دی دې روايت کې ترک د سجدې باندې يې د اور وعيد اورولی دی دا د وجوب په ترک باندې کبږي. دا قول اګر چې د شيطان دی، ليکن حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله نقل کړو دې باندې يې سکوت اوکړو، نو دا يو مرفوع حديث شو دې نه احنافو استدلال وکړو امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دويم دليل زير بحث روايت دی دې کې دي چې د ډير تنګوالي او د ګڼې د وجې نه صحابو به سجده د تلاوت کول ضروري ګڼله دا د وجوب دليل دی.

د امام صاحب دريم دليل: په قرآن کريم کې چې کوم د سجدو والا ايتونه دي دې کې د امر صيغه ده او سجدې نه کولو باندې سخت وعيد ورکړی دی همدارنګه کفارو ته سجدې کولو نه انکار باندې مذمت بيان کړی دی يا د سجدې حکم هغه وخت وو کله چې د نبی توبه قبوله شوې وه يا د نوي نعمت د شکريه په وخت کې سجدې ذکر راغلی دی او دې خلکو ته د انبياو د اتباع او نقش قدم باندې د چليدو حکم کړی دی دا ټول داسې امور دي. دې سره سجده کول واجبږي مونږ څومره اهم عبادت دی بيا په دې کې قيام او قرآت فرض دی دې دوران کې که د سجدې والا آيت راشي د شريعت حکم دی چې فرض موقوف کړه رومبی سجده وکړه. دا ددې ښکاره دليل دی چې سجده د تلاوت واجب ده.

جواب: جمهور د زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حديث نه چې کوم استدلال کړی دی د هغې جواب دا دی چې د سورة نجم د سجدې په باره کې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مسلمانانو او عامو انسانانو او جناتو ټولو سجده وکړه د زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت مطلب به دا واخلو چې فوراً حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده نه وه کړې وروسته يې کړې وې. احناف هم د واجب على الفور قائل نه دي بلکې د واجب على التراخی قائل دي يا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيان جواز د پاره تاخير کړی د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

اثر باره کې احناف فرمايي چې د مرفوع حديث په موجودګي کې د اثر څه ضرورت دی د اثر په تاويل او خصوصي احوالو کې څه نا څه وجه کيدی شي خو د مسلم په مرفوع حديث کې هيڅ وجه نه شي کيدی. (المرقات ۳/۱۱۲).

﴿٤﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ : قَرَأْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (وَ النَّجْمِ)

دزيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته د سورة نجم تلاوت وکړو

فَلَمْ يسجد فِيهَا. (متفق عليه)[1].

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده د تلاوت ونه کړه.

﴿٥﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : سَجْدَةُ (ص) لَيْسَ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُودِ

دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دی هغوي وفرمايل چې سورة (ص) کې سجده نه ده (يعنې تاکيدي سجده

وَ قَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يسجد فِيهَا. وَ فِي رِوَايَةٍ :

نه ده) اوما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې سورة کې په سجده کولو باندې ليدلی دی، يو روايت کې دي چې

قَالَ مُجَاهِدٌ : قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ : أَأَسْجُدُ فِي (ص)

مجاهد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو آيا زه سورة (ص) کې سجده وکړم حضرت

فَقَرَأَ : ﴿ وَ مِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَ سُلَيْمَانَ ﴾ حَتَّى أَتَى ﴿ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ ﴾

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا آيت ﴿وَمِنْ ذُرِّيَّتِهِ دَاوُدَ وَسليمَان﴾ نه تر ﴿فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ﴾ پورې ولوستلو او

فَقَالَ: نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِمَّنْ أُمِرَ أَنْ يَقْتَدِي بهم. (رَوَاهُ البُخَارِيّ)[2].

وې فرمايل ستاسو پيغمبر هم د هغه خلکو نه دی چې هغوي ته د ړومبو پيغمبرانو د اتباع حکم وو.

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٥٥٤،رقم الحديث :١٠٧٢، ومسلم في الصحيح ١/٤٠٦ رقم الحديث:١٠٦-٥٧٧، وأبو داود ٢/١٢١ رقم الحديث :١٤٠٤.

(٢) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٥٥٢،رقم الحديث :١٠٦٩.

Maktaba Tul Ishaat.com

الْفَصْل الثَّانِي:

په قرآن کريم کې د پنځلسو سجدو ثبوت

﴿٦﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ أَقْرَأَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسَ عَشْرَةَ سَجْدَةً فِي الْقُرْآنِ

عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته د قرآن کريم پنځلس سجدې لوستلې دي

مِنْهَا ثَلَاثٌ فِي الْمُفَصَّلِ وَ فِي سُورَةِ الْحَجِّ سَجْدَتَيْنِ. (١).

دې کې درې سجدې په مفصل کې دي او دوه سجدې په سورة حج کې دي.

توضيح: دا روايت د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ دليل دی هغه د پنځلسو سجدو قائلو وو احناف د يو څو رواياتو او اثر د وجې نه سورة حج کې د يوې سجدې قائل دي که دې کې دوه سجدو باندې عمل وشي اختلاف به ختم شي او څه نښه به وشي. په (فتح المهلم) کې علامه شبير احمد عثماني ميلان هم دې طرف ته دی د سورة حج دويمه سجده د حديث نه ثابته ده. راقم الحروف وايي چې زه به ان شاء الله دې نه پس دې حديث باندې عمل کوم او د سورة حج دواړو سجدو باندې به عمل کوم د مشکوة په بعضې نسخو کې د **قراءة** په ځای **أُقرِأني** دی يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته دلوستلو حکم راکړويا دا مطلب دی چې **اقراني** د اعلمني په معنی دی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ماته پنځلس سجدې وښودې دا مطلب ډير واضح دی (المرقات ٣/١١٤).

د سورة حج فضيلت

﴿٧﴾ وَ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ : قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ فُضِّلَتْ سُورَةُ الْحَجِّ

عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې ما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو يا رسول الله! دا فضيلت

بِأَنَّ فِيهَا سَجْدَتَيْنِ ؟ قَالَ : نَعَمْ وَ مَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا

حاصل دي سورة حج ته چې دوه سجدې په کې دي؟ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې کوم کس دواړه سجدې نه کوي

فَلَا يَقْرَأْهُمَا ". (٢) وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ . وَ فِي

نو د دواړو سجدو آياتونه دې نه لولي. او امام ترمذی وايي د دې حديث اسناد مضبوط نه دي، او په

---

(١) أخرجه أبو داود في السنن ٢/١٢٠ رقم الحديث : ١٤٠١، وأخرجه ابن ماجه في سننه ١/٣٣٥ رقم الحديث: ١٠٥٧.

(٢) أخرجه أبو داود في السنن ٢/١٢٠ رقم الحديث : ١٤٠٢ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٢/٤٧٠، رقم الحديث : ٥٧٨.

الْمَصَابِيحِ: «فَلَا يَقْرَأُهَا» كَمَا فِي شرح السنة.

مصابيح كې د فلايقراهما په ځای فلايقراها ذکر دی.

﴿۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ سَجَدَ فِيْ صَلَاةِ الظُّهْرِ ثُمَّ قَامَ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يوه ورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپښين مونځ کې سجده وکړه بيا اودريد و

فَرَكَعَ فَرَأَوْا أَنَّهُ قَرَأَ تَنْزِيلَ السَّجْدَةَ . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

بيا يې رکوع وکړه د خلکو دا ګومان وو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سورة الم تنزيل السجدة ولوستله.

توضيح: فرکع: يعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده تلاوت وکړه چې واپس شو نو فورًا يې رکوع وکړه د سورة باقي حصه يې ونه لوستله. دا صورت هم جائز دی دا صورت ډير افضل دی چې د سورة باقي حصه ولولي کيدی شي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيان جواز د پاره داسې کړي وي همدارنګه دا صورت اولی او افضل وو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجدې ته لاړو ورنه که د قرآت حکم کيدو باندې سجده تلاوت آيت ولوستلی شي او رکوع ته نيغ لاړشي بيا رکوع نه سجدې ته لاړشي سجده د تلاوت اداء شوه خو مستقل سجدې ته تلل افضل دي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ افضل باندې عمل کړی دی، نن سبا د حرمينو شريفينو ائمه هم داسې کوي. (المرقات ۱۱۶-۳/۱۱۷).

سجده د تلاوت په قاري او سامع دواړو باندې ده

﴿۹﴾ وَعَنْهُ: أَنَّه كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ فَإِذَا مَرَّ بِالسَّجْدَةِ

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ مخکې قرآن لوستلو او چې د سجدې آيت ته به ورسيد و

كَبَّرَ وَ سَجَدَ وَ سَجَدْنَا مَعَهُ . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2].

تکبير به يې وويلو او سجده به يې وکړه او مونږ به هم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره سجده وکړه.

توضيح: کبر: دې نه معلومه شوه چې د سجدې تلاوت وخت کې الله اکبر ويل کافي دی لاس اوچتول او تحريمه کولو ضرورت نشته، د احنافو مسلک دا دی، البته شوافع حضرات لاس اوچتولو او تحريمه کولو نه پس الله اکبر ويل او سجدې ته د تلو قائل دي د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د يو روايت نه معلوميږي چې سجدې د تلاوت د پاره اودريدل او الله اکبر ويل مستحب او افضل دي دې نه دا هم

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۰۷ رقم الحديث : ۸۰۷.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۱۲۵ رقم الحديث : ۱۴۱۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

معلومه شوه چې لوستونکي او اوريدونکي دواړو باندې سجده د تلاوت واجبيږي که اوريدونکی د اوريدو اراده وکړي يا ونه کړي د احنافو دا رائی ده. (المرقات ۱۱۷-۳/۱۱۸).

د سجدې د تلاوت اهميت

﴿۱۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ عَامَ الْفَتْحِ سَجْدَةً فَسَجَدَ

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فتحې مکې په کال د سجدې آيت ولوسته نو سجده وکړه

النَّاسُ كُلُّهُمْ مِنْهُمُ الرَّاكِبُ وَ السَّاجِدُ عَلَى الْأَرْضِ

ټولو خلکو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د سجدې کولو کې بعضې په سورلو باندې وو او بعضې په ځمکه

حَتَّى إِنَّ الرَّاكِبَ لَيَسْجُدُ عَلَى يَدِهِ. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

باندې وو سورلو والا په خپل لاس باندې سجده کوله.

مفصلاتو کې د سجدې نه کولو مطلب

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسْجُدْ فِي شَيْءٍ

دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده نه وه کړې په هيڅ يو سورت کې

مِنَ الْمُفَصَّلِ مُنْذُ تَحَوَّلَ إِلَى الْمَدِينَةِ. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2].

په مفصلو سورتونو کې د کوم وخت نه چې مدينې منورې ته تشريف راوړوې ؤ.

توضيح: دې روايت نه دا معلوميږي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مفصلاتو کې سجده د تلاوت نه ده کړې اوس د دې حديث دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حديث نمبر (۲) سره بنکاره تعارض دی هغې کې دي چې مفصلاتو کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده کړې ده او دلته دا دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده نه ده کړې دې تعارض ختمولو د پاره يو طريقه دا وه چې يو حديث ته به ترجيح ورکړې، لهذا جمهور دا بوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت راجح ګرځولی، ځکه چې ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سنه ۷ هـ کې اسلام راوړی دده قول او فعل متاخر دی د سابقه حکم د پاره ناسخ ګرځي. (المرقات ۳/۱۱۹).

دويمه طريقه دا ده چې د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت د قوت او صحت په اعتبار سره اعلی او اولی دی لهذا راجح دی دريمه طريقه دا ده چې د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه د اثبات اشاره وځي او

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱۲۵/۲ رقم الحديث: ۱۴۱۱.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱۲۱/۲ رقم الحديث: ۱۴۰۳.

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه د نفی اشاره وځي او په وخت د تعارض کې اثبات په نفی باندې مقدم وي، ځکه چې اثبات کې علم ډير وي. (المرقات ۳/۱۱۹).

په سجده تلاوت کې دننه دعاء

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ

حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې د قرآن کريم په سجدو کې دا تسبيح لوستل:

«سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ)[1]

زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چا چې دا پيدا کړی او خپل قوت او قدرت سره يې ستر کې او غوږونه جوړ کړي

وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

او امام ترمذی رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: چې دا حديث حسن او صحيح دی.

نوټ: څوک چې دا دعاء لوستلی شي نو صحيح ده ورنه د احنافو په نزد باندې سجده د تلاوت کې سبحان ربي الاعلى لوستل کافي دي. (المرقات ۳/۱۲۰).

عجيبه خوب او عجيبه دعاء

﴿۱۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا وايي چې يو ورځ يو کس د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ رَأَيْتُنِي اللَّيْلَةَ وَ أَنَا نَائِمٌ كَأَنِّي أُصَلِّي خَلْفَ شَجَرَةٍ

چې يارسول الله ما ننن شپه خوب کې خپل ځان ليدلی چې زه ديوې ونې لاندې مونځ کوم او دا مې هم وليدل

فَسَجَدْتُ ، فَسَجَدَتِ الشَّجَرَةُ لِسُجُودِي فَسَمِعْتُهَا تَقُولُ :

چې سجده د تلاوت مې وکړه نو دغې ونې هم ما سره سجده وکړه ما دا واوريدل چې دغې ونې دا دعا ويله

اللَّهُمَّ اكْتُبْ لِي بِهَا عِنْدَكَ أَجْرًا وَضَعْ عَنِّي بِهَا وِزْرًا وَاجْعَلْهَا لِي عِنْدَكَ

ای الله! زما د پاره د دې سجدې ثواب ځان سره کيږده او د دې وجې نه زما ګناه معاف کړه دا سجده زما د پاره

ذُخْرًا وَ تَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ عَبْدِكَ دَاوُدَ .

ذخيره جوړه کړه او ځان سره يې کيږده زما سجده دا سې قبوله کړه لکه څنګه چې دې د خپل بنده داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ

---

[1] أخرجه أبو داود في السنن ۲/۱۲٦ رقم الحديث : ۱٤۱٤ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/٤۷٤، رقم الحديث : ۵۸۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ : فَقَرَأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ سَجْدَةً ثُمَّ سَجَدَ

نه قبوله کړي وه ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سجدې آيت ولوستلو او سجده يې وکړه

فَسَمِعْتُهُ وَهُوَ يَقُولُ مِثْلَ مَا أَخْبَرَهُ الرَّجُلُ عَنْ قَوْلِ الشَّجَرَةِ . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ ابْنُ مَاجَهْ

او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کلمات وويل کوم چې دغه کس دوني نه نقل کړي وو (يعني نبي عَلَيْهِ السَّلَام دغه

إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ وَ تَقَبَّلْهَا مِنِّي كَمَا تَقَبَّلْتَهَا مِنْ

دعا ولوستله دا روايت ابن ماجه هم نقل کړی خو هغه روايت کې نشته دا **وتقبلها مني كما تقبلتها من**

عَبْدِكَ دَاوُدَ . وَ قَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيبٌ .[1].

عبدک داود الفاظ ، امام ترمذی رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : دا حديث غريب دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۱۴﴾ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ (وَالنَّجْمِ) فَسَجَدَ فِيهَا

ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې خضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ورځ د سورة نجم تلاوت وکړو او دې کې يې سجده

وَ سَجَدَ مَنْ كَانَ مَعَهُ غَيْرَ أَنَّ شَيْخًا مِنْ قُرَيْشٍ أَخَذَ كَفًّا

اوسجده يې وکړه هغه چا چې څوک ددوي سره وو په غير د قريشو دهغه بوډا نه چې راواخيستو يو موټي

مِنْ حَصًى أَوْ تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلَى جَبْهَتِهِ وَ قَالَ : يَكْفِينِي هٰذَا . قَالَ

د کانړو يا د خاورې يو موټی او خپل تندي پورې يې راخکو او وې ويل : زما د پاره دا کافي ده ، وايي

عَبْدُ اللهِ : فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدُ قُتِلَ كَافِرًا .

عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : ما ددې واقعې نه پس وليدو چې هغه کس د کفر په حالت کې مړ شو.

وَ زَادَ الْبُخَارِيُّ فِي رِوَايَةٍ : وَ هُوَ أُمَيَّةُ بْنُ خَلَفٍ .[2].

بخاری يو روايت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې هغه بوډا اميه بن خلف دی.

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴۵۵/۵ رقم الحديث : ۳۴۳۴.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۶۴۳/۲،رقم الحديث : ۱۰۷۰، ومسلم في الصحيح ۴۰۵/۱ رقم الحديث:۱۰۵-۵۷۶، وأبو داود ۱۲۲/۲ رقم الحديث :۱۴۰۶.

د سورة (ص) سجده ثابت ده:

﴿۱۵﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ سَجَدَ فِيْ (ص) وَ قَالَ:

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سورة ص کې سجده وکړه اووې فرمايل چې کړې وه دا

سَجَدَهَا دَاوُدُ تَوْبَةً وَ نَسْجُدُهَا شُكْرًا. (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ)[1].

سجده داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ د توبې قبلولو د پاره او مونږ دا سجده د شکر په طور باندې کوو.

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۱۵۹/۲ ، رقم الحديث : ۹۵۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب أَوْقَات النَّهْي اى الاوقات التي كره فيها الصلوة:
د ممنوع وختونو بيان

آحاديث مقدسو كې چې كومو وختونو كې مونځ كولو نه منع راغلې ده هغه پنځه وختونه دي خو د دوو حيثيت جدا دى او د دريو حيثيت جدا نوعيت لري خو آسانتيا د پاره اول الذكر دوه وختونه د قسم اول نوم سره او ثانى الذكر دري وختونه قسم ثانى نوم سره يادوم. د قسم اول دوه وختونه دا دي: ۱- د مازيگر مونځ كولو نه د لمر پريوتلو پورې ۲- د سحر د مونځ كولو نه پس د لمر راختولو پورې.

د قسم ثانى دري وختونه دا دي: ۱- د لمر راختو نه واخله تر د لمر زيړيدو پورې مكروه وخت دى كله چې زيړ والى ختم شي او لمر كې تيزي راشي بيا مكروه وخت نه دى. ۲- نصف النهار وخت مكروه دى ۳- د مازيگر وخت د لمر زيړيدو نه تر پريوتلو پورې وخت مكروه دى. مختصر انداز سره دې ته لمر راختل، لمر پريوتل، استواء الشمس په نومونو سره يادېږي.

د قسم اول په دوو وختونو كې د مونځ كولو ممانعت والا آحاديث متواتر دي د جرح او تعديل علماو او محدثينو ددې متواتر كيدو تصريح كړې ده (معارف السنن)

او د قسم ثانى وختونو كې د نهې آحاديث صحيح دي خو متواتر نه دي.

په ممنوعه وختونو كې د مونځ كولو حكم: د شوافعو او حنابلو په نزد د قسم اول او قسم ثانى وختونو حكم يو شان دى څه فرق نشته هغه حكم دا دى: دې وختونو كې فرائض مطلقا جائز دي او نوافل ذوات السبب هم جائز دي البته نوافلو كې غير ذوات السبب جائز نه دي نوافل ذوات السبب هغه دي چې دې د پاره سبب جديد پيدا شوى وي مثلاً تحية المسجد، تحية الوضوء، صلوة الكسوف او صلوة استسقاء دا ټول نوافل د جديد سبب د وجې نه كولى شي. كومو نوافلو د پاره چې جديد سبب يا څه علت وجه نه وي هغې ته غير ذوات السبب وايي ددې كول منع وختونو كې جائز نه دي، د مالكيو حضراتو په نزد باندې دغه ممنوعه وختونو كې فرائض كول جائز دي خو نوافل جائز نه دي، ائمه احنافو دغه دواړه قسمونو كې فرق كړى دى د دوي په نزد قسم اول كې فرائض جائز دي او نوافل جائز نه دي او قسم ثانى كې دې وختونو كې نه نوافل جائز دي او نه فرائض جائز دي، كه څوك دغه وخت كې نفل كوي كراهت تحريمي سره اداكيږي، بلكې نفل شروع كولو نه پس بنه دا ده چې مات دې كړي او دويم وخت كې دې قضاء وكړي كه دې وخت كې څوك فرض يا واجب كوي هغه به باطل شي، څو څيزونه ددې نه مستثنى دي. ۱- د لمر پريوتو وخت كې وختي مازيگر مونځ صحيح دى. ۲- دغه وخت كې جنازه كول صحيح ده چې راشي. ۳- كه دې وختونو كې سجده د تلاوت لازم شي اداء كولى يې شي.

وجه فرق: حنفيه اول قسم او قسم ثانى كې فرق كوي قسم ثانى كې دريو وختونو كې د مونځ كولو نه د نهې علت دغه وختونو كې نقص او حامي وجود دى دا وختونه ناقص دي ددې په ذات كې حامى ده دې كې هر

قسم مونځ جائز نه دی خو دقسم اول دووختونو کې ذاتي نقص اوحامي نشته، بلکې خارجي وجې نه دې کې ممانعت راغلی، وجه يې داده دادواړه وختونه افضل دي شريعت دغه فرائضو دپاره خاص کړي دي چې دواړه وختونه مشغول بحق الفرض پاتې شي او د نوافلو په کې دخل نه وي، ځکه نوافل جائز نه دي.

الْفَصْل الأول:

﴿۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يَتَحَرَّى أَحَدُكُمْ فَيُصَلِّيَ

حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي تاسې دمونځونو قصدمه کوئ

عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَلَا عِنْدَ غُرُوبِهَا». وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: «إِذَا

دلمر راختو اوپريوتوپه وخت کې اود يو روايت الفاظ دا دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي کله چې د

طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَدَعُوا الصَّلَاةَ حَتَّى تَبْرُزَ. وَإِذَا غَابَ حَاجِبُ الشَّمْسِ

لمرغاړه رابنکاره شي مونځ پريږدئ تردې چې لمر بنه رابنکاره شي، همدارنګې کله د لمر غاړه پريوځي

فَدَعُوا الصَّلَاةَ حَتَّى تَغِيبَ. وَلَا تَحَيَّنُوا بِصَلَاتِكُمْ

مطلقاکوم مونځ چې وې فرض وي يا نفل پريږدئ تردې چې لمر پوره ډوب شي، اودمونځ اراده مه کوئ

طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلَا غُرُوبَهَا فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ (متفق عليه)[1]

دلمر راختو اوپريوتوپه وخت کې ځکه چې لمر د شيطان د دواړو بنکرونو په مينځ کې راخيژي.

توضيح: ولا تحينوا: تحين د حين نه دی وخت مقرر کولو په معنی دی د قصد په معنی سره هم راځي او د دې لفظ معنی انتظار هم دی ټولې معناګاني دلته صحيح دي. (المرقات ۳/۱۲۴).

قرني الشيطان: ددې جملې دوه مفهومه دي اول مفهوم دا دی چې د شيطان عبادت په مخامخ څوک نه کوي او نه شيطان د خپل ځان معبود کول غواړي نو لمر راختو او پريوتو او استواءالشمس په وخت کې دلمر عبادت کونکي عبادت کوي، نو شيطان لمر ته شاه کړي او مخامخ ودريږي او د سپوږمۍ عبادت کوي، نو لمر د شيطان په دواړو ولو او څټ باندې راخيژي چې لمر والا عبادت کوي، نو شيطان خوشحاله کيږي چې زما عبادت کيږي، ځکه شريعت دې وختونو کې سجده کولو نه منع فرمايلې ده چې دعُبّاد شيطان سره مشابهت رانه شي. ددې دويم مطلب دا دی چې لمر پرستو مشرکانو ته شيطان ويلی

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳۲۵/۶،رقم الحديث : ۳۲۷۲، ومسلم في الصحيح ۵۶۷/۱ رقم الحديث:۲۸۹-۸۲۸، والنسائي ۲۷۸/۱، رقم الحديث: ۵۷۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

شوي دي دا شيطانان خلک دي دري وختونو کې د لمر عبادت کوي، ځکه چې دي دريو وختونو کې عبادت کول د مشرکانو سره مشابهت راځي، ځکه منع راغلې ده. (المرقات ۳/۱۲۵).

د افسوس مقام دی چې نن سبا بعضې عرب شيوخ او ځان ته سلفي ويونکي مستعرب او متعرب بالکل په دې وختونو کې پاڅي او دوه رکعته نفل کوي او د بخاري او د مسلم د صحيح حديثو مخالفت کوي انصاف خو دادی چې نبي کريم ﷺ د ممنوعه وختونو اعلان چې د کومو خلکو د پاره کړې وو هغه صرف د عجمو د پاره نه دي بلکې نبي کريم ﷺ چيرته چې وو د هغه ځای د خلکو د پاره براه راست اعلان وو او د نورو خلکو د پاره بالواسطه وو، اوس عرب وايي چې دا حکم زمونږ د پاره نه دی د نورو خلکو د پاره دی دا عجيبه خبره ده.

په مکروه او ممنوعه وختونو کې د جنازې مونځ نه کول

﴿۲﴾ وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ أَوْ

عقبه بن عامر رضي الله عنه وايي چې حضور ﷺ منع کړې ده د مونځ کولو نه په دريو وختونو کې او

نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا: حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتَّى

د خپل مړي دفن کولو نه: اول د لمر راختو وخت کې تردې چې اوچت شي دويم د زوال په وخت کې تردې

تَمِيلَ الشَّمْسُ وَحِينَ تَضَيَّفَ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ. (رَوَاهُ مُسلم)[1].

چې لمر نرم شي. او دريم هغه وخت کې چې کله لمر پريوځي تردې چې ډوب شي.

توضيح: نقبر فيهن: يعني دري داسې مکروه او ممنوعه وختونه دي چې حضور ﷺ په دې کې مونځ کولو نه منع فرمايلې ده، بلکې د جنازې کولو نه يې هم منع فرمايلې ده يو د لمر د راختو وخت دويم د زوال وخت دريم د لمر پريوتو وخت. (المرقات ۳/۱۲۵).

نقبر: د دفن کولو په معنی ده خو دلته **نقبر** د **نصلي** په معنی سره دی ددې نه مراد د جنازې مونځ دی په مکروه وخت کې مه کوئ افضل او اولی داده چې مکروه وختونو کې جنازه نه وي که دې مکروه وختونو کې جنازه راوړلی شي نو جنازه کولی شي. (المرقات ۳/۱۲۵).

تضيف: ضيف د اضافت نه دی د مائل کيدو په معنی کې ده سپوږمی مړاوې کيدل مراد دي. (المرقات ۳/۱۲۷).

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۶۹ رقم الحديث: ۲۹۳-۸۳۱، ۲، والنسائي ۱/۲۷۷، رقم الحديث: ۵۶۵ .

د سحر او مازيگر نه پس مونځ صحيح نه دی

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى

ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل يو مونځ نه کيږي پس د سهر نه هغه وخت

تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغِيبَ الشَّمْسُ (متفق عليه) (بخاري ،مسلم)[1].

پورې چې لمر اوچت نه شي او نه کيږي يو مونځ پس د مازيگر مونځ نه هغه وخت پورې چې لمر پټ نه شي.

په مکروه وختونو کې هيڅکله مونځ مه کوئ

﴿٤﴾ وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ قَالَ : قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ الْمَدِينَةَ

عمرو بن عبسه وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مدينې ته تشريف راوړوزه هم مدينې ته راغلم د نبي عَلَيْهِ السَّلَام

فَقَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَدَخَلْتُ عَلَيْهِ فَقُلْتُ : أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلَاةِ فَقَالَ :

خدمت کې حاضر شوم عرض مې وکړو يا رسول الله ماته د مونځ وختونه وښايه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل

«صَلِّ صَلَاةَ الصُّبْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَتَّى تَرْتَفِعَ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ حِينَ تَطْلُعُ

د سحر مونځ وکړه بيا د مونځ نه منع شه تر څو چې لمر اوچت شوی نه وي ځکه چې لمر راخيژي نور اخيژي د

بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَ حِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ

شيطان دواړو بنکرونو په مينځ کې د غه وخت کافر هغه ته سجده کوي. بيا (اشراق) مونځ وکړه ځکه چې

الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ

د غه وخت کې مونځ مشهوده دی دې کې فرښتې حاضريږي تر دې چې کله سوری په نيزه باندې وخيژي

ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِنَّهُ حِينَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْءُ فَصَلِّ

اوځمکې ته نه راپريوځي مونځ نه منع شه د غه وخت د وزخ ګرمولی شي بيا چې سوری خورشي مونځ وکړه

فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى

دا وخت د فرښتو د حاضريدو دی تر دې چې تاسو د مازيگر مونځ وکړئ بيا مونځ نه منع شئ تر دې چې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۶۹/۲،رقم الحديث :۵۸۱، ومسلم في الصحيح ۵۶۶/۱ رقم الحديث:۲۸۶-۸۲۶، وأبو داود ۵۶/۲ رقم الحديث :۱۲۷۶، والترمذي ۳۴۳/۱ رقم الحديث : ۱۸۳ ، وابن ماجة ۳۹۶/۱، رقم الحديث:۱۲۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَ حِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ»

لمر پريوځي داد شيطان د دواړو ښكرونو په مينځ كې ډوبيږي دغه وخت كفار دې طرف ته سجده كوي.

قَالَ فَقُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ فَالْوُضُوءُ حَدِّثْنِي عَنْهُ قَالَ :

عمرو بن عبسه وايي چې ما عرض وكړو يا رسول الله داوديس متعلق ماته ښودنه وكړه! نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

«مَا مِنْكُمْ رَجُلٌ يُقَرِّبُ وَضُوْءَهُ

تاسو كې چې څوك داوديس اوبه راواخلي (دنيت كولو، بسم الله لوستلو اودواړه لاسونه مړوندونو پورې

فَيُمَضْمِضُ وَ يَسْتَنْشِقُ فَيَسْتَنْشِرُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا

دوينځلونه پس) خولې ته اوبه واچوئ اوپوزه كې اوبه اچولونه پس توك كړئ نو معاف كيږي صغيره ګناهونه

وَجْهِهِ وَفِيهِ وَخَيَاشِيمِهِ ثُمَّ إِذَا غَسَلَ وَجْهَهُ كَمَا أَمَرَهُ اللهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا وَجْهِهِ مِنْ أَطْرَافِ لِحْيَتِهِ

د مخ او خولې اوپوزې بيا چې خپل مخ دالله تعالى د حكم مطابق وينځئ نو پريوځي ګناه د مخ د ګيرې دغاړو

مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَغْسِلُ يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا يَدَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ

نه داوبو سره چې كله خپل دواړه لاسونه د څنګلوسره وينځئ نو غورځيږي د لاسونو ګناهونه د لاس د ګوتو نه

مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَمْسَحُ رَأْسَهُ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رَأْسِهِ مِنْ أَطْرَافِ شَعْرِهِ مَعَ الْمَاءِ ثُمَّ يَغْسِلُ قَدَمَيْهِ

داوبو سره، چې كله مسح كوئ نو د سر ګناهونه د ويښتو سرونو نه اوبو سره غورځيږي خپل دواړه خپې د

إِلَى الْكَعْبَيْنِ إِلَّا خَرَّتْ خَطَايَا رِجْلَيْهِ مِنْ أَنَامِلِهِ مَعَ الْمَاءِ فَإِنْ هُوَ

ګيتو پورې وينځئ، نو د دواړو خپو ګناهونه د خپو د ګوتو د سرونو نه د اوبو په ذريعې سره پريوزې چې

قَامَ فَصَلَّى فَحَمِدَ اللهَ وَ أَثْنَى عَلَيْهِ وَ مَجَّدَهُ بِالَّذِي

كله اودريږئ اومونځ كوئ همدارنګې د الله تعالى تعريف كوئ اوثناء يې بيانوئ اود الله تعالى د بزرګۍ

هُوَ لَهُ أَهْلٌ وَ فَرَّغَ قَلْبَهُ لِلّٰهِ إِلَّا انْصَرَفَ مِنْ خَطِيئَتِهِ

سره چې لائق دى يادوئ چې اوخپل زړه الله تعالى ته متوجه كوئ نو د ګناهونو نه داسې پاك وي ګويا

كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ»(رَوَاهُ مُسلم)[1].

چې نن د مور نه پيدا شوی ياست.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر د مونځ نه پس دوه رکعته ولی کول

﴿۵﴾ وَ عَنْ كُرَيْبٍ : أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَ الْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ وَ

کريب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خادم دی) راوي دی وايي ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، مسور ابن مخرمه او

عَبْدَ الرَّحْمٰنِ بْنَ الْأَزْهَرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَرْسِلُوْهُ إِلٰى عَائِشَةَ فَقَالُوْا

عبد الرحمن ابن ازهر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا کريب د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کې وليږلو او دريوو اړوورته وويل

اقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ وَ سَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ

چې د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کې سلام پيش کړه دمازيګر نه پس دوه رکعتو په باره کې ترې تپوس وکړه

قَالَ : فَدَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ فَبَلَّغْتُهَا مَا

کريب وايي چې زه د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کې حاضر شوم زه چې دوي د کوم کار د پاره ورليږلی وم

أَرْسَلُونِيْ فَقَالَتْ سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ فَخَرَجْتُ إِلَيْهِمْ

هغه مې دوي ته راورسولو عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمايل ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه تپوس وکړه زه بيا دد ربواړو صحابو

فَرَدُّونِيْ إِلٰى أُمِّ سَلَمَةَ فَقَالَتْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا

خواته راغلم چې زه خو هغې دام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خواته وليږلم ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمايل ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَنْهٰى عَنْهُمَا ثُمَّ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيهِمَا

نه اوريدلي دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به دوه رکعتونه منع فرمايله بيا ما وليدو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دوه رکعته کول

ثُمَّ دَخَلَ فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ الْجَارِيَةَ

په کور کې يا مسجد کې يا بهر صحن کې د کور په دننه حصه کې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په خدمت کې خادمه وليږله

فَقُلْتُ : قُوْلِيْ لَهُ تَقُوْلُ أُمُّ سَلَمَةَ يَا رَسُوْلَ اللهِ سَمِعْتُكَ

اوهغې ورته وويل چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته لاړه شه او ورته ووايه ام سلمه وايي يارسول الله! ماتاسونه اوريدلي

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۶۹ رقم الحديث: ۲۹۴-۸۳۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

تَنْهَى عَنْ هَاتين وَ أَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا ؟
دي تاسو خو ددې دوو رکعتونو نه منع فرمايله او ما په دغه دوو رکعتونو کولو باندې تاسو وليدئ نبي
قَالَ : « يَا ابْنَةَ أَبِي أُمَيَّةَ سَأَلْتِ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ وَ إِنَّهُ
عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل دابو اميه لور! تادمازيګرنه پس ددوو رکعتوپه باره کې تپوس وکړوصورت حال دادی
أَتَانِي نَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ
چې د عبدالقيس قبيلې نه څه خلک زما خوا ته راغلي وو د ماسپخين نه پس دوه رکعته پاتې شوي وو
فهما هَاتَانِ». (متفق عليه)[1].
هغه مې د مازيګر نه پس وکړل.

توضيح: سل ام سلمة: دا واقعه ام سلمه سره پيش راغلې وه ام سلمه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه بطور اشکال تپوس کړی دی يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاسو د مازيګر نه پس مونځ کولو نه منع فرمايلې او تاسو دوه رکعته کولو باندې ما اوليدئ دا ولې دې وجې نه عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قاصد ام سلمه طرف ته اوليږلو چې حقيقت معلوم شي.

فخرجت اليهم: کريب صحابه کرامو د مسئلې د معلومولو د پاره د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کې وليږلو، چونکه دده تلل ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا طرف ته شو، ځکه صحابه کرامو ته د تپوس کولو د پاره واپس راغی بيا ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خواته لاړم دا د ژوند يو ادب دی چې خپل طرف نه اقدام نه دی په کار اګرچې دلته مقصود د حصول د پاره بيا د نوی اجازت ضرورت نه وو. کريب د صحابه کرامو نه بيا تپوس وکړو او ام سلمه خواته لاړو او هغې دمسئلې نه په صحيح طريقې سره خبر کړو (المرقات ۳/۱۳۲) دې حديث نه دا خبره معلومه شوه چې د سنت مؤکده قضاء شته، ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپخين دوه رکعاته سنت د مازيګر نه پس او کړل فقهاو کې د امام شافعی دا مسلک دی چې د سنتو قضاء شته او احناف فرمايي چې د سنتو قضاء نشته دلته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معامله نوره وه هغه دا چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو عمل يو ځلې کوي، نو بيا دغه عمل دائمي طور باندې جاري ساتي چې دې کې دوام او استمرار قائم وي دې قاعدې د لاندې کله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د ماسپخين دوه رکعاته سنت د مشغولتيا د وجې نه پاتې شو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر نه پس يو ځلې وکړه بيا

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۱۰۵،رقم الحديث : ۱۲۳۳، ومسلم في الصحيح ۱/۵۷۱ رقم الحديث:۲۹۷-۸۳٤، وأبو داود ۲/٥٤ رقم الحديث :۱۲۷۳.

نبي عَلَيْهِ السَّلَام كله نه دي پريښودي، لهذا دا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذات سره متعلق خاص عمل دی د امت افراد دي په دي کې نه پريوځي. امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا يو حديث مخې ته راوړو هغه وايي: (**ماكان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ياتينى يوما بعدالعصر الا صلى ركعتين**) (**بخارى و مسلم**) دې روايت د وجې نه دې مسئله کې اختلاف د فقهاو دی.

د فقهاو اختلاف: امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ فرمايي بعد العصر دوه رکعته کول د امت د پاره جائز دي جمهور وايي چې د امت افرادو د پاره جائز نه دي چې د مازيګر نه پس دوه رکعته نفل وکړي (المرقات ۳/۱۳۳)

دلائل: امام شافعی رَحِمَهُ اللهُ د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د روايت نه استدلال کړی دی چې دې کې دوام سره د دوو رکعتو ذکر دی جمهورو د دې متواترو احاديثو نه استدلال کړی دی دې کې د مازيګر او سحر فرائضو نه بعد مونځ کولو ممانعت راغلی دی د جمهورو دويم دليل د امام دارمي هغه فيصله ده درامي کې مذکور دي چې چا د امام دارمي نه د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حديث باره کې تپوس وکړو جواب کې يې وفرمايل: (**اما انا فاقول بحديث عمر عن النبى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا صلوة بعد العصر حتى تغرب الشمس و عن الصلوة بعد الفجر حتى تطلع الشمس**).

د جمهورو دريم دليل راتلونکی حديث نمبر (۱۲) دی امام بخاری رَحِمَهُ اللهُ هم نقل کړی دی حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي (**انكم تصلون صلوة لقد صحبنا رسول الله فما رئينا يصليها ولقد نهى عنها يعنى الركعتين بعد العصر**) (**بخاري**)

جواب: د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د روايت هغه جواب دی کوم چې ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا جواب ورکړی وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معروضي صورت کې دوه رکعته کړي دي دا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصوصيت وو، طحاوي د ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا روايت کې دا الفاظ هم نقل کړي دي چې په خصوصيت پيغمبري باندې واضح دليل دی ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا تپوس اوکړو (**افنقضيها اذا فاتتنا قال لا**) راتلونکی د قيس بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نمبر (٦) ابتدائي کلام دې مد نظر وساتل شي دا کافي دی. (المرقات ۳/۱۳۳).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

د سحر د سنتو د قضاء مسئله

﴿٦﴾ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنْ قَيْسِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا

محمد بن ابراهيم د قيس بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کوي هغه وويل يوورځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو کس وليده

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: أية ساعة شاء: د بيت الله طواف په ورځ کې هر وخت جائز دی دې د پاره وخت مکروه نشته دې کې د چا هم اختلاف نشته خو د طواف نه پس دوو رکعتو کې د فقهاو اختلاف دی دغه شان په نورو نوافلو کې هم اختلاف دی چې په مکروه وخت کې جائز دي او که نه بلکه په حقيقت کې دا اختلاف په دې باندې مبنی دی چې په مکه کې مکروه وختونه شته او که نه. (المرقات ۳/۱۳۶).

د فقهاو اختلاف: امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې بيت الله کې هر وخت او هر قسم مونځ کول جائز دي، برابره خبره ده که مکروه وخت وي او يا د طواف نه پس دوه رکعته وي يا بل يو مونځ وي ټول جائز دي امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي چې بيت الله کې مکروه وختونو کې صرف د طواف دوه رکعته کېږي دې نه علاوه جائز نه دي ائمه احناف او جمهور فرمايي خانه کعبه کې مکروه وخت کې يو مونځ هم جائز نه دی د وختونو مکروه کيدل د مکې او غير مکې دواړو د پاره يو شان دي. (المرقات ۳/۱۳۶).

دلائل: امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ د زير بحث د حضرت جبير بن مطعم د حديث نه استدلال کړی دی چې په هغې کې (**أية ساعة شاء**) الفاظ دي د دې مطلب دا دی چې په کوم وخت کې کوم مونځ کولی شي کيږي.

د شوافعو دويم دليل د حضرت ابوزر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث د دې باب آخري حديث دياړلسم نمبر دی دې کې دري ځلې استثناء شوې ده (**الا بمكة الا بمكة**) يعنې مکه کې په مکروه وخت کې هم کولی شی ګويا چې د مکروه وخت په مکه کې وجود هم نشته د جمهورو دليل هغه دی چې په متواترو احاديثو کې مطلقا په مکروه اوقاتو کې د مونځ ممانعت راغلی دی حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مکروه وخت کې د مونځ نه کولو حکم ورکړی دی هغه وخت په مکه کې وو او که په مدينه کې وو نو آيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هلته مقيم وو او دکراهت حکم يې بيانولو نو هغه حکم دغه ځای د پاره نه وو؟ دا عجيبه ده بيان په مکه کې کېږي او حکم خراسان او پاکستان د پاره دی دا جملې زه ځکه ليکم دا ځکه چې مسجد نبوي کې غير مقلدين سلفيان د لمر پريوتو په وخت کې ودريږي او نفل کوي ګويا چې ممانعت د بل چا د پاره دی. (المرقات ۳/۱۳۶).

د جمهورو دويم دليل د حضرت ام سلمة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا واقعه ده چې ام سلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د بيت الله طواف د سحر په وخت کې وکړو او د طواف دوه رکعته يې د لمر راختو نه پس بهر لاړه ويې کړل د بخاری د حديث الفاظ دي چې (**لم تصل حتى خرجت**) امام طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يو اثر داسې نقل کړی دی: **ان ابن عمر قدم مكة صلوة الصبح فطاف ولم يصل الا بعد ما طلعت الشمس.** (ج۱ ص ۴۲۲)

جواب: جمهور د جبير بن مطعم د حديث جواب ورکوي اول دا حديث خپل مدعا باندې صريح نه دی چې شوافعو ته ددې نه څه فائده وشي په دې کې صرف دومره خبره ده ای بنو عبد مناف بيت الله ته تالې مه لګوئ چې بند يې کړئ، بلکې خلک پريږدئ چې شپه او ورځ په دې کې مونځ کوي دا د کوم ځای نه ثابت دي چې مکروه وخت کې هم مونځ کوه ددې حديث عموم په هغو احاديثو سره خاص شوی دی

کومو کې چې مکروه وخت کې د مونځ کولو نه ممانعت راغلی دی، دویمه خبره دا ده دا حدیث دهغه متواترو احادیثو مقابله نه شي کولی دې کې مطلقا مکروه اوقاتو کې د مونځ کولو ممانعت راغلی دی دریمه خبره داده چې حضرت عقبه بن عامر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغیره صحابو روایات نفی باندې دال دی. دلته مبیح او محرم خبره راغله ترجیح حرمت ته ده باقي د ابوذر غفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت معلول دی دې کې اضطراب دی او ضعیف روایت هم دی ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ په خپله دا ضعیف تسلیم کړی دی دا رنګه دا روایت منقطع هم دی لهذا کمزوري روایات د دغه روایاتو مقابله نه شي کولی.

آیا د جمعې په ورځ نصف النهار کې مونځ جائز دی

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ نِصْفَ النَّهَارِ

ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع فرمایلي د مونځ کولو نه دغرمې په وخت کې

حَتَّى تَزُوْلَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ. (رَوَاهُ الشَّافِعِي)[1].

کله چې لمر زائل شوی نه وي مونځ نه منع فرمایلې ده البته د جمعې په ورځ جائز دی.

توضیح: د جمعې په ورځ عین استواء الشمس په دوران کې مونځ کول جائز دي یا نه دې کې د فقهاو اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف: د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ، امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ مسلک دا دی چې د جمعې په ورځ نصف النهار کې مونځ کول جائز دي دا جواز د عام ممانعت د احادیثو نه مستثنی دی. امام صاحب او امام محمد رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد جمعې سره تولې هفته کې تول مکروه وختونو کې مونځ کول جائز نه دي. (المرقات ۳/۱۳۷).

دلائل: شوافع او حنابله زیر بحث حدیث د ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د هغې سره متصل د ابوقتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث نه استدلال کړی دی دې کې د جمعې استثنی ده ائمه احنافو هغه روایاتو نه استدلال کړی دی کوم متواتر دي او صحیح هم دي او صریح هم دي نه یې هم استدلال کړی دی. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل تول ژوند کې یو ځل هم په مکروه وخت کې مونځ نه دی کړی که جائز وی، د جواز بیان د پاره به یې یو ځل عمل کړی وی. معامله چې د حرمت او اباحت وې ترجیح به حرمت ته وي د ابوقتادة روایت کې انقطاع هم ده علماء احنافو کې بعضو د امام ابویوسف قول باندې فتوی ورکړې ده بعضو د طرفینو په قول باندې فتوی ورکړې نو معامله یو څه آسانه شوې ده. (المرقات ۳/۱۳۷).

---

(۱) أخرجه الشافعي في سنده ص ٦٣.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي الْخَلِيْلِ عَنْ أَبِيْ قَتَادَةَ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَرِهَ الصَّلَاةَ

ابو الخليل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د قتادة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل كړي دي وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مكروه ګڼلو مونځ د

نِصْفَ النَّهَارِ حَتّٰى تَزُوْلَ الشَّمْسُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَ قَالَ:

ماسپښين وخت کې ترڅوچې لمرزائله شوی نه وويه غير د جمعې د ورځې نه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ارشاد فرمايي

« إِنَّ جَهَنَّمَ تُسَجَّرُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَ قَالَ

علاوه د جمعې ورځې نه روزانه دوزخ ګرمولی شي دا روايت امام ابوداود نقل کړی دی او ويلي يې دي

أَبُو الْخَلِيْلِ لَمْ يَلْقَ أَبَا قَتَادَةَ . (رواه ابوداؤد)[1].

چې ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د ابو الخليل ملاقات ثابت نه دی.

الْفَصْل الثَّالِث:

د مكروه وختونو تفصيل

﴿۱۰﴾ عَن عبدالله الصنابحِي قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ الشَّمْسَ تَطْلُعُ وَمَعَهَا

عبد الله الصنابحي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي كله چې لمر راخيژي هغې سره د

قَرْنُ الشَّيْطَانِ فَإِذَا ارْتَفَعَتْ فَارَقَهَا ثُمَّ إِذَا اسْتَوَتْ قَارَنَهَا فَإِذَا

شيطان ښكرې دي كله چې اوچت شي جدا كيږي بيا نصف النهار شي شيطان لمر خواته نزدې شي او چې

زَالَت فَارقهَا فَإِذَا دَنَتْ لِلْغُرُوبِ قَارَنَهَا فَإِذَا

كله لمر زائل شي د هغې نه جدا شي بيا چې لمر پريوځي نو ته نزدې شي شيطان ورته نزدې راشي او كله چې

غَرَبَتْ فَارَقَهَا. وَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي تِلْكَ السَّاعَاتِ[2].

لمر ډوب شي شيطان دې نه جدا شي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې وختونو كې مونځ كولو نه منع فرمايلې ده.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۶۵۳/۱ رقم الحديث : ۱۰۸۳.

(۲) أخرجه النسائي في السنن ۲۷۵/۱ رقم الحديث : ۵۵۹ ، وابن ماجه ۳۹۷/۱ رقم الحديث : ۱۲۵۳، ومالک في الموطأ ۲۱۹/۱ رقم الحديث : ٤٤ من كتاب القرآن .

د مازيګر نه پس يو مونځ هم نشته

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي بصرة الْغِفَارِيِّ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُخَمَّصِ صَلَاةَ الْعَصْرِ

ابو بصره غفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته مقام مخمص کې د مازيګر مونځ راکړو

فَقَالَ : « إِنَّ هٰذِهِ صَلَاةٌ عُرِضَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَضَيَّعُوهَا فَمَنْ

اوبيايې وفرمايل دا مونځ تاسونه مخکې خلکو باندې لازم کړی شوی وو هغوي ضائع کړو خوک چې ددې

حَافَظَ عَلَيْهَا كَانَ لَهُ أَجْرُهُ مَرَّتَيْنِ وَلَا صَلَاةَ بَعْدَهَا حَتّٰى يَطْلُعَ الشَّاهِدُ» .

حفاظت کوي ده ته به دبل ثواب ملاويږي او د مازيګر مونځ نه پس يو مونځ هم نشته تر څو چې شاهد نه وي

وَالشَّاهِدُ النَّجْمُ. (رَوَاهُ مُسلم)[1]

راوتی او شاهد هغه ستوری دی.

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ مُعَاوِيَةَ قَالَ : إِنَّكُمْ لَتُصَلُّونَ صَلَاةً لَقَدْ صَحِبْنَا رَسُولَ اللهِ

دحضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې تاسو خلک مونځونه کوئ او مونږ په صحبت د رسول الله

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيهِمَا

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې وو خو مونږ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې دوو رکعتونو کولو باندې نه وو ليدلی، بلکې

وَ لَقَدْ نَهَى عَنْهُمَا يَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ . (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[2].

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ددې نه يعنې د مازيګر نه پس د دوه رکعتونو کولو نه منع فرمايلې وه.

د بيان جواز په وخت خپل تعارف کول ضروری دی

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ وَقَدْ صَعِدَ عَلَى دَرَجَةِ الْكَعْبَةِ : مَنْ عَرَفَنِي فَقَدْ عَرَفَنِي

ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کې مروي دي چې هغه د کعبې په زينې باندې اوختو چاچې زه وپيژندم هغه وپيژندم

وَ مَنْ لَمْ يَعْرِفْنِي فَأَنَا جُنْدُبٌ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ :

او چا چې زه ونه پيژندم هغه ته ووايي چې زه جندب يم ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې د

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۵۶۸/۱ رقم الحديث : ۲۹۲- ۸۳۰ ، والنسائي ۲۵۹/۱ رقم الحديث : ۵۲۱ .

(۲) أخرجه البخاري في صحيحه ۶۳/۲ رقم الحديث : ۵۸۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

«لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَلَا بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ
سحرمونځ نه پس ترڅوچې لمرنه وي راختلی يومونځ هم نه کېږي او نه دمازيګرنه پس ترڅوچې ډوب شوي
الشَّمْسُ إِلَّا بِمَكَّةَ إِلَّا بِمَكَّةَ إِلَّا بِمَكَّةَ»(رَوَاهُ أَحْمد ، ورزين)[1]
نه وي لمر. خو مکه کې، خو مکه کې، خو مکه کې.

توضيح: فانا جندب: ما چې څوک پيژني نو صحيح ده د هغه په ما باندې اعتماد دی چې زه څوک يم او زما په خبره کې څه وزن دی او که ما نه پيژني هغه دې پوه شي زما نوم جندب دی او ابوذر زما کنيت دی. (المرقات ۳/۱۴۰).

د بيان کيدو نه مخکې ابوزر ددې تعارف ضرورت ځکه محسوس کړو چې د خلکو اعتماد وي او دا هم معلوم وي چې د بيان کولو والا عالم دی د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابي دی عام کس نه دی.
نن سبا خه خلک په غټو غټو اجتماعاتو کې بيان کوي او څه پته يې هم نه لګي چې عالم دی او که غير عالم دی، مستند دی او که غير مستند دی؛ قابل د اعتماد دی او که نه دی، نو که هغه غلط بيان هم وکړي نو څوک هم په ده نيو که نه شي کولې ځکه چې پته يې نه لګي دا صاحب څوک دی، يو چا ښه ويلي دي:

کس نمی داند که بھیّا کون ہے ❁ پاؤ ہے یا سیر ہے یا پون ہے

دا حضرات بالعکس په علماو باندې د ريا کاري الزام لګوي چې دوي خپل تعارف کوي نو تکبر کوي حقيقت دادی چې دا خلک تعارف ددې مجبوري د وجې نه شي کولې چې په دې کې عام طور بيان کولو والا ډاکټر، انجينر، پروفيسر او بابو وي که چيرته تعارف وکړي نو د خلکو اعتماد به پاتې نه شي چې دا خو بابو صاحب دی ددې وجې نه دا حضرات په خاموشي سره د علماو په جبو او قبو کې ځان ملبوس کړي او غلط بيان کوي چې خلک پوه شي چې څومره لوی مستند عالم دی.

---

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۵/۱۶۵.

بَاب الْجَمَاعَة وفضلها:

د جمعې سره د مونځ کولو فضیلت

قال الله تعالى: ﴿وَارْكَعُوا مَعَ الرَّاكِعِينَ﴾. (سورة البقرة آیت: ۴۳).

د معراج په شپه چې کله مونځ فرض شو د ورځې حضرت جبرائیل د ماسپښین مونځ په جمعې سره وکړو، جمعې سره د مونځ مشروعیت کله شوی دی دې کې د علماو دوه رائي دي د علماو یوې طبقې رایه دا ده چې جمعې سره مونځ کولو مشروعیت مکه کې شوی دی خو د دویمې طبقې خیال دا دی چې مشروعیت یې په مدینه منوره کې شوی دی خو اصل کې د جمعې مشروعیت مکه کې شوی دی دې باندې د جبریل د امامت حدیث دال دی خو جمعه باندې همیشه والی مدینه منوره کې شوی دی مکه کې د کفارو د غلبې د وجې نه ښکاره مونځ نه شو کولی د جمعې په فضیلت او ترغیب او ترهیب کې دومره ډیر آحادیث دي که ټول یو ځای کړی شي نو لویه خزانه ترې جوړیږي، تردې چې حضور ﷺ مرض الوفات کې د دوو کسانو په تعاون باندې جمعې سره مونځ کولو له راغلی. مونځ چې کله فرض شو، نو اول مونځ یې هم د جمعې سره کړې وو دا هم د جمعې د اهمیت ښنه ده.

جمعه فرض ده او که سنت او که واجب؟

دې باندې اتفاق دی چې د سړو د پاره جمعې سره مونځ کول د یوائې مونځ نه ډیر افضل دی او بغیر د عذر شرعي نه جمعه پریښودل بده خبره ده دې باندې د امت اتفاق دی بعضې داسې عذرونه شته چې د هغې د وجې نه جمعه ترک کول جائز دي او که شرعي عذر نه وي، نو جمعې سره مونځ کول دده د پاره آیا فرض دي او که واجب دي یا سنت دي دې کې د علماو اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف: د شوافعو مختار او اصح قول دا دی چې فرض مونځ د پاره جمعه فرض کفایه ده محققین شوافع دې ته ترجیح ورکوي خو د شوافعو مشهور قول دا دی چې جمعه سنت مؤکده ده. امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد جمعه سنت ده امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد جمعې سره مونځ کول فرض عین دي خو د مونځ د پاره شرط نشته. لهذا د ځان ته کس مونځ کېږي خو ګناه ګار به وي اهل ظواهرو په نزد باندې مونځ د پاره جمعه کول د شرط په درجه کې دی که بغیر د عذر نه چا د جمعې نه بغیر مونځ وکړو مونځ نه دی شوی. (المرقات ۳/۱۴۱).

د احنافو ائمو د کتابونو نه معلومیږي چې د جماعت په باره کې ددوي دوه قوله دي د یو قول مطابق جماعت واجب دی دویم قول مطابق سنت مؤکده دی کوم چې واجبو ته نزدې دی وجوب قول راجح دی علامه ابن الهمام وایي چې زمونږ د اکثرو مشائخو مسلک دا دی چې جماعت واجب دی دې باندې د سنت اطلاق ځکه شوی دی چې دا د سنتو نه ثابت دي یعنې په خپله جماعت سنت نه دی بلکې ددې ثبوت د سنت نه دی بعضې احناف د سنت فتوی ورکوي متقدمین احناف د سنت قائل دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

محاکمه: ددې اوږد اختلاف او د متفرقو اقوالو وجه څه ده په دې باره کې حضرت علامه انور شاه کشمیري رَحِمَهُ اللّٰهُ داسې محاکمه او فیصله کوي چې دا اختلاف په حقیقت کې د تعبیر اختلاف دی د مال په اعتبار سره دومره غټ اختلاف نه دی وجه دا ده چې په احادیثو کې جماعت سره مونځ نه کولو په باره کې سخت وعید راغلی دی، په بعضې روایاتو کې راغلي دي چې د آذان اوریدو نه پس په جماعت کې نه حاضریدلو والا مونځ نه کیږي په بعضې روایاتو کې راغلي دي چې د جمات د ګاونډي مونځ د جماعت نه بغیر صحیح نه دی او دلته بعضې روایاتو نه معلومیږي چې ددې په باره کې ډیره نرمي ده چې لږ شان باران وشي نو مونځ په کورونو کې کول په کار دی، د خوراک که ډیره تقاضا وي نو د جمعې پریښودل د خوراک کولو اجازت دی لهذا کومو حضراتو چې د سختي او تهدید او وعید لیدلي دي نو هغوي جمعې ته فرض ویلي دي یا یې د مونځ د صحیح کیدو د پاره شرط ګرځولې دی او کومو حضراتو چې نرم طرف لیدلي وي نو هغوي د سنت فیصله پرې کړې ده او کومو خلکو چې دواړه طرفه لیدلي دي نو هغوي د واجب او یا د سنت مؤکده حکم پرې لګولې دي همدارنګې دا اختلاف رابنکاره شو او د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ یو فرمان هم په زمکه ونه غورځید و یو نه یو فرمان یې د سینې سره ولګولو او وي ویل:

عبارإتنا شتى وحسنك واحد ❁ وكل الى ذاك الجمال يشير

ګلهائے رنګا رنګ سے ہے رونق چمن ❁ اے ذوق اس جہاں کو ہے زیب اختلاف سے

د جماعت فوائد: حضرت شاه ولی الله حجة الله البالغه کې د جماعت ډیر فوائد ذکر کړي دي خو دلته یې بعینه الفاظ نه دي ذکر کړي بلکې خلاصه ده.

(۱) جماعت د وجې نه مونځ په شان لوی عبادت رسم تام او د عام رواج او مزاج حصه جوړه شي ددې پریښودل آسان نه وي. (۲) عوام الناس او خواص یې یو ځای اداء کوي، چا ته چې د مونځ مسائل نه وي یاد نو علماء به د هغه خلکو اصلاح کوي. (۳) څوک چې مونځ نه ګوي هغه به هم بنکاره شي چې دا مونځ نه کوي. (۴) اجتماعي دعا په دربار د رب کې لوی اثر لري جماعت سره دا نعمت حاصلیږي. (۵) جماعت کې لوی اتحاد دی او د اسلام یو شان دی. (٦) هر کس ته به د بل د بې وسۍ پته ولګیږي، نو مدد به ورسره کوي (۷) جماعت کې برابر والی دی، مالدار او غریب یو صف کې ولاړ وي.

ایک ہی صف میں کھڑے ہوگئے محمود و ایاز ❁ نہ کوئی بندہ رہا نہ کوئی بندہ نواز

د جماعت پریښودو یو څو عذرونه: (۱) سخت باران د وجې نه (۲) لاري کې ختې وي (۳) ستر عورت پټ نه وي (۴) د سختې یخنۍ د وجې نه چې بیمار به شي یا به مرض ډیر شي (۵) لاره کې د ځان دښمن وي (٦) مسجد ته که لاړشي نو شاته د مال خطر وي (۷) د شپې سخته تیاره وي (۸) د یو کوریا سامان څوکیداري کول (۹) دیو بیمار تپوس کول (۱۰) د سخت او دس ماتي تقاضا وي (۱۱) د سفر په دوران کې د قافلې نه د پاتې کیدو خطره وي (۱۲) درس او تدریس کې داسې مشغولیدل چې د کولو فرصت نه وي

خو دا عذر کله نا کله وي(۱۳) دومره بيمار شي چې د تللو باندې قدرت نه لري يا ړوند وي(۱۴) روتی تياره وي اود خرابيدو ويره وي او سخته ولړه وي.

اَلْفَصْل الأول:

په جمعې سره مونځ او بغير د جمعې نه په ثواب کې فرق

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: چې د جمعې مونځ د

تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِ بِسبع وَعشرين دَرَجَة». (متفق عليه)[1]

ځانله مونځ نه اوويشت(۲۷) درجې زيات وي.

توضيح: بسبع وعشرين درجة: حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دي فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې د جماعت سره مونځ د ځان له مونځ نه اوويشت ۲۷ درجې ډير معلوميږي دې نه علاوه په نورو آحاديثو کې (۲۵) درجې يې زيات ښودلی دی دا په ښکاره تعارض دی. (المرقات ۳/۱۴۱).

جواب: اعدادو کې تعارض نشته عدد اکثر د عدد اقل نفی نه شي کولی بلکې اقل د اکثر په ضمن کې وي

دويم جواب: اول د الله تعالی طرف نه (۲۵) درجې انعام وو بيا (۲۷) درجې ته ورسيدو.

دريم جواب: دا دی دا تفاوت کثرت جماعت او کم خلکو د وجې نه دی. **څلورم جواب:** دا تفاوت د درجاتو د امکنو د وجې نه دی. **پنځم جواب:** د درجاتو دا فرق او تفاوت د اشخاصو او د هغوي د اخلاص د وجې نه دی ظاهره ده که مسجد کې صرف طلباء او صلحاء وي هغه يو شان سره وي بل ځای کې اخلاط الناس جماعت وي هغه د بلې درجې وي علماء ليکي چې د جماعت دا فضيلت د هر ځای جماعت د پاره دی مسجد سره خاص نه دی. (المرقات ۳/۱۴۲).

د جمعې پريښودو باندې سخت وعيد

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي

ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې قسم دې وي زما په هغه ذات باندې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۳۱/۲،رقم الحديث : ٦٤٥، ومسلم في الصحيح ٤٥٠/٤ رقم الحديث:٢٤٩-٦٥٠، أخرجه أحمد في المسند ٦٥/٢.

Maktaba Tul Ishaat.com

نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ بِحَطَبٍ فَيُحْطَبَ
چې د چاپه قبضه کې زما روح دی ما اراده وکړه چې د لرګو د جمع کیدو حکم وکړم او چې لرګي جمع شي
ثُمَّ آمُرَ بِالصَّلَاةِ فَيُؤَذَّنَ لَهَا ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَؤُمَّ النَّاسَ
او د مونځ د پاره د آذان حکم وکړم او چې آذان وشي او خلکو ته د مونځ ورکولو د پاره بل کس مامور کړم
ثُمَّ أُخَالِفَ إِلٰى رِجَالٍ . وَ فِيْ رِوَايَةٍ :
او دهغه خلکو طرف ته لاړشم چې بغیر د عذر نه کور کې مونځ کوي او مسجد ته نه راځي یو روایت کې دي
لَا يَشْهَدُوْنَ الصَّلَاةَ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوْتَهُمْ وَ الَّذِيْ
هغه خلکو طرف ته لاړم شم چې مونځ کې نه حاضریږي او د دوي کورونه وسوزوم او قسم دې وي زما په هغه
نَفْسِيْ بِيَدِهٖ لَوْ يَعْلَمُ أَحَدُهُمْ أَنَّهُ يَجِدُ عَرْقًا سَمِيْنًا أَوْ
ذات باندې چې د چاپه قبضه کې زما ساه ده که چاته معلوم شي چې ملا ویږي د غوښې ښه پوتي دغوا یاد
مِرْمَاتَيْنِ حَسَنَتَيْنِ لَشَهِدَ الْعِشَاءَ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَلمُسلم نَحوه.(۱)
چیلې ښې څربې ، نو ماسخوتن مونځ کې به حاضر شي.

توضیح: فأحرق عليهم: ددې حدیث د وعید د وجې نه متأخرینو احنافو د جماعت د وجوب قول کړی دی خو متقدمینو احنافو د سنت مؤکده قول کړی دی هغوی فرمایي ددې حدیث وعید هغه کس د پاره دی چې مسلسل تارک جماعت وي او دا یې عادت وي دې نه دا خبره معلومه شوه چې د جماعت ترک کونکي ته دنیاوي تعزیر هم جائز دی او اخروي سزا هم ده دویمه دا خبره معلومه شوه چې حضور ﷺ د سزا ورکولو اراده کړې وه خو عمل یې پرې ونه کړو ددې وجه علماء دا بیانوي چې تارک جماعت سره د کور سوزولو نه بې ګناه افراد و خطره ده، لکه ماشومان او زنانه وي. (المرقات ۳/۱۴۲).

دې حدیث نه او دې نه پس حدیث نمبر (۲۲) نه یو عجیبه اشاره ملا ویږي چې جماعت فرض نه دی هغه ځکه چې حضور ﷺ وفرمایل چې ځان سره یو څو ځوانان کړم او جماعت بل ته حواله کړم دې نه دا معلومه شوه چې جماعت د ترک کولو ګنجایش شته او فرض نه دی.

دې حدیث نه دا خبره معلومه شوه چې امام د ضرورت په وخت کې نائب مقرر کولی شي، ددې حدیث په

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۴۵۱ رقم الحديث:۲۵۱-۶۵۱، وأبو داود ۱/۳۷۱ رقم الحديث :۵۴۸، والنسائي ۲/۱۰۷، رقم الحديث: ۸۴۸ .

آخر کې هغه کم عقل انسانانو ته هم اشاره ده که چرته د دنیا یو معمولي څیز مسجد کې ملا ویږي ټول ورپسې ځي خو یو لوی عبادت د پاره جمع کیدل وي هغې له څوک نه ځي، عرق هډوکي ته ویلی شي مر ماتین اول **میم** باندې کسره او فتحه دواړه دي (نوک) ته ویلی شي یا د نوک په منیځ کې د غوښې پوټی مراد ده.

د چا شان چې اوچت وي هغه دې په عبادت کې ښه کوشش وکړي

﴿۳﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ رَجُلٌ أَعْمَى

ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یو ړوند کس (عبد الله ابن مکتوم) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو او عرض

فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ لَيْسَ لِيْ قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الْمَسْجِدِ فَسَأَلَ رَسُولَ

یې وکړو یا رسول الله! زما د پاره یو رهبر نشته چې ما مسجد ته بوځي بیا یې دا درخواست وکړو د رسول

اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيَ فِيْ بَيْتِهِ فَرَخَّصَ لَهُ

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چې ده ته په کور کې د مونځ کولو رخصت ورکړي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده ته اجازت ورکړو

فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ : « هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ ؟ » قَالَ : نَعَمْ

کله چې واپس شو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه را وبلو او ورته یې وفرمایل آیا ته آذان اوري هغه وویل چې آو

قَالَ : « فَأَجِبْ » . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل ستا د پاره جومات ته حاضرېدل ضروري دي.

توضیح: لیس لي قائد: زما د پاره رهبر نشته دا صحابي عبد الله ابن مکتوم دی. (المرقات ۳/۱۴۶).

سوال: مسئله داده که یو کس ړوند وي او جومات ته د بوتللو د پاره خادم نه وي هغه معذور دی دلته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ابن مکتوم ته اجازت ولې ورنه کړو؟ احادیثو کې راځي چې یو صحابي عتبان بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل د ړوند والي شکایت وکړو هغه ته یې اجازت ولې ورکړی ؤ او دلته یې اجازت ورنه کړو.؟

جواب: ددې جواب دا دی چې د یو صحابي د شان موازنه د غیر صحابي سره نه کېږي که غیر صحابي ته یو څیز کې اجازت وي هلته د صحابو شان ته وګوري اجازت نه ورکوي د غه شان د صحابو جماعت کې چې د چا شان اوچت وي د هغې معیار د نورو په مقابله کې اوچت وي چونکې ابن مکتوم صحابي هم وو

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۷٤ رقم الحديث: ۲۵۵-۶۵۳، وأبو داود ۱/۳۷٤ رقم الحديث: ۵۵۲، والنسائي ۲/۱۰۹، رقم الحديث: ۸۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

او لوی صحابو کې هم وو ددې وجې نه دده معیار د عتبان بن مالک نه اوچت وساتلو ده ته حکم وشو چې ته هر حالت کې جماعت کې حاضریږه دغه شان بعضې وختونو کې د صحابو مقابله کې د اهل بیتو معیار اوچت ساتلی دی دوي ته د خرچې ذخیره کولو نه منع کړې ده بیا حضور ﷺ خپل معیار د دوي نه اوچت وساتلو او داسې اعمال یې خپل کړل چې امت ددې تصور هم نه شي کولی دا فرق د مراتبو دی دې سره ډیر مسائل حل کیږي. (المرقات ۳/۱۴۶).

د سختې یخنۍ دوجې نه جماعت ترک کول جائز دي

﴿٤﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ : أَنَّهُ أَذَّنَ بِالصَّلَاةِ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَ رِيحٍ

دابن عمر رضي الله عنه په باره کې مروي دي چې یوه شپه سخته یخني او هوا وه مونځ دپاره یې آذان وکړو دې

ثُمَّ قَالَ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ ثُمَّ قَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ

وویلی خبردار خپلو کورونو کې مونځ وکړئ بیا یې وویل چې حضور ﷺ به مؤذن ته حکم کولو

إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَ مَطَرٍ يَقُولُ : أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ. (متفق عليه)[1].

چې کله به دشپې یخني اوباران وُ چې آذان کولو سره دې دا هم ووایي چې خپلو کورونو کې مونځ وکړئ.

توضیح: د ختمو او باران د وجې نه کور کې مونځ کولی شي **الرحال** چت او کور ته ویلی شوي دي (**اذا ابتلت النعال فالصلوة فی الرحال**) نعال پیزار ته وئیلی شي او سختې ځمکې ته هم وئیلی شي یعنې سخت باران چې وشي ځمکه لونده شي، نو بیا کور کې مونځ کوئ. (المرقات ۳/۱۴۶).

اول دودی بیا مونځ

﴿٥﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ

ابن عمر رضي الله عنه راوي دی وایي چې حضور ﷺ وایي چې کله کیښو دلې شي دماسخوتن دودې

أَحَدِكُمْ وَ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَؤُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ

تاسو کې یوچاته اودغه وخت کې تکبیروشي هغه دې دودی وخوري اوجلتي دې په کې نه کوي بلکې

حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ » وَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يُوضَعُ لَهُ الطَّعَامُ

اطمینان سره دې فارغ شي دابن عمر رضي الله عنه په باره کې ویلی شي چې دهغه مخې ته چې کله دودی کیښو دلې

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ١٥٦/٢،رقم الحديث :٦٦٦، ومسلم في الصحيح ٤٨٤/١ رقم الحديث:٢٢-٦٩٧، وأبو داود ٦٤٢/١ رقم الحديث :١٠٦٣، والنسائي ١٥/٢، رقم الحديث: ٦٥٤ .

وَ تُقَامُ الصَّلَاةُ فَلَا يَأْتِيهَا حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ وَ إِنَّهُ لِيَسْمَعَ
شوه اومونځ به شروع کيدونومونځ ته به ترهغه وخت پورې نه تللو چې ډوډۍ نه به فارغ نه وۍ او اوريدو
قِرَاءَةَ الْإِمَامِ. (متفق عليه)[1]
به يې قرائت د امام.

توضيح: فابدوا بالعشاء: عشاء د عين فتحې سره د مانښام ډوډۍ ته ويل کېږي که د مونځ وخت کې وسعت وو نو بهتر داده چې خوراک دې وکړي چې مونځ کې فکر او انتشار نه وي د جمهورو په نزد مشتاق طعام د پاره دغه بهتر دی ځکه چې ممکنه ده چې ډوډۍ يخه شي او خرابه شي يا سپي يا پيشو يې وخوري يا ددې تاخير سره غير ته تکليف وي امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ وايي چې: **لأن يكون طعامي كله صلوة احب الي من ان تكون صلوتي كلها طعاما.**

کله چې په ډوډۍ کې د مونځ فکر وې ګويا دا په مونځ کې دی او کله چې په مانځه کې د ډوډۍ فکر وې ګويا دا په ډوډۍ کې مصروف دی. (المرقات ۳/۱۴۷).

که ډوډۍ مخامخ وي يا داودس ماتی حاجت وي نو مونځ وروسته کول په کار دي

﴿٦﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: «لَا صَلَاةَ
دعائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې مونځ کامل نه وي
بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ
چې کله خوراک مخامخ او حاضر وي او نه په هغه حالت کې (مونځ کامل وي) چې کله خټم کړي حضور
الْأَخْبَثَانِ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[2].
قلبي دوه خبيثه (يعني وړوکی اودس ماتی او لوی اودس ماتی).

توضيح: مونځ داسې وخت کې کول په کار دي چې د الله تعالی مخې ته انسان خشوع او خضوع قائم وي ليکن چې کله په انسان باندې د وړوکي او ډک اودس ماتي سخت دباو او زور وي يا د خوراک خواهش لرونکي وي او همدارنګې قئ کيفيت وي يا د بادو (هوا، پوسکۍ) شکايت وي نو په دې ټولو صورتونو کې به مونځ وروستو کولې شي او جمعه به پريښودلې شي.

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/١٥٩، رقم الحديث: ٦٧٣، ومسلم في الصحيح ١/٣٩٤ رقم الحديث: ٥٥٩-٦٦.

(٢) أخرجه مسلم في الصحيح ١/٣٩٢ رقم الحديث: ٥٦٠-٦٧.

Maktaba Tul Ishaat.com

اخبثان: ای ولا صلوة حاصلة للمصلي في حال يدافعه الا خبثان، دې نه مراد وړوکی او ډک اودس ماتی دی په دې صورت کې مونځ وروسته کولی شی که بول او براز موجب ثقل صلوة وي دغه حالت کې مونځ کول مکروه تحريمي دي دې صورت کې جماعت ترک کول بهتر دي خو دا مسائل هغه صورت کې دي چې کله وخت ډير وي که وخت کم وي، نو بيا دغه وخت کې هم مونځ کول په کار دي. (المرقات ٣/١٤٨).

چې کله مونځ اودريږي بيا سنت مه کوئ

﴿٧﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ». (رَوَاهُ مُسلم)[1].

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې کله مونځ اودريږي نو د فرضو نه علاوه بل مونځ کول نه دي په کار.

توضيح: الا المكتوبة: سحر نه علاوه څلورو وختونو کې اقامت اوشي نو اتفاقا سنت کول مکروه تحريمي دي البته د سحر سنتو کې سخت تاکيد دی بعضې علماو دې ته د سنت په ځای واجب ويلي دي حديث کې دي: **صلوها و ان طردتكم الخيل** يعنې د دښمن آسونه که تاسو پايمال هم کړي د سحر سنت مه پريږدئ، ددې تاکيد اتو د وجې نه دا مسئله مختلف فيها شوه. (المرقات ٣/١٤٩).

د فقهاو اختلاف: د امام شافعی او امام احمد رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد باندې د باقي مونځونو د سنتو په شان د سحر سنت د جمعې د ودريدو په وخت کې مکروه تحريمي دي او د اهل ظواهرو په نزد باندې ددې مونځونو انعقاد هم نه دی صحيح. د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د سحر سنت د قيام جماعت په وخت کې داخل مسجد کې جائز نه دي او خارج مسجد کې صحيح دي. (المرقات ٣/١٤٩).

احناف فرمايي چې ددې سنتو تاکيد د وجې نه قيام جماعت وخت کې هم کول په کار دي که مسجد لوی وو، نو په يو طرف کې دې سنت وکړي او که مسجد وړوکی وو بيا دې مسجد نه بهر سنت وکړي په دې شرط چې آخرنی رکعت مکمل راونيسي چې احراز د فضيلتينو مکمل طور باندې وشي، مسجد کبير هغه دی چې (٦٠) قدمو پورې وي ګڼي وړوکی دی. (المرقات ٣/١٤٩).

---

(١) أخرجه مسلم في الصحيح ١/٤٩٣ رقم الحديث: ٦٣-٧١٠، وأبو داود ٢/٥٠ رقم الحديث: ١٢٦٦، والنسائي ٢/١١٦، رقم الحديث: ٨٦٥.

د زنانو د جمعې د سره مونځ کولو حکم

﴿۸﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « إِذَا اسْتَأْذَنَتِ امْرَأَةُ

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې کله اجازت وغواړي يوه ښځه په

أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَسْجِدِ فَلَا يَمْنَعَنَّهَا ». (متفق عليه)[1].

تاسو کې دې چا نه مسجد ته د تللو ، نو مه يې منع کوئ.

توضيح: اذا ستأذنت امراة: د ډيرو احاديثونه ثابته ده چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې به زنانه مسجد ته تللې خو په هغې وخت کې هم څه شرائط وو مطلق اجازت ورته نه وو. (المرقات ۳/۱۵۰).

يو څو شرائط: (۱) زنانو ته حکم ؤ چې خوشبو به نه لګوي د مسجد ته د تللو په وخت کې او نه به د زيب او زينت لباس اغوندي. (۲) ښځو ته حکم ؤ چې چې د سړو نه په آخر کې به راځي او په آخري صفونو کې به کيني او سلام نه بعد به فوراً اوځي. (۳) سړو ته دا حکم ؤ چې تر ځوانانه تللې نه وي تاسو به نه ځئ. (۴) عمر رسيده زنانو ته اجازت وو او هغه هم د تيارې مونځونو کې مثلاً د سحر، مابنام او ماسخوتن کې او ځوانانو زنانو ته اجازت نه وو. (۵) ښځو ته ښکاره ويلي شوي وو چې هغه مونځ چې تاسې يې په کورونو کې کوئ دا بهتر دي ددې نه چې په جومات کې يې وکړئ. (المرقات ۳/۱۵۰).

د هغه وخت ضرورت: هغه وخت کې د زنانو حاضريدل ځکه ضروري وو چې نوي مسائل به راتلل او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مواعظ به جومات کې وو او ددې د حصول واحد ذريعه جومات کې حاضريدل وو ددې مجبورئ په وجه ښځو ته جومات ته د تللو اجازت ورکړې شوې وو.

د هغه وخت ماحول: دا خبره هم په خيال کې ساتل په کار دي چې د هغه وخت ماحول څه ؤ چې په هغه وخت کې به ښځې به جومات ته تللې ، که لږ سوچ وکړو او وګورو نو صحابه کرام د فرشتو په شان يو جماعت وو او په هغه وخت کې په خپله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ موجود وو د صحابو دور وو حضرت جبرائيل امين به په خپله مقدسه ځمکه باندې ګرځيدو او د قرآن کريم د ايټونو مبارکو د نازليدو د تقوى ماحول وو د زنانو جومات ته تلل د فتنې نه خالی وو ، بلکه باعث د برکت وخت وو داسې ماحول باندې بل ماحول مه قياس کوئ.

نن سبا دور کې د زنانو تلل جومات ته صحيح نه دي عهد صحابو کې حضرت زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپله ښځه د جومات نه منع کوله هغې خبره وانه وريده، ځکه چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجازت وو او مضبوط دليل وو، نو زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په لاره کې کيناستو او خپله ښځه يې په کانې باندې اويشتله هغه په ځای باندې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۹/۳۳۷،رقم الحديث :۵۲۳۸، ومسلم في الصحيح ۱/۳۲۶ رقم الحديث: ۱۳۴ - ۴۴۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

ودريده او انالله وانا اليه راجعون يې وويل او كور ته لاړه حضرت زبير رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته يې واقعه ذكر كړه اوويل يې چې اوس هغه دور نه دی چې زنانه جوماتونو ته تللې.

د حضرت عبدالله ابن عمر او د هغه د ځوی خبرې مذكور دي ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وفرمايل چې زنانو په باره كې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې دوي مه منع كوئ. او دده ځوی بلال وويل چې زه به يې منع كوم دې صوري معارضه باندې ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ډير خفه شو چې ټول عمر يې دې سره خبرې نه كولې بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د دې حديث معارض او انكار نه دی كړی صرف صورت د معارض جوړ شوی دی كله چې دا واقعه حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا ته معلومه شوه ويې فرمايل الله تعالى دې په ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې رحم وكړي كه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې دور كې ژوندی وی، نو بنځې به يې د جومات نه منع كولې لكه څنګه چې د بنې اسرائيلو زنانه منع وې. په بخاري شريف كې د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا روايت داسې دي: **لو ادرك رسول الله صلى الله عليه وسلم ما احدث النساء لمنعهن المسجد كما منعت نساء بني اسرائيل** (بخاري ج ۱ ص ۱۲۰) (المرقات ۳/۱۵۰).

بهر حال د زنانو مسجد ته تللل د فقهاء احنافو دد دې معروضي احوالو د لاندې مكروه ليكلي د حديث جواز په خپل ځای باندې صحيح دی خو د حديث د پاره هغه ماحول نشته كوم ماحول كې چې دا حديث وئيلی شوی دی او د كومې مجبورۍ د وجې نه چې وئيلی شوې وو هغه مجبوري پاتې نه شوه دې وجې نه علماء ليكي (**فلا يمنعنها**) كې چې كومه نهې راغلې دغه مكروه تنزيهي باندې محمول ده يعنې منع كول خلاف اولى دي مطلب دا چې څوك منع كړی هم جائز دی.

چې كله بنځې عبادت ته مسجد ته نه شي تللې نو چيله كې څنګه تللې شي؟: د احنافو فقهاو د فقه په متونو كې يو حكم ليكلی دی (**ولا يحضرن الجماعات**) يعنې بنځې د جمعې په مونځ كې نه شي حاضريدې.

د كنزالدقائق دد دې عبارت شرحه علامه ابن نجيم رَحِمَهُ اللَّهُ په بحر الرائق كې دارنګې كړې ده:

ولا يحضرن الجماعات لقوله تعالى: ﴿ وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَى ﴾. و قال صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلوتها في قعر بيتها افضل من صلوتها في صحن دارها و صلوتها في صحن دارها افضل من صلاتها في مسجد و بيوتهن خير لهن ولانه لا يؤمن الفتنة من خروجهن اطلقه فشمل الشابة و العجوزة و الصلوة النهارية و الليلية. قال المصنف في الكافي و الفتوىٰ اليوم على الكراهة في الصلوة كلها لظهور الفساد و متى كره حضور المسجد للصلوة. فلأن يكره حضور مجالس الوعظ. خصوصا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلماء اولىٰ (ذكره فخر الاسلام) و في فتح القدير المعتمد

منع الكل في الكل الا العجائز المتفانية فيما يظهر لي دون العجائز المتبرجات و ذوات الرمق (بحر الرائق ج۱ ص۳۵۸)

ترجمه : او بنځې د جَمعې مونځ ته نه شي حاضريدلې ځکه چې د الله تعالى فرمان دي : چې په کورونو کې ناستې اوسې او د اولنې جهالت په وخت په شان بهر مه راوځئ ،همدارنګې د نبي کريم ﷺ حديث دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د بنځې مونځ په کور کې په تهه خانه کې کول دا بهتر دی د هغه مونځ نه چې د کور په صحن کې وي ، او په کور کې په صحن کې مونځ کول دا بهتر دی د ډې نه چې په مسجد کې مونځ وشي او د بنځو د پاره د دوي کور دا بهتر ځای دی ، د قرآن او حديث دليل نه پس عقلي دليل دا دی چې د بنځو د وتلو سره دوي په فتنه کې د واقع کيدو خطره ده ، په متن کې د منع مسئله يې عامه ذکر کړې ده لهذا دا حکم ځواني او بوډۍ ټولو بنځو ته شامل دی همدارنګې د ورځې او د شپې په مونځونو کې هيڅ فرق نشته (ټول منع دی) .

مصنف په کافي کتاب کې ليکلي دي چې نن سبا د کراهت دا فتوي د ټولو مونځونو د پاره ده ځکه چې شر او فساد بنکاره شوې دی ، او چې کله د مونځ د پاره مسجد ته حاضريدل مکروه دی نو د وعظ مجالسو کې حاضريدل بطريق اولى مکروه دی خصوصاً د هغه جاهلانو د وعظ مجلس ته تلل چې د علماو په جبو او قبو او ددوي په دستار او لباس کې ځان پټ کړي او راشي ، فخر ال اسلام علي بزدوي رَحِمَهُ اللهُ دا ذکر کړي دي .

په فتح القدير کې يې ليکلي دي چې احتياط په دې کې دی چې په ټولو مونځونو کې د هر قسم بنځو مسجد ته راتلل منع دی او هغه بوډي هم نه شي تللې چې زيب او زينت کوي او د سړو د پاره قابلې د نظر او التفات وي .

ددې عبارت نه معلومه شوه چې د بنځو په چيلو کې وتل ، ګشت لګول او په محلو او لرې علاقو ته تلل مکروه او ممنوع دی ، همدارنګې د بنځو د مدرسو چې کوم طوفان را الوتي دي دا هم د خطرو نه خالي نه دي اګر چې ددې ثبوت په نبوي دور کې ملاويږي ليکن د نبي کريم ﷺ مبارک دور په دې اوسني پُر فتن دور باندې قياس کول د هغه مخکنې دور بې ادبي او ګستاخي ده .

زنانه چې خوشبو ولګوي نو بهر دې نه وځي

﴿۹﴾ وَعَنْ زَيْنَبَ امْرَأَةِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَتْ : قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :

زينب چې د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بي بي ده وايي چې حضور ﷺ مونږ ته وفرمايل : تاسو

Maktaba Tul Ishaat.com

«إِذَا شَهِدَتْ إِحْدَاكُنَّ الْمَسْجِدَ فَلَا تَمَسَّ طِيْباً». (رَوَاهُ مُسلم)[1].

کې څوک (زنانه) چې جومات ته ځي نو عطر دې نه لګوي.

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بَخُورًا

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل کومه زنانه چې خوشبو لګوي

فَلَا تَشْهَدْ مَعَنَا الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ». (رَوَاهُ مُسلم)[2].

هغه دې مونږ سره د ماسخوتن مونځ کې نه يوځای کېږي.

الْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۱۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تَمْنَعُوا نِسَاءَكُمُ

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې تاسو مه منع کوئ خپلې زنانه د

الْمَسَاجِدَ وَبُيُوتُهُنَّ خَيْرٌ لَهُنَّ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)[3].

جومات نه مه منع کوئ خو کور د هغوي د پاره بهتر دی.

دزنانه د پاره کور کې مونځ کول افضل دي

﴿۱۲﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «صَلَاةُ الْمَرْأَةِ فِي بَيْتِهَا

حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زنانه مونځ کور کې دننه کول، په

أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي حُجْرَتِهَا وَصَلَاتُهَا فِي مَخْدَعِهَا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهَا فِي بَيْتِهَا» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[4]

صحن کې کولو نه بهتر دی او کوټې کې مونځ کول د خلاص ميدان کې کولو نه بهتر دی.

توضيح: حجرتها: د کوټو مخې ته صحن ويل کېږي او بيت اطلاق کور باندې هم کېږي خو دلته کيدی شي برنده او دالان مراد وي. (المرقات ۳/۱۵۱).

مخدعها: مخدع د خدع نه دی **ميم** باندې فتحه او ضمه دواړه وي دهوکې ته ويل کېږي دلته د زنانه

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۲۸ رقم الحديث: ۱۴۲-۴۴۳، والنسائي ۸/۱۵۴، رقم الحديث: ۵۱۲۹.

(۲) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۲۸ رقم الحديث: ۱۴۳-۴۴۳، وأبو داود ۴/۴۰۱ رقم الحديث: ۴۱۷۵.

(۳) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۸۲ رقم الحديث: ۵۶۷.

(۴) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۸۳ رقم الحديث: ۵۷۰.

هغه کوتنی مراد ده چې هغې کې خپل پټ سامان کیښودلی شي دې ته خدره هم ویل کېږي (المرقات ۳/۱۵۱).

لکه امرء القیس وایي:

و یوم دخلت الخدر خدر ❁ عنیزة فقالت لک الویلات انک مرجل

تقول وقد مال الغبیط بنا معا ❁ عقرت بعیری یا امرء القیس فانزل

ددې حدیث نه دا یو عجیب تعلیم حاصلیږي او هغه دا چې اکثرې ښځې مسجد ته ډیرې تږې ناست وي چې دوي مسجد ته لاړ شي او ثواب وکټي که چیرته ددوي نه پوښتنه وشي چې دا راته ووایه چې تاسې ته د مسجد ته د تللو شوق ولې دی؟ که چیرته ددې وجې نه دي چې د جمعې او مسجد ثواب حاصل شي نو هغه ثواب خو کور کې هم درته ملاویږي بلکې ددې نه یو څه بهتره ملاویږي، او که چیرته مسجد ته د تللو شوق د بلې وجې نه دی نو هغه هم لږ راته په شوق ووایه چې په دې باندې غور وشي.

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ حِبِّي أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ:

ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وایي چې ما د خپل محبوب ابوالقاسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا واوریدل چې د هغه

« لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ امْرَأَةٍ تَطَيَّبَتْ لِلْمَسْجِدِ حَتَّى تَغْتَسِلَ

زنانه مونځ نه قبلیږي چې جومات ته تللو سره عطر لګوي او که لګولې یې وي، نو غسل دې وکړي لکه

غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وروى أَحْمد، وَالنَّسَائِيّ نَحوه)[1]

څنګه چې ناپاکۍ د پاره کولی شي.

پردیو سړو ته عطر بوئ کولو والا زنانه بدکاره ده

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُّ عَيْنٍ زَانِيَةٌ وَإِنَّ

دابوموسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې هره سترګه زناکاره ده او که

الْمَرْأَةَ إِذَا اسْتَعْطَرَتْ فَمَرَّتْ بِالْمَجْلِسِ

زنانه عطر ولګوي او په مجلس باندې تیره شي او مقصد یې دا وي چې زما طرف ته خلک وګوري دغه

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۴/۴۰۱ رقم الحديث: ۴۱۷۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَهِيَ كَذَا وَكَذَا» .يَعْنِي زَانِيَةً. (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ ،وَلِأَبِي دَاوُد ،وَالنَّسَائِيِّ نَحوه)[1].

زنانه داسې او داسې ده يعني زانيه ده.

په منافقانو باندې کوم مونځ بوج دی

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا الصُّبْحَ فَلَمَّا سَلَّمَ

ابي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ورځ مونږ ته د سحر مونځ وکړو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام سلام

قَالَ : « أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟ » قَالُوا : لَا. قَالَ : « أَشَاهِدٌ فُلَانٌ ؟» قَالُوا : لَا.

واړولونوو يې فرمايل چې فلانی کس حاضر دی صحابو عرض وکړو چې نه ،دوه ځلې يې وفرمايل دې نه

قَالَ : « إِنَّ هَاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ أَثْقَلُ الصَّلَوَاتِ عَلَى الْمُنَافِقِينَ وَ لَو

پس نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل ټولو مونځونو کې دا دواړه مونځونه په منافقانو باندې ګران وي که تاسو ته

تَعْلَمُونَ مَافِيهِمَا لَأَتَيْتُمُوهما وَ لَوْ حَبْوًا عَلَى الرُّكَبِ وَ إِنَّ الصَّفَّ الْأَوَّلَ عَلَى

پته ولګې چې ددې دواړو څومره ثواب دی تاسو به په خپورابنکلو سره راتلئ اول صف د فرښتو صف په

مِثْلِ صَفِّ الْمَلَائِكَةِ وَ لَوْ عَلِمْتُمْ مَا فَضِيلَتُهُ لَابْتَدَرْتُمُوهُ

شان دی که ددې فضيلت معلوم شونو ددې دپاره به په جلتی سره راتلو کې کوشش کوئ د ځان له مونځ کولو

وَإِن صَلَاةَ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكَى مِنْ صَلَاتِهِ وَحْدَهُ وَصَلَاتَهُ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكَى مِنْ صَلَاتِهِ مَعَ الرَّجُلِ

نه دويم کس سره مونځ کولو ثواب ډير دی د دوو کسانو سره مونځ د يو کس سره د کولو نه ډير ثواب لري

وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللهِ» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد، وَالنَّسَائِيُّ)[2].

څومره چې کسان زيات وي الله تعالی ته ډير محبوب وي.

توضيح: د منافقانو هر عمل د ريا د پاره وي د سحر او ماسخوتن کې محنت ډير وي يو د خوب نه پاڅيدل وي او دويم کې د خوب نه منع کول وي منافق د اخلاص نه خالي وي او ناراستی نه ډک وي چې د منافق محبوبه سرمايه وي. **لوحبوا:** په زنګونانو باندې تللو ته ويلی شي. (المرقات ۳/۱۵۳).

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ٤/٤٠٠ رقم الحديث : ٤١٧٣٠ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٥/٩٨، رقم الحديث :٢٧٨٦.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ١/٣٧٥ رقم الحديث : ٥٥٤ .

په کلي او ځنګل کې هم مونځ په جماعت سره کوئ

﴿۱۶﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ ثَلَاثَةٍ فِي قَرْيَةٍ وَلَا بَدْوٍ

ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي کوم کلي او ځنګل کې چې درې سړي وي

لَا تُقَامُ فِيهِمُ الصَّلَاةُ إِلَّا قَدِ اسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطَانُ فَعَلَيْكَ بِالْجَمَاعَةِ

او جماعت سره مونځ نه کوي دوي باندې شيطان غالب کيږي تاسو جماعت په ځان باندې لازم کړئ هغه

فَإِنَّمَا يَأْكُلُ الذِّئْبُ الْقَاصِيَةَ» (رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُد، وَالنَّسَائِيُّ)[1].

چيلې شرمخ خوري کوم چې د چيلو د کنډک نه جدا شي.

توضيح: في قرية: که کلي کې درې سړي وي هغوي ته په کار دي چې يو امام او دوه مقتديان شي. جمعه دې وکړي چې د جمعې ثواب حاصل شي او د مسلمانانو د اجتماعيت شان هم باقي وي ترڅو چې باقي وې شيطان نه به بچ وي لکه څنګه چې چيلو کنډک کې شرمخ نه شي ورتللی او جرات نه شي کولی خو چې ځان له وي شرمخ يې خوري همدارنګې د جمعې نه يوائې مونځ کوونکي به يو ورځ د شيطان په قابو کې راځي او خوري به يې. (المرقات ۳/۱۵۵).

استحوذ: دا د غلبې او قابو په معنی سره دی.

القاصية کنډک نه ځان له چيلئ ته قاصيه ويل کيږي د دې حديث او وروستني حديث نه وجوب معلوميږي. (المرقات ۳/۱۵۵).

﴿۱۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِيَ

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي څوک چې د مؤذن آواز واوري او د

فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنِ اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ » قَالُوا

مؤذن د تابعداری نه يې (يعني جماعت کې شريک کيدو نه) څه عذر نه منع نه کړي خلکو تپوس وکړو

وَمَا الْعُذْرُ؟ قَالَ: «خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلَاةُ الَّتِي صَلَّى» (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارَقُطْنِيُّ)[2].

عذر څه دی هغه وويل د بنسمن نه ويريدل يا بيماری د وجې نه مونځ بغير د جماعت نه وکړي نه قبليږي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۷۱ رقم الحديث : ۵۴۷ .

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۷۳ رقم الحديث : ۵۵۱ ، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۲۶۰ رقم الحديث: ۷۹۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

كه تش اودس ماتې تيزوي نو اول ځان فارغول په كار دي

﴿۱۸﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ

عبدالله ابن ارقم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې كله اودريږي مونځ او

وَوَجَدَ أَحَدُكُمُ الْخَلَاءَ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَى مَالِكٌ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ نَحوه[1].

چاته وړوكى حاجت وي هغه ته په كار دي چې اول وړوكى اودس ماتى وكړي (اګرچې جماعت ترك شي)

پيش امام ته عامه دعاء كول په كار دي

﴿۱۹﴾ وَ عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " ثَلَاثٌ

حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې درې څيزونه داسې دي چې

لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يَفْعَلَهُنَّ : لَا يَؤُمَّنَّ رَجُلٌ قَوْمًا فَيَخُصَّ نَفْسَهُ بِالدُّعَاءِ

دهغې كول چاته حلال نه دي اول داچې څوك دبو جماعت امام جوړشي اودعاكې جماعت شريك كولو

دُونَهُمْ فَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ . وَلَا يَنْظُرْ فِي قَعْرِ بَيْتٍ

نه بغير خپل ځان مخصوص كړي كه دايې وكړل نو خيانت يې وكړو دويم داچې نظر مه كوئ دچاپه كوركې

قَبْلَ أَنْ يَسْتَأْذِنَ فَإِنْ فَعَلَ ذَلِكَ فَقَدْ خَانَهُمْ

بغير داجازت نه كه داسې چا وكړل نو دكورو الاسره يې خيانت وكړو دريم داچې څوك په داسې حالت كې

وَلَا يُصَلِّ وَ هُوَ حَقِنٌ حَتَّى يَتَخَفَّفَ " . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، والترمذي نَحوه)[2].

مونځ نه كوي چې وړوكى يا لوى اودس ماتى ورته، تيز ورغلى وي تردې چې هغه سپك كړي.

توضيح: فيخص نفسه: يعنې قوم پريږدي او امام خپل ځان له دعا اوغواړي او خلك امين وايي دا عمل د امام غلط دى.

---

(١) أخرجه أبو داود في السنن ٦٨/١ رقم الحديث :٨٨ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٢٦٢/١، رقم الحديث :١٤٢، وأخرجه ابن ماجه في سننه ٢٠٢/١ رقم الحديث: ٦١٦.

(٢) أخرجه أبو داود في السنن ٧٠/١ رقم الحديث : ٩١ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٢ ١٨٩، رقم الحديث : ٣٥٧، وأخرجه ابن ماجه في سننه ٢٩٨/١ رقم الحديث:٩٢٣.

سوال: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دعاګانې لیکلې او ښودلې یې هغه د منفرد او د خپل نفس سره خاص وي او حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه غوښتلې دلته څنګه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نفي فرمایلې؟

جواب: تخصیص دا ممانعت د قنوت نازله په دعاء کې دی د عامې دعا مسئله نه ده. دویم جواب دا دی چې دا نهي د هغې دعا په وخت کې ده چې د اجابت دعا وخت وي خلک صرف امین وایي او امام صاحب د منفرد صیغې استعمالوي دا د قوم سره خیانت دی.

صاحب د التعلیق الفصیح لیکي کومو ماثوره دعاګانو کې چې مقتدي په امام باندې اعتماد نه کوي، نو په خپله دې هم وایي لکه د تشهد دعاګانې مقتدي هم وایي او امام یې هم وایي په داسې صورت کې امام صاحب منفرد صیغه استعمالولی شي او کوم ځای کې چې مقتدي امین وایي بیا دې امام عامې صیغې استعمال کړي خپل نفس دې نه خاص کوي.

مونځ د څه وجې نه مه مؤخر کوئ

﴿۲۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « لَا تُؤَخِّرُوا الصَّلَاةَ
د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي چې : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي مه وروسته کوئ مونځ د
لِطَعَامٍ وَلَا لِغَيْرِهِ» (رَوَاهُ فِي شرح السنة)[1].
ډوډۍ د پاره یا د بل څه وجې نه .

توضیح: دې حدیث نه مخکې حدیث نمبر(٦) سره تعارض دی هغې کې دی چې د خوراک د وجې نه مونځ کې تاخیر کولی شي او دې حدیث کې دي چې د څه وجې نه تاخیر نه شي کولی د دې جواب دا دی چې په زیر بحث حدیث تعلق دې صورت سره دی چې کله د مونځ وخت ختمیږي بیا مؤخر کول صحیح نه دي او د حدیث نمبر(٦) تعلق دې صورت سره دی چې وخت کې وسعت وي نو مونځ وروسته کولی شي یعني عذر او بغیر عذر احوالو باندې دواړه حدیثونه محمول دي. (المرقات ۳/۱۵۸).

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ٤/١٣٥ رقم الحديث : ٢٧٥٨ .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۲ ربيع الثاني ۱٤۱۰هـ

اَلْفَصْل الثَّالِث:

مونځ د جمعې سره کولو ترغيب

﴿۲۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : لَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنِ الصَّلَاةِ إِلَّا

عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي مونږ وليدو چې د جماعت نه صرف هغه منافق خلک وروسته کيدل د

مُنَافِقٌ قَدْ عُلِمَ نِفَاقُهُ أَوْ مَرِيضٌ إِنْ كَانَ الْمَرِيضُ لَيَمْشِي بَيْنَ رَجُلَيْنِ

کوم چې نفاق معلوم شوی وو يا به هغه بيمار وروسته کيدو کوم بيمار چې به ددوو کسانو په مينځ کې تللی

حَتّٰى يَأْتِيَ الصَّلَاةَ وَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلَّمَنَا سُنَنَ الْهُدَى

شو هغه به هم راتلو عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته د هدايت لارې ښودلې

وَ إِنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى الصَّلَاةُ فِي الْمَسْجِدِ الَّذِيْ يُؤَذَّنُ فِيهِ . وَ فِي

وې او د هدايت دلارونه يوه لاره داده چې يو جومات کې مونځ کول دي کوم کې چې آذان کولی شي، او يو

رِوَايَة : " مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى

بل روايت کې دي ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي کوم کس دپاره چې داخبره د خوشحالی وي چې ملاقات کوي

اللهَ غَدًا مُسْلِمًا فَلْيُحَافِظْ عَلٰى هٰؤُلَاءِ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ

د الله تعالی سره سبا ورځ د کامل مسلمان په حيثيت هغه ته په کار دي چې حفاظت وکړي د دې پنځو مونځونو

حَيْثُ يُنَادَى بِهِنَّ فَإِنَّ اللهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ

په هغه ځای کې کوم ځای کې چې آذان وي ځکه چې الله تعالی مقرر کړې دي ستاسو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره

سُنَنَ الْهُدَى وَ إِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى وَ لَوْ أَنَّكُمْ

لارې د هدايت او پنځه مونځونه د جماعت سره کول هم د هدايت د طريقو نه يوه طريقه ده که تاسو خپل

صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّي هٰذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ

مونځونه کورونو کې کوئ لکه څنګه چې وروسته پاتې کيدونکو (يعنې منافق) به مونځ کولو نو په هغه شئ

لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ وَ لَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ

تاسو به د خپل نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت پريښود ونکي وئ او که د خپل نبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت پريږدئ تاسو

لَضَلَلْتُمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ ثُمَّ يَعْمِدُ إِلَى مَسْجِدٍ مِنْ هٰذِهِ الْمَسَاجِدِ

به كمراه شئ اوكوم كس چې ځان صفا كړي اوبنه طريقې سره اودس وكړي بيا جوماتونونه يوجومات كې

إِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا حَسَنَةً وَرَفَعَهُ بِهَا دَرَجَةً وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً

مونځ وكړي دده په هريو قدم باندې يوه نيكي ليكلى كېږي اويوه درجه يې اوچتيږي اويوه بدي دده نه لرې

وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتَى بِهِ

كېږي مونږ وكتل نبكاره منافق نه علاوه به بل كس د جماعت نه نه وروسته كيدو تردې چې بيمار كس به

يُهَادٰى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتّٰى يُقَامَ فِي الصَّفِّ. (رَوَاهُ مُسلم)[1].

د ضعف د وجې نه به د دوو كسانو په مدد سره جماعت ته راوستلى شو او صف كې به ودرولى شو.

توضيح: سنن الهدى: يعنې د هدايت طريقې او هغه سنت چې باعث د هدايت دي (المرقات ۳/۱۵۹). يادساتئ چې د حضور ﷺ مسنون افعال اعمال دوه قسمه دي يو قسم هغه افعال دي چې حضور ﷺ په طريقې د عبادت كولو او دويم هغه افعال دي چې حضور ﷺ به د عادت په طريقې باندې كول كوم اعمال مسنونه چې په طريقه د عبادت خپل كړې وو هغې ته سنن هدى ويل كېږي او دغه سنت مؤكده دي او كوم چې په طريقې د عادت دي هغې ته سنن زوائد ويل كېږي د مستحب د قبيلې نه دي. د قسم اول مثال د سحر، ماسپخين، مابنام او ماسخوتن مونځونو نه مخكې او وروسته دولس ركعته سنت دي او د قسم ثاني مثال لكه د حضور ﷺ كپړې، خوراك او څښاك وغيره. سنن زوائد و باندې د عمل ثواب هله ملاويږي چې د حضور ﷺ د اتباع نيت اوكړې كه نيت يې نه وي ثواب نه ملاويږي لكه بعضې قومونو پتكى د رواج د وجې نه دى نه د نيت د اتباع د رسول الله ﷺ.

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَوْلَا مَا فِي الْبُيُوتِ مِنَ النِّسَاءِ وَالذُّرِّيَّةِ

ابوهريره رضي الله عنه راوي دى وايي چې حضور ﷺ فرمايي كه كورونو كې زنانه اوماشومان نه وي

أَقَمْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ وَأَمَرْتُ فِتْيَانِي يُحْرِقُونَ مَا فِي الْبُيُوتِ بِالنَّارِ. (رَوَاهُ أَحْمد)[2].

نومابه دماسخوتن مونځ قائم كړې وي اوخادمانو ته به مې حكم وركړې وي چې كوريې په اوركې وسوزوئ

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/٤٥٣ رقم الحديث: ٢٥٦-٦٥٤، وأخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۷۳ رقم الحديث: ٥٥٠.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۲/۲٦۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

د آذن نه پس جومات نه وتل منع دي

﴿۲۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: أُمِرْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " إِذَا كُنْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ
ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته حكم كړى وو چې تاسو جومات كې موجود يئ
فَنُودِيَ بِالصَّلَاةِ فَلَا يَخْرُجْ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُصَلِّيَ. (رَوَاهُ أَحْمد)(۱).
او مونځ د پاره آذان اوكړى شي، نو مونځ كولو نه بغير جومات نه مه وځئ.

توضيح: فلايخرج: آذان په وخت كې د سړي د ځای اعتبار شته داخل د مسجد او خارج د مسجد كې فرق شته كوم كس چې د مسجد نه خارج وي هغه د پاره وعيدات نشته او كه مسجد كې داخل وي او آذان وشي اوس وتل مكروه دي ځكه چې دا صورت اعراض عن الجماعة دى كوم چې موجب د تهمت دى كه مسجد د بريلويانو او اهل بدعت والا وي هغې نه هم وتل صحيح نه دي، بلكې د هغوي سره مونځ وكړئ يا د مونځ اعاده وكړئ فتاوى رشيديه كې يې ليكلي د ارادې سره د اهل بدعاتو مسجد ته تلل نه دي په كار كه څوك په غلطى سره د بريلويانو مسجد ته لاړو يا دې هلته مونځ وكړي او دوباره دې اعاده وكړي. تبليغ والا په دې مسئله كې دوه غلطي كوي: يو دا چې په ارادې سره د اهل بدعتو مسجدونو ته ځي او دوي پسې مونځ كوي او دوباره دا مونځ نه راګرځوي، دوهمه غلطي دا كوي چې دا غلطه طريقه اصلاح او ترويج د دين لاره ګڼي اګر كه واقعتا اصلاح هم وي نو بيا هم ځي مګر دا طريقه غلطه ده، بهر حال هغه انسان د مسجد نه د آذان نه پس وځي چې دده په ذمه باندې د بل مسجد انتظام وي يا هلته امام وي يا هلته د درس پروګرام يې وي يا دده د وجې نه د عوام د كثرت ذريعه وي يا د دې نه غير بل ضروري كار وي يا د يو څه وخت د پاره ووځي او واپس راځي دا عذرونه دي، دې نه بغير وتل موجب د عملي نفاق دي لكه څنګه چې راروان دي. (المرقات ۳/۱۶۲).

﴿۲۴﴾ وَ عَنْ أَبِي الشَّعْثَاءِ قَالَ : خَرَجَ رَجُلٌ مِنَ الْمَسْجِدِ بَعْدَ مَا أُذِّنَ فِيهِ
د ابو الشعثاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې : د آذان كولو نه پس يو كس د جومات نه ووتلو، حضرت
فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: أَمَّا هٰذَا فَقَدْ عَصَى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (۲).
ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل دې كس د ابو القاسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نافرماني وكړه.

---

(۱) احمد في المسند ۲/۵۳۷.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۴۵۳ رقم الحديث : ۲۵۸-۶۵۵، وأخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۶۶ رقم الحديث : ۵۳۶ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۱/۳۹۷، رقم الحديث : ۲۰۴.

﴿۲۵﴾ وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ

د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي کوم کس چې

أَدْرَكَهُ الْأَذَانُ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ خَرَجَ لَمْ يَخْرُجْ لِحَاجَةٍ وَ هُوَ لَا يُرِيدُ الرَّجْعَةَ

جومات کې وي او آذان وشي او بغير د ضرورت نه د جومات نه وځي او د واپس راتلو اراده يې هم نه وي

فَهُوَ مُنَافِقٌ» . (رَوَاهُ ابْن مَاجَه)[1].

نو داکس منافق دی.

قول او عمل سره د آذان جواب ورکول لازم دي

﴿۲۶﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْهُ

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چا چې آذان واوريد واو جواب يې ورنه

فَلَا صَلَاةَ لَهُ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ » . (رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيّ)[2].

کړو، نو دده مونځ (کامل او يا نه قبليږي) مګر د څه عذر د وجې نه داسې وشوځه باک نشته.

توضيح: د اجابت آذان دوه طريقې دي يوه طريقه ژبې سره ده چې د کلماتو د آذان جواب ورکړی شي.

دويمه طريقه د اجابت عملي ده چې مؤذن داسې ووايي **حي على الصلوة** او اوريدونکی لاړشي، علماء وايي چې څوک اجابت عملي کوي نو په اجابت قولي نه کولو باندې په ده څه وعيد نشته يا څوک جومات کې ناست وي او تلاوت کوي او د آذان جواب ورنه کړي دا کس وعيد کې نه راځي، ځکه چې دا د مخکې نه موجود دی او يو کس نه په ژبې سره جواب ورکړي او نه جومات ته د راتلو سره مونځ وکړي، بلکې کور کې مونځ وکړي دده مونځ مقبول نه دی او څوک چې بالکل مونځ نه کوي دغه لوی بدبخته دی.(المرقات ۳/۱۶۳).

﴿۲۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ الْمَدِينَةَ كَثِيرَةُ الْهَوَامِّ وَالسِّبَاعِ

عبدالله بن ام مکتوم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما عرض وکړو چې يا رسول الله! مدينه کې خطرناک ځناور زيات دي

وَ أَنَا ضَرِيرُ الْبَصَرِ فَهَلْ تَجِدُ لِي مِنْ رُخْصَةٍ ؟

او زه ړوند يم آيا تاسو ماته اجازت راکوئ چې زه جومات ته نه راځم او خپل مونځ په کور کې کوم نبي

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/ ۲۴۲ رقم الحديث ۷۳۴

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۲۵۹ رقم الحديث : ۷۹۳

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ : « هَلْ تَسْمَعُ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ؟ » قَالَ : نَعَمْ.

عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ وفرمايل چې ته حي على الصلاه حي على الفلاح اوري ما عرض وكړو چې آو ،نبي عَلَيْهِ السَّلَام

قَالَ: «فَحَيَّهَلَا» وَلَمْ يُرَخِّصْ لَهُ.(۱)

وفرمايل بيا جومات ته راځه او جومات ته د نه راتلو اجازت يې ورنه كړو.

﴿۲۸﴾ وَ عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاء قَالَتْ : دَخَلَ عَلَيَّ أَبُو الدَّرْدَاءِ وَ هُوَ مُغْضَبٌ فَقُلْتُ :

ام درداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا وايي (يوورځ زما خاوند) ابو درداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ زما خواته دغوسې نه ډک راغی ماتپوس وكړو

مَا أَغْضَبَكَ ؟ قَالَ: وَ اللهِ مَا أَعْرِفُ مِنْ أَمْرِ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ شَيْئًا إِلَّا

كوم څيز ته غوسه كړې هغه وويل په الله قسم د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په امت كې يو څيز هم نه گورم خو

أَنَّهُمْ يُصَلُّونَ جَمِيعًا . (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)(۲).

صرف دا خبره پيژنم چې هغوي صرف د جمعې سره مونځ كوي.

توضيح: هو مغضب: دا د اسم مفعول صيغه ده يعني د غوسې نه ډک وو يعني چا په غوسه كې اچولی وو د ام درداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا د سوال په جواب كې چې ابو درداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څه وويل نو شارحين وايي دا اصل كې د سوال جواب نه جوړيږي بيا شارحينو قسم قسم جوابونه كړي دي بعضو تردې پورې ويلي دي چې ابو درداء جواب ورکړی نه دی، لكه لمعات كې دي .(اشعة اللمعات ۱/۵۰۰).

ملا علی قاري رَحِمَهُ اللَّهُ يوه توجيه كړې ده او ټولو ورته ښه ويلي ده هغه دا : **اى اغضبتني الامور المنكرة المحدثة في امة محمد رأني والله ما اعرف من أمرهم شيئا على الجادة الا انهم يصلون جميعا فيكون الجواب محذوفا والمذكور دليل الجواب)** (المرقات ۳/۱٦٤) يعني زه دې څيز غوسه كړې يم چې امت محمديه كې قسما قسم منكرات او بدعات پيدا شو اوس يو څيز هم په خپل حالت كې پاتې نه شو ها صرف جمعې سره مونځ كول دغه څيز باقي دی چې خپل اعتدال باندې دی اوس هغه هم رخصت كيږي.

---

(۱)أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۷۵ رقم الحديث : ۵۵۳ .

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۱۳۷ ، رقم الحديث :٦۵۰ ، وأحمد في المسند ٦/٤٤۳.

د سحر مونځ جماعت سره کول د تولې شپې تهجد کولو نه بهتر دی

﴿۲۹﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ قَالَ: إِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَقَدَ سُلَيْمَانَ بْنَ أَبِي حَثْمَةَ

ابوبکر بن سلیمان بن ابی حثمه رضی الله عنه وایي چې عمر فاروق رضی الله عنه ونه موند و سلیمان بن ابي حثمة د

فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ وَإِنَّ عُمَرَ غَدَا إِلَى السُّوقِ وَمَسْكَنُ سُلَيْمَانَ بَيْنَ الْمَسْجِدِ وَ السُّوقِ

سحر مونځ کې عمر رضی الله عنه چې کله سحر بازار ته لاړو نو د سلیمان کور د بازار او جومات په منځ کې وو،

فَمَرَّ عَلَى الشِّفَاءِ أُمِّ سُلَيْمَانَ فَقَالَ لَهَا لَمْ أَرَ سُلَيْمَانَ فِي الصُّبْحِ

ځکه هغه د سلیمان مور شفاء خواته لاړو او هغې نه یې تپوس وکړو نن یې سلیمان د سحر مونځ کې ونه لیدو

فَقَالَتْ إِنَّهُ بَاتَ يُصَلِّي فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ

مور یې ورته وویل سلیمان نن توله شپه مونځ کې تیره کړې ده او سحر ته یې سترګې پټې شوې، حضرت

فَقَالَ عُمَرُ لَأَنْ أَشْهَدَ صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي الْجَمَاعَةِ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ أَنْ أَقُومَ لَيْلَةً. (رَوَاهُ مَالك)[1].

عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل: چې زه د سحر مونځ جماعت سره کول د تولې شپې د عبادت نه بهتر ګڼم.

توضیح: حضرت عمر رضی الله عنه د وخت خلیفه ؤ او سلیمان یو صحابي ؤ حضرت عمر رضی الله عنه دیني معامله کې د مونځ په باره کې د خپلو ملګرو نګراني کوله د صحابو دومره لوی جماعت کې د یو صحابي غیر حاضري محسوس کړه بیا بازار کې د مور نه ورله تپوس وکړو ما نن سلیمان په سحر مونځ کې ونه لیدلو خیر خو وو؟ مور یې ورته جواب کې فرمایي هغه نن توله شپه تهجد مونځ کړی دی سحر یې سترګې پټې کړې یعني د عمر رضی الله عنه په نزد د جماعت ډیر اهمیت دی او فرمایي ماته د جمعې سره مونځ کول د تولې شپې د تهجد و نه خوښ دی، سبحان الله څومره دیني ماحول دی؟ (المرقات ۳/۱۶۵).

دوه کسانو په منځ کې جماعت جائز دی

﴿۳۰﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اثْنَانِ

د ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روایت دی وایي چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل که دوه کسان وي یا د

فَمَا فَوْقَهُمَا جَمَاعَةٌ» (رَوَاهُ ابْن مَاجَه)[2].

دوو نه زیږ وي دې سره جماعت کیږي.

---

(۱) أخرجه مالک في الموطا ۱/۱۳۱ رقم الحديث: ۷ من كتاب صلاة الجماعة.

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۳۱۲ رقم الحديث: ۹۷۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: مطلب دا دی جماعت د صحت د پاره دا ضروري ده چې ډير تعداد کې خلک جمع وي يا کم از کم درې کسان ضروري دي داسې معامله نه ده بلکې د دوو کسانو جماعت هم صحيح دی يو امام جوړ شي او بل مقتدي خو مقتدي به د امام ښي طرف ته ودريږي. (المرقات ۳/۱۶۵).

د حضرت ابن عمر او د هغه د ځوی خفګان

﴿۳۱﴾ وَعَنْ بِلَالِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ :

حضرت بلال بن عبد الله بن عمر د خپل پلار نه روايت کوي وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي چې

« لَا تَمْنَعُوا النِّسَاءَ حُظُوظَهُنَّ مِنَ الْمَسَاجِدِ إِذَا اسْتَأْذَنَكُمْ » . فَقَالَ بِلَالٌ:

زنانه جومات ته د تلو اجازت وغواړي تاسو هغوي د جومات د حصې نه محروم مه کوئ مه، بلال وويل :

وَ اللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ . فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ : أَقُولُ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

په الله قسم! موټر به يې ضرور منع کوو حضرت عبد الله بلال ته وويل زه چې څه وايم دا نبي عَلَيْهِ السَّلَام وايي

وَ تَقُولُ أَنْتَ لَنَمْنَعَهُنَّ . وَ فِي رِوَايَةِ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ : فَأَقْبَلَ

او ته وايې چې مونږ به يې ضرور منع کوو. اويو بل روايت سالم د خپل پلار نه نقل کوي بيا متوجه شو

عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ فَسَبَّهُ سَبًّا مَا سَمِعْتُ سَبَّهُ مِثْلَهُ قَطُّ

عبد الله بلال طرف ته متوجه شو او هغه ته يې دومره بد وويل چې ته هم د عبد الله د ژبې نه داسې بد نه وو

وَقَالَ: أُخْبِرُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقُولُ : وَ اللهِ لَنَمْنَعُهُنَّ : (رَوَاهُ مُسلم)[1].

اوريدلي او بيا يې وويل زه وايم چې دا د حضور ارشاد دی او ته وايې چې مونږ به يې ضرور منع کوو.

توضيح: **والله لنمنعهن**: حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د زنانو متعلق جومات ته د تللو او هلته مونځ کولو حديث ذکر کړو او بلال زنانه د جومات نه منع کول، دې باندې د ابن عمر او بلال د دواړو تبادله ۱ اسې وشوه چې د حضرت بلال د کلام د حديث د ظاهر سره داسې د معارض صورت پيدا شو خو معارضه صورةً وه حقيقةً بالکل نه وه ځکه چې بيا انکار حديث رائي او دا د بلال نه تصور هم نه پيدا کيږي. بهر حال ابن عمر په دغه صوری منازعې د خپل ځوی نه ناراضه شو او خپل ځوی ته يې داسې وويل چې زه به تول عمر تا سره خبرې نه کوم. (المرقات ۳/۱۶۶).

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۳۲۸ ، رقم الحديث : ۱٤۲-٤٤۲، وأخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۸۲ رقم الحديث : ٥٦٦.

اوس د دې ورځو پورې خبرې نه کول دنیاوي اغراضو د وجې نه حرام دي او دیني غیرت د وجې نه جائز دي او ددې واقعې معلومات چې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته وشو حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمایل چې الله تعالی دې په ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې رحم وکړي، او بلال صحیح خبره کوي که نن سبا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وی، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په خپله زنانه جومات ته د تللو نه منع کولی، او راتلونکي حدیث کې هم دا صورت مذکور دی تفصیل دې نه مخکې حدیث نمبر (۸) کې تیر شوی دی.

﴿۳۲﴾ وَعَنْ مُجَاهِدٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ: «لَا يَمْنَعَنَّ

مجاهد د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي: نه دې منع کوي

رَجُلٌ أَهْلَهُ أَنْ يَأْتُوا الْمَسَاجِدَ». فَقَالَ ابْنٌ لِعَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ: فَإِنَّا نَمْنَعُهُنَّ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ:

هیڅ یو کس خپل اهل د جومات نه، د عبدالله یو ځوی بلال وویل مونږ خو به یې منع کوو نو وویل عبدالله

أُحَدِّثُكَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ تَقُولُ هٰذَا ؟ قَالَ:

بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ته زه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حدیث ذکر کوم او ته دا وایي، د راوي بیان دی دې نه

فَمَا كَلَّمَهُ عَبْدُ اللهِ حَتّٰى مَاتَ. (رَوَاهُ أَحْمد)[1].

پس ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل ځوی سره تول عمر خبرې نه وې کړې تر دې چې وفات شو.

(۱) أخرجه أحمد في المسند ۲/۳٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب تَسْوِيَة الصَّفّ:

قال الله تعالى: ﴿وَالصَّافَّاتِ صَفًّا ۱ فَالزَّاجِرَاتِ زَجْرًا ۲ فَالتَّالِيَاتِ ذِكْرًا﴾ (الصافات آيت: ۱-۳)

د مانځه د صفونو متعلق پنځه اهم مسائل دي ټولو مسائلو د پاره بنيادي حيثيت لري.

(۱) صف بالکل سيدها وي چې دې سره تير سيدها کړی. (۲) صفونو کې تلاصق او تلازق وي يعنې داسې ودريدل چې شيطان د پاره په کې د وتو لار نه وي. (۳) پش امام په داسې ځای ودريدل چې دواړو طرف ته مقتديان برابر وي. (۴) د اولني صف مکمل کيدو نه پس دويم بيا دريم بيا څلورم الی آخره صفونه جوړول. (۵) صفونه داسې مقدار سره وي چې منځ کې د سجدې مقدار هومره ځای وي. دې قاعدې باندې د فقهاو څه مسائل بناء دي. د فقهاو دې باندې اتفاق دی که صفونو مينځ کې نهر يا سړک نه وي دا متصل دي امامت او جماعت صحيح دی او که سړک يا نهر وغيره وي نو د امام مالک او امام شافعی رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد دا اقتداء صحيح ده، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ وايي چې دا اقتداء صحيح نه ده که امام مسجد کې وي او مقتدي نزدې کور کې ولاړ وي خو مينځ کې داسې څيز حائل وي چې امام په نظر نه راځي او امام نه وروسته صفونه هم په نظر نه راځي. جمهور فرمايي چې دا اقتداء صحيح نه ده خو د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ مشهور قول دا دی چې دا اقتداء صحيح ده اګر چې د جمهورو په نزد د بُعد او قُرب اعتبار کوي حائل اعتبار نه کوي مونځ کې صفونه نيغول سنت مؤکده دي بعضو ورته واجب ويلي، ځکه چې صفونه نه نيغولو باندې ډير وعيدات احاديثو کې راغلي دي، دا د وجوب دليل دی.

اَلْفَصْل الأول:

د صف د نيغولو حکم

﴿۱﴾ عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا حَتّٰى كَأَنَّمَا

د حضرت ابن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ صفونه به نيغول ګويا چې

يُسَوِّي بِهَا الْقِدَاحَ حَتّٰى رَأَى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ

تير به هم ددې صف سره نيغولی شو، تردې چې مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه د صفونو د نيغولو اهميت زده کړو.

ثُمَّ خَرَجَ يَوْمًا فَقَامَ حَتّٰى كَادَ أَنْ يُكَبِّرَ فَرَأَى رَجُلًا بَادِيًا صَدْرُهُ مِنَ الصَّفِّ

يوورځ نبي عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړو او ودريدو تکبير کولو والا وو چې د يو کس سينه د صف نه لږه بهر وه

فَقَالَ : « عِبَادَ اللهِ لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليد وحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ای د الله تعالی بندګانو! خپل صفونه نيغ کړئ

أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ ». (۱).
كيني الله تعالى به ستاسو منځ كې اختلاف واچوي.

توضيح: القداح تير او نيزې ته ويل كېږي عرب خلكو به تير او نيزې نيغولو كې كوشش كوو په دې كې چې لږ هم كوږ والى وي نو نشانه به پرې صحيح نه لګي، ځكه به دوي د نورو څيزونو تشبيه تير او نيزې سره وركوله، دلته دا مبالغه بيانوي چې حضور ﷺ به صفونه داسې سيده كړل چې تير به د ددې سره نيغولى شو. (المرقات ۳/۱۶۹)

قدعقلناعنه: يعنې حضور ﷺ ته اندازه وشوه چې مونږ د حضور ﷺ نه د صفونو د هموار اوسيدها كولو مسئله زده كړه.

او ليخالفن الله: علامه مظهري وايي چې ظاهري ادب د باطني ادب او منلو علامت دى كه تاسو صفونو كې غلط ودريږئ ظاهري اطاعت نشئ كولى، نو ظاهري نافرماني به تاسو باطني نافرمانۍ ته ورسوي يعنې زړونو پورې اختلاف ورسيږي (المرقات ۳/۱۶۹).
د ددې انجام به دا وي چې بيا خپل مينځ كې عداوت او كينه او بغض پيدا شي د ې وجې نه په زړونو كې اختلاف راشي او د زړونو د اختلاف نتيجه دا ده چې يو بل سره به اعراض او انقباض شروع شي. د ې زير بحث حديث كې د دغه پس منظر بيان شوى دى. (المرقات ۳/۱۷۰).

﴿۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَجْهِهِ
انس رضي الله عنه وايي چې مونځ اودريدو حضور ﷺ خپل مخ مبارک زمونږ طرف ته متوجه كړو او
فَقَالَ: «أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي» (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ) وَفِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ
وې فرمايل خپل صفونه نيغ كړئ او يو بل سره يوځاى اودريږئ زه شاته هم تاسو وينم. او د بخارى او مسلم
قَالَ: « أَتِمُّوا الصُّفُوفَ فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي ». (۲).
دواړو روايت دا دى (حضور ﷺ فرمايي) صفونه پورا كوئ زه تاسو د شاته نه هم وينم.

توضيح: تراصوا: جوخت جوخت صف جوړولو ته تراصوا ويلى شي. (المرقات ۳/۱۷۰).

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۰۶، رقم الحديث: ۷۱۷، ومسلم في الصحيح ۱/۳۲٤ رقم الحديث: ۱۲۸-٤۳٦، وأبو داود ۱/٤۳۲ رقم الحديث: ٦٦۳، والنسائي ۲/۸۹، رقم الحديث: ۸۱۰.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۰۸، رقم الحديث: ۷۱۹، ومسلم في الصحيح ۱/۳۲٤ رقم الحديث: ۱۲۵-٤۳٤، والنسائي ۲/۹۲، رقم الحديث: ۸۱٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

فاني اراكم: دې حديث باندې اول كلام شوى دى دا حالت دائمي نه دى بلكې مونځ كې دننه انكشاف تام كيدو د وجې نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته علم كيدو.

صف برابر ساتل د مونځ دمكمل كيدو حصه ده

﴿۳﴾ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَوُّوا صُفُوفَكُمْ فَإِنَّ تَسْوِيَةَ الصُّفُوفِ

انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو خپل صفونه برابر ساتئ ځكه چې صفونه برابر

من إِقَامَةِ الصَّلَاةِ » إِلَّا أَنَّ عِنْدَ مُسْلِمٍ: مِنْ تَمَامِ الصَّلَاةِ. (متفق عليه)[1]

ساتل د مونځ د تكميل حصه ده. د مسلم روايت كې اقامة الصلوة په ځاى من تمام الصلوة الفاظ دي.

توضيح: په قرآن كريم كې ﴿أَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ يعنې مونځ د ټولو آدابو سره قائم كولو حكم دى د مونځ آداب تعديل اركان لحاظ ساتل او د سنتو او آدابو او مستحباتو خيال ساتل په كې داخل دي د دغه آدابو نه دې حديث كې د يو آدب طرف ته اشاره ده صفونه سيدها ساتئ ځكه صفونه سيده ساتل د مانځه د تكميل حصه ده دې حكم ﴿أَقِيمُوا الصَّلَاةَ﴾ كې ورکړى شوى دى.

د علم او پوهې خلک دې امام سره نزدې ولاړ وي

﴿٤﴾ وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ

ابو مسعود انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ په ولوباندې لاس كيښود وپه مونځ كې

وَ يَقُولُ: « اسْتَوُوا وَلَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ

اووې فرمايل چې برابر اوسئ مختلف مه كيږئ كيني ستاسو په زړونو كې به اختلاف پيدا شي تاسو كې

لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُوا الْأَحْلَامِ وَ النُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ

چې كوم خلک عاقل او بالغ وي هغه زما سره نزدې كيږئ او بيا هغه خلک چې هغوي ته نزدې وي او بيا

ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ». قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ: فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ أَشَدُّ اخْتِلَافًا. (رَوَاهُ مُسلم)[2].

هغه چې هغوي ته نزدې وي حضرت ابو مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل نن تاسو كې اختلاف ډير دى.

توضيح: يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا: د صف سيده كولو د يو كيفيت بيان كوي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې څنګه ژبې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۰۹/۲، رقم الحديث: ۷۲۳، ومسلم في الصحيح ۳۲٤/۱ رقم الحديث: ۱۲٤-٤۳۳.

(۲) أخرجه مسلم ۳۲۳/۱ رقم الحديث: ۱۲۲-٤۳۲، وأبو داود ٤۳٦/۱ رقم الحديث: ٦۷٤، والنسائي ۸۷/۲، رقم الحديث: ۸۰۷.

مبارکې سره ددې بيان کوي دغه شان عملي طور باندې به يې صفونه نيغول او زمونږ په ولو باندې به يې لاس کيخودل او صفونه به يې نيغول ددې وجه دا ده صف نيغولو د پاره ولو او ګيټو نيغول ضروري ددې ذکر راتلونکی حديث دی. (المرقات ۳/۱۷۱).

ولا تختلفوا: يعنې صف کې برابر اوسئ چې د بدن حصه مخکې وروستو نه وي دې ظاهري افتراق نه به باطني افتراق بغض او عداوت او نفرت پيدا شي تفصيل يې مخکې تير شوی دی(المرقات ۳/۱۷۱)

ليلني: يعنې کوم خلک چې عاقل او بالغ وي مخکې صف کې ماسره خواته ودريږئ چې زما د مونځ پوره نقشه وګوري او امت ته يې ورسوي او امام ته سهوه راشي چې صحيح فتحه ورکړي يا امام ته حادثه راشي چې خپل نائب مقرر کړي چې صف کې افراد افراد نزدې ولاړ وي ددې ذمه داري قبلولو اهليت لري. (المرقات ۱۷۱-۳/۱۷۲).

اوس د صفونو ترتيب داسې دی چې اولني صف کې عاقل او بالغ خلک وي بيا ددې نه پس قريب البلوغ مراهق خلک وي او ماشومان هم وي بيا دې نه پس خنثى خلک وي يعنې دوي کې د سړو او زنانو علامات په يو ځای وي بيا آخري صف کې زنانه وي.

اشد اختلافاً: حضرت ابو مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې کلام مقصد دا دی چې نن سبا تاسو د صفونو په سيدها کولو کې احتياط نه کوئ دې وجې نه ستاسو په مينځ کې به اختلاف وي څومره چې د صفونو افتراق وي هغومره به په تاسو فتنې راځي اول د ظاهر اختلاف غم وکړئ بيا د باطني فکر کوئ(المرقات ۳/۱۷۲).
بهر حال ابو مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا خطاب تابعينو ته وو دې کې دا نقصان راغلی.

په جوماتونو کې شور مه کوئ

﴿۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لِيَلِنِي
دعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ماسره نزدې اودريږي
مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَ النُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ »
په تاسو کې چې کوم خلک صاحب عقل او بالغ وي بيا هغه خلک ودريږئ کوم چې دوي ته نزدې وي دا
ثَلَاثًا وَ إِيَّاكُمْ وَ هَيْشَاتِ الْأَسْوَاقِ ". (رَوَاهُ مُسلم)[1].
الفاظ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دري ځلي وفرمايل او تاسو د بازار په شان شور کولو نه بچ شئ.

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۲۳ رقم الحديث: ۱۲۲-۴۳۲، وأبو داود ۱/۴۳۶ رقم الحديث: ۶۷۵، والترمذي ۱/۴۴۰ رقم الحديث: ۲۲۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: هيشات: جمع ده ددې مفرد **هيشة** دی دا لفظ د **نصر ينصر** نه دی ددې ترجمه د ګډوډ ده ددې ترجمه شور هم ده دلته دواړه ترجمې صحيح دي لهذا ددې دوه مطلبه شو جومات کې د بازار په شان شور مه کوئ، بلکې خاموشی سره مونځ کوئ دا مطلب ډير واضح دی اصل عبارت دا دی: **واياكم وهيشات كهيشات الأسواق**، دويم مطلب يې دا دی چې په داسې ځای کې مونځونه مه کوئ چې هلته شور وي او حضوری قلبي نه وي. (اشعة اللمعات ۱/۵۰۴).

دې حديث کې د زنانو د صف ذکر دی، ځکه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **ثم الذين** الفاظ دري ځل وويل دغه شان د صف د ځلورو درجو ذکر دی، عاقل او بالغ اول صف کې او مراهق او هلکان دويمې درجې کې خناثی دريمې درجې کې او زنانه ځلورمې درجې کې دې نه اولني حديث کې د زنانو د صف ذکر نشته، ځکه هلته دوه ځلې (**ثم الذين يلونهم**) يې فرمايلي.

﴿٦﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فِي أَصْحَابِهِ تَأَخُّرًا
ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله وکتل چې صحابه تاخير کوي
فَقَالَ لَهُمْ: « تَقَدَّمُوا وَ ائْتَمُّوا بِي وَ لْيَأْتَمَّ بِكُمْ مَنْ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل: مخکې شئ زما اقتداء وکړئ او ستاسو اقتداء دې وکړي هغه څوک
بَعْدَكُمْ لَا يَزَالُ قَوْمٌ يَتَأَخَّرُونَ حَتَّى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ ». (رَوَاهُ مُسلم)[1].
کوم چې تاسو پسې دي يوه ډله هميشه تاخير کوي تردې چې الله تعالى به هم دوی شاته واچوي.

توضيح: ولياتم بكم: ددې مطلب دا نه دی چې اول صف دې زما اقتداء وکړي او وروستو خلک دې د دوي اقتداء وکړي، ځکه چې يو صف د بل صف والا اقتداء نه شي کولی، بلکې ټول خلک د امام په اقتداء کې وي د حديث مطلب دا دی اولني صف والا مونځ کې ما ووينې او وروستو خلک دوي ته ګوري نو متابعت به روان وي دا متابعت في الافعال دی متابعت في الاقتداء نه دی. (المرقات ۳/۱۷۳)

په مسجد کې د حلقو په ځای په صف کې ناسته په کار ده

﴿٧﴾ وَ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَرَآنَا
جابر بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ورځ زمونږ خواته تشريف راوړو او مونږ يې وليدو

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۲۵ رقم الحديث ۱۳۰-۴۳۸، وأبو داود ۱/۴۳۸ رقم الحديث: ۶۸۰، والنسائي ۲/۸۳، رقم الحديث: ۷۹۵.

حلقا فَقَالَ : « مَا لِي أَرَاكُمْ عِزِينَ ؟ » ثُمَّ
په مختلفو دائرو کې ، نوو يې فرمايل : چې څه وجه ده زه تاسو جدا جدا دائرو کې وينم بيا يو ځل حضور
خَرَجَ عَلَيْنَا فَقَالَ : « أَلَا تَصُفُّونَ كَمَا تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ خواته تشريف راوړو وې فرمايل داسې صفونه ولې نه جوړوئ څنګه چې صف ترلې وي
عِنْدَ رَبِّهَا ؟ » فَقُلْنَا : يَا رَسُولَ اللهِ ! وَ كَيْفَ تَصُفُّ الْمَلَائِكَةُ عِنْدَ رَبِّهَا ؟
فرښتو د الله تعالى په حضور کې مونږ عرض وکړو يا رسول الله ! څنګه صف ترې فرښتې د الله تعالى په دربار
قَالَ : « يُتِمُّونَ الصُّفُوفَ الْأُولَى وَ يَتَرَاصُّونَ فِي الصَّفِّ » . (رَوَاهُ مُسلم)[1] .
کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل اولني صفونه پوره کوي او صف کې يو ځای ودريږي .

توضيح: عزين: ځان له ټولګي او دائرو شکل کې ناستې ته ويلى شي .

حلقا: د **حلقة** جمع ده ددې مطلب هم د **عزين** په شان دى .

يتراصون: نزدې نزدې برابر برابر صف کې اودريدو ته ويلى شي . (المرقات ۳/۱۷۳) .

دزنانو او سړو بهترين صف کوم يو دى

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «خَيْرُ صُفُوفِ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا
د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايې د سړو اولني صف بهتر
وَ شَرُّهَا آخِرُهَا وَ خَيْرُ صُفُوفِ النِّسَاءِ آخِرُهَا وَ شَرُّهَا أَوَلُهَا » . (رَوَاهُ مُسلم)[2] .
دى او بدترين صف وروسته صف دى او زنانو د پاره آخري صف بهتر دى او بدترين صف اول دى .

توضيح: خير صفوف: د سړو صف اول کې دا فضيلت د دوو وجهو نه دى يو خو د اول صف فضيلت په دويم او دريم باندې ډير دى دې اعتبار سره ويلى شوي دي چې د سړو اول صف د نورو صفونو په اعتبار سره د ثواب په لحاظ سره بهتر دى يعنې ددې ثواب ډير دى دويمه وجه دا ده د سړو صف اول هغه وخت بهترين صف دى چې وروستو د زنانو صفونه وي هغې نه لرې د شيطان وسوسې دوي ته به نه رسي ځکه

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۳۲۲ رقم الحديث: ۱۱۹-۴۳۰، وأبو داود ۱/۴۳۱ رقم الحديث: ۶۶۱، والنسائي ۲/۹۲، رقم الحديث: ۸۱۶ .

(۲) أخرجه مسلم ۱/۳۲۶ رقم الحديث: ۱۳۲-۴۴۰، وأبو داود ۱/۴۳۸ رقم الحديث: ۶۷۸، والنسائي ۲/۹۳، رقم الحديث: ۸۲۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

بهترين صف دی. او د سړو خو اخري صف د امام نه لري وي د ويم زنانو ته نزدې وي دې کې د وساوس شيطاني او نسوانی احتمال زيات وې، ځکه بدترين صف دی. (المرقات ۳/۱۷۴).

صفوف النساء: د زنانو صفونو کې افضل او غير افضل وجه يو کيدی شي هغه دا چې د سړو نه ډير لرې وي وسوسې په کې نه وي ځکه ثواب په اعتبار سره افضل دی د زنانو صف اول بدترين يو دې وجې نه دی چې امام پسې نزدې ولاړوې وې ثواب ورته په دې نه ملاويږي، دويم د سړو سره خواته وي دې کې ثواب کم او خطره ډيره وي، ځکه بدترين صف دی. (المرقات ۳/۱۷۴).

سوال: صفونه خو د مونځ د پاره دي او مونځ خو خير خير دی بيا د مونځ صف ته بدترين ولې ويلی شوی دی که هغه صف د سړو وي يا د زنانو.

جواب: بدترين صف ورته د مونځ د صف په حيثيت سره نه دی وئيلی شوی بلکې د صف خارجي بد اثراتو د وجې نه ورته بدترين ويلی شوی دی.

دويم جواب: **شرها** د **خيرها** مقابله کې راغلی دی ددې ترجمه بدترين نه ده بلکې افضل مقابله کې غير افضل دی او افضليت او غير افضليت د ثواب د کموالي په اعتبار سره دی نو د زنانو د پاره صف اول کې ثواب کم دی او سړو د پاره آخري صف کې ثواب کم دی.

الْفَصْلُ الثَّانِي:

په صفونو کې خالي ځای پريښودل نه دی په کار

﴿۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «رُصُّوا صُفُوفَكُمْ وَ قَارِبُوا

انس رضي الله عنه راوي دی چې حضور صلى الله عليه وسلم فرمايي چې خپلو صفونو کې جوخت شئ او نزدې او دريږي

بَيْنَهَا وَ حَاذُوا بِالْأَعْنَاقِ فَوَ الَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ

د صفونو مينځ کې يعني خپل ستونه برابر ساتئ قسم په هغه ذات باندې چې د هغه په قبضه کې زما ځان

إِنِّي لَأَرَى الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ كَأَنَّهَا الْحَذَفُ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

دی چې شيطان د توري چيلې بچي په شان ستاسو صفونو په کولاووالي کې ننوتو باندې وينم.

توضيح: **وقاربوا بينهما**: يعني دوو صفونو په مينځ کې دومره فاصله مه ساتئ چې يو صف په کې ودريږي دا د **قاربوا** يو مطلب دی دويم مطلب دا دی چې خپل مينځ کې نيږدې او دريږئ مينځ کې خلا

---

(۱) أخرجه أبو داود ۱/۴۳۴ رقم الحديث :۶۶۷، والنسائي ۲/۹۲، رقم الحديث: ۸۱۵ .

پاتې نه شي. (المرقات ۳/۱۷۵).

وحاذوا: دا د محاذات نه دی د برابرۍ معنی سره دی یعنې ستونه او ولي یو شان ساتئ مخکې وروستو په کې مه کوئ ددې ممانعت راغلی، د ملا علي قاري دا توجیه خوښه نه ده هغه فرمایي چې ستونه برابر ساتئ مطلب دا دی صفونو کې څوک په اوچت ځای باندې څوک ښکته یا امام اوچت او مقتدي ښکته وي چې په دې سره د بعضو څټونه اوچت او د بعضو لاندې پاتې وي (دا معنی داسې بعیده شان ده) (المرقات ۳/۱۷۵).

خلل: خا او لام دواړو باندې فتحه ده د مونځ کوونکو په مینځ کې فاصلې ته ویلی شي دې ته **فرجة** هم ویلی شي، ددې جمع **فرجات** ده.

الحذف: حا لفظ باندې فتحه ده بیا **ذال** باندې هم فتحه ده د ګډې بچې ته ویلی کېږي چې بالکل تور وي نه یې غوږونه شته او نه یې لکۍ دا قسم بچې د حجاز او یمن په ګډو کې وي دا د شیطان د اولاد یو فوټو کاپي ده. حدیث نمبر (۱۷) کې حذف تفسیر (**اولاد الضأن الصغار**) سره یو راوي کړی دی هغه یو مسند تفسیر دی (المرقات ۳/۱۷۵).

کانها: دې روایت کې ضمیر تانیث دی یو روایت کې **کانه** ضمیر مذکر دی ددې یو جواب دا دی چې مذکر ضمیر شیطان طرف ته راجع دی او مؤنث ضمیر په اعتبار د خبر سره دی ځکه چې حذف مؤنث دی.

دویم جواب: د ضابطې او قاعدې په طور باندې دا دی (**زیدها هو**) که لفظ زید طرف ته ضمیر راجع کېږي نو هو ضمیر به راځي که دلته لفظ د زید د **کلمة** معنی سره واخلی ضمیرها به راځي دا قاعده هر ځای کې جاري ده دلته هم داسې کېږي **کانه ای لفظ شیطان** او **کانها ای کلمة الشیطان**. (المرقات ۳/۱۷۵).

په مخکې صفونو کې باید څه نقص نه وي

﴿۱۰﴾ وَعَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « أَتِمُّوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ ثُمَّ

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې اولني صف پوره کړئ بیا دې

الَّذِي يَلِيهِ فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

سره نزدې صف پوره کړئ او صف کې که کومه کمي وي هغه آخري صف کې کیدل په کار دي.

---

(۱) أخرجه أبو داود ۱/۴۳۵ رقم الحديث :۶۷۱، والنسائي ۲/۹۳، رقم الحديث: ۸۱۸ .

Maktaba Tul Ishaat.com

صف مکمل کولو سره لوی ثواب دی

﴿۱۱﴾ وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ

دحضرت براء بن عازب نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به فرمايل: چې الله تعالى او ملائکې

يُصَلُّونَ عَلَى الَّذِينَ يَلُونَ الصُّفُوفَ الْأُولَى وَمَا مِنْ خُطْوَةٍ

رحمت ليږي په هغه کسانو باندې کوم چې اولني صفونو ته نزدې وي او الله تعالى ته ددې قدم نه بل

أَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنْ خَطْوَةٍ يَمْشِيهَا يَصِلُ الْعَبْدُ بِهَا صَفًّا.(۱).

محبوب قدم نشته کوم چې د صف د يو ځای والی د پاره استعمال شي.

په صف کې ښي طرف ته اودريدل بهتر دي

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې الله تعالى او فرښتې رحمت ليږي د

مَيَامِنِ الصُّفُوفِ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد) (۲).

صف ښي طرف والا وو باندې.

د تکبير نه پس هم امام صفونه برابرول شي

﴿۱۳﴾ وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَوِّي صُفُوفَنَا إِذَا

دنعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به زمونږ صفونه نيغول کله چې

قُمْنَا إِلَى الصَّلَاةِ فَإِذَا اسْتَوَيْنَا كَبَّرَ(۳).

به مونږ اودريدو مونځ د پاره چې صفونه به برابر شو د هغې نه پس به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ تکبير تحريمي وويلو.

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَنْ يَمِينِهِ: «اعْتَدِلُوا

دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به خپل ښي طرف ته فرمايل نيغ اودريږئ او

---

(۱) أخرجه أبو داود ۱/۴۳۲ رقم الحديث :٦٦٤، والنسائي ۲/۸۹، رقم الحديث: ۸۱۱

(۲) أخرجه أبو داود ۱/۴۳۷ رقم الحديث :٦٧٢.

(۳) أخرجه أبو داود ۱/۴۳۵ رقم الحديث :٦٧٠.

سَوُّوا صُفُوفَكُمْ ». وَ عَنْ يَسَارِهِ : « اعْتَدِلُوا سَوُّوا صُفُوفَكُمْ ».

خپل صفونه برابر کړئ او کس طرف ته به يې هم فرمايل چې صفونه نيغ ودروئ او برابر شئ.

په مونځ کې وُلي (اوږې) نرم ساتل بهتر دی

﴿۱۵﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « خِيَارُكُمْ

دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو کې بهترين خلک هغه دي

أَلْيَنُكُمْ مَنَاكِبَ فِي الصَّلَاةِ »[1].

چې نرم وي ولي ددوي په مونځ کې.

توضيح: الينكم مناكب: يعني مونځ کې ښه سړی هغه دی چې مونځ کې ولي نرم وساتي (المرقات ۳/۱۷۷).

ددې شارحين مختلف مطلبونه ذکر کړي: (۱) د صفونو د نيغولو د پاره يو سړی راشي او صف کې د ولاړو خلکو د نيغولو د پاره د هغوي ولي ونيسي او مخکې وروسته يې کړي نو ښه سړی هغه دی چې د بل لاس کې خپل ولي د صف نيغ کيدو د پاره ورکړي او ضد نه کوي تکبر نه کوي په راتلونکي حديث نمبر (۱۷) کې الفاظ (**ولينوا في ايدی اخوانكم**) نه دا مطلب واضح طور باندې متعين دی. (المرقات ۳/۱۷۷).

دويم مطلب دا دی چې د مونځ دوران کې ځای تنګ وي نوی راتلونکی مونځګزاريا ورسره ولاړ ملګري د پاره ولي نرم کړي او په ولي سره په صف کې ولاړو کسانو ته ديکه مِه ورکوي دا مطلب ښه دی بعضې نادان خلک دا نادانې کوي.

دريم مطلب دا دی چې په مونځ کې په ښه خشوع او خضوع سره ولي نرمول او تاويل دا مطلب يو څه بعيد دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۱۶﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُول: «اسْتَوُوا اسْتَوُوا فَوَالَّذِي

انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي تاسو برابر ودريږئ او قسم دې وي په هغه

---

(۱) أخرجه أبو داود ۱/۴۳۵ رقم الحديث: ۶۷۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي لَأَرَاكُمْ من خَلْفِي كَمَا أَرَاكُم مِنْ بَيْنِ يَدي » . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

ذات چې د چا په قبضه کې زما ساه ده څنګه چې تاسو مخې ته وينم دغه شان خپل شاته هم وينم.

په وُلو او ګيټو سره صف نيغيږي

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى

ابو امامة راوي دی وايي چې : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي الله تعالى او دهغه فرښتې رحمت ليږي په

الصَّفِّ الْأَوَّلِ » قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَ عَلَى الثَّانِي قَالَ : « إِنَّ اللهَ

اول صف باندې صحابو عرض وکړو يارسول الله! دويم صف باندې هم حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل الله

وَ مَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ » قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَ عَلَى الثَّانِي

تعالى او فرښتې اول صف باندې رحمت وايي ، صحابو عرض وکړو يا رسول الله ! دويم صف باندې هم

قَالَ : « إِنَّ اللهَ وَ مَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ » قَالُوا

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل الله او د هغه فرښتې په اول صف باندې رحمت ليږي صحابو عرض وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ ! وَ عَلَى الثَّانِي ؟ قَالَ : « وَ عَلَى الثَّانِي » قَالَ

يا رسول الله ! په دويم صف باندې هم ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : په دويم باندې هم بيا وفرمايل

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَوُّوا صُفُوفَكُمْ وَحَاذُوا بَيْنَ مَنَاكِبِكُمْ وَلِينُوا فِي أَيْدِي إِخْوَانِكُمْ

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل صفونه برابر ساتئ او خپل ولي هوار ساتئ او د خپل ورور لاسونو مخې ته نرم

وَسُدُّوا الْخَلَلَ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ بَيْنَكُمْ بِمَنْزِلَةِ الْحَذَفِ» يَعْنِي أَوْلَادَ الضَّأْنِ الصِّغَارِ .[2]

کېږئ صفونو کې خلامه پيدا کوئ شيطان حذف يعنې د ګډو رکې بچي جوړشي او ستاسو مينځ کې ننوځي

توضيح: **وعلى الثاني**: دې ته عطف تلقين ويلى شي يعنې صحابو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ توجه صف ثاني د فضيلت طرف ته اړول غواړي يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صف اول فضيلت خو تاسو بيان کړو د دويم صف فضيلت هم بيان کړه چې الله تعالى په دويم صف باندې هم رحمت وليږي، ځکه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دريم ځل باندې د دويم صف فضيلت بيان کړو.

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۹۱/۲ رقم الحديث : ۸۱۳.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۹۶۲/۵.

المناكب: دلته د ولو ذكر بار بار راغلی دی بعضې روایاتو کې قدمین هم راغلي دي اصل خبره دا ده. چې صف د انسان د بسم د ولو او ګیټو په ذریعه باندې نیغ او سیدها کولی شي دا هغه اعضاء دي که دا برابر شي نو پوره صف به سیدها شي د خپو مخکې او وروستو حصې سره صف نه سیده کېږي، ځکه چې د چا خپې اوږدې وې د چا وړې وي خو ګیټې داسې ځای واقع دي ددې برابرولو سره ټول اعضاء برابریږي. (المرقات ۳/۱۷۸).

﴿۱۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَقِيمُوا الصُّفُوفَ وَحَاذُوا

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل صفونه سیده کړئ اوبرابر والي ساتئ

بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَ سُدُّوا الْخَلَلَ وَ لِينُوا بِأَيْدِي إِخْوَانِكُمْ وَلَا تَذَرُوا فُرُجَاتِ

دخپلوولومنځ کې دصفونوخالي ځایونه ډک کړئ خپل ورورپه لاس کې نرم اوسئ او مه پریږدئ خلا په

الشَّيْطَانِ وَ مَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللهُ وَ مَنْ

صفونو کې د شیطان د پاره کوم کس چې صف یو ځای کړو الله تعالی به هغه یو ځای کړي او څوک چې

قَطَعَهُ قَطَعَهُ اللهُ. رَوَاهُ أَبُو دَاوُد وَ النَّسَائِيُّ مِنْهُ قَوْلَهُ: وَمَنْ وَصَلَ صَفًّا إِلَى آخِرِهِ.(۱)

صف وران کړي الله تعالی به هغه مات کړي. نسائی دا حدیث من وصل صفا نه اخره پورې نقل کړی دی.

امام په مینځ کې اودرول په کار دي

﴿۱۹﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «تَوَسَّطُوا الْإِمَامَ

حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي امام منځ کې اودروئ (یعني صف

وَ سُدُّوا الْخَلَلَ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد).(۲)

بندي داسې کوئ چې امام ښي او چپ طرف کسان برابر وي) او د صف خالي ځایونه بند کړئ.

په اول صف کې په شمولیت نه کولو باندې سخت وعید

﴿۲۰﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «لَا يَزَالُ قَوْمٌ

د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وویل چې څه خلک دی چې همیشه نه

---

(۱) أخرجه أبو داود ۱/۴۳۳ رقم الحديث :٦٦٦، والنسائي ۲/۹۳ رقم الحديث : ۸۱۹.

(۲) أخرجه أبوداؤد ۱/۴۳۹، رقم الحديث : ٦٨١.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَتَأَخَّرُونَ عَنِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ حَتّٰى يُؤَخِّرَهُمُ اللهُ فِي النَّارِ».(۱)
وروستو كيږي د اولني صف نه تردي چې الله تعالى دوي دوزخ كې واچوي.

توضيح: يتاخرون عن الصف: مراد دا دی چې يو كس مسلسل نيكئ كې سستي كوي تاخير كوي (المرقات ۳/۱۸۰)

د ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ﴾ (البقرة آيت:۱۴۸) پروا نه كوي ده ته ددې عمل عين مطابق سزا ملا ويږي او هغه سزا ده چې كوم كس تولو نيكيو كې وروستو پاتې شي ددې اثر دا دی چې دا كس اخر دوزخ ته لاړ شي آخر دا چې دا كس دوزخ والا و ته نزدې شي دا مطلب واضح دی بنكاره معلوميږي ددې حديث وعيد هغه منافقينو د پاره دی چې د دوي دا عادت وي او نفاق د وجې نه داسې كوي لكه دويم حديث كې دي (لايأتون إلى الصلوة الا دبرا) قرآن كې دي: ﴿قَامُوا إِلَى الصَّلَاةِ قَامُوا كُسَالَى﴾ (نساء آيت: ۱۴۲)

ددې توجيه ضرورت ځكه دی چې تول مسلمانان اولني صف كې نه ودريږي آخر صحابو دور كې هم اتم لسم صف كې خلك ودريدل.

په صف كې وروسته د يواځې اودريدو والا حكم

﴿۲۱﴾ وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُصَلِّي
دوابصة بن معبد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو كس وليد و چې مونځ يې كولو
خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيدَ الصَّلَاةَ. رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ(۲)
صف كې وروسته ځانله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته دوباره د مونځ كولو حكم وركړو.

توضيح: ان يعيد الصلوة: مخكې صف كې چې ځای وې او وروسته صف كې ځان له مونځ كوی آيا دا مونځ كيږي او كه نه كيږي دې كې اختلاف دی. (المرقات ۳/۱۸۰).

د فقهاو اختلاف: امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ وايي ددې كس مونځ ونه شو، لهذا د مونځ فاسد كيدو سره د مونځ اعاده دې وكړي دريواړه ائمه جمهور وايي داسې كول مكروه تحريمي دي ددې كس مونځ خو وشو خو د مكروه تحريمي د وجې نه اعاده ده كه استحباباً وي او كه لزوماً وي.

---

(۱) أخرجه أبوداؤد ۱/۴۳۸، رقم الحديث : ۶۷۹.

(۲) أخرجه أبو داود ۱/۴۳۹ رقم الحديث :۶۷۲، والترمذي ۱/۴۴۶ رقم الحديث : ۲۳۰ وأحمد في المسند ۴/۲۲۸.

دلائل: امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ زیر بحث حدیث دوابصه نه استدلال کړی دی دې کې واضح الفاظ دي چې مونځ دوباره وکړه، لهذا اعاده د بطلان صلاة په وجه ده. (المرقات ۳/۱۸۰).

جمهورو د حضرت ابوبکر روایت نه استدلال کړی دی کوم چې باب الموقف کې د فصل اول حدیث نمبر (۵) دی دا بخاری ذکر کړی دی.

دې کې مذکور دي چې حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ صف نه بهر دروازې سره نیت وکړو او د رکوع په حالت کې صف ته نزدې شو خو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اعادې حکم ورنه کړو. (المرقات ۱۸۰-۳/۱۸۱).

فتاوی ظهیریه کې د علماء احنافو مسلک مطابق تفصیل داسې دی که مخکې صف ډک وي او یو کس وروسته راغی، نو مخکې صف نه دې یو کس را وروسته کړي مونځ دې وکړي که د فتنې خطره وي نو څوک دې نه راوروسته کوي، بلکې ځان له دی اودریږي مونځ کېږي. که د دې امورو رعایت ونه شو، نو مونځ به مکروه شي.

علامه محمد یوسف بنوري رَحِمَهُ اللَّهُ د علماو فتوی نقل کړې ده نن سبا دور کې د زمانې د فساد او د کم عقلۍ او د جهل د وجې ځان له دې ودریږي دا بهتره ده ګیني راځکلو سره به مونځ کې جګړه شروع شي.

جواب: جمهور د زیر بحث حدیث نه دا جواب ورکوي دې حدیث کې امام ترمذی اضطراب ذکر کړی دی علامه ابن رشد مالکی هم فرمایي دې حدیث کې اضطراب دی، دا قابل استدلال نه دی.

دویم جواب دا دی اعاده د امام احمد او اسحاق په نزد ده، نور ائمه هم د اعادې خبره کوي. دا حدیث د هغې په خلاف کې نه شي پیش کولی د اعادې نوعیت او حیثیت جدا جدا دی. امام احمد او اسحاق رَحِمَهُمَا اللَّهُ په نزد اعاده د بطلان صلوة د وجې نه ده او د جمهورو په نزد د کراهت تحریمي د وجې نه ده بهر حال اعاده خو په هر حال شته دی چې د هرې وجې نه وي. صاحب هدایه لیکي: کراهت د وجې نه اعاده د مونځ راځي.

یو جواب دا هم دی شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي دا اختلاف هغه وخت دی چې تول مونځ وروسته وکړی او صف کې خالي ځای دی هغه لاړ نه شی که نیت وروسته وکړي او باقي صف ته په مزه مزه ورشي نو دده د پاره د اعادې حکم نشته. (اشعة اللمعات ۸،۵)

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب الْموقف:

په مونځ کې د اودريدو بيان

جماعت سره مونځ کولو متعلق صاحب مشکوة عجيبه طرز باندې عنوانات قائم کړې وو تولو نه ړومبی يې د جماعت فضيلت او په جماعت پريښودلو باندې وعيدات بيان کړل کله چې فضيلت ذهن کې راغی، نو د امام او مقتدي ودريدو يعنې صفونه برابرولو او دې کې د قيام په دوران کې هيت کذائيه بيان کړو تردې چې د جماعت طريقه يې اوښودله چې صفونه يې داسې جوړ کړئ کله چې عملي طور باندې صفونو کې ودريدل، اوس يې صفونو کې د ودريدو بيان شروع کړو، کله چې د بيان اوريدونکو او د زده کونکو شوق پيدا شو، اوس به دا جماعت څوک کوي، **باب الإمامة** سره يې د دې بيان وکړو د دې ډير زيات ضرورت وو او ويې ښودل چې د جماعت اهل فلان فلان خلک دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

نفلی جَمعه غير اختياري جائز ده

﴿۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : بِتُّ فِي بَيت خَالَتِي مَيْمُونَةَ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ
عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما خپلې ترور ميمونې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره شپه تيره کړه نو اودريدو رسول الله
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَ بِيَدِي
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (تهجد) مونځ د پاره زه هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چپ طرف ته اودريدم نو ونيو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لاس زما
مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ فَعَدَلَنِي كَذَلِكَ مِنْ وَرَاءِ ظَهره إِلَى الشق الْأَيمن. (متفق عليه)[1].
وروسته زما نه نو زه يې داسې واړولم د خپل وروسته جانب نه نبي طرف ته.

توضيح: فأخذ بيدي: اکثر روایاتو کې راغلي چې غوږ نيولو سره يې تاو کړی دی، دې حديث نه علماو ډير مسائل ثابت کړي دي. (۱) بغير تداعي غير ارادي طور باندې نفل جماعت جائز دی. (۲) که امام سره جماعت کې صرف يو مقتدي وي د امام سره به نبي طرف ته ودريږي. (۳) مونځ کې عمل قليل کولی شي. (۴) مقتدي له امام نه مخکې کيدل په کار نه دي اګر چې لږ وخت د پاره وي حضور

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۹۰/۲،رقم الحديث : ۲۹۷، ومسلم في الصحيح ۵۳۱/۱ رقم الحديث:۱۹۲-۷۶۳، وأبو داود ۴۰۷/۱ رقم الحديث :۶۱۰، والنسائي ۱۰۴/۲، رقم الحديث: ۷۴۲ ، والترمذي ۴۵۱/۱ رقم الحديث :۲۳۲ ، وابن ماجة ۳۱۲/۱، رقم الحديث: ۹۷۳. أخرجه أحمد في المسند ۲۴۹/۱.

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ محنت وکړو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې د شا طرف نه بل طرف ته کړو. (۵) داسې کس اقتداء کول جائز دي کوم کس چې شروع کې د جماعت اراده نه وي کړې او اوس يې اراده وکړه. (المرقات ۳/۱۸۲).

که مقتديان دوه کسان وي څنګه به اودريږي

﴿۲﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ : قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لِيُصَلِّيَ فَجِئْتُ

حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کولو د پاره ودريدو زه راغلم او د نبي عَلَيْهِ السَّلَام

حَتّٰى قُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَدَارَنِي حَتّٰى أَقَامَنِي عَن يَمِينه ثُمَّ جَاءَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ

چپ طرف ته ودريدم نبي عَلَيْهِ السَّلَام زما لاس ونيوا وخپل نبي طرف ته يې ودرولم بيا جبار بن صخر راغی د

فَقَامَ عَنْ يَسَارِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ بيدينا جَمِيعًا فدفعنا حَتّٰى أَقَامَنَا خَلفه. (۱)

نبي عَلَيْهِ السَّلَام چپ طرف ته اودريدو نبي عَلَيْهِ السَّلَام زمونږ د دواړو لاسونه ونيول او وروستو يې ودرولو.

توضيح: که مقتدي يو وي دده خبره خو مخکې معلومه شوه که مقتديان دوه وي د بعضو خيال دا دی چې منځ کې دې ودريږي او چپ او نبي طرف ته مقتديان. دې حديث نه دا هم معلومه شوه يو وخت دواړو لاسونو له حرکت ورکول جائز دي دا د نوافلو خبره ده دې کې سهولت دی، ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د علقمة او اسود په منځ کې اودريدو مونځ يې ورکړو کيدی شي ځای تنګ ؤ يا څه بل عذر ؤ دا يو جزئي واقعه ده مسنونه طريقه نه ده. (المرقات ۳/۱۸۳).

مقتدي زنانه او سړی به څنګه اودريږي

﴿۳﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : صَلَّيْتُ أَنَا وَ يَتِيمٌ فِي بَيْتِنَا خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ

د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې : ما او يتيم خپل کورکې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونځ وکړو او

أُمِّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا. (رَوَاهُ مُسلم)(۲).

ام سليم زمونږ نه وروسته وه.

توضيح: يتيم: د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ورور نوم يتيم وو ، بعضې وايي ضميره نوم يې وو په يتيم سره مشهور دی. (المرقات ۳/۱۸۳).

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۵۲۵/۱ رقم الحديث : ۱۸۱ - ۷۶۳.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۱۲/۲،رقم الحديث : ۷۲۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

ام سليم : د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مور نوم دی یو روایت کې العجوز وراء نا الفاظ هم دي مراد ام سليم ده دا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رضاعي خاله يا عمه وه . (المرقات ۳/۱۸۳).

دې حديث نه معلومه شوه که مقتدي زنانه او سړی مشترک وي د زنانه صف وروسته ځان ته په کار دی. اګر چې زنانه د محارمو نه ولې نه وي که زنانه د سړو د صف په منځ کې اودريږي امام صاحب طرف ته منسوب دی د هغه په نزد زنانه نه بنې او چپ طرف او دې نه وروسته يعنې درې کسانو مونځ باطل دی نو د زنانه خپل مونځ صحيح دی د ائمو ثلاثو په نزد باندې مونځ باطل نه دی چې چيرې امام د زنانو د امامت نيت ونه کړي د زنانو مونځ به فاسد شي.

مقتدي يو سړی اوزنانه وي جماعت به څنګه اودريږي

﴿٤﴾ وَ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ صَلَّى بِهِ وَ بِأُمِّهِ

انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړوده (يعنې انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) او دده مور (ام

أَوْ خَالَتِهِ قَالَ : فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ وَ أَقَامَ الْمَرْأَةَ خَلْفَنَا . (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1].

سليم)يا دده ترور سره، انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زه خپل نبي طرف ته او زنانه يې وروسته زمانه ودروله

د صف ته درسيدو نه اخوا که رکوع وکړې نو څه به کوې؟

﴿٥﴾ وَ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ابوبکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دي هغه يو ځل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره مونځ کې شاملیدو د پاره هغه وخت ورسيدو

وَ هُوَ رَاكِعٌ فَرَكَعَ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ ثُمَّ مَشَى إِلَى الصَّفِّ.

چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ رکوع کې وُ هغه صف ته رسيدو نه مخکې رکوع ته لاړو بيا ورو ورو لاړو صف کې شامل

فَذَكَرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَ : « زَادَكَ

شو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې ددې واقعې ذکر وکړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده ته وفرمايل چې زيات دې

اللهُ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ » . (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[2].

کړي الله تعالى ستاسو حرص نور هم خو آينده داسې مه کوئ.

---

(١) أخرجه النسائي في السنن ٢/٨٦ رقم الحديث : ٨٠٣.

(٢) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٢٦٧،رقم الحديث : ٧٨٣.

توضيح: فركع: يعني صف كې شامل نه وو خو جماعت موندلو د پاره مسجد ته داخل شو هغه ځای نه رکوع ته لاړو بيا حالت رکوع کې تلو تلو صف کې داخل شو دا کار حضرت ابو بکرة حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونځ کولو په دوران کې کړی دی بيا يې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د مسئلې تپوس وکړه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ صحيح کړځولی دی. خو دا عمل دوباره بيا مه کوه. (المرقات ۳/۱۸۴).

دې حديث نه معلومه شوه چې ځان له صف کې وروسته ودريدلو سره مونځ نه فاسديږي. لکه د جمهورو مسلک مخکې بيان شو، دويمه خبره ددې حديث نه دا معلومه شوه چې امام پسې فاتحه لوستل فرض يا واجب نه دي که داسې وی نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به صحابي ته حکم کولی چې لاړشه مونځ وکړه دې صحابي فاتحه نه ده لوستلې او د لوستلو وخت کله وو شوافع حضرات هم وايي چې رکوع کې مقتدي امام سره شريک شو هغه دا رکعت اومونډلو مونږ وايو که رکعت يې اوموندو نو فاتحه يې کله وويله او مونځ څنګه صحيح شو. معلومه شوه مقتدي باندې فاتحه لوستل فرض نه دي غير مقلدين حضرات خلک شک کې اچوي.

ولاتعد: دا د باب **نصر ينصر** نه د **عود** په معنی سره دی يعني دوباره داسې مه کوه دې کې د صف نه جدا ودريدل لازم راځي بيا حالت رکوع کې تلل راځي.

(۲) دا لفظ د **عدا يعدو** نه هم دی د منډې معنی کې دی يعني داسې په منډو صف کې شامل کيدو کوشش مه کوئ بلکې سکون سره راځئ ثواب به ملاويږي بيا د منډې فائده څه شوه.

(۳) دا د باب **افعال** نه هم کيدای شي د اعادې په معنی سره دی يعني مونځ واپس کولو ضرورت نشته بهرحال اوله صيغه او اول مطلب ډير واضح او مناسب دی. (المرقات ۳/۱۸۴).

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ:

﴿٤﴾ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا كُنَّا ثَلَاثَةً

سمرة بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته دا حکم وکړو چې کله مونږ درې کسان يو

أَنْ يَتَقَدَّمَنَا أَحَدُنَا . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1].

مونږ کې به يو کس مخکې شي (يعني زمونږ امام به جوړ شي).

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱/۴۵۲ رقم الحديث: ۲۳۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام ته يوائي په اوچت ځای باندې اودريدل مکروه دي

﴿۷﴾ وَ عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ : أَنَّهُ أَمَّ النَّاسَ بِالْمَدَائِنِ وَ قَامَ عَلَى دُكَّانٍ

دعماربن یاسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دي هغه مدائن کې ته خلکو امامت وکړو او اودريدو په چوتره باندې د

يُصَلِّي وَ النَّاسُ أَسْفَلَ مِنْهُ فَتَقَدَّمَ حُذَيْفَةُ فَأَخَذَ عَلَى يَدَيْهِ

مونځ کولو دپاره او مقتديان يې ښکته ولاړوو حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخکې شو او عماريې دده واړولاسونه ونيو

فَاتَّبَعَهُ عَمَّارٌ حَتَّى أَزَلَهُ حُذَيْفَةُ فَلَمَّا فَرَغَ عَمَّارٌ مِنْ صَلَاتِهِ

عماردحذيفه سره څه مقاومت ونه کړو ښکته يې راکوزکړو عمارچې کله دمونځ نه فارغ شوو ويل هغه ته

قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ : أَلَمْ تَسْمَعْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ : «إِذَا أَمَّ الرَّجُلُ الْقَوْمَ

حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: آياتانه دي اوريدلي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي کله چې يوکس امام جوړشي دقوم

فَلَا يَقُمْ فِي مَقَامٍ أُرْفَعَ مِنْ مَقَامِهِمْ أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ ؟ » فَقَالَ عَمَّارٌ :

نوپه هغه ځای دې نه ودريږي چې دمقتديانو ځای نه اوچت وي يادده پې شان الفاظ يې وفرمايل عمار

لِذَلِكَ اتَّبَعْتُكَ حِينَ أَخَذْتَ عَلَى يَدَيَّ. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

جواب ورکړو، ځکه خو چې تا زما لاس ونيوو ما ستا اتباع وکړه.

توضيح: المدائن: دا د دولت ساساني او کسری د فارس پای تخت وو دې ته قصر ابيض نوم هم وئيلی شي حضرت سعد بن ابی وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا فتح کړو د کسری سرکاري پارليمنټ کې يې د جامع مسجد بنياد کېښودو او دغه علاقه کې رومبی د جمعې مونځ ورکړو ځن هم دغه مسجد د مدائن نوم سره يادېږي. حضرت عمار بن ياسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مدائن يو مقام کې جماعت ورکولو حضرت حذيفه بن اليمان چې د فارس کورنۍ وو هغه هم هلته وو حضرت عمار بن ياسر يو اوچت ځای باندې ودريدو او مقتديان يې ښکته وو حذيفه ورمخکې شو او د لاس نه يې ونيولو او ښکته يې راکوز کړو مخکې شوی به وو خو لا نيت يې نه وو ترلی صرف اراده به يې کړې وه او حديث نه داسې معلوميږي چې نيت يې ترلی وو.

شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: **فأخذ على يديه اى جر حذيفة عمارا من خلف ظهره ينزله.**

د ملا نه نيول او پوندو نه رانيول ددې خبرې دليل دی چې هغه مانځه کې ولاړ وو، او اوچت ځای باندې ودريدل مکروه دي ددې وجې نه حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لاندې راکوز کړه. (اشعة اللمعات ۱/۵۱۰).

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۳۹۹ رقم الحديث :۵۹۸.

د کراهت وجه: شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللّٰهُ د کراهت وجه دا ذکر کړې ده چې دې کې اهل کتابو سره مشابهت رائي هغوي به خپل امام مخصوص ځای باندې ودرولو مسلمانان یې ددې نه منع کړل که اوچت ځای باندې د امام سره یو څو مقتدیان شریک شول بیا کراهت نشته.

که امام بنکته ځای کې ولاړ وي نو بیا کراهت د څه وجې نه دی؟ که امام بنکته وي او مقتدیان اوچت وي، نو دې کې کراهت شته یا نشته که وي نو د څه وجې نه دی: دې مسئله کې د امام طحاوي خیال دا دی چې دا صورت مکروه نه دی، ځکه چې اهل کتابو سره مشابهت نشته لهذا جائز دی خو جمهور احناف فرمایي چې دا صورت هم مکروه دی دې کې د کراهت وجه جدا ده او هغه دا ده چې دې کې د امام توهین او تحقیر لازم رائي چې هغه په کندې او کوهي کې اسوء حالا په طور باندې ولاړ وي او مقتدي اوچت احسن حالا ولاړ وي د امام سره دا طریقه د توهین او مکروه نه ده، نو څه ده؟. (المرقات ۳/۱۸۶).

داوچت والي حد څومره دی؟: شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللّٰهُ لمعات کې لیکي: معتدل سړی د قد وقامت برابر اوچت والی وو مکروه دی. دویم قول لیدلو کې که امام ممتاز او بنکاره په نظر راتلو نو دې حد پورې مکروه دی. دریم قول که د یو لاس اوچت والي په اندازه وو دا هم مکروه دی دا آسان او واضح دی. سوال دا چې کله کله حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منبر باندې مونځ ورکړی دی هغه څنګه جائز شو ددې جواب دا دی د تعلیم امت د پاره د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصوصیت وو بل چا د پاره جائز نه دی اوس یو بل سوال دی چې عمارته دا مسئله معلومه وه بیا اوچت ځای باندې ولې ودریدو؟

جواب: کیدی شي دغه وخت دا مسئله او حدیث دده نه هیر شوی وو خو حذیفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عملي طور باندې پوهه کړو. (المرقات ۳/۱۸۶).

اونحو ذلک: د حضرت حذیفه روایت کیدی شي بالمعنی وي، ځکه یې وفرمایل چې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الفاظ داسې وو یا ددې په شان وو. (المرقات ۳/۱۸۷).

د تعلیم په غرض امام په اوچت ځای باندې اودریدی شي

﴿۸﴾ وَ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ أَنَّهُ سُئِلَ : مِنْ

سهل بن سعد ساعدی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په باره کې منقول دي چې ده نه تپوس وکړی شو چې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

أَيِّ شَيْءٍ الْمِنْبَرُ؟ فَقَالَ: هُوَ مِنْ أَثْلِ الْغَابَةِ عَمِلَهُ فُلَانٌ مَوْلَى فُلَانَةَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

منبر د څه ؤ هغه وفرمایل چې د څنګل د لرګي نه وو لکه فلانکی کس د فلانکی غلام ؤ هغه جوړ کړی ؤ

وَ قَامَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ حِينَ عُمِلَ وَ وُضِعَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَ كَبَّرَ

کله چې تیار شو او کیښودی شو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې باندې اودریدو او قبلي ته یې مخ کړو او تکبیر تحریمه

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ قَامَ النَّاسُ خَلْفَهُ فَقَرَأَ وَ رَكَعَ وَ رَكَعَ النَّاسُ خَلْفَهُ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ

يې وويله ټولو خلكو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه شاته ركوع وكړه بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوچت كړو خپل سر

ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرَى فَسَجَدَ عَلَى الْأَرْضِ ثُمَّ عَادَ إِلَى الْمِنْبَرِ ثُمَّ قَرَأَ

مبارک د ركوع نه او خپه يې ماته كړه او ځمكه باندې يې سجده وكړه بيا يې منبر ته تشريف راوړو قرآت

ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ رَجَعَ الْقَهْقَرِي حَتّٰى سَجَدَ بِالْأَرْضِ.

يې. وكړو او ركوع يې وكړه ركوع نه يې سر اوچت كړو بيا يې خپه ماته كړه او ځمكه باندې يې سجده وكړه

هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ وَ فِي الْمُتَّفَقِ عَلَيْهِ نَحْوُهُ وَ قَالَ فِي آخِرِهِ :

دا الفاظ د بخارى دي او د بخارى او مسلم روايت داسې دى د دې حديث راوي په آخر كې دا وويل چې نبي

فَلَمَّا فَرَغَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَقَالَ: «أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّمَا صَنَعْتُ هٰذَا لِتَأْتَمُّوا بِي وَلِتَعَلَّمُوا صَلَاتِي»[1].

عَلَيْهِ السَّلَام فارغ شونو وې فرمايل دا ما ځكه وكړل چې تاسو زما اتباع وكړئ او زما مونځ زده كړئ.

توضيح: مدينې منورې نه نهه ميله كې يو ځنګل دى چې غابه ورته ويلى شي هلته ونې ډيرې زياتې دي (المرقات ۳/۱۸۷).

اثل: دويم روايت كې **طرفاء** لفظ راغلى دى دا دواړه د يو قسم ونې نوم دى دې ته كيكر ويلى شي.

فلان: دې نه مراد باقوم رومي دى دا ماهر تركان وو د حضرت سعيد بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غلام وو ده په سنه ۲هـ كې منبر نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جوړ كړې وو (المرقات ۳/۱۸۷).

(مولى فلانه) دې روايت كې واضح طور باندې مذكور دي يعنې رومبى د حضرت سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره وو بيا حضرت عائشه انصاريه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره وو د فلانه نه مراد عائشة انصاريه ده (المرقات ۳/۱۸۸).

علماء ليكي چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منبر د درې وړو پوړو والا وو په يوې پوړۍ ختل او كوزيدل عمل كثير خو نه دى بلكه عمل قليل دى كه عمل كثير هم شي د تعليم امت د پاره جائز نه بلكې ضروري دى.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۳۹۷،رقم الحديث : ۹۱۷، ومسلم في الصحيح ۱/۲۸٦ رقم الحديث:٤٤-٥٤٤، والنسائي ۲/۵۷، رقم الحديث: ۷۳۹.

په حالت د اعتكاف كې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امامت

﴿۹﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فِي حُجْرَتِهِ

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله حجره كې مونځ وكړو

وَالنَّاسُ يَأْتَمُّونَ بِهِ مِنْ وَرَاءِ الْحُجْرَةِ.(۱).

او خلكو د حجرې نه بهر اقتداء وكړه.

توضيح: في حجرته: دې نه د كور حجره مراد ده بلكې اعتكاف په دوران كې په روژه كې جومات كې د پوزې چاردیوالي وه هغې ته يې حجره ويله هغې نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آواز هم راتلو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تړې كتل دې كې اشكال نشته مونځ كې د ځای متحد كيدل په كار دي، او اتحاد د مكان حاصل وو. (المرقات ۳/۱۸۹).

الْفَصْلُ الثَّالِثُ:

﴿۱۰﴾ عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟

دمالک بن اشعري نه مروي دی چې هغه وويل آيا زه تاسو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ نه خبر نه كړم؟

قَالَ : أَقَامَ الصَّلَاةَ وَ صَفَّ الرِّجَالَ وَ صَفَّ خَلْفَهُمُ الْغِلْمَانَ

نو وي ويل :نبي عَلَيْهِ السَّلَام او درولو مونځ (اول يې) د سړو صف قائم كړو بيا يې د هلكانو صف وترلو او

ثُمَّ صَلَّى بِهِمْ فَذَكَرَ صَلَاتَهُ ثُمَّ قَالَ :

هغوي ته يې مونځ وركړو ابو مالک د نبي عَلَيْهِ السَّلَام مونځ بيان كړو (وې ويل) چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

« هٰكَذَا صَلَاةُ » قَالَ عَبْدُ الْأَعْلَى : لَا أَحْسَبُهُ إِلَّا قَالَ: أُمَّتِي ".(رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۲).

فرمايي مونځ داسې كوئ عبد الاعلى وايي زما خيال دی چې ابو مالک (زما امت) هم ويلي دي يعني

ابو مالک د حديث آخري الفاظ داسې نقل كړي: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: (هكذا صلوة امتي) يعني زما د امت مونځ دي داسې شي.

---

(۱) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۶۷۱ رقم الحديث :۱۱۱۶.

(۲) أخرجه أبوداود في السنن ۱/۴۳۷ رقم الحديث .۶۷۷

Maktaba Tul Ishaat.com

د ماتحت خلکو گمراه کوونکی حاکمان تباه دي

﴿۱۱﴾ وَعَنْ قَيْسِ بْنِ عُبَادٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا فِي الْمَسْجِدِ فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ فَجَبَذَنِي رَجُلٌ مِنْ خَلْفِي جَبْذَةً

قيس بن عباد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي زه جومات کې اول صف کې اودريدم يو کس زه د شاه څخه راخکلم او زه يې

فَنَحَّانِي وَ قَامَ مَقَامِي فَوَ اللهِ مَا عَقَلْتُ صَلَاتِي . فَلَمَّا

يو طرف ته کړم په خپله زما په ځای باندې اودريده په الله قسم زه په خپل مونځ هم پوهه نه شوم کله چې دغه

انْصَرَفَ إِذَا هُوَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ فَقَالَ : يَا فَتَى

کس مونځ وکړو پته ولګيده چې دغه کس ابی بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دی هغه وفرمايل ای ځوانه زمونږ د پاره د

لَا يَسُوءُكَ اللهُ إِنَّ هٰذَا عُهِدَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِلَيْنَا أَنْ نَلِيَهُ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وصيت دی چې مونږ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره اودريږو (د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه پس مونږ

ثُمَّ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَقَالَ : هَلَكَ أَهْلُ الْعُقَدِ

دامام سره نزدې ودريدو کوشش کوو) قبلې طرف ته مخ کړو اووي ويل چې هلاک شو اهل عقد (سرداران)

وَ رَبِّ الْكَعْبَةِ ثَلَاثًا ثُمَّ قَالَ : وَ اللهِ مَا عَلَيْهِمْ آسَى وَ لَكِنْ آسَى عَلَى مَنْ

د کعبې په رب قسم دري ځل يې وويل بيايې وفرمايل په الله قسم ماته د سردارانو غم نشته خفګان په هغه

أَضَلُّوا . قُلْتُ يَا أَبَا يَعْقُوبَ

خلکو دی کوم چې سرداران ګمراه کوي. قيس بن عباد وايي ما ابی بن کعب ته عرض وکړو ابو يعقوب!

مَا تَعْنِي بِأَهْلِ الْعَقْدِ ؟ قَالَ : الْأُمَرَاءَ . (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ)[1].

اهل عقد نه ستا څه مراد دي دې وفرمايل امراء يعنې سرداران او بادشاهان).

توضيح: فجبذني: که چيرې دا کلمه **جبذني** ولوستلی شي بيا هم معنی يو ده ځکه چې دا لفظ جذبني نه مقلوب دی يعنې زه يې راخکلم **جبذة** دا مصدر د عدد د پاره هم اخيستلی شي يعنې **مرة واحدة** دا د تاکيد د پاره هم استعمالولی شي **اى جبذة شديدة**. (المرقات ۳/۱۹۰، الكاشف ۳/۵۶).

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۸۸/۲ رقم الحديث : ۸۰۸ ، وأحمد في المسند ۱۴۰/۵.

فنحاني: يعنې زه يې د خپل ځای نه اخوا کړم يو طرف ته، او په خپله زما په ځای باندې اودريدو. (المرقات ۳/۱۹۰).

ماعقلت صلاتي: د خپل ځای نه اخوا کولو د وجې دومره غوسه شوم چې مونځ کولو باندې پوهه نه شوم چې ما څنګه او څو رکعته وکړه. (المرقات ۳/۱۹۱).

عهد: دا د حضور ﷺ وصيت وو. چې پوهه خلک علماء او فضلاء مخکې وي او ماشوم آخري وي قيس بن عباد وړوکی وو دا صحابي نه بلکې تابعي وو.

(**هلک اهل العقد**) دا اصطلاحي لفظ دی پوره لفظ (**اهل الحل والعقد**) دې نه مراد د حکمرانانو طبقه ده چې د خلکو معاملات بنده وي او خلاصه وي. (المرقات ۳/۱۹۱، الکاشف ۳/۵۶).

د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه مقصد دا دی د بادشاهانو په ذمه د خپل ما تحت صحيح اصلاح کول دي دا هغوی نه کوي، نو ګمراه شول خو دې باندې دومره افسوس نه دی. دې وجې نه ماتحت خلک د ښه اعمالو نه محروم وي. ابی بن کعب د لوی مرتبې والا صحابي دی هغه چې بادشاهانو باندې طعن کړی دی کيدی شي مخکې راتلونکي بادشاهان مراد وي يا د دوي په زمانه کې مراد وي دا خو په خپله د حضرت عثمان رضی الله عنه زمانه کې وو کيدی شي دغې کې بعضې ګورنران (والیان) ددې طعن نشانه وو خو دا په خپله بالکل نه دی.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

Maktaba Tul Ishaat.com

۲۵ ربيع الثاني ۱٤۱۰هـ / د ششماهي امتحان نه پس

بَاب الْإِمَامَة:

يو امامت كبرى دى او بل امامت صغرى دى امامت كبرى ته امارت او خلافت هم وئيلى شي ددې تعريف دا دى: د شريعت په رښا كې د انسانانو دين او د دنيا د ټولو امورو قيادت او سيادت او اصلاح نوم خلافت او امامت دى دې موضوع باندې علم الكلام كې خبره كېږي دلته د امامت صغرى بيان دى چې احاديثو كې ښه بيان شوى دى مونږ لوى عبادت دى لوى شان والا دى دې كولو والا هم لوى شان والا دي دا وجه ده چې اسلام كې څنګه امامت كبرى د پاره يو معيار متعين دى او ددې د پاره څه شرائط دي دغه شان د امامت صغرى د پاره دى. نو امام به لوى عالم او بزرګ وي كه چيرې محلې والا د امامت د پاره يو كس باندې متفق شو او دغه خلک اكثر مونږ ګزار او دينداره وو نو هغه به امام وي او دغه كس باقاعده امام دى دده په موجودګى كې كه لوى عالم راشي دده اجازت نه بغير مونږ نه شي كولى ګيني انتظام كې به خلل راشي.

الْفَصْل الأول:

د امامت مستحق څوک دى

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « يَؤُمُّ الْقَوْمَ

ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د قوم امامت دې هغه كس كوي

أَقْرَؤُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ فَإِنْ كَانُوا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً فَأَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ

چې ښه قاري وي كه په قرآن لوستلو كې ټول برابر وي نو هغه كس دې امامت وكړي چې ښه عالم وي په سنتو

فَإِنْ كَانُوا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً

كه د سنت علم اوپوهه كې برابر وو نو هغه كس دې امامت وكړي چې اول يې هجرت كړى وي او راغلى وي

فَإِنْ كَانُوا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً فَأَقْدَمُهُمْ سِنًّا وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ

كه هجرت كې برابر وو نو هغه كس دې امامت وكړي چې عمر كې لوى وي او امامت دې نه كوي يو كس

الرَّجُلَ فِي سُلْطَانِهِ وَلَا يَقْعُدْ فِي بَيْتِهِ

دبل چا په علاقه كې (يعنې دويم مقرر امام په ځاى دې امامت ونه كړي) او نه دې كيني د يو چا په كور كې

عَلٰى تَكْرِمَتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ ».[1]
د هغه د عزت په ځای باندې بغیر د اجازت نه.
وَ فِي رِوَايَةٍ لَهُ :« وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ الرَّجُلَ فِيْ أَهْلِهِ ».
او د مسلم یو بل روایت کې دا الفاظ دي: څوک دې دبل په کور کې د هغه د اجازت نه بغیر امامت ونه کړي

توضیح: في القراءة سواء: لکه مخکې اشاره شوې وه چې د مسجد مقرر شوی امام موجود وو نو د امامت د ټولو نه زیات حقدار هم هغه دی، دې حدیث کې چې د امام اعلی او ادنی افضل او غیر افضل او د صفات حسنو قلت او کثرت او د ترجیحاتو کوم بیان کړی دی دا د هغه وخت خبره ده چې کله خلک د سفر کې وي ابو سعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت نمبر(۲) دې باندې دال دی دې کې د مسافر او د سفر ذکر دی(**اذا کانوا ثلاثة**) الفاظ د سفر بیان دی یا د سفر نه علاوه د کومې جلسې او اجتماع یا د جهاد په ځایونو کې مسلمانان جمع وي او علماء هم موجود وي هلته دا ترتیب په کار دی.(المرقات۳/۱۹۲).

دامامت د حقدار جوړیدو د پاره دې حدیث کې څه ترجیحات دي:(۱) ټولو نه ډومبی د کتاب او سنت عالم وي.(۲) که دې کې برابر وي بیا د چا تلاوت د تجوید سره وي.(۳) که دواړو صفاتو کې برابر وي بیا په دوي کې چې کوم یو وجیه او شکیل وي.(۴) که دې کې هم برابر وي بیا د چا اخلاق چې ښه وي.(۵) که دې کې برابر وي بیا هغه کس چې ښه متقي وي.(٦) بیا د نسب په اعتبار سره اوچت وي.(۷) آخره کې بیا قرعه اندازي کول په کار دي. (المرقات۳/۱۹۲).

مذکور حدیث کې څلور صفات ذکر شو اول قرآت، دویم علم، دریم هجرت او څلورم عمر رسیده. نور صفات هم فقهاو راویستلي خو زیات بحث ته ضرورت نشته.

داقرأ اواعلم مسئله: ددې ټولو صفاتو په ترتیب کې د فقهاو اتفاق دی دوه صفاتو کې اختلاف دی یعنې اقرا مقدم دی او که اعلم یعنې جید قاري مقدم دی او که جید عالم.

د فقهاو اختلاف: د امام احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه او د ابو یوسف رحمهم الله مسلک دا دی چې د امامت د پاره اقرأ ډیر مستحق دی دې نه پس اعلم دی د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ یو قول دا هم دی د امام صاحب ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ، او د امام مالک او امام شافعي مسلک دا دی چې اعلم مقدم دی بیا اقرأ دی قاري نه مراد د قراءت د فن ماهر دی او قرآن ورته ښه یاد وي. (المرقات۳/۱۹۲).

دلائل: فریق اول د زیر بحث حدیث د ابو مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه استدلال کړې او دا دلیل هم پیش کوي چې قرآت د مونځ د ارکانو نه یو رکن دی ددې اهتمام ډیر دی، فریق ثاني یعنې جمهور خپل استدلال کې د

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/٤٦٥،رقم الحديث: ٦٧٣-٢٩٠، وأبوداؤد ۱/۳۹۰رقم الحديث: ۵۸۲،والنسائي ۲/۷٦، رقم الحديث: ۷۸۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ امامت بطور دليل پيش کوي ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ابی بن کعب باندې مقدم کړو دا اعلم بالکتاب دی او أبي بن کعب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اقرأ دی لکه د حديث الفاظ دي: **واقراهم ابي بن كعب**، معلومه شوه اعلم مقدم دی د جمهورو يو دليل دا هم دی چې قرآت اکثر چې رکن صلوة دی خو دې ضرورت صرف يو رکن کې راځي او علم دمونځ تولوارکانو کې راځي (المرقات ۳/۱۹۳).

جواب: د زير بحث حديث يو جواب دا هم دی چې دوي سره څه جواب نشته دې کومو حضراتو چې دا جواب کړی دی چې دغه زمانه کې اقرا هغه وو چې کوم به اعلم وو دې جواب سره زير بحث ترتيب ماتيږي حالانکه ترتيب حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذکر کړی دی، او دويم اشکال دا راځي چې حضرت أبي بن کعب د ټولو نه لوی عالم ومنل شو حالانکه د ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په باره کې صحابه فرمايي چې ابوبکر اعلمنا خبره دلته راغله چې ددې حديث جواب دا دی چې ددې جواب نشته دويم جواب دا دی د اسلام په شروع کې د قرآن اشاعت او عام کولو د اهتمام د وجې نه يې وفرمايل د قرآن په ذريعه نکاح کول، د مجاهدينو امير جوړيدل، د کثرت قرآن د وجې نه اجتماعي قبرونو کې حافظ قرآن مقدم کول او کثرت قرآن د وجې نه جومات کې امام جوړول دا ټول اهتمام دې د پاره وو چې خلک ډير نه ډير د قرآن الفاظ ياد کړي دې وجې نه په دغه زمانه کې دا حديث ارشاد فرمايلی دی. دې نه پس حکم موقوف شو او د علم په ترغيب باندې يې زور ورکړی دی دې وجې نه يې صديق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مقدم کړو چې د علم اصل حيثيت برقرار پاتې شي، لهذا نن هغه حيثيت باقي دی او عالم عوام الناس هم په قاري باندې مقدم کوي صرف قرآت اوريدل او خوشحاله کيدل جدا څيز دی. (المرقات ۱۹۳-۳/۱۹۴).

ولا يؤمن في سلطانه غيره: د ملا علی قاري رَحِمَهُ اللَّهُ مرقات کې د کلام نه داسې معلوميږي دري قسمه خلک دي چې د هغوی د اجازت نه بغير د هغوی په ځای کې امامت کولو نه منع کړې ده. (۱) مذکوره حديث کې (**سلطانه**) لفظ دی دې نه د وخت بادشاه مراد دی يعنې د وخت حاکم خواته چې لاړ شی د هغه په ځای باندې امامت نه شې کولی او د هغه د طرف نه نائب په ځای هم امامت مه کوه خاصکر جمعه او اخترونو په موقع باندې بالکل مناسب نه دي (۲) د سلطان اطلاق د جومات په امام باندې هم کيږي ځکه چې د جومات اختيار دده په لاس کې وي (۳) دغه شان يو کس د خپل خاندان مشر وي او خپل قوم ته مونځ ورکوي د هغه په ځای هم مونځ ورکول د هغه د اجازت نه بغير ناجائز دي (المرقات ۳/۱۹۴).

دويم روايت کې (**في اهله**) الفاظ راغلي، دې نه مراد دغه قسم خلک کيدی شي دغه شان که يو سړی د خپل کور افراد جمع کړي او مونځ ورته ورکړي دده د اجازت نه بغير هم دده په ځای امامت نه شی کولی که امامت کبری والا وي يا امامت صغری والا هر يو ته سلطنت ملاؤ دی د دوی اجازت نه بغير امامت کول د شريعت خلاف دي اسلام کې جماعت او امامت د مشروعيت مقصد خلکو کې اتفاق او اتحاد

دی اوداحرکتونه بغض او عناد پیداکوي ځکه حضور ﷺ ددې سد باب وفرمایلو چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه جلیل القدر صحابي حجاج بن یوسف ظالم پسې آخیر څه مقصد د پاره مونځ کولو. (المرقات ۳/۱۹۵).

علی تکرمته: تکرمة تفعلة په وزن مصدر دی باب **تفعیل** نه دی **تکریم** د عزت په معنی سره دی دلته کورکې یو خاص جوړ شوې ځای ته ویلی شي چې هغه ځای باندې د کور مشرکس کینې دغه ځای باندې دده اجازت نه بغیر ناسته صحیح نه ده هغه ته تکلیف وي نن سبا عرب خلک په دې سخت حفه کېږي او عجمو کې پیران صاحبانو د پاره چې کوم ځای جوړ وي هغه هم مراد دی یا مدرسه کې د نګران ځای هم مراد دی، د هغوی د اجازت نه بغیر هلته کیناستل منع دي. (المرقات ۳/۱۹۵).

﴿۲﴾ وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « إِذَا كَانُوا ثَلَاثَةً
دابو سعید رضي الله عنه نه روایت دی وایي چې حضور ﷺ فرمایي کله چې درې کسان وي دې کې
فَلْيَؤُمَّهُمْ أَحَدُهُمْ وَ أَحَقُّهُمْ بِالْإِمَامَةِ أَقْرَؤُهُمْ ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1].
یو کس دې امام جوړ شي او دې کې د امامت مستحق هغه دی چې تعلیم یافته وي.
(وَ ذُكِرَ حَدِيثُ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ فِي بَابٍ بَعْدَ بَابِ فَضْلِ الْأَذَانِ).

الْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿۳﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « لِيُؤَذِّنْ لَكُمْ
ابن عباس رضي الله عنه راوي دی وایي چې حضور ﷺ وفرمایل آذان دې کوي په تاسو کې هغه کس
خِيَارُكُمْ وَ لِيَؤُمَّكُمْ قُرَّاؤُكُمْ ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2].
چې بهتر وي او امامت دې کوي په تاسو کې هغه څوک څوک چې ښه قرآن لولي.

توضیح: لیؤذن لکم: یعني مؤذن ښه سړی په کار دی هغه د اوقاتو امین دی چې وخت کې خیانت ونه کړي هغه د آذان د پاره چت ته خیژي هلته نه خواشاه کورونو باندې نظر پریوځي دې تجربې نه ثابته ده چې د قوم او امام په مینځ کې اختلاف او افتراق د مؤذن د وجې نه وي چې مؤذن امانت دار وي نو د خیانت او خباثت ویره به نه وي او امام عالم په کار دی چې دمونځ مسائلو کې غلطي رانه شي. (المرقات

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/٤٦٤ رقم الحديث: ۲۸۹-٦٧٢.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۹٦ رقم الحديث : ٥٩٠.

Maktaba Tul Ishaat.com

١٩٥-٣/١٩٦).

﴿٤﴾ وَ عَنْ أَبِي عَطِيَّةَ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ : كَانَ مَالِكُ بْنِ الْحُوَيْرِث يَأْتِينَا إِلَى مُصَلَّانَا يَتَحَدَّثُ

ابو عطيه عقيلي تابعي وايي چې مالک بن حويرث (صحابي) زمونږ مسجد ته به راتلو او حديث به يې بيانولو

فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ يَوْمًا قَالَ أَبُو عَطِيَّةَ : فَقُلْنَا لَهُ : تَقَدَّمْ فَصَلِّهِ .

يوورځ د مونځ وخت شو ابو عطيه وايي مونږ مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وويل مخکې شه او مونږ ته مونځ راکړه

قَالَ لَنَا قَدِّمُوا رَجُلًا مِنْكُمْ يُصَلِّي بِكُمْ وَ سَأُحَدِّثُكُمْ

مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل تاسو خپل طرف نه څوک مخکې کړئ چې هغه تاسو ته مونځ درکړي او زه تاسو ته وايم

لِمَ لَا أُصَلِّي بِكُمْ ؟ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ : « مَنْ زَارَ قَوْمًا

چې زه ولې مونځ نشم درکولی ما د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي څوک چې د يو قوم سره ملاؤ شي

فَلَا يَؤُمَّهُمْ وَ لْيَؤُمَّهُمْ رَجُلٌ مِنْهُمْ » . (١)

هغه دې د دوی امامت نه کوي خپل مينځ کې يو کس دې د دوی امامت وکړي.

وَ النَّسَائِيُّ إِلَّا أَنَّهُ اقْتَصَرَ عَلَى لَفْظِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ . (٢)

نسائی هم دا روايت نقل کړی دی خو هغه صرف د نبي عَلَيْهِ السَّلَام الفاظو باندې اکتفاء کړې يعنې هغه خپل روايت کې د مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د مسجد راتلو واقعه او د امامت نه انکار کولو ذکر نه دی کړی بلکې صرف د نبي عَلَيْهِ السَّلَام الفاظ (من زار) نه آخره پورې يې نقل کړی دی.

درونډ کس امامت جائز دی

﴿٥﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : اسْتَخْلَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ

دانس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابن ام مکتوم خپل ځای باندې نائب کړی وو

يَؤُمُّ النَّاسَ وَ هُوَ أَعْمَى . (٣)

چې خلکو ته مونځ ورکړي او هغهړوند وو.

---

(١) أخرجه أبو داود في السنن ١/٣٩٩ رقم الحديث : ٥٩٦ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٢/١٨٧، رقم الحديث :٣٥٦.

(٢) أخرجه النسائي ٢/٨٠، رقم الحديث : ٧٨٧، مسند أحمد ٥/٣٥.

(٣) أخرجه أبو داود في السنن ١/٣٩٨ رقم الحديث : ٥٩٥.

توضيح: ابن ام مكتوم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا يو ړوند صحابي وو مكه مكرمه كې يو ځل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مجلس كې حاضر شو مسئلې تپوس يې وكړو دغه وخت كې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قريشو سردارانو سره مشغول وو او دې صحابي ته جواب وركولو كې يې بې توجهي وشوه الله تعالى سورة عبس نازل كړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې محبت اميز عتاب وكړو او د دغه صحابي شان يې ورته ذكر كړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې به دې نه پس ابن ام مكتوم راتلو باندې ليدلو نو ويل به يې (**مرحبا لمن عاتبني فيه ربي**) دې وجې نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا صحابي تقريباً څوارلس ځلې مدينې كې نائب جوړ كړې وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جهاد ته چې تلو، نو ابن ام مكتوم به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نائب وو زير بحث حديث د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كې دا خبره ده چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابن ام مكتوم صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل نائب جوړ كړى وو هغه امير هم وو او د خلكو امامت به يې هم كولو او ړوند وو.

اوس دا مسئله چې ړوند امام جوړيدى شي يا نه؟ (**رحمة الامة فى اختلاف الائمة**) د اتمې صدۍ مشهور عالم شافعي عالم محمد بن عبد الرحمن دمشقي ليكي: (**امامة الاعمى صحيحة بالاتفاق غير مكروهة الا عند ابن سيرين**) (ص ۵۰)

اوس خبره دې كې ده چې د ړوند امامت افضل دى او كه د صحيح كس امامت افضل دى ددې تفصيل داسې دى كه اعمى اعلم هم وي اقرأ هم وي او ورع هم وي ددې مقابله كې كوم بينا موجود نه وي دا اعمى بالامامة دى كه د ړوند په مقابله كې داسې فاضل عالم بينا موجود وي د جمهورو په نزد دا بينا اولى بالامامة دى خو امام غزالى دې صورت كې هم اعمى امامت له ترجيح وركوي په دې شرط چې پاكي حاصلوي هغه فرمايي چې ړوند د نظري جرائمو نه محفوظ وي ځكه دا اولى بالامامة دى، باقي دا خبره چې فقهاء احنافو وغيرو د اعمى امامت مكروه ليكلى هغه ولې ددې جواب دا دى كراهت د هغه ړوند باره كې دى چې ګندګى نه محفوظ نه وي يا په كې علم او تقوى نه وي كه ددې مقابله كې اعلى او عمده بينا عالم موجود وي دغه وخت كې د اعمى امامت مكروه دى. (المرقات ۳/۱۹۷).

د شرعي عيب والا امام مونځ قبول نه دى

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثَةٌ لَا تُجَاوِزُ صَلَاتُهُمْ
ابو امامه راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي درې كسان داسى دي چې بره نه ځي مونځ ددوي
آذَانَهُمْ: الْعَبْدُ الْآبِقُ حَتّٰى يَرْجِعَ وَ امْرَأَةٌ
ددوى دغوږونو نه: يو مالك نه تختيدلى غلام تردې چې واپس رانه شي، دويم هغه زنانه چې په داسې

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاتَتْ وَ زَوْجُهَا عَلَيْهَا سَاخِطٌ وَ إِمَامُ قَوْمٍ وَ هُمْ لَهُ كَارِهُونَ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ
حالت کې شپه تيره کړي چې خاوند تري خفه وي دريم هغه امام چې قوم يې نه خوښوي امام ترمذي دا روايت
وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ .(ترمذي). (۱)
نقل کړی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

توضيح: امراة: دا هغه وخت دی چې زنانه بد اخلاقه وي نافرمانه او بې ادبه وي دې وجې نه خاوند خفه وي که جرم د خاوند وي دې صورت کې زنانه بېچ ده بلکې خاوند يې ګناه ګار دی. (المرقات ۳/۱۹۸).

وهم له کارهون: که قوم د شرعي عيب فسق او بې ادبۍ او بې علمۍ د وجې نه خفه وي دا وعيد امام د پاره دی که امام کې شرعي عيب نه وو بلکې مقتديانو د دنيا وي اغراضو يا ذاتي مفاداتو د وجې نه امام سره دښمني کوي دې صورت کې مقتديان ګناه ګار دي دغه رنګه امام الحی پيش امام کې هم دا تفصيل دی. بلکې دا تفصيل د ملک بادشاه او د وطن امام هم دی. (المرقات ۳/۱۹۸).

د درې کسانو مونځ نه قبليږي

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " ثَلَاثَةٌ لَا تُقْبَلُ
ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل درې کسان داسې دي چې نه قبليږي
مِنْهُمْ صَلَاتُهُمْ : مَنْ تَقَدَّمَ قَوْمًا وَ هُمْ لَهُ كَارِهُونَ
مونځ د دوي (يعنې دوی ثواب نه ملاويږي) يو هغه کس چې د قوم امام وي او قوم دده نه خفه وي دويم
وَ رَجُلٌ أَتَى الصَّلَاةَ دِبَارًا وَ الدِّبَارُ : أَنْ يَأْتِيَهَا بَعْدَ أَنْ تَفُوتَهُ وَ رَجُلٌ اعْتَبَدَ مُحَرَّرَةً ". (۲)
هغه کس چې مونځ کې وروسته يعنې د مونځ وخت نه پس راشي او دريم هغه کس چې آزاد کس غلام ګڼي

توضيح: بعد ان تفوته: د مونځ فوت کيدو مطلب دا دی چې مستحب وخت ختم شي يا دا مطلب چې د مونځ پوره وخت وځي يا جماعت وشي، ټولو صورتونو طرف ته **لاتقبل** متوجه دی علماء ليکي دلته **لاتقبل** کې نفی د کمال ده يعنې کامل طور باندې مونځ نه قبليږي يا د مکمل مونځ نفی ده خو دا هغه وخت دی چې يو کس خپل عادت داسې جوړ کړي چې هميشه داسې کوي. (المرقات ۳/۱۹۹).

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۱۹۱/۲ رقم الحديث : ۳۵۸.

(۲) أخرجه أبو داؤد في السنن ۳۹۷/۱ رقم الحديث : ۵۹۳ ، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۳۱۱/۱ رقم الحديث: ۹۷۱.

اعتبد محررة : ای اتخذ نفسه معتقة عبدا، يعني آزاد کس غلام جوړ کړي يا ددې دوه مفهومه دي يو بره عربي عبارت کې بيان دی چې آزاد کس ونيسي او غلام يې جوړ کړي بيا د خرڅولو سلسله شروع کړي، دويم مفهوم دا دی چې يو غلام يې آزاد کړو خو ده ته يې دا ونه ويل د آزادی نه پس يې غلام ساتلی وو هغه ته اطلاع هم نه وه چې دا آزاد دی. (المرقات ۳/۱۹۹).

عامو محلو کې د عالم نشتوالي د قيامت نښه ده

﴿۸﴾ وَعَنْ سُلَامَةَ بنت الْحر قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ

سلامه بنت حر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا راويه ده وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي د قيامت د علاماتو نه دا هم ده

أَنْ يَتَدَافَعَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ لَا يَجِدُونَ إِمَامًا يُصَلِّي بِهِمْ» . رَوَاهُ أَحْمد وَأَبُو دَاوُد وَابْن مَاجَه[1].

چې د جومات خلک امامت د پاره يو بل په زوره مخکې کوي او د مونځ د پاره هيڅ کس هم نه ملاويږي.

توضيح: ان يتدافع: دا يې قيامت ته نزدې نقشه ذکر کړې ده جهالت او فسق به دومره زيات شي دې نه به محله ډکه شي او خلک به دومره نا اهل وي چې د امامت اهل به يو کس هم نه وي يو بل له به ديکې ورکوي چې مونځ ورکړي هر کس به د نا اهلۍ د وجې نه وروسته کيږي او مونځ به نه ورکوي نن سبا دا نقشه تيار ه شوې ده محلې ورانې پرتې دي دې کې د عالم قدر نشته چې خلکو ته مونځ ورکړي. (المرقات ۳/۲۰۰).

د فاسق امير په نګرانۍ کې هم جهاد جائز دی

﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْجِهَادُ وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ أَمِيرٍ

ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تاسو باندې جهاد واجب دی د هر سردار سره

بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَ إِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ . وَ الصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَيْكُمْ خَلْفَ كُلِّ مُسْلِمٍ

که هغه نيک وي يا بد وي اګر که هغه ګناه کبيره کوي او تاسو باندې د هر مسلمان نه شاته مونځ کول واجب

بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَ إِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ . وَ الصَّلَاةُ وَاجِبَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ بَرًّا

دي که هغه نيک وي يا بد اګر که ګناه کبيره کوي او جنازه هر مسلمان باندې واجب ده که هغه مړی نيک

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۹۰ رقم الحديث : ۵۸۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

كَانَ أَوْ فَاجِرًا وَ إِنْ عَمِلَ الْكَبَائِرَ». (۱)

وي يا بد اګر چې ګناه کبيره يې کړي وي.

توضيح: الجهاد واجب: دلته واجب د فرض په معنى سره دى د جهاد د مشروعيت دوه حالته وي يا فرض کفايه وي يا فرض عين مطلب دا چې يو جهادي امير که هغه باد شاه وي يا نائب وي چې د جهاد جنډه اوچتوي او د کفارو مقابله کې جنګ کوي نو د هغه د امر لاندې جهاد کې شامل شئ. که هغه امير فاسق ولى نه وي دا دده خپل عمل دى تا خو په ښه کار وراچوي ته خپل نيک عمل ته اوګوره که داسې نخرې کوې نو جهاد به پاتې وي ځوک چې عيب لټوي هغه بې دوسته پاتې کېږي. (المرقات ۳/۲۰۰).

خلف کل مسلم: هر امام نه وروسته مونځ کوه که نيک وي او که فاسق دلته هم بره والا تقرير دى دلته مطلب داسې دى، چې يو ظالم حکمران په تاسو مقرر شو او هغه مونځ ورکوي تاسو ده پسې مونځ اوکړئ اګر چې فاسق وي، خو ددې فسق نه مراد مونځ کې دننه فسق نه دى بلکې مونځ نه بهر د فسق ارتکاب کوي ګويا حديث کې د مجبورى ذکر دى چې قصدا او جبرا امام جوړوى يا امامت نه پس فسق کوي حديث مطلب دا نه دى چې تاسو فاسق او فاجر سړى امام جوړ کړئ او دا مطلب هم نه دى چې مونځ کې دننه فسق کوي مثلا بې اودسه مونځ درکوي يا قراءت غلط وايې بلکې د مونځ نه بهر د فسق ارتکاب مراد دى. (المرقات ۳/۲۰۱).

على کل مسلم: د جنازې مونځ مراد دى يعنې د هر قسم مسلمان جنازه کوئ اګر چې فاسق او فاجر ولې نه وي خو چې کافر نه وي چې نوم يې د مسلمانانو وي او عقيده يې د کفر وي مثلا قاديانې، رافضي يا منکر حديث وي. (المرقات ۳/۲۰۱).

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

د نابالغ ماشوم د امامت مسئله

﴿۱۰﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ سَلِمَةَ قَالَ: كُنَّا بِمَاءٍ مَمَرَّ النَّاس

د عمرو بن سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې مونږ د اوبو په غاړه پاتې کيدو چې د خلکو تيريد ولاړده

وَ كَانَ يَمُرُّ بِنَا الرُّكْبَانُ نَسْأَلُهُمْ مَا لِلنَّاسِ مَا لِلنَّاسِ ؟

کومه قافله چې به زمونږ په خوا تيريده له مونږ به دهغوي نه تپوس کوو د خلکو تعلق (يو کس يعنې نبي

---

(۱) أخرجه أبو داؤد في السنن ۳/۴۰ رقم الحديث: ۲۵۳۳.

مَا هٰذَا الرَّجُلُ

عَلَيْهِ السَّلَام کوم چې دين راويستې دی هغه) څه دی اوده هغه کس (يعنې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) صفات څه دي

فَيَقُولُونَ يَزْعُمُ أَنَّ اللّٰهَ أَرْسَلَهُ

خلک يې مونږ ته بيان کوي چې هغه (رسول) دعوی کوي چې الله تعالی هغه (خپل نبي په حقه باندې جوړ

أَوْحَى إِلَيْهِ

کړې) اوراليږلي يې دی اود قافلې خلکو د قرآن کريم آيتونه اوريدل اوويل به يې چې دا هغه ته وحي راځي

أَوْ أَوْحَى اللّٰهُ كَذَا . فَكُنْتُ

(همدارنګې) د هغه خواته وحي راځي چنانچه ما (د نبي عَلَيْهِ السَّلَام اوصاف چې کوم د قافلې والا خلکو به

أَحْفَظُ ذٰلِكَ الْكَلَامَ

بيانول او کلام) يعنې د قافلې والا چې کوم آيتونه ويل او اوريدل کيدل به هغه به يې هماغه شان يادول

فَكَأَنَّمَا يُغْرَى فِي صَدْرِي وَ كَانَتِ الْعَرَبُ

ګويا چې هغه زما په سينه کې ننبتې وي (يعنې د قرآن کريم آيتونه ماته نبه يادېدل) اهل عرب (د نبي عَلَيْهِ السَّلَام

تَلَوَّمُ بِإِسْلَامِهِمُ الْفَتْحَ

د جماعت نه غير) د اسلام راوړو په سلسله کې د مکې د فتح کيدو انتظار يې کولو (يعنې دا به يې ويل چې

فَيَقُولُونَ اتْرُكُوهُ وَ قَوْمَهُ

که چيرته مکه فتح شوه نو مونږ به اسلام راوړو اودا) به يې ويل چې د دوي رسول د دوي په قوم باندې پرېږده

فَإِنَّهُ إِنْ ظَهَرَ عَلَيْهِمْ فَهُوَ نَبِيٌّ صَادِقٌ

که چرته غالب راغې (او مکه يې فتح کړه) نو پوهه شئ چې رښتنې پيغمبر دی (ځکه چې دده ظاهري بې

سر او ساماني او مادي کمزوري باوجود په اهل عربو باندې غالب راتلل او مکه فتح کول به دده معجزه

وي او معجزه صرف د رښتينې پيغمبر نه صادريږي نو کله چې الله تعالی د خپل دين شان اوچت کړو او)

فَلَمَّا كَانَتْ وَقْعَةُ الْفَتْحِ بَادَرَ كُلُّ قَوْمٍ بِإِسْلَامِهِمْ وَ بَدَرَ أَبِي قَوْمِي بِإِسْلَامِهِمْ

مکه فتح شوه نو خلکو اسلام راوړلو باندې رامات شو زما پلار په قوم باندې مخکې شو او اسلام يې راوړو

فَلَمَّا قَدِمَ قَالَ جِئْتُكُمْ وَ اللّٰهِ مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ حَقًّا فَقَالَ :

واپس راغلو او خپل قوم ته يې وويل په الله قسم د رښتينې پيغمبر د خوا نه راغلم حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمايل

Maktaba Tul Ishaat.com

«صَلُّوا صَلَاةَ كَذَا فِيْ حِيْنِ كَذَا وَصَلُّوْا صَلَاةَ كَذَا فِيْ حِيْنِ كَذَا فَإِذَا حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فليؤذن أحدكم
فلان وخت کې داسی مونځ کوئ او فلان وخت کې داسی مونځ کوئ او کله چې دمونځ وخت شي يو کس آذان
فَلْيَؤُمَّكُمْ أَكْثَرُكُمْ قُرْآنًا»
کوئ او تاسو کې قرآن کې ماهروي هغه دی ستاسو امامت وکړي چې دمونځ وخت راغې او جماعت تيار شو
فَنَظَرُوا فَلَمْ يَكُنْ أَحَدٌ أَكْثَرَ قُرْآنًا مِنِّي
خلکو خپل مينځ کې وکتل (چې امام څوک جوړ کړي؟) ما نه ماهر په قرآن کې بل څوک نه وو ما به دقافلې
لِمَا كُنْتُ أَتَلَقَّى مِنَ الرُّكْبَانِ فَقَدَّمُونِي بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَأَنَا ابْنُ سِتٍّ أَوْ سَبْعِ سِنِينَ وَكَانَتْ عَلَيَّ
والاوونه قرآن يادولو او خلکو زه مخکې کړم دغه وخت کې زما عمر شپږ يا اوه کاله ؤ او زما په بدن باندې
بُرْدَةٌ كُنْتُ إِذَا سَجَدْتُ تَقَلَّصَتْ عَنِّي فَقَالَتِ
يو څادرؤ چې سجده به مې کوله نو څادر به د بدن نه اخوا کيدو (يعنې لاندې حصه به بنکاره کيده) نو وويل
امْرَأَةٌ مِنَ الْحَيِّ أَلَا تُغَطُّوْنَ عَنَّا اسْتَ قَارِئِكُمْ فَاشْتَرَوْا
يوې زنانه د قوم نه زمونږ مخې ته تاسو د خپل امام ستر ولی نه پټوئ خلکو ماته کپړه واخيسته او زما
فَقَطَعُوا لِي قَمِيصًا فَمَا فَرِحْتُ بِشَيْءٍ فَرَحِي بِذَلِكَ الْقَمِيصِ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)[1].
د پاره يې کرته جوړه کړه ماته په دې باندې داسی خوشحالي او شوه داسی ماته کله هم نه ده شوې.

توضيح: **عمرو بن سلمة** چرته هم د سلمه لفظ احاديثو کې راغلی تولو کې را باندې فتحه ده صرف عمرو بن سلمه کې په لام باندې کسره ده، (المرقات ۳/۲۰۲).

په دې حديث کې يو څو الفاظ دی چې تشريح يې ضروري ده:

ممرالناس: د خلکو د تلو ځای مراد دی. (المرقات ۳/۲۰۲).

الركبان: را باندې ضمه ده راکب جمع ده د ابنانو قافلې سره خاص دی (المرقات ۳/۲۰۲).

ماللناس ماللناس: تعجب بنيادباندې تکرار وکړو د خلکو څه وشو دين څنګه دی. (المرقات ۲۰۲-۳/۲۰۳).

ما هذا الرجل: دلته اشاره ذهنيه ده يعنې دا سړی څوک دی ده صفات يې څه دي (المرقات ۳/۲۰۳).

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۲۲/۸ رقم الحديث: ۴۳۰۲، و أحمد في المسند ۳۰/۵.

اوحی الیه کذا: دلته هم تکرار د تعجب او اهتمام په بنیاد دی ، **یطری في صدری**: دا صیغه د **غری یغری** د باب **سمع یسمع** نه معروف صیغه ده د مخکني کلام **احفظ** د پاره مزید وضاحت دی یعنې زما سینې پسې به یو ځای کیدو او ښه به یاد یدو.

تلوم: دا صیغه د باب تفعل نه ده د انتیظار معنی کې ده اصل کې **تتلوم** وو یعنې عرب دی انتیظار کې وو چې دا کس مکه فتح کولی شي یا نه، ځکه چې دې باندې غلط کس نه شي راتلی که مکه فتح کړي دا ربنتني نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دی (المرقات ۳/۲۰۳).

بادر: **مبادر** د جلدي او تادي په معنی کې دی (**بدر ابی قومی**) **بدر** فعل ماضي دی او **ابی** فاعل دی او **قومی** مفعول به دی .(المرقات ۳/۲۰۳).

تقلصت: باب **تفعل** نه په معنی د راغونډیدو دی ، ځادر وړوکي ؤ نو د سجدې په حالت کې به راغونډیدو او شرمګاه به یې ښکاره کیده .

تفطون: یعنې خپل امام لاندې حصه مونږ نه پټ کړی یعنې تاسو دومره نشئ کولی چې یو ځادر په ده باندې واچوئ دې واقعه کې بنیادي وجه دا ده چې عمر بن سلمه ماشوم نابالغ وو شپږ اووه کالو وو دده امامت څنګه جائز کیږي نیز دا متنفل وو ده نه وروسته مفترضین مونږ څنګه جائز شي دې کې د فقهاو اختلاف دی دا مخکې تیر شوی وو دلته د بیان اشاره کوم چې زیر بحث حدیث نه څه حق ملاویږي.

د فقهاو اختلاف:د امام شافعي او امام بخاري په نزد باندې نابالغ ماشوم امام جوړیدی شي البته د جمعې مونږ کې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دوه قوله دي یو د جواز دی دویم د عدم جواز دی امام صاحب، امام مالک او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د نابالغ هلک پسې مونږ جائز نه دی نابالغ هلک امام نه شي جوړیدی. (المرقات ۳/۲۰۴).

البته د ائمه احنافو په خپل مینځ کې اختلاف دی نابالغ ماشوم د نوافلو امام جوړیدی شي یا نه مثلا تراویحو کې یا نوافلو کې قرآن اورولی شي دا څنګه دی؟

د فقهاء احنافو نه د بلخ بخارا علماو او د مصر او شام د علماو دا مؤقف دی نوافلو کې نابالغ ماشوم امام جوړیدی شي دا حضرت دې فتوی باندې هم عمل کوي .

دې نه علاوه د ټولو فقهاء احنافو موقف دا دی نابالغ په نوافلو کې هم امام نه شي جوړیدی دا ضمني خبره ده دا پریږدئ او د غټو اختلافاتو دلائل وګورئ .(المرقات ۳/۲۰۵).

دلائل: امام شافعي او امام بخاري د عمرو بن سلمه زیر بحث حدیث نه استدلال کړی دی خپل مدعا باندې واضح دلیل دی جمهور (**الامام ضامن والمؤذن مؤتمن**) داسې روایاتو نه استدلال کړی دی او

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمايي چې د امام مونځ ضامن دی، د مقتدي مونځ دې کې ضم او ضمن کې وي، لهذا د امام حالت مقتدي حالت نه اقوی دی.
متنفل امام اضعف حالاً دی لهذا دا دې مضبوطه مورچه نه سنبالوي، د جمهورو دويم دليل د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثر دی وايي: **لا يؤم الفلاح حتى يحتلم (مصنف عبدالرزاق ج ۲ ص ۳۹۸)**. (المرقات ۳/۲۰۶).

جمهور دريم دليل دی چې د حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثر دی ارشاد فرمايي: **لا يؤم الفلاح الذي لا تجب عليه الحدود.**

جواب: عمرو بن سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د امامت واقعه د دغه خلکو او علاقو د پاره بالکل واضح او مشروع مسئله ده دا يو جزئي واقعه ده دا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اجازت نه هم نه ده دې باندې تقرير رسول هم نشته او نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخې ته پيش شوې، ځکه محتمل واقعې نه د يو ضابطې د پاره استدلال نه شي کولی وګورئ عمرو بن سلمه مونځ دوران کې ستربنکاره کيدو آيا دا به هم بطور ضابطه اخيستلی شي مونځ کې ستربنکاره کول جائز دي.
خلاصه دا ده چې د عمرو بن سلمه امام جوړول د دې علاقې خپل اجتهادي مسئله ده شوافعو حضرات تعجب دی د عمر فاروق، ابن عباس او ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په شان جليل القدر صحابو د تقليد په ځای د يو نابالغ هلک عمل واجب العمل ګرځي. (المرقات ۳/۲۰۶).

اسلام د مساوات ښه مذهب دی

﴿۱۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُونَ الْأَوَّلُونَ الْمَدِينَةَ كَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ
ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې کله مدينې ته اول راتلونکي مهاجرين راغلل نو مونځ ورکولو سالم
مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ وَفِيهِمْ عُمَرُ وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الْأَسَدِ. (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1].
رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دا ابو حذيفه آزاد شوي غلام ؤاو دې کې حضرت عمر، ابو سلمة او ابن عبد الاسد رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وو

توضيح: **سالم**: حضرت سالم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت حذيفة آزاد کړی شوی غلام دی د قرآن ښه قاري دی د قرآن په برکت سره د لويو صحابه کرامو امام جوړ شو دې کې حضرت عمر او حضرت ابو سلمه بن عبدالاسد رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په شان نامور صحابه کرام وو قرآن بعضې خلک آسمان ته اوخيژوي. دې حديث نه افضل موجود کې کې د مفضول امام جوړيدلو جواز ملاويږي دې حديث نه عادلانه انداز هم معلوميږي

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۸٤/۲ رقم الحديث : ٦٩٢.

چې آقا او غلام يې يو صف کې ودرولي، او د هر کمال والا يې اکرام کړې دی او د اسلامي مساوات علمبردار جوړ شو . (المرقات ۳/۲۰۶).

ایک ہی صف میں کھڑے ہو گئے محمود و ایاز ❁ نہ کوئی بندہ رہا نہ کوئی بندہ نواز

﴿۱۲﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " ثَلَاثَةٌ لَا تُرْفَعُ لَهُم
ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي درې کسان داسې دي چې بره نه ځي
صَلَاتهم فَوْقَ رُؤُسِهِمْ شِبْرًا : رَجُلٌ أَمَّ قَوْمًا وَ هُمْ لَهُ
مونځ دده (يعنې درجې د قبوليت ته نه رسي) نه يو هغه کس چې د قوم امام وي او قوم دده نه (په ديني
كَارِهُونَ وَ امْرَأَةٌ بَاتَتْ وَ زَوْجُهَا عَلَيْهَا
امورو کې) خفه وي دويم هغه زنانه چې د اسې حالت کې شپه تيره کړي چې د دې خاوند (د دې د نافرماني
سَاخِطٌ وَ أَخَوَانِ مُتَصَارِمَانِ " . (رَوَاهُ ابْن مَاجَه)[1].
يا د خاوند د حق د نه ادا کولو په وجه) خفه وي دريم د اسې دوه ورونه چې خپل مينځ کې سره وران وي .

توضيح : **تصارم** : د صرم نه دی کټ کولو ته وايي ، مراد ترې هغه دوه مسلمان ورونه دي کوم چې په غير د شرعي عذر نه درې ورځو نه زياتې خبرې بندې کړي. (المرقات ۳/۲۰۷).

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۳۱۱/۱ رقم الحديث : ۹۷۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب مَا عَلَى الْإِمَام:

کله چې مصنف د جمعې احکام بیان کړل بیا یې د امامت احکام بیان کړل بیا ضروري شوه چې د امام او مقتدي ذمه واریانې بیان کړي دې مقصد د پاره مصنف دوه جدا بابونه مقرر کړل یو کې د امام ذمه واریانې او دویم کې د مقتدي ذمه واریانې بیانوي، د امام اهمه ذمه واري دا ده چې مونځ کې د مقتدي خیال ساتل مونځ کې د بوډاګانو او بیمارانو خیال ساتل په کار دي مونځ مختصر کول چې خلک متنفره نه شي مطلب دا نه دی چې رکوع، سجده، قیام، جلسه او مسنون قرآت پریږدي. مسنون قرآت آحادیثو کې چې کوم ذکر دی د هغې خیال ساتل دغه شان تسبیحاتو کې اعتدال کول. یو حدیث کې د حضور ﷺ د مونځ باره کې راغلي (کان رسول الله اخف الصلوة في تمام) د في تمام مطلب دغه دی چې د حضور ﷺ مونځ سپک وو خو رکوع او سجده او تعدیل راکان به مکمل کیدل د حضور ﷺ قرآت سرعت سره هم وو او آوریدلو کې سرور او خوشحالي وه.

د مقتدیانو اهمه ذمه واري دا ده چې د امام متابعت او اطاعت وکړي، امام نه مخکې رکوع او سجده کې لاړ نه شي، د امام پسې چې دده کوم عمل دی چې په ښې طریقې سره یې کوي، ښه او دس سره اول صف کې کیني او بیا تکبیر اولی سره مونځ کې شامل شي.

الْفَصْل الأول:

مونځ درونډ کول نه دي په کار

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ إِمَامٍ قَطُّ أَخَفَّ صَلَاةً وَلَا أَتَمَّ صَلَاةً مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

انس رضي الله عنه راوي دي وایي چې ما نه دی کړي هیڅ یو امام پسې سپک او مکمل مونځ د نبي علیه الصلاة والسلام

وَ إِنْ كَانَ لَيَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ

د مونځ په شان او د نبي علیه السلام (عادت دا وُ) چې کله به حضور ﷺ د ماشوم د ژړا آواز آوریدو

فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ. (متفق عليه).[1]

د دې د ویرې د وجې نه چې موریې فکرمنده نه شي مونځ به یې سپک کړو.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۰۱/۲، رقم الحديث: ۷۰۸، ومسلم في الصحيح ۳٤۲/۱ رقم الحديث: ۱۹۰-٤٦۹، وأبو داؤد ٤۹۹/۱ رقم الحديث: ۷۸۹، والنسائي ۹۵/۲، رقم الحديث: ۸۲۵.

توضيح: **اخف** تعلق عام طور باندې د قرآت تخفيف سره دی او **اتم** لفظ عام طور تعديل ارکان د پاره استعماليږي مطلب دا چې د حضور ﷺ قرآت به سپک وو رکوع او سجده او قومه، جلسه ټول به مکمل وو. (المرقات ۳/۲۰۷).

مخافة ان تفتن امه: يعنې د مور په مونځ کې شريکيدل او نزدې د ماشومانو د ژړا آواز راتلو يا. جومات کې دغه زنانه سره د ماشوم د ژړا آواز راتلو حضور ﷺ ددې وجې نه تخفيف فرمايلو چې موريې خفه نه وي او چې مونځ يې خراب نه شي. (المرقات ۳/۲۰۸).
علامه خطابي رحمه الله وايي که مونځ کې مونځګزار ته معلومه شوه چې څوک راځي امام انتظار کولی شي چې هغه کس رکوع کې شامل شي، امام مالک هم ددې قائل وو. (المرقات ۳/۲۰۸).
ائمه احناف فرمايي که دا طريقه د تقرب الی الله په غرض نه وي بلکې د کس لحاظ کول وي دې صورت کې انتظار کول مکروه تحريمي دي بلکې دې کې د شرک احتمال هم شته. (المرقات ۳/۲۰۸).
بعضې علماء فرمايي که امام ته ذاتي طور باندې ددغه کس معلومات نه وي بيا ګنجائش شته خو ددې ترک هم اولی دی.

دې حديث نه پس راتلونکی هم تقريبا داسې دی. دې کې **تجوز** لفظ راغلې دی د اختصار په معنی سره دی او هلته **وجد امه** لفظ دی **وجد** معنی او ترجمه سخت غم ذی.

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي لَأَدْخُلُ فِي الصَّلَاةِ وَأَنَا أُرِيدُ إِطَالَتَهَا
ابو قتاده راوي دی وايي چې حضور ﷺ فرمايي زه مونځ کې داخليږم د مونځ اوږدولو اراده کوم
فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ فِي صَلَاتِي مِمَّا أَعْلَمُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ أُمِّهِ مِنْ بُكَائِهِ (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1]
خو چې د ماشوم د ژړا آواز واورم نو پوهه شم چې د ژړا دوجې نه مينديې به فکرمنديې شي مونځ کې تخفيف کوم
﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ النَّاسَ
ابو هريره رضي الله عنه راوي دی وايي چې حضور ﷺ فرمايي کله چې تاسو کې څوک خلکو ته مونځ
فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ فِيهِمُ السَّقِيمَ وَالضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ.
وکړي هغه ته په کار دي چې مونځ سپک کړي ځکه چې مقتديانو کې بيمار او کمزوري او بوډاګان وي.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۰۲،رقم الحديث : ۷۰۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ ».(متفق عليه)[1].

اوكه څوک په تاسو کې ځان له مونځ کوي هغه ته اختيار دی چې څومره مونځ اوږدوي اوږد دې کړي.

﴿٤﴾ وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو مَسْعُودٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: وَاللهِ يَا رَسُولَ اللهِ

قيس بن حازم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل: چې يو کس وويل اى د الله رسوله! زه د

إِنِّي لَأَتَأَخَّرُ عَنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مِنْ أَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا

سحر مونځ نه شاته ځکه پاتې کيږم چې فلانکی فلانی مونږ ته ډير اوږد مونځ کوي ابو مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي

فَمَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَوْعِظَةٍ أَشَدَّ غَضَبًا مِنْهُ يَوْمَئِذٍ ثُمَّ قَالَ:

مانبي عَلَيْهِ السَّلَام نصيحت کولو په باره کې ددې ورځ غصې نه زيات ډک نه ؤ ليدلی نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل

" إِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ فَأَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ

تاسو کې بعضې خلکو کې نفرت پيدا کوي تاسو کې چې څوک مونځ وکړي هغه ته په کار دي چې خلکو ته

فَلْيَتَجَوَّزْ: فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَ الْكَبِيرَ وَ ذَا الْحَاجَةِ ".(متفق عليه)[2]

سپک مونځ وکړي ځکه چې مقتديانو کې کمزوري، بوډاګان او حاجتمند خلک وي.

توضيح: ددې حديث نه معلومه شوه چې سوال کونکی کس څوک دی او **من اجل فلان** کې **فلان** نه ابی بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مراد دی. (المرقات ۳/۲۱۰).

د غلط مونځ کولو والا امام په خپله مجرم دی

﴿٥﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: « يُصَلُّونَ لَكُمْ فَإِنْ

ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي تاسو ته به امام مونځ درکوي که هغه

أَصَابُوا فَلَكُمْ وَ إِنْ أَخْطَئُوا

مونځ ښې طريقې سره ورکوي د هغه فائده ستاسو د پاره ده (او د هغه د پاره هم ده) که هغه خطاء وکړه

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/١٩٩،رقم الحديث :٧٠٣، ومسلم في الصحيح ١/٣٤١ رقم الحديث:١٨٣-٤٦٧، وأبو داود ١/٥٠٢ رقم الحديث :٧٩٤، والنسائي ٢/٩٤، رقم الحديث: ٨٢٣ ، والترمذي ١/٤٦١ رقم الحديث : ٢٣٦ ، وابن ماجة ١/٣١٦، رقم الحديث: ٩٨٧.

(٢) أخرجه البخاري في الصحيح ٢/٢٠٠،رقم الحديث : ٧٠٤، ومسلم في الصحيح ١/٣٤٠ رقم الحديث:١٨٢-٤٦٦، وأبو داود ١/٥٠٢ رقم الحديث :٧٩٥.

فَلَكُمْ وَ عَلَيْهِمْ » . (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1].

تاسو ته به ثواب ملا ويږي او ګناه به هغه باندې وي.

توضيح: يصلون لكم: دا ټوله جمله خبر واقع کېږي او مبتداء مخذوف ده کوم چې **ائمتكم** دی ددې تعلق هغه امامانو سره دی کوم چې حکمرانان دي او حکمرانان دين ورانولو هم دي.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راتلونکي بادشاهانو باره کې فرمايي هغوی مونځ خراب کوي صحابو عرض وکړو يا خو هغه پسې مونځ نه دي کول په کار حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل هغه به مونځ کوي تاسو به ورسره مونځ کوئ که هغوي صحيح طريقې سره مونځ کوو دهغه او ستاسو دواړو فائده ده که هغه غلطې طريقې سره مونځ وکړو د غلطۍ هغه په خپله ذمه دار دی او په خپله مجرم دی تاسو خو بنه کار کړی دی تاسو باندې د هغه د غلطۍ اثر نه پريوځي. (المرقات ۲۱۰-۳/۲۱۱).

وَهٰذَا الْبَابُ خَالٍ عَنِ الْفَصْلِ الثَّانِي

الْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿٦﴾ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ: آخِرُ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «إِذَا

عثمان ابن ابی العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته آخري وصيت چې کړی ؤ هغه دا ؤ کله

أَمَمْتَ قَوْمًا فَأَخِفَّ بِهِمُ الصَّلَاةَ » . رَوَاهُ مُسْلِمٌ وَ فِي رِوَايَةٍ لَهُ :

چې خلکوته مونځ ورکوی هغوي ته سپک مونځ ورکوه . او په مسلم کې د دويم روايت الفاظ دادي چې

أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ : « أُمَّ قَوْمَكَ » . قَالَ : قُلْتُ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل دخپل قوم امامت کوه عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما عرض وکړو

يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أَجِدُ فِي نَفْسِي شَيْئًا . قَالَ : « ادْنُهْ » .

يارسول الله ماته خپل زړه کې څه شی محسوسيږي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل ماته نزدې راشه حضور

فَأَجْلَسَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ وَضَعَ كَفَّهُ فِي صَدْرِي بَيْنَ ثَدْيَيَّ ثُمَّ قَالَ :

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې مخې ته کينولم اوزما سينه باندې دواړو تيونو په منيځ کې لاس کيښود واووې فرمايل

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ١٨٧/٢، رقم الحديث : ٦٩٤.

Maktaba Tul Ishaat.com

« تَحَوَّلْ » . فَوَضَعَهَا فِي ظَهْرِي بَيْنَ كَتِفَيَّ ثُمَّ قَالَ :

ملا راواړوه حضور ﷺ زما ملا باندې دواړو ولومينځ کې لاس راښکلو وې فرمايل (لاړشه) او

« أُمَّ قَوْمَكَ .. فَمَنْ أَمَّ قَوْمًا فَلْيُخَفِّفْ فَإِنَّ

خپل قوم ته امامت وکړه اويو کس چې د قوم امام جوړشي هغه ته په کار دي چې سپک مونځ وکړي ځکه

فِيهِمُ الْكَبِيرَ وَإِنَّ فِيهِمُ الْمَرِيضَ وَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَإِنَّ فِيهِمْ ذَا الْحَاجَةِ فَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ وَحْدَهُ

هغوی کې بيماران، کمزورې او خاوند د حاجتونو وي نو که څوک يوائې مونځ کوي نو څنګه چې دي

فَلْيُصَلِّ كَيْفَ شَاءَ» . (مسلم)[1]

زړه غواړي هغه شان مونځ وکړه .

﴿۷﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِالتَّخْفِيفِ

ابن عمر رضي الله عنه وايي چې حضور ﷺ مونږ ته د سپک مونځ حکم کړی دی او هغه چې به مونږ ته

وَ يَؤُمُّنَا بِالصَّافَّاتِ) . (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ)[2] .

مونځ کولو نو سورة الصافات به يې لوستلو .

توضيح: الصافات: د دې حديث په دواړو تکړو کې په ظاهره تعارض دی او هغه دا چې حضور ﷺ صحابو ته د تخفيف صلاة ښه تاکيد فرمايلو خو په خپله سورة صافات لولي يو اوږد سورة دی .

د دې جواب دا دی چې د حضور ﷺ لوستلو انداز عجيبه دی لږ وخت کې اوږد سورة لولي نورو کې دا څيز نه وو ځکه يې هغوي منع کړل.

دويم جواب دا دی چې د حضور ﷺ د لذت والا مونځ نه خلک خوند اخلي هلته د ستړي والي تصور نه وو ځکه يې اوږد سورة لوستلو نورو کې دا خصوصيت چيرته دی. (المرقات ۳/۲۱۳).

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۳٤۱ رقم الحديث : ۱۸٦-٤٦۸.

(۲) أخرجه النسائي في السنن ۲/۹٥ رقم الحديث : ۸۲٦.

بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُومِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ وَحُكْمِ الْمَسْبُوق:

د امام د تابعداری بیان

دې کې وايي چې د امام متابعت څومره ضروري دی او مقتدي له د امام تابعداري کومو څيزونو کې څنګه کول په کار دي مونځ کې کوم ارکان فرض يا واجب دي دې کې مقتديانو د پاره د امام متابعت واجب دی کوم چې سنت دي دې کې د امام متابعت واجب نه دی لکه رفع اليدين، آمين بالجهر او قنوت مسئله و غيره، مثلا شافعي امام سحر کې قنوت شروع کړی حنفي مقتدي باندې دې کې د امام متابعت لازم نه دی هغه دې خاموش وي او وترو کې قنوت واجب دی که يو شافعي امام ماسخوتن نه پس وترو کې د خپل مذهب موافق قنوت د رکوع نه پس وايي نو حنفي مقتديانو ته هم د امام متابعت او موافقت کې د رکوع نه پس قنوت لوستل په کار دي دا يو ښه طريقه او ضابطه ده چې حرمينو کې په وترو کې د احنافو په کار رائي.

اَلْفَصْلُ الأَوَّل:

د امام متابعت

﴿۱﴾ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: كُنَّا نُصَلِّي خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللهُ لِمَنْ

براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي مونږ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاته مونځ کولو کله به يې چې وويل سمع الله لمن

حَمِدَهُ . لَمْ يَحْنِ أَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتَّى يَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

حمده نو نه به ښکته کوله يو کس د مونږ نه ملا خپله تر څو چې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (سجدې د پاره) څمکه

جَبْهَتَهُ عَلَى الْأَرْضِ. (متفق عليه)[1].

باندې تندې مبارک نه وو ايښي.

توضيح: لم يحن: حنا يحنو ښکته کيدو په معنی سره دی دا لفظ ضرب يضرب او نصر ينصر دواړو نه رائي، مراد دا دی مونږ چې کله رکوع نه واپس قومې ته تللو نيغ به ولاړ وو تر څو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څمکه باندې سجده نه وه کړې مونږ به نه کښيدو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه سجده کې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۸۱/۲، رقم الحديث: ۶۹۰، ومسلم في الصحيح ۳۴۵/۱ رقم الحديث: ۱۹۷-۴۷۴، وأبو داود ۴۱۲/۱ رقم الحديث: ۶۲۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

مخکیوالی لازم نه شي. (المرقات ۳/۲۱۴).

اوس فقهي مسئله داسې ده: امام نه مخکیوالی د ټولو ائمو په نزد حرام دي بلکې متابعت ضروري دی یا د متابعت دوه صورتونه دي اول مقارنت دویم موافقت، مقارنت هغه دی چې د امام د افعالو سره متصل د مقتدي فعل شروع کېږي. موافقت هغه دی چې د امام افعالو نه لږ وخت پس د مقتدي فعل شروع شي، د فقهاو په نزد د افضلیت اختلاف دی، چې مقارنت افضل دی یا موافقت افضل دی د احنافو په نزد مقارنت افضل دی صرف تکبیر تحریمي کې موافقت افضل دی د شوافعو په نزد تاخر افضل دی د امام فعل په انتهاء سره د مقتدي فعل شروع کېږي مذکوره حدیث د شوافعو دلیل دی احناف فرمایي دا حدیث د اوږد حدیث حصه ده دې کې مسابقت نه ممانعت راغلی اصل مقصد دا دی چې مسابقت رانه شي کله چې د حضور ﷺ بدن درونده شو عمر ډیر شو دغه وخت کې د مسابقت خطره ډیره شوه دې وجې نه حضور ﷺ وفرمایل مسابقت مه کوئ ترڅو پورې زه سجدې ته لاړ نه شم تاسو معمولي هم مه کېږئ صحابه نه بنکته کیدل، ددې حدیث مطلب دا نه دی ترڅو حضور ﷺ سجدې ته نه وي تلی، صحابو ته حرکت کولو مجال هم نه وو حاصل، بلکې اصل مقصد دا وو حضور ﷺ تیز حرکت نه شو کولی تاسو انتظار کوئ چرته داسی مه کوئ چې حضور ﷺ نه مخکې شئ ځکه یې وفرمایل لم یحن یعني څوک بنکته کیدل نه. (المرقات ۳/۲۱۴).

﴿۲﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ
انس رضي الله عنه وایي یوورځ حضور ﷺ مونږ ته وکړو او خپل مخ مبارک یې مونږ ته متوجه کړو
فَقَالَ : أَيُّهَا النَّاسُ ! إِنِّي إِمَامُكُمْ فَلَا تَسْبِقُونِي بِالرُّكُوعِ وَلَا بِالسُّجُودِ
اووې فرمایل خلکو! زه ستاسو امام یم نو تاسې مخکې والې مه کوئ دمانه په رکوع کولو، سجده کولو
وَلَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالِانْصِرَافِ: فَإِنِّي أَرَاكُمْ أَمَامِي وَمِن خَلْفِي". (رَوَاهُ مُسلم)[1].
قیام کولو او تللو کې ځکه زه تاسو مخکې او وروستو نه وینم.
﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "لَا تُبَادِرُوا الْإِمَامَ
ابوهریره رضي الله عنه راوي دی وایي چې حضور ﷺ فرمایي خپل امام باندې مخکیوالی مه کوئ

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۳۲۰ رقم الحديث: ۱۱۲-۴۲۶.

إِذَا كَبَّرَ فكبروا وَ إِذا قَالَ : وَلَا الضَّالّين . فَقُولُوا : آمِينَ وَ إِذَا

كله چې امام تكبير وكړي تاسو تكبير كوئ، كله چې امام ولا الضالين ووايي تاسو آمين وايي كله چې امام

رَكَعَ فَارْكَعُوا وَ إِذَا قَالَ : سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا : اللَّهُمَّ رَبَّنَا

ركوع ته لاړشي تاسو ركوع ته ځئ او چې امام كله سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسو ووايي اللهم ربنا

لَك الْحَمد "إِلَّا أَنَّ الْبُخَارِيَّ لَمْ يَذْكُرْ : " وَإِذَا قَالَ: وَلَا الضَّالّين".(مسلم)[1].

لك الحمد (اى الله اى زمونږ ربه ټول تعريفونه ستا دپاره دى). او بخارى خپل روايت كې و اذا قال ولا الضالين الفاظ نقل كړي نه دي.

كه امام معذور وي د هغه متابعت ضروري دى

﴿٤﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ : أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ رَكِبَ فَرَسًا فَصُرِعَ عَنْهُ

انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آس باندې ناست ؤ چې آس نه پريوتو دې وجې نه د

فَجُحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام نبي طرف (داسې) زخمي شو (چې په ولاړه باندې په مونځ كولو قادر نه ؤ) نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام

فَصَلَّى صَلَاةً مِنَ الصَّلَوَاتِ وَ هُوَ قَاعِدٌ فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ قُعُودًا فَلَمَّا

مونځ وكړو (دپنځو مونځونو يو مونځ) او مونږ هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَام پسې وروسته مونځ وكړو كله چې د مونځ

انْصَرَفَ قَالَ : « إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا صَلَّى قَائِمًا

كولو نه فارغ شو نو وې فرمايل امام دې دپاره مقرر دى چې د هغه اقتداء وشي نو كه امام په ولاړه مونځ وكړي

فَصَلُّوا قِيَامًا فَإِذا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَ إِذَا رَفَعَ

تاسو هم په ولاړه مونځ كوئ كله چې هغه ركوع ته لاړشي تاسو هم ركوع وكړئ كله چې هغه ركوع نه پاڅي

فَارْفَعُوا وَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا رَبَّنَا وَ لَك الْحَمد وَ إِذَا

تاسو هم د ركوع نه پاڅئ كله چې هغه سمع الله لمن حمده ووايي تاسو ربنا لك الحمد وايي كله چې امام

---

(١) أخرجه مسلم في الصحيح ١/٣١٠ رقم الحديث: ٨٧-٤١٥، والنسائي ٢/٩٦، رقم الحديث: ٨٣٠ .

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا أَجْمَعُونَ » قَالَ الْحُمَيْدِيُّ : قَوْلُهُ :

په ناسته مونځ کوي تاسو مقتديان هم په ناسته مونځ وکړئ. حميدي وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا ارشاد

« إِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا » هُوَ فِي مَرَضِهِ الْقَدِيمِ

چې امام په ناسته مونځ کوي تاسو هم په ناسته مونځ کوئ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اولني بيماری کې وو

ثُمَّ صَلَّى بَعْدَ ذَلِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ جَالِسًا وَ النَّاسُ خَلْفَهُ

دې نه پس (مرض الوفات نه يو ورځ مخکې) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ناسته مونځ وکړو او خلکو ورپسې

قِيَامٌ لَمْ يَأْمُرْهُمْ بِالْقُعُودِ وَ إِنَّمَا يُؤْخَذُ

په ولاړه مونځ وکړو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوي ته د ناستې حکم ونه کړو او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې

بِالْآخِرِ فَالْآخِرِ مِنْ فِعْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ. وَاتَّفَقَ مُسْلِمٌ إِلَى أَجْمَعُونَ.

فعل باندې عمل کولی شي کوم چې آخري دی. دا الفاظ د بخاري دي او متفق دی مسلم تر اجمعون پورې

وَ زَادَ فِي رِوَايَةٍ : « فَلَا تَخْتَلِفُوا عَلَيْهِ وَ إِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا »[1].

يو بل روايت کې مسلم مزيد الفاظ نقل کړي چې د امام خلاف مه کوئ چې هغه سجده وکړي تاسويې هم سجده کوئ.

توضيح: فصلوا جلوسا: د دې حديث خلاصه داسې ده چې يو ځلی نبي عَلَيْهِ السَّلَام د آس نه پريوتو او د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام نبي طرف مکمل زخمي شو نبي عَلَيْهِ السَّلَام يو مونځ کور کې د جمعې سره داسې وکړو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام ناست ؤ او ملګري يې هم ناست وو مونځ نه فارغيدو نه وروسته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د معذور امام متعلق دا مسئله بيان کړه چې کله امام کيني تاسو هم کينئ او مونځ اداء کړئ.

اذا صلى جالسا فصلوا جالوسًا: د دې حديث د وجې نه يو اختلافي مسئله پيدا شوه او هغه دا چې د **قادر على القيام** اقتداء **عاجز عن القيام** پسې جائز ده او که نه او که جائز وي نو مقتدي په ناسته مونځ وکړي او که په ولاړه دې کې د فقهاو اختلاف دی. (المرقات ۳/۲۱۶).

د فقهاو اختلاف: د امام مالک، او محمد رَحِمَهُمَا اللهُ مسلک دا دی چې **قادر على القيام** مقتدي **عاجز عن**

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۷۳/۲ برقم الحديث :۶۸۹، ومسلم في الصحيح ۳۰۸/۱ رقم الحديث:۷۷-۴۱۱، وأبو داود ۴۰۱/۱ رقم الحديث :۶۰۱، والنسائي ۹۸/۲، رقم الحديث: ۸۳۲ .

القيام امام پسې مونځ کولی نه شي. امام صاحب، امام شافعي او امام ابويوسف رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد باندې **قادر على القيام** مقتدي **عاجز عن القيام** امام پسې اقتداء کولی شي. خو قادر مقتدي په ولاړه باندې مونځ وکړي او که په ناسته امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد عاجز امام پسې قادر مقتدي اقتداء صحيح ده خو مقتدي به هم د امام په شان په ناسته مونځ کوي. (المرقات ۲۱۶-۳/۲۱۷).

دلائل: امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمايي دا اقتداء صحيح نه ده د صحيح مقتدي مونځ قوي دی او د قاعد امام مونځ ضعيف دی او د امام مونځ ضامن وي او د مقتدي مونځ ددې په ضمن کې وي، نو ضعيف مونځ کې قوي مونځ څنګه راتلی شي. که مقتدي کينې هم صحيح نه دی ځکه چې صحيح د پاره ناستې اجازت څنګه دی؟ دا اقتداء باطله ده. اوس صرف د جمهورو او د امام احمد مقابله ده امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ دليل زير بحث حديث دی خپله مدعا باندې واضح دليل دی. (المرقات ۲۱۶-۳/۲۱۷).

دامام صاحب او امام شافعي او ابويوسف رَحِمَهُمُ اللهُ دليل د نبي عَلَيْهِ السَّلَام مرض الوفات په وخت کې د مونځ کولو يو قصه ده دې کې واضح طور باندې راغلي. نبي عَلَيْهِ السَّلَام په ناسته مونځ ورکولو او صحابه کرام ورپسې ولاړ وو دا حديث زير بحث حديث نه بعد راتلونکی حديث نمبر (۵) دی (المرقات ۳/۲۱۶).

ددې حضراتو دويم دليل د قرآن آيت ﴿وَقُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ﴾ دې کې د قيام هر تندرست باندې فرض کړی دی او قوموا امر نه د مونځ قيام مراد دی بل قيام داسې نشته چې هغې ته د عبادت درجه حاصله وي او هغه مامور به وي.

جواب: دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ د دليل جواب دا دی چې د حديث نه مُستنبط دا حکم وروستو راتلونکی حکم نه منسوخ شو دا واقعه سنه ۵ هـ) ده او مونږ چې کوم دليل نه استدلال کړی دی هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ژوند آخري وخت وو او شريعت کې هر متاخر حکم خپلولی شي، ځکه چې د نسخ نه محفوظ وي.

قال الحميدی: دا حميدي د بخاري استاد دی جامع صحيحين والا حميدي نه دی دا هم دلته فرمايي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هر هغه فعل چې آخر کې شوی وي هغه واخلئ، ځکه چې دې کې د نسخ احتمال نشته. (المرقات ۳/۲۱۶).

د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امامت او د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيماري

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: لَمَّا ثَقُلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې کله نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام ډير بيمار شو بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې خواته د مونځ د تلو د پاره راغې

فَقَالَ: «مُرُوا أَبَا بَكْرٍ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ» فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل ابوبکر ته ووايه چې هغه خلکو ته مونځ ورکړي نو مونځ ورکړو ابوبکر

Maktaba Tul Ishaat.com

تِلْكَ الْأَيَّامَ ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ خِفَّةً

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلکو ته په دغه ورځو کې اولس مونځونه کله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل طبیعت سپک محسوس

فَقَامَ يُهَادَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ

کړو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام ددوو کسانو په مدد باندې لاړو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لاس دصحابو په ولو باندې

وَ رِجْلَاهُ يخطان فِي الْأَرْضِ حَتّٰى دَخَلَ الْمَسْجِدَ

ایخی ووا او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلې خپې مبارکې ځمکه باندې راخکلې تردې چې جومات ته داخل شو

فَلَمَّا سَمِعَ أَبُو بَكْرٍ حِسَّهُ ذَهَبَ يَتَأَخَّرُ فَأَوْمَأَ

کله چې محسوس کړو ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کشاري د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دراتللو نو ووزوستو کید و نو اشاره وکړه

إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَن لَا يتَأَخَّر فَجَاء حَتّٰى جَلَسَ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته چې مه وروسته کیږه، بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخکې شو او کیناست و

عَن يسَار أَبِي بكر فَكَانَ أَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي قَائِمًا وَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چپ طرف ته ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ولاړه باندې مونځ وکړو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (دکمزورۍ

يُصَلِّي قَاعِدًا يَقْتَدِي أَبُو بَكْرٍ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ النَّاسُ يَقْتَدُونَ

د وجې) په ناسته مونځ وکړو ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ اقتداء کوله او خلکو اقتداء

بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: يُسْمِعُ أَبُو بَكْرٍ النَّاسَ التَّكْبِيرَ.(۱).

کولو د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مونځ.

توضیح: مروا ابابکر ان یصلی بالناس: په امامت صغری باندې د ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقرر ول امامت کبری طرف ته اشاره وه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې نه استدلال کړی دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زمونږ د پاره د دین امام جوړ کړو، نو مونږ د پاره د دنیا هم امام شو، که خلافت طرف ته اشاره نه وی، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حق کې دومره اصرار نه کولی، عمر فارق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کې د ازواج مطهراتو سفارش هم وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سختی سره منع وفرمایل او ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې په امامت باندې برقرار وساتو. (المرقات ۳/۲۱۷).

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۶۷/۲،رقم الحديث : ٦٨٤، ومسلم في الصحيح ۳۱۳/۱ رقم الحديث:۹۵-٤١٨.

يهادى: د دوو كسانو په ولو باندې لاس كيښودل او د هغوي په تعاون سره تللو ته تهادي ويل كېږي.

والناس يقتدون بصلاة ابى بكر: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصوصيت وجه وه چې بغير د استخلاف نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله خليفه جوړ شو ابوبكر نه منصب امامت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته منتقل شو امام حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وو او ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف نه مكبر وو، په ظاهره امام نظر راتلو. (المرقات ۳/۲۱۹).

د امام نه مخكې د سر اوچتولو والا سر به د خر جوړيږي

﴿۶﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَا يَخْشَى الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ». (متفق عليه)[1]

ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي آيا هغه كس نه ويريږي كوم چې اوچتوي سر خپل مخكې د امام نه، ددې نه چې الله تعالى به دده سره بدل كړي د خر سر به تري جوړ كړي.

توضيح: **رأس حمار**: يعنې يو كس د امام نه ركوع او سجده كې سر مخكې اوچتوي د هغه باره كې خطره موجود ده چې د هغه د سر نه به د خر سر جوړ شي علما و ددې ډير مطلبونه ذكر كړي دي: اول دا چې دا كلام په حقيقت نه بلكې مجاز باندې محمول دى يعنې دده سر واقعې د خر نه جوړيږي بلكې دا به د خر په شان بې عقل او بليد وي، گويا دا كلام تشبيه باندې محمول دى. دويم مطلب ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ دا بيان كړى چې دا مسخ كيدل خاص دي دا يو جزئي حالت سره متعلق ده ددې واقع كيدل منع دي او يو عام مسخ ده چې پوره امت مسخ شي هغه منع ده، لهذا احاديثو كې چې د كوم مسخ ممانعت خبره ده هغه دغه عام مسخ دې ددې حديثونو كې هيڅ معارض نشته. ددې حديث دريم مطلب دا دى چې د مسخ نه مراد حقيقي مسخ كيدى شي او ددې امكان نه شي رد كيدى ځنګه چې **اشراط الساعة** كې د مسخ د واقعاتو ذكر دي او مخكې زمانو كې هم د مسخ حقيقي واقعات موجود شوي دي. (المرقات ۳/۲۲۱).

عبرتناكه قصه: ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ ددې حديث لاندې په مرقات ۳ جلد ۹۸ صفحه باندې يوه عبرتناكه قصه ليكلي ده چې يو جليل القدر محدث د علم حديث د حصول د پاره يو مشهور شيخ الحديث خواته دمشق ته لاړو چې دده د علم او د حديثو په هغه وخت كې يوه چرچا وه د علم حديث ددې شوقين طالب

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۸۲/۲، رقم الحديث: ٦٩١، ومسلم في الصحيح ۳۲۰/۱ رقم الحديث: ١١٤-٤٢٧، وأبو داود ٤١٢/١ رقم الحديث: ٦٢٣، والنسائي ۹٦/۲، رقم الحديث: ۸۲۸، والترمذي ٤٧٥/٢ رقم الحديث: ٥٨٢، وابن ماجة ۳۰۸/۱، رقم الحديث: ٩٦١.

Maktaba Tul Ishaat.com

علم د دې شيخ نه د حديثو زده كړه شروع كړه او ټول آحاديث يې د دې شيخ نه حاصل كړل ، ليكن عجيبه صورتحال دا مخې ته راغلو چې په ټول وخت كې استاذ دې خپل عقيدتمند شاګرد ته خپله څيره هيڅكله ښكاره نه كړه بلكې په پرده كې به يې دې شاګرد ته حديث ويل ، چې كله استاذ ته اندازه وشوه چې اوس شاګرد په پوره عقيدت او د خدمت پوره جذبه او د حديثو پوره شوق حاصل شو او اوس دا قابل اعتماد دى نو استاذ پرده د مخ نه لرې كړه ، شاګرد چې كله د استاذ څيره وليده نو حيران پاتې شو ځكه چې دده د استاذ څيره د خر څيرې په شان شوې وه ، دده د حيرانتيا په وجه استاذ وويل چې اى زويه ! د مونځ په اركانو كې د ښويدو نه بچ شه (او د حديثو په تعليم او فرمان كې د شك كولو نه ځان وساته) ځكه چې ما كله دا حديث واوريدو نو زما يقين نه راتللو چې واقعتاً داسې كيدې شي نو ما په اركانو كې د امام نه مخكې والې وكړو نو زما څيره د خره شوه لكه اوس يې ګورئ **والعياذ بالله** . (المرقات ۳/۲۲۱)

الْفَصْلُ الثَّانِي:

د امام موافقت

﴿۷﴾ عَنْ عَلِيٍّ وَ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ. قَالَا : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « إِذَا أَتَى

حضرت علي او معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا راويان دي وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي كله چې راشي په

أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ وَ الْإِمَامُ عَلَى حَالٍ فَلْيَصْنَعْ كَمَا يَصْنَعُ الْإِمَامُ ».

تاسو كې څوك مونځ ته او امام كوم حالت كې وي څه چې امام كوي هغه ته هم په كار دي چې هغه شان وكړي

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (ترمذي)[1].

دا حديث امام ترمذي نقل كړى دى او وايي چې دا حديث غريب دى.

ركوع كې شريك كيدو سره ركعت ملاويږي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «إِذَا جِئْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ وَنَحْنُ

ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې كله تاسو مونځ ته راشئ او ما د

سُجُودٌ فَاسْجُدُوا وَلَا تَعُدُّوهُ شَيْئًا

سجدې حالت كې وموميئ، نو تاسو هم په سجده كې شئ او دغه سجده په څه حساب كې مه لګوئ، خو

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۴۸۵ رقم الحديث : ۵۹۱.

وَمَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً فقد أدرك الصَّلَاة» .(رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

که یو کس (امام سره) رکوع وموندہ هغه رکعت وموندلو.

توضیح: فاسجدوا: بعضې خلک امام سجده کې بیاموځي نو ولاړ وي او انتظار کوي چې امام پاڅي مونږ به ده سره یو ځای شو. دې حدیث کې یې دا خبره وخوده چې تاسو په سجده کې شریک شئ خو د سجدې په وجه رکعت مه حسابوئ که رکوع ملاو شي تاسو پوره رکعت وموندلو.

رکعة: ددې یو مطلب دا هم دی چا چې رکوع وموندله هغه مونځ وموندلو یعنې دا رکعت ده ته ملاو شو دلته رکعة نه مراد رکوع ده او صلاة نه مراد رکعت دی.

دویم مطلب دا چې چا پوره مونځ کې یو رکعت هم امام سره وموندلو ده پوره مونځ وموندلو ده ته د جماعت ثواب ملاو شو، دې سره غیر مقلدینو ته سخته دیکه ملاویږي ځکه چې بغیر د فاتحې نه د مقتدي مونځ صحیح شو او ده ته رکعت هم ملاو شو. (المرقات ۳/۲۲۲)

د تکبیر اولی لوی فضیلت

﴿۹﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " مَنْ صَلَّى لِلّٰهِ أَرْبَعِينَ

انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چا چې مونځ وکړو دالله تعالی د پاره څلویښت

يَوْمًا فِي جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ :

ورځې په جماعت سره داسی مونځ چې تکبیر اولی هم ومومي نو ده د پاره لیکلي شي دوه قسمه نجاته :

بَرَاءَةٌ مِنَ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِنَ النِّفَاقِ " . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[2].

یو د دوزخ نه د خلاصي دویم نفاق نه د بري کیدو.

که جمعه ونیسي یا نه خو ثواب ملاویږي

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ

ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چا چې اودس وکړو اوښه اودس یې وکړو

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱ ۵۵۳ رقم الحديث ۸۹۳.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲ ۷ رقم الحديث ۲۴۱

Maktaba Tul Ishaat.com

ثُمَّ رَاحَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلَّوْا أَعْطَاهُ اللهُ
او بيا (جومات) ته لاړو هلته يې وکتل چې خلکو مونځ کړی دی، نو وربه کړي الله تعالى دغه کس ته
مِثْلَ أَجْرِ مَنْ صَلَّاهَا وَ حَضَرَهَا لَا يَنْقُصُ
ثواب د مونځ کوونکو برابر، کوموچې جماعت کې حاضري وکړه او مونځ يې وکړو، او کمي به نه رائي
ذَلِكَ من أُجُورهم شَيْئًا». (۱)
د حاضرو خلکو په ثواب کې.

د جماعت فضيلت

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ وَقَدْ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
ابي سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي يو کس داسې وخت ته راورسيد و چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کړی وو
فَقَالَ: «أَلَا رَجُلٌ يَتَصَدَّقُ عَلَى هٰذَا فَيُصَلِّيَ مَعَهُ ؟»
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل يو کس داسې نشته چې دالله تعالى په لار کې ورکړه وکړي اودده سره مونځ
فَقَامَ رَجُلٌ فيصلى مَعَه". (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ، وَأَبُو دَاوُد) (۲).
وکړي يو کس اودريدو او دغه کس سره يې مونځ وکړو.

توضيح: وقد صلى: يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کړې وو اوس دا معلومه نه ده چې دا کوم مونځ وو، ائمه احناف فرمايي چې د مازيګر او مابنام نه علاوه مونځ وو ځکه چې مازيګر نه پس نفل جائز نه دي او مابنام کې دري رکعته نفل کول شريعت کې معهود نه دي. (المرقات ۳/۲۲۵).

يتصدق: دا د صدقې په معنى سره دی دلته احسان کول مراد دي، علامه مظهري فرمايي دې عمل ته يې صدقه ځکه وويله که دا کس ځان له مونځ کوي ده ته به د جماعت ثواب نه ملاويږي کله چې يې جماعت سره مونځ وکړو، ګويا جمعې برابرولو والا په ده باندې احسان وکړو د يو په ځای (۲۶) زيات مونځونو ثواب هغه ته ملاو شو. اوس مسئله داه ده دغه کس سره مونځ کولو والا ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو او ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل مونځ کړی وو بيا هغوی څنګه وکړو د متنفل پسې د مفترض مونځ وشو؟ شوافع وايي جائز دي دا زمونږ دليل دی احناف وايي دلته ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ؤ بلکې دغه کس په خپله امام ؤ د

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۸۱ رقم الحديث: ٥٦٤.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۱/٤۲۷ رقم الحديث: ۲۲۰ وأحمد في المسند ۳/٥.

هغه نه مونځ پاتې شوی وو. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ وايي اختلاف نه د وتلو صورت دا دی. دويم صورت کې اختلاف دی خو ښه دا ده چې دې صورت باندې حديث حمل کړی شي کوم کې چې اختلاف نه وي بلکې اتفاق وي دا د هغه وخت خبره ده کوم وخت کې چې دوه ځلې فرض جائز وو. (المرقات ۳/۲۲۵).

د دوهمې جمعې يو ځه تفصيل: فصلى معه: دويم جماعت باره کې علماء فرمايي که د لارې يا بازار جومات وي دې د پاره مقرر امام نه وو متعدد جماعت يا دويم جماعت جائز دی، که امام راتب او متعين موجود وي او د جماعت سره يې مونځ ورکړو بيا يو څو کسان راغلل يو ځای شو او ضرورت سره موضع اول باندې دويم جماعت د پاره ودريدل ټولو فقهاو په نزد بالاتفاق مکروه دي که ضرورت هم نه وي او موضع اول کې دويم جماعت هم نه وي ځکه هم نه وي او خلک مقامي وي نو په دې صورت کې اختلاف دی. (المرقات ۳/۲۲۵).

د فقهاو اختلاف: جمهور فقهاء وايي چې په آخري صورت کې هم جماعت ثاني مکروه دی امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللهُ او صاحبين فرمايي دا بلا کراهت جائز دی.

دلائل: جمهور وايي دغه شان د دويم جماعت عادت جوړول د جمعې د غرض د پاره مفوت دی، ځکه چې جماعت کې ټول راجمع کيدل د اسلام اتحاد او شوکت مظاهره وشي همدارنګه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د فوت شوي مونځ قضاء کور کې کړې ده جومات کې جماعت سره نه دی کړی.

جواب: د زير بحث حديث نه جمهور دا جواب ورکوي چې د جواز او عدم جواز بحث فرائضو کې دی او د زير بحث حديث تعلق د فرائضو سره نه بلکې دا د متنفل جماعت وو، ځکه چې ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرض مونځ کړی وو. (المرقات ۳/۲۲۵).

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ:

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مرض وفات او د مونځ مکمل نقشه

﴿۱۲﴾ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: دَخَلْتُ عَلٰى عَائِشَةَ فَقُلْتُ

عبيد الله بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې زه د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کې حاضر شوم او هغې ته مې وويل

أَلَا تُحَدِّثِينِي عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَتْ بَلٰى

آيا ته به ما ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بيماری حال ذکر نه کړې؟ عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمايل: ولې نه،

ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَ: «أَصَلَّى النَّاسُ؟» قُلْنَا لَا

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډير بيمار شو تپوس يې وکړو آيا خلکو مونځ کړی دی مونږ وويل ترا وسه يې نه دی کړی

Maktaba Tul Ishaat.com

يَا رَسُولَ اللهِ وَ هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ فَقَالَ : « ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ » قَالَتْ

يارسول الله ستاسو انتظار كړي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل زما دپاره په لكن كې اوبه كيږدئ عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي

فَفَعَلْنَا فَاغْتَسَلَ فَذَهَبَ لِيَنُوءَ

مونږ په لكن كې اوبه كيخودې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غسل وكړو (اواراده يې وكړه) چې اودريږي (خو د

فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَصَلَّى النَّاسُ ؟ » قُلْنَا

كمزورې د وجې نه) بې هوشه شو كله چې هوش كې راغى وې فرمايل خلكو مونځ كړى دى مونږ وويل

لَا هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ : « ضَعُوا

تراوسه يې نه دى كړى خلك ستاسو په انتظار كې دي يارسول الله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل كيږدئ

لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ » قَالَتْ فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ

ماته اوبه په لكن كې عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي هغه غسل كول اوغوښتل يې چې ودريږي خو بې هوشه شو

ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ : « أَصَلَّى النَّاسُ ؟ » قُلْنَا لَا هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ

كله چې هوش كې راغى بيا يې تپوس وكړو خلكو مونځ كړى مونږ عرض وكړو نه خلك ستاسو په انتظار كې

يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ : « ضَعُوا لِي مَاءً فِي الْمِخْضَبِ » فَقَعَدَ فَاغْتَسَلَ

دي يارسول الله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل لكن كې اوبه كيږدئ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ كينا ستو غسل يې وكړو

ثُمَّ ذَهَبَ لِيَنُوءَ فَأُغْمِيَ عَلَيْهِ ثُمَّ أَفَاقَ فَقَالَ : « أَصَلَّى النَّاسُ » . قُلْنَا

اوپاځيدل يې غوښتل خو بې هوشه شو كله چې هوش كې راغى وې فرمايل خلكو مونځ كړى مونږ عرض وكړو

لَا هُمْ يَنْتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَالنَّاسُ عُكُوفٌ فِي الْمَسْجِدِ يَنْتَظِرُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نه ستاسو په انتظار دي يارسول الله اوخلك ناست دى په جومات كې او انتظار كوي دنبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ

لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ . فَأَرْسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِلَى أَبِي بَكْرٍ بِأَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ

دماسخوتن مونځ دپاره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وليږلو چې خلكو ته مونځ ورکړي

فَأَتَاهُ الرَّسُولُ فَقَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ

قاصد دهغه خواته راغى اووې ويل چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دى ستا دپاره چې خلكو ته مونځ ورکړه

فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ وَ كَانَ رَجُلًا رَقِيقًا يَا عُمَرُ صَلِّ بِالنَّاسِ فَقَالَ لَهُ

ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نرم زړه والا ؤ نو عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته يې وويل ای عمره! ته مونځ ورکړه خلکو ته نو وويل ده ته

عُمَرُ أَنْتَ أَحَقُّ بِذَلِكَ فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ تِلْكَ الْأَيَّامَ

عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته دد ې زيات اهليت نو مونځ وکړو ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دې ورځو کې (يعنې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د مرض

ثُمَّ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَجَدَ فِي

وفات په ورځو کې ۱۷ مونځونه خلکو ته کړي وو) کله چې (يوورځ) حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وموند وپه خپل

نَفْسِهِ خِفَّةً وَ خَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا الْعَبَّاسُ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ

مرض کې څه کم والی نو ددوو کسانو په تعاون باندې چې يو کس ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ؤ دما سپخين مونځ

وَ أَبُو بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فَلَمَّا رَآهُ أَبُو بَكْرٍ

دپاره مسجد ته راغلو ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خلکو ته مونځ ورکولوده چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د راتلو آواز واوريدو

ذَهَبَ لِيَتَأَخَّرَ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بِأَنْ لَا يَتَأَخَّرَ

نو د وروسته کيدو اراده يې وکړه خو حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داشارې په ذريعه دوروسته کيدو نه منع کړو

قَالَ : « أَجْلِسَانِي إِلَى جَنْبِهِ » فَأَجْلَسَاهُ

اودې دواړو ته يې وفرمايل چې ما د ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خواته کينوئ نو هغوي نبي عَلَيْهِ السَّلَام کينولو

إِلَى جَنْبِ أَبِي بَكْرٍ وَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَاعِد . قَالَ عُبَيْدُ اللهِ :

د ابوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خواته او حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (په ناسته باندې) مونځ کولو . عبيدالله وايي چې : زه د

فَدَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ لَهُ أَلَا أَعْرِضُ عَلَيْكَ مَا

عبدالله بن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خواته لاړم او هغه ته مې وويل آيا زه تاته هغه حديث ذکر نه کړم کوم چې ما د

حَدَّثَتْنِي بِهِ عَائِشَةُ عَنْ مَرَضِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ؟ قَالَ هَاتِ

عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مرض په باره کې اوريدلی وو ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي هو

فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَدِيثَهَا فَمَا

بيان يې کړه ما د هغه مخې ته د عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا حديث بيان کړو خو ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دې خبرو کې د

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنْكَرَ مِنْهُ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَسَمَّتْ لَكَ الرَّجُلَ الَّذِيْ كَانَ

يوې خبرې نه هم انکار ونه کړو دا يې وويل چې آيا تاته عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د هغه کس نوم ذکر کړو چې د

مَعَ الْعَبَّاسِ قلت لَا قَالَ هُوَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .(متفق عليه)[1].

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره وو ما وويل نه حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل هغه علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو.

سورة فاتحه نه لوستلو سره ثواب کم ملاويږي

﴿۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ: «مَنْ أَدْرَكَ الرَّكْعَةَ فَقَدْ أَدْرَكَ السَّجْدَةَ وَمَنْ فَاتَتْهُ

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: چاچې رکوع وموندله ده ته پوره رکعت ملاوشوا ودچانه چې پاتې

قِرَاءَةُ أُمِّ الْقُرْآنِ فَقَدْ فَاتَهُ خَيْرٌ كَثِيْرٌ» . (رَوَاهُ مَالك)[2].

شوه لوستل د سورة فاتحې نو هغه ډير ثواب نه (محروم) پاتې شو.

توضيح: فاتته ام القرآن: ائمه احناف وايي ددې حديث مطلب هغه دی کوم چې **فصلاته خداج** مطلب دی يعني مونځ ناقص دی ثواب کم ملايږي دې نه معلومه شوه چې امام پسې فاتحه فرض نه ده فرض مطلق قرآن لوستل دي فاتحه لوستل منفرد دپاره واجب ده او امام نه وروسته دا ذمه واري نه پاتې کيږي.

د امام نه مخکې سجدې ته تلل ډيره لويه ګناه ده

﴿۱۴﴾ وَ عنهُ قَالَ : الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَ يَخْفِضُهُ

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې کوم کس چې خپل سر د امام نه مخکې اوچت کړي يا ښکته

قَبْلَ الْإِمَامِ فَإِنَّمَا ناصيته بيد الشَّيْطَان ". [3].

کړي د هغه تندې د شيطان په لاس کې وي.

توضيح: ناصيته: يعني دده تندی د شيطان په لاس کې دی هغه چې څنګه غواړي حرکت ورکولی شي دا تسلط يا حقيقة دی واقعي شيطان پ لاس دده د تندي په ويښتو باندې پروت دی يا مجازا دی يعني شيطان ده ته په خپلې مرضۍ سره حرکت ورکوي.(المرقات ۳/۲۳۰).

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۷۲/۲ رقم الحديث : ۲۸۷ ، ومسلم في صحيحه ۳۱۱/۱ رقم الحديث : ۴۱۸/۹۰، والنسائي في السنن ۱۰۱/۲ رقم الحديث : ۸۳٤.

(۲) أخرجه مالک في الموطأ ۱۱/۱ رقم الحديث : ۱۸ من کتاب وقوت الصلاة.

(۳) أخرجه مالک في الموطأ ۹۲/۱ رقم الحديث : ۵۷ من کتاب وقوت الصلاة.

بَابُ مَنْ صَلَّى صَلَاةً مَرَّتَيْنِ :

د يو مونځ دوه ځلې کولو بيان

دې باب کې دوه مسئلې دي اول دا چې يو کس کور کې فرض وکړل او جومات ته راغی ويې کتل جماعت ولاړ دی دا کس دې جماعت کې مونځ کولی شي او که نه دويمه مسئله دا ده دې کس چې کوم مونځ کور کې کړی دی آيا دغه مونځ فرضو کې شمار کېږي يا هغه فرض کې شمار کېږي کوم چې ده په جومات کې جماعت سره وکړو ددې بيان په آحاديثو کې را روان دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه ځلې مونځ ولی کړی؟

﴿۱﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ : كَانَ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ثُمَّ
دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونځ کولو بيا به
يَأْتِي قَوْمَهُ فَيُصَلِّي بِهِمْ .(متفق عليه)[1].
خپل قوم ته راغی هغوي ته به يې مونځ ورکولو.

توضيح: حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه ځلې مونځ کړی وو د ماسخوتن مونځ يې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کړې وو بيا يې خپل قوم ته هم د ماسخوتن مونځ ورکړو دې حديث سره ملا و حديث کې تصريح ده دويم مونځ دې د پاره نفل جوړ شو. ددې نه معلومه شوه حضرت معاذ متنفل وو او قوم مفترض دی مسئله کې د جواز او عدم جواز سخت اختلاف دی خو ددې تفصيل مخکې په **باب القرآة فی الصلوة** کې د حديث نمبر(۱۰) په ضمن کې تير شو.(المرقات ۳/۲۳۱).

﴿۲﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : كَانَ مُعَاذٌ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ
جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د ماسخوتن مونځ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کولو بيا به

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۹۲/۲،رقم الحديث :۷۰۰، ومسلم في الصحيح ۳۳۹/۱ رقم الحديث:۱۸۸-۳۶۵، وأبوُ داود ۵۰۰/۱ رقم الحديث :۷۹۰، والنسائي ۱۷۲/۲، رقم الحديث: ۹۹۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

يَرْجِعُ إِلَى قَوْمِهِ فَيُصَلِّي بِهِمُ الْعِشَاءَ وَهِيَ لَهُ نَافِلَةٌ. (رواه البخاري)[1].

خپل قوم ته راتلو او دوي ته به يې د ماسخوتن مونځ ورکولو او دا دده د پاره نفل وو.

الْفَصْلُ الثَّانِي:

په کور کې مونځ وکړی او بيا جماعت وموميې نو څه به کوي؟

﴿٣﴾ عَنْ يَزِيْدِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّتَهُ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ

يزيد بن اسود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي زه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره حج کې شريک وم نو ما مونځ وکړو د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

صَلَاةَ الصُّبْحِ فِي مَسْجِدِ الْخَيْفِ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ وَانْحَرَفَ فَإِذَا هُوَ بِرَجُلَيْنِ

سره په مسجد خيف کې د سحر مونځ کله چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ نه فارغ شو څه وينې چې دوه کسان

فِي آخِرِ الْقَوْمِ لَمْ يُصَلِّيَا مَعَهُ قَالَ:

د جومات په کونج کې ناست دي دوي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونځ نه ؤکړی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل

« عَلَيَّ بِهِمَا » فَجِيءَ بِهِمَا تُرْعَدُ فَرَائِصُهُمَا

دوي زما خواته راوله دواړه يې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر کړل چې د ولو غوبنه يې ريبده

فَقَالَ: « مَا مَنَعَكُمَا أَنْ تُصَلِّيَا مَعَنَا ؟ ». فَقَالَا:

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترې تپوس وکړو تاسو زمونږ سره مونځ نه کولو نه څه ځيز منع کړي وئ هغوي وويل

يَا رَسُولَ اللهِ! إِنَّا كُنَّا قَدْ صَلَّيْنَا فِي رِحَالِنَا. قَالَ: « فَلَا تَفْعَلَا

يارسول الله مونږ خپل ځای کې يعنې خپل کور کې مونځ کړې ؤ نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل داسې بيا مه کوئ

إِذَا صَلَّيْتُمَا فِي رِحَالِكُمَا ثُمَّ أَتَيْتُمَا مَسْجِدَ جَمَاعَةٍ فَصَلِّيَا

کله چې تاسو کور کې مونځ وکړئ او هغه جومات ته راشئ چيرته چې جماعت کيږي نو مونځ کوئ د

مَعَهُمْ فَإِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَةٌ »[2].

دخلکو سره دا مونځ به ستاسو د پاره نفل شي.

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ١٩٢/٢،رقم الحديث : ٧٠١، ومسلم في الصحيح ٣٤٠/١ رقم الحديث:١٨٠-٤٦٥.

(٢) أخرجه أبو داود في السنن ٣٨٦/١ رقم الحديث : ٥٧٥ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٤٢٤/١، رقم الحديث : ٢١٩.

توضیح: **فانها لکم نافلة**: اولني مسئله: که یو کس کور کې مونځ وکړو او جماعت یې جومات کې اومنډو هغه دې بغیر د سوچ نه جماعت کې شامل شي او که څه وکړي دې کې اختلاف دی.
د فقهاو اختلاف: امام شافعي او احمد بن حنبل رَحِمَهُمَاٱللَّهُ په نزد باندې پنځه مونځونو کې شاملیدی شي دا دده نفل مونځ دی سحر، ماسپخین، مابنام او ماسخوتن کې دا کس د نفلو په غرض شاملیدی شي. امام مالک رَحِمَهُٱللَّهُ وایي داسې کس مابنام مونځ کې د نفلو په غرض نه شي شاملیدی او باقي کې شي. ائمه احناف وایي داسې کس نفلو په غرض سره صرف د ماسپخین او ماسخوتن مونځونو کې شاملیدی شي باقي سحر، مازیګر او مابنام کې نه شي شاملیدی.(المرقات ۳/۲۳۱).
دلائل: د شوافعو او حنابلو دلیل د زیر بحث یزید بن اسود حدیث دی دې کې تصریح ده چې د منی مسجد خیف کې حضور صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ د سحر مونځ کې دوه کسانو ته جماعت کې د شریک کیدو تعلیم ورکړو او ویې فرمایل دا دویم مونځ چې جماعت سره وکړئ نو دا ستاسو د پاره نفل دی خپل مدعا باندې واضح دی دا حدیث. (المرقات ۳/۲۳۱).

د امام مالک رَحِمَهُٱللَّهُ د دلیل بعضې روایاتو کې **الا المغرب** الفاظ دي موطا مالک کې دي چې ددې نه علاوه نور مونځونو کې عام اجازت د روایاتو نه استدلال کوي. (المرقات ۳/۲۳۱).
ائمه احناف فرمایي چې د سحر او مازیګر مونځ نه بعد نفل کول د متواترو احادیثو په رڼا کې منع دي دې ممانعت کې څه شبه یا ابهام نشته او ممانعت عام دی لهذا کور کې د سحر او مازیګر مونځ کولو نه بعد نفل کولو سره د عامو متواترو احادیثو نه مخالفت لازمیږي او مابنام کې یو **الاالمغرب** استثنی ده دې نه ممانعت ثابت دی دویمه وجه دا ده څوک چې مابنام نفل کوي یا امام سره سلام واړوي نو دې رکعاته به شي او دې نفل اسلام کې معروف نه دي او که دا کس ورسره یو رکعت بل وکړي څلور رکعاته نفل به جوړ شي لکه شوافع فرمایي دې نه د امام مخالفت لازم راځي دا منع دی دې عمومي استدلال نه علاوه احناف بعضې احادیثو او آثارو نه هم استدلال کړی دی، مثلا ابن عمر رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ اثر پخپله مشکوة کې دې باب آخره کې حدیث نمبر(۹) کې راځي الفاظ یې دا دي: (**من صلی المغرب والصبح ثم ادرکهما مع الامام فلا یعد لهما**) (**رواه مالک**) بعضې علماو د امام مالک مسلک هم دا نبودلی دی د سحر او مابنام دواړو کې شاملیدل صحیح نه دي.
اول جواب: شوافعو او حنابلو چې د کوم روایت نه استدلال کړی دی ددې یو جواب دا دی دیر ممکن دی دا د هغه وخت خبره ده چې یو وخت کې دوه ځلې فرض کول جائز وو. (المرقات ۳/۲۳۳).
دویم جواب: دا دیر ممکن دی دا جواز هغه زمانې سره متعلق دی چې سحر او مازیګر نه پس د نفل کولو د ممانعت حکم نه ؤ. (المرقات ۳/۲۳۳).

Maktaba Tul Ishaat.com

دریم جواب: دلته د مبیح او محرم مسئله ده او چې مقابله یې راشي نو ترجیح محرم له ده، نو احناف محرم له ترجیح ورکوي.

دویمه مسئله: فرض کوونکي کس د جماعت سره هم مونځ اوکړو، نو مخکې **مونځ به فرض شمارل** کېږي او که دویم مونځ فرض کې شمار کېږي دې کې د شوافعو حضراتو یو قول دی تعین نه بغیر یو فرض دی او دویم نفل دی. دویم قول دا دی دواړه فرض شمارل کېږي. دریم قول ړومبی مونځ به فرض شي او دویم به نفل جوړ شي دا د شوافعو مختار قول دی ائمه احناف فرمایي ړومبی به فرض شي او دویم به نفل شي لکه د شوافعو مختار قول دی د احنافو په دلیل او تائید کې هغه ټول روایات دي هغې کې دویم مونځ صراحت سره نفل ذکر کړی دی.

فائدہ لک نافلة: دې کس ته د جماعت ثواب ملاو شو او نفل به هم ملاو شي فرض مخکې شوي دي. داسی دا مسئله مغیباتو سره تعلق ساتي چې آخرت کې به څه کېږي، ځکه د الله تعالی مشیئت ته پرېښودل پکار دي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث نمبر (۷) کې راغلي دي د هغوی نه چا تپوس وکړو زه کوم مونځ فرض جوړ کړم هغه ورته جواب کې وویل دا ستا کار نه دی دا د الله تعالی کار دی چې کوم فرض کوي او کوم نفل جوړوي. **ترعد**: د رعد نه د رپید و په معنی دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ:

د مونځ کولووالا مسلمان وي

﴿٤﴾ عَنْ بُسْرِ بْنِ مِحْجَنٍ عَنْ أَبِيْهِ أَنَّهُ كَانَ فِي مَجْلِسٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُذِّنَ بِالصَّلَاةِ

بسر بن محجن خپل پلار نه روایت کوي هغه یو مجلس کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وُ د مونځ دپاره آذان وشو

فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَصَلَّى وَرَجَعَ وَ مِحْجَنٌ فِي مَجْلِسِهِ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ دپاره اودرید و مونځ کولو نه چې فارغ شو ګوري محجن په خپل ځای باندې ناست

فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيَ مَعَ النَّاسِ؟ أَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ؟

دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تري تپوس وکړو خلکو سره مونځ کولو نه څه شیز منع کړې یې ته مسلمان نه یې

فَقَالَ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ وَلَكِنِّي كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِي أَهْلِي فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

هغه وویل یارسول الله! زه مسلمان یم خو ما کور کې مونځ کړی ؤ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل:

« إِذَا جِئْتَ الْمَسْجِدَ وَ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ فَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ

کله چې ته راشي جومات ته او مونځ دې (په خپل کور کې) کړې وي او په مسجد کې جمعه ولاړه وي نو

فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَ إِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ »[1].

د خلکو سره (دوباره) مونځ کوه اګر چې تا مونځ کړی وي.

توضیح: الست برجل مسلم: یعنې ټول خلک د جماعت سره مونځ کوي او ته وروستو ناست یې او مونځ نه کوې آیا ته مسلمان نه یې دا طریقه خو د مسلمانانو نه ده .(المرقات ۳/۲۳۵).

دې جملې نه هر مسلمان ته سوچ کول په کار دي چې مونځ نه کول د کافرو طریقه ده مسلمان هغه وي چې مونځ کوي صحابه هم دغه کس ته مسلمان نه وایي څوک چې مونځ پریږدي.

﴿۵﴾ وَ عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ أَنَّهُ سَأَلَ أَبَا أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيَّ قَالَ :

دقبیلې د اسد ابن خزیمه د یو کس په باره کې مروي دي ده ابوایوب انصاري نه تپوس وکړو وې فرمایل

يُصَلِّي أَحَدُنَا فِي مَنْزِلِهِ الصَّلَاةَ ثُمَّ يَأْتِي الْمَسْجِدَ وَ تُقَامُ الصَّلَاةُ فَأُصَلِّي مَعَهُمْ

مونږ نه چې څوک مونځ وکړي بیا جومات ته راشي او هلته مونځ کېږي که زه د دوي سره دوباره مونځ کوم

فَأَجِدُ فِيْ نَفْسِيْ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ فَقَالَ أَبُو أَيُّوبَ :

(خو زه زړه کې یو څیز محسوس کوم دوباره مونځ زما د پاره بهتر دی او که نه) انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمایل

سَأَلْنَا عَنْ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ: «فَذٰلِكَ لَهُ سَهْمُ جَمْعٍ» (رَوَاهُ مَالِكٌ وَأَبُوداود)[2].

ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس وکړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل دا دده د پاره جمعه کې نصیبه ده.

توضیح: سهم جمع: سهم نصیب او حصې ته ویل کېږي او (جمع) جماعت کې مونځ کولو ته ویل کېږي مطلب دا چې یو کس کور کې مونځ وکړو بیا مسجد ته راغی او ورته ولاړ جماعت ملاو شو دغه کس ته دې جماعت کې شاملیدل په کار دي فرض ثواب ورته مخکې کولو کې ملاو شو دې مونځ سره به ده ته دې کې د جماعت فضیلت او سعادت حاصل شي (المرقات ۳/۲۳۶).

خو یاد لرئ چې دا د ماسپخین او ماسخوتن مونځ کې کېږي، څنګه چې د احنافو او مالکیو مسلک دی د شوافعو او حنابلو په نزد باندې دا حدیث مطلق دی ټولو مونځونو ته شامل دی، لکه ددې حدیث تقاضا ده تفصیل یې مخکې تیر شوی دی.

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۲/۱۱۲ ، رقم الحديث : ۷۵۷، ومالک في الموطأ ۱/۱۳۲ رقم الحديث :۸ من باب صلاة الجماعة.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۸۸ رقم الحديث ۵۷۸ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿٦﴾ وَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ : جِئْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ هُوَ

يزيد بن عامر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې زه د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوم او نبي عَلَيْهِ السَّلَام

فِي الصَّلَاةِ فَجَلَسْتُ وَلَمْ أَدْخُلْ مَعَهُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُولُ اللّٰهِ

دغه وخت کې مونځ کولو زه کيناستم او خلکو سره جماعت کې شامل نه شوم کله چې فارغ شو رسول الله

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَآنِي جَالِسا فَقَالَ : «أَلَمْ تُسْلِمْ يَا يَزِيدُ ؟» قُلْتُ :

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمونځ نه او زه يې ناست وليدم نو وې فرمايل آيا ته مسلمان نه يئ اى يزيده! ما ورته وويل

بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ ! قَدْ أَسْلَمْتُ . قَالَ : «وَمَا مَنَعَكَ أَنْ تَدْخُلَ

ولې نه يا رسول الله! بيشكه زه مسلمان يم نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: ته كوم څيز منع كړې يې د شريک كيدو

مَعَ النَّاسِ فِي صَلَاتِهِمْ ؟» قَالَ : إِنِّي كُنْتُ قَدْ صَلَّيْتُ فِي مَنْزِلِي أَحْسَبُ أَنْ قَدْ صَلَّيْتُمْ .

نه د مسلمانانو سره په مونځ کې ما وويل ما خپل كور كې مونځ كړى زما داخيال وُ چې تاسو به هم مونځ نه

فَقَالَ : «إِذَا جِئْتَ الصَّلَاةَ فَوَجَدْتَ النَّاسَ

فارغ شوي يئ، نو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ته كله مونځ ته راشئ او خلک مونځ كې وو مومئ

فَصَلِّ مَعَهُمْ وَ إِنْ كُنْتَ قَدْ صَلَّيْتَ تَكُنْ

نو تاسو هم د هغوي سره مونځ كې شريک شئ اګر چې تا (مخكې دا) مونځ كړى هم وي اودا (دوهم ځل

لَكَ نَافِلَةً وَ هٰذِهِ مَكْتُوبَةً ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(١).

مونځ كول) به ستا د پاره نفل شي او هغه به (اولني مونځ) فرض ادا شي.

د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فيصله

﴿٧﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ : أَنَّ رَجُلًا سَأَلَهُ فَقَالَ : إِنِّي أُصَلِّي فِي بَيْتِي ثُمَّ أُدْرِكُ الصَّلَاةَ فِي

ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راوي دی هغه نه چا تپوس وكړو چې زه خپل كور كې مونځ وكړم بيا زه بيا موزم مونځ په

الْمَسْجِدِ مَعَ الْإِمَامِ أَفَأُصَلِّي مَعَهُ ؟ قَالَ لَهُ : نَعَمْ قَالَ الرَّجُلُ :

جومات كې دامام سره آيا زه هم دې امام پسې مونځ وكړم؟ ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وويل آو بيا دغه كس تپوس وكړو

---

(١) أخرجه أبو داود في السنن ١/٣٨٨ رقم الحديث : ٥٧٧.

أَيَّتهمَا أجعَل صَلَاتي ؟ قَالَ عُمَرَ : وَ ذَلِكَ إِلَيْكَ ؟ إِنَّمَا ذَلِكَ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ

خپل مونځ څنګه وګرځوم؟ ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل آيا دا ستا کار دی دا خو د الله تعالى په اختيار کې دی

يَجْعَلُ أَيَّتَهُمَا شَاءَ . (رَوَاهُ مَالِكٌ)(۱).

هغه چې څنګه وغواړي ستاسو (فرض) مونځ به وګرځوي.

يو مونځ دوباره کول منسوخ او ممنوع دي

﴿۸﴾ وَ عَنْ سُلَيْمَانَ مَوْلَى مَيْمُونَةَ قَالَ : أَتَيْنَا ابْنَ عُمَرَ عَلَى الْبَلَاطِ

د ميمونې آزاد غلام سليمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي مونږ د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خواته په مقام بلاط کې راغلو خلکو

وَ هُمْ يُصَلُّونَ . فَقُلْتُ : أَلَا تُصَلِّي مَعَهُمْ ؟

دغه وخت کې مونځ کولو ما دا ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو آيا تاسو د خلکو سره مونځ نه کوئ ابن عمر

فَقَالَ : قَدْ صَلَّيْتُ وَ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ : « لَا

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل ما مونځ کړی دی او ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې : تاسو مه

تُصَلُّوا صَلَاةً فِي يَوْمٍ مَرَّتَيْنِ»(۲).

کوئ يو مونځ په يو ورځ کې دوه ځلې .

توضيح: البلاط: په مدينه منوره کې د مسجد نبوي نه بهر عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ځای جوړ کړی دی چې خلک د دنيا خبرې دلته کوي چې مسجد کې يې نه کوي دې ته **بلاط ويل** کېږي . (المرقات ۳/۲۳۸).

الصلوة: ددې جملې مطلب دا دی که يو کس مخکې فرض کړي دي او بيا جماعت کې يې دوباره کوي دا منع او منسوخ دي د اسلام په شروع کې داسې کيدل بيا ممانعت راغی .

ددې حديث مطلب دا نه دی چې يو کس د جماعت د ثواب د حصول په غرض سره جماعت کې شامل شو نفل کول غواړي او دا منع کولی شي هغه د احاديثو په رڼا سره جائز دي چې وخت د مونځ کولو د پاره مناسب وي. (المرقات ۳/۲۳۸).

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۱۳۳ رقم الحديث : ۹ من كتاب صلاة الجماعة.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۳۸۹ رقم الحديث : ۵۷۹ .

Maktaba Tul Ishaat.com

په کوموو ختونو کې دوباره مونځ کول ممنوع دي

﴿۹﴾ وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ: إِنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ كَانَ يَقُولُ: مَنْ صَلَّى الْمَغْرِبَ أَوِ الصُّبْحَ ثُمَّ

نافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايلي چا چې د سحر او يا مابنام مونځ وکړو بيا يې

أَدْرَكَهُمَا مَعَ الْإِمَامِ فَلَا يُعِدْ لَهُمَا. (رَوَاهُ مَالِك)[1].

دا مونځونه د امام سره او موندلو دا دې دوباره نه کوي.

توضيح: دا حديث د مالکيو او حنفيو دواړو دليل دی څه وختونه داسې دی چې هغې کې د فرضو نه پس نفل جائز نه دي احنافو د مازيګرنه پس وخت هم په دې کې شمار کړی دي، ځکه چې احاديثو کې دغه وخت کې د مونځ کولو ممانعت ذکر دی. (المرقات ۲۳۸-۳/۲۳۹).

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱۳۳/۱ رقم الحديث : ۱۲ من کتاب صلاة الجماعة.

بَاب السّنَن وفضائلها:
د سنتود فضيلت بيان

دين اسلام كې يو فرض مونځ دی چې تعريف يې دا دی: **ماثبت بدليل قطعي لاشبهة فيه**، دويم واجب مونځ دی تعريف يې دا دی: **ماثبت بدليل قطعی فيه شبهة**، دريم سنت مونځ دی د سنت تعريف دا دی: **ماواظب عليه النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وتركه مرة او مرتين.**

اوس سنت په دوه قسمه دي: يو سنت مؤكده دويم سنت زائد دی دلته د دواړو قسمونو بيان دی دا خبره ياد ساتئ سنت، تطوع، نفل، مستحب، الفاظ مترادفه دي يو د بل پ ی استعماليږي، فرض مونځ لوی عبادت دی دې سره د مطلق مونځ هم لوی شان دی كه سنت وي نفل وي او كه مستحب وي فرائضو كې كه كمی راشي يا ددې كولو نه مخكې سړی سست وي ددې نقص پوره كولو او بدن كې چست والی پيدا كولو د پاره سنت او نوافل كول په كار دي. سنن مؤكدو ته رواتب هم وئيلی كږي دا هغه سنت دي چې دې باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مداومت كړی دی سنن غير مؤكدو ته غير رواتب وئيلی كږي دا هغه دي چې دې باندې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مداومت نه وي اختيار كړی سنن مؤكده دولس دي او د سنن غير مؤكدو تحديد نشته دومره خبره ده چې د مازيګر نه مخكې څلور ركعاته دي او ماسخوتن نه مخكې څلور ركعاته دي، د سنتو په كولو كې عرب سُستي كوي او اكثر يې پريږدي چې د افسوس مقام دی. (المرقات ۳/۲۴۰).

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:
په دولس ركعاتو سنت كولو باندې جنت كې محل ملاويږي

﴿۱﴾ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً

ام حبيبه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي څوک چې ورځ كې دولس ركعاته مونځ وكړي

بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ: أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ وَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَ رَكْعَتَيْنِ

ده د پاره په جنت كې كور جوړ شي. څلور ركعت ماسپخين نه مخكې دوه ركعات ددې نه پس دوه ركعاته

بَعْدَ الْمغرب وَرَكْعَتَيْنِ بعد الْعشَاء وَرَكْعَتَيْنِ قبل صَلَاة الْفَجْرِ. رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ

دمابنام (فرضونه) پس دوه ركعاته ماسخوتن نه پس او دوه ركعاته د سحر مونځ نه پس او د مسلم روايت الفاظ

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنَّهَا قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ
دادي چې ام حبيبه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي چې يو مسلمان مونځ کوي هره ورځ
ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيضَةٍ إِلَّا بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ أَوْ
دولس رکعته نفل په غير د فرضو نه نو الله تعالى به ده ته په جنت کې کور جوړوي يا يې دا وفرمايل ده د
إِلَّا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ». (۱)
پاره جنت کې کور جوړولی شي.

توضيح: ثنتي عشرة ركعة: يعنې (۲۴) ګينټو کې دولس رکعاته سنت وکړي دده د پاره جنت کې محل تياريږي هغه دولس رکعاته داسې دي: ماسپخين نه مخکې څلور رکعاته او بعد کې دوه رکعاته، د مابنام نه پس دوه رکعاته، ماسخوتن نه پس دوه رکعاته، د سحر مونځ نه مخکې دوه رکعاته دي. زير بحث حديث کې داسې ترتيب دی نورو روايتو کې دې ترتيب کې ماسپخين نه مخکې سنتو کې معمولي فرق دی ددې وجې نه فقهاو کې اختلاف دی. (المرقات ۳/۲۳۹).

د فقهاو اختلاف: فرض مونځونو نه مخکې او وروسته چې کوم سنت دي دې کې د فقهاو په نزد دوه مسئلو کې اختلاف دی. آيا دې سنتو کې څه تحديد او تعين شته او که نه ددې رکعاتونه محدود دي يا نه. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمايي دې کې د دوو يا د څلورو تحديد نشته کوم کس چې څومره کوي کولی شي. تعداد بهر حال افضل دی ددې ذکر احاديثو کې راغلی، زير بحث حديث کې دي، جمهور فرمايي چې ددې سنتو تعداد محدود او متعين دی.

دويمه اختلافي مسئله: ددې سنتو تعداد څومره دی امام شافعي او احمد فرمايي د ورځ او د شپې د سنتو تعداد لس دی ماسپخين مونځ نه مخکې څلور نه دي بلکې دوه دي. ائمه احناف فرمايي ورځ او شپه کې ددغه سنتو تعداد دولس دی، ماسپخين نه مخکې څلور رکعاته دي دوه نه دي.

دلائل: د شوافعو او حنابلو دليل د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دی دې سره دويم حديث دی دې کې الفاظ دادي: (**صلى النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ركعتين قبل الظهر**) ائمه احناف زير بحث حديث د ام حبيبه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه استدلال کوي دي کې اربعا قبل الظهر صريح الفاظ دي دغه شان حديث نمبر (۴) کې هم د څلورو الفاظ موجود دي، دغه شان حديث نمبر (۹) کې څلور ذکر دي بيا حديث نمبر (۱۰) کې څلور ذکر

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۰۳ رقم الحديث: ۱۰۳-۷۲۸، وأبو داود ۲/۴۲ رقم الحديث: ۱۲۵۰، والنسائي ۳/۲۶۰، رقم الحديث: ۱۷۹۴.

دي، دغه شان حديث نمبر (۱۱) او حديث نمبر (۱۹) کې هم ددې ثبوت ملاويږي.

جواب: شوافع او حنابله چې د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت نه استدلال کوي ددې جواب دا دی هغه د تحية المسجد د دوه رکعتونو ذکر دی، د ماسپخين څلور رکعتونو بيان نه دی چې تولو رواياتو سره موافق او مطابق شي.

﴿۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَ

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ماسپخين نه مخکې دوه رکعاته او

رَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ وَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ

دې نه پس دوه رکعاته کړي دي او دوه رکعته پس دماخام نه په خپل کور کې او دوه رکعته پس دماخوستن

فِي بَيْتِهِ قَالَ : وَ حَدَّثَتْنِي حَفْصَةُ : أَنَّ رَسُولَ اللهِ

نه په خپل کور کې کړي دي، ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي چې حفصې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ماته بيان کړل چې رسول الله

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ حِينَ يَطْلُعُ الْفَجْرُ ". (متفق عليه)[1]

چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه سپک رکعاته د سحر راختو په وخت کې هم کول.

توضيح: **وحَدَّثَتْنِي حفصة**: حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سحر مونځ نه مخکې د دوه رکعتونو ذکر د حضرت حفصې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په حوالې سره وکړو دې وجه دا ده چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خپله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جومات کې په دوه رکعتونو باندې نه وو ليدلی، ځکه د حفصې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په حوالې سره يې تذکره وکړه او حضرت حفصه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوه رکعاته سنتو باندې کور کې ليدلی وو، ځکه هغې بيان وکړه. (المرقات ۳/۲۴۱).

د جُمعې سنت

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لَا يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ حَتَّى

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جمعې نه پس بل مونځ نه کولو تردې چې

يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ. (متفق عليه)[2].

واپس به يې (کور ته) تشريف راوړو او کور کې يې دوه رکعاته کول.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۴۲۵، رقم الحديث: ۹۳۷، ومسلم في الصحيح ۱/۵۰۴ رقم الحديث: ۱۰۴-۷۲۹.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲، رقم الحديث: ۹۳۷، ومسلم في الصحيح ۲/۶۰۰ رقم الحديث: ۷۱-۸۸۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: رکعتین: دې حدیث کې دا مذکور دي چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معمول دا وو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د جمعې مونځ نه پس دوه رکعته کور کې کول، دې حدیث کې دې مسئلې نه یې بحث ونه کړو چې د جمعې نه مخکې څو رکعاته دي، ځکه دې اجمالي روایت نه یو مسلک نه ثابت کېږي، څنګه چې یې شوافع ثابت کوي د جمعې د سنتو بحث د دې باب حدیث نمبر (۸) په ضمن کې راتلونکی دی. (المرقات ۳/۲۴۲).

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نوافلو مکمل نقشه

﴿٤﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِهِ

عبدالله بن شقیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي ما د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نفلو باره کې تپوس وکړو

فَقَالَتْ : كَانَ يُصَلِّي فِي بَيْتِي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا ثُمَّ يَخْرُجُ

هغې وویل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما په کور کې دماسپښین څلور رکعاته کول بیا به یې (جومات) ته تللو،

فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ يَدْخُلُ . فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ

خلکو سره به یې دماسپښین فرض مونځ کولو بیا به یې کورته تشریف راوړو او دوه رکعته مونځ به یې کولو

وَ كَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ ثُمَّ يَدْخُلُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ

او دمابنام مونځ به یې خلکو سره کولو او بیا به یې تشریف راوړو دوه رکعته مونځ به یې وکړو همدارنګې

وَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْعِشَاءَ وَ يَدْخُلُ بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ

دماسخوتن مونځ به یې خلکو سره وکړو او بیا به یې زما کورته تشریف راوړو دوه رکعته مونځ به یې وکړو

وَ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ فِيهِنَّ الْوَتْرُ وَ كَانَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا

او شپه کې د تهجد مونځ به یې کله نهه رکعته کول دې کې وتر به هم شامل وو او د شپې ناوخته پورې به ولاړ

وَ لَيْلًا طَوِيلًا قَاعِدًا وَ كَانَ إِذَا قَرَأَ وَ هُوَ قَائِمٌ رَكَعَ وَ سَجَدَ

وو او په ناسته باندې به یې دیرو خت مونځ کولو کوم وخت چې یې په ولاړه مونځ کولو نو رکوع او سجده

وَ هُوَ قَائِمٌ وَ إِذَا قَرَأَ قَاعِدًا رَكَعَ وَ سَجَدَ وَ هُوَ قَاعِدٌ وَ كَانَ إِذَا

به یې هم په ولاړه کوله او چې کله په ناسته مونځ کولو نو رکوع او سجده به یې هم په ناسته کوله چې کله به

طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)(۱).
د سحر وخت شو نو دوه رکعته سنت به یې کول.
وَ زَادَ أَبُودَاوُدَ : ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ صَلَاةَ الْفَجْرِ.(۲)
ابوداود مزید دا الفاظ نقل کړي دي بیا به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جومات ته تشریف وړلو او هلته به یې خلکو سره د سحر فرض مونځ اداء کولو.

توضیح: ثم یدخل: دې حدیث کې واضح بیان دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سنتو د پاره کورته په اهتمام سره راتللو دې نه دا واضحه شوه چې افضل دا دی چې سنت کور کې اوشي اګر چې نوافل مسجد کې هم جائز دي او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت دي، خو کور کې نوافل کولو سره یوه فائده دا هم ده چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سنت باندې به عمل راشي. دویمه فائده دا ده چې کور کې به د عبادت سره برکت راشي. دریمه فائده دا ده چې ماشومانو او زنانو کې به د مونځ کولو رغبت پیدا شي او کور کې د مونځ ماحول جوړ شي. (المرقات ۳/۲۴۲).

تسعة رکعات: دلته د نهه(۹) رکعتونو تذکره ده د احنافو په نزد باندې شپږ رکعاته تهجد دي او درې رکعاته وتر دي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې مونځ کې په تعداد د رکعاتو کې مختلف روایات دي یو کې شپږ رکعاته دی او دغه شان نهه، او د لسو تذکره هم ده او د یولسو تذکره هم ده دې کې څه منافات نشته، ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مختلف وختونو کې مختلف انداز سره تهجد کړي دي. (المرقات ۳/۲۴۲).

رکع وسجد وهو قائم: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تهجد و کولو دري طریقې وی: (۱) مونځ به یې مکمل په ولاړه کولو (۲) مونځ به یې مکمل په ناسته کولو (۳) قرآت به یې په ناسته کولو بیا به ودریدو او رکوع ته به لاړو او بیا به سجدې ته تللو. زیر بحث حدیث کې د دې دریم صورت د عکس نفی ده دا اصل کې څلورم صورت دی یعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسی مونځ نه کولو چې قرآت په ولاړه او سجده یې په ناسته کړې وی او یا معمولي ښکته کیدو سره یې رکوع کړی وی د دې صورت نفی دې حدیث کې مقصوده ده. (المرقات ۳/۲۴۲).

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۰٤ رقم الحديث: ۱۰۵-۷۳۰.

(۲) أخرجه أبو داؤد ۲/٤۳ رقم الحديث: ۱۲۵۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

د سحر د سنتو تاکید او فضیلت

﴿۵﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام په نوافلو کولو کې یو باندې هم داسې محافظت او مداومت نه کولو

أَشَدَّ تَعَاهُدًا مِنْهُ على رَكْعَتَي الْفجْر. (متفق عليه)[1].

لکه څنګه چې یې د سحر دوه رکعاتو سنتو باندې مداومت کولو.

﴿٦﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «رَكْعَتَا الْفَجْرِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل د سحر دوه رکعاته سنت دا بهتر دی د دنیا او د

فِيهَا» . (رَوَاهُ مُسلم)[2].

هغه څه نه چې په دنیا کې دي.

د مابنام فرض مونځ نه مخکې د دوه رکعتونو نفلو حکم

﴿۷﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلُّوا قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ

عبدالله ابن مغفل راوي دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي د مابنام فرض مونځ نه مخکې دوه رکعته

قَالَ فِي الثَّالِثَةِ : « لِمَنْ

کوئ (حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا الفاظ دوه ځلې وفرمایل اوبیا) یې په دریم ځل دا خبره وکړه چې څومره مو

شَاءَ» . كَرَاهِيَةَ أَنْ يَتَّخِذَهَا النَّاسُ سنة. (متفق عليه)[3].

خوښه وي کوئ یې دوجې دبد ګنلو ددې خبرې چې وبه ګرځوي خلک دا یو سنت.

توضیح: صلوا: یعني مابنام آذان نه پس فرضو نه مخکې دوه رکعاته کوئ خو ضروري نه دی چې هر یو کس دې داسې کوي مابنام فرضو نه مخکې دوه رکعاته کولو او نه کولو باره کې دري قسمه روایات موجود دي:(۱) اول هغه روایات دي چې هغې کې د کولو بیان دی. (۲) دویم هغه روایات دي چې هغې کې د نه کولو بیان دی. (۳) دریم هغه روایات دي چې دواړو کې اختیار دی دې وجې نه فقهاو کې

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۰۱ رقم الحديث:۹۵-۷۲٤.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۷۵ رقم الحديث : ٤۱٦ ، وأحمد في المسند ٦/۵۰.

(۳) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۱۱۰،رقم الحديث : ٦۲۷، ومسلم في الصحيح ۱/۵۷۳ رقم الحديث:۳۰٤-۸۳۸، وأبو داود ۲/۵۹ رقم الحديث :۱۲۸۱.

معمولي اختلاف دی. (المرقات ۳/۲۴۵).

د فقهاو اختلاف: د امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد باندې دا دوه رکعاته مستحب دي خو موجوده عرب يې د فرضو په شان ضروري ګڼي.

د جمهورو په نزد باندې دا دوه رکعاته په درجه د استحباب کې نه دي، بلکې صرف اباحت دی او دې شرط سره دا کول مباح دي چې د مانښام فوت کيدو ويره هم نه وي او چې تاخير په کې هم نه رائي، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه صحابه ددې نه منع کړي دي او نه يې ورته حکم ورکړی، بلکې صحابو ته اختيار وو. دلته د استحباب دليل هم موجود نه دی ددې مسئلې تفصيل باب فضل الاذان حديث نمبر (۹) لاندې تير شوی دی. ملا علی قاري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي څو روايات ددې دوو رکعتونو متعلق وارد دي، لهذا دا دوه رکعاته مستحب دي، لکه چې د احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ او اسحاق بن راهويه مسلک دی فرمايي: **والاصح مستحب**. (مرقات ج۳ ص ۱۱۲) (المرقات ۳/۲۴۵).

بهتر دا دي کوم ځای کې د کولو موقع ملاويږي کولی شئ او د نفلو ثواب به وي کوم ځای کې چې موقع نه ملاويږي نو د موقعې جوړيد و ضرورت نشته لکه هندوستان او پاکستان کې نه کيږي سلفي عرب دا د واجب يا فرضو په درجه کې اخستي، حالانکې حالانکه هغوی د سنت مؤکد و پرواه نه کوي.

۱۲ جمادی الاولی ۱۴۱۰ھ

د جمعې مونځ نه مخکې اووروسته څومره رکعاته سنت دي

﴿۸﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّيًا
ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي تاسو کې چې څوک مونځ کوونکي وي
بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا ». (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[1] وَ فِي أُخْرَى لَهُ
دجمعې په ورځ د مونځ نه پس هغه ته په کار دي چې څلور رکعاته دې وکړي. د مسلم په يو بل روايت کې
قَالَ : « إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ
دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل تاسو کې چې څوک د جمعې مونځ وکړي هغه ته په کار دي چې ددې نه
فَلْيُصَلِّ بَعْدَهَا أَرْبعا ».
پس څلور رکعاته سنت وکړي.

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۲/۶۰۰ رقم الحديث: ۱۷-۸۸۱، وأبو داود ۱/۱۷۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضیح: مصلیاً بعد الجمعة: دلته دوه مسائل دي دواړو کې د فقهاو اختلاف دی یوه مسئله دا چې د جمعې مونځ نه مخکې څو رکعاته سنت دي؟ او دویمه مسئله داده ددې نه پس د سنتو تعداد څومره دی؟.

د فقهاو اختلاف: د علامه ابن قیم او د اهل ظواهرو په نزد د جمعې نه مخکې څلور رکعاته کول بدعت دی. ابن تیمیه رَحِمَهُ اللهُ ددې مسئلې په حمایت کې سخت حکم چلولی دی. (المرقات ۳/۲۴۶).

دی. ابن تیمیه رَحِمَهُ اللهُ ددې مسئلې په حمایت کې سخت حکم چلولی دی. (المرقات ۳/۲۴۶).

څلور ائمه او ټول فقهاء کرام وایي چې څنګه سنن بعد الجمعة څلور رکعاته ثابت دي دغه شان قبل الجمعة څلور رکعاته هم ثابت دي. (المرقات ۳/۲۴۶).

دلائل: اهل ظواهر غیر مقلدین او علامه ابن قیم او ابن تیمیه خپل استدلال کې فرمایي چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې د جمعې د پاره آذان کیدو او هغه آذان هغه وخت کیدو چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه شروع کیده او خطبې نه مخکې څلورو رکعاتو سنتو کولو د پاره وخت نه وو، څنګه به یې کوی بیا چې خطبه ختمه شي دغه وخت هم د سنت کولو نه دی چې د څلورو رکعاتو د پاره وخت نه وي نو کول هم ثابت نه دي چې ثابت نه دي، نو بدعت دی.

د جمهورو د پاره دلائل شته: (۱) اولني دلیل یې د حدیث حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دلیل دی چې امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ په مشکل الآثار کې نقل کړی دی چې ددې الفاظ دا دي: **من کان منکم مصلیاً فلیصل قبلها اربعاً و بعدها اربعاً.** (۲) دویم دلیل د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث دی ابن ماجه نقل کړی دی الفاظ یې دا دي: (**قال کان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یرکع قبل الجمعة اربع رکعات لا یفصل بینهن بشيء**) دا دواړه روایات سنن قبل الجمعة باندې بنکاره دلیل دی. (۳) دغه شان کومو روایاتو کې چې قبل الزوال څلور رکعاته لوستلو ذکر دی هغه هم دلیل د جمهورو دی، ځکه چې هغه هم سنن قبل الجمعة ته شامل دي دغه شان ماسپخین مونځ نه مخکې څلور رکعاته سنت ذکر دي دې نه هم جمهور استدلال کوي، ځکه چې د جمعې مونځ د ماسپخین بدل دی. او ددې قائم مقام دی کله چې ماسپخین مونځ نه مخکې د څلورو رکعتونو واضح ثبوت دی د جمعې نه مخکې هم د څلورو رکعتونو سنت ثبوت ملاو شو، ځکه چې د دواړو وخت یو دی دغه شان د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د عمران بن حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه آثار منقول دي دي کې د څلور رکعتونو ثبوت دی او ترمذی کې نقل کړي دي. (المرقات ۳/۲۴۶).

خلاصه: کله چې څلورو سنتو قبل الجمعة باندې احادیث موجود دي نو تعامل د صحابو او آثار د دوي هم موجود دي او د فقهاو دي باندې اتفاق هم موجود دی بیادې ته بدعت ویل مناسب نه دي.

جواب: د اهل ظواهرو او د دوي د موافقینو حضراتو د دلیل نه جواب دا دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کور نه مسجد ته بعد الزوال تشریف راوړو بیا منبر باندې کیناستو سره آذان به کیدو نو بعد الزوال کور نه راوتل او منبر باندې کیناستلو په منځ کې ضرور وقفه وي چې څلور رکعاته په کې وکړي خاصکر کله

چې صحابه وختي جمعې د پاره مسجد کې جمع کیدل او تیار به ناست وو وروستو مشاغل ډیر شو. حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په زمانه کې جمعې د پاره یو بل آذان هم شروع شو نن سبا ورته آذان اول ویل کېږي. فقهاو ددې نه پس اخیستل او خرڅول منع فرمایلی دي نن سبا غیر مقلدین دې آذان ته هم بدعت وایي الله تعالی دې دوي ته هدایت وکړي.

محاکمه او فیصله: بعد اللَّتَيَّا والتي: لهذا که یو کس نه د جمعې نه مخکې څلور رکعاته سنت پاتې شو جمعې مونځ نه پس کولو اعاده نشته.

د جمعې مونځ نه پس د سنتو تعداد: اوس دا مسئله تیره شوه چې سنن بعد الجمعة تعداد څومره دی آیا څلور رکعاته دي یا شپږ دې کې فقهاء احناف خپل منځ کې اختلاف دی.

د فقهاو اختلاف: امام صاحب او امام محمد رحمهما الله په نزد باندې د جمعې نه پس څلور رکعاته سنت دي. او د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ یو قول هم داسې دی. د ابو یوسف رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د جمعې نه پس شپږ رکعاته سنت دي دوه یو سلام سره دي او څلور بل سلام سره دي.

دلائل: دطرفینو دلیل دازیر بحث حدیث دی چې خپلی مدعی باندې واضح دلیل دی هغې کې **فلیصل اربعاً** الفاظ دي ددې حدیث یو بل روایت کې داسې الفاظ دي: **اذا صلی احدکم الجمعة فلیصل بعدها أربعًا.** د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللَّهُ دلیل د صحابه کرامو هغه ټول آثار دي چې شپږ رکعتونو ذکر په کې راغلی دی او د صحابه کرامو په دې باندې عمل وو، ابن ابی شیبه خپلو سندونو سره بیان کړي دي او وایي چې د حضرت علي او د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا روایت کې دوه دي، حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت کې څلور ذکر دي، د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت کې شپږ ذکر دي عبد الرحمن سلمی سنن بعد الجمعة په باره کې وایي: (**علمنا ابن مسعود ان نصلی بعد الجمعة اربعا فلما قدم علي ابن ابی طالب علمنا ستا**)

دروایاتو تطبیق: کومو کې چې بعد الجمعة دوه رکعاته وي هغه ادنی سنتو باندې محمول دی کومو آحادیثو کې چې څلور ذکر دي هغه کمال سنت باندې محمول دی یعنې رومبی دوه بیا څلور نو کمال شپږ پورې ورسید و مثلاً یو کس یو سلام سره دوه رکعاته سنت وکړل نو دوه رکعاته سنتو والا حدیث باندې عمل اوشو بیا یې څلور وکړل نو څلورو والا حدیث باندې عمل راغی او چا چې د شپږو قول کړی دی دا مجموعه شپږ هم دي، لهذا آحادیثو مینځ کې تعارض هم نشته او د آحادیثو د آثارو سره هم تعارض نشته دا اعداد دي دا هم دي هغه هم دي یو کې د بل نفي موجود نه ده.

امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ څلورو ته ترجیح ورکړې ده او امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللَّهُ شپږو ته ترجیح ورکړې ده، عام مشائخ احناف شپږ رکعتونو والا ته ترجیح ورکوي او دا د احنافو په نزد باندې معمول به دی په دې خو څلورو نه پس دوه سنت زوائد دي. اوس که شپږ رکعاته دي، نو فرضو نه پس

Maktaba Tul Ishaat.com

دوه به مقدم وي او څلور. د احنافو محقيقن علماو خيال دا دی چې دوه مقدم کړی شي د متقدمينو خيال دا دی چې څلور مقدم کړی شي، دا اولی او غير اولی خبره ده جائز دواړه دي.
امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ څلور مقدم کولو والا قول راجح ګرځولی دی، ځکه چې يو حديث کې راغلي چې يو فرض مونځ نه پس ددې په صورت مونځ مناسب نه وي حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره کې دي فرمايي: (ان عمر كان يكره ان يصلى بعده صلوة الجمعة مثلها)(كذا في الطحاوی)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

د ماسپښين د سنتو فضيلت:

﴿۹﴾ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ قَالَتْ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُولُ : « مَنْ

ام جيبه وايي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان اوريدلی ؤ چې فرمايل يې کوم يو کس چې د

حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَ أَرْبَعٍ بَعْدَهَا

ماسپښين د فرضونه مخکې څلور رکعاته اوددې نه پس د څلورو رکعاتو حفاظت کوي (يعنې هغه په

حَرَّمَهُ اللهُ عَلَى النَّارِ » . (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ وَابْنُ مَاجَه) . (نسائي)[1].

پابندی سره کوي) نو الله تعالی به په ده باندې د دوزخ اور حرام کړي (داسې چې هغه به مطلقاً دوزخ ته نه غورځيږي يا دا چې دا به په دوزخ کې هميشه طور باندې نه وي.

توضيح: وأربع بعدها د ماسپښين د مونځ نه وروسته عامو روياتو کې د دوه رکعتو ذکر راغلی دی ليکن دلته دې روايات کې د څلورو بيان راغلی دی او بيا دلته دې کې دوه احتمالات دی يو دا چې دا څلور د دو سنتونو نه علاوه دي، ظاهره ده چې حديث نه ثابته شوې ده چې دا دوه رکعاته د دوه سنت مؤکده نه علاوه دي او داد مستحب او د نفلو په درجه کې دي او دويم احتمال دا دی چې د ماسپښين نه پس دوه رکعاته سنت همدې څلورو رکعاتو کې شامل دي د ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ د کلام نه معلومه شوې ده چې په دې څلورو رکعاتو کې د ماسپښين دوه سنته هم شامل دی دوه نفل او دوه سنت دي.
بهر حال بهتره داده چې دا څلور رکعته دی چې په دوه سلامونو سره ادا شي. (المرقات ۳/۲۴۷).

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « أَرْبَعٌ قَبْلَ

ابوايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي چې هغه څلور رکعته مخکې

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۵۲ رقم الحديث : ۱۲۶۹ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۹۲، رقم الحديث :۴۲۷.

الظُّهْرِ لَيْسَ فِيهِنَّ تَسْلِيمٌ
دماسپښين نه چې په مينځ کې سلام نه اړولی کېږي (يعني دهغه څلورو رکعاتو په کولو کې غوره داده چې
تُفَتَّحُ لَهُنَّ أَبْوَابُ السَّمَاءِ ». [1]
څلور رکعاته دې پوره کړی شي او په آخره کې دې سلام واړوي) نو دهغه دپاره د آسمان دروازې خلاصيږي.

توضيح: ليس فيهن تسليم، يعني د ماسپښين مونځ نه مخکې څلور رکعته په يو سلام اړولو سره دومره غټ فضيلت نه دی چې د اسمان دروازې او ددې قبوليت او رحمت دروازې خلاصيږي دلته هم دا احتمال دی چې ددې نه سنت مؤکده څلور رکعته مراد دی يا د زوال وخت کې څلور رکعته نوافل دي صحيح داده چې ددې نه زوال شمس وخت کې څلور رکعته نفل مراد دي د زوال شمس د وخت د څلورو رکعاتونو نه فضيلت په راتلونکو رواياتو کې هم ثابت شوی دی لهذا زير بحث روايت په همدې باندې حمل کول ډير مناسب دي. (المرقات ۳/۲۶۵).

د زوال په وخت کې د څلورو رکعاتو نفلو کولو فضيلت:

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ السَّائِبِ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي أَرْبَعًا بَعْدَ أَنْ تَزُولَ الشَّمْسُ
او عبد الله بن سائب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونځ کولو څلور رکعته پس د نمر پريوتو نه
قَبْلَ الظُّهْرِ وَ قَالَ : « إِنَّهَا سَاعَةٌ
پس او د ماسپښين د مونځ نه مخکې او فرمايل به يې داسې وخت د ن چې دې کې د نيکو اعمالو برې تلو
تُفْتَحُ فِيهَا أَبْوَابُ السَّمَاءِ فَأُحِبُّ أَنْ يَصْعَدَ لِي فِيهَا عَمَلٌ صَالِحٌ ». [2]
د پاره د آسمان دروازې خلاصيږي لهذا زما داخوښه ده چې په دې وخت کې زما نيک اعمال برې لاړ شي.

د مازيګر د مونځ نه مخکې د څلورو رکعتو نفلو فضيلت:

﴿۱۲﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « رَحِمَ اللهُ
ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې الله تعالى رحمت وروي په

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۵۳ رقم الحديث: ۱۲۷۰.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۳۴۲ رقم الحديث: ۴۷۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

امْرَءًا صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا ».(۱)
هغه کس باندې رحمت وروي چې د مازيګر د فرضو نه مخکې څلور رکعته مونځ وکړي.
﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ
حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر مونځ نه مخکې څلور رکعته مونځ کولو
يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ
اوفرق به يې کولو په مينځ ددې کې په سلام ليږلو سره په مقربو فرشتو او ددوي نه پس چې کوم مسلمانان
وَالْمُؤْمِنِينَ ". (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)(۲).
او مؤمنانوو په هغوي باندې.

توضيح: التسليم على الملائكة، ددې سلام نه مراد د التحيات او تشهد ويل دي مطلب دا دی چې څلور رکعاته به يې په يو سلام سره کول په مينځ کې به يې قعده اولی وه د مازيګر مونځ نه مخکې په دې سنن زوائدو کې دوه قسمه روايات دي او ځينو کې د څلور رکعاتو ذکر دی او ځينو کې د دوو رکعتو ذکر دی دواړه جائز دی د مونځ کوونکي خپل سهولت سره ددې تعلق دی. (المرقات ۳/۲۴۹).

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ رَكْعَتَيْنِ.(۳)
حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر مونځ نه مخکې دوه رکعته مونځ کولو.

د مابنام نه پس شپږ رکعتو کولو سره د دولس کالو عبادت ثواب ملاويږي:

﴿۱۵﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ
ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي چې کوم يو کس د مابنام مونځ وکړي
سِتَّ رَكَعَاتٍ لَمْ يَتَكَلَّمْ فِيمَا بَيْنَهُنَّ بِسُوءٍ
اوشپږ رکعته نفل داسې وکړي چې ددې په مينځ کې څه غلطي خبرې ونه کړي نو ددې رکعتو ثواب به دده

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۵۳/۲ رقم الحديث: ۱۲۷۱، وأخرجه الترمذي في السنن ۲۹۵/۲، رقم الحديث: ۴۳۰.
(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۴۹۳/۲، رقم الحديث: ۵۹۸.
(۳) أخرجه أبو داود في السنن رقم الحديث: ۱۲۷۲.

عُدِلْنَ لَهُ بِعِبَادَةِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ :
دپاره ددولسو کالو عبادت ثواب برابرشي ، امام ترمذي رَحِمَهُ اللَّهُ دا حديث نقل کړی او ويلي يې دي چې
هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عمر بن أَبِي خَثْعَمٍ وَ سَمِعْتُ
داحديث غريب دی ځکه چې مونږ دا حديث په غير د عمر بن خثعم د سند نه بل سند سره نه پيژنو او ما دا اوريدلي
مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يَقُولُ : هُوَ مُنكر الحَدِيث وَ ضَعَّفَهُ جِداً. (ترمذي)(1).
د محمد بن اسماعيل بخاري نه دا به يې ويل چې دا عمر ابن خثعم منکر الحديث دی او کمزوری يې ګرځولی.

توضيح : سنتي عشرة سنة ، يعنې چې کوم کس د مابنام مونځ وکړو او بيا يې ددې نه پس شپږو رکعته مونځ وکړو نو دې کس ته د دولسو کالو عبادت برابر ثواب ملاويږي خو ددې شرط دادی چې د فرضو او نفلو په مينځ کې څه فضول خبرې يې نه وي کړې په دې شپږو رکعاتو کې فرضو نه پس دوه رکعاته سنت مواکده هم شامل دی عالمان ليکي چې اول دې سنت وکړي او بيا دې ددې نه پس څلور رکعاته په دوو سلامونو سره يا د يو سلام سره وکړي نو دا ثواب به ورته حاصل شي حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د روايات نه معلومه شوه چې ددې مونځ نوم صلوة اوابين دی دا صورت د ټولو نه آسان دی ، دويم صورت دادی چې شل رکعته صلوة اوابين وکړي. (المرقات ۲۴۹-۳/۲۵۰).

بهر حال په تير شوې حديث کې چې کوم ثواب ذکر راغلي وو نو داد هم دغه شپږو رکعتونو فضيلت دی. داحديث امام ترمذي ډير زيات کمزوری ګڼلی ليکن علماو ليکلي دي چې په فضائلو د اعمالو کې دا کمزوری روايت هم قبول شوی دی خو شرط په کې دادی چې ددې په مقابله کې يو صحيح حديث هم نه وي يا د شريعت د څه قاعدې سره ددې تعارض نه وي همدارنګې دا حديث ابن خزيمه په خپل صحيح کې په قوي سند سره نقل کړی دی اوابن ماجه هم نقل کړی دی او بعضې علماو هم په دې عمل کړې دی.

د اوابينو انتهائي تعداد شل رکعته دی :

﴿١٦﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «مَنْ صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ
اوعائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا راويه ده وايي چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې کوم کس وکړو پس د مابنام
عِشْرِينَ رَكْعَةً بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)(2).
مونځ نه شل رکعته صلوة اوابين نو الله تعالى به دهغه د پاره په جنت کې کور جوړ کړي.

(1) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۹۹، رقم الحديث : ٤٣٥، وأخرجه ابن ماجه في سننه ١/٤٣٧ رقم الحديث: ١٣٧٣

(2) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۲۹۹، رقم الحديث :٤٣٥، وأخرجه ابن ماجه في سننه ١/٤٣٧ رقم الحديث: ١٣٧٣.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: دا حديث هم كمزورى دى خو په فضائل اعمالو كې د دې قبوليت راغلى دى همدارنګې د سلف صالحينو په دې باندې عمل دى د صلوة اوابينو په تعداد كې مختلف روايات راغلي دي چې د هغې نه اندازه كيږي چې د اوابينو تعداد كم از كم دوه ركعته دى او زيات يې شپږ ركعته دى او انتهائي شل ركعته دي چې چا څومره وكړل هَغومره ثواب به ورته ملاويږي.

د ماخوستن سنت:

﴿۱۷﴾ وَ عَنْهَا قَالَتْ : مَا صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ الْعِشَاءَ قَطُّ

او عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې كله به هم رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جومات كې د ماخوستن فرض مونځ وكړو

فَدَخَلَ عَلَيَّ إِلَّا صَلَّى أَرْبَعَ رَكْعَاتٍ أَوْ سِتَّ رَكْعَاتٍ. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

نو زما خوا ته به راتلو نو دا سنت څلور يا شپږ ركعته به يې ضرور كول.

توضيح: او ست ركعات: د ماخوستن د مونځ نه پس دوه ركعته سنت مؤكده دى چې د هغې ذكر مشهورو روايا تو كې راغلى دى، څه روايا تو كې د څلورو ركعتو ذكر راغلى دى او تير شوي روايا تو كې شپږ ركعاته ذكر شوي دي او كوم ځاى كې چې د څلورو ذكر راغلى دى نو په دې كې دوه سنت مؤكده دي او دوه نفل او چې كوم ځاى كې د شپږو ذكر دى نو هلته دوه سنت مؤكده دي او څلور نفل دي او چې چا څومره وكړل نو هغه هومره ثواب به ورته ملاويږي، تير شوي حديث كې او لفظ يا د شك د پاره دى او يا د تنويع د پاره دى. (المرقات ۳/۲۵۱).

د سحر د مونځ نه مخكې او د مابنام د مونځ نه پس د سنتو فضيلت:

﴿۱۸﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « إِدْبَارَ النُّجُومِ

و ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي (تسبيح) ادبار النجوم

الرَّكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ وَ إِدْبَارَ السُّجُودِ

دوه ركعته دى د سحر نه مخكې (يعني د سهر دوه ركعته سنت) مراد دي او (تسبيح) ادبار السجود د

الرَّكْعَتَانِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ)[2].

مابنامي نه پس دوه ركعته (يعني د مابنامي سنت) مراد دي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۷۱ رقم الحديث :۱۲۰۳.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۳۶۶، رقم الحديث :۳۲۷.۵

توضيح : ادبار : وروسته كيدونكي او لري كيدونكي او تلونكي ته وايي قرآن كريم كې په سورة طور كې يو آيت دی (سورة طور آيت : ۴۹) دلته د ستورو د تلو ذكر دی دا په وخت د راختو د سهر كې لهذا ادبار النجوم د ستورو د تلو نه پس د مونځ نه د سحر دوه ركعته سنت مراد دي ، همدارنګې په قرآن كريم كې سورة (ق) كې هم يو آيت دی : ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَأَدْبَارَ السُّجُودِ﴾ (سورة ق آيت : ٤٠) د سجود نه مراد فرض مونځ دی چې ددې فرض كول او تلو او ددې نه پس پاكي بيانولو نه مراد د مابنامي دوه ركعته سنت مؤكده دي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۱۹﴾ عَنْ عُمَرَ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُول : " أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ

عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دا فرمان اوريدلی دی چې څلور ركعته مونځ

قَبْلَ الظُّهْرِ بَعْدَ الزَّوَالِ تُحْسَبُ بِمِثْلِهِنَّ فِي صَلَاةِ السَّحَرِ.

مخكې د ماسپښين نه اوپس د زوال نه (ثواب او فضيلت كې) د تهجد و د وخت څلور ركعته مونځ كولو برابر

وَمَا مِنْ شَيْءٍ إِلَّا وَ هُوَ يُسَبِّحُ اللهَ تِلْكَ السَّاعَةَ

دي او دغه وخت (يعني د ماسپښين نه مخكې د لمر د زوال نه پس) ټول څيزونه د الله تعالى تسبيح اوپاكي

ثُمَّ قَرَأَ : ﴿ يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَ الشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِلّٰهِ وَهُمْ دَاخِرُوْنَ ﴾

(رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَالْبَيْهَقِيّ فِي شعب الْإِيمَان) (النحل آيت : ٨٤)[1]

بيانوي بيا يې دا آيت وفرمايلو : ﴿يَتَفَيَّأُ ظِلَالُهُ عَنِ الْيَمِينِ وَالشَّمَآئِلِ سُجَّدًا لِلّٰهِ وَهُمْ دَاخِرُوْنَ﴾

د مازيګر د مونځ نه پس د دوه ركعاته كولو حكم :

﴿۲۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: مَا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ عِنْدِي قَطّ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وه پريښي دوه ركعته پس د مازيګر نه كله هم چې د

ما سره (يعني زما په كور كې) ؤ ،

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ٥/٢٧٩، رقم الحديث : ٣١٢٨.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَفِي رِوَايَةٍ لِلْبُخَارِيِّ قَالَتْ: وَالَّذِي ذَهَبَ بِهِ مَاتَرَكهمَا حَتّٰى لَقِيَ الله.(۱)

توضيح: بعد العصر: د عصر نه پس نبي كريم ﷺ دوه ركعاته مونځ كړی دی، دی كې هيڅ شک نشته خو داد نبي كريم ﷺ خصوصيت دی ددې كول صرف نبي كريم ﷺ ته جائز وو د بل چا د پاره نه دا حكم دی او نه چا ته جائز دي ځكه چې د مازيګر نه پس نفل مونځ نه په احاديثو كې ممانعت راغلی دی صحابو حضراتو ته په دې كې شک شوی چې د ممانعت باوجود پيغمبر ﷺ دادوه ركعاته په خپله ولې كول چنانچه ام سلمه رضی الله عنها د حضرت محمد ﷺ نه پوښتنه وكړه چې ای د الله رسوله! تا خو ددې وخت د نفلو نه منع فرمايلې وه نو بيا يې ولې كوئ؟ نبي كريم ﷺ جواب كې ورته وفرمايل: چې يو پيره د ماسپښين نه پس دوه ركعته د مشغولتيا د وجې نه پاتې شوي وو نو ما د مازيګر نه پس وكړل مګر چې نبي كريم ﷺ به كله هم يو عمل په څه وخت كې وكړو نو هغه به په هغې باندې دوام كولو ددې د پاره چې الله تعالى ته به دا عمل خوښ راتلو دا معامله ده د مازيګر نه پس د دوه ركعتو نفلو سره اوشوه چې په شروع كې د يو ضرورت په وجه كړی شوې وو بيا په اختيار سره شروع شول داد امت كار نه دی داد نبي كريم ﷺ خصوصيت دی ددې نه د عربو سلفيانو ته تنبيه ده چې نبي كريم ﷺ د سنتو څومره اهتمام فرمايلي او دا خلک څنګه طريقې سره د سنت ضائع كوي. (المرقات ۳/۲۵۳).

۱۳ جمادي الاول ۱۴۱۰ھ

د مابنام د آذان نه پس دوه ركعاته نفلو كولو حكم:

﴿۲۱﴾ وَ عَنِ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ قَالَ : سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ الْعَصْرِ
مختاربن فلفل وايي چې مايوورځ دانس رضی الله عنه نه د مازيګر نه پس د نفل مونځ كولو په پاره كې تپوس وكړو
فَقَالَ : كَانَ عُمَرُ
نوهغوي رضی الله عنه وفرمايل چې دي معاملې په باره كې د عمر فاروق رضی الله عنه دومره سخته رويه وه چې د
يَضْرِبُ الْأَيْدِيَ عَلٰى صَلَاةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ
مازيګر نه پس نفل مونځ نيت تړلو والالاس به يې وهلو (يعنې دومره په سختۍ سره به يې په دغه وخت كې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/٦٤،رقم الحديث :٥٩١، ومسلم في الصحيح ۱/٥٧٢ رقم الحديث:٢٩٩-٨٣٥، وأبو داود ۲/٥٨ رقم الحديث :١٢٧٩، والنسائي ۱/٢٨٠، رقم الحديث: ٥٧٤ .

وَكُنَّا نُصَلِّيْ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوْبِ الشَّمْسِ قَبْلَ

منع کوله)او مونږ به د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام په زمانه کې دوه رکعته مونځ کولو پس د ده وبيد و دلمرنه مخکې

صَلَاةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْتُ لَهُ : أَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّيْهِمَا ؟

دمانبنام نه (ددې په اوريد وسره)مادانس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام به هم دا دوه رکعاته کول

قَالَ : كَانَ يَرَانَا نُصَلِّيْهِمَا فَلَمْ يَأْمُرْنَا

نو هغوي وفرمايل : چې مونږ به نبي عَلَيْهِ السَّلَام په مونځ ليدلو خو مونږ ته يې نه ددې د کولو حکم کولو او

وَ لَمْ يَنْهَنَا . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

نه يې مونږ د ددې د کولو نه منع کولو .

توضيح : که د مانبنام په مونځ کې وروستوالی راځي نو بيا دا دوه رکعاته کول مناسب نه دي اګر چې د خلفاء راشدينو معمول د نه کولو وو او چې وروستوالی په کې نه وي او د علاقې د خلکو د پاره باعث د تشويش او التباس نه وي او چې وخت وي نو بيا کول په کار دي په حديثو کې اختيار دی نو په اختيار کې څه زبردستي نشته چې څوک يې کوي نو ثواب به ورته ملاويږي چې چا ونه کړل نو مجرم نه دی دا مسئله مخکې په تفصيل سره بيان شوې ده . (المرقات ۳/۲۵۴).

﴿۲۲﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : كُنَّا بِالْمَدِيْنَةِ فَإِذَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ لِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ

اوانس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې مونږ په مدينه منوره کې وو په دغه وخت کې دا حال وو چې مؤذن به د مانبنام آذان

ابْتَدَرُوا السَّوَارِيَ فَرَكَعُوا رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى

کولونو (بعضې صحابه يا تابعين)به د مسجد کې ستنو طرف ته تلل او دوه رکعته مونځ به يې کولو تردې

إِنَّ الرَّجُلَ الْغَرِيْبَ لَيَدْخُلُ الْمَسْجِدَ

چې کوم مسافر کس به جماعت ته راتلو نو اکثرو خلکو به (چې يو اځې يو اځې) دوه رکعته مونځ کولو

فَيَحْسَبُ أَنَّ الصَّلَاةَ قَدْ صُلِّيَتْ مِنْ كَثْرَةِ مَنْ يُصَلِّيْهِمَا. (رَوَاهُ مُسلم)[2].

وليدل نو ليدونکو به دا ګومان کولو چې مونځ شوی دی (او اوس خلک سنت کوي).

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۷۳ رقم الحديث : ۸۳۶ - ۳۰۲.

(۲) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۷۳ رقم الحديث : ۸۳۷ - ۳۰۳

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۲۳﴾ وَ عَنْ مرثَد بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ : أَتَيْتُ عُقْبَةَ الْجُهَنِيَّ

مرثد بن عبدالله وايي چې زه د حضرت عقبة بن جهنی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (صحابي) په خدمت کې حاضر شوم او

فَقُلْتُ : أَلَا أُعَجِّبُكَ مِنْ أَبِي تَمِيمٍ

ده نه مې تپوس وکړو چې زه تا ته د ابو تميم (تابعي) يو عجيبه انګيز کار نه وايم هغه دا چې ابو تميمي د

يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ ؟ فَقَالَ عُقْبَةُ : إِنَّا كُنَّا

مانبام مونځ نه مخکې دوه رکعته مونځ نفل وکړل ، عقبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې دا مونځ خو مونږه (په

نَفْعَلُهُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ . قُلْتُ :

مونږه کې بعضې صحابو کله کله) د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې هم کول چې کله ما تپوس وکړو

فَمَا يَمْنَعُكَ الْآنَ ؟ قَالَ : الشُّغل . (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)[1].

چې بيا ددې مونځ کولو نه تاسو څه منع کړئ ؟ نو ويې فرمايل چې د دنيا مشغولتيا .

نفل مونځ کول په کور کې افضل دي :

﴿۲٤﴾ وَعَن كَعْب بن عجْرَة قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى مَسْجِدَ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ

کعب بن عجرة وايي چې يو ورځ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغې مسجد د بني عبد الاشهل ته او هلته يې د

فَصَلَّى فِيهِ الْمَغْرِبَ فَلَمَّا قَضَوْا صَلَاتَهُمْ

مانبامي فرض اوسنت مونځ وکړو نو چې کله بعضې خلکو خپل فرض مونځ وکړو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رَآهُمْ يُسَبِّحُونَ بَعْدَهَا

وليدل چې هغوي فرض مونځ کولو نه پس نفل مونځ (يعني د مانبامي سنت) يې هم هلته وکړل ، نبي

فَقَالَ: «هَذِهِ صَلَاةُ الْبُيُوتِ» .

عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ چې وليدل نو وي فرمايل : (چې داد مانبامي سنت يا مطلقا نفل مونځ) کور د پاره دی .

وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ وَالنَّسَائِيِّ قَامَ نَاسٌ يَتَنَفَّلُونَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَلَيْكُمْ بِهَذِهِ الصَّلَاةِ فِي الْبُيُوتِ.[2]

---

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٥٩/٣،رقم الحديث :١١٨٤، أخرجه أحمد في المسند ١٥٥/٤.

(٢) أخرجه أبو داود في السنن ٦٩/٢ رقم الحديث : ١٣٠٠ ، وأخرجه الترمذي في السنن ٥٠٠/٢، رقم الحديث :٦٠٣، وأخرجه ابن ماجه في المسند ٤٢٧/٥.

توضيح : **هذه صلوة البيوت** : يعني نفل او سنت داسې مونځونه دي چې په کور کې کول افضل او بهتر دي اګر چې په جمات کې کول جائز دي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جمات کې د مانښامي مونځ کړی او بيا يې سنت هم په جمات کې کړي دي لکه څنګه چې راتلونکي حديث (۲۵) کې راځي ، ځينو علماو ليکلي چې کور ته تلو کې د چا د څه مشغولتيا د وجې يا د هيريدو خطره وي نو بيا دې جمات کې وکړي او که داسې صورت ورته نه وي نو بيا ددې کور کې کولو کې ډيرې فائدې دي يوه فائده داده چې بچو ته به د مونځ شوق پيدا شي دوی ته به د مونځ عملي نقشه معلومه شي د مونځ سره په کور کې برکت راځي رحمت خداوندي نازليږي جمات د پاره به ځای جوړشي او دهر وخت د مونځ کولو موقع به ملاؤ شي او د ټولو نه لويه فائده داچې د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ په استحبابي فرمان باندې به عمل وشي . (المرقات ۳/۲۵۶).

د سنتو نه پس اجتماعي دعاء ثابت نه ده :

﴿۲۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيلُ الْقِرَاءَةَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ
ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دومره اوږد قرائت نه دی کړي په دوه رکعتو سنتو
بَعْدَ الْمَغْرِبِ حَتَّى يَتَفَرَّقَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۱).
کې پس د مانښام فرض مونځ نه تردې چې د جماعت خلک خپل خپل مونځ نه فارغ شي او لاړ شي .

توضيح : **حتى يتفرق اهل المسجد** : ددې حديث شريف نه ډيرې خبرې ثابتې شوي دي يو دا چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه سنت کول جمعې سره ثابت دي او دا جائز دي بيا ددې علت معلوم مولو څه ضرورت نشته چې د څه مجبوری د وجې نه يې په جمات کې سنت کړي دي ددې حديث نه دويمه دا خبره ثابته شوه چې د مانښامي په مونځ کې کله کله اوږد قرائت هم جائز دی ددې حديث نه دريمه خبره دا ثابته شوه چې پيغمبر عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به کله کله د مانښامي سنت په جماعت کې کول او قرائت به دومره اوچت وو چې د محلي خلک به د کورونو نه جمات ته تلل ، ددې نه صفا معلومه شوه چې د سنتو نه پس په هيئت اجتماعيه سره د بالالتزام دعا کول بدعت دی ځکه چې دا نا ممکنه او نامعقوله خبره ده چې خلک دې راجمع کړی شوی وي او د دعاء د پاره دې د کورونو نه واپس جمات ته راشي او د سنتو نه پس دعاء غواړي، تير شوی حديث د يو حق پرست سړي د پاره پوره هدايت دی . (المرقات ۳/۲۵۶).

مفتي الهند مفتي محمد کفايت الله په خپل کتاب **انفاس فرعي** کې پس د سنتونو متعلق ډير عمده تحقيق کړی دی او د جمع التزامي صورت يې بدعت ليکلی دی او په دې باندې يې د مختلفو ملکونو د

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۷۰ رقم الحديث : ۱۳۰۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

سلو علماو دستخط کړی دی، بهر حال عام حدیث نه ثابته ده چې سنت په کورونو کې کول افضل دي د قرآن او حدیث د پوهي د پاره د مفسرینو او محدثینو او د فقهاو د تصریحاتو او د تشریحاتو ضرورت دی دیو جدید دور خواهش پرست سړی بې ځایه تاویلات او تشریحات کافي نه دي. علماو لیکلي دي: **الاستدلال بالعمومات عند وجود السنة المخصوصة باطل** .یعنې کله چې د نبي کریم ﷺ خاص مسنونه طریقه موجود وي نو د دعاء د فضائلو د عمومي نصوصو نه استدلال کول باطل دي مثلا چې یو کس ووایي چې د دعاء لوي فضیلت دی لهذا د راجمع کیدو په طریقه سنتو پسې دعا دا باطله طریقه ده خو کله د څه وخت یا د څه خاص نه لاندې اګر چې یو کس د دعاء درخواست او یا طلب وکړو او مسلمان یې په کې غواړي نو دا یو نادر صورت او جدا څیز دی باقي دې نور الایضاح چې څه بیان کړي نو هغه د **ادعیه بعدالفرائض** او د **اذکار بعدالفرائضو** بیان دی د دې نه د سنتو نه پس د دعاء ثابتول د انصاف نه خلاف دی د تیر شوې حدیث هیرول نه دي په کار چې په هغې کې دا بیان دی چې نبي کریم ﷺ سنت به دومره اوږده شول چې محلي والا به کورونو ته به تلل چې کله به ټول خلک کورونو ته لاړو نو د سنتو نه پس به دعا کله او څنګه وشوه.

د فرضونه پس متصل د سنت ګولو وجه:

﴿۲۶﴾ وَ عَنْ مَكْحُولٍ يَبْلُغُ بِهِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « مَنْ
اومکحول (تابعي) دا روایت رسول الله ﷺ ته رسوي چې نبي علیه السلام وفرمایل چې کوم کس د
صَلَّى بَعْدَ الْمَغْرِبِ قَبْلَ أَنْ يَتَكَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ وَ فِي رِوَايَةٍ أَرْبَعَ
مانښام فرض یا سنت مؤکده مونځ وکړي او د دنیاوي خبرو نه اول دوه رکعته او یو روایت کې څلور رکعته
رَكَعَاتٍ رُفِعَتْ صَلَاتُهُ فِي عِلِّيِّينَ مُرْسلا.
مونځ وکړي نو دده مونځ علیین ته رسولی شي.
﴿۲۷﴾ وَ عَنْ حُذَيْفَةَ نَحْوَهُ وَ زَادَ فَكَانَ
او حذیفه رضي الله عنه نه هم داسې (یعني برنی حدیث) مروي دی لیکن دې روایت کې دا الفاظ هم دی چې
يَقُولُ : « عَجِّلُوا الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فَإِنَّهُمَا
نبي علیه السلام به فرمایل چې تاسو خلک د مانښام نه پس دوه رکعته سنت زر کوئ ځکه چې دا دواړه رکعته
تُرْفَعَانِ مَعَ الْمَكْتُوبَةِ» رَوَاهُمَا رَزِينٌ وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ الزِّيَادَةَ عَنْهُ نَحْوَهَا فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ.
د فرضو سره بره علیین ته ځي دا دواړه روایته رزین نقل کړي دي او بیهقي د حذیفه زائد الفاظ په شعب

الايمان کې دغه شان نقل کړي دي.

توضيح: بره حديث کې چې کوم د علييين ذکر راغلی دی نو معلومول په کار دي چې علييين د اوه آسمانونو نه بره د يو مقام نوم دی هغې کې د مسلمانانو روحونه وي او ددوي همیشه اعمال هلته رسي او ليکلی شي. د تير شوې حديث مطلب دا دی چې فرشتې کله فرائض وړي نو ددې سره سنت او نوافل هم وړي لهذا تاسو د فرضونه پس زر سنت کوئ ناوخته کوئ يې مه ځکه چې فرشتې دواړه قسمه اعمال بره وړي نو د فرضو په تکميل سره سنت کول په کار دي. لهذا دا ددې سره کول په کار دي احنافو د داسې قسم روایاتو نه د سنت په زر کولو باندې استدلال کړی دی، ليکن دومره زر به يې نه کوئ چې سلام واړوئ او اودريږئ حالانکه دا ناجائز او منع دي حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخکې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو کس کينولو او ورته يې وويل چې داد اهل کتابو طريقه ده لهذا مسلمانانو ته په کار دي چې د فرضونه پس څه ذکر وکړي او سنت دې ادا کړي د څه وروسته والي نه پس. (المرقات ۳/۲۵۷).

د سنتو او فرضونه پس څومره فاصله په کار ده:

﴿۲۸﴾ وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ قَالَ : إِنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ
د عمرو بن عطاء (تابعي) نه نقل شوې چې هغوي (يعنې عمرو) د حضرت نافع ابن جبير (تابعي) د
أَرْسَلَهُ إِلَى السَّائِبِ يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ رَآهُ مِنْهُ
سائب (صحابي) خواته بوتلو چې دده نه د هغه څيزونو پوښتنه وکړي چې کوم ليدلي وو د هغوي په مينځ
کې معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (او ددې نه يې هغوي منع کړې وو چنانچه عمرو سائب خواته لاړو او د هغه نه يې د
مُعَاوِيَةُ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ : نَعَمْ صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ فِي
هغه څيز تفصيل معلوم کړو) نو هغوي ورته وويل چې آو ما يو ځل د معاويه سره د جمعې مونځ وکړو په
الْمَقْصُورَةِ فَلَمَّا سَلَّمَ الْإِمَامُ قُمْتُ فِي مَقَامِي فَصَلَّيْتُ
مقصوره کې نو چې کله امام سلام واړولو نو زه هغه ځای کې چې کوم ځای کې د جمعې فرض مونځ شوی
وو اودريدم او د فرضو او د سنتو په مينځ کې مې د سره فاصله ونه کړه او د جمعې د وخت سنت مې وکړل
فَلَمَّا دَخَلَ أَرْسَلَ إِلَيَّ فَقَالَ :
کله چې معاويه د مونځ نه فارغه شو او خپل ځای ته لاړو نو ما پسې يې يو کس راولېږلو او دا يې وويل
چې اوس تاځه کړي نو کړي دې دي آئنده داسې مه کوه يعنې چې کنوم ځای کې دې فرض مونځ وکړو نو
لَا تَعُدْ لِمَا فَعَلْتَ إِذَا صَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ
په دغه ځای کې امتياز پيدا کړه بغير د نفلو مونځ مه کوه چنانچه چې کله ته د جمعه مونځ کوي نود جمعه

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلَا تَصِلُهَا بِصَلَاةٍ حَتّٰى تَكَلَّمَ
فرض مونځ د نورو نفلو يا قضاء مونځ سره مه يوځای کوه مګر په هغه وخت کې چې ته څه خبرې ونه کړې
أَو تَخْرُجَ فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ أَمَرَنَا بِذَلِكَ أَنْ لَا نُوصِلَ
يادجمات نه ونه وځې نوبيانبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مونږ ته د يوې خبرې حکم راکړی چې مونږ نه يوځای کوو
بِصَلَاةٍ حَتّٰى نَتَكَلَّمَ أَوْ نَخْرُجَ . (رَوَاهُ مُسلم)[1].
يو مونځ د دويم مونځ سره ترڅو چې په مينځ کې يې څه خبرې نه وي کړې يا د جمات نه ، نه وې وتلی.

توضيح : في المقصورة : حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله شهيدان کړی شو او حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې د قاتلانه حملې خطره زياته شوه نو حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جماعت ته لاړو او د مونځ کولو په وخت کې يې څه احتياط وکړو او د هغوی نه پس خلفاو هم احتياط وکړو ددې احتياط صورت دا وو چې د خليفه د پاره به په جماعت کې يو خاص کړی شوی ځای متعين کيدو چې هغې ته به عوام خلک نه راتلل داد هغه خاص ځای نوم مقصوره وو ځنګه چې نن سبا په حرمين شريفين کې د آذان خانې سره ځای وي . (المرقات ۳/۲۵۸).

اذا صليت الجمعة : دلته د جمعې قيد اتفاقي دي دا حکم صرف د جمعې سره خاص نه دي بلکې د هر يو مونځ سره خاص دی چې د هغې نه پس سنت وي ددې حديث نه معلومه شوه چې د فرض مونځ او سنت په مينځ کې فاصله کول مناسب دي بالکل اتصال مناسب نه دی ليکن انفصال کې اعتدال وي بالکل منفصل نه وي بيا دا حکم د سنت مؤکده او غير مؤکده ټولو د پاره دی بيا ددې فاصلې صورت اذکار او ادعيه هم دي ځای بدلول هم دي کور ته تلل هم دي خبرې کول هم دي په صف کې مخکې وروسته کيدل هم دي ددې ټولو صورتونو طرف ته اشاره يې **حتى تكلم او تخرج** سره کړې ده بعضې علماء وايي چې اذکارو او ادعيو سره څه فاصله نه راځي بلکې خبرې کول دي يا ځای بدلول په کار دي .

د جُمعې مونځ نه پس شپږ رکعته مونځ کول ثابت دي :

﴿۲۹﴾ وَ عَنْ عَطَاءٍ قَالَ : كَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا صَلَّى الْجُمُعَةَ بِمَكَّةَ
او عطاء وايي چې کله عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مکه کې د جمعې مونځ وکړونو چې کوم ځای کې به يې فرض مونځ

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۲/۶۰۱ رقم الحديث :۷۳-۸۸۳،وأبو داود في السنن ۱/۶۷۲ رقم الحديث : ۱۱۲۹ .

تَقَدَّمَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَتَقَدَّمُ فَيُصَلِّي أَرْبَعًا
کولو دهغې نه به اخواشوا و دوه رکعته به يې وکړل او ددې نه پس بيا اخواشوا و څلور رکعته مونځ به يې وکړو
وَ إِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ صَلَّى الْجُمُعَةَ
او چې کله به تاسو مدينه کې وي نو دا به د هغوی معمول وه چې د جمعې فرض مونځ به يې وکړو او خپل
ثُمَّ رَجَعَ إِلَى بَيْتِهِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَ لَمْ يُصَلِّ فِي الْمَسْجِدِ
ځای ته به يې تشريف يوړو او په کور کې به يې دوه رکعته مونځ وکړو په جمات کې به يې د فرضونه علاوه
فَقِيلَ لَهُ.
نور څه مونځ نه کولو چې کله د دوي نه ددې کور کې د کولو او په جمات کې د نه کولو د سبب تپوس وکړو
فَقَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُه)(رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)(1).
نو وی ويل : چې ددې وجې نه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به داسې کول.
وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ قَالَ: (رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ صَلَّى بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صلى بعد ذَلِك أَرْبعا).

توضيح : اربعا ،يعني حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چې کله په مدينه منوره کې د جمعې مونځ کولو نو ددې نه پس به بيا کور ته لاړو او دوه رکعته سنت به يې وکړل او چې کله به په مکه مکرمه کې وو نو د جمعې د فرضونه پس به د صف نه مخکې شو او دوه رکعته سنت به يې وکړل او بيا به خپلې خيمې ته لاړو نو څلور رکعته به يې سيوا وکړل چا تري تپوس وکړو نو هغوی جواب ورکړو چې د حضور کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا معمول وو . علما و د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې عمل په باره کې ليکلي دي چې په مدينه کې هغوی کور جمات سره نزدې وو نو هغوی به کور کې سنت کول او په مکه کې به هغه مسافر وو نو ځکه به هغه په جماعت کې نفل کول او بيا دا چې په مکه مکرمه کې ډير زيات فضيلت وو ددې وجې نه ددوو سره يې څلور زيات يو ځای کړل او کول به يې ددې نه د جمعې نه پس شپږ رکعاته ثابت دي او دا د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ مسلک دی او په دې باندې د احنافو فتوی ده . (المرقات ۳/۲۵۹).

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۶۷۲ رقم الحديث : ۱۱۲۹ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۳۹۹، رقم الحديث : ۵۲۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب صَلَاةِ اللَّيْل:

د شپې مونځ يعنې د تهجدو بيان:

قال الله تعالى: ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ عَسَى أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا﴾ (اسرائيل:٧٩).

د شپې د مونځ په باره کې د نبي کريم ﷺ مختلفې طريقې دي کله به يې ډير اوږد کولو کله به يې مختصر کولو کله به نبي کريم ﷺ ډير رکعتونه کول او کله به يې په کمو رکعتونو باندې اکتفاء کوله لهذا په دې کې وسعت دی چې کوم کس څنګه طريقې سره وکړل کومه طريقه چې يې خپله کړه د نبي کريم ﷺ د متابعت او د سنتو په اندازه ثواب به ورته ملاويږي. د نبي کريم ﷺ نه د ډيرو نه ډير ديارلس رکعاته ثابت دي دوه رکعته صلوة تحيه او دري وتر او اته رکعته تهجد اګر چې نبي کريم ﷺ نهه رکعته کړي نو دري وتر او دوه تحيه او څلور تهجد به يې کولو کومو رواياتو کې چې د يوولسو ذکر راغلی دی نو دري وتر او اته تهجد کيدی شي او چې دوه رکعته تحية الوضوء حساب شي نو بيا به شپږ تهجد جوړ شي دا اختلاف دی د شپو د اوږدېدو او د لنډېدو په وجه هم کيدی شي او د ستړيا والې او د آرام د وجې نه هم کيدې شي يا د کمزورۍ او د وترو اطلاق هم په صلاة الليل باندې کيږي ددې وجې نه طاقت د وجې نه هم ددې ذکر په دې رواياتو کې راغلي، دغه شان د شپې مونځ په حوالې سره د سهر دوه سنتو باندې هم د **صلوة الليل** اطلاق شوی دی دا اصطلاحي لفظ د تهجد و د پاره استعمال کيږي او يو د وريدل د روژې قيام الليل ذا الفاظ د تراويحو د پاره استعماليږي د تهجد د مونځ ډير فضيلت دی داد صلحاو او اتقياو علامت دی او په دې کې ډير برکت دی چا د تهجد والو په باره کې ډير خه ويلي دي:

الليل للعاشقين ستر يا ليت اوقاتها تدوم

اَلْفَصْل الأول:

د ماخوستن او د سهر په مينځ کې يوولس رکعاته:

﴿١﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَت: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى

عائشه رضي الله عنها وايي چې: نبي عليه الصلاة والسلام به اکثر مونځ کولو د ماسخوتن مونځ نه د فارغيدو نه تر

الْفَجْرِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُسَلِّمُ مِنْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ وَ يُوتِرُ

سهر مونځ پورې يولس رکعته هر دوهم رکعات باندې به يې سلام اړولو او بيا به يې وتر کول په آخر کې په

بِوَاحِدَةٍ فَيَسْجُدُ السَّجْدَةَ مِنْ ذَلِكَ قَدْرَ مَا يَقْرَأُ أَحَدُكُمْ خَمْسِينَ آيَةً قَبْلَ

يورکعت سره اوپه دې رکعت کې به يې دومره اوږده سجده وکړه چې يوکس به پنځوس آيتونه ويل مخکې

أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَ تَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ

دسراوچتولونه ييا به چې مؤذن آذان دسحرو کړونوغلی کيدلو به اوچې سحربه راوختويعنې رڼا به ولګيده

قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ اضْطَجَعَ

نوهغه به اودريدلو دوه سپک رکعاته يعنې د سحر سنت به يې وکړل او ييا به ددې نه پس لږ وخت د پاره

عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتّٰى يَأْتِيَهِ الْمُؤَذِّنُ لِلْإِقَامَةِ

به خپل ښي طرف باندې سملاستو تر دې چې مؤذن به راغلو هغوي خوا ته دتکبيرد پاره (يعنې د تکبير

فَيَخْرُجُ . (متفق عليه)[1].

ويلواجازت حاصلولود پاره) نونبي کريم ﷺ به مونځ د پاره مسجد ته تللو.

توضيح: **يوتر بواحدة**، ايتارد طاق په معنى باندې دى يعنې جفت شفعه به هغوى يو رکعت سره طاق جوړکړو وترو کې اختلاف را روان دى دلته يو رکعت وتر مراد نه دى بلکه طاق جوړيدو معنى سره دى. (المرقات ۳/۲۶۰).

فيسجد السجدة: يعنې وترو کې چې کله تاسو سجدې له لاړ شئ دومره پورې سجده کوئ څومره ساعت کې چې سړى پنځوس آيتونه ويلى شي ظاهر د حديث نه دلته معلوميږي چې حضور ﷺ به د تهجدو د مونځ سجدې داسې اوږدې کولې، دلته دا هم احتمال دى چې سجدو کې دا اوږدوالى صرف د وترو سره خاص دى. (المرقات ۳/۲۶۰).

ثم اضطجع، اضطجاع په طرف څملاستو ته ويلى شي حضور ﷺ به د حضرت عائشې رضي الله عنها په حجره کې ټوله شپه تهجد کول او د سحر وخت کې مختصر دوه رکعاته د سحر سنت کولو نه پس سترې والى ختمولو د پاره ملا نيغوله دې د پاره به په طرف څملاستو، غير مقلدين دې اضطجاع ته سنت وايي بلکې بعضې ورته واجب وايي، حضرت عبدالله ابن عمر رضي الله عنه دې ته بدعت ويلى دى او

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲،رقم الحديث : ۹۹٤، ومسلم في الصحيح ۱/۵۰۸ رقم الحديث:۱۲۲-۷۳٦، وأبو داود ۲/٤۸ رقم الحديث :۱٤٤۷، والنسائي ۳/۲٤۲، رقم الحديث: ۱۷۲٦ .

Maktaba Tul Ishaat.com

داسي کولو والا به يې په کانړو باندې ويشتلو او ددې نه به يې منع کولو (مصنف عبد الرزاق) (المرقات ۳/۲۶۰).

بعضې علماو دا اضطجاع مباح ګرځولې، بعضې وايي دا اضطجاع هغه کس د پاره ده چې تولې شپه تهجد کولو باندې سترې شي د دمه کيدو د پاره داسې کوي جائز دي صحيح او راجح دادی، چې اضطجاع د هغه چا د پاره ده څوک چې د شپې ډيره حصه د تهجد و مونځ کې تيروي سترې وي او کور کې د استراحت د پاره ځملي دا مباح او جائز دي حضور ﷺ د متابعت اراده هم وکړي او ثواب هم ملاؤ شي.

حضرت ابن عمر رضي الله عنه دې اضطجاع ته بدعت ويلي دي مثلاً يو کس د شپې تهجد مونځ هم ونه کړي سترې والی هم نه وي بيا د سحر سنت هم کور کې ونه کړي جمات کې يې وکړي او کور کې د دمې په ځای جمات کې دمه وکړي نو دا جمات کې خوب پغير د سترې والې دی حالانکې په دې کې دا کس د ثواب نيت هم کوي ددې بدعت کيدو کې څه شک دي غير مقلدين حضرات چې مسجد ته راشي د سحر سنت نه پس ملاسته کوي او د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه روايت نمبر ۱۹ نه استدلال کوي دې کې د امر صيغه ده حالانکه علامه ابن تيميه رحمه الله دې روايت ته باطل ويلی دی (كما في زاد المعاد ج ۱ ص ۸۲) بهرحال د احنافو نه شيخ عبد الحق رحمه الله دې دمې ته مستحب ويلی دی د شرائطو په رنا کې يې ويلي دي د غير مقلدينو په نزد دې امر عادي ته واجب ويل ډيره لرې خبره ده همدارنګې دا حضرات څومره چې ددې التزام کوي دا هم مناسب نه ده دا خلک کلک اوده کيږي او بغير اودس نه مونځ کوي د حضور ﷺ په خوب باندې قياس کول جائز نه دي همدارنګه دا حضرات په خوب کې خنې خنې اوازونه کوي اوده نه شي او بيا بغير د اودس نه مونځ کوي، د پيغمبر ﷺ په خوب باندې قياس کول جائز نه دي، ځکه چې د حضور ﷺ خوب ناقض الوضوء نه دی باقي د حضور ﷺ استغفار تعليم د امت د پاره وو يا درجات اوچتيدو د پاره وو يا خلاف اولی د ازالې د پاره وو يا عبوديت بنکاره کيدو د پاره وو. (اشعة اللمعات ۱/۵۴۳).

د سحر د سنتو نه پس حضور ﷺ کله هم په طرف باندې نه دی اوده شوی:

﴿۲﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَإِنْ كُنْتُ مُسْتَيْقِظَةً
عائشه رضي الله عنها وايي چې حضور ﷺ به کله د سحر سنت وکړل نو که زه به ويخه وم نو ماسره به

حَدَّثَنِيْ وَ إِلَّا اضْطَجَعَ . (رَوَاهُ مُسلم)[1].
يې خبرې کولې او چې زه به اوده شوم نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هم څملاستو.

توضيح :والا فاضطجع : يعنې که عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به ويده وه نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په خپله آرام د پاره په طرف باندې څملاستو که عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا به ويخه وه نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د طرف د څملاستو په ځای خبرې کولې ، دې حديث نه دا هم معلومه شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله کله د سنتو نه پس طرف باندې څملاستو ، د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دې باندې التزام او دوام نه وو ، دويمه خبره دا معلومه شوه چې د سحر د سنتو نه پس خبرې جائز وي خو دې د پاره دوه شرطونه دي : يو شرط دا چې بالکل د دنيا خبرې نه وي ځکه چې دنيا وي خبرو سره ثواب ختميږي ، دويم شرط دا دی چې که د خبرو ضرورت وي او سړی هغې ته محتاج وي جائز دي بغير د ضرورت نه دنيوي خبرې کولو سره ثواب ختميږي لکه څنګه چې فقهاؤ ليکلي دي . (المرقات ۳/۲۶۲).

﴿۳﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ اضْطَجَعَ عَلَى
عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله د سحر دوه رکعاته سنت وکړل نو څملاستو به په
شِقِّهِ الْأَيمن ".(متفق عليه)[2].
خپل ښي طرف باندې.

د دريې رکعاتو وتر و ثبوت :

﴿٤﴾ وَعَنْهَا قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنْهَا الْوِتْرُ
عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د شپې دياولس رکعته مونځ کولو ، په دې کې به وتر
وَ رَكْعَتَا الْفَجْرِ . (رَوَاهُ مُسلم)[3].
(دري رکعته) د سحر سنت دوه رکعته هم شامل وو .

توضيح : منها الوتر : دلته د دياولس رکعتو ذکر دی دې کې دوه رکعته د سحر سنت دي او دري وتر دي وترو سره دلته د دري لفظ موجود نه دی خو دريم روايت کې ثلاث لفظ موجود دی ، مسلم روايت کې

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۱۱ رقم الحديث:۱۲۳-۷۴۳، وأبو داود ۲/۴۸ رقم الحديث :۱۲۶۳.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۴۳،رقم الحديث : ۱۱۶۰، وابن ماجة ۱/۳۷۸، رقم الحديث: ۱۱۹۹. مسند أحمد ۲/۱۷۳.

(۳) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۲۰،رقم الحديث :۱۱۴۰، ومسلم في الصحيح ۱/۵۱۰ رقم الحديث:۱۲۷-۷۳۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

دي : **ثم اوتر بثلاث** ، شمائل ترمذي کې دي : **ثم يصلي ثلاثا** ، لهذا دا حديث د دري رکعاتو وتر و د ثبوت د پاره کافي دی هسې هم د ټولو علماو په نزد دري رکعته وتر افضل دي. (المرقات ۳/۲۶۳) .
دلته اته رکعت تهجد دي دوه رکعاته د سحر سنت دي او دري رکعاته وتر دي ټول يوولس رکعاته شو .

﴿۵﴾ وَعَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ : سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ .

مسروق وايي ما د حضور ﷺ د شپې مونځ په باره کې د عائشې رضي الله عنها نه تپوس وکړو (چې

فَقَالَت : سَبْعٌ

څومره رکعته به يې کول) عائشې رضي الله عنها راته وفرمايل کله به حضور ﷺ اوه رکعته کول او

وَ تِسْعٌ وَ إِحْدٰى عَشَرَ رَكْعَةً سِوٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ . (۱).

کله نهه او کله يوولس رکعته کول علاوه د سحر د سنتو نه .

د تهجدو نه مخکې دوه رکعاته نفل کول په کار دي :

﴿۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ لِيُصَلِّيَ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ

عائشه رضي الله عنها وايي چې حضور ﷺ به کله شپه کې مونځ کولو د پاره او درېدو د خپل مونځ شروع

بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ. (رَوَاهُ مُسلم) (۲).

به يې په سپکو دوه رکعاتو سره کوله .

توضيح : **افتتح** : يعني تهجدو نه مخکې به حضور ﷺ دوه سپک رکعتونه کول دي کې دا فائده ده چې سړی د خوب اثراتو نه پاک شي او چست شي بيا د تهجدو مونځ کوي ، دويمه فائده داده چې د **تحية الوضوء** او **تحية المسجد** حق ادا کيږي .(المرقات ۳/۲۶۴).

﴿۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ

ابو هريره رضي الله عنه راوي دی وايي چې حضور ﷺ فرمايي کله چې راپاڅي يو کس په تاسو کې د

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۲۰،رقم الحديث :۱۱۳۹.
(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۵۳۲ رقم الحديث : ۱۹۷- ۷۶۷.

اللَّيْلِ فَلْيَفْتَحِ الصَّلَاةَ بِرَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

خوب نه د شپې مونځ د پاره هغه ته په کار دي چې هغه د خپل مونځ شروع په سپکو دوه رکعتونو سره وکړي

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تهجدو مکمل نقشه :

﴿۸﴾ وَعَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ لَيْلَةً وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَهَا

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د خپلې ترور میمونې سره شپه تیره کړه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم ورسره وو څه

فَتَحَدَّثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَهْلِهِ سَاعَةً ثُمَّ رَقَدَ فَلَمَّا كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ أَوْ بَعْضُهُ

شپه تیرید وپورې نبي عَلَيْهِ السَّلَام خپلې ښځې سره خبرې وکړې بیا اوده شو کله چې دریمه حصه یا کمه حصه

قَعَدَ فَنَظَرَ إِلَى السَّمَاءِ فَقَرَأَ :

د شپې باقي پاتې شوه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پاڅید واوکیناستو آسمان طرف ته یې وکتل دا دعاء یې وویله

﴿ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَ الأَرْضِ وَ اخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَ النَّهَارِ لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ﴾

د آسمان او د ځمکې پیدا کیدو کې او د ورځې او شپې اختلاف کې بیشک عقل مندو د پاره ننبې دي

حَتَّى خَتَمَ السُّورَةَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الْقِرْبَةِ فَأَطْلَقَ شِنَاقَهَا

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوره سورت ولوستلو بیا پاڅید واومشک خواته لاړو اودهغې خوله یې خلاصه کړه

ثُمَّ صَبَّ فِي الْجَفْنَةِ ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوءًا حَسَنًا بَيْنَ الْوُضُوءَيْنِ لَمْ يُكْثِرْ

اوپیالې کې یې اوبه واچولې بیا نبه اودرمیانه اودس یې وکړو (یعنې ډیرې اوبه یې استعمال نه کړې

چې حد د اسراف ته ورسي ، او نه دومره کمې اوبه چې اندامونه پرې لامده نه شي بلکې درمیانه درجه

وَ قَدْ أَبْلَغَ فَقَامَ

اودس یې وکړو) بلکې اوبه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعضاو ته ورسیدې بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودریدو

فَصَلَّى فَقُمْتُ وَ تَوَضَّأْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ

اومونځ یې وکړو زه هم پاڅیدم ماهم داسې اودس وکړو اود حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چپ طرف ته اودریدم

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۵۳۲/۱ رقم الحديث : ۱۹۸- ۷۶۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَأَخَذَ بِأُذُنِي فَأَدَارَنِي عَنْ يَمِينِهِ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زما غوږ ونيولو خپل چپ طرف نه يې نبي طرف ته راواړولم كله چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام

فَتَتَامَّتْ صَلَاتُهُ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً ثُمَّ اضْطَجَعَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ

دیارلس ركعته پوره شوځملاستو چونكې نبي عَلَيْهِ السَّلَام داوده كيدو وخت كې خراټې كولو نولهذا اوده شو

وَ كَانَ إِذَا نَامَ نَفَخَ فَآذَنَهُ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ

اوخراټې يې شروع كړو دې وخت كې بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغى اودمونځ دوخت دشروع كيدو (اود جمعې د

فَصَلَّى وَ لَمْ يَتَوَضَّأْ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تياريدو) اطلاع يې وركړه نبي عَلَيْهِ السَّلَام بغير داودس نه (سنت) مونځ وكړو او نبي عَلَيْهِ السَّلَام

وَ كَانَ فِي دُعَائِهِ : « اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا وَ فِي بَصَرِي نُورًا

به دفرضو اوسنتو په مينځ كې دادعاء كوله : اى الله! واچوئ زما په زړه كې نور ، زما په ستركو كې نور ،

وَ فِي سَمْعِي نُورًا وَ عَنْ يَمِينِي نُورًا وَ عَنْ يَسَارِي نُورًا وَ فَوْقِي نُورًا وَ تَحْتِي نُورًا وَ

زما په غوږونو كې نور اوزما بنې طرف ته نور ، اوزما كس طرف ته نور اوزما برې نور اوزما بنكته نور اوزما

أَمَامِي نُورًا وَ خَلْفِي نُورًا وَ اجْعَلْ لِي نُورًا » . وَ زَادَ بَعْضُهُمْ : « وَ فِي لِسَانِي

مخې ته نور اوزما وروستو نور اوراكړې ماته رڼا ، بعضې راويانو دا الفاظ زيات كړي : او زما په ژبه كې

نُورًا » . وَ ذُكِرَ : " وَ عَصَبِي وَ لَحْمِي وَ دَمِي وَ شَعْرِي

رڼا پيدا كړه ، بعضې راويانو دا الفاظ نقل كړي : اوزما په اعصابو ، زما په غوښه ، زما په وينې ، زما په ويښتو

وَ بَشَرِي) . وَ فِي رِوَايَةٍ لَهُمَا : « وَ اجْعَلْ فِي نَفْسِي

اوزما په بدن كې نور پيدا كړې اودبخاري اومسلم يو روايت كې دا الفاظ هم دي : اى الله! زما په نفس كې هم

نُورًا وَ أَعْظِمْ لِي نُورًا ». وَ فِي أُخْرَى لِمُسْلِمٍ : « اللَّهُمَّ أَعْطِنِي نُورًا »[1].

نور پيدا كړه اوزما د پاره په نور كې اوچتوالي راوله ، دمسلم دويم روايت كې دي : اى الله! ماته راكړه نور .

توضيح : حضرت ميمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تروره ده ، ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نابالغ ماشوم دى خو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حركاتو ، سكناتو او عباداتو يې داسې نقشه اخيستې ده لوي لوي علماء او

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۱/۱۱۶، رقم الحديث : ۶۳۱۶، ومسلم في الصحيح ۱/۵۲۶ رقم الحديث: ۱۸۱-۷۶۳.

عقلاء يې په حيرت کې اچولې دي چې نه په هغه اودس کې اسراف وو نه کمی او نه نقصان وو او اودس مکمل هم وو چې تولو اعضاو پورې يې اوبه ورسولې. (المرقات ۳۹/۲۶۵).

نفخ: مضبوط کس چې کله اوده کيږي ښه ساه اخلي دې ته نفخ ويلی شي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داسې خرار نه کولو څنګه چې نن سبا خلک يې کوي، دې نقشې نه پس ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعاء مکمل نقشه په الفاظو سره پيش کړې ده، دلته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل ځان د پاره او خپل اعضاو د پاره د نورانيت دعاء غوښتلې ده دې کې: أعطني نورا الفاظو په شان هر ځای کې د نور اضافت خپل طرف ته فرمايلي. ددې نه معلومه شوه چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذات ځانله او نور جدا څيز دی ګيني اضافت د شئ الی نفسه ته لازم راځي يعنې ترجمه به يې داسې شي: ای الله رښا ته رښا عطاء کړه، رښا کې دننه رښا واچوي. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انسان او بشر دی او رښا د هدايت نه منور دی داد اهل حقو عقيده ده کوم چې د قرآن او آحاديثو مطابق ده.

محمد بشر ليس كالبشر و ياقوت حجر ليس كالحجر

دوترو دريې رکعاته:

﴿۹﴾ وَ عَنْهُ : أَنَّهُ رَقَدَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره کې منقول دي چې دا (يو شپه) د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره اوده شو نبي عَلَيْهِ السَّلَام
فَاسْتَيْقَظَ فَتَسَوَّكَ وَ تَوَضَّأَ وَ هُوَ يَقُوْلُ : ﴿ إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ
د شپې راپاڅيد و مسواک يې وکړو او اودس يې وکړو، بيا يې دا آيت ولوستو : ﴿إِنَّ فِيْ خَلْقِ السَّمَاوَاتِ
وَ الْأَرْضِ ... ﴾ حَتّٰى خَتَمَ السُّورَةَ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ
وَالأَرْضِ ﴾ آخر د سورة پورې، دې نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودريد و دوه رکعته مونځ يې وکړو دې
أَطَالَ فِيهِمَا الْقِيَامَ وَالرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَامَ حَتّٰى نَفَخَ ثُمَّ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ
کې قيام رکوع سجده اوږده وکړل بيا فارغ شو او ويده شو او خراټې به يې کولو دې ځلې يې داسې وکړل
(يعنې دوه رکعته به يې په ذکر شوي طريقې سره کول بيا به اوده کيدو، بيا به پاڅيد و او دوه رکعته مونځ
سِتَّ رَكَعَاتٍ كُلُّ ذٰلِكَ يَسْتَاكُ
به يې وکړو او اوده به شو) د غه شان نبي عَلَيْهِ السَّلَام شپږ رکعته وکړل دريو ځلو کې هر ځل به يې مسواک هم

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ يَتَوَضَّأُ وَ يَقْرَأُ هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ ثُمَّ أَوْتَرَ بِثَلَاثٍ. (رَوَاهُ مُسلم)[1].
کولو اواودس به يې هم کولو اوداآيتونه به يې هم لوستل بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ آخر کې دري رکعته وتر وکړل.

توضيح: ثم اوتر بثلاث: دا حديث واضح دليل دی چې وتر درې رکعته دي، غير مقلدينو حضراتو ته سوچ په کار دی چې د احاديثو نه څومره جدا اولري دي داد مسلم روايت دی دې کې تصريح موجود ده:

ثم اوتر بثلاث، يعني حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيا دري رکعته وتر وکړل، د حديث ظاهري الفاظ بنايي چې مينځ کې هيڅ سلام نه وو. (المرقات ۳/۲۶۹).

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دري رکعاته وتر کړي دي:

﴿۱۰﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ: لَأَرْمُقَنَّ صَلَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَةَ
زيد بن خالد جهني وايي چې (يوځل ما اراده وکړه چې) زه به نن شپه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ ته وګورم
فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ
(ما وکتل) اول حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه سپک رکعتونه وکړل بيا دوه رکعاته يې اوږده وکړل بيا حضور
طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَ هُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه رکعاته وکړل دهغه دوو رکعتونه کم وو کوم چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام دي نه مخکې کړي وو بيا
صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَ هُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا ثُمَّ
حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه رکعاته وکړل چې د مخکنيو دواړو رکعتونو نه کم وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه
صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَ هُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا [ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ
رکعاته وکړل چې د مخکنيو دواړو رکعتونو نه کم وو بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه رکعاته وکړل چې د
وَ هُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا] ثُمَّ أَوْتَرَ فَذَلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً. (رَوَاهُ مُسْلِمٌ)[2].
مخکنيو دواړو رکعاتونو نه واړه وو بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وتر وکړل دا ټول ديارلس رکعاته شو.
قَوْله: ثُمَّ صلى رَكْعَتَيْنِ وَ هُمَا دُوْنَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا أَرْبَعَ مَرَّاتٍ هَكَذَا فِي صَحِيحٍ
اودزيد داقول چې دوه رکعاته يې وکړل چې د اولنيو دوه رکعتونه کم وو، څلور ځل دغه شان په صحيح

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۳۰ رقم الحديث: ۱۹۱-۷۶۳.

(۲) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۳۱ رقم الحديث: ۱۹۵-۷۶۵، وأبو داود ۲/۹۹ رقم الحديث: ۱۳۶۶.

مُسْلِمٍ و أفراده مِنْ كتاب الْحميدِي و موطأ مَالك وَ سنَن أبي دَاوُد و جامع الْأُصُول.

مسلم کې صرف د حمیدي په کتاب کې او مؤطا مالک ،سنن ابي داؤد او جامع الاصول ټولو کې دي .

توضیح : ثم اوتر : دا حدیث هم په دې باندې دلالت کوي چې وتر درې رکعته دي ، دې حدیث کې د دوه دوه رکعاتو پنځه ځلې ذکر راغلی دی ، مشکوة اصل نسخه کې دې چې دا لس رکعاته جوړیږي بیا چونکه د وترو ذکر دی نو دې کې د درې رکعاتو ذکر نشته خو نتیجه کې چې کوم دیارلس رکعتو مجموعه ده دې نه په واضح طور سره دا ثابتیږي چې وتر درې رکعات دي او داد ټولو فقهاو په نزد افضل هم دي او کومو نسخو کې چې د رکعتینو ذکر شپږ ځلې راغلی دی نو دولس رکعته ثابتیږي او یو رکعت وتر وو ، خو احناف دې صورت کې رکعتین خفیفتین اصل شمار کې نه دي راوستې لهذا وتر درې رکعته ثابتیږي .(المرقات ۳/۲۶۹).

طویلتین درې ځلې تکرارد مبالغې د پاره دی خفیف رکعتین نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَام اوږد رکعات کړي دي .

نفل مونځ په ناسته باندې کول :

﴿۱۱﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : لَمَّا بَدَّنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د عمر آخري حصې ته ورسید و او (د بوډا والي د

وَ ثَقُلَ كَانَ أَكْثَرُ صَلَاتِهِ جَالِسًا .(متفق عليه)[1].

وجې نه) بدن مبارک یې درونده شوې وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اکثر نفل په ناسته باندې کول .

په تهجدو کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم سورتونه لوستل :

﴿۱۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: لَقَدْ عَرَفْتُ النَّظَائِرَ الَّتِي كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرِنُ

ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي زه پیژنم هغه سورتونه کوم چې یو شان دي او نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَام به جمع کول ،

بَيْنَهُنَّ فَذَكَرَ عِشْرِينَ سُورَةً مِنْ أَوَّلِ الْمُفَصَّلِ عَلَى تَأْلِيفِ ابْنِ مَسْعُودٍ

نو ذکر یې کړل شل سورتونه د اول مفصل نه په ترتیب د عبد الله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سُورَتَيْنِ فِي رَكْعَةٍ آخِرُهُنَّ (حٰمٓ الدُّخَانَ)

دغه سورتونه داسې جمع کول یو یو رکعات کې دوه دوه سورتونه لوستل،آخر کې دوه سورتونه حم الدخان

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۵۰۶ رقم الحديث : ۱۱۷- ۷۳۲ ، وأحمد في المسند ۶/۱۱۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

و (عَمَّ يَتَسَاءَلُوْنَ). (متفق عليه)[1]
او عم يتساء لون دي.

توضيح : النظائر : داد نظير جمع ده يو شان سورتونه مراد دي يعني هغه سورتونه كوم چې طوالت او اختصار كې يو شان دي .(المرقات ۳/۲۷۲).

على تاليف ابن مسعود : د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مصحف كې چې كوم ترتيب دى دا هغه طرف ته اشاره ده كوم چې مصحف عثماني ترتيب نه لري مختلف دى خو علماء ليكي چې هغه ترتيب باندې قرآن لوستل لازم دي كوم ترتيب چې حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قائم كړى دى ، حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ترتيب كې د شلو سورتونو ترتيب داسې وو لكه څنګه چې ابوداود كې ذكر دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به يو ركعت كې دوه دوه سورتونه داسې يو ځاى كول او لوستل به يې ، مثلاً سورة رحمان او سورة نجم يو ركعت كې سورة قمر او سورة الحاقة يو ركعت كې سورة معارج او سورة نازعات يو ركعت كې سورة مطففين او سورة عبس يو ركعت كې سورة نبأ او سورة مرسلات يو ركعت كې او سورة دخان او سورة تكوير يو ركعت كې دي مذكوره حديث كې دغه ترتيب طرف ته اجمالي اشاره ده ،(المرقات ۳/۲۷۲).
د علماو اجماعي فيصله ده نن سبا قرآن دغه ترتيب باندې لوستلى كيږي څنګه چې موجود دى ترتيب نزولي او ترتيب مصحفي كې فرق دى دا فرق ترتيب او تقديم او تاخير فرق دى قرآن كريم كې د كم او زيات فرق نه دى قرآن د الله تعالى په حفاظت سره محفوظ دى .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د اوږد مونځ ذكر

﴿۱۳﴾ عَنْ حُذَيْفَةَ : أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ
د حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره كې منقول دي چې هغه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په شپه كې مونځ كولو باندې ليدلې
وَ كَانَ يَقُولُ : « الله أكبر » ثَلَاثًا « ذُو الْمَلَكُوتِ وَ الْجَبَرُوتِ
(دهغه بيان دى)چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دري ځلې الله اكبر ويلو سره داوويل (الله تعالى د ملك،غلبې

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۲۵۵،رقم الحديث :۷۷۵، ومسلم في الصحيح ۱/۵۶۵ رقم الحديث:۲۷۹-۷۱۲.

وَ الْكِبْرِيَاءِ وَ الْعَظَمَةِ » ثُمَّ

د لوی والي او د بزرګی مالک دی) دې نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سبحانک اللهم ولوستلو بيا يې د

اسْتَفْتَحَ فَقَرَأَ الْبَقَرَةَ ثُمَّ رَكَعَ فَكَانَ رُكُوعُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ

سورة بقرة تلاوت شروع کړو ،دې نه پس يې رکوع وکړه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رکوع د قيام برابر وه او

فَكَانَ يَقُولُ فِي رُكُوعِهِ : « سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ » ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ فَكَانَ قِيَامُهُ

ويل به يې په رکوع سبحان ربي العظيم بيايې درکوع نه سر اوچت کړو او د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ قومه تقريبا د

نَحْوًا مِنْ رُكُوعِهِ يَقُولُ : « لِرَبِّيَ الْحَمْدُ » ثُمَّ سَجَدَ فَكَانَ سُجُودُهُ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِ

رکوع برابروه او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به وويل : لربي الحمد بيايې سجده وکړه او د سجدې مقدار د قومې برابر وو

فَكَانَ يَقُولُ فِي سُجُودِهِ: «سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى» ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ وَكَانَ يَقْعُدُ فِيمَا بَيْنَ

او سجده کې به يې ويل سبحان ربي الاعلى بيا يې د سجدې نه سر اوچت کړو او کيناستو به په مينځ د

السَّجْدَتَيْنِ نَحْوًا مِنْ سُجُودِهِ وَ كَانَ يَقُولُ : « رَبِّ اغْفِرْ لِي رَبِّ اغْفِرْ لِي »

دواړو سجدو کې دخپل سجدې برابر اودايې وويل: اى الله !زما مغفرت وکړي اى الله !زما مغفرت وکړي

فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ قَرَأَ فِيهِنَّ (الْبَقَرَةَ وَ آلَ

نو وي کړل څلور رکعاته دغه شان چې لوستل به يې په دغه (څلورو رکعاتو کې) سورة بقرة او سورة آل

عِمْرَانَ وَ النِّسَاءَ وَ الْمَائِدَةَ أَوِ الْأَنْعَامَ) شَكَّ شُعْبَةُ. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۱).

عمران ، نساء ، او مائده يا سورة انعام ، شعبه ته شک واقع شو (چې سورة مائده وه او که سورة انعام)

﴿۱۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «مَنْ قَامَ

عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: څوک چې قيام وکړي

بِعَشْرِ آيَاتٍ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِينَ وَ مَنْ قَامَ بِمِائَةِ آيَةٍ

په لسو آيتونو سره هغه به په غافلينو کې نه شمارل کيږي او څوک چې په سلو آيتونو سره قيام وکړي نو

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۵۴۴ رقم الحديث : ۸۷۴ .

Maktaba Tul Ishaat.com

كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِيْنَ وَ مَنْ قَامَ بِأَلْفِ آيَةٍ كُتِبَ

وبه ليكلي شي نوم دده په فرمانبردار وكې اوشوك چې په زرو آيتونو سره قيام وكړي نو وبه ليكلي شي

مِنَ الْمُقَنْطَرِيْنَ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

نوم دده په ډيرثواب كولو والا كې.

﴿۱۵﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : كَانَ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بِاللَّيْلِ

ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: دشپې مونځ كې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرائت مختلف دى كله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

يَرْفَعُ طَوْرًا وَ يَخْفِضُ طَوْرًا. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[2].

اوچت آواز سره تلاوت فرمايلو كله په مزه او تيټ آواز سره.

﴿۱۶﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَلَى قَدْرِ مَا

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې : نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په دومره آواز سره تلاوت كولو چې

يَسْمَعُهُ مَنْ فِي الْحُجْرَةِ وَ هُوَ فِي الْبَيْتِ. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[3].

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د حجرې دننه تلاوت كولو نو بهر صحن كې به كس تلاوت آوريدو.

دمونځ په قرائت كې برابري په كار ده:

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ : إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ

ابوقتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې بهر راوِوتو ويودم دابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خوا

يُصَلِّي يَخْفِضُ مِنْ صَوْتِهِ وَ مَرَّ بِعُمَرَ وَ هُوَ يُصَلِّي

كې تير شو چې په مزه آواز سره يې لوستل كول بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خوا تير شو چې

رَافِعًا صَوْتَهُ قَالَ : فَلَمَّا اجْتَمَعَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

په اوچت آواز سره يې لوستل كول ابوقتادة وايي كله چې دواړه سحر د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په خدمت كې حاضر شو

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱۱۸/۲ رقم الحديث : ۱۳۹۸.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۸۱/۲ رقم الحديث :۱۳۲۸.

(۳) أخرجه أبو داود في السنن ۸۱/۲ رقم الحديث : ۱۳۲۷.

قَالَ : « يَا أَبَا بَكْرٍ ! مَرَرْتُ بِكَ وَ أَنْتَ تُصَلِّي تَخْفِضُ صَوْتَكَ »

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ابوبكره ! مونږ ستا په خوا باندې تيرشو په مزه آواز سره لوستل دې کول،

قَالَ : قَدْ أَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ يَا رَسُولَ اللهِ

ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل اى د الله رسوله ! ما چې چا سره مناجات کوه هغه ته مې اورولو (يعنې زه د خپل

پروردګار په مناجات کې مشغول وم او هغه داورېدلو د پاره داوچت آواز محتاج نه دى هغه هر څنګه اوري)

وَ قَالَ لِعُمَرَ : « مَرَرْتُ بِكَ وَ أَنْتَ تُصَلِّي رَافِعًا صَوْتَكَ »

بيانبي عَلَيْهِ السَّلَام عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل : عمره ! مونږ ستا په خوا هم تيرشو تاپه مونځ کې په تيزه باندې

فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللهِ أُوقِظُ الْوَسْنَانَ وَ أُطْرُدُ الشَّيْطَانَ

لوستل کول عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل : يا رسول الله ! اوده خلک مې راپاڅول او شيطان مې تختولو حضور

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « يَا أَبَا بَكْرٍ ! ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا »

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده وارو خبرې واوريدې او ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې وفرمايل: ابوبكره! ته خپل آواز لږ نور اوچت

وَقَالَ لِعُمَرَ: «اخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد، وروى التِّرْمِذِيّ ، نَحوه)[1].

کړه او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يې وفرمايل : ته خپل آواز لږ ښکته کړه.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به يو آيت لوستلو کې توله شپه په ولاړه تيروله :

﴿۱۸﴾ وَ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ : قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ حَتَّى أَصْبَحَ بِآيَةٍ

ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ (يو شپه د تهجد وپه مونځ کې) ترسحر پورې ولاړوو

وَ الْآيَةُ : ﴿ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَ إِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ

او دا آيت يې لوستلو : که ته هغوي ته عذاب ورکړي ستاسو بندګان دي او که بخښنه ورته وکړي ته ډير

الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴾[2].

غالب او حکمت والا يې.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۸۱/۲ رقم الحديث : ۱۳۲۹ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۳۰۹/۲، رقم الحديث : ٤٤٧.

(۲) أخرجه النسائي في السنن ۱۷۷/۲ رقم الحديث : ۱۰۱۰ ، وابن ماجه في السنن ٤۳۹/۱ رقم الحديث : ۱۳۵۰ ، واحمد في المسند ۱٤۹/٥.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ

ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې سرور کائنات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايل: کله چې تاسو کړي يو کس په

رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِينِهِ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُد).[1]

تاسو کې دوه رکعته سنت د سحر هغه ته په کار دي چې خپل ښي طرف باندې څملي.

توضيح: ددې حديث تشريح مخکې تيره شوې ده غير مقلدين حضرات دې ملاستې ته واجب يا سنت مؤکده وايي، جمهور فقهاء ورته مباح او مستحب وايي او که غلو په کې وشي نو بدعت ترې جوړيږي. (المرقات ۳/۲۸۰).

الْفَصْلُ الثَّالِث:

يو نيک عمل باندې دوام بنه کار دی:

﴿۲۰﴾ عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: أَيُّ الْعَمَلِ كَانَ أَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟

مسروق وايي ما د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه تپوس وکړو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نزد خوښ څيز څه دی؟

قَالَتْ: الدَّائِمُ. قُلْتُ: فَأَيُّ حِينٍ كَانَ يَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ؟

هغې وفرمايل: دائمي عمل، ما يا ترې تپوس وکړو چې څه وخت به پاڅيد و نبي عَلَيْهِ السَّلَام د شپې د تهجد و

قَالَتْ: كَانَ يَقُومُ إِذَا سَمِعَ الصَّارِخَ. (متفق عليه)[2]

مونځ کولو د پاره؟ وی فرمايل: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه وخت اودريد و کله چې د چرګ آواز اوريدو.

توضيح: الصارخ: دوي نه مراد د چرګ د سحر آذان دی ددې د آذان دري مرحلې دي: د شپې په مينځ کې آذان کوي، بيا ددې نه لږ ساعت پس اذان کوي، او بيا د شپې آخرۍ حصه کې کوي، د چرګ معمول يو وي کينته مخکې وروستو کيدې شي خو د چرګ د سحر وخت يو وي خو شرط دا دی چې چرګ د قارم نه وي هغه ته معلومه نه وي چې د آذان وخت څه دی او نه د قارمې چرګ د هغې نه بچې ويستلې شي ددې وجه داده چې مخلوق ددې په پيدا کيدو کې هيڅ ډول دخالت نلري دی نو دا چرګ دغه شان ليونی او جاهل راووتو. (المرقات ۳/۲۸۰).

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۴۷، رقم الحديث: ۱۲۶۱، و الترمذي ۲/۲۸۱، رقم الحديث: ۴۲۰.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۱۶، رقم الحديث: ۱۱۳۲، ومسلم في الصحيح ۱/۵۱۱ رقم الحديث: ۱۳۱-۷۴۱، وأبو داود ۲/۷۷ رقم الحديث: ۱۳۱۷، والنسائي ۳/۲۰۸، رقم الحديث: ۱۶۱۶.

عبادت کې برابروالی محبوب دی :

﴿۲۱﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: مَا كُنَّا نَشَاءُ أَنْ نَرَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي اللَّيْلِ مُصَلِّيًا

انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی، وايي چې مونږ غوښتل چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې په مونځ باندې وويني

إِلَّا رَأَيْنَاهُ وَلَا نَشَاءُ أَنْ نَرَاهُ نَائِمًا

نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام به مو مونځ کولو باندې ليدلو او که دا مو غوښتل چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اودو وويني

إِلَّا رَأَيْنَاهُ . (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ)[1].

نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مو په اودو وليدلو .

په تهجدو کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معمول :

﴿۲۲﴾ وَعَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ: أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

حميد بن عبد الرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو صحابي بيان وکړه چې يو ځل زه د

قُلْتُ وَأَنَا فِي سَفَرٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَاللهِ لَأَرْقُبَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَةَ

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه سلفر کې وم نو وې ويل په الله قسم به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به زه د مونځ وخت کې وګورم

حَتَّى أَرَى فِعْلَهُ فَلَمَّا صَلَّى [illegible] صَلَاةَ الْعِشَاءِ [illegible] هِيَ تُسَمَّى الْعَتَمَةَ

چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام افعال وينم کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د ماسخوتن مونځ چې دې ته عتمه هم ويلی کيږي وکړو

اضْطَجَعَ هَوِيًّا مِنَ اللَّيْلِ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَنَظَرَ فِي الْأُفُقِ فَقَالَ:

نو لږ څملاستو لږ ساعت يې آرام وکړو بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَام بيدار شو او آسمان ته يې نظر وکړو د آليتين يې ووې

﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا﴾ [illegible] ﴿إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾ ثُمَّ

﴿رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا﴾ تر دې پورې چې دې ځای ته ورسيد و ﴿إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾ پورې

أَهْوَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى فِرَاشِهِ فَاسْتَلَّ مِنْهُ سِوَاكًا ثُمَّ أَفْرَغَ فِي قَدَحٍ مِنْ إِدَاوَةٍ

نبي عَلَيْهِ السَّلَام بستر ته متوجه شو او مسواک يې راوويستو دی نه پس يې ديو لمشک نه چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام

[illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible] [illegible]

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۲/۳، رقم الحديث: ۱۱۴۱.

[illegible] ۲۲۲/۲ [illegible] ۲۲۲/۲ [illegible] (۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

عِنْدَهُ مَاءً فَاسْتَنَّ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى
سره پروت وو پيالي کي يې اوبه راوويستې بيا د مسواک وهلو نه پس اودريدو او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ وکړو
حَتّٰى قُلْتُ : قَدْ صَلَّى قَدْرَ مَا نَامَ ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتّٰى
ما وويل څومره ساعت چې اوده وو هغه وخت په اندازه يې مونځ وکړو بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوده شو ما خپل زړه
قُلْتُ قَدْ نَامَ قَدْرَ مَا صَلَّى ثُمَّ اسْتَيْقَظَ
کې وويل څومره ساعت يې چې مونځ وکړو دومره وخت به اوده کيږي بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ راپاڅيدو او څه
فَفَعَلَ كَمَا فَعَلَ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ
چې يې مخکې کړي وو هغه يې اوس بيا وکړل يعني مسواک وغيره او څومره مونځ يې چې مخکې کړی وو
فَفَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَبْلَ الْفَجْرِ. (رَوَاهُ النَّسَائِيُّ)(۱).
هغومره يې اوس بيا وکړو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سحر مونځ نه مخکې دغه شان درې ځلې وفرمايل.

توضيح: دې حديث کې څه مشکل الفاظ دي په دې پوهيدل ضروري دي.

لارقبن: د نصر ينصر نه د انتظار او نګرانۍ په معنى سره دى مراد کتل دي، **لارمقن** الفاظ تير شوي دي. **العتمة**: د ماسخوتن زور نوم دى (المرقات ۳/۲۸۱).

هويا: **اى جينا طويلا** يعني ډير وخت پورې، **اهوى** مائل کيدل، لاس اوګدول او يو څيز لره حاصلول. (المرقات ۳/۲۸۱).

فاستل: استلال يو څيز راويستو ته ويلي کيږي دلته مسواک راويستل مراد دى. (المرقات ۳/۲۸۲).

اداوة د څرمنې لوښي ته ويل کيږي لکه مشک، (المرقات ۳/۲۸۲).

فاستن: د استنان نه دى او استنان غاښ ته ويلي کيږي، او استنان دغه غاښونو باندې مسواک وهلو ته ويلى کيږي، (المرقات ۳/۲۸۲).

دې حديث نه معلومه شوه چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل اعمال او بدن باندې څومره قابو وه چې پاڅيدل غوښتل نو پاڅيدو به او چې کله به يې غوښتل چې اوده شي نو اوده به شو. چا رشتيا ويلي دي:

يبيت يجافى جنبه عن فراشه ۞ اذا استثقلت بالمشركين المضاجع

---

(۱) أخرجه النسائي في السنن ۲۱۲/۳، رقم الحديث : ۱۶۲۶.

﴿۲۳﴾ وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُمَلَّكٍ أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَنْ

يعلى بن مملک باره کې منقول دي چې ده تپوس وکړو ام سلمه چې د نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بي بي ده د نبي

قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ صَلَاتِهِ ؟ فَقَالَتْ : وَمَا لَكُمْ

عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د قرائت او مونځ باره کې هغې وويل څه حاصليږي تاسو ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د قرائت بيانولو

وَ صَلَاتُهُ ؟ كَانَ

او مونځ کولونه (يعنې ستاسې دومره طاقت چرته دی چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د مونځ برابر قرائت وکړي) نبي

يُصَلِّي ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى ثُمَّ يُصَلِّي قَدْرَ مَا نَامَ ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى حَتَّى

عَلَيْهِ السَّلَامُ به مونځ کولو بيا چې څومره ناوخته پورې مونځ کولو دهغه وخت په اندازه به ويده کيدو تردې

يُصْبِحَ ثُمَّ نَعَتَتْ قِرَاءَتَهُ فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَةً مُفَسَّرَةً

چې سحرشي دې نه پس ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرائت بيان کړو تردې چې هغې بنه واضح

حَرْفًا حَرْفًا)[1]

کړو او يو يو حرف قرائت يې بيان کړو .

(۱) أخرجه أبو داود ۱۵٤/۲ رقم الحديث :۱٤٦٦، والنسائي ۲۱٤/۳، رقم الحديث:۱٦۲۹ ، والترمذي ۱٦۷/۵ رقم الحديث : ۲۹۲۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ:

د تهجدو په وخت کې دعاګانې:

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ : كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَتَهَجَّدُ

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې : حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله د شپې تهجد کولو د پاره اودريدو دا

قَالَ : « اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَاوَاتِ وَ الْأَرْضِ وَ مَنْ

دعاء به يې لوستله: ای الله! ستا د پاره تعريفونه دي، ته د آسمانونو او ځمکو او درولو والا يې او هغه څيز

فِيهِنَّ وَ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَ الْأَرْضِ وَ

کوم چې ددوي په مينځ کې دی او ټول تعريفونه ستا د پاره دي، ته رڼا کوونکي د آسمان او د ځمکې او د

مَنْ فِيهِنَّ وَ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ مَلِكُ السَّمَاوَاتِ وَ الْأَرْضِ

هغه څه يې چې ددوي په مينځ کې دي، او ټول تعريفونه ستا د پاره دي ته بادشاه يې د آسمان او د ځمکې

وَ مَنْ فِيهِنَّ وَ لَكَ الْحَمْدُ أَنْتَ الْحَقُّ وَ وَعْدُكَ الْحَقُّ

او د هغه څه چې ددوي په مينځ کې دي او ټول تعريفونه ستا د پاره دي، ته په حقه يې، ستا وعده حقه ده

وَ لِقَاؤُكَ حَقٌّ وَ قَوْلُكَ حَقٌّ وَ الْجَنَّةُ حَقٌّ وَ النَّارُ حَقٌّ وَ النَّبِيُّونَ حَقٌّ وَ مُحَمَّدٌ

ستا ملاقات حق دی، ستا کلام حق دی، جنت حق دی، دوزخ حق دی، ټول پيغمبران په حقه دي، محمد

حَقٌّ وَ السَّاعَةُ حَقٌّ اللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حق دی او قيامت حق دی، ای ربه! زه ستا تابعداريم، ما ستا ټول احکامات قبول کړي دي

وَ بِكَ آمَنْتُ وَ عَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ وَ إِلَيْكَ أَنَبْتُ وَ بِكَ

ما تا باندې ايمان راوړلو او تا باندې مې اعتماد او يقين دی ستا طرف ته ما رجوع وکړه ستا په مدد باندې

خَاصَمْتُ وَ إِلَيْكَ حَاكَمْتُ فَاغْفِرْ لِيْ مَا

(ددين) ددښمنانو سره جنګ کوم او ستا خوا ته مې فرياد راوړی دی بس ته زما هغه ګناهونه معاف کړي

قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ

کوم چې ما مخکې کړې او هغه ګناهونه هم کوم چې ما نه وروستو کړي هغه ګناهونه هم چې ما په پټه او

وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي أَنْتَ الْمُقَدِّمُ

په ښکاره باندې کړې وي او کوم چې زما غلطي دي هغه ته زما نه ښه پيژني او ته مخکې کولو والا يې

وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُك». (متفق عليه)[1].

او وروستو کولو والا يې ته معبود يې ستا نه سوا بل معبود نشته.

توضيح: يتهجد: دا جمله حال واقع ده د حديث ظاهري الفاظ نه او صاحب مشكوة كې دغه شان عنوان كيخودل معلوم دی د راتلونكي حديث دعاګاني د مونځ دننه دعاګاني نه دي بلكې د تهجد و د شروع كيدو وخت كې دعاګاني دي او دا احتمال هم دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تهجد و وخت كې دا دعاګاني ويلي وې. (المرقات ۳/۲۸۴).

﴿۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ افْتَتَحَ صَلَاتَهُ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې كله شپه كې[2] وذريدو نو مونځ شروع كيدو وخت

فَقَالَ: «اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ فَاطِرَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ

كې به يې دا دعاء لوسټله: اى الله! اى رب د جبرائيل، ميكائيل، اسرافيل، اى د آسمانونو او زمكو پيدا كولو

عَالِمَ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا

والا او اى پټ او ښكاره معلومولو والا ته به فيصلې كوي د خپلو بندګانو په هغه څيز كې چې

كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِكَ

هغوي اختلاف كوي فيصلې به كوي اى الله! زما رهنمائي وكړه په هغه حق كار كې چې كوم اختلاف كړې

إِنَّكَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ». (رَوَاهُ مُسلم)[3].

شوی دی څنګه چې ته غواړي نيغه لار بلودلو والا ته يې.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۳، رقم الحديث: ۱۱۲۰، ومسلم في الصحيح ۱/۵۳۲.

(۲) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۵۳۴ رقم الحديث [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۳﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "مَنْ تَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ

عبباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي څوک چې د شپې ويخ شي نو

فَقَالَ : لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ

داتسبيح دې وايي: الله نه سوا بل معبود نشته هغه يو اځې دی، هغه سره شريک نشته هغه د پاره بادشاهي ده

وَ لَهُ الْحَمْدُ وَ هُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ وَ سُبْحَانَ اللهِ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ

هغه د پاره ټول تعريفونه دي هغه هر څيز باندې قادر دی او پاک دی ټول تعريفونه الله د پاره دي او هغه نه

وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَ اللهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ

سوا بل معبود نشته الله ډير لوي دی ګناهونو نه بچ کيدل او د عبادت طاقت د الله په مدد سره دی او دې نه پس

قَالَ : رَبِّ اغْفِرْ لِي أَوْ قَالَ :

دا ووايي: ای زما ربه ما معاف کړې، يا يې دا وفرمايل بيا يې دعاء وکړه (يعنې راوي ته شک واقع شو

چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام خاص طور باندې د رب اغفرلي لوستل فرمايلي يا يې دا وفرمايل چې کومه دعاء غواړي

ثُمَّ دَعَا اسْتُجِيبَ لَهُ فَإِنْ تَوَضَّأَ وَ صَلَّى قُبِلَتْ صَلَاتُهُ" (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1].

لوله يې) دده دعاء به قبليږي بيا که اودس وکړي او مونځ وکړي د هغه مونځ به قبليږي.

توضيح: تعار من الليل: خوب نه پاڅيدلو او بيدار يدلو ته **تعار** ويلی کيږي بعضو ليکلي دي چې خوب کې خنې خنې ته **تعار** ويلی کيږي، ابن ملک ليکي: خوب نه چې کس بيداريږي دده د خولې نه بې اختياره آواز وځي دې ته **تعار** ويلی کيږي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دا خبره خو بنسوله کله چې آواز ووځي بهتره داده چې ذکر الله سره ووځي او سړی مذکوره دعاء ووايي دا دعاء په خپله نيکي او مقصود ده که چا ددې دعاء نه پس اودس وکړو او مونځ يې وکړو مونځ به يې قبول کيږي، دې نه معلومه شوه چې دا تولې دعاګانې د تهجد و نه مخکې لوستل کيږي. (المرقات ۳/۲۸۸).

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۹/۳،رقم الحديث : ۱۱۵٤، وأبو داود ۳۰۵/۵ رقم الحديث :۵۰٦۰.

الْفَصْلُ الثَّانِي:

﴿٤﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَيْقَظَ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ:

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به كله د شپې بيداريدو نو دا دعاء به يې لوستله: اى الله

« لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ

ستانه سوا بل معبود نشته ته پاک يې، اى الله! ستا تعريف سره تسبيح كوم زه ستا نه بخښنه غواړم د وجې

لِذَنْبِي وَ أَسْأَلُكَ رَحْمَتَكَ اللَّهُمَّ زِدْنِي عِلْمًا وَلَا تُزِغْ قَلْبِي بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنِي

دګناه زمانه اوستا د رحمت طلب ګاريم، اى الله! زما علم كې زياتى وكړى او مه كړوه زړه زما پس دهدايت

وَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ رَحْمَةً إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)[1].

موندلو نه اوخپل خوا نه زما د پاره رحمت عطاء كړي بيشک ته بخښوونكى يې.

﴿٥﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَبِيتُ عَلَى

معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: كوم مسلمان چې اوده كيږي په حالت

ذِكْرٍ طَاهِرًا فَيَتَعَارَّ مِنَ اللَّيْلِ فَيَسْأَلَ اللهُ خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ». (رَوَاهُ أَحْمد، وَأَبُو دَاوُد)[2].

د ذكر الله كولو سره اود شپې دبيدار يدو نه پس د الله نه د نيكئ دعاء وغواړي الله تعالى ورته نيكي وركوي.

﴿٦﴾ وَ عَنْ شَرِيقٍ الْهَوْزَنِيِّ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَسَأَلْتُهَا:

حضرت شريق الهوزني وايي: زه د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت كې حاضر شوم او هغې نه مې تپوس وكړو

بِمَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَفْتَتِحُ إِذَا هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ فَقَالَتْ:

چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې دبيدار يدو نه پس كوم څيز نه شروع كوله؟ عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي:

سَأَلْتَنِي عَنْ شَيْءٍ مَا سَأَلَنِي عَنْهُ أَحَدٌ قَبْلَكَ كَانَ إِذَا

تاسو مانه د دغه څيز تپوس وكړو چې د تاسو نه مخكې چا هم تپوس نه وو كړى حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې كله

---

(١) أخرجه ابوداود في السنن ٣٠٦/٥ رقم الحديث: ٥٠٦١.

(٢) أخرجه أبو داود في السنن ٣٢٢/٥ رقم الحديث: ٥٠٨٥.

Maktaba Tul Ishaat.com

هَبَّ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ عَشْرًا وَ حَمِدَ اللهَ عَشْرًا وَ قَالَ : « سُبْحَانَ اللهِ وَ بِحَمْدِهِ عَشْرًا »

د شپې بيدارېدو نو اول به يې الله اكبر لس ځلې ، الحمد لله لس ځلې ، سبحان الله و بحمده لس ځلې ،

وَ قَالَ : « سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ » عَشْرًا وَ اسْتَغْفَرَ اللهَ عَشْرًا وَ هَلَّلَ عَشْرًا

سبحان الملک القدوس لس ځلې ويل ، لس ځلې به يې استغفار ويلو ، لا اله الا الله لس ځلې ويل

ثُمَّ قَالَ : « اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ ضِيقِ الدُّنْيَا وَ ضِيْقِ

او لس ځلې به يې دا ويل : اى الله ! زه پناه غواړم په تاسره د تنګستيا او سختيو د دنيا نه او د تنګستيا د

يَوْمِ الْقِيَامَةِ » عَشْرًا ثُمَّ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)[1].

ورځې د قيامت نه ، بيا به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تهجد و مونځ شروع كولو .

الْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿۷﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ ثُمَّ يَقُولُ :

ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د شپې مونځ د پاره او دريد و الله اكبر ويلو سره به يې دا ويل

« سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَ تَبَارَكَ اسْمُكَ وَ تَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ

اى الله ! ته پاک يې مونږ ستا حمد بيانوو ستا نوم برکت والا دى ستا بزرګي اوچته ده ، او د ستا نه غير بل

غَيْرُكَ » ثُمَّ يَقُولُ : « اللهُ أَكْبَرُ كَبِيرًا » ثُمَّ يَقُولُ : « أَعُوذُ بِاللهِ السَّمِيعِ الْعَلِيمِ

معبود نشته بيايې الله اكبر كبيرا وويل او دا دعا به يې وويله : زه پناه غواړم د اوريدونکي الله او پوهيدونکي

مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ مِنْ هَمْزِهِ وَنَفْخِهِ وَنَفْثِهِ» (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ) وَزَادَ أَبُو دَاوُدَ

الله سره د شيطان مردود نه دهغه وسوسې نه او د تکبر نه او د ده د لوي شعر نبود لونه . او زيات کړي ابو داؤد په

بَعْدَ قَوْلِهِ : « غَيْرُكَ » ثُمَّ يَقُولُ : « لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ » ثَلَاثًا وَ فِي آخِرِ

خپل روايت کې دولا اله غيرک نه پس دا الفاظ : بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا اله الا الله د ړې ځلې وويله او آخر

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۳۲۲/۵ رقم الحديث : ۵۰۸۵ .

الحَدِيث : ثمَّ يَقْرَأُ .(۱)
دحديث الفاظ دادي بيا به يې وويلو يعني اعوذ بالله السميع العليم الخ لوستلو نه پس قرائت کولو.
﴿۸﴾ وَعَن رَبِيعَةَ بْنِ كَعْب الْأَسْلَمِيِّ قَالَ كُنْتُ أَبِيتُ عِنْدَ حُجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنْتُ
ربيعة بن كعب اسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حجرې سره خواته شپه تيره کړه ما به د نبي
أَسْمَعُهُ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْل يَقُول : « سُبْحَانَ
عَلَيْهِ السَّلَام آواز اوريد و حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله مونځ د پاره او دريد وه ډيرو خته پورې به يې ويل چې پاک
رَبِّ الْعَالَمِيْنَ » اَلْهَوِيَّ ثُمَّ يَقُولُ : « سُبْحَانَ اللهِ وَ بِحَمْدِهِ » الْهَوِيَّ .
دی الله چې د ټول عالم پروردګار دی، بيا تر ډيره پورې به يې ويل: پاک دی الله زه ددې د تعريف سره پاکي
رَوَاهُ النَّسَائِيُّ وَلِلتِّرْمِذِيِّ نَحْوُهُ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيح.(۲)
بيانوم. ترمذي هم داسې روايت نقل کړې دی او ويل به يې چې دا حديث حسن صحيح دی.

توضيح: الهوی : ناوخته پورې د لوستلو او ويلو په معنی دی مخکې تير شوی دی. (المرقات ۳/۲۹۲)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۴۹۰ رقم الحديث : ۷۷۵ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۲/۹، رقم الحديث : ۲۴۲، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۱/۲۶۴ رقم الحديث: ۸۰۴.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۴۴۸، رقم الحديث : ۳۴۱۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ التَّحْرِيضِ عَلٰى قِيَامِ اللَّيْلِ:

تهجدو باندې دراپارولو بيان:

تحريض راپارولو ، رغبت او ترغيب ورکولو په معنى دى دا څومره ابواب چې دي او يا تير شوې دي دې ټولو کې د تهجدو حوالې سره احاديث مذکور دي صرف عنواناتو کې بدلوالى دى البته زيربحث عنوان کې تهجد نه کولو او ټوله شپه خوب کولو والا د پاره وعيدات هم دي .(المرقات ۳/۲۹۴).

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

د شيطان انسان سره لوبې:

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ: " يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلٰى

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: دري غوټې ورکوي شيطان په

قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ عَلٰى كُلِّ عُقْدَةٍ : عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ

سردڅټ دیوکس باندې چې کله دشپې اوده کيږي هرې غوټې سره داوايي اووهي يې اوس ډيره شپه پاتې

فَارْقُدْ . فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَإِنْ تَوَضَّأَ

ده اوده شه که څوک ويخ شي او الله تعالى يادوي يوه غوټه خلاصيږي بيا چې هغه اودس وکړي نو دويمه

انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَإِنْ صَلّٰى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَأَصْبَحَ نَشِيطًا

غوټه خلاصه شي او دې نه پس چې مونځ وکړي نو دريمه غوټه خلاصه شي داسې کس سحر کړي صفا

طَيِّبَ النَّفْسِ وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ ".(متفق عليه)[1].

اوپاک نفس کيني داسې طريقې چې نه کوي نو سست او پليت نفس سبا کړي .

توضيح: قافية رأس: د سر څټ او وروستو حصې ته **قافية** ويلى کيږي شيطان دې کې درې غوټې وهي چې دا کس د سحر پورې غافل او اوده وي او نه د شپې مونځ وکړي او نه د سحر يوې يوې غوټې باندې شيطان منتر وايي ددې الفاظ داسې دي: **عليك ليل طويل فارقد** يعنې اوږده شپه پاتې ده ښه اوده شه

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۲٤،رقم الحديث :۱۱٤۲، ومسلم في الصحيح ۱/۵۳۸ رقم الحديث:۲۰۷-۷۷٦، وأبو داود ۲/۷۲ رقم الحديث :۱۳۰٦.

دې جملې ترکیب کې ملا علي قاري رَحِمَهُ اللّٰهُ مختلف اقوال ذکر کړې دي آسان ترکیب يې دا دی : **عليک** خبر مقدم او **ليل طويل** مبتدا مؤخر ده عبارت داسې دی : **ليل طويل باق عليک فارقده**. (المرقات ۲۹۴-۳/۲۹۵).

نشيطاً : يعني عبادت د پاره چالاکه شي ګويا **طيب النفس** ددې تفسير دی. (المرقات ۳/۲۹۵).

خبيث النفس : بدحاله او د ناراسته په معنی سره دی ګويا کسلان ددې تفسير دی ، د بعضې شارحينو خيال دی چې د شيطان لوبې د انسان سره په حقيقت باندې محمول نه دي بلکې دا يو تشبيهي کلام دی مراد ناراسته کول دي او عبادت نه غافله کول دي خو د بعضې شارحينو خيال دادی چې دا کلام په حقيقت باندې محمول دی او شيطان خبيث واقعي د انسان سره داسې لوبې کوي ځکه هر مسلمان د پاره په کار دي چې د شيطان نه د بچ کيدو د پاره پنځه وخته مونځ پابندې وکړې چې د الله تعالى په لاس کې محفوظ شي. (المرقات ۳/۲۹۵).

د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډيروالي د عبادت :

﴿۲﴾ وَ عَنِ الْمُغِيرَةِ قَالَ : قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ حَتّٰى تَوَرَّمَتْ قَدَمَاهُ

مغيره وايي چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ د شپې دومره اندازه قيام وکړو چې ورم به راغې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په خپو

فَقِيلَ لَهُ : لِمَ تَصْنَعُ هٰذَا وَ قَدْ غُفِرَ لَكَ

مبارکو باندې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام نه تپوس وکړی شو تاسو دومره عبادت ولې کوئ تاسو ته خو الله تعالى معاف

مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ ؟ قَالَ : « أَفَلَا أَكُونُ عَبْدًا شَكُورًا». (متفق عليه)[1]

کړي مخکې اووروستي ټول ګناهونه نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل : آيا زه د الله تعالى شکرګزار بنده جوړ نه شم.

توضيح : **تورمت قدماه** : يعني د کثرت قيام الليل د وجې نه خپې وپرسيدې ، حضرت عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وفرمايل : تاسو دومره محنت ولې کوئ ستاسو خو واړه او لوي ګناهونه معاف دي حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : آيا زه د الله تعالى شکرګزار بنده جوړ نه شم ،(المرقات ۳/۲۹۶).

علامه بوصيري رَحِمَهُ اللّٰهُ قصيده برده کې فرمايي :

ظلمت سنة من احياء الظلام الى ❁ ان اشتكت قدماه الضر من ورم

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۸/۵۸٤،رقم الحديث :٤٨٣٦. ، والنسائي ۳/۱۹، رقم الحديث: ١٦٤٤

Maktaba Tul Ishaat.com

د عبادت اخستونکی :حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عبادت او عبادت کوونکي درې قسمه ذکر کړي دي : (۱) چا چې د جنت او نعمتونو د تمنا او طلب د پاره عبادت کړی وي داد عبادت خرڅوونکی دی ، (۲) کومو خلکو چې د دوزخ د ویرې عبادت وکړو داد غلامانو عبادت دی ، (۳) کومو خلکو چې د الله د نعمتونو شکر ادا کولو د وجې عبادت وکړو داد ازادو خلکو عبادت دی دا عبادت اعلی او افضل دی (المرقات ۲۹۶-۳/۲۹۷).

وقد غفر لک : یعني الله تعالی ستا ټول ګناهونه معاف کړي دی . (المرقات ۲۹۶-۳/۲۹۷).

دلته دا سوال دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف ته د ذنب دا نسبت څنګه دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو معصوم دی .ددې جواب دادی چې دا فرضي کلام دی که فرض کړی شي که څه ګناه وشي هغه هم الله تعالی معاف کړې ده .دویم جواب دادی چې ددې ذنب نه مراد زلات او لغزشونه دي کوم چې د صغائرو په درجه کې دي .دریم جواب دادی چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه کوم امور خلاف اولی شوې وي هغه مراد دي هغه اګر چې څه ګناه نه ده خو د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اوچت رفعت او شان د وجې نه ورته ګناه ویلې شوې ده ځکه چې دا یوه قاعده ده : حسنات الابرار سئیات المقربین.

شیطان د مونځ نه کوونکي په غوږ کې واړه بول کوي :

﴿۳﴾ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ : ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ رَجُلٌ فَقِيلَ لَهُ
ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي دنبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مخ ته : یو کس ذکر وشو دنبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه تپوس وکړی شو
مَا زَالَ نَائِمًا حَتَّى أَصْبَحَ مَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ قَالَ : « ذَٰلِكَ رَجُلٌ
دغه کس د سحر پورې اوده وي مونځ د پاره نه پاڅي ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل :دا داسې کس دی
بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنِهِ» أَو قَالَ : « فِي أُذُنَيْهِ » . (متفق عليه)[1].
چې دده په غوږ کې یا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې په دواړو غوږونو کې شیطان واړه بول کوي .

توضیح : في اذنه : د شپې ددې عبادت نه مراد د تهجد و مونځ کیدی شي او که سحر مونځ هم کیدی شي ، یعني د تهجد و مونځ خو لرې خبره ده دا کس د سحر مونځ د پاره هم نه پاڅي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل : ددې کس په غوږونو کې ابلیس مردود وړې بولي کوي ، (المرقات ۳/۲۹۷).

اوس دا بولې حقیقتا هم کیدی شي چې واقعي شیطان راشي نو غوږ کې وړوکی اودس ماتی وکړي یا

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۸/۳،رقم الحديث :۱۱٤٤، ومسلم في الصحيح ۵۴۷/۱ رقم الحديث:۲۰۵-۷۷٤.

دا يو تشبيهي كلام دی ددې نه مراد دادی چې شيطان دا كس ذليل او رسوا كړي داد شيطان واړه بول دي خو اولنی معنی واضحه ده .

فيشن كوونكي زنانه به د قيامت په ورځ باندې بربنډې وي :

﴿٤﴾ وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ : اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لَيْلَةً فَزِعًا يَقُوْلُ :
ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې يوه ورځ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې ويريدلو حالت كې راپاڅيد ودايې وويل
« سُبْحَانَ اللهِ مَاذَا أُنْزِلَ اللَّيْلَةَ مِنَ الْخَزَائِنِ ؟ وَمَا ذَا أُنْزِلَ مِنَ الْفِتَنِ ؟ مَنْ
سبحان الله! نن شپه څومره اندازې خزانې رابنكته شوې دی او څومره فتنې نازلې شوې دي څوك شته دی
يُوقِظُ صَوَاحِبَ الْحُجُرَاتِ » يُرِيدُ أَزْوَاجَهُ « لِكَيْ يُصَلِّيَنَ ؟ رُبَّ
چې حجرو والا راپاڅوي ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مراد ازواج مطهرات دي چې هغوي مونځونه وكړي اكثر
كَاسِيَةٍ فِي الدُّنْيَا عَارِيَةٍ فِي الْآخِرَةِ » (رواه البُخَارِيّ)[1] .
زنانو دنيا كې كپړې اچولې وي خو آخرت كې بربنډې وي .

توضيح : عارية : يعنې فيشن كوونكي زنانه په دنيا كې قسم قسم لباس اچولی وي او د قيامت په ورځ باندې به په بربنډ حالت كې وي او دوي به په آخرت كې د ښه اعمالو نه خالي وي او د بربنډ مطلب هم دا شو چې نيك اعمالو نه به خالي وي ، ددې حديث دويم مطلب دادی چې ډيرو زنانو ته به په دنيا كې د كپړو والا ويلی كيږي خو د آخرت په اعتبار سره به بربنډې وي ځكه چې ددوي كپړې به دومره باريكې وي چې د كپړو په حكم كې به نه وي ، بهر حال ښځو ته په كار دی چې دوي دې د دنيا فاني ښائستونو پسې لاړې نه شي او خپل آخرت دې خراب نه كړي . (المرقات ۳/۲۹۸).

د الله تعالى د رحمت د نازليدو وخت :

﴿٥﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ
ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي راكوزيږي پروردګار زمونږ هره شپه د
إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ يَقُولُ : مَنْ يَدْعُونِي
دنيا آسمان ته په هغه وخت كې چې پاتې وي د شپې آخري حصه او فرمايي څوك شته ما ته آواز وكړي

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۱۰، رقم الحديث :۱۱۲٦، والترمذي ٤/٤٢٢ ، رقم الحديث : ۲۱۹٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَأَسْتَجِيبَ لَهُ ؟ مَنْ يَسْأَلَنِي فَأُعْطِيَهُ ؟ مَنْ
او زه دذه قبوليت وکړم ؟ او څوک شته چې دمانه سوال وکړي زه دده سوال پوره کړم؟ او څوک شته ما نه د
يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ ؟ (متفق عليه). وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ : ثُمَّ يَبْسُطُ يَدَيْهِ وَ يَقُولُ:
مغفرت طلب کاروي زه يې وبخښم ؟د مسلم يو روايت کې دا الفاظ دي دواړه لاسونه خلاص کړي وايي
« مَنْ يُقْرِضُ غَيْرَ عَدُومٍ وَلَا ظَلُومٍ ؟ حَتّٰى يَنْفَجِرَ الْفَجْر ». (بخاري،مسلم)[1].
څوک شته چې هغه چاته قرض ورکړي چې نه فقيردی اونه ظلم کوونکی اودسحرپورې دغه شان فرمايي.

توضيح : ينزل ربنا : دا الفاظ د متشابهاتو د قبيلې نه دي ددې آسان مفهوم دادی : ما يليق بشانه يعنې الله تعالى د خپل شان لائق او مناسب نازليږي دغه شان الله تعالى تشريف راوړي ، بعضې شارحينو دا تاويل کړی دی د الله تعالى رحمت نازليږي بهر حال دا تاويل دی او تاويل تاويل وي دا نزول د شپې مختلفو وختونو کې وي کله نصف الليل کله د شپې آخره حصه کې دې رواياتو کې هيڅ تعارض نشته. (المرقات ۲۹۸-۳/۲۹۹).

خلاصه دا چې د متقدمينو په نزد د دنيا اسمان ته نزول بلا کيف دی څنګه چې وي زمونږ پرې ايمان دی محققين علماو دا نزول تدلی په معنی سره اخستی دی يعنې مخلوق کې چې کوم څيز د الله تعالى د رحمت مظهر جوړ شي متاخرين مضاف مقدر ګڼي داسې تاويل يې کړی دی : **ينزل رحمة ربنا ويقول بواسطة الملک** ، شيخ الاسلام ابن تيميه رَحِمَهُ اللّٰهُ داسې مواضعو کې لږ جدا لار اختيار کړې ده خو دا دده شذوذ دي نه به يې خپلوو او نه به فتوی لګوو . (المرقات ۳/۲۹۹).

من يدعوني : يعنې خپلو مشکلاتو کې ما ته څوک آواز کوي ، (المرقات ۳/۳۰۱).

من يسألني : سوال کولو والا په معنی سره دی يو څيز طلب کول مراد دي (المرقات ۳/۳۰۱).

من يقرض يعنې مالي او بدني عبادت په ذريعې سره د الله نه ثواب او بدلې حاصلولو والا څوک دی ، (المرقات ۳/۳۰۲).

غير عدوم : يعنې داسې رب ته قرضې ورکړئ چې نه فقير وي نه عاجز وي نه د چا په حق باندې ظلم کولو والا وي او نه د چا حق وهلو والا وي مطلب دا شو کوم کس چې [illegible] شه نيک عمل کوي الله تعالى غني او عادل دی آخرت کې به دغه کس ته پو[illegible] (۳۰۱/۳)

---

(۱) أخرجه مسلم في [illegible]

هره شپه کې د قبوليت يو وخت وي :

﴿٦﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ : سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يَقُوْلُ : « إِنَّ فِي اللَّيْلِ لَسَاعَةً

جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايلي يې : چې په شپه کې يو داسې ساعت

لَا يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا خَيْرًا مِنْ أَمْرِ الدُّنْيَا وَ الْآخِرَةِ

دی چې دغه وخت مسلمان ومومي او په دغه ساعت کې د الله تعالى نه د دنيا او آخرت د کاميابۍ سوال کوي

إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاه وَ ذٰلِكَ كُلَّ لَيْلَة » . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

الله تعالى دغه ضرور پوره کوي دا ساعت هره شپه راځي .

توضيح : دا ساعت غير معين دی چې مسلمان د ټولې شپې قدر وکړي . (المرقات ٣/٣٠٢).

هر شب شب قدر است اگر قدر می دانی

بعضې علما و د شپې نصف ښودلی دی دغه وخت د قبوليت دی خو اولنی وجه ډيره بهتره ده ساعة الجمعة او ليلة القدر په شان دا وخت هم پټ دی . (المرقات ٣/٣٠٢-٣٠٣).

د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ روژې او مونځ محبوب تر عمل دی :

﴿٧﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «أَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ

عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي محبوب مونځ الله تعالى ته په

صَلَاةُ دَاوُدَ وَ أَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ صِيَامُ دَاوُدَ

ټولو مونځونو کې د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ دی او په ټولو روژو کې يې د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ روژې ډيرې خوښې دي

كَانَ يَنَامُ نِصْفَ اللَّيْلِ وَ يَقُومُ ثُلُثَهُ

(دده د مونځ کيفيت داؤ چې) هغه به نيمه شپه اوده کيدو او د ريمه حصه کې به يې قيام کولو او بيا د شپې

وَيَنَامُ سُدُسَهُ وَيَصُومُ يَوْمًا وَيُفْطِرُ يَوْمًا». (متفق عليه)[2].

شپږمه حصه کې اوده کيدو . او يو ورځ به يې روژه نيوله او يو ورځ به يې افطار کولو .

توضيح : يعنې د حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ مونځ او روژې د الله تعالى په نزد ډيرې خوښې دي ځکه چې هر

---

(١) أخرجه مسلم في صحيحه ١/٥٢١ رقم الحديث : ١٦٦-٧٥٧.

(٢) أخرجه البخاري في الصحيح ٣/١٦، رقم الحديث : ١١٣١.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلسل سم طريقه اختيار کړي چې نيمې شپې پورې ملاست وي بيا يو د حصه کې قيام وکړي او بيا احيا شپږمه حصه کې اوده شي دغه شان جسماني تکليف کم وي او عبادت ډيروي (المرقات ۳/۳۰۳)

د شپې عبادت کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عادت :

﴿۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ تَعْنِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنَامُ أَوَّلَ اللَّيْلِ وَيُحْيِي آخِرَهُ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې اوله حصه کې آرام کولو او د شپې آخري حصه يې ژوندۍ

ثُمَّ إِنْ كَانَتْ لَهُ حَاجَةٌ إِلَى أَهْلِهِ - قَضَى حَاجَتَهُ ثُمَّ يَنَامُ

ساتله بيا که د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ خپلې بې بې ته ضرورت ؤ خپل ضرورت به يې پوره کولو او آرام به يې کولو

فَإِنْ كَانَ عِنْدَ النِّدَاءِ الْأَوَّلِ جُنُبًا وَ ثَبَ فَأَفَاضَ

نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ که به چيرې د سحر د اولنې آذان په وخت کې ناپاکۍ په حالت کې وو پاڅيدو به او اوچولي

عَلَيْهِ الْمَاءَ وَ إِنْ لَمْ يَكُنْ جُنُبًا تَوَضَّأَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ

به يې اوبه په خپل بدن باندې او که د ناپاکۍ په صورت کې به نه ؤ د مونځ د پاره به يې اودس وکړو بيا به

صَلَّى رَكْعَتَيْنِ". (متفق عليه)[1].

يې د سحر سنت دوه رکعاته کول.

توضيح: يُحْيِيْ آخره: شب بيدارۍ ته يې ژوندۍ شپه ويلې ده. (المرقات ۳/۳۰۴).

حاجته: ددې نه مراد جماع ده. (المرقات ۳/۳۰۴).

النداء الاول: يو آذان د سحر دی او يو د سحر د پاره اقامت دی نداء اول نه مراد اقامت په مقابله کې آذان دی. (المرقات ۳/۳۰۴).

وثب: دا په اصل کې توپ وهلو ته ويلی کيږي دلته د غسل د پاره په چستۍ سره پاڅيدل مراد دي دا روايت د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه دی. (المرقات ۳/۳۰۴).

قالت کان نه پس راوي د **کان** اسم راويستلو سره تفسير کړی دی چې **قالت** مقوله د **ينام** ده.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۳۲،رقم الحديث :۱۱٤٦، ومسلم في الصحيح ۱/٥۱۰ رقم الحديث:۱۲۹-۷۳۹.

الْفَصْل الثَّانِي:

د تهجد فضيلت:

﴿۹﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ دَأْبُ

ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوي دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: قيام ليل ضروري وګڼئ داطريقه

الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ وَ هُوَ قُرْبَةٌ لَكُمْ إِلَى رَبِّكُمْ وَ مَكْفَرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ

تاسونه مخکې دنيکانو خلکو هم وه اوبيا قيام الليل ستاسورب ته دنزديکت اودګناه نه دلرې والي سبب

مَنْهَاةٌ عَنِ الْإِثْمِ». (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1].

دی، همدارنګې دا چې تاسو دګناه نه بچ کيدو والايې.

درې قسمه خلک خوش قسمته دي:

﴿۱۰﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: "ثَلَاثَةٌ

ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: دري سړي داسې دي چې

يَضْحَكُ اللهُ إِلَيْهِمْ.

ددوي طرف ته الله خنداکوي (يعنې ددوي نه ډيرزيات خوشحاله وي دوي طرف ته دخپل رحمت په نظر

الرَّجُلُ إِذَا قَامَ بِاللَّيْلِ يُصَلِّي وَ الْقَوْمُ إِذَا

ګوري) (۱) هغه کس چې دشپې دتهجد ومونځ دپاره اودريږي (۲) هغه خلک چې دمونځ کولو دپاره خپل

صَفُّوا فِي الصَّلَاةِ وَالْقَوْمُ إِذَا صَفُّوا فِي قِتَالِ الْعَدُوِّ. (رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّة)[2].

صفونه نيغ کړي، (۳) هغه خلک چې دښمن سره د جنګ کولو د پاره صفونه نيغوي.

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَمْرو بن عبسة قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَقْرَبُ مَا يَكُونُ الرَّبُّ مِنَ الْعَبْدِ

عمرو بن عبسه راوي دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: رب دخپل بنده سره ډيرزيات نزدي د

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۱۶ رقم الحديث: ۳۵۴۹.

(۲) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۷۳ رقم الحديث: ۲۰۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

فِي جَوْفِ اللَّيْلِ الْآخِرِ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَكُونَ مِمَّنْ يَذْكُرُ اللهَ فِي تِلْكَ السَّاعَةِ فَكُنْ».

شپې آخره حصه کې وي که تاسو هم دې وخت کې د الله تعالی ذکر کولو والا کې کیدلی شې نو ضرور شه

(یعنې د دې خبرې کوشش وکړئ تاسو هم په دې خوش نصیبه مسلمانانو کې شئ چې دغه وخت کې د خپل

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَ قَالَ : هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.(۱)

رب په ذکر کې مشغول وي) امام ترمذي ویلي دا حدیث حسن او صحیح دی او د سند د وجې غریب دی.

د تهجد د مونځ د پاره ښځه او خاوند یو بل پاڅولی شي :

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «رَحِمَ اللهُ رَجُلًا

ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: الله تعالی رحمت نازلوي په هغه کس

قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَ أَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّتْ فَإِنْ أَبَتْ

باندې چې د شپې پاڅي او مونځ کوي او خپله ښځه هم پاڅوي چې هغه مونځ وکړي او که پانه څي نو بیا ورته

نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ . رَحِمَ اللهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ

مخ باندې اوبه واچوي او الله تعالی دې په داسې زنانه رحمت نازل کړي چې د شپې پاڅي او د الله عبادت

وَ أَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَصَلَّى فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ »(۲).

وکړي او خاوند پاڅوي چې هغه هم مونځ وکړي او که خاوند پانه څي نو هغه له خوله کې اوبه واچوي.

توضیح : نضحت قطري ورکولو په معنی سره دی یعنې ښځه او خاوند څنګه د ژوند نورو شعبو کې د یو بل امداد کوي هغوي ته په کار دي چې عبادت کې هم د یو بل مدد وکړي او د خوب نه دې د پاڅید و هر کوشش وکړي دا تعلیم د مدارسو د طلباو د پاره هم نافع دی او مختلفو سفرونو کې چې دوستان او ملګري وي هغوي د پاره هم مفید دي. (المرقات ۳/۳۰۸).

د دعاء د قبولیت وخت :

﴿۱۳﴾ وَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ : قِيلَ : يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الدُّعَاءِ

ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس وکړی شو ای د الله رسوله! کوم وخت دعاء ډیره

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۵/۵۳۲ رقم الحديث : ۳۵۷۹ ، وابن ماجه ۱/۴۳۴ رقم الحديث : ۱۳۶۴.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۱۴۶ رقم الحديث : ۱۳۵۰.

أَسْمَعُ ؟ قَالَ : « جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرَ وَدُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوْبَاتِ» . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[1].

زياته مقبوله وي؟حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمايل:دشپې آخري حصه کې اود فرض مونځونو نه پس.

نيک عمل څه ته وايي ؟

﴿۱۴﴾ وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «إِنَّ فِي الْجَنَّةِ غُرَفًا

ابومالک اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي جنت کې داسې بالاخانې دي

يُرَى ظَاهِرُهَا مِنْ بَاطِنِهَا وَ بَاطِنُهَا مِنْ ظَاهِرِهَا أَعَدَّهَا اللهُ

چې دهغې بهرخيزونه ددننه نه اوددننه خيزونه يې بهرنه ښکاري اوداباالاخانې جوړې کړې الله تعالى دهغه

لِمَنْ أَلَانَ الْكَلَامَ وَ أَطْعَمَ الطَّعَامَ وَ تَابَعَ الصِّيَامَ وَ

خلکو د پاره چې نورو خلکو سره نرمې خبرې کوي او خوراک ورکوي پرله پسې نفلي روژې نيسي اود

صَلَّى بِاللَّيْلِ وَ النَّاسُ نِيَامٌ» . (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شعب الْإِيمَان). وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ عَنْ عَلِيٍّ نَحْوَهُ

شپې داسې وخت کې مونځ کوي چې خلک ويده وي،اوترمذي داسې روايت دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل

وَ فِي رِوَايَتِهِ : « لِمَنْ أَطَابَ الْكَلَامَ ».[2]

کړی خودې روايت کې لمن الان الكلام په ځای لمن اطاب الكلام الفاظ دي اوددواړو معنی يوه ده.

توضيح : يعنې په شيش محل بالاخانو کې به وي . (المرقات ۳/۳۰۸).

الان :د نرم کيدو په معنی سره دی مراد په ښه طريقې سره ملاويدل يعنې نرمې خبرې کول ، غريبو ته روټی ورکول ،مسلسل روژې نيول ، د خوب په وخت کې تهجد مونځ کول ، يعنې داسې اخلاق والا ته به داسې جنت ملاويږي ، دې حديث کې د نيکو اعمالو ښودنه شوې ده نن سبا خلک خپل ځان نه عمل جوړ کړي په هغې باندې محنت وکړي هغه مستند اعمال نه دي مذکوره اعمال مستند دي . (المرقات ۳/۳۰۸).

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۴۹۲/۵ رقم الحديث : ۳۴۹۹.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۳۴۲/۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

الْفَصْل الثَّالِث:

د تهجدو پريښودو مخالفت:

﴿۱۵﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا عَبْدَ اللهِ

عبدالله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ماته وفرمايل: ای عبدالله!

لَا تَكُنْ مِثْلَ فُلَانٍ كَانَ يَقُومُ مِنَ اللَّيْلِ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيْلِ». (۱).

د فلانکي په شان کيږه مه چې د شپې به يې قيام کولو بيا يې د شپې قيام پريښود و.

توضيح: د صحابه کرامو په وخت کې يو کس ؤ چې تهجد ګزارؤ بيا يې تهجد پريښودل دې سره حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل: دغه کس په شان مه کيږه، اول يې تهجد کول، د جنت اعلی درجې يې حاصلولې خو بيا يې تهجد پريښودل د اوچت والي نه ښکته راغی راپريوتو، ته داسې مه کوه. (المرقات ۳/۳۰۸).

د الله تعالی مخلوق ته د تکليف ورکولو والا انسان دعاء نه قبليږي:

﴿۱۶﴾ وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "كَانَ لِدَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ

عثمان بن ابي العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې د داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ د

مِنَ اللَّيْلِ سَاعَةٌ يُوقِظُ فِيهَا أَهْلَهُ يَقُولُ: يَا آلَ دَاوُدَ! قُومُوا

پاره د شپې يو وخت وو چې هغه وخت کې يې خپل اهل عيال پاڅول او فرمايل به يې: ای آل داؤد! پاڅئ

فَصَلُّوا فَإِنَّ هٰذِهِ سَاعَةٌ يَسْتَجِيبُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيهَا الدُّعَاءَ إِلَّا لِسَاحِرٍ أَوْ عَشَّارٍ". (۲)

اومونځ وکړئ ځکه چې داداسې وخت دی دې کې الله تعالی دعاء قبلوي په غير د جادوګر او عشار نه.

توضيح: **عشار**، ددې نه مراد څوکيدار او محصول وصول کولو والا هغه کس دی چې ټول ټيکس باندې ناجائز طريقې سره خلکو ته تکليف ورکوي، او عشار چونکه عمومي طور باندې په عُشر باندې مقرر وي او عشر د مال لسمه حصه وي ځکه ورته عشار ويلی شي اګر چې هغه عُشر نه اخلي بلکې ددې نه کم يا زيات هم اخلي محصول چنګي نه علاوه دې وعيد کې هغه ټولې حکومتي اداري داخل دي چې غلط بِل جوړ کړي بجلې، اوبه او يا ټيلفون بلونو کې اخوا ديخوا کوي د پټواري ټوله محکمه دې کې اخته ده

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۳۷،رقم الحديث: ۱۱۵۲، والنسائي ۳/۲۵۳، رقم الحديث: ۱۷۶۳.

(۲) أخرجه احمد في المسند ٤/٢٢.

دې مبارک د قبولیت د دعاء په وخت کې دا دوه بدبخته هم د معافی او استغفار قابل نه وو . دې حدیث نه مسلمانانو ته دا تعلیم ملاویږي چې د الله مخلوق ته تکلیف ورکول لوي جرم دی (المرقات ۳/۳۱۱)

لساحر : ساحر جادوګر ته ویلی کیږي دا هم لوي بد بخته دی او دا د دې قابل نه دی چې دده مغفرت وشي بلکې په دې مبارکه میاشت د رمضان او د قبولیت په ساعت کې ده د ځان ذ پاره ښه دعاګانې وغوښتې مګر هغه قبولې نه شوې بلکې مردود او واپس شوې . (المرقات ۳/۳۱۱).

د تهجدو فضیلت :

﴿۱۷﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَفْضَلُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْمَفْرُوضَةِ صَلَاةٌ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ» .(۱)

ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دي وایي چې ما د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې اضل مونځ پس د فرض مونځونو نه هغه د شپې مونځ دی .

توضیح : **افضل الصلوة** : د بعضې علماو خیال دی چې سنن رواتبو نه تهجد افضل دي او د بعضې علماو خیال دی چې سنن رواتب افضل دي ، جنید بغدادي رَحِمَهُ اللَّهُ نه چا دده د وفات نه پس تپوس وکړو په خوب کې چې رب درسره څه معامله وکړه هغه جواب کې وفرمایل : **طاحت العبادات وفنیت الإشارات وما نفعنا الا رکیعات صلیتها في جوف اللیل** ، یعنې عبادات ټول ختم شو تصوف د ټولې اشارې بې فائدې شوې ما ته صرف یو څو رکعاتو فائده راکړه چې کوم ما د شپې په مینځ کې کړې دي . (المرقات ۳/۳۱۱).

د تهجدو مونځ انسان د بدۍ نه منع کوي :

﴿۱۸﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : جَاءَ رجل إِلَى النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَ : إِنَّ فُلَانًا يُصَلِّي بِاللَّيْلِ فَإِذَا أَصْبَحَ سَرَقَ فَقَالَ : إِنَّهُ

فلانکی خو د شپې مونځ کوي خو سحر بیا غلا کوي ، نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمایل : نزدې ده چې دده مونځ به

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۸۲۱/۲ رقم الحديث: ۲۰۲-۱۱۶۳. وأبو داود ۸۱۱/۲ رقم الحديث: ۲٤۲۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

سَيَنْهَاهُ مَا تَقُولُ. (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ)[1].

دا انسان ددې څيز نه منع کړې کوم چې تاسو وايي.

توضيح: د مونځ خاصيت دادی چې انسان د بې حيائي او د بدئ نه منع کوي لکه څنګه چې انسان د مونځ د پاره اودريږي او غلط حرکات نه کوي د مونځ په حالت کې چې دا کس وي د هر قسم بدئ نه مامون او محفوظ وي.

د خپل کور والو سره د تهجد د مونځ فضيلت:

﴿۱۹﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راويان دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: څوک

« إِذَا أَيْقَظَ الرَّجُلُ أَهْلَهُ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّيَا أَوْ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ جَمِيعًا كُتِبَا

چې د شپې خپله ښځه راپاڅوي او دواړه مونځ وکړي او يا هريو دوه رکعاته ځان له وکړي نو وبه ليکلي شي

فِي الذَّاكِرِينَ وَالذَّاكِرَاتِ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد، وَابْن مَاجَه)[2].

په ذکر کوونکو سړو کې او ذکر کوونکو زنانو کې.

په امت کې د اوچتې مرتبې والا خلک کوم يو دي:

﴿۲۰﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَشْرَافُ أُمَّتِي

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: زما د امت اشراف يعنې د اوچتې

حَمَلَةُ الْقُرْآنِ وَأَصْحَابُ اللَّيْلِ» (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَان)[3].

مرتبې والا خلک قرآن اوچتونکي او شپې (پاڅيدونکي) والا دي..

توضيح: حملة القرآن: يعنې قرآن يادو باندې لوستونکي يا ناظره باندې او حفظ تجويد او تفسير او ترتيب قائمولو والا ټول حملة القرآن مصداق کې داخل دي، علماء کرام چې خپل علم باندې عمل کولو والا دي دا ددې حديث واضح مصداق دی. (المرقات ۳/۳۱۳).

---

(۱) أخرجه احمد في المسند ٢/٤٤٧، والبيهقي في شعب الايمان ٣/١٧٤ رقم الحديث: ٣٢٦١.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ٢/٧٣ رقم الحديث: ١٣٠٩، وأخرجه ابن ماجه في سننه ١/٤٢٣ رقم الحديث: ١٣٣٥.

(۳) أخرجه البيهقي في شعب الايمان ٢/٩٥٦ رقم الحديث: ٢٧٠٣.

په تهجدو کولو کې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عادت :

﴿۲۱﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ أَبَاهُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ مَا

ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي دهغه پلار عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په شپه کې مونځ کولو څومره به

شَاءَ اللهُ حَتّٰى إِذَا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ أَيْقَظَ أَهْلَهُ لِلصَّلَاةِ يَقُولُ لَهُمْ : الصَّلَاةُ

چې الله تعالی غوښتلو او دشپې آخري حصه کې به يې خپله بې بې هم راپاڅوله او ورته ويل به يې چې مونځ

ثُمَّ يَتْلُو هٰذِهِ الْآيَةَ : ﴿ وَ أْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ

وکړه بيا به يې دا آيت ولوستلو : اوای محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! خپل متعلقينو ته هم د مونځ حکم ورکوه او په

وَ اصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَ الْعَاقِبَةُ

خپله هم په دې باندې کلک شه مونږ د ستا نه رزق نه غواړو ، رزق خو مونږ تاسو ته درکوو ، او ښه انجام

لِلتَّقْوَى﴾ . (رَوَاهُ مَالِك)[1].

د آخرت خو د ښو خلکو د پاره دی .

(۱) أخرجه مالك في الموطأ ۱/ ۱۱۹ رقم الحديث ۵ من كتاب صلاة الليل .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب الْقَصْدِ فِي الْعَمَل:

په اعمالو کې د ميانه روی بيان:

اسلام يو معتدل مذهب دی چې برابر والي باندې قائم دی ځنګه چې دنيوي امورو کې افراط او تفريط اونقصان دی دغه شان ديني معاملاتو کې هم شته دی يو خو يې دې احاديثو کې مسلمانانو ته اعمالو، افعالو او اقوالو کې د ميانه روی تعليم وښودلو شيخ عبدالحق رَحِمَهُ اللهُ لمعات کې ليکي: **القصد** په حقيقت کې نيغې لارې پابندې تللو ته وايي (اشعة اللمعات ۲/۵۶۳)

لکه د الله تعالی دا قول: ﴿وَعَلَى اللهِ قَصْدُ السَّبِيلِ وَمِنْهَا جَآئِرٌ﴾ (سورة النحل آيت: ۹)

يا دا لفظ ټولو امورو کې د ميانه روی په معنی سره استعمال کړه دې معنی سره دا حديث دی **القصد القصد** يعنې ټولو امورو کې ميانه روي اختيار کړي که هغه قول وي يا فعل وي هره معامله کې ميانه روی اختيار کړي، يو حديث کې راځي: **عليكم هديًا قصدا اى طريقا معتدلا** يو حديث کې **ما عال من اقتصد** يعنې کوم کس چې د اسراف او کنجوسی نه بچ شو او ميانه روي يې اختيار کړه هغه به کله هم محتاجه کيږي نه.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

﴿۱﴾ عَنْ أَنَسٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُفْطِرُ مِنَ الشَّهْرِ

انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ميا شتې په اکثرو ورځو کې (نفلي) روژې نه نيولې

حَتّٰى نَظُنَّ أَنْ لَا يَصُومَ مِنْهُ وَ يَصُومُ

تردې چې مونږ به ګمان کولو چې نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ روژې نه نيسي او نبي عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ به روژې نيولې

حَتّٰى نَظُنَّ أَنْ لَا يُفْطِرَ مِنْهُ شَيْئًا وَ كَانَ

تردې چې مونږ به ګمان کولو چې اوس به داسې يوورځ هم بغير د روژې نه وي او که حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

لَا تَشَاءُ أَنْ تَرَاهُ مِنَ اللَّيْلِ مُصَلِّيًا إِلَّا رَأَيْتَهُ وَلَا نَائِمًا

به مود شپې مونځ باندې ليدل وغوښتل نو مونځ کولو باندې به يې هم ليدلو او که د شپې خوب باندې به

إِلَّا رَأَيْتَهُ . (رَوَاهُ البُخَارِيّ)[1].

مو ليدل هم وغوښتل نو په خوب باندې به مو هم ليدلو.

هميشه عمل محبوب تروي:

﴿٢﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا راويه ده وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: دالله تعالى په نزد محبوب اوخوښ عمل

أَدْوَمُهَا وَ إِنْ قَلَّ ». (متفق عليه). [2]

هغه دى چې هميشه كولى شي كه هغه لږ ولې نه وي.

توضيح: ادومها: د دوام يوه فائده دا هم ده چې عبادت د انسان يو داسې عادت جوړ شي چې پريښودل يې طبعي شكل باندې ګران شي دويمه فائده يې داده چې دفتر اعمال كې د دغه كس د دغه عمل درجې له حاضرې وي، دريم دا چې ملا اعلى كې چې په كومه لار باندې دا عمل ځي هغه ځايونه په دغه عمل باندې ګواه جوړ شي. (المرقات ٣/٣١٥).

علامه مظهري رَحِمَهُ اللهُ وايي: اهل تصوف دا حديث راخيستى او دخپلو اورادو او وظايفو پابندي كوي

وان قل مطلب دادى چې كه دغه عمل لږ ولې نه وي دوام سره يې مرتبه اوچته شوه (المرقات ٣/٣١٦).

دا د دوام عمل نتيجه ده چې يو ځاځكي هغه څه وكړه چې لوي سيلاب ونه كړې شو، نو معلومه شوه چې دائمي عمل با اثر او محبوب وي.

د طاقت لرلو په دائره كې عمل كول په كار دي:

﴿٣﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «خُذُوا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا تُطِيقُونَ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تاسو دومره عمل كوئ څومره چې يې طاقت لرلى

فَإِنَّ اللهَ لَا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا ». (متفق عليه) [3].

شئ ځكه چې الله تنګې نه كوي تردې چې تاسويې په خپله تنګې وكړئ يعنې تنګ راشئ او عبادت پريږدئ

توضيح: لا يمل: مل يمل سمع يسمع نه د ستړيوالي او زړه تنګ كيدو په معنى سره رائي.

---

(١) أخرجه البخاري ٣/٢٢ رقم الحديث . ١١٤١

(٢) أخرجه البخاري في الصحيح ١١/٢٩٤،رقم الحديث : ٦٤٦٢، ومسلم في الصحيح ١/٥٤١ رقم الحديث:٢١٨-٧٨٣.

(٣) أخرجه البخاري في الصحيح ٤/٢١٣،رقم الحديث : ١٩٧٠، ومسلم في الصحيح ١/٥٤٠ رقم الحديث:٢١٥-٧٨٢.

Maktaba Tul Ishaat.com

د حديث مطلب دادی تاسو ځان له نفلي عبادت کې دومره اندازه مقرر کړئ چې تاسو يې کولی شئ داسې نه چې نن سل رکعاته وکړي او سبا دوه رکعاته، حاصل دا چې الله تعالی ثواب ورکولو کې تنګي نه کوي نه الله سترې کيږي تاسو سترې کيږي نو خپل وس مطابق عمل کوئ.

دې نه فرائض او واجبات مراد نه دي هغه خو به په هر حال کې کوئ دلته نوافل، مستحبات او اوراد او وظائف مراد دي او تهجد، تلاوت نفلي رژوې وغيره وغيره.

تر څو پورې چې چست وې عبادت کوه:

﴿٤﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : " لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ وَ إِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ). (متفق عليه)[1].

انس رضي الله عنه راوي دی وايي چې حضور صلى الله عليه وسلم فرمايي تاسو ته په کار دي چې هغه وخته پورې مونځ کوئ تر څو پورې چې زړه مو خوشحاله وي او چې کله طبيعت مو سُست شي نو کينئ.

توضيح: فتر: نصر ينصر نه فتور سترې کيدو په معنی راځي، نشاط د چست او سکون په معنی دی. (المرقات ۳/۳۱٦).

مطلب دا چې کله نفلي عبادت کې زړه لګي فرصت حاصليږي اطمينان او سکون برقرار وي نو عبادت کول په کار دي خو چې بدن کې سستوالی او ملال راشي بيا ارام کول په کار دي چې وروسته وخت کې بيا عبادت د پاره چستې پيدا شي او که په حالت د سستوالی کې عبادت وشو نو عبادت به ناقص وي او داسې عبادت به بوج جوړ شي دا ځان له ګناه ده بهتره داده چې څه وخت د پاره يې پريږدي بيا يې شروع کړي نه داسې چې بالکل يې پريږدي.

د خوب ورتلو وخت کې مونځ ګول نه دي په کار:

﴿٥﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّي فَلْيَرْقُدْ حَتَّى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى وَ هُوَ نَاعِسٌ

عائشه رضي الله عنها راويه ده وايي چې حضور صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا ته چې د مونځ حالت کې خوب ورشي هغه ته په کار دي چې اوده شي تر دې چې خوب يې ختم شي ځوک چې د خوب په حالت کې مونځ کوي د

(١) أخرجه البخاري في الصحيح ٣/٣٦،رقم الحديث : ١١٥٠، ومسلم في الصحيح ١/٥٤١ رقم الحديث:٢١٩-٧٨٤، وأبو داود ٢/٧٥ رقم الحديث ١٣١٢، والنسائي ٣/٢١٨، رقم الحديث: ١٦٣٤.

لَا يدْرِي لَعَلَّه يسْتَغْفِرُ
خوب د غلبي د وجې نه پته نه لګي چې څه وايي کيدی شي هغه د مغفرت طلب ګار وي او ددې په ځای
فَيَسُبُّ نَفْسَهُ». (متفق عليه)(۱).
بد دعاء د ځان د پاره وځي.

توضيح: **نعس**: د نصر ينصر او فتح يفتح نه د خوب په معنی سره راځي اسم فاعل يې **ناعس** راځي.

فيسب نفسه کنځل کولو نه مراد خپل ځان ته بد ويل يا بد دعاء کول مراد دي مطلب دادی چې د خوب او اوپرکالی حالت کې زړه او دماغ نه حاضريږي ژبه هم قابو کې نه وي او دغه صورت کې د خولې نه کنځل هم وځي او هغه بد عاء هم کيدی شي مثلاً خوب حالت کې **اللهم اغفرلي** په ځای **اللهم اغفر لي** وځي اولنی ترجمه داده ای الله ما معاف کړي، دويمه ترجمه داده ای الله ما خاوره سره يو ځای کړي. (المرقات ۳/۳۱۷).

راقم الحروف ته خپله تجربه ده چې د خوب په حالت کې انسان د يو حالت نه بل حالت ته څنګه اوړي يو ځل د اعتکاف په دوران کې د خوب په حالت کې مې خپل ځان ته کنځل وکړل کله چې راويښ شوم نو خپل ځان ته خندا راغله، د نبي کريم ﷺ فرمان ربښتيني دی او مونږ به صرف دا ووايو چې: صدق رسول الله ﷺ.

دين آسان مذهب دی دا په عمل سره مه سختوه:

﴿٦﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ
ابو هريرة رضي الله عنه راوي دی وايي چې حضور ﷺ فرمايي بيشکه دين آسان دی او سختي نه
الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا
کوي په دين کې مګر دين په ده غالب راځي لهذا خپل دين باندې ميانه روی سره عمل کوئ او خوشحاله
وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ». (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)(۲).
اوسئ او سحر او مابنام وخت کې همدارنګې څه د شپې آخره حصه کې هم د الله تعالی نه مدد غواړئ.

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵٤۲ رقم الحديث: ۲۲۲-۷۸٦، وأبو داود ۲/۷٤ رقم الحديث: ۱۳۱۰.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۱/۹۳، رقم الحديث: ۳۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح : **الدين يسر** : يعني دين آسان مذهب دی ددې فطري او طبعي قواعد د انساني مزاج او دده د فطرت سره عين مطابق دي د قيامت پورې داسې انسان نشته چې صحيح سالم وي او دا ووايي چې د اسلام فلانکی قاعده او حکم زما د تخليق منافي دی الله تعالی د انسانانو معاشرې او ټول محنت او ترقی ته وکتل د هغې مطابق يې د اسلام قواعد وضع کړل ، لهذا د انسان ذهني ، فکري او عملي قوتونه په لوي سکون او انتهائي آساني سره د دين اسلام قواعد همنوا جوړيدې شي ، جهاد د رواخله کله چې د جهاد په صف کې د مجاهدينو سره جنګ ته لاړ شي نو په جنګ کې سر غوڅول سخت معلوميږي ليکن چې که چيرته د انسان طبيعت د خارجي پابنديو نه آزاد پرېښنودلې شي نو دغه انسان **فزت ورب الكعبة** مسته نعره کړي او مرګ ته داسې غاړه ورکوي چې لکه يو څوک چې خپل يو محبوب ته غاړه ورکوي که چيرته يو کس په پابنديو ، سهولتونو او راحتونو کې مصروف کړي نو ظاهره ده چې دده د پاره دين سخت نه دی بلکه دا د دين د پاره سخت شو ، دلته بيا د خلکو دا خبره په ذهن کې راځي چې وايي چې دين آسان دی خو علماو دا مشکل کړې دی چې ددوي دا وينا غلطه ده دين آسان دی مګر دا خلک د دين د پاره ګران شوې دي . (المرقات ۳/۳۱۸).

ہم الزام ان کو دیتے تھے قصور اپنا نکل آیا

ددې تشريح نه دا خبره واضحه کيږي چې خلک د دين د آسانه کيد و مفهوم دين پرېښنود ل بيانوي وايي چې ګيره لنډه دين آسان دی ، مونځ مه کوه دين آسان دی ، روژه مه نيسه دين آسان دی ، زکوة او حج ته چهوتي ورکړه دين آسان دی ، شراب څکه ، زنا کوه دين آسان دی ، د حلالو او حرامو تميز مه کوه دين آسان دی ، د اسلام په حمايت کې د يوې ګوتې د غوڅولو په اندازه قرباني ورنه کړي دين آسان دی ، جهاد نه انکار او د جهاد سره د زړه نه نفرت ساته دين آسان دی ، د بې پردګۍ او بې حيائۍ بازار ګرم وساته دين آسان دی ياد لرئ چې د دين د آساني دا مفهوم نه دی بلکې دا د دين د پرېښنود و مفهوم دی .

دې حديث نه د حضور ﷺ عيسايانو ، يهوديانو او هندا ونو مشرانو په شان بې ځايه تشدد کولو باندې رد دی لکه راهب د پاره واده کول حرام دي ، ښځو سره يو ځای کيدل حرام دی خوږ خوراک حرام دی ، د شپې آرام کول حرام او منع دي يعني مختلفو طريقو سره به يې د شپې خوب تختولو ، دې باره کې حضور ﷺ فرمايي چې دين آسان دی ګرانوي يې مه . (المرقات ۳/۳۱۸).

دغه شان د يخنۍ موسم کې يو هندو نهر ته لاړو واوره يې اخوا کړه غسل يې وکړو هلته بيا په يو کانړي کيناستو او عبادت يې کولو دې سره ډير کسان ضائع شول دا بې ځايه سختي اسلام کې نشته ، يهوديانو ته اوګورئ دوي باندې وازګه خوړل حرام دي ، د اوښ غوښه خوړل حرام دي د جومات نه علاوه بل ځای کې مونځ کول جائز نه دي مسجد کې هم د جماعت نه علاوه جائز نه دی د شپې ګناه به يې سحر په دروازو ليکلی شوې وه چې فلانکي نه فلانکی ګناه شوې ده که د هغوی په کپړو به ګندګي

ولګيده نو هغه به يې د کپړې په ټکولو لرې کوله، دا ټولې سختيانې دين اسلام کې نشته حکم وشو چې آسان دين د خپل بد اعمالو د وجې نه سختوئ مه دې حديث نه دې هغه مسلمان هم تعليم واخلې چې غير ثابت شده اعمال په خپل ځان لازموي يا مستحبات واجبوي.

ولن يشاد الدين: يّاء باندې ضمه او دال باندې شد دی **مشادّة** باب **مفاعله** نه يو بل باندې غالب کيدلو په معنی سره دی. (المرقات ۳/۳۱۸).

احد: د **يشاد** فاعل دی **الدين** مفعول به دی اصل عبارت و لن يشاد احد الدين يعنې دين عمل سره څوک مغلوب کولی نه شي بلکې دين ده باندې دغه مقابله کې غالب راځي او هغه به مغلوب شي او د دين اعمال به پريږدي دا خواهش مه کوئ چې سل په سلو په ديني اعمالو باندې عمل راشي (المرقات ۳/۳۱۸).

فسددوا يعنې سيده لار باندې بغير د افراط تفريط نه پاک او قائم اوسئ. (المرقات ۳/۳۱۸).

ای الزموا الطريقة المستقيمة و القصد في العمل (اشعة اللمعات ۱/۵۶۵).

وقاربوا: يعنې په صحيح لاره باندې قائم کيدل او الله تعالی طرف ته د نزدې کيدو کوشش کول. (المرقات ۳/۳۱۸).

وابشروا: يعنې هغه بشارت واوره او خوشحاله شه چې الله تعالی په لږ عمل باندې ډير ثواب درکوي. (المرقات ۳/۳۱۸).

الغدوة يعنې ټول وختونه د اعمالو د پاره مه استعمالوه بلکې خپل چست والي وختونو کې د الله تعالی قرب حاصل کړه (المرقات ۳/۳۱۸).

د نشاط هغه درې وختونه د سحر وخت بيا د مابنام وختونه بيا د شپې آخره حصه ده.

که د شپې عبادت (وظيفه) پاتې شي دورځې يې پوره کړه:

﴿۷﴾ وَعَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ
عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: څوک چې اوده شو په شپه کې د خپلې وظيفې د پوره
أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقَرَأَهُ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَ صَلَاةِ الظُّهْرِ
کولو نه بغير يا د وظيفې څه حصه تري پاتې شوه او بيا يې ده او وظيفه د سحر او د مابنام په مينځ کې وکړه

Maktaba Tul Ishaat.com

كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْل» . (رَوَاهُ مُسلم)[1].
ده دپاره به دغه ليکلی شي ګويا چې ده د شپې لوستلې ده.

توضيح : مطلب دادی که يو کس نه څه عادتي وظيفه د شپې نه پاتې شو هغه د ورځې د سحر مونځ د وخت نه تر زوال شمس پورې ادا کولی شي دغه وخت کې دا وظيفه وکړه دا داسې شوه چې د شپې يې وکړله. (المرقات ۳/۳۱۹).

دلته د شپې ذکر ځکه دی اکثر اوراد اوظائف د شپې کيږي که د چا د ورځې وظيفه مثلاً تلاوت يا مونځ ذکر پاتې شو د شپې يې کولی شي ځکه چې ورځ او شپه د يو بل قائمقام دي.

د مجبوری او معذوری حالت کې په ملاسته مونځ کولو حکم :

﴿۸﴾ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «صَلِّ قَائِمًا
عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي مونځ په ولاړه کوه اود (څه عذر
فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ » . (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)[2].
په وجه په ولاړې) قادر نه وې په ناسته يې کوه او که په دې هم قادر نه وې نو بيا په طرف باندې مونځ کوه.

توضيح : **فعلى جنب** ، دلته دا ښايي که يو کس فرض مونځ په ولاړه نه شي کولی اسلام سهولت ورکوي چې په ناسته دې مونځ وکړي که په ناسته هم مشکل وي بيا دې په ملاسته باندې اشاره سره مونځ وکړي ، احناف د ملاستې داسې طريقه ښايي مريض به نيغ څملي او خپې به قبلې طرف ته کړي او د ولو لاندې به تکيه کيږدي قبلې طرف ته به اشاره کوي، شوافع حضرات فرمايي : مريض به يو طرف باندې څملي او مخ به قبلې طرف ته کړي او اشارې سره دې مونځ کوي ، زيربحث حديث کې د جنب لفظ راغلی دی (يعني جانب او طرف) احناف د دار قطني روايت نه استدلال کوي هغې کې سيده څملاستو ثبوت شته ، احناف عقلي دليل هم ورکوي سيده څملاستو سره مخامخ قبله هم دي ځکه چې قبله آسمان پورې ده او طرف سره چې کومه اشاره کيږي هغه خپو ته وي .(المرقات ۳/۳۲۰).

د حضرت عمران بن حصين روايت کې طرف لفظ ذکر کيدی شي دلته بله مجبوزي وي يا ييان جواز د پاره وي که سرسره مريض اشاره نه شي کولی بيا دې مونځ وروستو کړي الله تعالى به يې معاف کړي خو سترګو سره دې اشاره نه کوي په سترګو سره اشاري باندې مونځ نه کيږي .

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۵۱۵ رقم الحديث:۱۴۲-۷۴۷، وأبو داود ۲/۷۶ رقم الحديث :۱۳۱۳، والنسائي ۳/۲۵۹، رقم الحديث:۱۷۹۰.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۵۸۷۰،رقم الحديث : ۱۱۱۷.

بغير عذر په ناسته مونځ کولو باندې نيم ثواب ملاويږي :

﴿۹﴾ وَ عَنْهُ أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ الرَّجُلِ

عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دهغه د مونځ په باره تپوس وشو

قَاعِدًا . قَالَ : « إِنْ صَلَّى

چې په ولاړه طاقت لرلو باوجود هم نفل په ناسته باندې کوي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : که مونځ يې

قَائِمًا فَهُوَ أَفْضَلُ وَ مَنْ صَلَّى قَاعِدًا فَلَهُ

په ولاړه وکړو نو دا بهتر دی ليکن کوم کس چې (نفل) مونځ (په غير د عذر نه) په ناسته باندې وکړي نو

نِصْفُ أَجْرِ الْقَائِمِ وَمَنْ صَلَّى نَائِمًا فَلَهُ نصف أجل الْقَاعِدِ» . (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ)[1].

دې کس ته به د ولاړ کس په نسبت نيم ثواب ملاويږي .

توضيح : فله نصف اجر القاعد: ولاړه باندې مونځ کولو والا افضل او اعلی دی که يو کس مريض وي او په ناسته باندې يې مونځ وکړو ده ته به د ولاړ کس په نسبت نيم ثواب ورکولی شي او که په ملاسته يې مونځ وکړو ده ته به دناست کس په مقابله کې نيم ثواب ورکولی شي .

سوال : اعتراض دا دی که مونځ کوونکي دغه کس د فرض مونځ والا مريض تسليم کړي دېته د عذر د وجې نه د ناستې په حالت کې پوره ثواب ورکول په کار دي ځکه چې دده نه قيام ساقط شو دلته ده ته نيم ثواب دې ورکولی شي که دا کس تندرست وي او په ناسته مونځ وکړي دا د سره جائز نه دی ثواب لرې خبره ده خو که دغه کس روغ متنفل تسليم کړي د حديث شروع حصه خو صحيح ده ليکن د دې آخري حصه معارضه جوړيږي ځکه چې د متنفل مونځ په ناسته جائز دی خو د ملاستې په صورت کې صرف حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ په نزد جائز دی او ده ته نيم ثواب ورکولی شي او د فقهاو په نزد دده مونځ جائز نه دی .

جواب : شارحينو د دې اعتراض ډير جوابونه کړي دي ليکن د ټولو نه ښه هغه دی کوم چه علامه خطابي رَحِمَهُ اللهُ او ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ فرمايي او شاه صاحب کشميري هم خوښ کړی دی هغوي فرمايي د دې حديث مصداق داسې مفترض او معذور کس دی چې ده ته شريعت د ناستې او ملاستې اجازت ورکړی وي خو که هغه محنت او مشقت برداشت کړه په ولاړه يې مونځ وکړو نو دا افضل او اعلی شو او که په ناسته يې مونځ وکړي نيم ثواب ورته ملاويږي د قيام نه کولو د وجې نه اګر چې نورو خلکو په اعتبار سره ده ته پوره ثواب ملاويږي ځکه چې معذور دی که دغه کس دومره معذور دي چې شريعت ورته د

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۵۸۶،رقم الحديث : ۱۱۱۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

ملاستې احاد ـ ورکړی دی خو هغه محنت او د مشقت د وجې نه په ناسته مونځ وکړي ده ته به اعلی او به ثواب ملاوِ شي او که په ملاسته يې وکړو ده ته به د ناستې مونځ په اعتبار سره نیم ثواب ورکولی ږيږي اګر چې د خلکو په اعتبار سره ورته پوره ثواب ملاويږي.

ږ بحث حديث د عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سختې مجبورۍ او د بيماری حالت دی او هغه د فرضو په باره کې تپوس کولو لهذا دا حديث هغه معترض باره کې دی متنفل باره کې نه دی البته د ملاستې صورت نه علاوه احناف او جمهور فقهاء متنفل باره کې داسې فتوی ورکوي چې ده ته به د نيم ثواب ملاويږي. (المرقات ۳/۳۲۰).

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

د شپې په اودس کې د ځملاستو فضيلت:

﴿۱۰﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ أَوَى إِلَى فِرَاشِهِ

ابو امامة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه اوريدلې دي چې څوک راشي خپلې بسترې ته

طَاهِرًا وَ ذَكَرَ اللهَ حَتَّى يُدْرِكَهُ النُّعَاسُ

(او په اودس يا تيمم سره يې پاکي حاصله کړي وي) او خوب راتلو پورې په ذکر الله کې مشغول وي او

لَمْ يَتَقَلَّبْ سَاعَةً مِنَ اللَّيْلِ يَسْأَلُ اللهَ فِيهَا خَيْرًا مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَ الْآخِرَةِ

د شپې چې کوم وخت کې داهم په دې حالت سره طرف بدلوي چې الله تعالی نه د دنيا او آخرت د نيکۍ سوال

إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ». (ذَكَرَهُ النَّوَوِيُّ فِي كِتَابِ الْأَذْكَارِ بِرِوَايَةِ ابْنِ السُّنِي)[1].

کوي الله تعالی به ورته ضرور نيکي ورکوي د احديث نووي کتاب الاذکار کې ابن السنی روايت سره نقل دی

توضيح: مطلب دا دی يو کس چې د شپې په اودس کې ځملي چې د شپې کومه حصه کې راپاڅي يا طرف بدلوي الله تعالی نه دعاء غواړي الله تعالی به دده سوال قبلوي که دغه سوال د دنيا متعلق وي او که د آخرت متعلق وي. (المرقات ۳/۳۲۲).

دوه قسمه خلکو نه الله تعالی ډير زيات خوشحاله وي:

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَجِبَ رَبُّنَا مِنْ رَجُلَيْنِ

عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي زما رب د دوه کسانو نه ډير خوشحاله وي

---

(۱) أخرجه ابن السني في اليوم والليلة ص ۲۳٤ ، رقم الحديث : ۷۲۲.

رَجُلٌ ثَارَ عَنْ وِطَائِهِ وَ لِحَافِهِ مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَ أَهْلِهِ إِلَى صَلَاتِهِ فَيَقُولُ اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ :

يو هغه كس چې د شپې نرمې وګرمې بستر نه او خپلې محبوبې ښځې نه پاڅي الله تعالى خپلو فرښتو ته وايي

انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي ثَارَ عَنْ فِرَاشِهِ وَ وِطَائِهِ

زما بنده ته وګورئ زما سره د څيزونو د شوق نه او زما سره د څيزونو نه وريد و د وجې نه خپل نرم بستر پاڅ او

مِنْ بَيْنِ حِبِّهِ وَأَهْلِهِ إِلَى صَلَاتِهِ رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِي وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِي وَرَجُلٌ غَزَا فِي سَبِيلِ اللهِ

خپلې خوښې ښځې نه خپل مونځ د پاره پاڅيد و او دويم هغه كس دى چې د الله تعالى په لاره كې جهاد وكړي

فَانْهَزَمَ مَعَ أَصْحَابِهِ فَعَلِمَ مَا عَلَيْهِ فِي الِانْهِزَامِ وَمَا لَهُ فِي الرُّجُوعِ

خپل ملګري ترې وتختيدل خو چې كله ورته د تختيد و سزا او واپس د راتللو ثواب رايادشو نو جنګ هغه

فَرَجَعَ حَتَّى هُرِيقَ دَمُهُ فَيَقُولُ اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ : انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي

وخته پورې وو تر دې چې شهيد شو الله تعالى خپلو فرښتو ته فرمايي زما بنده طرف ته وګورئ زما سره

رَجَعَ رَغْبَةً فِيمَا عِنْدِي وَشَفَقًا مِمَّا عِنْدِي حَتَّى هُرِيقَ دَمُهُ". (رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ)[1].

څيزونو د شوق نه او زما سره د څيزونو د ويرې نه واپس راغلو تر دې چې خپل ځان يې هم ورکړو .

توضيح: د دې حديث خلاصه او مطلب دادى چې الله دوه قسمه خلكو نه ډير خوشحاله وي : يو هغه كس چې د شپې د تهجد و مونځ د پاره خپله نرمه او ګرمه بستره او خپل اهل وعيال پريږدي او مونځ ته پاڅي الله تعالى فرښتو ته فرمايي تاسو ويل چې انسان څه له پيدا كوې نن څنګه زما د خوشحالولو او د جنت د حاصلولو او د دوزخ نه د بچ كيدو د پاره پاڅي ، دغه شان غازي د الله تعالى د ويرې نه د ميدان نه وتختي او ميدان كې جنګ كوي تر دې چې شهيد شي الله تعالى فرښتو ته فرمايي زما د رضا او جنت د حصول او دوزخ نه د بچ كيدو د پاره يې ځان قربان كړو (تاسو ويل چې انسان مه پيدا كوه) . (المرقات ٣/٣٢٧).

الْفَصْلُ الثَّالِث:

﴿١٢﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: حُدِّثْتُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:

عبد الله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې ما ته دا حديث بيان شوى دى حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي

---

(١) أخرجه احمد في المسند ٤١٦ ، والبغوي في شرح السنة ٤/٤٢ رقم الحديث : ٩٣٠ .

Maktaba Tul Ishaat.com

« صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا نِصْفُ الصَّلَاةِ » قَالَ :

بغير عذره ناسته باندې نفل مونځ کولو والا د ولاړې مونځ کولو په مقابله کې نيم دی ، عبدالله وايي زه

فَأَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي جَالِسًا

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شوم، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه وخت په ناسته باندې مونځ کولو

فَوَضَعْتُ يَدِي عَلَى رَأْسِه فَقَالَ : « مَا لَكَ يَا عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو ؟ » قُلْتُ :

مادنبي عَلَيْهِ السَّلَام سرمبارک باندې لاس کيښود وويي فرمايل: عبدالله بن عمرو څه خبره ده ؟ماتپوس وکړو

حُدِّثْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَّكَ قُلْتَ : « صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا عَلَى نِصْفِ الصَّلَاةِ »

ای دالله رسوله! ماته داويلی شوې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمايلي دي په ناسته مونځ کولو والا ثواب نيم دی

وَ أَنْتَ تُصَلِّي قَاعِدًا قَالَ : « أَجَلْ وَ لَكِنِّي لَسْتُ كَأَحَدٍ مِنْكُمْ» . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

اوتاسوپه خپله په ناسته مونځ کوئ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې داسې ده خوزه ستاسوپه شان نه يم .

توضيح : فوضعت يدي على رأسه : د اهل عربو عادت دادی د تعجب او محبت د وجې نه هغه وخت لاس کيږدي چې کله نا اشنا کار وويني دا د دوي يو محبت دی کوم چې د ادب بالکل منافي نه دي . حضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره داسې معامله وکړه هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت وو ده ته دې باندې حيران شو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ناسته باندې مونځ کوي او دې ته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناقص ويلی دی او د نيم ثواب حکم يې پرې هم لګولی دی نو دا په دې ناقص عمل باندې عمل کوي . (المرقات ۳/۳۲۶).

لكني لست: يعنې زه ستاسو په شان نه يم ، ما ته هر حالت کې ثواب پوره ملاويږي که په ناسته باندې وي يا ولاړه وي ، دې حديث نه واضحه شوه دا تقسيم د نفل مونځ متعلق دی که بغير عذر نه په ناسته باندې وکړي نيم ثواب به ورته ملاويږي . (المرقات ۳/۳۲۷).

د مسلمانانو د پاره مونځ د راحت او سکون ذريعه ده :

﴿۱۳﴾ وَعَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ مِنْ خُزَاعَةَ : لَيْتَنِي صَلَّيْتُ فَاسْتَرَحْتُ

سالم بن ابي الجعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي د خزاعه قبيلې يو کس وويل کاش! چې ما مونځ کولی او راحت مې موندی

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۵۸۷،رقم الحديث : ۱۱۱۷، ومسلم في الصحيح ۱/۵۰۷ رقم الحديث: ۱۲۰-۷۳۵.

فَكَأَنَّهُمْ عَابُوْا ذٰلِكَ عَلَيْهِ فَقَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ
كله چې خلكو دده وينا خوښه نه كړه هغه وويل ماد حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام
يَقُوْل : « أَقِمِ الصَّلَاةَ يَا بِلَالُ أَرِحْنَا بِهَا » . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۱).
فرمايلي دي بلال د مونځ د پاره تكبير كوه چې په دې سره راحت حاصل كړو .

توضيح : فأسترحت : مطلب دادی يو خزاعي كس په خپله هم صحابي دی او د صحابو مخې ته وايي كاش چې ما مونځ كولی او راحت راته ملاويدی ، صحابه كرامو او تابعينو دده خبره ناخوښه كړه ځكه چې ددې مفهوم خو دا هم اخستلی شي چې مونځ يو بوج دی او لويه ذمه داري ده زه په جلتئ سره مونځ كوم ددې د پاره چې ما ته سكون ملاو شي دا كس پوهه شو چې خلكو ته دې لفظ كې غلط فهمي شوې ده ځكه مې په دليل كې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمان پيش كړو چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وفرمايل : ای بلاله ! د مونځ د پاره تكبير ووايه او مونږ ته په دې سره راحت ورسوه .

اصل حقيقت دادی چې د **فأسترحت** ، د مفهوم دوه احتماله دي : يو دادی چې مونځ يو ذمه داري او بوج دی چې مونږ يې وكړو چې سر نه مو بوج كوزشي دې مفهوم كې بې ادبي او د مونځ نه جدا والی دی ددې وجې نه خلكو ته دا خبره خوښه نه شوه ، دويم احتمال دادی چې مونځ مو كړی وی د مونځ په ذريعې سره سكون ملاويږي الله سره خبرې او د مناجات شرف حاصليږي دې نه بغير خفګان وې او غم او پريشاني وي ددې معنی په اعتبار سره حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وفرمايل : اقامت وكړه ارحنا بها ، يعني د مونځ په ذريعې سره مونږ ته راحت راورسوه ددې صحابي خزاعي مطلب هم دا وو ځكه يې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كلام نه استدلال وكړو .د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دويم حديث كې تصريح ده فرمايي : **وجعلت قرة عيني في الصلوة** ، د نيكو خلكو په كلام كې چې كله دوه احتماله وي نو په ښه احتمال باندې حمل كول په كار دي ، (المرقات ۳/۳۲٦). يو چا څه ښه ويلي دي:

كارپاكان بر قياس خود مگير ❊ گرچه آيد در نوشتن شير و شير

يعني د نيكانو خلكو كار او كلام په خپل ځان مه قياس كوه فرق ډير دی ځكه چې د شير او شير ليكلو كې يو شان دی خو د يو معنی پئ او د بل معنی شير (زمري) دی دې كې لوی فرق دی .

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲٦۲/٥ ،رقم الحديث : ٤۹۸٥.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب الْوِتْر:

قال الله تعالى: ﴿وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ ، وَاللَّيْلِ إِذَا يَسْرِ﴾.(سورة الفجر آيت: ۲-۳)

دوتر لغوي معنى: وتر يتر وترا بالفتح و الكسر جفت طاق كولو په معنى سره دى دغه شان باب افعال نه ايتار يو څيز طاق جوړيدو په معنى دى وتر هر هغه مونځ ته ويلى شي چې دري ركعته وي خو د فقهاو اصطلاح كې وتر هغه خاص مونځ ته ويلى شوې چې د ماسخوتن مونځ پسې فورا كيږي ، دې باب كې د دې وتر بيان دى د دې متعلق احاديث دي ، داسې د وترو اطلاق په تهجد و باندې هم كيږي او مطلق صلوة الليل باندې هم اطلاق كيږي خو دلته د هغه معروف وترو بيان دى كوم وتر الليل يعنې د شپې وتر په نوم سره مشهور دى وتر النهار يعنې د ورځې وتر اطلاق په مابنام مونځ باندې دى.

الْفَصْل الأول:

د وترو د وجوب او تعداد ركعاتونو بيان:

﴿۱﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى
ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : د شپې مونځ دوه دوه ركعته دي او
فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوتِرُ لَهُ مَا قَدْ صَلَّى» (بخاري، مسلم)[1]
كه چا ته د شپې تيريدو ويره وي يو ركعت وكړه دا (يو ركعت) به اولني شوى مونځ طاق كړي.

توضيح: توتر له ما قد صلى: د وتر په مباحثو كې په ډيرو ځايونو كې د فقهاو اختلاف دى دلته يې د دوه لويو مسائلو متعلق بحث كړى دى اولني بحث دې كې دى چې آيا وتر واجب دي او كه سنت او دويم بحث د وترو د ركعتونو په تعداد كې دى.

اول بحث: دوترو حيثيت: د وتر واجب كيدو او سنت كيدو كې د فقهاو اختلاف دى:

د فقهاو اختلاف: امام مالک ، مام شافعي او امام احمد بن حنبل او صاحبين رَحِمَهُمُ اللهُ فرمايي وتر سنت دي واجب نه دي ، امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ فرمايي وتر واجب دي او د فرضو او سنتو په مينځ كې يو درجه ده

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/٤۷۷،رقم الحديث : ۹۹۰، ومسلم في الصحيح ۱/٥۱٦ رقم الحديث:۱٤٥-۷٤۹، وأبو داود ۲/۸۰ رقم الحديث :۱۳۳٦.

دي نه واجب ويلى كيږي ، عملاً د فرضو په شان دي او اعتقاداً واجب دي . (المرقات ۳/۲۳۶).

ابو حنيفه رحمه الله د ډېرو لويو درجه امام صاحب متعارف كړه، ځكه چې اثبات د احكامو د پاره دلائل څلور دي دي نه ثابت احكامات هم څلور قسمونو باندې كيدل په كار دي : (۱) قطعي الثبوت قطعي الدلالة ، (۲) قطعي الثبوت ظني الدلالة ، (۳) ظني الثبوت قطعي الدلالة ، (۴) ظني الثبوت ظني الدلالة . دې دلائلو نه فرائض ، واجبات . سنن مؤكده او سنن زوائد . مستحبات ثابت دي لهذا د فرضو سره يو درجه د وجوب هم ده عملاً د فرضو په شان دي خو اعتقاداً فرض نه دي بلكه واجب دي . د دې منكر كافر نه وي ګمراه وي . جمهور هم د وتر و د هغه درجه مني خو په ژبه د واجب اعلان نه كوي خو دغه حضرات وتر د سنتو نه اهم ګڼي او د فرضو نه كم درجه كې يې مني ، امام صاحب رحمه الله دې ته واجب وايي خو جمهور د دې تصريح نه كوي .

د جمهورو دلائل : جمهور د وتر و په سنتيت باندې لاندې دلائل پيش كوي : (۱) د حضرت علي رضي الله عنه فرمان دي : د هغه نه د وتر و د حيثيت په باره كې تپوس وشو هغه وفرمايل : **الوتر ليس بحتم كصلوتكم المكتوبة ولكن سن رسول الله صلى الله عليه وسلم** (ترمذي ج ۱ ص ۱۰۳)

(۲) د حضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت دى : مشكوة ص ۱۱۳ باندې مذكور دى ، او د دې باب حديث نمبر ۲۳ دى الفاظ يې دادي : **عن مالک بلغه ان رجلا سأل ابن عمر عن الوتر أواجب هو فقال عبدالله قد اوتر رسول الله صلى الله عليه وسلم واوتر المسلمون** . ابن عمر رضي الله عنه د واجب لفظ نه دى استعمال كړى . (المرقات ۳/۳۵۱).

(۳) د طلحة بن عبيدالله حديث دى دې كې يو اعرابي د حضور صلى الله عليه وسلم نه د پنځه مونځونو نه علاوه د يو مونځ تپوس وكړو : **هل عَلَيَّ غيرهن** ، دې جواب كې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل : **لا ، الا ان تطوع** (رواه مسلم)

د دې نه معلومه شوه چې د پنځه فرائضو نه علاوه مونځ ضروري او واجب نه دى بلكې ټول تطوع او نفل دي .

(۴) جمهورو د عقلي دليل نه هم استدلال كړى دى او ثابته شوه چې څه علامات داسې دي ، دې نه معلوميږي چې وتر سنت دي واجب نه دي دې د پاره مستقل وخت نشته بلكې د ماسخوتن تابع دي ، دويم دا چې د دې د پاره آذان او اقامت نشته دا ټول علامات په دې باندې دلالت كوي چې وتر سنت دي واجب نه دي .

د امام ابو حنيفه رحمه الله دلائل : امام ابو حنيفه رحمه الله د وجوب وتر قول كې ځان له نه دى بلكې حضرت ابن مسعود ، حضرت حذيفه ، ابراهيم نخعي ، يوسف بن خالد سمتي ، سحنون ، سعيد بن مسيب ،

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوعبيده بن عبدالله بن مسعود ضحاک ، مجاهد او حسن بصري رَحِمَهُمُ اللهُ داسې د اکابر جماعت هم د وترو د وجوب قائل دي .

دلائل : (۱) د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ اولنې دليل د حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث دى ددې الفاظ دادي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي دري ځلې : **الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا الخ** (ابوداؤد) . (المرقات ۳/۳۵۰).

دلته حق په معنى د واجب دى او فليس منا وعيد د سخت وجوب دليل دى .

(۲) دويم دليل : مشكوة ص ۱۱۳ باندې د حضرت ابوايوب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نمبر ۱۲ دى ، ددې الفاظ دادي : **الوتر حق على كل مسلم** (ابوداؤد) (المرقات ۳/۲۳۶).

(۳) مشكوة ص ۱۱۲ باندې د حضرت خارجه بن حذافه حديث نمبر ۱۴ دى ددې څه الفاظ دادي:

قال خرج علينا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وقال ان الله امدكم بصلاة هي خير لكم من حمر النعم الوتر (ترمذي ، ابوداؤد) . (المرقات ۳/۳۳۹).

وجوب د وترو د پاره ددې حديث نه د استدلال طريقه دا ده چې دې حديث کې د **امدكم** الفاظو مطلب دادى چې الله تعالى تاسو ته مزيد يو مونځ درکړى دى ستاسو مزيد امداد يې کړى دى ، د مزيد او مزيد عليه قاعده داده چې د مزيد د پاره ضروري ده چې د مزيد عليه انصرام او انقطاع او اختتام به کيږي تر څو مزيد عليه محدود او متعين نه وي او انتهاء ته نه وي رسيدلى ، دې باندې مزيد د زائد کيدو تصور نه شي کيدى ، اوس دا کتل دي چې مزيد عليه دلته سنن او نوافل راخستلى شي دا صحيح نه ده ځکه نوافلو د پاره حد نشته دى چې دې باندې د نوافلو انقطاع راشي او وتر دې باندې سوا کړي ، ددې نه معلومه شوه چې امدكم لفظ دا وايي چې مزيد عليه سنن نوافل نه دي بلکې فرائض دي او فرائضو باندې الله يو مزيد مونځ عطاء کړو او وى فرمايل چې هغه واجب دي او هغه وتر دي .

(۴) د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ څلورم دليل ددې باب حديث نمبر ۱۴ دى دې کې **فاوتروا يا اهل القرآن** الفاظ دي دې کې د امر صيغه ده د وجوب دليل دى . (المرقات ۳/۳۳۹).

(۵) ددې باب حديث نمبر ۱۵ دى دې کې **من نام عن وتره فليصل اذا اصبح** الفاظ دي ددې نه معلومه شوه که وتر قضاء شي ددې کول ضروري دي دا هم د وجوب دليل دى . (المرقات ۳/۳۴۱).

(۶) امام مالک او احمد رَحِمَهُمَا اللهُ تارک وتر باره کې فرمايي : يعزر تارک الوتر ولا تقبل له شهادة ابدا ، دا فتوى هم ددې خبرې دليل دى ددوي په نزد هم وتر واجب دي صرف نوم کې يې فرق دى ، دا حضرات د واجب په ځاى ورته سنت وايي او امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ ورته د واجب نوم اخستى دى .

جواب: جمهورو د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه استدلا کړی دی ددې جواب دادی چې مونږ هم وایو وتر فرض نه دي او ددوي مطلب هم دادی چې وتر فرض نه دي بلکې واجب دي حتم لفظ د فرضو د پاره استعمال دی. جمهورو د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت نه استدلال کړی دی جواب دادی د انصاف تقاضا هم داده چې دا روايت د جمهورو دليل نه شي جوړيدی ځکه چې سائل بار بار سوال کړی دی ایا وتر فرض دي او که واجب؟ جواب کې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د سنت لفظ ويلی دی نه د فرض او نه د واجب بلکې هغه د سنت اطلاق نه د بچ کيدو کوشش کړی او د فرض اطلاق هم نه کوي هغه وخته پورې چې د وترو رتبه نه ده ظاهره شوې هغه وخت دليل ظني الثبوت قطعي الدلالة يا قطعي الثبوت ظني الدلالة نه وو د واجب درجه نه وه دا درجه وروستو بنکاره شوه.

باقي واقعه د اعرابي چې شروع کې وه د وترو حکم لا نه وو راغلی دي کې د عيدينو د مونځ حکم هم نه وو حالانکه جمهور د عيدينو وجوب مني باقي ددوي د استدلال چې د وترو د پاره وخت نشته اذان او اقامت نشته ددې جواب دادی د ماسخوتن وخت د وترو وخت دی او وتر د ماسخوتن تابع دي ځان له د اقامت او اذان ضرورت نشته او دا هم ضروري نه ده چې د کوم مونځ د پاره آذان او اقامت نه وي هغه به سنت وي او عيدينو د پاره هم آذان او اقامت نشته حالانکه هغه واجب دي.

دويم بحث دوترو د رکعاتونو تعداد: صلی رکعة واحدة، د وترو په مسئله کې دويم لوي اختلاف ددې د رکعتونو تعداد کې دی چې وتر يو رکعت دی يا دري دي پا ينځه دي يا څومره دي روایاتو کې د ډيرو اقوالو د وجې نه د فقهاو په مينځ کې اختلاف پيدا شوی دی.

د فقهاو اختلاف: د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد وتر دري رکعته دي خو په دوه سلامو سره او دا سلام د سجده سهوې سلام په شان قاطع صلوة نه دی، د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد حقيقةً او اصلاً وتر يو رکعت دی خو دې نه مخکې دوه رکعته شفعه لازم ده يعنې وتر به هله ادا کيږي چې دې نه مخکې دوه رکعته شفعه وي چې يو رکعت ددې د پاره مؤثر جوړ شي، د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد وتر يو رکعت هم جائز دی ادنی درجه ده او دري هم جائز دي چې افضل درجه ده او ۵، ۷، ۹، ۱۱ رکعته هم په يو سلام سره جائز دي. (المرقات ۳۴۰-۳/۳۴۱).

د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد صلوة وتر يو مخصوص مونځ نه دی هغه دري رکعته دي د دريو نه کم وتر نه دي او نه ډير دي. (المرقات ۳/۳۴۱).

خلاصه دا چې د امام مالک، امام احمد بن حنبل رَحِمَهُمَا اللهُ مسلک د مآل په اعتبار سره په عملي طور باندې، د احنافو د مسلک پشان دی، دا اختلاف کوم واضح اختلاف نه دی، اصل اختلاف امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ سره پاتې شو د هغې بيان کول په کار دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دلائل: د يو ركعت وتر د ثبوت د پاره امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ مشكوة ص ۱۱۳ باندې د نافع روايت نمبر ۲۵ نه استدلال كړی دی، دې كې **اوتر بواحدة** الفاظ راغلي، (المرقات ۳/۳۴۱).

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دويم دليل مشكوة ص ۱۱۲ باندې د حضرت ابن عباسؓ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نمبر ۲۵ دی، دې كې حضرت معاويه رضی الله عنه د يو ركعت وتر و تذكره چې كله د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مخې ته راغله، ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وفرمايل: هغه صحابي رسول هم دی او فقيه هم دی ځكه چې دا په خپل حال باندې پريږده. (المرقات ۳/۳۵۰).

د امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دريم دليل مشكوة ص ۱۱۲ باندې د حضرت ابو ايوب انصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث نمبر ۱۳ دی دې نه مخكې حضرت عبدالله بن ابي قيس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نمبر ۱۱ هم دی د دې دواړو روایاتو نه شوافع يو نه واخله ديارلس پورې وتر ثابتوي. (المرقات ۳/۲۳۶).

(۱) امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ دري ركعاته وتر و اثبات د پاره مشكوة ص ۱۰۶ باندې د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا حديث نه استدلال كړی دی چې الفاظ يې دادي: **وعنها قالت كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يصلي من الليل ثلث عشرة ركعة منها الوتر وركعتا الفجر.**

(۲) امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ مشكوة ص ۱۰۶ باندې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نه استدلال كړی دی، دې كې واضح دا الفاظ دي: **ثم اوتر بثلاث**، او دا روايت مسلم كې هم دی.

(۳) امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ابواب الوتر فصل ثاني كې د عبدالعزيز بن جريج حديث نمبر ۱۶ نه استدلال كړی دی دې كې د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه تپوس وشو، چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كوم سورتونه وتر و كې لوستل؟ حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا دوام طرف ته اشاره كولو سره وفرمايل: حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اولني ركعت كې سورة اعلى لوسته، دويم ركعت كې سورة كافرون، دريم ركعت كې يې سورة اخلاص او معوذتين ويل دا واضح دليل دی چې وتر دري ركعاته دي په يو سلام سره.

(۴) امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ د ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت نه استدلال كړی دی الفاظ يې دادی: **كان رسول الله يقرأ في الوتر بسبح اسم ربك الاعلى و قل يا ايها الكافرون وقل هو الله** (ترمذي، نسائي) (المرقات ۳/۳۴۱).

(۵) علامه ابن الهمام فتح القدير كې د حاكم په حواله سره يو روايت نقل كړی دی الفاظ يې دادي:
عن عائشة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا قالت كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوتر بثلاث لا يسلم الا في آخرهن.

(۶) دار قطني د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يو روايت نقل كړی دی فرمايي: **وتر الليل ثلاث كوتر النهار صلوة المغرب.** دا روايت موقوف هم دی او مرفوع هم دی، كه موقوف وي نو موقوف هم داسې

سمعي مسائلو کې د مرفوع په حکم کې وي.

(۷) حافظ ابن عبد البر تمهيد کې صحيح سند سره د حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مرفوع حديث داسې نقل کړی: **ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نهى عن البتيراء ان يصلى الرجل واحدة (نصب الراية)**

امام محمد رَحِمَهُ اللَّهُ مؤطا کې د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا اثر نقل کړی دی: **ما اجزأت ركعة قط**، طحاوي کې د ابو خالد رَحِمَهُ اللَّهُ نه دا نقل دي هغه فرمايي: ما د ابو العاليه رَحِمَهُ اللَّهُ نه د وترو باره کې تپوس وکړو هغه وفرمايل: مونږ ته صحابو ښودلي دي وتر د مانښام د مونځ په شان دي يو د ورځې وتر دي يو د شپې وتر دي.

(۸) امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ يو مضبوط دليل مشكوة ص ۱۱۳ باندې د حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حديث نمبر ۲۴ دی الفاظ يې دادي: **وعن علي قال كان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوتر بثلاث يقرأ فيهن بتسع سور من المفصل يقرأ في كل ركعة بثلاث سور اخرهن قل هو الله احد.**

په دې حديث کې بالکل تصريح موجود ده چې وتر دري رکعاته دي او په هر رکعت کې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دري دري سورتونه لوستلي دي چې مجموعه يې نهه سورتونه مکمل کيږي. (المرقات ۳/۳۴۱).

جواب: چيرته چې اوتر بواحدة لفظ راغلی دی نو اوتر طاق جوړيدو په معنی سره دی شفعې سره يو رکعت يو ځای کيدو سره وتر جوړ کړل يا د يو رکعت ذکر چرته هم نشته، يعنې **صلى بواحدة** الفاظ نه بلکې **اوتر بواحدة** الفاظ دي او کومو روایاتو کې چې پنځه، اوه، نهه، يولس رکعاته ذکر دي هلته وتر دري دي باقي د تهجد و مونځ مراد دی.

د وترو اطلاق په تهجد و هم کيږي **توتر ما قد صلى**، مندرجه بالا تحقيق د پاره دليل دی. د حضرت معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د روايت جواب ورکولو ضرورت نشته په خپله ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د معاويه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عمل ناقابل عمل ګرځولی او خلک يې ترې منع کړې وو دا ددې خبرې دليل دی چې هغه وخت کې يو رکعت وتر تصور نه وو دغه وجه ده چې حسن بصري رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: دري رکعته وترو باندې د صحابو اجماع ده، احتياط هم په دې کې دی چې دري رکعته وشي يو رکعت په دريو کې دننه دی او دري په يو کې دننه نه وي.

فقهاو دري رکعته وتر افضل ګرځولی دي دغه اتفاقي افضل صورت باندې اتفاق کول په کار دي دا خبره ثابته ده چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو رکعت کولو نه منع فرمايلې غير مقلدينو ته په کار دي چې د فقهاو متفقه فيصلې ته احترام وکړي د يو رکعت وتر ضد دې پريږدي.

Maktaba Tul Ishaat.com

وتر جوړيدو د پاره يو رکعت وي:

﴿۲﴾ وَ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « اَلْوِتْرُ رَكْعَةٌ
د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : وتر يو رکعت دی او د
مِنْ آخر اللَّيْل ». (رَوَاهُ مُسلم)[1].
شپې په آخرې حصه کې وتر (کول افضل) دی.

توضيح : الوتر رکعة : ددې مطلب دا دی چې دوه رکعته مخکې شوې دي چې يو رکعت يې بل ورسره يو ځای کړو اوس دري رکعته وتر جوړ شو ، ظاهري الفاظو نه اخوا ددې د تاويل ضرورت ځکه راغی چې دې ټولو روايتو کې تطبيق به وشي ، روياتو کې دري رکعته وتر بنکاره ذکر دي د وتر مستحب وخت د شپې آخره حصه ده . (المرقات ۳/۳۲۸).

د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا درواېت مطلب:

﴿۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً
دعائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د شپې ديارلس رکعته کول ، دې کې
يُوتِرُ مِنْ ذَلِكَ بِخَمْسٍ لَا يَجْلِسُ فِي شَيْءٍ إِلَّا فِي آخِرِهَا ". (متفق عليه)[2]
به يې پنځه رکعات وتر کول او دې کې سوا د آخري رکعت نه يو کې هم نه کيناستو.

توضيح : يوتر من ذلک بخمس : ددې دا مطلب نه دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پنځه رکعته وتر کړي دي مطلب دا دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ديارلس رکعاته داسې انداز کې کړي دي چې هره شفعه باندې تشهد وو يا به سلام وو يا به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه استراحت کولو خو اخري پنځه رکعاته کې دري وتر وو ، دې کې شفعه کولو نه پس حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ استراحت نه کولو بلکې سلام نه پس بغير توقف حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دري رکعته وتر کول . (المرقات ۳/۳۲۹).

البته وترو نه پس دوه رکعته په ناسته باندې کول ، بيا استراحت کولو ، خلاصه دا چې دې حديث کې صرف د آخري شفعه د تهجد او وترو نقشه بنودلې ، دې نه پس دوه رکعته نفل په ناسته کول او استراحت

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۵۱۸ رقم الحديث : ۱۵۳-۷۵۲.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۳/۲۰،رقم الحديث :۱۱٤، ومسلم في الصحيح ۱/۵۰۸ رقم الحديث:۱۲۳-۷۳۷، وأبو داود ۲/۷۵ رقم الحديث :۱۳۳۸.

طرف ته اشاره شوې ده دا ددې روايت داسې مطلب دی چې د احنافو مسلک موافق دی د احنافو په نزد وتر پنځه نه بلکې درې رکعاته دي .

شوافع حضرات ددې مطلب دا اخلې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخر کې پنځه رکعاته وتر کول دي کې يو سلام او يوه اخري قعده وه خبره ختمه ، دې کې نور هم ډير تاويلات دي والله اعلم بحقيقة الحال . (المرقات ۳/۳۲۹).

د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوترو او تهجدو پوره نقشه :

﴿٤﴾ وَ عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ قَالَ انْطَلَقْتُ إِلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ

سعد بن هشام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي زه د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کې حاضر شوم او عرض مې وکړو

أَنْبِئِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَتْ : أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ ؟

چې ما ته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خلق باره کې ووايه عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي تا قرآن نه دی لوستلی ؟

قُلْتُ : بَلَى . قَالَتْ : فَإِنَّ خُلُقَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنَ . قُلْتُ :

ماعرض وکړو ولې نه ويلی مې دی وی فرمايل: د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخلاق قرآن دی ما بيا عرض وکړو

يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ أَنْبِئِينِي عَنْ وَتْرِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ فَقَالَتْ : كُنَّا نُعِدُّ لَهُ

ای عايشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ! د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وترو باره کې څه ووايه ؟ وې فرمايل : ما به انتظام کړې وو د نبي

سِوَاكَهُ وَ طَهُورَهُ فَيَبْعَثُهُ اللهُ مَا شَاءَ أَنْ يَبْعَثَهُ مِنَ اللَّيْلِ

عَلَيْهِ السَّلَام د پاره مسواک اوداودس داوبو کله چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام الله تعالی د شپې پاڅول غوښتل پاڅوو به يې

فَيَتَسَوَّكُ وَ يَتَوَضَّأُ وَ يُصَلِّي تِسْعَ رَكَعَاتٍ لَا يَجْلِسُ فِيهَا

نبي عَلَيْهِ السَّلَام به مسواک وکړو بيا اودس اونهه رکعته مونځ به يې وکړو چې نه به کيناستو په بل رکعت کې

إِلَّا فِي الثَّامِنَةِ فَيَذْكُرُ اللهَ وَ يَحْمَدُهُ وَ

په غير د اتم رکعت نه چې اتم رکعت به يې وکړو کيناستو به ، د الله ذکر به يې کولو تعريف به يې کولو او

يَدْعُوهُ ثُمَّ يَنْهَضُ وَلَا يُسَلِّمُ فَيُصَلِّي التَّاسِعَةَ ثُمَّ

دعاء به يې غوښتله بيا د سلام اړولو نه بغير به نهم رکعت ته پاڅيد و بيا به يې نهم رکعت پوره وکړو بيا به

يَقْعُدُ فَيَذْكُرُ اللهَ وَ يَحْمَدُهُ وَ يَدْعُوهُ ثُمَّ

کيناستو تشهد کې د الله ذکر به يې کولو د هغه تعريف به يې بيانولو او الله نه به يې دعاء غوښتله دا به يې

Maktaba Tul Ishaat.com

يُسَلِّمُ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَعْدَمَا يُسَلِّمُ وَهُوَ قَاعِد فَتِلْكَ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَة

مونږ ته په تيز آواز اورولو سره سلام ګرځولو دي نه پس به يې په ناسته دوه رکعته کول نو دا يولس رکعته شو

يَا بُنَيَّ ! فَلَمَّا أَسَنَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ أَخَذَ اللَّحْمَ

ای زما زويه ، کله چې د حضور ﷺ عمر زيات شو او ډير عمر دوجې نه په بدن غوښه زياته شوه

أَوْتَرَ بِسَبْعٍ وَ صَنَعَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَنِيعِهِ فِي الْأُولَى فَتِلْكَ تِسْعٌ يَا بُنَيَّ وَ كَانَ

اوه رکعته سره دوتر وبه يې کول او دوه رکعته په ناسته وکړل ای زما بچيه دا نهه رکعاته شو ، او وو به

نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً أَحَبَّ أَنْ يُدَاوِمَ عَلَيْهَا

نبي عليه السلام چې کله به يې يو مونځ کولو دا خبره به يې خوښوله چې هميشه والې وکړې شي په دې باندې

وَ كَانَ إِذَا غَلَبَهُ نَوْمٌ أَوْ وَجَعٌ عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ

او چې کله به غالب شو په نبي عليه السلام باندې خوب يا بل داسې تکليف چې دهغې د وجې د شپې او دريدل

صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً وَلَا أَعْلَمُ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

ممکن نه وو نو نبي عليه السلام به د ورځې اوله حصه کې دولس رکعاته کول زه نه پوهيدم چې نبي عليه السلام

قَرَأَ الْقُرْآنَ كُلَّهُ فِي لَيْلَةٍ وَلَا صَلَّى لَيْلَةً إِلَى الصُّبْحِ وَلَا صَامَ

کله هم په يو شپه کې ټول قرآن لوستلی دی او نه يې ټوله مونځ کړې دی تر سحره پورې او نه يې روژې

شَهْرًا كَامِلًا غَيْرَ رَمَضَانَ . (رَوَاهُ مُسلم)[1].

نيولې پوره مياشت په غير د مياشت د رمضان نه .

توضيح : الا في الثامنة : دا روايت هم د شوافعو مستدل دی چې په يو سلام سره اته رکعاته جائز دي . (المرقات ۳/۳۳۰).

غير رمضان: حضور ﷺ د روژې مياشتې نه علاوه پوره مياشت روژې نه دي نيولې ، دې حديث او د حضرت عائشې رضي الله عنها په حديث کې تعارض دی دې کې مذکور دی چې حضور ﷺ به د شعبان ټولې روژې نيولې ، ددې په جواب کې هم د حضرت عائشې رضي الله عنها يو حديث دی ، حضور ﷺ به اکثر او غالب شعبان روژو سره تيرولې **فللا كثر حكم الكل** ، تعارض پاتې

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۵۱۲ رقم الحديث :۱۲۹-۷۴۶

نه شو .

دوترو نه پس د دوه رکعتو نفل : ثم يصلي رکعتين وهو قاعد : دې کې بحث تير شوی دی د وترو نه پس دوه رکعاته ځنګه دي يو حديث کې ښکاره حکم دی خپل وتر مونځ د شپې اخري مونځ جوړ کړه دې نه معلومه شوه چې د وترو نه پس بل مونځ نشته دی حديث کې مذکور دي چې حضور ﷺ د وترو نه پس دوه رکعته په ناسته کړي دي ، امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ د وترو نه پس دوه رکعته نفل کولو والا حديث نه دی قبول کړی ، (المرقات ۳/۳۳۱).

حضرت امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي نه يې په خپله کوم او نه ترې څوک منع کوم ، جمهور فقهاء وايي دې نه انکار نه شي کولی دا دوه رکعاته نفل ثابت دي ، روایاتو کې چې کوم تعارض دی داسې يې ،ختموئ دواړه طريقې جائز دي کول هم جائز او نه کول هم جائز دي ، حديث کې د امر صيغه ده دا حکم استحبابي دي وجوبي نه دی تعارض نشته ، بعضې علماو دا تطبيق کړي ماسخوتن وخت کې که وتر وکړي دا دوه رکعات د ولاړې په ځای په ناسته وکړه ګيني مه يې کوه ، دې سره هم تعارض لرې کيږي ، خلاصه دا چې دا خبره ډيره واضحه ده دې دوه نفلو په باره کې خبره هله ده چې وتر ماسخوتن وخت کې وکړي که د شپې آخره حصه کې وتر وي بيا وتر آخري مونځ دی .

وتر د شپې آخره حصه کې کول په کار دي :

﴿٥﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا»(۱)
ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور ﷺ فرمايي : خپل د شپې آخري مونځ وتر جوړ کړئ.
﴿٦﴾ وَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ : « بَادِرُوا الصُّبْحَ
ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت کړي د نبي کريم ﷺ نه چې فرمايي : جلتئ کوئ د سحر د آثارو ښکاره
بِالْوِتْرِ» .(رَوَاه مُسْلم)(۲).
کيدو سره په وتر کولو باندې .

ددينې طلباو د پاره دوترو حکم :

﴿٧﴾ وَ عَنْ جَابِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « مَنْ خَافَ
جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې : حضور ﷺ فرمايي : کوم کس ته چې د دې خبرې ويره وي

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/٤٨٨،رقم الحديث :۹۹۸، ومسلم في الصحيح ۱/٥۱۷ رقم الحديث:۱٥۱-۷٥۱.

(۲) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/٥۱۷ رقم الحديث:۱٤۹-۷٥۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

أَنْ لَا يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ أَوَّلَهُ وَ مَنْ طَمِعَ
چې د شپې آخره کې نه پاڅم هغه له په کار دي چې د شپې په شروع کې وتر وکړي او د چا چې امید وي
أَنْ يَقُومَ آخِرَهُ فَلْيُوتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ فَإِنَّ صَلَاةَ آخِرِ اللَّيْلِ
دپاڅیدو د شپې په آخره حصه کې هغه دې د شپې آخره کې وتر وکړي ځکه چې مونځ د آخرې حصې د شپې
مَشْهُودَةٌ وَ ذٰلِكَ أَفْضَلُ » . (رَوَاهُ مُسلم)[1].
مشهود (یعنې دې وخت کې د رحمت فرشتې ،برکات او انوارات نازلیږي) دي او دا افضل دی.

توضیح : **آخر اللیل** : د شپې آخره حصه کې پاڅیدل ریاضت او عبادت دی خیټه خالي وي عبادت په آسانه کیږي بلکې زړه یې لګي د الله تعالی د انواراتو او برکاتو نزول کیږي ځکه ارشاد دی که امید یې وي چې آخري حصه د شپه کې پاڅیدی شي نو وتر مؤخر کړه چې د شپې آخرې حصې فضائل حاصل شي د چا علمي کار وي طالب علم وي مطالعې او تکرار کې مشغول وي هغه دې ماسخوتن وخت کې وتر وکړي او اوده دې شي لکه داسې راتلونکي د حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت مطلب هم دا دی.

شیخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ فرمایي : که طالب علم د ماسخوتن وتر وکړه هغې نه پس یې دوه رکعاته نفل وکړل ده ته ثواب حاصل شو . (اشعة اللمعات ۵۷۲، المرقات ۳/۲۳۳).

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د درې خبرو وصیت کړی دی :

﴿۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: مِنْ كُلِّ اللَّيْلِ أَوْتَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ
عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې هره حصه کې وتر کړي دي یعنې د شپې په شروع کې
وَ أَوْسَطِهِ وَ آخِرِهِ وَ انْتَهَى وِتْرُهُ إِلَى السَّحَرِ . (مُتفق عليه)[2].
د شپې مینځ او د شپې آخري حصه کې هم خو د عُمر په آخري وخت کې د سحر وخت ورله مقرر کړی وو .
﴿۹﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : أَوْصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ : صِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ
ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي زما ملګري (نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ) ماته د درې خبرو وصیت کړی : درې روژې نیول په هره

---

(۱) أخرجه مسلم في الصحيح ۱/۵۲۰ رقم الحديث: ۱۶۲-۷۵۵.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۴۸۶،رقم الحديث : ۹۹۶، ومسلم في الصحيح ۱/۵۱۲ رقم الحديث: ۱۳۷-۷۴۵،.

شَهْرٍ وَ رَكْعَتَيِ الضُّحٰى وَ أَنْ أُوْتِرَ قَبْلَ أَنْ أَنَامَ .(متفق عليه)[1].

مياشت کې، دويم دوه رکعته د څاښت مونځ کول، او دريم دا چې د اودو کيدو نه مخکې وتر کول.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

په شرعي آسانتياو باندې شکر ادا کول په کار دي:

﴿۱۰﴾ عَنْ غُضَيْفِ بن الْحَارِثِ قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: أَرَأَيْتِ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

غضيف بن حارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې ما د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه تپوس وکړو چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

كَانَ يَغْتَسِلُ مِنَ الْجَنَابَةِ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ أَمْ فِي آخِرِهِ ؟ قَالَتْ :

به غسل جنابت د شپې شروع کې کولو يا آخره حصه کې؟ عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمايل کله به نبي عَلَيْهِ السَّلَام د

رُبَّمَا اغْتَسَلَ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ وَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فِي آخِرِهِ قُلْتُ : اللهُ أَكْبَرُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ

شپې شروع حصه کې غسل کولو او کله آخره حصه کې ما وويل الله ډير لوي دی ټول تعريفونه هغه الله لره

جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً قُلْتُ : كَانَ يُوتِرُ أَوَّلَ اللَّيْلِ أَمْ

دي چې دينې امورو کې يې آسانتيا راوستې بيايې تپوس وکړو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وتر د شپې شروع کې کول يا

فِي آخِرِهِ ؟ قَالَتْ : رُبَّمَا أَوْتَرَ فِي أَوَّلِ اللَّيْلِ وَ رُبَّمَا أَوْتَرَ فِي آخِرِهِ

آخره حصه کې؟ عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وفرمايل : کله به يې شروع کې کول او کله د شپې آخره حصه کې کول،

قُلْتُ : اَللهُ أَكْبَرُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً قُلْتُ :

ما وويل الله ډير لوي دی ټول تعريفونه الله د پاره دي چې دينې امورو کې يې آسانتيا راوستې بيايې تپوس

كَانَ يَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَخْفُتُ ؟ قَالَتْ : رُبَّمَا جَهَرَ بِهِ وَ رُبَّمَا خَفَتَ

وکړو قرائت يې په مزه کولو يا تيز آواز باندې وي ويل کله يې په تيز آواز قرائت کولو او کله په مزه آواز باندې

قُلْتُ : اللهُ أَكْبَرُ الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ جَعَلَ فِي الْأَمْرِ سَعَةً . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ) وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ

ما وويل الله ډير لوي دی ټول تعريفونه الله د پاره دي چې دينې امورو کې يې آسان کړي (ابن ماجه د دې حرف

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ٥٦/٣،رقم الحديث :١١٧٨، ومسلم في الصحيح ٤٩٩/١ رقم الحديث:٨٥-٧٢١، وأبو داود ١٣٨/٢ رقم الحديث :١٤٣٢، والنسائي ٢٢٩/٣، رقم الحديث: ١٢٧٧ ، والترمذي ١٣٣/٣ رقم الحديث : ٧٦٠.

Maktaba Tul Ishaat.com

الْفَضْلَ الْأَخِيرَ.(۱)

آخري فقره نقل کړې ده).

د تهجد اووترو مونځونو د رکعتونو تعداد:

﴿۱۱﴾ وَعَن عبد الله بن أبي قيس قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: بِكَمْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عبد الله بن ابي قيس رضي الله عنه وايي: ما د عائشې رضي الله عنها نه تپوس وکړو چې حضور صلى الله عليه وسلم څو

يُوتِرُ؟ قَالَتْ: كَانَ يُوتِرُ بِأَرْبَعٍ وَ ثَلَاثٍ وَ سِتٍّ. وَ ثَلَاثٍ

رکعاته وترکول؟ عائشه رضي الله عنها وايي: حضور صلى الله عليه وسلم به کله څلورا و دري او کله شپږ او دري رکعاته

وَ ثَمَانٍ وَ ثَلَاثٍ وَ عَشْرٍ وَ ثَلَاثٍ وَ لَمْ يَكُنْ يُوتِرُ بِأَنْقَصَ مِنْ سَبْعٍ

کله اته او دري رکعاته او کله لس او دري رکعاته وترکول او رسول الله صلى الله عليه وسلم به وترنه کول کم د اوو

وَلَا بِأَكْثَرَ مِنْ ثَلَاث عشرَة. (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۲).

رکعتونو نه او نه زيات د ديارلسو رکعتونو نه.

توضيح: بأربع و ثلاث: حضرت عائشه رضي الله عنها پوره احتياط سره د تهجد و رکعتونو ځانله ذکر کړی دی اود وترو رکعتونو ذکر جدا فرمايي: حضور صلى الله عليه وسلم څلور رکعاته تهجد او دري رکعاته وترکول ددې مجموعه اوه رکعاته ده، کله شپږ او دري وتر دا نهه رکعاته شو، کله اته رکعاته او دري وتر دا يولس رکعاته شو، کله لس رکعاته او دري وتر دا ټول ديارلس رکعاته شو، حضرت عائشې رضي الله عنها چې کوم اهتمام سره دري وتر جدا ذکر کړي دا ددې خبرې دليل دی چې وتر دري رکعاته دي. (المرقات ۳/۳۳۵).

آخر کې حضرت عائشې رضي الله عنها د حضور صلى الله عليه وسلم عام عادت بيان کړی دی، عمومي طور باندې حضور صلى الله عليه وسلم اوو نه کم او د ديارلسو نه ډير وتر يعنې تهجد او وتر دواړه نه کول دلته د وترو اطلاق په تهجد و باندې هم دی او دا حصر د عمومي حالاتو په اعتبار سره دی ګيني پنځه او پنځلس رکعاته هم ثابت دي خو دغه معمول کم وو.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱/۱۵۳ رقم الحديث: ۲۲۶.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۹۷ رقم الحديث: ۱۳۶۲.

دوتر مونځ واجب دی:

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اَلْوِتْرُ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ
ابو ایوب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل: وتر هر مسلمان باندې حق دی
فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ وَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِثَلَاثٍ
لهذا څوک چې وترپنځه رکعاته کول غواړي پنځه رکعته دې وکړي او څوک چې درې رکعته کول غواړي
فَلْيَفْعَلْ وَ مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ». (۱)
درې رکعته دې وکړي څوک چې یو رکعت کول غواړي یو رکعت دې وکړي.

توضیح: الوتر حق: دې حدیث نه د وترو وجوب واضح معلوم دی بیا د وترو درې، پنځه او یو رکعت ذکر دي. (المرقات ۳/۳۳٦).

سفیان ثوري پنځه رکعاته واخیستل دلته شوافعو یو رکعت واخسته او احنافو درې رکعات واخیستل دغه شان حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو قول هم امت لاندې نه دی غورځولی.

وتروته ترغیب او دهغې فضیلت:

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ
حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: الله تعالی وتر دی وتر خوښوي
فَأَوْتِرُوا يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ» (۲).
لهذا ای اهل قرآن وتر کوئ.

توضیح: ان الله وتر: یعني الله تعالی خپل ذات کې او خپلو صفاتو کې یو دی څوک مثل او شریک او نظیر نه لري، الله تعالی خپلو افعالو کې هم یو دی څوک مدد ګار یې نشته، طاق عدد خوښوي او وتر هم طاق دي ځکه الله تعالی وتر خوښوي او ددې کولو والا ته ډیر زیات ثواب ورکوي اهل القرآن نه مراد اهل توحید او اهل ایمان مسلمانان دي. (المرقات ۳۳٦-۳/۳۳۸).

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱۳۲/۲ رقم الحديث :۱٤۲۲

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲۱٤/۱۱،رقم الحديث : ٦٤۱۰، ومسلم في الصحيح ۲۰۲٦/٤ رقم الحديث:٥-۲٦۸۸، وأبو داود ۱۲۷/۲ رقم الحديث :۱٤۲٦.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوترو وجوب او ددې وخت او فضيلت :

﴿۱٤﴾ وَعَنْ خَارِجَةَ بْنِ حُذَافَةَ قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَقَالَ :

خارجه بن حذافه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ خوا ته تشريف راوړو او وي فرمايل :

" إِنَّ اللهَ أَمَدَّكُمْ بِصَلَاةٍ هِيَ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ : الْوَتْرُ

الله تعالى ستاسو يو مونځ سره امداد کړی دی دا ستاسو د پاره د سرو اوښانو نه بهتر دی او هغه وتر دي

جَعَلَهُ اللهُ لَكُمْ فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى أَنْ يَطْلُعَ الْفَجْرُ ". (۱)

او ستاسو د پاره دا مونځ د ماسخوتن نه پس د سحر وتلو پورې ددې په مينځ کې مقرر دی .

توضيح : **حمر النعم** : عربو ته سره اوښان ډير خوښ او د عربو مالونو کې تولو نه ډير قيمتي دي ځکه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وترو ته ترغيب ورکولو سره د اوښانو ذکر وفرمايه ، دې حديث کې دا وښودی شو چې وتر د ماسخوتن تابع دي نو د ماسخوتن نه مخکې نه ادا کيږي. (المرقات ۳/۳۳۹)

دوترو قضاء لازم ده چې دا يې دوجوب دليل دی :

﴿۱۵﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «مَنْ نَامَ عَنْ وِتْرِهِ

زيد بن اسلم راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي څوک چې د وترو نه غافله وي او اوده شي

فَلْيُصَلِّ إِذَا أَصْبَحَ » . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسلا) (۲) .

هغه ته په کار دي که سحر وي نو او دې کړي ، دا روايت ترمذي په طريقه د ارسال سره نقل کړی دی.

د دوي رکعاتو وترو ثبوت :

﴿۱٦﴾ وَ عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ قَالَ : سَأَلْنَا عَائِشَةَ بِأَيِّ شَيْءٍ

عبدالعزيز بن جريج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي مونږ د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه تپوس وکړو چې کوم کوم سورتونه لوستل

كَانَ يُوتِرُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ؟ قَالَتْ: كَانَ يَقْرَأُ فِي الْأُولَى بِـ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وتر وکې ؟ عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي : اولنې رکعت کې سبح اسم ربک الاعلى ،

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱۲۸/۲ رقم الحديث : ۱٤۱۸ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۳۱٤/۲، رقم الحديث :۳۵۲، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۳٦۹/۱ رقم الحديث: ۱۱٦۸.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱۳۷/۲ رقم الحديث :۱٤۲۱ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۳۳۰/۲، رقم الحديث :٤٦٦.

وَفِي الثَّانِيَةِ بِـ قُلْ يَاأَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَفِي الثَّالِثَةِ بِـ قُلْ هُوَ اللهُ أحد والمعوذتين رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ وَأَبُو دَاوُد

دويم ركعت كې قل يا ايها الكافرون، دريم ركعت كې قل هو الله احد ،او معوذتين لوستل .

وَ رَوَاهُ النَّسَائِيُّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى وَرَوَاهُ الْأَحمد عَن أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ وَالدَّارَمِي عَنِ

او دا روايت نسائي دعبد الرحمن بن ابزي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه او امام احمد د ابي بن كعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه او دارمي د

ابْنِ عَبَّاسٍ وَ لَمْ يَذْكُرُا وَ الْمُعَوَّذَتَيْنِ[1]

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل كړی خو امام دارمي خپل روايت كې لفظ معوذتين نه دي ذكر كړی بلكې هغوي صرف دا نقل كړي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وترو دريم ركعات كې صرف **قل هو الله احد** لوستلو .

توضيح: في الاولى: دې نه معلومه شوه چې وتر دري ركعاته دي عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هر دري ركعاتو كې دهر ركعت جدا جدا نوم اخستی او هر ركعت كې لوستلې سورت نوم يې هم بنودلې ، او دغه شان تسلسل سره يې د دري ركعاتو بيان وكړو چې وتر دري ركعاته دي او مينځ كې يې سلام نشته او داد احنافو مسلک دی .

په وترو كې ويلو والا دعاء قنوت :

﴿۱۷﴾ وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ : عَلَّمَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَلِمَاتٍ

حسن بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما ته څه كلمات بنودلي وو چې زه يې د

أَقُولُهُنَّ فِي قُنُوتِ الْوَتْرِ : « اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ

وترو دعاء قنوت كې وايم (ترجمه) اى الله ماته هدايت وكړه هغه خلكو سره چا ته چې تا هدايت كړی ما

وَ عَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ وَ تَوَلَّنِي

ددنيا او آخرت مصيبتونونه او آفتونو نه بچ كړې ، هغه خلكو سره كوم چې تا بچ كړي دي او ما سره محبت

فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ وَ بَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ وَ

وكړه هغه خلكو سره كوم سره چې ته محبت كوي او څه چې ته ما ته راكړي هغې كې بركت واچوه او ما د

قِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ فَإِنَّكَ . تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ

هغه ګناهونو نه بچ كړه كوم چې مقدروي بيشكه ته چې څه غواړي هغه حكم كوي او تا ته څوك حكم نه كوي

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲ ۱۳۲ رقم الحديث : ۱٤۲۳ ، وأخرجه الترمذي في السنن ۳۲٦/۲، رقم الحديث : ٤۲۳، وأخرجه ابن ماجه في سننه ۳۷۱/۱ رقم الحديث: ۱۱۷۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ
(يعني ته حاكم مطلق يې محكوم نه يې او څوک چې ته ملګرى) ساتي هغه ذليل كيږي نه اى زما ربه!
تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَ تَعَالَيْتَ »[1].
ته بركت والا يې او ستا ذات اوچت او برتر دى.

توضيح: في قنوت الوتر: وترو كې دعا لوستلى كيږي د احنافو په نزد ټول كال كې د ماسخوتن مونځ نه پس وترو كې دعاء وي، د شوافعو په نزد نيم رمضان نه پس وي او ټول كال د سحر مونځ كې وي بيا دعاء كې هم اختلاف دى شوافع دغه دعاء لولي، بره حديث كې مذكور ده، طريقه يې داده چې اخري ركعت د قرائت نه د فارغيدو سره قومه كې لاس اوچت كړي دعاء غواړي خو اوچت آواز سره يې غواړي نن سبا حرمينو كې ټول رمضان كې داسې دعاء كيږي او په اوچت آواز سره حاكمانو او د هغوى اعوانو د پاره دعاء غوښتلى شي دا يو عجيبه صورت دى. (المرقات ۳/۳۴۳).

احناف ټول كال كې جدا جدا اورمضان كې په جماعت سره دوترو په آخري ركعت كې د قرائت فارغيدو سره ركوع ته تللو نه مخكې دواړه لاسونه غوږونو پورې اوچت كړي بيا نوم باندې كيخودلى شي او دادعاء په مزه لوستلى كيږي كومه چې مونږ احناف مونځ كې وايو: **اللهم انا نستعينك ونستغفرك ونؤمن بك ونتوكل عليه و نثنى عليك الخير نشكرك ولا نكفرك و نخلع و نترك من يفجرك اللهم اياك نعبد ولك نصلى و نسجد واليك نسعى و نحفد و نرجو رحمتك و نخشى عذابك إن عذابك بالكفار ملحق.** (رواه ابوداؤد في مراسيله بتغير يسير) (المرقات ۳/۳۴۳).

ابوداؤد مندرجه بالا دعاء قنوت خپلو مراسيلو كې نقل كړى دى يو دوو الفاظو نه علاوه دا دعاء هلته موجود ده، دا ويل غلط دي چې دا دعاء ثابت نه ده، حرمينو كې كله كله دا دعاء هم ويلي كيږي كه څوک دا دواړه دعاګانې وترو كې ووايي ډيره بهتر ده بنه الفاظ كمي او زياتي سره څه فرق نه پريوځي خو د دنياوي اغراضو دعاګانې جائز نه دي مخكې د قنوت نازله تفصيل را روان دى.

---

[1] أخرجه أبو داود في السنن ۱۳۳/۲ رقم الحديث: ۱٤۲٥، وأخرجه الترمذي في السنن ۳۲۸/۲، رقم الحديث: ٤٦٤، وأخرجه ابن في سننه ۳۷۲/۱ رقم الحديث: ۱۱۷۸.

وترو کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعاء :

﴿۱۸﴾ وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ فِي الْوِتْرِ

ابي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله د وترو په مونځ کې سلام اړولو نو دا به يې

قَالَ : « سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ » رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ(۱) وَ النَّسَائِيُّ وَ زَادَ : ثَلَاث مَرَّات

ويل : پاک دی بادشاه نهايت پاک ، نسائي دا الفاظ هم نقل کړي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام دا دري ځلې لوستل او

يُطِيل فِي آخِرهنَّ . وَ فِي رِوَايَةٍ لِلنَّسَائِيِّ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى

دريم ځل به يې تيز اواز سره لوستل ، نسائي يو روايت د عبدالرحمن بن ابزي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل کړی دی

عَنْ أَبِيهِ قَالَ : كَانَ يَقُولُ إِذَا سَلَّمَ : « سُبْحَانَ

دې کې هغه (عبدالرحمن) خپل پلار نه نقل کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله سلام اړولو نو سبحان

الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ » ثَلَاثًا وَ يَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالثَّالِثَةِ. (نسائي ۳/۲۳۵).

الملک القدوس به يې دري ځلې ويل او دريم ځل به يې په تيز آواز سره ويله .

﴿۱۹﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي آخِرِ وِتْرِهِ : « اللَّهُمَّ

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل دوتره مونځ آخره کې دا دعاء لوستله : اى الله !

إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ

زه پناه غواړم ستا د خوشحالي په ذريعې سره ستا د غضب نه او ستا د عافيت په ذريعې سره ستا د عذاب نه

وَ أَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي

او زه پناه غواړم ستا د ذات په ذريعې ستا د آثارو معافاتو (يعني ستا د غضب او غصې نه) ماکې طاقت نشته

ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ »(۲).

چې ستا تعريف وکړم ځکه چې ستا د تعريف شمار نشته ته داسې يې لکه څنګه چې تا خپل تعريف کړی دی

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۱۳۲ رقم الحديث : ۱٤۳۰ .

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۲/۱۳٤ رقم الحديث : ۱٤۲۷ .

Maktaba Tul Ishaat.com

توضيح: عبدالله بن همام رَحِمَهُ اللهُ فرمايي: دعاء قنوت كې څه خاص دعاء باندې انحصار نه دی كول په كار بلكې مختلفې دعاګانې ويل په كار دي چې زړه او دماغو باندې د دعاګانو اثر پريوځي. لهذا معروف دعاء قنوت خاص معمول نه دی جوړول په كار.

خو د علماو دويمه طبقه دا وايي چې معروف دعاء قنوت معمول جوړول منع نه دي البته دې نه علاوه نورې دعاګانې بطور خاص معمول جوړول منع دي ځكه چې صحابو د معروف دعاء قنوت معمول جوړولو او لويستلو به يې بل كوم خاص معمول يې نه وو جوړ كړی. (المرقات ۳/۳۴۸، ۳/۳۶۰).

اَلْفَصْلُ الثَّالِث:

د حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو ركعت وتر و باندې د صحابو تعجب:

﴿۲۰﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قِيلَ لَهُ : هَلْ لَكَ فِي أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ مُعَاوِيَةَ

ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باره كې منقول دي هغه نه تپوس وكړی شو دا امير معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره كې تاسو څه وايي

فَإِنَّهُ مَا أَوْتَرَ إِلَّا بِوَاحِدَةٍ قَالَ : أَصَابَ إِنَّهُ فَقِيهٌ وَ فِي رِوَايَةٍ : قَالَ ابْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ:

چې وتر يو ركعت كوي؟ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل هغه فقيه دی ښه كوي يو بل روايت كې ابن ابي مليكه وايي

أَوْتَرَ مُعَاوِيَةُ بَعْدَ الْعِشَاءِ بِرَكْعَةٍ وَ عِنْدَهُ مَوْلًى لِابْنِ عَبَّاسٍ

چې معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ماسخوتن مونځ نه پس وتر يو ركعت وكړوده سره دا ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ آزاد كرده غلام

فَأَتَى ابْنَ عَبَّاسٍ فَأَخْبَرَهُ

هم موجود وو هغه دا ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خدمت كې حاضر شو او ورته يې وويل: ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

فَقَالَ : دَعْهُ فَإِنَّهُ قَدْ صَحِبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ . (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ)[1].

وفرمايل: د هغه باره كې څه مه وايه هغه ته د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحبت شرف حاصل دی.

توضيح: دعه، يعني امير معاوية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې اعتراض مه كوه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابي دی هغه سره به څه وجه وي څه علمي ثبوت به وي څه اجتهادي خبره به وي د صحابي عمل غلط نه شي كيدی هغه نه رب راضي شوی دی دوي باندې اعتراض مه كوه. (المرقات ۳/۳۵۰).

ځكه چې:

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۷/۱۰۳ رقم الحديث: ۳۷۶۵.

نه هر جائے مرکب توان تاختن ❁ که جاه‌ها سپر باید انداختن
کار پاکان بر قیاس خود مگیر ❁ گرچه آید در نوشتن شیر و شیر
هزار نکته باریک‌تر ز مو این جا است ❁ نه هر که سر بتراشد قلندری داند

دوتر نه کولو سخت وعید:

﴿۲۱﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «الْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ

بریدة رضی الله عنه وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي چې فرمایلي یې: وتر حق دي څوک چې وتر نه کوي

فَلَيْسَ مِنَّا الْوَتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا الْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ

هغه زمونږ نه، نه دی، وتر حق دي څوک چې وتر نه کړي هغه زمونږ نه، نه دی وتر حق دي څوک چې وتر نه

فَلَيْسَ مِنَّا» .(رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ)[1].

کړي هغه زمونږ نه، نه دی.

توضیح: فلیس منا: ډیرې جملې داسې مخکې تیرې شوې دي دلته یو مطلب بیا لیکم ددې مطلب دا نه دی چې دا کس کافر شو، بلکې مطلب یې دا دی چې دا کس دې خاص مسئله کې وتر و کې زمونږ په طریقه باندې نه دی باقي په اسلام باندې ولاړ دی، لیکن په دې شعبه کې د مسلمانانو د طریقې نه اوښتې دي. (المرقات ۳/۳۵۰).

دوتر و قضاء دوتر و دوجوب دلیل دی:

﴿۲۲﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: «مَنْ نَامَ عَنِ الْوِتْرِ

ابو سعید رضی الله عنه راوي دی وایي چې حضور صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې بغیر د وتر کولو اوده شي

أَوْ نَسِيَهُ فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَ أَوْ إِذَا اسْتَيْقَظَ ».[2]

یا کول تري هیر شي کله چې هم ورته یاد شي یا د خوب نه را بیدار شي (ددې قضاء) دي وکړي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في السنن ۱۲۹/۲ رقم الحديث: ۱٤۱۹.

(۲) أخرجه أبو داود في السنن ۱۳۷/۲ رقم الحديث: ۱٤۳۱، وأخرجه الترمذي في السنن ۳۳۰/۲، رقم الحديث: ٤٦٥.

Maktaba Tul Ishaat.com

دوتر مونځ واجب دی او که سنت؟

﴿۲۳﴾ وَ عَنْ مَالِكٍ بَلَغَهُ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ عَنِ الْوِتْرِ :

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ باره کې منقول دي چې ده ته داخبره رسيدلې چې يو کس ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو

أَوَاجِبٌ هُوَ؟ فَقَالَ عَبْدُ اللهِ : قَدْ أَوْتَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ أَوْتَرَ الْمُسْلِمُونَ .

آيا وتر واجب دي؟ عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل: وتر مونځ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم کړی او نورو مسلمانانو

فَجَعَلَ الرَّجُلُ يُرَدِّدُ عَلَيْهِ وَ عَبْدُ اللهِ يَقُولُ : أَوْتَرَ

هم کړی دی او دغه کس بار بار دا سوال کوه او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته دغه جواب ورکوه چې وتر مونځ

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَأَوْتَرَ الْمُسْلِمُونَ. (رَوَاهُ فِي الْمُوَطَّأِ)[1].

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم کړی دی او نورو مسلمانانو هم کړی دی.

وتر درې رکعاته دي:

﴿۲۴﴾ وَ عَنْ عَلِيٍّ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُوتِرُ بِثَلَاثٍ يَقْرَأُ فِيهِنَّ

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به وتر درې رکعته کول، دې کې به يې لوستل نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ

بِتِسْعِ سُوَرٍ مِنَ الْمُفَصَّلِ يَقْرَأُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ بِثَلَاثِ سُوَرٍ آخِرُهُنَّ: قُلْ هُوَ اللهُ أَحَد (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ)[2]

مفصل نهه سورتونه هر رکعت کې يې درې درې سورتونه لوستل او آخري سورت کې قل هو الله احد وو.

دوو رکعتو سره يو رکعت يو ځای کولو سره ودوتر جوړيدو واقعه:

﴿۲۵﴾ وَ عَنْ نَافِعٍ قَالَ : كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ بِمَكَّةَ وَ السَّمَاءُ مُغِيمَةٌ فَخَشِيَ الصُّبْحَ

نافع وايي: زه دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره مکه کې وم او آسمان کې وريځ وه نو ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ويره د سحر

فَأَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ انْكَشَفَ فَرَأَى أَنَّ عَلَيْهِ لَيْلًا فَشَفَعَ بِوَاحِدَةٍ

کيدو وه هغه يو رکعت وتر وکړل بيا آسمان صفا شو هغه وکتل چې اوس هم شپه ده هغه يو رکعت بل هم وکړو

ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فَلَمَّا خَشِيَ الصُّبْحَ أَوْتَرَ بِوَاحِدَةٍ . (رَوَاهُ مَالِك).

دوه رکعته شو، دې نه پس دوه دوه رکعت وکړل چې د سحر ويره شوه هغه يو رکعت وتر وکړل.

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۱۲۴ رقم الحديث ۱۷ من كتاب صلاة الليل.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۳۲۳ رقم الحديث : ۴۶۰

په ناسته مونځ کولو طريقه:

﴿۲۶﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ : أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي جَالِسًا

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به (په آخري عمر کې په ورځ يا شپه کې) په ناسته مونځ

فَيَقْرَأُ وَ هُوَ جَالِسٌ فَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرُ مَا يَكُونُ ثَلَاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ

کولو (چې د اوږد قرائت د وجې نه) په ناسته ناسته قرائت کولو چې کله به پاتې شو ديرش يا څلويښت

آيَةً قَامَ وَ قَرَأَ وَ هُوَ قَائِمٌ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ يَفْعَلُ

آيتونه اودريدو به هغه به يې په ولاړه لوستل بيا به يې رکوع وکړه بيا به يې سجده وکړه اوبيا به يې کول

فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذٰلِكَ.(۱).

په دوهم رکعت د اولنې رکعت په شان.

توضيح: په دې طريقه باندې نفل کول اتفاقا جائز دي ددې بالعکس جائز نه دی. (المرقات ۳/۳۵۴).

دلته سوال دادی چې ددې حديث باب الوتر سره څه تعلق دی، ددې جواب دادی چې دلته د وترو ذکر اګرچې نشته خو د دوو رکعتونو ذکر دی چې د وترو د پاره مقدمه او تمهيد دی.

دوترو نه پس دوه رکعته نفل په ناسته کول ثابت دي:

﴿۲۷﴾ وَ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : « كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْوِتْرِ

د حضرت ام سلمة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې : نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به نفل کول پس د وترو نه

رَكْعَتَيْنِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَزَادَ ابْنُ مَاجَه: خفيفتين وَهُوَ جَالِسٌ(۲).

دوه رکعته.

﴿۲۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وتر يو رکعت کولو بيا دوه رکعته نفل يې کول، دې کې

يَقْرَأُ فِيهِمَا وَ هُوَ جَالِسٌ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ.(۳).

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ناسته ناسته قرائت فرمايلو چې کله رکوع کول يې غوښتل نو رکوع به يې کوله.

---

(۱) أخرجه مسلم في صحيحه ۱/۵۰۵ رقم الحديث : ۱۱۲ ۷۳۱.

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۳۳۵ رقم الحديث : ۴۷۱ .

(۳) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/۳۷۷ رقم الحديث : ۱۱۹۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۲۹﴾ وَعَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ هٰذَا السَّهَرَ جُهْدٌ وَ ثِقْلٌ

ثوبان دنبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت كړي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايي: كه د شپې بيدار يدل مشكل وي

فَإِذَا أَوْتَرَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ فَإِنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ

تاسو كې چې څوک هم وتر وكړي دوه ركعته نفل كوئ كه د تهجد و د پاره د شپې پاڅيدې نو بهتر ده كه

وَ إِلَّا كَانَتَا لَهُ ». (رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ ۱۶۰۲).

پانه څيدې نوييدا دوه ركعته پوره دي (يعني ددې دوو ركعتو د وجې ده ته د تهجد و ثواب ملاو شو).

﴿۳۰﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيهِمَا بَعْدَ الْوِتْرِ وَهُوَ جَالِسٌ

ابوامامة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دى وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وترو نه پس دوه ركعته نفل په ناسته كول او

يَقْرَأُ فِيهِمَا ﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ﴾ و ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾ (رَوَاهُ أَحْمد)[1].

دې كې يې اذا زلزلت الارض او قل يا ايها الكافرون لوستل.

---

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۵/۲۶۰.

بَاب الْقُنُوت:

د قنوت نازله بیان:

لفظ قنوت په ډیرو معانو باندې راځي د دعاء په معنی، د سکوت په معنی هم راځي، د طاعت په معنی هم مستعمل دی، طول قیام په معنی هم مستعمل دی، دلته د دعاء په معنی ده که نبه دعاء وي یا بده دعاء وی. (المرقات ۳/۳۵٦).

د قنوت مختلفو احادیثو کې تطبیق: قنوت په دوه قسمه باندې دی یو قنوت وتر د ماسخوتن نه پس، دویم قنوت نازله دی دواړو بٹاره کې مختلف آحادیث راغلي، بعضې آحادیثو نه ثابته ده چې د قنوت دعا قبل الرکوع ویلی شوې ده او ځینو کې بعد الرکوع ذکر دی.

بعضې روایاتو کې د سحر مونځ ذکر دی، په بعضو کې د ماسپښین او مازیګر بلکې ټول مونځونو ذکر دی، دې کې د قنوت د عاء لوستلی شوې ده، داسې فصل ثاني اولني حدیث نمبر ۳ کې دي. (المرقات ۳/۳۵۸).

د شوافعو فیصله: د امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد قنوت نازله ټول کال د سحر په مونځ کې همیشه ویل په کار دي، طریقه یې داده چې اخري رکعت کې د رکوع نه پس قومه کې ویل په کار دي دا قنوت وتر دی، البته رمضان کې دا قنوت د روژې آخرې نیمو کې وي.

د شوافعو په نزد په ټولو مونځونو کې قنوت نازله د رکوع نه پس ویل په کار دي، د مالکیو او شوافعو دلیل د دې باب هغه ټول احادیث دي چې هغې کې بعد الرکوع ذکر موجود دی او د فصل ثاني اولني حدیث نمبر ۳ کې ټولو مونځونو کې د قنوت لوستلو بیان دی او شوافع په ټولو مونځونو کې د قنوت قائل دي. (المرقات ۳/۳٦۰).

د احنافو فیصله: امام احمد او امام صاحب رَحِمَهُ اللَّهُ قنوت نازله او قنوت وتر کې فرق کوي د دوي په نزد قنوت وتر ټول کال دوام سره د ماسخوتن نه پس د وترو آخري رکعت کې د رکوع نه مخکې ویل په کار دي، او قنوت نازله د سحر مونځ کې د رکوع نه پس د څه حادثې، فاجعې د ضرورت مطابق محدود وخت د پاره کول په کار دي.

احنافو داسې طریقه اختیار کړې ده چې دې سره ټولو احادیثو کې آسانه سره تطبیق راځي هغه فرمایي: احادیثو کې چې چرته قنوت قبل الرکوع ذکر دی هلته قنوت وتر بعد العشاء مراد دي دې باندې د حضرت عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حدیث دلالت کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

او چيرته چې د قنوت بعد الركوع ذكر راغلي دى هلته قنوت نازله مراد دى تعيين د سحر د تعامل د وجې نه دى ګڼې د احنافو په نزد هم قنوت نازله نورو مونځونو پورې عام كولى شي چې كله د حادثې او آفت نوعيت سنګين او سخت شي . ددې تحرير نه پس ددې باب ټول آحاديث په آساني سره په ذهن كې راځي اګر چې بعضې شارحينو دلته ډير د طوالت نه كار اخيستې دى . (المرقات ۳/۳۶۳).

اَلْفَصْلُ الْأَوَّل:

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مسلمانانو قيديانو د پاره د راخلاصيدو ډيرې دعاګانې غوښتې وې :

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ عَلَى أَحَدٍ أَوْ يَدْعُوَ لِأَحَدٍ

ابو هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې كله چاته بد دعا كوله يا چا د پاره به يې دعاء كولو اراده

قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ فَرُبَّمَا قَالَ إِذَا قَالَ : " سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ

وكړه نو د ركوع نه پس به يې قنوت لوستلو بعضې وختونو كې به كله نبي عَلَيْهِ السَّلَام سمع الله لمن حمده

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ : اللَّهُمَّ أَنْجِ الْوَلِيد بن الْوَلِيد وَ سَلَمَة ابْن هِشَام وَ عَيَّاش

ربنا لک الحمد ويله نو دا دعاء به يې ويله : اى الله! نجات وركړې وليد بن وليد ، سلمه بن هشام او عياش

بن رَبِيعَةَ اللَّهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ

بن ابي ربيعه ته او اى الله! قوم مضر باندې سخت عذاب راولې او دغه عذاب د قحط په صورت كې نازل كړه

وَ اجْعَلْهَا سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ " يَجْهَرُ بِذَلِكَ

داسې قحط كوم چې د يوسف عَلَيْهِ السَّلَام قحط په شان وي دا دعاء حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تيزه باندې كوله

وَ كَانَ يَقُولُ فِي بَعْضِ صَلَاتِهِ : " اللَّهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا وَ فُلَانًا لِأَحْيَاءٍ مِنَ الْعَرَبِ

او يو مونځ كې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عربو د قبيلو د پاره داسې بد دعاء كوله : اللهم العن فلانا وفلانا ،

حَتَّى أَنْزَلَ اللهُ : ﴿ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ ﴾ الْآيَة . (متفق عليه) [1]

بيا الله تعالى دا آيت نازل كړو : (په دې معامله كې د ستا هيڅ دخل نشته دي).

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۱۱/۱۹۳،رقم الحديث : ۶۳۹۳، ومسلم في الصحيح ۱/۴۶۶ رقم الحديث:۲۹۴-۶۷۵، وأبو داود ۲/۱۴۲ رقم للحديث :۱۴۴۲، والنسائي ۲/۲۰۱، رقم الحديث: ۱۰۷۴.

توضیح : الولید بن الولید : دا صحابي د حضرت خالد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورور وو دده نوم ولید وو او د پلار نوم يې هم ولید دی ، جنګ بدر کې مسلمانانو سره قیدي وو د فدیې په ذریعې خلاص شو مکې ته رسید و سره مسلمان شو ، کفارو پرې ظلمونه کول ، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده د خلاصید و د پاره دعاء وکړه د کفارو لاسونه خلاص شو او مدینې منورې ته وتختیده .

سلمة بن هشام : دا قدیم الاسلام صحابي دی د ابوجهل خپل سکه ورور وو ده باندې کفارو هم ظلمونه کول دا هم د قید نه راخلاص شو او مدینې منورې ته راغی . (المرقات ۳/۳۵۶).

عیاش بن ابي ربیعه : دا هم قدیم الاسلام صحابي وو او د ابوجهل د مور طرف نه اخیافي ورور وو ده حبشې طرف ته هجرت کړی وو بیا یې دویم هجرت مدینې منورې ته وکړو ، ابوجهل ورسره دوکه وکړه چې مور دې ډرپسې ډیره خفه ده او هغه وایي چې دده ملاقات پورې به زه سورې ته نه کینم داد مور د محبت د وجې نه ابوجهل سره لاړو او دې ظالم په جیل کې واچوو او ظلمونه به یې پرې کول د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دعاء د وجې نه د قید نه آزاد شو او مدینې منورې ته راغلو .

په زیر بحث حدیث کې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغه دري خوش بخته صحابو د خلاصون د پاره مسلسل دعاګانې غوښتې وي . (المرقات ۳/۳۵۶).

اِ. الله تعالی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بد دعاء کې نوم یادولو نه منع کړی وو ځکه چې د بعضو په قسمت کې ایمان لیکلی وي د هغوي د پاره بد دعاء مناسب نه ده .

د قنوت نازله وخت بعد الرکوع دی :

﴿۲﴾ وَعَنْ عَاصِمِ الْأَحول قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوتِ فِي الصَّلَاةِ كَانَ قَبْلَ الرُّكُوعِ
عاصم احول وایي ما د انس بن مالک نه د دعاء قنوت باره کې تپوس وکړو چې مونځ کې هغه رکوع نه مخکې
أَوْ بَعْدَهُ ؟ قَالَ : قَبْلَهُ إِنَّمَا قَنَتَ رَسُوْلَ اللهِ
لوستلی کیږي او که رکوع نه پس؟ انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وایي : د رکوع نه مخکې ځکه قنوت لوستلي وو رسول
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بَعْدُ الرُّكُوعِ شَهْرًا إِنَّهُ كَانَ بَعَثَ أُنَاسًا يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ سَبْعُونَ رَجُلًا
الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رکوع نه پس یوه میاشت ځکه نبي عَلَيْهِ السَّلَام یو څو صحابه قراء چې تعداد یې اویا وو
فَأُصِيبُوا فَقَنَتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا
ولیږل هغوي شهیدان کړی شوي وو ځکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رکوع نه پس دعاء قنوت لوستلو یوه میاشت

Maktaba Tul Ishaat.com

يَدْعُو عَلَيْهِمْ . (متفق عليه)(۱)

او د قراو شهيد كولو والا د پاره يې بد دعاء كوله.

توضيح: قراء سبعون: دا اوياء قراء اصحاب صفه نه وو دې غريبانو طالب علمانو يو طرف نه علم حديث او علم التفسير حاصلولو، دويم طرف نه په يوه جهادي مدرسه كې هر وقت د جهاد د پاره په قطعه منتظره كې ناست وو، او چې كوم ځای كې ضرورت شي نو هلته به جهاد له ځي.

اهل نجد د دوكې په طور باندې هغوی د معلمانو په حيثيت د حضور ﷺ نه وغوښتل او حضور ﷺ ورسره د دين تعليم او تبليغ د پاره روان كړل چې كله دا قراء د مكې او عسفان مينځ ته ورسيدل نو د رعل او ذكوان قبيلو پرې د ظلم حمله وكړه او د يو نه سوا ټول يې شهيدان كړل هغه يو هم د زخم په حالت كې راغی حضور ﷺ ته چې پته ولګيده ډير زيات خفه شو او يوې مياشتې پورې يې د دغه قبيلو د پاره بد دعاء وكړه په قنوت نازله سره، دا واقعه په څلورم هجري كې راغلې وه. (المرقات ۳/۳۵۹).

الْفَصْلُ الثَّانِي:

قنوت نازله ټولو مونځونو كې هم لوستلی كيږي:

﴿۳﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَنَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ شَهْرًا مُتَتَابِعًا فِي الظُّهْرِ

ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ قنوت لوستلي دي يوه مياشت مسلسل په ماسپښين

وَالْعصر وَالْمغْرب وَالْعشَاء وَصَلَاةِ الصُّبْحِ إِذَا قَالَ: «سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ» مِنَ الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ

مازيګر، مابنام، ماسخوتن او سحر مونځونو كې په آخري ركعت كې د سمع الله لمن حمده ويلو نه پس

يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ: عَلَى رِعْلٍ وَ ذَكْوَانَ وَ عُصَيَّةَ وَ يُؤَمِّنُ

د يو كې نبي عليه الصلاة والسلام د بنو سليم څو قبيلې، رعل، ذكوان او عصيه ته بد دعاء كړې وه او آمين به

مَنْ خَلْفَهُ . (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد)(۲).

ويلو هغه خلكو چې وروستو ورپسې ولاړ وو.

---

(۱) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۴۸۹،رقم الحديث :۱۹۰۲، ومسلم في الصحيح ۱/۴۶۸ رقم الحديث:۳۰۱-۶۷۷، وأبو داود ۲/۱۴۳ رقم الحديث :۱۴۴۴.

(۲) أخرجه البخاري في الصحيح ۲/۴۹۰،رقم الحديث : ۱۰۰۳، ومسلم في الصحيح ۱/۴۶۸ رقم الحديث:۲۹۹-۲۷۷.

قنوت نازله د ضرورت د حده پورې دی :

﴿٤﴾ وَ عَنْ أَنَسٍ : أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو مياشت يې دعاء قنوت ويلی دی

ثُمَّ تَرَكَهُ. (رَوَاهُ أَبُودَاوُد وَالنَّسَائِيّ) .

بيا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قنوت پريښه دو .

توضيح : ثم تركه : دا حديث د احنافو مضبوط دليل دی . قنوت نازله يو وختي څيز دی د ضرورت لاندې وي او پس د رکوع نه وي او عامو مونځونو کې هم وي . (المرقات ۳/۳٦۰).

ليکن قنوت وتر مؤقت نه وي بلکې د ماسخوتن نه پس هميشه جاري او ساري وي شوافع او مالکيه فرمايي د سحر مونځ کې قنوت نازله هميشه د پاره دی او نورو مونځونو کې په وقت د ضرورت حادثه کی ويلی کيږي .

هميشه د پاره قنوت نازله لوستل بدعت دی :

﴿٥﴾ وَ عَن أَبِي مَالك الْأَشْجَعِيّ قَالَ : قُلْتُ لِأَبِي : يَا أَبَتِ إِنَّكَ قَدْ صَلَّيْتَ خَلْفَ

ابو مالک الاشجعي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د خپل پلار نه تپوس وکړو پلار ې بې شکه مونځ کړي دي وروسته د

رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ أَبِي بَكْرٍ وَ عُمَرَ وَ عُثْمَانَ وَ عَلِيّ هٰهُنَا

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابوبکر ، حضرت عمر ، حضرت عثمان او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او دلته

بِالْكُوفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِينَ أَكَانُوا يَقْنُتُونَ ؟ قَالَ : أَيْ بُنَيَّ مُحْدَثٌ " .(٣)

کوفه کې پنځه کالو پورې آيا دوي به دعاء قنوت لوسته ؟ هغه وفرمايل زما زويه ! دعاء قنوت بدعت دی .

الْفَصْلُ الثَّالِثُ:

دروژې نصف ثاني کې د قنوت ثبوت :

﴿٦﴾ عَنِ الْحَسَنِ : أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ جَمَعَ النَّاسَ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ

حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ وايي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلک جمع کړل او ابي بن کعب يې امام جوړ کړو

---

(١) أخرجه مسلم ١/٤٦٩ رقم الحديث: ٣٠٤-٦٧٧، وأبو داود ٢/١٤٣ رقم الحديث :١٤٤٥، والنسائي ٢/٢٠٣، رقم الحديث: ١٠٧٩ .

(٢) أخرجه الترمذي في السنن ٢/٢٥٢ رقم الحديث :٤٠٢ والنسائي ٢/٢٠٤ رقم الحديث : ١٠٨٠ .

Maktaba Tul Ishaat.com

فَكَانَ يُصَلِّي بِهِمْ عِشْرِينَ لَيْلَةً وَلَا يَقْنُتُ بِهِمْ إِلَّا فِي النِّصْفِ الْبَاقِي
ابي بن كعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شل ركعاته تراويح وكړي او هغه به خلكو ته دعاء قنوت نه ويل سوا د نصف ثاني د رمضان
فَإِذَا كَانَتِ الْعَشْرُ الْأَوَاخِرُ تَخَلَّفَ فَصَلَّى فِي بَيْتِهِ
نه نوروو رځو كې، كله چې به آخرې لس روژې پاتې شوي، ابي بن كعب مسجد ته رانغى خو مونځ يې كور
فَكَانُوا يَقُولُونَ : أُبَيّ أُبَيّ.(1)
كې وكړو ، خلكو وويل : ابي وتختيدو.
وَسُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ الْقُنُوْتِ . فَقَالَ : قَنَتَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
انس بن مالک نه چا د دعاء قنوت باره كې تپوس وكړو هغه وويل چې دعاء قنوت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د
بَعْدَ الرُّكُوعِ وَفِي رِوَايَةٍ : قَبْلَ الرُّكُوعِ وَبَعْدَهُ . (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ)(2).
ركوع نه پس كړى، يو بل روايت كې دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ كله د ركوع نه مخكې او كله وروسته كړى دى.

توضيح : ابيّ أُبَيّ : يعني ابي بن ركعب د غلام په شان وتختيدو ، خلكو دا ځكه وويل دوي د حضرت ابي بن كعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غير حاضري خوښه نه كړه كيدى شي هغه څه مجبور وو چې شرعي طور باندې معذور وو .حضرت ابي بن كعب سيد القراء دى ځكه عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تراويحو د پاره امام جوړ كړو . (المرقات ۳/۳٦٦-۳٦٥)

دا حديث د شوافعو مستدل دى .

نصف رمضان كې دعاء قنوت شوى دى او يو جزء اعتبار سره دا حديث د احنافو هم دليل دى ، احناف په ټولو احاديثو كې د تطبيق قائل دي او دلته **بعد الركوع** او **قبل الركوع** دواړه عملونه وجود ته راغلل.

احناف **قبل الركوع** قنوت د ماسخوتن وترو باندې حمل كوي او **بعد الركوع** يې په قنوت نازله باندې حمل كوي.

---

(1) أخرجه أبو داود في السنن ۱۳٦/۲ رقم الحديث : ۱٤۲۹ .

(2) أخرجه ابن ماجه في السنن ۳۷٤/۱ رقم الحديث : ۱۱۸۳.

بَاب قيام شهر رَمَضَان:

قيام رمضان نه مراد تراويح دي ، علامه نووي فرمايي: **المراد بقيام رمضان التراويح .**

علامه كرماني رَحِمَهُ اللَّهُ اتفان كې دې باندې اجماع نقل كړې ده فرمايي :**اتفقوا على ان المراد بقيام رمضان صلوة التراويح (فتح الباري ج ٤ ص ۲۱۷) (المرقات ۳/۳٦۷).**

تراويح د ترويحة جمع ده او ترويحه په معنى د راحت دى چونكې څلورو ركعاتو نه پس مونځ كزار استراحت كوي دې ته ځكه تراويح ويل كيږي .

د قيام رمضان متعلق اولنى بحث : دې باندې د علماو اتفاق دى او اجماع ده چې **قيام الليل** جدا مونځ دى او قيام شهر رمضان جدا مونځ دى دواړه جدا جدا مونځونه دي د دواړو وختونه جدا جدا دي او د دواړو نومونه هم جدا جدا دي ، قيام الليل د تهجد د پاره استعماليږي ، قيام شهر رمضان د تراويحو د پاره خاص دى دا مناسب نه ده بعضې خلك د تراويحو پټولو د پاره تهجد ورته وايي او بيا وايي رمضان او غير رمضان كې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يولس ركعتو نه ډير مونځ د شپې نه دى كړى لهذا د اته ركعتو نه زيات ثابت نه دي كه تراويح ورته وايي او كه تهجد ، قرائن موجود دي چې دا دواړه جدا جدا مونځونه دي يو څه دلائل دا دى :

(۱) ډيرو احاديثو او د فقهاء كرامو او د محدثينو عنواناتو كې د دې مونځ اضافت خاص كر روژې ته شوى دى لكه **قيام شهر رمضان ،سننت لكم قيامه ،يرغب في قيام رمضان من قام ايماناواحتسابا** وغيره وغيره دا اضافت د تخصيص فائده وركوي دا عام تهجد نه دي بلكې د تراويحو مونځ دى .

(۲) تهجد او تراويح كې د فرق دويمه قرينه داده چې د دواړو وخت جدا جدا دى تروايح د ماسخوتن نه پس دي او تهجد د شپې آخر يا مينځ كې وي .(۳) دريم فرق دا دى چې صلوة الليل كله هم په جماعت سره نه كيږي ،نه يې د دې ترغيب وركړى دى د قيام رمضان جماعت كيږي او د دې ترغيب ورکول كيږي .

(۴) تهجد د قرآن نه ثابت دي او تراويح د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سنتو نه ثابتې دي لكه : **سننت لكم قيامه** .(۵) د تراويحو نه پس د تهجد مونځ صحابو اهتمام سره كولو كه يو څيز وى نو د تهجد و اهتمام به صحابو ولې كولو .(٦) د امت فقهاء او محدثين قيام الليل ته تهجد او قيام رمضان ته تراويح ويلي دي دواړو كې صفا فرق دى . (المرقات ۳/۳٦۷).

دا شپږ وجوهات دي ، دې سره تراويح او تهجد و كې فرق راځي .

Maktaba Tul Ishaat.com

د قیام رمضان سره متعلق دویم بحث :د احنافو په نزد تراویح سنت مؤکد دي د حنابلو هم دا مسلک دی .

(کذا في المغني لابن قدامه ج ۲ ص ۱٦٦)

د تراویح سنت مؤکده باندې ډیر دلائل دي :(۱) حضور ﷺ درې ورځې تراویح د جماعت سره کړې دي خلک چې کله ډیر شو حضور ﷺ پریخودې او وجه یې دا بیان کړه ما ته ویره شوه چې دا مونځ په تاسو باندې فرض نه شي ، دې نه معلومه شوه چې تراویح سنت مؤکده دي .(۲) حضور ﷺ فرمایي : **وسننت لکم قیامه** ، یعني قیام رمضان فرض نه دی بلکې روژې الله فرض کړې دي او تراویح زما سنت دي .(۳) حضور ﷺ د تراویح بنیاد کیخوده او د عذر د وجې نه یې پرې همیشه والی نه دی کړی خو د حضور ﷺ نه پس صحابه کرامو او خلفاء راشدینو او د امت فقهاو دې باندې مواظبت او همیشه والی وکړو داد سنت مؤکده د پاره دلیل دی .(المرقات ۳/۳٦۸).

د قیام رمضان سره متعلق دریم بحث : تراویح په جمعې سره بهتر دي او که کور کې ځانله ؟

د جمهورو فقهاو رای داده چې تراویح په جماعت سره یو ځای کول افضل دي ، د بعضې علماو او فقهاو رای داده چې تراویح ځان له کور کې کول بهتر دي ، د امام مالک او د ابویوسف رَحِمَهُمَا اللهُ یو یو روایت داسې دی ، بیا دغه علماو محاکمه وکړه که جماعت کې شریک نه شي او مونځ ګزار د پاره تروایح کې د سستۍ خطره نه وي او دده مسجد ته راتللو د وجې نه جماعت ته نقصان نه رسیدو نو دې کس له مسجد کې یا کور کې کول برابر دي که چا ته خطره وي که مسجد ته رانغلو تراویح به پریښودل شي سُستي به راشي یا ددې وجې نه جماعت ته به نقصان ورسي بیا ده ته جماعت ته حاضریدل افضل دي .د اکثرو احنافو په نزد د تراویح د پاره جماعت کې شاملیدل سنت دی . (المرقات ۳/۳٦۹).

بیا د احنافو جمهور علماء تراویح په جمعه کولو ته سنت علی الکفایه به وایي مطلب دا چې که ټولې محلې نه د تراویحو جمعه ترک شي ټول ګناه ګار دي که بعضې کسانو وکړه د نورو ذمه فارغه شوه . حضور ﷺ درې ورځو پورې جماعت قائم کړو بیا یې پریښودو د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وخت کې دننه او بهر فتنې پیدا شوې نو دوي هم جماعت ترتیب قائم کولو د پاره فارغ نه شو . بیا عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسلمانانو لره په یو امام باندې جماعت سره یو ځای کړل او هغه وخت نه تر ننه پورې هغه سلسله قائم او دائم ده حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلک شروع کې اته رکعتو باندې جمع کړل بیا دولسو باندې جمع کړل بیا یې شلو باندې ټول یو ځای کړل او تر ننه پورې دغه طریقه چلیږي . (المرقات ۳/۳٦۹).

د تراویح متعلق ځلورم بحث د د رکعاتونو تعداد :

د تراویحو د رکعاتونو تعداد کې د علماو په مینځ کې اختلاف دی ، چې ددې څو رکعاته دي .

د فقهاو اختلاف :د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ او د ټولو فقهاو مسلک دادی چې تراویح شل رکعاته دي او وتر درې ددې نه علاوه دي امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ نه دې باره کې مختلف اقوال منقول دي یو قول کې دده په نزد تراویح شل رکعاته دي ، دویم قول کې شپږ دیرش رکعاته دي یو قول د ۴۱ رکعاتو هم دی ، علامه عیني رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي : امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ نه د شپږ دیرش رکعاته قول مشهور دی د امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد اصل تراویح شل رکعاته دي ، ددینه د زیاتو ذکر هم راغلی دی دا ټول نوافل دي په دغه وخت مکه مکرمه کې د څلورو رکعاتو نه پس د ترویحه په دوران کې خلکو د بیت الله طواف کولو ، تراویح شل رکعاته دي خو مدینه منوره کې د ترویحه په وخت د طواف امکان نه وو نو خلک به ودریدل او مزید څلور رکعاته به یې کول . لهذا څلورو ترویحاتو کې شپاړس رکعاته نفل جوړ شو ، دا یې تراویح کې شمار کړل نود شپږ دیرش قول یې وکړو ګڼې اصل تراویح د شلو رکعاتو نه زائد نه دي ، ابن همام حنفي رَحِمَهُ اللَّهُ لږ ویریدو او وي فرمایل : اته رکعاته سنت دي دولس نفل دي خو د ویریدو ضرورت نشته مورچه مضبوطه ده غیر مقلدین او اهل ظواهر او د نن سبا سهولت پسند مسلمانان د اتو نه زیاتو تراویح ته بدعت وایي .سعودي عرب کې حرمینو شریفینو نه علاوه بنارونو کې اته رکعاته تراویح کولی شي شل رکعاته باندې اجماع ده ، دا تصور نه شي کیدی چې عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د خپل طرف نه حکم کړی یا العیاذ بالله چې عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دیو بدعت ارتکاب کړی ، دې باندې کوم صحابي انکار نه دی کړی ازواج مطهراتو په دې باندې نکیر نه دی کړی دې نه معلومه شوه صحابه دا خبره پیژني چې د عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا اقدام د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منشاء عین مطابق دی او ضرور عمر فاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ یو اشاره دربار نبوت نه موندلې ده .

د طرفینو دلائل : غیر مقلدین نن سبا د اته رکعاتو نه زیاتې تراویح بدعت ګڼي او ناجائزیې ګڼي او د اته رکعاتو اثبات باندې دلائل ذکر کوي :

(۱) مشهور دلیل د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا حدیث دی ددې تخریج بخاري وغیره کړی دی حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دیو سائل په جواب کې فرمایي : **ماكان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يزيد في رمضان ولا في غيره على احدى عشرة ركعة** .(المرقات ۳/۳۷۸).

جواب : ددې حدیث تعلق د تهجد و سره دی تروایحو سره بالکل نه دی د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا حدیث کې **ولا في غيره** الفاظ تیز اواز سره وایي داد تراویحو خبره نه ده بلکې د تهجد و خبره ده د روژې نه علاوه وختونو کې د تراویحو تصور نه شي کیدی ، د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا په نزد د تروایح مونځ صرف اته رکعاته دی بیا دې په شلو رکعاتو باندې اعتراض ولې ونه کړو مدینه منوره کې حضرت عائشه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا عامو صحابو د پاره مرجع ده معلومه شوه چې داد تهجد و خبره ده د تروایحو نه ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) د غیر مقلدینو دویم دلیل د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت دی الفاظ یې دادي :

عن جابر بن عبدالله انه عَلَيْهِ السَّلَامُ قام لهم في رمضان فصلى ثمان ركعات واوتره (ابن حبان)

ددې نه معلومه شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اته رکعاتو جماعت کړی دی .

جواب : حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تراویحو رکعاتونو بیانولو اراده نه وه کړې بلکې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جماعت والا رکعاتونو بیان یې کړی دی چې د هغه د جمعې آته رکعاته وو ، دې نه علاوه څه رکعاتونه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څه وجې نه د جماعت نه بغیر کړي ، جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اته رکعاتونه علاوه رکعات لره یې موضوع بحث نه ده ګرځولې او دې کې یې نه حصر کړی او نه یې نفې کړې ، دا تاویل او جواب په ظاهره کې کمزوری دی ، خو دا جواب ددې وجې نه مضبوط جوړیږي که د تراویحو رکعاتونه اته وی نو ټول صحابه به په دې متفق وی او په شل رکعاته باندې به یې هیڅکله اتفاق نه وی کړی حالانکې صحابه کرام بغیر د خبرو اترو شل رکعتو لره قبول فرمایلي او دې لره یې خپل معمول ګرځولی ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سنتو باندې د صحابه کرامو نه ډیر پوهید و والا څوک نشته .

(۳) مؤطا امام مالک کې د سائب بن یزید روایت داسې دی : **مالک عن محمد بن یوسف عن السائب بن یزید انه قال امر عمر بن الخطاب ابي بن کعب وتمیم الدارمي ان یقوما للناس باحدی عشرة رکعة . (المرقات ۳/۳۷۸).**

ددې روایت جواب دادی چې ډیره ممکنه ده چې دا د هغه زمانې خبره وي چې د شلو رکعاتو استقرار نه وو د جمهورو په کلام کې دا خبره ملاویږي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اته رکعاتو حکم هم شته او د دولسو هم خو قرار او استقرار شلو رکعاتو باندې دی صحابو شل رکعاته خپل کړې دي او پوره امت هم په دې باندې روان دی .

دې روایت کې ډیر زیات اضطراب دی سائب بن یزید نه صرف محمد بن یوسف داسې نقل کوي د سائب نور شاګردان د یوولسو په ځای شل رکعاته نقل کوي .

جمهورو سره په شلو رکعاتو باندې ډیر دلائل دي ، دې باندې د ټول امت اتفاق دی چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تراویحو مونځ کړی دی دې باندې هم اتفاق دی چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې صحابو هم تراویح کولې دا هم ثابت دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درې ورځو پورې تراویح په جماعت سره کړی دي او دې باندې اتفاق هم دی چې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عام معمول د تراویح په کور کې د کولو وو ، اوس د تعیین ضرورت دی حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله شل رکعاته تراویح کړې دي یا نه ، یا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابي بن کعب تراویحو د پاره امام مقرر کړو دې کې د شلو رکعاتو ثبوت شته یا نه حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسې حدیث نقل کولو چې د جمهورو اولني دلیل دی :

(۱) عن ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يصلي في رمضان عشرين ركعة في غير جماعة والوتر.(رواه البيهقي في سننه وابن ابي شيبه في مصنفه والطبراني والبغوي .(زجاجة المصابيح ج۱ ص ۳٦٦).

دډي روايت ټول راويان ثقه دي صرف ابراهيم بن عثمان باندې كلام دی خو د ضعف سره ټولو محدثينو دده توثيق هم كړی دی ، يحيى بن معين په باره كې فرمايي : **شيخ ثقة كبير** .

د حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه د شل ركعاتو تراويحو ثبوت : (۲) شلو ركعاتو تراويحو په ثبوت باندې د جمهورو دويم دليل په مؤطا امام مالک كې د يزيد بن رومان روايت دی : **مالک عن يزيد بن رومان انه قال كان الناس يقومون في زمن عمر بن الخطاب في رمضان بثلاث و عشرين ركعة (مؤطا مالک)**

دا حديث د بلاغات مالک نه دی اګر چې مرسل دی خو د موصولاتو په حكم كې دی داسې مرسل هم د جمهورو دليل دی .

(۳) د جمهورو دريم دليل د حضرت سائب بن يزيد روايت دی : **عن يزيد بن حفصة عن السائب بن يزيد قال كانوا يقومون على عهد عمر بن الخطاب رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ في شهر رمضان بعشرين ركعة وكانوا يقرؤن بالمئين وكانوا يتوكئون على عصيهم في عهد عثمان من شدة القيام (سنن كبرى بيهقي ج ۲ ص ٤٩٦)**

دا روايت بالكل صحيح الاسناد دی .

(۴) د جمهورو څلورم دليل د مصنف ابن ابي شيبه روايت دی : **عن يحيى بن سعيد ان عمر بن الخطاب امر رجلا يصلي بهم عشرين ركعة .(ج ۲ ص ۳۹۳).**

(۵) عن عمر انه جمع الناس على ابي بن كعب وكان يصلي بهم عشرين ركعة .(بيهقي و ابن ابي شيبة زجاجة ج۱ ص ۳٦٦).

(٦) عن السائب بن يزيد قال كنا نقوم في عهد عمر بعشرين ركعة والوتر وفي رواية وعلى عهد عثمان و علي مثله . قال النووي اسناده صحيح (زجاجة المصابيح ج۱ ص ۳٦٦).

(۷) وعن شبرمة وكان من اصحاب علي انه كان يؤمهم في رمضان فيصلي خمس ترويحات . (بيهقي ، زجاجة المصابيح ج۱ ص ۳٦٦).

Maktaba Tul Ishaat.com

(۸) عن ابن ابي عبدالرحمن السلمي ان عليا دعا القراء في رمضان فامر رجلا ان يصلي بالناس عشرين ركعة وكان علي يوتر بهم . (رواه البيهقي و زجاجة المصابيح ج۱ ص ۳٦٦).

قال عطاء ادركت الناس وهم يصلون ثلاثة وعشرين ركعة بالوتر .

مشهور تابعي حضرت نافع فرمايي :لم ادرک الناس الا وهم يصلون تسعا وثلاثين ويوترون منها بثلاث (فتح الباري ج٤ ٢٥٤).

امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :و على هذا العمل منذ بضع و مأة سنة (حواله بالا)

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :و رأيت الناس يقومون بالمدينة بتسع وثلاثين ركعة و بمكة بثلاث وعشرين .

د دومره لويو علماو او فقهاو اقوال او د ټول امت اعمال او افعال كه د چا دپاره دليل نه جوړيږي د دې مطلب دا شو چې دا تروايح كول پيژني نه ، دې باندې د امت اجماع ده آخر كې دا خبره د تراويحو د پاره فيصله كُن دليل دی ، حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : عليكم بسنتي و سنة الخلفاء الراشدين ، دا مضبوط او محكم دليل دی د بد قسمتی نه غير مقلدين د صحابو تقليد هم نه كوي .

الْفَصْل الأول:

په جماعت سره تراويح كول د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت دي :

﴿۱﴾ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ حُجْرَةً فِي الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيرٍ فَصَلَّى
زيد بن ثابت رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پوزي نه حجره جوړه كړه او نفل مونځونه
فِيهَا لَيَالِيَ حَتّٰى اجْتَمَعَ عَلَيْهِ نَاسٌ ثُمَّ فَقَدُوا صَوْتَهُ لَيْلَةً
يې كړي په دې كې څوشپې تر دې چې خلک جمع شول خلكو د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه آواز محسوس نه كړو
وَ ظَنُّوْا أَنَّهُ قَدْ نَامَ فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَتَنَحْنَحُ
هغوي گمان وكړو چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوده شو بعضې خلكو غاړه تازه كول شروع كړو چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ
لِيَخْرُجَ إِلَيْهِمْ . فَقَالَ : مَا زَالَ بِكُمُ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ صَنِيعِكُمْ حَتّٰى
(راپاڅې)او بهر تشريف راوړي حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل :ستاسو كارزه چې يې وينم برابر روان دی
(يعنې په جمعې سره د تراويحو كولو شوق او د عبادت په معامله كې ستاسې داجذبه هميشه پاتې شي)

خَشِيتُ أَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمْ وَ لَوْ كُتِبَ عَلَيْكُمْ

بيا يې وفرمايل: ما ته دا ويره ده چې دا مونځ په تاسو فرض نه شي که دا مونځ فرض شي نو تاسو به ددې

مَا قُمْتُمْ بِهِ . فَصَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِي بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ أَفْضَلَ صَلَاةِ الْمَرْءِ

د کولو نه عاجز پاتې شئ نو ای خلکو تاسو خپلو کورونو کې مونځ کوئ د انسان بهترین مونځ هغه دی

فِي بَيْتِهِ إِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ). (متفق عليه)[1]

چې خپل کور کې يې کړی وي علاوه د فرض مونځ نه.

دروژې میاشتو کې د تراویح فضیلت:

﴿۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ

ابو هریرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قیام رمضان ترغیب ورکولو خو صحابو ته

يَأْمُرَهُمْ فِيهِ بِعَزِيمَةٍ فَيَقُولُ : « مَنْ قَامَ رَمَضَانَ

يې په تاکید سره حکم نه کولو، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به فرمایل: کوم کس چې قیام وکړي په رمضان کې په

إِيمَانًا وَ احْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ . فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ

صحیح اعتقاد سره د حصول ثواب د پاره اولني صغیره ګناهونه به يې معاف شي او وفات شو رسول الله

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَ الْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شو او قیام رمضان معامله دغه رنګ وه یعني د تراویحو د پاره جماعت مقرر نه وو

ثُمَّ كَانَ الْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ فِي خِلَافَةِ

(بلکې چاچې څنګه غوښتل د حصول ثواب د پاره هغه رنګه يې کول) بیا دغه صورت حال وو په خلافت

أَبِي بَكْرٍ وَ صَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ عَلَى ذٰلِكَ » . (رَوَاهُ مُسلم).[2]

د ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې هم او د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت د شروع په وخت کې هم دغه معمول وو (خو بیا

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۲/۲۱٤، رقم الحديث : ۷۳۱، مسلم ۱/۵۳۹،رقم الحديث: ۲۱۳-۷۸۱، أبوداؤد ۲/۱٤۵، رقم الحديث:۱٤٤۷،ترمذي۲/۳۱۲،رقم الحديث: ٤۵۰،نسائي۳/۱۹۷،رقم الحديث: ۱۵۹۹، مؤطأ امام مالک ۱/۱۳۰، قم الحديث : ٤، من كتاب صلاة الجمعة ، مسند أحمد ۵/۱۸۲.

(۲) أخرجه مسلم ۱/۵۲۳،رقم الحديث: ۱۷٤-۷۵۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تراويحو مونځ د پاره د جماعت حکم وکړو او التزام يې شروع کړو).

نفل مونځ په کور کې کول بهتر دي:

﴿۳﴾ وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا قَضَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ فِي مَسْجِدِهِ

جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: تاسو کې چې څوک خپل مونځ مسجد کې

فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا مِنْ صَلَاتِهِ فَإِنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ

وکړي هغه ته په کار دي چې د مونځ څه حصه کور ته هم وساتي ځکه چې الله تعالى پيدا کوي دده په کور

مِنْ صَلَاتِهِ خَيْرًا». (رَوَاهُ مُسلم). (۱)

دده د مونځ په وجه خير.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي:

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درويشت، پنځه ويشت، اووه ويشت ورځې تراويح کړی دي:

﴿٤﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ صُمْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَضَانَ فَلَمْ يَقُمْ بِنَا شَيْئًا مِنَ الشَّهْرِ

ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي: مونږ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره روژې نيولې خو قيام يې ونه کړو مونږ ته د مياشتې

اکثرورځې (يعنې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د رمضان په شپو کې مونږ سره د فرض مونځ نه علاوه بل مونځ نه دی کړی)

حَتَّى بَقِيَ سَبْعٌ فَقَامَ بِنَا حَتَّى ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ

تردې چې اوه ورځې باقي پاتې شوي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ زمونږ سره د شپې دريمې حصې پورې قيام وکړو (يعنې

فَلَمَّا كَانَتِ السَّادِسَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ

مونږ ته يې تراويح وکړي) چې کله شپږ شپې پاتې شوې نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ قيام ونه کړو بيا چې کله پنځه شپې

قَامَ بِنَا حَتَّى ذَهَبَ شَطْرُ اللَّيْلِ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ

پاتې شوې نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ مونږ ته د نيمې شپې پورې قيام وکړو نو ما وويل اى د الله رسوله! کاش چې د

لَوْ نَفَّلْتَنَا قِيَامَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ. قَالَ فَقَالَ: «إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا صَلَّى مَعَ الْإِمَامِ

نن شپې قيام نور ونه موزيات کړې وې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې کله يو کس (فرض) مونځ امام سره وکړي

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۵۳۹، رقم الحديث: ۲۱۰-۷۷۸، ابن ماجه ۱/۴۳۸، رقم الحديث: ۱۳۷۶، مسند أحمد ۳/۱۵.

حَتّٰى يَنْصَرِفَ حُسِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ » . فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ

اوددې نه فارغ شي او واپس ځي دده دپاره دټولې شپې عبادت ثواب ليکلی شي کله چې څلورشپې پاتې

لَمْ يَقُمْ بِنَا حَتّٰى بَقِيَ ثُلُثُ اللَّيْلِ فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ

شوې زمونږ سره يې قيام ونه کړو تر دې چې د شپې دريمه حصه پاتې شوه چې دريمه شپې پاتې شوې

جَمَعَ أَهْلَهُ وَ نِسَاءَهُ وَ النَّاسَ فَقَامَ بِنَا حَتّٰى

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل کور والا او خپلې زنانه او خلک جمع کړل او مونږ ته يې قيام وکړو تر دې چې

خَشِينَا أَنْ يَفُوتَنَا الْفَلَاحُ . قَالَ قُلْتُ : وَمَا الْفَلَاحُ ؟

مونږ ته دا ويره وشوه چې چيرته فلاح رانه فوت نه شي ، راوي وايي : ما تپوس وکړو فلاح څه شيز دی ؟

قَالَ : السَّحُورُ . ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ . (رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ). (۱)

ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل : دپيشمنې خوراک بيانبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دمياشتې باقي ورځو کې زمونږ سره قيام وبه کړو

وَرَوَى ابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ إِلَّا أَنَّ التِّرْمِذِيَّ لَمْ يَذْكُرْ : ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ . (ابن ماجه ۱۳۲۷)

ابن ماجه هم دغه شان روايت نقل کړی او ترمذي خپل روايت کې ثم لم يقم بنا بقية الشهر الفاظو ذکر نه دی کړی

د شعبان د مياشتې د پنځلسمې شپې فضيلت :

﴿۵﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : فَقَدْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ لَيْلَةً فَإِذَا هُوَ

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي يوه شپه ما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په بستره باندې ونه موندو ويودم څه کورم چې نبي

بِالْبَقِيعِ فَقَالَ " أَكُنْتِ تَخَافِينَ أَنْ يَحِيفَ

عَلَيْهِ السَّلَامُ بقيع کې موجود دی نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل : آياتاته ددې خبرې ويره وه چې په تا باندې به ظلم وکړي

اللهُ عَلَيْكِ وَ رَسُولُهُ ؟ قُلْتُ : يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي ظَنَنْتُ أَنَّكَ أَتَيْتَ بَعْضَ نِسَائِكَ

الله او دهغه رسول ؟ ما وويل يارسول الله! ما گمان وکړو چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به بلې ښځې خواته تلی

---

(۱) أخرجه الترمذي ۱۶۹/۳، رقم الحديث : ۸۰۶، نسائي ۸۳/۳، رقم الحديث : ۱۳۶۴، ابن ماجه ۴۲۰/۱، رقم الحديث : ۱۳۲۷، دارمي ۴۲/۲، رقم الحديث : ۱۷۷۷، مسند أحمد ۱۵۹/۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

فَقَالَ : إِنَّ اللهَ تَعَالَى يَنْزِلُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَغْفِرُ

وي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : الله تعالى نيم شعبان كې د دنيا آسمان ته نزول فرمايي او معاف كوي

لِأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعْرِ غَنَمِ كَلْبٍ" . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ ، وَابْنُ مَاجَهْ)(۱)

د بنو كلب قبيلې د چيلو كندک د ويختو نه هم زيات تعداد كې ګناه.

وَ زَادَ رَزِينٌ : « مِمَّنِ اسْتَحَقَّ النَّارَ ».

او رزين رَحِمَهُ اللهُ دا الفاظ هم را نقل كړې كوم خلک چې د دوزخ مستحق شوې وي هغوي بخښلى شي

وَ قَالَ التِّرْمِذِيُّ : سَمِعْتُ مُحَمَّدًا يَعْنِي الْبُخَارِيَّ يضعف هٰذَا الحَدِيث.

امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ وايي ماد محمد يعنې امام بخاري نه اوريدلي دي چې دا حديث ضعيف دى.

توضيح : البقيع : د مدينې منورې مشهورې مقبرې ته جنت البقيع ويلى كيږي او بقيع غرقد هم دى دې ته بقيع هم وائي حضرت عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فرمايي ما ويل كه د بلې بي بي كور ته ورغلې دى خو په قبرستان كې وو، نو بيا زر زر واپس كورته راغلو .(المرقات ۳/۳۷۴).

بنو كلب د عربو د مشهورې قبيلې نوم دى چې هلته چيلى ډيرې وي . (المرقات ۳/۳۷۵).

ينزل : د الله تعالى لائق شان د دنيا آسمان ته راكوزيږي ،(المرقات ۳/۳۷۵).

ينزل اى ما يليق بشانه : ددې تشريح مخكې شوې ده . (المرقات ۳/۳۷۵).

د ماه شعبان پنځلسمې شپې ته شب براءت ويلى كيږي .يعنې د ګناهونو نه د خلاصي شپه د شب براءت متعلق دا پيژندل په كار دي چې عوام الناس دې شپه كې د حدود شرعيه نه تجاوز كوي رڼاګانې اور بلوي او نور منكرات او بدعات كوي ، بعضې اهل حق اعتدال سره رد وكړو بعضو د رد سره سره ددې شپې د فضيلت نه انكار وكړو د شب براءت فضيلت د احاديثو نه ثابت دى ، لس صحابو ددې حديث تخريج كړى دى اګر چې فني لحاظ سره ضعيف دى خو دا مطلب نه دى چې ناقابل عمل دى د امام احمد بن حنبل رحمه الله قول دى چې مونږ كله احكام د احاديثو نه اخلو نو (تشددنا) مونږ سختي كوو او كله چې د فضائلو احاديث اخلو نو (تسهلنا) مونږ نرمي كوو څه خاص عبادت په دې شپه كې مقرر نه دى او خپل طرف نه تحديد او تعيين هم جائز نه دى خو خير القرون كې صالحينو دې شپه كې اهتمام سره عبادت كولو دې حد پورې يې فضيلت دى.

---

(۱) أخرجه الترمذي ۳/۱۱۵، رقم الحديث : ۷۳۹، ابن ماجه ۱/٤٤٤، رقم الحديث : ۱۳۸۹، مسند أحمد ٥/۱۵۹.

د برات په شپه قبرستان ته تلل: دې خبرې نه انکار نشته چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبرستان ته شب براءت کې تشریف وړی ددې مطلب دا نه دی چې همیشه معمول جوړ شي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمر کې یو ځلې تشریف وړی وو یو ځل تلو سره څه نشته خو هر کال شب براءت کول او اهتمام سره کول داد حد شرعي نه تجاوز دی او ناجائز دی.

د پنځلسم شعبان روژه: د شب براءت نه په صبا چې د کومې روژې ذکر دی حدیث کې نشته اګر چې ضعیف دی خو په خپله د شعبان روژو ذکر احادیثو کې دی بیا د ایامو بیضو ډیر ترغیب دی. د شب براءت د وجې نه دا روژه نه بلکې د ایام بیض پنځلسم شعبان په خپله مامور به او مرغوب فیه دی. ددې وجې نه دا روژه نیول په کاردي ددواړو ثواب به ان شاء الله ملاو شي او پنځلسم تاریخ د خصوصیت نه به بچ شي.

د نفل مونځ په کور کې کولو فضیلت:

﴿٦﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صَلَاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِنْ

زید بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي د سړي مونځ په کور کې بهتر دی د

صَلَاتِهِ فِي مَسْجِدِي هٰذَا إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ». (رَوَاهُ أَبُو دَاوُد، وَالتِّرْمِذِيّ). (١)

هغه مونځ نه چې هغه زما مسجد کې وشي علاوه د فرض نه.

توضیح: کور کې نفل کولو فضیلت د کورد وجې نه دی مسجد کې د ممانعت د وجې نه نه دی که یو کس سنت او نوافل په مسجد کې کول غواړي بغیر د کراهت جائز دي لیکن په کور کې کول افضل دي. (المرقات ٣٦٧-٣/٣٧٧).

الْفَصْلُ الثَّالِثُ:

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تراویحو د پاره جمعه مقررول:

﴿٧﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ لَيْلَةً فِي رَمَضَانَ

عبدالرحمن بن عبد القاري راوي دي وایي چې د عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره لاړم یو شپه په رمضان کې

إِلَى الْمَسْجِدِ فَإِذَا النَّاسُ أَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُونَ يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِهِ

مسجد ته هلته مونږ څه کسان ولیدل چې جدا جدا وو (یعني) چا (دماخوستن مونځ نه پس نفل) یوائې کول

(١) أخرجه أبوداؤد في السنن ١/٦٣٢، رقم الحديث: ١٠٤٤، و اخرجه الترمذي في السنن ٢/٣١٢، رقم الحديث: ٤٥٠.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَيُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّي بِصَلَاتِهِ الرَّهْطُ فَقَالَ عُمَر : إِنِّي أُرى لَوْ جَمَعْتُ هَؤُلَاءِ عَلى قَارِئٍ وَاحِدٍ
اوچا داسې کولوچې ځونورکسان هم ورسره وونو عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل: زه که دوي يو قاري پسې جمع کړم
لَكَانَ أَمْثَلَ ثُمَّ عَزَمَ فَجَمَعَهُمْ عَلى أُبَيِّ بْنِ كَعْب ثُمَّ خَرَجْتُ
نوبهتره به وي هغه ددې اراده وکړه او ټول يې ابي بن کعب پسې جمع کړل عبدالرحمن وايي زه بيالارم د
مَعَهُ لَيْلَةً أُخْرَى وَ النَّاسُ يُصَلُّونَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ .
عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره يو شپه مسجد ته نوټولو دخپل امام (يعني ابي ابن کعب) پسې مونځ کولو (دايې چې
قَالَ عُمَرُ : نِعْمَتِ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ وَ الَّتِي تَنَامُونَ عَنْهَا
وليده) نوعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل: دا ښه بدعت دی، اودتهجد وهغه مونځ چې تاسو تريې اوده کيږئ د تراويحو
أَفْضَلُ مِنَ الَّتِي تَقُومُونَ . يُرِيدُ آخِرَ اللَّيْلِ
دهغه مونځ نه بهتر دی چې تاسو يې دا وخت کوئ ،ددې نه د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مراد د شپې آخره حصه ده دغه
وَكَانَ النَّاسُ يقومُونَ أَوله. (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ). (۱)
وخت خلکو د تراويحو مونځ اول وخت کې کولو .

توضيح: اوزاع: يعني خلک جدا جدا جماعتونه او تکړو کې شوې وو چا نفل کول چا سنت او چا تراويح ځانله کولې او چا جماعت سره کولې د اوزاع همدا مطلب دی او د **متفرقون** جملې ګويا د اوزاع تفسير دی. (المرقات ۳/۳۷۷).

نعمت البدعة هذه، دلته بدعت خپل اصطلاحي مفهوم سره نه دی بلکې دلته لغوي معنی سره مستعمل دی او لغت کې بدعت نوي شيز ايجاد په معنی سره دی د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقصد دادی چې ټول خلک جماعت سره په تراويحو باندې يو ځای کول او شل رکعاته په پابندي سره يو ځای کول څه بهترين نوي انتظام او جديد طرز دی. (المرقات ۳/۳۷۸).

د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې جديد انتظام او جديد تقرر ته جديد ويلي شي د تراويحو اصل جماعت ته نو ايجاد نه وايي، اصل جماعت خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله شروع کړی وو .

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ٤/٢٥٠، رقم الحديث : ٢٠١٠.

دلته د بدعت څو اقسام طرف ته د تقسيم ضرورت نشته ځکه چې دا لفظ په خپل لغوي معنى کې استعمال شوې دى بدعت اصطلاحي شرعي هغه خو په قبيح کې قبيح دى په هغې کې خو څه تقسيم نشته دى ، چې د دې تفصيل په توضيحات اول جلد **باب الاعتصام بالكتاب والسنة** په شروع کې د بدعت متعلق تفصيل شوى دى .

والتي تنامون عنها افضل من التي تقومون : دې عبارت کې دوه ځاى **التي** لفظ راغلى دى دواړو ځايونو کې چې موصول خپلې صلې سره يو ځاى شي صفت دى او د دې موصوف محذوف دى د دې موصوف کې دوه احتماله دي : (۱) د دې موصوف **الصلوة** دى يعنې **الصلوة التي تنامون عنها** ، مطلب دادى هغه مونځ چې د خوب د وجې نه پاتې شي د هغه مونځ نه افضل دى کوم چې تاسو کوئ ، په دې صورت کې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا ويل غوښتل چې د تهجد و مونځ کوئ دې کې د خوب د وجې نه سُستي مه کوئ ، دغه ستاسو د تراويحو نه افضل دى ، د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دې خبرې نه د امسئله هم حل شوه چې تهجد او تراويح ځان له ځانله عبادت دى ، دويم احتمال دا دى چې دلته موصوف **الساعة** دى يعنې هغه ساعت چې تاسو ويخ يې او د تراويحو مونځ په کې کوئ دغه وخت نه هغه وخت افضل دى چې هغې کې تاسو مونځ نه کوئ بلکې اوده کيږي حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د وروستو وختونو فضيلت ذکر کوي او د تهجد و د پاره ترغيب ورکوي .

د تراويحو د ابتدائي وخت نقشه :

﴿۸﴾ وَعَنِ السَّائِبِ بن يزِيد قَالَ : أَمَرَ عُمَرُ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ وَتَمِيمًا الدَّارِيَّ أَنْ يَقُومَا لِلنَّاسِ
سائب بن يزيد وايي چې عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابي بن كعب او تميم دارمي ته حکم وکړو چې مونځ ورکړي خلکو ته
فِي رَمَضَانَ بِإِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً فَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ بِالْمِئِينَ
په روژه کې يولس رکعاته او (په دې وخت کې) امام (په تراويحو کې) هغه سورتونه ويل چې هغې کې د سلو
حَتَّى كُنَّا نَعْتَمِدُ عَلَى الْعَصَا مِنْ طُولِ الْقِيَامِ فَمَا كُنَّا نَنْصَرِفُ إِلَّا فِي فُرُوعِ الْفَجْرِ . (رَوَاهُ مَالك)(۱)
نه زيات آيتونه وو د قيام د وجې نه مونږ به د کونټې په مدد سره ولاړ وو او پيښنمي ته نزدې به فارغيدو .

توضيح : دې حديث نه معلومه شوه چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تروايحو اته رکعاتو حکم ورکړى وو دې نه غير مقلدين استدلال کوي د دې جواب مخکې شوې دى داد ابتدائي وخت يوه نقشه او مرحله وه

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱۱۵/۱، رقم الحديث : ٤، من كتاب الصلاة في رمضان.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لا تر دې وخته پورې د شلو رکعاتو اعلان نه وو کړې وروسته هر څه مخې ته راغلل او د صحابه کرامو او د ټول امت اجماع په دې باندې وشوه .

نعتمد: نوافلو او سنتو کې د مدد اخیستلو ګنجائش شته که ستړی والی ډیر شي نو بیا مدد اخیستل جائز دي .

﴿۹﴾ وَعَنِ الْأَعْرَجِ قَالَ: مَاأَدْرَكْنَا النَّاسَ إِلَّا وَهُمْ يَلْعَنُونَ الْكَفَرَةَ فِي رَمَضَانَ قَالَ: وَكَانَ الْقَارِئُ

اعرج تابعي رَحِمَهُ اللهُ وايي مونږ هميشه خلکو ته کتلې چې روژه کې کفارو باندې لعنت وايي او قاري سورة

يَقْرَأُ سُورَةَ الْبَقَرَةِ فِي ثَمَانِ رَكَعَاتٍ وَإِذَا قَامَ بِهَا فِي ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً رَأَى النَّاسُ

بقرة اته رکعتونو کې لوستله او چې کله به يې سورة بقره دولسو رکعاتو کې ولوستله نو خلک به پوه شو

أَنَّهُ قَدْ خَفَّفَ. (رَوَاهُ مَالِك)[1]

چې مونځ يې سپک وکړو .

د تراويحو آخري وخت د پيشمني پورې دی :

﴿۱۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ: سَمِعت أُبَيًّا يَقُولُ: كُنَّا نَنْصَرِفُ فِي رَمَضَانَ مِنَ الْقِيَامِ

عبدالله بن ابي بکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د ابي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوريدلي چې مونږ به روژه کې د قيام نه فارغه

فَنَسْتَعْجِلُ الْخَدَمَ بِالطَّعَامِ مَخَافَةَ فَوْتِ السَّحُورِ.

کيدو نو خادمانو ته به مو په تلوار د طعام راوړلو ويله ددې ويرې نه چې د پيشمني وخت تير نه شي . يو

وَ فِي أُخْرَى : مَخَافَةَ الْفجْر . (رَوَاهُ مَالِك).[2]

بل روايت کې دا الفاظ دي د سحر کيدو د ويرې نه .

پنځلسم شعبان کې د لوي لوي تبديليانو فيصلې کيږي :

﴿۱۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «هَل تدرين مَا هَذِه اللَّيْلَة؟» يَعْنِي

عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : تاسو ته پته ده چې دې شپه کې څه کيږي يعنې

لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ قَالَتْ: مَا فِيهَا يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ : « فِيهَا أَنْ يُكْتَبَ كُلُّ

---

(۱) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۱۱۵، رقم الحديث : ٦ .

(۲) أخرجه مالک في الموطأ ۱/۱۱٦، رقم الحديث : ۷، من كتاب الصلاة في رمضان.

پنځلسمه شپه د شعبان کې ؟ما وویل ای د الله رسوله ! څه کیږي ؟دې شپه کې لیکلي کیږي هرهغه څوک

مَوْلُودٍ مِنْ بَنِي آدَمَ فِي هٰذِهِ السَّنَةِ وَ فِيهَا أَنْ يُكْتَبَ كُلُّ هَالِكٍ مِنْ بَنِي آدَمَ

چې دې کال کې پیدا کیږي د بني آدمو نه اوځوک چې بني آدمو کې وفات کیږي دې شپه کې لیکلې کیږي

فِي هٰذِهِ السَّنَةِ وَ فِيهَا تُرْفَعُ أَعْمَالُهُمْ وَ فِيهَا تَنْزِلُ أَرْزَاقُهُمْ » . فَقَالَتْ :

په دې کال کې اوپه دې شپه کې د خلکو اعمال برهځي او د بندګانو رزق ښکته راځي عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وویل

يَا رَسُولَ اللهِ مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا بِرَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى ؟ فَقَالَ :

یا رسول الله ! څوک به هم د الله د رحمت نه بغیر جنت ته نه داخلیږي ؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل :

« مَا مِنْ أحد يدْخل الْجنَّة إِلَّا برحمة الله تَعَالَى » . ثَلَاثًا . قُلْتُ : وَلَا أَنْتَ

څوک هم د الله تعالی د رحمت نه په غیر جنت ته نه داخلیږي درې ځلې یې دا وفرمایل ما وویل او نه تاسو

يَا رَسُولَ اللهِ ؟ فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَى هَامَتِهِ فَقَالَ : « وَلَا أَنَا إِلَّا

یا رسول الله ؟ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل لاس خپل سر باندې کیښود او وې فرمایل : آو نه زه، خو دا چې

أَنْ يَتَغَمَّدَنِيَ اللهُ بِرَحْمَتِهِ» . يَقُولُهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي الدَّعْوَاتِ الْكَبِيرِ).

الله تعالی ما د خپل رحمت په سوري کې واخلي ، دا الفاظ یې هم درې ځلې وفرمایل .

توضیح : ان یکتب کل مولود : دا هرځه تقدیر کې لیکلی شوي دي او په لوح محفوظ کې محفوظ دي خو پنځلسم شعبان کې د دې تجدید کیږي او د ټول کال لوي واقعات جدا لیکلی کیږي دې کې د انسان پیدایښت او مرګ لیکلی کیږي ، د انسان رزق لیکلی کیږي ، اعمال په برهځي . عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا خیال وکړو چې اعمال خو دجنت د پاره علت اصلیه نه دی .(المرقات ۳۸۳-۳۸۴/۳).

د انسان د اعمالو کولو نه مخکې دده په حق کې لیکلی کیږي چې دا اعمال به کوي نو حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دا خیال وکړو چې دخول جنت محض تقدیر الهي سره تعلق لري دی اعمالو ته دلته څه دخل نشته . حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه تپوس وکړو آیا معامله داسې ده چې هر کس به د الله رحمت سره جنت ته داخلیږي ؟

جواب کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل : معامله داسې ده یو انسان هم په خپل عمل سره بغیر د الله د رحمت نه ، نه شي داخلیدی درې ځلې یې داسې وویل مطلب دا چې د جنت د پاره اعمال د سبب درجه لري خو د علت په درجه کې نه دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

شب براءت کې د کينه کړ او د مشرک مغفرت نه کيږي :

﴿۱۲﴾ وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ اللهَ تَعَالَى لَيَطَّلِعُ فِي

ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : الله تعالی متوجه کيږي په

لَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ فَيَغْفِرُ لِجَمِيعِ خَلْقِهِ إِلَّا لِمُشْرِكٍ أَوْ مُشَاحِنٍ» (رَوَاهُ ابْن مَاجَه). (۱)

پنځلسم شعبان په شپه باندې دنيا خلکو ته او د کينه کړ او د مشرک نه علاوه دخلکو مغفرت کوي.

وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ وَفِي رِوَايَتِه: «إِلَّا اثْنَيْنِ مُشَاحِنٍ وَقَاتِلِ نفس». (۲)

توضيح : **ليطلع** ، توجه سره کتلو ته ويلي کيږي ددې نه مراد دنيا آسمان ته نزول دی ددې تذکره په آحاديثو کې مذکور ده ، اطلاع الهي او نزول رباني نه مراد **مايليق بشانه** دی او بعضو تجلي د انواراتو رباني مراد اخستی دی او دا تاويل دی.

لمشرک: د الله تعالی په ذات او د هغه په صفاتو کې د چا شريکولو ته شرک جلي ويلی شي او شرک خفي رياکاری ته ويلی شي. (المرقات ۳/۳۸٦).

او مشاحن :باب **مفاعله** نه **مشاحن** کينه کوونکي ته ويلی کيږي باب سمع نه هم کينه ور معنی سره دی ، مسلمان نه علاوه کافر سره کينه ساتل مراد نه دی هغه منع نه دی .

زير بحث حديث کې صرف دوه قسم خلک مراد دي بلکې بعضې روايا تو کې قاطع رحم هم شامل دی او **د مسبل ازار** ذکر هم راغلی دی والدينو نه عاق سړي هم دي مسلسل شرابو والا هم شامل دی .(اشعة اللمعات ۱/۵۸۸).

شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : نوف بکالي نه روايت دی يو ورځ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نصف شعبان په شپه د کور نه داسې حالت کې راووتلو چې آسمان طرف ته يې مسلسل کتل بيا هغه وفرمايل : حضرت داؤد عَلَيْهِ السَّلَامُ يو ځل آسمان طرف ته کتل او وي فرمايل : دا هغه ساعت دی چې دې کې څوک څه غواړي الله تعالی يې قبلوي څوک استغفار غواړي معاف کوي يې خو دا چې دغه کس جادوګر تيکس وصولولو والا او يا عُشر والا يا کاهن وغيره نه وي . (اشعة اللمعات ۱/۵۸۸).

---

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/٤٤٥، رقم الحديث : ۱۳۹۰.

(۲) أخرجه أحمد في المسند ۲/۱۷٦.

د پنځلسم شعبان روژه او عبادت :

﴿۱۳﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : "إِذَا كَانَتْ لَيْلَةُ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : كله چې نصف شعبان شپه شي

فَقُومُوا لَيْلَهَا وَ صُومُوا يَوْمَهَا فَإِنَّ اللهَ تَعَالَى يَنْزِلُ فِيهَا لِغُرُوبِ الشَّمْسِ

هغه شپه كې مونځ كوئ او د ورځې په كې روژه نيسئ الله تعالى نزول كوي په دغه شپه دلمر پټيدو وخت

إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَقُولُ : أَلَا مِنْ مُسْتَغْفِرٍ فَأَغْفِرَ لَهُ ؟ أَلَا مُسْتَرْزِقٌ

كې د دنيا آسمان ته او فرمايي خبردار! څوك بخښنې والاشته چې معاف يې كړم خبردار! څوك رزق غوښتلو

فَأَرْزُقَهُ ؟ أَلَا مُبْتَلًى فَأُعَافِيَهُ ؟ أَلَا كَذَا

والا شته چې زه ورته رزق وركړم ، خبردار ! څوك مصيبت كې شته چې عافيت ورته وكړم ، خبردار ! كذا

أَلَا كَذَا حَتَّى يطلع الْفجْر ". (رَوَاهُ ابْن مَاجَه). (۱)

او كذا تر دې چې سحر راوخيژي .

توضيح : ددې باب په شروع كې د حديث نمبر ۵ پنځم په وضاحت كې د پنځلسم د شعبان د روژې او د نورو اعمالو باره كې هلته ليكل شوې دي، هلته يې وګورئ!

(۱) أخرجه ابن ماجه في السنن ۱/٤٤٤، رقم الحديث : ۱۳۸۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب صَلَاة الضُّحَى:
د ځاښت مونځ بيان:

صلوة اضافت الضحى طرف ته في سره دی صلوة في الضحى لکه صلوة في الليل چې راغلی، د ضحی وخت د نمر راختو نه تر زوال پورې دی اکثر محدثين د ځاښت مونځ او اشراق يو ګرځوي او فرمايي دا يو مونځ دی فرق اعتباري دی چا چې شروع کې مونځ وکړو دې ته اشراق ويلي کيږي او چا چې ددې نه پس وکړو د ځاښت مونځ ورته ويلي کيږي. (المرقات ۳/۳۸۹).

بعضې اهل لغت وايي: د ورځې څلورمه حصه تيره شي او زوال وخت نزدې شي هغه وخت ځاښت دی او بعضې فرق کوي او دواړه جدا جدا وختونه ګرځوي حافظ جلال الدين سيوطي رَحِمَهُ اللهُ او صاحب کنزالعمل او امام دارمي د رايو نه معلوميږي چې دا دوه جدا مونځونه دي، عام صوفياء دا فرمايي او يو څو آحاديثو نه ددې تائيد هم کيږي. د صلوة ضحى متعلق صاحب مشکوة ډير احاديث نقل کړې دي دې نه معلوميږي چې د ځاښت مونځ احاديث صحيحه کثيره نه معلوم دی ابن جرير فرمايي د ځاښت مونځ احاديث متواتره دي لکه ائمه اربعه د ځاښت مونځ باندې متفق دي د اکثر شوافعو په نزد ځاښت مونځ سنت دی د حنابلو او حنفيو او مالکيو په نزد د ځاښت مونځ مندوب او مستحب دی.

سوال: حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ځاښت مونځ ته بدعت ويلی دی ددې وجه څه ده؟

جواب: حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مطلق د ځاښت نه انکار نه دی کړی او نه مطلق ځاښت ته يې بدعت ويلي خو چې کله د خلکو دی حالتو ته يې وکتل چې مساجدو کې او عامو مقاماتو کې ددې د پاره راجمع کيدل او التزام او اهتمام به يې ددې په کولو باندې کوو نو ددې عوارضو د وجې نه يې ورته بدعت ويلي. ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نقل دي وايي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صرف دومره ويلي وو زما په خيال حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صديق او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا دې باندې دومره مواظبت او مداومت نه وو کړی.

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيشک دا مونځ کړی دی او ددې ترغيب او فضيلت يې بيان کړی دی خو داسې مداومت يې نه دی کړی ددې نفي حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايلې ده.

د ځاښت مونځ رکعاتو نه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مختلف دي: دوه هم ثابت دي، څلور هم ثابت دي، شپږ هم ثابت دي. اته هم ثابت دي او د لسو او دولس ثبوت هم شته ځوک چې څومره کولی شي مسنون طريقه ادا کيږي.

الْفَصْل الأول:

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلوة الفتح اته ركعاته ادا كړي دي:

﴿۱﴾ عَنْ أُمِّ هَانِئٍ قَالَتْ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ بَيْتَهَا يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ

ام هاني رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې كله د مكې مكرمې فتح كيدو په ورځ زما كورته راغلو نو نبي

فَاغْتَسَلَ وَ صَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ فَلَمْ أَرَ صَلَاةً قَطُّ أَخَفَّ مِنْهَا

عَلَيْهِ السَّلَام غسل وكړو او اته ركعاته مونځ يې وكړو ما د دې نه مخكې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سپك مونځ نه وو ليدلى

غَيْرَ أَنَّهُ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ. وَقَالَتْ فِي رِوَايَةٍ أُخْرَى: وَذٰلِكَ ضُحًى (متفق عليه).[1]

خو ركوع او سجده به يې پوره كوله، يو بل روايت كې هغه وفرمايل: دا د څاښت مونځ وو.

توضيح: ام هانئ دده د نوم آخري حرف همزه دى صرف ياء ته ده دا د دې كنيه ده اصل نوم يې فاخته دى د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خور ده.

يوم فتح مكة حضرت محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مكې مكرمې د فتح كيدو په ورځ څاښت وخت كې ام هاني كورته تشريف ويوړو او هلته يې غسل وكړو بيا يې زر زر اته ركعاته وكړل او دا څلور سلامو سره دي كيدى شي چې دوه سلامو سره يې كړي وي دې ته **صلوة الفتح** ويلى شي او دا مستحب دي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مكې مكرمې د فتح كيدو معروضي احوال په نظر كې نيولو د لاندې زر اته ركعات خفيف وكړل ځكه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د مكې مكرمې انتظام سنبالول وو او سجده او ركوع يې صحيح او اطمينان سره وكړل، دې كې تعديل اركان طرف ته اشاره ده

و ذلك ضحى: داد څاښت مونځ دى يا د څاښت وخت كې بل مونځ وو دواړه احتمال لري. (المرقات ۳/۳۸۹-۳۹۰).

د څاښت مونځ در كعتونو تعداد:

﴿۲﴾ وَعَنْ مُعَاذَةَ قَالَتْ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: كَمْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي صَلَاةَ الضُّحَى؟

معاذه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وايي ما د عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه تپوس وكړو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څور كعاته څاښت مونځ كولو

---

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱/۴۸۴، رقم الحديث: ۳۵۷، مسلم ۱/۴۹۸، رقم الحديث: ۸۲-۳۳۶، أبوداؤد ۲/۶۴، رقم الحديث: ۱۲۹۱، ترمذي ۲/۳۳۸، رقم الحديث: ۴۷۴، نسائي ۱/۲۰۲، رقم الحديث: ۴۱۵؛ دارمي ۱/۴۰۲، رقم الحديث: ۱۲۹۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَتْ : أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَ يَزِيدُ مَا شَاءَ اللَّهُ .(۱)

هغې وويل: نبي عليه السلام څلور ركعاته كول اودې نه زيات هم څومره چې الله تعالى غوښتلي كړې يې دي

توضيح : **ويزيد ما شاء**: ملا علي قاري رحمه الله وايي څانښت مونځ دولس ركعاتو نه زيات هم منقول دى د احاديثو ظاهري الفاظو نه دا معلوميږي چې دې كې حصر نشته ، سعيد بن منصور يو روايت نقل كړى دى چې چا د شيخ اسود نه تپوس وكړو د څانښت څو ركعاته وكړم ؟ جواب كې ورته فرمايي : چې څومره غواړي ، حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه منقول دي هغه سل ركعاته څانښت كول (مرقات ج ۳ ص ۹۹) . (المرقات ۳/۳۹۰).

د څانښت مونځ فضيلت :

﴿۳﴾ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ

ابوذر رضي الله عنه راوي دى وايي چې حضور صلى الله عليه وسلم فرمايي: په سحر كيدو سره ستاسو په تولو اعضاو

صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ وَ كُلُّ تَحْمِيدَةٍ

باندې صدقه لازم ده لهذا هر تسبيح يعني سبحان الله ويل صدقه ده ، هر تحميد يعني الحمد لله ويل

صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ

صدقه ده، هر تهليل صدقه ده ، هر تكبير صدقه ده ، د نيكۍ حكم كول صدقه ده، د بدي نه منع كول صدقه

وَيُجْزِئُ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى» .(۲)

ده او ددې تولو بدله كې د څانښت دوه ركعته كافي دي .

توضيح : **يُصْبِحُ على كل سلامى** ، سين باندې ضمه ده او **ميم** باندې فتحه ده دې نه پس الف مقصوره دى سلامى په خپله مفرد دى ددې جمع سلاميات ده د ګوتو بندونو ته ويل كيږي خو حديث كې مطلق هډوكو باندې وركړ تحميل شوى دى ، علامه نووي رحمه الله فرمايي سلامي عضوې ته ويل كيږي په ګوتو باندې يې هم اطلاق كيږي او هر هغه هډوكي ته ويل كيږي چې پيوند په كې موجود وي او هر هغه هډوكي ته هم ويل كيږي چې هغې باندې سړى تكيه لګوي بهر حال د انساني جسم هډوكو او جوړونو د

---

(۱) أخرجه مسلم ۱/۴۹۷، رقم الحديث: ۷۹-۷۱۹، مسند أحمد ۶/۱۴۵.

(۲) أخرجه مسلم ۱/۴۹۸، رقم الحديث: ۸۴-۷۲۰، مسند أحمد ۵/۱۷۸.

پاره د حديث دا لفظ دلته استعمال شوی دی. (المرقات ۳۹۰-۳/۳۹۱).

ددې جملې په ترکيب باندې ځان پوهول ضروري دي علامه طيبي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي دې جمله کې **صدقة** د **يصبح** اسم دی او **على كل سلامى** خبر دی، اصل عبارت به داسې شي: **يصبح اى يصير صدقة على كل سلامى من احدكم**، يعنې د سړي هر جوړ جوړ باندې صدقه لازمه کيږي دا خو مشکل دی ددې وجې نه اسلام وايي چې د انسان معمولې نيکي ولي نه وي ددې صدقې بدل جوړيږي او که څوک د څاښت دوه رکعاته مونځ وکړي د انسان د بدن دهرې عضوې نه دا صدقه بدل جوړيږي. (المرقات ۳۹۰/۳).

د څاښت بهتر وخت:

﴿٤﴾ وَ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ أَنَّهُ رَأَى قَوْمًا يُصَلُّونَ مِنَ الضُّحَى

د زيد بن ارقم باره کې منقول دی چې هغه يو جماعت د څاښت وخت کې مونځ کولو باندې ليدلی وو نو

فَقَالَ: لَقَدْ عَلِمُوا أَنَّ الصَّلَاةَ فِي غَيْرِ هٰذِهِ السَّاعَةِ أَفْضَلُ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ

وي ويل: داخلک پوهيږي دې وخت نه علاوه بل وخت کې مونځ کول بهتر دی رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

قَالَ: «صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ حِينَ تَرْمَضُ الْفِصَالُ». (۱)

وفرمايل: الله طرف ته کامل توجه والو د مونځ وخت هغه دی چې د اوښانو بچي ګرم شي.

توضيح: حضرت زيد بن ارقم چې کوم خلک څاښت باندې ليدلي وو هغوي د څاښت مونځ بهتر وخت کې نه کولو بلکې هغې نه مخکې يې کولو او دوي ته ښه معلومه ده چې دا وخت بهتر نه دی بلکې ددې نه پس څه وخت پس هغه بهتر دی چې نمر ګرم شي او شکه ګرمه شي او چې د اوښانو بچو خپې په شکه باندې وسوزي. څاښت او اشراق کې دا ترتيب دی چې د اشراق مونځ نمر راختو پسې لږ وخت پس جائز کيږي، او د څاښت مونځ کله چې لمر ګرم شي. (المرقات ۳۹۲/۳).

ترمض: د تحرق سوزيدو معنی سره دی، **الفصال** او **فصيل** د اوښ بچو ته ويلی کيږي.

الاوابين: داد اوب نه دی معنی رجوع کول او توبه کول. (المرقات ۳۹۲/۳).

---

(۱) أخرجه مسلم ۵۱۵/۱، رقم الحديث: ۱۴۳-۷۴۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

الْفَصْل الثَّانِي:

﴿٥﴾ وَعَن أَبِي الدَّرْدَاءِ وَأَبِي ذَرٍّ قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَنِ اللهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى أَنَّهُ قَالَ: يَا

ابو درداء او ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا روايت كوي وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: الله تعالى فرمايي: اى

ابْنَ آدَمَ ارْكَعْ لِي أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ مِنْ أَوَّلِ النَّهَارِ: أَكْفِكَ

ابن آدم ته دورځې شروع حصه كې څلور ركعاته خالص زما د پاره كوه زه به ستا كفايت كوي په دغه ورځ د سحر

آخِرَهُ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَرَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالدَّارِمِيُّ عَنْ نُعَيْمِ بْنِ هَمَّارٍ الْغَطَفَانِيِّ وَأَحْمَد عَنْهُم.[1]

نه ترما بنام پورې. ابو داؤد دارمي د نعيم ابن همار غطفاني نه او امام احمد د دې ټولو نه دا روايت كړى دى.

توضيح: اركع: يعنې اى زما بنده ته د ورځې شروع كې څابنت يا اشراق كې څلور ركعته زما د رضا د پاره كوه زه به پوره ورځ آخري پورې ستا ضروريات او حاجتونه پوره كوم او ستا خفګان او تنګي به لرې كوم خو صرف شرط دادى چې ته زما په عبادت كې مصروف اوسه زه به ستا كارونه او حاجتونه پوره كوم. (المرقات ٣/٣٩٣).

په انسان كې درې سوه شپيته جوړونه دي:

﴿٦﴾ وَعَن بُرَيْدَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي الْإِنْسَانِ ثَلَاثُمِائَةٍ وَسِتُّونَ مَفْصِلًا

بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي چې انسان كې درې سوه شپيته جوړونه دي په

فَعَلَيْهِ أَنْ يَتَصَدَّقَ عَنْ كُلِّ مَفْصِلٍ مِنْهُ بِصَدَقَةٍ » قَالُوا: وَ مَنْ يُطِيقُ ذَلِكَ

هر انسان لازم دي چې د خپل هر جوړ بدله كې صدقه وكړي، صحابو وويل: څوك دې طاقت لرلې شي

يَا نَبِيَّ اللهِ؟ قَالَ: « النُّخَاعَةُ فِي الْمَسْجِدِ تَدْفِنُهَا وَالشَّيْءُ تُنَحِّيهِ عَنِ الطَّرِيقِ

اى د الله رسوله! حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: مسجد كې خړاسكى دفن كول، د لارې نه څيز لرې كول

فَإِنْ لَمْ تَجِدْ فَرَكْعَتَا الضُّحَى تُجْزِئُكَ ».[2]

او كه ته دا ونه مومي نو د څابنت دوه ركعته ستا د پاره كافي دي.

---

(١) أخرجه الترمذي في السنن ٢/٣٤٠، رقم الحديث: ٤٧٥، أخرجه أبوداؤد ٢/٦٣، رقم الحديث: ١٢٨٩، دارمي ١/٤٠١، رقم الحديث: ١٤٥١، مسند أحمد ٦/٤٤٠.

(٢) أخرجه أبوداؤد ٥/٤٠٦، رقم الحديث: ٥٢٤٢، مسند أحمد ٥/٣٥٩.

توضيح : انسان باندې الله تعالى څومره احسان کړی دی چې ده ته يې درې سوه شپيته جوړونه ورکړي او صحت سره هر يو جوړ په کار دی نو شرعا او عرفا انسان باندې لازم دي چې د هر جوړ بدله کې صدقه ورکړي که دا مشکل وي نو څابنت يا اشراق دوه رکعاته دې وکړي د صدقې حق به ادا شي. (المرقات ۳/۳۹۴).

النخاعة : لاړې او بلغم ته نخاعه ويلي شي چې د دې تفصيل په **کتاب الوضوء** کې تير شوی دی. (المرقات ۳/۳۹۴).

تدفنها : ازاله کول مقصود دی برابره خبره ده که په دفن کولو سره وي يا کيمنډلو سره وي يا وينځلو سره وي چې په هره طريقه باندې وي. (المرقات ۳/۳۹۴).

تنحيه د اخوا کولو په معنی دی يعنې عامو خلکو د تيريدو وي ځای هلته باعث تکليف څيز وي هغه اخوا کول او که دا هم نه وي نو دوه رکعته څابنت مونځ کافي دي. (المرقات ۳/۳۹۴).

د څابنت دولس رکعاتو باندې جنت کې محل ملاويږي :

﴿۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَلَّى الضُّحَى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً
انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي : څوک چې د څابنت دولس رکعته کوي
بَنَى اللهُ لَهُ قَصْرًا مِنْ ذَهَبٍ فِي الْجَنَّةِ». (۱)
الله تعالى دده د پاره جنت کې د سرو محل جوړوي.
وَ قَالَ التِّرْمِذِيُّ : هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هٰذَا الْوَجْهِ.
او امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ وايي : دا حديث غريب دی، مونږ يې د دې سند نه علاوه بل سند سره نه پيژنو.

د څابنت مونځ د پاره په مسجد کې ناسته کول :

﴿۸﴾ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ : «مَنْ قَعَدَ فِي
معاذ بن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوي دی وايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي څوک چې کينوي په هغه ځای باندې
مُصَلَّاهُ حِينَ يَنْصَرِفُ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتّٰى يُسَبِّحَ رَكْعَتَيِ الضُّحَى
چيرته يې چې د سحر مونځ کړې وي تر دې چې د څابنت دوه رکعته وکړي او د دغه دواړو يعنې مونځ د

---

(۱) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۳۳۷، رقم الحديث : ٤٧٣، ابن ماجه في السنن ۱/٤٣٩، رقم الحديث : ۱۳۸۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

لَا يَقُولُ إِلَّا خَيْرًا غُفِرَ لَهُ خَطَايَاهُ وَ إِنْ كَانَتْ
سحر او څانښت په مينځ کې د نيک کلام نه علاوه دويمه خبره نه کوي ټول ګناهونه يې معاف کيږي اګر
أَكْثَرَ مِنْ زَبَدِ الْبَحْرِ ». (١)
که د سمندر د ځګ برابر ولې نه وي.

توضيح: **من قعد**، دې حديث شريف کې ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ راى داده چې دې کې د ناستې ذکر دى دا بطور تمثيل دى اصل مقصود دادى چې بايد د سحر مونځ نه پس سړى دنيوي کار کې مشغول نه وي بلکې ديني کارونو کې مشغول وي او بيا دوه رکعته وکړي فضول کلام ونه کړي کور کې وي يا بازار کې وي او يا دغه مسجد کې وي کوم ځاى کې مونځ وکړي، خلاصه دا چې ملا علي قاري رَحِمَهُ اللَّهُ ددې ثواب د حصول د پاره يو مجلس کې ناسته ضروري نه ګڼي. (المرقات ٣/٣٩٦).

خو شيخ عبد الحق رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي: د ثواب د حصول د پاره يې دا شرط لګولى دى چې د سحر مونځ نه پس خپل ځاى باندې مسجد کې ناست وي او د اشراق دوه رکعته وکړي دې کې علماء فرمايي د دې دوو رکعتو نه د اشراق دوه رکعته مراد دي د څانښت مونځ دوه رکعته مراد نه دي. (اشعة اللمعات ١/٥٩٢).

الْفَصْلُ الثَّالِثُ:

د سمندر د ځګ برابر ګناه هم معاف کيږي:

﴿٩﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ: « مَنْ حَافَظَ عَلَى شُفْعَةِ
ابو هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راوي دي وايي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: څوک چې محافظت وکړي په دوه
الضُّحَى غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوبه وَإِن كَانَت مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ». (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ). (٢)
رکعتو د څانښت باندې دده ټول ګناهونه به معاف شي اګر چې د سمندر د ځګ برابر ولې نه وي.

توضيح: **ذنوبه**: قاعده داده چې ددې ګناه نه مراد صغائر دي کبائرو د پاره ضروري ده چې سړى توبه وکړي. بعضې علماء وايي چې دا افضليت صغائرو سره کبائرو ته هم شامل دى او حديث کې قيد نشته

---

(١) أخرجه أبوداؤد في السنن ٢/٦٢، رقم الحديث: ١٢٨٧، مسند أحمد ٣/٤٣٩.

(٢) أخرجه الترمذي في السنن ٢/٣٤١، رقم الحديث: ٤٧٦، ابن ماجه في السنن ١/٤٤٠، رقم الحديث: ١٣٨٢، مسند أحمد ٢/٤٩٩.

كه د څانښت دوه ركعته څوک وكړي او دې سره د كبائرو نه هم توبه وكړي بيا خو شک نشته كبائر به يې هم معاف شي .(المرقات ۳/۳۹۷).

د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا په نزد د څانښت اهتمام :

﴿۱۰﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا كَانَتْ تُصَلِّي الضُّحَى ثَمَانِي رَكَعَاتٍ ثُمَّ تَقُولُ : «لَوْ

دعائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي چې: دې به د څانښت اته ركعاته كول بيا به يې وفرمايل : كه چيرته

نُشِرَ لِيْ أَبَوَايَ مَا تَرَكْتُهَا » . (۱)

ژوندي كړې شي زما د پاره زما پلار او مور بيا به هم مونځ نه پريږدم.

توضيح : نُشِرَ لي ، يعني بفرض محال كه زما والدين ژوندي شي خو بيا به هم د سختې خوشحالۍ د وجې نه د څانښت مونځ نه پريږدم ، يا ما ته اطلاع وشي چې ستا والدين ژوندي شو زر كوه دوي سره ملاقات وكړه او د څانښت مونځ نن پريږده . (المرقات ۳/۳۹۷).

حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كله د څانښت مونځ كړی دی او كله يې نه دی كړی :

﴿۱۱﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى حَتَّى نَقُولَ :

ابو سعيد خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څانښت مونځ كولو ، مونږ به وويل نبي عَلَيْهِ السَّلَام

لَا يَدَعُهَا وَ يَدَعُهَا حَتَّى نَقُولَ : لَا يُصَلِّيهَا . (رَوَاهُ التِّرْمِذِيّ). (۲)

اوس دا مونځ نه پريږدي او چې كله يې پريښود و مونږ به وويل چې اوس به دا مونځ چيرته هم ونه كړي .

توضيح : لا يدعها ، يعني حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كله د څانښت مونځ ته متوجه كيدو بيا به داسې بنكاره كيده چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به يې چيرته هم قضاء نه كړي او چې كله په ترک كيدو باندې راغلو داسې به معلوميده گويا حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چرته نه دي كړې . (المرقات ۳/۳۹۹).

د څانښت مونځ شرعي حيثيت مستحب دی كله حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كړی دی او كله يې نه دی كړی چيرته التزام سره امت باندې فرض نه شي ، اوس مسلمانانو ته په كار دي چې د څانښت اهتما كوي چې الله تعالى رضا شي .نن سبا فرض كيدو خطره هم په كې نشته هغه وخت حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وحي راتله او حكم د تبديل كيدو امكان وو اوس خو دا مستحب دی او قيامت پورې مستحب دی ، د مستحب

---

(۱) أخرجه مالک في المؤطأ ۱/۱۵۳، رقم الحديث : ۳۰، كتاب قصر الصلاة .

(۲) أخرجه الترمذي في السنن ۲/۳۴۲، رقم الحديث : ۴۷۷، مسند أحمد ۳/۳۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

مطلب دا نه دي چې تاسو يې پريږدئ . (المرقات ۳/۳۹۹).

حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به د څابښت مونځ نه کولو :

﴿۱۲﴾ وَ عَنْ مُوَرِّقٍ الْعِجْلِيِّ : قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ : تُصَلِّي الضُّحَى ؟ قَالَ : لَا.

مورق عجلي وايي ما د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو آيا تاسو د څابښت مونځ کوئ ؟ هغوي وويل : نه

قُلْتُ : فَعُمَرُ ؟ قَالَ : لَا . قُلْتُ : فَأَبُو بَكْرٍ ؟

ماوويل: حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به کول؟ هغه وويل هغه هم نه کوه بيا ماتپوس وکړو ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به کوه؟

قَالَ : لَا . قُلْتُ : فَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ ؟ قَالَ :

هغه وويل هغه هم نه کوه ، ما بيا تپوس وکړو ښه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کولو ؟ هغه وويل : چې زما خيال

لَا أَحَالُهُ . (رَوَاهُ الْبُخَارِيّ).[1]

دی چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هم نه کولو .

توضيح : قال لا : تپوس کوونکي چې کله د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه تپوس وکړو چې ته د څابښت مونځ کوي هغه جواب ورکړو زه يې نه کوم او حضرت ابوبکر ، حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا هم نه کولو بلکې زما خيال دی چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم نه دی کړی . (المرقات ۳/۳۹۹).

سوال : حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله هم د څابښت مونځ کړی دی او صحابو ته يې هم ترغيب ورکړی دی نو بيا ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ولې فرمايي : چې چا هم د څابښت مونځ نه دی کړی ؟

جواب : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د څابښت مونځ نفي نه کوي ،بلکې د حد نه د وتلو نفي يې فرمايلې چې دا خلک د څابښت مونځ تاخير سره کوي خو نبي عَلَيْهِ السَّلَام داسې تاخير نه کولو تاسو خلک يې مسجد کې کوئ حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسجد کې نه دی کړی او نه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوام سره کړی دی او تاسو دوام کوئ يا حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تداعي سره نه دي کړي تاسو تداعي سره کوئ . (المرقات ۳/۳۹۹).

بهر حال د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت او د هغه په قول کې دا ټول احتمالات موجود دي دې سره د بعضو صوفياء کرامو مريدانو ته تنبيه ورکول کيږي کوم چې د څابښت مونځ له د فرض درجه ورکوي او التزام پرې کوي.

تمت بالخير

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۳/۵۱، رقم الحديث : ۱۱۷۵.